تفسیر

معارف القرآن

په قندهاري پښتو

تالیف

مفتي اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع

پښتو ترجمه کوونکي: ابو صدیق احمد مولوي نصیر احمد حقاني

تصحیح او سمون: مولوي نصیر احمد حقاني او مولوي امین الله حقاني

مکتبه حنفیه

کاسي روډ۔ کوټه

Maktaba Tul Ishaat

تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

دد

ب ټول حقوق دمکتبه حنفیٔ سر

تـفـــــســـیر

معارف القرآن

په قندهاري پښتوکی

(تالیف)

مفتی اعظم پاکستان مولانا ي رحمة الله علیه

پښتو ترجمه کوونکي (ابو صدیق احمد مو ی نصیراحمد حقّا)

تصحیح اوسمون... مولوی نصیراحمد (حقّانی) اومولوی آمین الله (حقّانی)

کمپوز **جمي** ین کمپوزنګ

جلد دوهم پاره (۴) .....

خپرونکي

مکتبه حنفیه

فون نمبر (۰ ۲۶۶۲۵۱)

چوک ک

چاپ ځای .... لاهور

Maktaba Tul Ishaat.com

فهرست تفسیر معارف القرآن

مضمون	مخ
آیت : لَن تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنفِقُوا ، الخ ۹۲	
دآیاتونو ترون سره دتشریح	
دا ذکر سوی آیت او داصحابو کرامو ﷺ دعمل کولو شوق	۸
سوی آیت کی لفظ د(برّ) تولو اونفلی صدقو	۹
په صدقه کولو کی درمیانه رویی په کار ده	۹
زیات سامان او دحاجت څخه زیات سیا څه خالی نه دی	۱۰
آیت كَانَ حِلًّا لِّبَنِي ، الخ ۹۳ تر ۹۵	۱۱
آیت إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ	
دبیت الله شریفی فضیلتونه سره دتاریخه دآبادیدلو	
دبیت الله برکتونه	
آیت : فِيهِ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ مَّقَامُ إِبْرَاهِيمَ : ، الخ ۹۷	
معلومات اومسئلی: دبیت الله دری خصوصیات	
دی ته دّداخل سوی په امن کیدل	۱۹
دّبیت الله دّحج فرض والی	۲۰
آیت اللهِ وَاللهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ مَا تَعْمَلُونَ : الخ ۹۸ تر ۱۰۱	
دآیتونو ترون	
حَقَّ تُقَاتِهِ ، الخ ۱۰۲ تر ۱۰۳	
دمسلمانانو داجتماعی قوت دوه اصول تقویٰ او اتفاق	
دمسلمانانو داجتماعی قوت دوهم اصول دیوه اوبل سره اتفاق اویو والی	
دتول مسلمانانو قوم اتفاق صرف داسلام په بنیاد کیدی سی په نسبی او وطنی یووالی سره داکارنه سی کیدی	
آیت : وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ : الخ ۱۰۴ تر ۱۰۵	
سره یو کیدل پر اسلام باندی موقوف دی	
په اجتهادی اختلافاتو کی یو جانب هم منکرنه وی دوی ته بد ویل جائزنه دی	
ضروری آگاهی (خبرتیا)	
آیت ، يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ فَأَمَّا الَّذِينَ اسْوَدَّتْ : ، الخ ۱۰۲ تر ۱۰۹	
دمخ دسپین والی او تور والی څخه څه مراد دی؟	۴۰
تورو مخانو والا او سپینو مخانو والا کوم خلګ دی؟	۴۰
وینی	۴۱
آیت ، كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ : ، الخ ۱۱۰	۴۲

Maktaba Tul Ishaat.com

دامت محمدی په امتونو کی دښه والی یو څو وجهی	۴۲
آیت : لَنْ يَضُرُّوكُمْ اِلَّا اَذًى وَاِنْ	
په یهودو دذلت او غضب مطلب په موجوده اسرائیلی حکومت شبه او دهغه جواب	
آیت: لَيْسُوا سَوَاءً مِنْ اَهْلِ ۱۱ تر	
دمسلمانانو دفتح او کامیابی او په تولو مشکلاتو کی دآسانی راز په صبر او تقوی دوو صفتونو کی دی	
۱۲۱ تر	
داحد وغزاته یوه کتنه	
تیب د کی	
دواقعی څخه یو څو سبقونه	
آیت يَكْفِيَكُمْ ر ۱۲۹	۹
دملائکو دامداد لیږلو حکمت او اصل مقصد او دملائکو په شمار کی دمختلف شمار بیانولو حکمت	
مُضَاعَفَةً	
آیت وَاَطِيعُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ۱ تر	
....	
آیت : اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ فِي السَّرَّاءِ	۲۹
دالله ﷻ په لاره کی دا ضروری نه ده چی صرف مال خرځ سی	
دتنگی او فراخی په ذکر کی یو بل حکمت	
آیت تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا	
مُحَمَّدٌ اِلَّا قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ	
آیت وَكَاَيِّنْ مِنْ نَبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّوْنَ	۱
په خپل یو نیک عمل باندی نازکول نه دی په کار بلکه په هرحال کی دالله ﷻ څخه مغفرت او په نیک	
عمل باندی دقائم کیدو دعا کول په کار دی	
اَلَّذِيْنَ تُطِيعُوا	
آیت: سَنُلْقِي قُلُوبِ	
دالله ﷻ په نزد کرامو ﷺ لور مقا ورسره رعایتونه	
صحاب طلبی	
وَالرَّسُوْ ۱۵۵	
متحان ؤ چی دځینی صحابه کرامو څخه سوی سوي	
داحد په واقعه کی په مسلمانانو دمصیبتونو اسباب څه وه	
یوه گناه هم دبلی گناه سبب کیږی	۹۱
دالله ﷻ په نزد صحابه کرامو ﷺ لور مقام او ددوی پرخطاگانو باندی دعفوی بی مثاله نمونه	
دصحابه کرامو ﷺ متعلق دعامو مسلمانانو دپاره یو سبق	

Maktaba Tul Ishaat.com

آیت ، یا ایها الذین امنوا لا تکونوا کالذین : الخ ۱۵۲ تر ۱۵۸	
آیت ، فبما رحمة من الله لنت لهم ولو کنت : الخ ۱۵۹	۹۴
دمرشد او مربی خاص صفتونه	۹۵
اوله مسئله دلفظ دامر او شوری تحقیق	۹۷
دوهمه مسئله دمشوری شرعی حیثیت	
دریمه مسئله . دنبی کریم ﷺ دصحابه کرامو ﷺ څخه دمشوری اخستو درجه	
څلورمه مسئله ، په اسلامی حکومت کی دمشوری درجه څه ده؟	۱۰۰
پنځمه مسئله ، په مشوره کی چی اختلاف درایو وسی نو دفیصلی به څه صورت وی؟	۱۰۲
شپږمه مسئله په هرکارکی دمکمل تدبیرکولو څخه وروسته په الله ﷻ باندی توکل کول	۱۰۴
آیت ، إن ینصرکم الله فلا غالب لکم وإن یخذلکم ، الخ ۱۶۰ تر ۱۷۱	۱۰۴
دغنیمت په مال کی غلاکول لویه ګناه ده دیونبی څخه دداسی ګناه احتمال هم نسته	۱۰۹
دوقف مالونو او سرکاری خزانو څخه غلاکول دغلول په حکم کی دی	۱۱۰
دنبی کریم ﷺ وجود مبارک په ټول انسانیت باندی ترټولو لوی احسان دی	۱۱۰
داحد په واقعه کی مسلمانانو ته عارضی ماته اودقتل اوزخم دمصیبتونو راپیښیدو ځینی سببونه اوحکمتونه دالله ﷻ په لارکی دشهید سوو خاص فضیلتونه او درجي	
آیت ، الذین استجابوا لله والرسول ر	
دیو کار دپاره یوازی کوشش او ځان قربانول پوره نه دی ترڅو پوری چی اخلاص ورسره نه وی	
درسو　په حقیقت کی دخدای ﷻ حکم دی	
آیت ، ولا یحزنك الذین یسارعون : الخ ۱۷۶ تر ۱۷۸	
دکفارو ددنیا عیش او عشرت هم په حقیقت کی دعذاب تکمیل دی	۱۲۰
آیت . ما کان الله لیذر المؤمنین علی ما أنتم علیه	
په مومن او منافق کی فرق دوحی پرځای په عملی دول کولو کی حکمت	
دغیبو په کارونو چی څوک خبرکړل سی نو داعلم غیب نه دی	
آیت ، ولا یحسبن الذین یبخلون بما آتاهم : الخ ۱۸۰ تر	
دبخل تعریف او په دی باندی دسزا تفصیل	
په کفر　ه په زړه باندی　ضی کید　لویه؟ ه ده	
دآخرت فکر دټولو غمونو علاج او شبهاتو جواب دی	
څخه آزار رسیدل یو قدرتی کار دی او دټولو علاج صبر او تقوی ده	
آیت ، وإذ أخذ الله میثاق الذین أوتوا الکتاب : الخ ۱۸۷ تر ۱۸۹	
ددین علم پټول حرام دی او په ناکړی عمل باندی خپل صفت غوښتل بد او ناکاره دی	
آیت ، إن فی خلق السموات والأرض واختلاف : الخ ۱۹۰ تر ۱۹۴	
دخلق السموت والارض څخه څه مراد دی؟	
دشپی او ورځی داختلاف مختلف صورتونه	

Maktaba Tul Ishaat.com

دعقل خاوندان بوازی هغه خلق دی کوم چی په الله ﷻ ایمان راوړی او په هرحال کی د هغه ذکر کوی ۱۳۴

آیت ، فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّي لَا أُضِيعُ : الخ ۱۹۵ تر ۱۹۹ .... ۱۴۰

په هجرت او شهادت سره ټول ګناهونه معاف کیږی ، لیکن دقرض او نورو حقوق العباد و دمعافی وعده نسته

آیت ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اصْبِرُوا : ....

رباط یعنی د اسلامی سرحدونو ۱۴۴

دجماعت دلمانځه پابندی دیوه‌ل انتظار کی کښینستل هم رباط فی سبیل الله دی ۱۴۵

﴿ سورة النساء ﴾ ۱۴۶

النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الخ ۱

دصله رحمی معنیٰ او ددی فضیلتونه ....

دیتیمانو حقونه او د دوی دمالونو حفاظت ۱۴۹

آیت ، وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَىٰ فَانْكِحُوا : الخ ۳ ....

دیتیمانو انجونو دحقونو ضائع کولو بندیز ....

دنابالغی دنکاح مسئله ....

په قرآن کی دښځو دیروالی او تر اسلام په مخکی قومونو کی ددی رواج ۱۵۳

اسلام په ډیروالی دښځو ضروری پابندی ولګوله او دانصاف او برابری قانون یی جاری کی

درحمة للعلمین ﷺ دپاره دښځو دیروالی ۱۵۵

که په ډیرو بیبیانو کی په برابری او انصاف باندی قادرنه وی نو په یوه بی بی دی صبر کوی ۱۵۹

آیت ، وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً : الخ ۴ ....

آ أَمْوَالَكُمُ : الخ ۵ تر ۲ ....

ه او ددی حفاظت په کار دی ....

ښځو ، کوچنیانو او کم عقلو ته مالونه مه سپاری ....

دنابالغو دپوهی او صلاحیت دامتحانولو حکم ....

هوښیارتیا به څنګه معلومیږی د انَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا تشریح ....

دیتیمانو دمال دبی ځایه خرځولو ممانعت ....

بی ځایه خرڅو ۱۷۹

دمال سپارلو په وخت کی شاهدان درول ....

ملکی ملی خد وضه ....

آ ....

دمور او پلار او نورو خپلوانو په مالونو کی دمیراث حق ....

دمړسوی په میراث (ملکیت) کی چی څه وی ټول په تقسیم کی داخل دی ....

دمیراث مقرری حصی دالله ﷻ دطرف څخه مقرری سوي دی ....

میراث یو جبری ملک دی په دی کی دمالکوالی رضامندی شرط نه ده ....

دمیراث څخه دمحرومو قریبانو زړه ساتل او تسلی ضروری ده ....

دمیراث دتقسیم په وخت کی دخدای ﷻ ښځه بیره کول په کار دی ....

دیتیم مال په ظلم سره خوړل په نس کی سکروټی اچول دی ....

آیت ، يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ : الغ ۱۱ ....

پرمیراث باندی مخکنی حقونه ....

انجونو ته دحصی ورکولو اهمیت ....

دمور او پلار حصه ....

آیت ، وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ : الغ ۱۲ ....

دخاوند او ښځی حصه ....

آیت ، وَإِنْ كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلَالَةً ....

دکلاله میراث ....

د ورور او خور حصه ....

دوصیت مسئلي ....

دمقررو حصو په مطابق دتقسیمولو تاکید ....

آیت ، تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ : الغ ۱۳ ، ۱۴ ....

دمیراث نور حکمونه ، مسلمان دکافر وارث نه سی جوړیدی ....

دقاتل میراث ۱۹۱

په نس کی دننه دکوچنی میراث ۱۹۱

کومه په عدّه میراث ....

دعصباتو میراث ....

آیت ، وَاللَّاتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِسَائِكُمْ : الغ ۱۵ تر ۱۲ ....

په غیر فطری طریقه سره دشهوت پوره کولو حکم ....

آیت ، لِلَّذِينَ ....

آیا په قصد او اختیار سره کړی ګناه نه معاف کیږی؟ ....

دتوبی تعریف او حقیقت ....

آیت ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَحِلُّ : الغ ۱۹ تر ۲۱ ....

تر اسلام مخکی په ښځو دکیدونکو ظلمونو بندول ....

آیت ، وَلَا تَنْكِحُوا مَا نَكَحَ آبَاؤُكُمْ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ..... ر ۲۳ ....

هم ختم لخیرو رة والایمان

....

Maktaba Tul Ishaat.com

لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ ؕ وَمَا تُنْفِقُوْا

هیڅ کله به حاصل نه کړی په نیکی کی کمال ترڅو چی خرڅ نه کړی دخپل ګران شی څخه څه شی او کوم شی

مِنْ شَیْءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِیْمٌ ﴿۹۲﴾

خرڅ کوی، نو پس هغه الله ﷻ ته معلوم دی.

(دآیاتونو تړون سره دتشریح)

تردی په مخکی آیت کی دکفارو اودمنکرانو خلګو دصدقو اودخیراتونو د الله ﷻ په نزد دنه قبلیدو بیان
سوی دی. کی یی دمؤمنانو دصدقو دقبلیدو ددی دطریقی ښوونه یی کړي ده آیت
په الفا کی رټولود لنی په معنی اوحقیقت ځان پوه کړی چی دټول آیت حقیقت درته ښکاره
سی، دبِرّ وحقیقی م دیوه پوره کول ان ور څخه خلاصول،
اوداحسان اوښه سلوك په معنی سره هم راځی (بَرّ) په زور سره او (بَارّ) دهغه سړی دپاره استعمالیږی
چی هغه دخپلوذمه واروحقونه پوره په پوره اداکوی په قرآن شریف کی (بَرًّا بِوَالِدَتِیْ) او (بَرًّا بِوَالِدَیْهِ) په
دی معنی کی استعـ ال سوی دی، دهغه حضراتودپاره استعمال سوی دی چی دخپل مورا وپلار دحقونو
پوره په پوره اداکونکی وه، ددی لفظ (بَرّ) په زور سره، جمع ابرار ده چی په قرآن شریف کی ډیره زیاته
استعمال سوي ده، ارشاد دی، اِنَّ الْاَبْرَارَ یَشْرَبُوْنَ مِنْ كَاْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُوْرًا: اوبل ځای ارشاد دی، اِنَّ الْاَبْرَارَ لَفِیْ
نَعِیْمٍ عَلَى الْاَرَائِكِ یَنْظُرُوْنَ: اویو بل ځای ارشاد دی (اِنَّ الْاَبْرَارَ لَفِیْ نَعِیْمٍ وَاِنَّ الْفُجَّارَ لَفِیْ جَحِیْمٍ) ددی آخری آیت څخه
داهم معلومه سوه چی د(بِرّ) مقابل اوضد فجور دی.
دامام بخاری رحمه الله په ادب المفرد کی اوپه ابنِ ماجه اومسنداحمد کی دحضرت صدیقِ اکبر ؓ څخه
روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی رښتیا لازم ونیسی (یعنی همیشه رښتیا وایاست) ځکه چی
صدق (یعنی رښتیا) دبِرّ ملګری دی او دا دواړه په جنّت کی دی اود درواغو څخه ځان وساتی ځکه چی دا
دفجور ملګری دی او دا داواړه په دوږخ کی دی، او دسورة بقری په آیت کی ذکر سوی دی چی، لَیْسَ الْبِرَّ
اَنْ تُوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ: په دی آیت کی الله ﷻ دنیکو عملونو
یوفهرست ورکړی دی اودی ټولوته یی بِر فرمایلی دی، نو ددی ذکر سوی آیت څخه دا معلومه سوه چی
دبِرّ په عملونوکی تر ټولو زیات غوره اوبهتر بِرّ دا دی چی خپل زیات ګران شی دالله ﷻ په لاره کی خرڅ
کړل سی، په دی ذکرسوی آیت کی ارشاد دی چی تاسی به هیڅکله بِرّحاصل نه کړی، ترڅو چی دخپلو
ګرانو شیانو څخه یو څه خرڅ نه کړی نو معنی یی دا سوه چی دالله ﷻ دحقونو پوره په پوره ادا کول او
ددی څخه پوره په پوره خپله غاړه خلاصول ترهغه وخته پوری نه سی کیدای ترڅوچی دخپل خوښو
اوګرانو شیانو څخه دالله ﷻ په لاره کی خرڅ نه کړی، خپل مکمل ادائیګی ته خیرکامل یا په نیکی کی
کمال یاپه ډیر لوی ثواب سره یی ترجمه کړل سوي ده، او مراد دا دی چی دابرارو په صفت کی دا خلیدل

Maktaba Tul Ishaat.com

سی کیدای تر څو چې خپل خوښ شیان لله ﷺ په لار کی قربان نه کړی .

لنډتفسیر: (ای مسلمانانو!) تاسی کامل خیر (یعني لوی ثواب) هیڅکله نه سی حاصلولی ترهغه پوری چی ﷺ په که

ستاسی خوښ شی ﷺ شی ښه پیژني ثواب پردی درکړی دکامل

ثو حاصلولو

امو ﷺ دعمل کولو شوق

صحابه دحکمونو اوریدونکی اودنبی کریم

اودقرآن نازلیدو سره هر

یی ﷺ کی کولو دپاره د کریم ﷺ په خدمت کی په

درخواستونو مخکی کولو سره شروع وکړل .

دمدینی منوری په انصاروکی ترټولو زیات مالدار حضرت ابو طلحه ﷺ وو ، مسجد نبوی ﷺ ته بالکل مخامخ او متصل دده باغ وو ، په دی باغ کی یوڅاه وو د (بیر حآء) په نامه سره به یادیدی ، اوس ددغه باغ په ځای باب مجیدی ته مخامخ یوه آبادی جوړه سوي ده چی اصطفآء منزل ورته وایی چی دمدینی منوری زیارت کونکی اوسیدنه په کی کوی ، البته ددی په شمال مشرقی کونج کی دغه (بیرحآء) په هم دی نوم سره تراوسه پوری موجود دی ، نبی کریم ﷺ به کله کله دی باغ ته تشریف یوړی اودبیرحآء اوبه به یی چینبلی ﷺ ددی څاه اوبه خوښی وی ، دحضرت ابو طلحه ﷺ داباغ ډیر قیمتی اوتر وتازه وو ده ﷺ ته دا باغ په خپل ټول جایدادکی ترټولو زیات خوښ وو ، ددی آیت په نازلیدو باندی دی د نبی کریم ﷺ کی حاضر سو اوعرض یی وکی چی زما په ټول جایدادکی بیرحآء زماترټولو زیات په لاره کی خرڅ کول غواړم ، ستاسی چی په کوم کارکی خوښه وی داپه کی خرڅ کړی ، نبی کریم ﷺ وفرمایل چی دا خو ډیرو بی شمیرو نفعو باغ دی ، زه دامناسبه ګڼم چی ته داپه حضر بو طلحه ﷺ د نبی کریم ﷺ د مشوره قبوله کړه ه باغ یی په خپلو خپلوانو اود اکا په زامنو تقسیم کړی (داحدیث په بخاری اومسلم کی دی) ددی حدیث څخه دا هم معلومه سوه چی خیرات یوازی هغه نه دی چی په عامو فقیرانو اومسکینانو باندی خرڅ کړل سی ، خپل ډیر ثواب دی

حضرت زید بن حارثه ﷺ خپل یوآس راروان کړی وو ، دحضور ﷺ په خدمت کی حاضر سو اوعرض یی وکی چی ماته په س ډ ﷺ په لا غواړم ، نبی کریم ﷺ دده څخه آس قبول کی ، لیکن دده زوی اُسامه ته یی ورکی ، زید بن حارثه ﷺ په دی یوڅه خفه غوندی سو چی داخو زما صدقه زما کورته بیرته راغله لیکن نبی کریم ﷺ د هغه دتسلی دپاره وفر یل چی قبوله کړ ی په حواله دابن جریر اوطبری وغیره) دحضرت

عمر فاروق اعظم ﷺ سره یوه مینځه وه چی ترهرڅه یی زیاته خوښه وه دایی خاص دالله ﷻ درضا دپاره آزاده کړه ، دغه رنګه دحضرت عبدالله بن عمر ﷺ سره یوه مینځه وه چی دی ډیر په مین وو ، هغه یی دالله داچی دذکر سوی آیت حاصل دادی چی دالله ﷻ دحق پوره په پوره ادا کول اوکامل خیر نیکی هلته حاصلیدای سی هرکله

لاره کی خرڅ کړی ، په دی ذکر سوی آیت کی یوڅو مسئلی دلیدلو اویادولو قابلی دی .

سوی آیت کی لفظ د(

چی کی کی دخرڅ تفسیر

لیکونکو حضراتو په نزد واجب صدقی ، زکوٰة اونور دی ، اودځینو په نزد نفلی صدقی دی ، لیکن دجمهورو تحقیق کونکو په نزد دانفلی اوواجبو ټولو صدقو صدقو

کرامو لوړی ذکر سوی واقعی پردی باندی شاه چی دانفلی صدقی وی نوپه

چی ﷻ لاره کی یوه صدقه چ که فرض زکوٰة وی اوکه

نفلی صدقه اوخیرات وی په دی ټولو اوثواب هلته وی چی خپل دخوښی شی

ګران شی دالله ﷻ په لاره کی خرڅ نه چ یوتا

فالتو یاخراب شیان راټول کړی په شریف په یوه آیت

مضمون زیات په وضاحت سره داسی بیان سوی دی .

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنفِقُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الْأَرْضِ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنفِقُونَ وَلَسْتُم بِآخِذِيهِ إِلَّا أَن تُغْمِضُوا فِيهِ .

(ای ایماندارانو! خرڅ کوی پاك شیان دخپلی ګټی څخه اوکوم شیان چی مونږ ستاسی دپاره دمځکی څخه را باسو په دی کی ښه شیان راټولوی او دهغه څخه خرڅوی اودردّی (بیکاره) شیانو نیت (دورکولو) مه کوی چی دهغه څخه خرڅ کړی حال دادی چی که دغه شیان ستاسی دحق په بدله کی تاسی لره درکړل سی ، نو تاسی به یی هیڅکله قبول نه کړی بغیر ددی څخه چی په یو وجه سره سترګی پرپټی کړی .

اوبی کاره شی کول یی مقبول

صدقه چی مکمل ثواب په حاصلیږی، هغه ده چی دخوښو اوګرانو شیانو څخه ورکړل سی .

(په صدقه کولو کی درمیانه رویی په کار ده)

چی کی سو چی

خومره خ کړ

چی خومره خرڅ کوی چی په هغوی کړ وګوری دمینی شی ورڅخه خ کی

ثواب مستحق به سی .

دریمه مسئله: دا ده چی دا دخوښی شی خرڅول یوازی ددی نوم نه دی چی ددیر قیمت شی خرڅ کړل سی بلکه کوم شی چی دڅاپه نزدباندی دخوښی اودمینی وی برابره خبره ده که هر څومره دکم قیمت وی اولږ وی ، ددی په خرڅ کولو به دی د(برّ) لایق سی .

Maktaba Tul Ishaat.com

حضرت حسن بصری . فرما دی چی کو ی بنده په اخلاص سره دالله ﷻ درضا دپاره خرڅوی ، هغه که څه هم دخُرما یوه دانه هم وی ، په دی سره هم بنده ددی لوی ثواب او کامل (بر) لایق کیدای سی دکوم چی په آیت کی وعده سوي ده .

څلورمه مسئله : دا ده چی ددی آیت څخه په ظاهره دامعلومیږی چی په دی کی دکوم لوی خیراو (بر) ذکر دی ددی څخه به هغه غریبان خلک محرومه پاته سی ، دچاسره چی دخرڅولو دپاره مال نه وی ، ځکه چی په آیت کی یی فرمایلی دی چی دا لوی خیر بغیر دخوښی اومینی دمال دخرڅولو څخه نه سی حاصلیدای او دفقیرانو اومسکینانوسره خو ګر سره مال نه وی چی دهغه په ذریعه دوی دی ته ورسیږی ، لیکن چی فکر وکړل سی نو دآیت دا مطلب نه دی چی که لوی خیراولوی ثواب حاصلول غواړی نو بغیر دخوښی دمال دخرڅ کولوڅخه د دوی دا مقصد نه سی پوره کیدای ، بلکه خبره دا ده چی دا لوی خیر په یوه بله ذریعه سره مثلاً په عبادت ، دالله ﷻ په ذکر ، دقرآن په تلاوت ، په ډیرو نفلونو سره هم حاصلیدای سی ، نو په دی وجه فقیرانو اوغریبانوته هم دالوی خیرپه نورو ذریعوسره حاصلیدای سی، لکه چی داحادیثو په ځینو روایتونوکی دامضمون ښه په وضاحت سره راغلی دی .

دخوښ مال څخه څه مراددی ؟ پنځمه مسئله: داده چی دخوښ مال څخه مرادڅه دی ؟ دقرآن شریف دنوروآیتو څخه معلومه سوه چی دخوښیدو مطلب دادی چی شی دده په کار کی راځی اوده ته ددغه شی حاجت وی فالتواوبی کاره نه وی ، دقرآن کریم ارشاد دی .

وَيُطْعِمُوْنَ الطَّعَامَ عَلٰى حُبِّهٖ مِسْكِيْنًا .

دالله ﷻ مقبول بندګان هغه دی چی حاجتمندولره خوراك ورکوی ، سره ددی چی دی ته د دوی په خپله هم ضرورت وی ، دغه رنګه په یو بل آیت کی یی دا مضمون تر دی هم زیات په وضاحت سره داسی بیان کړي دی . فرمایی

ويؤثرون على انفسهم ولو كان بهم خصاصة .

دالله ﷻ مقبول بندګان نور په خپل ځان باندی دمخه کوی ، که څه هم دوی په خپله هم حاجتمند وی .

کي خرڅ

شپږمه مسئله : دا ده چی په آیت کی دا ښوول سوي ده چی کامل خیر او لوی ثواب او دابرارو په صف کی د سی چی خپل دخوښی شی دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کوی ،مګر په دی سره دانه لازمیږی چی دضرورت څخه زیات دفالتومال په خرڅ کولوسره به ثواب نه حاصلیږی ، بلکه دآیت په آخر کی چی کوم دا ارشاددی (وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ شَيْءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ تاسی ، کوم خرڅوی ﷻ دهغه څخه خبردار دی ، دآیت ددی ج ی چی که په ص دابرارو کی داخله خاص دخوښی دشی پرخرڅ کولو باندی موقوفه ده ، لیکن دمطلق ثواب څخه یوه صدقه خالی نه ده ، که د ښی ، خرڅ البته مکروه اومنع داده چی یوسړی دالله ﷻ په لاره کی دخرڅولو دساره داطریقه اختیارکړی ی کله خرڅوی نودفالتو اوخراب شی انتخاب کوی اوخرڅوی

يي ، لیکن کو سړی چی ـه صدقه اوخیرات کی خپل دخوښی اوښه شی هم خرڅوی اودخپل ضرورت
څخه ر ت ته سوی خوراك، یا زړی جامی، عیب داره لوښی یا داستعمال شیان هم په خیرات کی
ـه ددی بیانو ر ر ر سره گناهگا کیږی ده ته به په دی هم خامخا ثواب
حاصلیږی او دخوښی دشیـو ـه ـر ر به ده ته لوی خیرهم حاصلیږی ، اودابرارو په صف کی به دده
داخله هم وی ، دآیت په دی آخری جمله کی داهم ښوول سوي دی چی بنده څه خرڅوی دهغه اصل حقیقت
الله ﷻ ته ښکاره دی ، چی دغه سی دده په ـرد ـ ـوښی ـ ـ اخلاص سره یی دالله ﷻ
لاره کی خرڅ کوی اوک ـ یادشهرت د ـ محضی دیوچا دژبی دعوه ددی دپاره پوره نه ده
چی زه خپل دخوښی شی دالله ﷻ درضا دپاره خر ـ بلکه ـیم اوخبیر ذات ﷻ چی دزړه په رازونو
خبر دی ، هغه یی وینی چی په ریښتیا سره دهغه دپاره دخرڅ سوی شی څه درجه ده .

كُلُّ الطَّعَامِ كَانَ حِلًّا لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ إِلَّا مَا حَرَّمَ إِسۡرَٰٓءِيلُ عَلَىٰ نَفۡسِهِۦ مِن

ټول دخوراك شیان حلال وو بنی اسرائلوته مگر هغه چی حرام کړی وو اسرائیلو په خپل ځان

قَبۡلِ أَن تُنَزَّلَ ٱلتَّوۡرَىٰةُۚ قُلۡ فَأۡتُواْ بِٱلتَّوۡرَىٰةِ فَٱتۡلُوهَآ إِن

مخکی دنازلیدو دتورات څخه ، ته ورتهووایه چی راوړی تورات او وی وایاست که

كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ۝٩٣ فَمَنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ مِنۢ بَعۡدِ

تاسی ریښتینی یاست ، بیا چی څوك جوړ کړی په الله پاك باندی دروغ وروسته

ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ۝٩٤ قُلۡ صَدَقَ ٱللَّهُۗ فَٱتَّبِعُواْ

ددی څخه نو هغه دی ډیر بی انصافه ، ته ووایه ریښتیا وایی الله ﷻ اوس تابع سی

مِلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۖ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ۝٩٥

ددین دابراهیم ؈ چی یوه طرف ته وو او نه وو دمشرکانو څخه .

لنډتفسیر : (دکومو شیانو دخوراك په باره کی چی خبری اتری دی دا) ټول دخوراك شیان (دحضرت ابراهیم ؈ دوخت څخه هیڅ کله هم حرام را روان نه دی بلکه داشیان) دتورات دنزول څخه مخکی دهغه څخه علاوه (یعني دغوښو څخه داوښ) کمی چی (حضرت) یعقوب (؈) په یو خاص وجه سره) پر خپل نفس باندی حرامه کړی وه (اوبیادغه دده په اولادکی هم حرامه راروانه وه، پاته ټول شیان په خپله) پر بنی اسرآئلو باندی (هم) حلال وه (نو حضرت ابراهیم ؈ دوخت څخه ددی دحرموالی دعوه کله صحیح کیدای سی ، او دتورات دنزول څخه مخکی یی څکه وفرمایل چی دتورات دنزول څخه وروسته په دی

Maktaba Tul Ishaat.com

ذکر سوو حلالو شیانو کې هم ډیرشیان حرام سوي وه ، چې دهغه څه تفصیل دسورة انعام په دې آیت کې دی . وَعَلَى الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا كُلَّ ذِيْ ظُفُرٍ الخ او اوس هم که یهود دمخکې حراموالی دعوه کوي نو ای محمد ﷺ دوی ته) ووایه چې (ښه نو) بیاتورات راوړی اوهغه (ښکاره کې) او وي وایاست که تاسي (په دې ذکر سوي دعوه کې) رښتیني یاست (نو په هغه کې څه آیت یابل شی ددې مضمون راوباسي ځکه چې په نقل سوو کارونو کې نص (دلیل) ته ضرورت دی او نور نصونه (دلیلونه) خویقینًا په دې باره کې نسته یوازې تورات باقي دی نو په هغه کې ونبیاست ، نو په هغه کې خو یې نه سي ښوولی نودرواغ د دوی په دې دعوه کې ثابت سوه نو اوس په دې باندې فرمایي) پس کم سړی چې د (دلیل د درواغ کیدو) څخه وروسته (هم) په الله ﷻ باندې ددرواغو تهمت لګوي (چې الله ﷻ دحضرت ابراهیم ﷺ د وخت څخه داوښ غوښه حرامه کړې ده) نو داسي خلک ډیر بې انصافه دي .

ته ووایه چې الله ﷻ رښتیاوویل نو (اوس) تاسي (لره په کار دی چې وروسته دقرآن دحق ثابتیدو څخه) دملّتِ ابراهیم (یعني اسلام) تابعداری (اختیار) کړی چې هیڅ کوږوالی په کې نسته او هغه (حضرت ابراهیمﷺ) مشرك نه وو .

معلومات اومسئلې : په دې لوړو آیتونو کې داهل کتابو سره ، بحث را روان دی ، کله د یهودو سره کله دنصاراو سره کله ددواړو سره ، دیوه بحث وروسته بیان راځي چې دهغه قصه په روح المعاني کې په روایت دواحدي کلبي سره نقل ده چې کله نبي کریم ﷺ وفرمایل چې زه په ملّتِ ابراهیمي باندې یم، په اعتباردټولو اصولو دشرعي سره اواکثرو فروعو سره هم ، نویهودو په اعتراض کې وویل چې ته خوداوښ غوښه اوشیدې خوري او حال دادی چې داپه حضرت ابراهیم ﷺ باندې حرام وه نو رسول ﷺ جواب ورکی چې نه ، په هغه حلال وه ، یهودو وویل چې داخومره شیان چې مونږ حرام ګڼو داټوله دحضرت نوح ﷺ اوحضرت ابراهیم ﷺ دوخت څخه حرام راوان دي ، تردې چې مونږ ته دغه حرام والی راورسیدی نو الله ﷻ په دې ذکرسوي آیت ، كُلُّ الطَّعَامِ كَانَ حِلًّا لِّبَنِيْٓ الخ کې دیهودو درواغجن والی نازل کې چې په دې کې یې ارشاد وفرمایي چې دتورات دنازلیدو څخه مخکې بغیر داوښ دغوښې څخه چې حضرت یعقوب ﷺ په یوخاص وجه سره پرخپل نفس حرامه کړې وه اوبیادغه دده په اولادکې هم حرامه راروانه سوه پاته ټول شیان په خپله پربنې اسرآئلو هم حلال وه ، په اصل کې په دې کې خبره داسي وسوه چې په حضرت یعقوب ﷺ دعرق النّساء مرض وو ، ده نذرمنلی ووچې که الله ﷻ زه روغ کړم نوکوم یو خوراك چې زما ډیر خوښ دی ، هغه به پریږدم ، نو چې دی جوړ سو نو تر ټولو زیات دی داوښ پرغوښه مین وو ، نودایې پریښوله (روایت کړی دی ددې حاکم په سندصحیح سره دابن عباس ﷺ څخه لکه چې په روح المعاني کې دی او دا روایت ترمذي په سورة رعد کې مرفوع را ایستلی دی)

بیا دغه حراموالی چې په نذرسره سوی وو ، په بني اسرائیلو کې په حکم دوحي سره باقي پاته سو او معلومیږي چې دده په شریعت کې به په نذرسره حرمت هم کیدی ، لکه زمونږ په شریعت کې چې مباح په واجب کیږي ، لیکن دحرمت نذرچې په حقیقت کې قسم دی ، زمونږ په شریعت کې جائز نه دی بلکه

په دې کې دقسم ماتول اوبيايې کفاره ورکول واجب دي ، لکه چې الله ﷻ فرمايي . لِمَ تُحَرِّمُ مَآاَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ الاٰية . دغه ډول په تفسير کبير کې دي

إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِّلْعٰلَمِينَ ﴿٩٦﴾

بيشکه دټولو څخه اولنی کورچې مقررسودخلقودپاره دادی چې په مکه کې دی برکت والااوهدايت دجهان دخلقودپاره.

لنډتفسير: يقيناًهغه ځای چې ترټولو (ځايونو دعبادت) مخکې دخلګو (دعبادت) دپاره (دطرفه څخه دالله ﷻ) مقرر کړه سوهغه ځای دی کوم چې په (ښار) مکه کې دی (يعنې خانه کعبه) چې دهغه حالت دا دی چې هغه برکت والا دی (څکه چې په ده کې ديني نفع يعنې ثواب دی) او (په خاص عبادت لکه لمانځه کې دمخ کولو دپاره) دټولی دُنيادخلګو رهنما دی (مطلب دا دی چې هلته حج کيږی مثلاًدلمانځه ثواب داحاديثو په بناسره هلته ډير زيات دی، ديني برکت خوداسو ، اوکم خلګ چې هلته نه وی، هغوته ددی مکان په ذريعه دلمانځه طرف معلوميږی نودايی رهنمايي سوه .

معلومات اومسئلې: په دی ذکرسوی آيت کې دټولی دنياترځايونو تردی چې دټولو مسجدونوپه مقابله کې دبيت الله يعنی دکعبې شريفې دشرافت اوبنه والی بيان دی اودا شرافت اوبنه والی په څووجهو سره دی.

(دبيت الله شريفې فضيلتونه سره دتاريخه دآباديدلو)

اول په دی وجه چې ددنياد ټولو رښتنو ځايونو دعبادت څخه په ټولوکی اولنی دعبادت ځای دی ، دوهم داچې برکت لرونکی دی ، دريم داچې دی دټولی دنياد پاره دهدايت اوراهنمايي ذريعه ده ، دآيت دالفاظوخلاصه داده (يعنی مغز يې دا دی) چې ترټولو اولنی کور چې دالله ﷻ دطرفه دخلګودپاره مقرر کړل سوي دی ، هغه په مکه کې دی ، ددی مطلب دادی چې په دنياکی ترټولواولنی عبادت خانه کعبه ده ددی داصورت هم کيدای سی چې ددنياپه ټولوکورونوکی اولنی کور دعبادت دپاره جوړسوی وی تردی مخکې نه کمه عبادت خانه جوړه سوی وه اونه داوسيدو کور ، حضرت آدم ﷺ دالله ﷻ نبی دی دهغه دشان څخه داځه ليری خبره نه ده چې هغه مخکې ته دراتلو څخه وروسته دځپل کور جوړولو څخه مخکې دالله ﷻ کوريعنی دعبادت ځای جوړکړی وی . په دی وجه حضرت عبدالله بن عمر﵁ مجاهد ، قتاده، سدی اونور صحابه ﵃ اوتابعين ، ددی قائل دی ، چې کعبه ددنيا ترټولو اولنی کور دی او دا هم ممکنه ده چې دخلګو داوسيدو ځايونه دی مخکې هم جوړ سوی وی ليکن دعبادت دپاره دی دا اولنی کور جوړ سوی وی ، دحضرت علی ﵁ څخه هم دا نقل دی .

بيهقی په ځپل کتاب دلائل النبوت کې په روايت دحضرت عبدالله بن عمر ﵁ بن عاص ﵁ روايت کړی دی چې رسول الله ﷺ فرمايلی دی چې حضرت آدم ﷺ اوحوا ﷺ دنياته راغله ، نو د دوی دراتلوڅخه وروسته الله ﷻ دجبرائل امين په ذريعه دوی ته داحکم راوليږی چې دوی دبيت الله (کعبه) جوړه کړی ، دوی حکم ومنی اوعمل يې په وکی ، نو دا حکم ورته وسوچې ددی طواف دی کوی اودوی ته وويل سوه چې تاسی په خلګوکی مخکې ياست او دا کور اَوَّلَ بَيْتٍ وُّضِعَ لِلنَّاسِ . دی يعنی تر ټولو اولنی کور چې

Maktaba Tul Ishaat.com

دخلگو دپاره مقررسوي دی (ابن کثیر) دا روایت ابن کثیر دابن لهیعه په وجه ضعیف گڼلی دی او دا څه پته خبره نه ده ، دی مطلقًاداسی متروك الحدیث نه دی ، چی دده هر یو روایت دی ردکړل سی او بیا په دی مقام کی چی دکتاب الله دارشاد څخه یی تاکید کیږی.

په ځینی روایاتوکی دی چی دحضرت آدم ﷺ دلاسودکعبی دغه آبادی دحضرت نوح ﷺ ترطوفانه پوری باقی وه بیاپه دغه طوفان کی ونړیده ، اونبنانی یی ورانی سوی ، تردی وروسته حضرت ابراهیم ﷺ پردغه زړو بنیادونو باندی دوباره آباده کړه ، بیایو وارپه یوه حادثه کی ددی آبادی ونړیده نودجرهم دقبیلی یوڅوکسانو دابیاجوړه کړه ، بیایوه پلا ونړیده نوعمالقه وو آباده کړه اوبیاونړیده نوقریشو دنبی کریم ﷺ په اولنی وخت کی آباده کړه چی نبی کریم ﷺ په کی شریك سوی وو ، اوحجر اسودیی په خپلو مبارکو لاسونو باندی ایښی وو ، لیکن قریشو دا آبادی دحضرت ابراهیم ﷺ ترآبادی لږڅه بدله کړی وه چی یوه حصه یی دبیت الله څخه جلاکړه، چی حطیم ورته ویل کیږی ، اودخلیل الله ﷺ په جوړه سوی کعبه کی دوی دروازی وی ، یوه ددننه تلو دپاره او دوهمه شاطرف ته ددباندی وتلو دپاره وه اوقریشو یوازی مشرقی دروازه باقی پاته کړه ، دریم بدلون یی داپکښی وکی چی دبیت الله سطحه (دننه فرش) یی دمځکی څخه پوره پورته کی چی هرسړی په آسانی سره نه سی وردننه کیدای، بلکه چاته چی دوی اجازه ورکوی هغه به تلی سی.

نبی کریم ﷺ حضرت عائشی صدیقی ﷺ ته فرمایلی وه چی زمازړه غواړی چی دا موجوده آبادی ونړوم او بالکل دحضرت ابراهیم ﷺ دآبادی پرطریقه یی جوړه کړم اوقریشو چی دحضرت ابراهیم ﷺ په آبادی کی کوم آدلون بدلون کړي دی ، دابرابر کړم ، لیکن په نوو او ناپوه مسلمانانو کی دغلط فهمی پیدا کیدو بیره ده ، په دی وجه یی فی الحال هم په دغه خپل حالت باندی پریږدم ، ددی ارشاد فرمایلوڅخه وروسته دده دژوندپه دنیاکی ډیری ورځی پاته نه سوی ، لیکن دحضرت عائشی ﷺ خور یی حضرت عبدالله ابن زبیر ﷺ دنبی کریم ﷺ داارشاد اوریدلی وو نوکله چی دخلفایی راشدینو ﷺ څخه وروسته په مکه مکرمه کی دده حکومت سو نو ده بیت الله ونړوله او دنبی ﷺ اودحضرت ابراهیم ﷺ دآبادی مطابق یی جوړه کړه ، خودحضرت عبدالله ابن زبیر ﷺ حکومت په مکه مکرمه باندی دیوڅو ورځووو ، دامّت ظالم حجاج بن یوسف په مکه معظمه باندی فوج راوغورځوی اودی یی شهید کی اوپرحکومت یی قبضه وکړه،نودایی خوښه نه کړه چی دعبدالله ابن زبیر ﷺ داکارنامه دی ترقیامته پوری دده دثنا اوصفت ذریعه جوړه سی په دی وجه یی په خلگوکی دامشهوره کړه چی دعبدالله ابن زبیر ﷺ داکارغلط وو نبی کریم ﷺ چی دا په کوم حالت باندی پاته کړی وه ، مونږته هم پردغه حالت باندی ددی پرېښوول په کار دی ، په دی بهانه یی بیت الله بیاونړوله اوپه هغه شان یی آباده کړه په کوم شان چی په جاهلیت کی قریشوجوړه کړی وه دحجاج بن یوسف څخه وروسته راتلونکو ځینی مسلمانانو باچهانوبیا دذکرسوی حدیث په بنا باندی دا اراده وکړه چی بیت الله دوباره بیادنبی کریم ﷺ دحدیث مطابق جوړه کړی ، لیکن ددغه زمانی امام حضرت امام مالك بن انس ﷺ دافتویٰ ورکړه چی اوس وار وار بیت الله جوړول اونړول به دراتلونکو

Maktaba Tul Ishaat.com

باچهانو دپاره يودبازيو شي جوړسي، هريو راتلونکي باچابه دخپل نوم دپاره داکارکوي ، په دې وجه چې اوس په کوم حالت ده ، هم په دې حالت يې پاته کول مناسب دي ، ټول امت داخبره ومنله په دې وجه ترننه پورې هم دغه دحجاج بن يوسف هغه آبادي باقي ده ، البته دمرمت سلسله يې هميشه جاري ده .

ددې رواياتو څخه يوه دا خبره معلومه سوه چې کعبه ددُنيا ترټولو اولنۍ کورده، اويا کم ازکم تر ټولو اولنۍ عبادت خانه ده ، په قرآن کريم کې چې کوم ځاى دا ذکر دې چې دکعبې آبادي دخداى ﷻ په حکم باندې حضرت ابراهيم ﷺ کړې ده ، هلته ددې اشارې هم موجودې دي چې دې بزرګانو دا په اول وارنه ده آباده کړې ، بلکه په تېرو بنيادونو باندې يې دوباره آباده کړې ده او دکعبې بنياد دمخکې څخه وو ، دقرآن کريم دارشاد ﴿وَاِذْ يَرْفَعُ اِبْرٰهٖمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَاِسْمٰعِيْلُ﴾ څخه هم دامطلب اخيستل کيږي چې بنيادونه دبيت الله دمخکې څخه موجود وه ، دسورت حج په آيت کې دي ﴿وَاِذْ بَوَّاْنَا لِاِبْرٰهِيْمَ مَكَانَ الْبَيْتِ﴾ يعنې هرکله چې ښکاره کې موږ دابراهيم ﷺ دپاره ځاى ددې کور ، ددې څخه هم دافائده حاصليږي چې دبيت الله ځاى داول څخه معلوم راروان وو او تردې دمخکې آيت څخه خو يې دبنيادونو پته هم معلوميږي .

په ځينې روايتونوکې دې چې کله حضرت ابراهيم ﷺ ته دبيت الله دآبادولو حکم ورکړل سو نو دملائکو په ذريعه يې ورته دمخکنيو تېرو بنيادونو ځاى وښووى چې دشګو غونډۍ په جوړه سوى وه ، په هرحال دذکرسوى آيت څخه دکعبې دا يو فضيلت (ښه والى) هم ثابت سوچې دا ددُنيا ترټولو اولنى کور يا اولنى عبادت خانه ده ، دصحيحينو په يوه حديث کې دي چې حضرت ابوذر ﷺ دنبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې ددنيا تر ټولو اولنى مسجد کوم يو دى ؟ ده ﷺ وفرمايل چې (مسجدحرام) هغه ﷺ عرض وکې چې تردې وروسته کوم مسجددى؟ ده ﷺ وفرمايل چې مسجداقصىٰ (بيت المقدس) دې بيايې پوښتنه وکړه چې ددې دوارو مسجدونو دآبادولو په مينځ کې دڅومره مودې فاصله ده؟ نووې فرمايل چې څلويښت ۴۰ کاله ، په دې حديث کې دبيت الله دنوى آبادي کومه چې دحضرت ابراهيم ﷺ په لاس سوي ده دهغه په اعتبار سره يې دبيت المقدس دآبادي فاصله بيان کړې ده ، ځکه چې درواياتو څخه دا هم ثابته ده چې دبيت المقدس اولنى آبادي هم دحضرت ابراهيم ﷺ په ذريعه دبيت الله دآبادولو څخه څلويښت کاله وروسته سوې ده ،اوحضرت سليمان ﷺ چې دبيت المقدس کومه آبادي وکړه دا هم دبيت الله په ډول سره بالکل نوى او ابتدايي آبادي نه وه ، بلکه حضرت سليمان ﷺ دحضرت ابراهيم ﷺ پرآبادي دانوى جوړکړى دي ، په دې شکل سره په روايتونوکې ديوه اوبل په مابينځ کې څه تعارض (اختلاف) نه راځي .

مطلب دادى چې په دنياکې دهميشه څخه ددې عزت اوکرامت راروان دى په دې کې په لفظ د وُضِعَ لِلنَّاسِ کې دې طرف ته هم اشاره ده چې ددې کورتعظيم اوتکريم ديو خاص قوم ياجماعت حصه نه ده ، بلکه عام خلک اوټول بنى آدم ددې تعظيم کوي ، ددې په ذات کې الله ﷻ يوداسې لويى اوهيبت اچولى دى چې دخلګو زړونه ددې طرف ته په خپله مائله کيږي ، په دې کې دلفظ (بَكَّة) څخه مرادمکه مکرمه ده برابره خبره ده که داسې وويل سي چې بآء يې په ميم سره بدله کړې ده ځکه چې دعربوپه کلام کې ددې مثالونه ډېر زيات دي چې ميم په بآء سره بدليږي اوکه داسې وويل سي چې دمکې دوهم نوم بکّه هم دى ،

دبیت الله برکتونه: په دې آیت کې دبیت الله دوهم فضیلت دابیان سوي دی چې دا (مبارکه) ده لفظ دمبارك دبرکت څخه مشتق دی دبرکت معنی ده لوی کیدل اوزیاتیدل او ثابت پاته کیدل، بیادیوشي دپاره زیاتیدل داسي هم کیدای سي چې دده وجود ښکاره په ښکاره په مقدارکی زیات سي اوداسي هم چې که په مقدارکی یې څه خاص زیاتی ونه سي لیکن کار دومره وکړي چې په عادت کی دده څخه په زیات سره کیدای سي دی ته هم د معنی په وجه سره زیاتی ویل کیږي دبیت الله برکتی کیدل په ظاهري طورسره هم دی او دمعنی په لحاظ سره هم ددی ظاهري برکات داسي لیدل کیږي چې مکه او ددی خواوشا که څه هم یووچ ریګستان اوډبرینه مځکه ده خوسره ددې په کی همیشه په هرموسم کی هرقسم میوی اوسبزیانی اوټول دضرورت شیان هروخت تیاروی چې یوازی دمکی دخلګودپاره نه بلکه ددُنیااطرافوڅخه دراتلونکو دپاره هم پوره کیږي او دلته دراتلونکو حال خو دنیاته معلوم دی چې خاص دحج په موسم کی په لکونو مخلوقات ددُنیا دګُونج ګُونج څخه راجمع کیږي چې ددوی شمیر دمکی دخلګوځلورچنده پنځه چنده وی اوداعظیمه ټولی هلته یوازی دوی دری، څلور ورځی څخه بلکه په میاشتووی اودحج دموسم څخه پرته هم کوم وخت داسي نه راځي چې ددباندی څخه دزرګونو خلګوتلل راتلل جاری نه وی اوبیا خاص دحج په موسم کی چې دلکونو څخه زیات خلګ هلته جمع وی، هیڅکله هم نه دی اوریدل سوی چې په بازارکی یو وخت هم دضرورت شیان ختم سوه . نه پیداکیږي تردی چې که دقربانی حیوانان کوم خلق چې هلته تللی وی که سل سل هم قربانی کوی او میانه خویویو یقیني دی، داپه لکونو حیوانان هم هلته پیداکیږي او دا هم نه ده چې دنورو ملکونو څخه یې دراغوښتلو انتظام کیږي . په قرآن شریف کی دی چې يُجْبٰى اِلَيْهِ ثَمَرٰتُ كُلِّ شَيْءٍ دی ته ددباندی څخه راوړه کیږي میوی دهرشی ، په دی الفاظو کی دی طرف ته ښکاره اشاره هم موجود ده .

دا خو دظاهري برکتونو حال دی چې دمقصود حیثیت نه لري او معنوی اوباطنی برکتونه خو یې دومره دی چې شمیر یې نه سي کیدای . ځیني مهم عبادتونه خو په بیت الله پوري خاص دی ، په دوی کی چې څومره لوی اجر او روحانی برکتونه دی . دا ټول دبیت الله په وجه سره دی ، مثلاً حج اوعمره اودځیني نورو عبادتونو ثواب هم په مسجدحرام کی په ډیرو درجو سره زیاتیږي . دنبی کریم ﷺ ارشاد دی چې یو سړی په خپل کور کی لمونځ وکی ، نو ده ته به دیوه لمانځه ثواب حاصل سی ، اوکه دخپلی محلی په مسجدکی یې وکی نو پنځه ویشتو لمونځو ثواب به ورته حاصل سی اوچې په جامع مسجدکی یې وکی نو دپنځه سوه لمونځو ثواب به ورته حاصل سی اوکه په مسجد اقصیٰ کی یې وکی نودزرو لمونځواوچې زماپه مسجد(مسجد نبوی) کی یې وکی نو دپنځوس زرو لمونځونو اوپه مسجدحرام کی دیوه لك لمونځونو ثواب به ورته حاصل سي (دا روایت ابن ماجه طحاوی اونورو نقل کړي دی) دحج په فضیلتونو کی دا حدیث عام مسلمانان پیژنی چې په صحیح طور سره دحج کوونکی مسلمان ټول تیرګناهونه معاف کیږي او داسي دګناهونو څخه پاك سی لکه نن چې دمور دنس څخه پاك صاف پیداسوی وی نوښکاره خبره ده چې دا ټول دبیت الله شریفی معنوی اوروحانی برکتونه دی دابرکتونه یې دآیت په آخرکی په لفظ

وَهُدًى سره تعبير فرمايلی دی. مُبٰرَكًا وَّهُدًى لِّلْعٰلَمِيْنَ.

فِيْهِ اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ مَّقَامُ اِبْرٰهِيْمَ ۚ وَمَنْ دَخَلَهٗ

په دی کی نښانی دی ښکاره لکه مقام ابراهيم ﷺ او څوك چی دی ته دننه سو

كَانَ اٰمِنًا ؕ وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ

نو په آمن سو ، او دالله ﷻ حق دی په خلقو باندی حج کول ددی کور کوم سړی چی قدرت لري

اِلَيْهِ سَبِيْلًا ؕ وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۹۷﴾

دی ته دلاري دتلو ، اوڅوك چی ونه منی نو بيا الله ﷻ پرواه نه کوی دمخلو قاتو .

لنډتفسير: په دی کی (څه دشريعت په لحاظ اوڅه ددی ځای په لحاظ سره) ښکاره نښانی دی (ددی فضيلت دشريعت په لحاظ نښانی دمباركًا اوهدًى لاندی په ذکرسوی تفسير سره بيان سوی اوڅه دمقام ابراهيم ﷺ څخه وروسته ذکر کيږی چی دی ته را تنوتونکی دامن مستحق وګرځی ، دشرطونو په پوره کيدوحج فرض کيدل چی مطلق رواوالی يی په تيرذکرباندی زيات مفهوم دی داخلورنښانی دشريعت په لحاظ دلته ذکردی اوس په مينځ کی يی دتکوينی نښانو داسی ذکر فرمايي) چی په دی (نښانوکی) يومقام ابراهيم (نښانه) ده او (يوه دشريعت په لحاظ نښانه داده چی) کم سړی دی (په دی متعلقه حدودو) کی داخل سی هغه (شرعًا) امن والاسی او (بله دشريعت په لحاظ نښانه يی دا ده چی) دالله ﷻ (خوشحالولو) دپاره دخلګو پر ذمه ددی ځای حج کول (فرض) دی (مګردټولوپر ذمه نه بلکه دخاصو) يعنی دهغه سړی په ذمه چی طاقت لري ترهغه ځای پوری (دړسيدو) دلاري اوکوم سړی چی (دالله ﷻ دحکمونو څخه) منکرسی نو (دخدای ﷻ څه نقصان دی ځکه چی) الله ﷻ دټول مخلوق څخه ددنيايی حاجته دی (دچاپه منلو پوری دهغه څه کارنه دی ترلی، بلکه په خپله ددی منکر نقصان دی)

(معلومات اومسئلي : دبيت الله دری خصوصيات)

په دی آيت کی دبيت الله يعنی دخانه کعبی خاصيتونه اوفضيلتونه بيان سوي دی يو دا چی په دی کی دالله ﷻ دقدرت ډيری نښانی دی چی په دوی کی يو مقام دی ، دويم دا چی څوك دی ته داخل سی هغه به په امن اومحفوظ وی ، څوك به دی نه سی قتلولی ، دريم دا چی دټولی دنياپه مسلمانانو ددی بيت الله حج فرض دی په دی شرط چی هلته درسيدو طاقت يی وی اوقدرت لري .

اوله خبره چی په دی کی دالله ﷻ لويی نښانی دی ، ددی وضاحت دا دی چی دکله څخه بيت الله قائمه سوه نو ددی په برکت الله ﷻ دمکی خلګ دمخالفينو دحملو څخه محفوظ کړل ابرهه دفيلانو دلښکر سره حمله وکړه نو الله ﷻ په خپل کامل قدرت سره دوی دمرغيو په ذريعه هلاك کړه دمکی په حرم کی داخليدونکی

بنده بلکه حیوان هم محفوظ دی اوحیوان هم په دی خبره پوه دی دحرم په حدونوکی دننه دوی هم خپل ځان محفوظ ګنی هلته وحشی دښکارحیوان هم دانسان څخه نه تښتی په عام ډول سره داهم لیدل سوی دی چی دبیت الله کوم جانب ته باران کیږی ، ددغه طرف ملکونه په زیات باران سره سیرابه کیږی یوه عجیبه نښانه دا ده چی هر یوحج کوونکی روزانه هره یوه جمره په اووه ډبرو باندی دری ورځی ولی او هر کال په لکونو حاجیان هلته جمع کیږی نو دا ټولی ډبری که هلته جمع سی او باقی پاته سی نو په یوه کال کی به دغه جمرات دډبرو په غونډی کی پټ سی اوپه یوڅوکاله کی خو به هلته یوغر جوړسی ، حال دا دی چی دا لیدل سوی دی چی دحج د دری ورځو دتیریدو څخه وروسته هلته دډبرو کوم خاص انبار نه وی جمع سوی خامخا شاوخوا څه ډبری په نظر راځی ، چی دهغه وجه په حدیث کی دا بیان سوي ده چی نبی کریم ﷺ فرمایی چی دا ډبری ملائکی پورته کوی او یوازی دهغه خلګو ډبری باقی پاته کیږی چی حج یی په څه وجه سره قبول نه سی ، او هم دا وجه ده چی دجمرو دخوا څخه ډبری پورته کول اوجمره په ویشتل منع سوي دی ، ځکه چی دغه غیرمقبولی ډبری دی ، دنبی کریم ﷺ ددی ارشاد ریښتینوالی هرسړی په خپلوسترګو سره کولی سی چی دجمروپه شاوخواکی لږی ډبری ډبری په نظر راځی ، حال دا دی چی ددغه ځای څخه ددی ډبرو دپورته کولو او یا ددغه ځای دصفا کولو انتظام نه دحکومت دطرف څخه سته او نه دعوامو دطرف څخه په دی وجه شیخ جلال الدین سیوطی رحمه الله په خصائص کبری کی فرمایی چی دنبی کریم ﷺ ځینی معجزی داسی هم دی چی دده ﷺ دوفات څخه وروسته هم موجودی اوقائمی دی اوتر قیامته پوری به باقی وی اوهرسړبه یی لیدلی سی ، په دی معجزوکی یو قرآن دی چی مثل یی نسته او نه به وسی ، ټوله دنیادده دمثل راوړوڅخه عاجزه ده ، او دا عاجزوالی لکه ځنګه چی دنبی کریم ﷺ په زمانه کی وو ، دغه شان نن هم موجود دی او تر قیامته پوری به وی دهری زمانی مسلمان ټولی دنیالره چیلنج (دمقابلی دعوت) ورکولی سی چی ﴿فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ﴾ دغه رنګه دجمراتو په باره کی چی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی چی دی ته ویشتل سوی ډبری پاته کیږی دچاچی حج قبول نه سی، دده ﷺ ددی ارشاد ریښتینوالی په هر وخت او هره زمانه کی کیږی او تر قیامته پوری به کیدای سی ، دا دنبی کریم ﷺ همیشه پاته کیدونکی معجزه او دبیت الله سره تعلق لرونکی دالله ﷻ یوه لویه نښانه ده .

مقام ابراهیم : په دی نښانوکی یوه لویه نښانه مقام ابراهیم دی په دی وجه قرآن کریم داجلا اوځان ته بیان کړه مقام ابراهیم هغه ډبره ده چی په هغه به حضرت ابراهیم علیه السلام ودریدی او دکعبی آبادی به یی جوړوله ، او په ځینو روایتونو کی دی چی آبادی چی به څومره لوړیده نو دا ډبره به ورسره خودبه خوده لوړیده او دلاندی راکښته کیدو په وخت کی به راکښته کیده ، په دی ډبره دحضرت ابراهیم علیه السلام دپښو ژورنښان تر اوسه پوری موجود دی ، ښکاره خبره ده چی په یوبی پوهی اوبی شعوره ډبره کی دا عقل چی دلوړیدو په وخت لوړیدل او دکښته کیدو په وخت کښته کیدل او دمومو په شان سره یی نرم کیدل چی دقدمونو پوره نقشه په ځان کی جوړ وی دا ټولی دقدرت نښانی دی چی دبیت الله په خوا کی دروازی ته نژدی وه ، څوکله چی دقرآن داحکم نازل سوچی په مقام ابراهیم باندی لمونځ کوی ﴿وَاتَّخِذُوا مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى﴾ نو دغه

Maktaba Tul Ishaat.com

وخت دطواف کونکو دفائدې دپاره یې دا ددغه ځای ځخه پورته کړه او دبیت الله څخه یې په څه فاصله سره بیرته دبیرزمزم خواته کښیښوله چې طواف کونکي ورځخه خلاص سي اوتن صبا دا په هم دغه ځای کې په یو محفوظ ځای کې بنده ده ، دطواف څخه وروسته دوه رکعتونه ددې ځای شاته کیدای سي خواوس په کې دا تر میم سوی دی چې هغه ځای یې لیرې کړیدی اودایې دښیښې په یوخول کې محفوظه کړیده (اودوسپنې محکمه جال پرپیچلی دی) مقام ابراهیم په اصل کې ددغه خاص ډبرې نوم دی ، اوتر طواف وروسته دوه رکعته تردې لوړ یاددې په خواکې کول بهتره دی ، لیکن دمقام ابراهیم دلفظي معنیٰ په اعتبارسره ټول مسجدحرام مقام ابراهیم دی په دې وجه فقهاؤحضراتو فرمایلي دي چې په مسجدحرام کې دننه په هرځای کې چې هم دطواف رکعتونه وسي ، واجب به اداسي (دحج په دوران کې ډیره ګڼه ګونه وي په طواف کې او اکثره خلګ دګڼې پروانه کوي اوخامخا ددغه قبې په خواکې دا دوه رکعته کوي چې طواف کوونکواوپه خپله ده ته ډیر تکلیف په رسیږي ، داسي کول نه دي په کار بلکه دطواف دځای څخه دباندې یې ښه په اطمینان سره ادا کول په کار دي)

(دي ته دَداخل سوی په امن کیدل)

په ذکرسوی آیت کې یې دبیت الله بل دا خصوصیت ښوولی دی چې څوك دي ته داخل سونوپه امن اومحفوظ به وي ، دې ته د داخلیدونکې په امن اومحفوظ کیدل یودشریعت په اعتبارسره دی ، یعنې دالله ﷻ دطرفه خلقوته داحکم دی چې کم سړی دی ته داخل سی، هغه ته به آزارهم نه رسوی اوقتل کوی به یې هم نه ، که یوجابل څوك قتل کې یاڅه بل جرم یې وکی اوبیت الله ته دننه سونوده ته به په هم دغه ځای کې سزا نه ورکول کیږي بلکه دی به مجبوره کیږي چې دحرم څخه دباندې ووزی نوبیادې سزا په جاري سی ، په دې شان سره حرم ته داخل سوی په شرعي طورسره په امن اومحفوظ دی ، دوهم حرم ته دداخل سوی امن اوحفاظت داسي هم دی چې الله ﷻ تکویني (یعنې ددغه ځای داثرپه) طور سره دهرقوم او ملت په زړونو کې دبیت الله تعظیم اوعزت اچولی دی او ټول په عام طور سره دزرګونو اختلافاتو باوجود په دې عقیده متفق دی چې دی ته داخل سوی که څه هم مجرم یازمونږ دښمن وي خودحرم عزت په دې کې دی چې ده ته دلته څه نه وویل سی حرم دِې دعاموجګړو اوجنګونو څخه محفوظ وساتل سی دجاهلیت دزماني عرب اوددوی مختلف قبائل برابره خبره ده که هرڅومره په بدعملو اوخرابو کې اخته وه لیکن دبیت الله اوحرم محترم په عزت اواحترام به یې ځانونه قربانول د دوی جنګ جویي اوتندخویي په ټوله دنیاکې مشهوره ده لیکن دحرم داحترام داحال وو چې دپلارقاتل به زوی ته مخامخ راغی نودمقتول زوی چې دده وینوته به تږی ناست وو ، سترګې به یې کښته کړې اوتیربه سواوده ته به یې هیڅ هم نه ویل په فتح مکه کې یوازې درسول الله ﷺ دپاره ددین دیوخاص مصلحت اودبیت الله شریفې دپاکولوپه خاطر دیوڅو ساعتو دپاره په حرم کې دجنګ اجازه دالله ﷻ دطرفه څخه نازله سوې وه اوترفتح وروسته هغه ﷺ په ډیرتاکید سره ددې اعلان اواظهار وکی چې دااجازه یوازې دنبي کریم ﷺ دپاره دبیت الله دپاکولو په غرض سره وه اوهغه هم دیوڅو ساعتو دپاره وه ، ددې څخه وروسته دهمیشه دپاره بیاهم

هغه حرمت ثابت دی، کوم چی مخکی وو اووی فرمایل چی په حرم کی دننه جنګ اوجګړه نه ترمامخکی حلاله وه اونه ترماوروسته دچاد پاره حلاله ده اوزماد پاره هم یوازی دیوځو ساعتو دپاره حلاله سوی وه، بیاحرامه سوه پاته سوه دامعامله چی دنبی کریمﷺ څخه وروسته حجاج بن یوسف دحضرت عبدالله ابن زبیرؓ خلاف پرمکه لښکرکشی وکړه اوقتلونه اولوټ ماریی وکی ، نو دامنِ عام په تشریعی حکم ددی څکه اثر نسته چی دامت په اتفاق سره دهغه داکارسخته ګناه اوحرام وو ، ټول امت پرده نفرین (لعنت) کړي دی او په تکوینی طورسره هم داکاردهغه دبیت الله داحترام منافی څکه نه دی چی د حجاج په خپله هم داعقیده نه وه چی داکار زماحلال دی هغه په دی پوه ووچی زه یو ډیرغټ جرم کوم خودسیاست اواقتدار نشی هغه ړوندکړی وو ، په هرحال دا خبره په خپل ځای بیا محفوظه وه چی عاموخلګو بیت الله او حرم هم په هغه درجه کی دعزت اواحترام قابل ګڼی اوګڼی یی چی په دی کی جنګ جګړه اوقتلونه ډیره سخته ګناه ده اودا په ټوله دنیاکی یوازی دبیت الله او دحرم خصوصیت دی.

(دبیت الله دحج فرض والي:)

په آیت کی یی دبیت الله دریم خصوصیت دافرمایلی دی چی الله ﷻ په خپل مخلوق باندی دبیت الله شریفی حج لازم او واجب کړي دی ، په دی شرط چی دی بیت الله ته درسیدوطاقت اوقدرت لری ددی طاقت تفصیل دا دی چی دده سره داصلی ضرورتونه څخه زیات دومره مال وی چی دی په هغه باندی دبیت الله پوری دتلو اوراتلو اوهلته داوسیدو خرڅ پوره کولی سی او دخپل تر واپس کیدو پوری دخپل هغه اهل او عیال هم انتظام کولی سی دکومو خرڅ خوراك چی دده په ذمه دی ، دارنګه په لاسو پښو سترګو او نورو سره هم معذوره نه وی ، څکه چی داسی معذور خو دلته په خپل ځای کی نه سی ګرځیدی نو هلته دتلو او دحج کولو قدرت او طاقت به یی څنګه وسی.

دغه ډول دښځی دپاره چونکه بغیرد محرم څخه سفرکول په شریعت کی جائزنه دی نوپه دی وجه به ددی قدرت هغه وخت ګڼل کیږي هرکله چی ددی سره څوك محرم حج کوونکی وی برابره خبره ده که دغه محرم په خپل خرڅ سره حج کوی اوکه دابښځه دهغه خرڅ هم برداشت کوی ، دغه ډول هلته درسیدو دپاره دلاری امن هم دقدرت اوطاقت یوجزء دی که په لاره کی بد امنی وی، دجان اومال قوی خطره وی نودحج طاقت به نه سی ګڼل کیدای.

دلفظ دحج لغوی معنٰی ده قصدکول او دشرعی معنٰی ضروری تفصیل یی خوپه خپله قرآن کریم وفرمایی چی طواف دکعبی او وقوف دعرفی اومزدلفی او نور دی اوباقی تفصیلات یی نبی کریمﷺ دخپل دژبی ارشاداتو او عملی بیاناتو په ذریعه ښکاره کړي دی ، په دی آیت کی دبیت الله دحج فرض کیدو داعلان فرمایلو څخه وروسته په آخرکی فرمایی ، وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ :کوم سړی چی منکرسو ، نوالله ﷻ بی نیازه دی دټول جهان دمخلوق څخه په دی کی هغه سړی خوخامخاداخل دی چی پرسپینه مخکه دحج دفرض والی څخه منکروی، حج فرض نه ګڼی نودده خو داسلام ددائری څخه وتل اوکافرکیدل ښکاره خبره ده نوپه دی وجه د وَمَنْ كَفَرَ لفظ په ده ښه په ډاګه صادق دی ، اوکوم سړی چی یی دعقیدی په

طورفرض گنی لیکن سره دطاقت اوقدرته حج نه کوی، نودغه هم خامخاپه یوحیثیت سره منکردی ، پرده باندی دلفظ وَمَنْ كَفَرَ اطلاق دتهدید اوتاکید دپاره دی چی داسړی دکافرانو په شان په کافرانه عمل کی اخته دی لکه کافر اومنکرچی حج نه کوی، دی هم داسی دی ، په دی وجه فقهاء رحمهم الله فرمایی چی دآیت په دی جمله کی دهغه خلگو دپاره دعذاب سخته وعده ده چی سره دقدرت اوطاقته حج نه کوی چی دوی په خپل دی عمل باندی دکافرانو په شان سوه (العیاذبالله تعالی)

قُلْ يَٰٓأَهْلَ الْكِتَٰبِ لِمَ تَكْفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ اللَّهِ وَاللَّهُ شَهِيدٌ

ته ووایه چی ای اهل کتابو ! ولی منکر سواست دالله دکلام څخه اوالله ته مخامخ دی

عَلَىٰ مَا تَعْمَلُونَ ﴿٩٨﴾ قُلْ يَٰٓأَهْلَ الْكِتَٰبِ لِمَ تَصُدُّونَ عَن

څه چی تاسی کوی ، ته ووایه ای اهل کتابو ولی منع کوی ،

سَبِيلِ اللَّهِ مَنْ ءَامَنَ تَبْغُونَهَا عِوَجًا وَأَنتُمْ شُهَدَآءُ

دالله دلاری څخه ایمان راوړونکی چی لټوی په دی کی عیب او تاسی په خپله پوهه یاست ،

وَمَا اللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٩٩﴾ يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوٓا إِن

او الله ناخبره نه دی ستاسی دکار څخه ، ای ایماندارو !

تُطِيعُوا فَرِيقًا مِّنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَٰبَ يَرُدُّوكُم بَعْدَ إِيمَٰنِكُمْ

که تاسی خبره ومنی دځینی اهل کتابو څخه نو وبه ګرځوی دوی تاسی دایمان راوړو څخه وروسته

كَٰفِرِينَ ﴿١٠٠﴾ وَكَيْفَ تَكْفُرُونَ وَأَنتُمْ تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتُ اللَّهِ

کافران ، اوتاسی څه رنګه کافران کیږئ او په تاسی باندی ویل کیږي آیتونه دالله

وَفِيكُمْ رَسُولُهُۥ وَمَن يَعْتَصِم بِاللَّهِ فَقَدْ هُدِىَ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿١٠١﴾

او په تاسی کی دهغه رسول دی او څوک چی مضبوط ونیسی الله ﷻ نوده ته هدایت وسو دسیده لاری .

دآیتونو ترون: دمخکی څخه داهل کتابو په فاسدو عقیدو او د دوی په شبهاتو خبره روانه وه په مینځ کی دبیت الله اوحج ذکر راغی اوس بیاخبره اهلِ کتابوته ده چی تعلق یی دیوی خاصی واقعی سره دی ، چی یوه یهودی سمّاس زوی دقیس دمسلمانانو سره ډیره کینه ساتله ، ده په یوه مجلس کی دانصارو د دوو قبیلو اوس او خزرج په مینځ کی ډیر اتفاق او جمع والی ولیدی نودکینی څخه ډیر بی آرامه سواوپه دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

کی داختلاف غورځولو په فکر کی سو، آخرداخبره یی جوړه کړه چی یوه سړی ته یی وویل چی په دی دواړو
قبیلوکی چی تراسلام څخه مخکی یو لوی جنګ د ډیری زمانی څخه راروان پاته سوی دی او ددی جنګ سره تعلق
لرونکی چی ددی دواړو فریقوکوم فخریه شعرونه دی، هغه اشعار دی د دوی په مجلس کی وویل سی، نو ددغه
اشعارو دویلو سره یواوربل سوا و د دوی په مینځ دخبرو تکرار شروع سو تر دی چی موقع او وخت دجنګ دپاره
بیامقرر سو نبی کریم ﷺ خبر سو نو د دوی خواته یی تشریف راوړی او وی فرمایل چی څه جهالت دی زماپه
موجودګی کی بیا دمسلمانیدو اودیوه اوبل سره دمتفق کیدو اوخوږیدوڅخه وروسته داکومه ناپوهی ده ولی
تاسی په دی حالت کی کفرته دوباره واپس کیدل غواړی؟ ټول پوه سوه او وی ګڼله چی دا دشیطان حرکت وو او
دیوه او بل سره غاړه په غاړه سول اوډیر یی وژړل اوتوبه یی وایسته ، په دی واقعه کی دا آیتونه نازل سوه ،
داواقعه روح المعانی په روایت دابن اسحاق اویوجماعت دزیدبن اسلم څخه روایت کړیده ، دامضمون
ترڅوآیتونو پوری تللی دی چی اول په کی ملامت کړل دی هغه اهل کتابولره چاچی داکاروایی کړی وه
اوداملامت کول په ډیر بلیغ اندازکی دی ، په دی کار دملامتیا کولو څخه مخکی یی اول پرکفر باندی هم
ملامتیا وکړل ، چی مطلب یی دا سو چی په کار خو دا وه چی په خپله هم مسلمان سوی وی، نه داسی چی دنورو
په ګمراه کولو پسی سی، بیا په کی خبره اوپوهول دی مسلمانانو لره.

لنډتفسیر: (ای محمده ﷺ) تاسی (دی اهل کتابوته) وفرمایاست چی ای اهل کتابوتاسی (وروسته تر
ښکاره کیدو ددلیل دحق والی داسلام) ولی انکارکوی دالله ﷻ داحکامو څخه (اصول اوفروع په دی کی
ټول راغله یعنی داصلی اوفرعی احکامو څخه) حال دا دی چی الله ﷻ ستاسی دټولو کارونو څخه خبردار
دی (تاسی دده څخه هم نه بیریږی ، او ای محمده ﷺ دوی ته دا هم) ووایه چی ای اهل کتابوولی (دلیری ١
کولو یعنی اړولو کوشش کوی) دالله ﷻ دلاری (یعنی دهغه دحق دین) څخه داسی خلکو لره چی (ددی
دین پر حق والی) ایمان یی راوړی دی په داسی ډول سره چی کوږوالی (خبری کړی) لټوی په دی لاره کی
(لکه په ذکرسوی قصه کی چی دوی کوشش کړی وو، چی په دی کاروایی کولوسره د دوی په دین کی
دننه په وجه سره دبی اتفاقی چی ګناه هم ده اوداجتماعی قوت بربادی په کی هم ده او دا چی په دی
جنجالوکی به اخته سی دحق دین څخه به لیری سی) حال دا دی چی تاسی په خپله هم (ددی کار
دناکاروالی) خبرلری اوالله تعالی ستاسی دکارونو څخه ناخبره نه دی (په مقرروخت کی به سزادرکی ددی
کارونو) ای ایماندارو! که تاسی خبره ومنی، دیوی فریقی دهغه خلقوڅخه چی کتاب ورته ورکړل سوي
دی (یعنی داهل کتابو څخه) نوداخلګ به تاسی دایمان راوړلوڅخه وروسته (په عقیده یاعمل سره)
کافران جوړ کړی اوتاسی کفرڅنګه کولای سی (یعنی تاسی لره کله رواکیدی سی) حال دادی (چی دکفر
څخه منع کوونکی اسباب ټول جمع دی څکه چی) په تاسی کی دالله ﷻ احکام (په قرآن کی) ویل کیږی
تاسی یی اوری او (بیا) دالله ﷻ رسول ﷺ موجود دی (اودادواړه پر ایمان دقائم پاته کیدوقوی ذریعی دی
نوتاسی لره په کار دی چی ددی دواړو ذریعو دتعلیم او تلقین موافق پرایمان اود ایمان پرخبرو قائم پاته
سی) او (په یادلری چی) کوم سړی الله ﷻ په کلکه ونیسی (یعنی په ایمان پوره قائم پاته کیږی څکه چی
الله ﷻ لره کلك نیول هم دا دی چی دهغه ذات اوصفات رښتیاوګڼی اوحکمونه یی کلك ونیسی دیوچا

Maktaba Tul Ishaat.com

مخالف سره ځان جوړ نه کي) نو (داسي سړي ته) خامخا دسيده لاري هدايت کيدی سی (يعني دی پر سيده لاره وی او پرسيده لاره کيدل دهری فلاح او کاميابی اصل دی ، نو په دی کی دداسی سړی دپاره دهری صلاح او کاميابی زيری او وعده ده)

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا

ای ايماندارو ! وبيريږئ دالله څخه لکه څنګه چی په کار ده دهغه څخه

تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٠٢﴾ وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا

بيره او مه مره کيږئ مګر مسلمانان ، او مضبوطه ونيسی رسئ دالله ټول

وَلَا تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاءً

او جلا جلا کيږئ مه او ياد کړی احسان دالله ﷻ په خپل ځان کله چی واست تاسی دښمنان ،

فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنتُمْ

ديوبل ، نو الفت يی واچوی ستاسی په زړونو کی او س وی دهغه په فضل سره ورونه او تاسی واست

عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ

په غاړه د اور ديوړ کندی ، بيا يی تاسی ته دهغه څخه نجات درکی ، دارنګه بيانوی

اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٠٣﴾

الله تاسی باندی ايتونه خپل ، چی تاسی لار پيدا کوی .

دآيتونو تړون : په تيرو آيتونو کی يی مسلمانان په دی خبر کړی وه چی اهل کتاب او نور خلک چی تاسی په ګمراهی کی اخته کول غواړی د دوی دګمراهی څخه خبردار اوسيږئ ، دخپل ځان دخلاصولو کوشش کوی ، په دی دوو آيتونو کی يی دمسلمانانو داجتماعی قوت دمحکمه کولو دوه مهم اصول وښوول ، اول تقوئ دوهم ديو بل سره اتفاق اويو کيدل او دجلا جلا او ګډوډ کيدو او اختلاف څخه ځان ساتل .

لنډتفسير: ای ايماندارو ! دالله ﷻ څخه (داسی) بيره کوی (لکه چی) دبيری حق دی (دکاملی بيری مطلب دادی چی لکه څنګه دکفر او شرک څخه خلاص سو است دغسی دټولو ګناهونو څخه هم ځان ساتی او بی له شرعی وجی څخه جنګيدل ګناه ده نو ددی نه هم ځان ساتل فرض دی) او بغير داسلام (کامل) څخه (چی مطلب يی هم دغه دی کوم چی دکاملی بيری حق دی) په بل هيڅ يو حالت ساه مه ورکوی (يعنی په دی کامله بيره او کامل اسلام دمرګ تروخته پوری قائم اوسی) او محکمه نيولی لری دالله ﷻ سلسلی لره

Maktaba Tul Ishaat.com

(یعنی الله ﷻ لره چې اُصول اوفروع په کې ټول راغلي) داسې چې ده یوه اوبل سره په اتفاق هم اوسئ (چې په دې دین کې ددې هم تعلیم یعني ښوونه ده) اودیوه اوبل سره بې اتفاقي مه کوئ (ځکه چې دا په اسلام کې منع دي اوپرتاسې چې دالله ﷻ کوم انعام (سوی) دی، هغه یادکئ کله چې تاسې (دیوه اوبل سره) دښمنان واست (یعنې تراسلام څخه مخکې لکه چې داوس اوخزرج دواړو قبیلوپه مینځ کې ددیرې زمانې څخه جنګ راروان وواوپه عام طورسره اکثرد عربو دخلقوهم داحالت وو) نو الله ﷻ (اوس) ستاسې په زړونو کې (دیو بل سره) الفت واچوی ، نوتاسې دخدای تعالی په (دی) انعام (دزړونو په الفت) سره (اوس دیو بل سره وروڼه سواست او (یوانعام چې تردې ذکر سوی انعام هم اصل دی ، دایې دربانديوکې چې) تاسې خلګ بالکل ددوږخ دکندې پرغاړه ولاړواست (یعنی په وجه دکافرکیدو دوږخ ته دومره نژدې واست چې دوږخ ته په تلوکې یوازې دمرګ قدرفاصله وه) نوددې (کندې) څخه خدای تعالی ستاسې ځانونه بچ کړل (یعنې اسلام ستاسې نصیب سوچې په دې سره یې ددوږخ څخه وساتل ، نواوس تاسې ددې انعام قدروکړې اودیوبل سره په جنګ جګړو سره چې ګناه ده دالله تعالی دغه نعمتونه مه ضائع کوئ ، ځکه چې دیوبل سره په جنګ جګړو کولوبه اولنی انعام چې دزړونو الفت اومحبت دی په خپله لیرې سی اوبل انعام چې دین داسلام دی کمزوری به سي ، اولکه څنګه چې الله ﷻ دا احکام په واضح طورسره بیانوي) دغه ډول الله ﷻ تاسې ته خپل (نور) احکام (هم) بیانوي ښايي چې تاسې خلګ په (سیده) لاره قائم پاته سي .

معلومات اومسئلې

(دمسلمانانو داجتماعي قوت دوه اصول تقوی اواتفاق)

په لوړو ذکرسوو دوو آیتونوکې په اولنی آیت کې اولنی اصول اوپه دوهم آیت کې دوهم اصول ښوول سویدی ، اولنی اصول چې دی آیت وښووی هغه دادی چې دالله تعالی څخه دبیریدو یعنی دهغه دناخوښه شیانو څخه دځان ساتلوپوره کوشش کول چې دالله ﷻ دحق مطابق وی ، لفظ دتقوی په عربی ژبه کې اصلي دخلاصیدو اوپرهیز کولوپه معنی راځي نوترجمه یې بیریدل هم په دې مناسبت سره کول کیږي چې دکوموشیانو څخه دځان ساتلوحکم ورکړل سویدی هم دغه شیان دبیری وی ، یاداچې په دې سره دالله ﷻ دعذاب خطره ده، نودغه شیان دبیری شی دی ، اوددې تقوی څو درجې دی ادنی درجه یې دکفر او شرك څخه ځان ساتل دی ، ددې معنی په لحاظ سره هریومسلمان ته متقي ویل کیږي که څه هم په ګناهونو کې مبتلاوی ، ددې معنی دپاره هم په قرآن کې ځوځایه لفظ دمتقین اوتقوی راغلی دی ، دوهمه درجه چې په اصل کې مطلوب ده (یعنی کمه چې الله تعالی یې غواړی) هغه دهرهغه شي څخه ځان ساتل دی کم چې دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ په نزدخوښ نه وی ، دتقوی کوم فضیلتونه اوبرکتونه چې په قرآن اوحدیث کې راغلي دی ، هغه هم ددې درجې دخلګو دپاره دی او د دوی دپاره یې وعده سوي ده ، دریمه درجه دتقوی اعلی مقام دی چې انبیاء علیهم السلام او د دوی خاصو نائبینو اولیاؤ ته نصیب کیږي چې خپل زړه دهر غیرالله څخه خلاصول او دهغه یعنې دالله ﷻ په یادولو سره او رضا لټولو سره یې آبادساتل

Maktaba Tul Ishaat.com

دی ، په ذکر سوی آیت کی دَاتَّقُوااللّٰہَ څخه وروسته دَحَقَّ تُقٰتِهٖ کلمه زیاته سوی ده چی دتقویٰ هغه درجه حاصله کړی چی حق دی دتقویٰ .

حق دتقویٰ څه دی ؟ ددی تفسیرحضرت عبدالله ابن مسعود ﷜ ربیع قتاده اوحسن بصری دا فرمایلی دی چی مرفوعًا درسول الله ﷺ څخه هم نقل دی .

حَقَّ تُقٰتِهٖ هُوَ اَنْ یُّطَاعَ فَلَا یُعْصٰی وَیُذْکَرَ فَلَا یُنْسٰی وَیُشْکَرَ فَلَا یُکْفَرَ (بحر محیط)

حق دتقویٰ دا دی چی دالله ﷻ اطاعت په هرکارکی وسی ، یو کار دهغه داطاعت څخه خلاف نه وی او همیشه الله ﷻ یادساتی هیڅکله یی هم نه هیروی اوشکریی همیشه ادا کوی هیڅکله یی ناشکری نه کوی ، دتفسیر امامانو دا مطلب په نوروعنواناتو سره هم ادا کړي دی ، لکه ځینو فرمایلی دی چی حق دتقویٰ دا دی چی دالله ﷻ په معامله کی دیوچا دملامت کولو اوبدویلو پروانه کوی او همیشه په انصاف قائم وی ، که څه هم په انصاف کولوکی په خپله دخپل نفس یادخپل اولاد یادخپل مورااوپلار نقصان وی اوځینو فرمایلی دی چی یو سړی ترهغه وخته پوری حق دتقویٰ نه سی حاصلولی ، ترڅو پوری چی خپله ژبه محفوظه ونه ساتی ، او دقرآن کریم په یو بل آیت کی چی ، اِتَّقُوا اللّٰہَ مَا اسْتَطَعْتُمْ دی، یعنی دالله ﷻ څخه وبیریږی خومره چی ستاسی په طاقت کی ده نوحضرت ابن عباس ﷜ اوحضرت طاؤس فرمایی چی دا په حقیقت کی دحَقَّ تُقٰتِهٖ خاص تشریح او تفسیر دی او مطلب دا دی چی دنافرمانیو اوګناهونو څخه په ځان ساتلوکی خپل پوره طاقت اوقوت خرڅ کړه ، نودتقویٰ حق اداسوکه یوسړی دخپل پوره طاقت خرڅولو څخه وروسته په یوناجائزشی کی مبتلاهم سی نودادتقویٰ دحق څخه خلاف نه ده،اوبیا تردی په وریسی جمله کی چی کوم ارشادفرمایی ، فَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ، ددی څخه معلومه سوه چی تقویٰ په حقیقت کی پوره په پوره اسلام دی چی دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ دمکمل پر هیز نوم تقویٰ ده اودی ته اسلام ویل کیږی ، پاته سوه دامعامله چی په آیت کی حکم دادی چی ستاسی مرګ دی پراسلام باندی وی داسلام څخه ماسوا پربل هیڅ یوه حالت دی تاسی لره مرګ را نه سی ، نودلته داشك نه دی کول په کار چی مرګ خو دسړی په اختیار کی نه دی ، په هریوه حالت کی راتلی سی ، ځکه چی په حدیث کی دی ، کَمَا تَحْیَوْنَ تَمُوْتُوْنَ وَکَمَا تَمُوْتُوْنَ تُحْشَرُوْنَ : یعنی په کوم حالت کی چی تاسی خپل ژوند تیر وی ، په دغه به درته مرګ هم راځی او په کوم حالت کی چی درته مرګ راسی هم په دغه حالت به په محشرکی پورته کیږی ، نوکوم سړی چی خپل ټول ژوند په اسلام دتیرولو پخه اراده لری اودخپل طاقت مطابق عمل په کوی نو انشاء الله چی دده مرګ به هم خاص په اسلام راځی .

په ځینو روایتونو دحدیث کی چی دا راغلی دی چی ځینی سړی به داسی هم وی چی ټول عمر به یی په نیکوعملونو کی تیر سوی وی ، په آخر کی به یو داسی کار وکی چی ټول عملونه به یی حبط اوبربادسی دا داسی خلقوته پیښیدای سی چی په عمل کی یی اول اخلاص او پوخ والی نه وی . والله تعالی اعلم

(دمسلمانانو داجتماعي قوت دوهم اصول دیوه اوبل سره اتفاق اویو والي)

په بل آیت وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰہِ جَمِیْعًا : کی یی دا ډیر په بلیغ اوحاکمانه اندازسره بیان کړی دی چی تر

Maktaba Tul Ishaat.com

ټولو اول يې هغه اصول اوقواعد وښوول کوم چې انسانانو لره ديوه اوبل سره دټولو او متفق کولودپاره اصلي علاج دي اوددې څخه وروسته يې ديوه اوبل سره دمتفق کيدو حکم وکې اوبيايې ديوه او بل سره داختلاف اوجلاجلا کيدو څخه منع وفرمايله .

تشريح ددې دا ده چې اتفاق اويوکيدل يوداسې شي دې چې ددې په ښه والي اوددې په غوښتو ددنياټول بنيادهم برابره خبره ده که دهرملك اودهرې زمانې چې وي ، دهرمذهب او هرې طريقې سره چې تعلق لرې دټولو اتفاق دې چې دا ډيرښه شي دې او دا دې خامخاوي ، په دې کې د دوو رايې کيدو هيڅکله امکان نسته ، په دنياکې به شايد چې يو سړي هم داسې پيدا نه سي چې جنګ اوجګړو ته به فائده وايي اوښه يې ګڼي ، په دې وجه ددنيا هرجماعت اوهره پارټۍ خلقوته دمتفق کيدوبلنه ورکوي ، ليکن ددُنيا دحالاتو تجربه دا ښيي چې که څه هم داتفاق په مفيد کيدو او ضروري کيدو دټولو اتفاق دې خو بيا هم داسې کيږي چې ټول مخلوق (انسانيت) په فرقو ، ډلو اوپارټيو تقسيم دې او بياپه هره فرقه کې نورې فرقې او په هره پارټۍ کې نورې پارټياني ددې يولامحدوده سلسله داسې ده چې په حقيقت کې ددوو تنويو کيدل اواتفاق هم عنقا سويدې ، دموقت غرضونو دپاره يوڅوکسان پريوه خبره باندې اتفاق کوي اوچې دغه غرضونه پوره سې ياپه کې کامياب نه سې نوبياپوازې دانه چې اتفاق ختم سې بلکه دښمنيو ته خبره ورسيږي که فکر وکې نو سبب به يې دامعلوم سې چې هره ډله اوهره فرقه اوهرسړی خلګ پرخپل جوړکړې پرګرام باندې متفق اويوکول غواړي اوکه نورخلګ ځان لره خپل څه نظام ياپروګرام لرې نودوی دهغوی سره دمتفق کيدوپرځای هغوی خپل پروګرام ته رابولي اوديوکيدو بلنه ورکوي چې زمونږ سره يوسي دغه خپل پروګرام پريږدي ، نو په دې وجه دالازمې خبره ده چې دهرې يوې بلنې ديوکيدو نتيجه به ديو قسم خلګو او يو ټولګي په کسانو کې دجلا جلا کيدو او ګډوډ کيدو په صورت کې راوزي او داختلافاتو په غوټوکې دمبتلی انسانيت لاس ته به ددې څخه ماسوا نورهيڅ رانه سې چې .

مرض بڑھتا گیاجوں جوں دوا کی

مرض زياتيږي څومره چې علاج کوي .

په دې وجه قرآن حکيم نه يوازې ديوکيدو اتفاق ، تنظيم اواجتماع وعظ وفرمايي ،بلکه ددې دحاصلولو اوباقې پاته کولو يو داسې منصفانه اوعادلانه اصول يې هم وښوول چې ددې په منلوسره ديوې ډلې هم اختلاف نه سې راتلی ، هغه داچې دانسان ددماغو يادېوڅو کسانو جوړسوی نظام اوپروګرام پر نور مخلوق ورتپل اودهغوی څخه دا اميد لرل چې داټول به پردې متفق سې دعقل اوانصاف خلاف اودځان غولولو څخه ماسوا نورهيڅ نه دې ، خامخادَربّ العٰلمين ورکول سوی نظام اوپروګرام ضرورداسې شي دې چې پردې ټول مخلوق لره متفق کيدل په کار دې ، يوعقل مندسړی ددې څخه په اصولوسره انکارنه سې کولی ، اوس که داختلاف څه لارباقې پاته کيږي نوهغه يوازې ددې خبرې په پيژندوسره کيدای سي چې داحکم الحاکمين ربّ العٰلمين راليږل سوی نظام څه اوڅنګه دی ، يهوديان دتورات نظام ، نصارا دانجيل نظام دخدای ﷻ دطرفه راليږل سوی اوعمل پرې واجب بولي ، ترڅو چې دمشرکانومختلف

Maktaba Tul Ishaat.com

جماعتونه هم دخپل خپل مذهبي رسمونو نسبت خداى ﷻ ته كوي ، ليكن اول كه انسان دخپل ډلئيز تعصّب او دپلار نيكه دغلطو رسمونو څخه ځان راوباسي اودخپل خداى ﷻ وركړى عقل څخه كاروا خلي نو دا حقيقت به ورته بالكل ښكاره اوپه ډاګه سي چي دنبيانو خاتم ﷺ چي دالله ﷻ آخري پيغام يي دقرآن كريم په صورت كي راوړي دي ، نن دهغه څخه ماسوا بل يونظام هم دالله ﷻ په نزدمقبول نه دي اوكه داهم پاته سي اوتر نظر وغورځول سي ، نو دا وخت قرآن مسلمانانوته خبره كوي او د دوى په دي باندي ايمان هم دي چي نن قرآن كريم دژوند يو داسي نظام دي چي بيشكه دالله ﷻ دطرفه راليږل سوي دي اوپه خپله الله ﷻ ددي دحفاظت ذمه اخستي ده ، نو په دي وجه ترقيامته پوري په دي كي دڅه قسم ادلون بدلون او تغيرامكان نسته ، په دي وجه زه دغيرمسلمو ډلو بحث پريږدم اوپه قرآن ايمان لرونكو مسلمانانوته وايم چي د دوى دپاره خو يوازي اويوازي دي دعمل كولو لايق دي كه دمسلمانانو مختلفي پارټي دقرآن كريم په نظام باندي متفقي سي نو په زرګونو ډلۀ بيز، نسلي اووطني اختلافاتونه به په يوه ساعت كي ختم سي كوم چي دانسان دترقي په لاره كي خنډ جوړيږي، اوس كه چيري دمسلمانانو په خپل مينځ كي بياهم يو اختلاف پاته سي نوهغه به يوازي دقرآن دپوهي اودتعبيرپه باره كي وي اوكه دغه اختلافات په حدودو كي دننه پاته سي نودغه نه بيابددي اونه دانسان داجتماعي ژوند دپاره ضرر رسونكي دي ، بلكي داسي اختلاف دهوښيارانو په مينځ كي يوفطرتي شي دي نوددي كنترولول اوپه حدودوكي يي دننه ساتل څه ګران كارنه دي ، په خلاف ددي چي دقرآن دنظام څخه بالكل آزادي زمونږ داموجوده پارټي جنګيږي نو په داسي حال كي دخلاف اوجګړي هيڅ علاج نسته اوداا ختلاف اوګډوډ كيدل قرآن كريم په سختي سره منع كړيدي اونن دقرآني اصولو دپاته كولوپه وجه سره زمونږپوره ملت په انتشار اوګډوډ كيدوكي بوخت دي بربادېږي، قرآن كريم په دي ذكرسوي آيت كي ددي ګډوډ كيدو اوانتشار دختمولو دپاره صحيح علاج داسي ښوولي دي چي ، وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا : دالله ﷻ رسۍ ټوله په جمع سره مضبوطه ونيسي دالله ﷻ درسي څخه مرادقرآن مجيد دي ،حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ راوي دي چي نبي كريم ﷺ فرمايلي دي ، كِتَابُ اللّٰهِ هُوَحَبْلُ اللّٰهِ الْمَمْدُوْدُ مِنَ السَّمَآءِ اِلَى الْاَرْضِ : يعني دالله ﷻ كتاب دالله ﷻ رسۍ ده چي دآسمان څخه مځكي ته راځوړول سوي ده (ابن كثير) دزيدبن ارقم په روايت كي دحَبْلُ اللّٰهِ هُوَ الْقُرآنُ يعني دالله ﷻ رسۍ قرآن دي الفاظ راغلي دي (ابن كثير) په عربي محاوره كي د حَبْل څخه مراد (عهد) هم دي او مطلق هرهغه شي چي دذريعي ياوسيلي كار وركوي هم دي ، دقرآن يادين څخه يي په رسۍ سره څکه تعبيروكي چي داهغه واسطه ده چي يوه طرف ته دايماندارو تعلق دالله ﷻ سره قائموي او بل طرف ته ټول ايمان راوړونكي ديوه اوبل سره يوځاى كوي يوجماعت ورڅخه جوړ وي حاصل دا دي چي دقرآن په دي يوه جمله كي يي حكيمانه اصول ښوولي دي يودا چي هربنده لره لازم دي چي دالله ﷻ راليږل سوي دژوند نظام يعني په قرآن باندي په كلكه سره عمل كوونكي وي ، دوهم داچي ټول مسلمانان يوسي په دي عمل وكي چي لازمي نتيجه يي داده چي ټول مسلمانان يوموټي اومنظم سي لكه چي يوي ډلي په جمع سره يوه رسۍ نيولي وي نودغه ټوله ډله يوبدن جوړسي قرآن كريم په يوبل آيت

Maktaba Tul Ishaat.com

کي داخبره نوره زياته واضحه داسي فرمايلي ده.

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمٰنُ وُدًّا :

كوم خلگ چي ايمان راوړي اونيك عملونه كوي الله ﷻ د دوی په مينځ كی دوستی اومحبت پيدا كوی.
بيا په دی كی يوباريك مثال هم دی چي مسلمان هركله دالله ﷻ په كتاب منگلی لگولی وی، نودَده مثال دهغه حالت په شان سره دی چي لوړځای ته دختو په وخت كی يوه مضبوطه رسۍ ونيسی اودهلاكت څخه په امن سی نواشاره يی وفرمايله چي كه ټول يو سی اوپه پوره قوت سره يی ونيسی نويوشيطان به هم ددوی په مينځ كی په شرپورته كولو كی كامياب نه سی اوديوازی (انفرادی) ژوندپه شان سره به دمسلمان قوم اجتماعی (يو ځای) قوت به هم يوداسی مضبوط طاقت جوړسی چي هيڅوك به يی نه دځای څخه ښوررولای سی اونه به يی فتح كولای سی په قرآن كريم باندی منگلی لگول هم هغه شی دی چي خپاره اوپاشل سوی قوتونه په جمع كيدی سی، اويومړقوم تازه ژوند په حاصلولی سی اوچی ددی څخه اوړی نوقومی اويوځای ژوند خوبي تباه اوبربادېږی اوپه يوازی (انفرادی) ژوندكی يی هم هيڅ خيراونفع نسته.

(دټول مسلمانانو قوم اتفاق صرف داسلام په بنياد كيدی سي په نسبي اووطني يووالي سره دا كار نه سي كيدی)

دلته ترټولو اول په دی ځان پوهول لازمی دی چي ديووالی اواتفاق دپاره ضروری ده چي ددی يووالی يوخاص مركز وی بيا دمركزو ديووالی په باره كی ددُنيا دقومونو مختلفی لاری دی څوك نسلی اونسبی واسطی دمركزو يووالی گڼی، لكه دعربو دقبيلو يووالی چي ؤ، چي قريش يوقوم اوبنوتميم بل قوم گڼل كيدل، اوڅوك به درنگ جلاوالی دمركزو يووالی جوړوی چي تورخلگ يوقوم اوسره سپين بل قوم گڼل كيدای اوڅوك دوطن اوژبی يووالی ذمركزو يووالی جوړوی چي هندی يوقوم اوعربی بل قوم بلل كيږی يوځای دپلارنيكه رسم اورواج دمركزو يووالی جوړسوی وو، چي څوك ددغه رسمونو پايبندوو، هغه يوقوم اوڅوك چي يی پايبندنه ووهغه بل قوم وو، لكه دهندوستان هندوان اوآريه سماج او نور، قرآن كريم داټول پاته كړل دمركزو يووالی يی دالله ﷻ رسی قرآن كريم يعنی دالله ﷻ راليږل سوی محكم نظام مقرركی او دوه ټوكه فيصله يی وكړه چي مومن يوقوم دی چي دالله ﷻ درسی سره تړل سوي دی اوكافر بل قوم دی چي ددی رسی سره نه دی تړل سوی. خَلَقَكُمْ فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَّمِنْكُمْ مُّؤْمِنٌ: ددی هم دغه مطلب دی، جغرافيايی يووالی هيڅكله ددی قابل نه دی چي دمركز يووالی جوړكړل سی، ځكه چي دغه يو والی په عام طورسره غير اختياری وی چي يوسړی يی په خپل كوشش اوعمل سره نه سی حاصلولی، كوم چي تورزدی هغه سوركيدی نه سی اوڅوك چي قريشی دی هغه تميمی نه سی جوړيدی، څوك چي هندی دی، هغه عربی نه سی جوړيدی، ځكه په دی وجه چي داسی يوكيدل به په ډيره محدوده دائره كيدای سی، ددوی دادائره به هيڅكله هم ټول انسانيت په ځان كی راگير نه كړل سی ټوله دنياپر يوه مركز نه سی جمع كولی، په دی وجه قرآن كريم دمركز يووالی دالله ﷻ رسی قرآن كريم اودخدای ﷻ راليږل سوی دژوند نظام جوړ كی، چي ددی اختيارول اختياری كار دی، كه څوك دمشرق اوسيدونكی

Maktaba Tul Ishaat.com

وي اوکه دمغرب ، توروي اوکه سپین عربي ژبه وايي اوکه هندي اوانګریزي ، دهري قبیلي، دهرخاندان چي وي هرسړي ديو کیدو داصحیح مرکز اختیارولای سي اودټولي دُنیاټول انسانان پردي يوه مرکزجمع کیدای سي اوورونه ورونه جوړیدای سي اوکه دي دپلاراونیکه تررسم اورواج لرېپورته سي غور او فکر وکي نو ده ته به ددي څخه ماسوا بله صحیح لاره ښکاره نه سي ، چي دخدای ﷻ رالیږل سوی نظام وپیژني اوتابعداري يې وکي دالله ﷻ رسۍ په مضبوطي سره ونیسي، چي ددي نتیجه به يوه طرف ته داوي چي ټول انسانیت (مخلوق) به په مضبوط اومحکم يووالي سره وتړل سي ، او دوهم دا چي ددي يووالي (وحدت) هرسړي به دالله ﷻ درالیږل سوی نظام مطابق دخپلو عملونو اواخلاقو اصلاح وکي خپل ددُنیا اوآخرت ژوندبه برابرکي ، داهغه حکیمانه اصول دي چي يومسلمان يې راواخلي نودټولي دُنیاقومونه ورته رابللې سي چي داصحیح لاره، دي طرف ته راسي اومسلمان چي څومره په دي فخرهم کوي، پرځاي دي ، لیکن افسوس دي چي ديورپ والو هغه ژورسازش چي دمسلمانانو ديووالي دټوټې ټوټې کولو دپاره دصديو راهیسي چلیږي هغه په خپله داسلام په دعویداروکي کامیاب سو ، اوس داسلامي ملت يووالي په عربي مصري، هندي، سندهي کي تقسیم سوی ټوټې ټوټې سو ، دقرآن کریم دا آیت هروخت اوهرځاي دي ټولوته په لوړ آواز دابلنه ورکوي چي دادجاهلانوخان خاني نه په حقیقت کي خان خاني ده اونه ددي په بنیادسره قائم سوی وحدت (يووالي) عقل منونکي يووالي دي ، په دي وجه په کار دي چي دالله ﷻ په رسۍ باندي يوکیدل اختیارسي ، کومي چي دوی اول هم پرټوله دنیاغالب اولوړ کړي وه اوبیاهم که د دوی په قسمت کي څه خیر وي نو هغه په دي لاره کي رسیداي سي .

غرض دا دي چي په دي آيت کي مسلمانانوته دوه هدایتونه ورکول سوي دي اول داچي په خپل ژوند کي دالله ﷻ درالیږل سوی نظام پابندي وکي، دوهم دا چي ټول يوموټی سي اوپه کلکه سره دادخداي ﷻ رسۍ ونیسي چي داسلامي ملت داخپور والي خپله راغونډ اومنظم سي لکه چي په تیرو اولنو قرنونو (زمانو) کي دالیدل سویده ، په مسلمانانوکي داتفاق دواجب والي څخه وروسته فرمايي ، وَلَا تَفَرَّقُوا او ديوه اوبل سره بي اتفاقي مه کوي دقرآن کریم داحکیمانه انداز دي چي دي په کوم ځاي کي ديوشي دهغه اړخ وضاحت کوي چي په هغه عمل کول واجب وي نوبل طرف ته دهغه اړخ څخه هم خلګ منع کوي په کوم چي دوی دغه شي پاته کوي ، نو په بل آيت کي ارشاد فرمايي ، وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِيْ مُسْتَقِيْمًا فَاتَّبِعُوْهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيْلِهٖ : په دي آيت کي هم پرسیده لاره دپاته کیدوتلقین دي اود خپلو خواهشاتو پرېنا باندي په خپلو جوړ وکړو لاروباندي دتلو څخه منع ده بي اتفاقي ديوقوم دهلاکت دسببونو څخه ترټولو اول اوآخري سبب دي ، په دي وجه قرآن کریم په جلا جلا عنوانونو واروار ددي څخه منع فرمايي په يوبل آيت کي فرمايي .

اِنَّ الَّذِيْنَ فَرَّقُوْا دِيْنَهُمْ وَكَانُوْا شِيَعًا لَّسْتَ مِنْهُمْ فِيْ شَيْءٍ .

کومو خلقو چي په خپل دین کي خان خاني جوړه کړه او په مختلفو پارټیو کي تقسیم سوه ستا د دوی سره هیڅ تعلق او واسطه نسته .

Maktaba Tul Ishaat.com

په دی سربیره دپیغمبرانو علیهم السلام دامتونو واقعات یی نقل کړیدی چی څه رنګه هغه امتونه دیوبل سره داختلاف اوځان ځانی په وجه دړوند دمقصد څخه واوښتل ددنیا اود آخرت په شرمندګیو کی اخته سوه نبی کریم ﷺ ارشاد فرمایلی دی چی الله ﷻ ستاسی دپاره دری شیان خوښ کړي دی او دری شیان یی ناخوښه کړي دی ، خوښ کړی شیان یی دا دی اول دا چی تاسی عبادت خاص دالله ﷻ دپاره کوی اودهغه سره هیڅوك مه شریکوی ، دوهم داچی دالله ﷻ کتاب په کلکه سره ونیسئ اودبی اتفاقی څخه ځان خلاص کی ، دریم داچی دخپلو حاکمانو اودمشرانو (اولوالامر) په حق کی دخیر خواهی جذبه ساتی .
او هغه دری شیان چی الله پاك په ناراضه کیږی دا دی ، چی (۱) بی ضرورته بحث مباحثه ، قیل وقال (۲) بی ضرورته دچا څخه سوال کول (۳) دمال ضائع کول (ابن کثیرعن ابی هریرة)
اوس سوال داپاته سوچی آیاهراختلاف ناکاره اومذموم دی یایو اختلاف په کی جائزهم سته نو جواب دا دی چی هراختلاف بدنه دی بلکی بدهغه اختلاف دی په کوم کی چی دخپلو خواهشاتوپه بنادقرآن څخه لری اوسی اوفکر کوی لیکن که پرقرآن باندی جمع سی اونبی کریم ﷺ چی کومه تشریح اوکوم تفصیل بیان کړی وی ، هغه قبلوی دخپل پیداینبت استعداد (طاقت) اوروغ دماغی پربناء باندی څه فروغی اختلاف کوی ، نو دا اختلاف فطری دی اواسلام ددی څخه منع نه کوی داصحابو رضی الله عنهم تابعینو امامانو او فقهاوو رحمهم الله اختلاف هم ددی قسم اختلاف وو اودی اختلاف ته رحمت ویل سوي دی ، البته که دغه فروعی بحثونه اصل دین وګڼل سی اوپه دی کی جنګ جګړو اوسپکو سپورو ته خبره ورسیږی (لیکن نن صباچی زمونږعالمان صاحبان په فروعی اختلافاتو کی پرْیوه اوبل دکفر فتوی لګوی اوټول ملّت اسلامی یی دیوه اوبل مخالف کړیدی دیوه اوبل وینو چښلو ته تیاردی) نوبیاداهم مذموم (بد) دی دیوه اوبل سره دیوکیدو ددواړو اړخونو واضحه کولو څخه وروسته هغه طرف ته اشاره وسوه په کوم کی چی داسلام څخه وړاندی اهلِ عرب اخته وه دقومونودیوه اوبل سره دښمنی، په خبره خبره ددوی جنګونه دشپی اوورځی قتلونه اولوټ مارپه سبب نژدی وه چی ټول قوم دعربو نیست اونابودسی په دی اورکی دسوزیدو اومړه کیدو څخه چی کوم شی دوی خلاص کړی وه نوهغه دا داسلام نعمت وُچی فرمایی

وَاذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ كُنْتُمْ اَعْدَآءً فَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِكُمْ فَاَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهٖۤ اِخْوَانًا ، وَكُنْتُمْ عَلٰى شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَاَنْقَذَكُمْ مِّنْهَا .

دالله ﷻ دا انعام په ځان باندی یادکی چی کله تاسی دیوه اوبل دښمنان واست هغه ستاسی په زړونو کی الفت واچوی ، نو تاسی په دی انعام سره دیوه اوبل وروڼه وروڼه سواست او تاسی د دوږخ دکندی په غاړه واست نو هغه تاسی ددی څخه خلاص کړاست .

یعنی دصدیو دښمنی اوکینی یی درڅخه لیری کړی الله ﷻ داسلام اودنبی کریم ﷺ په برکت سره وروڼه وروڼه کړاست ، چی په دی سره ستاسی دین اودنیا برابرسوه اوداسی دوستی موجوړه سوه چی دُښمن درڅخه په بیره کی سواودا دورور والی یوکیدل دخدای ﷻ دومره لوی نعمت دی چی که ددی دپاره دټولی دنیاخزانی خرڅ کړی نوهم دانه سی حاصلیدی ، یعنی په مال اودولت لاس نه راځی ، دشانِ نزول په واقعه کی چی کوم شریرو خلکو اوس اوخزرج قبیلوته تیرجنګ رایادکړی وو ، په دوی کی یی فساد

راپورته کول غوښتل ، په ذکرسوی آیت کی دَدی مکمل علاج وسو، اودَنتیجو اوداسلام په ذریعه یی ددوی څخه دخلاصی بیان وفرمایی.

(دمسلمانانو دیوه اوبل سره یوکیدل پراسلام باندی موقوف دی)

دَقرآن حکیم ددی ارشادڅخه یوبل حقیقت په ډاګه سو ، هغه دا چی دزړونو مالك په حقیقت کی الله ﷻ دی په زړونوکی محبت یانفرت پیداکول دهغه کاردی ، دیوی ډلی په زړونوکی دیوه اوبل سره محبت اودوستی پیداکول خالص دالله ﷻ انعام دی اوداهم ښکاره ده چی دالله ﷻ انعام یوازی دهغه په حکم منلو اوفرمانبرداری سره حاصلیدای سی ، په ګناه اونافرمانی، سره داانعام نه سی ملاویدی ، ددی نتیجه داهم سوه چی که مسلمانان محکم تنظیم اویو کیدل غواړی نودهغه ذریعه فقط داده چی دالله ﷻ حکم ومنی اوفرمانبرداری اختیارکی دی طرف ته داشاری کولو دپاره دآیت په آخرکی یی وفرمایل چی ، كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ : یعنی دغه رنګه الله ﷻ تاسی خلقو ته حقیقتونه ښکاره بیانوی چی تاسی خلق صحیح لاری ته راسی.

وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ اُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ وَيَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ

اوپه کاردی چی وی دی په تاسی کی یوجماعت داسی چی بلنه کوی نیک کارطرف ته اوحکم کوی دښوکارونو او

الْمُنْكَرِ ۭ وَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝۱۰۴ وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ

منع کوی دبدوڅخه ، او دغه ورسیدل خپل مراد ته ، او مه کیږئ دهغو په شان

تَفَرَّقُوْا وَاخْتَلَفُوْا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَاۗءَھُمُ الْبَيِّنٰتُ ۭ وَاُولٰۗىِٕكَ لَھُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝۱۰۵

چی ګډوډ سو اواختلاف یی وکی نودهغه چی ورسیدی دوی ته حکم صاف ، او دوی لره لوی عذاب دی

دآیتونو تړون: په تیرو دوو آیتونوکی دمسلمانانو داجتماعی کامیابی دوه اصول ښوول سوی وه چی په هغه کی هریوه تن ته په یوخاص اندازکی دخپلی اصلاح کولوهدایت ووچی هرسړی تقوٰی اختیارکړی او دالله ﷻ دلړی (اسلام) سره متصل سی ، دغه شان به دانفرادی اصلاح سره سره خود به خوده یواجتماعی قوت مسلمانانو ته حاصل سی ، په دی ذکر سودوو آیتونوکی ددی نظام اصلاح اوکامیابی په دی شان سره مکمله سوه چی مسلمان به یوازی پرخپله اصلاح صبرنه کوی ، بلکی دخپلو نورو وړونو داصلاح خیال به هم ددی سره سره ساتی ، په دی صورت سره به دټول قوم اصلاح هم وسی اودیوبل سره تړون او یووالی به یی باقی اوقائم پاته سی.

لنډتفسیر: اوپه تاسوکی یوداسی جماعت کیدل ضروری دی چی (نورخلګ هم) خپل طرف ته رابولی اودنیکو کارونو ویناکوی اودبدو کارونوڅخه منع کوی اوداسی خلګ به (په آخرت کی په ثواب سره) پوره کامیاب وی اوتاسی خلګ دهغه خلګوپه شان مه کیږی چاچی (په دین کی) ځان ځانی جوړه کړه

Maktaba Tul Ishaat.com

او(په خپلو خواهشونويي) ديوه اوبل سره اختلاف وکی دوی ته دښکاره حکمونو د رسيدو څخه وروسته اوددی خلکو دپاره به لويه سزاوی (يعنی دقيامت په ورځ)

معلومات اومسئلي: دمسلمانانو قومي اواجتماعي کاميابي پردوو شيانوموقوفه ده ، اول دتقوٰی اودالله ﷻ پررسی دمنګلو دلګولوپه ذريعه خپله اصلاح ، دوهم ددعوت او تبليغ په ذريعه دنورو اصلاح ، په آيت : وَلۡتَكُن مِّنكُمۡ کی دَدی دوهم هدايت بيان دی ، ګويا ددی دوو آيتونو خلاصه دا سوه چی په خپله هم خپل عملونه اواخلاق دالله ﷻ دراليږل سوی قانون مطابق برابرکړه اودخپلو نورو وروڼو دعملونو دبرابرولو هم فکرساته ، هم دا مضمون دی چی په سورة والعصرکی يی ارشاد فرمايلی دی .

إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡحَقِّ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلصَّبۡرِ ،

دآخرت دتاوان څخه يوازی هغه خلک په امان دی چی په خپله هم دايمان اونيك عمل هدايت کوی .

دقومی اواجتماعی ژوند دپاره لکه څنګه چی داضروری وه چی ددوی دی يومضبوط او محکم تړون ديووالی وی (يعنی يومحکم مرکزدی وی چی دټولی دنيامسلمانان راټول وی ورته) کوم چی په اولنی آيت کی دالله ﷻ په رسی باندی دمنګلو لګولو دالفاظو څخه يی واضحه کړه دغه رنګه ددی تړون دقائم اوباقی پاته کولو دپاره دابل کارهم ضروری دی، چی په دی آيت کی يی ارشاد فرمايلی دی ، يعنی نورو وروڼو ته دقرآن اواحاديثو مطابق دښو کارونوهدايت اودبدو کارونوڅخه يی منع کول دی هرسړی خپل فرض وګڼی ، ددی دپاره چی دالله ﷻ دارسی دده دلاسوڅخه خلاصه نه سی ، څکه چی په قول داستاد مرحوم شيخ الاسلام مولانا شبيراحمد عثمانی دالله ﷻ دارسی شکيږی نه خامخا دلاسونو څخه ليکن خلاصيدی سی په دی وجه قرآن کريم ددی رسی دلاسونو څخه دخلاصيدو دخطری په وجه يی داهدايت وفرمايی چی هرمسلمان لکه څنګه چی په خپله نيك عمل کول اود ګناه څخه ځان ساتل خپل فرض ګڼی داخبره دی هم ضروری وګڼی چی نورو خلقوته هم دنيك عمل هدايت اودبدوکارونو څخه دمنع کولوکوشش دی کوی ، چی نتيجه به يی داوی چی داټول به يوسی اوپه مضبوطی سره به دامضبوطه رسی ونيسی اوددی په نتيجه کی به ددنيا اوآخرت کاميابی ددوی سره وی ، دخپلی اصلاح سره دنورو داصلاح ذمه واری پر هر مسلمان دغورزولو دپاره په قرآن کريم کی ډيرواضح ارشادات راغلی دی دسورة والعصر مضمون تاسی وليدی اوپه دی سورة آل عمران کی ارشاددی .

كُنتُمۡ خَيۡرَ أُمَّةٍ أُخۡرِجَتۡ لِلنَّاسِ تَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَتَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ .

تاسی ښه امت ياست چی دخلکو دپاره راايستل سوی ياست څکه چی تاسی خلګوته دنيکو کارونو حکم کوی او دبدو کارونو څخه يی منع کوی .

په دی کی هم پرټول امت باندی دنيك کار دحکم کولو اودبدڅخه دمنع کولوفرض غورځول سوي دی اوپرنورو امتونو باندی يی ددوی دغوره والی سبب هم داخاص کاربښودلی دی ، دغه رنګه دنبی کريم ﷺ ارشادات په دی باره کی بی شماره دی ، دترمذی اوابن ماجه او نورو په روايت کی دی چی نبی کريم ﷺ فرمايلی دی .

وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ لَتَاْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ اَوْ لَیُوْشِكَنَّ اللهُ اَنْ یَّبْعَثَ عَلَیْكُمْ عِقَابًا مِّنْ عِنْدِهٖ ثُمَّ لَتَدْعُنَّهٗ فَلَا یَسْتَجِیْبُ لَكُمْ

قسم دی په هغه ذات چې په قبضه کې یې زما روح دی چې تاسی به خامخا په نیکو حکم او د بدو څخه منع کول کوئ او که داسې نه وي نو نژدې ده چې الله ﷻ د ګناهکارانو سره پر تاسې ټولو هم خپل عذاب راولیږي دغه وخت به تاسې د الله ﷻ څخه دُعاغواړئ خو هغه به نه قبلیږي.

په یو حدیث کې د نبي کریم ﷺ ارشاد دی.

مَنْ رَاٰی مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْیُغَیِّرْهُ بِیَدِهٖ فَاِنْ لَّمْ یَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهٖ وَاِنْ لَّمْ یَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهٖ وَذَالِكَ اَضْعَفُ الْاِیْمَانِ.

تاسې چې په خپلو کې یو تن په ګناه کولو ووینئ نو په کار دي چې په لاسونو سره یې منع کې او که د دې طاقت یې نه وي نو په ژبه دې منع کړي او که د دې طاقت یې نه وي نو په زړه کې دې بد ګڼي او دا کمزوري ایمان دی.

د دې ټولو آیتونو او روایتونو څخه دا خبره ثابته سوه چې د نیکیو حُکم کول او د بدو څخه منع کول د اُمت پر هر یوه تن باندي لازمه ده، خامخا د ټولو شرعي احکامو په شان په دې کې هم د هر سړي د قدرت او طاقت په مطابق ور باندي دا حکم لازمیږي، د چا چې څومره طاقت وي دومره به پر هغه باندي امربالمعروف او نهي عن المنکر لازم وي، او س چې کم حدیث تاسې ولیدی په دې کې هم د طاقت مطابق حکم دی، بیا طاقتْ او قدرت په هر کار کې جلا جلا وي، په نیکیو باندي د حکم کولو قدرت اول خو په دې باندي موقوف دی، چې دغه ښه او بد دې سړي ته پوره صحیح صحیح معلوم وي، چا ته چې په خپله د ښه او بد تمیز نه وي یا د دې مسئلې پوره علم نه وي ورته دی که نورو ته په امربالمعروف او نهي عن المنکر شروع سي نو ښکاره خبره ده چې د اصلاح پر ځای به فساد جوړ کې او ډیره ممکنه ده چې دي د خپلې ناخبرۍ په وجه یو نیك (معروف) کار منع کول شروع کې یا د بد کار (منکر) حکم کول شروع کې، په دې وجه چې کوم سړي په خپله په معروف او منکر باندي خبر نه وي پر هغه دا فرض خو لازم کیږي چې پوهه حاصله کې او په شرعي احکامو کې د معروف او منکر علم حاصل کې او بیا د دې مطابق د امر بالمعروف او نهي عن المنکر خدمت پوره کوي، لیکن ترڅو پوري چې ده ته دا پوهه نه وي، ده د دې خدمت د پاره پورته کیدل جائز نه دي، لکه په دې زمانه کې چې ډیر جاهلان د وعظ کولو د پاره و دریږي نه ورته د قرآن علم وي او نه د حدیث، او یا لکه اکثره عوام چې د چا څخه څه خبره غلطه واوري او بیا په هغه د خلقو سره جګړې کوي چې داسې کوه، داسې مه کوه، دا کار پر ځای د دې چې معاشره برابره کې، معاشره ښه خرابوي او جنګ جګړې جوړوي، دغه رنګه د امر بالمعروف په قدرت کې دا هم داخله ده چې خپل ځان ته په کې د څه قوي او نا قابل برداشت ضرر رسیدو بیره نه وي، ځکه یې په حدیث کې ارشاد فرمایلی دی چې که ګناه په لاسو او په طاقت سره نه سي منع کولی، نو په ژبه دې منع کوي او که په ژبه سره د منع کولو قدرت یې نه وي نو په زړه کې دې بد ګڼي، ښکاره خبره ده چې په ژبه سره د منع کولو د قدرت نشتوالی دا نه دی چې ګویا د ده ژبه نه چلیږي، بلکه مراد دا دی چې ده ته قوي بیره وي چې که ده د حقې خبري ویناو کړه نو مړ به یې کړي یا به ورته بل څه سخت نقصان ور سوي، په داسې حالت کې به دا سړی پر ژبه قادر نه ګڼل کیږي او د نهي عن المنکر او امر بالمعروف په پاته کولو به دی ګناه ګار نه بلل کیږي، دا بله خبره ده چې د الله ﷻ په

Maktaba Tul Ishaat.com

لاره کی دخپل ځان او مال پروانه کوی او نقصان برداشت کوی دامر بالمعروف اونهی عن المنکرخدمت پوره کوی لکه چی ډیرو اصحابو ﷺ تابعینو او امامانو داسلام واقعات مشهوردی، دادووی اولو العزمی اولوی فضیلت دی، چی په دی سره ددوی مقام په دنیا او په اخرت کی لوړ سو ، مګر ددوی پرذمه دا فرض یا واجب نه وو .

دسورة والعصر دآیت اود کُنْتُمْ خَیْرَ اُمَّةٍ اونورو آیتونو څخه دارنګه دذکرسوو احادیثو او نورو څخه دامت په هرفرد باندی دده دطاقت اوقدرت مطابق امر بالمعروف اونهی عن المنکر واجبیږی ، لیکن ددی په وجوب کی داتفصیل دی چی په واجبو کارونوکی دنیکو حکم اودبدو څخه منع کول واجب دی اوپه مستحبو کارونوکی مستحب دی ، مثلاً پنځه وخته لمونځ فرض دی، نوپرهر سړی باندی واجب دی چی بی نمازه ته نصیحت کوی اونفل مستحب دی ددی نصیحت کول به مستحب وی پردی سربیره یوه ضروری طریقه داهم په نظرکی ساتل په کار دی چی په مستحبوکی په مطلقی نرمی سره اظهارکوی، اوپه واجباتو کی اول نرمی اوپه نه منلو باندی دسختی هم اجازه سته ، نن صباخلګ په مستحبوکی یاپه مباحوکی ښه زورنه اوسختی کوی ، لیکن دواجبو اوفرضوپه پریښوولو هیڅوك ملامتی قدر هم نه وایي ، دارنګه دامر بالمعروف اونهی عن المنکر فرض په هغه وخت پرهرسړی لازم کیږی چی کله دی خپل په مخکی یوبدکارپه کیدو ووینی ، مثلاً یوسړی ووینی چی څوك مسلمان شراب څښی یاغلاکوی یادپردی ښځی سره مجرمانه اختلاط کوی ، نوپرده به واجب سی چی دخپل طاقت اوقدرت مطابق هغه منع کړی ، اوکه دده په وړاندی داهرڅه نه کیږی ، نو دا دده په ذمه فرض نه دی ، بلکه اوس دا فرض داسلامی حکومت دی چی هغه دمجرم دجرم تلاښ اوتحقیق وکی اوسزادی ورکی ،دنبی ﷺ په ارشادکی مَنْ رَاٰی مِنْکُمْ کی دی طرف ته اشاره ده څکه چی په دی کی ارشاددی چی کوم سړی په تاسوکی یوبدکار په کیدو کی ووینی ، دامر بالمعروف دوهمه درجه داده چی دمسلمانانوبه یوجماعت خاص ددعوت اوارشاد دپاره قائم وی، ددوی کاربه هم داوی چی په خپل قول اوفعل سره یعنی په خپل عمل سره خلګ دقرآن اوسنت طرف ته رابولی ، اوکله چی خلګ په ښو کارونوکی سست یاپه بدوکارونوکی مبتلا ووینی نودغه وخت به دنیکی طرف ته ددوی دراارلو اود بدی څخه دمنع کولو په کارکی دخپل وس موافق کمی نه کوی اوچونکه داهمه ذمه واری یعنی امربالمعروف اونهی عن المنکرپه پوره شان سره هغه وخت اداکیدی سی کله چی ده ته دمسئلو پوره علم هم وی ، اودامر بالمعروف اثرکوونکی طریقی اوادبونه هم دسنتو مطابق ده ته معلوم وی ، په دی وجه په مکمل طورسره دامربالمعروف اونهی عن المنکر فرضو داداکولو دپاره په مسلمانانوکی یوداسی خاص جماعت په دی وظیفه باندی مامورہ (مقرر) سوکوم چی په هرډول سره دخیرطرف ته درابللو دامربالمعروف اونهی عن المنکر اهل وی ، لکه چی په دی آیت کی دداسی جماعت اهمیت اوضرورت ښیی فرمایی .

وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ اُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ وَيَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ .

یعنی په تاسی کی یوجماعت داسی جوړیدل ضروری دی چی دخیرطرف ته بلنه کوی اودنیکیو کولو

Maktaba Tul Ishaat.com

وینا کوی او دبدو کارونو څخه منع کوی په وَلْتَكُنْ مِّنكُمْ اُمَّةٌ کی اشاره ده چی ددی جماعت وجود ضروری دی که یو حکومت دا فرض نه اداکوی نو پرټولو مسلمانانو به فرض وی چی هغوی داسی جماعت جوړکړی څکه چی ددوی ملّی ژوند به هغه وخت محفوظ پاته کیږی ترڅو چی دا جماعت باقی وی، بیا ددی جماعت ځینی اهم صفتونه او دنورو څخه یی دفرق راوستو دپاره فرمایی، يَدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ یعنی ددی جماعت اولنی کار به خیرطرف ته بلنه وی ګویا دخیر طرف ته بلنه به ددوی اعلی مقصد وی ، دخیرڅخه مراد څه دی؟ نبی کریم ﷺ ددی په تفسیرکی فرمایلی دی چی ، اَلْخَيْرُ هُوَ اتِّبَاعُ الْقُرْآنِ وَسُنَّتِي یعنی دخیرڅخه مراد دقرآن او زما دسنتو تابعداری ده (ابن کثیر) دخیر ددی څخه زیات جامع اوپوره تفسیر او تعریف نه سی کیدی ټول دین دشریعت په دی کی راغی ، بیا يَدْعُوْنَ یی دمضارع په صیغه سره راوړه، دایی وښوده چی ددی جماعت کاربه خاص خیرطرف ته بلنه وی ، یعنی دخیرطرف ته دبلنی کاربه ددوی مسلسل اوهمیشنی کوشش وی ، دامر بالمعروف اونهی عن المنکرڅخه خوداهم معلومیده چی ددی ضرورت به پرخاصو مواقعو باندی وی ، کله چی دغه ناکاره کارونه دکیدو په حالت کی لیدل کیږی لیکن ، يَدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ یی وویل دایی وښودل چی ددی جماعت کاربه دیوفرض دادا کولو وخت نه وی مثلاً دلمرختوڅخه وروسته تر زواله پوری دلمانځه وخت نسته لیکن دغه جماعت به په دغه وخت کی هم دلمونځ کولو تلقین کوی، چی کله دلمونځ وخت راسی نولمونځ اداکول ضروری دی ، یادروژی وخت نه دی راغلی اوس لا د روژی میاشت لیری ده ، لیکن دغه جماعت به دخپلو فرضوڅخه غافل نه اوسی ، بلکه دمخکی څخه به خلقوته ښوونه کوی چی کله دروژی میاشت راسی نو روژه نیول فرض وی ، غرض دا دی چی هر وخت به ددی جماعت ذمه واری دخیر طرف ته بلنه وی.

بیاددی دعوت الی الخیر (خیرطرف ته دبلنی) دوی درجی دی اول داچی غیرمسلموته دخیر یعنی داسلام طرف ته بلنه ورکوی ، دمسلمانانو هریوتن په عام طورسره او داجماعت په خاص طورسره ددنیا ټولو قومونوته دخیر یعنی داسلام دعوت ورکوی په ژبه سره هم اوپه عمل سره هم څکه چی په کوم آیت کی چی دقتال اوجهاد حکم سویدی، هلته دربنتینو مومنانو صفت داسو، سوی دی.

اَلَّذِيْنَ اِنْ مَّكَّنّٰهُمْ فِي الْاَرْضِ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ وَاَمَرُوْا بِالْمَعْرُوْفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ.

یعنی ربنتینی مسلمانان هغه دی چی کله مونږ دوی ته په مځکه کی طاقت اوقدرت یعنی حکومت ورکو نو د دوی اولنی کارداوی چی دالله ﷻ په مځکه کی داطاعت نظام قائموی چی دهغه یوه ښنبه لمونځ دی اوخپل مالیاتی نظام دزکوة په اصولوباندی قائموی چی دارنګه امربالمعروف اونهی عن المنکر دخپل ژوند مقصد جوړوی که نن مسلمان امت خپل مقصد نورو قومونوته دخیرطرف ته بلنه ورکول جوړکی، نوهغه ټولی بیماری به ختمی سی کومی چی دنورو قومونو څخه دنقل کولوپه وجه په مونږ کی خپری سوي دی څکه چی هرکله یوقوم په دی لوی مقصد (دعوت الی الخیر) باندی جمع اومتفق سی اوداوګنی چی مونږ له په علمی اوعملی حیثیت سره ددنیاپرقومونو باندی غالب راتلل دی اوددنیا دقومونو تربیت اومهذب کول زمونږ په ذمه دی نوددوی بی اتفاقی به هم ټولی ختم سی، اوپوره قوم به دعظیم

مقصد دحاصلولو دپاره اخته سی دنبی کریم ﷺ اوصحابه کرامو رضی الله عنهم دکامیابیو راز هم په دی کی وو په حدیث شریف کی دی چی نبی کریم ﷺ دا آیت ، وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ تلاوت کی اوبیایی وفرمایل ، هم خاصة اصحاب رسول الله ﷺ (ابن جریر) یعنی داجماعت خاص دصحابه کرامو رضی الله عنهم جماعت دی څکه چی دی پاکو نفسونو هریوه ځان دخیرطرف ته دبلنی ذمه وار ګنی ددعوت الی الخیر(دخیرطرف ته دبلنی) دوهمه درجه په خپله مسلمانانو دخیرطرف ته بلنه ورکول دی ، چی ټول مسلمانان به عام طوراودغه خاص جماعت به په خاص طورسره دمسلمانانوپه مینځ کی تبلیغ کوی اوخیرطرف ته دبلنی فرض به اداکوی، بیابه په دوی کی هم یودعوت الی الخیرعام وی ، یعنی ټولو مسلمانانوته به ضروری احکام اواسلامی اخلاق ښیي بل دعوت الی الخیربه خاص وی ، یعنی په مسلمان امت کی به د قرآن اوسنتوماهر (پوهه) عالمان پیداکوی ، دی طرف ته په یوبل آیت کی رهنمایی سوي ده .

فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوْا فِي الدِّيْنِ وَلِيُنْذِرُوْا قَوْمَهُمْ اِذَا رَجَعُوْا اِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُوْنَ .

مخکی ددی بلونکی جماعت دوهم صفت او امتیازی (فرق) خاص داسی ښایی چی: يَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ یعنی دغه خلق دنیکوحکم کوی اودبدو څخه منع کول کوی په معروف کی هغه ټولی نیکی اوښیګړی داخلی دی دکموچی اسلام حکم ورکړي دی اوهرنبی په هره زمانه کی ددی درواج کولو کوشش کړي دی ، اوچونکی دادخیر کارونه معلوم دی اوپیژندل کیږی نوځکه ورته معروف وئیل کیږی دغه شان په منکرکی ټولی هغه بدی اوفسادونه داخل دی کوم چی نبی کریم ﷺ ناجائزکړي دی اومعلوم دی په دی مقام باندی دواجبو اوګناهونو (واجبات اومعاصی) په ځای دمعروف اومنکرعنوان اختیارولو کی (یعنی چی معروف اومنکریی وویل واجب اومعاصی یی ونه ویل) شایدچی داحکمت هم وی چی دمنع کولو ټوله معامله به یوازی په هغه مسئلوکی وی چی په امت کی مشهوری اومعلومی دی اوډټولوپر اتفاق وی، په اجتهادی مسئلوکی چی ترشریعت لاندی دیری رایی کیدای سی،په دی کی دمنع کولو سلسله په کار نه ده ، افسوس دی چی په عام طورسره ددی حکیمانه تعلیم څخه غفلت اوبی پروایی کیږی اواجتهادی مسئلی یی دجنګ میدان جوړکړي دی ، دمسلمانانو دجماعت سره ټکر وهی او دا تر ټولو لویه نیکی ګنی او ددی په مقابله کی هغه ګناهونه چی دټولوپر اتفاق دی چی داګناهونه دی دهغو څخه دمنع کولوطرف ته هیڅ توجه نه ورکوی ، دآیت په ختمیدوسره ددی جماعت انجام اوعاقبت په دی طورسره ستایل سوي دی ، وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ یعنی په حقیقت کی دا خلق کامیاب دی ، د دواړو جهانوکامیابی د دوی حصه ده .

ددی جماعت اطلاق ترټولو اول داصحابو رضی الله عنهم پرجماعت باندی کیږی یعنی اولنی مصداق یی دصحابه وو رضی الله عنهم جماعت دی چی ددعوت الی الخیراو امربالمعروف اونهی عن المنکردعظیم مقصدسره راپورته سو اوپه لږزمانه کی یی ټوله دنیافتح کړه اوقبضه یی کړه دروم او ایران لوی لوی حکومتونه یی غوبل کړه او دنیالره یی داخلاقواوپاکی سبق ورکی دنیکی اوتقوی ځراغونه یی بل کړه ، الله ﷻ ددی خیرطرف ته

ددعوت ورکوونکی امت ضرورت اوصفتونو بیانولو څخه وروسته په دغه ذکرسوی دوهم آیت کی مسلمانانوته دیوبل سره داختلاف اوګډوډ کیدو څخه دخلاصیدو هدایت فرمایلی دی، ارشاد دی چی .
وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِنْ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْبَيِّنٰتُ : یعنی دهغه خلقوپه شان مه جوړیږی چاچی دښکاره اوروښانه دلیلونو دراتلو څخه وروسته اختلاف وکی، مطلب دا دی چی دیهودو اونصاراؤ په شان مه جوړیږی چاچی دالله ﷻ دصافوحکمونو رسیدو څخه وروسته محضی دوهمونو اوخواهشاتو تابعداری وکړه دشریعت په اصولوکی ګډوډ سوه اود یوبل سره دجنګ جګړو په وجه د الله تعالی په عذاب کی ګرفتارسوه ، داآیت په حقیقت کی دآیت ، وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا تتمه ده ، په دی آیت کی دیووالی مرکز په حبل الله باندی منګولو لګولوطرف ته بلنه ده اواشارةً په کی دا خبره وښوول سوه چی جمع کیدل اویو کیدل ټول امت اوقوم یوتن اوبدن جوړوی ، بیاخیرطرف ته په بلنی سره اوامر بالمعروف او نهی عن المنکر سره دی یووالی اوجمع کیدوته خوراك رسیږی اوپالنه یی په کیدای سی ، بیاولَاتفرقوا اوپه بل آیت وَلَاتَکُونُوا کَالَّذِینَ تَفَرَّقُوا سره داخبره ښوول سوي ده چی په ګډوډ کیدو او اختلاف سره تیرقومونه تباه سویدی ددوی څخه عبرت واخلی اوپه خپل ځان کی دا مرض پیداکیدوته مه پریږدی په آیت کی چی دکم ګډوډ کیدو اواختلاف بدوالی ویل سوي دی ددی څخه مرادهغه اختلاف دی چی ددین په اصولوکی یاپه فروعوکی دنفس دغلبی په وجه سره وی ، ځکه چی په آیت کی داقید چی دواضحو احکامو راتلو څخه وروسته ددی خبری ښوونه ده ځکه چی ددین اصول ټول واضح وی اوفروع هم ځینی داسی واضح وی چی که دنفس غلبه نه وی نوبیا داختلاف ګرسره ځای نه وی ، لیکن کم فروع چی واضح نه وی دښکاره نص دنشتوالی په وجه یادنصونو دیوبل سره دظاهرټکر په وجه نوپه داسی فروعوکی په رایی اواجتهاد سره چی کوم اختلاف پیداکیږی هغه په دی آیت کی داخل نه دی اوهغه صحیح حدیث ددی داجازت دپاره پوره دی کوم چی بخاری اومسلم مرفوعًادعمروبن العاص ؓ څخه روایت کړي دی ،چی هرکله څوك اجتهادوکی اوهغه حکم صحیح وی نوده ته به دوه اجره حاصلیږی اوچی په اجتهادکی غلطی وکی نو یو اجر به ورته حاصلیږی نومعلومه سوه چی په کومه اجتهادی غلطی باندی هم یوثواب حاصلیږی هغه بده نه سی کیدی نوپه دی بناسره هغه اجتهادی اختلاف چی داصحابو ؓ اود مجتهدینو امامانو رحمهم الله په مینځ کی سویدی ددی ذکرسوی آیت سره هیڅ تعلق نسته په قول دحضرت قاسم بن محمد اوحضرت عمروبن عبد العزیز ؓ داصحابو ؓ اختلاف دخلګو دپاره رحمت دی او رخصت دی (لکه چی په روح المعانی کی نقل سوي دی دبیهقی اومدخل څخه)

(په اجتهادی اختلافاتو کی یوجانب هم منکرنه وی دوی ته بدویل جائزنه دی)

دلته یوه ډیره اهمه اصولی خبره ښکاره سوه چی کوم اجتهادی اختلاف دشرعی اجتهادپه تعریف کی داخل دی،په دی کی په خپل خپل اجتهادسره چی کوم امام کوم جانب اختیارکی که څه هم دالله ﷻ په نزدپه دی کی برابر اوصحیح یوازی یو جانب دی بل خطاء دی ، لیکن دادغلط اوصحیح فیصله به په خپله الله ﷻ کوی هغه به په محشرکی چی کوم عالم په اجتهادکی صحیح فیصلی ته رسیدلی وی هغه لره

به دوه اجره ورکی اوکم عالم چی په اجتهادی کی خطاسوی وی، هغه لره به یواجرورکی، د الله ﷻ څخه ماسوابل هیچا لره داحق نسته چی هغه په اجتهادی اختلاف کی یوه ته صحیح اوبل ته غلط ووایی البته دخپلی پوهی اوعقل ترحده پوری په دی دواړوکی چی کم یو دی قرآن اوسنت ته نژدی وګڼی دهغه متعلق داویلای سی چی زماپه نزد دابرابردی لیکن احتمال دخطاء په کی هم دی اودوهم جانب خطاء دی لیکن احتمال دبرابر په کی هم دی اوداهغه خبره ده چی دټولو امامانو دفقهی په نزدمنل سوي ده ددی څخه داخبره هم په ډاګه سوه چی په اجتهادی اختلاف کی یوجانب منکرنه وی چی دامربالمعروف اونهی عن المنکر لاندی پر هغه نکیر وکړل سی (یعنی بدورته وویل سی) اوچی هرکله هغه منکرنه دی (یعنی بدنه دی) نوپه غیرمنکر باندی نکیرپه خپله امرمنکر (یعنی په بدوباندی إمرکول دی) ددی څخه ځان ساتل لازمی دی ، :داهغه خبره ده چی په دی کی نن صباډیر دعلم خاوندان هم په غفلت کی اخته دی مخالف نظریه لرونکوته دښکنځلو اوبدوردو ویلوڅخه پرهیزنه کوی (بلکه په یوه اوبل دکفرفتوی لګوی) چی نتیجه یی په مسلمانانوکی دجنګ جګړو اوانتشار او اختلاف په صورت کی هرځای په نظر راځی ، اجتهادی اختلاف په دی شرط چی داجتهاد داصولو مطابق وی، هغه هیڅکله دذکرسوی آیت وَلَا تَفَرَّقُوا څخه خلاف اوبدنه دی البته ددی اجتهادی اختلاف سره چی کومه معامله نن صباکول کیږی چی په دی کی یی بحث مباحثه ددین بنیاد جوړ کړي دی او په دی باندی یی دیوه اوبل سره دجنګ جګړو، ښکنځلو اوبدو ردوویلوته نوبت رسولی دی، داکاربیشکه چی د وَلَا تَفَرَّقُوا ښکاره مخالفت او دسنتو اوصحابه وو ﷺ اوتابعینوڅخه بالکل خلاف دی ددین په تیرو مشرانو کی به هیچیری یو ځای نه وی اوریدل سوی چی داجتهادی اختلاف پربناء باندی به یی پرخپل مخالف داسی نکیرکړی وی، مثلاً دامام شافعی اونورو امامانو ,مسلك دا دی چی کوم لمونځ په جماعت سره په امام پسی کول کیږی ، په دی کی هم پر مقتدیانو باندی سورة فاتحه ویل فرض دی اوداښکاره خبره ده چی څوك دافرض ادانه کړی دهغه لمونځ به د دوی په نزد ونه سی ، ددی په مقابله کی امام ابوحنیفه رحمه الله وایی چی مقتدی لره په امام پسی سورة فاتحه ویل جائزنه دی نوپه دی وجه یی حنفیان نه وایی لیکن دټول اُمّت په تاریخ کی به چا داخبره نه وی اوریدلی چی شافعی مذهبیانو حنفیانوته تارك نماز (لمونځ نه کوونکی) ویلی وی، چی ستاسی لمونځ نه دی سوی اوتاسی بی لمانځه یاست اویایی پردوی باندی دا نکیر کړی وی لکه چی پرشرعی منکراتو باندی کول کیږی ، امام ابن عبدالبر په خپل کتاب جامع العلم کی ددی معاملی په اړوند دتیرو عالمانو دسنتو په باره کی داسی فرمایی.

عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيْدٍ قَالَ مَابَرِحَ اَهْلُ الْفَتْوٰى يُفْتُوْنَ فَيُحِلُّ هٰذَا وَيُحَرِّمُ هٰذَا فَلَا يَرَى الْمُحَرِّمُ اَنَّ الْمُحِلَّ هَلَكَ لِتَحْلِيْلِهٖ وَلَا يَرَى الْمُحِلُّ اَنَّ الْمُحَرِّمَ هَلَكَ لِتَحْرِيْمِهٖ ، (جامع بیان العلم ص۸۰)

یحیی ابن سعید رضی الله عنه فرمایی چی همیشه اهلِ فتوٰی فتوٰی ورکوی یوسړی په هغه شی کی چی نص په کی نه وی یو شی په خپل اجتهادسره حلالوی دوهم یی حراموی لیکن نه حرام کوونکی داګڼی چی چادحلالولو فتوٰی ورکړي ده هغه هلاك اوګمراه سواونه حلالوونکی داګڼی چی چادحراموفتوٰی ورکړی ده هغه هلاك اوګمراه سو.

Maktaba Tul Ishaat.com

ضروري آگاهي (خبرتيا) دا تولي خبري په هغه اجتهادکی دی چی دشریعت داجتهادی اصولو لاندی وی چی ددی اولنی شرط دادی چی اجتهاد یوازی په هغه مسئلوکی کیږی چی دهغه متعلق په قرآن اوحدیث کی فیصله موجوده نه وی یاداسی فیصله داسی مبهمه وی چی تفسیرونه یی مختلف کیدای سی یادیو څو آیتونو یارو ایتونو څخه دوه متضاد (دیوه اوبل مخالف) شیان ګنل کیږی، په داسی مواقعوکی یوازی هغه خلګوته داجتهاد کولو اجازت دی په چاکی چی داجتهاد شرطونه موجودوی ، مثلاً دقرآن اوحدیثو متعلق په تولو علومو اوفنونوکی مکمل مهارت لری، په عربی ژبه کی مکمل مهارت لری دصحابه وو او تابعینو داقوالو اوآثارو څخه پوره خبرداری لری اونور، نوکوم سری چی په یو منصوصه (چی دقرآن یاحدیث واضح دلیل په کی وی) مسئله کی خپله رایه چلوی دغه اجتهادی اختلاف نه دی، دغه رنګه چی داجتهاد شرطونه په چاکی موجودنه وی دده اختلاف ته اجتهادی اختلاف نه سی ویل کیدای، دده قول پرمسئله هیڅ اثرنه پریباسی ، لکه چی نن صبا ډیرو تعلیم یافته خلګو داآوریدلی دی چی په اسلام کی اجتهادهم یو اصول دی او په هغه مسئلوکی چی شرعی نص په کی موجود وی ، خپلی رایی چلول شروع کړي دی ، په کومو کی چی مجتهد امام لره هم دخبری کولوحق نسته اودلته خو داجتهاد شرطونه څه کوی چی نفس ددین علم ورسره هم نه وی، پناه غوارم په خدای سره .

يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ ۚ فَأَمَّا الَّذِينَ اسْوَدَّتْ وُجُوهُهُمْ أَكَفَرْتُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ

په کومه ورځ چی سپین سی ځینی مخونه او تور سی ځینی مخونه ، نو کوم خلق چی تور سوه مخونه د دوی دوی ته به وویل سی چی ای تاسی کافران سوی یاست وروسته دایمان راوړو ستاسی څخه ،

فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿١٠٦﴾ وَأَمَّا الَّذِينَ

اوس وڅکی عذاب په بدله دهغه کفر کولو کی ، او کوم خلق چی

ابْيَضَّتْ وُجُوهُهُمْ فَفِي رَحْمَةِ اللَّهِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿١٠٧﴾

سپین سوه مخونه د دوی نو په رحمت کی دی دالله او دوی به په دی کی همیشه وی ،

تِلْكَ آيَاتُ اللَّهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ۗ وَمَا اللَّهُ يُرِيدُ ظُلْمًا

دا حکمونه دالله دی مونږ یی اوروو تاته صحیح صحیح او الله ظلم کول نه غواری

لِلْعَالَمِينَ ﴿١٠٨﴾ وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۚ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿١٠٩﴾

په مخلوق باندی ، او خاص دالله دی څه چی دی په اسمانونو کی او څه چی دی په مځکه کی اوخاص الله طرف واپسی ده دهر کار .

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسیر: په هغه ورځ (یعنې دقیامت په ورځ) چې ځینې مخونه به سپین (اوروښانه) سي او ځینې مخونه به تور (تیاره) سي نودکوموکسانو مخان چې تورسوه دوی ته به وویل سي چې ای تاسي خلک کافران سوي یاست دخپل ایمان راوړوڅخه وروسته نو (اوس) سزا وڅکی په سبب دخپل کفرسره اودچامخان چې سپین سوي وی دوی به دالله ﷻ په رحمت (یعنې جنت) کي (داخل سوي) وي (او) دوی به په دې کي همیشه همیشه وي دا (کوم چې لوړ ذکر سوه) دالله ﷻ آیتونه دي کوم چې صحیح صحیح مونږ په تا وایو (ددې څخه خودلوړ مضمون صحیح کیدل معلوم سوه) او الله ﷻ په مخلوقات باندې ظلم کول نه غواړی (نوکومه سزا چې یې دچادپاره ټاکلې ده هغه بالکل مناسبه ده، نوددې څخه دذکرسوی ټاکل کیدو مناسب کیدل معلوم سوه) اوخاص دالله ﷻ ملکیت دی څه شی چې په آسمانونو او مځکه کی دی (نوچی هرکله ټول ملکیت دهغه دی نوپردې ټولوباندې دهغه حکم منل واجب وه ، ددې څخه داخبره ثابته سوه چې هرشی دهغه په ملکیت کی دی نودهغه حکم منل واجب دی) اوخاص دالله ﷻ وطرف ته به ټولې مقدمې واپس کړه سي (بل هیڅ څوك به داختیار خاوندنه وي)

معلومات اومسئلې

(دمخ دسپین والي اوتوروالي څخه څه مراد دی؟)

دمخ دسپینوالي او توروالي ذکر په قرآن شریف کی په ډیرو ځایونوکی راغلی دی، مثلاً، وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ تَرَى الَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلَى اللّٰهِ وُجُوْهُهُمْ مُّسْوَدَّةٌ (زمر آیت : ۶۰) وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌ وَّوُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ (عبس آیت: ۳۸ تا ۴۱) وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ اِلٰى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ (قیامة ۲۲، ۲۳)

په دې آیتونوکی دیوی معنی ډیرالفاظ ذکرسوی دی یعنی ، بیاض اوسواد، غبرة، قترة، اونضرة ، دجمهورو مفسرینوپه نزددسپینوالی څخه مراد دایمان دنورسپینوالی دی ، یعنی دمومنانو مخونه به دایمان په نورسره روښانه اودډیری خوشحالی څخه به خندان اوخوشحاله وی، اودتوروالی څخه مراد دکفر توروالی دی ، یعنی دکافرانو په مخانو باندی به دکفر توروالی خپور سوی وی اولوړ به ورباندی دفسق او فجور تاریکیانی راخپری وی چې ښه به یې تور اوپه تیاره کی کړی وی.

(تورو مخانو والا اوسپینو مخانو والا کوم خلک دی؟)

ددې خلقوپه تعین (مقررتیا) کی دتفسیر دعالمانو ډیر قولونه دی حضرت ابن عباس ؓ فرمایی چې داهل سنتو مخان به سپین وی اودبدعتیانو مخان به توروی ، حضرت عطاء فرمایی چې دمهاجرینو او انصارو مخان به سپین وی اودبنی قریظه اوبنی نضیر مخان به توروی (قرطبی) امام ترمذی دحضرت ابوامامه ؓ څخه یوحدیث نقل کړی دی چې ددې څخه مرادخوارج دی ، یعنی تورمخونه به دخوارجووی اوسپین مخونه به دهغه خلقووی چاچی دوی قتل کړی وی فَقَالَ اَبُوْاُمَامَةَ كِلَابُ النَّارِ شَرُّ قَتْلٰى تَحْتَ اَدِيْمِ السَّمَآءِ وَخَيْرُ قَتْلٰى مَنْ قَتَلُوْهُ ثُمَّ قَرَأَ يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوْهٌ وَّتَسْوَدُّ وُجُوْهٌ دابوامامه ؓ څخه چې کله پوښتنه وسوه چې تاداحدیث دنبی کریم ﷺ څخه اوریدلی دی نو ده په جواب کی په شمار سره وویل چې که دحضور ﷺ څخه ما اوه واره داحدیث نه وای اوریدلی نو ما به دا نه وی بیان کړی (ترمذی) حضرت عکرمه ؓ

Maktaba Tul Ishaat.com

فرمايي چې تورمخونه به داهل كتابو دهغه خلقو وي چې دحضورﷺ تر راتلو دمخه يې د دوی تصديق كوي ليكن كله چې دی ﷺ راغی نو په ځای ددې چې د دوی تائيد اوكومك يې كړی وای درواغ يې شروع كړه (تفسير قرطبي) په دې ذكر سوواقوالو سربيره نور هم ډير اقوال دي ، ليكن په دې ټولو كې ديو بل سره هيڅ ټكرنسته ، دټولو مطلب يو دی ، امام قرطبي رحمه الله په خپل تفسير كې دآيت يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ متعلق فرمايي چې دمخلصو مومنانو مخونه به سپين وي ، ليكن د دوی څخه پرته دهغو ټولو مخونه به تور وي چاچې په دين كې تغير او تبديلي كړې وي برابره خبره ده كه دوی مرتد او كافران سوي وي اوكه نفاق يې په خپلو زړونو كې پټ ساتلی وي ددې ټولو سره به دغه معامله وسي (تفسير قرطبي)

يوڅو ضروري فائدې: الله تعالى په يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ كې يې سپينوالي په توروالي مخكې كې ، ليكن فَأَمَّا الَّذِينَ اسْوَدَّتْ وُجُوهُهُمْ كې يې توروالي په سپين والي مخكې كې حال دادی چې دترتيب تقاضادا وه چې سپين والي يې دلته مخكې كړی وي ددې ترتيب دچپه راوړلو څخه داسې معلوميږي چې الله ﷻ خپل دپيداكولو دمقصد وطرف ته اشاره كړې ده دغه مقصد په خپل مخلوق باندې رحمت كول دی نه چې عذاب، په دې وجه ترټولو اول الله تعالى دسپين مخوبيان وكی چې دالله ﷻ درحمت اوثواب مستحق دي ددې وروسته يې دتورمخو ذكروكی چې دعذاب لائق دي ، ددې څخه وروسته الله تعالى دآيت په اخركې په الفاظود فَفِي رَحْمَةِ اللَّهِ سره دخپل لوی رحمت ذكر وكی په مينځ كې يې دتورمخو چې په دې كې يې دخپل بې حسابه رحمت طرف ته اشاره كړې ده چې مخلوق يعنې انسان الله ﷻ ددې دپاره نه دی پيداكړی چې عذاب ورته وركی او دخپل عذاب ښكاره كولو دپاره يې جوړه كړی ، بلكه ددې دپاره يې پيداكړي دی چې زمادبې حسابه رحمت څخه فائده واخلي .

دوهمه فائده: داده چې دسپين مخوپه باره كې ارشاددی چې دوی به هميشه د الله تعالى په رحمت كې وي حضرت ابن عباس ؓ فرمايي چې درحمت څخه مراددلته جنت دی، دلته هم په ظاهره سره دجنت څخه په رحمت سره په تعبير كولوكې داحكمت دی چې انسان برابره خبره ده كه هرڅومره پرهيزګار اوعبادت كوونكي ولې نه وي، جنت ته به خاص دالله تعالى په رحمت سره ځي ،ځكه چې عبادت كول هم دانسان خپل ذاتي كمال نه دی بلكه ددې قدرت اوطاقت هم دالله ﷻ دطرفه وركړه وي نوپه دې وجه په عبادت سره جنت ته داخليدل ضروري نه دي ،بلكه جنت ته داخليدل به دالله ﷻ په رحمت سره وي (تفسير كبير)

دريمه فائده: دا ده چې الله ﷻ د فَفِي رَحْمَةِ اللَّهِ وروسته هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ فرمايلي دي دا يې وښوول چې مومنان چې دالله ﷻ په كوم رحمت كې وي دغه به د دوی دپاره عارضي نه وي بلكه دهميشه هميشه دپاره به وي د دوی څخه به هيڅكله دا نعمت ختمول ياكمول كيږي نه ، ددې په مقابله كې يې دتورمخو دپاره دا خبره ښكاره نه كړه چې دوی به په دغه حال كې هميشه وي .

(انسان سزا خاص دخپلو ګناهونو وينې)

فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُونَ : كې يې اشاره وفرمايله چې دنن داعذاب زما دطرفه څخه نه دی بلكه دا تاسې خپله ګټلې دی او دهغه عملونو بدله ده كوم چې تاسې په دنياكې كړي دي ځكه چې په حقيقت كې دجنت

Maktaba Tul Ishaat.com

نعمتونه او د دوږخ عذابونه زمونږ دعملونوبدل سوی شکلونه دی اوپه دی خبره دپوهه کولو دپاره یی په آخرکی دا هم وفرمایل ، وَمَا اللّٰهُ يُرِيْدُ ظُلْمًا لِّلْعٰلَمِيْنَ ، یعنی الله ﷻ په خپلو بندگانو باندی دظلم کولو هیڅ اراده نه لری ، عذاب اوثواب هرڅه چی دی عین انصاف او درحمت اوحکمت مقتضاده .

۱۰۹ كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَاْمُرُوْنَ

تاسی یاست ښه په ټولو امتونو کی چی را ولیږل سواست په عالم کی حکم کوی

بِالْمَعْرُوْفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ۗ وَلَوْ اٰمَنَ

دښو کارونو او منع کوی دبدو کارونو څخه ، او ایمان راوړی په الله ﷻ باندی ، او که ایمان راوړی

اَهْلُ الْكِتٰبِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ۗ مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ وَاَكْثَرُهُمُ الْفٰسِقُوْنَ ۱۱۰

اهل کتابونو دا به د دوی دپاره غوره وه څه د دوی څخه مؤمنان دی او اکثر په دوی کی نافرمانه دی.

دآیتونو ترون: په تیروآیتونوکی مسلمانانوته دثابت قدم اوسیدوپه ایمان باندی اودامربالمعروف اونهی عن المنکر دخاص اهتمام اوخیال ساتلوهدایت اوښوونه وه ، په دی آیت کی یی ددی خبری زیات تاکیدداسی کړي دی چی امت محمدی (علی صاحبها الصّلٰوة والسلام) لره چی الله ﷻ په ټولو امتونو ښه والی ورکړي دی ، ددی لویه وجه هم دا صفتونه دی .

لنډتفسیر: (ای دمحمد ﷺ امته) تاسی خلک (دټولومذهبونو تر خلکو) یو ښه جماعت یاست چی دغه جماعت د(عامو) خلقود (نفع دهدایت رسولود) پاره ظاهرسویدی (اونفع رسول چی ددی امت دښه والی اوغوره والی وجه ده ددی صورت داسی دی چی) تاسی خلق (دشریعت په مقتضاسره په ډیراهتمام باندی) دنیکو کارونو ښوونه کوی او دبدوڅخه منع کول کوی او (په خپله هم) په الله ﷻ باندی ایمان راوړی (یعنی پرایمان قائم اوسی ، دلته په الله تعالی باندی په ایمان کی هغه ټولی عقیدی اوعملونه داخل دی کوم چی د الله تعالی دطرفه نازل سویدی) اوکه اهل کتابو (هم کم چی ستاسی څخه مخالفت کوی ستاسی په شان) ایمان یی راوړی نوددوی دپاره به زیاته بهتره وای (چی دوی به هم داهل حقوپه دی بهتره جماعت کی داخل سوی وای، لیکن افسوس چی دوی ټول مسلمانان نه سوه بلکه) په دوی کی خینی خومسلمانان سوه (کوموچی په نبی ﷺ باندی ایمان راوړی او په اسلام کی دا خل سوه) او زیاته حصه په دوی کی کافران دی (چی په خاتم الانبیاء ﷺ باندی یی ایمان را نه وړی او د دوی په غوره امت کی شامل نه سوه)

معلومات اومسئلي (دامت محمدی په امتونوکي دښه والي یوڅو وجهي)

قرآن کریم دامت محمدی پرنورو امتونودښه والی څووجی په ډیرو آیتونوکی بیان کړي دی ددی سلسلی

ترټولو مهم آیت په سورة بقرة کی تیر سوي دی وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا الاية ، هلته ددی آیت تفسیر او په امتونو کی دښه والی لویه وجه ددی امت معتدل مزاجی اوبیا دژوند په هر اړخ کی ددی امت داعتدال تفصیل په دوهمه پاره کی بیان سوي دی، په دی آیت کی دامت محمدی پرنورو امتونودښه والی وجه دابیان سویده چی داامت د الله تعالی مخلوق ته دنفع رسولودپاره پیدا کړه سوی دی ، اودده ترټولو لویه نفع دا ده چی دالله پاك دمخلوق دروحانی او اخلاقی اصلاح فکرددی امت منصبی فریضه ده ، اودتیرو ټولو امتونو څخه زیات دامر بالمعروف اونهی عن المنکر پوره والی ددی اُمت په ذریعه سره سوي دی ، که څه هم دامربالمعروف اونهی عن المنکرفریضه په تیرو امتونو باندی لازم وه چی تفصیل یی په صحیح احادیثوکی ذکر دی مګراول خو په تیرو ډیرو امتونوکی دجهادحکم نه وو په دی کی دجهادټول اقسام هم شامل دی اودحکومت په زور داسلامی قوانینو نافذکول هم ددی جزء دی په دی برسیره په تیرو امتونوکی چی څنګه ددین نوری نښی دعام غفلت په وجه ورکی سوی وی ، دغه شان دامر بالمعروف فریضه هم بالکل ختمه سوی وه ، او دامت محمدی په باره کی دنبی کریم ﷺ دا پیش ګویی ده چی په دی امت کی به ترقیامته پوری داسی یو جماعت قائم وی چی امربالمعروف اونهی عن المنکر دفریضی پراداکولو به قائم اوسی ، دوهم امتیازی صفت یی ددی اُمت ، تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ بیان کړي دی ، دلته دا سوال پیدا کیږی چی په الله ﷻ باندی ایمان خودتیرو ټولو پیغمبرانو اوددوی دامتونو مشترك صفت دی ، نوبیا دا یی د دوی امتیازی وجه په کومه بنامقرره کړه جواب ښکاره دی چی اصل ایمان خو په ټولوکی مشترك دی ، مګر دایمان دکمال درجی مختلفی دی ، په دوی کی امت محمدیه ته چی کومه درجه حاصله ده ، دا دتیرو امتونو په مقابله کی یوخاص امتیازلری .

اودآیت په اٰخرکی چی یی داهل کتابو متعلق کوم وفرمایل چی په دوی کی څه مسلمانان دی د دوی څخه مرادهغه خلق دی کوموچی په نبی کریم ﷺ باندی ایمان راوړی ؤ لکه حضرت عبدالله ابن سلام ؓ اونور سوه

لَنْ يَّضُرُّوْكُمْ اِلَّآ اَذًى ۭ وَاِنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ يُوَلُّوْكُمُ الْاَدْبَارَ ۣ ثُمَّ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿۱۱۱﴾

دوی هیڅ نه سی ورانولی ستاسی مګرآزارول په ژبه سره اوکه ستاسی سره جنګ کوی نوشاکوی به بیابه ددوی مددنه سی کولی

دآیتونو تړون : په تیرو آیتونوکی راغی داهلِ کتابو دمسلمانانو سره ددښمنی اودوی ته ددینی ضرر سولو تدبیرونه کول مذکور وه په دی آیت کی دمسلمانانو دپاره ددنیوی ضرر دتدبیرونو کولو ذکر دی .

لنډتفسیر: دغه (اهل کتاب) به تاسوته هیڅکله ضررونه رسولی سی مګرلږسپك شان آزار(یعنی په ژبه سره بدرد ویل زړه خفه کول) اوکه دوی (ددی څخه زیات همت وکی او) ستاسی سره جنګ کوی نوتاسی ته به شاکړی وبه تښتی بیا(ددی څخه زیاته به داوی چی) دهیڅ طرف څخه به ددوی کومك هم ونه کړل سی .

معلومات اومسئلي: دا دقرآن پیش ګویی داسی پوره سوه چی اهل کتاب دنبوت په زمانه کی په یوه ځای هم په صحابه کرامو ؓ چی ددی مضمون خاص مخاطب وه، غالب نه وه راغلی، اوخاص بیایهود چی : دوی قبیلی په خصوصیت سره په دی ځای کی ذکر دی چی دوی به داصحابو ؓ په مینځ کی جدایی هم

Maktaba Tul Ishaat.com

غورځوله د دوی انجام دا سو چی دغه خلق ذلیل او خوار سول په ځینو جزیه ولګیده ، ځینی قتل سوه ، ځینی جلاوطن سوه ، په راتلونکی آیت کی ددی مضمون تکمله ده .

ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ اَيْنَ مَا ثُقِفُوْٓا اِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ اللّٰهِ وَحَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ وَبَآءُوْ بِغَضَبٍ مِّنَ

غورځول سوی دی په دوی باندی ذلت کوم ځای چی ولیدل سی مګرپه لاس وراچولو دالله سره اوپه لاس وراچولو

اللّٰهِ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الْمَسْكَنَةُ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ

دخلقوسره ، او وګرځېدل دوی غصه دالله پاك اولازمه یی کړه په دوی باندی حاجتمندی، داپه دی وجه چی دوی انکار کړی دی

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَيَقْتُلُوْنَ الْاَنْۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ؕ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ﴿۱۱۲﴾

دالله پاك دآیتونه او قتل کړی یی دی پیغمبران ، په ناحقه سره ، داپه دی وجه چی نافرمانی وکړه دوی اوحد څخه ووتل

لنډتفسیر: چاپ سوی دی په دوی باندی ذلت هرځای چی هم دوی پیدا کړل سی ، مګر هوا (په دوو ذریعو سره دوی دذلت څخه خلاصیدی سی) یو دداسی ذریعی په سبب چی دالله ﷻ دطرفه څخه ده اوبل دداسی ذریعی په سبب چی دانسانانو دطرفه څخه ده (دالله ﷻ دطرفه څخه ذریعه دا ده چی یوکتابی غیرمسلم دالله ﷻ په عبادت کی په خپله طریقه داسی مشغول اومصروف وی چی دمسلمانانوسره په جنګ جګړه نه وی نودغه به په جهادکی نه قتلیږی، که څه هم دده داکافرانه عبادت به دده په آخرت هیڅ په کارنه راځی او دغه شان نابالغه کتابی کوچنی یاښځه ده چی دوی هم دالله ﷻ په امن کی دی داسلامی شریعت په بناسره دوی هم په جهادکی نه سی قتل کیدی اودانسانانو دطرفه څخه ذریعه معاهده او صلح ده، کمه چی دمسلمانانوسره وسی، ځکه چی په اسلامی شریعت کی چی دچاسره دصلحی څه معاهده وسی هغه هم په امن دی ، دهغه قتل جائزنه دی) اومستحق سوه (دا خلګ) دالله ﷻ دغضب اووغورځول سوپه دوی باندی ذلت (چی د دوی په طبیعتونوکی هم مستقل مزاجی پاته نه سوه ، دارنګه جزیه اوخراج مسلمانانو ته ورکول هم په ذلت او مسکنت کی داخل دی داذلت اوغضب) ځکه پروسو چی (داخلګ) منکرکیدل دالله ﷻ داحکامو څخه اوقتل کول یی پیغمبران (داسی چی دغه قتل په خپله ددوی په نزدهم ناحق (وو) اوداذلت اوغضب ځکه پروسوچی دوی حکم ونه منی اودفرمانبرداری ددائری څخه ووتل .

معلومات اومسئلي

(په یهودو باندی دذلت اوغضب مطلب په موجوده اسرائیلي حکومت شبه او دهغه جواب)

دابحث دسورۃ بقرۃ په آیت کی په تفصیل سره تیرسوی دی چی په هغه کی استثناء نسته دآل عمران په آیت کی ، اِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ اللّٰهِ وَحَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ داستثناء تحقیق هلته تیرسوی دی دابحث هلته وګوره ، دومره خبره مکرره دلته بیا دویلو قابله ده چی دکشاف دتفسیر مطابق چی استثناء متصله مقررسی نو دآیت معنی به داسی چی په یهودو به ذلت اوخواری همیشه وی ، مګر په دوو صورتونو کی دوی ددی ذلت اوخواری څخه خلاصیدای سی یو دالله ﷻ عهدمثلاً نابالغه کوچنی یاښځه دالله ﷻ په حکم سره دقتل اوغیره

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه په امن دی ، دوهم ، بِحَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ یعنی دخلقوسره دصلحی دمعاهدی په بنا باندی د دوی ذلت او خواری به ښکاره نه وی ، دلته د قرآن الفاظ بِحَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ دی چی مومن اوکافر ټولولره شامل دی ، په دی کی دا صورت هم داخل دی چی داخلق دمسلمانانو سره دصلحی معاهده وکړی ، بی فکره سی او ددی احتمال هم دی چی دنورو غیر مسلمو طاقتونوسره دصلحی معاهده وکړی اومحفوظ سی لکه چی داسرائیلوحکومت په حقیقت کی دیورپ والو مشترکه چاونۍ ده ، د دوی چی هرڅه قوت په نظر راځی دا ټول دنوروپر پښو ولاړدی ، که امریکه برطانیه او روس اونور نن د دوی څخه خپل لاسونه پورته کړی نو دوی به یوه ورځ هم خپل وجود قائم ونه ساتی سی . والله اعلم

لَيْسُوا سَوَآءً ۗ مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اُمَّةٌ قَآئِمَةٌ

دوی ټول برابر نه دی په اهل کتابو کی یوه فرقه ده په سیده لاره باندی

يَّتْلُوْنَ اٰيٰتِ اللّٰهِ اٰنَآءَ الَّيْلِ وَهُمْ يَسْجُدُوْنَ ﴿۱۱۳﴾ يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ

وایی ایتونه دالله دشپی په وخت کی او دوی سجدی کوی ، ایمان راوړی په الله باندی

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَيَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ

او دقیامت په ورځ او حکم کوی دښه خبری او منع کوی دناکاره کارونو څخه

يُسَارِعُوْنَ فِى الْخَيْرٰتِ ۗ وَاُولٰٓئِكَ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۱۴﴾ وَمَا يَفْعَلُوْا

او خغستا کوی په نیکو کارونو پسی اودغه خلق دی نیک بخت ، او څه چی کوی

مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ يُّكْفَرُوْهُ ۗ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ ۢ بِالْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۱۵﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

دغه خلق نیک کار هیڅ کله به یی ناقدری ونه سی او الله خبر دی په پرهیزګارانو ، هغه خلق چی

كَفَرُوْا لَنْ تُغْنِىَ عَنْهُمْ اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ

کافران سوی دی هیڅکله به په کار ورنه سی دوی ته د دوی مالونه اونه اولاد دالله ﷻ په

شَيْـًٔا ۗ وَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۱۱۶﴾ مَثَلُ مَا

مخکی هیڅ ، او دغه خلق اوسیدونکی دی په اور د دوږخ کی دوی به په دی اورکی همیشه اوسیږي ، څه چی

يُنْفِقُوْنَ فِىْ هٰذِهِ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَثَلِ رِيْحٍ فِيْهَا صِرٌّ اَصَابَتْ

خرڅ کوی دوی په دی ژوند ددنیا کی ددې مثال په شان دیو هوا دی چی په دی کی وی چینی اورسیږي

Maktaba Tul Ishaat.com

حَرْثَ قَوْمٍ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَاَهْلَكَتْهُ ؕ وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ وَ

فصل دیر قوم ته چې دوی په خان ظلم کړی وی بیا هغه هلاك (تباه) کړه او الله په دوی ظلم ونه کی

لٰكِنْ اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۱۷﴾

لیکن دوی په خپل خان ظلم وکی

دآیتونو تړون: لوړ داهل کتابو متعلق بیان سوی وو چې په دوی کی څه خلق مسلمانان هم دی او زیات کافران دی ددی مضمون زیات تفصیل په دی آیتونو کی دی.

لنډتفسیر: دا (اهل کتاب) ټول برابرنه دی (بلکه) په دی اهل کتابو کی یو جماعت هغه هم دی کوم چې (په دین حق) قائم دی (او) دالله ﷻ آیتونه (یعنی قرآن) دشپی په وختونو کی وایی اودوی لمونځ هم کوی (او) په الله ﷻ او په ورځ دقیامت (پوره پوره) ایمان لری او (نوروته) نیك کار ښیی اوبدوخبرو څخه یی منع کوی اونیکو کار ونو ته منډی وهی اودا خلق (دالله ﷻ په نزد) په نیك بختو خلګو کی (شمارل کیږی) او دا خلګ چې کوم نیك کار کوی دهغه (دثواب) څخه به محرومه نه کړل سی او الله ﷻ تقوی دا ران ښه پیژنی (اودا خلق تقوی داردی نو دوعدی مطابق دجزا لائق دی) بیشکه کوم خلګ چې کافران سوه هیڅکله به په کار رانه سی د دوی مال اونه اولاد دالله تعالی (دعذاب) په مقابله کی یوه ذره هم اودغه خلق دوزخ والادی (او) دوی به همیشه همیشه په دی کی اوسی (هیڅکله به ورڅخه خلاص نه وی) هغه (کافران) چې خرڅ کوی په دی ژوند ددنیاکی ددوی حالت (په بربادیدو اوضائع کیدوکی) ددی حالت په مثل دی چې یوه هواوی په دی کی تیزه یخ (یعنی چینی) وی (او) هغه واوړی دداسی خلقوپه فصل چاچی (په بددینی سره) خپل نقصان کړی وی نوهغه (هوا) دغه (فصل) بربادکړی (دغه شان ددی خلقوخرڅ کول په آخرت کی ټول ضائع دی) او (په دی ضائع کولوکی) الله تعالی پردوی (هیڅ) ظلم ونکی لیکن دوی په خپله (دکفرپه کولوسره چې دقبلولو څخه منع کوونکی دی) خپلوځانونو ته نقصان رسوی (که دوی کفرنه کولای نو ددوی ټولی نفقی به نه ضائع کیدی)

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا بِطَانَةً مِّنْ دُوْنِكُمْ لَا يَاْلُوْنَكُمْ خَبَالًا ؕ وَدُّوْا مَا عَنِتُّمْ ۚ قَدْ

ای ایماندارو! مه جوړوی رازدارخوك دخپلوڅخه ماسوادوی کمی نه کوی ستاسی په خرابی کی، دوی خوشحاله وی خومره چې تاسی په تکلیف کی یاست،

بَدَتِ الْبَغْضَآءُ مِنْ اَفْوَاهِهِمْ ۖۚ وَمَا تُخْفِيْ صُدُوْرُهُمْ اَكْبَرُ

ښکاره کیږی دښمنی د دوی د ژبو څخه اوڅه چې پټ دی د دوی په زړونو کی هغه ددی ډیر زیات دی،

قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْاٰيٰتِ اِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۱۸﴾ هٰاَنْتُمْ اُولَاۤءِ تُحِبُّوْنَهُمْ

مونږ ښوولې دي تاسي ته ښښانې که په تاسي کې عقل وي ، واورئ تاسي خلق د دوی دوستان یاست

وَلَا يُحِبُّوْنَكُمْ وَتُؤْمِنُوْنَ بِالْكِتٰبِ كُلِّهٖ ۚ وَاِذَا لَقُوْكُمْ قَالُوْا

او دوی ستاسي دوستان نه دي او تاسي ټول کتابونه منئ ، او کله چې تاسي سره یوځای کیږي نو وايي

اٰمَنَّا ۚ وَاِذَا خَلَوْا عَضُّوْا عَلَيْكُمُ الْاَنَامِلَ مِنَ الْغَيْظِ ؕ قُلْ

مونږ مسلمانانو یو او کله چې ځان ته کیږي نو ژیچي په تاسي باندي ګوتې دغصې څخه ، ووایه چې

مُوْتُوْا بِغَيْظِكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۱۱۹﴾ اِنْ تَمْسَسْكُمْ

مړه سئ په خپله غصه کې الله ته ښه معلومې دي دزړه خبرې ، که تاسي ته ورسیږي ،

حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ ۘ وَاِنْ تُصِبْكُمْ سَيِّئَةٌ يَّفْرَحُوْا بِهَا ؕ وَاِنْ

څه نیکي نو بده لګیږي په دوی او که تاسي ته ورسیږي څه بدي نو خوشحالیږي په دې سره ، او که

تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْـًٔا ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِمَا

تاسي صبر وکړئ او ځان وساتئ نو هیڅ به وران نه سي تاسي د دوی په فریب سره ، بیشکه څه چې دوی

يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ ﴿۱۲۰﴾ ع

کوي ټول دالله په وس کې دي .

تفسیر: ای ایماندارو دخپلو (خلقو) څخه ماسوا (دبل مذهب والاوو) دهیڅا سره (دمحبت په سلوك کې) راز مه جوړوي (ځکه چې) دغه خلګ ستاسي سره په فساد کولو کې هیڅ موقع دلاسه نه غورځوي (او په زړه سره هم) ستاسي دنقصان (دنیوي اودیني) آرزولري (زړونه یې ستاسي په باره کې دومره دبغض څخه ډك دي چې) واقعي (دغه) بغض (خیني وخت) ددوی دخولي څخه (بې اختیاره په خبرو اتروکې) ښکاره کیږي اوځومره چې د دوی په زړونوکې دي هغه ډیرزیات دي (ځکه چې) مونږ (ددوی ددښمنۍ) ښښې (ښښانې) ستاسي په وړاندې ښکاره کړي که تاسي عقل لرئ (نو په دې یقیني ښښانو سره یې وګورئ) هو (پوه سئ) تاسي داسي یاست چې ددې خلقو سره (سلوك) دمحبت ساتئ اوداخلق ستاسي سره هیڅکله محبت نه ساتي (نه په زړه سره نه په سلوك سره) حال دادی چې تاسي ټول په (اسماني) کتابونه ایمان

راوړي (په دي کې ددوی کتابونه هم شامل دي اوددوی ستاسی په کتاب یعنې په قرآن ایمان نه لري مګر دوی سره ستاسی ددې ایمان هم ستاسی سره محبّت نه ساتي اوتاسی سره ددوی دنه ایمان لرلو ددوی سره محبت ساتي) او (تاسي ددوی په دې ظاهري دعوه دایمان شبهه مه کوئ چې دوی هم زمونږپه کتاب ایمان لري څکه چې) داخلق کله چې ستاسی سره یوځای کیږي (نوفقط تاسوته دځان ښودلو دپاره په منافقانه ډول سره) وایي چې مونږایمان راوړیدی اوکله چې (ستاسی څخه) جلاسی نوپرتاسی خپلې ګوتي چیچي دغصی څخه ، داکنایه ده دډیري غصی څخه) ته (دوی ته) ووایه چې تاسې مړه سی په خپله غصه کې (مراد دادي چې که تاسی مړه هم سی خوستاسو مقصدبه پوره نه سی) بیشکه خدای تعالی ښه پیژني دزړونوخبري (په دي وجه ددي خلقو په زړونوکي چې کوم رنځ اوغبار اودښمني ستاسی دطرف څخه سوي ده یعني زړونه یې ورڅخه ډك دي هغه یې تولو ښکاره کړه اوددوی حال دادي چې) که چیري تاسې ته څه ښه حالت درپیښ سي (مثلاً دیوه اوبل سره په اتفاق یاست پر نوروخلقو درته غلبه حاصله سي) نوددوی دپاره درنځ او غم سبب وي (چې سبب یې پای درجه حسد دی) اوکه تاسې ته څه ناخوښه حالت راوراندی سي نوددوی (ډیر) خوشحالیږي (چې په دې سره ددوی کم نصیبي ثابته ده نو هرکله چې دڅوی داحالت دی نوددوی ددې خبري کله قابل دي چې ددوی سره دوستي یاددوستي سلوك وسی ، ددوی ددې ذکرسوي حالاتوداوریدو څخه وروسته په زړونوکی ددې خیال پیدا کیدل څه لیري خبره نه وه چې داخلق مسلمانانوته په ضرررسولوکی څه کمی نه کوي نو په دي وجه یې په راتلونکی آیت کی مسلمانانوته دتسلي دپاره وفرمایل) اوکه تاسې ثابت قدمي اوتقوی سره اوسی نوددې خلقو تدبیرونه به تاسوته یوه ذره هم ضرر ونه رسوي (تاسی ددوی څخه بې فکره اوسی نوپه دنیاکې به دوی ته داناکامي نصیب سي اوپه آخرت کی به ددوږخ عذاب وي څکه چې) بیشکه الله تعالی ددوی په عملونو (عملي) احاطه لري (یو عمل هم زمونږڅخه پټ نه دی نوپه دې وجه هلته دسزاڅخه دخلاصیدو دپاره دڅه حیلې حوالې هیڅ امکان نسته دی.

معلومات اومسئلې : ددې آیت شان نزول دادی چې دمدینې په اطرافوکې کوم یهودیان آبادوه ، د دوی سره داوس او دخزرج دخلقو دپخوا زماني څخه دوستي را روانه وه جلاجلا هم ددې قبیلودخلقوبه ددې خلقو سره دوستانه تعلقات وه او دقبیلو په حیثیت سره هم دوی اویهود دیو بل ګاونډیان اوحلیف (ملګري) وه نوکله چې داوس اوخزرج قبیلې مسلماني سوي نوددې څخه وروسته به هم دوی دیهودوسره خپل پخواني تعلقات پالل اوددوی خلق به دخپلو یهودي دوستانوسره هم په دغه محبت اوخلوص سره یوځای کیدل ، لیکن دیهودیانو چې دخاتم الانبیاء ﷺ سره اوددوی دراوړي دین سره کومه دښمني وه ، په دې وجه دوی دداسې سړي سره دخلوص محبت ساتلوته تیارنه وه چاچې دادعوت قبول کړی او مسلمان سوي وي ، دوی په ظاهرکی دانصاروسره خوهغه تعلقات ساتل کوم چې مخکې څخه راروان وه لیکن په زړونوکی اوس دوی دهغوی دښمنان سوي وه ، اوددې ظاهري دوستي څخه به یې ناجائزه فائده اخیسته هروخت به په دې کوشش کې وه چې په څه شان سره دمسلمانانوپه جماعت کې فتنه اوفساد راپورته کړي اوددوی رازمعلوم کړي ددوی دښمنانوته یې ورسوی الله تعالی دلته ددوی ددې منافقانه

Maktaba Tul Ishaat.com

طریقی مسلمانانوته دمحتاط اوسیدو هدایت کوی چی ددوی څخه په احتیاط کی اوسی دوی منافقان دی، ستاسی دزړونو رازونه معلوموی ستاسی دښمنانوته یی رسوی ،نویوه ډیره اهمه اوضروری ضابطه بیانوی چی: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا بِطَانَةً مِّنْ دُوْنِكُمْ یعنی ای ایماندارو دخپلو (یعنی مسلمانانو) څخه علاوه بل څوك ژور اورازدار دوست مه جوړ وی ، ده بِطَانَة معنی ده ولی، دوست، رازدار، اوپټ رازلرونکی، دکالو دننه استر کوم چی دبدن سره منبتی وی هغه ته هم بطانة وایی دا دبطن څخه مشتق دی چی دظهرخلاف ددی استعمال په هرشی کی کیږی ، ښکاره طرف ته ظهر اودننه طرف ته بطن وایی اودکالو لوړی حصی ته ظهارة اودننه او لاندی حصی ته کمه چی دبدن سره منبتی وی لکه استر اونور ته البطانة وایی لکه څنګه چی مونږپه خپله ژبه کی وایوچی هغه خودده جامه یعنی اغوستن اولاندی ستونی دی یعنی ډیریی خوښ دی ، دغه شان د بطانة الثوب څخه په طور داستعاری ولی، دوست او معتمد چی دزړه دخبرو رازدار وی دده دپاره دبطانة لفظ استعمالیږی ، دعربی لغت په مشهور کتاب لسان العرب کی د بطانة معنی داسی سویده چی بطانه هغه دوست ته ویل کیږی چی دزړه اورازدار دوست وی اودده په معاملوکی دخل کوونکی وی چی په خپلومعاملاتوکی دی ورڅخه مشوری اخلی اصفهانی په مفردات القرآن کی اوقرطبی په خپل تفسیرکی هم دامعنی بیان کړي ده چی مطلب یی دا سوچی بطانة هغه سړی ته ویل کیږی څوك چی رازدار ولی او دوست ګنی اوده لره په خپلو معاملوکی اعتماد کوونکی اومشوره کوونکی جوړکړی نوپه دی آیت کی مسلمانانوته حکم ورکول سوي دی چی دخپلومسلمانانوڅخه ماسوا هیڅوك داسی داعتماد اومشوری قابل مه جوړوی چی ده ته خپل اودخپل ملت او حکومت رازونه ښکاره کوی اسلام دخپلی عالمګیری سایی لاندی چی کوم ځای مسلمانانوته دغیرمسلموسره دهمدر دی خیرخواهی نفع رسولواوروا داری غیر معمولی هدایات فرمایلی دی اونه یوازی زبانی هدایات بلکه نبی کریم ﷺ په ټولومعاملوکی دی لره عملی رواج ورکړي دی هلته یی دعین حکمت مطابق د مسلمانانو دخپل تنظیم اوددوی دخاصونښودحفاظت دپاره دااحکام هم نافذکړي دی چی داسلامی قانون دباغیانو اومنکرانوسره تعلقات تریوه خاص حدڅخه دزیاتولو اجازه مسلمانانوته نه سی ورکیدی څکه چی ددی څخه دافرادو اوملت دواړو دپاره خطری ښکاره دی اودا داسی ښکاره، معقول اومناسب اوضروری انتظام دی چی په دی سره دافرادو اوملت دواړو حفاظت کیدی سی کوم غیرمسلم چی داسلامی حکومت اوسیدونکی وی یادمسلمانانو سره یی څه معاهده کړی وی دهغوی متعلق دنبی کریم ﷺ تعلیمات اوددوی دحفاظت دپاره انتهایی تاکیدات داسلامی قانون اجزاء دی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی .

مَنْ اٰذٰى ذِمِّيًّا فَاَنَا خَصْمُهٗ وَمَنْ كُنْتُ خَصْمُهٗ خَصَمْتُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ (عن ابن مسعود ﷺ)

چاچی یوه ذمی لره آزار ورکی نودقیامت په ورځ دهغه دطرفه به زه دعویدار جوړیږم اوپه کومه مقدمه کی چی زه دعویدار یم نو زه به غالب یم . په بل حدیث کی فرمایی .

مَنَعَنِیْ رَبِّیْ اَنْ اَظْلِمَ مُعَاهِدًا وَلَا غَيْرَهٗ (عن علی ﷺ)

Maktaba Tul Ishaat.com

زه خپل رب منع کړی یم ددی څخه چی زه پرکم معاهد یابل چا ظلم وکړم ، په یوه بل حدیث کی فرمایی .

اَلَا مَنْ ظَلَمَ مُعَاهِدًا اَوْ انْتَقَصَهُ اَوْ كَلَّفَهُ فَوْقَ طَاقَتِهِ اَوْ اَخَذَ مِنْهُ شَيْئًا بِغَيْرِ طِيْبِ نَفْسٍ مِنْهُ فَاَنَا حَجِيْجُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ .

خبردار! څوك چی پرغیر مسلم معاهد ظلم وکړی یایی په حق کی کمی وکړی یاورباندی ترطاقت زیات بار واچوی یادده درضا څخه بغیر ورڅخه کم شی واخلی نو دقیامت په ورځ به زه دده وکیل یم .

لیکن ددی ټولومراعاتوسره یی د مسلمانانو دخپل جماعت اوملت دحفاظت دپاره هدایات هم فرمایلی دی چی داسلام دښمنانولره خپل دزړه دوستان اورازداران او اعتماد کوونکی مه جوړوی ، ابن ابی حاتم نقل کړي دی چی فاروق اعظم حضرت عمربن خطاب ﷺ ته وویل سول چی دلته یوغیر مسلم هلك دی چی ډیرښه کاتب دی که هغه خپل میر منشی (هیډ کلرك) جوړ کړی نو ډیره ښه به وی په دی سره فاروق اعظم ﷺ وفرمایل .

قَدْ اتَّخَذْتُ اِذًا بِطَانَةً مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ .

که زه داسی وکړم نومسلمانان به پاته کړم اودبل دین خلگ به خپل رازدار جوړ کړم او دادقرآن دنص څخه خلاف ده امام قرطبی چی دپنځمی صدی مشهورعالم اومفسردی په ډیرافسوس اودردسره په مسلمانانو کی ددی تعلیم دخلاف ورزی او ددی دبدو نتیجو بیان داسی فرمایی .

وَقَدِ انْقَلَبَتِ الْاَحْوَالُ فِي هٰذِهِ الْاَزْمَانِ بِاتِّخَاذِ اَهْلِ الْكِتٰبِ كَتَبَةً وَّ اُمَنَآءَ وَتَسَوَّدُوْا ذٰلِكَ عِنْدَ جَهَلَةِ الْاَغْنِيَآءِ مِنَ الْوُلَاةِ وَالْاُمَرَآءِ

په دی زمانه کی حالات داسی بدل سوه چی یهود اونصارا راز داران اوامنیان جوړ سوه اوپه دی ذریعه سره هغوی په جاهلانو ، غنیانو اوامیرانومسلط سوه .

نن هم په یوداسی حکومت کی چی هغه په یوخاص نظریه سره قائم سوی وی هلته هم په دی نوی زمانه کی داسی سړی چی دغه نظریه نه قبلوی مشیر اومعتمدنه سی جوړیدلی په روس اوچین کی څوك داسی سړی چی په کمیونزم باندی ایمان نه لری په ذمه واره عهده باندی نه سی مقررولای ، اودی دحکومت راز دار اومشیر نه سی جوړولای داسلامی حکومتونو دزوال قصی واوری نودزوال دنورو اسبابوسره ډیربه داسی هم پیداسی چی مسلمانانو دخپلو کارونو رازداران غیر مسلم جوړکړی وودعثمانی سلطنت په زوال کی هم ددی خبری پوره دخل وو په ذکرسوی آیت کی ددی حکم وجه دابیان سوي ده ، لَا يَأْلُوْنَكُمْ خَبَالًا الاية یعنی داخلق تاسی ته په تکلیف اوفساد رسولو کی هیڅ کمی نه کوی اوتاسی ته د درد رسیدو آرزولری ، څینی خو د دوی دژبو څخه ښکاره کیږی اوکومی خبری چی دوی په خپلوزړونو کی پټی ساتلی دی هغه ډیری زیاتی دی ، مونږتاسوته ښنی ښکاره بیان کړی دی ، که چیری تاسی دعقل څخه کار اخستونکی یاست ، مطلب دا دی چی مسلمانان خبرول کیږی چی دوی دی دخپلو اسلامی ورونه څخه ماسوابل څوك رازدار اومشیر نه جوړوی، څکه چی یهودیان وی اوکه نصارا ، منافقین وی اوکه مشرکان، یوه ډله هم ستاسی حقیقی خیرخواه نه سی کیدی ، بلکه همیشه داخلق په دی کوشش کی وی چی ستاسوڅخه بی وقوفه جوړ کړی نقصان درته ورسوی اوپه دینی اودنیوی خرابیوکی تاسواخته کړی

Maktaba Tul Ishaat.com

د دوی آرزو داده چی تاسی په تکلیف کی یاست اوپه څه ناڅه تدبیرسره تاسی ته دینی یا دنیوی ضرر ورسوی ، کومه دښمني یاضررچی د دوی په زړونوکی دی هغه ډیرلوی دی ، لیکن ډیر واره ددښمنی اوغضب اوغصی په وجه ډاګ په ډاګه هم داسی خبری کوی چی د دوی دغه لویه دښمنی ورڅخه په ډاګه کیږی ددښمنی اوحسدپه وجه ددوی ژبه په قابوکی نه وی نود هوښیارسړی کاردانه دی چی داسی دښمنان رازدارجوړکی ، خدای پاك ﷻ ددوست دښمن نښانی اوددوستی حکمونه ښوولی دی په چاکی چی عقل وی هغه به ددی څخه کار اخلی ، وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ دافقره دکافرذهن پوره ترجمانی کوی په دی کی یوډیرلوی اوژور تعلیم ددی خبری راغی چی یوغیر مسلم په هیڅ حال کی هم دمسلمانانو حقیقی دوست او خیر خواه نسی جوړیدی ، ددی څخه وروسته یی وفرمایل ، هَا أَنتُمْ أُولَاءِ تُحِبُّونَهُمْ الآیة ، یعنی تاسی داسی یاست چی د دوی سره دوستی اومحبت ساتی او دوی ستاسی سره یوه ذره محبت نه ساتی ، او تاسی ټول کتابونه منی ، او دوی چی کله ستاسره ملاویږی ، نو وایی چی مونږ مسلمانان یو اوکله چی ځانته کیږی نوخپلی ګوتی دغصی څخه پرتاسی باندی چیچی او ووایه چی تاسی مړه سی دغصی څخه، بیشکه الله تعالی دزړونوخبری ښه پیژنی ، یعنی داڅومره بی ځایه خبره ده چی ستاسی زیلی پریکوی اوعجیبه خبره خوداده چی تاسی ټول آسمانی کتابونه منی برابره خبره ده هغه دهرقوم چی وی اوپه هره زمانه کی چی په هریوه پیغمبر نازل سوی وی ، اوددی په خلاف داخلګ ستاسی کتاب اوپیغمبرنه منی، بلکه په خپلو کتابونو هم ددوی صحیح ایمان نسته ، په دی لحاظ سره په کاروو چی دوی ستاسره قدری محبت کولی اوتاسی ددوی څخه سخت نفرت اوبیزاری کولی، مګر دلته معامله بالکل په عکس باندی ده چی تاسی ورسره محبت کوی اودوی نفرت اودښمنی ، ددی کافرانه ذهنیت زیات وضاحت دا دی چی إِن تَمْسَسْكُمْ حَسَنَةٌ یعنی ددی خلقوحال دادی چی که چیری تاسی ته څه ښه حالت وړاندی راسی نو په دی سره دوی ته درد رسیږی اوکه په تاسی څه بدحالت راسی نودوی په دی سره خوشحالیږی بیا دمنافقانو دمکر اوفریب او دمخالفینو خلګودعناداومخالفت دنتیجوڅخه دمحفوظ پاته کیدوآسانه او په آسانی سره حاصلیدونکی نسخه یی دابیان کړه چی: وَإِن تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا إِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ که چیری تاسی صبر اوتقوی اختیارکړی نو ددوی چلونه تاسی ته یوه ذره نقصان هم نه سی رسولی.

(دمسلمانانو دفتح اوکامیابي اوپه ټولو مشکلاتو کي دآسانۍ رازپه صبر اوتقوی دوو صفتونو کي دی)

قرآن کریم مسلمانانوته دهرقسم مصیبتونواوپریشانیوڅخه دمحفوظ پاته کیدودپاره صبراوتقوی یوازی په دی آیت کی نه بلکه په نوروآیتونوکی هم دیواثرکوونکی علاج په حیثیت سره بیان کړي دی ددی رکوع څخه وروسته یه دوهمه رکوع کی دی بَلَىٰ إِن تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا وَيَأْتُوكُم مِّن فَوْرِهِمْ هَٰذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُم بِخَمْسَةِ آلَافٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ مُسَوِّمِينَ : په دی کی دغیبی امدادوعده هم په دغه دوو شرطونه یعنی صبر اوتقوی باندی موقوفه سویده، په سورت یوسف کی فرمایی إِنَّهُ مَن يَتَّقِ وَيَصْبِرْ په دی کی یی هم کامیابی اوفلاح په صبر اوتقوی پوری تړلی ده، ددی سورت په ختمیدو د صبر تلقین په دی الفاظوسره کول کیږی ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اصْبِرُوا وَصَابِرُوا وَرَابِطُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ په دی کی یی هم فلاح اوکامیابی په صبر اوتقوی پوری متصله کړي ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

دصبر اوتقوٰی په یولند غوندی عنوان کی دژوند دهراړخ انفرادی وی اوکه اجتماعی، عوامی وی اوکه فوجی دنظم اونسق یوه جامعه اوکامیابه ضابطه ثابته سوه .دحضرت خاتم الانبیاء ﷺ ارشاد دی .

عَنْ ابی ذرقال قال رسول الله ﷺ انّی لاعلم ایۃً لواَخذَ الناس بہا لکفتہم ومن یتق الله یجعل له مخرجًا الاٰیۃ (رواه احمد)

نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی زه یوداسی آیت پیژنم چی که خلګ په دی عمل اختیارکی نو د دوی ددین اودنیا دپاره هغه کافی دی هغه آیت دادی ومن یتق الله یجعل له مخرجًا یعنی کوم سړی چی دالله ﷻ څخه وبیریدی الله ﷻ به دهغه دپاره لار وباسی .

وَإِذْ غَدَوْتَ مِنْ أَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِينَ

او کله چی سهار را ووتی ته دکور خپل څخه چی کښینول دی مسلمانان

مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٢١﴾ إِذْ هَمَّت طَّائِفَتَانِ

په مورچو دجنګ کی او الله ﷻ هرڅه اوری پیژنی ، هرکله چی قصد وکړی دوو ډلو

مِنكُمْ أَن تَفْشَلَا وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا ۗ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ

ستاسی څخه چی نا مردی وکړی او الله ﷻ مدد ګار وو د دوی ، او په کار ده چی په الله ﷻ تکیه وکړی

الْمُؤْمِنُونَ ﴿١٢٢﴾ وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنتُمْ أَذِلَّةٌ ۖ فَاتَّقُوا

مسلمانان ، او مدد کړی دی ستاسی الله ﷻ دبدر په جنګ کی او تاسی کمزوری واست نو وبیریږي

اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٢٣﴾

دالله څخه ځکه چی تاسی احسان ومنی

دآیتونو تړون : په تیرو آیتونوکی بیان سوی وو چی که مسلمانان په صبراوتقوٰی باندی قائم پاته سوه نوهیڅ یوطاقت به دوی ته ضررونه رسولی سی اودا داحدپه غزاکی چی کم عارضی شکست او تکلیف مسلمانانو ته ورسیدی ، هغه په دی دوو شیانو کی دځینو حضراتو دطرف څخه دکوتاهی پربنا باندی وه په دی ذکرسوی آیت کی ددی احد دغزا واقعه بیان سویده، اودبدر په غزاکی دفتح .

لنډتفسیر: او(هغه وخت هم دیادولو قابل دی) هرکله چی ته دسهارپه وخت کی (دجنګ دتاریخ څخه مخکی) دخپل کورڅخه (په دی غرض سره) ووتی(چی) مسلمانان (دکفاروسره) دجنګ کولودپاره په (مناسبو) ځایونو باندی کښینول (بیاددی تجویز مطابق دی ټول پر هغه ځایونو باندی کښینول) او الله ﷻ (ددغه وخت خبری) ټولی هرڅه اوریدلی (اوددغه وخت حالات یي) پیژندل ټول (ددی سره داقصه هم وسوه

Maktaba Tul Ishaat.com

چي) ستاسي (مسلمانانو) څخه دوو ډلو (چي هغه بني سلمه او بني حارثه دي) په زړه کي خيال وکي چي بي همته سي (او د عبدالله بن أبي منافق په شان په خپل کور کي کښيني) او الله ﷻ ددي دواړو ډلو کومك کونکی وو (نو دوی يي بي همته کيدو ته هيڅکله پري نښوول نو الله ﷻ دوی په دي خيال دعمل کولو څخه محفوظ وساتل) او (مونږ دآئنده دپاره دي ډلو او ټولو ته نصيحت کوو چي هرکله تاسي مسلمانان ياست نو) پس مسلمانانو لره په الله ﷻ باندي باور کول په کار دي (او داسي بي همتي هيڅکله نه ده په کار) او دا خبره حقه ده چي حق تعالی تاسي لره په (غزاد) بدر کي فتح درکړه حال دا دي چي تاسي (محض) بي سروسامانه واست (ځکه چي ستاسي ډله هم دکفارو په مقابله کي کمه وه هغوی يو زرکسان وه او مسلمانان دري سوه دیارلس وه وسلي او نور هم ډیر کم وه) نو (کله چي دا فتح مندي دتقوٰی په وجه وه چي ثابت قدمي او صبر هم پکښي داخل دي نو پر تاسي لازمه ده چي په راتلونکي وخت کي هم) د الله ﷻ څخه وبيريږی (دی ته تقوٰی ويل کيږي) ددي دپاره چي (پر دي نعمت دفتح) شکر گذار سي (ځکه چي شکرگذاري يوازي په ژبه پوري خاص نه ده ، بلکي پوره شکر دا دي چي ژبه او زړه دواړه هم مشغول وي او دعبادت او طاعت هم پابندي وي او بيا خاص چي ددي طاعت په دي نعمت کي دخل هم ثابت سي .

معلومات او مسئلي

داحد وغزاته يوه کتنه : دذکر سوی آيت دتفسير څخه اول دا ضروري ده چي داحد دغزا دواقعاتو هر يو اړخ وښوول سي او واضحه سي په رمضان المبارك سـ۲نه هـ کي دبدر په مقام باندي دقريشو دفوج او دمسلمانانو مجاهدينو په مينځ کي جنگ وسو چي دمکي دکفارو څخه پکښي او يا ۷۰ نامداره کسان مړه سوه او دومره ورڅخه گرفتار سوه ، په دي تباه کوونکي او ذليله شکست سره چي په حقيقت کي دالله ﷻ دعذاب اولنی حصه وه دقريشو دبدل اخستو جذبه راپورته سوه کوم سرداران چي مړه وه دهغوی خپلوانو ټولو عربو ته غيرت وروړاندي کی، پيغورونه يي ورکړه او دا معاهده يي وکړه چي ترڅو پوري مونږ مسلمانانو څخه ددي بدل وانخلو په آرامه به نه کښينو او دمکي خلقو ته يي خواست وکی چي ددوی تجارتي قافلي چي کوم مال دشام څخه راوړی دی هغه دی په دي مهم کار باندي خرڅ سي چي دمحمد او دده دملگرو څخه دخپلو مړو بدل په واخلو ، ټولو دا خبره منظوره کړه او په سـ۳نه هـ کي دقريشو سره ډير نور قبائل هم په مدينه منوره باندي دحملي کولو په غرض سره راووتل ، تردي پوري چي ښځي هم ورسره راغلي ، ددي دپاره چي دموقع پر ځای باندي سړو ته غيرت وړاندي کي او دپه شاکيدو څخه يي منع کوی ، کم وخت چي دا دري زره لښکر په پوره وسلي سره دمديني څخه دري څلور ميله ليري داحد دغره په خواکي خيمي ولگولي، وايي ړول ، نو نبي کريم ﷺ دمسلمانانو څخه مشوره واخسته دده ﷺ رايه مبارکه دا وه چي دمديني ددننه څخه به دښمن مقابله ډيره په آساني سره وسي ، دا اوله موقع وه چي درئيس المنافقين عبدالله ابن ابي (چي په ظاهره په مسلمانانو کي شامل وو) څخه هم مشوره واخستل سوه چي دحضور ﷺ درايي موافق وو مگر ځيني جوشيده مسلمانان کمو ته چي بدر کي شرکت نه وو نصيب سوی او دشهادت شوق بي آرامه کول، هغوی زور ولگوی چي مونږ ته دباندي وتل او مقابله کول په کار دي

چی دښمن پر مونږ دبې زړه توب او کمزورۍ ګمان ونه کړي ، دډیرو خلقو رایه دی طرف ته سوه .
په دې وخت کی ده ﷺ کور ته دننه تشریف یوړی او زغره یې واغوسته ، دباندی راغلی نو دغه وخت دځینو خلقوخیال وسوچی مونږ حضور ﷺ د دوی درایی څخه خلاف دمدینې څخه دباندی په جنګ کولو مجبوره کو ، داغلطی وسوه ، نو په دې وجه عرض یې وکی چی یا رسول الله ﷺ! که ستاسی رضانه وی نو بس هم دلته تشریف ولري حضور ﷺ وفرمایل چی یوه پیغمبرلره دالائقه نه ده چی هغه زغره واغوندی ، وسله واچوی اوبیایی بغیر دجنګ کولوڅخه دبدن څخه کښته کړی په دې جمله کی دنبي اوغیرنبي فرق واضح کیږي چی دنبي دذات څخه هیڅکله دکمزورۍ اظهارنه سی کیدی اوپه دې کی دامت دپاره هم یولوی سبق دی کله چی ده ﷺ دمدینې څخه دباندی تشریف یوړی نو تقریباً زرکسه سړیان د دوی سره وه ، لیکن منافق عبدالله بن ابی تقریباً ددرې سوه کسانو سره داوویل اوواپس سوه چی هرکله زمامشوره ونه منل سوه اودنوروپه مشوره عمل وسونو مونږ ته دجنګیدو ضرورت نسته ځکه چی مونږولی خامخاخان په هلاکت کی واچوو ، دده په ملګروکی خوزیاتره منافقان وه ، مګر ځینی مسلمانان هم دده په فریب کی راغله اودده سره سوه ، آخردوی ټول داووه سوه سپاهیانو سره میدان ته ورسیدل ، دوی په خپله دفوجی قاعدی مطابق صفونه برابرکړه اوصفونه یې داسې جوړکړه چی داحدغرېی شاته راوستی اونور انتظامات یې داسی وکړه چی حضرت مصعب بن عمیر ﷺ ته یې جنډه ورکړه حضرت زبیربن العوام ﷺ یې درسالې افسرمقررکی حضرت حمزه ﷺ ته یې دهغه فوج مشري ورکړه چی زغرې یې نه وې اغوستی ، دشا دطرف څخه احتمال ووچی دښمن په دې طرف راسی ، په دې وجه یې ډپنځوسو غشو ویشتونکو دسته مقرره کړه اوحکم یې وکی چی دوی به دشادطرف پر غونډې باندی دحفاظت کارکوی دجنګ کوونکو دفتح اوشکست سره به دوی څه کارنه ساتي اودخپل ځای څخه به نه ښوري عبدالله ابن جبیر ﷺ ددې غشي ویشتونکو افسر مقررسو، قریشو ته په بدرکی تجربه سوی وه ، په دې وجه هغوی هم په ترتیب سره صفونه برابر کړه .

(دنبي ﷺ جنګي ترتیب دغیروپه نظر کې)

دنبی کریم ﷺ داصفونه برابرول او دفوجی قاعدو په لحاظ سره نظم اوضبط چی ولیدل سی نو داحقیقت ورڅخه واضح کیږي چی نبی کریم ﷺ سره ددې چی دامت کامل رهبراو مقدس نبی دی یوبې مثله او عظیم سپه سالارهم دی ده ﷺ چی په کوم انداز سره مورچې قائمی کړي اودجنګ طریقې یې قائمی کړي ددغه وخت دنیاددې څخه نااشناوه اونن هم چی جنګی فنونودیومستقل سائنس حیثیت اختیارکړي دی هغوی هم دده ﷺ فوجی قاعدې اونظم اوضبط ستایي ، دې حقیقت ته یې چی وکتل نو یو مسیحي مورخ داسې وویل .
«دخپلو مخالفینو برخلاف هغه ﷺ یوازې همت اوشجاعت نه درلودی بلکه محمد ﷺ دجنګ په فن کی نوی لاری هم راوایستی دمکی والاوو دپرله پسې اودبې دریغه جنګونو په مقابله کی یې دډیری دور اندیشی اوسخت قسم نظم اوضبط څخه کار واخستی»
داالفاظ دشلمې صدی دیوه مؤرخ (تام اندر) دی چی ده په (لائف آف محمد ﷺ) کتاب کی بیان کړي دي .

Maktaba Tul Ishaat.com

دجنګ شروع : ددې څخه وروسته جنګ شروع سوپه اول کې د مسلمانانو تول دروندوو، تردې چې په مخالف فوج کې وارخطايي راغله اوپه تيښته سوه مسلمانانو داوګڼل چې مونږ فتح وکړه نودغنيمت دمال په راټولولو سول اوبل خواکوم غشي ويشتونکي چې نبي کريم ﷺ شاطرف ته دحفاظت دپاره کښېنولي وو ، هغوی چې کله وليدل چې دښمن وتښتېدی نوهغوی هم خپل ځای پرېښووی، دغره لمنی ته راکښته سوه، حضرت عبدالله بن جبير‌رضی دوی ته دنبي کريم ﷺ تاکيدی حکم وريادکی او دوی يې منع کړل ليکن ديو څوتنو څخه ماسوا نورو وويل چې دحضور ﷺ حکم منل خو تردغه وخته پوری وو ، اوس مونږ لره دنوروسره يوځای کېدل په کار دي ، دغه وخت خالد بن وليد‌رضی چې لا تراوسه مسلمان نه وو اودغه وخت دکفارو دلښکر درسالې افسروو، دموقعې څخه فائده واخسته اوپرغره راوڅرخيدی دشادطرف څخه يې حمله وکړه ، عبدالله ابن جبير‌رضی اودده لږو ملګرو يې مقابله وکړه ليکن دوی يې منع نه کړای سوه اوداسيلاب په يوه وارپر مسلمانانو راغی، بل طرف ته چې کم دښمنان تيښتېدلي وه، هغوی هم راواپس سول اوحمله يې وکړه اوپه يوه دم دجنګ روخ (مخ) بدل سواو مسلمانان په دې غير تعيني حالاتو راپيښېدو سره داسې ګډوډ سوه چې ډېرکسان دميدان څخه ووتل خوبياهم يوڅواصحاب ‌رضی تراوسه پوری په ميدان کې ثابت قدم ولاړوه چې په دې کې داافواه خپره سوه چې نبي کريم ﷺ شهيد سو، دې خبرپه اصحابو‌رضی کې پاته هوش اوحواس هم ختم کی اوکوم صحابه ‌رضی چې په ميدان کې پاته وه هغوی هم وارخطا اوبې همته سوه ، دنبي کريم ﷺ څخه ګيرچاپيره صرف لس دولس جان نثاره ‌رضی پاته سوی وه اودی ! په خپله هم زخمي سوی وو دبالکل شکست خوړلوڅخه وروسته په عيني وخت کې صحابه وو‌رضی ته معلومه سوه چې نبي کريم ﷺ صحيح سلامت دی نودهرطرف څخه بيادهغوی خواته راجمع سوه اودی ! يې روغ جوړغره طرف ته بوتلی ، ددې شکست څخه وروسته مسلمانان ډېربې انتها پرېشانه سوه اوداعارضي شکست ديوڅو اسبابوپه وجه ووچې پرهريوه سبب باندې قرآن مجيدښه په واضحه اوښکاره الفاظوسره تبصره وکړه اودآئنده دپاره يې داحتياط کولو تلقين وفرمايي ددې واقعې په تفصيل کې څه داسې واقعات دي چې ډېرلوی سبق ورڅخه اخستل کيدی سي ، او دټولو مسلمانانو دپاره په کې دوعظ اونصيحت ملغلرې پرتې دي .

(داحد دواقعې څخه يوڅو سبقونه)

(۱) اوله خبره لکه څنګه چې اول معلومه سويده چې کفارو دقريشوپه دې جنګ کې دځان سره ښځې هم راوستلې وې ددې دپاره چې د دوی سړی دپه شاکيدو څخه منع کوی نبي کريم ﷺ وليدل چې دابې سفيان دښځې هندې په مشری کې دکفارو ښځې اشعاروايي اوپه سړوکې جوش راپورته کوی جنګ ته يې تيزوی .

اِنْ تُقْبِلُوْا نُعَانِقْ ✽ وَنَفْرُشُ النَّمَارِقَ

اَوْ تُدْبِرُوْا نُفَارِقْ ✽ فِرَاقَ غَيْرَ وَامِقْ

(مطلب داچې که په مقابله کې ثابت قدم پاته سواست اوفتح تاسې وکړه نوهارونه به درپه غاړه کړو، اوتاسوته به نرمي بسترې خپرې کړو ليکن که تاسې شاکړه ، نومونږبه تاسې بالکل پرېږدو)

او دخاتم الانبیاء ﷺ په ژبه مبارکه ددعا دالفاظ جاري وه .

اَللّٰهُمَّ بِكَ اَصُوْلُ وَبِكَ اُقَاتِلُ حَسْبِيَ اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ .

ای الله ! په تاسره قوت حاصلوو اوستاپه نوم حمله کوو اوخاص ستا ددين دپاره جنګ کوو ، خاص الله ﷻ کافي دی او هغه لوی کار ساز دی .

ددی دعایویو لفظ خاص دالله ﷻ سره دتعلق تاکیدکوی اودمسلمانانو ټول کارونه اوعملونه ترډی چی جنګ اوقتال هم دنورو قومونو دجنګ اوقتال څخه ممتازکوی اوفرق یی ښکاره کوی (۲) دوهم شی دغور قابل دا دی چی په دی غزاکی ځینی صحابه وو ؓ دشجاعت اوبهادری اوځان قربانولو هغه نقشی پریښودی چی په تاریخ کی یی مثال نه سی پیداکیدی ، حضرت ابو دجانه ؓ خپل بدن حضور ﷺ ته ډال کړی ووچی هرراتلونکی غشی به یی په خپله سینه باندی خوړی اوحضرت ابوطلحه ؓ هم خپل بدن غلبیل کړی وو ، لیکن دحضور ﷺ ملګرتیایی نه وه پریښی ، دحضرت انس بن مالك ؓ اکاحضرت انس بن النضر ؓ دجنګ بدرڅخه غیرحاضرپاته سوی وو ، په دی وجه به هغه افسوس کوی اوآرزوبه یی کوله چی دنبی کریم ﷺ په ملګرتیاکی که موقع په لاس راغله نودخپل زړه ارمان به پوره کړم ، نوچی دجنګ احدواقعه راپیښه سوه نوانس بن النضر ؓ په کی شریك سو ، اوڅه وخت چی مسلمانان خپاره واره سوه اودکافرانودقریشوسیلاب ځپی ووهلی نوده خپله توره راواخسته اوورمخکی سوپه دی کی دده دحضرت سعد ؓ سره ملاقات وسو ، حضرت سعد ؓ هم په دغه خپریدونکو خلګوکی روان وو ، ده ورته چغه کړه چی ای سعده ؓ چیری ځی؟ په ما خو دأحد په دی لمنه کی دجنت خوشبویی لګیږی ، دایی وویل او ورورواندی سواو دسخت جنګ څخه وروسته یی خپل روح روح پیداکوونکی ته وسپاری (ابن کثیر)

حضرت جابر ؓ فرمایی چی کله مسلمانان خواره واره سوه ، دغه وخت دنبی کریم ﷺ سره یوازی یوولس تنه پاته وه چی په دوی کی حضرت طلحه ؓ هم وو ، دقریشو دکفاروسیلاب ځپی وهلی نبی کریم ﷺ وفرمایل څوك به ددوی خبر راوړی ؟ حضرت طلحه ؓ وویل چی زه یارسول الله! یوبل انصاری صحابی وویل چی زه حاضریم انصاری ته حضور ﷺ دتلوحکم ورکی ، هغه دجنګ کولوڅخه وروسته شهید سو ، بیایوه بله ځپه راغله ، بیاحضور ﷺ هغه پوښتنه وکړه اوحضرت طلحه ؓ ورلره هم هغه جواب ورکی اوبی قراره وو ،دایی غوښته چی حضور ﷺ راته دورتلوحکم وکی اوزه ورورواندی سم حضور ﷺ یوبل انصاری صحابی ؓ ورولیږی ، او په هره ځپه به یی حضرت طلحه ؓ ته اجازت نه ورکوی اوبل صحابی ته به یی اجازه ورکوله اوهغه به شهید کیدی ، په جنګ بدرکی سره ددی چی مسلمانان ډیرکم وه ، فتح یی حاصله کړه اوپه احدکی دبدر په نسبت ډیروه ، بیاهم شکست یی وخوړی په دی کی هم دمسلمانانودپاره عبرت دی چی مسلمانان به هیڅکله هم دساز اوسامان په ډیروالی پسی نه ځی، بلکه فتح به همیشه دالله ﷻ دجانب څخه ګڼی اوپه دی پوری به خلق تعلق مضبوطوی ، دجنګ یرموك په موقع باندی چی کله دجنګ دمحاذ څخه حضرت عمر ؓ ته دزیات فوجی امداد دپاره ولیکل سول او دخپل کموالی شکایت یی وکی نو حضرت عمر ؓ ورته په جواب کی ولیکل .

Maktaba Tul Ishaat.com

قَدْ جَآئَتْنِیْ کِتَابُکُمْ تَسْتَمِدُّوْنَنِیْ وَاِنِّیْ اَدُلُّکُمْ عَلٰی مَنْ هُوَ اَعَزُّ نَصْرًا وَّاَحْصَنُ جُنْدًا اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ فَاسْتَنْصِرُوْهُ فَاِنَّ مُحَمَّدًا ﷺ قَدْ نُصِرَ فِیْ یَوْمِ بَدْرٍ فِیْ اَقَلَّ مِنْ عِدَّتِکُمْ فَاِذَا جَآءَکُمْ کِتَابِیْ هٰذَا فَقَاتِلُوْهُمْ وَلَا تُرَاجِعُوْنِیْ (په حواله دمسند احمد) (ابن کثیر)

(ماته ستاسو خط راغی چی تاسی په کی دزیات فوج طلب کړي دی لیکن زه تاسو ته دیو داسی ذات پته درکوم چی دمدد په لحاظ سره زیات محفوظ دی هغه دالله ﷻ ذات دی نو تاسی دهغه څخه کومك طلب کی ، محمد ﷺ لره یی دکموالی څخه په بدر کی فتح ورکړی وه او کومك یی ورسره کړی وو ، کله چی زما دا خط تاسو ته در ورسیږی نو په هغوی حمله وکی او په دی باره کی ماته رجوع مه کوی)

ددی واقعی راوی بیان کوی چی کله مونږته داخط راورسیدی مونږ دالله ﷻ نوم واخستی او دکفارو په ډیرلښکر مو په یو وار حمله وکړه او هغوی لره مو شکست ورکړی ، حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه ته معلومه وه چی دمسلمانانو فتح او شکست په کموالی او ډیروالی نه دی بلکه دالله ﷻ پر توکل او دهغه پر کومك باندی موقوفه دی ، لکه چی قرآن کریم دحُنین دغزا په باره کی دا حقیقت په وضاحت سره بیان کړي دی ارشاد دی .

وَیَوْمَ حُنَیْنٍ اِذْ اَعْجَبَتْکُمْ کَثْرَتُکُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنْکُمْ شَیْئًا .

دحُنین غزا یاده کړی کله چی تاسی په خپل ډیروالی باندی ناز کوی نو دی ډیر والی تاسو ته هیڅ فایده ونه رسولی سوه ، اوس دآیتونو په تفسیر فکروکړی .

اِذْغَدَوْتَ مِنْ اَهْلِكَ الآیة : یعنی کله چی دسهار په وخت کی ته دخپل کور څخه راووتی دجنگ دپاره دی په مختلفو مورچو مسلمانان کښینول ، دواقعو په نقل کولو کی دقرآن مجید یو خاص معجزانه طریقه ده چی په عام طور سره یوه واقعه په هره برخه او تفصیل سره نه بیانوی لیکن په کومو واقعو او برخو کی چی خاص هدایات وی، هغه بیانوی په دی ذکر سوی آیت کی چی دواقعی دکومو خاصو برخو وضاحت دی ، مثلاً دکوره دوتو وخت څه وو دایی په لفظ د غَدَوْتَ سره بیان کړه اودحدیثو درواياتو څخه ثابته ده چی داسهار اووم تاریخ دشوال سنه ۳ هـ وو ، ددی څخه وروسته یی داوښوده چی ددی سفرابتداء دکوم ځای څخه وسوه ؟ د مِنْ اَهْلِكَ په لفظ سره اشاره وسوه چی حضور ﷺ دغه وخت په خپل اهل او عیال کی وو ، دوی یی هلته پاته کړه او ورڅخه راووتی حالانکه داحمله په مدینه کیدونکی وه دحالاتو په دی برخو کی دا هدایت دی چی کله دالله ﷻ حکم راسی ، نو په هغه باندی په عمل کولو کی اهل او عیال دلاری خنډاو خار نه سی جوړیدلی ، ددی څخه وروسته دکوره وتل، دجنگ محاذته رسیدل پاته سو او دجنگ دمحاذ اولنی کاری دابیان کی چی ، تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِیْنَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ یعنی تاسی مسلمانان دجنگ دپاره پرمناسبو ځایونو باندی کښینول .

بیایی دا آیت داسی ختم کی چی وَاللّٰهُ سَمِیْعٌ عَلِیْمٌ یعنی، الله تعالی لوی اوریدونکی او لوی پوهیدونکی دی ، دسمیع علیم صفتونه یی رایاد کړه دی طرف ته یی اشاره وکړه چی دغه وخت دمخالفو اوموافقو ددوارو پر خپل خپل ځای ویل او اوریدل داټول دالله تعالی په علم کی راغله او په دی موقع چی هر څه موافقو اومخالفو ته وړپیښ سوه ، په دی کی یوشی هم دهغه څخه پټ سوی نه دی اودغه شان ددی جنگ انجام هم دهغه څخه پټ نه دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

تردی وروسته دوهم آیت دی اِذۡهَمَّتۡ طَّآئِفَتَانِ مِنۡكُمۡ اَنۡ تَفۡشَلَا الخ یعنی هرکله چی ستاسی څخه دوو
ډلوداخیال وکی چی بی همته سی، په داسی حال کی چی الله ﷻ د دواړو مددګاروو ددی دوو ډلو څخه
مراد داوس قبیله بنی حارثه اودخزرج قبیلی بنی سلمه دی ، دی دواړو ډلو دعبدالله بن ابی مثال ولیدی
په خپل ځان کی یی کمزوری اوبی همتی محسوس کړه لیکن دالله ﷻ فضل یی مدد وکی اوداوسوسه یی
زیاته نه سوه اوداخیال هم چی په دوی کی پیدا سو ، دا دخپل کموالی دسرو اوکموالی دسامان په بنا
باندی پیدا سوی وو ، دایمان دکمزوری په بنانه ووپیداسوی ، دغزاګانو تاریخ لیکونکی مشهورامام
اومؤرخ ابن هاشم داواضحه کړي ده اود وَاللّٰهُ وَلِیُّهُمَا جمله په خپله ددوی دکامل ایمان شهادت ورکوی ،
په دی وجه به ددی دواړو قبیلوخینی بزرګانو فرمایل چی که په دی آیت کی پرمونږ څه زورنه هم ده ،
لیکن د وَاللّٰهُ وَلِیُّهُمَا زیری هم هم زمونږ دپاره دی ، ددی آیت په آخرکی فرمایی چی: مسلمانانو لره په الله
پاك باندی اعتماد ساتل په کاردی په دی کی داخبره واضحه سوه چی دسروپه ډیروالی اوسازوسامان
باندی مسلمانانو لره اعتماد (باور) کول نه دی په کارپه قدردطاقت دمادی سامان جمع کولوڅخه
وروسته باور یوازی دالله تعالی پرذات باندی په کار دی ؛ بنوسلمه اوبنو حارثه ته چی کومه دکمزوری
اوکم همتی وسوسه پیداسوی وه هغه هم ددی مادی (ظاهری سازوسامان د) کمزوری په بناباندی وه ، په
دی وجه ددی وسوسی علاج یی توکل وښووی چی توکل اوباور ددی وسوسودپاره شفا ورکوونکی
نسخه ده ، توکل دانسان په صفتونوکی یولوی صفت دی ، تحقیق کوونکو صوفیانوددی په حقیقت
باندی په نفصیل سره بحثونه کړیدی ، دلته دومره قدری پوهیدل په کار دی چی دتوکل معنٰی دا نه ده
چی دهرقسم ظاهری اسبابوڅخه بالکل بی تعلقه سی په الله ﷻ اعتماد (باور) وکی بلکه توکل دادی چی
ټول ظاهری اسباب دخپل قدرت اوطاقت مطابق جمع اواختیارکړی اوبیایی نتیجه الله ﷻ ته وسپاری ،
اوپه دی ظاهری اسبابوباندی فخر اونازنه کوی ، بلکه باوریی یوازی په الله ﷻ وی ، دنبی کریم ﷺ
خویونه اواخلاق زمونږ په وړاندی دی په خپله په دی جهادکی دمسلمانانو لښکرمنظم کول دجنګ
دپاره، دخپل قدرت مطابق وسله اونوردجنګ سامان تیارول دجنګ محاذته ځان رسول اودوخت اومقام
مطابق دجنګ نقشه تیارول ، مختلفی مورچی جوړول اوصحابه کرام ﷺ په هغه کی کښینول اومقررول
وغیره دا ټول ظاهری انتظامونه وه چی زمونږ سردارنبی کریم ﷺ په خپلو لاسونو مبارکو باندی وکړل
اودایی وښودل چی داظاهری اسباب هم دالله تعالی نعمت دی، ددی دانتظام نه کولونوم توکل نه دی ،
دلته په مومن اوغیرمومن کی فرق یوازی دومره دی چی مومن ټول سامانونه اوظاهری طاقتونه دخپل
قدرت مطابق دجمع کولوڅخه وروسته باور اوتوکل یوازی په الله باندی کوی اوغیرمومن ته داروحانیت
حاصل نه وی ، دده باور یوازی په خپلوظاهری (مادی) اسبابو باندی وی ، اودافرق همیشه په ټولو اسلامی
غزاګانوکی ښکاره سوی اولیدل سوی دی ، ددی څخه وروسته دهغه غزا طرف ته خیال اوفکر راګرځول کیږی په
کمه کی چی مسلمانانو دکامل توکل اظهارکړی وو اوالله ﷻ دوی لره فتح اوکامیابی په کامله طریقه سره ورکړی
وه ، ارشاددی ، وَلَقَدۡ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدۡرٍ وَّاَنۡتُمۡ اَذِلَّةٌ یعنی هغه وخت یادکی کله چی الله ﷻ په بدرکی ستاسی مدد

Maktaba Tul Ishaat.com

کړي وو ، هرکله چي تاسي په شمارکې هم دري سوه ديارلس او هغه هم بې سروسامانه واست .
دبدر اهميت او د هغې محلِ وقوع: بدر دمديني منوري څخه داتيا ميلو په فاصله جنوب مغرب طرف ته ديو پړاو اومنډۍ نوم دی دغه وخت دی ځای ته ځکه اهميت حاصل وو چې دلته اوبه ډيري وي او دعربو په شګلنو ميدانونوکې دابيولوی شي دی ، دتوحيد او شرك په مينځ کې دلته دټولوڅخه اولنۍ جنګ دجمعې په ورځ درمضان مبارك په اوولسمه ۱۷سد۲نه هـ مطابق ۱۱ ، مارچ سنه۶۲۴ ع کې سوی وو ، داغزا خوپه ظاهره يومقامي جنګ معلوميږي ، حقيقت دادی چي دی ددنياپه تاريخ کې يولوی انقلاب (بدلون) پيدا کی په دی وجه د قرآن په ژبه کې دی ته يوم الفرقان (يعنی دحق او باطل فرق کوونکی) ويل سوي دی فرنګی تاريخ ليکونکو هم ددی داهميت اقرارکړي دی دامريکي پروفيسر (هتي) په خپل کتاب (هسټری آف دی عربين) ، يعنی دعربو تاريخ کې وايي ، دا داسلام ترټولو اوله ښکاره فتح وه .
وَاَنْتُمْ اَذِلَّةٌ: يعني تاسي دغه وغت په شمارکې لږاو په سامان کمزوري واست ، مسلمانان په شمارکې په قوی روايتونوسره دري سوه ديارلس وه ، په دی فوج کې آسان يوازي دوه وه ، او اوښان اوياوه چي خلګ به وربانديٰ په واروار سپريدل په آخري آيت کې فرمايي ، فَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ يعني دالله ﷻ څخه وبيريږی ددی دپاره چي تاسي شکر ګذارجوړسی ، قرآن کريم ځای پرځای دمنافقانو دمکر اوفريب اوسختو مخالفتونو دبدونتيجو څخه دمحفوظ پاته کيدو دپاره دتقوٰی اوصبر علاج ښوولی دی ، په دی دوو شيانوکې دټول تنظيمي جدا او جهد او دښکاره فتح راز پټ دی لکه چي مخکی ددی بيان سوی دی اودلته يې دصبر او تقوٰی پرځای يوازی پرتقوٰی باندی بس والی وکی، ځکه چي په حقيقت کې تقوٰی داسي جامع صفت دی چي صبرهم په دی کې شامل دی .

اِذْ تَقُوْلُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ اَلَنْ يَّكْفِيَكُمْ اَنْ يُّمِدَّكُمْ رَبُّكُمْ بِثَلٰثَةِ اٰلٰفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُنْزَلِيْنَ ﴿۱۲۴﴾

هرکله چي وويل تامسلمانانوته چي ای کافي نه دی تاسي لره دمدد دپاره چي راوليږي رب ستاسي دري زره ملائکي دآسمان

بَلٰٓى اِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا وَيَاْتُوْكُمْ مِّنْ فَوْرِهِمْ هٰذَا يُمْدِدْكُمْ

څخه راکښته کوونکي دی، البته که تاسي صبروکی اوخان موو ساتي او دوی راسي په تاسي باندی يو دم نومدد

رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ اٰلٰفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِيْنَ ﴿۱۲۵﴾ وَمَا جَعَلَهُ

به وليږی رب ستاسي پنځه زره ملائکي په نښاندارو آسونو باندی ، او دا خو الله ﷻ

اللّٰهُ اِلَّا بُشْرٰى لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوْبُكُمْ بِهٖ ؕ وَمَا النَّصْرُ اِلَّا

ستاسي زره خوشحاله کی او ددی دپاره چي تسکين وسي ستاسي د زړونو په دی ، اومدد صرف دالله ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com

مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ﴿۱۲۶﴾ لِيَقْطَعَ طَرَفًا مِّنَ الَّذِيْنَ

دطرف څخه دی چی زبردست دی حکمت والا ، ددې دپاره چی هلاك کړی څيني کافران ،

كَفَرُوْٓا اَوْ يَكْبِتَهُمْ فَيَنْقَلِبُوْا خَآئِبِيْنَ ﴿۱۲۷﴾ لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ

یا دوی ذلیله کړی نو بیا به سی دوی محرومه ، ستا هیڅ اختیار نسته

شَيْءٌ اَوْ يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ اَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَاِنَّهُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۲۸﴾

یا به دوی ته توبه ورکړی الله ﷻ یا به یی عذاب کړی چی دوی په ناحقه دی ،

وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ

اوخاص دالله مال دی هرڅه چی په اسمانونو کی دی اوڅه چی په مځکه کی دی ، بخښی چالره چی وغواړی

وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۲۹﴾ ع

او عذاب ورکوی چالره چی وغواړی او الله بخښنی والا مهربانه دی .

لنډتفسیر: د اِذْتَقُوْلُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ څخه تر فَيَنْقَلِبُوْا خَآئِبِيْنَ پوری (په بدر کی دالله ﷻ داامدادهغه وخت سوی وو) کله چی تا (ای محمده ﷺ) مسلمانانو ته داسی وویل چی ایا تاسولره (دزړه کلکولو دپاره) به داکارپوره نه وی چی ستاسی رب ستاسی امدادوکړی په دری زره ملائکو سره (چی ددی کاردپاره دآسمان څخه) راکښته کړل سی (ددی څخه معلومیږی چی دلویی درجی ملائکی به وی که نه وی نوکومی ملائکی چی دمځکی څخه په مځکه موجودی وی دهغوی څخه هم داکار اخستل کیدی سوای (روح) بیادلوړ استفهام (سوال جواب په خپله داسی فرمایی) هو ، ولی نه (پوره به وی تردی وروسته په دی امدادکی دنور زیات وعده داسی فرمایی چی دمقابلی په وخت کی) که ثابت قدم پاته سواست اوپرتقوی ولاړ واست (یعنی دحکم منلوڅخه خلاف مویو کارونه کی) اودغه خلق پرتاسی په یووارحمله وکړی (په کوم کی چی بیاعادةً دیو چامخلوق څخه کومك رسیدل گران سی) نوستاسی رب به ستاسی امداد وفرمایی په پنځه زره ملائکو سره چی په یوخاص شکل سره به جوړی سوی وی (لکه په عاموجنگونوکی چی دخپل فوج دپیژندو دپاره یوخاصه وردی (دریشی) وی ، مخ ته اوس ددی امداد دحکمت بیان دی اوالله ﷻ داامداد دملائکو) په دی وجه ستاسی سره وکی چی ستاسی دپاره (دغلبی اوفتح) زیری وی اوستاسوزړونه په دی باندی په قرارسی اوفتح (اوغلبه) خوصرف دالله ﷻ دطرفه څخه ده چی زبردست دی (چی داغسی هم غلبه ورکولی سی لیکن) حکیم (هم) دی (نوکله چی حکمت اومصلحت په دی کی وی چی داسبابوپه ذریعه دی غلبه

ورکړل سي نو هم دغسي اسباب پیداکوي ، داخو دملائکو دامداد دحکمت بیان وواوس مخ ته ددغه حکمت بیان دی چي دافتح اوغلبه تاسولره ولي درکړل سوه نوپه دی وجه یی ارشاد وفرمایی چي) ددی دپاره چي په کفاروکی یوه تولی هلاکه کړی (نودکافرانو اویاسرداران مړه کړل سوه) یاپه دوی (کی خینی) ذلیل اوخوارکړی بیابه دوی ناکامه واپس سی (یعنی په دی دواړوکی به دیوی څخه یوه خبره خامخا وسی ، اوکه دواړه وسی نوزیاته بهتره ده نودا دواړی خبری وسوی چي اویا سرداران یی مړه سوه او اویاقیدسوه ذلیله سوه اوپاته په ذلت اوخواری سره وتښتیده)

د لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ څخه تر غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ پوری (ای محمده ﷺ) تاسی لره (دچاچي په کفر کیدواو مسلمان کیدوکی په خپله) هیڅ دخل نسته (برابره خبره دعلم دخل وی اوکه دقدرت بلکه داټول دخدای پاك ﷻ په علم اوپه قبضه کی دی تالره صبرپه کار دی) ترڅو چي خدای پاك پردوی باندی (په رحمت سره) متوجه سی (یعنی دوی ته داسلام توفیق ورکی نوپه دغه وخت کی به صبرپه خوشحالیو سره بدل سی) اویادوی لره (خاص په دنیاکی) څه سزا ورکړی (نودغه وخت به صبردزړه په سکون سره بدل سی ، اوددنیاسزاڅه بی ځایه هم نه ده) ځکه چي دوی ظلم هم ډیرزیات کړي دی (مراددی څخه شرك اوکفردی لکه چي فرمایي اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ مخ ته ددی مضمون تاکیددی) اوخاص دالله ﷻ ملکیت دی هرڅه چي په آسمانونوکی او هرڅه چي په مځکه کی دی ، هغه چاته چي وغواړی وبه یی بخښی (یعنی اسلام به یی نصیب کړی چي په دی سره به دده بخښنه وسی) اوچالره چي وغواړی عذاب به ورکی (یعنی اسلام به یی نصیب نه سی اوپه دی وجه به په همیشه عذاب کی وی) اوالله ﷻ ډیر لوېه بخښنه کوونکی (او) لوی رحمت کوونکی دی (نوپه بخښنه کی خویې هیڅ تعجب نسته ځکه چي رحمت دهغه مځکی دی نوپه دی وجه یی دعذاب ورکولو وجه لوړه بیان کړه: فَاِنَّهُمْ ظٰلِمُوْنَ)

معلومات اومسئلي

﴿دملائکو دامداد لیږلو حکمت اواصل مقصد اودملائکو په شمار کي دمختلف شمار بیانولو حکمت﴾

دلته دانسان دطبعیت مطابق یوداسوال دی چي الله ﷻ خوخپلو ملائکولره دومره طاقت ورکړي دی چي دپوره ښارتخته چپه اړولای سی لکه چي دلوط ﷺ دقوم مځکه یوازی جبرائیل امین ﷺ چپه اړولی وه نوبیاد ملائکو لښکر لیږلوته څه ضرورت وو؟ اودارنګه داچي کله ملائکی میدان ته راغلی وی نو بیا خو په کار وه چي یوکافرهم خلاص نه وای پاته سوی ، نو ددی جواب خوپه خپله قرآن کریم په دی آیت وَمَاجَعَلَهُ اللّٰهُ اِلَّابُشْرٰی کی ورکړي دی چي دملائکو دلیږلوڅخه دجنګ میدان فتح کول مقصودنه وو ، بلکه دجهادکوونکو مسلمانانو تسلی اودزړه مضبوط تیا اود فتح زیری ورکول ورڅخه مقصود وو: لکه ددی آیت دالفاظو، اِلَّا بُشْرٰی او لِتَطْمَئِنَّ بِهٖ قُلُوْبُكُمْ څخه چي واضحه ده ، اوتردی زیات واضح دسورت انفال په دی واقعه کی راغلی الفاظ دی: فَثَبِّتُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا په دی کی ملائکوته خطاب دی چي ددوی پرذمه داکاردی چي دمسلمانانو زړونه مضبوط کړی اوپریشانه کیدوته یی پاته نه کړی دزړه مضبوطولومختلف صورتونه کیدی سی یوداهم دی چي په خپل تصرف سره ددوی زړونه مضبوط کړی لکه چي دصوفیانو

Maktaba Tul Ishaat.com

مشائخو داکاردی چی دخپلو مریدانو زړونه په تصرف سره مضبوطوی اوداهم کیدی سی چی مسلمانانو ته په مختلفو طریقوسره دابنکاره کړی چی دالله تعالی ملائکی ددوی دامداد دپاره ولاړی دی ، کله یی مخ ته بنکاره سی ، کله په آواز سره کله په بلی طریقی سره لکه چی په میدان دبدرکی داټولی طریقی استعمال سوی وی ، په آیت فَاضْرِبُوْا فَوْقَ الْاَعْنَاقِ کی یوتفسیردادی چی داخطاب ملائکوته دی اودحدیث په ځینو روایاتوکی دی چی ملائکی به چی کله پرمشرك دحملی اراده وکړه نودهغه سربه په خپله دبدن څخه جلاسو (لکه چی روایت دی دسهل بن حنیف ﷺ څخه په روایت دحاکم اوپه تصحیح دبیهقی) اوځینی صحابه کرامو ﷺ دجبرائیل ﷺ آوازهم اوریدلی دی چی: اقدم حیزوم یی فرمایل اوځینوپه خپله ملائکی هم لیدلی دی (رواه مسلم) دا ټول لیدل کتل ددی زنځیرکړی دی چی دالله ﷻ ملائکو مسلمانانو ته دخپل کومك دیقین ورکولو دپاره څه څه کارونه داسی هم کړي دی چی ګویادوی هم په جنګ کی شریك دی اوپه اصل کی د دوی کار مسلمانانو لره تسلی ورکول او د دوی زړونه مضبوطول وو دملائکو په ذریعه میدان جنګ فتح کول مقصود نه وو ، ددی یوبنکاره دلیل داهم دی چی په دی دنیا کی دجنګ اوجهاد فرض پرمسلمانانو وراچول سوي دی اوپه دی سره دوی ته فضیلتونه او درجی حاصلیږی که الله ﷻ داسی کولای چی دملائکوپه ذریعه یی ملکونه فتح کولای نوپه دنیاکی به دکفر اوکافر نوم هم نه وای پاته سوی ، دحکومت اوبادشاهی دکافرانوخوبه ګرسره سوال نه پیداکیدی ، مګرقدرت په دی کارخانه کی دالله تعالی منشاء دانه ده، دلته خوکفر اوایمان، عبادت اوګناه، اطاعت اونافرمانی یوځای چلیږی ، ددوی دصفایی دپاره دقیامت ورځ ده ، پاته سوه دامعامله چی دبدرپه جهادکی دالله > دملائکو دمدددپاره چی کمی وعدی راغلی دی، په دی کی دسورت انفال په آیت کی دیوزرو وعده ده اودآل عمران په دی ذکرسوی آیت کی اول ددرو زرو بیادپنځو زرو وعده ده ، په دی کی څه حکمت دی ؟ خبره داده چی دسورت انفال په دغه ځای کی ذکردی چی کله دبدرپه میدان کی مسلمانانو دمخالفینو شمار یوزرولیدی اودوی شماردری سوه دیارلس وونودالله تعالی په دربارکی یی فریاد وکی نو د دوی سره دزروملائکو دراليږلو وعده وسوه چی ددښمن دلښکر هومره به زه ملائکی درولیږم ، دآیت الفاظ دا دی ، اِذْ تَسْتَغِيْثُوْنَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ اَنِّيْ مُمِدُّكُمْ بِاَلْفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُرْدِفِيْنَ اوتردی آیت وروسته یی هم دملائکو دکومك لیږلو دغه مقصد ظاهرکی چی دمسلمانانو زړونه په جمع سی اودفتح زیری ورته وسی نوددی څخه وروسته دآیت الفاظ دادی : وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ اِلَّا بُشْرٰى وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوْبُكُمْ اودسورت آل عمران په دی ذکرسوی آیت کی ددرو زرو ملائکو وعده شایدپه دی بناسوی ده چی دبدرپه میدان کی مسلمانانوته خبر ورسیدی چی کرزبن جابر محاربی دخپلی قبیلی دلښکرسره دمکی دمشرکانو کومك ته را روان دی (لکه داسی په روح المعانی کی دی) دلته ددښمن شمار دمسلمانانو مخکی هم دری چنده وونو مسلمانان په دی خبره پریشان غوندی سوه نوددری زره ملایکو وعده ورسره وسوه چی معامله سرچپه سی اود مسلمانانو شمیر دکافرانو دری چنده سی .

بیایی ددی آیت په آخرکی دغه شمارپه یوځوشرطونو سره زیات کی پنځه زره یی کی، هغه شرطونه دوه

وه، یوداچې که مسلمانانو دصبر اوتقوی پرلوړ مقام باندې ولاړپاته سي دوهم داکه دښمن په دوی په یو واړ په جمع حمله وکړي، لیکن په دې دوو شرطونو کې دوهم شرط چې په جمع حمله وه واقع نه سو نو په دې وجه دپنځو زرو دشمار لیږلووعده هم پاته نه سوه، بیاپه دې کې دتفسیر اوتاریخ داامامانوخبرې مختلفې دي، چې که څه هم دوعدې داشرط واقع نه سوخو بیاهم داوعده دپنځو زرو په صورت کې پوره سوه اوکه یوازې ددرو زرو په صورت کې دامختلفې خبرې په روح المعاني کې ذکردي، آیت لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ ددې ځای څخه بیاد اُحد داصلي قصې وطرف ته راګرځي، په مینځ کې په لنډو الفاظوسره دبدر دقصې ذکر راغلی وو اوسبب دنزول ددې آیت دادی چې په دې غزا داحد کې دحضور اقدس ﷺ غاښونه مبارکان کوم چې دمخامخ دوه لاندې اودوه باندې غاښونو دواړو طرفوته څلور غاښونه دي (رُباعيات) دوه راسته طرف ته یولاندې اوبل لوړ اودوه چپه طرف ته یولاندې اوبل لوړپه دوی کې دراسته طرف لاندې غاښ مبارك یې شهید سو اومخ مبارك یې زخمي سونو دده ﷺ په ژبه مبارکه دا الفاظ راغله چې (داسې قوم به څه خیر پیداکې چاچې دځپل نبي سره داسې وکړه، حالانکه دغه نبي دوی دخدای ﷺ طرف ته رابولي) دغه وخت دا آیت نازل سو، په بخاري کې یوه قصه بله هم نقل سوي ده چې ده ﷺ ځینې کفارو ته ښرا وی هم کړې وی، په دې باندې دا آیت نازل سو، چې په دې کې نبي کریم ﷺ ته دصبر اوتحمل تعلیم ورکول سوي دی (دبیان القرآن څخه په لنډو الفاظوکې)

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا الرِّبَا أَضْعَافًا مُضَاعَفَةً وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ

ای ایماندارو! مه خورئ سود دوچند په دوچند او وبیریږئ دالله څخه چې

تُفْلِحُونَ ﴿۱۳۰﴾ وَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ ﴿۱۳۱﴾

تاسې به خلاص سئ، اوځان ساتئ دهغه اور څخه چې تیارسوی دی کافرانو دپاره.

لنډتفسیر: ای ایماندارو! سودمه خورئ (یعنې مه اخلئ داصل څخه) څوحصې زیاتې (کړې) اودالله ﷺ څخه وبیریږئ امید دی چې تاسې به کامیاب سئ (یعنې جنت به مو نصیب سئ او د دوزخ څخه به خلاص سئ) اودهغه اورڅخه ځان وساتئ کوم چې (په اصل کې) دکافرانو دپاره تیارسوی دی (او د اورڅخه دخلاصیدو صورت دا دی چې دسود او حرامو کارونو څخه ځان وساتئ)

معلومات اومسئلې: په دې آیت کې دسود خوړلو دحرموالي اومنعې دبیان سره دأَضْعَافًا مُضَاعَفَةً ذکر دحراموالي قید نه دی، بلکه دسود دناکاروالي دښکاره کولودپاره دی ځکه چې په بل آیت کې مطلق دربوا دحراموالي بیان په سختۍ اوتاکید سره راغلی دی چې تفصیل یې په سورة بقره کې تیرسوي دی، او دأَضْعَافًا مُضَاعَفَةً په ذکرکې دې طرف ته هم اشاره کیدی سي چې دچاچې سودخوړل عادت سي، نو برابره خبره ده که دې داصطلاحي سودِ مرکب څخه یعنې دسود دَر سود معاملې څخه پرهیزهم وکې خو دسود څخه حاصله سوی ګټه کله چې دې دوباره په سودچلوی نوخامخا اضعاف مضاعف جوړیږي، که

Maktaba Tul Ishaat.com

څه هم دسود خورو په اصطلاح کی دی ته سود مرکب یعنی سود د‌رسود نه وایی ، ددی حاصل دا دی چی هر یو سود آخر اضعاف مضاعف کیږی .

وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿١٣٢﴾ وَسَارِعُوا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ

او حکم منی دالله او درسول چی په تاسی رحم وسی ، او تلوار کوی بخښنی طرف ته دخپل رب

وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ ﴿١٣٣﴾

او جنت طرف ته چی پلنوالی یی داسمان او مځکی هومره دی ، تیار سوی دی دپرهیزگارانو دپاره .

لنډتفسیر: او په خوشحالی سره خبره ومنی دالله ﷻ او(دهغه) درسول ﷺ امید دی چی په تاسی به رحم وسی (یعنی په قیامت کی) اومنډوهی دبخښنی طرف ته چی ستاسی د پروردگار دطرف څخه (نصیب دی او (منډوهی) دجنت طرف ته (مطلب دادی چی داسی نیك کار اختیارکړی چی په هغه سره پروردگار تاسی وبخښی اوتاسی ته جنت درکی او هغه جنت داسی دی) چی لوی والی یی داسی (خو) دی لکه ټول آسمانونه اومځکی (اوتر دی دزیات نفی نسته لکه چی په واقع کی تردی هم زیاتوالی ثابت دی او) هغه تیار سوي دی دخدای ﷻ څخه دبیریدونکو دپاره .

معلومات اومسئلي: په ذکر سوی آیت کی دوی مسئلی زیاتی مهمی دی اول داولنی آیت مضمون چی په دی کی د الله ﷻ دحکم منلو سره درسول دحکم منلو هم حکم سوی دی ، په دی کی داخبره دفکرقابله ده چی که درسول اطاعت بعینه دالله ﷻ اودهغه د رالیږل سوی کتاب قرآن داطاعت (حکم منلو) نوم وی ، نوبیاددی ځان ته دبیانولو ضرورت څه دی اوکه په دی دواړوکی څه فرق وی نوهغه فرق څه دی ؟ دوهمه خبره چی همیشه دیاد ساتلو اوپه خپل عملی ژوندکی ددی دقبلی جوړولو قابله ده ، هغه صفتونه اونښی نښانی دی چی الله تعالی دخپلو مقبولو اوپرهیزگارو بندگانو دپاره په دی آیتونوکی ښوولی دی چی د الله تعالی اودرسول اطاعت (حکم منل) محضی په زبانی جمع خرڅ سره نه کیږی بلکه دحکم منونکو څه صفتونه او حالات وی چی په هغوی سره دوی پیژندل کیږی .

(درسول اطاعت دالله ﷻ څخه دجلا بیانولو حکمت)

اوله مسئله : یی په اولنی لنډآیت کی داسی بیان کړه ، أَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ، یعنی دالله ﷻ او درسول اطاعت کوی چی پرتاسی رحم وسی ، په دی کی یی دالله تعالی درحمت دپاره لکه څنگه چی دالله ﷻ حکم منل هم لازم کړي دی دغه شان یی درسول الله ﷺ حکم منل هم ضروری اولازم کړي دی ، اودابیاصرف په دی آیت کی نه په ټول قرآن کی وار وار ددی تکرارپه داسی شان سره دی چی کوم ځای دالله ﷻ دحکم منلو حکم دی هلته درسول دحکم منلوذکرهم ځان ته سوي دی ، دقرآن کریم داپرله پسی اومسلسل ارشادات دیوه انسان داسلام اوایمان دبنیادی اصولو وطرف ته مخ کوی چی که دایمان اولنی جزء دخدای ﷻ دوجود دهغه دیوالی اودهغه دحکم منلو اقرار کول دی نودوهم جزء یی درسول تصدیق

Maktaba Tul Ishaat.com

اودهغه حکم منل دي اوس دلته دفکرکولو داخبره ده چي د قرآن کريم دارشاداتوڅخه داهم ثابته ده چي رسول کريم ﷺ چي څه فرمايي هغه ټول دخداي ﷻ په اذن باندي وي دخپل طرف څخه هيڅ هم نه وي لکه چي ارشاد دي وَمَايَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى اِنْ هُوَ اِلاَّ وَحْيٌ يُوْحٰى يعني رسول کريم ﷺ چي څه وايي هغه دخپل خواهش څخه نه وايي ، بلکه هغه ټول دالله ﷻ دطرفه څخه وحي وي نومطلب يې داسوچي درسول حکم منل بعينه دخداي پاك حکم منل دي ددي څخه جلا بل څه شي نه دي ، دسورت نسآء په آيت ۲۹ کي په خپله قرآن کريم هم په دي الفاظوکي داپه ډاګه کړي ده ، مَنْ يُطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ چاچي درسول تابعداري وکړه نو ده دالله ﷻ تابعداري وکړه ، نو اوس سوال داپيداکيږي چي خبره داسي ده نو بيا ددي دواړو اطاعتونو په جلاجلابيانولوکي څه فائده ده؟ اوخاص بيادومره التزام اواهتمام سره چي په ټول قرآن کريم کي هرځاي ددواړو اطاعتونوپريوه يوه ځاي حکم ورکول کيږي په دي کي داراز دي چي الله ﷻ ددنياداهدايت دپاره يوکتاب راليږلي دي اويورسول ، درسول په ذمه يې دا کارونه مقررکړي دي؟ اول دا چي د قرآن حکيم آيتونه په صحيح صورت اوهم په دغه لب اولهجه کي خلقوته ورسوي په کم صورت اولب ولهجه کي چي دوي نازل سوي دي ، دوهم داچي دي خلق دظاهري اوباطني پليتيو څخه پاك کړي ، دريم داچي ددي کتاب دمضامينو امت ته تعليم ورکړي او ددي کتاب مقصدونه بيان کړي ، دارنګه داچي دي دکتاب دبيان سره سره دحکمت تعليم ورکي دامضمون دقرآن کريم په ډيروآيتونوکي تقريبًاپه يوعنوان سره راغلي دي ، يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ : نو معلومه سوه چي درسول په منصبي فرائضوکي صرف يوازي دا خبره داخله نه ده چي دي قرآن حکيم خلقوته ورسوي بلکه دده تعليم او وضاحت کول هم درسول ذمه واري ده اوداهم ښکاره خبره ده چي درسول کريم مخاطب دعربوفصيحان اوبليغان خلق وه ، هغوی ته دقرآن دتعليم دامعنی نه سي کيدی چي محض د قرآن دالفاظو لغوی معنی دوی ته وښوول سي ځکه چي هغوی ټولوته دځانه دامعنی زده وه بلکه ددوی دتعليم اووضاحت مقصدصرف داوو اوداکيدی سي چي قرآن کريم يوحکم په مجملو يامبهمو الفاظوکي بيان کړي دي ددي تشريح اوتفصيل نبي کريم ﷺ دهغه وحي په ذريعه سره خلقوته ورسوي کومه چي دقرآن کريم په الفاظوکي نه دي راغلي بلکه الله ﷻ د دوی په زړه مبارك کي اچولي ده ، دکوم طرف ته چي دقرآن په آيت اِنْ هُوَ اِلاَّ وَحْيٌ يُوْحٰى کي اشاره ده ، مثلاًپه قرآن کريم کي په بي شماره ځايونو کي صرف په اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ فرمايلو باندي اکتفاء کړي ده کوم ځاي چي دلمانځه په معامله کي دقيام رکوع اوسجدي ذکرهم راغلي دي خوهغه هم بالکل مبهم دي دطريقو ذکر يې نسته ، نبي کريم ﷺ ته جبرائيل امين په خپله راغلي دي اودالله ﷻ په حکم يې ورته وښوول ، او دوی هم په دغه طريقه په ويناوپه کولوسره (يعني په قول اوفعل سره) امت ته ورسول ، دزکوٰة مختلف نصابونه اوپه هرنصاب باندي دزکوٰة مقدارمقررول بيادا خبره چي په کوم مال باندي زکوٰة سته اوپرکوم نسته اودنصاب په مقدارونوکي څومره حصه معاف ده داټول تفصيلونه نبي کريم بيان کړي دي او ددی خطونه يې وليکل ډيروصحابه کراموته يې وسپارل يالکه مثلاً قرآن حکيم حکم وکي چي ، لاَ تَاْكُلُوْا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ : ديوبل مالونه په خپل مينځ کي په ناحقه اوباطله طريقه سره مه خوری ، اوس ددی

داتفصيل چي په رواجي معاملوكي بيع شرا يعني اخستلو خرڅولو اواجاره كي كوم صورتونه ناحقه او دبې انصافي ياعواموته دضرر رسولوپه وجه باطل دي دا نبي كريم ﷺ دخداى ﷻ په حكم سره امت ته ښوولي دي ، دغه شان دټولو شرعي احكامو هم دغه حال دى نو داټول تفصيلونه نبي كريم ﷺ دخپل فرض داداكولو دپاره د الله تعالى په وحى سره امت ته رسولي دي، چونكې داتفصيلونه په قرآن شريف كي نه دي ذكرسوي ، په دې وجه داكيدى سوه چي څيرې يوناپوه په دې كي دوكه (غلط) سي ، چي داتفصيلي احكام دخداى تعالى په راليږلو احكاموكي نسته نودخداى په اطاعت كي په دې عمل كول ضروري نه دي په دې وجه الله ﷻ په ټول قرآن كريم وار وار دخپل حكم منلوسره سره درسول حكم لازمي كړى دى چي داهم په حقيقت كي دالله ﷻ حكم منل دي مګردظاهري صورت او دتفصيل بيان په اعتبارسره ددې څخه څه مختلف هم دى په دې وجه يې په واروار تاكيد كولو سره وښووله چي نبي كريم ﷺ تاسوته څه حكم وكي دغه هم دالله ﷻ اطاعت ګڼي اومنى يې ، برابره خبره ده په قرآن كريم كي په وضاحت سره وى اوكه نه وى ، دامسئله چونكې ډيره ضروري مسئله وه اوديوناپوه په دې باندې ددوكه (غلط) كيدوڅخه علاوه داسلام ددښمنانو دپاره په اسلامي اصولوكي دګډوډى خپرولو اودمسلمانانو دصحيح لارې څخه دغلطولوهم يوموقع په لاس ورتله ، په دې وجه قرآن كريم دمضمون صرف په لفظ داطاعت درسول سره نه بلكه په مختلفو عنواناتو سره يې امت محمدى (پرصاحب ددوى دې درود اوسلام وى) ته وښووله ، مثلاً ددوى په فرائضوكي يې دكتاب دتعليم سره دحكمت دتعليم زياتوالى هم وكي ، دې طرف ته يې په دې اشاره وكړه چي په كتاب سربيره نور څه هم د دوى په تعليماتوكي داخل دي او دهغه تابعدارى هم په مسلمانانو باندې واجب ده كوم چي په لفظ دحكمت سره يې ورڅخه تعبيركړي دي يوځاى يې ارشاد فرمايلى دي چي ، لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَانُزِّلَ اِلَيْهِمْ يعني درسول دراليږلو مقصددا دي چي خلقو ته په دوى دنازل سوو آيتونو مطلبونه اومقصدونه اوشرحې بيان كړي اويوځاى ارشاددى چي ، مَاآتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَانَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا : يعني چي رسول تاسي ته څه دركوي هغه اخلئ اودكوم څخه چي تاسي منع كوي دهغه څخه منع سي ، دا ټول انتظام ددې خبرې دپاره سوى دى چي صباڅوك داسې ونه وايي چي مونږخو صرف دهغه احكامو پابندیوكوم چي په قرآن كريم كي راغلي دي اوكوم احكام چي په قرآن كريم كي پيدانه سي په هغه مونږنه نيول كيږو نبي كريم ﷺ ته غالباچي داخبره ښكاره سوې وه چي په څه زمانه كي به داسې خلق پيداسي چي درسول دتعليماتو اوتشريحاتو څخه دځان خلاصولو دپاره به دادعوٰى وكي چي مونږلره دالله كتاب كافي دى ، په دې وجه په يوحديث كي ښه په وضاحت سره يې ددې ذكر وفرمايى كوم چي ترمذي ، ابوداود، ابن ماجه، بيهقي اوامام احمد ، په خپلو كتابونو كي په دې الفاظوسره نقل كړي دي .

لَاأُلْفِيَنَّ اَحَدَكُمْ مُتَّكِئًا عَلٰى اَرِيْكَتِهٖ يَاْتِيْهِ الْاَمْرُ مِنْ اَمْرِيْ مِمَّا اَمَرْتُ بِهٖ اَوْ نَهَيْتُ عَنْهُ فَيَقُوْلُ لَا اَدْرِيْ مَاوَجَدْنَا فِيْ كِتَابِ اللهِ اتَّبَعْنَاهُ

داسې دې ونه سي چي زه په تاسي كي يوڅوك داسې پيدا كړم چي ده په خپل مسند تكيه لګولې بې غمه ناست وى اوماچي دكوم شي حكم كړى وى يامې دڅه شي څخه منع كړي وى دهغه په باره كي دې ووايي چي مونږ دانه پيژنوزمونږ دپاره خودالله كتاب كافي دى څه چي په هغه كي مو پيدا كړي دى دهغه تابعدارى كو

Maktaba Tul Ishaat.com

لنده دا چې دالله ﷻ داطاعت سره هرځای درسول ﷺ داطاعت وار وار ارشاد اوبیاپه مختلفو عنوانونو سره درسول ﷺ دښوول سوو احکامو دمنلوهدایات داټولې خبرې ددې خطرې په وجه دي چې هسې نه یوځوك درسول ﷺ په احادیثوکې بیان سوي تفصیلات دقرآن څخه جلا اودخدای تعالی داطاعت څخه يې جلاونه ګڼي انکار ورڅخه ونه کړي ، ځکه چې په حقیقت کې جلا نه دي.

گفته او گفته الله بود ❁ گرچه از حلقوم عبد الله بود

دهغه خبره دالله خبره وي که څه هم دعبدالله (پيغمبر) دخولې څخه وي ، په دوهم آيت کې يې دمغفرت اوجنت طرف ته دمخکې کیدو اوتلواری حکم ورکړي دی دالله ﷻ اود رسول ﷺ داطاعت څخه وروسته يې دا دوهم حکم وکی دلته دمغفرت څخه مراد سببونه دمغفرت دي يعنی هغه اعمال صالحه کوم چې دالهٰی بخښنې سبب جوړيږي دصحابه وو﷡اوتابعينوڅخه ددې مختلف تفسیرونه نقل سوي دي ليکن مضمون دټولو يودی ، حضرت علي ﷛ ددې تفسیر په ادا کولو دفرضو سره کړي دی ، حضرت ابن عباس ﷛ په اسلام سره ابوالعاليه په هجرت سره ، انس بن مالك ﷛ په تکبیر اولی سره سعيد بن جبیر﷛ په اداکولو دطاعت سره ضحاك په جهاد سره ، عکرمه په توبه سره کریدی ددې ټولو قولونو حاصل دادی چې دمغفرت څخه مرادهغه ټول نيك عملونه دي چې د الله ﷻ دمغفرت وجه اوسبب جوړيږي په دي مقام کې دوی خبری دفکر قابلې دي اوله خبره دا ده چې په دې آيت کې دمغفرت اوجنت طرف ته دوړاندې کیدو اوتيزيدو حکم ورکول کيږي حال دا دی چې په بل آيت کې يې ، لَاتَتَمَنَّوْا مَافَضَّلَ اللهُ بِهٖ بَعْضَكُمْ عَلٰى بَعْضٍ فرمايلې دي دنورو فضيلتونو دحاصلولو دآرزو کولوڅخه يې منع کړي ده ددې جواب دا دی چې فضائل په دوه قسمه دي ، يوهغه فضائل دي چې دهغه حاصلول دانسان دوس اوطاقت څخه بهردي چې دی ته غیراختیاری فضائل وايي لکه دچاسپين رنګ يابښائست يادلوی خاندان څخه کيدل وغيره ، دوهم هغه فضائل دي چې انسان يې په خپل محنت اوکوشش سره حاصلولی سي دی ته اختیاری فضائل وايي ، په غیراختیاری فضيلتونوکې دنورو فضيلتونو دحاصلولوڅخه بلکه دآرزوکولوڅخه يې په دي وجه منع سوي ده چې دغه الله ﷻ دخپل حکمت مطابق په مخلوق کې تقسيم کړي دي دهيچادکوشش په دي کې دخل نسته نوپه دی وجه هغه فضيلتونه چې په کوشش او آرزوسره ګر سره حاصليدی نه سي نو ماسوا دبغض اوحسد څخه به نورهيڅ شی ده ته حاصل نه سي اونه به ورته څه فايده ورسيږي مثلا يوسړی تور دی او دی دسپينوالی آرزو کوی نوڅه نتيجه به ورڅخه وځی البته کوم چې اختياری فضيلتونه دي پردی دوړاندی کيدو اومقابلې حکم ورکول سوي دی اوداصرف په يوآيت کې نه بلکه په ډيروآيتونوکی راغلی دی په يوځای کې ارشاد دی ، فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَات په بل ځای کې ارشاد دی ، وَفِيْ ذٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُوْنَ ، يو بزرګ فرمايلی دي چې که په يوانسان کې څه داسې پيدا ينښتی اوطبعي کوتاهی (کمی) وی چې دهغه ليری کول دده تروس وتلی وی ، نو ده ته په کار دي چې په دی خپلی کوتاهی (کمی) باندی صبرکوونکی اوسی خپل کاردی کوی او دنورو کمال ته دی نه ګوری ، ځکه چې که دی په خپلی کمی باندی افسوس اودنورو پرکمال باندی حسدکول شروع کی نو بیابه دی دخپل هغه کار څخه چې دی يې

Maktaba Tul Ishaat.com

کولی سی ، ووزی او بالکل به خراب سی .

دوهم شی چی دلته دغور کولو قابل دی هغه دا دی چی الله ﷻ مغفرت په جنت باندی وړاندی کړي دی ، په دی کی کیدی سی چی دی کار طرف ته اشاره وی چی دجنت حاصلول د الله تعالی دمغفرت څخه بغیر ممکن نه دی، ځکه چی انسان که ټول عمر هم نیکی کوی او دګناهونو څخه ځان ساتی، بیاهم دده ټول عملونه دجنت بدل نه سی کیدی، جنت ته بوتلونکی صرف یوشی دی او هغه دالله تعالی مغفرت دی اودهغه فضل دی نبی کریم ﷺ فرمایی .

سَدِّدُوْا وَقَارِبُوْا وَاَبْشِرُوْا فَاِنَّهُ لَنْ يُّدْخِلَ اَحَدَ الْجَنَّةَ عَمَلَهُ قَالُوْا وَلَااَنْتَ يَارَسُوْلَ اللهِ قَالَ وَلَااَنَا اِلاَّ اَنْ يَّتَغَمَّدَنِيَ اللهُ بِرَحْمَتِه

(ترغیب وترهیب بحواله بخاری ومسلم)

یعنی راستی اوحق اختیار کی ، درمیانه لار اختیار کی (اودالله دفضل) زیری حاصل کی دیوه سړی عمل دی جنت ته نه سی رسولی خلګو پوښتنه وکړه اوستاعمل هم یارسول الله وی فرمایل زما عمل هم ما جنت ته نه سی رسولی مګر داچی الله تعالی ما په خپل رحمت کی پټ کی) حاصل دا دی چی زمونږ عملونه دجنت قیمت نه دی لیکن دالله ﷻ عادت دادی چی الله ﷻ په خپل فضل سره دابنده نازوی ، کوم چی نیک عمل کوی بلکه چاته چی دنیکو عملونو توفیق وسی نودغه نښانه یی ده چی الله دده څخه راضی دی نوپه دی وجه دنیکو عملونو په ادا کولو کی هیڅکله هم کوتاهی نه دی کول په کار معلومه سوه چی جنت ته دداخلیدو اصلی باعث اوسبب د الله ﷻ مغفرت دی نو ځکه یی دمغفرت داهمیت په وجه مطلق مغفرت ونه فرمایی ، بلکه ، مَغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ یی وفرمایل ، درب والی په صفت بیانولو کی دزیات خوند مهربانی اواحسان ښکاره کول مقصود دی ، دوهم شی دکوم طرف ته چی دمنډو وهلو (ځغستلو) حکم ورکول کیږی هغه جنت دی اودجنت په باره کی یی فرمایلی دی چی ددی پلنوالی دومره دی لکه څومره چی ټول آسمانونه اومځکی دی ، دانسان په دماغ کی دآسمان اومځکی دپراخ والی څخه بل لوی پراخ والی نه سی راتلی ، په دی وجه یی ډیره کولو دپاره دجنت دپلنوالی تشبیه ددی سره ورکړه نوګویاوی ښوول چی جنت ډیر پراخ دی ددی په پراخ والی کی ټول مځکه اوآسمانونه ځای کیدی سی نوهرکله چی دپلنوالی یی دا حال دی نو داوږدوالی دحال څخه یی الله خبردی چی څومره به وی ، دا معنی هلته ده ، هرکله چی عرض دطول مقابل واخستل سی ، لیکن که عرض دثمن یعنی دقیمت په معنی واخستل سی نومطلب به یی دا وی چی جنت څه معمولی شی نه دی ، ددی قیمت ټول آسمانونه اومځکه ده ، نوپه دی وجه دداسی قیمتی شی طرف ته وړاندی والی اوتلوار کوی . په تفسیر کبیر کی دی .

قَالَ اَبُوْمُسْلِمْ اَنَّ الْعَرَضَ هُنَا مَايُعْرِضُ مِنَ الثَّمَنِ فِيْ مُقَابَلَةِ الْمَبِيْعِ اَیْ ثَمَنُهَا لَوْبِيْعَتْ كَثَمَنِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَالْمُرَادُ بِذٰلِكَ عِظَمُ مِقْدَارِهَا وَجَلَالَةُ خَطَرِهَا وَاَنَّهُ لَا يُسَاوِيْهَا شَيْءٌ وَاِنْ عَظُمَ .

ابومسلم وایی چی دعرض څخه مراد په آیت کی هغه شی دی چی دمبیعی په مقابله کی په طور دقیمت پیش کول کیږی مطلب دا دی چی که فرض کړی دجنت قیمت ولګول سی نو ټول آسمانونه اومځکی او کائنات به یی قیمت وی ، مقصود دی څخه دجنت دلوییی اولوی مرتبی بیان دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

دجنت دوهم صفت یې وښوولی چی ، أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ یعنی جنت دپرهیزګارانو دپاره تیارسوي دی ، ددی
څخه دا معلومه سوه چی جنت پیدا سوي دی ، دقرآن اوحدیثو دواضحو اشارو څخه معلومیږي چی جنت
په اووم آسمان لوړ دی ، په دی ډول چی اووم آسمان دده مخکه ده .

الَّذِينَ يُنْفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ

ځوك چی خرڅ کوی په خوشحالی (فراخی) کی اوتکلیف (تنګی) کی او زغمی غصه اومعاف کوی

عَنِ النَّاسِ ۗ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴿١٣٤﴾ وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا

خلقو لره　　او الله خوښوی　　نیکی کوونکی ،　　او هغه خلق چی کله وکړی

فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللَّهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ

ښکاره ګناه　یا ناکاره کار وکړی په خپل حق کی نو یاد کړی الله او بخښنه غواړی دخپلو ګناهونو

وَمَنْ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا اللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَىٰ مَا فَعَلُوا وَ

اوځوك دی ګناه بخښوونکی ماسوا دالله څخه ، او همیشه والی نه کوی　　په خپلو کړو باندی

هُمْ يَعْلَمُونَ ﴿١٣٥﴾ أُولَٰئِكَ جَزَاؤُهُمْ مَغْفِرَةٌ مِنْ رَبِّهِمْ وَجَنَّاتٌ

او دوی پوهیږي　　،　　د دوی جزا ده　　بخښنه　　د دوی درب څخه اوباغونه

تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ وَنِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ ﴿١٣٦﴾

چی بهیږی لاندی ورڅخه نهرونه همیشه به وی دغه خلق په دغه باغونو کی اوڅه ښه مزدوری ده دکارکونکو

قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ سُنَنٌ فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا

تیر سوی دی ستاسی څخه مخکی　　واقعات　　نو وګرځی　　په مځکه کی　　او وګوری چی

كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ ﴿١٣٧﴾ هَٰذَا بَيَانٌ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةٌ لِلْمُتَّقِينَ ﴿١٣٨﴾

څنګه سو انجام　د درواغجن کونکو　،　دا بیان دی دخلقو دپاره اوهدایت او نصیحت دی بیرونکو لره .

لنډتفسیر: داسی خلق (دی) چی خرڅ کوی (په نیکو کارونوکی په هرحال کی) په فراخی کی (هم) اوپه
تنګی کی (هم) او درد کښته کونکی دی اودخلقو (دکوتاهی) څخه درګذر کونکی دی اوالله ﷻ داسی
نیکی کوونکولره (چی دا خویونه په کی وی په کامله وجه سره) خوښوی او (بو ددی ذکر سوو په اعتبار

سره د دوهمی درجی مسلمانان) داسی خلق (دی) چی کله څه داسی کار وکي چی په هغه کی (په نورو باندی) زياتی وی يا (څه ګناه وکی خاص) دخپل ځان نقصان کوی نو(فوراً د) الله ﷻ (لويی اوعذاب) ياد وی بيادخپلوګناهونو معافی غواړی (يعنی په هغه طريقه کومه چی دمعافی دپاره مقرره ده چی که په چايی زياتی کړی وی نو دحقداره څخه به هم معافی غواړی اوکه خپله يی ګناه کړی وی نوبيا ددی حاجت نسته اودالله ﷻ څخه معافی غوښتل په دواړو صورتونوکی ده) او (واقعی) دالله ﷻ څخه ماسوابل څوك دی چی ګناهونه بخښلی سی (پاته سو دحقدارانو معاف کول نو دغه خلق خو ددی اختيارنه لری چی دعذاب څخه يی هم خلاص کی اوحقيقی بخښنه ددی نوم دی) اودغه خلق په خپل کار (بد) باندی اصرار (اوضد) نه کوی اودوی (داخبری) پيژنی هم (چی فلانی کارمونږ دګناه کړي دی او دا چی توبه ضروری ده او دا چی خدای ﷻ بخښونکی دی ،مطلب دا دی چی خپل عملونه هم برابر وی اوعقيدی هم صحيحی ساتی) ددی خلقوجزاء بخښنه ده د دوی درب دطرف څخه او(دجنت) داسی باغونه دی چی دهغه (تردرختو اوکورونو) لاندی نهرونه بهيږی دوی به په هغه کی هميشه هميشه اوسيدونکی وی (او ددی مغفرت او دجنت دحاصلولو دآيتونو په شروع کی حکم وو، په مينځ کی يی طريقه وښوده، په ختميدوباندی يی ددی وعده وفرمايله) او(دا) دخدمت ډير ښه حق دی ددی کارکوونکو (دغه کاراستغفار اوصحيح عقيده ده او داستغفار نتيجه دراتلونکی اطاعت پابندی ده چی داصرار اوضد نيستی والی دلالت په کوی) په تحقيق سره ستاسی څخه مخکی (په زمانه کی) دمختلفوطريقو (والاخلق) تيرسوی دی (په دوی کی مسلمانان هم وه اوکافران هم اوپه دوی کی اختلاف، مقابلی اوجنګونه هم سوی دی ، ليکن آخرکار کفار هلاك سوي دی نوکه تاسی ددغه ښو نښانوليدل غواړی) نوتاسی په مځ دمځکی باندی وګرځی او وګوری چی آخری انجام د درواغجن کوونکو (يعنی کفارو) څنګه سو (يعنی هلاك او بربادسول نو د دوی دهلاکت علامی اونښانی تردغه وخته پوری هم باقی پاته وی چی په نورو آيتونوکی يی فرمايلی دی ، فَتِلْكَ بُيُوتُهُمْ خَاوِيَةً الخ فَتِلْكَ مَسَاكِنُهُمْ لَمْ تُسْكَنْ الخ وَإِنَّهُمَا لَبِإِمَامٍ مُّبِينٍ الخ) دا(ذکرسوی مضمون) بيان پوره دی دټولو خلقو دپاره (چی که په دی غور اوفکر وکړی نوعبرت حاصلولی سی) اوهدايت اونصيحت دی خاص دخدای ﷻ څخه دبيريدونکو دپاره (يعنی هدايت اونصيحت هم دا خلق حاصلوی هدايت دا دی چی ددی موافق عمل وکی)

معلومات او مسئلي : په دی آيتونوکی الله ﷻ دمتقيانو مومنانو خاص صفتونه اونښی ښوولی دی چی ډيری فايدی ورپوری تړلی دی مثلاً داچی قرآن حکيم ځای په ځای دنيکو بندګانو سره دناستی پاستی او د دوی دتعليم څخه دفايدی پورته کولو تاکيد فرمايلی دی يوځای يی صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ فرمايلی دی ددين نيغه اوصحيح لاريی ددی مقبولو بندګانو څخه دازده کولوطرف ته اشاره کړی ده، يوځای يی كُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ فرمايلی دی د دوی دمجلس اوملګرتيافائدی يی ښودلی دی اوپه دنياکی په هری يوی ټولی کی دننه ښه اوبدخلق وی دښوخلقوپه جامه کی بدان هم د دوی ځای نيسی، نوپه دی وجه ضرورت ددی خبری وو چی دمقبولوبندګانوخاص نښانی اوصفتونه وښيی چی خلق دغلطو راهنمايانو اوبدو

Maktaba Tul Ishaat.com

پیشوایانو څخه ځان وساتي اودرښتینوخلقونبانی وپیژنی دهغوی تابعداری وکی دمتقیانو مومنانو دښو اوصفتونو بیانولو څخه وروسته یی دهغوی همیشه کامیابی اودجنت اعلی مقامات وښوول ، نیکوخلقو ته خوشخبری اوپه بده لار دتلونکو دپاره یی دنصیحت اوترغیب لاره خلاصه کړه ددی آیتونو په آخرکی په هٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَهُدًى وَّمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِيْنَ کی دی طرف ته اشاره ده .

دمقبولو بندگانو کوم صفتونه اونښی چی دلته ذکر سوی دی ، په دی کی په اولنیو آیتونوکی دهغه صفتونوبیان دی چی دهغه تعلق دانسانی حقونو اودشریك ژوند تیرولوسره دی اوپه وروستنیو آیتونو کی دهغه صفتونو بیان دی چی دهغه تعلق دالله ﷻ دعبادت اوطاعت سره دی ته په نورو لفظونوکی حقوق العباد اوحقوق الله وایی ، په دی لوړو ذکر سوو آیتونو کی یی انسانی حقونه اول او دالله ﷻ حقونه وروسته بیانولو کی دی طرف ته اشاره وکړه چی که څه هم په اصل کی دالله ﷻ حقونه په نورو ټولوحقونوباندی مخکی دی لیکن په دواړوکی یوخاص فرق دادی چی الله ﷻ کوم خپل حقونه پربندگانو باندی لازم کړي دی په هغه پوری خودخدای ﷻ څه خپله فایده پیوسته نه ده اونه یی ورته څه حاجت سته او نه دا چی ددی په نه کولوسره دالله ﷻ څه نقصان کیږی ، دهغه ذات ددی هرڅه څخه بی حاجته دی ، دهغه په عبادت کی فایده په خپله دعبادت کوونکی ده ، بیاهغه ارحم الراحمین دی اوکرام المکرمین هم دی چی دهغه په حقونوکی دلویو څخه لویه کوتاهی کوونکی اوغلطی کوونکی انسان څه وخت چی هم پرخپلوکړو پښیمانه سی اودالله ﷻ طرف ته راوگرځی اوتوبه وباسی نو د دربار درحم وکرم څخه دده ټول گناهونه په یودم کی معاف کیدی سی په خلاف دبندگانو دحقونوڅخه چی انسان هغه ته محتاجه دی دکوم سری چی دچاپرذمه حقونه لازم دی که هغه یی ادا نه کړی نو دده نقصان هم دی اوخپل نقصان چاته معاف کول دانسان دپاره آسانه هم نه دی ، نو په دی وجه دبندگانو حقونوته یوخاص اهمیت حاصل دی ، په دی سربیره ددنیادنظام (یعنی انتظام) سم والی اودانسانی معاشری برابروالی اوروغوالی دیو بل دحقونوپه اداکولو سره دی په دی کی په لړشان کمی کولوسره دجنگ جگړو اوفسادونو لاری خلاصول کیږی اوکه ښه خویونه پیداسی نودښمنان هم دوستان کیدی سی، دسوونو کلونو جنگ جگړی په صلح اوروغ والی سره بدلیدی سی، په دی وجه یی داصفتونه اونخښی وړاندی ذکرکړی چی تعلق یی دانسانی حقونوسره دی ، په دی صفتونوکی یی دټولو څخه اولنی صفت داښوولی دی ، اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ فِي السَّرَّآءِ وَالضَّرَّآءِ یعنی هغه خلق دی چی دالله ﷻ په لاره کی دخپل مال خرڅ کولو داسی عادت دی اوداسی په مئین دی چی که فراخی وی په اوکه تنگی وی په خو دوی په هرحال کی دخپل طاقت موافق خرڅ کوی دډیر څخه ډیرخرڅ کوی اودلږ څخه لږخرڅ کوی ، په دی کی یوطرف ته داښودنه ده چی فقیرسړی دی هم ځان دالله ﷻ په لاره کی دخرڅ کولوڅخه بالکل فارغ نه گڼی اودالله ﷻ په لاره کی دی دخرڅ کولو دسعادت څخه محرومه نه وی ، ځکه دزرو روپو څخه دیوی روپی دخرڅ کولو چی کومه درجه ده ، هغه دزرو پیسو څخه دیوی پیسی په خرڅ کولو کی هم ده (دالله ﷻ په نزد) اوپه عملی طورسره لکه څنگه چی دزرو روپو مالك ته یوه روپی دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کول گران نه دی ، دغه شان دزرو پیسو مالك ته

Maktaba Tul Ishaat.com

یوه پیسه خرڅ کول هم څه گرانه نه ده .
دوهم طرف ته دانبوونه هم په کی ده چی دتنگی په حالت کی هم په قدر دحیثیت په خرڅ کولو سره دخرڅ کولو دمبارك خوی اوعادت سره اشناکیږی اوشایدچی الله پاك ﷻ به ورته ددی په برکت سره فراغت او فراخی هم نصیب کی، دریم مهم شی په دی کی دا دی چی کوم سړی ددی عادت سی چی هغه خپل مال په نورمخلوق خرڅ کوی اوهغوی ته فائده رسوی دغریبانو اوفقیرانو امدادکوی ، ظاهره ده چی هغه دنورو حقونه په زورهم نه اخلی اودچا درضاڅخه پرته دچاڅه شی هم نه اخلی، په دی وجه ددی اولنی صفت حاصل داسوچی متقیان مومنان اودالله ﷻ مقبول بندگان نوروخلقوته دنفعی رسولوپه فکرکی وی برابره خبره ده که په دوی تنگی وی اوکه فراخی ، حضرت عائشی ؓ یو وخت صرف دانگورو یوه دانه په خیرات کی ورکړه ، ځکه چی دغه وخت دهغی سره ددی څخه ماسوا نور هیڅ نه وه دځینوعالمانوڅخه نقل دی چی یو وخت هغوی صرف یوپیازصدقه کړي دی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی . اِتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ وَرُدُّوا السَّائِلَ وَلَوْ بِظِلْفِ شَاةٍ : دجهنم داور څخه ځان بچ کی که څه هم دخرماپه یوه ټوټه سره وی اوسوال کوونکی خالی لاس مه رخصتوی که هیڅ نه وی نو دبیزی دپښی نوك هم کافی دی ، په تفسیرکبیرکی امام رازی ؒ دا حدیث نقل کړي دی چی یوه ورځ نبی کریم ﷺ خلقوته دصدقی ورکولو ترغیب ورکی نو دچا سره چی سره سپین وه هغوی هغه په صدقه کی ورکړه یوه سړی دخرماپټونه راوړه چی زماسره نور هیڅ نسته نوهغه یی صدقه کړه یوبل سړی راغی وی ویل یارسول الله ﷺ ! زماسره هیڅ شی دصدقه کولو دپاره نسته ، البته زه په خپل قوم کی عزتمندگڼل کیږم زه دخپل عزت خیرات کوم چی که آئنده ماته څوك هرڅومره بدی ردی ووایی ، زه به په خفه نه سم ، دنبی کریم ﷺ دتعلیماتواوپه هغوسره داصحابو ؓ دعمل کولو څخه داخبره هم په ډاگه سوه چی دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کول صرف دمالدارانو اوغنیانوکارنه دی غریب اوفقیرهم داصفت حاصلولی سی چی دخپل قدرت اوطاقت مطابق دالله ﷻ په لاره کی څه خرڅ کی او دا عظیم صفت حاصل کی .

(دالله ﷻ په لاره کي داضروري نه ده چي صرف مال خرڅ سي)

دلته دا خبره هم دفکرقابله ده چی قرآن کریم په دی ځای کی دَيُنْفِقُوْنَ ذکر وکی چی دا خلق په تنگی او فراخی په هرحال کی دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کوی خو دا یی ونه ټاکله چی څه شی خرڅ کوی ددی لفظ دعام والی څخه دامعلومه سوه چی په دی کی صرف مال اودولت نه دی داخل بلکه هردخرڅ کولوقابل شی په کی دا خل دی مثلاً یوسړی خپل وخت خپل محنت دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کی نوداهم دانفاق په صفت سره بلل کیږی کوم یوحدیث چی اوس لوړ دتفسیر کبیرپه حواله سره تیرسوهغه پردی باندی شاهد دی .

(دتنگي اوفراخي په ذکر کي یو بل حکمت)

داهم دی چی دا هغه حالتونه دی چی عادةً په کی دانسان خدای پاك ﷻ هیروی چی مال دولت یی زیات سی نو په عیش عشرت کی اخته سی ، خدای ﷻ هیر کی اوکله چی تنگی اومصیبت په راسی نو ددی په فکرکی ډیر واره دخدای ﷻ څخه غافله سی په دی آیت کی یی دی طرف ته اشاره وکړه چی دالله ﷻ مقبول

Maktaba Tul Ishaat.com

بندګان هغه دي چې نه په عیش کې خدای ﷻ هیر وي او نه په مصیبت اوتکلیف کې ، دظفرشاه دهلوي دا شعر ددې معنی سره ښکلی ښائسته سمون خوري .

یعنې ظفره هغه کس دسړیتوب خاوندنه دی که څه هم که ډیر زیرك اوهوښیار وي ، چې ورته په عیش کې خدای ﷻ یادنه وي او په قهر اوغصه کې دخدای ﷻ څخه نه ییریږي ددې څخه وروسته یې د دوی یو خاص صفت اوعلامه دا وښووله چې که د دوی ډیر داسې سړي سره واسطه راسي چې دوی ته تکلیف اوضرر ورسوي نو دوی دغصې په وجه بې کنټروله کیږي نه او دغصې په وجه د دوی څخه بدله نه اخلي اوبیا یوازې دانه چې بدله ورڅخه نه اخلي ، بلکه په زړه سره یې معاف کوي اوبیاپردې هم بس والې نه کوي چاچې ورته تکلیف رسولی وي دهغه سره داحسان معامله کوي، په دې یوه صفت کې ګویادرې صفتونه شامل دي ، خپله غصه کنټرولول، تکلیف ورکوونکي ته معافي کول، بیاورسره داحسان سلوك کول ، دادرې شیان یې په دې آیت کې بیان کړي دي ، وَالْكَاظِمِيْنَ الْغَيْظَ وَالْعَافِيْنَ عَنِ النَّاسِ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ : هغه خلق چې په خپله غصه کنټرولوي اودخلقو قصورمعاف کوي اوالله ﷻ احسان کوونکي خوښوي ، امام بیهقي ددې آیت په تفسیرکې دحضرت علي ابن حسین ؓ یوه عجیبه واقعه نقل کړې ده چې یوې مینځې دوی ته داودس کولو دپاره اوبه اچولې چې دهغه دلاسونوڅخه ناڅاپه داوبولوښې ولویدې اودحضرت علي بن حسین ؓ په سر راولویدې ، توله کالي یې لانده سې نو درد وړغی دمینځې سره بیړه سوه ، نودې فوراً داآیت ووایه ، وَالْكَاظِمِيْنَ الْغَيْظَ وَالْعَافِيْنَ عَنِ النَّاسِ : ددې آیت په اوریدو سره دنبوت دخاندان ددې بزرګ توله غصه سره سوه اوبالکل چپ سو ددې څخه وروسته داآیت دوهمه جمله وَالْعَافِيْنَ عَنِ النَّاسِ یې ووایه نو ده وفرمایل چې ما دزړه له کومې معاف کړې ، مینځه هوښیاره وه ددې څخه وروسته یې دریمه جمله وویله وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ چې په دې کې داحسان اوښه سلوك ښوونه ده حضرت علي بن حسین ؓ چې دا واوریدل وې فرمایل چې څه ! ماته آزاده کړې (روح المعاني بحواله بیهقي)

دخلقوخطاګانې اوغلطیانې معاف کول په انساني اخلاقوکې ډیره لویه درجه لرې اودآخرت ثواب یې ډیرلوی دی، په حدیث کې دنبي کریم ﷺ ارشاد دی چې ، دقیامت په ورځ به دالله ﷻ دطرف څخه آواز وسي چې دچاچې پرالله ﷻ باندې څه حق وي هغه دې ودریږي ، نودغه وخت به هغه خلق ودریږي چاچې دخلقو زور اوظلم په دنیاکې معاف کړې وي ، په یوحدیث کې راغلي دي .

مَنْ سَرَّهُ اَنْ يُّشْرَفَ لَهُ الْبُنْيَانُ وَتُرْفَعَ لَهُ الدَّرَجٰتُ فَلْيَعْفُ عَمَّنْ ظَلَمَهُ وَيُعْطِ مَنْ حَرَمَهُ وَيَصِلْ مَنْ قَطَعَهُ .

کوم سړي چې دا غواړي چې ده محلونه په جنت کې لوړ سي او درجې یې بلندې سي ده ته په کار دي چې چا په ده ظلم کړی وي ، هغه معاف کې اوچاچې ده ته یوڅاې څه نه وي ورکړې هغه ته بخښنه اوهدیه ورکې اوچا چې دده سره تعلقات پریښي وي دې دهغه دیوځاکیدوڅخه پرهیزنه کوي ، قرآن کریم په بل ځای کې تردې زیات په وضاحت سره دبدو کوونکو سره داحسان کوونکلوی اخلاق ښوولی دی او دا یې ویلي دي چې ددې په ذریعه دښمن هم دوست جوړیدی سي ، ارشادفرماي .

اِدْفَعْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ فَاِذَا الَّذِيْ بَيْنَكَ وَبَيْنَهٗ عَدَاوَةٌ كَاَنَّهٗ وَلِيٌّ حَمِيْمٌ .

Maktaba Tul Ishaat.com

دبدې دفع په نیکۍ او احسان سره کوي نو دچاسره چې دښمني وي هغه به ستاسي مخلص دوست جوړسي ، الله ﷻ دنبي کریم ﷺ داخلاقو تربیت هم په داسې اعلیٰ طریقه سره کړی دی چې دا هدایت یې ورته فرمایلی وو .

صِلْ مَنْ قَطَعَكَ وَاعْفُ عَمَّنْ ظَلَمَكَ وَاَحْسِنْ اِلٰى مَنْ اَسَاءَ اِلَيْكَ .

کوم سړي چې درسره تعلقات قطع کړي ته یې ورسره جوړوه ، څوك چې دربانديې ظلم کوي معاف کوه یې او څوك چې درسره بدکوي ته احسان پرکوه .

دنبي کریم ﷺ خولوی شان دی ، د دوی دتعلیماتو په برکت سره دا اخلاق او صفتونه د دوی په خادمانوکې هم الله ﷻ پیدا کړي وه کوم چې داسلامي معاشرې لوېه نخښنه ده ، دصحابه وو ﷺ او تابعینو او دامت دتیرو مشرانو تاریخ دداسې واقعاتو څخه ډك دی .

دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله یوه واقعه ده چې یوه سړي په ډك بازارکې دامام اعظم صاحب رحمه الله په حق کې ګستاخي وکړه او بدې رد یې ورته وویلې ، حضرت امام اعظم رحمه الله صاحب غصه ونیوله او ده ته یې هیڅ ونه ویل، چې کورته راغی نو په یوه مجمه کې یې ډیرې روپۍ کښیښولې او دغه سړي کورته یې تشریف یوړی ، په دروازه کې یې ورته اواز وکړ،دا سړی دباندې راغی نو دغه دروپومجمه یې ورمخکې کړه او وې فرمایل چې تاسې په ما ډیر احسان کړي دی تاما ته خپلې نیکۍ راکړې زه ددې احسان په بدله کې تاته دا تحفه پیش کوم ، دامام صاحب رحمه الله ددې معاملې څخه دهغه پرزړه دومره اثروسو چې دآئنده دپاره یې ددې بدخویۍ څخه دهمیشه دپاره توبه وکړه ، دامام صاحب رحمه الله څخه یې معافي وغوښته او دامام صاحب رحمه الله په شاګردانوکې شامل سو او یولوی عالم ورڅخه جوړسو،تردې ځایه پورې دهغه بیان وو چې دانساني حقونوسره پیوست وو ، ددې څخه وروسته دهغه صفتونو بیان دی چې دالله ﷻ دحقونوسره پیوست دی نو ددې بیان یې داسې وفرمایی چې داخلق دالله ﷻ نافرماني نه کوي اوکله چې ورڅخه دانساني فطرت په وجه څه ګناه وسي نوفوراً دالله ﷻ طرف ته راوګرځي، توبه وباسي او آئنده ددغه ګناه دنه کولو پخه اراده وکړي ارشاد فرمایي .

وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللَّهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ وَمَنْ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا اللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَىٰ مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ .

په دې کې یوهدایت خو دا وسو چې په ګناهونوکې اخته کیدل دالله ﷻ دیادولو او د ذکرڅخه دغفلت په سبب سره وي ، نو په دې وجه هرکله چې یوه ګناه دچاڅخه وسي نو دالله ﷻ یاد فوراً تازه کول په کار دي او دالله ﷻ په ذکر کې مشغولیدل په کار دي ، دوهم په کې دا هدایت دی چې دګناهونوڅخه دمعافي دپاره دا دوې خبرې ضروري دي یو په تیرو ګناهونو باندې پښیماني او دهغه معافي غوښتل او دبخښني دعاکول ، دوهم دآئنده دپاره هغه ته دنه نږدې کیدو پوخ قصدکول ، الله ﷻ دې زمونږ ټولو دقرآن کریم ښوول سوي غوره اخلاق نصیب کړي اومونږ ته دې په دې سره دعمل کولو توفیق راکړي (آمین)

وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ۝ إِنْ يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ

او سستي مه کوي او غم مه کوي او تاسې به غالب یاست که تاسې ایمان لرئ ، که تاسې ته زخم ورسیدی نو

Maktaba Tul Ishaat.com

مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِّثْلُهُ ۚ وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ ۚ

هغوی ته هم زخم رسيدلی دی دغه شان ، او دا ورځی په وار وار بدلو مونږ په خلقو کی

وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَتَّخِذَ مِنكُمْ شُهَدَاءَ ۗ وَاللَّهُ لَا

او ددې دپاره چی معلوم کړی الله په ځا کی چی ايمان دی او کړی په تاسی کی شاهدان ، او الله

يُحِبُّ الظَّالِمِينَ ﴿١٤٠﴾ وَلِيُمَحِّصَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَمْحَقَ

محبت نه کوی دظلم کونکو سره ، او په دی وجه چی پاک کړی الله ﷻ مومنان او ورک کړی

الْكَافِرِينَ ﴿١٤١﴾ أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللَّهُ

کافران ، ای ستاسی خيال دی چی داخل به سی جنت ته او تراوسه پوری معلوم کړی نه دی الله

الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنكُمْ وَيَعْلَمَ الصَّابِرِينَ ﴿١٤٢﴾ وَلَقَدْ كُنتُمْ تَمَنَّوْنَ

کوم چی جنگ کونکی دی په تاسی کی او معلوم کړی نه دی ثابت قدم پاته کيدونکی ، او تاسی ارزو کوله

الْمَوْتَ مِن قَبْلِ أَن تَلْقَوْهُ فَقَدْ رَأَيْتُمُوهُ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ ﴿١٤٣﴾

دمرګ مخکې دی سره دملاقات کولو ځخه نو اوس تاسی وليدی دسترګو په وراندی .

دآيتونو تړون : په دی آيتونو کی بيا داحد دقصی متعلق مسلمانانو ته دتسلی ورکولو مضمون دی چی دهميشه ځخه دالله ﷻ دا طريقه را روانه ده چی آخر کار کفار ناکامه او نامراده وی که ځه هم تاسی په دی وخت کی دخپلی بی انتظامی په وجه مغلوب سواست ليکن که دخپل ايمان دتقاضا مطابق ثابت قدم او پر تقوی قائم پاته سواست ، نو په آخرکی به دا کفار مغلوب او ناکامه سی او تاسی به غالب سی په دوی باندی .

لنډتفسير: او تاسی (که داوخت مغلوب سواست نو ځه وسوه) همت مه بايلی او غم مه کوی او آخر تاسی به غالب سی که تاسی پوره مومنان سواست (يعنی په مقتضا د ايمان ثابت پاته سواست) که تاسی ته زخم (تکليف) ورسيږی (لکه چی په احد کی ورسيده) نو (ځه دبيريدو خبره نه ده ځکه چی په دی کی ځو حکمتونه دی پوداچی) دغه قوم ته هم (کوم چی ستاسی په مقابله کی وو يعنی کفار) داسی زخم (تکليفونه) رسيدلی دی (لکه چی په تير بدر کی دوی دا تکليف برداشت کړي دی) او (زمونږ دا عادت دی چی) دا ورځی (يعنی دغالب او مغلوب کيدو زمانی) دخلقو په مينځ کی ادلی بدلی کوو (يعنی کله مو يو قوم غالب او بل مغلوب کړي دی او کله مو عکس کړي دی نو ددی عادت مطابق تيرکال هغوی مغلوب

Maktaba Tul Ishaat.com

سوي وه اوس تاسي سواست ، يوحكمت دا سو) او (دوهم حكمت دا دى) ددى دپاره چي الله ﷻ ايمانداران (په ډاګه سره) معلوم كې څكه چي دمصيبت په وخت كې دمخلص اونيك امتحان كيدى سي) او (دريم حكمت دادى) چي په تاسو كې ځينولره شهيدان جوړول وه (پاته حكمتونه مخ ته راځي په مينځ كې دجملې معترضې په طورسره فرمايي) اوالله ﷻ دظلم (كفراوشرك) كوونكوسره محبت نه ساتي (نو ددې شك دې نه كيږي چي شايد د دوى سره يې محبت ووځكه يې غالب كړه داسې هيڅكله نه ده) او (څلورم حكمت دا دى) ددې دپاره چي (دګناهونو) دخير څخه ايمانداران صفاكړي (څكه چي په مصيبت سره داخلاقو او عملونو صفايي كيدى سي) او (پنځم حكمت دا دى چي) ورك كړي كافران (داځكه چي په غالب راتلو سره به د دوى همت زيات سي او دوباره به مقابلې ته راوړاندې سي اوهلاك به سي ، دوهم دا چي په مسلمانانو باندې دظلم كولو په وجه سره به دوى دالله ﷻ په قهركې اخته سي اوهلاك به سي) هو! اوواورئ! آيا تاسي خيال كوئ چي جنت ته به (په خصوصيت سره) داخل كړل سئ حال دادى چي لاتراوسه الله ﷻ (په ظاهري طورسره) دغه خلګو ليدلي نه وي چاچي په تاسي كې (ښه) جهاد كړي وي اوكوم چي په جهادكې ثابت قدم پاته كيدونكې وي اوتاسي خو (دشهيد كيدو) دمرګ (لويه) آرزوكوله دمرګ مخامخ راتلو څخه مخكې نو دآرزو مطابق مو (سامان د) دې (مرګ) په ښكاره سترګوسره وليدى (بياچي مو دغه وليدى نو ولي په تيښته سواست او هغه آرزوګاني موچيرې هيرې سوې)

معلومات اومسلې : داحد دغزا واقعه په دې سورت كې په خپل پوره تفصيل سره بيان سوې ده په دې كې داخبره معلومه سوې ده چي په دې جهادكې مسلمانانو دځينې كوتاهي په وجه دابتدايي فتح څخه وروسته شكست وخوړ ، اويا ۷۰ صحابه كرام ﷺ شهيدان سول ، نبي كريم ﷺ زخمي سو ، مګرددې ټولوخبروڅخه وروسته الله ﷻ بيادجنګ پاته بدله كړه اودښمن وروسته سو ددې عارضي ماتې درې سببونه وه اول دا چي نبي كريم ﷺ چي كوم حكم غشو ويشتونكوته وركړى وو ، دوى دځينو سببونو په وجه په دې قائم پاته نه سوه ، څكه چي په دې باره كې اختلافي رايې وسوې ، چاويل چي مونږ ته دلته قائم پاته كيدل په كار دي او ډيرو وويل چي اوس دلته زمونږ پاته كيدو ته هيڅ ضرورت نسته ، تلل په كار دي اوټولو ته په غنيمت راټولو كې شريك كيدل په كار دي ، نو اولنى سبب يې په خپل مينځ كې جګړه وه ، دوهم سبب دا وسو چي هركله دنبي كريم ﷺ دقتل خبرمشهور سو نو دمسلمانانو په زړونو كې كمزوري پيدا سوه چي نتيجه يې دبې زړه توب اوبې همتي په صورت كې ښكاره سوه ، دريم سبب چي تردې دواړو سببونو زيات مهم وو ، دا دې چي دنبي كريم ﷺ دحكم په منلوكې اختلاف پيدا سو ، دا درې غلطۍ د مسلمانانو څخه وسوې چي ددې په سبب مسلمانانو عارضي ماته وخوړه ، داعارضي ماته كه څه هم آخرپه فتح كې بدله سوه ، ليكن مسلمانان مجاهدين دزخمونو دلاسه سرې سرې وه ددوى دلويو لويو بهادرانو لاسونه ددوى په مخكې پراته وه نبي كريم ﷺ هم بدبختانو زخمي كړى و ، دسختيو اوناامېديو څپې وې او دخپلو دغوغلطيو څخه هم ورته تكليف وو ، اوس دلته دوه شيان پيدا سوي وه يودتيرو خبرو غم او رنځ او دوهم شى دكوم چي خطره وه هغه دا چي مسلمانان دآئنده دپاره بياكمزوري نه سي ،

Maktaba Tul Ishaat.com

اودنیا دقومونو دامامت کوم فرض چی په دوی غورځول سوی دی په دی کی کمزوری رانه سی، په دی وجه ددی دوارو مشکلونو دحل کولو دپاره قرآن کریم داسی ارشاد وفرمایی.

وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ : یعنی تاسی دآئنده دپاره کمزوری اوسستی په ځان کی مه راولی او غم اوفکرمه کوی پر تیر باندی اوپه آخرکی به تاسی غالب یاست په دی شرط سره که تاسی په ایمان اویقین باندی قائم ولاړ اوسی او دالله ﷻ په وعدو موکامل یقین ساتی،درسول ﷺ داطاعت سره مو دجهاد فی سبیل الله ﷻ څخه قدم نه وروسته کوی ، مطلب دا وو چی تیری خبری اوخطاګانی چی څه سوي دی په هغه باندی په غم اوفکر کولوکی دخپل وخت اوطاقت دخرڅ کولوپه ځای په راتلونکی وخت کی دخپل کار برابرولو فکرکوی اوخپل راتلونکی وخت کامیاب کی ایمان اویقین اودرسول ﷺ حکم منل دراتلونکی وخت دکامیابی ضمانت دی دادلاسونوڅخه مه غورځوی، آخربه تاسی کامیاب اوغالب یاست ،دقرآن دی آوازمات زړونه پیوند کړل اوپه مړو بدنونوکی یی تازه روح واچوی ، فکروکی چی الله ﷻ ددی حضراتو په څه شان سره پالنه اواصلاح وفرمایله اودهمیشه دپاره یی مسلمانانو لره یوه ضابطه اواصول ورکی چی پرتیرو خبرو باندی دغم اوفکرکولوکی دوخت تیرولو په ځای دآئنده دپاره خپل طاقت اوقوت اوشان شوکت راجمع کول په کار دی بیایی ددی سره سره دا هم وښودل چی دغلبی حاصلولو دپاره صرف یو شی اصل دی یعنی ایمان او ددی تقاضاوی پوره کړل ، دایمان په تقاضاوو کی هغه تیاری هم داخلی دی کومی چی دجنګ په سلسله کی کول کیږی ، یعنی دخپل فوجی قوت محکم کول دجنګ دسامان تیارول او ظاهری اسباب پرقدر دطاقت اوقدرت برابرول اوځان باوسله کول، داحد دغزاتول واقعات داول څخه ترآخره پوره ددی تولوخبرو شاهد دی،ددی آیت څخه وروسته په بلی طریقی سره دمسلمانانودتسلی دپاره ارشاددی چی که په دی جنګ کی تاسی ته زخم ورسیدی یا تکلیف درته ورسیدی نو دغه ډول حادثی مقابلی فریقی ته هم وررپیښی سوی دی،که په احدکی ستاسی اویا ۷۰ کسان شهیدان اوډیر زخمیان سول نویوکال مخکی دهغوی اویا ۷۰ کسان مردارسول ، جهنم ته ورسیدل او ډیر زخمیان سوی دی ،اوپه خپله په دی جنګ کی هم په شروع کی د دوی ډیرکسان قتل سوی او زخمیان سوي دی ، فرمایی.

إِنْ يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِثْلُهُ وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ : یعنی که تاسی ته زخم ورسیدی نو دوی ته هم داسی زخم رسیدلی دی اومونږدا ورځی وار وار بدلوو رابدلوو چی په دی کی ډیرحکمتونه پټ دی، په دی آیت کی یی دیوی مهمی ضابطی اواصولو وطرف ته یی رهنمایی وفرمایله هغه داچی دالله ﷻ عادت په دی دنیاکی دا دی چی هغه د درد اوتکلیف اوآرام ، سختی اونرمی ، تکلیف اوراحت ورځی په خلقوکی اړوی رااړوی ، که په څه وجه سره یوباطل قوت ته عارضی فتح اوکامیابی حاصله سی نوپه حق ولاړتولی ته په دی سره خفه کیدل نه دی په کار، اودانه دی ګڼل په کار چی اوس به دهمیشه دپاره زمونږ شکست وی ، بلکه ددی شکست اوماتی داسبابو درك دی ولګوی اودهغه متعلق دی خپله ضروری تیاری وکړی ، نو په حق باندی قائمه ټولی به آخر فتح بیا پیدا کی اوکامیابی به یی نصیب سی.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ اَفَاْئِنْ مَّاتَ

او محمد خو یو رسول دی تیرسوی دی دده څخه مخکي رسولان ای نو که دی مړ سی

اَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ وَمَنْ يَّنْقَلِبْ عَلٰى عَقِبَيْهِ

یا قتل کړل سی نو تاسی به واپس کیږئ په پوندو باندی . او څوک چی واپس سو په پوندو باندی

فَلَنْ يَّضُرَّ اللّٰهَ شَيْئًا وَسَيَجْزِى اللّٰهُ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۴۴﴾ وَمَا كَانَ

نو هرگز به وران نه کړی دالله څه شی او الله به ثواب ورکړی شکر گذارو ته ، او څوک نه

لِنَفْسٍ اَنْ تَمُوْتَ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ كِتٰبًا مُّؤَجَّلًا وَمَنْ يُّرِدْ

سی مړ کیدی بغیر دحکم دالله څخه لیکل سوی دی یو وخت مقرر ، او څوک چی غواړی

ثَوَابَ الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ مِنْهَا وَمَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ الْاٰخِرَةِ نُؤْتِهٖ

بدله ددنیا ، ور به کړو ور ته مونږ ددې دنیا څخه او څوک چی غواړی بدله دآخرت نو ور به کړو ده لره

مِنْهَا وَسَنَجْزِى الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۴۵﴾

ددی څخه ، او مونږ به ثواب ورکړو احسان منونکو لره

لنډتفسیر: او محمد ﷺ خو یو رسول دی (خدای خو نه دی چی قتل یا مرګ ورلره ممکن نه دی) دده ﷺ څخه مخکي ډیر رسولان تیرسوی دی (دغه شان به دوی هم یوه ورځ تیرسی) نو که دده ﷺ انتقال وسی یا دی ﷺ شهید سی نو آیا تاسی خلق به (دجهاد یا اسلام څخه) پرشا واپس کیږئ (لکه چی په دی واقعه کی ځینی خلق مسلمانان دجنګ دمیدان څخه تښتیدلی وه او منافقانو ورته دمرتد کیدو ترغیب ورکوی) او کوم سړی چی (دجهاد یا اسلام څخه) پرشا واپس سی نو دخدای ﷻ هیڅ نقصان نه سی کولی (بلکه خپل هر څه به تاوان کړی) او خدای ﷻ به ډیر ژر (نیك) عوض ورکی حق پیژندونکو خلقو ته (کوم چی په داسی خایونو باندی دالله ﷻ انعامونه یادوی دهغه په اطاعت قائم او ثابت قدم اوسی او کوم شی چی په قیامت کی ورته حاصلیږی هغه ډیر ژر دی لیری نه دی ځکه چی قیامت روزانه رانژدی کیږی) او (دارنګه دچاپه مرګ سره دومره بیریدل هم فضول دی ځکه چی اول خو) چا لره مرګ راتلل ممکن نه دی (که طبعاوی او که عقلاً) بغیر دحکمه څخه دالله ﷻ (نو بیاچی مرګ په حکم دخدای ﷻ سره دی نو په دی راضی کیدل ضروری دی ، دوهم داچی دچا مرګ چی راځی هم نو) په دی طور سره چی دده میعاد مقرر لیکل سوی وی

Maktaba Tul Ishaat.com

(په هغه مقرروخت راځي چې دمخ والي اووروسته والي په هغه کې نه سي کيدی نوبيا ارمان او افسوس کول محض بې کاره دي ځکه چې مرګ خوخامخا پرمقرر وخت باندي وي تروخت مخکي هيڅکله نسي کيدی) او (بيا ددی بيری په وجه دتښتيدو نتيجه آخرڅه ده صرف دا چې په دنياکي به نوریو څو ورځي ژوندی پاته سي نو دداسي تدبير اثر واوري چې) کوم سړی چې (په خپلو عملونو اوتدبيرونوکي) ددنيا نتيجه غواړي نوموږ ده ته ددنيا حصه (په دی شرط چې زموږ (رضاوی) ورکوو (او په آخرت کي به ده ته دپاره څه حصه نه وي) او کوم سړی چې (په خپلو عملونو او تدبيرونو سره) دآخرت نتيجه غواړي (مثلاً په جهاد کې په دی وجه ثابت قدم پاته سي چې داتدبيردی دآخرت دثواب) نوموږ ده لره دآخرت (حصه) ورکوو او ډير ژر به (نيکه) بدله ورکو (داسي) حق پيژندونکوته (کوم چې په خپلو عملونو دآخرت نعمتونه غواړي)

معلومات اومسئلي: دا آيتونه هم داحد دغزا دواقعاتو متعلق دي ځکه چې داحد دا واقعات په څو وجو سره ډيرمهم وي ، نو هم داوجه ده چې قرآن کريم دسورت آل عمران دځلورو پنځو رکوع ګانوپوري داحد دغزا فتح اوماته، اوپه دی دواړوکې چې کوم قدرتی هدايتونه پټ وه، دهغه يې پرله پسې بيان کړي دي په ذکرسوو آيتونوکې په اول آيت کې دځينې صحابه کرامو ﷺ په يوخطاباندی دزورنې په اندازکې ديو داسې اصولي مسئلي طرف ته ښودنه کړيده چې څوك ورته سوچ اوفکروکې نوهغه ته داپته لګيدلې سي چې په دی عارضي ماتی کې او دنبي کريم ﷺ په زخمي کيدوکی اودحضور ﷺ دوفات په خبر خپريدوکې او په دی باندی دځينو صحابه وو ﷺ په همت بايللو کې دا راز هم ووچې مسلمانان په دی اصولي مسئله باندی په عملي طورسره پاخه سي ، هغه اصولي مسئله دا ده چې داسلام په اصولوکې دی خبری ته ډير اهميت ورکول سوي دی چې دنبي کريم ﷺ عظمت اومحبت دايمان جزء مقرر سوي دی په دی کې معمولي شان کمزوری هم دکفر برابر ده خودلته داخبره هم ډيره مهمه وه چې هسې نه مسلمانان په هغه مرض اخته نه سي په کوم کې چې نصارا اوعيسايان اخته سوی وه چې دحضرت عيسىٰ ﷺ عظمت اومحبت يې دهغه دعبادت کولو درجې ته رسولی وو اودخدای سره يې په خدايي کې شريك ګرځولی وو داحد په غزا کې چې دعارضي ماتي په وخت کې هرکله چادا خبره مشهوره کړه چې نبي کريم ﷺ وفات سو نو دغه وخت چې په صحابه کرامو ﷺ څه تيرسوه اوتيريدل يې په کار وه ، ددی لږ اومعمولي شان اندازه کول هم دهرسړی دپاره آسان نه دی ددی لږ ډيره اندازه هغه څوك کولی سي چاته چې داصحابو ﷺ په هغوی دځان قربانولو او دهغوی سره دعشق اومينې څه اندازه معلومه وی ، چاته چې داپوره په پوره معلومه وی چې داهغه حضرات دی چاچې دنبي کريم ﷺ په محبت کې خپل مال اوخپل اولاد اوخپل ځانونه اوهرڅه قربانول ، ددنيا دټولو څخه لويه نيك بختي يې ګڼله اوپه عملي طورسره يې ددی ثبوت ورکړي دی، دنبي کريم ﷺ ددی عاشقانو په غوږونوکې چې کله دا خبری پريوتي وی نو د دوی دهوش اوحواسو حال به څه وو او خاص کر چې بيا دجنګ ميدان ګرم دی او دفتح څخه وروسته دماتي خوږو منظره دسترګو په وړاندی ده ، د مسلمانانو پښې ښوييدلی دي ، په داسي حالت کې دا ټول کوششونه اومحنتونه اوټول اميدونه دهغه ﷺ دذات په وجه وه هغه هم ددوی څخه رخصتيږي ، ددی طبعي نتيجه داوه چې دصحابه

کرامو ﷺ دلویی ډلی زړه مات سو او دجنګ دمیدان څخه په ډډه کیدوسوه ، دادجهاد دمیدان څخه په ډډه کیدل که څه هم دوقتی اوسر سری زړه ماتی نتیجه وه ، خدای مه کړه داسلام څخه دواپس کیدو وسوسه بیخی لرقدر په کی هم نه وه ، لیکن الله ﷻ دخپل رسول ﷺ دصحابؤ ﷺ څخه یو داسی پاکه ملائکه خویه جماعت جوړول غواړی چی ددنیادپاره یوه عملی نمونه جوړه سی په دی وجه یی د دوی معمولی خطا هم سخت وګرخوله .

نزدیکان را بیش بود حیرانی

یعنی دمقربینو حیرانی لږ څه قدر هم لویه خطا شمارل کیږی نوپه دی وجه یی دوی ته په میدان جنګ ...ریښنولو باندی داسی خطاب وفرمایی لکه چی په اسلام پریښنولو باندی کول کیږی او دسختی زورنی ...ره یی په دغه بنیادی مسئله باندی هم خبردارکړل چی دین اوعبادت دالله ﷻ دپاره دی اوجهادهم دهغه دپاره دی کوم چی همیشه ژوندی اوقائم دی که فرض کړه دا خبرصحیح هم وی چی نبی کریم ﷺ وفات سو نو بهرحال داسی خوبه یوه ورځ کیږی هم ، نوپه دی خبره باندی بی همته کیدل اوددین کارپریښودل ددی حضراتو دشان سره لائقه نه ده ، په دی وجه یی ارشاد وفرمایی .

وَمَامُحَمَّدٌ اِلاَّ رَسُوْلٌ الآیة یعنی محمد ﷺ خو یو رسول دی (خدای خو نه دی) دده څخه مخکی هم ډیر رسولان تیرسوی دی ، که دی وفات سی یادی شهیدسی نوتاسی خلق به بیرته پرشاګانو واپس کیږی اوڅوك چی پرشاګانو واپس کیږی اوڅوك چی په شاواپس سی ، دی دالله ﷻ هیڅ نه سی ورانولی ، اوالله ﷻ به ثواب ورکی شکر ګذار ولره ، په دی کی یی خبرداری ورکی چی نبی ﷺ به یوه نه یوه ورځ ددی دنیاڅخه رخصتیږی ، ددی څخه وروسته به بیاهم مسلمانانولره په دین باندی ثابت قدم پاته کیدل وی ، ددی څخه دا هم معلومه سوه چی ددی عارضی ماته خوړو په وخت کی دنبی کریم ﷺ زخمی کیدل او دوفات کیدو دخبرپه مشهوریدو کی داقدرتی رازوو ، چی ددوی څخه وروسته کوم حالات په اصحابو ﷺ باندی راتلل هغه حالات د دوی په دنیاوی ژوندکی ظاهرسو ، ددی دپاره چی په دوی کی کومی خطاوی چی دهغه اصلاح په خپله دنبی کریم ﷺ په ژبه مبارکه سره وسی اوپه راتلونکی وخت کی چی کله داواقعه دوفات په ربښتیاسره راسی نوچی درسول ﷺ دا عاشقان دومره نه په بی ځانه کیږی ، نو دغسی وسوه دده ﷺ دوفات په وخت کی چی کله دلویو لویو صحابه کرامو ﷺ هوش او حواس په ځای نه وه ، نوحضرت صدیق اکبر ﷺ دقرآن په داسی قسم آیتونو باندی دوی سره پوه کړل او د دوی حواس په ځای سول ، تردی وروسته په بل آیت کی هم دحادثو اومصیبتونو په وخت کی دثابت قدم پاته کیدو دتعلیم ورکولو دپاره یی دا ارشاد وفرمایی چی دهرانسان مرګ دالله ﷻ په نزدلیکل سوی دی ددی تاریخ ورځ او وخت مقرر دی ، نه ددی څخه مخکی دچامرګ راتلی سی اونه ورڅخه وروسته ژوندی پاته کیدی سی ، نوچی خبره داسی ده نوبیا دچاپه مرګ باندی دومره سرګردانه کیدل هیڅ معنی نه لری په آخرکی یی په دی خبره باندی خبرداری وکی چی ددی حادثی په ظاهری اسبابوکی یوسبب دا هم وو چی کوموحضرات نبی کریم ﷺ شاطرف ته په غره باندی دحفاظت دپاره کښینولی وه داولی فتح په وخت کی چی عام مسلمانان دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

په غنیمت جمع کولو باندی مشغول ولیدل نو په دوی کی هم دیو څو حضراتو داخیال سو چی اوس فتح وسوه ، دلته دپاته کیدو ضرورت پاته نه سو نو اوس په کار دی چی مونږ هم دمال غنیمت په جمع کولو کی حصه واخلو دوی دخپل خای څخه ونښوریدل ، په دی وجه فرمایی .

وَمَنْ يُرِدْ ثَوَابَ الدُّنْيَا نُؤْتِهِ مِنْهَا وَمَنْ يُرِدْ ثَوَابَ الْآخِرَةِ نُؤْتِهِ مِنْهَا وَسَنَجْزِي الشَّاكِرِينَ .

یعنی کوم سړی چی دخپل عمل په دنیا کی بدله غواړی مونږ ته دآخرت ثواب رسیږی او مونږ به ډیر ژر شکر ګذارو ته بدله ورکو .

په دی یی اشاره وفرمایله چی دغنیمت دمال جمع کولو په فکر کی دنبی کریم ﷺ په مقرر کړی کار پاته کولو کی د دوی څخه غلطی وسوه ، یادساتی چی په حقیقت کی دغنیمت مال جمع کول داسی دنیا طلبی نه ده چی په شریعت کی بده ده بلکه دغنیمت مال جمع کول او محفوظ کول یی اوبیایی په خپل مصرف کی لګول داهم دجهاد یو حصه ده ، اوعبادت دی او ددی اصحابو ؓ په دی کی شریك کیدل صرف ددنیوی طمع په وجه سره نه وو ، څکه چی په شرعی طور سره که دوی ددی مال په جمع کولو کی شریك سوی هم نه وای بیابه هم دوی ته په مال غنیمت کی هغه حصه رسیدلای کومه چی اوس ورته ورسیده په دی وجه دانه سی ویل کیدای چی دی حضراتو ؓ ددنیا دطمع په وجه خپل خای پریښوی ، لیکن څنګه چی دأول آیت په تفسیر کی ښوول سوي دی چی دلویو لړ شان خطاهم لویه ګڼل کیږی ، د دوی معمولی جرم ډیر لوی جرم وګرځول سو او په زورنی سره ورته خطاب کول کیږی نو دغه خبره دلته هم ده چی دغنیمت دمال په جمع کولو کی څه ناڅه ددنیوی نفع تعلق ضرورو او ددی تعلق طبعی اثر په زړونو باندی کیدل هم لیری خبره نه وه ، دصحابه کرامو ؓ اخلاقوله دلوړ څخه لوړ مقام ته درسولو دپاره یی د دوی دا عمل هم دنیوی عمل وګرځوی ، ددی دپاره چی ددنیاوی طمع معمولی شان ګرز هم د دوی زړونو ته ولاړ نه سی .

وَكَأَيِّنْ مِّنْ نَّبِيٍّ قُتِلَ مَعَهٗ رِبِّيُّوْنَ كَثِيْرٌ فَمَا وَهَنُوْا لِمَا اَصَابَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَمَا

او ډیر نبیان دی چی د دوی (په ملګرتیا) سره جنګیدلی دی ډیر خدایی خلق بیا نه دی سست سوی په تکلیف رسیدو سره دالله په لاری کی ،

ضَعُفُوْا وَمَا اسْتَكَانُوْا ۗ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الصّٰبِرِيْنَ ﴿١٤٦﴾ وَمَا

او نه کمزوری سوی دی او نه ستړی سوی دی او الله ﷻ محبت کوی دصبر کوونکو سره ، او هیڅ ونه ویل

كَانَ قَوْلَهُمْ اِلَّآ اَنْ قَالُوْا رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَاِسْرَافَنَا

مګر دا یی وویل چی ای ربه زمونږ ! او بخښه زمونږ ګناهونه او زمونږ څخه چی

فِيْٓ اَمْرِنَا وَثَبِّتْ اَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿١٤٧﴾

کوم زیاتی سوی دی په کار زمونږ کی او ثابت ولری قدمونه زمونږ او مدد وکړی زمونږ پر قوم دکافرانو ،

Maktaba Tul Ishaat.com

فَاٰتٰىهُمُ اللّٰهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ الْاٰخِرَةِ ۗ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۴۸﴾

بیا ورکی الله دوی ته ثواب ددنیا اوښه ثواب دآخرت او الله محبت کوی دنیك کارونکو سره

دآیتونو تړون: په تیرو آیتونوکی داحدپه غزاکی دځینو کوتاهی کولوپه وجه مسلمانانوته خبرداری او ملامت کول وو، په دی آیتونوکی هم دتیرو امتونوځینی حالاتو او واقعاتو ته په اشاری کولو سره ددغه واقعاتو تکمله وسوه چی هغوی څنګه په میدان جنګ کی ثابت قدم اومستقل پاته سوی دی تاسی لره هم داسی کول په کار دی.

دځینو تورو تشریح: رِبِّيُّوْنَ په زیر درآء اوشد دبآء سره دزیر، اوپیښن دیآء د رَبّ وطرف ته منسوب دی، لکه ربّانیٌ چی معنی یی ده رب والا (خدایی خلک) دلته د رآء دزورناکه توری په څای زیرناکه خلاف القیاس استعمال سوي دی (روح) ځینی حضراتود رِبِّيُّوْنَ معنی ډیری ډلی (ټولګی) کړي ده د دوی په نزد باندی دا د رِبَّةٌ درآء په زیر سره په معنی سره دجمع وطرف ته منسوب ده د رِبِّيُّوْنَ (خدایی خلقو) څخه مراد دلته کوم خلق دی؟ دحضرت عبدالله بن عباس ﷛ اوحسن بصری ﷫ څخه نقل دی چی ددی څخه مرادفقهاء اوعلماء دی (روح المعانی) اِسْتَكَانُوْا دِاسْتِكَانَةٌ څخه جوړدی معنی یی ده ستړی کیدل او دبی وسی په وجه دکاره لاس ایستل اوبس کول (بیضاوی) وَهَنُوْا د وَهْنٌ څخه جوړ دی چی معنی یی ده ضعیف والی اوکمزوروالی.

لنډتفسیر: او ډیرنبیان تیر سوی دی چی ددوی سره ډیرو ډیرو خدایی خلقو (دکفارو سره) جنګونه کړي دی نه دوی همت بایللی دی ددی مصیبتونوپه وجه سره کوم چی په دوی باندی دالله ﷻ په لاره کی واقع سوي دی اونه د دوی (دبدن یازړه) زورکم سوی دی اونه دوی (ددښمن په وړاندی) ستړی سوی دی (چی دوی ته یی دعاجزی اوخوشامندی خبری کړي دی) او دالله ﷻ دداسی مستقل مزاجوسره محبت دی (اوپه کارونوکی به د دوی څخه څه خطا کیدل چی) د دوی دژبو څخه هم ماسوا ددی څخه نورڅه نه دی راوتلی چی دوی (دالله ﷻ په دربارکی) عرض وکی چی ای زمونږ پرودګاره! زمونږ ګناهونه اوزمونږ په کارونوکی زیاتی کونکی وبخښی اومونږ (دکفارو په مقابله کی) ثابت قدم ولری اومونږ په کافرانوباندی غالب کړي نو (ددی ثابت قدمی اودعاپه برکت سره) دوی لره الله ﷻ ددنیا بدله هم ورکړه (یعنی فتح اونصرت) اودآخرت یی هم ښکلی بدله ورکړه (یعنی رضا اوجنت) اوالله ﷻ دداسی نیکو کارو سره محبت دی.

معلومات اومسئلي: په دی ذکرسوو آیتونوکی دتیرو انبیاؤ ﷩ سره په جهادکی دشریك سوو خدایی خلقوپه جنګ کی دثابت قدمی او دمصیبتونو اوسختیوڅخه دنه بیریدو او دنه کمزوری کیدو بیان کولوڅخه وروسته یی د دوی دیوه بل عظیم الشانه صفت بیان دارنګه فرمایلی دی چی هغه دخپلی دی بی مثاله قربانی سره هم دالله ﷻ په دربارکی څو دعاګانی کولی.

اول دا چی زمونږ تیرګناهونه معاف کی، دوهم دا چی په دی موجوده جهادکی چی زمونږ څخه کومی کوتاهی سوی دی هغه معاف کړی، دریم دا چی مونږ پرثابت قدمی باندی قائم وساتی، څلورم دا چی مونږ په دښمنانو باندی غالب کړی. په دی دعاګانو کی دمسلمانانو دپاره یو څو مهم هدایات دی.

(په خپل یونیک عمل باندی نازکول نه دی په کار بلکه په هرحال کې دالله ﷻ څخه مغفرت اوپه نیک عمل باندی دقائم پاته کیدو دعا کول په کار دی)

اول داچې دحق پیژندونکو مومنانو داکاردی چې دوی هرڅومره لوی نیک کار اوهرڅومره جداوجهد دالله ﷻ په لاره کې کوی ده ته دا حق نسته چې په خپل عمل باندی ناز اوفخروکی ځکه چې په حقیقت کې دده داعمل هم دالله ﷻ دفضل اوکرم نتیجه ده دالله ﷻ دفضل اوکرم څخه بغیرهیڅ نیک عمل خودسره کیدی نه سی په حدیث شریف کې دی ، فَوَاللهِ لَوْلَا اللهُ مَا اهْتَدَيْنَا وَلَا تَصَدَّقْنَا وَلَا صَلَّيْنَا (که دالله ﷻ فضل اوکرم نه وای نو مونږ ته به نه دسیده لاری هدایت حاصل سوی وای اونه به زمونږ څخه زکوٰة اولمونځ اداسوی وای، په دی برسیره چې کوم نیک عمل انسان کوی هغه که هرڅومره صحیح اوبرابر ولی هم وکړی لیکن دباچهانو دباچا دلوی شان مطابق کول یی دده په طاقت کې نه دی په دی وجه دهغه په حق ادا کولو کې دکوتاهي کیدو څخه خلاصی نسته نو دده دپاره ضروری ده چې دعمل کولوپه وخت کې هم استغفارکوی اوبخښنه غواړی، دارنګه دا تسلی هم هیچاته حاصله نه ده چې کوم نیک عمل دی اوس دا وخت کوی وراندی به هم ده ته ددی توفیق حاصل وی ، په دی وجه په موجوده عمل کې په کمی باندی ندامت (پښیماني) او داتنده دپاره په دی باندی دقائم پاته کیدو دعاء کول دمومن دپاره خپل فرض ګڼل په کار دی ،په ذکرسوو دعاګانوکی دټولو څخه اول دخپلو تیرو ګناهونو دمعافی درخواست کولوکی دی طرف ته اشاره ده چې په دنیاکی انسان ته کوم غم اوتکلیف یاددښمن په مقابله کې دماتی خوړوحالات راپېښیږی ، دغه اکثره دده دتیرګناهونو اثروی چې علاج یی استغفار او توبه ده ، مولانا رومی فرمایی:

غم چو بینی زود استغفار کن ❁ غم باهر خالق آمد کار کن

دخالق په امرسره راځی تاته استغفارکول اوخپل کارجاری ساتل په کاردی په آخری آیت کې دخدایی خلقوپه دنیا اوپه آخرت کې دښه بدله ورکولو ذکر دی چې په دنیاکی به هم الله ﷻ دوی آخر په دښمنانو باندی غالب او په خپل مقصدکی کامیاب وفرمایی اوبیا دآخرت بدله خواصلی بدله او دهمیشه راحت دی چې هیڅکله به ورته فنانه وی دی طرف ته داشاری کولو دپاره یی دآخرت دثواب سره لفظ دحسن زیات کې وَحُسْنَ ثَوَابِ الْآخِرَةِ یی وفرمایل.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تُطِيعُوا الَّذِينَ

ای ایماندارو ! که تاسی خبره ومنی

كَفَرُوا يَرُدُّوكُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ فَتَنْقَلِبُوا خَاسِرِينَ ﴿١٤٩﴾ بَلِ اللَّهُ

دکافرانو نو دوی به تاسی وګرځوی په چپه پوندوباندی بیابه تاسی ولویږئ په نقصان کې، بلکه الله ستاسی

مَوْلَاكُمْ ۖ وَهُوَ خَيْرُ النَّاصِرِينَ ﴿١٥٠﴾

مدد ګار دی او دهغه مدد دټولو څخه غوره دی

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسير: دآيتونو تړون: داحد په غزا كی د مسلمانانو په عارضی ماتی خوړلو او دنبی كريم ﷺ دوفات په خبرخپریدو باندی چی كله منافقانو دجنگ پانه بدله وليده نو دشرارت كولو موقع ورته په لاس ورغله مسلمانانو ته يی خبری شروع كړی چی هركله اوس دی ﷺ پاته نه سو نو مونږخپل زوړدين ولی نه اختيار وو ، چی په دی سره به دا ټولی جگړی ختمی سی ، په دی سره دمنافقانو خباثت او دمسلمانانو سره بدی او دښمنی ظاهره ده ، په دی وجه په ذكر سوی آيت كی مسلمانانوته هدايت سوي دی چی ددی دښمنانو خبروته دی غوږونه نه اړدی او دوی دی په خپله څه مشوره كی نه شريكوی او نه دی د دوی مشوره منی نو لكه څنگه چی په تيرو آياتونوكی دخدايی خلقو دتابعداری كولو هدايت وو ، په دی كی دمنافقانو او داسلام دمخالفينوپه مشوره دعمل نه كولواوددوی څخه دځان ساتلو هدايت دی ، دتفسيرخلاصه دا ده ای ايماندارو! كه تاسی خبره ومنی دكافرانو دوی به تاسی (دكفر طرف ته) چپه وگرځوی (مطلب دا دی چی ددی خلقو اصل مقصد مسلمانان ددين څخه اړول اوبدگمانه كول دی چی ددی اظهار كله په ډاگه هم كوی اوكله يی واضح نه وايی خواندازه داسی جوړوی چی كرار كرار ددوی دزړونو څخه داسلام عظمت اومحبت كم سی) بيابه تاسی (دهرقسم څخه) ناكامله سی (لنډه داچی دوی ستاسی دوستان هيڅكله نه دی كه څه هم ددوستی اظهاركوی) بلكه الله ﷻ ستاسی دوست دی اوهغه دټولو څخه ښه مددكونكی دی (په دی وجه مسلمانانو لره په كار دی چی يوازی په الله ﷻ اعتمادكوی دهغه په كومك باندی تكيه كوی مخالفين كه تاسی ته دفتح اومددڅه تدبيرونه هم وښيی نو دالله ﷻاو د رسول ﷺ داحكامو څخه خلاف په هغه عمل مه كوی.

سَنُلْقِيْ فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا الرُّعْبَ بِمَآ اَشْرَكُوْا بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا ۚ وَ

اوس به مونږ وغورځوو په زړونو دكافرانو كی هيبت په دی وجه چی دوی شريك جوړ كړی دی الله لره هغه چی هيڅ دليله پر نه دی نازل سوی

مَاْوٰىهُمُ النَّارُ ؕ وَبِئْسَ مَثْوَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۵۱﴾ وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ

او د دوی ځای دوږخ دی اوهغه بد ځای دی ظالمانو دپاره ، او الله رښتونی كړه ستاسی سره

اللّٰهُ وَعْدَهٗٓ اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ بِاِذْنِهٖ ۚ حَتّٰٓى اِذَا فَشِلْتُمْ وَ

وعده خپله كله چی تاسی قتل كول هغوی دهغه په حكم سره تردی چی تاسی نامردی وكړه

تَنَازَعْتُمْ فِى الْاَمْرِ وَعَصَيْتُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَآ اَرٰىكُمْ مَّا تُحِبُّوْنَ ؕ

اوپه كاركی موجگړه جوړه كړه اونافرمانی مو وكړه پس دهغه چی تاسی ته يی وښوول ستاسی دخوشحالی شی،

مِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الدُّنْيَا وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الْاٰخِرَةَ ۚ ثُمَّ

په تاسی كی چا غوښته دنيا اوځينی په تاسی كی غواړی آخرت بيا يی

Maktaba Tul Ishaat.com

صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ ۚ وَلَقَدْ عَفَا عَنكُمْ ۗ وَاللَّهُ ذُو

تاسی را ور لاست دهغه څخه چی تاسی وزمایی او هغه تاسی معاف کړی او دالله ﷻ

فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ ﴿۱۵۲﴾

فضل دی په مؤمنانو باندی

دآیتونو تړون: په تیرآیت کی ددی خبری ذکر وو چی الله ﷻ ناصر او مددگار دی ، په دی آیتونو کی دالله ﷻ دنصرت اومددگاری دځینو واقعاتو ذکر دی.

لنډتفسیر: مونږ اوس اچوو رعب (هیبت) دکافرانو په زړونو کی په سبب ددی چی دوی الله ﷻ لره شریك یو داسی شی جوړ کړی دی چی دهغه (په شریك جوړیدو) دالله ﷻ دطرف څخه دلیل نه دی نازل سوی (نه په لفظونو کی ښکاره او نه په معنٰی کی یعنی داسی دلیل چی په شریعت کی معتبروی ، په دی کی ټول عقلی اوقطعی دلیلونه داخل سوه مطلب دادی چی داسی خوهریو جاهل دخپل ځان څخه دلیل پیش کوی لیکن دمنلوقابل دلیل ددوی سره نسته) او د دوی ځای جهنم دی اوهغه ناکاره ځای دی دظالمانودپاره (په دی آیت کی چی پر کفارو باندی درعب اوهیبت اچولوکومه وعده ده داداسی ښکاره سوه چی اول خوسره ددی چی ماتی مسلمانانو خوړلی وه، دعربومشرکان بغیردڅه ظاهري سبب څخه دمکی طرف ته واپس سول (بیضاوی) بیاچی یی کله څه لار ووهله نوپه خپله دی بی وقوفی باندی یی افسوس وکی چی دا مونږ څه وکړل مسلمانان بی دمه سوی وو نو مونږ ته نه وو په کار چی راتلو اوبیایی مدینی ته د دوباره تلو اراده غوندی وکړه خوالله پاك د دوی په زړونو باندی داسی رعب واچوی چی دمدینی طرف ته یی دتللو همت ونه سو ، په لاره تیریدونکی یوه کلی وال ته یی وویل چی مونږبه تالره دومره مال درکو ، ته مدینی ته ولاړسه مسلمانان وبیروه چی هغوی واپس راروان دی دلته داټوله واقعه نبی کریم ﷺ ته دوحی په ذریعه وښوول سوه نو نبی کریم ﷺ په دوی پسی دتعاقب کولودپاره دحمراء الاسد ترمقام پوری ورسیدی خو دوی تښتیدلی وه ، دا آیت ددی واقعی متعلق نازل سو ، په راتلونکو آیتونوکی داحدپه غزاکی دمسلمانانودعارضی ماتی خوړوداسبابوبیان دی فرمایي) اویقینا الله ﷻ ستاسی سره خپله وعده (دنصرت) رښتینی کړه کوم وخت چی تاسی (په اول دجنګ کی) دی کفارو لره په حکم دخدای ﷻ سره قتلول (او دا ستاسی غلبه کرار کرار زیاتیده) تردی چی تاسی په خپله (په رایی خپله کی) کمزوری سواست (دغه شان چی کوم تجویز نبی کریم ﷺ دشادطرف په موچوباندی دپنځوسو سپاهیانو دکښینولو فرمایلی وو، په دی کی ځینوته غلط فهمی وسوه چی مسلمانانو فتح وکړه اوس دلته دکښینستو ضرورت ختم سو نو مونږ ته هم اوس ددښمن په مقابله کی شریکیدل په کار دی) اوی یوتربله مو (دنبی کریم ﷺ) په حکم کی اختلاف وکی (چی ځینی په دغه ځای باندی دپاته کیدو په حکم قائم پاته سولیکن ځینی نورو بل تجویز پیش کی ، انکار اوملامت په دی دوهم تجویز باندی دی چی) اوتاسی (دنبی کریم

ﷺ په وینا لا نه راست ، نو دغه څخه چې تاسې ته ستاسې دزړه غوښتونکې خبره (په سترګو سره) وښودل سوه (یعنې د مسلمانانو غلبه درته وښودل سوه او دغه وخت ستاسې داحالت ووچې) په تاسې کې ځینې هغه ووچې دنیا (اخیستل) یې غوښتل (یعنې په کفاروپسې کېدل اودغنیمت مال یې جمع کول غوښتل) اوځینې په تاسې کې هغه وه چې (یوازې) آخرت یې غوښتې (نواوس چونکه دځینو درایې دکمزورۍ اودنبي کريم ﷺ په حکم باندې دنه تلواو ددنیاطلب کولوپه وجه سره الله ﷻ دآئنده دپاره خپل کومك بندکی) اوبیایې ستاسې څخه په کفارو باندې (غالب) راتلل واپس واخستل (سره ددې چې دا عارضي ماتې خوړل ستاسې دکارنتیجه وه لیکن بیاهم دالله ﷻ دطرفه داکاردسزاپه طورنه بلکه ددې دمصلحت په وجه وسو) چې خدای ﷻ ستاسې امتحان (دایمان) وکې (نو په دې وخت کې دمنافقانونفاق ښکاره سو او دمخلصینو قدر زیات سو) او یقین وکې چې الله ﷻ تاسې معاف کړاست (اوس به په آخرت کې په دې ستاسې نیول نه وي) او الله ﷻ لوی فضل والا دی په (حال د) مسلمانانو باندې .

معلومات اومسئلې

(دالله ﷻ په نزد دصحابه کرامو ؓ لوړمقام او ورسره رعايتونه)

داظاهره خبره ده چې داحدپه غزاکې دځینو اصحابو ؓ څخه درایې غلطي سوې وه چې په تیرو ډیرو آیتونو کې خبرداري اودآئنده دپاره دخپل حال داصلاح کولودهدایتونو سلسله راروانه ده لیکن سره ددې زورنو اوخبرداریو بیاهم دصحابه کرامو ؓ سره دالله ﷻ مهربانیانې دکتلو قابلې دي اول خویې لِيَبْتَلِيَكُمْ وفرمايل دا یې ښکاره کړه چې ددې عارضي ماتې خوړو کوم صورت چې راپیښ سوي دی دا په طور دسزا نه دی ، بلکه دامتحان دپاره دی ، بیایې په صافو لفظونو کې ددې خطا دمعافي اعلان وکې . وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ

(دځینو صحابه کرامو ؓ ددنیا طلبي مطلب)

په ذکرسوي آیت کې ارشاد سوي دي چې دغه وخت صحابه کرام ؓ دوې ډلې سوې وه ، ځینو دنیا غوښته ځینې یوازې دآخرت طلب ګاروه دلته داخبره دغورقابله ده چې دکوموحضراتو متعلق ددنیادطلب کولو ذکردی دا ددوی دکم عمل په بناباندې دي ښکاره خبره ده چې دغنیمت دمال جمع کولو ارادې کولو ته یې ددنیاطلب ویلی دی ، نواوس فکروکې چې که دغه صاحبان ؓ په خپلو مورچوکې ناست وای او دغنیمت دمال په جمع کولوکې نه وای شریك سوي نوولې دغنیمت په مال کې به ددوی حصه څه کمه سوې وای اوچې شریك سوي وای نوزیاته حصه به ورته رسیده ، په قرآن اوحدیث کې چې دغنیمت دمال کوم قانون دی اوکوم سړی چې په دې قانون پوه دی دهغه په دې کې هیڅ شك اوشبه نه سي کېدی چې دغنیمت په مال کې چې کومه حصه دوی ته رسیږي په دې کې په هیڅ حال کې څه فرق اوکمي زیاتي نه سي راتلی ، دغنیمت دمال دجمع کولوپه صورت کې به هم ددوی هغه حصه وي کمه چې په خپل ځای په مورچوکې دپاته کېدوپه صورت کې وي ، نواوس ښکاره خبره ده چې ددوی داعمل خالص دنیاطلب کول خونه سي کېدی بلکه دجهاد کونکوسره په کارکې شریکېدل دي البته به طبعي طورسره دغه وخت دغنیمت دمال خیال په زړه کې راتلل هم څه لیرې خبره نه ده ، لیکن الله ﷻ دخپل رسول ﷺ دملګرو زړونه

Maktaba Tul Ishaat.com

هم ددې څخه پاک ساتل غواړي چې دمال تصرف ولې په کې راسي ، په دې وجه یې دمال تصرف ته
دنیاطلب کول وویل او دناخوښۍ اظهار یې په وکې . والله تعالی اعلم

إِذْ تُصْعِدُونَ وَلَا تَلْوُونَ عَلَىٰ أَحَدٍ وَالرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ فِي أُخْرَاكُمْ فَأَثَابَكُمْ غَمًّا بِغَمٍّ

تاسي پرمخه ختلاست او شاته مو چا ته نه کتل او رسول ﷺ تاسي بللاست د وروسته ستاسي څخه ، بیا ورسیدی تاسي
غم په بدل دغم کې ،

لِّكَيْلَا تَحْزَنُوا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا مَا أَصَابَكُمْ ۗ وَاللَّهُ خَبِيرٌ

دپاره ددې چې تاسي غم ونه کړې په هغه چې دلاسو څخه وزي او په هغه چې څه در پیش سي او الله خبر دی

بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٥٣﴾ ثُمَّ أَنزَلَ عَلَيْكُم مِّن بَعْدِ الْغَمِّ أَمَنَةً

ستاسي دکار څخه ، بیا یې نازل کې په تاسي دتنګی څخه وروسته امن چې اوږمې وو

نُّعَاسًا يَغْشَىٰ طَائِفَةً مِّنكُمْ ۖ وَطَائِفَةٌ قَدْ أَهَمَّتْهُمْ

چې راپټ کړل دغه پرکالي خینې ستاسي څخه او خینو خیال کوی

أَنفُسُهُمْ يَظُنُّونَ بِاللَّهِ غَيْرَ الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ ۖ يَقُولُونَ

دخپلو ځانونو چې په الله یې ګمانونه کول د دروغو ګمان دجاهلانو ویل به یې

هَل لَّنَا مِنَ الْأَمْرِ مِن شَيْءٍ ۗ قُلْ إِنَّ الْأَمْرَ كُلَّهُ لِلَّهِ ۗ

ای زمونږ په لاسونو کې څه کار سته ؟ ته وو ایه چې ټول کار دالله په لاس کې دی ،

يُخْفُونَ فِي أَنفُسِهِم مَّا لَا يُبْدُونَ لَكَ ۖ يَقُولُونَ لَوْ كَانَ

دوی په خپلو زړونو کی پټوی هغه چې تا ته یې نه ښکاره کوی ، وایي دوی که څه کار وی

لَنَا مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ مَّا قُتِلْنَا هَاهُنَا ۗ قُل لَّوْ كُنتُمْ فِي

په لاس زمونږ کی ، نو مونږ به نه وای قتل سوی دلته ته وو ایه که تاسي وای

بُيُوتِكُمْ لَبَرَزَ الَّذِينَ كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقَتْلُ إِلَىٰ مَضَاجِعِهِمْ ۖ

په خپلو کورونو کی نو خامخا به راوتلی وای هغه چې مقرر سوی وو پر مرګ په خپل پړاو او الله ﷻ آزمائش

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلِيَبْتَلِيَ اللّٰهُ مَا فِيْ صُدُوْرِكُمْ وَلِيُمَحِّصَ مَا فِيْ قُلُوْبِكُمْ

کوی هغه چی ستاسی په زړونو کی دی اوصاف کول وو دهغه چی په زړونو ستاسی کی دی

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۱۵۴﴾ إِنَّ الَّذِيْنَ تَوَلَّوْا مِنْكُمْ

او الله ﷻ پیژنی راز دزړونو ، کوم خلق چی تاسی څخه په شا سو

يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ إِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطٰنُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوْا

په کومه ورځ چی وجنګیدل دوه فوجونه نو دوی وغولول شیطان د دوی دګناه په شامت سره

وَلَقَدْ عَفَا اللّٰهُ عَنْهُمْ إِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿۱۵۵﴾ ع

اودوی بخښلی دی الله الله بخښونکی دی اوتحمل (زغم) کوونکی دی

دآیتونو ترون : دا آیتونه هم داحد دغزا دذکرسوی واقعی سره تعلق لری ، په اول آیت کی په دی واقعه باندی دصحابه کرامو ﷺ دغم اوخفګان ذکردی اوپه ورپسی بل اوږدآیت کی ددی غم دلیری کولو بیان دی ، په دریم آیت کی بیاددی خبری اظهار دی ، چی په دی واقعه کی چی کوم صورت دماتی خوړومخ ته راغلی دی داهم څه سزانه ده ، بلکه دمخلصو مومنانو او منافقانوپه مینځ کی دفرق راوستلو دپاره یو امتحان وو اوبیاپرله پسی دصحابه کرامو ﷺ دخطا دمعاف کولو اعلان دی .

لنډتفسیر: اوهغه وخت یادکی هرکله چی تاسی (په تیښته سره ځنګل ته) لوړختلاست روان واست اوچاته موپه شاپسی کتل هم نه اورسول ﷺ په تاسی پسی دشا دخواتاسی ته آوازونه کول (چی دی خواته راسی دی خواته راسی مګرتاسی ګرسره اوریدل هم نه) نوالله ﷻ ددی په بدله کی غم درکی په سبب (ستاسی) دغم ورکولو (نبی ﷺ ته) ددی دپاره چی (په دی سبب اومصیبت سره په تاسی کی پوخوالی پیداسی چی ددی په وجه بیا) تاسی غم ونه کی پرهغه شی چی ستاسی دلاسونو څخه ووزی اونه پردی چی پر تاسی څه مصیبت پریوزی اوالله ﷻ ټول خبرلری ستاسی دټولو کارونو (په دی وجه چی تاسی څه کارکوی الله ﷻ دهغه سره مناسبه سزا منتخبه کوی اوس مخ ته دغم لیری کیدو بیان دی) بیاالله ﷻ ددی غم څخه وروسته په تاسی باندی آرام (او راحت) راولیږی یعنی پرکالی (اررمی) (هرکله چی کفاردمیدان څخه واپس سول نو دغه وخت دغیبو څخه په مسلمانانو باندی پرکالی غالبه سوه چی په دی سره دټولوغم غلط سو) چی ستاسی څخه پریوی ډلی (یعنی مسلمانانو) باندی خو دخوب غلبه کیده اویوه ډله هغه وه (یعنی دمنافقانو) چی ددوی دځپل ځان سره فکرووو (چی ګوری ددی ځای څخه به هم خلاص سو) دغه خلقو په الله ﷻ باندی خلافِ واقع (غلط) ګمان کوی چی محضی دحماقت (بی وقوفی) خیال وو (دغه

Maktaba Tul Ishaat.com

خيال مخکي ددوی دقول څخه اوددوی بې وقوفي اوجهالت د دوی دجواب څخه معلوميږي د دوی وينا دا وه چې) دوی داسې ويل چې ايا زمونږ څه اختيارهم چليږي (مطلب داچې زمونږ رايې هيڅاوانه وريده چې مونږ دجنګ څخه مخکي ورکړی وه څکه يې نوټول په مصيبت کې واچول) ته ورته ووايه چې اختيار خو ټول خاص دالله ﷻ چليږي (مطلب دا دی چې که ستاسې په رايې باندې عمل هم سوی وی خوبيابه هم دالله پاك قضا غالبه وه اوکوم څه چې په تاسې راتلونکی وه دابه خامخاراتلل ،نو د دوی دوينا اودجواب مطلب يې وروسته په تفصيل سره راروان دی) دغه خلق په خپلو زړونوکی داسې خبره پټه ساتی په مخکې يې (په ډاګه) نه سې ښکاره کولی (څکه چې په ظاهره کې ددوی وينا چې آيا زمونږ اختيار سته دامطلب ګڼل کيږي چې دالله ﷻ دتقدير په وړاندی دبنده تدبيرنه چليږي ، چې داعينی دايمان خبره ده ، اودالله ﷻ دطرف څخه چې کوم باريك جواب ددی ورکول سو په دی کی ددی معنٰی تصديق هم دی چې واقعی اختياردالله ﷻ غالب دی ، مګر په حقيقت کې د دوی مطلب ددی ويناڅخه دانه وو ،بلکه دوی داخبره په دی معنٰی سره) وايي چې که زمونږ څه اختيار چليدی (يعنی زمونږ په رايې عمل سوی وای) نو په مونږ (کی چې کوم خلق دلته قتل سول هغوی) به قتل سوی نه وای (چې ددی مطلب دا دی چې تقدير هيڅ شی نه دی څکه مخکي يې د دوی دا وينا داسې درواغجنه کړه چې) ته ورته ووايه چې که تاسې خلق په خپلو کورونوکی هم پاته سوی واست بياهم چې دکومو خلقو دپاره قتليدل مقرر سوی وه دغه خلق به ددغه ځايونو طرف ته (دراتلودپاره) راوتلی وای کوم ځای چې دوی (قتل سوی) پريوتلی دی (غرض دا دی چې دا ظاهری ضررخومره چې وسو دا په هيڅ حال نه سوای پاته کيدی) او (ددی فايدی اونفعی ډيری لوی وی څکه چې) څه چې وسوه الله پاك ستاسې دباطن دخبری (يعنی دايمان) امتحان کوی (څکه چې ددی مصيبت په وخت کې دمنافقانو نفاق ښکاره سو اودمومنانو ايمان نورزيات كلك اوحق سو) اوڅکه چې ستاسې دزړونو خبری (يعنی داايمان دشکونو اووسوڅخه) صفاکی (څکه چې په مصيبت کی دمومن توجه دغيرالله څخه راوګرځی، يوازی دالله ﷻ طرف ته سی چې په دی سره ايمان ته صفايي اوقوت رسيږي) اوالله ﷻ ټولی دباطن خبری ښې پيژنی (هغه ته دامتحان حاجت نسته ، مګر ددی دپاره چې په عدالتی طريقه سره دمجرم جرم په ډاګه سی ددی دپاره داسې کارونه واقع کوی) يقيناًپه تاسې کی چې کومو خلقو (دميدان جنګ څخه) شاګر څولی ده په کومه ورځ چې دغه دواړی ډلی (دمسلمانانو اوکفارو) يوبل ته مخامخ سوی (يعنی داحدپه ورځ ددی وجه) ددی څخه ماسوا بله هيڅ نه ده سوی چې دوی شيطان وښويول ددوی دځينو (تيرو) عملونوپه سبب سره (يعنی ددوی څخه څه خطااو قصور داسې سوی ورچې دشيطان ددوی څخه دنوری ګناه طمع پيداسوه اواتفاقی داسې وسوه چې هغه طمع يې هم پوره سوه) اويقين وکی چې الله ﷻ هغه معاف کړل، واقعی الله ﷻ لوی معاف کوونکی اولوی حلم (صبر) والا دی (چې دخطا واقع کيدو په وخت کی هم يې هيڅ سزا درنه کړه)

معلومات اومسئلې: په ذکرسوی آيتونوکی په اولنی آيت کی دڅه صحابه کرامو ﷺ ميدانی جنګ پريښوول اوپه خپله دنبی ﷺ په آواز باندی نه راتلل اوپه دی دنبی ﷺ غمجن کيدل او ددی غم په بدله کی آخر

Maktaba Tul Ishaat.com

دصحابه وو ﷺ غمجن کیدل ذکر دی اود احادیثو په روایتونو کی دی چی حضرت کعب بن مالك ﷺ دوی ته اواز وکی نودوی راجمع سول ، ددی توجیه اوتطبیق صاحب دروح المعانی داسی کړیدی چی اول رسول ﷺ آواز وکی چی ټولو صحابه وو ﷺ نه وو اوریدلی او ډیر لیری نه وو تللی ، نو دغه وخت حضرت کعب بن مالك ﷺ چغه وکړه نوهغه ټولو واوریده اوجمع سوه ، په بیان القرآن کی حضرت حکیم الامت ﷺ فرمایلی دی چی اصلی وجه دبیری داخبرو چی نبی کریم ﷺ شهید سو ، دده ﷺ په بللوسره په دی خبری کی خوځه شك نه وو ، اوکه اواز رسیدلی هم وی خو دی ﷺ یی پیژندلی نه وو ، بیاچی کله حضرت کعب بن مالك ﷺ چغه وکړه ، نو په دی چغه کی ددی خبری تردید اودنبی کریم ﷺ دژوندی والی ذکر وو چی دایی واوریدل نو دټولو تسلی وسوه اوټول جمع سول ، پاته سوه داخبره چی بیا پردی باندی دالله ﷻ طرفه څخه زورنه او دنبی ﷺ غم ولی وسو ؟ ددی وجه داکیدی سی چی که مستقل مزاج پاته سوی وای نو اواز به یی پیژندلی وای .

(داحد مصیبتونه سزا نه ده بلکه امتحان وواوګومه خطاچی دځینی صحابه کرامو ﷺ څخه سوی وه هغه معاف سوي دی)

وَلِيَبْتَلِيَ اللّٰهُ مَافِيْ صُدُوْرِكُمْ الآية څخه معلومه سوه چی داحد په غزاکی چی کوم مصیبتونه اوتکلیفونه صحابه کرامو ﷺ ته پیښ سوی وه دا دسزا په طور سره نه وه بلکه په طوردامتحان سره وه، ددی امتحان په ذریعه په مخلصو مومنانو اومنافقانو کی فرق راوستل اوښکاره کول وو ، اود اَثَابَكُمْ غَمًّا دالفاظو څخه چی ددی سزاکیدل معلومیږی دهغه تطبیق دادی چی شکل خودسزا وو مګردا سزاکوم چی بیان تیرسو دتربیتی اصلاح دپاره وه لکه یوپلارچی خپل زوی لره، استاذ خپل شاګرد لره سزا ورکوی نوپه عرف کی دی ته هم سزاویل کیږی ، مګر په حقیقت کی دا دتربیت اواصلاح یوصورت وی ، دحاکمانه سزا څخه مختلفه وی .

(داحدپه واقعه کي په مسلمانانو دمصیبتونو اسباب څه وه)

په ذکرسوی جمله لِيَبْتَلِيَكُمْ کی دآیت ترآخره پوری چی کوم ارشاددی ددی څخه خودامعلومیږی چی دمصیبتونو دواقع کیدلوسبب خودالله ﷻ دغه حکمتونه وه لیکن په راتلونکی آیت اِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطٰنُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوْا سره دامعلومیږی چی ددی صاحبانو یوه مخکنی خطاددی شیطانی اثرسبب دی .

جواب دا دی چی ظاهری سبب یی خو هم دغه خطاسوه چی ددی په وجه سره شیطان د دوی څخه دبلی ګناه اونافرمانی کولو هم طمع وسوه اواتفاقا دده دغه طمع هم پوره سوه ، لیکن په دی خطا اوپه دی پسی په راتلونکو نتیجوکی تکوینی حکمتونه (یعنی په وجودکی راتلونکی حکمتونه) پټ وه کوم چی یی په لِيَبْتَلِيَكُمْ سره بیان کړل ، په روح المعانی کی دزجاج څخه نقل سوی دی چی شیطان دوی ته ځینی هغه ګناهونه وریادکړل ، دکموپه نظرکی نیولو سره چی دالله ﷻ مخ ته ورتلل اودالله ﷻ سره یوځای کیدل دوی ته ښه معلوم نه سوه په دی وجه دجهاد څخه واپس سو ، ددی دپاره چی دوی اول خپل حالت برابرکړی اوبیاپه ښه حالت کی جهادوکی اوشهیدان سی ، دالله ﷻ سره یوځای سی .

Maktaba Tul Ishaat.com

(یوه ګناه هم دبلې ګناه سبب کیږي)

دذکرسوی آیت څخه معلومه سوه چی یوه ګناه بله ګناه راکشوی ، لکه یوه نیکی چی بله نیکی راکشوی یعنی په نیکو اوبدو عملونوکی درا کشولو ماده ده ، کله چی انسان یونیك کارکوی نودتجربی څخه معلومه سویده چی ده ته نوری نیکی هم اسانه کیږي اوپه زړه کی یی دنیکو عملونو مینه زیاتیږي ، دغه شان چی انسان څه ګناه وکی نودغه ګناه دده دپاره دنورو ګناهونو لاره هواروی اوپه زړه کی یی دګناه مینه زیاتیږي په دی وجه ځینی بزرګان فرمایی .

انّ من جزآء الحسنة الحسنة بعدها وانّ من جزآء السيّئة السيّئة بعدها .

دنیکو کارنو نقده جزاء هغه بله نیکی ده چی ده ته دهغه توفیق ورکول کیږي اود بدعمل یوه سزاهغه دوهمه ګناه ده دکمی دپاره چی دی اولنی ګناه لاره هواره کړي ده»

حضرت حکیم الامت رحمه الله په مسائل السلوك کی فرمایلی دی چی دحدیث دوضاحت په مطابق دګناه څخه په زړه کی یوه توره تیاره پیداسی اوکله چی په زړه کی تیاره راسی نوشیطان کنترول بیاپرپیداکی .

(دالله ﷻ په نزدصحابه کرامو؇ لوړ مقام او ددوی پرخطاګانو باندی دعفوی بی مثاله نمونه)

داحدپه واقعه کی چی کوم لغزشونه اوخطاګانی دځینو اصحابوکرامو؇ څخه صادری سوی وی دغه په خپل ذات کی ډیری لویی اوسختی وی پرکومه مورچه باندی چی پنځوسو اصحابوکرامو؇ ته حکم دکښینستو ورکول سوی ووچی په دوی هرڅه حال چی تیریږي خو دوی به ددی ځای څخه نه ښوری ، دهغوی ډیر شمیر ددغه ځای څخه وښوري دی ، که څه هم چی دښوریدو سبب د دوی دغه اجتهادی غلطی وه چی اوس فتح سوي ده او ددی حکم پوره کولو وخت اوس پاته نه سو او راکښنته کیدل او دټولو مسلمانانو سره شریك کیدل په کار دی ، لیکن په حقیقت کی دنبی کریم ﷺ دواضح حکم اوهدایاتوڅخه خلاف وو ، ددی قصور اوخطاپه نتیجه کی دمیدان جنګ څخه دتیښتی غلطی ورڅخه سوی وه ، که څه هم په دی کی دیوتاویل څخه کاراخستل سوی وی ، لکه چی دزجاج څخه لوړنقل سوی وه ، بیادمیدان جنګ څخه تیښته په داسی حالت کی وسوه چی نبی کریم ﷺ د دوی سره وو او دشادخوا څخه یی دوی ته آوازونه ورکول ، دا ټولی خبری بیشکه چی په خپل ځای ډیر سخت جرم وو ، اوپه صحابه کرامو؇ چی دمخالفینو دطرفه څخه څومره الزامات لګول کیږي دا دهغوی ټولوڅخه د ډیرو سختو ګناهونو حیثیت لري ، لیکن فکر وکړی چی الله ﷻ ددی ټولوخطاګانوڅخه وروسته هم ددی حضراتو سره څه معامله وفرمایله ، دغه په ذکرسوی آیت کی بنه په ډاګه سره راغله چی اول خویی ظاهری انعام دپرکالی (اررمی) ورولیږي ، ددوی تکلیف ، ستړی والی اوپریشانی یی لیری کړل ، بیایی داوښوول چی کوم مصیبت اوغم مسلمانانوته دغه وخت رسیدلی دی دغه سزا اوعذاب نه دی بلکه په دی کی د دوی دتربیت کولو څه حکمتونه پټ دی ، بیایی په صافو لفظونو کی دمعافی اعلان وفرمایی ددی تکرار یوحکمت داهم دی چی اول وار خو یی په خپله دصحابه کرامو؇ دتسلی دپاره ارشاد وفرمایی اوپه دی ځای کی دمنافقانو ددی قول رد کول هم مقصود دی کوم چی دوی مسلمانانو ته وویل چی تاسی زمونږ په رایی

Maktaba Tul Ishaat.com

عمل ونه کې په دې وجه دمصیبتونو او تکلیفونو سره مخامخ سوا ست ، په هرحال په دې ټولو آیتونوکې داخبره ښه په وضاحت سره مخ ته راغله چې دالله ﷻ په دربارکې دخپل رسول ﷺ دملګرو سره دمینې محبت ته هغه مقام حاصل دی چې سره ددومره لویو خطاګانو کولو بیاهم د دوی سره دعفوی او درګذر څخه بلکه دلطف اوکرم معامله یې وفرمایله دامعامله خویوازی الله ﷻ اوقرآنی آیتونو بیان کړي ده ، دغه ډول یوه معامله دحضرت حاطب ابن ابی بلتعه ﷛ دحضورﷺ په مخکې پیښه سوه ، ده دمکې مشرکانو ته دمسلمانانو دحالاتو متعلق یوخط لیکلی وو ، هرکله چې نبی ﷺ ته دوحی په ذریعه دا حقیقت ښکاره سو او خط ونیول سو نوصحابه کرام ﷛ حاطب ابن ابی بلتعه ته سخت په غصه سول ، فاروق اعظم ﷛ عرض وکې چې ماته اجازه راکې چې دده څټ ووهم ، لیکن نبی ﷺ ته معلومه وه چې دی منافق نه دی ، مخلص مومن دی ، لیکن دا دده څخه غلطی سوي ده ، په دې وجه یې دی معاف کې او وی فرمایل ، چې دااهل بدرو څخه دی اوشایدچې الله ﷻ دبدرټولو حاضرینوته دبخښنې اومعافی حکم کړی وی دا روایت داحادیثوپه ټولو معتبرو کتابونوکې دی .

(دصحابه کرامو ﷛ متعلق دعامو مسلمانانو دپاره یوسبق)

ددې څخه داهل سنت والجماعت ددې عقیدې اوعمل تصدیق کیږی چې صحابه کرام ﷛ که څه هم دګناهونو څخه معصوم نه دی ، د دوی څخه لوی ګناهونه هم کیدی سی اوسوی هم دی ، لیکن سره ددې دامت دپاره داجائزنه دی چې دوی ته دڅه بدی یاعیب نسبت وکې ، هرکله چې الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ دهغوی دومره لوی خطاګانی معاف کړیدی او د دوی سره یې دلطف اوکرم معامله فرمایلې ده او دوی ته یې د (رضی الله عنهم ورضوا عنه) مقام ورکړي دی ، نو دچاحق څه دی چې په دوی کې دچاپه بدی سره ذکر وکې ، دا وجه ده چې دحضرت عبدالله ابن عمر ﷛ په مخکې یو وارچا دحضرت عثمان غنی ﷛ او دخپنو صحابه کرامو ﷛ داحدغزا ددې واقعې ذکر وکې اوطعن یې پروکې چې دوی میدان پرې ایښی وو اوتښتیدلی وه ، نوپه دې باندې حضرت عبدالله ابن عمر ﷛ وفرمایل چې دکم شی دمعافی اعلان الله ﷻ کړي دی ، په دې باندې دطعن اواعتراض کولو حق چاته څنګه حاصل دی ، په دې وجه داهل سنت والجماعت دعقیدو کتابونه ټول پردې باندې متفق دی چې دټولو صحابه کرامو ﷛ تعظیم کول اوپردوی باندې دطعن او اعتراض څخه ځان ساتل واجب دی ، په عقائدنسفیه کې دی .

وَيُكَفُّ عَنْ ذِكْرِ الصَّحَابَةِ ﷛ اِلاَّ بِخَيْرٍ : واجب دی چې دصحابه وو ﷛ ذکر دې بغیر دخیر او نیکی څخه نه کوی ، اوپه شرح مسامره ابن همام کې دی ، اِعْتِقَادُ اَهْلِ السُّنَّةِ تَزْكِيَةُ جَمِيْعِ الصَّحَابَةِ ﷛ وَالثَّنَاءُ عَلَيْهِمْ داهل سنت والجماعت عقیده دا ده چې ټول صحابه کرام ﷛ دی عادلان او ثقات ګڼی د دوی ذکر دې په ثنا او صفت سره کوی ، په شرح مواقف کې دی ، يَجِبُ تَعْظِيْمُ الصَّحَابَةِ كُلِّهِمْ وَالْكَفُّ عَنِ الْقَدْحِ فِيْهِمْ : دټولو صحابه وو ﷛ تعظیم واجب دی او په دوی باندې دطعن اواعتراض څخه ځان ساتل واجب دی ، حافظ ابن تیمیه ﷫ په عقیده واسطیه کې فرمایی چې ، داهل سنت والجماعت عقیده دا ده چې دصحابه کرامو ﷛ په مینځ

Maktaba Tul Ishaat.com

کي چې کم اختلافات او جنګونه سوېدي په دې کې دې پرچا باندې دالزام او اعتراض څخه ځان ساتي ، وجه داده چې په تاريخ کې کوم روايات ددوی دعيبونو متعلق راغلي دي په دې کې ډېر دروا غ او غلط دي، کم چې دښمنانو جوړکړي دي او ځينې په کې هغه دي چې کمې او زياتې يې په کې کړې دي، دخپل اصل څخه يې خلاف کړي دي او کومه خبره چې صحيح هم ده نو صحابه کرام ﷺ په دې کې داجتهادي رايې پربنا باندې معذور دي او فرض کړه په کوم ځای کې چې دوی معذور هم نه وي نو دالله ﷻ قانون دا دی چې ، اِنَّ الْحَسَنٰتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّاٰتِ يعنې نيک عملونه دبدو عملونو هم کفاره کيږي او دا ښکاره خبره ده چې دصحابه کرامو ﷺ دنيکو عملونو برابر دبل چا عملونه نه شي کيدی او دالله ﷻ دعفوی کوم چې څومره دوی مستحق دی بل نه شي کيدی ، په دې وجه چاته داحق نسته چې دوی لره په عملونو د دوی باندې د دوی مواخذه وکړي او په دوی کې په چا باندې طعن او اعتراض وکي ، او دوی ته په بدو ويلو باندې خپله ژبه وخوځوي (عقيده واسطيه ملخصاً)

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَقَالُوْا لِاِخْوَانِهِمْ اِذَا ضَرَبُوْا

ای ايماندارو ! تاسي مه کيږئ دهغو په شان چې کافران شوي دي او وايي خپلو ورونو ته هر کله چې هغوی

فِى الْاَرْضِ اَوْ كَانُوْا غُزًّى لَّوْ كَانُوْا عِنْدَنَا مَا مَاتُوْا وَمَا قُتِلُوْا

سفر ته ووزي په ملک کې يا وي په جهاد کې که وي مونږ سره نو نه به مړه کيده او نه به قتل کيده

لِيَجْعَلَ اللّٰهُ ذٰلِكَ حَسْرَةً فِىْ قُلُوْبِهِمْ ۗ وَاللّٰهُ يُحْىٖ وَيُمِيْتُ ۗ

دپاره ددې چې واچوي الله ددې ګمان څخه افسوس په زړونو د دوی کې او الله ﷻ ژوندي کوي او مړه کوي ،

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۱۵۶﴾ وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

او الله ستاسي ټول کارونه ويني ، او که تاسي قتل کړل سي په لاره دالله کې يا مړه سي

اَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَحْمَةٌ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿۱۵۷﴾ وَلَئِنْ

نو بخښنه دالله ﷻ او مهرباني دهغه غوره ده دهغه شي څخه چې دوی يې جمع کوي ، او که

مُّتُّمْ اَوْ قُتِلْتُمْ لَاِلَى اللّٰهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۱۵۸﴾

تاسي مړه سي او يا قتل سي نو خامخا به دالله په مخکې را جمع کړل سي تاسي ټول

دآيتونو تړون: په تيرو آيتونو کې دمنافقانو داقول بيان سوی وو چې ، لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الْاَمْرِ شَىْءٌ مَّا قُتِلْنَا هٰهُنَا يعنې که زمونږ څه اختيار وای او زمونږ رايې منل سوی وای، نو مونږ به دلته نه وای قتل سوی ، دا يې وړاندې

Maktaba Tul Ishaat.com

هم نقل کړي دي دداسي خبرو داوريدو څخه دا احتمال ووچي دمخلصو مومنانوپه زړونو کي څه شکونه اوشبهي پيدانه سي ، په دي وجه يي په ذکر سوو لوړنيو آيتونو کي مسلمانانو لره دداسي خبرو کولو څخه اودداسي حالاتو څخه دځان ساتلو اودمرگ اوژوند راتلل يوازي دتقدير تابع گڼلو ښوونه وکړه .

لنډتفسير: اي ايماندارو! تاسي دهغه خلقوپه شان مه کيږي کوم چي (په حقيقت کي) کافران دي (که څه هم په ظاهره داسلام دعوی کوي) اووايي دخپلو (هم نسبويا هم مشربو) وروڼو په نسبت کله چي هغه خلق په مځکه کي سفرکوي (اوهلته اتفاقا مړه سي) يادغه خلق يوځاي غازيان جوړيږي (اوپه تقدير سره په دي کي قتل سي نو دغه منافقان وايي) چي که داخلق زمونږ سره واي (په سفر اوغزاکي نه تلاي) نونه به مړه کيده اونه به قتل کيده (داخبره ددوي پرزړه اوزبه څکه راځي) ددي دپاره چي الله ﷻ دا خبره د دوي دزړونو دپاره سبب دافسوس کړي (يعني ددي قسم خبرو نتيجه دافسوس څخه ماسوا هيڅ نسته) اومړه کول اوژوندي کول خوخاص الله ﷻ کوي (که په سفرکي وي اوکه په کورکي، په جنگ کي وي اوکه په امن کي) اوالله ﷻ هرڅه چي تاسي کوي ويني يي (نو پس که تاسي هم داسي خبري کوي ياپه داسي خيالاتو کي اخته کيږي نو دغه دالله ﷻ څخه پټ نه دي) اوکه تاسي خلق دالله ﷻ په لارکي قتل سي ياکه (دالله ﷻ په لارکي) مړه سي (نوداڅه تاوان نه دي سراسرنفع اونفع ده څکه چي) خامخا دالله ﷻ سره دهغه مغفرت او رحمت (ددنيا) ترهغه شيانو (په ډيرو درجو سره) ښه دي کوم چي داخلق جمع کوي (او ددي په حرص کي ژوندښه گڼي او) که چيري تاسي (هم دغسي) مړه سي ياقتل سي (بيابه هم) دالله ﷻ خواته خامخا جمع سي (نواول خوقضا وروسته کيږي نه، بل دالله ﷻ خواته دتلوڅخه په هيڅ حال کي خلاصيده نسته اوددين په لاره کي مړه کيدل ياقتل کيدل سبب دمغفرت اورحمت دي نوبيا خوتر داغسي مرگ ددين په لاره کي روح ورکول ښه دي نوداسي خبري په دنياکي سبب دافسوس اوپه آخرت کي ددوزخ سبب دي، چي ځان ورڅخه وساتي .

فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانفَضُّوا

نو څه دالله په رحمت سره ته ﷺ دوی ته نرم زړه والا پيدا سوی اوکه چيري ته تندخويه واي سخت زړی واي

مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي

نوخپاره سوي به واي دخوا څخه ستا نو ته ﷺ دوی معاف کړه او د دوی دپاره بخښنه غواړی او د دوی سره په

الْأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ (۱۵۹)

کارکي مشوره کوه نو چي قصد دي وکی ددغه کار نو بيا توکل کوه په الله ﷻ باندي الله محبت کوي دتوکل کوونکو سره .

دآيتونو ترون: داحد په غزاکي چي دځينو مسلمانانو دخطا اوميدان پرېښودو په وجه کوم تکليف اوغم نبي کريم ﷺ ته رسيدلی وو ، که څه هم نبي ﷺ دخپلو لويو اخلاقو عفوي اوکرم په بنا سره دوي هيڅ نه وه

ملامت کړی او دسختی هیڅ معامله یی ورسره نه وه کړی لیکن الله ﷻ ته دخپل رسول ﷺ دملګرو دزړه ساتنه او د دوی په زړونوکی چی ددی غلطی په وجه کومه صدمه اوپښیمانی وه ددی تولو پری مینځل منظورسوه نو په دی آیت کی یی دوی ته نور زیات دلطف اوکرم هدایت او دصحابه کرامو ﷺ سره دمشورو کولو حکم وکی .

لنډتفسیر: وروسته ترهغه (چی دصحابه کرامو ﷺ څخه داسی خطاوسوه چی پرهغه باندی تاته دملامت کولو اومواخذی کولوحق وو) دخدای ﷻ درحمت په وجه (کوم چی په تاباندی دی) ته د دوی سره نرم سوی اوکه ته (خدای مه که) تندخویه سخت مزاجه وای نودا (عاجزان) به ستا دخواڅخه ټول خپاره سوی وای (بیابه دوی ته دافیضونه اوبرکتونه دکومه څخه نصیب سوی وای) نو(هرکله چی تاپه رویه کی داسی نرمی وفرمایله نو د دوی څخه چی کومه غلطی ستادحکم په منلوکی سوی ده ، دغه په زړه سره هم) دوی ته معاف کړه (او د دوی څخه چی کومه غلطی دالله ﷻ په حکم کی په کوتاهی کولوسره سوی ده دهغه دپاره) تاسی د دوی دپاره بخښنه وغواړی (که څه هم الله ﷻ په خپله د دوی دمعافی اومغفرت اعلان دمخکی څخه کړی وو ، لیکن ستاسی دبخښنی دعابه نوره زیاته ددوی دپاره فائده منده اوتسلی وی) او د دوی سره په خاصو خاصو خبروکی (په زړه طریقه سره) مشوره کوه (ددی دپاره چی په خصوصی نرمی اومهربانی سره ددوی دزړونو څخه غم ومینځل سی) بیا (دمشوری اخیستو څخه وروسته) هرکله چی تاسی (دیوه جانب) رایه پخه کی (برابره خبره ده ددی مشوری موافق وی اوکه مخالف وی) نوپه خدای ﷻ باندی په اعتماد (کولو سره دغه کار) کوی ، بیشکه الله ﷻ دداسی اعتماد کوونکو سره محبت کوی .

معلومات اومسئلي

(دمرشد اومربي خاص صفتونه)

صحابه کرام ﷺ دنبی کریم ﷺ داسی عاشقان وه ، چی دی ﷺ یی ترخپلو ځانونو اومالونو زیات خوږګنی د دوی څخه چی په کله دده ﷺ دحکم خلاف یوه خطا وسوه نو یوه طرف ته دا بیره وه چی که دا حضرات په خپله دی خطاباندی خبردارسی نو ددی تکلیف به ترحد دومره زیات سی چی زړه اودماغ به یی کار پرېږدی ، یابه درحمت څخه مایوسه سی ، ددی علاج یی په تیرآیت کی داوښوولی چی أَثَابَكُمْ غَمًّا بِغَمٍّ دخطا سزا درته په دنیاکی درکول سوه او دآخرت سزا درته معاف سوه .

دوهم طرف ته نبی کریم ﷺ ددی خطا اوغلطی په وجه زخمی سو چی په دی سره ورته جسمانی تکلیف هم ورسیدی او روحانی تکلیف خودمخکی څخه وو ، نو ددی جسمانی او روحانی تکلیف رسیدو دوجی څخه دا احتمال چی دنبی کریم ﷺ په زړه مبارك کی داصحابو ﷺ په باره کی خوالی پیداسی ، چی دوی ته دهدایت اوتلقین په لاره کی بندیز جوړسی ، نو په دی وجه نبی کریم ﷺ ته داتعلیم ورکول ووچی ته ددوی خطاګانی معاف کړه اودوی ته درګذر وفرمایه اودآئنده دپاره ورسره هم دلطف اومهربانی معامله جاری ساته ، دامضمون الله ﷻ په یوعجیبه اوښایسته انداز سره داسی وفرمایی چی ددی په ضمن کی یو څو مهمی فائدی هم راغلی ، یوه داچی نبی کریم ﷺ ته یی ددی شیانوحکم په داسی اندازسره ورکړي

Maktaba Tul Ishaat.com

دی چی ددوی دثناصفت اولوی شان اظهار په کی هم دی ، چی دا صفتونه په دوی کی دمخکی څخه
موجود دی او دوهم تردی مخکی یی د فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللهِ لفظ زیات کی ، دایی هم وښووله چی دا دکمال
صفتونه ستاپه ذات کی زمونږ په رحمت سره دی ، دچا ذاتی کمال نه دی ، بیایی درحمت لفظ دنکیری
په صورت سره راوړی درحمت دلوی والی اوفراخی وطرف ته یی اشاره وکړه ، دا یی هم واضحه کړه چی
دا رحمت یوازی په صحابه کرامو ﷺ باندی نه دی بلکه په خپله په نبی کریم ﷺ باندی هم دی چی دوی لره
یی داسی کمالی صفتونه ورکړل ، ددی څخه وروسته یی یوه دریمه مهمه فائده په وروستنیو جملو سره
ظاهره کړه چی دانرم خویی اوخوش اخلاقی اودعفوی درګذر اولطف اومهربانی صفتونه که په تاسی کی
نه وای نو دخلقو داصلاح کوم کار چی تاسی ته سپارل سوی دی دا به دمنشاء مطابق نه وای پوره سوی ،
خلق به ستاسی څخه دخپلی اصلاح کولو په ځای ستاسی څخه خپاره واره سوی وای اوتښیدلی به وای ،
او ددی تولو خبرو څخه یوه مهمه فائده دا حاصله سوه ، چی دارشاد ، اصلاح اوتبلیغ طریقی ددی څخه
معلومی سوی چی کوم سړی درشد اوهدایت اودالله ﷻ طرف ته ددعوت (بلنی) او دخلقود اصلاح دکار
کولو اراده وکی دهغه دپاره ضروری ده چی داصفتونه په خپل ځان کی پیداکی ، ځکه چی هرکله دالله
ﷻ دخوږ رسول ﷺ سختی برداشت کول نه سی خوښولی ، نوبیادبل چا طاقت څه دی چی په سختی او بد
خویی سره به دالله ﷻ مخلوق خپل ځان ته راجمع کړی او د دوی داصلاح فریضه به پوره سی ، په دی آیت
کی الله ﷻ ارشاد وفرمایی چی که ته تندخویه سخت طبیعته وای نوخلق به ستادخوا څخه خپاره سوی
وای ، ددی څخه معلومه سوه چی مرشد او مربی اومبلغ لره تندخویی سخت کلامی زهر اودده کار لره
ضائع کوونکی شی دی ، ددی څخه وروسته یی ارشاد وفرمایی ، فَاعْفُ عَنْهُمْ یعنی د دوی څخه چی ١
کومه خطاسوی ده ، دغه ته معاف کړه ، ددی څخه معلومه سوه چی داصلاح کوونکی دپاره دا هم
ضروری ده چی دعوامو څخه کومی خطاګانی کیږی دهغوی څخه بدله نه اخلی بلکه دعفوی اودرګذر
څخه به کاراخلی که څوك یی بدوایی نو دی به ورته غصه کیږی نه ، که څوك ورته ضرر رسوی نو چی
دهغو سره دنرمی معامله کوی ، ددی څخه وروسته یی ارشاد وفرمایی وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ یعنی ته د دوی
دپاره دالله ﷻ څخه هم مغفرت غواړه ، په دی کی داهدایت دی چی یوازی دانه چی په خپله د دوی په
ضرر رسولو اوآزار باندی صبرکوه ، بلکه په زړه سره هم ددوی خیرخواهی مه پاته کوه اوکله چی ترټولو
لویه خیرخواهی ددوی دآخرت صحیح کول دی، نوپه دی وجه دالله ﷻ دعذاب څخه دخلاصیدو دپاره
دوی لره دبخښنی دعاګانی غواړه ، تردی وروسته ارشاد دی ، وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ یعنی دپخوانی طریقی
په شان سره په خپلو فیصلو اوکارونوکی ددی حضراتو سره مشوره هم کوه چی ددوی پوره تسلی کیږی ،
په دی کی یی دی طرف ته ښوونه وکړه چی کومه خیرخواهی د دوی سره په زړه کی ده ، په عمل سره هم
دهغه اظهارکوه او په خپلو مشورو سره دوی مشرف کوه ، په دی پوره آیت کی یی داصلاح کوونکی
اومبلغ دپاره یوڅو صفتونه لرل ضروری کړه ، اول دسخت کلامی او بدخلقی څخه ځان ساتل دوهم که
ددی خلقوڅخه څه غلطی یادده متعلق څه دآزار خبره وسی نوپه بدله اخستونه پسی کیدل بلکه دعفوی

Maktaba Tul Ishaat.com

او درگذر معامله کول ، دریم داچې د دوی دخطاګانوپه وجه د دوی خیرخواهي نه پاته کول ، د دوی دپاره دعااو استغفار هم کول اوپه ظاهري معاملوکې د دوی سره ښه سلوك کول ، په دې ذکرسوې آیت کې یې نبي کریم ﷺ ته دصحابه کرامو﵃ سره دمشورې کولوحکم اوبیادمشورې څخه وروسته دکار دطریقې هدایت سوې دی دمشورې په باره کې قرآن حکیم دوه ځایه واضح حکم کړې دی یوپه دې ذکر سوې آیت کې دوهم دسورت شورٰی په آیت کې چې په هغه کې یې دربښتینو مسلمانانو په صفتونو بیانولوکې یوصفت دا بیان کړې دی چې وَاَمۡرُهُمۡ شُوۡرٰى بَيۡنَهُمۡ یعنې او د دوی هرکار په خپل مینځ کې په مشوره وي اوپه څینې ځایونو کې یې په ضمني طور سره دمشورې هدایت فرمایلی دی لکه درضاعت په احکاموکې یې ارشادفرمایلی دی عَنۡ تَرَاضٍ مِّنۡهُمۡ وَتَشَاوُرٍ یعنې کوچنې دتې څخه پرېکول دمور اوپلار دواړو په رضامندۍ او مشوره سره په کار دی ، دمشورې متعلق یوڅو مهمې مسئلې دفکر قابلې دي .

اوله مسئله : دلفظ دامر او دشورٰی معنٰی ، دوهمه مسئله : دمشورې شرعي حیثیت ، دریمه مسئله: دنبي کریم ﷺ دصحابه کرامو﵃ څخه دمشورې اخستو درجه ، څلورمه مسئله : په اسلامي حکومت کې دمشورې درجه ، پنځمه مسئلمه : چې په مشوره کې اختلاف رایې وي نودفیصلې صورت ، شپږمه مسئله : په هرکارکې دمکمل تدبیر کولو څخه وروسته په الله ﷻ باندې توکل .

﴿ اوله مسئله دلفظ دامر اوشورٰی تحقیق ﴾

دامردلفظ اطلاق په عربي ژبه کې دڅومعناوو دپاره کیږي ، یوپه عامه معنٰی کې راځي ، چې هریوه لوړ کاراو ویناته شامل دی، دوهمه معنٰی یې په حکم اوحکومت سره کیدی سي ، په دې معنٰی سره په قرآن کې لفظ داولي الامراغلی دی ، دریم اطلاق یې دالله ﷻ دیوخاص صفت دپاره دی چې ذکریې دقرآن شریف په ډیرو آیتونو کې دی لکه ، اَلَا لَهُ الۡخَلۡقُ وَالۡاَمۡرُ، اِلَيۡهِ يُرۡجَعُ الۡاَمۡرُ كُلُّهٗ، اِنَّ الۡاَمۡرَ كُلَّهٗ لِلّٰهِ، اَمۡرُهٗۤ اِلَى اللّٰهِ اودتحقیق کوونکو په نزدپه قُلِ الرُّوۡحُ مِنۡ اَمۡرِ رَبِّىۡ کې هم دغه امر مراد دی ، اوس دقرآن په ارشاد ، وَشَاوِرۡهُمۡ فِى الۡاَمۡرِ، او، اَمۡرُهُمۡ شُوۡرٰى بَيۡنَهُمۡ : کې د دواړو معناوو احتمال دی اوکه داوویل سي چې اوله معنٰی مراد ده او دوهمه معنٰی هم په دې کې شامله ده نو دا هم څه لیرې خبره نه ده ځکه چې دحکم اوحکومت معاملې تولې خاص اهمیت لري ، په دې وجه دامر معنٰی په دې آیت کې دهرهغه کادپاره ده چې خاص اهمیت لرې برابره خبره ده که دحکومت متعلق وي یاد نورو معاملو سره،اودلفظ دشورٰی، مشوره، مشاورت معنٰی ده ، دفکر کولو په قابله معامله کې دخلقورایې حاصلول په دې وجه د شَاوِرۡهُمۡ فِى الۡاَمۡرِ معنٰی دا سوه چې نبي کریم ﷺ ته حکم وسوچې ته په داسې معاملوکې چې دغور اوفکر قابلې وي چې دحکومت سره متعلق معاملې په کې هم شاملې دي دصحابه کرامو﵃ سره مشوره کوه ، یعنې ددې صاحبانو رایې په کې معلوموه ، دغه ډول دسورة شورٰی دا آیت وَاَمۡرُهُمۡ شُوۡرٰى بَيۡنَهُمۡ معنٰی یې داسوه چې په هرهغه معامله کې چې دغورقابله وي او اهمیت په کې وي برابره خبره ده که دحکم اوحکومت سره متعلق وي یادنورو معاملو سره په دې کې دربښتینې مسلمانانو همیشه دا عادت دی چې دیو بل سره په مشوره باندې کار کوي .

Maktaba Tul Ishaat.com

(دوهمه مسئله دمشورې شرعي حيثيت)

په دې باره کې دقرآن کريم دارشاداتو څخه کوم چې ذکرسوه اودنبي کريم ﷺ دارشاداتو څخه معلوميږي چې په هره داسې معامله کې چې په هغه کې مختلفې رايې کيدې سي برابره خبره ده دحکم اوحکومت سره تعلق لري يادبلې معاملې سره په هغه کې ديوبل څخه مشوره اخيستل دنبي کريم ﷺ اودصحابه کرامو ﷺ سنت اوپه دنيا اوآخرت کې دبرکتونو باعث ده ، په قرآن اوحديث سره ددې تائيد راغلى دى او دکومر معاملوتعلق چې دعوامو سره دی لکه دحکومت معاملې په دې کې مشو ه اخستل واجب دی (ابن کثير) بيهقي په شعب الايمان کې دحضرت عبدالله ابن عمر ﷺ څخه روايت کړي ی چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دی ،کوم سړی چې ديوکار اراده وکی او ديو بل سره دمشورې کولو څخه وروسته يې دهغه کار دکولو يادنه کولو فيصله وکړه نودالله ﷺ دطرفه څخه ده ته دصحيح او ئده مند صورت وطرف ته هدايت حاصليږي ، اوپه حديث کې دي چې کله ستاسې حاکمان په تاسې کې ښه خلګ وي اوستاسې مالداران سخيان وي اوستاسې معاملې ديوبل سره په مشوره باندې سرته رسولې سي ، نوستاسې دپاره پرمځکه سربيره اوسيدل ښه دی اوکله چې ستاسې حاکمان په تاسې کې ترټولو ناکاره خلګ وي اوستاسې مالداران بخيلان وي اوستاسې معاملې ښځوته سپارل سوې وي نودمځکې دننه دفن کيدل په ستاسې دپاره تر ژوندي اوسيدو ښه وي ، مطلب دادی چې کله پرتاسې هوس پرستي غالبه سي چې ښه او بد ، نفع اوضرر نه قطع نظرکوي يعني ددې خيال نه ساتي يوازې دښځو دخوشحالولودپاره خپلې معاملې دوی ته وسپاري نوددغه وخت دژوندڅخه تاسې لره مرګ ښه دی ، که نه وي نوپه مشوره کې هم دښځې څخه رايي اخستل منع نه دي ، دنبي کريم ﷺ اودصحابه کرامو ﷺ دعمل څخه ثابت دي او دقرآن کريم دسورت بقره په دغه آيت کې کوم چې اوس مخکې تيرسوي دی ، په دې کې ارشاد دی عَنْ تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ يعني دکوچني دتی څخه پريکول دده دموراو پلار دواړو په مشوره سره وي ، په دې کې چې کله دمعاملې تعلق دښځې سره دی په دې وجه يې په خاص طورسره دښځې دمشورې پابندي کړې ده په يوحديث کې دنبي کريم ﷺ ارشاددی چې ، اَلْمُسْتَشَارُ مُؤْتَمَنٌ اِذَا اسْتُشِيْرَ فَلْيُشِرْهُ بِمَا هُوَ صَانِعٌ لِنَفْسِهٖ : دکوم سړی څخه چې مشوره وغوښته سي دی امين دی په ده لازمه ده چې په دې معامله کې کوم کار دی دخپل ځان دپاره منتخب کوی هغه رايي دی بل لره ورکي ددې څخه خلاف کول خيانت دی (دا حديث طبراني په معجم اوسط کې په سندحسن سره دحضرت علي ﷺ څخه روايت کړی دی ، مظهري) پوه کيدل ضروري دی چې مشوره يوازې په هغه شيانوکې سنت ده دکموپه باره کې چې په قرآن اوحديث کې واضح اوقطعي حکم موجودنه وي ، که نه وي په کوم ځای کې چې واضح اوقطعي حکم موجودوي په هغه کې دچاسره دمشورې کولوضرورت نسته، بلکه جائزهم نه ده ، مثلاً يوسړی په دې کې ... ه کوي چې لمونځ وکړم اوکه نه ، زکوٰة ورکړم اوکه نه حج وکړم اوکه نه ، دا دمشورې شيان نه دي ، په ... عي طور سره قطعي فرض دی ، البته په دې کې مشوره کولی سی چې حج ته په دې کال کې ولاړسم که په راتلونکي کې ، او داوبوپه جهازکې ولاړسم، که په هوايي کې او دوچې په لار ولاړسم که په بله ، دغه

دول دزکوة په معامله کی داسی مشوره کولی سی چی دا په کوم ځای کی او په کوموخلقو باندی خرځ سی ، ځکه چی دا ټولی خبری شرعًا اختیاری دی ، په یوحدیث کی په خپله دنبی کریم ﷺ ځخه ددی تشریح نقل ده ، حضرت علی ؓ فرمایی چی مانبی کریم ﷺ ته عرض وکی چی ستاسی ځخه وروسته که مونږته څه داسی معامله راپیښه سی چی دهغه حکم په ډاګه سره په قرآن کی نه وی نازل سوی اوستاسی ځخه هم مونږ ددی په باره کی څه ارشادنه وی اوریدلی ، نو مونږ به څه کوو؟ نبی کریم ﷺ ارشاد وفرمایی چی دداسی کار دپاره په خپلوکی عبادت ګذار فقهاء جمع کړی او دهغوی په مشوره ددغه کار فیصله وکړی ، دیو چاپه یوازی رایی باندی فیصله مه کوی ، ددی حدیث شریف ځخه یوه خوداخبره معلومه سوه چی مشوره یوازی په دنیوی معاملاتوکی نه ده ، بلکه په کوموشرعی احکاموکی چی د قرآن اوحدیث ښکاره نصونه نه وی ، په هغه حکومونو کی هم مشوره کول سنت دی او دوهمه داهم معلومه سوه چی مشوره دداسی خلقو ځخه اخستل په کار د چی په موجودو خلقوکی په پوه اوعبادت ګذاری کی مشهور وی (اخرجه الخطیب، کذافی الروح) دارنګه خطیب بغدادی دحضرت ابوهریره ؓ په یو حدیث کی دن ی کریم ﷺ دا ارشادهم نق ل کړي دی ، استرشدوا العاقل ولاتعصوه فتندموا : دعقل مندسړی ځخه مشوره اخله او ...ه خلاف مه کوه که نه نوپښیمانه به سی ددی دواړو حدیثونو دیوځای کولو ځخه داخبره معلومه سوه چی دمجلس شوری په ارکانوکی دوه صف ... نه ضروری دی یوداچی عقلمند او هوښیار وی ، دوهم دا چی عبادت ګذاروی ،وکه مسئله شرعی وی نوبیاورته فقیه والی هم ضروری او لازم دی .

(دریمه مسئله ، دنبی کریم ﷺ دصحابه کرامو ؓ ځخه دمشوری اخستو درجه)

په آیت کی یی نبی کریم ﷺ ت داحکم ورکړي دی چی دصحابه کرامو ؓ ځخه مشوری اخلی په دی کی دا اشکال دی چی نبی دالله ﷻ رسول اوصاحب دوحی دی ، دوی ته دچا دمشوری څه حاجت دی؟ دوی ته خو هر شی دالله ﷻ دطرف ځخه دوحی په ذریعه معلومیدی سی ، په دی وجه ځینو عالمانو دمشوری دا حکم په دی باندی محمول کړي دی چی نبی ﷺ ته نه دمشوی ضرورت وو او نه په دی مشوره دهغوی دیو کار دار او مدار وو ، یوازی دصحابه کرامو ؓ دعزت اوزړه ساتنی دپاره دوی ته دمشوری حکم ورکول سوی وو ، لیکن امام ابوبکر جصاص رحمه الله فرمایی چی داصحیح نه ده ، ځکه چی که دامعلومه سی چی زمونږ په مشوره څه عمل نه سی کیدی اونه دمشوری په څه کارباندی اثر پریوزی ، نو په داسی مشوره کی عزت او زړه ساتنه هم نه سی پاته کیدی ، بلکه حقیقت دخبری دا دی چی نبی کریم ﷺ ته په عامو کارونو کی خو سیده په سیده لاره دالله ﷻ دطرف ځخه دوحی په ذریعه دکار یو اړخ متعین کیدلی سی لیکن دحکمت او رحمت په مقتضاسره یی ځینی کارونه دنبی کریم ﷺ رایی اوفکر ته پاته کړی وی ، په داسی کارونو کی دمشوری ضرورت وی اوپه دی قسم کارونوکی ده ﷺ ته دمشوری حکم ورکول سوي دی ، دنبی کریم ﷺ دمشورو دمجلسونو تاریخ هم داخبره ښیي ، نبی کریم ﷺ دبدر په غزا کی دصحابه کرامو ؓ ځخه مشوره واخسته نوصحابه کرامو ؓ عرض وکی چی که تاسی مونږ ته دریاب ته دوردانګلو حکم وکی نومونږ به ورټوپ کړو ، اوکه تاسی مونږ ته دبرک الغماد په شان یولیری ځای ته دتلوحکم

وکی نو مونږ به ستاسی سره یو ، مونږ دموسیٰ ﷺ دملګرو په شان به داسی ونه وایو، چی ته او ستارب دکفارو سره مقابله وکی ، بلکه مونږ به دا عرض وکو چی تاسی تشریف یوسی ، مونږ به ستاسی سره تر تاسی مخکی وروسته ، راسته او چپه طرف ته ددښمن مقابله کوو ، دغه ډول داحد په جهاد کی یی په دی باره کی مشوره وکړه چی ایا مدینی په ښارکی دننه پاته سوخپله دفاع وکړو اوکه دښارڅخه دباندی ووزو ،دعامو صحابه وو ﷺ رایی ددباندی وتلووی نوده ﷺ هم داقبوله کړه ، دخندق په غزاکی پریوخاصه معاهده باندی دصلح کولو معامله راوړاندی سوه ، نوسعدبن معاذ او سعدبن عبادة ﷺ دا معاهده مناسبه ونه ګڼله او اختلاف یی وکی ، نوحضور ﷺ هم د دوی دواړو رایی قبولی کړی ، په حدیبیه کی یی په یوه معامله کی مشوره واخسته نوډصدیق ﷺ اکبر ﷺ په رایی باندی یی فیصله وفرمایله ، دافك په واقعه کی یی دصحابه کرامو ﷺ څخه مشوره واخسته ، دا ټولی هغه معاملی وی چی دذی ښه طرف نبی کریم ﷺ ته دوحی په ذریعه نه وه ښوول سوی .

لنډه دا چی نبوت اورسالت او صاحب دوحی کیدل څه دمشوری سره منافی نه دی او داسی هم نه ده چی دامشوره دی محضی ښکاره دزړه دساتنی دپاره وی ددی اثردی پرمعاملو باندی نه وی ، بلکه ډیر وخت که دمشوره ورکوونکی رایی به دده ﷺ درایی څخه خلاف هم وه خوهغه یی قبوله کړي ده بلکه په ځینو کارونو کی نبی کریم ﷺ ته دوحی په ذریعه سرهٔ کوم خاص صورت نه وومعلوم سوی او دمعاملی ښه ارخ نه ورته ښوول کیدی اوپه مشوره سره په کارکولوکی داحکمت اومصلحت هم دی چی دآئنده دپاره امت ته دنبی ﷺ یوعملی سنت جاری پاته سی ، چی هرکله هغه ﷺ ته دمشوری کولوڅخه خلاصی نسته ، نو داسی بل څوك دی چی هغه به دعوه وکی چی ماته دمشوری کولوضرورت نسته ، په دی وجه دنبی کریم ﷺ اوصحابه کرامو ﷺ څخه په داسی مسئلوکی دمشوری طریقه همیشه جاری پاته سوي ده په کوموکی چی شرعی نص (دلیل) نه وو ، او دنبی کریم ﷺ څخه وروسته په صحابه کرامو ﷺ کی هم داجاری پاته سوه ، بلکه وروسته خو دداسی شرعی احکامو دمعلومولو دپاره په کوموکی چی دقرآن اوحدیث ښکاره فیصله نه وه هم مشوره عادت پاته سویده ، یعنی په مشوره سره یی ورلره حکمونه معلوم کړیدی څکه چی دحضرت علی ﷺ دسوال په جواب کی نبی کریم ﷺ هم دغه طریقه کار ښوولی وو .

(څلورمه مسئله ، په اسلامي حکومت کي دمشوری درجه څه ده؟)

لکه چی لوړ ذکرسوی په قرآن کریم کی دوه ځایه دمشوری ښکاره حکم راغلی دی یوپه دی ذکرسوی آیت کی او دوهم دسورت شوریٰ په آیت کی چی په هغه کی یی دربښتینو مسلمانانوپه صفتونو بیانولوکی یوصفت داهم بیان کړي دی چی ، وَأَمْرُهُمْ شُوْرٰى بَيْنَهُمْ یعنی او د دوی کار دیو بل سره په مشوره باندی وی ، په دی دواړو ځایونوکی دمشوری سره لفظ دامر ذکردی او دامرلفظ تحقیق په تفصیل سره لوړبیان سوي دی چی مهتم بالشان قول اوفعل ته هم ویل کیږی ، او دحکم اوحکومت دپاره هم استعمالیږی ، دامرکه اوله معنیٰ مراد واخلی اوکه دوهمه ، دحکومت په معاملوکی مشوره اخیستل په هرصورت ددی آیتونو څخه ضروری معلومیږی چی حکم اوحکومت ورڅخه مرادسی نوبیا خوظاهره خبره ده ، اوکه عامه

Maktaba Tul Ishaat.com

معنٰی ورڅخه مرادسړی نوبیاهم دحکم اوحکومت معاملې مهمې وی اودمشورې قابلې وی ، په دی وجه داسلامی امیردافرض دی چی دحکومت په مهمو معاملوکې دهوښیارانو او پوهانو څخه مشوره اخلی ، دقرآن کریم دا ذکرسوی آیتونه اودنبی ﷺ اوخلفاء راشدینو رضی الله عنهم پرله پسی په دی باندی عمل کول ددی ښکاره سند دی ، په دی دواړو آیتونوکی لکه څنګه چی دحکومت په معاملوکی دمشورې ضرورت په ډاګه سو ، دغه شان ددی څخه داسلامی حکومت طریقه اود آئین (قانون) یوڅه بنیادی اصول هم راته څرګند سوه چی اسلامی حکومت یوشورایی حکومت دی چی په دی کی دامیر انتخاب په مشوره سره کیدی سی ، خاندانی میراث نه دی نن خو داسلامی تعلیماتوپه برکت سره ټولی دنیاددی اصولواهمیت منلی دی شخصی حکومتونه هم په خوښه اونارضایی سره دی طرف ته راروان دی،لیکن دنن څخه څوارلس سوه کاله مخکی زمانی طرف ته وکتل سی نو دنن زمانی د درو لویو حکومتونو په ځای د دوو لویو حکومت وو ، یودکسرٰی بل دقیصر او د دواړو دحکومت آئین په شخصی او وراثتی بادشاهی باندی مشتمل وو ، چی په دی کی به یو واحد سړی په لکونو کروړونو انسانانو باندی په خپل قابلیت اوصلاحیت نه، بلکی دوراثت دظالمانه اصولوپر بناباندی حکومت کوی اوانسانانوته به دپالتو(بیکاره) حیوانانودرجه ورکول هم بادشاهی انعام ګڼل کیدی ددی نظریی حکومت ددنیاپه ډیره حصه باندی مسلط وو،یوازی په یونان کی دجمهوریت یوڅوخړ اوناتمام نقشونه پیداکیدلی سوای خوهغه هم دومره ناقص اوبی کاره وه چی دیوحکومت بنیاد کښیښول په هغه باندی ګران وو، په دی وجه دیونان ددی جمهوریت په اصولو باندی هیڅکله هم یومستحکم حکومت جوړنه سو،بلکه دغه اصول دارسطو دفلسفی یوشاخ غوندی پاته سوی وه ، ددی پرخلاف اسلام په حکومت کی دوراثت غیرفطری اصول باطل کړل دحکومت دامیر مقررکول اومعزول کول یی دجمهورو په لاس کی ورکړل، چی دغه اختیاربه دوی دخپلو نمائندګانو هوښیارانو اوپوهانوپه ذریعه استعمالولی سی ، دبادشاه پرستی په لوموکی ښتی دنیاداسلامی تعلیماتوپه ذریعه ددی عادلانه اوفطری نظام سره آشناسوه اوهم دغه دجمهوریت روح دی لیکن داموجوده طرز جمهوریتونه دبادشاهی دظلم اوستم څخه دخان خلاصولو په وجه راپیدا سوه، نوداهم داسی په بی اعتدالی (نرمی) سره راغلل چی عوام یی دومره آزاد اوبی پرواه کړل چی دوی یی دحکومت اوآئین څخه داسی آزاد مالکان جوړکړل چی ددوی دزړونو او دماغونو، دمځکی اوآسمان اوټول مخلوق پیداکوونکی خدای ﷻ اودده داصلی ملکیت اوحکومت خیال غوندی هم ورڅخه ووتی ، او د دوی داجمهوریت دخدای په دوی باندی اچول کیږی پابندی هم پرزړه باندی بار اودانصاف څخه خلاف ګڼی اسلامی آئین چی څنګه دخدای ﷻ مخلوق دکسرٰی اوقیصر اونوروشخصی حکمتونو اوبادشاهانو دزور اوظلم څخه خلاص کړل ، دغه شان یی دخدای سره نااشنا مغربی جمهوریتونوته دخدای پیژندو اودخدای دتابعداری لاره وښوولِه ، اودایی ورته وښوول چی دملك حاکمان وی اوکه عوام، دخدای ﷻ دراليږل سوی قانون ټول پابند دی ، د دوی دعوامو اودعوامی اسمبلی اختیارات، قانون جوړول، معزول کول اومقررول دخدای ﷻ دمقرر کړو حدونو دننه دی په دوی لازم دی چی دامیر په انتخاب کی اوبیا

دعهدو او منصبونو په تقسيم کې دی که يو طرف ته دقابليت او صلاحيت پوره رعايت کوی ، نو بل طرف ته دی د دوی دينداری او امانت داری ته هم پوره خيال کوی ، خپل امير دا سی سړی متخب کوی چی په علم تقوی ، دينداری ، صلاحيت او سياسی تجربه کی تر ټولو غوره وی او ... منتخب سوی امير به هم آزاد او دخپل اختيارنه وی ، بلکه داهل الرايی (درايی دخاوندانو) څخه به دمشوری اخسو پابند وی ، دقرآن شريف ذکر سوی آيت او دنبی کريم ﷺ او دخلفاء راشدينو رضي الله عنهم کارونه په دی باندی عادلانه شاهدی ورکوی دحضرت عمر رضي الله عنه ارشاد دی ، لَاخِلَافَةَ اِلاَّ عَنْ مُشْوَرَةٍ يعنی دشورائيت څخه پرته خلافت نسته (کنزالعمال په حواله دابن ابی شيبة) شورائيت او مشوری ته په اسلامی حکومت کی اساسی او بنيادی حيثيت حاصل دی تردی چی که دحکومت امير دمشوری څخه آزادسی ، يادداسی خلقو څخه مشوره اخلی چی دشريعت پربنا باندی دمشوری اهل نه وی نو بيا ددغه امير معزول کول ضروری دی .

ذَکَرَ ابْنُ عَطِيَّةَ اَنَّ الشُّوْرٰی مِنْ قَوَاعِدِ الشَّرِيْعَةِ وَعَزَائِمِ الْاَحْکَامِ وَمَنْ لاَّ يَسْتَشِيْرُ اَهْلَ الْعِلْمِ وَالدِّيْنِ فَعَزْلُهُ وَاجِبٌ، هٰذَا مَا لاَ خَلاَفَ لَهُ (البحر المحيط لابی حيان)

ابن عطية رحمه الله فرمايلی دی چی شوارئيت دشريعت دقاعدو او بنيادی اصولو څخه دی کوم امير چی دعالمانو او دينداراتو څخه مشوره نه اخلی دهغه معزول کول واجب دی او دا يو داسی مسئله ده چی دچا اختلاف په کی نسته دمشوری دضروری کيدو څخه چی اسلامی حکومت ته او ددی اوسيدونکو ته کوم برکتونه او فائدی حاصليږی ددی اندازه ددی څخه ولګوی چی نبی کريم ﷺ دمشوری څخه په رحمت سره تعبير فرمايلی دی ابن عدی او بيهقی دابن عباس رضي الله عنه څخه روايت کړي دی چی کله دا آيت نازل سو نو نبی کريم ﷺ ارشاد وفرمايی چی الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ ته ددی مشوری ... جت نسته ليکن الله ﷻ دازمادامت دپاره يو رحمت جوړ کړي دی (بيان القرآن) مطلب دا دی چی که الله ﷻ غوښتی نو خپل رسول ﷺ ته به يی هر يو کار په ذريعه دوحی بنووی ، په يو کار کی به يی هم مشوری ته ضرورت نه پيښيدی ليکن دامت مصلحت په دی کی وو چی د دوی په ذريعه دمشوری سنت جاری کړی ، په دی وجه يی ... کارو ... داسی پرينبنول چی وحی په کی نازله نه سوه په دی کی يی دوی ته دمشوری اخستلو هدايت وفرمايی .

(پنځمه مسئله ، په مشوره کي چي اختلاف درايو وسي نو دفيصلي به څه صورت وی؟)

په مسئله کی چی اختلاف درايی راسی نوآيادنن صبا دپارليمانی اصولو په شان به داکثريت په فيصله نافذ کولو باندی امير مجبور وی او که ده ته به اختيار وی چی اکثريت وی او که اقليت ، کوم طرف ته چی دليلونه مضبوط وی او دحکومت فائده او مصلحت په کی زيات په نظر راځی ، دغه به اختيار وی؟ دقرآن او حديث او دنبی کريم ﷺ دکارو څخه دا خبره نه ثابتيږی چی داختلاف درايی په صورت کی به امير د اکثريت په رايی باندی دفيصلی کولو پابند او مجبور وی ، بلکه دقرآن کريم دځينو اشارو او داحاديثو او صحابه وو رضي الله عنهم دعمل څخه دا خبره ښکاره او واضحه ده ، چی داختلاف رايی په صورت کی امير ته چی کوم اړخ غوره او قوی معلوم سی هغه اختيارولی سی که څه هم داکثريت مطابق وی يادا قليت ، البته امير دخپل اطمينان حاصلولو دپاره لکه څنګه چی په نورو دليلونو باندی نظر کوی دغه شان چی اکثريت

Maktaba Tul Ishaat.com

په یو شي باندې متفق سي دا هم ځینې وخت دده دپاره داطمنان باعث جوړیدای سی ، په ذکر سوی آیت باندې چې فکر وسي نو په دې کې رسول کریم ﷺ ته دمشورې دحکم ورکولو څخه وروسته فرمایي ، فَاِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ یعنې دمشورې کولو څخه وروسته چې دې کوم اړخ ته قصد وکې نوبیا په الله ﷻ توکل کوه ، په دې کې یې دعَزَمْتَ په لفظ کې دعَزْمْ یعنې حکم نافذکولو پخه اراده کول یوازې نبی کریم ﷺ ته منسوب کړه عَزَمْتُمْ یې ونه ویل چې په قصداوحکم نافذکولوکې ورڅخه دصحابه وو؆ شرکت معلوم سوی وای ، ددې اشارې څخه ثابته سوه چې دمشورې اخستو څخه وروسته حکم نافذکول او عَزْمْ صرف د امیر معتبر دی ، حضرت عمر بن الخطاب ؄ به ځینې وخت چې ددلائلو په لحاظ سره ورته دعبدالله بن عباس ؄ رایه زیاته مضبوطه ښکاره سوه نو دهغه په رایې به یې فیصله نافذه کوله به یې ، حال دا دی چې په مجلس کې به اکثر داسی صحابه ؆ موجود وه چې ترابن عباس ؄ په عمر اوعلم اوشمار کې زیات وه ، نبی کریم ﷺ ډیر واره دشیخینو حضرات .... اکبر اوفاروق اعظم ؆ رایوته دجمهورو صحابه وو؆ په مقابله کې ترجیح ورکړي ده ، تردې پورې چې داسې به ګمل کیده چې دا ذکر سوی آیت یوازې ددې دوو حضراتو څخه دمشورې اخیستلو دپاره نازل سوی دی حاکم په مستدرك کې په خپل سند سره دحضرت ابن عباس ؄ څخه روایت کړی دی چې

عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ فِیْ قَوْلِهٖ تَعَالٰی (وَشَاوِرْهُمْ فِی الْاَمْرِ) قَالَ اَبُوْبَكْرٍ وَعُمَرُ (ابن کثیر)

ابن عباس ؄ مایي چې په دې آیت کې د شَاوِرْهُمْ دضمیر څخه مراد حضرات شیخین ؆ دی .

دکلبي روایت ددې څخه نور هم زیات واضح دی .

عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ ؄ قَالَ نَزَلَتْ فِیْ اَبِیْ بَكْرٍ وَعُمَرَ وَكَانَا حَوَارِیْ رَسُوْلِ اللهِ وَوَزِیْرَیْهِ وَاَبَوَیِ الْمُسْلِمِیْنَ .

ابن عباس فرمایي چې دا آیت دحضرت ابوبکر اوعمر ؆ څخه دمشورې داخستو دپاره نازل سوي دی دا دواړه حضرات دنبی کریم ﷺ خاص صحابیان او وزیران وه اودمسلمانانو مُرَبِّي (دپلار په شان پالونکي) وه (ابن کثیر)

نبی کریم ﷺ یو وار شیخینو حضراتو ؆ ته وفرمایل .

لَوِ اجْتَمَعْتُمَا فِیْ مَشُوْرَةٍ مَا خَالَفْتُكُمَا (ابن کثیر بحواله مسند احمد)

هرکله چې تاسې دواړه په یوه رایې باندې متفق سې نوزه ستاسې د دواړو خلاف نه کوم .

یواشکال اودهغه جواب : دلته دا اشکال پیداکیږي چې دا خو دجمهوریت خلاف ده او دشخصي حکومت طرز دی او په دې وجه سره جمهوروته دنقصان رسیدو بیره ده ، جواب یې دا دی چې اسلامي قانون ددې رعایت اول کړي دی ځکه چې عوامو ته یې دا اختیارنه دی ورکړی چې څوك غواړي هغه خپل امیر جوړ کې بلکه پردوی یې لازمه کړي ده چې دعلم او عمل اودکار دصلاحیت اودخدای ﷻ څخه دبیرې ، دینداری اوامانتداری په لحاظ سره چې کوم سړی ترټولو ښه وګڼي ، یوازې هغه دې امیر خوښ کې نو ورو... کوم سړی چې ددې اعلی صفتونو په بناسره منتخب سوی وي په ده باندې داسې پابندي اچول کومې چې په بې دینو فاسقانو اوفاجرانو باندې اچول کیږي دعقل او انصاف قتلول ، او دکار کوونکو همت ماتول او دملك او ملت په کار کې بندیز غورځول اوخنډ پیدا کول دي .

Maktaba Tul Ishaat.com

(شپږمه مسئله په هر کار کې دمکمل تدبیر کولو څخه وروسته په الله ﷻ باندې توکل کول)

دلته داخبره دغور قابله ده چې دحکومت دنظام او په نورو مهمو کارونوکې دتدبیر او مشورې داحکامو څخه وروسته یې دابښوونه کړې ده چې دټولو تدبیرونو کولو څخه وروسته بیاهم که چې دکار کولو اراده وکې نو پرخپله رایې، عقل او تدبیرونو به تکیه نه کوې بلکې تکیه به یوازې پر الله ﷻ کوې ځکه چې داټول تدبیرونه دالله ﷻ په قبضه او قدرت کې دې انسان څه دې او ده رایې او تدبیر به څه وې ، هر انسان په خپل عمر کې په زرګونو واقعاتو کې خپله دا رسوایې وینې چې بغیر دالله ﷻ درضا څخه یو تدبیر هم نه سې کار ګر کیدای . مولانا رومي رحمه الله ښه فرمایلې دي .

خویش را دیدم ورسوایی خویش .... امتحان ما مکن ای شاه بیش

یعنې مونږ خپله کمزوری اورسوایې لیدلې ده ، نور زیات په امتحان کې مونږ مه اچوه .

د فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ جملې څخه دا خبره هم په ډاګه سوه چې توکل داسبابو او تدبیر پاته کولو نوم نه دی ، بلکه دنړدې اسبابو پاته کول او توکل کول دپیغمبرانو علیهم السلام دسنتو څخه او دقرآن دتعلیم څخه خلاف کار دی البته په لیرې اسبابو اوبې کاره فکرونو کې اخته کیدل یا یوازې اسباب او تدبیرونه خاص اثر کوونکې ګڼل او دمسبب الاسباب او دکارونو تدبیر جوړوونکې الله ﷻ څخه غافله او بې پرواه پاته کیدل بې شکه چې دتوکل څخه خلاف خبره ده ، داسبابو او تدبیر کولو سره په الله ﷻ توکل په کار دی .

إِنْ يَنْصُرْكُمُ اللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ وَإِنْ يَخْذُلْكُمْ فَمَنْ ذَا الَّذِي

که الله ستاسې مدد وکړي نو څوک به په تاسې باندې غالب نه سي او که ستاسې مدد ونه کړي نو بیا داسې څوک دی

يَنْصُرُكُمْ مِنْ بَعْدِهِ ۗ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ⑯ وَمَا

چې ستاسې مدد وکړل سي دهغه څخه وروسته او خاص په الله باندې پروسه په کار ده مسلمانانو لره ، او

كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَغُلَّ ۚ وَمَنْ يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ

دنبي کار نه دی چې پټ کړي او څوک چې پټ کړي هغه به راوړي خپل پټ کړل سي په ورځ دقیامت کې ،

ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ⑰ أَفَمَنِ

بیا به پوره پیدا کې هر څوک څه چې یې ګټلې وي او په دوی به ظلم نه وي ای پس هغه سړی چې

اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللَّهِ كَمَنْ بَاءَ بِسَخَطٍ مِنَ اللَّهِ وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ ۚ

چې تابع دی درضا دالله برابر یدسې دهغه چاچې وېې ګټله غصه دالله او دده ځای دوږخ دی

وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿١٦٢﴾ هُمْ دَرَجَٰتٌ عِندَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا

او څه بدځای ته ورسیدی ، دخلقو مختلفې درجې وي دالله په نزد او الله وینی څه

يَعْمَلُونَ ﴿١٦٣﴾ لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا

چې دوی کوی ، الله احسان وکی په ایماندارو باندې چې وی لیږی په دوی کی رسول

مِّنْ أَنفُسِهِمْ يَتْلُوا عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَٰبَ

د دوی څخه وایی په دوی باندې آیتونه دهغه او پاکوی دوی (یعني دشرك وغیره څخه) اوښیی دوی ته کتاب

وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿١٦٤﴾ أَوَلَمَّا

او دکار خبری او دوی خو دمخکې څخه په ښکاره گمراهی کی وه ، ای څه

أَصَٰبَتْكُم مُّصِيبَةٌ قَدْ أَصَبْتُم مِّثْلَيْهَا قُلْتُمْ أَنَّىٰ هَٰذَا ۖ قُلْ

وخت چې ورسیدی تاسی ته یو تکلیف چې تاسی رسولی وو ددې څخه دوه چنده نو وایی چې دا دکوم طرف څخه راغی ،

هُوَ مِنْ عِندِ أَنفُسِكُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٦٥﴾ وَمَا

ته ووایه چې دا تکلیف تاسی ته ورسیدی ستاسی دطرف څخه ، بیشکه الله ﷻ په هرڅه باندې قادر دی ، او څه

أَصَٰبَكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ فَبِإِذْنِ اللَّهِ وَلِيَعْلَمَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٦٦﴾

چې تاسی ته درپیښ سوه په هغه ورځ چې مخامخ سول دوه فوجونه نو دالله په حکم سره اوپه دې وجه چې معلوم کی

وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ نَافَقُوا ۚ وَقِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا قَٰتِلُوا فِي سَبِيلِ

ایمانداران، اوددې دپاره چې معلوم کړی هغه چې منافقان دی او وویل سوه دوی ته چې راسی جنگ وکی دالله په لاره کی ،

اللَّهِ أَوِ ادْفَعُوا ۖ قَالُوا لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا لَّاتَّبَعْنَٰكُمْ ۗ هُمْ لِلْكُفْرِ

یادفع کړی دښمن ، وی ویل که مونږ ته معلوم وی جنگ نوخامخا به ستاسی سره وه دغه خلق په دې ورځ کفرته

يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلْإِيمَٰنِ ۚ يَقُولُونَ بِأَفْوَٰهِهِم مَّا لَيْسَ

نژدې دی په نسبت دایمان ، وایی په خولو سره هغه چې نسته

Maktaba Tul Ishaat.com

فِي قُلُوبِهِمْ ۗ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يَكْتُمُونَ ﴿١٦٧﴾ الَّذِينَ قَالُوا لِإِخْوَانِهِمْ

په زړونو د دوی کی ، او الله ﷻ ښه پیژنی څه چی دوی پټوی ، هغه خلق دی چی وایی خپلو ورونو ته

وَقَعَدُوا لَوْ أَطَاعُونَا مَا قُتِلُوا ۗ قُلْ فَادْرَءُوا عَنْ أَنفُسِكُمُ

او په خپله ناست وی که دوی زمونږ خبره منلی نو نه به مړه کیدل ، ته ووایه نو منع کړی دځان خپل څخه ،

الْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿١٦٨﴾ وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي

مرګ که تاسی رښتینی یاست ، او ته مه ګڼه دغه خلق چی مړه سوی دی

سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا ۚ بَلْ أَحْيَاءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ﴿١٦٩﴾ فَرِحِينَ

دالله په لاره کی ، مړه ، بلکه دوی ژوندی دی دخپل رب سره خوری چیښی ، خوشحالیږي

بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا

په هغه باندی چی ورکړه دوی ته الله ﷻ دخپل فضل څخه ، او زیری اخلی دهغو دطرفه چی لاتر اوسه نه دی

بِهِم مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿١٧٠﴾

رسیدلی دوی ته د دوی څخه وروسته په دی وجه چی نه څه بیره سته په دوی او نه څه غم ،

يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٧١﴾

زیری اخلی په نعمت دالله سره او په فضل سره او په دی خبره سره چی الله نه ضائع کوی مزدوری دایماندارو

دآیتونو تړون : داحد په واقعه کی په عارضی ماتی او دمسلمانانو په پریشانی باندی دصحابه کرامو ؓ دتسلی دپاره نبی کریم ﷺ ته دځوکارونو حکم سوی وو چی په دی سره دنبی کریم ﷺ دخفګان خطره خولیری سوه ، لیکن دی حضراتو ؓ ته په دی واقعه کی په خپلی ماته خوړلو باندی افسوس هم وو ، په دی وجه په ذکرسوو دولسو آیتونو کی په اولنی آیت کی ددوی دماتی خوړلو افسوس دزړه څخه وباسی ، دارنګه دبدر په ورځ په مال دغنیمت کی یو پټو ورک سونو ځینو ناپوهانو یامنافقانو خلقوو ویل چی شاید نبی کریم ﷺ به اخستی وی ، او داکار حقیقةً یاصورةً خیانت دی دنبی کریم ﷺ شان مبارک ددی څخه پاک او ډیر لوړ دی ، په دی وجه په دوهم دریم او څلورم آیت کی یی دنبی کریم ﷺ لوی شان او عظیم صفت دامانت داری او ددی خیال غلطی بیان کړه ، په پنځم آیت کی یی دنبی کریم ﷺ وجود دمبارک یو لوی نعمت

Maktaba Tul Ishaat.com

و د دوی راتلل یې د انسانیت د پاره یو عظیم رحمت او لوی احسان واضحه کړی ، چونکه پر مسلمانانو د اشکست یو ډیر سخت بوج او بار وو چې سره د دې چې مونږ مسلمانانو یو نو دا مصیبت پر مونږ باندې ولې او د کوم طرف څخه راغی ، په دې وجه صحابه کرامو ته تعجب او افسوس وو . او دا رنګه منافقانو به ویل چې که دا خلق په کورونو کې ناست وای نو نه به وا ، هلاك سوی او د دې شهیدانو مرګ یې بدنصیبي او محرومي ګڼله ، په دې وجه یې په شپږم ، اووم او اتم آیت کې په بل عنوان سره د دې عارضي مصیبت او تکلیف وجه او حکمت ښکاره کې او د دې په ضمن کې د منافقانو تردید هم وسو .
او په نهم آیت کې یې د دې غلطې عقیدې ردو کې چې په کورونو کې کښیناستل د هلاکت څخه نجات دی او په لسم، یولسم، او دولسم، آیت کې یې د شهیدانو داعلی درجې کامیابي او حقیقي ژوند ... میشه نعمتونو او خوشحالو ثابت والی بیان کې چې هغوی حقیقي ژوند او خوشحالي پیدا کړه .

لنډ تفسیر: که الله ﷻ ستاسې ملګرتیا وکړي نو ستاسې څخه بیا هیڅوك ګټه نه سي کولی او که ستاسې سره ملګرتیا ونه کړي نو ده څخه وروسته بیا څوك دی چې ستاسې ملګرتیا وکړي (او تاسې غالب کړي) او یوازې پر الله ﷻ باندې ایمانداران لره اعتماد ساتل په کار دی او د نبي ﷺ شان دا نه دی چې هغه (نعوذ بالله) خیانت وکې حال دا دی چې (د خیانت کوونکي به په قیامت کې رسوایي او شرمندګي وي څکه چې) کم سړی خیانت وکې دغه سړی به دغه خپل د خیانت شی د قیامت په ورځ (د حشر په میدان کې) حاضر کړي (چې ټول خلق په خبر سي او ټولو په وړاندې به شرمنده او رسوا سي) بیا به (د قیامت د میدان څخه وروسته) هر سړي ته (د دې خیانت کوونکو څخه) ده د کړو (په دوږخ کې) پوره بدله ورسیږي او پر دوی به بالکل ظلم نه وي (چې ګویا تر ... زیاته سزا به ورته ورسیږي ، غرض دا دی چې خیانت کوونکي په غضب سوي او د دوږخ مستحق سو او انبیاء علیهم السلام به د الله ﷻ د رضا لټولو په وجه په قیامت کې سر لوړي وي نو پس دا دواړه کارونه نه سي جمع کیدی لکه چې وړاندې ارشاد د) نو داسې سړی چې د رضا د حق تابع وي (لکه نبي ﷺ) آیا دی به د داسې سړي په مثال سي چې د الله ﷻ د غضب مستحق وي او ځای یې دوږخ وي (لکه خیانت ګر) او دغه دور تلو بیکاره ځای دی (هیڅکله دواړه برابرنه وي ... دا چې ذکر سوه (یعنې تابعداران د رضا د حق او په غضب سوي) په درجو کې به مختلف وي د الله ﷻ په نزد (چې تابعدار محبوب او جنتي دی او په غضب سوی دوږخي دی) او الله ﷻ ښه وینی د دوی عملونه (... په دې وجه به د هر یوه سره د هغه مناسبه معامله وفرمایي) په حقیقت کې الله ﷻ په مسلمانانو بندې (لوی) احسان وکې چې په دوی کې یې د دوی د جنس څخه یو داسې (عظیم الشان) پیغمبر ﷺ راولیږی چې هغه دې خلګو ته د الله ﷻ آیتونه (او احکام) وایي او ري یې او (د ظاهري او باطني پلیتیو څخه) دا خلګ پاکوي او دوی ته کتاب (الهي) او د پوهې خبري ورزده کوي او په یقین سره دا خلق (ستا د راتلو څخه) مخکې په ښکاره غلطي (یعنې شرك او کفر) کې (اخته) وه او کله چې (په احد کې) تاسې داسې وخوړه چې د هغه دوه چنده تاسې (په بدر کې ...) ګټه کړې وه (څکه چې په احد کې او یا مسلمانان شهیدان سول او په بدر کې او یا کافران قیدیان سوي او او یا قتل سوي وه) نو آیا په داسې وخت کې تاسې (په طور د اعتراض نه

صحیح په طوردتعجب) داسی وایاست چی (سره ددی چی مونږ مسلمانان یو) دا (شکست) دکوم طرف
څخه وسو (یعنی ولی وسو) ته ورته ووایه چی داشکست ستاسی دطرف څخه وسو (که دنبی کریم ﷺ
درایی خلاف مونه وی کړی نوشکست به مونه وای خوړلای ځکه چی ددی قیدسره دفتح وعده سوی وه)
بی شکه الله ﷻ ته په هرشی باندی پوره قدرت دی (هرکله چی تاسی دخپل طاقت سره مطابق حُکم ومنی
نوتاسی یی غالب کړاست اوکله چی تاسی دهغه خلاف وکړه نوتاسی یی مغلوب کړاست) اوکوم مصیبت
چی په تاسی پریوتی، په کومه ورځ چی دوی ډلی (د مسلمانانو اوکفارو) یوبل ته (دجنګ دپاره) مخامخ
سوی (یعنی داحدپه ورځ) نو (دغه مصیبت) دخدای ﷻ په حکم سره راغی (ځکه چی څوچنده حکمتونه وه
چی بیان یی لوړ سوي دی) او (په دی کی یوحکمت دا دی) ددی دپاره چی الله ﷻ مومنان هم ووینی (ځکه
چی دمصیبت په وخت کی اخلاص اوغیراخلاص ښکاره کیږی لکه چی داسی تیرسوی هم دی) اوهغه
خلګ هم ووینی چاچی دنفاق کاروکی اودوی ته (دجنګ شروع کیدوپه وخت کی هرکله چی دری سوه
کسانود مسلمانانو سره ملګرتیا پریښوله لکه چی مخکی تیرسوی دی) داسی وویل سوه چی (دجنګ
میدان ته) راسی (بیاکه همت درپه کی وی نو) دالله ﷻ په لاره کی جنګ وکی یا (که همت درپه کی نه وی
نو شمیر زیات کړی) ددښمنانو دفع وکی (ځکه چی ډیری ووینی نو په دوی به رعب راسی اوشایدچی په
دی سره واپس سی) دوی وویل که چیری مونږ لیدلی چی دا دطریقی جنګ دی نوخامخابه ستاسره سوی
وای (لیکن داڅنګه جنګ دی چی دغه خلګ ترتاسی دری څلورچنده زیات دی اوبیا په دی سربیره د
دوی سره سامان هم زیات دی نو په داسی حالت کی جنګ کول ځان هلاکت ته غورځول دی ، جنګ خو
دی ته نه ویل کیږی ، الله ﷻ په دی باندی فرمایی چی) دا منافقان په دغه ورځ (هرکله چی داسی سخت
جواب یی ورکړی وو) کفر ته (په ښکاره هم) ډیر نژدی سو په نسبت سره دهغه حال څخه چی دوی (مخکی
په ظاهره سره) ایمان ته (څه قدر) نژدی وه (ځکه اول چی که څه هم دوی په زړه سره مومنان نه وه مګرد
مسلمانانو په وړاندی به یی دموافقت خبری جوړولی خوپه دی ورځ داسی سپین سترګی پرراغله چی
ښکاره په ښکاره یی دمخالفت خبری دخولی څخه ووتلی ، په دی وجه چی یی اول ایمان ته څه ظاهری
نژدی والی وو ، هغه کفرته په نژدی والی باندی بدل سواو دانژدی والی دهغه نژدی والی څخه زیات ځکه
دی چی دموافقت دغه وړاندینی خبری ددوی دزړه څخه نه وی نوپه دی وجه زوروری نه وی
اودادمخالفت خبری دزړه څخه وی، په دی وجه یی ویناهم زوروره وه) داخلق په خپلی خولی سره داسی
کوی چی په زړونوکی یی نسته (یعنی په زړه کی یی دادی چی ددی مسلمانانو سره هیڅکله هم
ملګرتیااونه کړی که څه هم دجنګ دطریقی ولی نه وی) اوالله ﷻ ښه پیژنی هغه څه چی دوی یی په خپل
زړه کی ساتی (په دی وجه ددی خبری غلطوالی الله ﷻ ته معلوم دی) دوی داسی خلق دی چی (په خپله
خوپه جهادکی شریك نه سوه او) دخپلو (هم نسبو) ورونو په نسبت (کوم چی قتل سو په کورونوکی
ناست خبری جوړوی چی که زمونږخبره یی منلی وای (یعنی زمونږپه منع کولو سره نه تلی) نو (بی فائدی)
به نه وای قتل سوی ته ورته ووایه چی ښه ده نوتاسی دخپل ځان څخه مرګ واړوی که تاسی (په دی خیال

Maktaba Tul Ishaat.com

کی) ربنتینی یاست (چی دمیدان په تلوکی هلاکت دی ځکه چی دقتل څخه خلاصیدل خودمرګ څخه دخلاصیدو دپاره په کار دی نوکله چی پرمقرره وخت باندی په کورکی په ناستی سره هم مرګ راځی نو قتل هم دمقرر وخت څخه نه سی بچ کیدی) او(ای مخاطبه) کوم خلق چی دالله ﷻ په لاره کی (یعنی ددین دپاره) قتل سی ، دوی (دنورو مړو په شان) مړه مه ګڼه ، بلکه دغه خلق (په یوه ښایسته ژوندسره) ژوندی دی (او) خپل رب ته نژدی (یعنی مقبول دی) دوی ته رزق هم رسیږی (او) خوشحاله دی په هغه شی سره کوم چی دوی ته الله ﷻ په خپل فضل (اوکرم) سره ورکړي دی (مثلاً دنژدیکت درجی اونور، یعنی ظاهری رزق ورته هم رسیږی اومعنوی یعنی خوشحالی هم) او (څنګه چی دوی په خپل حال خوشحاله دی دغه شان) کوم خلګ (چی اوس په دنیاکی ژوندی دی او) دوی ته نه دی رسیدلی (بلکه) ددوی څخه وروسته پاته دی دهغوی هم پردی حالت باندی (دغه شهیدان) خوشحالیږی چی (که دوی هم شهیدان سی نوزمونږپه شان) به پردوی هم هیڅ بیره واقع کیدونکی نه وی اونه به دوی (په هیڅ قسم) غم جن وی (غرض دادی چی دوی ته دوی خوشحالیانی حاصلی وی یوه دځان متعلق دوهمه دخپلوتعلق دارانو متعلق مخکی یی ددی دواړو خوشحالیو سبب داوښووی چی) دوی (پرخپل حالت باندی خو) خوشحالیږی په وجه دنعمت اوفضل دالله ﷻ (کوم چی دوی ولیدی چی) الله ﷻ دایماندارو (دعمل) اجرنه ضائع کوی (نوکوم خلق چی د دوی تعلق داران وروسته پاته دی اوپه نیکو کارونو جهاد اونورو کی اخته دی، دوی ته به هم داسی انعامونه ورسیږی)

معلومات اومسئلي

(دغنیمت په مال کي غلاکول لویه ګناه ده دیونبي څخه دداسي ګناه احتمال هم نسته)

آیت مَاکَانَ لِنَبِیٍّ اَنْ یَّغُلَّ دا دیوخاص واقعی په باره کی راغلی دی ددی په څنګ کی د (غلول) یعنی دغنیمت دمال دغلامسئله راغله ، دترمذی درروایت مطابق واقعه دا ده چی دبدرپه جهادکی په مال غنیمت کی یوپټو ورك سوځینی خلقو وویل چی شاید نبی کریم ﷺ به اخستی وی ، داسی خبره کوونکی که منافقان وه نو بیاخو څه لیری خبره نه ده اوممکنه ده چی څوك ناپوه مسلمانان وی نودهغوی به داګمان ووچی نبی کریم ﷺ ته داسی اختیارسته ، په دی باندی دا آیت نازل سو، چی غلول ته یی لویه ګناه وویل اودقیامت په ورځ یی ددی سخته سزاذکر کړه ، اوداچی دیونبی متعلق داګمان کول چی ده به داګناه کړی وی دا ډیر عبث تور پوری کول دی ، ځکه چی پیغمبران علیهم السلام دهری ګناه څخه پاك وی لفظ د(غلول) مطلق دخیانت په معنٰی کی هم استعمالیږی ، اوخاص کر په مال غنیمت کی دخیانت دپاره اودغنیمت په مال کی غلا اوخیانت کول دعامو غلاګانو او خیانتونو څخه زیات سخت دی ځکه چی دغنیمت په مال کی دټول اسلامی لښکرحق دی نوچاچی په دی کی غلاوکړه ده دسوونو زرګونوخلقو څخه غلاوکړه ، که څه وخت بیادی داحق واپس کول هم وغواړی نوډیره ګرانه ده چی ټولوته ددوی حق وررسوی یایی په معاف کی، په خلاف دنورو غلاګانو څخه چی مالك یی معلوم وی نوڅه وخت چی الله پاك توفیق ورکی دتوبی نوچی دهغه حق اداکی یایی معاف کی نوبری کیدی سی ، هم داوجه ده چی په یوه غزاکی یوسړی

Maktaba Tul Ishaat.com

دوړی څه برخه پټه کړه دځان سره یی کښېښوله دغنیمت دمال دتقسیمدو څخه وروسته ده ته خیال راغی ودغه وړی یی دنبی ﷺ په خدمت کی حاضره کړه ، دی ﷺ سره ددی چی رحمت للعٰلمین وو اوپرامت باندی ترمور اوپلار زیات شفقت کوونکی وو ، دایی ورته وویل اودی یی واپس کی چی اوس به دازه په څه ډول سره په ټول لښکرکی تقسیموم اوس به ته دادقیامت په ورځ حاضروی ، نوپه دی وجه د غلول سزاهم ترعاموغلاګانو سخته ده چی دحشرپه میدان کی چی ټول مخلوق جمع وی دټولوپه مخکی به دی داسی رسواکیږی چی دکم مال ده غلاکړی وی، هغه به دده پراوږو باندی باروی ، په صحیحینوکی په روایت دابوهریره ؓ ذکردی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی ګوری داسی نه سی چی په قیامت کی څوك داسی ووینم چی دهغه پراوږو باندی یواوښ باروی (اودااعلان کیږی چی ده دغنیمت دمال څخه دااوښ پټ کړی وو) دغه سړی که زماڅخه دشفاعت طلب کوی نوزه به ورلره صفاجواب ورکړم چی ماتاسی ته دالله ﷻ حکم رسولی وو اوس زه هیڅ نه سم کولی ، الله ﷻ دی مونږ وساتی ، دا دحشر دمیدان رسوایی به داسی وی چی په ځینو روایاتوکی داسی دی چی دچاسره دامعامله وی هغه به آرزوکوی چی ماجهنم ته ولیږی چی ددی رسوایی څخه خلاص سم .

(دوقف مالونو اوسرکاری خزانوڅخه غلاکول دغلول په حکم کي دي)

هم دا حال دمسجدونو ، مدرسو ، خانقاه ګانو او داوقافو دمالونو دی، چی په دی کی دزرګونو لکولو مسلمانانو چنده وی که معاف کول یی وغواړی نود یو چا څخه به یی معاف کوی دغه شان دحکومت دسرکاری خزانی (بیت المال) حکم دی، ځکه چی په دی کی دټول ملك داوسیدونکوحق دی څوك چی ورڅخه غلاوکی، هغه دټولو څخه غلاوکړه لیکن چونکه دامالونه په عام طورسره داسی وی چی ددی څوك سړی مالك نه وی نګرانی کوونکی یی اکثره بی پروایی کوی نوپه دی وجه په کی دغلا موقعی ډیری وی ، په دی وجه نن صباپه دنیاکی ترټولو زیاته غلا اوخیانت په دی مالونوکی کیږی اوخلق ددی دبدانجام اودلوی ګناه څخه غافله دی ، ددی جرم سزادجهنم پرعذاب سربیره دحشر دمیدان رسوایی هم ده اودنبی کریم ﷺ دشفاعت څخه محرومی هم (الله ﷻ دی مونږ ته پناه ورڅخه راکی) آمین.

(دنبي کريم ﷺ وجود مبارک په ټول انسانيت باندي ترټولو لوي احسان دي)

لَقَدْ مَنَّ اللهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ الاٰیة : ددی مضمون یوآیت تقریباً په دی الفاظوسره په سورت بقره کی تیرسوی دی چی تفصیل اوتشریح یی هلته پوره سوي ده ، هلته یی وګوره ، دلته په دی آیت کی یولفظ زیات دی ، لَقَدْ مَنَّ اللهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ یعنی نبی کریم ﷺ یی دنیاته راولیږی نودا الله ﷻ په مومنانو ډیرلوی احسان کړي دی ددی په باره کی خواول داخبره دفکرقابله ده چی نبی کریم ﷺ دقرآن دتصریح مطابق رحمة للعالمین دی او دټول مخلوق دپاره د دوی وجودلوی احسان دی دلته یی یوازی دمسلمانانو دپاره فرمایل داسی دی، لکه ځنګه چی یی قرآن کریم لره هُدًى لِلْمُتَّقِيْنَ فرمایلی دی ، اودقرآن کریم دټول عالم دپاره هدایت کیدل دنورو آیتونو څخه ثابت دی ، لیکن په ځینی ځایونوکی یی دادمتقیانو سره خاص کړیدی ددی وجه په دواړو ځایونوکی په شریکه سره یوه ده چی که څه هم دنبی کریم ﷺ وجودمبارك دټول

Maktaba Tul Ishaat.com

مخلوق اوهرمومن اوکافر دپاره لوی نعمت اولوی احسان دی ، دغه شان قرآن کریم دټول انسانیت دپاره صحیفه دهدایت ده ، لیکن کله چی ددی نعمت او هدایت نفع یوازی مومنانو اومتقیانو حاصله کړه ، په دی وجه یی په څه ځایونوکی ددوی سره خاص کی بیان کړه دوهمه خبره دنبی کریم ﷺ دمومنانو دپاره یادټول عالم دپاره دلوی نعمت اولوی احسان کیدلو تشریح اووضاحت دی داخبره داسی ده چی که دنن وخت انسان روحانیت هیرونکی اودمادیت (یعنی دظاهری ښایست) تابعداری کوونکی نه وای نو ددی مضمون تشریح اووضاحت ته بیاضرورت نه وو دعقل څخه کاراخستونکی هر یوانسان به ددی لوی احسان دحقیقت څخه په خپله خبروو ، مګرکیږی داسی چی نن وخت انسان ددنیاپه حیوانانوکی ترټولو دزیات هوښیارحیوان څخه ماسوابل هیڅ نه دی پاته سو دی احسان اوانعام یوازی هغه شی ته وایی چی دده دګیډی اونفسانی خواهشاتو سامان تیاروی ، دده دوجود داصل حقیقت څخه چی دده روح دی دهغه دښه والی اوخراب والی څخه دی سراسر غافله سویدی ، په دی وجه ددی تشریح ته ضرورت دی ، چی انسان ته اول داوښوول سی چی دده حقیقت یوازی دځوهډوکو اوغوښی اوځرمنی مجموعه نه ده ، بلکه دانسان حقیقت (یعنی اصلیت) هغه روح دی چی دده دبدن سره پیوست دی ، ترڅو پوری چی داروح دده په بدن کی وی تردغه وخته پوری انسان ، انسان دی ، دده دانسانیت حقوق قائم دی ، برابره خبره ده که دی هرڅومره کمزوری ضعیف اومرګ ته نژدی هم وی ، دهیچا داطاقت نسته چی دده پرجایداد اومال باندی قبضه وکی یادی دخپلوحقونو څخه محرومه کی ،لیکن څه وخت چی داروح دده دبدن څخه جلاسی ، نوبرابره خبره ده که هغه هرڅومره قوی اوپهلوان هم وی ، او دده اندامونه ټول په خپل اصلی شکل کی وی ، دی انسان پاته نه سو ، دده هیڅ حق په خپل جایداد اومال کی باقی پاته نه سو ، پیغمبران علیهم السلام دنیاته ددی دپاره راغلی دی چی دوی دانسان دروح صحیح پالنه وکړی ، دانسان څخه حقیقی انسان جوړکی ددی دپاره چی دده دبدن څخه کم عملونه اوکارونه کیږی هغه دانسانیت (سړیتوب) دپاره فائده مندثابت وی دی ددرنده ګانو اوزهری حیوانانوپه شان نورمخلوق ته ضرر اوتکلیف نه رسوی اوخپله هم په خپل انجام باندی ځان پوه کی ځان ته دآخرت دهمیشه ژوند دپاره سامان تیارکی ، زمونږ نبی کریم ﷺ ته چی دانبیاوو علیهم السلام په ټوله کی دامامت اوسرداری مرتبه حاصله ده ، دانسان څخه په صحیح انسان جوړولوکی دده ﷺ شان دټولو انبیاوو علیهم السلام څخه ډیرلوړدی ده دمکی په خپل ژوندکی یوازی دغه دخلګو جوړولو کاروکی اودانسانانو یوه داسی معاشره یی تیاره کړه چی مقام یی دملائکو ترصفونو مخکی دی اومځکی اوآسمان ددی څخه مخکی داسی انسان نه وو لیدلی ، په دوی کی هر یو دنبی کریم ﷺ ژوندی معجزه په نظرراځی ، او د وروستنیو دپاره هم دوی چی کوم تعلیمات اودی تعلیماتوته درواج ورکولوکومی طریقی چی پریښنی دی په دی باندی پوره عمل کوونکی هم دغه مقام پیداکولی سی کوم چی صحابه کرامو ﷺ پیداکړی دی ، دا تعلیمات دټول عالم دپاره دی ، په دی وجه دده ﷺ وجودمبارك دټول مخلوق دپاره یولوی احسان دی که څه هم چی ددی څخه پوره فائده مومنانو اخستی ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

(داحدپه واقعه کي مسلمانانو ته عارضي ماته اودقتل اوزخم دمصيبتونو راپيښيدو ځيني سببونه اوحکمتونه)

اَوَلَمَّآ اَصَابَتۡكُمۡ ، الاٰية: په تيرو آيتونو کی ځوځايه ددی مضمون ذکرراغلی دی دلته يی بياپه زيات وضاحت سره بيان کړي دی ځکه چی مسلمانانو ته ددی واقعی ډيرسخت غم اوپريشانی وه ، تردی چی دځينو حضراتو په ژبه باندی دا هم راغله اَنّٰى هٰذَا چی دامصيبت پر مونږ دکمه راپريوتی ؟ په داسی حال کی چی مونږدنبی کريم ﷺ سره په جهادکی شريك يو ، په ذکرسوی آيت کی يی اول داخبره وريادہ کړه چی ځومره مصيبت په تاسی نن پريوتلی دی تاسی ددی دوه چنده په خپل مخالف باندی ددی ځخه مخکی دبدرپه غزاکی غورځولی وو ، ځکه چی داحدپه غزاکی اويا مسلمانان شيهدان سوی وه ، اودبدرپه غزاکی دمشرکانو اوياتنه سرداران قتل سوی وه اواويا گرفتارسوی وه اود مسلمانانو په لاس ورغلی وه ، ددی خبری دوريادولو ځخه يوخودا مقصددی چی دامسلمانان خپل داموجوده تکليف او پريشانی هيره کړی چی دکوم سري دوه چنده گټه سوی وی که يووارنيم وبايلی ياشکست وخوری نوپردی زيات غم اوتعجب کول نه دی په کار، دوهم اصل مقصد دآيت په آخری جمله يعنی ، قُلۡ هُوَ مِنۡ عِنۡدِ اَنۡفُسِكُمۡ کی ښوول سوی دی چی داتکليف اومصيبت په حقيقت کی ددښمن دډيروالی اوطاقت په وجه سره نه دی بلکه ستاسی دځينو کمزوريو په سبب سره دی چی دنبی کريم ﷺ په حکم منلوکی ستاسی ځخه کوتاهی (کمی) وسوه ، تردی وروسته په بل آيت ، فَبِاِذۡنِ اللّٰهِ کی دی طرف ته اشاره وسوه چی داهرځه چی وسوه دالله ﷻ په اذن او رضا سره وسوه چی په دی کی ډيرحکمتونه پټ دی ، په دی حکمتونوکی دځينوبيان مخکی سوی دی او يو حکمت په کی دا هم دی چی الله ﷻ مخلص مومنان هم ووينی اومنافقان هم ، يعنی دمومنانو اخلاص اودمنافقانو منافقت داسی ښکاره سی چی هريو ليدونکی يی ووينی دلته دالله ﷻ دليدوځخه مراد دا دی چی په دنياکی کوم صورت دليدو چی معلوم دی په هغه صورت باندی وليدل سی که نه وی الله ﷻ خو هروخت هر يو شي وينی، نوددی حکمت درك داسی ولگيدی چی دسختی په وخت کی منافقان جلا ولاړه ودريدل او مخلصان مومنان په جنگ کی ثابت قدم پاته سول ، اويوه وجه دتسلی داهم ده چی کوم مسلمانان په دی جنگ کی شهيدان سوي دی ، دوی ته الله ﷻ هغه انعامات ورکړي دي چی نورو ته په دی باندي غبطه کول په کار دی ، په دی مناسبت سره يی ددی ځخه په وروسته آيت . وَلَا تَحۡسَبَنَّ الَّذِيۡنَ قُتِلُوۡا فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ اَمۡوَاتًا کی دشهيدانو خاص فضيلتونه بيان کړي دی .

(دالله ﷻ په لارکي دشهيد سوو خاص فضيلتونه او درجي)

په دی آيت کی دشهيدانو دخاص فضيلتونو بيان دی او په صحيح احاديثوکی ددی ډيرلوی تفصيل راغلی دی ،امام قرطبی فرمائيلی دی چی دشهيدانوهم درجی اوحالات مختلف وی ، په دی وجه داحاديثو په روايتونوکی چی کوم مختلف روايتونه راغلی دی هغه دمختلفو حالاتوپه اعتبارسره دی ، دلته دشهيدانواولنی فضيلت (ښه والی) خودابيان سوي دی چی هغه مړنه دی بلکه دهميشه ژوندمالکان سوي دی ، دلته داخبره دښه فکر کولو قابله ده چی په ظاهره کی ددوی مړه کيدل اوپه قبرکی ښخيدل خوليدل کيږی ، نوبيادقرآن په ډيرو آيتونو کی دوی ته دمړه نه ويلو اومړه نه گڼلوکوم هدايات چی راغلی

دي ددي څه مطلب دي؟ که داسي وويل سي چي برزخي ژوند ورڅخه مراد دي نو دا خو هر سړي مومن او کافرته حاصل دي چي دمرګ څخه وروسته دده روح ژوندي وي اودقبردسوال جواب څخه وروسته دمومن صالح دپاره دراحت سامان اودکافر فاجردپاره دقبرعذاب دقرآن اوحديث څخه ثابت دي نوچي دا برزخي ژوندهرکله دټولو دپاره يوشان دي نودشهيدانو خصوصيت په کي څه سو؟ جواب دا دي چي دقرآن کريم دي آيت دا خبره وښودله چي شهيدانو ته دالله ﷻ دطرف څخه دجنت رزق حاصليږي ، او رزق ژوندي سړي ته رسيږي ددي څخه معلومه سوه چي ددي دنياڅخه دټلو سره دشهيد دپاره دجنت رزق جاري کيږي اويو خاص قسم ژوند دغه وخت څخه ده ته رسيږي چي دعامومړو څخه يو لوړ حيثيت لري (قرطبي)

اوس پاته سوه داخبره چي دغه لوړ حيثيت څه دي؟ اودغه ژوندڅه رنګه دي؟ ددي په حقيقت ماسوا دکائناتو دخالق څخه نه بل څوك پوهيدی سی اونه يي پوهيدوته ضرورت سته ، البته ډير واره د دوی ددي خاص ژوند اثر په دي دنياکي هم د دوی په بدنونو باندي ظاهريږي ، چي مځکه دوی نه خوري ، دوی صحيح سلامت پاته وی (قرطبي) چي ډير واقعات يي ليدل سوي دي ، دشهيدانو اولني فضيلت په دي آيت کي د دوی لوړ هميشه ژوند دي ، دوهم دا چي دوی ته دالله ﷻ دطرفه رزق رسيږي دريم فضيلت يي په ، فَرِحِيْنَ بِمَآ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ کي دابيان سوچي دوی به هميشه خوشحاله اوسي په هغه نعمتونوکي کوم چي دوی ته الله ﷻ ورکړي دي ، څلورم فضيلت يي دا دي ، وَيَسْتَبْشِرُوْنَ بِالَّذِيْنَ لَمْ يَلْحَقُوْا بِهِمْ يعني دوی چي خپل کوم تعلق داران په دنياکي پريښي وه ، دهغوی په باره کي به هم دوی ته داخوشحالي وی چي په دنيا کي اوسی نيك عملونه او جهادبه کوی نودوی ته به هم دلته په راتلوسره دانعمتونه اولويي درجي ورسيږي ، اوسدی وايي چي دشهيد څوك خپل دوست چي کله مړکيږي نوشهيدته داول څخه ددی خبرورکول کيږي چي فلانی سړی اوس ستاسی خواته راروان دی ، دی په دی سره داسی خوشحاله کيږي لکه څنګه چي په دنياکي ديوليري پروت دوست په راتلو اودهغه سره په ملاقات خوشحاله کيږي ، ددی آيت شان نزول کم چي ابوداودپه صحيح سند سره دحضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت کړي دی هغه دا دی چي نبی کريم ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته وفرمايل چي هرکله داحد په واقعه کي ستاسی وروڼه شهيدان سول نو الله ﷻ د دوی روحونه دشنو مرغانو په جسم کي واچول آزاد يي کړل دوی دجنت دنهرونو اوباغونو دميوو څخه خپل رزق حاصلوی اوبياهغه قنديلونوته راځي کوم چي د دوی دپاره دخدای ﷻ ترعرش لاندی ځړيږي هرکله چي دغه خلقوخپل دا دارامی اوعيش ژوندوليدی نووی ويل چي زمونږ هغه خپلوان چي په دنياکي زمونږپه مرګ باندی خفه اوغمجن دی څوك به يي دحالاتو څخه خبرکی چي دوی په مونږپسی غم نه کوی اودوی هم په جهادکی کوشش کوی ، الله ﷻ وفرمايل چي زه به ستاسی دا خبره هغوی ته ورسوم ، نو په دی باندی داآيت نازل سو (قرطبي)

الَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ مِنْۢ بَعْدِ مَآ

هغه خلقو چي حکم ومنی دالله او درسول ﷺ وروسته ترهغه چي

Maktaba Tul Ishaat.com

أَصَابَهُمُ الْقَرْحُ ۛ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا مِنْهُمْ وَاتَّقَوْا أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٢﴾

رسیدلی وو دوی ته زخم کوم چی په دوی کی نیکان دی او پرهیزگار ، دوی ته لوی ثواب دی ،

الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ

کومو ته چی وویل خلقو چی دمکی خلقو جمع کړی دی سامان ستاسی دمقابلی دپاره نو تاسی د دوی

فَزَادَهُمْ إِيمَانًا ۖ وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ ﴿١٧٣﴾ فَانْقَلَبُوا بِنِعْمَةٍ

څخه وبیریږي نو ډیر زیات سو ددوی ایمان، او ویی ویل چی پوره دی مونږ لره الله او څه ښه کارسازدی، بیا واپس سوه مسلمانان

مِنَ اللَّهِ وَفَضْلٍ لَمْ يَمْسَسْهُمْ سُوءٌ وَاتَّبَعُوا رِضْوَانَ اللَّهِ ۗ

دالله داحسان او فضل سره هیڅ ونه رسیده دوی ته خرابی او تابع سو دالله درضا

وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَظِيمٍ ﴿١٧٤﴾ إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ الشَّيْطَانُ يُخَوِّفُ

او دالله فضل لوی دی ، دا چی دی نو دا شیطان دی چی بیروی

أَوْلِيَاءَهُ فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿١٧٥﴾

دخپلو دوستانو څخه ، نو تاسی دوی څخه مه بیریږي او زما څخه وبیریږي که تاسی ایمان لری.

لنډتفسیر: کوموخلقوچی دالله ﷻ وینا (کله چی دوی په کفارو پسی دتلو دپاره وبلل سو) قبوله کړه نو دهغه څخه چی دوی ته (اوس تازه) زخم (په جنګ کی) رسیدلی وو، په دی خلقوکی چی کوم نیکان او متقیان دی (اوپه واقع کی تول داسی دی) د دوی دپاره (په آخرت کی) لوی ثواب دی دا داسی (مخلصان) خلق دی چی (څینی) خلقو (یعنی عبدالقیس والا وو کوم چی) دوی ته (راغله) او وی ویل چی هغه خلقو (یعنی مکی والا وو) ستاسی (دمقابلی) دپاره (لوی) سامان جمع کړی دی نو تاسی ته د دوی څخه بیرا کول په کار دی نو دی (خبر) د دوی (جوش د) ایمان نور زیات کی او (په ډیره حوصله سره یی دا) وویل (خبره یی ختمه کړه) چی مونږ لره الله ﷻ (دمشکلاتو دپاره) کافی دی او هغه ته هریوکار سپارل ښه دی (دی کارسپارلوته توکل وایي) نودا خلق دخدای په نعمت اوفضل سره (یعنی دثواب او دتجارت دنفعی سره) ډکه زولی واپس سوه چی دوی ته هیڅ ناخوښی ورپیښه نه سوه او دغه خلق (په دی واقعه کی) دحق درضاتابع سوه (نوپه دی وجه په دنیوی نعمتونوسره سرفرازه سوه) او الله ﷻ لوی فضل والا دی (مسلمانانو) ددی څخه زیاته څه (دبیری قابله) خبره نسته چی داخبر ورکوونکی (فعلاً) شیطان دی چی دخپلو (هم مذهبه) دوستانو څخه (تاسی) بیرول غواړی نو تاسی ددوی څخه هیڅکله مه بیریږی او یوازی زما څخه بیره کوی که تاسی ایمان داران یاست.

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات اومسئلي

دآیتونو ترون اوشانِ نزول: مخکی داحد دقصی ذکروو په دی ذکرسره دآیتونو کی ددی غزا سره تعلق لرونکی دیوی بلی غزا ذکر دی چی د(حمراء الاسد) دغزا په نامه سره مشهوره ده ، حمراء الاسد دمدینی منوری څخه په اته میله کی لیری دیوځای نوم دی ، ددی غزاواقعه داده چی کله دمکی کافران داحد دمیدان څخه واپس سوه نوچی تر یوځه لاری پوری ولاړه نوپه لاره کی ورته پردی خبره افسوس ورغی چی مونږ سره دغالب کیدو بیاهم بیرته راو پس سو؟ مونږلره په کار وه چی ټول په جمع ورغلی وای اومسلمانان مو ټول ختم کړی وای اودی خیال دومره اثرپروکی چی مدینی منوری ته یی بیا دواپس کیدو اراده وسوه لیکن الله ﷺ ددوی پرزړونوباندی رعب واچوی اوسیده مکی مکرمی ته واپس سول لیکن ځینی مسافروته کوم چی مدینی منوری ته روان وه ، دا یی ورته وویل چی تاسی ولاړسی په یوطریقه دمسلمانانو په زړونوکی زمونږ رعب واچوی چی هغوی بیا واپس راروان دی ، نبی کریم ﷺ ته دوحی په ذریعه داخبره معلومه سوه ، نوپه دی وجه تر حمراء الاسد پوری په دوی پسی ولاړل (ابن جریرکذافی الروح)

په تفسیرقرطبی کی دی چی داحدپه دوهمه ورځ نبی کریم ﷺ په خپلو مجاهدینوکی اعلان وکی چی مونږلره په مشرکانوپسی تعاقب کول په کار دی ، لیکن په دی کی به یوازی هغه خلق تلی سی کوم چی پرون په جنګ کی زمونږسره وه ، په دی اعلان باندی دوه سوه مجاهدین پورته سول ،او په صحیح بخاری کی دی چی نبی کریم ﷺ اعلان وکی چی څوك دی چی دمشرکینوپه تعاقب کی به ولاړسی نواویا حضـ ات ولاړسول په دوی کی داسی خلق هم وه چی په پرونی جنګ کی سخت زخمیان سوی وه ، دنورو خلقوپه کومك به تلل ،داحضرات ﷺ دنبی کریم ﷺ سره په مشرکانوپسی ووتل ، حمراء الاسدمقام ته چی ورسیدل نو هلته ورسره نعیم بن مسعود یوځای سو ، هغه ورلره خبرورکی چی ابوسفیان دخپل ځان سره نور لښکرجمعه کوی اوبیا راروان دی ، په مدینه حمله کوی اومدینه ختموی زخمیانو اوکمزورو صحابه وو ﷺ چی کله دا په وحشت کی اچونکی خبر واوریدی نوټولوپه یوه خوله وویل چی مونږدی نه پیژنو: حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ یعنی الله ﷺ مونږلره پوره دی اوهغه ښه کومك کونکی دی دی طرف ته خوپر مسلمانانو درعب اچولودپاره مشرکانو دوی ته داخبر راولیږی اوپر مسلمانانو ددی هیڅ اثرونه سو ، بل طرف ته مَعْبَد خُزَاعِی دخزاعه قبیلی یوسړی دمدینی څخه مکی طرف ته تلی، دی که څه هم مسلمان نه وو، خود مسلمانانو خیرخواه وو ، دده قبیله دنبی کریم ﷺ سره حلیف وه (یعنی وعده یی ورسره کړی وه) نوچی دمدینی څخه پرلاره راتلی او ابو سفیان یی ولیدی چی دواپس کیدو سوچونه یی کول ، نوده ابوسفیان ته وویل چی تاسی په دوکه کی یاست چی مسلمانان کمزوری سوي دی دهغوی یولوی لښکر اوس ماپه حمراء الاسدکی ولیدی چی ښه په سازاو سامان پوره په تاسی پسی راوتلی دی پرابو سفیان باندی ددی خبری رعب پریوتی دا واقعه په تیرو درو آیتونوکی بیان سوي ده ، په اولنی آیت کی ارشاد دی چی سره ددی چی دوی په احدکی زخمونه وخوړه اوسختی پرتیری سوی خو بیاهم چی دوی الله ﷺ او دهغه رسول ﷺ د دوهم جهادطرف ته راوبلل نو دوی دهغه دپاره هم تیارسول ، په دی ځای کی یوه خبره

دفکر کولو قابله ده چې دلته دکومو مسلمانانو صفت بیانیږي ، د دوی دوه صفتونه بیانیږی یو دادی چې مِنْ بَعْدِ مَآ اَصَابَهُمُ الْقَرْحُ یعنی دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ په بلنه باندی تیاریدونکی هغه خلق دی چاته چې په احدکی زخم رسیدلی وو او د دوی اویا بهادران شهیدان سوی وه او دوی په خپله هم دزخمونو څخه سری سری وه ، لیکن کله چې دوی دوباره را وبلل سوه نوفوراً دجهاد دپاره تیارسول ، دوهم صفت یی په ، لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا مِنْهُمْ وَاتَّقَوْا کی بیان سوي دی چې داخلق دعملی کوشش اودخان قربانولو دلویو لویو کارنامو سره سره داحسان اوتقوی صفتونه هم لری اوداټول صفتونه ددوی دلوی اجر سببونه دی ، په دی آیت کی په لفظ د مِنْهُمْ باندی داشك کول نه دی په کار چې په دوی ټولوکی داحسان اوتقوی صفتونه نسته بلکه په ځینوکی دی، ځکه چې دلته حرف د مِنْ دتبعیض دپاره نه دی ، بلکی بیانی دی چې په خپله ددی آیت اولنی لفظونه اَلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا په شاهد دی ، ځکه چې داحکم منل اوفرمانبرداری بغیرداحسان اوتقوی څخه کیدی نه سی ، په دی وجه اکثرو تفسیر لیکونکودلته مِنْ بیانیه اخستی دی چې حاصل یی دا سوه چې داټول خلق چې احسان اوتقوی یی لرله ددوی دپاره لوی اجر دی .

(دیو کاردپاره یوازی کوشش اوخان قربانول پوره نه دی ترڅو پوری چې اخلاص ورسره نه وی)

البته ددی خاص عنوان څخه یوه مهمه فائده داحاصله سوه چې یو کار هرڅومره نیك که ولی نه وی اوددی کاردپاره که یوسړی هر څومره ځان قربان ولی نه کی خودالله ﷻ په نزدبه ده ته اجر هلته ملاویږی چې ددی سره احسان اوتقوی هم وی، یعنی چې دغه کاریوازی دالله ﷻ دپاره وی محضی دځان قربانولو اوبهادری کارونه خو په کفارو کی هم ډیر دی .

(درسول ﷺ حکم په حقیقت کی دخدای ﷻ حکم دی)

په دی واقعه کی په مشرکانو پسی دتلوحکم نبی ﷺ ورکړی وو دقرآن کریم په یوآیت کی هم ددی ذکرنسته لیکن په دی آیت کی هرکله چې ددی خلقو دحکم منلومدح فرمایی نوددی حکم نسبت یی والله ﷻ او رسول ﷺ دواړوته وکی ، اَلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ یی وفرمایل ، چې دی په ښکاره ډول سره داخبره ثابته کړه چې نبی کریم ﷺ کوم حکم ورکوی ، هغه دالله ﷻ حکم هم وی که څه هم هغه یی دینه کسان چې دحدیثو څخه انکار کوی او درسول ﷺ حیثیت یوازی دیوقاصد غوندی وایی (معاذ الله) دهغه دپوهیدو دپاره داجمله هم کافی ده چې درسول ﷺ حکم الله ﷻ خپل حکم مقرر کی چې ددی څخه داهم ښکاره سوه چې رسول ﷺ په خپله هم دیومصلحت په وجه سره څه حکمونه ورکولای سی اوددی حکمونو هم هغه درجه وی کومه چې دالله ﷻ دطرف څخه دورکړل سوو حکمونو وی .

داحسان تعریف: داحسان تعریف په حدیث جبریل کی نبی کریم ﷺ داسی فرمایلی دی .

اَنْ تَعْبُدَ اللّٰهَ كَاَنَّكَ تَرَاهُ فَاِنْ لَّمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَاِنَّهٗ يَرَاكَ .

یعنی ته دخپل رب عبادت داسی کوه چې ګویاته الله ﷻ وینی اوکه داسی حالت په خپله نه سی جوړولی نوکم ازکم داسی خو کوه چې وایی هغه تاوینی .

دتقوی تعریف: دتقوی تعریف په ډیرو تعبیرونوسره سوی دی لیکن ترټولو زیات جامع تعریف یی هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

دی کوم چی حضرت ابی بن کعب ﷺ دحضرت عمرﷺ دسوال کولو په جواب کی فرمایلی دی حضرت عمر ﷺ پوښتنه ورڅخه کړی وه چی تقوی څه شی ده؟ حضرت ابی بن کعب ﷺ وفرمایل چی امیرالمؤمنین ! تاسی یو ځای پرداسی لاره باندی هم تیر سوی یاست چی دڅوزانو څخه ډکه وی حضرت عمرﷺ وفرمایل، ځوواره تیرسوی یم ، حضرت ابی بن کعب ﷺ وفرمایل په داسی ځای به تاسی څه کول حضرت عمرﷺ وفرمایل چی جامی به می راټولی کړی او ډیرپه احتیاط به تیریدم ، حضرت ابی بن کعب ﷺ وفرمایل چی بس تقوی هم ددی نوم دی ، دا دنیا دڅوزانو څخه ډك یو میدان دی دګناهونو دجولاګیانو څخه ډکه ده نو په دی دنیاکی داسی تیریدل او ژوند تیرول په کار دی چی دګناهونو دازغو سره ونه مبتلی ، ددی نوم تقوی دی چی ترټولو زیاته قیمتی سرمایه ده ، حضرت ابو الدّرداء ﷺ به اکثره داشعر وایه .

یَقُوْلُ الْمَرْءُ فَائِدَتِیْ وَمَالِیْ ********** وَتَقْوَی اللهِ اَفْضَلُ مَا اسْتَفَادَا

یعنی خلق په خپلو دنیوی فائدو اومالونو پسی دی، حال دا دی چی تقوی ترټولو ښه سرمایه ده .

په دوهم آیت کی یی دی جهادته دمخکی کیدونکو صحابوﷺ زیات صفت اوتعریف په دی شان سره کړي دی چی .

اَلَّذِیْنَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ اِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوْا لَکُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ اِیْمَانًا .

داهغه حضرات دی چی کله دغه خلقو وویل چی ستاسی خلاف دښمنانولوی سامان جمع کړي دی د دوی څخه وبیریږی اودجنګ اراده مه کوی نودی خبر ددوی دایمان جوش نورزیات کی وجه دا ده چی دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ حکم منل چی کله دی حضراتو قبول کړی وو ، نو داولی ورځی څخه دوی په دی خبره پوه سوی وه چی مونږ چی په کومه لار سفر شروع کړي دی دا دخطرو څخه ډك دی قدم پرقدم به مونږته مشکلات په مخکی راځی ، زمونږلاری به بندیږی اوزمونږددی انقلابی تحریك ختمولو دپاره به باوسله کوششونه کول کیږی ، نوپه دی وجه چی دی حضراتوبه هرکله داقسم مشکلات لیدل نو دایمان قوت به یی تراول زیاتیدی اوتر اول به یی زیاته قربانی ښکاره کوله داښکاره خبره ده چی ددی حضراتو ایمان داسلام راوړو داولی ورځی سره مکمل وو، نوپه دی وجه په دی دواړو آیتونوکی دایمان دزیاتی څخه دایمان دصفتونو اودفائدو زیاتوالی مراددی ،اود الله ﷻ او دهغه درسول ﷺ په بلنه باندی دتیاریدونکو صحابه کرامو ﷺ داحالت یی هم په دی ځای کی په خصوصیت سره بیان کی چی ددی جهادپه سفرکی پرټوله لاره باندی دا جملهٔ ددوی دژبی وظیفه وه: حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الْوَکِیْلُ ددی جملی معنٰی دا ده چی الله ﷻ زمونږ دپاره کافی اوهغه ښه کارسازه دی دلته داخبره په خاص طورسره دفکر قابله ده چی دنبی کریم ﷺ او د دوی ترصحابه کرامو ﷺ زیات په دنیاکی دهیچا توکل اواعتماد په الله ﷻ باندی نه سی کیدلی ، لیکن دده ﷺ دتوکل صورت دانه وو چی ظاهری سببونه پریږدی اوکښینی او ووایی چی مونږلره الله ﷻ کافی دی ، هغه به په ناستی سره مونږته غلبه راکړی ، داسی نه ده ، بلکه هغه ﷺ صحابهٔ ﷺ راجمع کړل د زخمیانو په زړونو کی یی نوی روح واچوی ، دجهاد دپاره یی تیارکړل او ووتل څومره اسباب اوذریعی چی ددوی په اختیار کی وی، هغه یی ټولی تیاری اواستعمال کړی او وروسته ترهغه یی وویل چی مونږ لره الله ﷻ کافی دی ، داهغه صحیح توکل دی دکوم تعلیم چی یی په قرآن شریف کی ورکړي دی اونبی

Maktaba Tul Ishaat.com

کریم ﷺ عمل په وکی په خپله هم اوپه نورو هم ، ظاهری دنیوی اسباب هم دالله ﷻ انعام دی ، ددی پریښوول هم دالله ﷻ ناشکری ده ، اسباب پریښوول اوتوکل کول دنبی کریم ﷺ سنت نه دی که څوك مجذوب یامغلوب الحال وی نو هغه معذوره ګڼل کیږی که نه نو صحیح خبره دا ده چی.

برتوکّل ز انوی اُشتربه بند

یعنی داوښ ګونډی وتړه نوبیایی دخدای ﷻ په توکل وسپاره نبی کریم ﷺ په پخپله په یوه واقعه کی ددی آیت ، حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ په باره کی په واضح طورسره ارشاد فرمایلی دی. عوف بن مالك ؓ فرمایی چی دنبی کریم ﷺ په خدمت کی د دوو سړیانومقدمه راغله ده ﷺ ورته فیصله وفرمایله دافیصله چی دکوم سړی خلاف وه هغه فیصله ښه په آرام سره.واوریده اودایی وویل ولاړ وو، چی ، حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ نبی کریم ﷺ وفرمایل دغه سړی ماته بیرته را ولی اووی فرمایل.

اِنَّ اللّٰهَ يَلُوْمُ عَلَى الْعِجْزِ وَلٰكِنْ عَلَيْكَ بِالْكَيْسِ فَاِذَا غَلَبَكَ اَمْرٌ فَقُلْ حَسْبِيَ اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ.

یعنی ځان بی لاسو اوپښو کول اوکښینستل الله ﷻ نه خوښوی بلکه تاته په کاردی چی تولی ذریعی اختیارکی اوچی بیاهم عاجزه سی نودغه وخت وایه چی حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ په دریم آیت کی ددی صحابه حضراتو ؓ په جهاد کولو او حَسْبُنَا اللّٰهُ ویلو دفائدو، ګټو او برکتونو بیان دی فرمایی.

فَانْقَلَبُوْا بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَفَضْلٍ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوْٓءٌ وَّاتَّبَعُوْا رِضْوَانَ اللّٰهِ.

یعنی داخلق دالله ﷻ په انعام اوفضل سره واپس سول چی دوی ته هیڅ ناخوښه واقعه راپیښه نه سوه او دا خلق دالله ﷻ درضاتابع سول ، الله ﷻ دی حضراتوته دری نعمتونه ورکړل اول نعمت داچی دکافرانوپه
۱ زړونو کی یی د دوی رعب اوهیبت واچوی اوهغوی وتښتیدل چی ددی په وجه دوی دجنګ څخه محفوظ پاته سول ددی څخه الله پاك دنعمت په لفظ سره تعبیر وفرمایی اودوهم نعمت الله ﷻ دا وفرمایی چی دوی ته دحمراء الاسدپه بازارکی دتجارت موقع پیداسوه اودیره فائده یی وکړه ،ددی څخه یی په لفظ دفضل سره تعبیر وفرمایی ، دریم نعمت چی تردی دواړو نعمتونو لوی نعمت دی ، هغه دالله ﷻ درضا حاصلول دی ، کومه چی په دی جهادکی دوی ته په خاص انداز کی حاصله سوه دحَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ ویلو په فائدوکی لیکلی دی چی څوك دا آیت زر واره دایمان ذجذبی سره اوښه په خشوع سره ووایی او دعاوغواړی نوالله پاك یی نه ردوی ، دغمونو فکرونو اومصیبتونو په وخت کی ددی ویل مجرب دی (یعنی په تجربه رسیدلی دی چی ډیره ګټه لری) ، په څلورم آیت کی یی ارشاد وفرمایی چی د مسلمانانو دمرعوب کولوپاره دمشرکانو دبیرته راتلوخبرورکوونکی په اصل کی شیطان دی چی ستاسی دخپلو هم مذهبه کفارو څخه بیرول غواړی ، نوګواکی په اصلی عبارت کی دیُخَوِّفُ یومفعول محذوف دی یعنی يُخَوِّفُكُمْ اودوهم مفعول اَوْلِيَآئَهُ ذکر دی ، بیایی ارشاد وفرمایی چی مسلمانانو ته دداسی خبروڅخه هیڅکله بیریدل نه دی په کار ، البته زماڅخه بیریدل ورته ضروری دی ، یعنی زما دحکم څخه په خلاف کولو سره هر یوه مومن ته بیریدل ضروری دی ، چی دالله ﷻ کومك ورسره وی نو هیڅ نقصان ورته نه سی رسیدی ، دخوفِ خداڅخه څه مراد دی؟ په دی آیت کی الله ﷻ په مسلمانانو

Maktaba Tul Ishaat.com

باندی فرض کړي ده ، چی دوی دی د الله ﷻ څخه وبیریږی او په بل آیت کی یی ددی خلقو مدحه فرمایلی ده کوم چی د الله ﷻ څخه بیریږی يَخَافُونَ رَبَّهُمْ مِنْ فَوْقِهِمْ : لیکن ځینی مشرانو فرمایلی دی چی دخدای ﷻ څخه بیره دړرا او وښکو تویولو نوم نه دی بلکه د الله ﷻ څخه بیرید ونکی هغه دی چی هرهغه شی پریږدی په کوم چی د الله ﷻ دطرفه څخه دعذاب بیره وی ابوعلی دقاق رحمه الله فرمایي چی ابوبکربن فواك ناجوړه ؤ زه دهغه پوښتنی ته ورغلم چی زه یی ولیدم نو په سترګو کی یی اوښکی راغلی ماورته وویل چی بیریږه مه، الله ﷻ به تاله شفادرکړی او جوړبه سی، هغه وویل چی ولی ستا داخیال دی چی زه دمرګ دبیری څخه ژاړم خبره دانه ده بلکه زماسره دمرګ څخه دوروسته ژوندبیره ده چی هسی نه هلته عذاب وی (قرطبی)

وَلَا يَحْزُنْكَ الَّذِينَ يُسَارِعُونَ فِي الْكُفْرِ ۚ إِنَّهُمْ لَنْ يَضُرُّوا

او په غم کی دی وانه چوی تا هغه خلق چی منډی وهی کفر طرف ته دوی به هیڅکله وران نه کړی

اللَّهَ شَيْئًا ۗ يُرِيدُ اللَّهُ أَلَّا يَجْعَلَ لَهُمْ حَظًّا فِي الْآخِرَةِ ۖ وَلَهُمْ

دالله پاك هیڅ شی الله غواړی چی دوی ته فائده ور نه کړی په آخرت کی او دوی ته

عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٦﴾ إِنَّ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الْكُفْرَ بِالْإِيمَانِ لَنْ

عذاب دی لوی ، چا چی واخستی کفر دایمان په بدله دوی نه

يَضُرُّوا اللَّهَ شَيْئًا ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٧٧﴾ وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ

سی ورنولی دالله پاك هیڅ شی ، او دوی لره عذاب دی دردناك ، او دا دی نه ګڼی کافران چی

كَفَرُوا أَنَّمَا نُمْلِي لَهُمْ خَيْرٌ لِأَنْفُسِهِمْ ۚ إِنَّمَا نُمْلِي لَهُمْ لِيَزْدَادُوا

مونږ کوم مهلت ورکوو دوی ته نو دا دوی په حق کی ګوندی ښه دی ، مونږ مهلت ورکوو

إِثْمًا ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ ﴿١٧٨﴾

دوی ته چی ترقی وکړی دوی په ګناه کی او د دوی دپاره عذاب دی رسوا کوونکی

دآیتونو ترون: په تیرو آیتونو کی دمنافقانو دبی وفایی اوبد خواهی ذکر وو، په دی ذکر سوو آیتونو کی نبی کریم ﷺ ته تسلی ده چی ته ددی کفارو په کارونو باند... نه اوزره مات کیږه مه دوی هیڅ نقصان نه سی دررسولی ، په آخر آیت کی ددی خیال جواب ...ی چی په ظاهره خو په دنیاکی دا کفار ښه پټ او ماړه دی نو په دوی به قهراو غضب څنګه وګټل سی؟

لنډتفسير: او ستاسی دپاره دی هغه خلق دغم سبب جوړنه سی کوم چی په تلوارسره په کفر (والاخبرو) کی ورپریوزی (لکه چی منافقانو لړغوندی دمسلمانانو ډله کمزوری ولیده نو ښکاره په ښکاره یی دکفرخبری کول شروع کړی لکه چی په ذکرسوو واقعاتوکی معلومه سوي ده) یقیناً دغه خلق (دین د) الله ﷻ ته یوه ذره هم ضررنه سی رسولی (په دی وجه تاله پر دی ګرسره غم نه دی په کار چی د دوی په دی حرکتوسره به دالله ﷻ دین ته څه ضرر ورسیږی اوکه ستاسی سره په خپله داغم وی چی داکافران بدنصیبه ولی دجهنم طرف ته نه ځی ، نوهم تاسی غم مه کوی) ځکه چی الله ﷻ ته (په تکوینی یعنی پیدا ینبتی ډول سره) دا منظوره ده چی په آخرت کی دوی ته څه حصه ورنه کی (نوپه دی وجه ددوی څخه دموافقت امیدلرل صحیح نه دی، اوغم په هغه ځای کی وی چیری چی امیدوی) او (ددوی دپاره یوازی دآخرت دنعمتونو څخه محرومی نه ده بلکه) دی خلقولره به لویه سزاهم وی (اولکه څنګه چی داخلق دین داسلام ته څه نقصان نه سی رسولی دغه شان) یقنًا خومره خلقوچی ایمان (پاته کی اودهغه) پرځای یی کفر اختیارکړی دی (برابره خبره ده که منافق وی اوکه ښکاره کافر، اوبرابره خبره ده دنژدی وی اوکه دلیری) داخلق (هم) دالله ﷻ (دین ته) یوه ذره نقصان هم نه سی رسولی او دوی ته (هم داولنوپه شان) به دردناکه سزاوی اوکوم خلق چی کفرکوی دوی دی هیڅکله داخیال نه کوی چی زمونږ دوی ته (دعذاب څخه مهلت ورکول ددوی دپاره ښه (اوفائده مند) دی (هیڅکله داسی نه ده بلکه) مونږدوی ته په دی وجه مهلت ورکړي دی چی (دزیات عمرپه وجه سره) د دوی په جرم کی نوره ترقی وسی (چی په یو وار پوره سزا وخوری) او (په دنیاکی که سزا ونه خوری نوڅه خبره ده په آخرت کی خو) به دوی لره دبی عزتی سزا وی.

معلومات اومسئلي (دکفارو ددنياعيش اوعشرت هم په حقيقت کي دعذاب تکميل دی)

دلته دی څوك دا شبهه نه کوی چی کافرانوته الله ﷻ مهلت اوډیر عمر او دارامی او راحمت سامان په دی وجه ورکړي دی چی دوی په خپل جرم کی نورزیات سی نو بیاخو کفار بی قصوره سو ، ځکه چی مقصود دآیت دا دی چی دکفارو په دی څو ورځو مهلت اوعیش سره دی مسلمانان پریشانه کیږی نه ، ځکه چی سره دکفر اوګناهونو د دوی ددنیا داقوت اوطاقت اوددنیا سامان هم ددوی دعذاب یوصورت دی ، چی نن یی دوی ته هیڅ احساس نه کیږی اوکله چی دوی ددنیا څخه ولاړسی نودوی به پوه سی چی داددنیا دراحت سامان کوم چی دوی په ګناهونوکی خرڅ کوی په حقیقت کی ددوږخ سکروټی وی ، لکه چی په ډیرو آیتونوکی په خپله الله ﷻ فرمايلی دی ، اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ بِهَا یعنی دکفارو مال او دعیش سامان د دوی دپاره څه دفخر کولو شی نه دی ، دا خو دالله ﷻ دطرفه څخه دعذاب یوه حصه ده چی د دوی دآخرت دعذاب زیاتولو سبب دی.

مَا كَانَ اللّٰهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلٰى مَآ اَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتّٰى يَمِيْزَ الْخَبِيْثَ مِنَ الطَّيِّبِ ۗ وَمَا كَانَ

نه دی الله چی پریږدی مسلمانان په هغه حالت په کوم چی تاسی یاست ترڅوپوری چی جلا نه کی ناپاك دپاك څخه

اللّٰهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَجْتَبِيْ مِنْ رُّسُلِهٖ

او الله داسی نه دی چی خبرکړی تاسی په غیبو باندی او لیکن الله ﷻ چاڼ کوی په په خپلو رسولانو کی

Maktaba Tul Ishaat.com

مَنْ يَّشَآءُ ۖ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ۚ وَاِنْ تُؤْمِنُوْا وَتَتَّقُوْا فَلَكُمْ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۷۹﴾

چاله چي وغواړي نو تاسي يقين راوړي په الله او دهغه په رسولانو اوکه تاسي په يقين پاته سواست اوپه پرهيزگاري نوتاسي لره ثواب دی لوی .

دآيتونو ترون: په تيرآيت کی ددی شبهی جواب ووچی کله کفار دالله ﷻ په نزدمبغوض او مردود دی ، نو په دنياکی دوی ته مالونه جايدادونه اودعيش عشرت سامان ولي حاصل دی ، په دی ذکر سوی آيت کی ددی په مقابله کی ددی شبهی ليری کول دی چی مومنان اومسلمانان چی هرکله دالله ﷻ مقبول بند گان دی ، په دوی باندی تکليفونه اومصيبتونه ولي راځي ، چی دوی مقبول دی نوپه کاروه چی راحتونه او دراحت سامان ورته رسيدی .

لنډتفسير: الله ﷻ مسلمانان په دی حالت باندی ساتل نه غواړي په کوم چی تاسي اوس ياست (چی په کفر او ايمان ، حق اوباطل اومومن اومنافق کی دالله ﷻ په ورکړل سوو دنيوی انعاماتوکی څه امتياز اوفرق نسته بلکه په مسلمانانو باندی سختی اومصيبتونه نازليدل ترهغه وخته پوری ضروری دی) ترڅوپوری چی ناپاک (يعني منافق) دپاک (يعني مومن مخلص) څخه جلانه سی (اوداجلاوالی اوښکاره والی په مصيبتونو اومشکلاتو راتلوسره په پوره ډول سره کيدی سی اوکه دچاپه زړه کی داخيال پيداوی چی دمومن اوکافراوحق اوباطل کی دفرق راوستودپاره داولی ضروری ده چی په حادثو اومصيبتونوکی يی په غورځولو سره فرق راولی ، الله ﷻ په ذريعه دوحی سره هم ددی اعلان کولی سی چی فلانی مخلص مومن دی اوفلانی منافق ، اوفلانی شی حلال دی اوفلانی حرام دی ، نو ددی جواب دا دی چی) الله ﷻ (په مقتضاء دحکمت) په داسی غيبی کارونو تاسي (بی له واسطی دازمائش اوامتحان څخه) خبرول نه غواړي ليکن هو! چاته چی (دغه ډول خبرول) په خپله وغواړي او (داسی حضرات) دغه ډول دالله ﷻ پيغمبران عليهم السلام دی دوی (بی له واسطی دحوادثو څخه هم دغيبوپه خبرو دخبرولو دپاره دخپلو بندگانو څخه) منتخب کوی (او تاسي پيغمبران ياست نه په دی وجه دداسی کارونو تاسي ته خبرنه سی درکيدی البته داسی حالات پيداکوی چی په هغه سره دمخلص اومنافق فرق خپله واضح سی اوکله چی داثابته سوه چی په دنياکی پرکافرانو عذاب نه نازليدل ، بلکه عيش عشرت ورته رسيدل اوپر مسلمانانو باندی ځينی مصيبتونه اوسختی نازليدل عين تقاضادحکمت ده دا خبری دچادمقبول اومردود کيدود دليل نه سی کيدی) نو اوس تاسي (دايمان دنه والی اودکفر په نانه والی کی هيڅ شبهه مه کوی بلکه) په الله ﷻ او دهغه په ټولو رسولانو باندی ايمان راوړی ، اوکه تاسي ايمان راوړی او (دکفر اوگناهونو څخه) پرهيز وکی نوبيابه تاسي ته لوی اجر ورسيږی.

معلومات اومسئلي

(په مومن اومنافق کي فرق دوحي پرځاى په عملي ډول کولو کي حکمت)

په دی آيت کی داارشاد دی چی په مومن مخلص اومنافق کی دفرق دپاره الله ﷻ داسی حادثی او

Maktaba Tul Ishaat.com

مشکلات پیداکوی په کومو سره چې به په عملي ډول سره دمنافقانو نفاق ښکاره سي او دا فرق داسي هم کیدي سواې چې په ذریعه دوحي یې دمنافقانو نومونه ښوولي وای ، مګر دحکمت په تقاضا سره یې داسي ونه کړل دالله ﷻ دکارونو پوره حکمتونه خوهغه ته معلوم دي، دلته یو حکمت دا هم کیدي سي چې مسلمانانوته په ذریعه دوحي وښوول سي چې فلانی منافق دی نو مسلمانانوته به دده سره دتعلقاتو ختمولو دپاره یوواضح داسي دلیل نه وای ، چې هغه منافقانوهم منلای، بلکه دوی به ویلي چې تاسي غلط وایاست مونږ خورښتیني اوپاخه مسلمانان یو ، په خلاف ددي څخه چې په عملي طورسره یې فرق وسوچې دامتحان اومصیبت په وخت کي منافقان وتښتیدل اوپه عملي ډول سره یې نفاق ښکاره سواوس ددوی خوله دي ته نه جوړیږي چې دمخلص مومن کیدو دعوه وکي اوچې په دي شان سره یې نفاق ښکاره سو نو ددي یوه دافائده هم وسوه چې دمسلمانانو د دوی سره ظاهري تعلق هم ختم سو که داسي نه وای دزړه داختلاف سره به یې ورسره ظاهري تعلق درلودی نوهغه به هم ضررمن وای .

(دغیبو په کارونو چي څوک خبرکړل سي نو داعلم غیب نه دی)

ددی آیت څخه معلومه سوه چې الله ﷻ دغیبو په کارونو دوحي په ذریعه خبرهرچاته نه ورکوي البته خپل پیغمبران منتخب کي ، هغوی ته یې ورکوي نوپه دي سره داشبهه نه دی کول په کارچې بیاخو انبیاء علیهم السلام هم په علم غیب کي شریك اوعالم غیب سوه ، ځکه هغه علم غیب کوم چې دالله ﷻ دذات سره خاص دی ، هیڅ یومخلوق ته په دی کي شریکول شرك دی ، دا په دوو شیانوسره مشروط دی ، یو دا چې هغه علم ذاتي وي دبل چاورکول سوی نه وي ، دوهم داچې پرټولو کائناتوپه ماضی او راتلونکي باندي احاطه کوونکي وي چې دیوی ذری علم ورڅخه هم پټ نه وي الله ﷻ چې په خپله دوحي په ذریعه خپلو پیغمبرانو علیهم السلام ته کوم دغیبوکارونه ښیي هغه حقیقةً علم غیب نه وي بلکه دغیبو خبرونه دي ، چې پیغمبرانو علیهم السلام ته سوي دي کوم چې په خپله قرآن کریم څوځایه دأَنۢبَآءُ ٱلۡغَيۡبِ په لفظ سره ورڅخه تعبیر فرمایلي دي مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡغَيۡبِ نُوحِيهَآ إِلَيۡكَ یعني دا دغیبو خبرونه دي چې مونږ یې تاته په وحي سره رالیږو .

وَلَا يَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ يَبۡخَلُونَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ

اوخیال دي نه کوي هغه خلق چې بخل کوي په هغه شي چې ورکړی دی دوی لره الله

مِن فَضۡلِهِۦ هُوَ خَيۡرًا لَّهُمۖ بَلۡ هُوَ شَرٌّ لَّهُمۡۖ سَيُطَوَّقُونَ مَا

دخپل فضل څخه چې دا بخل غوره دی د دوی حق کي ، بلکه دا ډیر بد دی د دوی په حق کي دطوقونو په شان

بَخِلُواْ بِهِۦ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ وَلِلَّهِ مِيرَٰثُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ

به واچول سي په غاړه ددوی کي هغه چې بخل یې پرکړی وو په ورځ دقیامت اوالله وارث دی داسمانونو اوځمکي

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۱۸۰﴾ لَقَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا

او څه چی تاسی کوی الله ﷻ یی پیژنی ، بیشکه الله ﷻ واوریده د دوی خبره چا چی وویل

اِنَّ اللّٰهَ فَقِيْرٌ وَّنَحْنُ اَغْنِيَآءُ ۘ سَنَكْتُبُ مَا قَالُوْا وَقَتْلَهُمُ

چی الله فقیر دی او مونږ مالدار یو اوس به ولیکو مونږ د دوی خبره او کوم چی دوی قتل کړی دی

الْاَنْۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۙ وَّنَقُوْلُ ذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِيْقِ ﴿۱۸۱﴾ ذٰلِكَ

پیغمبران په نا حقه او مونږ به ووایو چی وڅکی عذاب دبل سوی اور ، دا بدله دهغه

بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْكُمْ وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۱۸۲﴾

ده چی تاسی په خپلو لاسونو مخکی ولیږل او الله ﷻ ظلم نه کوی په بندګانو ،

اَلَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ عَهِدَ اِلَيْنَآ اَلَّا نُؤْمِنَ لِرَسُوْلٍ حَتّٰى

هغه خلق چی وایی چی الله ﷻ مونږ ته ویلی دی چی یقین به نه کوو په یو رسول ترڅو چی

يَاْتِيَنَا بِقُرْبَانٍ تَاْكُلُهُ النَّارُ ۭ قُلْ قَدْ جَآءَكُمْ رُسُلٌ مِّنْ

را نه وړی مونږ ته قربانی چی وخوری هغه اور ، ته ووایه په تاسی کی راغله ځومره پیغمبران زما څخه

قَبْلِيْ بِالْبَيِّنٰتِ وَبِالَّذِيْ قُلْتُمْ فَلِمَ قَتَلْتُمُوْهُمْ اِنْ كُنْتُمْ

مخکی په نښو راوړو سره او په دی هم څه چی تاسی وویل بیا هغوی تاسی ولی قتل کړل ، که تاسی

صٰدِقِيْنَ ﴿۱۸۳﴾ فَاِنْ كَذَّبُوْكَ فَقَدْ كُذِّبَ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ

رښتینی یاست ، بیا که دوی تا دروغجن کړی نو مخکی ستا څخه یی دروغجن کړی دی ډیر رسولان

جَآءُوْ بِالْبَيِّنٰتِ وَالزُّبُرِ وَالْكِتٰبِ الْمُنِيْرِ ﴿۱۸۴﴾ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ

چی راغلی وړی نښی او صحیفی او کتاب روښانه ، هر یو نفس څکوونکی

الْمَوْتِ ۭ وَاِنَّمَا تُوَفَّوْنَ اُجُوْرَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ

دمرګ دی ، او تاسی ته به پوره بدل ورسیږی په ورځ دقیامت بیا چی څوک لیری کړل سو

Maktaba Tul Ishaat.com

النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ ۗ وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ إِلَّا مَتَاعُ

داور څخه او داخل کړل سو جنت ته نو دده کار جوړ سو او نه دی ژوند ددنیا مگر پنګه د دوکی ده

الْغُرُورِ ﴿١٨٥﴾ لَتُبْلَوُنَّ فِيٓ أَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ ۖ وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ

، خامخا به ستاسی ازمائش کیږي په مالونو کی او په نفسونو کی او خامخا به واوری تاسی

الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوٓا أَذًى

وراندینو اهل کتابو څخه او دمشرکانو څخه بدی

كَثِيرًا ۚ وَإِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ ﴿١٨٦﴾

خبری ډیری او که تاسی صبر وکړی اوپرهیزګاری وکړی نو دا دهمت کار دی .

دآیتونو تړون: دسورت آلِ عمران په شروع کی دیهودیانو دبدوخویونو اوشرارتونو ذکروو، ددی ځای څخه بیاهغه طرف ته واپسی وسوه دا ذکرسوی آیتونه ټول په داقسم مضامینو باندی مشتمل دی ، په مینځ کی نبی کریم ﷺ ته تسلی او دمسلمانانو دپاره دنصیحتونو ذکر دی .

لنډتفسیر: اوهیڅکله دی خیال نه کوی داسی خلق کوم چی (په ضروری ځایوکی) دداسی شی (په خرڅ
١ کوی) کی بخل کوی کوم چی الله ﷻ دوی ته په خپل فضل سره ورکړي دی چی دا خبره به ددوی دپاره ښه وی (هیڅکله نه ده) بلکه دا خبره د دوی دپاره ډیره بده ده (ځکه چی ددی انجام به دا وی چی) دغه خلق به دقیامت په ورځ طوق په غاړه کی ددی (مال) څخه (به مار جوړ سی) په کوم کی چی دوی بخل کړی وو او (بخل کول ګرسره هم ناپوهی ده ځکه چی) په آخرکی (هرکله چی ټول مړه سی) ټول آسمانونه اومځکه (اوڅه کائنات چی د دوی په مینځ کی دی ټول) به دالله ﷻ په ملکیت کی پاته سی (لیکن دغه وخت چی دا هرڅه دالله ﷻ سی تاسی ته به یی هیڅ ثواب نه رسیږی ځکه چی تاسی به په خپل اختیارسره نه وی ورکړی اوهرکله چی په آخرکی داټول هرڅه الله ﷻ ته پاته کیدونکی دی نودعقل خبره داده چی اوس یی په خپل اختیارسره ورکی چی دثواب لائق سی) اوالله ﷻ ستاسی دټولو په کارونو پوره خبرلری (نوپه دی وجه چی څه خرڅوی یی نویی په اخلاص سره دالله ﷻ دپاره خرڅوی) بیشکه الله ﷻ واوریده ددغه (بی شرمو) خلقوخبره کوموچی (په مسخرو سره) داسی وویل چی (نعوذبالله) الله ﷻ غریب دی او مونږ مالداران یو (اویوازی پردی اوریدو صبرنه کیږی بلکه) مونږ د دوی داوینا (د دوی په عمل نامه کی) لیکو او (دغه شان) دهغه انبیاوو علیهم السلام ناحقه قتل کول هم (به د دوی په عملنامه کی ولیکل سی) او مونږ به (په دوی باندی دسزاجاری کولو په وخت کی دوی ته دوریادولو په ډول سره) ووایو چی (واخلی) وڅکی داورعذاب (او دوی ته به دروحاني درد رسولودپاره هغه وخت دا هم وویل سی چی) دا (عذاب)

دهغه (کافرانه) عملونو په وجه سره دي کوم چې تاسې په خپلو لاسو کړي دي او داخبره خو ثابته ده چې الله ﷻ پربندګانو باندې ظلم کوونکی نه دی دغه (یهود) داسې خلق دي چې (بالکل تراش سوی (سُولول سوی) دروغ) وایي چې الله ﷻ مونږ ته (په واسطه دتیرو پیغمبرانو) حکم کړی ووچې مونږ به په یوه (دعوه کوونکي د) پیغمبرۍ باندې عقیده (دده په پیغمبرۍ) نه راوړو ترڅو پورې چې مونږ ته معجزه (خاصه) دنذر اونیاز دخدای پاك ښکاره نه کي چې هغه (آسماني) اور وخوري (دتیرو پیغمبرانو دا معجزه وه چې یوروح لرونکی یا بې روحه شی به یې دالله ﷻ په نامه وایستی په یومیدان کې یا پرغره باندې به یې کېښېښوی، دغیبو څخه به یو اور راښکاره سو اوهغه شي به یې وسوځي، دا دصدقو دقبلیدو نښانه وه، مطلب دا دی چې تاسې دا خاص معجزه نه ده ښوولې، په دې وجه مونږ پر تاایمان نه راوړو والله پاك ددې جواب ورکوي چې) ته ورته ووایه چې په یقین سره ډیرو پیغمبرانو علیهم السلام زما څخه اول ډیر دلیلونه (معجزې اونور) راوړي دي او په خپله دامعجزه هم کومه چې تاسې وایاست، نو تاسې دوی ولې قتلول که تاسې (په دې کارکې) رښتیني یاست نو که دا (کفار) خلق تادرواغجن کې نو (غم مه کوه ځکه چې) ډیر پیغمبران چې ترتا مخکې تیر سوي دي درواغجن سویدي چې معجزې یې راوړي وي او (کوچنی کوچنی) صحیفې یې راوړې وې اوروښانه کتاب یې راوړي وو (نو هرکله چې دکفارو داعادت دی چې پیغمبران علیهم السلام درواغجن کوي نو بیا تاسې ولې غم کوی) (په تاسې کې) هر یو نفس (روح لرونکی) دمرګ مزه خوند کتونکی دی او (دمرګ څخه وروسته) تاسې ته به پوره بدله ستاسې (دښو اوبدو) دقیامت په ورځ رسیږي (که په دنیاکې کافرانو ته څه سزاونه رسیږي، نوپه دې سره درواغجن کوونکوله خوشحالي اوتصدیق کوونکو له غم نه دی پکار، اوس مخ ته ددې بدلې تفصیل دی) نوکم سړی چې ددوږخ څخه وساتل سو او جنت ته داخل سو نو دی پوره کامیاب سو (دغه شان څوك چې دجنت څخه لیرې سو او دوږخ ته ولیږل سو دی پوره ناکامه سو) اوددنیا ژوند هیڅ نه دی یوازې (داشي دی لکه) دفریب سودا ده (چې ظاهری ډول اوشکل یې ووینې نواخستونکي پرورځي بیاچې یې اصلیت ښکاره سي، نو افسوس کوي، دغه شان ددنیاپه ظاهري بریښ اوښایست دوکه کیدل اوآخرت هیرول نه دي په کار) (اوس څه دي؟) خامخا مخ ته (وروسته) به نور ازمایل کیږي (د) خپلو مالونو (په نقصان) کې او (د) خپلو ځانونو (په نقصان) کې اوخامخا مخ ته به نوري واوري ډیرې خبرې دزړه دازار ددغه خلقو څخه (هم) کومو ته چې ستاسې څخه مخکې (آسماني) کتابونه ورکول سوي دي (یعنې داهل کتابو څخه) او دهغه خلقو څخه (هم) کوم چې مشرکان دي اوکه (په دې موقعو) صبر وکې او (دخلاف شرع خبرو څخه) ځان وساتی نو (ستاسې دپاره به ښه وي ځکه چې) دا (صبر اوتقوی) دتاکیدي احکامو څخه دي.

معلومات اومسئلې: په ذکرسوو اوو آیتونو کې په اول آیت کې دبخل بدوالي اوپه دې باندې دزورنې ذکر دی

(دبخل تعریف اوپه دې باندې دسزا تفصیل)

دبخل شرعي معنی دا ده چې کوم شی دالله ﷻ په لاره کې خرڅ کول پرچا واجب وي اوهغه خرڅ نه کي، په دې وجه بخل حرام دی اوپه دې باندې ددوزخ دسختې سزا وعیدي دی اوپه کمو موقعو چې خرڅ کول

Maktaba Tul Ishaat.com

واجب نه وي، بلکې مستحب وي، هغه په دې حرام بخل کې داخل نه دي، البته دعامې معنی په اعتبارسره دې ته هم بخل ويل کيږي داقسم بخل حرام نه دی مګربښه هم نه دی ، د بخل په معنی کې يوبل لفظ هم په احاديثوکې راغلی دی يعنی (شحّ) ددې تعريف دادی چې دده پرذمه کوم خرڅ کول واجب وي ، هغه نه اداکوي اوپردې سربيره نورهم دمال زياتولو په حرص کې لګياوي ، داتربخل نورهم زيات جرم دی په دې وجه نبی کريم ﷺ فرمايلي دي .

لَا يَجْتَمِعُ شُحٌّ وَاِيْمَانٌ فِیْ قَلْبِ رَجُلٍ مُسْلِمٍ اَبَدًا (رواه النسائی عَنْ ابی هريرة ﷺ)

شح اوايمان ديو مسلمان سړي په زړه کې نه سی جمع کيدی . (قرطبی)

دبخل کومه سزا چې په دې آيت کې ذکر سوې ده چې دقيامت په ورځ دکوم شي په ورکولو کې يې چې بخل کړی وي ، دهغه شي څخه به طوق جوړکې او دده غاړې ته به واچول سي ، ددې تفسيرنبی کريم ﷺ داسې فرمايلي دی ، حضرت ابوهريرة ﷺ فرمايي چې ، نبی کريم ﷺ فرمايلي دي چې کوم سړي ته الله ﷻ څه مال ورکې ، بياده دهغه زکوٰة اداانه کې نودقيامت په ورځ به دغه مال يوسخت زهري مارسی دده په غاړه به را وپيچل سي او دده شونډي به ونيسي اووايي به چې زه ستا مال يم، ستا سرمايه يم، بياحضور ﷺ دا آيت ووايه (تفسيرقرطبی ازنسائی)

په دوهم آيت کې ديهودوپه يوه سخته بې ادبي دخبرداري اوسزاذکردی چې واقعه يې دا ده چې کله نبي ﷺ دزکوٰة اوصدقو حکمونه دقرآن څخه بيان کړه نو بې ادبه يهودو دا خبرې شروع کړې چې الله ﷻ فقير او محتاج سواومونږ مالدار يونوځکه ته زمونږ څخه څه غواړي (نعوذ بالله) ظاهره خوداده چې ددې بې هوده وينامطابق به ددوی عقيده نه وه مګردنبی کريم ﷺ ددرواغجن کولودپاره به يې داسې ويلي وي چې که دقرآن داآيت صحيح وي نوددې څخه دا لازميږي چې الله ﷻ دې فقيراومحتاج وي دابې کاره اوباطل دليل دجواب ورکولو قابل نه ووځکه چې دصدقوحکم دالله ﷻ دخپلې فايدې دپاره نه دی ، بلکه په خپله دمالدارو ددينې اودنيوی نفع دپاره دي خودې ته يې الله ﷻ ته قرض ورکول ځکه وويل چې لکه څنګه دقرض اداکول دهرشريف سړي دپاره ضروری اويقنی وي ، دغه شان کومه صدقه چې انسان ورکوي دهغه جزا الله ﷻ په ځان داسې لازموي ، لکه څنګه چې دقرض ورکول وي ،کوم سړي چې الله ﷻ دکائناتوخالق اومالك ګڼي هغه ته په دې الفاظوسره دغه شبهه نه سی کيدی کومه چې دبې ادبه يهوديانو په دې ويناکې ده په دې وجه قرآن کريم ددې شبهې جواب دسره ورنه کی ، يوازې د دوی ددې بې ادبي او دنبی کريم ﷺ د درواغجن کولو او په ده پورې دټوقو کولو دبې شماره سختو جرمونو په سزا کې يې دا وفرمايل چې مونږ د دوی دا بې ادبه کلمې ليکو چې دقيامت په ورځ باندې په دوی حجت تمام سی اوعذاب ورکړل سی ، که نه نوالله ﷻ ته دليکلو ضرورت نسته ، بيايې ديهودو ددې بې ادبې ذکر کولو سره د دوی يو بل جرم دا هم ذکر کې چې داهغه خلق دي چې دوی يوازې پيغمبران عليهم السلام درواغجن کړي نه دي او نه يې ورپورې يوازې مسخرې کړي دي ، بلکه قتل کړي يې هم دي نوکه داسې خلق يو نبي درواغجن کړي ياورپورې مسخرې وکړي نو دا څه دتعجب خبره نه ده ، دوی په تير وخت کې هم داسې کړي دي .

Maktaba Tul Ishaat.com

(په کفر اوګناه سره په زړه باندې راضي کيدل دغسي لويه ګناه ده)

دلته دا خبره دليدو قابله ده چې دنبي کريم ﷺ اودقرآن مخاطب دمديني يهوددي اودانبياوو عليهم السلام دقتل واقعه د دوی څخه ډيره مخکي دحضرت يحيٰی اوحضرت زکريا عليه السلام دزماني ده ، نو په دی آيت کی بی دانبياوو عليهم السلام دقتل دجرم نسبت دوی ته څنګه وکی؟ وجه دا ده چې دمديني يهود دخپلو تيرو يهوديانو په دی کار باندی راضی اوخوشحاله وه، نوپه دی وجه دوی هم دقاتلانوپه حکم کی شمارسول امام قرطبی رحمه الله په خپل تفسيرکی فرمايلی دی چې دا ډيره مهمه مسئله ده چې په کفر راضی کيدل هم په کفراوګناه کی داخل دی ، دنبی کريم ﷺ يوارشاد ددی زيات وضاحت کوی ، ده ﷺ فرمايلی دی چې هرکله په مځکه يوګناه کيږی نوکوم سری چې هلته موجود وی ، ليکن ددی ګناه مخالفت کوی اوداګناه بده ګنی نو دی داسی دی چې ګويادلته موجودنه دی ، يعني په دی ګناه کی دی شريك نه دی اوکوم سری که څه هم دګناه په دغه ځای (مجلس) کی موجودنه وی، ليکن په دی کارباندی راضی وی، هغه که څه هم غائب وی خوپه ګناه کی به شريك ګڼل کيږی (دقرطبی رحمه الله قول ختم سو) ددی آيت په اخرکی اوپه دريم آيت کی يی ددی بی ادبو سزا را وښوولې چې دوی به په دوږخ کی واچوی، وبه ويل سی ورته چې اوس په اورکی دسوځيدو خوند وڅکی چې هم ستاسی دعمل نتيجه ده ، دالله ﷻ دطرفه هيڅ ظلم نسته ، په څلورم آيت کی ددغه يهودو ديودرواغ اوبهتان ذکرسوی دی اوهغه داچې دوی دنبی کريم ﷺ ددرواغجن کولو دپاره داحيله (بهانه) مخکی کړه ، چې دتيرو پيغمبرانو په زمانه کی داطريقه وه چې دصدقو مال به يی پر يوه ميدان ياغر ايښووی، اودآسمان څخه به اور راتلی ، هغه به يی سوځی ، دادصدقو دقبليدو نښانه وه ، نبی کريم ﷺ اوده امت ته الله ﷻ داخاص ښه والی ورکړی ووچې دصدقو مال دآسمانی اورخوړلو پرځای مسلمانانو فقيرانو اومحتاجوته ورکول کيږی ، نوکله چې دتيرو پيغمبرانو عليهم السلام دطريقی څخه دا طريقه بدله وه په دی وجه مشرکانو بهانه جوړه کړه چې که ته نبی وی نوتاته به هم دامعجزه درکول سوی وای چې آسمانی اور به صدقی خوړلی ، اوتردی زياته دازړه ورتيايی وکړه چې په الله ﷻ باندی يی دابهتان وتړی چې هغه زمونږ څخه داوعده اخستی ده چې مونږبه پرهغه سړی ايمان نه راوړوچې دا دآسمانی اور راتلو دصدقی خوړلو معجزه مونږته ښکاره نه کی ، کله چې ديهودو دا دعوه بالکل بی دليله اوباطله وه ، چې الله ﷻ د دوی څخه دا وعده اخستی ده ، ددی دجواب ورکولو خودسره ضرورت نه وو ، نوددی دپاره چې دوی په دی خپل منل سوی قول سره مغلوب کړی وی فرمايل چې که چيری تاسی په دی خپل قول کی رښتينی ياست چې الله ﷻ ستاسی څخه داسی وعده اخستی ده نو بيا کومو تيرو پيغمبرانو عليهم السلام چې ستاسی دوينا مطابق دامعجزه هم درښوولی وه چې آسمانی اوردصدقی مال خوړلی وو ، نوپکاروه چې تاسی ايمان پر راوړی وای، نوتاسی خوهغوی هم درواغجن کړل اوقتل مو هم کړل ، دلته داشبهه نه دی کول په کار چې که ديهودو دامطالبه بالکل غلطه وای خوکه دنبی کريم ﷺ په لاسو دامعجزه ښکاره سوی وای، نوشايد ايمان به يی راوړی وای ، ځکه چې دالله ﷻ په علم کی وه چې دا خلق محض په عنادسره داخبری کوی که ددوی دوينا مطابق ورته دامعجزه هم وښوول سی،

Maktaba Tul Ishaat.com

خوبیاهم ایمان نه راوړی ، په پنځم آیت کی نبی کریم ﷺ ته تسلی ورکول سوي ده چی د دوی په درواغجن کولوباندی مه غمجن کیږه ځکه چی دامعامله دټولو پیغمبرانو علیهم السلام سره سوي ده ، یعنی پخوانی راروان دستوردی .

(دآخرت فکر دټولو غمونو علاج اوشبهاتو جواب دی)

په شپږم آیت کی یی داحقیقت واضح کړي دی چی که چیری په یو ځای کی کافران غلبه هم وکی اوددنیا عیش اوعشرت پوره هم ورته ورسیږی او مسلمانانو ته ددی برعکس څه مصیبتونه اومشکلات اوددنیا داسبابو تنگی راپیښه سی نودانه دتعجب خبره ده، نه دغمجن کیدوځکه چی ددی حقیقت څخه یومذهب اومشرب والا اوهم یوفسلفی انکارنه سی کولی، چی ددنیاغم اوراحت خو دیوڅو ورځودی ، نوحیوان هم دمرگ څخه نه سی خلاصیدی اوددنیا راحت اومصیبت اکثره په دنیاکی کی دحالاتوپه بدلیدو سره ختمیږی اوکه فرض کړه په دنیاکی بدل نه سی نوپه مرگ سره خودټولو خاتمه یقینی ده ، دهوښیار کار دا نه دی چی ددی څوورځو دراحت اوغم په فکرکی اخته سی ، بلکه دمرگ څخه دوروسته ژوند فکر په کار دی چی هلته به څه کیږی ؟

دوران بقاء چو باد صحرا بگذشت .... تلخی وخوشی وزشت وز یبا بگذشت

(یعنی ددنیا دژوندترخه اوخواږه، ښه اوبد دبادپه شان تیریدونکی دی)

په دی وجه په دی آیت کی دا وښوول سوه چی هریوروح لرونکی به دمرگ خوند وڅکی اوبیابه په آخرت کی دخپل عمل جزاء اوسزا پیداکی چی سخته به هم وی اواوږده هم نوهوښیارته ددی فکرکول په کاردی نوپه دی وجه کامیاب یوازی هغه سړی دی چاته چی د دوزخ څخه خلاصون پیداسی اوجنت ته داخل سی برابره خبره ده داول څخه وی لکه دصالحانو اوعبادت گذارو سره چی به کیږی ، لیکن مسلمانان به تول آخر دجهنم څخه خلاصون پیداکی او دهمیشه همیشه دپاره به دجنت دراحتونو اونعمتونو مالکان کیږی (یاالله زمونږ یی نصیب کړی ، آمین) په خلاف دکفاروچی ددوی همیشه تیکانه جهنم دی ، دوی که ددنیاپه دی څو ورځوراحت باندی مغروره دی، نوداسراسر چم اوفریب دی، په دی وجه یی دآیت په آخرکی وفرمایل چی ددنیا ژونددچم اوفریب سامان دی ځکه چی په عام طور سره ددی دنیا خوندونه دآخرت دسختیو اوتکلیفونو ذریعه وی اوددنیا تکلیفونه دیروار دآخرت ذخیره وی .

(اهل حقونه داهل باطلو څخه آزاررسیدل یوقدرتي کاردی اودټولو علاج صبر اوتقوی ده)

اووم آیت په یوخاص واقعه کی نازل سوي دی چی دهغه ذکر په اجمالی طورسره په ذکر سوی دوهم آیت کی راغلی دی تفصیل یی دادی چی په قرآن کریم کی هرکله چی آیت د ،مَنْ ذَا الَّذِیْ یُقْرِضُ اللهَ قَرْضًا حَسَنًا نازل سو ، چی په دی کی یی په یوزړه ته پریوتونکی طریقه سره صدقه اوخیرات الله ﷻ ته په فرض ورکولو سره تعبیرکړي دی اودی طرف ته یی په کی اشاره کړي ده چی هرڅه چی دلته ورکی دهغه بدله به په آخرت کی داسی یقینی ورکول کیږی لکه څنگه چی دچاقرض اداکول کیږی ، یوعنادگر یهودی داواوریدل نوداالفاظ یی وویل ، اِنَّ اللهَ فَقِیْرٌ وَّنَحْنُ اَغْنِیَاءُ حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه ته په دی بی ادبی باندی درد ورغی او

Maktaba Tul Ishaat.com

بوه چپلاخه یی یهودی په مخ وواهه ، یهودی نبی کریم ﷺ ته شکایت وکی ، نو په دی باندی دا آیت نازل
سو، لَتُبْلَوُنَّ فِیْٓ اَمْوَالِکُمْ وَاَنْفُسِکُمْ الایة په دی کی مسلمانانو ته ښوول سویدی چی ددین دپاره دجان اومال
دقربانولو اودکفارو مشرکانو اواهل کتابو دبدګویو اوازارونو څخه مه بیریږی ، داټول دهغه امتحان
دی اودبنده دپاره پکښی ښه والی دی چی دصبر څخه کار واخلی اودخپل اصل مقصد تقوی په مکمل
کولو کی اخته وی دهغوی دجواب کولو په فکر کی نه لویږی .

وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِیْثَاقَ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْکِتٰبَ لَتُبَیِّنُنَّهٗ لِلنَّاسِ

او کله چی الله ﷻ وعده واخیسته داهل کتابو څخه چی دا به بیانوی خلقوته

وَلَا تَکْتُمُوْنَهٗ٘ فَنَبَذُوْهُ وَرَآءَ ظُهُوْرِهِمْ وَاشْتَرَوْا بِهٖ ثَمَنًا

اونه به یی پټوی بیا وغورځوله دوی دغه (وعده) خپلی شاته او وا یی خستی په دی سره لږ شان قیمت

قَلِیْلًا ؕ فَبِئْسَ مَا یَشْتَرُوْنَ ﴿۱۸۷﴾ لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِیْنَ یَفْرَحُوْنَ

نو څه ناکاره دی کوم شی چی دوی اخلی ، ته ګمان مه کوه چی کوم خلق خوشحاله دی ،

بِمَآ اَتَوْا وَّیُحِبُّوْنَ اَنْ یُّحْمَدُوْا بِمَا لَمْ یَفْعَلُوْا فَلَا تَحْسَبَنَّهُمْ

په خپلو کړو باندی او خپل صفت غواړی بغیر دکولو څخه نو ګمان مه کوه په دوی باندی

بِمَفَازَةٍ مِّنَ الْعَذَابِ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ ﴿۱۸۸﴾ وَلِلّٰهِ مُلْکُ

چی خلاص سو دعذاب څخه او د دوی دپاره عذاب دردناک دی ، او دالله دپاره دی حکومت

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿۱۸۹﴾ ع

داسمانونو او دمځکی او الله ﷻ په هر شی باندی قادر دی .

دآیتونو تړون: لکه چی په تیرو آیتونو کی دیهودو دبدو خویونو اوبدکارو بیان وو ، په دی ذکرسوی
اولنی آیت کی هم د دوی دیو داسی بدعمل ذکر دی ، اوهغه دی دلفظ اوقول څخه خلاف ورزی کول څکه
چی داهل کتابو څخه الله ﷻ دا وعده اخستی وه چی دالله ﷻ کوم احکام چی په تورات کی راغلی دی ،
دوی به ددی عام اشاعت کوی ، یعنی خلقوته به یی ښیی ، اویوحکم به هم دخپل نفسانی غرض دپاره نه
پټوی ، اهل کتابو دا وعده (قول) مات کی ، حکمونه یی پټ کړل اوبیایی دازړه ورتیاوکړه چی پردی یی
دخوشحالی اظهاروکی او خپل داکار یی دتعریف قابل کی چی دامونږ ښه وکړل .

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسير: (داحالت هم ديادولو قابل دى) هركله چې الله ﷻ (په تيرو كتابونو كې) داهل كتابو څخه داعهد (قول) واخستى (يعنې دوى ته يې حكم وكى او دوى قبول كى) چې ددى كتاب (ټول مضامين عامو خلقو ته مخامخ بيانوى او(د) دى (مضمون) (ددنيوى غرض دپاره) پټ مه ساتى، نو دغه خلقو دا (عهد) خپل شاته وغورځوى (يعنې عمل يې په ونه كى) او ددى په بدله كې يې (ددنيا) بې كاره بدله واخسته ، نوبيكاره شى دى كوم چې دغه خلق اخلى (ځكه چې ددى انجام ددوزخ سزاده) (اى مخاطبه) كم خلق چې داسې دى چې په خپل (بد) عمل خوشحاليږى اوكوم (نيك) كارچې دوى نه وى كړى په هغه خپل صفت كيدل غواړى ، وروسته په داسې خلقو باندى هيڅكله هم دا خيال مه كوه چې دوى به (په دنياكې) خاص طور دعذاب څخه په خلاصون (اوپه حفاظت) كې اوسى (هيڅكله داسې نه ده بلكه په دنياكې به ور ته هم يوڅه سزا وى) او (په آخرت كې هم) دوى ته به دردناكه سزا وى ، او دالله ﷻ دپاره (خاص) دى حكومت دآسمانونو او دمځكو اوالله ﷻ په هر شى باندى پوره قدرت لرى .

معلومات اومسئلې

(ددين علم پټول حرام دى اوپه ناكړى عمل باندى خپل صفت غوښتل بد اوناكاره دى)

په دى ذكر سوودرو سره آيتونوكې داهل كتابو دعالمانو دوه جرمونه اود هغوى دسزابيان دى اوداچې دوى ته داحكم ووچې دالله ﷻ په كتاب كې كوم احكام راغلى دى، داټول به دخلقوپه مخكې بې له كمى اوزياتى څخه بيانوى اويوحكم به نه پټوى، مګر دوى دخپلو دنيوى غرضونو اونفسانى طمعوپه خاطر ددى عهد (قول) پرواونه كړه، ډير احكام يې دخلقو څخه پټ كړل ، دوهمه داچې دوى به نيك عمل ګرسره نه كوى اوغوښتل به يې چې بغير دعمل كولو څخه ددوى صفتونه كول كيږى ، دتورات دحكمونو دپټولو واقعه خوپه صحيح بخارى كې په روايت دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ نقل ده چې نبى كريم ﷺ ديهودو څخه ديوى خبرى پوښتنه وكړه چې آيا داخبره په تورات كې سته نو دى خلقو هغه پټه كړه اوكومه چې په تورات كې وه دهغه خلاف يې بيان كړه اوپه خپل دى بد عمل خوشحاليدل چې واپس راغلل نووى ويل چې مونږښه دوكه وركړه ، پردى باندى دا آيت نازل سو چې دى خلقوته په كې دعذاب وعده ده ، او دوهمه معامله په ناكړى عمل باندى دتعريف اومدح خواهشمندى ده هغه داده چې دمنافقو يهودو يوه طريقه دعمل داهم وه ، چې كله به ديوجهاد وخت راتلى نوبهانى به يې كولى ، په كوركې به كښينستل، اودغه رنګه به يې دجهاد دتكليف څخه په خلاصيدو باندى خوشحاليانى كولى ، اوهركله چې به نبى كريم ﷺ بيرته راغلى نودده ﷺ په مخكې به يې د درواغو قسمونه كول ، عذر به يې بيانوى او ددى طلب ګار به وه چې د دوى ددى عمل تعريف وسى (رواه البخارى)

قرآن كريم پردى دواړو شيانو باندى ددوى بدوالى بيان كې نوددى څخه معلومه سوه چې علمى دين اودخداى ﷻ او درسول ﷺ حكمونه پټول حرام دى ، ليكن داحراموالى په دغه شان پټولو كې دى كوم چې ديهودو عمل وو چې دخپلو دنيوى غرضونو دپاره به يې دخداى ﷻ حكمونه پټول اوپه دى به يې دخلقو څخه مال وصولوى ، اوكه ديودينى اوشرعى مصلحت په وجه څه حكم عوامو ته نه ښكاره كوى

نوهغه په دی کی داخل نه دی ، لکه چی امام بخاری رحمه الله په یو جلاباب کی دامسئله داحادیثو په حواله سره بیان کړي ده چی ځینی وخت دغه حکم په ښکاره کولو سره په عواموکی غلط فهمی اوپه فتنه کی داخته کیدو بیره وی نوکه ددی خطری په وجه ځه حکم پټ وساتل سی نوخیردی اودیونیك عمل کولو څخه وروسته هم پردی باندی خپل ثنا اوصفت غوښتل خودعمل کولو سره سره هم په شریعت کی بد دی اودنه کولو په صورت کی خوبیادیر زیات بد دی اوپه طبعی طورسره داخواهش لرل چی زه هم فلانی نیك کاروکړم اونیك نامه سم داپه دی کی نه دی داخل خوهلته چی دی ددی دپاره څه اهتمام اوکوشش نه کوی (بیان القرآن)

إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ

بیشکه دآسمان اومځکی جوړول دشپی او ورځی تلل او را تلل په دی کی نښانی دی

لِأُولِي الْأَلْبَابِ ﴿١٩٠﴾ الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَ

دعقلمندو دپاره ، هغه چی یا دوی الله په ولاړی او په ناستی

عَلَىٰ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ

او په اړخ باندی او فکر کوی په پیدائش داسمانونو او مځکی

رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿١٩١﴾

وایی ای زموږ ربه ! تا داعبث نه دی جوړکړی ته پاك یی دتولو عیبونو څخه نو موږ وساتی دعذاب د دوږخ څخه

رَبَّنَا إِنَّكَ مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُ ۖ وَمَا لِلظَّالِمِينَ

ای زموږ ربه ! څوك چی تا په دوږخ کی واچوی نو هغه دی رسوا کړی ، او نسته څوك دګناهګارو

مِنْ أَنْصَارٍ ﴿١٩٢﴾ رَبَّنَا إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُنَادِي لِلْإِيمَانِ أَنْ

دپاره مدد ګار ، ای زموږ ربه ! موږ واوریدی یو آواز کوونکی چی اواز کوی ایمان راوړوته

آمِنُوا بِرَبِّكُمْ فَآمَنَّا ۚ رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّئَاتِنَا

چی ایمان راوړی په خپل رب باندی ،نوموږ ایمان راوړو ای ربه زموږ اوس وبخښی ګناهونه زموږ ،اولیری کړی

وَتَوَفَّنَا مَعَ الْأَبْرَارِ ﴿١٩٣﴾ رَبَّنَا وَآتِنَا مَا وَعَدْتَنَا عَلَىٰ رُسُلِكَ وَ

زموږ څخه بدی زموږ اومرګ راکړی موږ لره دنیکو خلقو سره ، ای ربه زموږ او را کړی موږ ته کومه وعده چی

Maktaba Tul Ishaat.com

لَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۗ إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ﴿۹۴﴾

کړې ده تا زمونږ سره د رسولانو په واسطه او مه رسوا کوې مونږ په ورځ د قیامت، بیشکه ته د وعدې مخالفت نه کوې

دآیتونو تړون : کله چې د پورته آیتونو څخه د خدای ﷻ یووالی معلوم سو نو په راتلونکی آیت کې یې په توحید باندې دلیل راوړی او ددې سره په مکمل توحید باندې دعمل کوونکو فضیلت بیانوي چې اشارةً په کې نورو ته هم ترغیب دی د توحید په اقتضاء باندې په عمل کولو سربیره چې د کفارو دازار رسولو کوم مضمون وو، د راتلونکی آیت ددې سره هم مناسبت دی دغه ډول چې مشرکانو د نبي کریم ﷺ څخه په عناد سره درخواست وکی چې د صفا غر د سرو زر وکړه ، په دې باندې دا آیت نازل سوه چې دحق دلیلونه خو نور هم ډیر دي، په هغه کې فکرولی نه کوي ، او ددې خلقو دا درخواست د تحقیق د پاره نه وو، بلکه دعناد د پاره وو نو که درخواست یې پوره سوی هم وای، بیا هم دوی ایمان نه راوړی.

لنډ تفسیر: بیشکه د آسمانونو او د مځکې په جوړولو کې او په یو بل پسې د شپې او ورځې په تلو راتلو کې دلیلونه (د توحید موجود) دي د (سلیم) عقل لرونکو (دلیل نیولو) د پاره چې حالت یې دا دی (کوم چې مخ ته راځي او دا حالت د دوی د عاقل کیدو علامه هم ده، ځکه چې د عقل تقاضا د ضرر دفع کول او د نفع حاصلول دي او په دې باندې ددې حالت دا مجموعه دلالت کوي هغه حالت دا دی) چې دغه خلق (په هر حال کې په زړه سره هم او په ژبه سره هم) الله ﷻ یادوي، په ولاړې هم په ناستې هم، په پروتې هم او د آسمانونو او د مځکې په پیدا کیدو کې (د خپل عقل په قوت سره) فکر کوي (او د فکر کولو چې کومه نتیجه وي یعنې د ایمان پیدا کیدل یا نوې کیدل او قوي کیدل د ایمان دا په دې شان سره ظاهروي) چې ای زمونږ پروردګاره! تا دا (مخلوق) بې فائدې او بې وجه نه دی پیدا کړی (بلکه په دې کې دې حکمتونه اینبې دي، چې په دوی کې یو لوی حکمت دا دی چې په دې مخلوق سره د لوی خالق ﷻ په وجود باندې دلیل ونیول سي) مونږ تا (د بې مطلبه پیدا کولو څخه) پاک ګڼو (په دې وجه مونږ دلیل ونیوی او ستا د یووالي قائل سو) نو مونږ (د موحد او مومن کیدو په وجه) د دوزخ د عذاب څخه وساتې (لکه چې شرعاً ددې دا مقتضٰی ده (یعنې خواهش دی) چې دیو عارض په وجه که دا اقتضا کمزوری سي او یو څه لږ یا ډیر عذاب پرورکړه سي ، یو عرض (درخواست) ددې خلقو داوو او دوی ددې ایمان د مضمون په مناسبت سره نور درخواستونه هم کوي چې وروسته راځي) ای زمونږ پروردګاره! (مونږ په دې وجه د دوزخ د عذاب څخه پناه غواړو چې) بیشکه ته چې څوك (په طور د اصل جزاء) په دوزخ کې داخل کې دی واقعي چې رسوا کړل سو (مراد ددې څخه کافر دی) او ددا سې بې انصافو (د چا چې اصل جزاء دوزخ منتخب کړه سي) هیڅوك کومك کوونکی نسته (او ستا وعده ده د ایماندارانو سره د نه رسوا کولو هم او کومك کولو هم نو د ایمان راوړو په وجه زمونږ درخواست دا دی چې د کفر د اصلي جزاء څخه موو ساتې او د ایمان اصلي غوښتنه (یعنې د دوزخ څخه خلاصون) راکړې) ای زمونږ پروردګاره! مونږ (لکه څنګه چې ستا په دې جوړ کړو شیانو باندې دلیل

Maktaba Tul Ishaat.com

ونیوی ، په عقل سره دغه شان مونږ) یو (حق طرف ته) بلونکه (مراد دی څخه حضرت محمد ﷺ دی ، په واسطه سره یابی له واسطی څخه) واوریدی چی دایمان راوړودپاره اعلان کوی چی (ای خلقو) تاسی په خپل پر وردګار (په ذات اوصفاتو) ایمان راوړی نومونږ (په دی نقلی دلیل سره دلیل ونیوی اوهم مو) ایمان راوړی (په دی درخواست کی دایمان بالله سره ایمان بالرسول هم راغی ضمنًا، نو دایمان دواړه جزونه یعنی دالله ﷻ دیووالی عقیده اودرسالت عقیده کامل سوه) ای زمونږ پرووردګاره! بیا (ددی څخه وروسته زمونږ دا درخواست دی چی) زمونږ (لوی) ګناهونه هم معاف کړی اوزمونږ (کوچنی) بدی زمونږ څخه (معاف کی) لیری کی او (زمونږانجام هم چی پرهغه زمونږ مدار دی برابرکړی داسی چی) مونږ دنیکو خلقوسره (شامل لرونکی) مرګ راکی (یعنی خاتمه زمونږپر نیکی کړی) ای پروردګاره! او (لکه څنګه چی مونږ دهغه شیانو څخه دمحفوظ کیدو درخواست وکی کوم چی مونږته ضرررسوی لکه دوږخ اورسوائی اوګناهونه اوبدی، دغه شان مونږ دخپلی نفعی اوفائدی دپاره دعاکووچی) مونږته هغه شی (یعنی ثواب اوجنت) هم راکی دکومو چی زمونږ سره دخپلو پیغمبرانوپه معرفت تاوعده فرمایلی ده (چی مومنانو اونیکانوته به لوی اجر رسیږی) او (داثواب اوجنت مونږته په داسی شان سره راکی چی دثواب تررسیدو څخه مخکی هم) مونږ دقیامت په ورځ مه رسواکوه (لکه چی خینو لره اول سزاوی بیابه جنت ته ځی ، مطلب دا دی چی د اول سر څخه مونږپه جنت کی داخل کړی او) یقینًاته دوعدی څخه مخالفت نه کوی (لیکن زمونږ سره دا بیره ده چی دکومو خلقودپاره وعده ده ، یعنی دمومنانو او نیکانودپاره خدای ﷻ دی نه کی چی داصفتونه په مونږ کی موجود نه سی په کومو چی وعده ده ، په دی وجه مونږ تاته دادرخواست کووچی مونږلره دخپلی وعدی شیان راکی یعنی مونږ داسی کړی او داسی مو ولری چی دوعدی ځای راپه کی راسی)

معلومات اومسئلي: دآیت شانِ نزول: ددی آیت دشان نزول متعلق ابن حبان په خپله صحیح کی اومحدث ابن عساکرپه خپل تاریخ کی نقل کړي دی چی عطاء بن ابی رباح دحضرت عائشی ﷺ خواته تشریف راوړی اووی ویل چی دنبی کریم ﷺ په حالاتوکی چی کوم تر ټولو زیات عجیبه شی تاسی لیدلی وی هغه ماته وښیاست، نوپه دی باندی حضرت عائشی ﷺ وفرمایل، دهغه دکوم شان پوښتنه یه کوی ؟ دهغه خوهر یوشان یو عجیبه شی وو ، البته یوه عجیبه واقعه درته بیانوم ، هغه داده چی نبی کریم ﷺ یوه شپه زماسره تشریف فرماوو اوپه بړستن کی زماسره دننه سو ، بیایی وفرمایل چی اجازه راکه چی زه دخپل پروردګار عبادت وکړم دبستری څخه پورته سواودس یی وفرمایی ، بیاد لمانځه دپاره ودریدی اوپه قیام کی یی دومره وژړل چی دده ﷺ اوښکی پرسینه مبارکه باندی وبهیدی ، بیایی رکوع وفرمایله اوپه دی کی یی هم وژړل ، بیایی سجده وکړه اوپه سجده کی یی هم دومره وژړل ، بیایی سرلوړکی اوزیات یی وژړل ، تردی چی سهارسو ، حضرت بلال ﷺ راغی او نبی کریم ﷺ ته یی دلمانځه خبرورکی ،حضرت بلال ﷺ فرمایی چی ماعرض وکی چی حضور ﷺ ! دومره ژړاولی کوی؟ الله ﷻ خوستا دمخه او وروسته ګناهونه معاف کړي دی ده ﷺ وفرمایل چی ولی زه دی شکرګذار بنده جوړنه سم؟ اوپه دی شکریه کی دی

Maktaba Tul Ishaat.com

ژړا زاري ولي نه کوم ، هرکله چي الله ﷻ په ماباندې نن شپه داآيت نازل کړي دی ، اِنَّ فِیْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الاية ددې څخه وروسته ده ﷺ وفرمايل، چي لويه تباهي ده هغه سړي لره چاچي داآيتونه ووايي اوپه دې کي يې فکر ونه کي ، نو په دې وجه په دې آيت کي دغور اوفکرکولو په سلسله کي په دې لاندينيو مسئلو باندې فکرکول په کار دی .

(دخلق السموٰت وَالارض څخه څه مراددی؟)

اول داچي : خلق : مصدردی چي معنٰی يې ده ايجاد اونوی شی پيداکول ، معنٰی دا سوه چي دآسمان اومځکي په پيداکولوکي دالله ﷻ لويي نښاني دي په دې وجه په دې کي هغه ټول مخلوقات اودالله ﷻ مصنوعات (جوړسوی) هم داخليږي کوم چي په آسمانونو اومځکه کي دي بياپه دې مخلوقاتوکي قسمونه دي چي دهريوه خاصيتونه اواندازې جلا جلا دي اوهريو مخلوق پرخپل خالق پوره دلالت کوي، بياکه نور زيات فکر په کي وکړل سي نو داخبره فکرته راځي چي په السَّمٰوٰتِ کي توله پورته والا يعني لوړوالي داخل دی ، اوپه الارض کي تولي لاندينۍ داخل دي ، نولکه څنګه چي الله ﷻ دټولو پورتنيو خالق دی دغه شان دټولو لاندينيو هم خالق دی .

(دشپي او ورځي داختلاف مختلف صورتونه)

دوهم داچي داختلاف ليل اونهارڅخه څه مراددی؟ لفظ داختلاف دلته دعربی دهغه محاوري څخه را اخيستل سوي دی چي ، اِخْتَلَفَ فُلَانٌ فُلَانًا يعني فلانی سړی ترفلانی وروسته راغی ، نود اِخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ معنٰی دا سوه چي شپه ځي اوورځ راځي اوورځ ځي نوشپه راځي ، داختلاف دوهمه معنٰی داهم کيدې سي چي داختلاف څخه زياتوالي او کموالي مراد سي ، په يَخ کي شپه اوږده وي اوورځ لنډه وي اوپه ګرمی کي ددې په عکس وي ، دغه شان په شپه ورځ کي تفاوت دملکونو دتفاوت سره هم وي ، مثلاً کوم ملکونه چي قطب شمالي ته نژدې دي په دوی کي ورځ زياته اوږده وي ، په نسبت دهغه ښارونو کوم چي دقطب شمالي څخه ليري دي اوپه دې کارونوکي هر يو دالله ﷻ په کامل قدرت باندې روښانه دليل دی (چي فکر ورته وسي)

دآيت دلفظ تحقيق: دريم امر دا دی چي دلفظ د آيت څه معنٰی ده؟ آيت د آية جمع ده ، او دا لفظ په څو معناو سره ويل کيږي ، آيت ، معجزوته هم ويل کيږي ، اوقرآن مجيد پر آيتونوهم ددې اطلاق کيږي او دريمه معنٰی يې دليل اونخښه هم ده، دلته ورڅخه هم دادريمه معنٰی مراده ده، يعني په دې کارونوکي دالله ﷻ لويي نخښي اودقدرت دليلونه دي .

څلورمه خبره د اولوا الالباب دمعنٰی سره تعلق لري ، الباب دلب جمع ده چي معنٰی يې ده مغز اودهرشي مغزخلاصه يعني اصل وي اوددې څخه ددغه شي خاصيت اوفائدې معلوميږي ، په دې وجه يې دانسان عقل ته لب ويلی دی څکه چي دانسان عقل دده خاص جوهردی ، داولوا الالباب معنٰی ده دعقل خاوندان

(دعقل خاوندان يوازې هغه خلق دي کوم چي په الله ﷻ ايمان راوړی اوپه هرحال کي دهغه ذکرکوی)

اوس دلته دامسئله دفکر کولوده چي دعقل دخاوندانو څخه کوم خلق مراد دي ، څکه چي توله دنيا

Maktaba Tul Ishaat.com

دعقلمندی دعوه کوی ، یولیونی هم خپل ځان ته دبی عقله منلوته تیارنه دی په دی وجه قرآن کریم دعقل دخاوندانو یوخوداسی نښانی ښوولی دی چی هم داپه حقیقت کی دعقل صحیح معیاردی ، اوله نښانه یی په الله ﷻ ایمان دی ، تاسی فکروکی کم شی چی محسوس وی ، ددی علم په غوږونو ، سترګو ، ژبه ، پزه اونورو سره حاصلیدی سی چی دا خوبی عقله حیوان هم کولی سی ، اودعقل کاردادی چی په نښانو اوقرینو اودلائلو سره یوی داسی نتیجی ته ورسیږی کمه چی محسوسه نه وی ، اودکوم په ذریعه سره چی داسبابو دسلسلی آخری تکی پیداسی ، ددی اصولوپه نظرکی نیولوسره چی ددنیاپه کائناتو ژور نظرواچول سی نوآسمان اومځکه اوپه دوی کی ځای سوی ټول مخلوقات او د دوی دکوچنیو اولویو شیانو یو محکم اوحیرانوونکی نظام عقل ته دیوداسی هستی پته ورکوی چی دعلم ، حکمت ، قوت اوقدرت په اعتبارسره ترټولو ډیرلوی اولوړوی اوچی دا ټول شیان یی په خاص حکمت سره جوړکړی وی اودچاپه اراده اورضاسره چی دا ټول نظام چلیږی اودغه هستی ښکاره خبره ده چی خاص الله ﷻ کیدی سی لکه دیوعارف وینا ده .

هر گیاهی که از زمین روید .... وحده لا شریك لهٗ گوید

هروابنه چی دمځکی څخه راټوکیږی دالله ﷻ دبی شرکته یووالی شاهدی ورکوی .

دانسان ارادی اوتدبیرونه هرځای اوهروخت ناکامه سوی لیدل کیږی نو ده ته ددی نظام چلوونکی نه سی ویل کیدای په دی وجه دآسمان اومځکی په پیدایښت اوپه دی کی دپیداکیدونکومخلوقاتوپه پیدایښت دغور اوفکر کولو نتیجه دعقل په نزد الله ﷻ پیژندل اودهغه حکم منل اودهغه یادول دی ، څوک چی ددی څخه غافله دی ، هغه ته عقل مندویل لائق نه دی ، په دی وجه قرآن کریم دعقل دخاوندانو دانخښه وښووله ، ﴿ٱلَّذِينَ يَذۡكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَٰمٗا وَقُعُودٗا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمۡ﴾ یعنی دعقل خاوندان هغه دی چی الله ﷻ یاد وی په ولاړی ، په ناسته ، په پروتی مراد دادی چی په هرحالت اوهروخت دالله ﷻ په یادکی مشغول وی ، ددی څخه معلومه سوه چی دنن دنیاچی کوم شی دعقل اوپوهی معیارګڼلی دی دامحضی یوه دوکه ده چامال او دولت جمع کول عقلمندی ګڼلی ده ، چادمشینانو حصی پرزی جوړول اود بریښنا اوبخارونو اصلی سرچینه پیژندل عقلمندی ګڼلی ده ، لیکن دسلیم عقل خبره هغه ده کومه چی دالله ﷻ پیغمبرانو او رسولانو راوړی ده چی دعلم اوحکمت په ذریعه داسبابو په سلسله کی دا دلی څخه واعلی طرف ته په ترقی کولو سره درمیانی مرحلی په نظرکی نیول ، دخامو موادوڅخه مشینانوته اود مشینانو څخه دبریښنا اوتوښی قوت ته خو تاسی سائنس ورسولاست ، دعقل کاردادی چی یوقدم نورمخ ته سی چی تاسی ته دا معلومه سی چی اصل کارنه داوبو ، اوسپنی ، مسو یاخاوری دی ، نه دمشین ، نه ددی په ذریعه دپیداسوی توښی ، بلکه داکار دهغه چادی چاچی اور ، اوبه اوهواپیداکړه چی د دوی په ذریعه دابجلی اوتوښی ستاسی لاس ته درغلل .

کار زلف تست مشك افشانی اما عاشقان .... مصلحت را تهمتی برآهوئی چین بسته اند

بوی دمشکو خپرول ستادزلفو کار دی خوعاشقانو هسی دا تهمت دچین په هوسۍ پوری تړلی دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

ددي يوعام مثال داسي وګڼی چي دځنګل يو اوسيدونکی جاهل انسان کله چي يوه داور ګاډي (ريلوي ستېشن) ته ورسيږي اوداووينی چي داور ګاډی غوندی يوه ډيره لويه سپرلی ډيوه سره بيرغ په ليدلو سره دريږي او دشنه بيرغ په ليدلو سره روانيږي نوکه هغه دا ووايي چي داسور اوشين بيرغ ځومره طاقت لري چي دومره طاقتور شي روانوي او دروي يي ، نودعلم اوعقل خاوندبه ورته کم عقل ووايي اودابه ورته وښيي چي طاقت په دي بيرغوکی نه دی، بلکه طاقت دهغه سړي سره دی کوم چي په دې انجن کی ناست دی ، ددی بيرغوپه ليدلو ددرولو اوچلولو کارکوی ، ليکن دچاعقل چي ترده يوڅه زيات وي، هغه به ووايي چي دانجن چلونکی (ډرايور) ددې طاقت اوپاور مالك ګڼل داهم غلطي ده ځکه چي په حقيقت کی په دي طاقت کی دده هيڅ کار نسته، هغه به يوګام نورهم مخ ته ولاړسی اوداطاقت به ټول دانجن وحصو اوپرزوته منسوب کړي ، ليکن يوفلاسفر يا سائنسدان به ده ته هم بی عقله ووايي چي دانجن په بی حسه حصو اوپرزوکی به څه وی ، اصل طاقت ددغه توښ اوبخاردی چي په انجن کی داوبو او اور په ذريعه پيدا کړه سوي دی ، ليکن حکمت اوفلسفه چي ترددی ځايه راسی نوسترې سی اومخکی قدم نه سی اخستی ، انبياء عليهم السلام فرمايي چي ظالمه ! لکه څنګه چي بيرغو، چلوونکی يادانجن حصو او پرزوته طاقت ويل اودطاقت مالکان يی ګڼل دهغه جاهل غلطی وه دغه شان توښ او بخار دطاقت مالکان ګڼل ستادفلسفی اوحکمت غلطی ده يوقدم نورمخ ته سه چي تاته ددی پيچل سوی رسی سر په لاس درسی اوداسبابو دسلسلی آخری کړی ته ورسيږي چي په اصل کی ددی ټولو طاقتونو مالك هغه دی چاچی اور اواوبه پيداکړل اوداتوښ ورڅخه جوړسو.

په دی تفصيل سره به تاسی ته معلومه سوی وی چی عقل منديوازی هغه چاته ويل کيږي څوك چي الله ﷻ وپيژنی اوهروخت په هرحالت کی يی يادوی په دی وجه داولی الالباب صفت قرآن کريم وښووی ، اَلَّذِيْنَ يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ قِيَامًا وَّقُعُوْدًا وَّعَلٰى جُنُوْبِهِمْ

په دی وجه فقهاؤ حضراتو ليکلی دی چی که څوك ترمرګ مخکی داوصيت وکی چي زمامال دی عاقلانوته ورکول سی ، نوچاته به ورکول کيږي؟ ددی په جواب کی فقهاء کرامو وليکل چي داسی عالمان زاهدان به ددی مال مستحق وی چي ددنياطلبی اوغير ضروری مادی وسيلوڅخه ليری اوسی ، ځکه چي په صحيح معنی کی دغه عاقلان دی (درمختار کتاب الوصية)

په دی ځای کی داخبره هم دفکر قابله ده چي په شريعت کی دذکر څخه علاوه دبل يوه عبادت دډيروالی حکم نه دی سوی ، ليکن دذکرمتعلق ارشاددی: وَاذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا : وجه يی داده چي دذکر څخه ماسوا دنورو ټولو عبادتونو دپاره څه شرطونه او قاعدی دی چي دهغه څخه بغيرهغه عبادت نه سی اداکيدی ، په خلاف دذکرڅخه چي دا انسان په ولاړي ، ناستی، پروتی، په اوداسه کی وی اوکه بی اودسه ، په هرحالت اوهر وخت کی کولی سی ، په دی آيت کی شايد ددی حکمت طرف ته اشاره ده ، په ذکرسوی آيت کی يی دعقلمندو دوهمه نښانه داښوول سوي ده چي دوی دآسمان اومځکی په پيدا ښت کی فکرکوی ، يَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ دلته فکرکول په دی خبره کی دی چي دفکر (تفکر) څخه څه

Maktaba Tul Ishaat.com

مراددی؟ اوددی درجه څه ده؟ دفکر اوتفکر لفظی معنی دغورکولو اودیو شی حقیقت ته درسیدو کوشش کول دی ددی آیت څخه معلومه سوه چی لکه څنګه چی دالله ﷻ ذکر عبادت دی دغه شان فکر هم یو عبادت دی ،فرق دا دی چی ذکر دالله ﷻ دذات اوصفتونو په کار دی او فکر اوتفکر دده په مخلوقاتو کی مقصود دی ، څکه چی دالله ﷻ دذات اوصفتونو حقیقت ته رسیدل دانسان ترعقل بالاتر دی ، په دی کی دغوراوفکر،تدبّر اوتفکّرکولونتیجه بغیر دحیرانی څخه نور هیڅ نسته ، عارف رومی رحمہ اللہ فرمایی

دور بینانِ بار گاهِ الست .... غیر ازین پی نبرده اند که هست

دالله ﷻ په ذات اوصفاتوکی فکرکوونکی بزرګان یوازی دومره قدرمعلوموی چی دالله ﷻ ذات سته نور هاخواته په هیڅ نه دی خبر ، بلکه څینی وخت دالله ﷻ په ذات اوصفتونوکی زیات غوراوفکرکول دانسان ناقص عقل لره دګمراه کیدوسبب جوړیږی په دی وجه دلویو بزرګانو اوعارفانو دا وصیت دی چی تَفَكَّرُوْا فِیْ اٰیٰتِ اللهِ وَلَا تَفَكَّرُوْا فِی اللهِ یعنی دالله ﷻ په پیدا کړونخښو اونښانوکی غور او فکر کوی لیکن په خپله دالله ﷻ په ذات اوصفاتوکی غوراوفکرمه کوی څکه چی دغه ته تاسی نه سی رسیدی دلمرپه رڼا کی هرشی لیدل کیږی لیکن په خپله لمرته کتل سترګی خړوی دذات اوصفتونوپه مسئله کی خولویولویو ماهرانو ، فلاسفانو ، او دجهانونو سیل کوونکو او دمعرفت خاوندانو اخر هم دا نصیحت کړی دی چی .

نه هر جای مرکب توان تاختن .... که جاها سپر باید انداختن

هرڅای خپل زورازمایل نه دی په کار چی بیاهرڅای ماته خوری نوڅه فائده ؟ .

البته دغور عقل اوفکر څغلولو میدان دالله ﷻ مخلوقات دی چی په دی کی په صحیح غوراو فکر کولو سره دالله ﷻ معرفت حاصلیږی، دومره لوی اوپلن آسمان اوپه دی کی لمر سپوږمی اوستوری چی په دوی کی یوڅه پرڅای ولاړ (ثوابت) دی اویوڅه کرار کرار حرکت کوونکی ، نو ددی علم خالق ﷻ ته دی اوپه دی ستوروکی څه سیاری دی چی هغه دشمسی، قمری او نورو نظامو په طریقه سره په ډیرمضبوط اونهایت محکم قانون سره پرخپل څای چلیږی ، یوه ثانیه هاخوا دیخواته کیږی نه اونه یی ددی مشین یوپرزه سولیږی اونه ماتیږی اونه یی یوڅای یوورکشاپ ته دلیږلو ضرورت پیښیږی اونه یو وخت دا مشین رنګ اوروغن غواړی، دزرګونو کلونو راهیسی هم دغسی پرلپسی دامحکم نظام په خپلومقرره وختونو سره چلیږی ، اوهم دغه شان دمځکی ټوله کُره ددی ددریابونو اوغرونو اوپه دواړوکی قسم قسم مخلوقات اوحیوانان اودمځکی په بیخ کی پټ معدنیات، اودمځکی اوآسمان په مینځ کی چلیدونکی هوا ، اوپه دی کی پیدا کیدونکی اووریدونکی بریښنا اوباران او ددی مخصوص نظام، داټول دسوچ کوونکی اوپوهیدونکی دپاره نښانی دی او دداسی هستی پته ورته ورکوی چی په علم حکمت قوت اوقدرت کی ترټولو بالاتری ، اوددی خبرو نوم معرفت دی ، نوداغور اوفکر دالله ﷻ دپیژندوسبب او په دی وجه ډیرلوی عبادت دی ، په دی وجه حضرت حسن بصری رحمہ اللہ فرمایی ، تَفَكُّرُ سَاعَةٍ خَيْرٌ مِّنْ قِيَامِ لَيْلَةٍ (ابن کثیر) یعنی یوګړی دالله ﷻ په نخښو اونښانوکی فکرکول ترټولی شپی دعبادت ښه اوډیرو فائدو شی دی ، اوحضرت عمربن عبدالعزیز آ داغور اوفکر غوره عبادت فرمایلی دی (ابن کثیر)

Maktaba Tul Ishaat.com

حضرت حسن بن عامر ﷺ فرمايي چي ماډيرو اصحابو ﷺ څخه او ريدلي دي تولو دا فرمايل چي دايمان نور اورنا تفکر دی ، حضرت ابوسليمان دارانی آ فرمايي چي زه دکوره ووزم نوپه کوم شي چي زمانظر ولګيږي زه په ښکاره سترګو سره وينم چي په دی کی زمادپاره دالله ﷻ يو نعمت دی ، او ددی په وجود کی زما دعبرت حاصلولو اسباب موجود دي (ابن کثير) دامضمون ځيني عارفان داسی فرمايي .

هر گياهی که از زمين رويد ********** وحده لا شريك لهٗ گويد

هروانبه چي دمځکی څخه راټوکيږی دالله ﷻ دبی شرکته يووالی شاهدی ورکوی .

دحضرت سفيان بن عينيه رحمه الله ارشاد دی ، چي غور اوفکر نوردی چي ستاپه زړه کی داخليږی ، حضرت وهب بن منبه ﷺ فرمايي چي هرکله يوسړی په کثرت سره غور اوفکرکوی نوپه حقيقت به پوه سی اوڅوك چي پوه سی، ده ته به صحيح علم حاصل سی اوچاته چي صحيح علم حاصل سو، دی به ضرور عمل هم کوی (ابن کثير)

حضرت عبدالله بن عمر ﷺ فرمايي چي يو بزرګ ديوعابد زاهدپه ځای باندی راغی ، دغه عابدپه داسی ځای کی ناست وو چي دده څخه يوه طرف ته مقبره وه اوبل طرف ته يي دکورونو دامبار ځای وو، دی راغی بزرګ ورته وويل چي ددنيا دوی خزانی ستاپه مخکی دی، يوه دانسانانو خزانه چي مقبره ورته وايي ، دوهمه دمال دولت خزانه چي دفضلاتو اوګندګی په صورت کی ده ، دا دواړی خزانی دعبرت دپاره پوره دی (ابن کثير)

حضرت عبدالله بن عمر ﷺ به دخپل زړه دجوړولو او دحفاظت دپاره دښارڅخه دباندی يوی خرابی ته به ووتی او هلته چي به ورسيدی ، نو وبه يي ويل اَيْنَ اَهْلُكِ يعني ستا اوسيدونکی چيری ولاړ دی ؟ بيابه يي په خپله ځان ته جواب ورکی ، كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ اِلاَّ وَجْهَهٗ يعني دالله ﷻ دذات څخه ماسوا نورهر شی هلاکيدونکی دی (ابن کثير) اوپه دی ډول به يي دتفکرپه ذريعه دآخرت يادپه خپل زړه کی راوستی .

حضرت بشرحافی رحمه الله فرمايي چي که خلقو دالله ﷻ په لويی کی فکرکولی نو دهغه نافرمانی به يي نه سوای کولی ، اوحضرت عيسیٰ عليه السلام فرمايلی دی ای کمزوری بدن والا انسانه؟ ته چي هرځای يي دخدای ﷻ څخه وبيريږه ، او په دنياکی ديو ميلمه په شان ژوند تيروه او مسجدونه خپل کور جوړکړه ، اوخپلی سترګی دخدای ﷻ دبيری څخه په ژړلو، خپل بدن په صبر سره اوخپل زړه په فکر سره عادت کړه اودصبا درزق فکرمه کوه ، په ذکر سوی آيت کی يي دا فکر او تفکر دعقلمند انسان اعلی صفت ګرځولی دی او لکه څنګه چي دالله ﷻ په مخلوقاتو کی په غور اوفکر کولوسره دالله ﷻ دمعرفت (پيژندو) او ددنيا دبی وفايي صحيح علم حاصلول ښه عبادت اودايمان نور دی ، دغه شان دالله ﷻ نخښنوته کتل اوپه استعمال کی يي راوستل اودمخلوقاتو په ظاهری ډول اوشکل پسی کيدل او ددی په ذريعه دحقيقی مالك معرفت نه حاصلول سخته ناپوهی اودکوچنيانو په شان حرکت کول دی ، مولاناجامی رحمه الله فرمايي .

همه اندر زمن ترا زين است ************** که تو طفلی وخانه رنگين است

ددنيا دا ټول هرڅه ستادپاره ښکه دی چي ته کوچنی يي او ددنيا کور رنګين دی ، او دا مضمون حضرت مجذوب داسی بيان کړي دی .

کچه بهی مجنون جو بصيرت تجهی حاصل هوجائی ** تونی ليلی جسی سمجها هی وه محمل هوجائی

مجنونه که یوځه لږ ډیربصیرت تاته حاصل سی نوکوم شی چی ته نن لیلی ګڼی دا به صبا دلرګو یوډی وی خینو حاکمانو فرمایلی دی چی کوم سړی ددنیادی کائناتو ته دعبرت په نظرسره نه ګوری نوځومره چی دی ددی څخه غافله وی، دومره به دده دزړه څخه بصیرت لیری کیږی ، دنن سائنسی اوحیرانوونکی ایجادات او ددی دایجاد کونکو غفلت دالله ﷻ او دخپل کار دانجام څخه دحکیمانو ددی خبری ښکاره شاهدی ده چی دسآئنس ترقی چی څومره دخدای ﷻ دکامل صنعت رازونه ښکاره کوی نو دومره دوی دخدای ﷻ دپیژندو او په حقیقت باندی دځان پوهولو څخه ړانده کیږی ، په قول داکبر موحوم.

بهول کر بیتها هی یورپ آسمانی باپ کو بس خدا سمجا هی اس نی برق کو اور باپ کو

اروپا والاوو آسمانی طاقت هیرکړي دی ، بس برق «بریښنا» اوبخار یی طاقت ګڼلی دی.

قرآن کریم دداسی بی بصیرته تعلیمافته جاهلانو متعلق ارشادفرمایلی دی . .

وَكَأَيِّن مِّنْ آيَةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ يَمُرُّونَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُونَ

یعنی په آسمانونو اومځکه کی چی څومره نخښی اونښانی دی چی دا خلق ورڅخه مخونه اړوی د دوی حقیقت اوکاریګری اوددوی دجوړونکی اوخالق وطرف ته فکرنه کوی ، خلاصه دخبری دا ده چی دالله ﷻ مخلوقاتو اوکاریګروته کتل اوپه دوی کی غور اوفکرکول یو اعلی عبادت دی د دوی څخه یو څه عبرت نه حاصلول سخته ناپوهی ده.

د ذکرسوی آیت په آخری جمله کی یی ددی غور اوفکر نتیجه ښوولی ده ، رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا یعنی دالله ﷻ په ډیر او بی شماره مخلوقاتو کی دی نتیجی ته خامخارسیږی چی داټول شیان الله ﷻ فضول او بی کاره نه دی پیداکړی ، بلکه د دوی په پیداکولوکی په زرګونو حکمتونه دی داټول یی دانسان دخدمت دپاره اوانسان یی ددوی څخه دکار اخستودپاره پیداکړي دی اوانسان لره یی په دوی کی ددی غور اوفکر کولو بلنه ورکړي ده چی داټول کائنات خودده دفائدی دپاره جوړسوی اوپیداسوی دی ، اوانسان دخدای تعالی دحکم منلواوعبادت دپاره پیداسوي دی هم دا دده دژوندمقصد دی ، او بیا دغه غور او فکر کوونکی دی حقیقت ته ورسیږی چی ددنیا داکائنات فضول اوبی کاره نه دی پیداسوی بلکه دا دکائناتودخالق دلوی قدرت اوحکمت روښانه دلیلونه دی ، اوس مخ ته ددغه خلګودیو څو درخواستونو او دعاګانو ذکر دی کومی چی دوی دخپل رب دپیژندو څخه وروسته دهغه په دربارکی پیش کړي دی ، اولنی درخواست دا دی چی ، فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ یعنی مونږ دجهنم دعذاب څخه وساتی دوهم درخواست دا دی چی مونږدآخرت درسوایی څخه وساتی څکه چی څوك تاجهنم ته داخل کی ، هغه دټول جهان په مخکی رسواسو ، ځینی عالمانولیکلی دی چی په میدان حشرکی به رسوایی یوداسی عذاب وی، چی انسانان به داخواهش وکی چی کاشکی! دی جهنم ته وغورځول سی خوچی ددی بدوکارونو شهرت یی دمحشر دخلقوپه مخکی ونه سی ، دریم درخواست دادی چی مونږستا دطرف څخه راغلی اعلان یعنی دمحمد ﷺ اواز واوریدی، اوپه دی موایمان راوړی نوته زمونږلوی ګناهونه معاف کی اوزمونږپر عیبونو اوبدو باندی پرده واچوی اومونږته دنیکو خلقوسره مرګ راکی ، یعنی دنیکانو په ټولی کی مونږ شامل

Maktaba Tul Ishaat.com

کی دا دری درخواستونه خودعذاب او تکلیف اوضررڅخه دخلاصیدو دپاره وه مخ ته ځلورم درخواست
دفائدو اونفعو حاصلولو متعلق دی، چی دپیغمبرانو علیهم السلام په ذریعه کومه وعده چی تادجنت
دنعمتونو فرمایلی ده ، هغه مونږته داسی راکی چی په قیامت کی رسوایی هم نه وی ، یعنی چی اول بد
نامی اومواخذه وی اوبیامعافی وی ، داسی نه بلکه داوله سره راته معافی وکی ته وعده خلافی نه کوی
مګر ددی عریضو اودرخواستونو مقصددادی چی مونږددی قابل کی چی ددی وعدی حاصلولو لائق
سواوبیا په دی قائم پاته سو یعنی خاتمه مو په ایمان اوپه نیك عمل باندی وسی

فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ اَنِّیْ لَآ اُضِیْعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنْكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ

بیاقبوله کړه د دوی دعا د دوی رب چی زه نه ضائع کوم محنت دمحنت کوونکی ستاسی څخه سړی وی

اُنْثٰی ۚ بَعْضُكُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ ۚ فَالَّذِیْنَ هَاجَرُوْا وَاُخْرِجُوْا مِنْ

او که ښځه تاسی په خپلو کی یو یاست بیا هغه خلق چی هجرت یی وکی او وه ایستل سوه دخپلو

دِیَارِهِمْ وَاُوْذُوْا فِیْ سَبِیْلِیْ وَقٰتَلُوْا وَقُتِلُوْا لَاُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ

کورونو څخه او آزار سوه زما په لاره کی او وجنګیدل او قتل کړل سو خامخا به لیری کړمه د دوی څخه

سَیِّاٰتِهِمْ وَلَاُدْخِلَنَّهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۚ

بدی د دوی او داخل به کړم دوی باغونو ته چی بهیږي به لاندی ورڅخه نهرونه

ثَوَابًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الثَّوَابِ ۝۱۹۵

دا بدله ده دالله دطرف څخه ، او دالله سره ده غوره بدله ،

لَا یَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا فِی الْبِلَادِ ۝۱۹۶ؕ مَتَاعٌ قَلِیْلٌ ۟

تاسی دی دوکه نه کړی ګرځیدل دکافرانو په ښارونو کی ، دا فائده ده لږ شان ،

ثُمَّ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ۝۱۹۷ لٰكِنِ الَّذِیْنَ اتَّقَوْا

بیا د دوی ځای دوږخ دی او هغه ډیره بده تیکانه ده ، لیکن کوم خلق چی بیریږي

رَبَّهُمْ لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِیْنَ فِیْهَا

دخپل رب څخه د دوی دپاره باغونه چی بهیږي لاندی دهغه څخه نهرونه همیشه به وی په دی کی

Maktaba Tul Ishaat.com

نُزُلًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّلْاَبْرَارِ ﴿۱۹۸﴾ وَاِنَّ

میلمستیا ده دالله دطرف څخه ، اوڅه چې دالله سره دي غوره دي دنیك بختو دپاره ، او په

مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَمَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ

اهل کتابو کی ځینی هغه دي چې ایمان راوړي په الله ، اوڅه چې نازل سوي دي تاسي ته

وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ خٰشِعِيْنَ لِلّٰهِ ۙ لَا يَشْتَرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ

اوڅه چې نازل سوي دي دوی ته عاجزی کوی دالله په مخکې نه اخلی دالله په آیتونو قیمت

ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۱۹۹﴾

لږ، دغه دي چې د دوی دپاره مزدوري ده د دوی درب په نزد بیشکه الله ژر حساب اخستونکی دي.

دآیتونو تړون: په تیرو آیتونو کی دصالحانو مومنانو دخودعاګانو ذکروو ، په ذکر سوي اولنی آیت کی ددغه دعاګانو دقبولیت ذکردی اوددوی دنیکو عملونو دلوی اجربیان دی، په دوهم اودریم آیتونو کی داهدایت دی چې دکفارو په ظاهری عیش اوعشرت، مال اودولت اوپه دنیاکی په ګرځیدو راګرځیدو دی مسلمانان نه خطا وزی ، ځکه چې دادیوڅو ورځودی اوبیایی همیشه عذاب دی ، په څلورم آیت کی بیادتقوی دارو مسلمانانو دپاره دجنت دلا زواله نعمتونو وعده ده ، په پنځم آیت کی په خصوصیت سره دهغه مسلمانانو دلوی اجر ذکر دی ، کوم چې اول اهل کتاب وه اوبیا مسلمانان سول.

لنډتفسیر: نو قبولی کړی د دوی دعاګانی د دوی رب په دی وجه سره (چې زمارازوان عادت دی چې) زه دیرچا سړی (نیك) کارکوم چې په تاسی کی کارکوونکی وی ، نه عبث کوم (داسی چې بدله یی ورنه کړل سی) برابره خبره ده هغه (کارکوونکی) سړی وی اوکه ښځه (ددواړو دپاره یوقانون دی ځکه چې) تاسی (دواړه) په خپل مینځ کی دیوبل جزیاست (په دی وجه حکم هم د دواړو یو ډول دی ، وروسته هرکله چې دوی ایمان قبول کی ، نیك عمل یی وکی اوپه دی نیك عمل چې کوم ثواب ور رسیږی دهغه دپاره یی درخواست وکی نوما د دوی درخواست اودعادخپل جاری عادت په مطابق منظوره کړه اوهرکله چې مونږ پر ایمان باندی داسی فائدی ورکوو) نوکموخلقوچی (دایمان سره نورګران عملونه هم وکړل، لکه هجرت یعنی) وطن یی پریښووی او (هغه هم په خندا اوخوشحالی، دسیل دپاره نه بلکه داسی چې) دخپلوکورونوڅخه (یی په تنګولو) وایستل سوه او (په دی سربیره قسم قسم) تکلیفونه ورکړل سو (اوداخبری یعنی هجرت اودوطن څخه ایستل اومختلف قسم آزارونه ټول) زماپه لاره کی (یعنی زماددین په سبب دوی ته ورپیښ سول اوداټول دوی برداشت کړل) او (په دی سربیره یی دا کار هم وکی چې) جهاد یی (هم) وکی او (ډیر په دوی کی) شیهدان (هم) سول (اوترآخره پوری دجهاد څخه واپس نه سول نو پر

داسي محنتي کارونو باندي به فائدي اونعمتونه ولی نه ورکول کيږي) خامخابه ددی خلقو ټولی خطاګاني (کمی چې زمادحقونو متعلق ورڅخه سوی دی) به معاف کړم اوخامخا به دوی (دجنت) داسي باغونوته داخل کړم چې (ترمحلونو) لاندی به یې نهرونه بهيږي ، دابدله به رسيږی دالله ﷻ دطرف څخه اودالله ﷻ سره (يعنی دهغه په قبضه اوقدرت کی) ښه بدله ده (په ذکر سوو آيتونوکی دمسلمانانو دتکليفونوبيان اوددوی دنيك انجام ذکروو ، اوس مخ ته دکافرانو دعيش اوآرام اوددوی دبدانجام ذکردی چې د مسلمانانو تسلی وسی اودبدو عملو خلقو اصلاح اودتوبی توفيق وسی) لاَ يَغُرَّنَكَ (ای دحق طالبه) تادی ددی کافرانو (دکسب او معاش يادسيلونو دپاره) ګرځيدل په غلطی کی وانه چوی دايوڅو ورځی پسرلی دی (ځکه چې دمرګ سره به ددوی نوم ښه هم پاته نه سی او) بياددوی ټيکانه (دهميشه دپاره) به دوږخ وی اوهغه ډير بدآرام ځای دی ليکن (په دوی کی هم) کم خلګ چې دخدای ﷻ څخه بيريږی (او مسلمان اوفرمانبرداره سی) ددوی دپاره جنتي باغونه دی چې (ترمحلونو) لاندی به یې نهرونه بهيږی دوی به په دی (باغونو) کی هميشه هميشه اوسی دابه ميلمستيا وی دالله ﷻ دطرف څخه اوکوم شيان چې دخدای ﷻ سره دی (دکومو چې اوس ذکر وسو يعنی جنتي باغونه اونهرونه اونور) دادنيکو بندګانو دپاره په ځودرجو ښه دی (دکفارو تردی څوورځو عيشونو اوخوشحاليوڅخه) (ددعاګانو دذکر سوو آيتونو څخه اول داهل کتابو دبدو خويونو اوددوی دعذاب اودبد انجام پرله پسی ذکر راروان دی مخ ته دهغه خلقوبيان دی کوم چې په اهل کتابوکی مسلمانان اوصالحان سول ، په دی وجه دقرآن دعام عادت مطابق دبدعملو دبدو عملونو څخه وروسته دنيکانو صفت دی) وَاِنَّ مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اوپه يقين سره ځيني خلګ په اهل کتابوکی داسی هم خامخاسته چې په الله ﷻ عقيده لري او ددی کتاب سره هم (عقيده لری) چې تاسی ته درليږل سويدی (يعنی قرآن) اودهغه کتاب سره هم (عقيده لری) چې دوی ته ورليږل سوی دی (يعنی تورات اوانجيل، اودخدای ﷻ سره عقيده لری نو) په دی طورسره چې دالله ﷻ څخه بيريږی (په دی وجه په دی عقيده کی ترحدودو تجاوزنه کوی چې پرالله ﷻ داولاد تهمت ولګوی يااحکام دخانه جوړکی اودتورات اوانجيل سره چې کومه عقيده لری نوپه دی شان سره چې) دالله ﷻ دآيتونو په مقابله کی (ددنيا) کوم حقيقةً معاوضه نه اخلی دی خلقوته به ددوی نيك عوض ورسيږی د دوی دپروردګار سره (اوپه دی کی به څه وخت هم ونه لګيږی ځکه چې) بيشکه الله ﷻ به ډير ژرحساب (کتاب) وکی (اودحساب کتاب کولوسره به دټولو ورکول اخيستل بی باق کړی يعنی ختم به يې کړی)

معلومات اومسئلي

(په هجرت اوشهادت سره ټول ګناهونه معاف کيږی ، ليکن دقرض اونورو حقوق العبادو دمعافي وعده نسته)

لَاُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ : ترلندتفسيرلاندی داقيد لګول سوي دی چې دالله ﷻ په حقوقوکی چې کومی کوتاهی او ګناه سوی وی هغه به معاف سی ، ددی وجه داده چې نبی کريم ﷺ په حديث کی دقرض استثنی بيان کړي ده ، ددی دمعافی طربقه داده، چې په خپله يادده وارث دغه حقونه اداکی يايی معاف کی اوکه په چا باندی الله ﷻ خاص فضل وکی او دحق خاوندان دده څخه راضی کی اومعاف يی کی نوداجلاخبره ده اوډځينو سره به داسی هم اوسی

Maktaba Tul Ishaat.com

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱصْبِرُوا۟ وَصَابِرُوا۟ وَرَابِطُوا۟ قف

ای ایماندارو صبر کوی او په مقابله کی مضبوط وسی او پیوست وسی

وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ۝٢٠٠

او بیره کوی دالله څخه چی تاسی خپل مراد پیدا کی.

دآیتونو تړون: دا دسورت آل عمران آخری آیت دی چی مسلمانانو ته په یوڅو مهمو وصیتونو باندی مشتمل دی گویا دپوره سورت خلاصه یعنی نچوړ دی.

لنډتفسیر: ای ایماندارو! (په تکلیفونو) په خپله صبرکوی او (هرکله چی دکفارو سره مقابله وی نو) په مقابله کی صبرکوی او (چی احتمال دجنگ وی نو) دمقابلی دپاره تیار وسی او (په هرحال کی) دالله ﷻ څخه بیره کوی (چی تر شرعی حدونو ونه وزی) ددی دپاره چی تاسی پوره کامیاب سی (په آخرت کی لازمی او خامخا او ځینی وخت په دنیاکی هم)

معلومات اومسئلي: په دی آیت کی مسلمانانو ته د درو شیانو وصیت سوی دی صبرمصابره اومرابطه، اوڅلورم شی تقوی ده چی ددی درو سره لازمه ده دصبر، لفظی معنی بندول او تړل دی اودقرآن اوسنت په اصطلاح کی نفس پرهغه شیانو باندی چی نفس یی نه غواړی، برقرار ساتلوته صبروایی اوددی دری قسمونه دی.

اول: صبر په طاعاتو، یعنی دکومو کارونو چی الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ حکم کړی دی، ددی پابندی کول، که څه هم په نفس باندی هر څومره گرانه وی.

دوهم: صبردگناه څخه: یعنی دکومو شیانو څخه چی الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ منع فرمایلی ده هغه که نفس ته هرڅومره خوښ اوخوندناک وی، خونفس ددی څخه منع کول.

دریم: صبر پر مصیبتونو: یعنی په مصیبت اوتکلیف باندی صبرکول تر حدڅخه زیات نه پریشانه کیدل، اوټول تکلیفونه اوراحتونه دالله ﷻ دطرف څخه گڼل، نفس بی کنټروله کیدوته نه پریښول.

مصابرت: دالفظ دصبر څخه اخستل سوی دی ددی معنی ده ددښمن په مقابله کی ثابت قدمه پاته کیدل

مرابطه: دالفظ دربط څخه جوړ دی، چی اصل معنی یی ده تړل او په دی وجه سره د رباط اومرابطه، معنی ده آسونه تړل اود جنگ دپاره یی تیارول، په قرآن شریف کی په دی معنی سره راغلی دی، وَمِنْ رِّبَاطِ الْخَيْلِ دقرآن اوحدیث په اصطلاح کی دالفظ د دوو معناوو دپاره استعمال سوی دی، اول داسلامی سرحدونو حفاظت چی ددی دپاره دجنگی آسونو اوجنگی سامانونو سره باوسّلّه تیار اوسیدل لازمی دی ددی دپاره چی دښمن داسلامی سرحد طرف ته دمخ کولو جرأت ونکی دوهم داماُمتی دلمانځه داسی پابندی چی دیوه لمانځه څخه وروسته د دوهم لمانځه په انتظارکی اوسیدل، دا دواړه شیان په اسلام کی ډیرمقبول عبادتونه دی چی فضائل یی بی شمیره دی خویوڅو دلته ورڅخه لیکل کیږی.

(رباط یعني داسلامي سرحدونو دحفاظت انتظام)

داسلامی سرحدونو دحفاظت دپاره دجنګ دتیاری سره هلته قیام کولو ته رباط اومرابطه ویل کیږی ، ددی دوه صورتونه دی . اول صورت ، دا چی دځه جنګ خطره نه وی ، سرحد په امن اومحفوظ وی ، محضی دآئنده حفاظت په طوړ سره ددی نګرانی کول وی ، په داسی حالت کی خو دا هم جائز دی چی بنده هلته دخپل اهل اوعیال سره اوسی اوپه کرْاو کرونده سره خپله ګذاره کوی ، په دی حالت کی که دده اصل نیت دسرحد حفاظت وی نوهلته اوسیدل اوکسب معاش ددی تابع دی ، نودی سړی ته به هم درباط فی سبیل الله ثواب رسیږی، برابره خبره ده که هیڅکله هم جنګ ونه کړی ، لیکن دچاچی اصلی نیت دسرحد حفاظت نه وی بلکه خپله ګذاره یی مقصدوی اوپه اتفاقی ډول سره پکښی دسرحد حفاظت ته هم نوبت ور ورسیږی نو دا سړی به مرابط فی سبیل الله نه وی .

دوهم صورت : دا دی چی په سرحد ددښمن دحملی خطره وی ، نو په داسی حالت کی ښځی اوکوچنیان هلته ساتل صحیح نه دی ، یوازی هغه خلق به اوسی چی ددښمن مقابله کولی سی (قرطبی)

په دی دواړو کی صورتونوکی درباط فضیلتونه بی شماره دی ، په صحیح بخاری کی دحضرت سهل بن سعد ساعدی ؓ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی ، دالله ﷻ په لاره کی یوه ورځ رباط تر ټولی دنیا اومافیها ښه دی اوپه صحیح مسلم کی په روایت دسلمان ؓ دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی ، یوه شپه اوورځ رباط دیوی میاشتی تر پرلپسی روژو اودټولی شپی ترعبادت ښه دی اوکه دی په دی حال کی مړ سی نو دده دا درباط ثواب به روزانه دهمیشه دپاره جاری وی اودالله ﷻ دطرف څخه به ده ته رزق جاری وی، اودی به دشیطان څخه په امن اومحفوظ وی ، او ابوداود په روایت دفضاله بن عبید ؓ نقل کړي دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی ، دهر یوه مړ کیدونکی عمل دده دمرګ سره ختم سی ، بغیر دمرابط څخه چی دده عمل ترقیامته پوری پرمخ زیاتیږی اوپه قبرکی دسوال اوجواب اخیستونکو څخه په امن اومحفوظ وی ، ددی روایتونو څخه معلومه سوه چی درباط عمل ترهری صدقی جاریی زیات اوښه دی ځکه چی دصدقه جاریی ثواب خوتر هغه وخته پوری جاری وی ترڅو چی دده دصدقه سوی مکان، مځکی یاکتابو څخه چی ده تصنیف کړی وی یایی وقف کړی یادنورو داسی شیانو څخه خلق فائده اخلی، هرکله چی دا فائده اخستل بندسی نوثواب هم بند سی ، لیکن دمرابط فی سبیل الله ثواب ترقیامته پوری بندیدونکی نه وی ، وجه داده چی ټول مسلمانان هلته نیک عملونه کولی سی او نیکیو ته فارغ وی چی دوی ددښمن دحملو څخه محفوظ وی ، نودیو مرابط عمل دټولو دنیکو عملونو سبب جوړیږی ، په دی وجه ترقیامته پوری دده درباط دعمل ثواب به هم جاری وی ، اوپردی سربیره ده چی څومره نیک کارونه په دنیاکی کول ددی ثواب به هم بغیر دده دکولو څخه اوس جاری وی ، لکه چی په ابن ماجه کی په صحیح سند سره دابوهریرة ؓ څخه نقل دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی .

مَنْ مَاتَ مُرَابِطًا فِیْ سَبِیْلِ اللهِ اَجْرٰی عَلَیْهِ اَجْرَ عَمَلِهِ الصَّالِحِ الَّذِیْ كَانَ یَعْمَلُهٗ وَاَجْرٰی عَلَیْهِ رِزْقُهٗ وَاَمِنَ مِنَ الْفَتَّانِ وَبَعَثَهُ اللهُ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ اٰمِنًا مِّنَ الْفَزَعِ (دتفسیر قرطبی څخه)

Maktaba Tul Ishaat.com

کوم سړی چې په حالت درباط کې مړسی نوده چې کوم نیک عمل په دنیاکې کوی ددغه ټولو عملونو ثواب به برابر جاري وی او دشیطان څخه (یادقبر دسوال اوجواب څخه) به محفوظ وی ، او دقیامت په ورځ به الله ﷻ دی داسی مطمئن راپورته کی چې دقیامت هیڅ بیره اوترهه به پر ده نه وی.

په دی روایت کی چې کوم فضیلتونه ذکر دی په دی کی شرط دا دی چې په حالت درباط کی دده مرګ راسی مګردځینو نورو روایتونو څخه معلومیږی چې که دی ژوندی هم خپل اهل اوعیال ته واپس ورسیږی خو دا ثواب به بیاهم جاري وی.

دحضرت ابی بن کعب ﷺ څخه روایت دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چې ، دمسلمانانو دکمزوری سرحدحفاظت په اخلاص سره یوه ورځ درمضان څخه پرته په نورو ورځوکی دسل کاله مسلسلو روژو اوشپو تر عبادت ښه دی ، اوپه رمضان کی یوه ورځ رباط ښه اواعلی دی ترزرو کلونو دروژو اودشپو تر عبادتونو (په دی لفظ کی راوی ديوڅه تردد (شك) اظهارکړي دی بیایی وفرمایل اوکه الله ﷻ دی صحیح سالم خپل اهل اوعیال ته واپس کی نوترزرو کالوپوری به دده څه ګناه نه لیکل کیږی ، اونیکی به یی لیکل کیږی او دده درباط دعمل اجر به ترقیامته پوری جاری وی (قرطبی)

(دجماعت دلمانځه پابندی دیوه لمانځه څخه دبل لمانځه په انتظارکي کښينستل هم رباط في سبيل الله دی)

دابوسلمه بن عبدالرحمٰن ﷺ څخه روایت دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چې زه تاسی ته هغه شی ښیم په کوم سره چې الله ﷻ ګناهونه معافوی اوستاسی درجی په لوړ وی ، هغه شیان دا دی ، اودس په مکمل طور سره کول ، سره ددی چې دیخ یادبل زخم درد اوبل شی په سبب سره داودس اندامونه پریمینځل ګران وی ، او دمسجد طرف ته ډیر تلل ، او دیوه لمانځه څخه تر بل لمانځه پوری انتظارکول بیایی وفرمایل ، ذٰلِكُمُ الرِّبَاطُ (یعنی دا رباط فی سبیل الله دی.

امام قرطبی رحمه الله ددی ترنقل کولو وروسته فرمایلی دی چې ددی حدیث په بناسره امید دی چې کوم سړی دیوه لمانځه څخه وروسته دبل لمانځه انتظارپه پابندی سره کوی ده ته به هم الله ﷻ هغه لوی ثواب ورکی کوم چې درباط فی سبیل الله دپاره په احادیثوکی ذکر دی.

فائده: په دی آیت کی اول خو مسلمانانوته دصبرحکم ورکول سوي دی چې په هر وخت اوپه هرحال اوپه هرځای کی کیدی سی او ددی تفصیل لوړ بیان سوي دی ، دوهم حکم دمصابری دی ، چې دکفاروسره دمقابلی اوجنګ په وخت کی وی ، دریم حکم دمرابطه دی چې دکفاروسره دمقابلی داحتمال اوخطری په وخت کی وی ، او تر ټولو په آخر کی دتقوٰی حکم دی چې ددی ټولو کارونو روح او درباندی دعملونو دقبولتیا داراومدار دی ، دا ټوله مجوعه تقریباً پرټولو شرعی احکامونو باندی مشتمله ده ، الله ﷻ دی مونږ ټولو ته په دی احکامو باندی دعمل کولو کامل اوپوره توفیق راکی.

وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ اَوَّلُهٗ وَآخِرُهٗ

سورة آل عمران ختم سو

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿سورة النساء﴾

سُوْرَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ مِائَةٌ وَسَبْعٌ وَسَبْعُوْنَ اٰيَةً وَاَرْبَعٌ وَعِشْرُوْنَ رُكُوْعًا بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة نسآء په مدينه کي نازل سوی دی اوپه دی کی يوسل (۱۷۷) اووه اويا ايتونه دی او څلورويشت (۲۴) رکوع ګانی دی

شروع کوم دالله په نوم سره چی بی حده مهربانه نهايت رحم والا دی .

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ

ای خلقو ! بيره کوی دخپل رب څخه چاچی پيدا کړاست تاسی ديو نفس څخه

وَّاحِدَةٍ وَّخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيْرًا وَّ

او هغه پيدا کړه دهغه جوړه (يعنی بی بی) او خواره يی کړه ددې دواړو څخه سړی ډير ،

نِسَآءً ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْ تَسَآءَلُوْنَ بِهٖ وَالْاَرْحَامَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

او ښځی او بيره کوی دالله څخه دچاچی په واسطه چی سوال کوی په خپل مينځ کی او خبردار وسی دخپلولی څخه

كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا ۝۱ وَاٰتُوا الْيَتٰمٰۤى اَمْوَالَهُمْ وَلَا تَتَبَدَّلُوا

بيشکه الله په تاسی باندی نګهبان دی ، او ورکوی يتيمانو ته د دوی مالونه او مه بدلوی

الْخَبِيْثَ بِالطَّيِّبِ ۪ وَلَا تَاْكُلُوْۤا اَمْوَالَهُمْ اِلٰۤى اَمْوَالِكُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ حُوْبًا كَبِيْرًا ۝۲

خراب مال په ښه مال سره او مه خوری د دوی مالونه دخپلو مالونو سره ، دا ده ډيره لويه ګناه .

دآيتونو اوسورت تړون: دسورت آل عمران آخری آيت په تقوٰی ختم سوي دی اوداسورة هم ددغه تقوٰی دحکم څخه شروع کيږی په تيرسورت کی دځينو غزاګانو، اودمخالفينو سره دسلوك کولو اوپه غزاګانوکی دغنيمت دمال په لاس راتلوکی او په دی مال کی دخيانت کولو بدوالی اودځينو نورو کارونو ذکروو ، ددی سورت په شروع کی دخپلوانو سره دسلوك کولو يعنی دبندګانو دحقونو متعلق احکام دی ، مثلاً ديتيمانو حقونه دقريبانو، دکونډو اونورو حقونه ، ليکن څه حقونه داسی دی چی دقانون په قاعدوکی راځی اودهغه ادا کول دقانون په زورکول کيږی لکه عامی معاملی اخستل خرڅول دا جاری دمزدوری په ذريعه پيداسوی حقونه چی ديوه اوبل په مينځ کی په معاهدو اوصلح سره مقرر کيږی که يوطرف دمقررسوو حقونوپه اداکولوکی کوتاهی وکی نودحکومت په زور ورڅخه اخيستل کيږی ، ليکن اولاد، مور اوپلار، خاوند ښځه، يتيمان کوچنيان اونور قريبان او ددوی په مينځ کی

Maktaba Tul Ishaat.com

حقونه چی پریوه اوبل باندی واجب کیږی ددوی داداکولو داراو مدارپر ادب، احترام، زړه ساتلو، همدردی اودزړه پرخیر خواهی باندی دی اوداداسی شیان دی چی په یوترازو کی تلل کیدلی هم نه سی اودمعاهدوپه ذریعه یی هم پوره تعین گران دی ، په دی وجه ددی داداکولو دپاره بغیر دخدای ﷻ دبیری څخه اودآخرت دبیری څخه بله ذریعه نسته چی ددی څخه تعبیرپه تقوی سره کول کیږی اوپه حقیقت کی دتقوی داطاقت دحکومت اوقانون ترطاقت ډیرزیات دی په دی وجه یی داسورت په امردتقوی سره شروع کی اوارشاد وسو، یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّکُمُ یعنی ای خلقودخپل رب ﷻ دمخالفت څخه وبیریږی اوشاید دا وجه ده چی نبی کریم ﷺ به داآیت دنکاح په خطبه کی وایه اودنکاح په خطبه کی ددی ویل سنت دی، په دی کی داخبره هم دپام وړده چی خطاب یی په ، یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ سره فرمایلی دی چی ټول انسانان په کی شامل دی ، سړی وی اوکه ښځی اودقرآن دنزول دوخت وی یاراتلونکی ترقیامته پوری پیداکیدونکی ، بیایی دحکم د اِتَّقُوْا سره دالله ﷻ په ښه اوپاکو نومونوکی لفظ د رَبّ اختیارکی چی دتقوی دحکم علت اوحکمت طرف ته یی په کی اشاره وفرمایله ، چی کوم ذات ستاسی پرورش اوپالنه کوی اودچا دربوبیت دشان نخښی اونښانی چی انسان دخپل ژوندپه هر گړی اووخت کی په ښکاره وینی، نوددده مخالفت اوسرکښی به څومره خطرناکه وی ، ددی سره یی درب ﷻ دیوخاص شان ذکر وکی چی ده په خپل حکمت اورحمت سره تاسی ټول پیداکړاست ، بیاد پیدا کولو او موجود کولو مختلف صورتونه کیدی سی ، خو په دوی کی یی یوخاص صورت اختیارکی ، چی ټول انسانان دیوه انسان یعنی حضرت آدم ؑ څخه پیداکی ، ټول یی دورور ولی اوبرادری په یوه محکمه رسی کی وتړل دخدای ﷻ اودآخرت دبیری څخه پرته ددی وروروولی داړیکو هم دا تقاضاده ، چی دیوه اوبل سره دهمدردی اوخیرخواهی حقونه پوره اداسی اوپه انسانانوکی دپورته کښته، نسل، رنګ، ژبی ښه والی دشرافت اصل جوړنه سی په دی وجه یی وفرمایل.

اَلَّذِیْ خَلَقَکُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا کَثِیْرًا وَّنِسَآءً.

یعنی دخپل هغه پروردگارڅخه وبیریږی چاچی تاسی ټول دیوه ذات آدم ؑ څخه داسی پیداکړاست چی اول یی دهغه بی بی حضرت حواپیداکړه، بیایی ددی جوړی په ذریعه سره ډیر سړیان اوښځی پیداکړی غرض دا دی چی دا پوره آیت دهغه احکامو تمهید دی چی مخکی په دی سورت کی راځی ، په دی تمهیدکی یی یوه طرف ته درب العٰلمین حقونه مخ ته کړل اوددی دمخالفت څخه یی منع وکړه، دوهم طرف ته یی ټولو انسانانوته داوښووله چی تاسی دیوه پلار اولادیاست ،په دوی کی یی په دی سره دمحبت او د یو بل سره دهمدر دی اوخیرخواهی جذبی رابیداره کړی ، چی ډخپلوانو، یتیمانو اوښځی خاوند په مینځ کی دحقونو ادا کول په زړه سره وسی ، تردی وروسته یی بیادا اِتَّقُوا اللهَ دوباره اعلان وکی او دا اعلان یی په یوخاص عنوان سره وفرمایی ، وَاتَّقُوا اللهَ الَّذِیْ تَسَآءَلُوْنَ بِهٖ وَالْاَرْحَامَ یعنی دالله ﷻ څخه وبیریږی دچاپه نوم چی تاسی دنوروڅخه خپل حقونه طلب کوی او دچاقسمونه چی نوروته ورکوی ، خپل کارونه اومطلبونه په پوره کوی ، په آخر کی یی وفرمایل ، وَالْاَرْحَامَ یعنی دخپلوالی تعلقات برابره

Maktaba Tul Ishaat.com

خبره ده که دپلار دطرف څخه وي اوکه دمور دطرف څخه ، ددي په حفاظت او ادا کولو کي دکوتاهي کولو څخه ځان وساتي ، په دوهم آيت کي يې ديتيمانو کوچنيانو دحقونو تاکيد اوددوي دمالونو دحفاظت احکام دي ، لنډتفسير ددي دواړو آيتونو دا دي.

لنډتفسير: اې خلقو! دخپل پروردګار (دمخالفت څخه) وبيرېږئ چاچي تاسي ديوروح لرونکي (يعنې آدم ﷺ) څخه پيدا کړاست (ځکه چي دټولو انسانو اصل هم دی دی) او ددي روح لرونکي څخه دده جوړه (يعني دده بي بي حضرت حواء) يې پيدا کړه او (تاسي ته بيابيا په تاکيدسره ويل کيږي چي) تاسي دخداى ﷻ څخه وبيرېږئ دچاپه نوم چي ديوه او بل څخه (دخپلو حقونو) مطالبې کوئ (چي دغه مطالبې حاصل دا دي چي تاسي ورته وايياست دخداى ﷻ څخه وبيرېږه زماحق راکه نو هرکله چي نوروته دخداى ﷻ دمخالفت بيره ورمخکي کوئ نو معلومه سوه چي تاسي دهغه څخه بيريدل ضرورپيژنئ ، نو تاسي هم وبيرېږئ) او (اول خو دالله ﷻ دټولو حکمونو دمخالفت څخه ځان ساتل او بيريدل ضروري دي، ليکن په دي ځاى کي يوحکم په خصوصيت سره ذکرکول کيږي چي) دخپلوالي (دحقوقو دضائع کولو) څخه هم وبيرېږئ په يقين سره الله ﷻ ستاسي دټولو (دحالاتو) خبرلري (که مخالفت وکړئ نو دسزا لائق به سئ) او دکوموکوچنيانو چي پلار مړ سي د دوي (ملکيتي) مال دوي ته رسوئ (يعني د دوي په خرڅ کي يې لګوئ) او (ترڅوچي ستاسي په قبضه کي وي) تاسي (د دوي په مال کي دشاملولو دپاره د دوي) په ښه شي سره بيکاره شي مه بدلوئ (يعني داسي مه کوئ چي دهغه دمال څخه ښه شي واخلئ اوبيکاره شي په کي کښيږدئ) او د دوي مال مه خورئ دخپلو مالونو دموجودګي سره (البته هرکله چي ستاسي سره ځه نه وي نو په اندازه دحق دخدمت ورڅخه دخپلي ګذارى دپاره اخيستلي سئ لکه چي مخکي به راسي (وَمَنْ كَانَ فَقِيرًا) داسي کارکول (چي بيکاره شي دهغوی په مال کي شاملول يابې ضرورته د دوي دمال څخه نفع اخستل) لويه ګناه ده (چي ددي عذاب وعده به مخکي راسي (اِنَّ الَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ الْيَتٰمٰى الخ)

معلومات اومسئلې: دا اولنی حکم دی چي ترتمهيد وروسته يې فرمايلی دی او دقرابت دټولو تعلقاتو په ساتنه باندي حاوي اوشامل دی.

(دصله رحمي معنیٰ او ددي فضيلتونه)

لفظ دارحام درحم جمع ده رحم بچه داني ته وايي په کوم کي چي تربيداکيدو دمخه دمور په نس کي کوچني اوسي ، کله چي دخپلوالي ذريعه دارحم دی ، په دي وجه ددي قسم تعلقاتو ساتني ته (صله رحمي) او ددي خپلوالي په بنياد باندي چي کوم تعلقات پيداسوي وي ددي تعلقاتو نه ساتلو او بي اتفاقي کولوته (قطع رحمي) وايي په احاديثوکي پرصله رحمي ډير زور ورکول سويدی ارشادنبوی ﷺ دی

مَنْ اَحَبَّ اَنْ يُّبْسَطَ لَهٗ فِيْ رِزْقِهٖ وَيُنْسَاَلَهٗ فِيْ اَثَرِهٖ فَلْيَصِلْ رَحِمَهٗ (مشکوٰة ص ۴۱۹)

دچاچي دا خبره خوښه وي چي دده په رزق کي فراخي پيداسي اوعمريې اوږدسي نو ده لره په کار دي چي صله رحمي وساتي.

ددي حديث څخه دوصله رحمي دوي مهمي فائدي معلومي سوي چي دآخرت ثواب خوبي دي چي دي ،

Maktaba Tul Ishaat.com

په دنیاکی هم دصله رحمی دا فائده ده چی درزق تنگی به ورڅخه لیری سی او په عمر کی به یی برکت راسی ، عبدالله بن سلام ﷺ فرمایی چی نبی کریم ﷺ چی کله مدینی منوری ته تشریف راوړی اوزه حاضر سوم نو دده ﷺ هغه مبارکی کلمی چی ترټولو اول زما په غوږونو واوریدل سوی دا وی ، ده ﷺ وفرمایل .

يَاأَيُّهَا النَّاسُ اَفْشُوا السَّلَامَ وَاَطْعِمُوا الطَّعَامَ وَصِلُوا الْاَرْحَامَ وَصَلُّوا بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ ، (مشکوٰة ص ۱۰۸)

ای خلقو! یو اوبل ته ډیر سلام کوی دالله ﷻ دراضی کولو دپاره خلقو ته خوراك ورکوی صله رحمی ساتی او په داسی وخت کی لمانځه ته ودرېږی چی عام خلق خوب کوی یادساتی په دی کارونو دعمل کولو په وجه به تاسی په حفاظت اوسلامتی سره بغیر دکم بندیز څخه جنت ته ورسیږی .

په یو بل حدیث کی ذکر دی چی دمومنانو مور حضرت میمونی ﷺ خپله یوه مینځه آزاده کړې وه ، هرکله چی ددی ذکر یی نبی کریم ﷺ ته وکی ، نو ده ﷺ ورته وفرمایل .

لَوْ اَعْطَيْتِهَا اَخْوَالَكِ كَانَ اَعْظَمَ لِاَجْرِكِ (مشکوٰة ص ۱۷۱)

که تا خپل ماما لره ورکړې وای نو زیات ثواب به دی سوی وای .

په اسلام کی دغلام او مینځی دآزادولو ډیر ترغیب دی او دایی دثواب په کارونوکی ترټولو لوی اوښه ثواب مقرر کړي دی ، لیکن سره ددی دصله رحمی ثواب او مرتبه تردی پرهر حال لوړه ده ، په دی مضمون سره یو بل روایت دی ، حضور ﷺ فرمایی .

اَلصَّدَقَةُ عَلَى الْمِسْكِيْنِ صَدَقَةٌ وَهِيَ عَلٰى ذِى الرَّحِمِ ثِنْتَانِ صَدَقَةٌ وَصِلَةٌ (مشکوٰة ص ۱۷۱)

دیوه محتاج کومك کول یوازی صدقه ده اودخپلو نژدی خپلوانو کومك کول په دووکارونوباندی مشتمل دی ، یوه صدقه او بله صله رحمی ، یوازی دمصرف په بدلولو سره ثواب دوه چنده کیږی ، ددی په مقابل کی چی دقطع رحمی په حق کی کومی دعذاب سختی وعدی داحادیثو په روایتونوکی ذکر دی ددی اندازه د دوو احادیثو څخه په ښه شان سره کیدای سی ، دحضور ﷺ ارشاد دی .

(۱) لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعُ رَحِمٍ (مشکوٰة ص ۴۱۹) (۲) لَا تَنْزِلُ الرَّحْمَةُ عَلٰى قَوْمٍ فِيْهِ قَاطِعُ رَحِمٍ (مشکوٰة ص ۴۲۰)

کوم سړی چی دخپلوالی دحقونو ساتنه نه کوی ، هغه به جنت ته ولاړ نه سی ، په هغه قوم دالله ﷻ رحمت نه نازلیږی په کوم کی چی قطع رحمی کوونکی موجود وی ، په آخر کی بیا په زړونو کی دحقونو داداکولو دجذبی پیداکولو دپاره فرمایی ، اِنَّ اللهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا : یعنی الله ﷻ په تاسی باندی نگران دی چی ستاسی دزړونو اوارادو څخه خبر دی ، که هسی په رواجی ډول سره دشرم په وجه په بی زړه توب سره څه کاروسی لیکن دزړه جذبه اودخدمت قربانی په کی نه وی نو هغه دقبلیدو قابل نه دی ، ددی څخه دالله ﷻ څخه دبیری وجه هم معلومه سوه چی هغه همیشه پرټولو باندی نگران دی ، دقرآن کریم داعامه قاعده ده ، چی قانون محضی ددنیا دحکومتونو دقانون په شان نه بیانوی ، بلکه دتربیت اوشفقت په شکل کی یی بیانوی ، دقانون دبیان سره سره دذهنونو اودزړونو تربیت هم کوی .

(دیتیمانو حقونه او ددوی دمالونو حفاظت)

په اولنی آیت کی مطلق دخپلوالی حفاظت او ددی دحقونو دادا کولو تاکید په عام اندازکی دبیانولو

Maktaba Tul Ishaat.com

ځخه وروسته په دوهم آیت کی دیتیمانو دمالونو دحفاظت حکم اوپه هغه کی دهرقسم تصرف (خوراك، ورل اونور) کولوځخه دمنع بیان دی ، ځکه چی دیتیم کوچنی ساتونکی اوولی په عام طورسره دده یو قریب وی ، په دی وجه ددی تعلق هم دځپلوالی دحق دادا کولو سره دی ، په اوله جمله کی ارشاد دی ، وَاٰتُوا الْيَتٰمٰۤى اَمْوَالَهُمْ ، ددی ترجمه دا ده چی دیتیمانومال دوی ته رسوی ، دیتیم لفظی معنٰی ، یوازی او یو تن ده ، په دی وجه کومه ملغلره چی په سیپ (دایو قسم ددریاب مخلوق دی چی دهغه ځخه ملغری راوزی) کی یوازی یوه وی، هغه ته (دریتیم) وایی دشرع په اصطلاح کی هغه کوچنی ته یتیم وایی چی پلار یی مړ سوی وی ، او په حیواناتو کی یتیم هغه ته ویل کیږی چی موریی مړه وی (قاموس) دبالغ کیدو ځخه وروسته په شرعی اصطلاح کی ده ته یتیم نه ویل کیږی، لکه چی په حدیث شریف کی یی وضاحت دی ، لَا يُتْمَ بَعْدَ احْتِلَامٍ یعنی تربلوغ وروسته یتیمی باقی نه پاته کیږی (مشکوٰة شریف ص ۲۸۴) دیتیم کوچنی په ملکیت کی که څه مال وی چی دوی ته چابخښلی وی یایی په یومیراث کی ور رسیدلی وی ، نو دیتیم سره دده دمال حفاظت هم دهغه سړی په ذمه دی چی دیتیم ولی دی ، برابره خبره ده که داولی ورلره مړ پلار مقررکړی وی یاحکومت یوځوك ولی ورلره مقررکړی وی ، په ولی باندی دا لازمه ده چی دیتیم ضروری خرڅونه به دده دمال ځخه پوره کوی ، لیکن مال به تربالغ کیدو ځخه مخکی په قبضه کی نه ورلره ورکوی ، ځکه چی دی ناپوه کوچنی وی هسی نه چی برباد یی کی ، نو دآیت په دی جمله کی چی یی کوم ارشاد فرمایلی دی چی دیتیمانومال دوی ته رسوی ، ددی وضاحت مخ ته په پنځم آیت کی راځی ، چی په هغه کی یی ښوولی ده چی ددوی مال دوی ته هغه وخت ورکوی کله چی ووینی چی دوی بالغان سول ، اوپه دوی کی دځپلی نفع اونقصان، ښه اوبد تمیز پیداسو ، نوپه دی وجه په دی آیت کی دیتیمانو دمال دوی ته درسولومطلب داسوچی د دوی دمالونو حفاظت کوی چی پرځپل وخت دامال دوی ته ورسول سی ، پردی سربیره په دی جمله کی دی طرف ته هم اشاره ده چی دیتیم دولی ذمه واری یوازی دومره نه ده چی دیتیم مال په ځپله نه خوری اونه یی ضائع کوی ، بلکه دده دا مهم فرض دی چی ددی حفاظت داسی کوی چی دبالغ کیدوځخه وروسته ده ته ورسیږی،په دوهمه جمله کی ارشاددی وَلَا تَتَبَدَّلُوا الْخَبِيْثَ بِالطَّيِّبِ یعنی ښه شی په بیکاره شی سره مه بدلوی ، ځینی خلقو به داسی کول چی دیتیم دمال شمارخو به یی محفوظ ساتی ، مگرپه دی کی چی به کوم ښه شی په نظر راتلی هغه به یی په ځپله اخیستی او ددی پرځای به یی ځپل خراب شی ایښووی دښی بزی پرځای به یی خرابه اوناجوړه بزه دهغه په بزوکی شاملوله یادکره (چلیدونکو اوښو) پیسو پرځای به یی کوټه (ناچله اوخرابی) پیسی دهغه په پیسوکی ایښوولی داهم چونکه دیتیم په مال کی خیانت دی ، اوداهم ممکنه ده چی ځینوبه داحیلی جوړولی چی ماخودیتیم مال اخیستی نه دی، خوبدل کړی می دی په دی وجه قرآن کریم په ډاگه ددی منع وفرمایله ، په دی ممانعت کی لکه ځنگه چی داداخله ده چی په ځپل خراب شی ښه شی واخلی، دغه شان داهم په کی داخله ده چی دیوبل سړی سره داسی معامله وکی دتبادلی چی په هغه کی دیویتیم کوچنی نقصان وی په دریمه جمله کی یی ارشاد وفرمایی ، وَلَا تَأْكُلُوٓا اَمْوَالَهُمْ اِلٰٓى اَمْوَالِكُمْ یعنی دیتیمانومال

په خپل مال کی دخوړلو دپاره مه شریکوی ښکاره خبره ده چی ددی مقصد دیتیم مال په ناجائزه طور باندی دخوړلو ممانعت دی ، برابره خبره ده که په خپل مال کی یی شریك کی، وی خوری یایی جلا کښیږدی ، وی خوری ، لیکن په عام طورسره داسی کیږی چی دیتیم مال په خپل مال کی شریك کی ، په خپله یی هم ورڅخه خوری او په یتیم یی هم خوری په دی وجه دځان ته حساب نه کولوپه وجه یو دینداره اودشریعت پابیند سړی هم خطا وتلی سی چی په دی کی څه گناه نسته ، په دی وجه یی په خاص طورسره په خپل مال کی دشریك خوړلوحراموالی بیان کی اوپه دی یی خبرداری ورکی چی یاخوبه دیتیم مال بالکل جلا اږدی اوجلابه یی خرڅ کوی چی دڅه زیاتی بیره په کی پاته نه سی یابه یی یوځای ساتی خوداسی حساب به کوی چی ستاسی داپوخ یقین وی چی دیتیم مال ستاسی په خپل ذاتی خرڅ کی رانه سی ددی تشریح دسورت بقره په اوه ویشتمه رکوع کی تیره سوي ده وَاللّٰهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ .

په دی بیان کی یی دی طرف ته هم اشاره وفرمایله چی دیتیم په مال کی ناجآئز تصرف کوونکی په عام طورسره هغه خلق وی دچاسره چی خپل مال هم وی نوپه دی عنوان سره یی ددی ته عار (شرم) وراندی کی چی خپل مال درسره سته اودیتیم مال خوری داڅومره دشرم خبره ده ، په آیت کی دیتیم دمال خوړلو دممانعت ذکردی ځکه چی دمال ترټولو لویه مهمه فائده خوړل دی، لیکن په محاوره کی دمال هرقسم تصرف کولوته خوړل وایی، برابره خبره ده استعمال یی کی اوکه یی وخوری قرآن کریم هم ددی محاوری په وجه لَا تَاْكُلُوْا وفرمایل ، په دی کی هرناجائز تصرف کول داخل دی نوپه دی وجه دیتیم مال په هره ناجائزه طریقه خرڅ کول حرام دی ، دآیت په آخری جمله کی یی ارشاد وفرمایی ، اِنَّهٗ كَانَ حُوْبًا كَبِيْرًا دحوب لفظ په قول دابن عباس ﷺ دحبشی ژبی لفظ دی ، ددی معنٰی ده لویه گناه په عربی ژبه کی هم دالفظ ددی معنٰی دپاره ویل کیږی معنٰی یی داسوه چی دیتیم په مال کی هرقسم ناجائز تصرف برابره خبره ده که دحفاظت دکمی په وجه وی اوکه دخراب شی دبدلولوپه وجه وی یادخپل مال سره یی دشریك خوړوپه وجه وی په هرحال داټول لوی گناهونه دی اودیتیم دمال خوړلوسخته وعده دعذاب ددی رکوع په آخرکی راځی

وَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تُقْسِطُوْا فِی الْيَتٰمٰی فَانْكِحُوْا

اوکه بیریږي چی انصاف به ونه کړل سی دیتیمانو انجونو په حق کی ، نو نکاح کوی

مَا طَابَ لَكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ مَثْنٰی وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ ۚ فَاِنْ خِفْتُمْ

کومی چی نوری ښځی ستاسی خوښی سی دوې دوې دری دری ، څلور څلور بیا که بیریږي

اَلَّا تَعْدِلُوْا فَوَاحِدَةً اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ۭ ذٰلِكَ اَدْنٰٓی اَلَّا تَعُوْلُوْا ۝۳

په دوی کی به انصاف ونه کړل سی نویوه نکاح کوی یامینځه چی ستاسی خپل مال دی په دی کی امید دی چی یوطرف ته به کاږه نه سی .

لنډتفسير: دآيتونو ترون: په تيرآيت کې ديتيمانو دحق ضائع کولو ممانعت ووچې اولياؤ ته د دوی مال غرد برد کول حرام دي ، په دې آيت کې هم په بل عنوان سره ددې حکم دوباره بيان دی ، چې دکومو خلقو په ساتنه کې يتيماني انجونې وي ، د دوی سره به په دې خيال نکاح نه کوي چې دوی ستاسی داختيار دي ، څومره مهرچې ستاسی خوښ وي ورکوی به يې ورلره اوکوم مالونه چې د دوی په قبضه کې دی ، هغه به هم ستاسی په قبضه کې راسي ، ددې طمع اوچم په وجه به د دوی سره نکاح نه کوی ، غرض دا دی چې دقرآن کريم دې آيت دا خبره په ډاګه کړه چې ديتيم دمال دقبضه کولو دپاره هره حيله اوبهانه جائز نه ده ، اوپه اولياؤ فرض دی چې ښه په ايمانداری سره د دوی دحقونو حفاظت کوی نووی فرمايل .

اوکه په تاسی کې ددې خبری احتمال (هم) وو (اويقين وو) چې ستاسی به ديتيمانو انجونو په باره کې (دمهرپه نسبت کې) انصاف ونه سی نو (ددوی سره نکاح مه کوی بلکه) دنورو (حلالو) ښځوسره کومې چې تاسی ته (دخپل څه مصلحت په اعتبار) ښه وی، نکاح کوی (ځکه چې دوی مجبوره نه دی، په آزادی سره خپله رضا ښکاره کولی سی اودانکاح به په دې قيد سره وی چې څوك تريوی ښځې زياتی کول غواړی، نوپه دې صورتونوکی دی يو صورت وی، يوصورت دادی چې يويو سړی) دې د دوو دوو ښځو سره (نکاح وکی) او (بل صورت دادی چې يويو سړی) دې ددرو ښځوسره (نکاح وکی) او (دريم صورت دادی چې يويوسړی) دې دڅلورو څلورو ښځوسره (نکاح وکی) وروسته که تاسی ته (غالب) احتمال وو، ددې چې (دڅوښځينوپه کولوسره) په عدل ونه سی (بلکه ديوی بی بی واجب حقونه به ضائع سی) نوبياپه يوی بی بی باندی بس والی کوی (اوکه ديوی حقونه هم نه سی اداکولی نو) کومه مينځه (دشرعی قاعدی مطابق) چې ستاسی په ملك کی وی هغه ښه ده په دې ذکرسوی کارکی (يعنی ديوبی بی په نکاح کی يا يوازی پرمينځی باندی په بس کولو) دزياتی (اوبی انصافی) نه کيدو توقع ډيره نژدی ده (ځکه چې په يو صورت کی خوددوی څه مقرر تعدادنسته چې برابری کول په کی لازم سی اوپه دوهم صورت کی يی دبی بی دحقونو څخه حقونه هم کم دی مثلاً مهريی نسته دکوروالی حقونويی نسته نواندينښه نوره هم کمه ده)

معلومات اومسئلې

(ديتيمانو انجونو دحقونو ضائع کولو بنديز)

دجاهليت په زمانه کی چې دکمو خلقوپه ولايت کی به يتيمانی انجونی وی ، نوکومی چې به په شکل اوصورت کی ښی وی يابه د دوی په ملکيت کی يوڅه مال اوجايداد وو نواولياوو به يی داسی کول چې يابه يی ورسره په خپله نکاح کوله اويابه يی دخپل اولادسره ددوی نکاح کوله اوپه خپله رضابه يی ورلره ترکم لا کم مهر مقررووی، اوپه خپله خوښه به يی ورسره سلوك کوی، ځکه چې هم دی به يی ولی اوساتونکی وو، پلاربه يی نه ووچې دحقونو پوره ساتنه به يی ورلره کوله اوپه خپله ساتنه کی به يی ددی په مناسب اوښه ځای کی نکاح کړی وای ، په صحيح بخاری کی دحضرت عائشی ﷺ څخه روايت دی چې درسالت په زمانه کی يوه داسی واقعه پيښه سوه چې ديوه سړی په ولايت کی يوه يتيمه انجلۍ وه، او دده يوباغ وو چې په هغه کی ورسره دا انجلۍ هم شريکه وه ، دی سړی ددی يتيمی انجلۍ سره به

Maktaba Tul Ishaat.com

خپله نکاح وکړه اوپرځای ددې چې دخپل طرفه یې ورلره مهرورکړی وې، ددې دباغ هغه حصه یې هم په خپله قبضه کې واخسته ، په دې باندې دا آیت نازل سو . وَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تُقْسِطُوْا فِي الْيَتٰمٰى فَانْكِحُوْا مَاطَابَ لَكُمْ مِّنَ النِّسَاءِ یعنی که ستاسی سره دا بیره وې چې که دیتیمانو انجونوسره په خپله نکاح وکې نوانصاف به ونه سې بلکه د دوی حق به ضائع سې نوستاسی دپاره نوری ښځې ډیری دی ، په دوی کې چې کومې ستاسی دپاره حلالې اوستاسی خوښې وې دهغوی سره نکاح وکې .

دنابالغي دنکاح مسئله: په دې آیت کې دیَتٰمٰی څخه مرادیتیمانی انجونی دی او دشرعی په اصطلاح کې یتیم هغه هلك اوانجلۍ ته ویل کیږي چې لابالغ سوی نه وی ، نوپه دې وجه ددې آیت څخه داهم ثابته سوه چې دیتیمې انجلۍ ولی ته دااختیارهم دی چې دبلوغ څخه مخکې په کوچنیوالی کې ددې نکاح وکې البته چې دانجلۍ مصلحت او دآئنده دپاره ددې خیر اوفائده په کې په نظرکې وساتل سی ، داسې نه چې لکه په ډیرو خاندانوکې دارواج دی چې دلویې انجلۍ نکاح دکوچنی هلك سره کوی ، نه دعمرخه لحاظ ساتی اونه دهلك حالاتو اوعادتونوته ګوری، خوهم دغسې نکاح ورلره کوی ، اوهغه بالغه انجلۍ چې پلار یې مړ وی که څه هم دابالغه اودخپل اختیاروی لیکن انجلۍ دشرم اوحیاپه وجه باندې که بالغه هم وی خودخپل نکاح په معامله کې په خپله څه نه سی ویلی ، وارثان اوولیان چې ورسره څه کوی ، دوی یې قبلوی ، نوپه دې وجه ددوی پروارثانو داهم لازمه ده چې ددوی دحقونو ضائع کولو څخه ځان وساتی ، په هرحال په دې آیت کې دیتیمانو انجونو دحقونو دساتلوحکم ذکردی لیکن دعامو حکومتو دقانون په شان یې ددې دنافذ کولوذمه واری پرحکومت داچولوپر ځای یې پخپله عواموته دخدایﷻ دبیری حواله ورکړه حکم یې وکی چې که تاسی ته په دوی کې دبې انصافی کولوخطره وی نوبیاد یتیمانو انجونو سره دواده خیال پریږدی ، نوری ښځې ستاسی دپاره ډیری دی ، د دوی سره نکاح کوی ، ددې سره دحکومت دذمه واریوهم دافرض دی چې ددې ساتنه کوی ، کم ځای چې حقونه ضائع کیږی نودقانون په زوردې دغه حقونه اداکوی .

(په قرآن کي دښځو ډیروالي اوتراسلام په مخکي قومونوکي ددې رواج)

دیوسړی دپاره ډیری ښیبانی ساتل داسلام څخه مخکې هم تقریباً ددنیاپه ټولو مذهبونوکې جائز ګڼل کیدی ، دعرب، هندوستان، ایران، مصر، بابل اونورو ملکونوکې په هرقوم کې دښځو ډېروالی رواج جاري وو اوددوی دفطری ضرورتونو څخه نن هم څوك انکارنه سی کولی ، په حاضر دورکې یورپ دخپلو پخوانیو تیرو مشرانو څخه خلاف دډیرو ښځو دساتلو دناجائز کولو کوشش وکی نونتیجه یې دبې نکاح لونډو ساتلوپه صورت کې راووته ، خوآخر بیافطری قانون غالب سو اواوس هلته هوښیاران اوحکیمان په خپله ددې رواج کولوپه حق کې دی ، مستر ډیون پورټ چې یو مشهور عیسائی فاضل دی دډیرو ښځوساتلوپه حمایت کې دانجیل دډیرو آیتونونقل کولوڅخه وروسته لیکی (په دې آیتونوکې دالیدل کیږي چې دښځو ډیروالی نه یوازې ښه ګڼل سوی دی، بلکه اللهﷻ په دې کې خاص برکت اېښی دی)دغه ډول پادری نکسن او جان ملټن او ابزك ټیلر په زورورو الفاظوکې ددې مرسته کړي ده ، دغه

ډول دویډك تعليم بې حسابه ښځې جائزې ګڼې اود لسو لسو، دیارلسو دیارلسو، اوه ویشتو اوه ویشتو ښځوپه یوه وخت دجمع کولو اجازه ورڅخه معلومیږي، کرشن کوم چې په هندوانو کې دتعظیم قابل ولي ګڼل کیږي دده په سوونو بیبیانې وې، کوم سرې چې مذهب اوپاکدامنۍ اوحیا داري قائم ساتل غواړي او دزنا کاري لارې بندول غواړي دده دپاره بل علاج نسته بغیر ددیرو ښځو داجازت ورکولوڅخه، په دې کې دزناکارۍ بندوالي راځي اودسړو په نسبت چې په کومو علاقوکې ښځې ډیرې وي ددې هم علاج دی، که ددې اجازت ورنه کې نو دانډیوالو اوپیشه وروکسبي ښځو ډیروالې به جوړسي، هم دا وجه ده چې په کومو قومونو کې دزیاتو ښځو اجازت نسته په دوی کې زنا ډیره ده، یو رپې قومونوته وګورې چې ددوی په ملکونو کې پرزیاتو ښځو پابندی ده، لیکن دخوښې اوانډیوالې په ډول چې څومره ښځې اوسړي زنا کوي ددې پوره اجازت دی داڅومره دحیرت خبره ده چې نکاح منع ده اوزنا جائزه ده؟ غرض دادی چې تراسلام مخکې دډیرو ښځورسم بغیر دکمې اندازې څخه جاري وو دملکونو اومذهبونو دتاریخ څخه چې څومره معلومیږي، یومذهب اویو قانون هم پردې څه حد نه وولګولی، نه یهودو، نه نصاراوو، نه هندوانو، نه اریاوو اونه پارسیانو داسلام په اوله زمانه کې هم دا رسم بغیر دڅه حدڅخه جاري وو، لیکن ددې غیرمحدود ډیروالې دښځو نتیجه دا وه چې خلقوبه په اول اول کې دحرص څخه خو ډیرې ښځې وکړې، لیکن بیا به یې د دوی حقونه نه سوای اداکولی اودې ښځوبه دده په نکاح کې دیوقیدی په شان ژوند تیروی، اوبیا کمې ښځې چې به دیوه سړي په نکاح کې وې، په دوی کې دانصاف او برابرۍ خوهیڅ نوم اونخښه نه وه دکمې یوې سره چې به یې زړه لګیدی دهغې به یې پالنه کوله، او دچا څخه چې به یې مخ واوښتی، بیابه یې دهغې دحق هیڅ پرواه نه کوله.

(اسلام په ډیروالي دښځو ضروري پابندي ولګوله اودانصاف اوبرابرۍ قانون یې جاري کې)

قرآن دعامې معاشرې داعظیم ظلم بندکی، په ډیر والي دښځو یې پابندي ولګوله اوترڅلورو زیاتې ښځې یې په نکاح کې جمع کول حرام کړل اوکومې ښځې چې په یووخت کې په نکاح کې وي په دوی کې دبرابرۍ دحقونویې نهایت تاکیدي حکم وکی اوددې په خلاف دکولو یې دسختۍ سزاوعدې واورولې، په ذکرسوې آیت کې یې ارشاد وفرمایې، ﴿فَانكِحُواْ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاء مَثْنَى وَثُلاَثَ وَرُبَاعَ﴾ یعنې (کومې حلالې ښځې چې ستاسې خوښې وي دهغوی سره نکاح کولی سی، دوې دوې، درې درې، څلورڅلور، په آیت کې د مَاطَابَ لفظ راغلی دی، حسن بصري، ابن جبیر، اوابن مالك د مَاطَابَ تفسیر په مَاحَلَّ سره بیان کړي دی، یعنې کومې ښځې چې ستاسې دپاره حلالې دي، اوځینو حضراتو د مَاطَابَ دلفظي معنٰی په اعتبارسره د پسندیده یعنې خوښو سره ترجمه کړي ده، مګرپه دې دواړو کې څه تضادنسته، داورڅخه مراد کیدی چې کمې ښځې په طبعي طورسره ستاسې خوښې وي اوستاسې دپاره شرعًا هم حلالې وي، په دې آیت کې یې یوطرف ته دااجازت ورکی چې تریوې زیاتې دوې درې، څلور ښځې په نکاح کې جمع کولای سی دوهم طرف ته دڅلورو شمارته چې ورسیدی نودا پابندي یې هم وغورځوله چې ترڅلورو زیاتې ښځې په یووخت په نکاح کې نه سي جمع کیدی، دنبي کریم ﷺ بیان قرآني تخصیص اوپابندي

Maktaba Tul Ishaat.com

نوره هم زیاته واضحه کړه ، ددی آیت دنازلیدو څخه وروسته یو سړی غیلان بن اسلمه ثقفی رحمه الله مسلمانان سوه ، دغه وخت دده په نکاح کی لس ښځی وی ، هغوی هم مسلمانانی سوی ، نبی کریم ﷺ دقرآن دحکم مطابق ده ته حکم وکی چی په دی لسو کی څلور خوښی کړه نوری طلاقی کړه ، آزادی یی که غیلان بن اسلمه ثقفی دحکم مطابق څلور پاته کړی ، او نوری یی دځان څخه لیری کړی (مشکوة شریف ص ۲۷۴، په حواله دترمذی اوابن ماجه) په مسنداحمدکی ددی روایت په تکمله کی یوه بله واقعه هم ذکرده چی ددی ذکرکول به دفائدی څخه خالی نه وی ځکه چی ددی تعلق هم دښځو دحقونوسره دی اوهغه دا ده چی ، غیلان بن اسلمه دشرعی حکم مطابق څلور ښځی ساتلی وی، لیکن دفاروق اعظم رضی الله عنه دخلافت په زمانه کی ده هغوله هم طلاق ورکی اوخپل ټول مال اوسامان یی پرخپلو زامنو تقسیم کی ، فاروق اعظم رضی الله عنه ته ددی خبر ورسیدی، نودی یی حاضرکی اووی فرمایل ورته، چی تاددی ښځو دخپل میراث څخه دمحروم کولو دپاره داحرکت کړیدی، داسراسر ظلم دی په دی وجه فوراً ددوی دطلاقو څخه رجوع وکړه اوخپل مال دزامنو څخه بیرته واخله که تاداسی ونه کړل نو په یادساته چی تاته به سخته سزا درکول کیږی ، قیس بن الحارث اسدی رضی الله عنه فرمایی چی زه کله مسلمان سوم نوزمایه نکاح کی اته ښځی وی ، مایی نبی کریم ﷺ ته ذکروکی نوهغه ﷺ وفرمایل چی په دوی کی څلور پاته کړه پاتو لره طلاق ورکه (ابوداؤد ص۳۰۴) اوپه مسند امام شافعی رحمه الله کی دنوفل بن معاویه دیلمی رضی الله عنه واقعه نقل ده چی دی کله مسلمان سو نو دده په نکاح کی پنځه ښځی وی نبی کریم ﷺ ده ته هم دیوی ښځی دطلاقولو حکم ورکی ، داواقعه یی په مشکوة شریف ص ۲۷۴ کی هم دشرح السنة څخه نقل کړي ده ، دنبی کریم ﷺ اوصحابه کرامو رضی الله عنهم ددی عمل څخه دقرآن دآیت مراد بالکل واضح سوچی ترڅلورو زیاتو ښځو لره په نکاح کی جمع کول حرام دی .

﴿ درحمة للعلمين ﷺ دپاره دښځو ډیر والي ﴾

دحضوراقدس ﷺ ذات مبارك رحمت او برکت دی دده ﷺ درالیږلو ترټولو لوی مقصد دقرآن تبلیغ، داحکامو بیانول اودنفسونو پاکول وو ، ده ﷺ داسلام تعلیمات قولاً اوفعلاً (یعنی په ویلو اوکولو سره) په دنیا کی خپاره کړل یعنی ښوول به یی هم اوپه خپله به یی کول هم ، اوبیا خو دانسان دژوندیوه حصه هم داسی نسته چی دنبی کریم ﷺ دښوونی ضرورت په کی نه وی ، دامامت دلمانځه څخه واخله دښځو سره دتعلقاتو، دآل اواولاد پروربښت، اودلویو بولو تشوبولو اوتر اوداسه پوری ددی باره کی دده ﷺ دوینا اودعمل کولو دښوونو څخه دحدیث کتابونه ډك دی، په کورکی دننه یی څه کاروکی ؟ دښځو سره یی خلط ملط څنګه وساتی؟ اوکورته چی به ښځی راتلی اوپوښتنی به یی کولی، هغوته یی څه څه جوابونه ورکړل ، دغه ډول په سوونو معاملی دی چی دپاکو بیبیانو (رض) په ذریعه امت ته ښوول سوي دی ددینی تعلیم اوتبلیغ دضرورت په وړاندی دنبی کریم ﷺ دپاره دښځو ډیروالی یوضروری امرو ، یوازی دحضرت عائشی رضی الله عنها څخه داحکامو، مسئلو، اخلاقو اوآدابو اودسیرت نبوی ﷺ متعلق دوه زره دوه سوه لس (۲۲۱۰) احادیث روایت سوي دی چی داحادیثوپه کتابونوکی لیدل کیږی دحضرت امه

Maktaba Tul Ishaat.com

سلمه ﷺ درروایتونو شمارد ری سوه اته اویا(۳۷۸) وو ته رسیدلی دی حافظ ابن قیم په اعلام الموقعین
(ص۹ ج۱) کی لیکلی دی چی که دحضرت ام سلمه ﷺ فتواوی جمع سوی کومی چی دی ﷺ دنبی کریم ﷺ
تر وفات وروسته ورکړي دی نو پوره یوه رساله به ورڅخه جوړه سی ، دحضرت عائشی ﷺ روایتونه ،
عقل، پوهه اوفتواوی کومی چی ترتیب سویدی، هغه دبیان محتاجه نه دی ، ددی دشاګردانو شمیر دوه
سوه ۲۰۰ ته رسیدلی دی ، دنبی کریم ﷺ دوفات څخه وروسته پرله پسی تر اته څلویښتو ۴۸ کالو پوری
دی ددین علم خپور کړي دی ، دا خو دمثال په ډول سره د دوو پاکوبیبیانو (رض) حال ولیکل سو دنورو
پاکو بیبیانو (رض) روایتونه هم په مجموعی ډول سره په ډیر شمیرکی موجود دی ښکاره خبره ده چی ددی
دومره تعلیم اوتبلیغ نفع یوازی دپاکو بیبیانو(رض) په ذریعه امت ته رسیدلی ده ، داسلام دپیغمبرانو
علیہم السلام لوړمقصدونه او دټول مخلوق دانفرادی او اجتماعی ، کورنی اوملکی فآندو فکرونه ددنیا یو
شهوت پرسته انسان څه پیژندلی سی ، دی خو هر څه په خپل ځان قیاس کوی ، په دی نتیجه کی دځو
صدیو څخه دیورپ بی دینو مستشرقیانو دخپلی بی ایمانی په وجه دنبی کریم ﷺ دښځو ډیروالی خالص
جنسی اونفسانی خواهش مقرر کړي دی ، که دحضور ﷺ پرسیرت باندی یوسرسری نظرهم واچول سی
نویو هوښیار اوانصاف داره مزاج لرونکی به هم هیڅکله دده ﷺ دښځو ډیروالی په دی حمل نه کړی ،
دده ﷺ معصوم (پاك) ژوندمکی دقریشوپه مخکی داسی تیرسوچی دپنځه یشتو کالوپه عمر کی یوه
پخه داولاد مورکونډه (چی دوه خاوندان یی وفات سوی وه) په نکاح واخسته اوپنځه ویشت کاله یی
دهغی سره ګذاره وکړه اوهغه هم داسی چی په میاشت میاشت به یی کور پرییښی، په غارحراء کی به په
عبادت مشغول وو ، نوری نکاحی چی یی هرڅومره سویدی نودپنځوسو کالو دعمرڅخه وروسته سوی
دی داپنځوس کاله ژوند اودځوانی زمانه یی دمکی دخلقو دنظرپه وړاندی وه ، هیڅکله هم یوه دښمن
ته دنبی کریم ﷺ په طرف دیوداسی شی دنسبت کولو موقع نه ده پیداسوی چی دده ﷺ په تقوی اوپاکی
کی څه شك پیداکړل سی دده دښمنانو په ده دساحر، شاعر، مجنون، درواغجن، دځان څخه جوړونکی
الزامات بی انتها لګولی دی ، لیکن دده په پاك ژوندیی دیو داسی حرف لګولو زړه ورتیانه ده کړی چی
تعلق یی دجنسی اونفسانی خواهشاتو دبی لاری کیدو سره وی ، په دی حالاتوکی دا خبره دفکرکولو
طلب کوونکی نه ده یوڅه ؟ چی دځوانی پنځوس کاله یی په داسی زهداوتقوی اوددنیا دخوندو څخه پر
څنګ تیر سوه بیاهغه کمه داسی خبره وه چی په آخرعمرکی یی دی په ډیرو نکاحونو کولو باندی
مجبوره کی ، که په زړه کی لږشان انصاف هم وی نو ددی ډیرو نکاحونو وجه ددی څخه ماسو بله نه سی
ښوول کیدی ، دکومی چی لوړذکر سوی دی اودښځو ددی ډیر والی حقیقت هم واوری چی څنګه راپیدا
سو ، دپنځه ویشتو کالودعمر څخه واخله تر پنځوسو کالو دعمر شریف پوری یوازی حضرت خدیجه ﷺ
دده ﷺ بی بی پاته سویده ، ددی دوفات څخه وروسته حضرت سوده اوحضرت عائشه ﷺ دده ﷺ په
نکاح کی راغلی حضرت سودی ﷺ خودده ﷺ کورته تشریف راوړی اوحضرت عائشه ﷺ دکوچنیوالی په
وجه دپلارپه کورکی پاته سوه ، بیایوڅو کاله وروسته په سنه ۲ هـ کی په مدینه منوره کی دحضرت

عائشي ﷺ واده وسو ، دغه وخت دحضور ﷺ عمر څلور پنځوس کاله سوی وو ، او دوی بيبياني يي په دي عمرکي جمع سوی ددی وخت څخه دښځو دډېروالي معامله شروع سوه ، ددی څخه يوکال وروسته دحضرت حفصي ﷺ سره نکاح وسوه ، بياڅو مياشتي وروسته دحضرت زينب بنت خزيمه ﷺ سره نکاح وسوه ، او دا بي بي ﷺ يوازي اتلس مياشتي دده ﷺ په نکاح کي پاته سوه او بيا وفات سوه ، ديوه قول مطابق دري مياشتي دده ﷺ په نکاح کي ژوندی پاته سوی ده ، بياپه سنه ۴ هـ کي دحضرت ام سلمه ﷺ سره نکاح وسوه ، دا وخت دحضور ﷺ عمر اته پنځوس ۵۸ کاله سوی وو اوپه دومره لوی عمرکي يي يوازي څلور بيبياني جمع سوی حال دادی امت ته چي کوم وخت دڅلورو بيبيانو اجازت سوی وو ، دغه وخت خوده کم ازکم څلور نکاحي خوکولی سوای ، ليکن ده ﷺ داسي ونه کړل ، ترددي وروسته په سنه ۲ هـ کي دحضرت جويريه ﷺ سره اوپه سنه ۷ هـ کي دحضرت امي حبيبه ﷺ سره ، اوبيا په سنه ۷هـ کي دحضرت صفيه ﷺ سره ، بياهم په دي کال کي دحضرت ميموني ﷺ سره نکاح وسوه .

لنډه دا : چي دڅلور پنځوسو ۵۴ کالو ترعمر پوري ده يوازي ديوی بي بي سره ګذاره وکړه ، يعني پنځه ويشت کاله يي دحضرت خديجي ﷺ سره اوڅلور پنځه کاله يي دحضرت سودي ﷺ سره تيرکړل، بيادا ته پنځوس ۵۸ کالو په عمرکي يي څلور بيبياني جمع سوی اوپاته بيبياني د دوو درو کالوپه عمر کي دنبوت حرم ته راغلي ، اوداخبره په خاص طورسره ديادوني وړده چي په دي ټولو بيبيانوکي يوازي يوه بي بي داسي وه چي په انجلۍ والي کي ورسره نکاح وسوه يعني دمومنانو مور حضرت عائشه صديقه ﷺ ددي علاوه پاته ټولي پاکي بيبياني کونډي وی ، چي په دوی کي دځينو دوه دوه خاوندان مخکي تير سوی وه اوبيا داشمير هم په آخری عمرکي راغلی جمع سو ، صحابه وو حضراتو ﷺ سرو اوښځو ټولوپه ده خانونه قربانوله ، که ده ﷺ غوښتي نوټولي بيبياني به يي انجوني جمع کړی وای ، بلکه دهري يوی يوی ، دوو دوو مياشتوڅخه وروسته ورته دبدلولو موقع هم وه ليکن ده ﷺ داسي ونه کړل ، دارنګه دا خبره هم دذکر قابله ده چي نبی کريم ﷺ دالله ﷺ برحق نبی دی اونبی دهَوَا اوهَوَس ملګری نه وی ، هرڅه چي کوی دالله ﷺ په اجازت سره يي کوی ، نو دنبی منلوڅخه وروسته هر اعتراض ختميږی اوکه يوسړی دی نبی نه منی او دا الزام ولګوی چي محضي دشهوت پرستي په وجه سره يي دځپل ځان دپاره ډېری ښځي جائزي کړی وی نوده ته به داسي وويل سي چي که خبره داسي وی نوده ﷺ به بيادځان دپاره دښځو دډېروالي په معامله کي دهغه پابندی اعلان ولي وفرمايي چي ذکريي دقرآن شريف په آيت ، لاَ يَحِلُّ لَكَ النِّسَآءُ مِنْ بَعْدُ کي موجود دی ، دځپل ځان په حق کي ددی پابندی اعلان ددی خبری ښکاره دليل دی چي ده ﷺ هرڅه چي کړيدی دځپل رب ﷺ په اجازت سره يي کړي دی ، دښځو دډېروالي په وجه چي کومي تعليمي اوتبليغي فائدی امت ته حاصلي سوی اوکوم احکام چي امت ته ورسيدل، ددی جزئيات په دومره ډېرشمارکي دی، چي شماريي ګران دی ، داحاديثو کتابونه پردی شاهددی، البته دځينو نورو فائدو وطرف ته دلته مونږ اشاره کوو ، دحضرت ام سلمه ﷺ دخاوندحضرت ابوسلمه ﷺ تر وفات وروسته ده ﷺ ددی سره نکاح کړی وه ، دی دځپل زوړ خاوند دکوچنيانو سره دحضور ﷺ کور ته تشريف راوړی ، ددی

Maktaba Tul Ishaat.com

دکوچنیانو حضور ﷺ پرورښت وکې او په خپل عمل سره یې داوښووله چې په خومره مینه اومحبت سره یې دبچندرانو پالنه وکړه او امت ته یې وښووه ، دده ﷺ په بیبیانوکې ګوازی دایوه بی بی داسې ده، چې دکوچنیانو سره راغله که یوه بی بی هم داسې نه وای نو دعمل په لحاظ سره به دبچندرانو دپرورښت خانه خالي پاته سوې وای ، او امت ته به په دې سلسله کې هیڅ هدایت نه وای پیدا سوی ، ددې زوی حضرت عمر بن ابی سلمه فرمايي چې ما دنبی کریم ﷺ په غیږه مبارکه کې پرورښت موندلی دی یو وخت ما دده ﷺ سره خوراك خوړی، په پیاله کې به می هرخای ته لاس اچوی ، دده ﷺ راته وفرمایل ، سَمِّ اللّٰهَ وَكُلْ بِيَمِيْنِكَ وَكُلْ مِمَّا يَلِيْكَ (دالله ﷺ نوم اخله اوخوراك کوه ، په راسته لاس خورراك کوه ، او دخپل مخ څخه خوراك کوه) (بخاري ، مسلم په حواله دمشکوٰة ص۳۶۳) حضرت جویریه ﷺ په یوه جهادکې په قیدیانو کې راغله ، دنورو قیدیانو په شان داهم تقسیم سوه اودثابت بن قیس ﷺ یادده داکا دزوی په حصه کې ورسیده ، لیکن دی دخپل مالك سره داسې معامله وکړه چې دومره دومره مال به تاته درکړم ماآزاده کړه ، دامعامله یې وکړه اوحضور ﷺ په خدمت کې حاضره سوه اودمال کومك یې ورڅخه وغوښتې ، حضور ﷺ ورته وفرمایل تردې ښه خبره درته ونه کم؟ هغه داچې زه به ستا دطرف څخه مال ادا کړم اوستاسره به نکاح وکړم هغې په خوشحالي سره منظوره کړه نو دده ﷺ دهغې دطرف څخه مال اداکې اونکاح یې ورسره وکړه ، ددې دقوم په سوونو سړی داصحابو ﷺ په ملکیت کې راغلي وه ، څکه چې دوی ټول قیدیان سوي وه ، هرکله چې صحابه وو ﷺ ته درك ولګیدی چې حضرت جویریه ﷺ حضور ﷺ په نکاح واخیسته، نودنبی کریم ﷺ داحترام په وجه ټولو خپل خپل غلامان اومینځی آزادی کړی ، سبحان الله دصحابه کرامو ﷺ داداب څومره شان وو ددې جذبې په بناء چې داخلق اوس دنبي کریم ﷺ خُسرګنی سوه دوی به اوس څنګه غلامان ساتو، ټول یې آزادکړل ، حضرت عائشه ﷺ ددې واقعې په متعلق فرمايي .

فَلَقَدْ اَعْتَقَ بِتَزْوِيْجِهِ اِيَّاهَا مِائَةَ اَهْلِ بَيْتٍ مِنْ بَنِي الْمُصْطَلِقِ فَمَا اَعْلَمُ امْرَأَةً اَعْظَمَ بَرَكَةً عَلٰى قَوْمِهَا مِنْهَا ،

دنبی کریم ﷺ دجویریي ﷺ سره په نکاح کولوسره دبني المصطلق سل کورنی آزادی سوی مایوه ښځه داسې نه ده لیدلې چې تر جویریي ﷺ زیاته دخپل قوم دپاره لویه برکت والاثابته سوې وی .

حضرت ام حبیبه ﷺ دخپل خاوندسره په اول داسلام کې په مکه کې اسلام قبول کړی وو ، اوبیادواړو ښځي اوخاوند حبشې ته دقافلې سره هجرت وکې ، هلته ددې خاوند نصراني سواو څوورځې وروسته مړ سو ،نبي کریم ﷺ دنجاشي په واسطه سره دې ته دنکاح پیغام ولیږی ، هغه دی قبول کی اوهلته په حبشه کې نجاشي دنبي کریم ﷺ سره ددې نکاح وکړه ، زړه راکشونکې خبره دا ده چې حضرت امه حبیبه ﷺ داابوسفیان ﷺ لور وه اوحضرت ابوسفیان ﷺ دغه وخت دهغه ډلې مشررو، چاچې داسلام دښمنی خپل تر ټولو لوی مقصد مقررکړی وو اوده مسلمانانوته اوپیغمبر ﷺ ته دضرر ورکولو اودفنا کولو دپاره موقع هم دلاس څخه نه پاته کوله هرکله چې ده ته ددې نکاح خبر ورسیدی ، نوبې اختیاره یې تر ژبې دا الفاظ ووتل ، هُوَ الْفَحْلُ لَا يُجْدَعُ اَنْفُهُ (یعنی محمد ﷺ ځوان مرد دی ، دهغه پزه نه سی پریکیدی) مطلب دا دی چې هغه اوږدې پوزې والا عزتمند دی، دهغه ذلیل کول آسان نه دی ، دیخواته مونږ دهغه

Maktaba Tul Ishaat.com

دذلیل کولو تیاری کوو او هاخوا ته زمالور دهغه په نکاح کی ورغله غرض دادی چی دی نکاح دیو نفسیاتی،
جنگ اثر وکی او د اسلام په مقابله کی دکفر دقیادت کوونکی حوصلی یی کمزوری کړی ، ددی نکاح په
وجه چی کمه سیاسی فائده اسلام او مسلمانانو ته ورسیده ، دهغه داهمیت او ضرورت څخه انکار نه سی
کیدی، او په یقین سره ویل کیږی چی دخدای پاك ﷺ دی پوه او تدبیر کوونکی پیغمبر ﷺ به خامخا دا
فائده په نظر کی ساتلی وی ، دا یو ځو خبری ولیکل سوی ، په دی سربیره چی څوك په سیرت باندی
پوهیږی ، هغوی ته په دی کی نور هم ډیر حکمتونه دحضور ﷺ دبیبیانو په ډیروالی کی پیدا کیدی سی،
په دی سلسله کی دحکیم الامت قدس سره رساله (کثرت ازواج لصاحب المعراج) لیدل او کتل هم فائده
مندی ، داتفصیل مونږ دبی دینو مستشرقینو دخپور کړی ددوکی او فریب دجال دپریکولو دپاره لیکلی
دی ځکه چی ددوی دتگی په دام کی ډیر هغه تعلیم یافته او ناپوهه مسلمانان هم مبتلی چی دسیرت نبوی
ﷺ او تاریخ اسلام څخه ناخبره دی او د اسلامیاتو علم یی دمستشرقینو دکتابونو څخه حاصل کړي دی.

(که په ډیرو بیبیانو کې په برابری او انصاف باندی قادر نه وی نو په یوه بي بي دی صبر کوی)

ترخلورو بیبیانو پوری یی اجازت ورکی په آخرکی یی وفرمایل ، فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ
یعنی که ستاسی سره دا بیره وی چی عدل به ونه سی نو په یوه بیبی بس والی کوی یا چی کومه مینځه
دشرعی اصولو پرمطابق ستاسی په ملك کی وی په هغه گذاره کوی ، ددی څخه معلومه سوه چی تر یوی
زیات نکاحی کول په هغه صورت کی جائز او مناسب دی ، هرکله چی دشریعت په مطابق په ټولو بیبیانو
کی برابری کولی سی او دټولو دحقونو لحاظ ساتلی سی که چیری پردی یی قدرت نه وی نو یوازی یوه
بی بی دی ساتی ، دجاهلیت په زمانه کی داظلم عام وو دیوه یوه سری به څوڅو بیبیانی وی چی بیان یی
ددی آیت په ضمن کی اول تیری سوي دی او دبیبیانو دحقونو او برابری او عدل به یی مطلقاً خیال نه
ساتی ، چاته چی به یی زیات میلان وسو ، دهغی به یی په هر حیثیت سره پالنه کوله او خوشحاله به یی
ساتله او دنورو دحقونو به یی هیڅ خیال نه ساتی ، قرآن کریم صفا وفرمایل چی که عدل نه سی کولی نو
صرف یوه بی بی ساتی یا په مینځه گذاره کوی دلته داخبره دذکر کولو قابله ده چی کومه مینځه چی ذکر
یی په قرآن شریف کی او په دی آیت کی دی ددی خاص شرطونه دی ، چی نن صبا دغه شرطونه نسته ،
نو په دی وجه په دی زمانه کی چاته شرعی مینځه ویل او بی نکاح یی ساتل حرام دی ، ددی تفصیل
اوس دامقام نه دی ، حاصل دادی چی که څه هم چی قرآن کریم ترخلورو ښځو پوری په نکاح کی دساتلو
اجازت ورکړي دی او په دغه حد کی دننه چی هر څو نکاحونه وسی هغه به صحیح او جائزوی ، لیکن دډیرو
بیبیانو دساتلو په صورت کی په دوی کی عدل او برابری قائم ساتل واجب دی، او ددی خلاف کول عظیمه
گناه ده نو هرکله چی تر یوی دزیاتو نکاحونو کولو اراده وکی نو اول دخپلو حالاتو معلومات واخله چی
دټولو حقونه به هم په عدل او مساوات سره پوره کولی هم سی او که نه ، نو که دا احتمال غالب وی چی
عدل او مساوات به قائم ونه ساتل سی نو تر یوه زیات نکاح کول خپل ځان په عظیمه گناه کی اخته کول
دی نو ځان ورڅخه ساتل په کار دی او په یوی بی بی صبر کول په کار دی ، لنډه دا ده چی که چاتر څلورو

Maktaba Tul Ishaat.com

دزیاتو ښځو سره په یووخت یعنی په یوه ایجاب او قبول سره نکاح وکړه نو دغه نکاح به بالکل باطله وی ځکه چی دڅلورو ځخه دزیاتو سره دنکاح هیڅ اجازت نسته او چی په څلوروکی دننه وی نوبه سی ، لیکن که په ښځیانوکی عدل اوبرابری قائمه نه ساتی نو سخت ګناهګاربه وی اودکومی ښځی چی یی حق وهل کیږی ، هغه دقاضی په عدالت کی دعوه کولی سی اوخپل حق حاصلولی سی ، نبی کریم ﷺ په ټولو ښځیانوکی دبرابری او انصاف کولو سخت تاکید فرمایلی دی اوددی په خلاف کولویی دید سخت عذاب وعدی فرمایلی دی ،او په خپله یی دخپل عمل په ذریعه هم واضحه کړي ده ، بلکه نبی کریم ﷺ په هغو معاملوکی هم برابری ساتل په کوموکی چی برابری لازمه نه ده،په یوحدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد مبارك دی چی دکوم سړی په نکاح کی دوی ښځی وی او د دوی په حقونوکی دی برابری اوانصاف نه کوی نو دی به په قیامت کی داسی پورته سی چی دده یو اړخ به فالج وهلی اووچ سوی وی (مشکوٰة ص ۲۷۸) البته دابرابری په هغه کارونوکی ضروری ده کم چی دانسان په اختیارکی وی ، مثلاً په نفقه کی برابری، په شپه کی برابری، پاته سوهغه کارچی دانسان په اختیارکی نه وی، مثلاًدزړه میلان یی یوه طرف ته زیات سی ، نو په دی غیراختیاری معامله کی پرده څه مواخذه نسته ، په دی شرط چی ددی میلان اثر په اختیاری معاملوپری نه وزی ، نبی کریم ﷺ په خپله هم په اختیاری معاملوکی سره دپوره برابری دقائم ساتلو دالله ﷻ په دربارکی عرض وکی ، اَللّٰهُمَّ هٰذَا قَسْمِیْ فِیْمَا اَمْلِكُ فَلَا تَلُمْنِیْ فِیْمَا تَمْلِكُ وَلَآ اَمْلِكُ یاالله ! دا زما تقسیم دی دبرابری په هغه شیانوکی چی زماپه اختیارکی دی اوس هغه شی چی ستاپه قبضه کی دی زماپه اختیارکی نه دی پرهغه باندی مامه نیسه ښکاره خبره ده چی پرکم کارباندی یورسول معصوم هم قادرنه دی په هغه باندی بل څوك څنګه قادرکیدی سی، په دی وجه دقرآن شریف په بل آیت کی یی ددی غیری اختیاری معاملی ذکر په دی شان سره کړي دی ،وَلَنْ تَسْتَطِیْعُوْٓا اَنْ تَعْدِلُوْا بَیْنَ النِّسَآءِ ، دښځوپه مینځ کی تاسی پوره برابری هیڅکله نه سی کولی ، په دی کی یی داوښوولـه چی دزړه میلان اومحبت یوغیر اختیاری معامله ده په دی کی برابری کول دانسان ترطاقت وتلی دی ، لیکن مخ ته ددی غیر اختیاری معاملی داصلاح دپاره فرمایی، فَلَا تَمِیْلُوْا كُلَّ الْمَیْلِ یعنی که دیوی بی بی سره زیات محبت وی ، نوپه دی کی خو تاسی معذور یاست، لیکن دبلی بی بی ځخه بی پروایی اوهغی ته هیڅکله مخ نه وراړول په دی صورت کی هم جائزنه دی ددی آیت په جمله ، فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تَعْدِلُوْا فَوَاحِدَةً کی چی دکوم انصاف اوبرابری بیان دی دا هغه اختیاری کارونه دی دعدل چی په دی کی عدل نه کول عظیمه ګناه ده اوکوم سړی ته چی په دی ګناه کی داخته کیدو خطره وی ، ده ته داهدایت سوي دی چی تریوی زیاته نکاح دی نه کوی .

یوه شبه اودهغي جواب: ددی لوړتفصیل اوتشریح کوم چی ذکر یی وسو ددي په نظرکی نیولو سره ځینی خلق دسورة نسآء دذکرسوی آیت اوددی آیت دیوځای کولوسره په یوه عجیبه غلطی کی اخته سول، هغه داچی دسورت نسآء په آیت خوداحکم ورکول سو چی که دانصاف اوبرابری دقائم نه ساتلو ییره وی نوبیاپر یوه نکاح باندی بس والی کوی، اوپه دی دوهم آیت کی یی په قطعی طورسره داواضحه کړه چی انصاف اوبرابری خوبالکل کیدی نه سی نونتیجه یی داسوه چی تریوه زیاته نکاحه مطلقاً جائز پاته نه

Maktaba Tul Ishaat.com

سره ،دوی لره سوچ کول په کار دی چی که دالله ﷻ مقصد ددی ټولو آیاتونو څخه ترېوی زیاتی نکاحی بندول وی ، نو بیاتفصیل بیانولوته ضرورت څه وو، چی ، فَانكِحُوا مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاءِ مَثْنٰى وَثُلاثَ وَرُبَاعَ (یعنی په نکاح کوی کومی چی ستاسی خوښی ښځی دوی، دوی، دری دری، څلورڅلور.) اوبیاددی ارشاد څه معنٰی ده چی: فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تَعْدِلُوا (معنٰی که تاسی ته دبی انصافی خطره وی) ځکه چی په دی صورت کی خوبی انصافی یقینی ده نوبیا دخطری کیدو خوهیڅکله معنٰی باقی نه پاته کیږی ، (اوبیادنبی کریم ﷺ اوصحابه کرامو ﷺ عملی اوقولی بیان اوپرله پسی په دی باندی عمل کول هم په دی باندی شاهد دی چی ترېوی زیات نکاحی په یوه وخت کی هم په اسلام کی نه دی بندی کړه سوی ، خبره هم دغه ده کمه چی لوړه بیان سویده چی دسورة نسآء په اول آیت کی په اختیاری کارونو کی دانصاف او برابری کولو ذکردی اوپه دوهم آیت کی په محبت اودزړه په میلان کی په برابری باندی دقدرت نه راتلو بیان دی نوپه دی وجه په دواړو آیتونوکی کی نه څه تعارض (ټکر) سته او نه په دی آیتونوکی کی مطلق دښځو دډیروالی دممانعت څه دلیل سته ، دآیت په ختمیدو بی ارشاد وفرمایی ، ذٰلِكَ اَدْنٰى اَلَّا تَعُوْلُوْا په دی آیت کی دوی کلمی دی یوه کلمه د اَدْنٰى دا لفظ د دُنُوْ څخه مشتق دی چی دقریب (یعنی نژدی) په معنٰی کی دی ، او دوهم لفظ : لَا تَعُوْلُوْا د عَالَ يَعُوْلُ، مَالَ يَمِيْلُ په معنٰی دی، چی معنٰی بی میلان دی ، اودلته دناجائز میلان اوظلم اوزیاتی په معنٰی کی استعمال سوي دی ، مطلب دا دی چی په دی آیت کی چی څه تاسی ته ښوول سوی دی (یعنی دعدل نه کولوپه صورت کی پریوه بی بی بس کول یاپه مینځه باندی گذاره کول) دا داسی شی دی چی ددی په اختیارولو اوپه دی په عمل کولوسره تاسی دظلم څخه خلاصیدی سی او دزیاتی اوظلم کولو موقعی به ختمی سی ، دلته یوه شبه دا ده چی هرکله یوه بی بی وی نو دظلم به بالکل موقع نه وی نوبیاپه لفظ دادنٰی زیاتولو سره بی داولی وفرمایل چی په دی عمل کول دی خبری ته نژدی دی چی تاسی ظلم ونه کی، بلکه داسی فرمایل په کار وه چی تاسی به بالکل ددی ظلم څخه خلاص سی ددی جواب دا دی چی په لفظ د اَدْنٰى زیاتولوسره بی ددی طرف ته اشاره وفرمایله چی چونکه ډیرخلق پر یوه بی بی هم ډیرظلمونه اوزیاتی کوی ، په دی وجه دظلم دلاری بندولو دپاره یوازی داپوره نه ده چی تاسی ترېوی زیاته نکاح مه کوی ، هوا دا ضروری ده چی په دی صورت کی به دظلم خطره کمه سی اوتاسی به عدل ته نژدی سی اودظلم اوزیاتی څخه به مکمله خلاصی هغه وخت وی چی کله دیوی بی بی حقونه پوره اداکړل سی اوددی سره دنیک سلوك معامله وسی ترکمزوریو یی معافی اودرگذر وسی اوددی پرکوږوالی باندی صبر وسی (خو افسوس چی نن صبا اکثره خلق په دی قرآنی تعلیماتو هیڅ عمل نه کوی او اکثره په بی تعلیمه کورنو کی دا ظلم ډیر زیات دی)

وَاٰتُوا النِّسَاءَ صَدُقٰتِهِنَّ نِحْلَةً ۚ فَاِنْ طِبْنَ لَكُمْ

ورکوی ښځو ته	مهرونه د دوی	په خوشحالی سره ،	بیا که هغوی ددې څخه څه شی

Maktaba Tul Ishaat.com

عَنْ شَیْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوْهُ هَنِیْٓـًٔا مَّرِیْٓـًٔا ﴿۴﴾

پریږدی تاسی ته پخپله خوښی سره نو خوری دغه خوندور خوش خونده .

دآیتونو تړون: په تیرآیت کی دډیروالی دښځوپه وجه چی په ښځو کوم ظلم کیدی دهغه لیری کول وو ، په دی آیت کی دښځو دیوخاص حق ذکر دی او په دی کی چی کوم ظلم اوزیاتی کیدی دهغه لیری کول دی او دا حق مهر دی .

لنډتفسیر: تاسی خلق بیبیانو ته دهغوی مهر دزړه په خوشحالی سره ورکوی ، البته که دغه بیبیانی دزړه په خوشحالی سره څه پریږدی تاسوته ددغه مهرڅخه څه حصه (اوداحکم دټول مهرهم دی) نو (په دی حالت کی) تاسی هغه خوری (استعمالوی) خوندور او خوش خونده یی ګڼی .

معلومات اومسئلي: دمهر متعلق به په عربوکی څوقسمه ظلم کیدی ، یو دا چی مهرکوم چی دانجلۍ حق دی دابه یی نه ورکوی ، بلکی دانجلۍ اولیاوو به دخاوند څخه وصولوی، چی سراسر ظلم وو ، ددی ددفع کولو دپاره قرآن کریم وفرمایل ، وَاٰتُوا النِّسَآءَ صَدُقٰتِهِنَّ یعنی ښځوته د دوی مهر ورکی ددی مخاطب خاوندان هم دی چی دوی خپلو بیبیانوته مهرپه خپله ورکی، اونورچاته دی نه ورکوی او دانجونو اولیاء هم دی چی که دانجونو مهردوی وصول کړی نودادی خاص انجونوته ورکوی ددی داجازت څخه بغیر دی په خپل تصرف کی نه روالی دوهم ظلم داهم ووچی هرکله چی که به چامهر ورکوی هم ، خوډیرپه تریو تندی، بی زړه اولکه چی یوتاوان څوك اداکوی، داسی به یی ورکوی ددی ظلم دلیری کولو دپاره یی په آیت کی لفظ دنِحْلَةً وفرمایی، ځکه چی نحله په لغت کی هغه ورکولوته وایی چی دزړه په خوشحالی سره وی غرض دادی چی په دی آیت کی یی داتعلیم وفرمایی چی دښځو مهر یوواجب حق دی ددی ورکول ضروری دی اولکه څنګه چی دنورو واجبو حقونو اداکول دزړه په خوشحالی سره ضروری دی ، دغه شان مهرهم ګڼل په کاردی دریم ظلم به دمهرپه باره کی داکیدی چی ډیرو خاوندانوبه داګڼل چی ښځه خوده ته مجبوره ده، مخالفت کولای نه سی، نو زورګیرنه بی یی پرکوله مهربه یی په معاف کی چی په حقیقت کی په دی سره معافی نه کیده لیکن دوی به داګڼله چی بس مهر معاف سو ، ددی ظلم دبندولو دپاره په ذکرسوی آیت کی یی ارشاد وفرمایی ، فَاِنْ طِبْنَ لَكُمْ عَنْ شَیْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوْهُ هَنِیْٓـًٔا مَّرِیْٓـًٔا یعنی دغه ښځی که دزړه په خوشحالی سره دخپل مهرڅه حصه تاسولره درکی نو تاسی دغه خوړی سی ستاسی دپاره به مبارکه وی مطلب دادی چی دجبر اوزور اوتکلیف په ذریعه معافی حاصلول هیڅ شی نه دی په داسی کولوسره هیڅ نه معاف کیږی ، لیکن که هغه بالکل پخپل اختیار اورضامندی سره څه حصه دمهرمعاف کی یا تراخستلو وروسته یی بیاتاسی ته واپس کی نودغه ستاسی دپاره جائز او صحیح دی ، داذکر سوی ظلمونه دجاهلیت په زمانه کی ډیر زیات وه، چی ددی بندیزی قرآن شریف په دی ذکرسوی آیت کی وفرمایل افسوس دی چی دجاهلیت دزمانی داخبری په مسلمانانوکی اوس هم موجودی دی په مختلفو قبیلو اوعلاقوکی ددی ظلمونو څخه څه ناڅه ظلم ضرور پیدا کیږی ، ددی ټولو

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه ځان ساتل لازم دی په آیت شریف کی چی کم قید دطیب نفس لګول سوي دی، چی که په خوشحالی سره ستاسی ښیبیانی دمهرڅه حصه تاسی ته درکړی یایی ستاسی څخه ونه غواړی نوتاسی دغه خوړلی سی په دی کی یو ډیرلوی رازدی خبره داده چی دشریعت دااصول دی چی دیوچایوه ذره غوندی مال هم بل لره حلال نه دی ترڅوچی دطیب نفس په اجازت سره نه وی په طور دقاعدی کلیی حضور ﷺ فرمایلی دی.

اَلاَ لاَ تَظْلِمُوْا اَلاَ لاَ یَحِلَّ مَالُ امْرِءٍ اِلاَّ بِطِیْبِ نَفْسٍ مِّنْهُ (مشکوٰة شریف ص ۲۵۵)

خبردار ظلم مه کوی ، اوپه ښه ډول سره پوه سی چی دیوچا مال (دبل سړی دپاره) حلال نه دی ترڅو چی دده دنفس په خوشحالی سره حاصل نه سی.

دا یو عظیم اصول دی او تردی لاندی ډیر جزئیات راځی ، په دی حاضروخت کی چونکه ښځی داګنی چی مهر نه ور رسیږی ، نو که یی وغواړم اومعاف یی نه کړم ، نوخفګان اوتاوان ورڅخه جوړیږی ، په دی وجه زړه یی نه غواړی خومعاف یی کی ، ددی معافی هیڅ اعتبار نسته ، حکیم الامت قدس سره به فرمایل چی په صحیح معنٰی کی دطیب نفس دمعافی پته په هغه صورت کی لګیدی سی، چی دمهر پیسی ښځی ته حواله کړل سی اوتردی وروسته یی هغه په خوشحالی سره بغیردڅه تکلیف څخه ورکړی اوداسی طیب نفس دخوندواوبیبیانوپه معامله دمیراث کی هم ګټل په کار دی اکثرداسی کیږی چی دمور یاپلار په وفات کیدو باندی هلك یاهلکان قبضه وکی اوانجونو لره حصه نه ورکوی اوکه یوځوك ځان دیندارہ ګڼی نوپه خوندو باندی یی معاف کړی اوهغوی خودا ګڼی چی ماته خودغسی هم پرهیڅ حال رسیدونکی نه ده خپله حصه، نوپه دی وجه دخپلی خوښی خلاف یی معاف کوی اوبیادپلارپه وفات کیدوباندی دښځی حصه هم نه ورکول کیږی اومیری (ناسکه مور) ته خودسره څه نه ورکوی،دا ټول دحقونو په زور اخستل دی ، که څوك یی په طیب نفس سره معاف کړی نوبیامعاف کیدی سی چی ددی ښبانه لوړه تیره سوي ده (خو دلته داخبره هم دفکرکولو قابله ده چی دخوندو اوښځو څخه خویی دوی په معاف کولوسره خپلوی اووایی چی اوس دامعاف سو ، خوعجیبه خبره دا ده چی یو ورورخوهیڅکله هم خپله حصه دمیراث بل ورورته نه بخښی بلکه یوبل په وژنی اوخور یی معاف کوی ، خو ددی اصلی وجه دا ده چی خورته حصه نه ملاویږی نو دهغه بله لارنسته ، که نه نو دی دی ورلره ورکړی چی دهغی دایقین راسی چی زماحصه ماته رسیږی ، نولکه دورورپه شان بیابه یی داهم معاف نکی ، خوهغه غریبه څه وکی لکه دورورپه شان په زوریی اخستی نه سی، ځکه چی رواج نه دی اوپه خوښه یی څوك ورکوی نه نوچی معاف کوی یی نه نوڅه وکی) زما بادارحکیم الامت قدس سره دا هم فرمایلی دی چی په دی سلسله کی دطیب نفس ذکردی دطیب قلب نه دی ، نوپه دی وجه دیوچا دمال دحلالیدو دپاره دزړه خوشحالی پوره نه ده ، کوم خلق چی رشوت یاسود ورکوی په دی کی ډیری ظاهری نفعی ګڼی نوپه عقلی طور سره دګټی په حساب سره په رشوت اوسودکی مال لګوی لیکن داخوښی معتبره نه ده که دنفس څخه پوښتنه وسی نونفس قطعًاپه دی خرڅ راضی نه وی په دی وجه یی طیب نفس فیصله کوونکی مقررکړی دمسجد مدرسی یادبل ضرورت دپاره که چنده کول کیږی نو په هغه کی دورکونکی دطیب نفس خیال ساتل په کار دی ، د

ورورولی، مشر، سردار یاهینت تردباو لاندی که څوك چنده ورکړی اوطیب نفس په کی نه وی نو دغه چنده په کارکی لګول حلال نه دی، بلکه هغه بیرته ورکول دی ، په آیت کی چی کوم لفظ د صَدُقٰت راغلی دی صَدُقَةٌ (په فتح دَصاد اوپه ضمه ددال) جمع ده ، صَدُقَةٌ اوصُدَاق دښځو مهرته ویل کیږی ، ملاعلی قاری رحمه الله په مرقاة شرح دمشکوٰة کی لیکی ، وَسُمِّيَ بِهٖ لِاَنَّهٗ يَظْهَرُ بِهٖ صِدْقُ مَيْلِ الرَّجُلِ اِلَى الْمَرْءَةِ یعنی مهر ته صُدَاق اوصَدُقه په دی وجه وایی چی دصدق په دی ماده کی دربنتیا معنی ده اوپه مهرسره هم چونکه دخاوند دخپلی ښځی طرف ته ربنتینی میلان ښکاره کیږی ، په دی وجه په دی مناسبت سره مهرته صُدَاق وایی ، اوهَنِیْئًا مَرِیْئًا دواړه دفعیل پروزن دصفت لفظونه دی ، هَنِیْئًا (مِنْ هَنَأَ، وَهَنُوءَ وَهَنِئَ) په لغت کی هغه شی ته وایی چی دڅه مشقت اوتکلیف څخه بغیرحاصل سی، هرکله چی دخوراك په صفت کی واقع سی نو ددی معنی دخوش خونده طعام کیدی سی یعنی هغه طعام چی دڅه مشقت څخه بُغیر په حلق کی کښته سی اوپه آسانی سره هضم سی دبدن جزء جوړسی ، مَرِیْئًا (مِنْ مِرْءَ الطَّعَامِ فَهُوَ مَرِیْءٌ ای هَنِیْئٌ) لفظ هم په ذکرسوی معنی کی استعمالیږی غرض دادی چی دواړه لفظونه یوه معنی لري په دی وجه حضرت تهانوی رحمه الله ددواړولفظونوترجمه د(خوشګوار) په الفاظوسره کړي ده، اوشیخ عبدالقادر رحمه الله د(رِچْتاپچتا) په الفاظوسره ددی لفظونوترجمه کړي ده (یعنی دأُردو تفسیر ترمتن لاندی ترجمه دتهانوی صاحب،خوشګوار ده،اوپه پښتوکی یی مونږمعنی په خوندلرونکی اوخوش خونده سره وکړه)

وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَآءَ اَمْوَالَكُمُ الَّتِیْ جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ قِیٰمًا وَّارْزُقُوْهُمْ

اومه ورکوی ناپوهوته خپل هغه مالونه کوم چی جوړکړی دی الله ستاسی دګذران سبب اودوی ته په دی کی خوری

فِیْهَا وَاكْسُوْهُمْ وَقُوْلُوْا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ۝۵ وَابْتَلُوا الْیَتٰمٰی

او اغوندی او وایاست دوی ته خبره روغه (دعقل) ، او ازمائش کوی دیتیمانو

حَتّٰۤی اِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ ۚ فَاِنْ اٰنَسْتُمْ مِّنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوْۤا

تردی چی ورسیږي عمر دنکاح ته بیا که ووینی په دوی کی هوښیاری نو حواله کړی دوی ته

اِلَیْهِمْ اَمْوَالَهُمْ ۚ وَلَا تَاْكُلُوْهَاۤ اِسْرَافًا وَّبِدَارًا اَنْ یَّكْبَرُوْا

مالونه د دوی او مه خوری دیتیمانو مال دضرورت څخه زیات اوحاجت څخه مخکي چی لوی نه سی

وَمَنْ كَانَ غَنِیًّا فَلْیَسْتَعْفِفْ ۚ وَمَنْ كَانَ فَقِیْرًا فَلْیَاْكُلْ

اوڅوك چی غنی (بی حاجته) وی نوځان دی دیتیم دمال څخه ساتی ، اوڅوك چی محتاج وی نوخوری دی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

بِالْمَعْرُوفِ فَإِذَا دَفَعْتُمْ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ فَأَشْهِدُوا

موافق د دستور ، بيا چې کله حواله کړی دوی ته مالونه د دوی نو شاهدان نيسی

عَلَيْهِمْ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ حَسِيبًا ⑥

په دی باندی اوپوره دی الله حساب کوونکی .

دآيتونو ترون : په تيرو آيتونوکی ديتيمانو دمال دوی ته دسپارلو اوډښځو دمهرونو دوی ته دادا کولو حکم وو چې ددی څخه په ظاهره دافائده راووته چې ديتيمانو اوډښځو مال په هرحال دوی ته حواله کول په کار دی که څه هم دوی په معاملو نه پوهيږی او دمال په حفاظت هم قادر نه وی ، ددی غلطی فهمی دليری کولو دپاره په دی آيتونوکی فرمايی چې کم عقلوته مالونه مه سپاری اوددوی حفاظت اوساتنه کوی ، هرکله چې دمالونو دحفاظت اوددی دلګولو دځايونو پوهه اوعقل په دوی کی تاسی نه وی معلوم کړی نوترهغه پوری ورلره مالونه مه ورکوی .

لنډتفسير: ‹اوکه يتيم بالغ سی چې مقتضٰی ددی مال سپارل دی ورته لکه چې مخکی راغی ليکن کم عقل وی نو› تاسی ‹دی› کم عقلوته خپل ‹يعنی ددوی› هغه مال مه ورکوی کوم چې خدای ﷻ ‹دداسی کاردپاره پيداکړي دی چې دی يی› ستاسی ‹ټولو› دپاره سرمايه دژوند جوړه کړي ده ‹مطلب دا دی چې مال دقدر شی دی دااوس مه ورکوی چې بی قدری به يی وکی، بی ځايه به يی خرڅ کی› اوپه دی مالونوکی دوی ته خوراك ورکوی اوجامه ورکوی اودوی ته ښه خبره کوی ‹يعنی دوی ته تسلی ورکوی چې مال ستادی، ستا دخير خواهی دپاره اوس لاستالاس ته نه سی درتلای، چې لږ هوښيارسی نوبيابه تاته درکړل سی› او ‹هرکله چې دمال سپارلو دپاره هوښياری ليدل ضروری دی نو› تاسی يتيمان ‹تربالغ کيدو مخکی دهوښياری اوپوهی په خبروکی› ازمايی ‹ځکه چې دبالغ کيدووخت خودمال سپارلووخت دی نوامتحان ترمخه نه دی په کار،مثلاً يوڅه لږه ياډيره سودا يابل شی په راغواړی اوګوری ورته چې دسودا طرز اوسليقه ورسره سته که نه، ياورلره يو شی دخرڅولو دپاره ورکی اووګوری چې څنګه يی خرڅوی› تردی پوری چې ‹دوی وازمايا سئ› چې کله دوی ‹عمرد› نکاح ته ورسيږی ‹يعنی بالغ سی ځکه چې دنکاح پوره قابليت په بلوغ سره وی› بيا ‹وروسته تربلوغ اوامتحان› که په دوی کی يوقسم عقل ووينی ‹يعنی حفاظت اوساتنه دمال اوانتظام› نوددوی مالونه دوی ته حواله کی ‹اوکه لاپه دوی کی سليقه اوعقل نه وی راغلی نولږ ورځی نور ورته صبروکی› اودامالونه ‹ديتيمانو› ترضرورت زيات اوپه دی خيال سره چې دوی به بالغ سی ‹بيابه دوی ته حواله کول وی› ژر ژرمه مصرفوی اومه يی خوری او ‹که داسی يی بربادوی نه، بلکه لږيی خوری نودهغه حکم دا دی چې› کوم سړی ‹ددی مال څخه› بی حاجته وی ‹يعنی دده سره دخپلی ګذاری مال وی که څه هم صاحب دنصاب نه وی› نودی دی خپل ځان بالکل ‹دلږ خوراك څخه هم› ساتی اوکم سړی چې حاجتمندوی نوهغه دی په مناسب مقدارسره ‹يعنی چې ضروری حاجتونه

Maktaba Tul Ishaat.com

یې په دفع کیږي) خوري دي (استعمالوي دي) بیاچې کله (وروسته تروجود دشرطونو یعنې وروسته تربلوغ اوذکر سوي پوهي) ددوي مالونه دوي ته حواله کوي نو(بنه داده چې) ددوي (دمالونو دوي ته پرورکولو) باندي شاهدان هم ونیسي (شاید چې څه وخت څه اختلاف راسي نوشاهدان به په کار درسي) او (داغسي خو هم) الله ﷻ حساب اخستونکی پوره دی (که خیانت مونه وي کړی نوکه شاهدان نه وي هم خیر دی ځکه چې اصلي حساب دچاسره چې یې تعلق دی، هغه یې صفایي پیژني، اوکه خیانت سوی وي نو دشاهدانو موجودوالي هم نفع نه ورکوي، ځکه دچاسره چې به حساب کول وي هغه ته دهرڅه پته ده، شاهدان یوازې دظاهري انتظام دپاره په کار وي.

معلومات اومسئلې

(مال دژوند سرمایه ده او ددې حفاظت په کار دی)

په دې آیتونو کې یې یوه طرف ته دمال اهمیت اوپه انساني ژوندکې یې ددې لوی دخل بیان کې زرونوته یې ددې دحفاظت دعوت ورکی بل طرف ته یې دمال دحفاظت متعلق دیوې عامې کوتاهي اصلاح وفرمایله هغه داچې څیني خلق دطبعي محبت اومینې دغلبې په وجه بې تجربې اونابالغو کوچنیانو او ناپوهه ښځوته خپل مالونه حواله کوي چې لازمي نتیجه یې دمال بربادي اودیره ژرتنگدستي اوغربت وي

(ښځو، کوچنیانو اوکم عقلوته مالونه مه سپاری)

دقرآن مفسرحضرت عبدالله بن عباس ؓ بیان فرمایي چې دقرآن مجیدپه دې آیت کې دالارښوونه ده، چې خپل پوره مال کم عقلو کوچنیانو اوښځوته په سپارلو سره ځانونه مه محتاجه اومفلسان کوئ، بلکه الله ﷻ تاسې منتظمان اوساتونکي جوړکړي یاست نومال په خپل حفاظت کې ساتئ، په قدر دضرورت ددوي په خوراك اوجامو باندې یې خرڅ کوئ، اوکه دوي دمال په خپله قبضه کې داخستلو مطالبه هم وکي نومعقوله خبره ورته کوئ اوپوه کوئ یې، چې زړه یې هم نه آزاریږي اومال هم نه ضائع کیږي، مثلاً داسې ورته وایاست چې داهرڅه ستاسې دپاره دي، چې لرپوهه ستاسې راسي بیابه درکړل سي، دحضرت عبدالله بن عباس ؓ ددې تفسیر مفهوم پرهغه ټولو ښځو، کوچنیانو اوکم عقلو ناتجربه کارو شامل دی چاته چې دمال په سپارلو باندې په مال کې دنقصان خطره وي، برابره خبره ده که خپل کوچني وي اوکه یتیمان وي اوبرابره خبره ده که دامال ددې کوچنیانو اویتیمانو خپل وي اوکه یې دمشرانو وي داتفسیردابوموسیٰ اشعري رحمه الله څخه هم نقل دی اودتفسیرامام حافظ طبري رحمه الله هم دااختیارکړي دی.

که څه هم چې دمخکې او وروسته آیتونو څخه ددې حکم خاص والې په یتیمانو کوچنیانو پورې معلومیږي، یعنې چې دا حکم دې په یتیمانو پورې خاص وي، لیکن دالفاظو عاموالې په خپل ځای دې په دې کې یتیم اوغیر یتیم ټول کوچنیان داخل دي، اوشاید چې دلته په اَمْوَالَكُمْ دمخاطب په صیغه فرمایلوکې داحکمت وي چې خپلو مالونوته هم داحکم شامل دی اودیتیمانو مالونو ته هم ترڅو پورې چې په دوي کې هوښیارتیا رانه سي نو د دوي دذمه واري په وجه چې د دوي په تصرف دي نوگویا د دوي مالونه دي، او تردې په مخکې آیت، وَاٰتُوا الْيَتٰمٰى اَمْوَالَهُمْ کې یې وفرمایل په دې سره یې اصل

حقیقت هم واضح کړي دی ، چی دیتیمانو مال به دوی ته ورکول وی ځکه چی د دوی مال دی نو تردی وروسته کمه مغالطه باقی نه پاته کیږی ،دمال حفاظت ضروری کاردی، اوددی ضائع کول ګناه ده ، دخپل مال په حفاظت کی که څوك قتل سی، نوشهید دی ، لکه دخپل ځان دحفاظت په کولوکی چی دقتل کیدو دشهادت داجر وعده سویده ، نبی کریم ﷺ فرمایلی دی .

مَنْ قُتِلَ دُوْنَ مَالِهٖ فَهُوَ شَهِیْدٌ، (بخاری ص۳۳۷ ج ۱) مسلم ص۸۱ جلد ۱) دخپل مال په حفاظت کولوکی چی کوم سړی قتل سی نو دی په شهیدانو کی شمیرل کیږی ، دارنګه یی ارشاد فرمایلی دی .

نِعْمَابِالْمَالِ الصَّالِحِ لِلرَّجُلِ الصَّالِحِ (مشکوٰة ص ۳۲۲) یعنی دنیك سړی دپاره دده ښه اوپاکیزه مال دڅوند ښه سامان دی) دارنګه یی ارشاد فرمایلی دی.

لَا بَأْسَ بِالْغِنٰی لِمَنِ اتَّقَی اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ (مشکوٰة ص ۴۹۱)

کوم سړی چی دالله ﷻ څخه بیریږی دده په مالداری کی دده دین ته هیڅ نقصان نسته .

په آخری دوو حدیثونوکی داخبره وښوول سوه چی دنیك اوپرهیزګاره سړی مال دده دپاره نقصانی نه دی ځکه چی داسی سړی دالله ﷻ څخه بیریږی نوخپل مال به په ګناه کی دخرڅ کولوڅخه ساتی ددیرو اولیاؤ اوصوفیانو څخه چی دمال بدوالی نقل سوی دی، نوهغه دداسی خلقوپه باره کی دی، چی خپل ګټلی مال په ګناهونوکی خرڅ کوی، ځان ته دآخرت عذاب ډیروی اوچونکه انسان په طبعی طورسره ترمال دارکیدو وروسته داسراف اونورو ګناهونو څخه دځان ساتلو فکر پریږدی ، په دی وجه دمال څخه لیری اوسیدل ښه ګڼل سوی دی په قدر دضرورت یی لږګټل اودالله ﷻ نوم اخستل اودډیرمال دحساب اوکتاب څخه ځان خلاصول دادپخوانیوبزرګانوطریقه وه په موجوده دورکی په خلقوکی ددین اوایمان زیات اهمیت نسته ددنیوی سازاوسامان وطرف ته زیات مخ کوونکی دی اوپه معمولی غوندی تکلیف لاځه کوی چی دظاهری فیشن په خلاف ورزی باندی هم دین پریښوولوته تیاریږی ، په دی وجه دداسی خلقودپاره حلال مال ګټل اودهغه دمحفوظ کولو زیات اهمیت دی ، دداسی خلقو دپاره نبی کریم ﷺ فرمایلی دی .

كَادَ الْفَقْرُ اَنْ یَّكُوْنَ كُفْرًا (مشکوٰة ص ۴۲۹)

یعنی تنګدستی انسان ځینی وخت کافر جوړولی سی .

حضرت سفیان ثوری رحمه الله ددی په تشریح کی فرمایی ، كَانَ الْمَالُ فِیْمَا مَضٰی یُكْرَهُ فَاَمَّا الْیَوْمَ فَهُوَ تُرْسُ الْمُؤْمِنِ یعنی په تیره زمانه کی مال ساتل ښه نه ګڼل کیدل ، لیکن نن دامال دمومن توره ده ، دارنګه دوی فرمایی ، مَنْ كَانَ فِیْ یَدِهٖ مِنْ هٰذِهٖ شَیْئًا فَلْیُصْلِحْهُ فَاِنَّهٗ زَمَانٌ اِنِ احْتَاجَ كَانَ اَوَّلُ مَنْ یَّبْذُلُ دِیْنَهٗ یعنی دچاسره چی دروپو څخه موجودوی هغه ته په کار دی چی دغه مال په مناسبه طریقه په کارراولی ځکه چی داهغه زمانه ده چی که څه حاجت ورپیښ سی نوانسان به تر ټولو مخکی دخپل حاجت پوره کولو دپاره خپل دین خرڅ کی مطلب دا دی چی دحاجت پوره کیدو اهمیت پردین ترچلیدو زیات سوی دی (مشکوٰة ص ۴۹۱)

(دنابالغو دپوهي او صلاحیت دامتحانولو حکم)

په اولنی آیت کی چی هرکله دامعلومه سوه چی په معاملاتوکی ترڅو پوری دنابالغو کوچنیانو هوښیاری

ثابته نه سی، ترهغه پوری دوی ته مالونه سپارل نه دی په کار، په دی وجه یی په دوهم آیت کی دکوچنیانو دتعلیم اوتربیت انتظام اوبیایی دامتحان کولو او د دوی دصلاحیت معلومولو احکام وښوول فرمایی.

وَابْتَلُوا الْيَتٰمٰى حَتّٰى اِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ یعنی تربالغ کیدو مخکی مخکی کوچنی کوچنی معمولی معاملی داخستلو اوخرڅولو دوی ته سپاری او د دوی امتحان اخلی تردی چی دوی دنکاح قابل یعنی بالغ سی، نواوس په خاص طورسره ددی اندازه ولګوی چی دوی په خپلو معاملوکی هوښیاران سویدی اوکه نه دی هرکله چی هوښیارتیا پکښی پیدا کیدله نو بیاددوی مالونه دوی ته وسپاری، لنډه داچی دکوچنیانو دخاص طبیعت اوپه دوی کی دعقل اوهوش راتلوپه اعتبارسره یی د دوی دری درجی کړی، یوه تربلوغ مخکی، دوهمه تربلوغ وروسته دریمه ترهوښیارتیا وروسته، تربلوغ مخکی دکوچنیانو اولیاؤ ته دا حکم دی چی د دوی دتعلیم اوتربیت کوشش دی کوی، په معاملوکی د دوی دهوښیارولو دپاره دی کوچنی کوچنی معاملی داخستلو خرڅولو ددوی په لاس ورکوی، په آیت کی د وَابْتَلُوا الْيَتٰمٰى دا مطلب دی، ددی څخه امام ابوحنیفه صاحب رحمه الله دامسئله راایستلی ده چی نابالغه کوچنی چی کومی معاملی داخیستلو اوخرڅولو دخپلو اولیاؤ په اجازت سره کوی هغه صحیح اونافذی دی، دوهم حکم دا دی چی هرکله دی بالغ اود نکاح قابل سی نو اوس دمعاملاتو او تجربی په اعتبار سره د دوی دحالاتو معلومات اخلی، که معلومه سوه چی دی په خپله نفع اونقصان پوه سوی دی اومعاملی په صحیح طریقه سره کوی نوددوی مالونه دوی ته وسپاری.

دبلوغ عمر: په دی آیت چی کوم ځای دبلوغ حکم فرمایل سوی دی، هلته قرآن کریم په دی باره کی چی دکوچنی بالغ کیدل په کم عمرکی ګڼل کیږی، فَاِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ یی وفرمایل، دی طرف ته یی اشاره وکړه چی اصل بلوغ دکم عمر سره تړل سوی نه دی بلکه ددی مدارپر هغو نښانو دی کومی چی بالغانو ته په مخکی راځی، ددی نښانوپه اعتبارسره کم وخت چی دی دنکاح قابل سی، بالغ ګڼل کیږی، که څه هم عمر یی دیارلس څوارلس کاله وی، البته که پرکوچنی کی دبالغ والی نښانی ښکاره نسی نو دعمرپه اعتبارسره به دی بالغ مقرر کیږی چی په دی کی دفقهاوو رحمهم الله اختلاف دی، ځینی دهلك دپاره اتلس کاله او دانجلی دپاره اوولس کاله مقرر وی اوځینی یی ددواړو دپاره پنځلس کاله عمرته رسوی نوچی ورسیږی شرعًا به بالغ ګڼل کیږی که دبلوغ نښانی په کی ښکاره سی اوکه نه.

(هوښيارتيا به څنګه معلوميږی فَاِنْ اٰنَسْتُمْ مِّنْهُمْ رُشْدًا **تشريح)**

دقرآن حکم دا دی چی کله تاسی په دوی کی هوښیارتیامعلومه کی نو دغه وخت د دوی مالونه دوی ته وسپاری ددی هوښیارتیا میعاد اواندازه څه ده؟ قرآن مجید ددی آخری میعادڅه وضاحت نه دی کړی، په دی وجه ځینی فقهاء رحمهم الله دی طرف ته ولاړل چی ترڅو پوری پوره هوښیارتیا په کی معلومه نه سی، ترهغه وخته پوری دی د دوی مالونه نه سی ورسپارلی بلکه هم دغسی دی دولی په حفاظت کی وی، که څه هم ټول عمرپه دی حالت کی تیرسی، اودامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله تحقیق دا دی، چی دلته دهوښیارتیا دنشتوالی څخه مرادهغه دی کوم چی دکوچنیوالی داثرڅخه وی، اودبالغ کیدوڅخه ترلسو

Maktaba Tul Ishaat.com

کالو وروسته پوری دکوچنیوالی اثرختم سی ، په دی وجه پنځلس ۱۵ کاله دبلوغ عمر اولس ۱۰ کاله دهوښیارتیا، تول پنځه ویشت ۲۵ کلونه سول ، نوچی پنځه ویشت کالوته ورسیږی نوده ته به پوهه اوهوښیارتیا ضرور حاصله سی ، دکومی هوښارتیا په حاصلولوکی چی کوچنیوالی اوکم عمری حائله وه ، او قرآن کریم لفظ دلته د رُشد نکیره راوړیدی ، دی طرف ته یی هم اشاره کړې ده ، چی مکمله پوهه او هوښیارتیا شرط نه ده ، یوڅه قدر هوښیارتیاهم ددی دپاره کافی ده ، چی د دوی مالونه دوی ته ورکولی سی ، په دی وجه ترپنځه ویشتو کالوپوری به انتظاروکی نوکه پوره هوښیارتیا په کی هم را نه غله خوبیابه هم ددوی مال دوی لره ورکړل سی پاته سوه مکمله هوښیاری اوعقلمندی، نو دا خو په ځینو خلقوکی تول عمرهم نه راځی دوی همیشه ساده اوسوده وی ، نو ددی په وجه به دوی دخپلو مالونوڅخه نه سی محرومه کیدلی ، البته که یوسړی ډیرپاګل اولیونی وی نوبیادده حکم جلادی، دی به همیشه دنابالغو کوچنیانو په حکم کی وی ، او د دوی مالونه به هیڅکله هم دوی ته نه سی حواله کیدای ، ترڅو چی دده لیونتوب لیری سوی نه وی ، که څه هم چی تول عمریی په دی لیونتوب کی تیرسی .

(دیتیمانو دمال دبی ځایه خرڅولو ممانعت)

لکه څنګه چی معلومه سوي ده په دی آیت کی یی ددی خبری ښوونه کړي ده چی دیتیمانومال دوی ته ترهغه وخته پوری مه حواله کوی ترڅو چی په دوی کی څه قدری پوهه اوتجربه رانه سی اودی دپاره خوښکاره خبره ده چی نوربه ترڅه وخته پوری انتظارکول کیږی ، نوپه دی حالت کی ددی خبری امکان ووچی دیتیم اولیاء به دیتیم په مال کی څه داسی زیاتی وکی چی پکښی به دیتیم نقصان وی ، په دی وجه یی په راتلونکی آیت کی وفرمایل .

وَلَا تَأْكُلُوْهَآ اِسْرَافًا وَّبِدَارًا اَنْ يَّكْبَرُوْا: یعنی د دوی مالونه تر ضرورت زیات په دی خیال سره مه خرڅوی چی دوی به بالغان سی نوبیا به دوی ته ورکول غواړی نو ددی بیری څخه یی ژر ژر مه خوری ، په دی آیت کی یی دیتیم ولی د دوو خبرو څخه منع کی ، یو د دوی په مال کی داسراف یعنی بی ځایه خرڅ کولوڅخه ، دوهم ددی خبری څخه چی د دوی مال دضرورت ترپیښیدو مخکی ژر ژر خرڅ کول ، په دی خیال سره چی بیا خو به دوی لوی سی ، دا مال به دوی ته حواله سی ، زما اختیار به ختم سی .

(دیتیم ولي دده دمال څخه دضرورت دپاره څه اخستي سي)

په آخری آیت کی یی ددی ضابطه بیان کړه چی کوم سړی دیتیم کوچنی په پالنه اودده دمال په حفاظت کی خپل وخت اومحنت خرڅ کوی نوآیاده ته داحق سته چی دیتیم دمال څخه دخپل خدمت څه حق واخلی؟ نووی فرمایل ، وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ یعنی څوك چی حاجتمندنه وی خپل ضرورت دبل طرف څخه پوره کولی سی نوده ته پکاردی چی دیتیم دمال څخه دخپل خدمت حق نه اخلی څکه چی داخدمت دده په ذمه فرض دی ، ددی معاوضه اخستل ده لره جائزنه دی ، بیایی وفرمایل .

وَمَنْ كَانَ فَقِيْرًا فَلْيَاْكُلْ بِالْمَعْرُوْفِ : یعنی دکوم یتیم ولی چی فقیر اومحتاجه وی اوبله کومه ذریعه دژوندیی نه وی ، نو دی دیتیم دمال څخه په یو مناسب مقدار سره خوړلی سی چی ضروری حاجتونه یی په پوره کیدی سی .

Maktaba Tul Ishaat.com

(دمال سپارلو په وخت کې شاهدان درول)

په آخری کی یی ارشاد وفرمایی، فَإِذَا دَفَعْتُمْ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ فَأَشْهِدُوا عَلَيْهِمْ وَكَفَى بِاللَّهِ حَسِيبًا یعنی چی هرکله تر امتحان وروسته یتیمانوته د دوی مالونه سپاری نو یوځوك معتبر اونیك خویه په شاهدان کی ، ددی دپاره چی په آئنده کی څه جګړه جوړه نه سی اوپه یادساتی چی دالله ﷻ په حساب کی هر شی دی.

(داوقافو اونورو ملکي اوملي خدمتونو معاوضه)

ددی آیت څخه یوفقهی ضابطه اواصول معلوم سو چی کوم خلق داوقافو ساتونکی دی یادمسجدونو او مدرسو ناظمان دی یادمسلمانو حکومتونو داِدارو ذمه وار دی یادغه شان دنوروملکی یاملی خدمتونو چی پوره کول یی فرض کفایه وی ، په دی باندی مامور وی ، ددی صاحبانو دپاره هم ښه اوغوره دا ده چی که د دوی سره خپله څه ګذاره وی چی دخپلو کوچنیانو ضروری خرڅونه پوره کولی سی نو ددی ادارو او دحکومت دبیت المال څخه دی هیڅ نه اخلی ، لیکن که خپله ګذاره یی نه کیږی او دکار اوکسب کولو په وخت کی په دی کارونو کی مشغوله وی ، نو په قدر دضرورت ددی ادارو څخه مال اخیستی سی لیکن د(په قدر دضرورت) لفظ به په نظرکی نیسی ، ډیر خلق دضابطی په ډول سره دکاغذی خانی ددکولو دپاره خپله میاشتنی څه حصه مقرر وی ، لیکن په مختلفو طریقوسره ددی څخه ډیرزیات په بی احتیاطی سره پرخپل ځان اوآل او اولاد باندی خرڅوی ، ددی بی احتیاطی مخ نیوی بغیر دخدای ﷻ دبیری څخه نورهیڅ نسته چی دی طرف ته دآیت په آخری ټوټه کی: وَكَفَى بِاللَّهِ حَسِيبًا یی وفرمایی ټولوعامو اوخواصو توجه یی دی طرف ته راوګرځوله چی دکومو خلقوسره دالله ﷻ دحساب فکر وی ، هغه دناجائز مال اخیستو څخه خلاصیدای سی (الله ﷻ دی مونږ ته توفیق راکی)

لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ

دسړو دپاره هم حصه ده په هغه کی چی پری یی ږدی ترمرګ وروسته مور او پلار اوخپلوان اودښځو دپاره هم حصه ده په هغه کی چی پری یی ږدی دمرګ څخه وروسته مور اوپلار ،

وَالْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ ۚ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ⑦ وَإِذَا

او خپلوان لږوی اوکه ډیره ، حصه ده مقرر کړل سوی او هر کله

حَضَرَ الْقِسْمَةَ أُولُو الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينُ فَارْزُقُوهُم

حاضر سی دتقسیم په وخت کی خپلوان او یتیمان او محتاجان نو دوی ته هم څه

مِّنْهُ وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ⑧ وَلْيَخْشَ الَّذِينَ لَوْ تَرَكُوا

خوراك ورکوی ددې څخه اووایی دوی ته خبره روغه (دعقل) او په کار دی چی وبیریږي هغه خلق چی که پریږدی

Maktaba Tul Ishaat.com

مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعٰفًا خَافُوْا عَلَيْهِمْ ۖ فَلْيَتَّقُوا اللّٰهَ

دخان څخه وروسته اولاد ضعیفان نو د دوی خیال دی ساتي یعنی چی زمونږ څخه وروسته به داسی حال د دوی وی نو په کاردی چی وبریږي دالله څخه ،

وَلْيَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا ﴿٩﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ الْيَتٰمٰى

او وایی دی خبره برابره ، بیشکه کوم خلق چی خوری مال دیتیمانو

ظُلْمًا اِنَّمَا يَاْكُلُوْنَ فِيْ بُطُوْنِهِمْ نَارًا ۭ وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيْرًا ﴿١٠﴾ ع

په ناحقه سره دغه خلق اچوی په خپلو نسو کی اور ، او ډیر ژر به داخل سی دوی اورته .

دآیتونو ترون : په سورت نسآء کی داول څخه دعامو انسانانو دحقونو اوخاص دکورنی ژوند متعلق دحقونو بیان راروان دی ، تردی په مخکی آیت کی دیتیمانو دحقونو بیان وو ، په دی ذکرسوو ، څلورو آیتونوکی هم دښځو اویتیمانو دخاصو حقونوچی تعلق یی دمیراث سره دی، بیان دی په اول آیت کی یی دجاهلیت هغه رسم باطل کی چی په دغه زمانه کی به دښځو دمیراث حق نه منل کیدی ، دی آیت دوی دخپلی شرعی حصی حقداری کړی ، ددوی په حق کی دکمی کولو اودنقصان رسولو سخته منع یی وکړه بیاچونکه ذکردمیراث دحقدار وو اوپرداسی موقع باندی دتقسیم په وخت کی غیر حقدار یتیمان فقیران کوچنی هم حاضریږی ، نو په دوهم آیت کی یی د دوی سره دښه سلوك اومراعاتوحکم وکی لیکن دا حکم دوجوب دپاره نه دی بلکه مستحب دی تردی وروسته په دریم اوڅلورم آیتونوکی هم دیتیمانو داحکامو په باره کی ددی مضمون تاکید دی .

لنډتفسیر: دنارینه وو دپاره هم (برابره خبره ده که کوچنی وی اوکه لوی) حصه (مقرره) ده په هغه شی کی کوم چی (ددی نارینه وو) مور اوپلار او(یانورو) ډیرو نژدی خپلوانو (دخپل مرګ په وخت کی) پری ایښی دی او (دغه ډول) دزنانه وو دپاره هم (برابره خبره ده که کوچنی وی اوکه لوی) حصه (مقرره) ده په هغه شی کی کم چی (ددی ښځو) موراو پلاراو (یانورو) ډیر نژدی خپلوانو (دخپل مرګ په وخت کی) پری ایښی وی برابره خبره ده که دغه (پاته سوی) کم وی اوکه ډیروی (دټولوڅخه به ورته رسیږی) حصه (هم داسی چی په) قطعی طور سره مقرره ده (اوکله چی وارثان ترکه) تقسیموی دغه وخت (داخلق) موجود وی (یعنی دلیری) قریب (چی په میراث کی یی حق نه وی) اویتیمان اوغریبان خلق (په دی توقع سره چی شاید مونږ ته به په کی هم څه ورسیږی ، قریب په ګمان دحقداری سره او نورخلق په امید دخیراو خیرات سره) نو هغوی ته هم په دی (ترکه) کی (دبالغانو اوحاضرو دحصی څخه) خپروی او ورکوی او د دوی سره ښه (اونرمی) خبری کوی (دغه خبره دقریبانو سره داسی کوی چی دوی پوهوی چی په شریعت کی ستاسی حصه په دی کی نسته مونږ معذوره یو اونوروته داسی چی څه ورله ورکی نو احسان مه ورباندی زیاتوی)

Maktaba Tul Ishaat.com

او (دیتیمانو په باره کي) داسې خلقولره بیره په کارده چي که ترخپل ځان وروسته کوچني کوچني هلکان پریږدي (مره سي) نوددې (کوچنیانو) په ددوی سره فکروي (چي داسې نه چي ځوك آزاروورنه کي، نوهم دغسې دنورو دکوچنیانو دپاره هم خیال ساتل په کار دي چي دوی ته دي ولې مونږ آزار ورکو) وروسته (ددې خبرې دفکر کولوسره) دې خلقوته په کار دي چي (دیتیمانوپه معامله کي) دخدای ﷻ (دحکم دمخالفت) څخه وبیرېږي (یعني آزار اوضرر دې نه وررسوي) او (قولاً هم دوی ته) دموقعې خبره کوي (په دې کي دتسلي اوزړه آراموولو خبره هم راغله، اودتعلیم اوادب خبره په کي هم راغله، غرض داچي د دوی دمال اوځان دواړو اصلاح کوي) بیشکه کوم خلق چي دیتیمانو مال بې له استحقاقه څخه خوري نورهیڅ نه دې بې له دې چي په خپل نس کي (ددوږخ) داور (سکروټې) اچوي (یعني ددې خوراك انجام دادی) او (دا انجام ډېر لیرې نه دی ځکه چي) ډېرژر (په ددوږخ په) بل کړې اورکي داخل سي (هلته به دا انجام ووینې)

معلومات اومسئلې

(دمور او پلار اونورو خپلوانو په مالونوکي دمیراث حق)

تراسلام مخکي په عربو اوعجمو کي دکمزوری قسم دیتیم کوچني اوښځو همیشه بدحال تیر سوي دي او ظلم اوزیاتی پرکیدی ، اول خوبه چاددوی حق نه مني اوکه چیری به منل کیدی هم نو دخلګو څخه ددوی وسولول اوددی محفوظ ساتل دچاپه قدرت کي نه وو ، اسلام ترټولو اول دوی ته حقونه ورکړل، بیایي ددې حقونو دحفاظت مکمل انتظام وکی ، دوراثت په قانون کي هم عامو قومونو ددنیا دمعاشری دواړه کمزوری جزءونه (یتیم اوښځه) دخپل فطری اوواجبي حقونو څخه محرومه کړی وه ، عربو خودا اصول جوړ کړی ووچي دمیراث مستحق یوازی هغه دي کوم چي پرآس سپریدی سی اوددښمن مقابله کولای سی او دغنیمت مال جمع کولی سی (روح المعاني ص ۲۱ ، ج ۴) ښکاره خبره ده چي دا دواړه قسمونه ضعیفي ښځي اوکوچنیان په دې اصولوکي نه راتلل ، نو په دې وجه ددوی داصولو پرښنا یوازی ځوان، بالغ هلك دمیراث حقداروو ، انجلۍ خو به مطلقًا وارثه نه سوای ګڼل کیدای، که بالغه به وه اوکه نابالغه ، او هلك هم چي بالغ به نه وو، نودمیراث حقداربه نه وو ، دنبي کریم ﷺ په مبارك وخت کي یوه واقعه داسې پیښه سوه چي اوس بن ثابت وفات سو، دوی انجوني یونابالغه هلك اویوه ښځه یې وارثان پاته سول ، لیکن دعربو دزاړه دستور مطابق دده دوه داکا زامن راغلل اودمرحوم پرټول مال یې قبضه وکړه اواولادو اوښځي لره یې هیڅ شي هم ورنه کی ، ځکه چي ددوی په نزد ښځه خو مطلق دمیراث څخه محرومه وه که بالغه به وه اوکه نابالغه ، نوښځه اودواړه لوڼي خویې دغسې محرومه سوې پاته سو هلك، نوهغه دکوچنیوالي په وجه محروم سونو په دې وجه ټول مال یې داکا دوو زامنو قبضه کی ، داوس بن ثابت ښځي داهم وغوښتل چي داداکا زامن چي ټول مال یې قبضه کی نودادوی انجوني دې هم په نکاح واخلي، چي ددوی دفکر څخه خوبې غمه سم ،لیکن هغوی دا انجوني قبولي نه کړې ، نو داوس بن ثابت دغه کونده نبي کریم ﷺ ته راغله اوخپل حال یې ورته بیان کی ، تردغه وخته پوری په قرآن کریم کي دمیراث آیت نه وونازل سوی ، نوپه دې وجه نبي کریم ﷺ په جواب ورکولو کي صبروکی ځکه چي دده

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷺ دا یقین ووچی دوحی الهی په ذریعه به ددی ظالمانه قانون دبدلولو حکم خامخا راسی، نودغه وخت
داآیت شریف نازل سود لِلرِّجَالِ نَصِیْبٌ څخه تر نَصِیْبًا مَّفْرُوْضًا پوری اوتردی وروسته نور دمیراث آیتونه
نازل سول چی دحصو تفصیلات په کی دی او ددی سورت په دوهمه رکوع کی ددی تفصیلات دی ، نبی
کریم ﷺ قرآن دحکم مطابق دټولی ترکی اتمه حصه دغه کونډی ته ورکړه اونور مال یی دمرحوم په زوی
اولونوکی داسی تقسیم کی چی نیم یی هلك ته ورکی اونیم یی په دواړو انجونوکی برابر تقسیم کی
اوداکا زامن یی چونکه داولاد په نسبت زیات نژدی نه وه نوهغوی ورڅخه محرومه سول «روح المعانی»
دمیراث دمستحق کیدو ضابطه: دی آیت دوراثت دیوځو احکامو په ضمن کی دوراثت دقانون ضابطه بیان
کړه مِمَّاتَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْاَقْرَبُوْنَ دمیراث دی دوو لفظونو دوه بنیادی اصول وښوول یو تعلق دولادت «پیدا کیدو»
چی داولاد اومور اوپلار په مینځ کی دی اوکومه چی په لفظ دوَالِدٰنِ سره بیان سوه ، اوصحیح دا ده
چی په لفظ د اَقْرَبُوْنَ کی هرقسم خپلوالی اوتعلق داری راځی ، برابره خبره ده که دغه تعلق دیوه اوبل
څخه دپیدا کیدو وی ، لکه په اولاد اومور اوپلارکی چی دی یا به بل شان وی لکه عام قرابت اوخاندانی
تعلق یاهغه قرابت چی دنکاح په تعلق سره پیدا سوی وی لفظ د «اقربون» دی ټولو لره راجمع کونکی دی
لیکن مور اوپلار لره یی دهغو دزیات اهمیت په وجه جلا بیان کړل ، بیادا لفظ داهم وښوول چی مطلقی
قرابت درلودل دوراثت دپاره کافی نه ده ، بلکه په قرابت کی اَقْرَبُ «زیات نژدی» والی شرط دی څکه چی
که یی زیات نژدی والی معیاری شرط مقررنه سی ، نودهریوه مړکیدونکی وراثت به ددنیا په پوره آبادی
تقسیمول ضروری سی څکه چی ټول دیوه مور اوپلار آدم ﷺ اوحواءؓ څخه پیداسوي دی او دنژدی
زمانی څه ناڅه قرابت خوپه ټولوکی موجوددی او داخو اول کیدی نه سی اوکه څوك یی کوشش کوی
اودانتظام وکی چی زه یی تقسیموم نوچا چاته به یی وررسوی اوڅومره کوچنی جزونه به ورڅخه
جوړوی «هرجزء به یی جزء لایتجزّی جوړ سی» اودغه به بیادچا څه په کار راسی ، نوپه دی وجه ضروری
سوه چی کله دوراثت داراو مدار پرقرابت باندی سونو اصول داښی په کار سوه چی که دنژدی اولیری
مختلف قریبان جمع وی نونژدی لره به پرلیری ترجیح ورکوی چی نژدی قریب وی نولیری ته به حصه نه
رسیږی البته که کم قریب داسی وی چی په یوه وخت سره ټول اقرب وی که څه هم وجهی داقربیت په دوی
کی مختلفی وی نوبیابه داټول دوراثت حقداروی، لکه چی داولاد سره مور اوپلار یاښځه اونور،
نوداټول اقرب دی، که څه هم وجهی داقربیت په کی مختلفی وی ، دارنګه یوه بله خبره دلفظ د اقربون
داوښوله چی لکه څنګه سری دمیراث حقدارګڼل کیږی دغه شان ښځی اوبچی هم ددی حق څخه نه سی
محرومه کیدلی څکه چی تعلق که داولاد وی اوکه دمور اوپلار یابل قسم تعلق وی په هره یوه کی دتعلق
داری حیثیت په هلك اوانجلی کی یوشان دی ، لکه څنګه چی هلك دمور اوپلارڅخه پیداسوي دی ،
دغه شان انجلی هم ددوی څخه پیداسوي ده ، نوچی دمیراث حق پر تعلق باندی سو نوکوچنیان
یاانجونی ورڅخه څنګه محرومی کیدلی سی بیا دقرآن شریف اسلوب ته وګوری چی لِلرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ په
جمع سره په لنډو الفاظوکی هم ددوی دحق بیان کیدی سوای ، خوداسی یی ونه کړل بلکه دسړو دحق

Maktaba Tul Ishaat.com

چي يي په کم تفصيل سره بيان کړيدی، هم په دغه تفصيل او تشريح سره يي د ښځو حق جلا بيان کی، چي دد وارو د حقونو جلا والي او اهميت ښکاره سي .

دارنګه ددی لفظ د اقربون څخه يوه خبره دا هم معلومه سوه چي د ميراث د مال تقسيم د ضرورت په معيار سره نه دی ، بلکه د قرابت (خپلولی) په معيار سره دی په دی وجه دا ضروری نه ده چي په قريبانو کی څوک زيات غريب او حاجت مندوی، دی به زيات حقدار ګڼل کيږی ، بلکه څوک چي مړی ته په قرابت کی زيات نژدی وی هغه به په نسبت دليری زيات مستحق وی که څه هم ضرورت او حاجت دليری قريب زيات وی که د نژدی والي ضابطه پرينښوول سی ضرورت او حاجت معيار مقرر کړل سی نو ددی بيا هيڅ ضابطه نه سی جوړي دی او نه ديو محکم قانون شکل اختيارولی سی ځکه چي د قرابت څخه علاوه بل معيار به خامخا وقتی او اجتهادی وی ځکه چي فقر او حاجت يو دائمی شی نه دی نو دغه شان حالات هم بدليږی او درجی هم او په دی صورت کی به بيا د مستحق کيدو ډير دعوه لرونکی راپيدا سی او بيا فيصله په کی ګرانه وی

ديتيم لمسي دميراث مسئله: که په دی قرآني اصولو باندی ځان پوه کړل سی نو ديتيم لمسی د ميراث مسئله چي نن صبا يوه د جګړی مسئله جوړه سوي ده ، په خپله به په قطعی طور سره حل سی که څه هم چي يتيم لمسی د زوی په نسبت زيات حاجتمند وی ، ليکن د ، اقربون د قانون په وجه دی د ميراث حقدار نه سی کيدی ، ځکه چي دی د زوی په موجودګی کی اقرب نه دی ، البته د ده د ضرورت پوره کولو د پاره نور انتظامات سوي دی ، په کومو کی چي يو دغه ډول انتظام په راتلونکی آيت کی راځی ، په دی مسئله کی د مغربی تعليم ددی نوو تعليم يافته وو څخه پرته بل چا اختلاف نه دی کړی ټول امت ترننه پوری د قرآن او حديثو څخه هم دغه معلومه کړي ده چي د زوی په موجودګی کی لمسی ته ميراث نه رسيږی برابره خبره ده که د ده پلار موجود وی او که مړ وی .

(د مړ سوی په ميراث (ملکيت) کي چي څه وی ټول په تقسيم کي داخل دی)

په دی آيت کی يی چي مِمَّاقَلَّ مِنْهُ اَوْكَثُرَ وفرمايل نو ديوه بل جاهلانه رسم اصلاح يی وفرمايله هغه دا چي په خينو قومونو کی خينی قسم مال د خينو خاصو وارثانو د پاره مخصوص کړه کيږی ، مثلاً آس او توره او نور وسله دا يوازی د ځوانانو خلګو حق وو نور وارثان به ورڅخه محرومه کيدل ، د قرآن دی هدايت دا وښوول چي د مړی په ملکيت کی چي هر څه شي وی، برابره خبره ده که لوی وی او که کوچنی، په هرشی کی د وارثانو حق دی ، يو وارث لره يو خاص شي بغير د تقسيم څخه ځان ته ايښوول جائز نه دی .

(دميراث مقرری حصي دالله ﷻ د طرف څخه مقرری سوي دی)

په آخری آيت کی چي يی وفرمايل ، نَصِيبًا مَّفْرُوضًا په دی سره يی دا خبره هم ښکاره کړه چي د مختلفو وارثانو کومی مختلفی حصی چي قرآن مقرر کړي دی ، دا د خدای ﷻ د طرف څخه مقرر سوی حصی دی ، په دی کی چاته په خپل قياس او رايی سره د کمی يا زياتی يا د ردو او بدل کولو هيڅ حق نسته .

(ميراث يو جبری ملک دی په دی کي د مالګوالي رضامندی شرط نه ده)

او ددی لفظ مَفْرُوضًا څخه يوه بله مسئله دا هم معلومه سوه چي د ميراث په ذريعه کوم ملکيت وارثانو ته

Maktaba Tul Ishaat.com

منتقل کیږی داجبری (یعنی دزور) ملکیت دی ، نه په دی کی دوارث قبلول شرط دی او نه په دی باندی ددہ راضی کیدل بلکه که دی په ژبه په داګه داهم ووایی چی زه خپله حصه نه اخلم بیاهم دی شرعًا دخپلی حصی مالك دی دابله خبره ده چی دی یی مالك جوړسی او دشرعی قاعدی مطابق یی یوبل چاته وبخښی یابی خرځ کی بایی پرچا تقسیم کړی.

(دمیراث څخه دمحرومو قریبانو زړه ساتل اوتسلي ضروری ده)

دمړی په قریبانوکی به څه داسی خلق هم وی، چاته چی دشرعی ضابطی لاندی په میراث کی حصه نه ملاویږی ، لیکن دابنکاره خبره ده چی دفرائضو دتفصیلاتو علم هرچاته نه وی ، په عام طورسره هریو قریب داخواهش لری چی ده ته هم په میراث کی حصه ورسیږی ، په دی وجه هرهغه قریب چی ترشرعی ضابطی لاندی دمیراث څخه محرومه سی ، دمیراث دتقسیم په وخت کی دده زړه خفه کیږی اوخاص چی بیا دمیراث دتقسیم په وخت کی دی موجود هم وی، اوچی بیاپه خاص طورسره په دوی کی یتیمان اومسکینان او حاجتمندهم وی ، په داسی وخت کی چی نور قریبان خپله خپله حصه وړی اودوی ولاړوی ګوری، نوددوی دافسوس اوغم ژنی اندازه یوازی هغه څوك کولی سی پرچاچی داسی حال تیرسوی وی اوس دقرآنی نظام ښه والی ته وګوری، چی یوه طرف ته په خپله دقرآن ښوولی عادلانه ضابطه دا ده چی داقرب (نژدی) په مقابله کی ابعد (لیری) محروم دی دوهم طرف ته دابعد زړه خفه کول هم نه غواړی، نو په دی وجه یی په یوه مستقل آیت کی داهدایت وفرمایی.

وَاِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ اُولُوا الْقُرْبٰی وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنُ فَارْزُقُوْهُمْ مِّنْهُ وَقُوْلُوْا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا .

یعنی کوم لیری قریبان اویتیمان مسکینان په میراث کی چی دحصی اخستلوڅخه محروم کیږی که دوی دمیراث دتقسیم په وخت کی موجوددوی نو دمیراث اخیستونکو اخلاقی فرض دی چی ددی مال څخه په خپل اختیارسره څه حصه دوی ته هم ورکی چی دادوی دپاره یوقسم صدقه اوثواب دی ، اوپه داسی وخت کی چی هرکله یومال بغیردڅه محنت اوکوشش څخه محضی دالله ﷻ ددین په وجه دوی ته ورسیږی نودالله تعالی په لاره کی دصدقی اوخیرات مینه دځانه څخه هم د دوی په زړه کی راتلل په کار دی ، لکه چی ددی یومثال په بل آیت کی ذکر دی ، كُلُوْا مِنْ ثَمَرِهٖٓ اِذَآ اَثْمَرَ وَاٰتُوْا حَقَّهٗ يَوْمَ حَصَادِهٖ یعنی دخپل باغ میوه خوری هرکله چی دغه میوه پخه سی اوپه کومه ورځ چی میوه شکوی نوحق ورڅخه وباسی فقیرانو اومسکینانو ته یی ورکوی (دا آیت په سورت انعام کی په ۱۴۲ نمبر باندی راځی) لنډه دا ده چی دمیراث دتقسیم په وخت کی که دلیری قریبان یتیمان مسکینان اونور راجمع سی چی خپله حصه یی دشرعی ضابطی په طورسره په کی نه وی د دوی په جمع کیدو تاسو مه خفه کیږی بلکه کوم مال چی خدای تعالی تاسی ته بی محنته درکی په دی کی په طور دشکرانی دوی ته هم څه ورکی اوداغنیمت وګنی چی دخرخولو یوه ډیره ښه موقع درته رسیږی په دی ورکړه سره به ددوی دزړونوڅخه خفګان لیری سی ، په دی کی دمړی دمیراث څخه محروم لمسی هم راغی ، دده اکاګانو اوماماګانو لره په کار دی چی دخپلی خپلی حصی څخه په خوشحالی ده ته یوڅه ورکی.

Maktaba Tul Ishaat.com

دآیت په آخرکی یی وفرمایل ، وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلاً مَعْرُوفًا که داخلق دغه شان په دی لږو ورکړو باندی هم راضی نه وی، بلکه دنورو سره برابره حصه غواړی نو د دوی دامطالبه دشرعی دقانون څخه خلاف او غیر منصفانه ده ،په دی وجه د دوی ددی مطالبی دپوره کولو خو څه امکان نسته ، لیکن بیاهم دوی ته څه داسی خبره مه کوی چی زړه یی په ماتیږی اوآزاریږی ، بلکه په معقول ډول سره دی دوی پوه کړل سی، چی دشرعی قاعدی پربناء ستاسی په میراث کی څه حصه نسته ، مونږچی درلره څه درکوو ، دامحضی احسان دی اوداخبره هم معلوموله په کار دی چی دی خلقولره څه ورکوی ، دغه دی دشریك مال څخه نه ورکوی ، بلکه بالغ وارثان کوم چی حاضر وی هغوی به یی دخپلی حصی څخه ورکوی،دنابالغو اوغائبو دحصو څخه ورکول جائز نه دی .

(دمیراث دتقسیم په وخت کي دخدای ﷻ څخه بیره کول په کار دی)

په دریم آیت کی عامومسلمانانوته عام خطاب دی چی ددی خبری دی ډیر ډیر اهتمام کوی چی دمړی ترکه دده اولادته پوره پوره ورسیږی اودهری داسی طریقی څخه دی ځان ساتی په کومه کی چی داولاد په حصه باندی خراب اثر غورځول کیږی ، ددی په عاموالی کی دا هم داخله ده چی که تاسی یومسلمان په څه داسی وصیت کولو یاتصرف کولو ووینی په کوم سره چی دده اولاد یانورو وارثانوته دنقصان رسیدو بیره وی نوپه تاسی لازمه ده چی دی دداسی وصیت یا دداسی تصرف څخه منع کی، لکه څنګه چی نبی کریم ﷺ حضرت سعدبن ابی وقاص ؓ دخپل ټول مال یانیم مال دصدقه کولوڅخه منع کی او یوازی د دریمی حصی دمال صدقه کولو اجازت یی ورته ورکړه (مشکوٰة باب الوصایا ص۲۴۵) څکه چی پوره مال یانیم مال یی صدقه کولای نو دوارثانو حصی ختمیدی یاکمیدي .

دارنګه ددی په عاموالی کی داهم داخل دی چی دیتیمانوپر اولیاءوباندی د دوی دمال حفاظت او بیا دپوره پوره ورکولو اهتمام لازم دی ، په دی کی دی لږغوندی کمی هم نه کوی او د نورو دیتیمانو کوچنیانو دحالاتو دی دخپلو کوچنیانو اودخپل محبت سره موازنه وکړی ، ودی ګوری که دی غواړی چی ترده وروسته دی دده داولاد سره خلق ښه سلوك وکړی، چی دی نه پریشانه کیږی اونه دی څوك ظلم پرکوی ، نو ده ته په کار دی چی دنورو دیتیم اولاد سره دی هم دغه معامله کوی، کومه چی دی دخپل اولادپه حق کی غواړی .

(دیتیم مال په ظلم سره خوړل په نس کي سکروټي اچول دی)

په څلورم آیت کی دیتیمانو مال په ناجائزه دخوړونکو دپاره دسخت عذاب وعده ده چی کوم سړی په ناجائز ډول دیتیم مال خوری ، دی خپل نس دجهنم داورڅخه ډکوی ، دی آیت دیتیم مال دجهنم اور مقررکړي دی ، ډیرو مفسرینو دا په تشبیه اوکنایی باندی حمل کړي ده ، یعنی دیتیمانو مال په ناحقه خوړل داسی دی لکه څوك چی خپل نس ته اور وراچوی ، څکه چی انجام یې په آخرت کی هم دغه شان کیږی ، لیکن دتحقیق کونکو قول دا دی ، چی په آیت کی څه مجاز اوکنایی نسته ، بلکه دیتیم کوم مال چی په ناجائزه طریقه وخوړل سی، هم هغه په حقیقت کی اوردی، که څه هم داوخت ددی شکل داورنه

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومیږی، لکه یوسړی چی اورلګیت ته ووایی چی دااوردی یاسنکیا (یو قسم زهر) ته قاتل ووایی ، نوداخوښکاره خبره ده چی اورلګیت په لاس کی داخستو سره لاس نه سوزی اودسنکیاپه لاس کی داخستو یاپه خوله کی داینبوولو سره څوك نه مری البته دلږمږلو څخه وروسته به معلومه سی، چی چااورلګیت ته اور ویلی ووهغه صحیح وو ، دغه شان ترحلق لاندی په تیریدو سره به معلومه سی چی سنکیاته وژونکی ویونکی رښتینی وو ، دقرآن کریم دعامو اطلاقونو څخه هم ددی تائید کیږی چی انسان کم نیك یابد عمل کوی، داعمل دجنت درختی ګلونه اومیوی دی یادجهنم سکروتی دی، که څه هم شکل یی دلته بل ډول دی، مګرپه قیامت کی به په شکلونو باندی ښکاره سی ، دقرآن کریم ارشاد دی وَوَجَدُوا مَاعَمِلُوا حاضِرًا یعنی ، دقیامت په ورځ به دی خپل عمل پخپل مخکی موجود پیدا کی ، یعنی کوم عذاب اوثواب چی ده ته په نظر ورسی دغه به په حقیقت کی دده خپل عمل وی ، په ځینو روایتونو کی دی چی دیتیم مال په ناحقه خوړونکی به دقیامت په ورځ په داسی حالت کی راپورته کړل سی چی دنس ددننه څخه به داور لمبی دده ترخوله، پزه اوغوږونو اوسترګو راوزی ، اونبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی یو قوم به دقیامت په ورځ داسی راپورته کړل سی چی دخولو څخه به یی داورلمبی راوزی ، صحابه کرامو ؓ عرض وکی چی یارسول الله ﷺ دا به کوم خلق وی ؟ ده ﷺ وفرمایل چی ولی تاسی قرآن نه دی ویلی ، اَلَّذِیْنَ یَاْکُلُوْنَ اَمْوَالَ الْیَتٰمٰی ظُلْمًا الآیة (ابن کثیر ص۴۵۲ج۱)

دآیت دمضمون خلاصه داسوه چی دیتیم کوم مال په ناحقه وخوړل سی هغه به په حقیقت کی دجهنم اور وی ، که څه هم اوس اورنه ښکاره کیږی، په دی وجه نبی کریم ﷺ په دی معامله کی دسخت احتیاط کولو دپاره واضح هدایات ورکړی دی ، حضرت ابوهریرة ؓ فرمایی چی دنبی کریمﷺ ارشاد دی.

اُحَرِّجُ مَالَ الضَّعِیْفَیْنِ الْمَرْاَةَ وَالْیَتِیْمَ ابن کثیر ص۴۵۲ج۱)

زه تاسوته په خاص ډول سره د دوو ضعیفانو دمال څخه دلیری کیدو خبرداری درکوم ، یوه ښځه اوبل یتیم، دسورت نسآء په اوله رکوع کی داول څخه ترآخره پوری په عام ډول سره دیتیمانو احکام دی، دیتیمانو دمالونو حفاظت کول، اوددوی مالونه خپل مال نه ګرځول، دوی ته دمیراث په شریك مال کی دحصی ورکولو حکم یی فرمایلی دی اودلوییدو دبیری څخه ددوی مال ژر ژر ختمول دیتیمانو انجونو سره په دی غرض نکاح کول چی مهر به کم ورکړم یابه یی پر مال قبضه وکړم اونور، ددی ټولو کارونو منع یی فرمایلی ده ، په آخرکی یی دیتیم مال په ناحقه خوړلوته نس ته اور اچول وویل، دلته یی خوړل ویلی دی ، لیکن دیتیم مال په ناحقه په هرشان چی استعمال سی، خوړل وی اوکه استعمالول، ټول حرام اوعذاب باعث دی ، ځکه چی په محاوره کی دچامال په ناحقه خوړل، هررنګه استعمال ته شامل دی ، هرکله چی یوسړی وفات سی نو دده دمال په هری هری حصی اوهرلوی اوکوچنی شی پوری دهروارث حق متصل سی دده نابالغه کوچنیان یتیمان سی ددی کوچنیانو سره عام طورپه هریوه کورکی ظلم او زیاتی کیږی اوهرهغه سړی چی ددی کوچنیانو دپلار تروفات وروسته چی پرمال باندی قبضه وکی برابره خبره ده ددی کوچنیانو اکاوی اوکه مشر وروروی اویا مور وی یابل ولی یاوصی وی ، اکثره په دی مال کی

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه قسم تصرف کوي دکم چي په دي رکوع کي منع سویده ، اول خوتر ډيرو کلونو پوري مال نه تقسیموي ددي کوچنیانو په ډوډۍ جامه څه لږ یادیر خرڅ کوي او بیاپه بدعتونو، رواجونو اوفضولیاتو کي ددي شریك مال څخه خرڅ کوي اوپرخپل ځان یي هم خرڅ کوي اوپه سرکاري کاغذاتوکي یي هم نوم بدل کي، دخپلو کوچنیانو په نامه یي کي ،داهغه خبري دي چي خدای ﷻ خبرکه به یوځای هم کور ورڅخه خالي وي ، مدرسو او یتیم خانو ته چي کومه چنده دیتیمانو په نامه راځي ، دا هم په یتیمانو باندي نه خرڅ کول په یوه صورت کي دیتیمانو مال هضم کول دي .

مسئله: دمړي دبدن کالي هم په ترکه کي شامل دي ، هغه دتقسیم څخه پرته هم دغسي خیرات کول، اوپه ځینو علاقوکي دمړي داستعمال داوسپني اوژړو اویادبل شي لوښي دمال دتقسیم څخه بغیر هم دغسي فقیرانو ته ورکول کیږي حال دا دي چي په دي کي دټولو نابالغو اوغیر حاضرو وارثانوهم حق دي ، اول دي مال تقسیم سي اودمړي اولاد ښځي، مور اوپلار، خوندو اوکومو کومو وارثانوته چي شرعًا حصه رسیږي هغوته دي ورکي تردي وروسته په خپله خوښي سره کوم سړي چي غواړي دخپلي خپلي حصي څخه دي په مړي پسي خیرات وکي خودایوازي بالغان کولی سي دنابالغه اجازت هم په شریعت کي معتبر نه دي اوکوم وارث چي غیرحاضروي دهغه په حصه کي هم دهغه داجازت څخه بغیرتصرف جائزنه دي .

مسئله: دمړي مقبري ته دوړلو په وخت کي چي کوم پټو په جنازه سر بیره اچول کیږي ، دغه په کفن کي شامل نه دي ،.دغه دمړي په مال کي اخیستل جائز نه دي، ځکه چي دغه مال شریك دي په ځینو علاقو کي دمړي دکفن دټوکري څخه امام ته دمصلی دپاره ټوکر جوړوي اوبیا دغه مصلی (جای نماز) امام ته ورکول کیږي ، داخرځ هم دکفن ترضرورت زیات دي نودمړي په مال سره یي اخستل جائز نه دي .

مسئله : په ځینو ځایونوکي دمړي دغسل دپاره نوي لوښي اخستل کیږي ، اوبیادغه لوښي ماتیږي ، اول خودنوو لوښو داخیستو ضرورت نسته ، ځکه چي په کورکي چي کم لوښي موجود وي په هغه هم غسل ورکیدی سی ، اوکه داخیستو ضرورت یي پیښ سی نوبیایي ماتول جائزنه دي ، اول په دي وجه چي داخومال ضائع کول دي اودوهم داچي په دي کي دیتیمانو اوغائبو وارثانو حق دي .

مسئله: دترکي ترتقسیم مخکي په دي کي دمیلمنو میلمستیا کول اوصدقه اوخیرات کول هیڅ جائزنه دي ، په دي قسم خیر اوخیرات سره مړي ته هیڅ ثواب نه رسیږي اوبیا دداسي خیرات ثواب ګڼل ډیره سخته ګناه ده، ځکه چي دمړي ترمرګ وروسته اوس داټول مال دټولو وارثانو مشترك حق دي، اوپه دوي کي یتیمان هم وي ، ددي شریك مال څخه خیرات کول داسي دي لکه چي دچاڅخه غلاوکړي اوپه مړي پسي یي خیرات کړي اول تقسیم دمال دي ترهغه وروسته که وارثان په خپلو حصوکي په خپله خوښي دمړي په حق کي خیر اوخیرات کوي نودوي لره اختیار دي، خو دیتیم اوغائب مال به نه مصرفوي ترتقسیم مخکي هم دوارثانوپه اجازت باندي دشریکي ترکي څخه خیرات کول جائزنه دي، ځکه چي په دوي کي به ځیني یتیمان وي نودهغوي اجازت معتبرنه دي اوکوم چي بالغان وي په هغوي کي هم کیدی سي ځیني به داسي وي چي دزړه داخلاصه به یي اجازه نه وي اودلحاظ په وجه به اجازت ورکوي یاپه دي

Maktaba Tul Ishaat.com

وجه چی بیریږی به چی خلق به بدرا باندی ووایی ، ددغه بدو ویلو د شرم په وجه اجازت ورکړی کنی زړه
بی نه غواړی ، ځکه چی په شریعت کی یوازی هغه مال حلال دی چی په طیب نفس سره ورکړه سی ، لکه
چی ددی تفصیل مخکی تیرسوي دی ، دلته مونږ دیوه بزرګ واقعه رانقل کوو چی دا مسئله به زیاته په
واضحه سی ، دی بزرګ دیومسلمان دناجوړی دپوښتنی دپاره تشریف یوړی لږ ساعت دمریض سره
ناست وو ، چی په دی کی دهغه روح ولاړی ، په دی وخت کی چی کوم څراغ بلیدی ، ده هغه پدستی مړ
کی اودخپل جیب څخه یی پیسی ورکړی ، تیل یی راوغوښتل اوړنایی جوړه کړه ، خلقو ورڅخه ددی
پوښتنه وکړه نویی وفرمایل چی ترڅو پوری داسړی ژوندی وو داڅراغ دده ملکیت وو او ددی استعمال
دړته جائز وو ، اوس دی ددی دنیاڅخه رخصت سو نودده په هر یوه شی کی دوارثانو حق راغی ، په دی
وجه دټولو وارثانو داجازی څخه پرته مونږ دا څراغ نه سو استعمالولی او هغه ټول دلته موجود نه دی ،
نو په دی وجه می په خپلو پیسو باندی تیل را وغوښتل او رڼا می په جوړه کړه .

يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ ۖ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ ۚ

حکم کوی تاسی ته الله ستاسی داولاد په حق کی چی دسړی یوه حصه ده د دوو ښځو برابر

فَإِنْ كُنَّ نِسَاءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ ۖ وَإِنْ

بیا که صرف ښځی وی ددوو څخه زیاتی نوهغو لره په درو ۲ کی دوې (۲|۳) دی دهغه مال څخه چی پریښی یی دی

كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ ۚ وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا

او که یوه ښځه وی نو دهغې نیم مال دی ، او دمړی دمور اوپلار هر یوه دپاره د دوی څخه ،

السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِنْ كَانَ لَهُ وَلَدٌ ۚ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَلَدٌ

شپږمه (۱|۶) حصه ده دهغه مال څخه چی مړی پریښی وی ، که دمړی اولاد وی ، اوکه اولاد یی نه وی

وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ ۚ فَإِنْ كَانَ لَهُ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ

اووارثان یی مور اوپلار وی نو دمور یی بیا دریمه (۱|۳) حصه ده ، که دمړی څو وروڼه وه نو دمور یی شپږمه

السُّدُسُ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِي بِهَا أَوْ دَيْنٍ ۗ آبَاؤُكُمْ وَ

شپږمه (۱|۶) حصه ده پس دوصیت دمړی څخه اویاد اداکولو دقرض څخه ستاسی پلار

Maktaba Tul Ishaat.com

اَبْنَآؤُكُمْ لَا تَدْرُوْنَ اَيُّهُمْ اَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا فَرِيْضَةً مِّنَ

اولاد تاسی ته نه ده معلومه چي کوم به نفع ورسوی تاسی ته زیاته ، حصه مقرر کړل سوی ده

اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۱۱﴾

دالله څخه ، بیشکه الله خبردار دی حکمت والا دی.

دآیتونو ترون: په تیره رکوع لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الخ کي دمیراث دحقدارانو اجمالاً ذکرو، په دی رکوع کي ددغه حقدارانو دمیراث دځینو قسمونو ذکر دی او د دوی دمختلفوحالاتو په اعتبارسره د دوی حصی بیان سوي دی ، ددی سلسلی څه تفصیل دسورت په آخرکی راځی او ددی څخه دپاته حصو تفصیل په احادیثو کی سوي دی ، فقهاؤ رحمهم الله دا ټول تفصیلات راجمع کړي دی اويو مستقل فن د فرآئضو په شکل کی یی ورڅخه تیارکړي دی ، په دی ذکر سوی آیت کی د اولاد او دمور اوپلار دحصو بیان سوي دی ددی سره دمیراث څه نوری مسئلی هم ذکر دی .

لنډتفسیر: الله ﷻ تاسی ته حکم کوی ، ستاسی داولاد (دمیراث) په باره کی (هغه داچی) دهلك حصه د دوو انجونو برابره ده (یعنی که یو هلك اویوه انجلۍ وی اوکه هلکان او انجونی ډیری وی نو د دوی دحصو به دیوه اوبل په مابینځ کی نسبت داوی چی هرهلك ته به دوه چنده،اوهری انجلۍ ته به یوچند رسیږی) اوکه (په اولادو کی) یوازی انجونی وی، تر دوو چی زیاتی وی نودی انجونوته به دټول مال څخه دوی ثلثه ($\frac{2}{3}$) رسیږی ، ددغه مال څخه کوم چی دی مړی پریښی دی (اوکه دوی انجونی وی نوبیاهم ورته دوه ثلثه ($\frac{2}{3}$) رسیدل خوښکاره خبره ده، ځکه چی که په دوی کی ددی یوی انجلۍ په ځای هلك وای نو بیا هم ددی انجلۍ حصه که څه هم چی ترهلك کمه ده خو ترد ریمی ($\frac{1}{3}$) حصی نه سی کمیدی نوکله چی دوهمه هم انجلۍ ده نودهغی حصه هم تردریمی نه سی کمیدی اودواړی انجونی په یوحالت کی دی نو ددی هم دریمه سوه نوچی ددواړوحصی یوځای سوی نودوی ثلثی ($\frac{2}{3}$) سوی البته په درو انجونو کی داشك ووچی شاید درو سروته به دریمه دریمه حصه ورسیږی نوټول جایداد به ددوی سی، په دی وجه یی وفرمایل چی که څه هم انجونی تر ددو زیاتی وی خوتر دوو ثلثو ($\frac{2}{3}$) نه به زیاتیږی) اوکه یوه انجلۍ وی نودی ته به (دټولی ترکی څخه) نیمه رسیږی (اوپه اول صورت کی یوپاته ثلث یعنی دریمه حصه اوپه دوهم صورت کی پاته نیمه حصه دنورو خاصو خاصو خپلوانوحق دی اوکه نور داسی هیڅوك نه وی نودغه به هم بیادوی ته واپس سی ، لکه چی تفصیل یی دفقهی په کتابونو کی دی) اومور اوپلار (ته په میراث رسیدوکی دری صورتونه دی ، په یوه صورت کی دوی) ته یعنی په دواړوکی دهریوه دپاره دمړی په ترکه کی شپږمه شپږمه حصه (مقرره) ده ، اوکه دمړی کوم اولاد وی (برابره خبره ده که نارینه وی اوکه ښځه اوبرابره خبره ده یووی اوکه زیات وی اوپاته میراث به اولاد اونورو خاصوخاصو وارثانوته رسیږی اوکه بیاهم څه پاته سی نوبیابه ټولولره ورکول کیږی) اوکه ددی مړی څه اولادنه وی (اویوازی) ده مور

Maktaba Tul Ishaat.com

او پلار دده وارثان وی (دادوهم صورت دی او (یوازی) یی ځکه وویل چی ورور اوخوریی هم نه وی لکه چی مخکی راغی) نو (په دی صورت کی) دده دمورد ریمه حصه ده (اوباقی دوی حصی یی دپلاردی اوچونکه داخبره په فرض صورت کی ښکاره وه، په دی وجه یی وضاحت ونه سو) اوکه دمړی تریوه زیات خویندی وروڼه (دهرقسم چی) وی (برابره خبره ده په پلار مور دواړوکی کی شریك وی چی عینی ورته وایی اوکه یوازی دپلارځخه وی چی علاتی ورته وایی) غرض دهرقسمه ځخه چی وی اوتریوه زیات وی اواولاد یی نه وی او مور او پلاریی وی اودادریم صورت دی) نو (په دی صورت کی به) دده مورته شپږحصی رسیږی (اوباقی به دپلاروی، داټولی حصی) دوصیت (دقدرمال) دایستلوځخه وروسته چی مړی دهغه وصیت وکړی یاقرض (که وی نوددی دایستلوځخه) هم وروسته (به تقسیمیږی) ستاسی پلار اولاد هرځوك چی دی تاسی (ددوی متعلق) په پوره طورسره دانه سی معلومولای چی په دوی کی کم یوسړی تاسوته (په دنیوی یااخروی) نفع رسولوکی (په اعتبار دأمیدسره) زیات نژدی دی (یعنی که ستاسی رایی ته یی دا خبره پاته کړی وای نو تاسی دمیراث دتقسیم مدار په نفع رسولو سره ایښووی او ددی هیڅ یقینی طریقه دهیچا سره نسته نو تقسیم به صحیح نه کیدی په دی وجه الله پاك ﷻ دخپل طرف ځخه حصی مقرری کړی چی دمصلحت علم یی دهغه سره دی، ستاسوپه ذهن کی نه راځی) داحکم دالله ﷻ دطرف ځخه مقررکړه سوي دی (اوداکار) په یقین (سره منل سوي دی) چی الله ﷻ لوی علم والا اوحکمت والادی (نو دکومو حکمتونو چی یی په دی کی رعایت کړي دی ، په خپل علم سر هغه معتبر دی ، په دی وجه ستاسی په رایه باندی یی پاته نه کی)

معلومات اومسئلي

(پرمیراث باندی مخکني حقونه)

دشریعت دااصول دی چی دمړی دمال ځخه اول دشریعت مطابق دده دکفن دفن خرڅونه پوره کړی داسی چی فضول خرچی او زیات مصرفونه په کی هم نه وی اوبخیلی هم نه وی ، تردی وروسته به دده قرضونه اداکړل سی اوکه قرضونه یی دومره وه چی دده ټول مال پکښی ختمیږی یاپردی مالْ هم زیات وی نونه به یی میراث خورته څه رسیږی اونه به وصیت پوره کولای سی اوکه دقرضونو ځخه وروسته مال پاته سویا قرضونه بالکل نه وه نوکه ده څه وصیت کړی وی اوهغه وصیت دګناه نه وِی نواوس چی کوم موجود دی دهغه په دریمه حصه کی به دغه وصیت پوره کوی ، که یو سړی دخپل ټول مال وصبت وکړی خوبیابه هم په دریمه حصه کی نافذ وی ، د دریمی ـصی دمال ځخه ز ت وصیت کول مناسب هم نه دی او دوارثانو دمحرومه کولو په نیت سره وصیت کول ګناه هم ده دقرضونو د اداء کولو ځخه وروسته به په دریمه حصه کی وصیت پوره کړی اوپر وارثانوبه تقسیم کړه سی چی تفصیلات یی دمیراثو په کتابونوکی موجوددی که وصیت یی نه وی کړی نودقرض دااداکولو ځخه وروسته به ټول مال پر وارثانو تقسیم کړل سی .

داولاد حصه: لکه چی په تیره رکوع کی تیرسوی دی چی دمیراث تقسیم به دااَقْرَبْ فَالْاَقْرَبْ په اصولو باندی وی دمړی اولاد اومور اوپلار چونکه ډیرنژدی دی نوپه دی وجه به دوی ته په هرحال کی میراث

Maktaba Tul Ishaat.com

رسیږی دادواړه قرابتونه دانسان ترټولو نژدی بی له واسطی قرابتونه دی نورقریبان په واسطه سره دی په قرآن شریف کی اول ددوی حصی بیان سوي دی اوداولاددحصوڅخه یی شروع کړی ده لکه چی ارشاد دی يُوصِيكُمُ اللهُ فِيٓ أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنثَيَيْنِ . دا یوه داسی قاعده کلیه ده چی هلکان او انجونی دواړه یی دمیراث حقداره جوړکړل او دهر یوه حصه یی هم مقرره کړه او دا اصول معلوم سوه چی که دمړی په اولاد کی هلکان اوانجونی دواړه وی ، نو د دوی په حصه کی چی کوم مال راسی داسی به تقسیمیږی چی هر یوه هلك ته به دانجلۍ په مقابله کی دوه چنده رسیږی ، مثلاً دیوه سړی یو زوی او دوې لوڼی وی نومال به څلور حصی سی (۲) هلك ته او (۱) به هری یوی انجلۍ ته ورکړل سی .

(انجونوته دحصي ورکولو اهمیت)

قرآن مجید انجونوته دحصی ورکولو دومره اهتمام کړي دی چی دانجونو حصه یی اصله مقرره کړي ده او د دوی په اعتبار سره یی دهلکانوحصه ښوولی ده ، اود لِلْأُنثَيَيْنِ مِثْلُ حَظِّ الذَّكَرِ (دوو انجونوته دیوه هلك دحصی په اندازه) دفرمایلو په ځای یی ، لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنثَيَيْنِ (هلك ته به د دوو انجونودحصی په قدر) په الفاظوسره یی تعبیر فرمایلی دی ، کوم خلق چی خوندوته حصه نه ورکوی اوهغوی یی په دی وجه معاف کوی چی یاره رارسیږی خوهغسی هم نه ، نو دوړونو سره وربانذی زړه ولیٔ بدوم ، داسی معافی په شریعت کی معافی نه ده ، د دوی حق دوړونو په ذمه واجب پاته کیږی او داسی خلق سخت ګناهکاردی ، په دوی کی ځینی انجونی نابالغی هم وی ، دوی لره حصه نه ورکول دوچنده ګناه ده یودشرعی وارث حصه قبضه کول اودوهم دیتیم دمال خوړل ، تردی وروسته په زیات وضاحت سره دانجونو حصه داسی بیانوی ، فَإِن كُنَّ نِسَآءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ یعنی که نارینه اولادیی نه وی اویوازی انجونی وی او تریوی زیاتی وی نودوی ته به دمړی دمال څخه دوه ثلثه (۲) رسیږی چی دغه ټولی انجونی یی په برابره حصه سره حقداره دی اوباقی دریمه حصه به نورو وارثانو ته ورسیږی ، مثلاً دمړی مور اوپلار ، ښځه یاخاوند اونور دمیراث حقدارانوته به ورسیږی ، دوی انجونی اوتر ددوو زیاتی ټولی به په دغه دوو ثلثو (۲) کی شریکي وي ، تردوو دزیاتو حکم خوپه قرآن شریف کی په دی آیت کی ښه په ډاګه ذکردی، لکه چی د فَوْقَ اثْنَتَيْنِ الفاظ پردی باندی دلالت کوی، اوکه انجونی دوی وی نودهغو هم داحکم دی، کوم چی تردوو دزیاتو حکم دی ، ددی ثبوت په حدیث شریف کی ذکر دی .

عَنْ جَابِرِبْنِ عَبْدُ اللهِ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمْ حَتّٰى جِئْنَا اِمْرَءَةً مِّنَ الْاَنْصَارِ فِي الْاَسْوَافِ فَجَاءَتِ الْمَرْءَةُ بِابْنَتَيْنِ لَهَا فَقَالَتْ يَارَسُوْلَ اللهِ ﷺ هَاتَانِ بِنْتَا ثَابِتِ بْنِ قَيْسٍ قُتِلَ مَعَكَ يَوْمَ اُحُدٍ وَقَدِ اسْتَفَاءَ عَمُّهُمَا مَالَهُمَا وَمِيْرَاثَهُمَا كُلَّهُ وَلَمْ يَدَعْ مَالاً اِلاَّ اَخَذَهُ فَمَاتَرٰى يَارَسُوْلَ اللهِ ﷺ فَوَاللهِ لاَ تُنْكَحَانِ اَبَدًا اِلاَّ وَلَهُمَا مَالٌ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ يَقْضِي اللهُ فِيْ ذٰلِكَ وَقَالَ نَزَلَتْ سُوْرَةُ النِّسَآءِ (يُوْصِيْكُمُ اللهُ فِيْ اَوْلَادِكُمْ الاية) فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اُدْعُوْا لِيَ الْمَرْءَةَ وَصَاحِبَهَا فَقَالَ لِعَمِّهِمَا اعْطِهِمَا الثُّلُثَيْنِ وَاعْطِ اُمَّهُمَا الثُّمُنَ وَمَا بَقِيَ فَلَكَ (ابوداؤد كتاب الفرائض، وبمعناه في الترمذی ابواب الفرآئض) (ابوداؤد وايی چی بشرپه دی كی

خطا سوی دی دالونی دسعدبن ربیع وی اوثابت بن قیس خوپه یمامه کی قتل سوی وو)
زباړه : دجابر ﷺ څخه روایت دی ، دی فرمایی چی یو وخت مونږ دنبی کریم ﷺ سره دباندی ووتو په دی کی مونږ په اسواف کی پریوی انصاری ښځی باندی راغلو هغی ښځی خپلی دوی لونی راوستی اووی ویل چی ای دالله ﷺ رسوله ﷺ ؟ دا دواړی انجونی دثابت بن قیس ﷺ (چی زما خاوند وو) لونی دی ، کوم چی ستاسره داحد په غزاکی شهید سوی دی ، ددی انجونو اکا د دوی په ټول مال اوټول میراث باندی په خپله قبضه کړي ده او دوی ته یی هیڅ شی نه دی پاته کړی ، په دی معامله کی تاسی څه فرمایاست ، په خدای ﷺ قسم دی که ددی انجونو مال نه وی نو هیڅوك به هم ددوی سره نکاح کولو ته تیارنه سی ، نبی کریم ﷺ چی دا واوریدل نو وی فرمایل چی الله ﷺ به ستاسی په حق کی فیصله وکړی ، حضرت جابر ﷺ فرمایی چی بیاهرکله سورت نسآء نازل سو (يُوْصِيْكُمُ اللّٰهُ فِيْٓ اَوْلَادِكُمْ الخ) نونبی کریم ﷺ وفرمایل ، چی هغه ښځه اولیور یی (دانجونوهغه اکاچی د دوی په ټول مال یی قبضه کړی وه) راوغواړی ، نوحضور ﷺ ددغه انجونو اکاته وفرمایل چی دټول مال دوه ثلثه (۲) حصه انجونو ته ورکړه او مور ته یی اتمه اوکوم چی پاته سوه هغه ستا سوه .

په دی حدیث کی چی دکومی مسئلی ذکر دی په دی کی حضور ﷺ دوو انجونو ته هم دوه (۲) ثلثه حصه ورکړه لکه څنګه چی په قرآن کی په ذکر سوی آیت کی تر دوو دزیاتوحکم وو.

تردی وروسته یی ارشاد وفرمایی ، وَاِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ یعنی که دمړی په اولاد کی یوازی یوه انجلۍ وه اونارینه اولاد یی بالکل نه وو نو دانجلۍ به دخپل مړ پلار یامور په مال کی نیمه حصه (یعنی دټول مال نیمه حصه) اخلی اوباقی نیمه به دنورو وارثانو وی.

دمور اوپلار حصه: تردی وروسته الله ﷺ دمړی دمور او پلار حصی وښوولی او دری حالتونه یی ورلره ذکر کړل ، اول حالت دا چی مور او پلاریی دواړه ژوندی وی او اولادیی هم وی که څه هم یو هلك یایوه انجلۍ ولی نه وی ، په دی صورت کی دمور اوپلار شپږمه شپږمه حصه ده او نور به یی اولاد ، ښځه یاخاوند اخلی ، او په ځینو حالاتوکی چی دتقسیم څخه یوڅه پاته سی نوهغه هم پلارته رسیږی، پرخپلی مقرری شپږمی حصی سر بیره دفرائضو په اصلاح کی دی ته (استحقاق تعصیب) وایی دوهم حالت یی دا وښووی ، چی دمړی اولاد او خوندی وړونه نه وی اومور اوپلار یی موجودوی نوپه دی صورت کی به دمړی په پاته مال کی دریمه دموروی اونوری پاتی دوی حصی به دپلار وی ، دا دهغه صورت حکم دی چی دمړی ښځی یاخاوندهم نه وی اوکه خاوند یاښځه یی موجود وی نو اول به ورڅخه د دوی حصه جلا کوی ، او په پاته کی به (۱) مور اخلی او (۲) پلار ، دریم حالت دادی چی دمړی اولادنه وی لیکن خوندی وړونه یی موجود وی چی تعدادیی دوه وی برابره خبره ده که دواړه وړونه وی اوکه دواړی خوندی وی اوکه تر د دوو زیات وی ، نو په دی صورت کی به مور ته شپږمه حصه رسیږی اوکه نورڅوك وارثان یی نه وه نوپاته (۵) به پلارته ورسیږی دخوندو وړونوپه موجودګی کی دمور حصه کمه سوه خو البته خوندو اووړونوته څه رسیږی نه ، څکه چی پلار په نسبت د ورور اوخور زیات نژدی دی ، څه چی

Maktaba Tul Ishaat.com

پاته سی هغه به دپلار وی په دی صورت کی دمور حصه د (١) ثخه (١) سوه ، دفرائضو په اصطلاح کی دی ته (حجب نقصان) وایی اوداخوندی اوورونه دکوموپه وجه چی دمور اوپلار برخه (پریکیږی) کمیږی برابره خبره ده که حقیقی وی اوکه پلارشریك وی یامورشریکه وی په هرصورت کی چی وی خودمور حصه کمیږی په دی شرط چی تریوه زیات وی ، دمقررو حصو دبیانولو ثخه وروسته یی وفرمایل.

اٰبَآؤُكُمْ وَاَبْنَآؤُكُمْ لَاتَدْرُوْنَ اَيُّهُمْ اَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا فَرِيْضَةً مِّنَ اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا : یعنی داولاد اومور اوپلار داحصی الله ﷻ په خپل طور سره مقرری کړي دی اوالله ﷻ ته هرثه معلوم دی اوهغه حکیم هم دی کومی حصی چی یی مقرری کړي دی ، په دی کی لوی حکمتونه دی که ستاسی په رایی باندی یی دمیراث تقسیم اینبی وای نو تاسی به داسی تقسیم کوی چی دچاثخه مودزیاتی نفعی امیدوی، هغوی ته به مو ورکوی لیکن داخبره چی نفع رسان به ثوك وی ؟ اوترټولو زیاته نفع به دچاثخه در رسیږی ؟ ددی یقینی علم حاصلول ستاسو دپاره گران وونوپه دی وجه یی دنفع رسانی په ځای اقربیت مدار دحکم جوړکی دقرآن حکیم دی آیت دا خبره وښووله چی دمیراث کومی حصی چی الله ﷻ مقرری کړي دی دا دهغه فیصله سوی حکم دی، په دی کی چاته دخپلی رایی ورکولو یاکمی اوزیاتی کولوثه حق نسته اوتاسی ته ښه په زړه سره ددی قبلول په کار دی ، ستاسی دخالق اومالك داحکم پرحکمت اومصلحت باندی مبنی دی ، ستاسی دنفعی یواړخ هم دهغه داحاطی دعلم ثخه وتلی نه دی اوکوم حکم چی هغه کوی ، دیومصلحت اوفائدی ثخه خالی نه وی ، تاسی ته دخپلی نفع اونقصان پوره علم نسته که دمیراث دتقسیم مسئله یی ستاسی رایی ته پریښی وای نوتاسوبه خامخا دخپلی ناپوهی په وجه صحیح فیصله نه وای کړی نو الله ﷻ دا فرض پرخپله ذمه واخستی چی دمال په تقسیم کی عدل اوانصاف پوره پوره قائم سی اودمړی سرمایه په منصفانه طریقه سره دمختلفو مستحقینو په لاسونوکی گردش وکی اوفائده یی ډیرو ته ورسیږی. ١

وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ اَزْوَاجُكُمْ اِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهُنَّ وَلَدٌ فَاِنْ كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ

اوستاسی دی نیم مال کوم چی پریښی وی ستاسی ښځی که نه وی د دوی اولاد اوکه د دوی اولاد وی نوتاسی

الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُّوْصِيْنَ بِهَآ اَوْ دَيْنٍ ؕ

دپاره ثلورمه ده ، دهغه ثخه چی پاته کړی وروسته دوصیت ثخه چی وی کړی یا وروسته دقرض ثخه ،

وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ اِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّكُمْ وَلَدٌ فَاِنْ كَانَ

اودښځو دپاره ثلورمه حصه مال دی دهغه ثخه چی تاسی پاته کړی ، که نه وی ستاسی اولاد اوکه ستاسی

لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُمْ مِّنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ

اولاد وی نو دوی ته اتمه حصه مال دی دهغه ثخه چی تاسی پاته کړی ، وروسته دوصیت ثخه چی تاسی یی

Maktaba Tul Ishaat.com

تُوْصُوْنَ بِهَآ اَوْدَيْنٍؕ

وکړې یا ورروسته دقرض څخه .

لنډتفسیر: دآیتونو ترون: تر اوسه پورې دمیراث دهغه مستحقینو دحصوبیان وو ، دکومو چې دمړي سره دنسب اوپیدا ایښت رابطه وه ، په دې ذکرسوې آیت کې دځینو نورو مستحقینو ذکر دې اودمړي سره ددوې تعلق دنسب نه دی، بلکه دښځې خاوند دی، چې بیان یې دادی ، اوتاسې ته به نیمه رسیږي دهغه ترکې څخه چې ستاسې بیبیانې یې پاته کړې که ددوې څه اولادنه وي (نه نارینه اونه ښځه، نه لږ اونه ډیر) اوکه ددې بیبیانوڅه اولادوي (برابره خبره ده که ترتاسې دمخکښې خاونده څخه وي) نو (په دې صورت کې) تاسې ته ددوې دترکې څخه څلورمه دررسیږي لیکن په هریوه صورت کې دامیراث) دوصیت (قدر مال) ایستلو څخه ورروسته چې هغه ددې وصیت وکې یاقرض (که چیرې وي نوددې ترایستلو) ورروسته (به دررسیږي) اوبیبیانوته به څلورمه دررسیږي دهغه ترکې څخه چې تاسې یې پریږدې (برابره خبره ده که دغه ښځه یوه وي اوکه ډیرې وي نودوې به په دغه څلورمه کې برابره حصه اخلي) که ستاسې څه اولادنه وي (نه نارینه نه زنانه نه یونه ډیر) اوکه ستاسې څه اولادوي (برابره خبره ده ددې بیبیانوڅخه وي یادبلې ښځې څخه) نو (په دې صورت کې به) دوی ته (برابره خبره ده که ښځه یوه وي اوکه ډیرې وي) ستاسوپه ترکه کې اتمه حصه دررسیږي (داهم دوه صورتونه دي اوپه دواړو صورتونوکې به باقي ترکه نورو وارثانوته دررسیږي، لیکن دامیراث) دوصیت (قدري مال) ترایستلو څخه ورروسته چې تاسې ددې وصیت کړې وو یاقرض (که چیرې وي نوددې ترایستلو) ورروسته (به دررسیږي)

معلومات اومسئلي

دخاوند اوښځې حصه: په دې لوړو کرښوکې دخاوند اوښځې حصې مقرر سوې اواول یې دخاوند حصه وښوولې ، شاید چې ددې ددمخه کولوجه داوې چې دده اهمیت ښکاره کول مقصود دي څکه چې دښځې تروفات ورروسته خاوند دبل کور سړی سې که دپلار په کور ښځه مړه سې اوددې مال هلته وي نوبیا ددغه مال څخه خاوندته دحصې ورکولو څخه منع کولې سې نوګویا ددې ناحقې دبندولو دپاره یې دخاوند دحصې اول بیان وکې اوتفصیل ددې دا دی چې که دغه مړه سوې ښځې څه اولادنه وي پاته کړي ، نو خاوند ته به ورروسته ترقرض اووصیت دپوره کولو، ددې مړې ښځې په مال کې نیمه حصه دررسیږي اوپاته نیمه به یې دنورو وارثانو وي لکه مور اوپلار، خور اوورور به دقاعدې مطابق په کې خپله خپله حصه اخلي، اوکه دې مړې ښځې اولادپاته کړې وي برابره خبره ده که یووې اوکه ډیر، هلك وي اوکه انجلۍ، ددې خاوندڅخه یې وي اوکه دبل څخه یې وي نو په دې صورت کې به دې موجوده خاوندته ددې مړې ښځې په مال کې دقرض اووصیت پوره کولوڅخه ورروسته په باقي مال کې څلورمه حصه دررسیږي اوپاته درې حصې به نورو وارثانوته دررسیږي ، داد خاوند دحصې تفصیل وو ، اوکه خاوندمړسو اودده څه اولادنه وو پاته، نوترقرض اووصیت پوره کولو ورروسته به ښځې ته ددې مړخاوند په مال

Maktaba Tul Ishaat.com

کې څلورمه حصه وررسیږي ، اوکه دده څخه څه اولاد پاته وو برابره خبره ده که ددې ښځې څخه وي اوکه
دبلې څخه، نوپه دې صورت کې به وروسته ترادآء کولو دقرض اووصیت پوره کولو اتمه حصه وررسیږي
اوکه ښځې ترېوې زیاتې وي نوټولې به ددغه ذکرسوي تفصیل مطابق ددغه یوې ښځې په حصه کې
شریکې وي اوټولې به دغه یوه اتمه یاڅلورمه حصه په خپل مینځ کې برابرتقسیموي (داسې نه چې
گوندې هره یوه به څلورمه یااتمه حصه اخلي) اوپه دې دواړو حالتونوکې چې دخاوند یاښځې دخپلې
حصې تراخستو وروسته څه پاته سي هغه به دمړي پرنورو وارثانو تقسیمیږي.
مسئله: خو دا کتل په کار دي چې دښځې مهر یې ورکړي دی اوکه نه دی که دښځې مهریې نه وو اداکړی
نو دنورو قرضونو په شان به اول ددغه ترکې څخه دمهرقرضه اداکړل سي ، تردې وروسته به نوره پاته
ترکه تقسیمیږي اوترمهر اخستلو وروسته به ښځه خپله میراث حصه هم اخلي اوکه دمړي مال دومره وي
چې دمهر تراداکولو وروسته هیڅ نه پاته کیږي نوهم به دنورو قرضوپه شان ټول مال دمهرپه قرضه کې
ښځې لره ورکړل سي ، بل یووارث ته هیڅ هم نه وررسیږي .

وَإِن كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلَالَةً أَوِ امْرَأَةٌ وَلَهُ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ فَإِن

اوکه وي هغه سړی چې میراث ورڅخه پاته سي پلار زوی هیڅ یې نه وي یاښځه داسې وي او ددې مړي یو وروریا
خور وي نو په دواړو کې دهر یوه شپږمه حصه ده ،

كَانُوا أَكْثَرَ مِن ذَٰلِكَ فَهُمْ شُرَكَاءُ فِي الثُّلُثِ مِن بَعْدِ

او که زیات وي ددې څخه نو ټول شریك دي په دریمه کې وروسته

وَصِيَّةٍ يُوصَىٰ بِهَا أَوْ دَيْنٍ غَيْرَ مُضَارٍّ وَصِيَّةً مِّنَ اللَّهِ

تر وصیت چې سوی وي یا قرض هرکله چې دنورو نقصان یې نه وي کړی ، داحکم دی دالله

وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَلِيمٌ ﴿١٢﴾

او الله دی په هرڅه پوه برد باره .

لنډتفسیر: دآیتونوتړون : دنسب ، ښځوالی اوخاوندوالی څخه چې کوم قرابتونه پیداکیږي دهغه
دمختصرو حقونو بیانولوڅخه وروسته اوس دداسې مړي دترکې حکم بیانیږي دکومو څخه چې اولاد
یامور اوپلار پاته نه سي ، اوکه هغه مړی چې میراث یې نوروته رسیږي برابره خبره ده که دغه مړی سړی
وي اوکه ښځه، داسې وي چې نه یې اصول وي (یعني پلار نیکه) اونه یې فروع وي (یعني اولاد اودااولاد
بچیان) اودده (مړي) یووررور یایوه خور (اخیافي) وي نوپه دې دواړوکې به هریوه ته شپږمه حصه

ورسیږي، اوکه دوی تردی (یعني تریوه) زیات وه (مثلاً دوه یاتردی زیات) نودوی ټول به په دریمه حصه کې (یوشان برابر برابر) شریك وي (اوپه دوی کې دنر اوښځي حصه یوشان ده، اوباقي میراث به یې نورو وارثانو ته ورسیږي، اوکه ددوی څخه پرته نورڅوك نه وه، نودغه پاته به بیاددوی سی، دادوه صورتونه سوه اوپه دواړو صورتونوکی دامیراث) دوصیت (قدر مال) ترایستلو وروسته چې وصیت یې کړی وی یا (که چیرې) قرض (وی نوددی ترایستلو) وروسته (وررسیږي) په دې شرط چې (وصیت کوونکی) یوچا (وارث) ته ضررونه رسوي (نه ظاهرًانه ارادتًا، ظاهرً اداسې چې تردریمې په زیاتی حصی سره وصیت وکې، نودغه وصیت به پرمیراث باندې مخکې نه وي اوارادتًا داسې چې په دریمه کې دننه وي، لیکن نیت یې داوي چې وارث ته کم ور رسیږي، نو دا به په ظاهرکې نافذوي، لیکن په ګناهګاره کیږي به) دا (خومره چې دلته بیان وسو) حکم یې سوي دی دالله ﷻ دطرفه څخه، اوالله ﷻ ښه خبردی (چې څوك یې مني او څوك یې نه مني، اونه منونکوته چې کومه فوراً سزا نه ورکوي، نو دهغه وجه دا ده چې) حلیم (هم) دی (یعني صبرکوي اوفوراً چاته په حکم نه منلو سزا نه ورکوي)

معلومات اومسئلې: دکلاله میراث: په دې کرښوکی دکلاله میراث بیان سوي دی، دکلاله ډیرتعریفونه سوي دي چې علامه قرطبي رحمه الله په خپل تفسیرکی هم نقل کړي دي، مشهور تعریف یې دا دی چې په لنډتفسیرکی ذکردی چې دمړی نه اصول وي اونه یې فروع وي، هغه کلاله ده، صاحب دروح المعاني لیکي چې کلاله په اصل کې مصدردی چې دکلال په معنی کی دی اودکلال معنی ده: ستړی کیدل چې پرضعف باندي دلالت کوي، دپلار اوزوی څخه ماسوا نورو قریبانوته کلاله ویل کیږي ځکه چې دغه قرابت دپلار او زوی دقرابت په نسبت کمزوری دی، بیادکلاله اطلاق پرهغه مړی وسو، دچاڅخه چې نه اولاد پاته وي اونه پلار اوپرهغه وارث یې هم اطلاق وسوچې دمړی پلار اوزوی نه وي، دلغت په اعتبارسره چې یې کوم اشتقاق وښووی، ددی تقاضاداده، چې لفظ د (ذو) دې مقدر وي اوکلاله به په معنی د (ذوکلاله) وي، یعني کمزوری قرابت والا، بیاپردغه میراثي مال هم ددی اطلاق وسوچې داسی مړی یې پریږدی چې زوی اوپلاریې نه وي، خلاصه دخبرې داسوه چې که یوسړی یاښځه وفات سي اودده نه پلاروی اونه نیکه اونه اولاد اوده یووررور یاخور مور شریك پاته کړی وي نوکه دغه وررور وی نوددې مړی په مال کی به هغه ته شپږمه حصه وررسیږي اوکه وررونه وي خوروی نوهغه ته به شپږمه حصه وررسیږي اوکه تریوه زیات وي مثلاً یووررور اویوه خوروی یادوه ورونه یادوی خوندي وي نودوی ټول به دمړی په ټول پاته کړي مال کی په دریمه حصه کی شریك وي اوپه دې کی به نارینه ته دښځي دوه چنده حصه نه رسیږي، علامه قرطبي رحمه الله فرمایي، وَلَيْسَ فِي الْفَرَائِضِ مَوْضِعٌ يَكُونُ فِيهِ الذَّكَرُ وَالْأُنْثَى سَوَاءً إِلَّا فِي مِيرَاثِ الْإِخْوَةِ لِلْأُمِّ: یعني په میراث کی یوځای داسی نسته چې نارینه اوښځه په کی د برابرو حصو حقداره وي، مګر په خوندو اوورونو دمور دطرف کی.

دورور اوخور حصه: پوه سه چې په دې آیت کی په مور دشریك وررور اوخورحصه ښوول سوي ده، که څه هم چې دقرآن کریم په دې آیت کی ددی ذکر نسته، لیکن په اجماع سره داقید معتبر دی، دحضرت

Maktaba Tul Ishaat.com

سعدبن ابی وقاص ﷺ قرآئت هم په دی آیت کی داسی دی ، وَلَهٗ اَخٌ اَوْاُخْتٌ مِّنْ اُمِّهٖ لکه چی علامه قرطبی، صاحب دروح المعانی اوابوبکر جصاص اونورو حضراتو ۲نقل کړیدی ، که څه هم چی داقرآئت متواترنه دی لیکن دامت داجماع په وجه عمل وربانډی کیږی اوددی یو ښکاره دلیل دادی چی الله تبارك وتعالی دسورت نسآء په آخرکی هم دکلاله دمیراث ذکرکړي دی ، هلته یی ویلی دی چی که یوه خوروه نودی ته به نیمه حصه رسیږی اوکه یو وزور وو نودخور دټول مال وارث به وی اوکه دوی خوندی وی نودوه ثلثه (۲) به اخلی ، اوکه ډیری خوندی اووروڼه وه نونارینه به دزنانه وو دوچنده حصه اخلی ، دسورة په آخر کی چی کوم حکم دی نوداد (عینی) یعنی حقیقی خوراووروراو(علاتی) یعنی په پلار شریك خور او ورور ذکر دی نو نه دلته ورسره عینی اوعلاتی خور او ورور شامل کړه سی نوپه احکامو کی به تکر لازم سی.

دوصیت مسئلي: په دی رکوع کی یی دری سره دمیراث حصی بیان کړی دایی وفرمایل چی دحصو داتقسیم تروصیت اوقرض وروسته دی ، لکه چی مخکی عرض سویدی چی دمړی دکفن اودفن څخه وروسته به دټول مال څخه قرض اداکړل سی نودقرض څخه چی کوم مال پاته سی په دی کی به په دریمه حصه باندی وصیت نافذکیږی اوکه وصیت تردریمی حصی پرزیات مال باندی وو ، نوشرعاً ددی هیڅ اعتبارنسته ، په ضابطه کی قرض اداکول تروصیت مخکی دی که ټول مال یی په قرض کی ختم سونونه به بیاوصیت نافذوی اونه به میراث چلیږی ، په دی رکوع کی کوم ځای چی دوصیّت ذکر راغلی دی دری ځایه هلته یی دوصیت ذکر ترقرض مخکی کړیدی نوددی څخه په ظاهره دامعلومیږی چی دوصیت حق ترقرض مخکی دی ، حضرت علی ﷺ ددی غلط فهمی دلیری کولو دپاره فرمایلی دی.

اِنَّکُمْ تَقْرَءُوْنَ هٰذِهِ الْاٰیَةَ مِنْ بَعْدِ وَصِیَّةٍ یُّوْصُوْنَ بِهَآ اَوْ دَیْنٍ وَاِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَضٰی بِالدَّیْنِ قَبْلَ الْوَصِیَّةِ (مشکوٰة بحواله ترمیذی ص۲۲۴)

یعنی تاسی دا آیت تلاوت کوی مِنْ بَعْدِ وَصِیَّةٍ یُّوْصُوْنَ بِهَآ اَوْدَیْنٍ په دی کی که څه هم لفظ دوصیت مخکی دی لیکن په عملی طورسره نبی کریم ﷺ دی ترقرض وروسته کړي دی ، خوبیاهم دانکته معلومول ضروری دی چی په عمل کی وصیت وروسته دی نوپه الفاظوکی یی دی ترقرض مخکی ولی بیان کی ؟ صاحب دروح المعانی په دی باره کی لیکی.

وَتَقْدِیْمُ الْوَصِیَّةِ عَلَی الدَّیْنِ ذِکْرًا مَعَ اَنَّ الدَّیْنَ مُقَدَّمٌ عَلَیْهَا حُکْمًا لِاِظْهَارِ کَمَالِ الْعِنَایَةِ بِتَنْفِیْذِهَا لِکَوْنِهَا مَظَنَّةً لِتَفْرِیْطِ فِیْ اَدَائِهَا الخ

یعنی په آیت کی په قرض باندی دوصیت دمخکی والی وجه دا ده کله چی دی دمیراث په شان بغیردڅه عوض څخه وررسیږی اوپه دی کی قرابت هم شرط نه دی ، په دی وجه دوارثانو دطرف څخه ددی په نافذولو کی دکوتاهی یاتروخت اړولو قوی بیره وه چی خپل دمیراث مال به دبل لاس ته تلل نه خوښوی ، په دی وجه یی دوصیت دشان داهتمام کولو دپاره هغه پرقرض باندی دمخه کی اوبیا داخبره هم وه چی داضروری نه ده چی پرهریوه مړی دی قرض وی اوکه په ژوندکی وربانډی هم وی خوترمرګه پوری بی پاته کیدل ضروری نه دی اوکه دمرګ په وخت کی وربانډی قرض وی هم ، نو ددی مطالبه دحقدار دطرفه وی نو په دی وجه وارثان ورڅخه انکارهم نه سی کولی ، نو په دی کی دکوتاهی کولو احتمال ډیرکم دی په خلاف دوصیت ، چی کله مړکیدونکی مال پاته کوی نو دهغه زړه دا هم غواړی چی دصدقه جاریه په

Maktaba Tul Ishaat.com

طور باندې دخپل مال یوه حصه دنیکۍ په څه کارکې ولګوي، نو دلته ددې مال څوك مطالبه کوونکې نه وي، په دې وجه دوارثانو دطرفه پکښې دکوتاهۍ امکان وو، چې دهغه دبندیز دپاره په خاص طورسره يې په هرځای کې وصيت پر قرض مخکې ذکر کې.

مسئله: که قرض اووصیت نه وونو دکفن اودفن څخه وروسته پاته ټول مال به پروارثانو تقسیم کړل سی.

مسئله: دوارث په حق کې وصیت کول باطل دی که چاد خپل زوی، لور، خاوند یاښځې دپاره یادبل داسې سړي دپاره وصیت وکې چې ده ته په میراث کې حصه وررسیده نودده وصیت هیڅ اعتبارنسته، وارثانو ته یوازې دمیراث حصه وررسیږي تردې زیات دوی مستحق نه دی، نبی کریم ﷺ دحجة الوداع په خطبه کې ارشاد فرمایلی دی.

إن الله قد أعطى كُلّ ذي حقٍّ حقَّهُ فلاوَصِيَّةَ لِوارِثٍ (مشکوٰة بحواله ابوداود ص۲۲۵)

الله ﷻ هرحقدارته دهغه حق ورکړی دی نود یووارث په حق کې هیڅ وصیت معتبرنه دی.

البته که نوروارثان اجازت وکړي نودکوم وارث دپاره چې يې وصيت کړی دی هغه به پوره کړی اوپاته مال به تقسیم کړي په شرعي طریقه سره چې په دغه تقسیم کې به بیاهم دغه وارث ته خپله حصه رسیږي، دحدیث په ځینو روایاتوکې د اِلاَّ اَنْ يَّشَآءَ الْوَرَثَةُ استثناء هم ذکرده (لکه چې صاحب دهدايې ویلی دی)

دغَیْرَ مُضَآرٍّ تفسیر: دکلاله دمیراث په آخرکې ددې فرمایلو څخه وروسته چې دامیراث به تروصیت اوقرض وروسته نافذوي، لفظ د غَیْرَمُضَآرٍّ يې وفرمايي، دا قيدکه څه هم یوازې په دې ځای کې ذکر دی، لیکن تردې مخکې چې کوم دوه ځایه دوصیت اوقرض ذکردی هلته هم دامعتبر اومعمول دی، مطلب ددې دا دی چې مرکیدونکی لره دوصیت او قرض په ذریعه وارثانوته نقصان رسول جائز نه دی، په دې وصیت کولویا پرخپل ځان دقرض په فرضي اقرار کولوسره وارثانو لره دمحرومه کولو اراده کول اوپه دې اراده باندې عمل کول سخت منع دی اوګناه کبیره ده، د قرض یاوصیت په ذریعه دضرر رسولو ډیر صورتونه کیدای سي، مثلاً دخپل یوه دوست دپاره پرځان ددرواغو دقرض اقراروکړي یاخپل خاص مال چې دده ذاتي وي اودې دا ښکاره کړي چې دادفلانی سړي امانت دی ددې دپاره چې دمیراث څخه خلاص سي اوهغه ته ورسیږي، یاتردریمي حصې دزیات مال وصیت وکې، یاپه یوه سړي باندې يې قرض وي او هغه نه وي وصول سوی، لیکن دی درواغ ووايي چې دهغه څخه قرض وصول سوی دی ددې دپاره چې وارثانوته ونه رسیږي یادمرګ په مرض کې تردریمي حصې زیات چاته وبخښي (هبه کړي) داټول دضرر رسولو صورتونه دی هریوبنده چې ددنیاڅخه ځي، هغه لره دژوند په آخري وخت کې دداقسم ضرر رسولو څخه ځان ساتل په کار دی.

(دمقررو حصو په مطابق دتقسیمولو تاکید)

دمیراث دحصو دبیانولوڅخه وروسته الله پاك ارشاد وفرمایي وَصِيَّةً مِّنَ اللهِ یعني کومې حصې چې مقررې کړه سوې او دقرض اووصیت په باره کې چې کوم تاکید وسوپه دې ټولو عمل کول انتهایي ضروري دی، دا دالله ﷻ دطرف څخه یوعظیم وصیت اومهتم بالشان حکم دی، ددې خلاف ورزي مه کوي بیادزیات

خبردار کولو دپاره یې وفرمایل: وَاللّٰهُ عَلِیۡمٌ حَلِیۡمٌ یعنې الله ﷻ هرڅه پیژنی او هغه دخپل علم مطابق حصې مقرری کړی ، نو څوك چې په دی حکمونو باندی عمل کوی دالله ﷻ دعلم څخه دهغه دانیکی نه ده وتلی او څوك چې یې خلاف ورزی کوی دهغه دا بد عملی هم دالله ﷻ په علم کی راځی ، چې دی به په نیسی ، دا رنګه کوم مړکیدونکی چې دقرض یاوصیت په ذریعه ضرر رسوی دغه هم دالله ﷻ په علم کی دی ، ددی دسزا څخه دی نه بی بیری کیږی ، البته داکیدی سی چې الله ﷻ په خلاف ورزی کولو باندی په دی دنیاکی سزا ورنه کړی نو دا ځکه چې هغه حلیم دی ، خلاف ورزی کوونکی دی په دی نه دوکه کیږی، چې ګوندی زه به خلاص سم.

تِلۡكَ حُدُوۡدُ اللّٰهِ ؕ وَمَنۡ یُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗ

دا دالله ترلی سوی حدونه دی ، اوڅوك چې دالله حکم منی او درسول یې

یُدۡخِلۡهُ جَنّٰتٍ تَجۡرِیۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِیۡنَ فِیۡهَا ؕ وَ

داخل به یې کړی جنتونو ته چې لاندی به یې نهرونه بهیږي همیشه به وی په دی کی

ذٰلِكَ الۡفَوۡزُ الۡعَظِیۡمُ ﴿۱۳﴾ وَمَنۡ یَّعۡصِ اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗ وَیَتَعَدَّ

او دا دی لوی مراد پیدا کول ، اوڅوك چې نافرمانی کوی دالله او دهغه درسول ﷺ او ووزی

حُدُوۡدَهٗ یُدۡخِلۡهُ نَارًا خَالِدًا فِیۡهَا ۪ وَلَهٗ عَذَابٌ مُّهِیۡنٌ ﴿۱۴﴾

دهغه دحدونو څخه وبه یې غورځوی اورته ، همیشه به وی په هغه کی او ده دپاره دذلت عذاب دی .

لنډتفسیر: دآیتونو ترون: دمیراث داحکامو دبیانولوڅخه وروسته یې په دی دوو آیتونوکی ددی حکمونو دمنونکو اوپه دی دعمل کولوفضیلت اودنافرمانی کوونکو دبدانجام بیان دی چې مقصد ورڅخه ددی ذکرسوو حکمونو اهمیت دی ، داتول حکمونه چې ذکرسول (دمیراث متعلق یادیتیمانو متعلق) دخدای ﷻ ضابطې دی اوکوم سړی چې دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ پوره حکم منی (یعنی ددی ضابطو پابندی کوی) الله ﷻ به دی داسی جنتونه ته (فوراً) داخل کړی چې دهغو (ترمحلونو) لاندی به نهرونه بهیږی همیشه به په دغوکی وی اودالویه کامیابی ده اوکوم سړی چې دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ خبره ونه منی اوبالکل ددی ضابطوڅخه ووزی (یعنی پابندی یې ضروری هم نه ګڼی، اوداحالت دکفردی) دی به (د دوږخ) په اورکی داخل کړی په دی دول سره چې دی په کښی همیشه همیشه وی اوده لره به داسی سزاوی چې ذلت په کی هم وی .

معلومات اومسئلې: دقرآن کریم داطریقه ده چې دحکمونو اوعقیدو دبیانولوڅخه وروسته دختمولوپه

Maktaba Tul Ishaat.com

طورسره دمنونكو دپاره ترغيب او د دوی دفضیلت ذكر وی او دنه منونكو دپاره بیره اوسزا او د دوی دبدوالی ذكر وی ، دلته هم چی كله داحكامو ذكر وو په دی وجه یی په دی آخری دوو آیتونوكی دحكم منونكو اونافرمانو انجام ذكر كی .

(دمیراث نور حكمونه ، مسلمان دكافر وارث نه سي جوړیدی)

كه څه هم دمیراث تقسیم پرنسبی خپلولی باندی اینبول سوي دی لیكن په دی كی ځینی شیان داخل نه دی اول داچی دچاڅخه میراث اخیستل كیږی اوهغه څوك چی میراث ورڅخه اخلی ، ددواړو دینونه به جلاجلا نه وی ، نوپه دی وجه یومسلمان دكافرڅخه اوكافر دمسلمان څخه میراث نه سی وړای برابره خبره ده كه هرڅومره نسبی قرابت هم ورسره ولری ، نبی كریم ﷺ فرمایی .

لَايَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ وَلَا الْكَافِرُ الْمُسْلِمَ (مشكوٰة ص۲۲۳)

یعنی مسلمان دكافر اوكافر دمسلمان وارث نه سی جوړیدای .

داحكم په هغه صورت كی دی چی دپیدا ئینت څخه وروسته یوسړی مسلمان یا كافر سی ، لیكن كه یو سړی داول څخه مسلمان وو ، بیا (نعوذ بالله) كافر اومرتد سو نوكه داسی سړی مړ سو یاقتل سو نو دده هغه مال چی داسلام په زمانه كی یی گټلی وو ، دده مسلمانانو وارثانوته به رسیږی اوكوم مال چی یی دمرتدكیدو څخه وروسته گټلی دی هغه به په بیت المال كی جمع كیږی ، لیكن كه ښځه مرتده سوه نو ددی ټول مال برابره خبره ده كه په اسلام كی یی گټلی وی اوكه په زمانه دمرتد كیدوكی یی گټلی وی ، ددی مسلمانانو وارثانوته به رسیږی ، لیكن په خپله مرتدسړی وی اوكه ښځه دوی ته نه دچامسلمان میراث رسیدای سی اونه دبل مرتد .

دقاتل میراث: كه چاداسی سړی قتل كی چی ده ته یی میراث رسیدی نوداقاتل به ددغه سړی دمیراث څخه محروم سی ، دنبی كریم ﷺ ارشاد دی ، اَلْقَاتِلُ لَايَرِثُ (مشكوٰة ص۲۲۳) یعنی قاتل به وارث نه وی البته دقتل خطاځینی صورتونه ددی څخه مستثنیٰ دی (تفصیل یی دفقهی په كتابونو كی دی)

په نس كي دننه دكوچني میراث: كه یوسړی مړ سو اودده اولادونه پاته سوه اودښځی په نس یی هم وو ، نوداكوچنی به هم دوارثانو په فهرست كی داخل وی ، لیكن دادرك لگول گران دی چی په نس كی هلك دی كه انجلی ده یایودی اوكه دوه دی ، په دی وجه دكوچنی ترپیدا كیدو پوری به میراث لانه تقسیمیږی اوكه تقسیمول یی ضروری وه ، نوپه مسئله كی به یو هلك یایوه انجلی فرض كړی او د دواړو په اعتبار سره به دوه صورتونه فرض كړه سی ، نوپه دی دواړو صورتونوكی چی په كوم صورت كی وارثانو ته كم رسیږی په هغه باندی به تقسیم وكړل سی اوپاته به ددغه حمل دپاره كیښښول سی .

(كومه ښځه چي په عدّه كي وی دهغي میراث)

كوم سړی چی خپلی ښځی ته طلاق وركی ، اوطلاق رجعی وو اوبیادی دطلاقو تررجوع اوعدت ختمیدو مخكی وفات سو ، نو دا ښځه به په میراث كی حصه وړی ، ځكه چی نكاح یی لاباقی ده ، اوكه یو سړی دمرگ په مرض كی یوی ښځی ته طلاق وركی ، كه څه هم طلاق بائن یامغلظ وی اوعدت ترختمیدو

Maktaba Tul Ishaat.com

مخکی مخکی مړ سو ، بیابه هم دغه ښځه دده څخه میراث وړی او دښځی دوارثی جوړولو دپاره به پد دوو عدتونو کی چی کمه عده اوږده وی، هغه به اختیاریږی ، ددی لنډه تشریح دا ده چی.

دطلاقو عده دری حیضه ده، او دوفات عده څلور میاشتی لس ورځی دی، په دی دواړوکی چی کومه عده دزیاتو ورځو وه ، هغه به عده مقرریږی ، ددی دپاره چی ترڅومره پوری ممکنه وی ، ښځی ته حصه ورسیږی ، اوکه یو سړی دمرګ تر مرض مخکی ښځی ته بائن یامغلظ طلاق ورکی او تر دی څو ورځی وروسته دښځی په عده کی دی مړ سو نو په دی صورت کی به دی ته په میراث کی حصه نه وررسیږی ، البته که طلاق رجعی یی ورکړی وی نودابه وارثه وی .

مسئله: که ښځی دخاوند دمرګ په مرض کی دده څخه ځان خلع (جلا) کی نومیراث ورڅخه نه سی وړی که څه هم ددی خاوند ددی په عده کی مړ سی.

دعصباتو میراث : دفرائضو مقرری حصی ددوولسو وارثانو دپاره مقرری سوی دی اودی وارثانوته (اصحاب الفروض) (دفرضی حصوخاوندان) وایی، چی تفصیل یی یوڅه قدرلوړ تیرسوکه د(اصحاب الفروض) څخه څوك نه وی یا داصحاب الفروض دحصو ورکولوڅخه وروسته یوڅه مال پاته سو، نوهغه به عصبوته ورکول کیږی اوځینی وخت یوه سړی ته په دواړو حیثیتونو سره مال وررسیږی، په ځینو صورتونوکی دمړی اولاد اودمړی پلارهم عصبه کیږی، دنیکه اولاد یعنی اکا اودپلار اولاد یعنی وررور هم عصبه کیږی ، دعصباتو ډیر قسمونه دی چی تفصیل یی دمیراث په کتابونو کی دی دلته یومثال لیکل کیږی مثلاً زیدمړ سو او ده څلور وارثان پریښودل ، ښځه، لور مور اواکا ، نودده مال به ټول څلورویشت حصی کړل سی نونیم مال یعنی دولس حصی به لورلره اود(١) په حساب سره دری حصی ښځی ته اود (١) په حساب سره به څلور حصی مورته اوکمی پنځه حصی چی پاته سوی دابه دعصبه کیدوپه وجه اکاته ورسیږی ، مسئله: که عصبه نه وه نودفرض میراث دحصو څخه چی کوم مال پاته سی هغه به بیاواپس دوی ته دخپلو حصو په مطابق ور رسیږی او دی ته دفرائضوپه علم کی رد وایی ، البته ښځی اوخاوند ته رد نه سی کیدی ، یعنی په هیڅ حال کی دوی ته ترمقررو حصو زیات نه سی ور رسیدای.

مسئله : که دفرضی حصو خاوندان هیڅوك نه وه اوپه عصباتوکی هم څوك نه وه ، نوبیامیراث ذوی الارحامو ته رسیږی دذوی الارحاموفهرست اوږددی، لمسی لمسی، دخوندو اولاد ، اکاګان، دپلار خوندی ، ماماګان اودمور خوندی داټول په ذوی الارحاموکی راځی اوپه دی مسئله کی تفصیل دی چی داځای ددی نه دی، بس داکافی دی.

وَالّٰتِیْ یَاْتِیْنَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِّسَآئِکُمْ فَاسْتَشْهِدُوْا عَلَیْهِنَّ

اوڅوك چی بدکاری وکړی دښځو ستاسی څخه نوشاهدان را ولئ په هغوی

اَرْبَعَةً مِّنْکُمْ فَاِنْ شَهِدُوْا فَاَمْسِکُوْهُنَّ فِی الْبُیُوْتِ حَتّٰی

څلور سړی دخپلو څخه بیا که دوی شاهدی ورکړی نوبندی کړئ داښځی په کورونو کی ترهغه

Maktaba Tul Ishaat.com

يَتَوَفّٰهُنَّ الْمَوْتُ اَوْ يَجْعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيْلًا ﴿۱۵﴾ وَالَّذٰنِ يَاْتِيٰنِهَا

چي پورته کړي دوی مرګ يا مقرر کړي الله د دوی دپاره څه لار او کوم دوه سړي چي وکړي ستاسي څخه

مِنْكُمْ فَاٰذُوْهُمَا ۚ فَاِنْ تَابَا وَاَصْلَحَا فَاَعْرِضُوْا عَنْهُمَا ۗ اِنَّ اللّٰهَ

دغه بدکاري نو دوی ته اوازرسوی ، بيا که دغه دواړه توبه وکړي اوخپله اصلاح وکړي نو د دوی څخه قرارسی

كَانَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا ﴿۱۶﴾

بيشکه الله توبه قبلونکی مهربانه دی .

لنډتفسير: دآيتونو ترون : په تيرو آيتونو کی دهغه بی قاعدګيو اصلاح وسوه چی دجاهليت په زمانه کی به ديتيمانو اوميراث خوروپه حق کی کيدلی خلقوبه پرښځوظلمونه اوزياتی. کاوه اوددوی په باره کی په خرابو رواجونوکی اخته وه ، دکومو ښځوسره چی نکاح جائزه نه ده، دهغوسره به يی نکاح کوله ، په راتلونکو آيتونوکی ددی معاملو اصلاح فرمايی، اوکه دچا دښځی څخه يوداسی قصوروسی، چی هغه په شريعت کی قصوروی نو پرهغه دتاديب اجازت ورکوی اوداصلاح اوتاديب دامضمون مخ ته تردوو، درو کوع ګانو پوری تللی دی ، اوکومو ښځو چی دبی حيايی کار (يعنی زنا) وکی ستاسو د (نکاح کړو) ښځو څخه، نوتاسی پردغه ښځو (پردی کاريي) څلورسړيان دخپلوڅخه (يعنی مسلمانان آزاد ، عاقلان، بالغان خلګ) شاهدان کړی (ددی دپاره چی ددوی پرشاهدی باندی حاکمان راتلونکی سزاجاری کی) نوکه دوی شاهدی ورکی نو (ددوی سزاداده چی) تاسی دوی (د حاکم په حکم) په کورونوکی دننه (سياستًا) قيدکړی تردی پوری چی (ياخو) مرګ ددوی خاتمه وکړی (او) ياالله ﷻ ددوی دپاره يوه بله لاره (يعنی دوهم حکم) تجويز وفرمايی (وروسته چی کوم دوهم حکم په دی باره کی تجويز سودهغه ذکرپه (معلومات اومسئلو) کی راروان دی) او (دزنانه په سزاکی څه دنکاح سوی ښځي تخصيص نسته بلکه) کوم دوه سړيان هم چی دبی حيايی دغه کاروکی (يعنی زناوکی) ستاسی څخه (يعنی عاقل بالغ مسلمانان) نودی دواړوته آزار رسوی بيا (وروسته ترضرر رسولو) که دغه دواړه (دتير کار څخه) توبه وکړی او (دآئنده دپاره خپله) اصلاح وکی (يعنی چی بيابه داسی کاردوی نه کوی) نوبيادی دواړوته هيڅ مه واياست (ځکه چی) بيشګه الله ﷻ توبه قبلونکی دی رحمت والادی (نوپه خپل رحمت سره يی ددوی ګناه معاف کړه اوس تاسی ته هم په کاردی چی ددوی په آزارولو پسی نه سی)

معلومات اومسئلي: په دی آيتونوکی دداسی سړو اوښځو په باره کی سزا منتخب سوي ده دچاڅخه چی بد کاری يعنی زناوسی په اولنی آيت کی يی وفرمايل چی دکومو ښځوڅخه چی داسی حرکت وسی نوددی دثبوت دپاره دی څلور شاهدان سړی طلب کړه سی کوم چی دشهادت اهليت لری اوشاهدی هم دناريته

وو ضروري ده دښځو شاهدي پر دي نه ده معتبره دزناپه شهدانوکی شریعت په دوو طریقوسره سختي کړي ده کله چي دا معامله ډیره مهمه ده، چي عزت اوپاکدامني په داغداره کیږي، اوخاندانونه پرېږي حرکته کیږي اوشرمیږي اول خویي داشرط ولګوی چي شاهدان دي سړیان وي اودښځو شاهدي لره په دي باره کي هیڅ اعتبار نسته ، څلورم یي دڅلورو سړیانو موجودوالي ضروري کی ، نوښکاره خبره ده چي داشرط ډیرسخت دی ، ددی موجودګی یوځای ډیرشاذ اونادر کیدی سی داسختی یی ځکه اختیار کړه چي دښځی خاوند یامور خور اونور دخپل ذاتی درداو قهرپه وجه خامخا الزام ونه لګوی یانور بدخواهان خلق ددښمني په وجه سره دالزام او تهمت لګولو زړه ورتیا ونکړای سی ځکه چي که ترڅلورو کسانو کومو خلقو دزناشاهدي ورکړه نو د دوی شاهدي معتبره نه ده ، په داسی صورت کی به مدعی اوشاهدان ټوله درواغجنان وګڼل سی اوپه یوه مسلمان دالزام لګولو په وجه به په دوی باندی حد قذف جاری کړل سی ، په سورت نورکی یی په واضح ډول سره فرمایلی دی ، لَوْلَا جَآءُوْا عَلَيْهِ بِاَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ فَاِذْلَمْ يَاْتُوْا بِالشُّهَدَآءِ فَاُولٰٓئِكَ عِنْدَ اللّٰهِ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ : چي کوم خلګ څلور شاهدان رانه ولي دوی درواغجنان دی ، څینو مشرانو دڅلورو شاهدانو دضرورت حکمت داسی بیان کړي دی چي په دی معامله کی چي کله دوه نفره ککړ کړه کیږي ، ښځه اوسړی ، نوګویا دا یوه معامله د دوو معاملو په حکم کی ده اوهره یوه معامله دوه شاهدان غواړي نوددی وجه په دی کی څلور شاهدان ضروری سوه ، دآیت په آخرکی یی وفرمایل چي که دوی دواړه توبه وباسی او خپله اصلاح وکی نودوی ته بیاڅه مه وایاست ، ددی مطلب دا دی چي ترسزا وروسته که دغه دواړه توبه وباسی نوبیادوی مه ملامتوی اونوره زیاته سزاورلره مه ورکوی، دامطلب نه دی چي ګوندی په توبه سره سزاهم معاف سوه ځکه چي دتوبی ذکر ترسزاوروسته دی لکه چي دفآء دتفریع څخه ښکاره ده البته که توبه یی نه وی ایستلی نوترسزا وروسته یی بیاهم ملامت کولی سی ، دقرآن کریم په دی دوو ایتونو کی یی دزنادپاره کوم مقررحدنه دی متعین کړی بلکه یوازی دومره یی ویلی دی چي دوی ته تکلیف رسوی ، اوزنا کاری ښځی په کورونوکی بندی کړی ، دتکلیف رسولویی هم څه خاصه طریقه ونه ښووله اودحاکمانوپه رایی باندی یی پریښووی ، ابن عباس ﷺ فرمایی چي دلته دتکلیف ورکولومعنٰی دا ده چي دخولي په خبرویي شرموی اودلاسونوپه ذریعه هم په بوټویابل شی سره ددوی ښه اصلاح کوی ، دحضرت ابن عباس ﷺ داقول هم په طور دمثال معلومیږي اصلي خبره هم هغه ده چي دامعامله دحاکمانو رایی ته پاته سوي ده ، دنزول په اعتبارسره دقرآن کریم ددی دوو آیتونو ترتیب دا دی چي په شروع کو ٠ ی ته دتکلیف ورکولوحکم نازل سو ، او ترڅو وروسته په خاص ډول سره دښځودپاره داحکم بیان سوچي دوی په کورونوکی بندی کی تردی چي دغه ښځه مړه سی، ددی به ژوندکی که راتلونکی حکم راغی نوپه ډول دحد سره به وربانډی دغه نافذکړل سی ، نوبیا وروسته یی ددغه سبیل یعنی لاری بیان وکی ، دکومی چي الله ﷻ په دی آیت کی وعده فرمایلی وه ، حضرت ابن عباس ﷺ د سبیل داسی تفسیرفرمایی چي اَلرَّجْمُ لِلثَّيِّبِ وَالْجَلْدُ لِلْبِكْرِ یعنی چي دواده سوی په حق کی دزنا حد دهغه سنګسارول دی اودغیر واده سوی دپاره دُرّی دی(بخاری کتاب التفسیر ص۲۵۷)

په مرفوعو احادیثوکی هم ددی سبیل بیان دنبی کریم ﷺ څخه په وضاحت سره ثابته ده اودواده سوی اوغیر واده سوی هری یوی دپاره جلا جلا حکم بیان سوي دی ، نبی کریم ﷺ په حضرت ماعزبن مالك رضی الله عنه او دازد قبیلی په یوی ښځی باندی دزنا حدجاری کړی وو او دا دواړه واده سوی وه ، په دی وجه یی دوی سنګسارکړل دغه شان یو یهودی هم دزنا په وجه رجم سوی وو اودده په حق کی دافیصله دتورات په حکم سوی وه ، دناواده سوی حکم خو په خپله دقرآن مجید په سورة نورکی دی .

اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ : زناکاره ښځه اوزناکار سړی هر یو سل سل دُرّی ووهی ، په شروع کی درَجم دحکم دپاره په قرآن کریم کی آیت هم نازل سوی وولیکن ورسته بیادهغه تلاوت منسوخ سو، البته حکم یی باقی پاته کړه سو ، دحضرت عمر رضی الله عنه ارشاد دی .

اِنَّ اللّٰهَ بَعَثَ مُحَمَّدًا بِالْحَقِّ وَاَنْزَلَ عَلَيْهِ الْكِتٰبَ فَكَانَ مِمَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى اٰيَةَ الرَّجْمِ رَجَمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَجَمْنَا بَعْدَهٗ وَالرَّجْمُ فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ حَقٌّ عَلٰى مَنْ زَنٰى اِذَا اَحْصَنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ الخ (بخاری ومسلم بحواله مشکوٰة ص۳۰۹)

الله ﷻ محمد ﷺ برحق نبی رالیږلی دی اوپرده یی کتاب هم نازل کی کومه وحی چی الله ﷻ نازله کړي ده په هغی کی درجم آیت هم وو ، رسول الله ﷺ رجم کړي دی اومونږ هم ترهغه وروسته رجم وکی ،درجم حکم دهغه چادپاره ثابت دی څوك چی زناوکی اوواده سوی وی سړی وی اوکه ښځه .

لنډه دا چی په دی آیتونو کی کوم چی په کورونوکی دقیدکولو اودتکلیف رسولوحکم دی دغه دشرعی حدپه نازلیدو باندی منسوخ سواوس حد دزناسل دُری یاپه رجم باندی عمل کول لازمیدی ، ددی زیات تفصیل به انشآء الله تعالی دسورت نورپه تفسیرکی بیان سی .

(په غیر فطری طریقه سره دشهوت پوره کولوحکم)

قاضی ثنآء الله پانی پتی رحمه الله په تفسیرمظهری کی لیکی چی زماپه نزدد اَلَّذٰنِ يَاْتِيٰنِهَا مصداق هغه خلک دی چی په غیر فطری طریقه سره شهوت پوره کوی یعنی چی نارینه دیوه اوبل څخه خپل شهوت پوره کوی ، پرقاضی صاحب سربیره نورو حضراتوهم داقول اخستی دی ، دقرآن په الفاظوکی کله چی لفظ د اَلَّذٰنِ يَاْتِيٰنِهَا موصول اوصله دواړه دمذکرالفاظ دی په دی وجه ددی حضراتو دا قول بعید (یعنی لیری) نه دی ، اوکومو حضراتوچی ورڅخه زانی اوزانیه مراد اخیستی دی ، هغوی په ډول دتغلیب دمذکر داصیغه دزانیه دپاره هم شامله کړي ده ، خو بیاهم دموقعی په مناسبت سره دمثل څخه دخوند اخیستو حراموالی اوسختی اوددی دجزا اوسزا ذکر به دلته بی ځایه نه وی داحادیثو اواثاروڅخه چی په دی ... کی څه ثابتیږی دهغه څخه دنمونی په طور سره یوڅه نقل کوو .

عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رضی الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَعَنَ اللّٰهُ سَبْعَةً مِنْ خَلْقِهٖ مِنْ فَوْقِ سَبْعِ سَمٰوٰتِهٖ وَرَدَّدَ اللَّعْنَةَ عَلٰى وَاحِدٍ مِّنْهُمْ ثَلٰثًا وَلَعَنَ كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمْ لَعْنَةً تَكْفِيْهِ قَالَ مَلْعُوْنٌ مَنْ عَمِلَ عَمَلَ قَوْمِ لُوْطٍ مَلْعُوْنٌ مَنْ عَمِلَ عَمَلَ قَوْمِ لُوْطٍ مَلْعُوْنٌ مَنْ عَمِلَ عَمَلَ قَوْمِ لُوْطٍ (الحدیث: الترغیب والترهیب) وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رضی الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَرْبَعَةٌ يُصْبِحُوْنَ فِيْ غَضَبِ اللّٰهِ وَيُمْسُوْنَ فِيْ سَخَطِ اللّٰهِ قُلْتُ مَنْ هُمْ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ اَلْمُتَشَبِّهُوْنَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَآءِ وَالْمُتَشَبِّهَاتُ مِنَ النِّسَآءِ بِالرِّجَالِ وَالَّذِيْ يَاْتِي الْبَهِيْمَةَ وَالَّذِيْ يَاْتِي الرِّجَالَ (الترغیب والترهیب) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ وَجَدْ تُمُوْهُ يَعْمَلُ عَمَلَ قَوْمِ

Maktaba Tul Ishaat.com

لُوْطٍ فَاقْتُلُوا الْفَاعِلَ وَالْمَفْعُوْلَ بِهٖ ، (الترغيب والترهيب)

دحضرت ابوهريره ؓ روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی الله ﷻ دخپل مخلوق څخه په اووه قسمه خلکو داوو لورو آسمانونو څخه لعنت لیږلی دی اوپه دی اووکی یی پریوه باندی دری واره لعنت لیږلی دی اوپرنورو یو واری ، ملعون دی هغه سړی چی دلوط دقوم عمل کوی ، ملعون دی هغه سړی چی دلوط دقوم عمل کوی ملعون دی هغه سړی چی دلوط دقوم عمل کوی دحضرت ابوهريره ؓ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی څلورسړیان دسهار په وخت کی دالله ﷻ په غضب کی وی او ماښام هم الله ﷻ د دوی څخه ناراضه وی ماپوښتنه وکړه چی هغه کوم خلګ دی ؟ ده ﷺ وفرمایل ، هغه سړی چی دښځو په شان جوړیږی او هغه ښځی چی دسړو په شان جوړیږی اوهغه سړی چی دڅارپایه سره غیر فطری کار کوی او هغه سړی چی دسړی څخه خپل شهوت پوره کوی دحضرت ابن عباس ؓ څخه روایت دی فرمایی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی څوك چی تاسی دقوم لوط په شان په غیرفطری کارکولو باندیووینی نوفاعل اومفعول دواړه قتل کړی ۔

حافظ زکیٔ الدین په الترغیب والترهیب کی لیکلی دی چی څلورو خلفاوُحضرت ابوبکر صدیق ؓ، حضرت علی ؓ حضرت عبدالله بن زبیر ؓ اوحضرت هشام بن عبد الملك ؓ په خپلو زمانوکی غیرفطری حرکت کوونکی په اورکی سوځلی دی، په دی سلسله کی دوی دمحمدبن المنکدر دروایت څخه

۱ یوواقعه هم لیکلی ده چی حضرت خالد بن ولید ؓ، حضرت ابوبکرصدیق ؓ ته خط ولیکی چی دلته دعربو په یوه علاقه کی یو سړی دی چی دښځوپه شان کار ورسره کیږی ، حضرت ابوبکر ؓ په دی باره کی اصحاب ؓ راجمع کړل او په دوی کی حضرت علی ؓ هم تشریف راوړی ، حضرت علی ؓ وفرمایل چی دایوه داسی ګناه ده چی داماسوا دیوه قوم څخه بل هیچانه ده کړی اوالله ﷻ چی ددغه قوم سره کومه معامله کړي ده ، هغه تاسی ټولو ته ښه معلومه ده زمارایه ده چی دی په اورکی وسوځل سی، نورو صحابه کرامو ؓ هم ددی سره اتفاق وکی او حضرت اُبوبکرصدیق ؓ دده په اورکی دسوځلو حکم ورکی په دی ذکرسوو روایتونوکی دقوم لوط دعمل حواله وار وار راغلی ده حضرت لوط ؑ چی کوم قوم ته لیږل سوی وو، هغه قوم پرکفر اوشرك سربیره په دی بدترین اوغیر فطری حرکت کی هم اخته وو او هرکله چی دحضرت لوط ؑ ددعوت اوتبلیغ په دوی باندی اثرونه سو، نودالله ﷻ په حکم سره ملائکو ددی قوم کلی دمځکی څخه پورته کړل اوچپه یی بیرته مځکی ته را وغورځول ، چی ذکربه یی په سورة اعراف کی راسی انشاء الله تعالی ، ذالوړ روایتونه دخپل جنس څخه دخوند اخستومتعلق وه ، په روایتونو کی دښځو سره په دی غیر فطری عمل کولو باندی هم دعذاب سخت ترینی وعدی راغلی دی ۔

عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ ؓ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَايَنْظُرُ اللّٰهُ عَزَّ وجَلَّ اِلٰى رَجُلٍ اَتٰى رَجُلاً اَوْ اِمْرَءَةً فِيْ دُبُرِهَا (الترغيب والترهيب) ، عَنْ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ ؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ اللّٰهَ لَايَسْتَحْيِيْ مِنَ الْحَقِّ ثَلٰثَ مَرَّةٍ لَا تَاْتُوا النِّسَآءَ فِيْ اَدْبَارِهِنَّ (الترغيب والترهيب) وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَلْعُوْنٌ مَنْ اَتَى امْرَاَةً فِيْ

Maktaba Tul Ishaat.com

دُبُرِهَا(الترغيب والترهيب) وَعَنْهُ ﷺ اَنَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ اَتٰى حَائِضًا اَوِامْرَءَةً فِيْ دُبُرِهَا اَوْ كَاهِنًا فَصَدَّقَهُ فَقَدْ كَفَرَ بِمَآ اُنْزِلَ عَلٰى مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

دحضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی الله ﷻ به دهغه سړی طرف ته په نظر درحمت سره ونه ګوری کوم چی دسړی یابنځی سره غیرفطری عمل کوی خزیمه بن ثابت ﷺ فرمایی چی نبی کریم ﷺ ارشاد فرمایلی دی چی الله ﷻ دحق په بیانولوکی شرم نه کوی ، داالفاظ ده ﷺ دری واره وفرمایل بیایی وفرمایل چی ښځوته په غیرفطری طریقی سره راتلل مه کوی ، دحضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی هغه سړی معلون دی چی په غیرفطری طریقه دښځی سره کوروالی کوی اوهم ددی حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی کوم سړی چی دحیض په حالت کی دښځی سره کوروالی کوی یاپه غیرفطری طریقه ورسره کوروالی کوی یا کاهن ته ځی او دغیبو په اړوند دده په خبرو یقین کوی نودغه خلق دهغه دین څخه منکر سول کوم چی په محمد ﷺ باندی نازل سو .

ددی قبیح کار دپاره دڅه معین حد په مقررولوکی خودفقهاو ﷬ اختلاف دی چی تفصیل یی دفقهی په کتابونوکی موجوددی، خوبیاهم ددی دپاره ترسختو لاسختی سزا ګانی نقل سوي دی ، مثلاًپه اور کی یی سوځل، دیوال پرراپړول، دلوړځای څخه یی را رغړول، سنګسارکول اوپه توره سره یی قتلول اونور (کومه سزاچی دوخت مطابق حاکم ورته منتخب کړی)

اِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللّٰهِ لِلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ

خامخاتوبه قبلوی الله دهغو چی کوی بد کار

السُّوْٓءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ يَتُوْبُوْنَ مِنْ قَرِيْبٍ فَاُولٰٓئِكَ يَتُوْبُ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ

په ناپوهی سره بیا توبه وباسی ژر نوالله ﷻ دوی معاف کوی

وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿١٧﴾ وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ

او الله ﷻ هرڅه پیژندونکی دی حکمت والا ، او دداسی خلقو توبه نسته چی کوی بد کارونه

حَتّٰٓى اِذَا حَضَرَ اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ اِنِّيْ تُبْتُ الْـٰٔنَ وَلَا الَّذِيْنَ

تردی چی مخامخ راسی په دوی کی چا ته مرګ نو ووایی چی زه توبه کوم اوس اونه دداسی خلقو

يَمُوْتُوْنَ وَهُمْ كُفَّارٌ اُولٰٓئِكَ اَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿١٨﴾

توبه چی مره کیږي په حالت دکفرکی د دوی دپاره مونږ تیار کړی دی عذاب دردناک .

دآیتونو تړون: په تیرآیت کی دتوبی ذکر راغلی وو ، اوس په دی دوو آیتونوکی دتوبی دقبلیدو شرطونه اودقبلیدو اونه قبلیدو صورتونه بنیی .

لنډتفسیر: توبه چی قبلول یی (د وعدی مطابق) دالله تعالی پرذمه دی دادهغه چاده چی دناپوهی څخه کومه گناه (کوچنی وی که لویه) کوی بیاپه نژدی وخت کی (یعنی مخکی ترحاضریدو دمرگ چی معنی یی مخ ته راځی) توبه وباسی، نوپرداسی خلقوخدای ﷻ (په قبلولو دتوبی سره) توجه کوی (یعنی توبه یی قبلوی) اوالله تعالی بنه پیژنی (هغه څوك چی دزړه داخلاصه یی توبه وکښه) حکمت والادی (چی دزړه داخلاصه توبه نه کوونکی نه رسواکوی) اوداسی خلکو توبه (قبوله) نه ده کم چی (همیشه) گناه کوی تردی چی کله په دوی کی دچامخ ته راسی مرگ (د مرگ دحاضریدو مطلب دادی چی ده ته دهغه جهان شیان په نظرراسی) نو ووایی چی زه اوس توبه کوم (نونه دداسی خلکوتوبه قبوله ده) اونه ددی خلکو (توبه یعنی ایمان راوړل په داسی وخت کی قبول دی) چاته چی دکفرپه حالت کی مرگ راځی ددی (کافرو) خلکو دپاره مونږیو دردناکه سزا (یعنی ددوزخ عذاب) تیاره کړي ده .

معلومات اومسئلې

(آیاپه قصد اواختیار سره کړی گناه نه معاف کیږی ؟)

دلته داخبره دذکرقابله ده چی په قرآن کریم کی لفظ د بِجَهَالَةٍ راغلی دی ددی څخه په ظاهره دامعلومیږی چی په ناخبری اوناپوهی سره گناه وکی، نودهغه توبه به قبوله وی اوچی سره دپوهی یی وکی نوتوبه به یی نه قبلیږی، لیکن دصحابه کرامو ﷺ څخه چی ددی آیت کوم تفسیر بیان سوي دی ، هغه دا دی ، چی د جهالة څخه دلته دامراد نه دی چی ده ته دگناه گناه والی نه وی معلوم ، یایی دگناه قصد اواراده نه وی ، بلکه مراد دادی چی دی دگناه دبدانجام اودآخرت دعذاب څخه غفلت ددی گناه کولوته تیارکړي دی، که څه هم گناه خو پیژنی اوددی قصد او اراده یی هم کړی وی ، په نورو الفاظو کی دجهالت لفظ دلته دحماقت اوبی خبری په معنی کی دی لکه چی په لنډتفسیرکی یی ذکرسوي دی او ددی مثال په سورت یوسف کی دی ، حضرت یوسف ﷺ خپلو وړونو ته فرمایلی وه ، هَلْ عَلِمْتُمْ مَّافَعَلْتُمْ بِيُوْسُفَ وَاَخِيْهِ اِذْ اَنْتُمْ جٰهِلُوْنَ په دی کی یی وړونوته جاهلان ویلی دی ، حال دا دی ، دوی چی کوم کارکړی وو ، هغه په خطاپه هیره سره نه وو ، بلکه بنه په اراده سره یی قصداً کړی وو ، مگرددی کار دانجام څخه دغفلت په سبب یی دوی ته جاهلان ویلی دی ، ابوالعالیه اوقتاده نقل کړي دی چی صحابه کرام ﷺ پردی باندی متفق وه چی ، كُلُّ ذَنْبٍ اَصَابَهٗ عَبْدٌ فَهُوَ جَهَالَةٌ عَمَدًا كَانَ اَوْ غَيْرَهٗ یعنی بنده چی کومه گناه کوی برابره خبره ده که قصداً وی اوکه بی قصده، پرهرحال جهالت دی ، دتفسیر امام مجاهد فرمایی ، كُلُّ عَامِلٍ بِمَعْصِيَةِ اللّٰهِ فَهُوَجَاهِلٌ حِيْنَ عَمِلَهَا یعنی کوم سړی چی یوکار دالله ﷻ دنافرمانی کوی ، هغه ددغه کارکولوپه وخت کی جاهل دی که څه هم په صورت کی لوی عالم اوخبردار وی (ابن کثیر) اوابوحیان په تفسیر بحرمحیط کی فرمایی چی دا داسی ده لکه چی په حدیث کی ارشاددی: لَايَزْنِي الزَّانِي وَهُوَمُؤْمِنٌ یعنی زنا کوونکی دمومن والی په حالت کی زنا نه کوی مراد دادی چی کوم وخت دی په دی ناکاره کارکی اخته سویدی نودغه وخت دی دایمان دتقاضا

Maktaba Tul Ishaat.com

ځکه ډېرلیری تللی دی په دی وجه حضرت عکرمه رحمه الله فرمایی ، اُمُوْرُ الدُّنْیَا کُلُّهَا جَهَالَةٌ یعنی ددنیاهغه ټول کارونه چې دالله ﷻ دفرمان برداری اواطاعت ځخه وتلی وی ټول جهالتونه دی اوددی وجه ښکاره ده، چې دالله ﷻ نافرمانی کوونکی دلږوخت دخوند اخستلو دپاره هغه دهمیشه اوباقی پاته کیدو خوندونه هیر کړی اوداپرخوښ کړی اوخوك چې ددی لږخوند اومزی په بدله کی دهمیشه دپاره عذاب اخلی، هغه ته هوښیارنه سی ویل کیدای ، ده ته به هرسړی جاهل وایی ، که څه هم دی دغه خپل بدکار پیژنی اواراده یی هم کوی ، لنډه دا ده چی انسان په قصد وکی اوکه په خطا سره، په دواړو وختونوکی گناه جهالت دی ، په دی وجه دصحابه وو رضی الله عنهم تابعینو رحمهم الله اودټول امت پردی باندی اتفاق دی چی کوم سړی قصداً هم څه گناه وکی دده توبه قبلیږی (بحرمحیط) په ذکرسوی آیت کی یوه خبره دفکرکولو قابله داده، چې دتوبې دقبلیدودپاره یی داشرط ښوولی دی چی په نژدی وخت کی توبه وباسی په توبه ایستوکی وخت تیرنه کی په دی کی دقریب (نژدی) څه مطلب دی؟ اوپه قریب کی څومره زمانه داخله ده؟ نبی کریم ﷺ د دی تفسیرپه یوحدیث کی په خپله داسی بیان کړی دی ، اِنَّ اللهَ یَقْبَلُ تَوْبَةَ الْعَبْدِ مَالَمْ یُغَرْغِرْ دَحدیث معنی دا ده چی الله ﷻ دخپل بنده توبه ترهغه وخته پوری قبلوی ، ترڅوچی په ده دمرگ اوروح ختو غرغره نه وی شروع سوی ، اومحدث ابن مردویه دحضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنه ځخه روایت کړي دی چی ده دنبی کریم ﷺ ځخه دا اوریدلی دی چی کوم مومن بنده ترمرگ یوه میاشت مخکی دخپلی گناه ځخه توبه وباسی یایوه ورځ یایو گړی مخکی توبه وکاږی، نوالله ﷻ دده توبه قبلوی ، په دی شرط چی په اخلاص یی رښتینی توبه ایستلی وی (ابن کثیر) لنډه دا چی د مِنْ قَرِیْبٍ تفسیرکوم چی په خپله نبی کریم ﷺ وفرمایی ددی ځخه معلومه سوه ، چی دانسان دټول عمرزمانه په قریب کی داخله ده ، ترمرگ مخکی مخکی چی توبه وایستل سی ، قبوله به سی ، البته دمرگ دغرغړی په وخت کی توبه قبوله نه ده ، ددی وضاحت کوم چی حکیم الامت تهانوی رحمه الله په تفسیربیان القرآن کی فرمایلی دی، دادی چی مرگ ته نژدی دوه حالتونه راپېښیږی ، یودناچاره کیدو اونا امیدی دی چی هرکله انسان دهر دوا اوتدبیرځخه عاجزه سی او دا وگڼی چی اوس مرگ راتلونکی دی ، دی ته حالت دباس (په باء سره) وایی ، دوهم حالت تردی وروسته دی ، هرکله چی ساه ختل شروع سی اودغرغړی وخت راسی، دی ته حالت دیاس (په یاء سره) وایی ، اولنی حالت یعنی دبأس حالت په مِنْ قَرِیْبٍ کی داخل دی اوتوبه ددغه وخت قبلیدی سی ، مگردوهم حالت یعنی دحالت یأس توبه نه سی قبلیدای ، هرکله چی ملائکی اودآخرت شیان دانسان مخ ته راسی ، ځکه چی دغه وخت په مِنْ قَرِیْبٍ کی داخل نه دی ، په دی آیت کی یی د مِنْ قَرِیْبٍ په لفظ راوړوسره دی طرف ته اشاره وکړه چی دانسان ټول عمر ډیر لږزمانه دی اومرگ کوم چی دی لیری گڼی بالکل قریب دی ، دقریب داتفسیرکوم چی دنبی کریم ﷺ ځخه نقل سوي دی په نورو آیتونوکی په خپله قرآن کریم هم دی طرف ته اشاره کړي ده چی په هغه کی یی دا ښوولی ده چی دمرگ دوخت توبه قبوله نه ده ، دآیت دمضمون خلاصه دا سوه چی کوم سړی کومه گناه کوی ، برابره خبره ده قصداً یی په اراده سره کوی یاپه خطا اوناپوهی سره یی کوی ، دغه پرهر حال جهالت دی، دهری داسی گناه ځخه دانسان توبه

Maktaba Tul Ishaat.com

قبلول الله ﷻ په خپله ذمه اخستی ده ، په دی شرط چی ترمرګ مخکی رښتینی توبه وکی ، په
خپله ذمه داخستو دامطلب دی چی الله ﷻ ددی وعده فرمایلی ده چی پوره کیدل یی یقینی دی ، که نه
وی نو دالله ﷻ په ذمه څه فرض، واجب یادچاحق لازم نه وی ، په اولنی آیت کی دهغه توبی ذکر وو چی
دالله ﷻ په نزد قابله دقبول ده ، په دوهم آیت کی دهغه توبی بیان دی چی قابله دقبول نه ده په دی کی یی
بیان فرمایلی دی چی دهغه خلګو توبه قابله دقبول نه ده چی ټول عمرپه زړه ورتیاسره ګناه کوی اوهرکله
چی مرګ یی پرسر راسی اودساه ختووخت یی شروع سی، دمرګ ملائکی ورته مخامخ سی نودغه وخت
وایی مونږ اوس توبه کاږو دوی فرصت دعمر برباد کی ، دتوبی وخت یی ضایع کی ، په دی وجه د دوی
توبه نه قبلیږی ، لکه فرعون اوفرعونیانو چی دغرقیدو په وخت کی چیغی کړی چی مونږ په رب دموسیٰ
اوهارون ﷤ ایمان راوړو ، نودوی ته جواب ورکړه سو چی آیا اوس ایمان راوړی اوس خو دایمان راوړو
وخت تیر سو؟ او ددی مضمون یی دآیت په آخری جمله کی ارشاد وفرمایی چی دهغه خلګو توبه هم قابله
دقبول نه ده چاته چی په حالت دکفر باندی مرګ راسی او عینی د روح ختو په وخت کی دایمان راوړو
اقرار وکی ، دا اقرار او ایمان بی وخته اوبی فائدی دی ، د دوی دپاره عذاب تیارکړل سوي دی.

دتوبي تعریف او حقیقت : د دواړو آیتونو ترلفظی تفسیر وروسته ضروری خبره داپاته کیږی چی دتوبی
تعریف څه دی؟ او ددی څه حقیقت او څه درجه ده؟ امام غزالی رحمه الله په احیاء العلوم کی فرمایی چی
دګناهونو کولو دری درجی دی اول دا چی هیڅ ګناه یی هم نه وی کړی ، دا دملائکوخاصیت دی یادانبیاء
علیهم السلام دوهمه درجه دا ده چی ګناهونه کوی او همیشه والی هم په جاری وی ، هیڅکله هم په دی باندی
پښیمانی اودپرېښوولو خیال ورته نه راځی، دا درجه دشیطانانو ده ، دریم مقام دانسانانودی چی ګناه
ورڅخه کیږی اوفوراً پر پښیمانه کیږی او دآئنده دپاره ددی دپرېښوولو پوخ قصدکوی ،ددی څخه
معلومه سوه چی دګناه کیدو څخه وروسته توبه نه کښل دا خالص دشیطانانو کار دی ، په دی وجه په
اجماع (اتفاق) دامت سره توبه فرض ده ، دقرآن مجید ارشاد دی.

يَآاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا تُوْبُوْا اِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يُّكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ.

ای ایماندارانو! الله ﷻ ته توبه وکاږی رښتینی توبه نو دا څه عجیبه نه ده چی الله ﷻ ستاسی ګناهونه
وبخښی اوتاسی داسی جنتونو ته دا خل کړی چی لاندی یی نهرونه بهیږی دسخیانو دسخی اودرحیمانو
درحیم درحمت ددربار شان ته وګوری چی انسان ټول عمردهغه په نافرمانیو کی اخته وی مګرچی ترمرګ
مخکی په صدق دزړه سره توبه وکاږی نویوازی دانه چی دده قصور به معاف کی بلکه دی به په خپلو محبوبو
بندګانو کی داخل کی اودجنت وارث به یی کی ، په حدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی.

اَلتَّائِبُ حَبِيْبُ اللّٰهِ وَالتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَّا ذَنْبَ لَهٗ (ابن ماجه)

دګناه څخه توبه کوونکی دالله ﷻ محبوب دی او چاچی دګناه څخه توبه وکړه هغه داسی سولکه ده چی
دسره ګناه نه وی کړی ، په څینو روایاتو کی دی چی هرکله بنده دیوی ګناه څخه توبه وکی اوهغه دالله ﷻ
په نزدقبوله سی نویوازی دانه چی دی به په دغه ګناه نیول کیږی نه ، بلکه دغه ګناه به دملائکو دلیکل

سو و عملناموڅخه هم ورانه کړل سی ، چی دی په رسوا کیږي نه .

البته دا ضروری ده چی توبه رښتینی او توبة النصوح وی ددی دری ارکان دی اول ، په خپلو کړو پښیمانتیا اوشرمندګی ، په حدیث کی ارشاد دی ، اِنَّمَا التَّوْبَةُ النَّدَمُ یعنی توبه نوم دی دپښیمانتیا (خوابدی کیدو په ګناه باندی) دوهم ، رکن دتوبی دا دی چی کومه ګناه یی کړی وی ، هغه فوراً پریږدی ، او په راتلونکی وخت کی هم ددی څخه دځان ساتلو پوخ قصد او اراده وکړی .

دریم ، رکن یی دا دی چی دتیر نقصان دتلافی (پوره کولو) فکر وکی ، یعنی کومه ګناه چی دده څخه سوي ده ، ددی چی څومره بدل راګرځول دده په وس اوطاقت کی وی ، هغه پوره کی ، مثلاً لمونځونه یا روژی ورڅخه فوت سوي دی نو دهغه دی قضاراګرځوی ، که دفوت سوو لمونځو اوروژو پوره شمارورته معلوم نه وی نو په خپل فکر اواندازه سره دی کوی ، که په یوه وخت ټول نه سی کولی نو دهرلمانځه سره دیوه یوه لمونځ قضاراګرځوی اودغه شان په فارغ وخت کی دی د روژو اهتمام کوی ، که زکوٰة په پاته وی هغه دی ټول په یوه ځای یالږلږ ادا کی ، دچاحق چی یی اخستی وی ، هغه دی بیرته ورکی ، چاته چی یی تکلیف رسولی وی دهغه څخه دی معافی وغواړی ، لیکن که په خپلو کړو پښیمانه نه وی ، یاخود آئنده دپاره دغه ګناه پاته نه کی، نو دا توبه نه ده که څه هم زر واره په خوله توبه توبه کوی .

توبه برلب سبحه برکف دل پر از ذوقِ گناه ''''''''' معصیت راخنده می آید ز استغفار ما

(په خوله توبه په لاسو کی تسبی ، زړه دګناه دشوق څخه ډک، زماپردی توبه باندی ګناه خنداوی کوی)

هرکله چی یوه بنده دلوړ ذکر سوی تفصیل په مطابق توبه وایسته نو ده که هرڅومره ګناهونه کړی وی دالله ﷻ محبوب بنده به جوړ سی ، اوکه چیری دوباره ورڅخه دانسانیت په تقاضا سره کومه ګناه وسی نو فوراً دی بیا توبه نوی کی ، دغفور او کریم ذات ﷻ د دربار څخه دی هر وخت ، هر وار ، هره پلا او هره صحنه ددعا دقبلیدو امید ساتی .

این درگهِ مادرگهِ نومیدی نیست '''''''''' صد بار اگر توبه شکستی باز آ

(زمادربار دنا امیدی دربار نه دی ، که سل واره دی توبه ماته کړه خو بیا راسه)

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَرِثُوا۟ ٱلنِّسَآءَ كَرْهًا ۖ وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ

ای ایماندارو ! حلال نه دی تاسی ته چی په میراث کی وړی ښځی په زبردستی اومه بندوی دوی

لِتَذْهَبُوا۟ بِبَعْضِ مَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ إِلَّآ أَن يَأْتِينَ بِفَٰحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ۚ

په دی وجه چی واخلی د دوی څخه خینی هغه چی تاسی ورکړی دی مګرکه دوی وکړی بی حیایی ښکاره ،

وَعَاشِرُوهُنَّ بِٱلْمَعْرُوفِ ۚ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَىٰٓ أَن تَكْرَهُوا۟ شَيْـًٔا

او گذران کوی دښځو سره په ښه طریقه نو که تاسی دوی بدی ګڼی نو شاید چی تاسی نه خوښوی یو شی

وَّيَجْعَلَ اللّٰهُ فِيْهِ خَيْرًا كَثِيْرًا ﴿١٩﴾ وَاِنْ اَرَدْتُّمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ

او الله ﷻ ایښی وی په دی کی ډیر ښه والی ، اوکه بدلول غواړی دیوی ښځی په ځای دبلی ښځی

زَوْجٍ ۙ وَّاٰتَيْتُمْ اِحْدٰىهُنَّ قِنْطَارًا فَلَا تَاْخُذُوْا مِنْهُ شَيْـًٔا ؕ اَتَاْخُذُوْنَهٗ

او ورکړی وی تاسی یوی ته ډیر مال نو مه اخلی دهغه څخه هیڅ شی ، آیا اخلئ تاسی

بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿٢٠﴾ وَكَيْفَ تَاْخُذُوْنَهٗ وَقَدْ اَفْضٰى بَعْضُكُمْ اِلٰى

داپه ناحقه او ښکاره ګناه سره ، اوڅنګه دا اخستی سی او رسیدلی دی په تاسو کی

بَعْضٍ وَّاَخَذْنَ مِنْكُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ﴿٢١﴾

یو بل ته او اخستی ده دغه ښځو ستاسی څخه وعده پخه .

دآیتونو تړون: په لوړ نیو آیتونو کی دتوبی ذکر په یوه مناسبت سره راغلی وو تردی وړاندی دښځو متعلق داحکامو ذکر روان وو ، نو په دی آیتونو کی هم دښځو متعلق حکمونه دی ، دجاهلیت په زمانه کی به په ښځو باندی دخاوندانو دطرف څخه هم ظلم کیدی او د دوی د وارثانو دطرفه څخه هم ، هرکله چی به دښځی خاوند مړ سو نو دخاوند وارثانو به مَنْ مانی (بابایی) کوله که به یی زړه غوښتل نو ددغه ښځی سره به یی په خپله نکاح کوله اویابه یی بل ته په نکاح ورکوله اوکه مینه به یی ورته نه وه نونه به یی ورسره پخپله نکاح کوله اونه به یی بل ته پریښووله ، قیدیانی به یی ساتلی ، ددی دپاره چی دخپلی آمدنی ذریعه یی جوړه کړی ، څکه چی پردی صورت به دوی یاخپل ټول مال اسباب دوی لره ورکوی ځان به یی ورڅخه خلاصوی ، اویابه هم دغه ډول په دی کورکی قیدی اوسیدی اوپه همدی حالت کی به دی ته مرګ راغی، خاوندانو به هم په خپلو ښځو ظلمونه کول ،که مینه به یی ورسره نه وه نو نه به یی دخاوندوالی حقونه ادا کول اونه به یی طلاق ورکوی ، تردی چی داخپل مال ورکی اوطلاق حاصل کی.

په دی آیتونوکی ددی خرابیو دبندولو بیان دی اوپه عَاشِرُوْهُنَّ سره یی خاص خاوندانوته خطاب کړي دی او د وَاِنْ اَرَدْتُّمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ څخه تر مِيْثَاقًا غَلِيْظًا پوری دا دوه آیتونه هم ددی مضمون تتمه ده .

لنډتفسیر: ای ایماندارانو! تاسی ته دا خبره حلاله نه ده چی دښځو (دمال یاجان) په زور سره مالکان جوړ سی (دمال مالك کیدل په دری قسمه دی یو دا چی ددی ښځی کوم شرعی حق په میراث کی دی ، هغه په خپله واخستل سی ، دی لره ورنه کړل سی ، دوهم داچی نکاح کولوته یی نه پریږدی چی دادلته مړه سی او مال یی ده ته پاته سی او یا ورته په خپل لاس څه مال ورکی ، دریم دا چی خاونددا بی وجی مجبوره کړی چی هغه ده لره څه مال ورکی ، نوبیابه یی دی پریږدی ، په اول اودریم صورت کی دجبر دقید څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

دا فائده ده چی که دا کارونه بالکل دښځی په خوشحالی سره وی نو بیاجائز اوحلال دی ، او په دوهم صورت کی دا جبر په واقع کی دنکاح څخه په منع کولو کی دی چی غرض ورڅخه مال اخستل وه نو ځکه بی په الفاظو کی ددی سره متصل کی ، نو په دی کی هم دغه فائده راووتله ، یعنی که دا په خپله خوښی سره نکاح نه کوی نو بیا په دغه خلکو گناه نسته ، او دجان مالك کیدل دا وه ، چی دمړی ښځی به یی دمړی دمال په شان خپل میراث گڼله ، په دی صورت کی دجبر قید واقعی یعنی دبیان دواقع دپاره دی ، چی دوی به داسی کول ، مگر ددی دا مطلب نه دی چی که ښځه په خپله رضامندی سره خپل ځان دمړی دمال په شان په میراثی ترکه جوړولو باندی راضی سی ، نو دا به بالکل هم دغه شان میراث اوملك وگرځی ، داسی نه ده) او دا ښځی په دی غر ، سره مه قید وی چی هغه څه چی تاسی (یعنی په خپله تاسی یاستاسی عزیزانو) دوی ته ورکړي دی دهغه څخه څه حصه (هم د دوی څخه) وصول کی (په دی مضمون کی هم دری صورتونه راغله ، یو دا چی دمړی وارث دمړی ښځه نکاح کولو ته نه پریږدی ، ددی دپاره چی داماله څه راکی ، دوهم داچی خاوند دامجبوره کی چی مال څه راکی نو بیابه یی پریږدم ، دریم دا چی خاوند تر طلاق ورکولو وروسته هم دا تر هغه دبل سره نکاح کولوته نه پریږدی ، ترڅوچی ده له څه ورنه کی ، ددی دا اولنی صورت دلوړو صورتونو د دوهم صورت یو جزء دی او ددی دوهم صورت دلوړو صورتونو دریم صورت دی او د لوړو صورتونو اولنی صورت او ددی صورتونو دوهم جلاجلا دی) مگر (په ځینو صورتونو کی د دوی څخه اخستل یادوی ته قیدول جائز دی هغه) دا چی دغه ښځی کوم ښکاره بیکاره کارو کی (په دی کی هم دری صورتونه راغلل یوداچی دغه بیکاره حرکت ددی دخاوند نافرمانی اوبدخویی وی، نوخاوندلره جائزدی چی دابغیردمال اخستلوڅخه نه پریږدی ، خودغه مال به تر مهر زیات نه وی ، دوهم داچی دغه بیکاره حرکت ددی زناوی، نوداسلام په اول کی دحدودو ترنازلیدو مخکی خاوندلره جائزوه چی په دی جرمانه کی ددی څخه خپل ورکړی مال واپس کی او دا دکوره وباسی اوس داحکم منسوخ دی په زنا سره دمهروجوب نه ساقطیږی ، په دی دواړو صورتونوکی به مال اخستی سی ، او دریم صورت داچی دغه بیکاره حرکت زناوی نوخاونده لره اودغه ډول نورو وارثانو لره لکه چی درکوع په سرکی ذکر دی په طور دسزا دحاکم په حکم ښځولره په کورونوکی دننه قیدساتل جائز وه ، بیا دا حکم هم منسوخ سو ، نو داقیدول به په طور دسزا وی ، په غرض دمال وصولولو به نه وی نو دا استثناء مطلق په (عضل) سره به وی ، نه عضلِ مقید په غرض دتللو دمال سره) (اوس مخ ته خاص خاوندانوته حکم دی) او ددی ښځوسره په ښه طریقه گذاره کوی (یعنی په خوش اخلاقی سره او د ډوډۍ اونفقی خبر یی اخلی) اوکه (دطبعیت په تقاضا سره) دوی ستاسی خوښی نه وی (مگر د دوی دطرفه دناخوښی څه خبره نه وی واقع سوی) نو (تاسی دعقل په تقاضا داسی گڼی اوبرداشت کوی چی) تاسی یوشی نه خوښوی اوالله تعالی په دی کی څه لویه نفع (دنیوی یادینی) ایښی وی (مثلاً داستاسی خدمت گاره او آرام رسونکی اوهمدرده وی دادنیوی نفع ده یاددی څخه یو اولاد پیداسی په کوچنیوالی کی مړسی یالوی سی اونیك وی چی دآخرت ذخیره سی یاپه کم ازکم درجه کی پرناخوښه شی

Maktaba Tul Ishaat.com

باندی دصبر کولو ثواب اوفضیلت خو به ضرور در ورسیږی) اوکه تاسی (دخپلی مینی په وجه) په ځای دیوی ښځی (یعنی اولنی) دوهمه ښځه کول غواړی (او داولنی ښځی څه قصورنه وی) اوتاسی دغی یوی ته (په مهرکی یادغسی په بخښنه اوډالۍ کی) ډیر مال ورکړی وی (برابره خبره ده که مودستی ورکړی وی اوکه دمهر دپاره په وعده کی مو ورکړی وی) نوتاسی ددغه (ورکړه سوی مال) څخه یوڅه (دښځی په تنګولوسره) هیڅ هم (بیرته) مه اخلی (اومعاف کول هم حکمًا واپس کول دی) آیاتاسی دا (بیرته) اخلی (ددی پرذات باندی دنافرمانی یابدکاری) بهتان لګوی او (ددی په مال کی) دصریح ګناه (یعنی ظلم) مرتکب کیږی (برابره خبره ده که دابهتان صراحةً وی اوکه دلالةً وی ، چی لوړ یوازی دنافرمانی اوبد کاری په صورت کی ددی څخه دمال اخستو اجازت وو ، نو اوس ددی څخه مال اخلی چی دخلګو په نظر کی دا نافرمانه اوبدکرداره تصورکی اوداملی ظلم ځکه دی چی ښځه یی په خوشحالی نه ورکوی ، او دهبی په صورت کی ظلم دی ځکه چی ښځه اوخاوند چی یوه اوبل ته یوشی هبه کی نو اوس یی دبیرته اخیستو شرعًاهیڅ حق نسته اوکه بیرته یی اخلی نو یوقسم غصب به وی اوبهتان هم په دی سره لازم راځی ځکه چی بیرته اخستل ګویا داسی ویل دی چی دازما ښځه نه وه ، اوداځکه بهتان دی چی په دی سره دا ښځه ددی سړی دښځوالی په دعوی کی درواغجنه اوفاسقه وه) اوتاسی دا (ورکړه سوی مال حقیقةً یاحکمًا) څنګه اخلی حال دا دی چی (سربیره په بهتان اوظلم ددی مال په واپس اخستوکی دوی خبری نوری منع کوونکی دی یوه داچی) تاسی دیوه بل سره بی حجابه یوځای سوی یاست (یعنی کوروالی موکړي دی یاخلوت صحیحه چی هغه هم په حکم دکوروالی کی دی ، په هرحال دی خپل ځان تاسی ته ستاسی دلذتونو اوخوندونو داخستو دپاره سپارلی دی اومهرخو ددغه ځان سپارلو معاوضه دی نو دهغه څخه نفع اخستل او هغه ته نفع نه رسول یا ورڅخه بیرته نفع اخستل دعقل سلیم څخه بالکل خلاف ده اوکه دغه مال دمهرنه وی بلکه بخشش وونوبیا دښځوالی اوخاوندوالی دغه بی حجابه یوځای کیدل ددی دبیرته اخستو څخه منع کوونکی دی) او (دوهم مانع دادی چی) دغه ښځو ستاسوڅخه یومضبوط اقرار (یعنی محکمه وعده) اخستی ده (دغه عهد هغه دی چی دنکاح په وخت کی تاسومهرپر خپل ځان ایښی وو اوعهدکول اوبیا دهغه خلاف کول هم دعقل په نزدبده خبره ده اوکه هبه یا بخشش وی نو بیاهم دغه بی حجابه یوځای کیدل ددی عهد دی ، او بیرته اخیستل یی منع دی ، غرض دا دی چی ددی څلورو موانعو سره سره بیرته اخیستل ډیره بده خبره ده)

معلومات اومسئلي

(تراسلام مخکي په ښځو دکیدونکو ظلمونو بندول)

په دی درو آیتونوکی دهغه ظلمونو بندیزبیان سوي دی چی تراسلام مخکی پردی نازك قسم (یعنی ښځو) باندی کول کیده ، په دی کی یوډیر لوی ظلم داووچی نارینه ووبه ځانونه دښځو دمال اوجان مالکان ګڼل ښځه چی به دچاپه نکاح کی راغله نوده به یی دَجان (روح) هم ځان مالك ګڼی اودخاوند ترمرګ وروسته چی څنګه به وارثانو ددی دخاوند دمال ځانونه مالکان ګڼل دغسی به یی ددی ښځی هم

Maktaba Tul Ishaat.com

ځانونه مالکان شمیرل، که به یې غوښتلې نوپه خپله به یې ورسره نکاح کوله یادبل څخه به یې مال اخستی اوهغه ته به یې په نکاح ورکوله ، دخاوند زوی چې دبلې ښځې څخه به وو ، هغه به هم په نکاح اخستله اوچې ددوی دجان «روح» به یې ځانونه مالکان ګڼل نومال خوبیخې هیڅ خبره نه وه اوپه دې وجه به پرښځوپه سوونو ظلمونه کیدل ، مثلاً

اول ظلم: دا وو چې کوم مال به ښځې ته یوځای په میراث کې ورسیدی یادخپلوانو اودپلار دکور دطرفه به ورته دتحفې په ډول ورسیدی ، نو دا عاجزه به ددې ټول هرڅه څخه محرومه وه اوداټول مال به دخاوند دکور نارینه وو هضم کوی.

دوهم ظلم به دا ووچې که ښځې به پرخپل مال قبضه وکړه نودابه دنکاح کولو څخه په دې وجه منع کیده چې داخپل دامال ددې کورڅخه دباندې یونسی ، بلکه چې دلته مړه سی اومال یې زمونږ په قبضه کې پاته سی.

دریم ظلم ، به په ځینو ځایونوکې دا هم کیدی چې ځینې وخت به دښځې هیڅ قصورنه وو ، خوفقط دخاوند به خوښه نه وه نوددې ښځوحقونه به یې نه ادا کول، لیکن طلاق به یې هم نه ورلره ورکوی ددې دپاره چې داتنګه سی اوخپل مهرکالې او نورڅه چې ورلره ده ورکړې دي، هغه بیرته ورواپس کې اوکه ورکړې یې لانه وې نوچې معاف یې کې وروسته ترهغه به یې پریږدی ، اوځینې وخت به خاوند طلاق هم ورکې خو بیا به یې هم داطلاقه کړې ښځه دبل سړي سره نکاح کولوته نه پریښووله ، ددې دپاره چې دا مجبوره سی اومهر واپس کې اویاواجب الاداء مهر معاف کې.

څلورم ظلم ، به ځینې وخت داسې کیدی چې خاوند به مړ سو ، نو دده وارثانو به داکونډه نکاح کولوته نه پریښووله یا دجاهلانه شرم په وجه یاپه دې طمع چې ددې په ذریعه څه مال وصول کې ، داټول ظلمونه به په دې بنیاد باندې کیدل چې دښځې مال اوجان به دوی خپل ملکیت ګڼي، قرآن کریم ددې فساد ریښې دبیخه وکښې اوتردې فساد لاندې چې کم ظلمونه کیدل دهغه ټولو دبندیز دپاره یې ارشاد وفرمایې.

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا لَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَرِثُوا النِّسَآءَ كَرْهًا.

ای ایماندارانو! ستاسې دپاره داحلال نه دي چې تاسې جبراً دښځو مالکان جوړ سی ، دجبر قید دلته په طور دشرط نه دی چې ګوندې دښځو په رضامندی سره به د دوی مالکان جوړیدل صحیح سی ، بلکه دواقعې دبیان په طور دی چې دښځو دجان اومال بې دشرعي اوعقلي وجه څخه مالکان جوړیدل ظاهره خبره ده چې جبر کیدای سی ، په دې باندې عقل اوهوښ لرونکې یوه ښځه هم نه سی راضي کیدای (بحرمحیط) نوځکه شریعت په دې معامله کې ددې رضا اثر کونکی مقرره نه کړه ، که چیرې یوه ښځه په ناپوهۍ سره دځاپه مملوکه جوړیدلو باندې راضي هم سی خواسلامی قانون په راضي نه دی چې یو آزاد انسان دې دچا مملوك جوړ سی ، دظلم او فساد دمنع کولو عامه طریقه داده چې په صیغه دنهی سره ددې څخه منع وکړه سی ، لیکن په دې ځای کې قرآن کریم داعامه قاعده پریښووله په لفظ د لَا يَحِلُّ سره یې ددې بیان وکی ، په دې کې ددې معاملې دسختې ګناه والي برسیره دې طرف ته هم اشاره کیدې سی چې که چاديوې بالغې ښځې سره بغیر درضا اواجازت څخه نکاح هم وکړه نو دغه نکاح په شریعت کې

Maktaba Tul Ishaat.com

حلاله نه ده، بلکه په نیست به حساب وی ، په داسی نکاح سره نه دی دښځی خاوندکیدی سی اونه دمیراث یانسب احکام پرجاری کیدی سی ، دغه شان که چایوه ښځه مجبوره کړه اوخپل ورکړی مهر یی ورڅخه واپس واخستی یاواجب الاداء مهر یی په زورسره په معاف کی نو دا جبراً واپسی یامعافی په شریعت کی معتبره نه ده ، نه دغه مال ددی سړی دپاره حلالیږی اونه واجب حق معاف کیږی ، او ددی مضمون دزیات وضاحت دپاره یی ارشاد وفرمایی ، وَلَا تَعۡضُلُوهُنَّ لِتَذۡهَبُواْ بِبَعۡضِ مَآ ءَاتَيۡتُمُوهُنَّ یعنی ښځی دخپلی خوښی دنکاح کولوڅخه مه منع کوی ، په دی خیال چی کوم مال تاسی یاستاسی خپلوانو دوی لره په طور دمهریا دتحفی ورکړي دی ، هغه بیرته ورڅخه واخلی ، دمهر په ورکولواوپه واپس اخسترکی دا هم دا خله ده چی کوم مهر ورکول مقررسوي دی ، دغه په معاف کی . غرض دا چی ورکړل سوی مهر بیرته اخستل یاواجب الاداء جبراً معاف کول دا ټول ناجائز اوحرام دی او دغه شان حکم دتحفی اودمال دبخښلو دی چی ښځی لره ورکړه سی ددی هم واپس اخستل خاوندلره یاوارثانولره حلال نه دی ، دمالکانه ډول سره دویلو مطلب دادی چی که خاوندڅه کالی یابل داستعمال څه شی ښځی ته محض عاریةً (په پور) داستعمال دپاره ورکړی وی ، دمالك کیدو دپاره نه وی نودغه شی دښځی په ملکیت کی نه سی داخلیدی ، په دی وجه دهغه واپس کول منع نه دی ، تردی وروسته ، اِلَّآ أَن يَأۡتِينَ بِفَٰحِشَةٖ مُّبَيِّنَةٖۚ وفرمایل ځینی داسی صورتونه یی ورڅخه وایستل ، په کوموکی چی خاوندته خپل ورکړی مال مهر یانور واپس اخستل جائز کیږی ، معنٰی یی دا ده چی که دښځی څخه که کوم ښکاره بیکاره حرکت داسی وسی چی دهغه په وجه سړی په طلاق ورکولو مجبوره سی، نوپه داسی صورت کی باك نسته چی که خاوند ترهغه وخته پوری طلاق نه ورکوی ترڅو پوری چی دا ښځه دده ورکړی مهر اونور واپس نه کی یاواجب الاداء مهرمعاف نه کی ، او دلته دلفظ فاحشه یعنی (بدنانښایسته) حرکت څخه مراد دحضرت ابن عباس ﷺ اوحضرت عائشه ﷺ اوحضرت ضحاك ﷺ اونوروپه نزد دخاوند نافرمانی اودخاوند سره بد ژبانی کول دی ، او دابوقلابه اوحسن بصری رحمہ اللہ په نزد دفاحشه څخه مراد دلته بی حیایی او زناده نو معنٰی یی دا سوه چی که ددی ښځو څخه دبی حیایی کار وسی او یا دوی په نافرمانی اوبدژبانی سره راتلل کوی ، چی ددی څخه سړی مجبوره سی اوطلاق ته تیارسی نوچونکه قصوردښځودی په دی وجه خاوندته داحق حاصل دی چی دی یی ترهغه وخته پوری په خپل نکاح کی بنده ساتی ترڅوچی ددی څخه خپل مال وصول نه کی یامقرر مهر په معاف نه کی ، په مخکی دوو آیتونوکی هم ددی مضمون تفصیلی بیان دی ارشاد دی چی کله دښځی دطرف څخه څه دسرکښی یابی حیایی کار ونه سی ، مګرخاوند خاص دخپل طبعی خواهش اوخوشحالی دپاره موجوده ښځه پریږدی، بل واده کوا، غواړی نوپه دی صورت کی که ده دمال خزانه هم دی لره ورکړی وی خوجائزنه دی چی دغه ورکړی مال یادهغه څه حصه دطلاق په بدله کی ددی څخه واپس واخلی یامقرر مهرپه معاف کی ، ځکه چی دښځی قصورنسته اوپه کوم سبب سره چی مهر واجبیږی ، هغه سبب هم پوره سوی دی یعنی دنکاح غوټه هم تړل سوي ده اوبی حجابه دیو بل سره یو ځای سوی هم دی ، نو اوس ورکړی مال ، اسـ ، اخستل یادمقرر مهرمعاف کولو هیڅ حق نسته

Maktaba Tul Ishaat.com

تردي وروسته یې ددې رقم دواپسۍ ظلم اوګناه په دروم‌رحلو کې بیان کړه ، اول یې وفرمایل ، اَتَاْخُذُوْنَهٗ بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِیْنًا یعنی آیا تاسې دا غواړئ چې پرښځې باندې دزنا او نورو دبهتان لګولو ښکاره ګناه وکئ دخپل مال دواپس اخستنې لار جوړه کئ ، یعنې هرکله چې دا معلومه سوه چې ورکړی مال واپس اخستل یوازې په هغه صورت کې جائز دی چې کله ښځه ناښایسته حرکت وکي، نو اوس ددې څخه مال واپس اخستل په حقیقت کې ددې اعلان کول دي چې دی کوم بېکاره حرکت بې حیایې اونور کړي دي ، که څه هم په خوله وربادې دزنا تهمت ولګوی او که نه ، په هرحال دا دتهمت اوبهتان یوصورت دی چې ددې اِثْمٌ مُّبِیْنٌ یعنې ښکاره لویه ګناه کیدل ظاهره ده ، دوهمه جمله یې داارشاد وفرمایله وَكَيْفَ تَاْخُذُوْنَهٗ وَقَدْ اَفْضٰى بَعْضُكُمْ اِلٰى بَعْضٍ یعنې اوس تاسې خپل مال : دوی څخه څنګه واپس اخستی سئ هرکله چې فقط دنکاح غوټه نه بلکه صحیح خلوت اوبې حجابه یوځای کیدل هم سوي دي ، څکه چې په دې صورت کې که ورکړه سوی مال دمهر وي نو ښځه ددې پوره مستحقه اومالکه سویده څکه چې دې خپل ځان خاوند ته وسپاری ، او ... ددې دواپسۍ هیڅ معنی نسته اوکه ورکړی مال بخشش اوتحفه وي نو هم یې واپسی ممکن نه ده څکه چې ښځه اوخاوند په خپل مینځ کې یوبل ته څه شی وبخښي دهغه واپسی نه شرعًا جائز ده اونه قانونًا ، غرض دا دی چې دښځوالی اوخاوندوالی تعلق دهبې په واپسۍ کې مانع دی ، او ددې مضمون په دریمه جمله کې یې ارشاد وفرمایي وَّاَخَذْنَ مِنْكُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا یعنې دې ښځو ستاسې څخه پوخ او محکمه عهد اخستی دی ددې څخه مراد دنکاح عهد دی، کوم چې دالله ﷻ په نامه دخطبې سره دخلګو په وړاندې ترل کیږي .

لنډه داچې دادښځوالی اوخاوندوالی عهداومیثاق اودیوبل سره دبې حجابه یو ځای کیدو څخه وروسته د ورکړی مال په واپس کولو کې دښځې مجبوره کول ښکاره ظلم اوزیاتی دی مسلمانانو ته دذې څخه ځان ساتل لازمي دی .

وَلَا تَنكِحُوا مَا نَكَحَ آبَاؤُكُم مِّنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَمَقْتًا وَسَاءَ

اوپه نکاح مه اخلئ هغه ښځې چې . نکاح اخستې دي ستاسې پلارانو مګر هغه چې مخکې سوي دي دا بې حیایي ده اوکار دغضب دی او دیره ناکاره ،

سَبِيلًا ﴿٢٢﴾ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ وَأَخَوَاتُكُمْ وَعَمَّاتُكُمْ وَخَالَاتُكُمْ

لاره ده ، حرامې سوې دي په تاسې ستاسې میندې او لوڼې اوخوندې اودپلار خوندې او دمور خوندې

وَبَنَاتُ الْأَخِ وَبَنَاتُ الْأُخْتِ وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوَاتُكُم مِّنَ

او د ورور لوڼې ، او خور لوڼې او دګومو میندو چې تاسې ته یې تی درکړی دی اوخوندې

الرَّضَاعَةِ وَأُمَّهَاتُ نِسَائِكُمْ وَرَبَائِبُكُمُ اللَّاتِي فِي حُجُورِكُم مِّن نِّسَائِكُمُ

درضاعت ستاسې ، اوستاسې دښځو میندې او د دوی لوڼې چې ستاسې په پرورش کې دي کوم چې ستاسې

Maktaba Tul Ishaat.com

الّٰتِیْ دَخَلْتُمْ بِهِنَّ ۫ فَاِنْ لَّمْ تَكُوْنُوْا دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَیْكُمْ ۫

دښځو څخه پیدا دي دکومو ښځو سره چې تاسې کوروالي کړي دي ، اوکه تاسې ورسره کوروالي نه وي کړي نو بیاپه تاسې څه ګناه نسته د دوی ،

وَحَلَآىِٕلُ اَبْنَآىِٕكُمُ الَّذِیْنَ مِنْ اَصْلَابِكُمْ ۙ وَاَنْ تَجْمَعُوْا بَیْنَ

په نکاح کې ، اوستاسې دزامنو ښځې کوم چې ستاسې دښا څخه وي او دا چې جمع کړې دوې

الْاُخْتَیْنِ اِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِیْمًا ۟ۙ ﴿۲۳﴾

خوندې مګر چې مخکې سوې دي بیشکه الله بخښنې والا مهربانه دی .

دآیتونوترون: دلوړه څخه دجاهلیت دبیکاره رواجونو ذکر را روان دی په دې کې یو رواج دا وو چې دخپنو حرامو ښځوسره به یې نکاح کوله ، مثلاً دخپلې میرې مورسره، یوه خور به یې په نکاح کې وه ، او دبلې خور سره به یې نکاح کوله او په دې مناسبت سره دنورو محرماتو ذکر هم دی ، دغه شان دغه خلګو به دهغه هلك دښځې سره نکاح حرامه ګڼله څوك چې به یې دزوی په شان وپالی ، ددی ابطال یې هم وفرمایی (یعني دا چې د دوی سره نکاح جائزه نه ده ، دا یې باطله کړه اونکاح یې ورسره روا کړه)

لنډتفسیر: اوتاسې دهغه ښځو سره نکاح مه کوی دکوموسره چې ستاسې پلار (یانیکونو) نکاح کړې وي مګر (خیر) کومه خبره چې تیره سوې ده ، هغه تیره سوې ده (په آننده کې هیڅکله داسې مه کوی) بیشکه دا (خبره عقلاً هم) لویه بې حیایي ده او (دسلیمو طبیعتونوپه نزدهم) ډیره دنفرت خبره ده او (شرعًاهم) ډیره بده طریقه ده، پرتاسې (داښځې) حرامې کړه سوې دي (یعني ددوی سره نکاح کول حرام اوباطل دي ، او د دوی څوقسمونه دي ، **اول قسم** دنسب حراموالي دي چې هغه دا دي) ستاسې مندې اوستاسې لونې (په دې کې اصول او فروع ټول که په واسطه سره وي اوکه بې له واسطې وي ټول داخل دي) اوستاسې خوندې (برابره خبره ده که حقیقي وي اوکه دمور دطرفه وي اوکه دپلار دطرفه) اودپلار خوندې (په دې کې هم دغه دری سره قسمونه خوندې، عینې، علاتې، اخیافې راغلې) اوستاسې دمورخوندې (په دې کې هم ددغه دری سره قسمونه خوندې راغلې) اوستاسې دوړونو لونې (ددغه دری سره قسمونو وړونو په دې کې راغلې که په واسطه سره وی اوکه بې واسطې وی) اوستاسو دخوندولونې (په دې کې هم ددری سره قسمونو خوندې اولونې راغلې که په واسطه سره وی اوکه بې واسطې وی) او **دوهم قسم** درضاعت حراموالي دي چې هغه دادي) ستاسوهغه مندې کومو چې تاسولره تی درکړی وی (یعني دایې مور) اوستاسوهغه خوندې چې ددې تی په وجه وی (یعني چې تاسوددغه انجونو دحقیقي یارضاعي مور شیدې څښلې وی یادوی ستاسې دحقیقي یارضاعي مور شیدې څښلې وی که څه هم په مختلفو

Maktaba Tul Ishaat.com

رختونوکی یی چنبلی وی) **او دریم قسم** حراموالی دخواښی والی دی (یعنی حراموالی بالمصاهره) هغه دادی: ستاسو دښځو مندی (په دی کی دښځی ټول زنانه اصول راغلل) اوستاسو دښځولوڼی (په دی کی دښځی ټول زنانه فروع راغلل) کومی چی (عادتًا) ستاسوپه پروربنت کی وی (مګرپه دی کی یوقیدهم دی هغه دا چی دغه انجونی) دهغه ببیبانو څخه (وی) دکوموسره چی تاسی کوروالی کړی وی (یعنی دیوی ښځی یوازی په نکاح کولو دهغه لورنه حرامیږی ترڅوچی کوروالی ورسره نه وی سوی) اوکه (لا) تاسی ددغو ببیبانو سره کوروالی نه وی کړی (که څه هم نکاح سوی وی) نو (دداسی بی بی دلور سره په نکاح کولو کی) تاسی ته څه ګناه نسته او ستاسی دهغه زامنو ببیبانی (هم حرامی دی) کومی چی ستاسی دنسل څخه وی (په دی کی دننه دټولو نارینه وو فروعو ببیبانی راغلی او دنسل دقید مطلب دا دی چی په خوله یی چاته زوی ویلی وی (لکه متبنی) نو دهغه بی بی حرامه نه ده) او دا (کارهم حرام دی) چی تاسی دوی خوندی (رضاعی وی اوکه نسبی وی په خپل نکاح کی) یو ځای کوی لیکن کوم چی (تردی حکم) مخکی سویدی (هغه معاف دی) بیشکه الله ﷻ دیر لوی بخښنی والا ، لوی رحمت والا دی (چی په رحمت سره ګناه معاف کوی) او (دلته څلورم قسم هغه ښځی حرامی دی چی خاوندان یی وی ، خو دا بیان پاته دپنځمی پاری څخه شروع کیږی ، دلته چونکه څلورمه پاره ختمه سوه ځکه دغه بیان پاته سو ، هلته یی وګوره)

معلومات اومسئلي: په دی آیتونوکی دمحرماتو یعنی دهغه ښځو دتفصیل بیان دی دکوموسره چی نکاح حرامه ده ، بیاځینی محرماتی هغه دی چی په هیڅ حال کی حلالی نه دی هغوته دهمیشه دپاره حرامی ویل کیږی اوځینی هغه محرماتی دی چی همیشه نه دی حرامی بلکی په ځینی حالتونوکی ورسره نکاح حلالیږی .

شروع :ری قسمونه محرماتی نسبی، محرماتی رضاعی، محرماتی بالمصاهره دا دهمیشه دپاره حرامی دی اوآخری یوقسم (چی دپنځمی پاری دسرڅخه یی بیان شروع کیږی) دا دبل په نکاح کی ښځی دی ، دوی ترهغه وخته پوری حرامی دی ترڅو پوری چی دوی دبل په نکاح کی وی .

وَلَا تَنْكِحُوْا مَا نَكَحَ اٰبَآؤُكُمْ : دجاهلیت په زمانه کی په دی کی هیڅ باك نه وو اودپلارترمرګ وروسته به دده ښځی زوی په نکاح کوله په دی آیت کی الله ﷻ ددی بی شرمی اوبی حیایی دکارڅخه منع وفرمایله اودی ته یی دخدای پاك دناراضګی سبب ووایه ، ښکاره خبره ده چی داڅومره اخلاقی مرګ اودعمل خرابی ده کومی ته چی تریوی زمانی پوری مور ویل سوي ده، هغه دپلارترمرګ وروسته دښځی په ډول بیاساتی .

مسئله : په آیت شریف کی یی دپلار دنکاح سوی سره نکاح حرامه کړي ده ،په دی کی یی ددی خبری قید نه دی لګولی چی پلار ورسره کوروالی هم کړی وی ، نو په دی وجه دکومی ښځی سره چی دپلار نکاح قدر هم وسی نو د زوی دپاره هیڅکله هم حلاله نه ده ، دغه شان دزوی دښځی سره دپلار نکاح کول جائز نه دی که څه هم زوی ورسره یوازی نکاح قدر هم کړی وی ، قَالَ الشَّامِیْ وَتَحْرُمُ زَوْجَةُ الْاَصْلِ وَالْفَرْعِ بِمُجَرَّدِ الْعَقْدِ دَخَلَ بِهَا اَوْلَا (شامی وایی چی داصل او فرع دواړو ښځی حرامی دی په مجرد نکاح کولو سره دخول ورسره سوی اوکه نه .

Maktaba Tul Ishaat.com

مسئله: كه پلار ديوى ښځى سره زنا كړى وى ، نو هم زوى ته ددغه ښځى سره نكاح كول حلال نه دى .
حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ اُمَّهٰتُكُمْ يعنى دخپلى مورسره نكاح كول حرام دى اوپه لفظ د اُمَّهٰتُكُمْ كى ټولى اناګانى (دپلار مندى او دمور مندى) داخلى دى .
وَبَنٰتُكُمْ دخپلو اصلى لوڼو سره نكاح حرامه ده ، او دغه ډول دلور او د زوى دلوڼو سره .
لنډه داده چى دلمسو كړو سو ټولو سره نكاح حرامه ده كه دلور دطرفه وى اوكه د زوى دطرفه ، او دبچندرى سره كومه چى دښځى سره راغلى وى او ددى ښځى دبل خاوند څخه وى ، ددى په نكاح كى تفصيل دى چى مخ ته راځى اوكوم هلك يا انجلۍ چى دده څخه پيدا نه وى ، په دى يى لوى كړى وى د دوى سره او د دوى د او لادو سره نكاح جائزه ده خو په دى شرط چى په بله طريقه حرمت نه وى راغلى ، دغه ډول كه چا ديوى ښځى سره زناوكړه او دده دنطفى څخه چى كومه انجلۍ پيدا سى ، هغه هم دلور په حكم كى ده ، نكاح ورسره جائزه نه ده .
وَاَخَوٰتُكُمْ دخپلى حقيقى خور سره نكاح حرامه ده او دهغى خور سره هم چى علاتى (په پلارشريكه) وى او دهغى خور سره هم چى اخيافى (په مور شريكه) وى حرام دى .
وَعَمّٰتُكُمْ : دخپل پلار دحقيقى خوندو ، پلار شريكو او مور شريكو د درو سره وو نكاح حرامه ده .
وَخٰلٰتُكُمْ دخپلى مور دحقيقى خور، پلار شريكه اومور شريكه، هرى يوى سره نكاح حرامه ده .
وَبَنٰتُ الْاَخِ ، د ورور دلوڼو سره كه حقيقى وى اوكه په پلار شريك يا په مور شريك ورور وى د درى وارو دلوڼو سره نكاح حرامه ده .
وَبَنٰتُ الْاُخْتِ او دغه ډول ددرى سره وو قسمه خوندو دلوڼو سره نكاح حرامه ده .
وَاُمَّهٰتُكُمُ الّٰتِىْٓ اَرْضَعْنَكُمْ : دكومو ښځوچى تاسى شيدى چښلى دى، دغه هم دمور په حكم كى دى نكاح ورسره حرامه ده لږى شيدى وى اوكه ډيرى ، يو وار يى چښلى وى اوكه ډير وارونه ، خو رضاعت په ثابتيږى اوحرمت په راځى ، دى ته فقهاء ؒ حرمت رضاعت وايى .
البته دومره خبره يادساتل په كار دى چى درضاعت حراموالى دكوچنيوالى په زمانه كى په شيدو چښلو سره راځى ، دنبى كريم ﷺ ارشاد دى ، اِنَّمَا الرَّضَاعَةُ مِنَ الْمَجَاعَةِ يعنى درضاعت حراموالى دهغه وخت په شيدو چښلو سره ثابتيږى ، په كوم وخت كى چى دكوچنى نشو اونما په شيدو سره وى (بخارى اومسلم) او دا موده دامام صاحب ؒ په نزدباندى دكوچنى دپيدا كيدو څخه تر دوو نيموكالو پورى ده اودنورو فقهاوو ؒ په نزد چى امام ابويوسف اوامام محمد ؒ هم په كى شامل دى ، تر دوو كالو پورى ده ، او په دى دامام محمد صاحب ؒ فتوىٰ هم ده ، كه يوه هلك يا انجلۍ تردى عمر وروسته ديوى ښځى تى وروددى نوحرمت درضاعت نه په ثابتيږى .
وَاَخَوٰتُكُمْ مِّنَ الرَّضَاعَةِ : يعنى درضاعت په قرابت چى كومى خوندى دى دهغوى سره هم نكاح حرامه ده ، تفصيل يى دا دى چى هركله يو هلك يا انجلۍ درضاعت په موده كى ديوى ښځى شيدى وچښى نو دغه ښځه دده رضاعى مور سوه او ددى خاوند يى پلارسو ، او ددى ښځى نسبى اولاد دده خوندى اوورونه

سول او ددی ښځی خوندی ده، خاله گانی سوی او ددی لیوروته یی رضاعی اکاگان سول او ددی ښځی دخاوند خوندی ددی عمه گانی سوی او ددی ټولو په خپل مینځ کی درضاعت حرمت ثابت سو، کوم قریبان چی دنسب په لحاظ سره حرام دی، هغه درضاعت په لحاظ سره هم حرام دی، دنبی کریم ﷺ ارشاد دی، یَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا یَحْرُمُ مِنَ الْوِلَادَةِ (بخاری) اودمسلم په روایت کی دی، اِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ مِنَ الرَّضَاعَةِ مَاحَرَّمَ مِنَ النَّسَبِ (مشکوٰة ص۲۷۳)

مسئله: که یوه هلك او یوی انجلۍ دیوی ښځی شیدی وچښلی نو ددی دواړو دیوه اوبل سره نکاح نه کیږی، دغه ډول درضاعی ورور او درضاعی خور دلور سره هم نکاح نه کیږی.

مسئله: درضاعی ورور یادرضاعی خور دنسبی مورسره نکاح جائز ده اودنسبی خور درضاعی مور سره هم حلاله ده او درضاعی خور دنسبی خور سره هم او دنسبی خور درضاعی خور سره هم نکاح حلاله ده.

مسئله: درضاعت په ورځوکی په خوله یا پزه سره نس ته په شیدو تللوهم حرمت ثابتیږی که په بله لاره شیدی ور دننه سوی یا دشیدو ستن (انجکشن) ورولګول سوه نو درضاعت حراموالی نه په ثابتیږی.

مسئله: دښځی دشیدو څخه پرته دبل شی په شیدو مثلاً دحیوان په شیدو یادسړی په شیدو سره رضاعت نه ثابتیږی.

مسئله: شیدی که په دوا کی یادبزی، غوا، میږی، په شیدو کی ګډی وی نو په دی سره به درضاعت حرمت هغه وخت ثابت سی کله چی دښځی شیدی په غالبی وی اوکه دواړه برابری وی نو هم حرمت درضاعت ثابتیږی، لیکن که دښځی شیدی کمی وی نوبیانه ثابتیږی.

مسئله: که دسړی شیدی را ووتی نو په دی سره درضاعت حرمت نه ثابتیږی.

مسئله: که دشیدو چښلو شك یی وو نو په دی سره درضاعت حرمت نه ثابتیږی که یوی ښځی دیوه کوچنی په خوله کی تی کښیښوی لیکن دشیدو دتلو یقین یی نه وی نو په دی سره درضاعت حرمت نه ثابتیږی، او نکاح ورسره حلاله ده.

مسئله: که یوه سړی دیوی ښځی سره نکاح وکړه، او بلی ښځی وویل چی ماتاسی دواړو ته تی درکړی دی، نو که دوی دواړو ددی تصدیق وکی نو دنکاح فاسد کیدلو فیصله به وکړل سی اوکه دوی دواړو یی درواغجنه کی او ښځه دینداره خدای ترسه وی نو دنکاح دفاسدکیدلو فیصله به نه کول کیږی لیکن طلاق ورکول اوجلا کیدل ښه دی.

مسئله: درضاعت دحرموالی دثبوت دپاره د دوو دیندارو سړیانو شاهدی ضروری ده، دیوه سړی اویوی ښځی په شاهدی سره رضاعت نه ثابتیږی لیکن معامله دحرامو اوحلالو ده، په دی وجه احتیاط ښه دی تردی چی ځینی فقهاو رحمهم الله دا تفصیل لیکلی دی چی که دیوی ښځی سره نکاح کول وی اویو دینداره سړی شاهدی ورکی چی دادواړه رضاعی خورورودی نو نکاح جائزه نه ده اوکه ترنکاح وروسته شاهدی وکی نو احتیاط په جلا کیدو کی دی بلکه که یوه ښځه هم ووایی نو بیا هم احتیاط په جلاکیدو کی دی.

مسئله: لکه څنګه چی د دوو دیندارو سړیانو په شاهدی سره درضاعت حراموالی ثابتیږی، دغه شان دیوه

Maktaba Tul Ishaat.com

دینارسري او دوو دینارو ښځو په شاهدۍ سره هم ددې ثبوت راځي ، البته احتیاط په دې کې دی چې که د شهادت نصاب پوره هم نه وي خو د حراموالي څخه د خلاصیدو د پاره حرمت ته ترجیح ورکول کیږي .

وَأُمَّهَاتُ نِسَآئِكُمْ: د ښځو مندې هم حرامې دي ، دلته په امهات کې تفصیل دی ، په دې کې د ښځو اناګانې د پلار او مور دواړو د طرفه څخه ، نسبي وي او که رضاعي وي ټولې داخلې دي .

مسئله : لکه څنګه چې د نکاح سوې ښځې مور حرامه ده ، دغه شان دهغه ښځې مور هم حرامه ده چې د شک په وجه ورسره هم بستري سوې وي یا د چاسره چې زنا سوې وي یا چې کومې ښځې ته يې په شهوت سره لاس وروړی وي .

مسئله : په نفس نکاح کولو سره د ښځې مور حرامه سوه ، دخول او نور ضروري نه دي .

وَرَبَائِبُكُمُ اللَّاتِي فِي حُجُورِكُمْ مِنْ نِسَآئِكُمُ اللَّاتِي دَخَلْتُمْ بِهِنَّ : د کومې ښځې سره چې نکاح وسوه او تر نکاح وروسته یو ځای والي هم وسو نو ددې ښځې لور چې د خاوند څخه ده او دغه ډول لمسۍ او کروسۍ هم حرامې سوې د دوی سره نکاح کول جائز نه دي ، لیکن که یو ځای سوی نه وي ، یوازې نکاح سوې وي نو یوازې په نکاح سره دا ذکر سوي قسمونه نه حرامیږي ، لیکن تر نکاح وروسته که يې ورته په شهوت سره لاس وروړی یا يې ورلره پټ اندام ته په شهوت سره وکتل نو دا هم دیوځای کیدو په حکم کې دي ، په دې سره هم وربانډې دغه ذکر سوي قسمونه حرام سوه .

مسئله : دلته هم په نِسَآئِكُم کې عام والی دی نو د کومې ښځې سره چې د شک په وجه یو ځای سوی وي یا يې ورسره زناکړې وي ، هم دغه قسمونه په حرام سوه .

وَحَلَائِلُ أَبْنَائِكُمُ الَّذِينَ مِنْ أَصْلَابِكُمْ : د زوی ښځه حرامه ده او په دې کې لمسی کړوسی د زامنو اولونو ټول اولادونه هم داخل دي نو د دوی د ښځو سره هم نکاح حرامه ده .

د مِنْ أَصْلَابِكُمْ په قید سره يې ورڅخه متبنّٰی وایستی ، نو د متبنّٰی د ښځې سره نکاح حلاله ده او رضاعي زوی هم د نسبي زوی په حکم کې دی نو دهغه د ښځې سره هم نکاح حرامه ده .

وَأَنْ تَجْمَعُوا بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ دوې خوندې په نکاح کې جمع کول هم حرامې دي ، حقیقي خوندې وي او که په پلارشریکې یا مورشریکې خوندې وي یا رضاعي خوندې وي ، دا حکم ټولولره شامل دی ، البته د یوې تر طلاقولو وروسته (یا تر مړه کیدو وروسته) د بلې سره نکاح جائزه ده ، لیکن دا جواز ترعدې تیرولو وروسته دی ، دعدې په دوران کې نکاح جائزه نه ده .

مسئله : لکه څنګه چې دوې خوندې دیوه سړي په نکاح کې جمع کول حرام دي ، دغه ډول خاله ګانې خورزې ، وریرې او نور هم په یوه نکاح کې جمع کول حرام دي .

قَالَ النَّبِيُّ ﷺ لَا يُجْمَعُ بَيْنَ الْمَرْأَةِ وَعَمَّتِهَا وَلَا بَيْنَ الْمَرْأَةِ وَخَالَتِهَا (بخاري او مسلم)

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي نه دې جمع کیږي د پلار خور او وریره په یوه نکاح کې او نه د مور خور او خورزه په یوه نکاح کې

مسئله : فقهاوو رحمهم الله د قاعدې کلیې په ډول سره داسې لیکلي دي چې هرهغه دوې ښځې چې یوه په کې نارینه فرض کړل سي او دهغه بلې سره يې نکاح جائز نه وي نو دغه دواړې په یوه نکاح کې نه سي جمع

کیدای، اِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ، یعنی په جاهلیت کی چی څه کیدل به هغه به اوس نه نزول کیږی، دا الفاظ په ولا تنکحوا ما نکح اٰباؤکم آیت کی هم ذکرسوی دی، اوهلته یی هم دا معنی ده چی په جاهلیت کی ستاسی څخه په سوی دی، هغه سوی دی، اوس دا سلام تر راوړلو وروسته په هغه نزول نشته، او دآنده دباره خان ورڅخه ساتل په کار دی، دغه ډول که دحرمت دنزول په وخت کی دیلار منکوحه یا دوی خوندی دجا په نکاح کی وی نو جلاوالی ضروری دی او د دوو خوندو څخه یوه لیری کوی

دحضرت براء بن عازب ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ ابوبرده بن نیار دیوه سړی دقتل دپاره په دی وجه لیږلی وو چی دغه سړی دپلار دښځی سره نکاح کړی وه (مشکوٰة ص۲۷۴)

دابن فیروز دیلمی څخه روایت دی، دی دخپل پلار څخه نقل کوی چی کله زه مسلمان سوم نو دوی خوندی زما په نکاح کی وی، زه دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضرسوم نوحضور ﷺ راته وفرمایل چی په دوی کی یوه طلاقه کړه اوجلایی کړه اویوه دخان سره وساته (مشکوٰة ص۲۷۴)

ددی روایتونو څخه معلومه سوه چی څه رنګه چی دا سلام په حالت کی داول څخه دپلارمنکوحه او د دوو خوندو جمع کول جائز نه دی، دغه ډول که دکفر په حالت کی یی داسی نکاح کړی وی، نو داسلام راوړلو څخه وروسته دهغه باقی پاته کول جائز نه دی

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا تراسلام مخکی چی هرڅه دی په ناپوهی سره کړی دی اوس دا سلام تر راوړلو وروسته الله ﷻ دوی ته معافی کوی او په خپل رحمت سره دوی ته متوجه کیږی

اَلْحَمْدُ لِلّٰه

څلورمه پاره ختمه سوه

الدین العلم کمپوزنګ سنټر

تفسیر معارف القرآن د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا په هیله احمدي: واټساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی کتاب ټول حقوق دمکتبه حنفئ سره محفوظ دي

تفسیر

معارف القرآن

په قندهاري پښتو کی

(تالیف)

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمۃ اللہ علیہ

پښتو ترجمه کوونکي (ابو صدیق احمد .... مولوی نصیر احمد حقّانی)

تصحیح اوسمون... مولوی نصیر احمد (حقّانی) او مولوی آمین الله (حقّانی)

دکمپوز او ترجمي چارې .... الدین العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۶)

پاره (۵)

خپرونکي

مکتبه حنفیه

فون نمبر (۲۶۶۲۵۱۰)

کانسي روډ حاجي غیبي چوک کوئټه

چاپ ځای .... لاهور

Maktaba Tul Ishaat.com

فهرست تفسیر معارف القرآن

مضمون	مخ
آیت ، وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا مَلَكَتْ : الخ ۲۴	۷
دمتعې حراموالی	۱۰
آیت ، وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا أَنْ يَنْكِحَ : ۲۵	۱۳
آیت ، يُرِيدُ اللّٰهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ : الخ ۲۶ تر ۲۸	۱۶
آیت ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ : الخ ۲۹ تر ۳۰	۱۸
لکه څنګه چې په باطله طریقه دبل مال خوړل جائز نه دي، خپل مال هم په باطله طریقه خرڅول جائز نه دي	۱۹
په باطله طریقه دمال دخوړلو تشریح او تفصیل	۲۰
دکسب معاش په ذریعو کې تجارت او محنت ترټولو ښه دي	۲۰
دپاکې ګټې خاص شرطونه	۲۱
دبل دمال دحلالیدو دپاره دتجارت او رضا مندي دوه شرطونه	۲۱
دجانبینو درضا مندي دشرط حقیقت	۲۲
آیت ، إِنْ تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ : الخ ۳۱	۲۳
دګناهونو دوه قسمونه	۲۳
نیک عملونه دصغیره ګناهونو کفاره کیږي	۲۴
کبیره ګناه یوازې په توبه سره معاف کیږي	۲۴
کبیره ګناه	۲۵
آیت ، وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللّٰهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ : الخ ۳۲ تر ۳۳	۲۷
داختیاري کارونو او دغیر اختیاري کارونو تمنا او آرزو کول	۲۸
آیت ، الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ : الخ ۳۴ ، ۳۵	۳۱
دنارینه وو دښه والي بیانولو دپاره دقران کریم عجیبه طریقه	۳۴
دسړي او ښځې مختلف عملونه دکار دتقسیم پر اصولو باندې دي	۳۵
صالحه بي بي	۳۵
نافرمانه ښځه او ددې داصلاح طریقه	۳۶
که جګړه اوږده سي نو دواړه طرف ته دې دخپلولي په فیصله کونکي صلح وکړي	۳۸
په نورو جګړو کې دې هم دحَکَم په ذریعه مصالحت کول کیږي	۴۰
آیت ، وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا : الخ ۳۶ تر ۳۸	۴۱
دحقونو تربیان مخکې دتوحید ذکر ولې دی ؟	۴۳
ترتوحید وروسته دمور او پلار دحقونو ذکر	۴۳
دخپلوانو سره دښه سلوک تاکید	۴۵
دیتیم او مسکین حق	۴۵
دهمسایه حق	۴۵
دملګري حق	۴۶
دمسافر حق	۴۶

Maktaba Tul Ishaat.com

دمینځو، مریانو او دنوکرانو حق	۴۶
په حقونوکی کوتاهی هغه خلک کوی چی په زړونوکی یی تکبر وی	۴۷
آیت ، وَمَاذَا عَلَيْهِمْ لَوْ آمَنُوا بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ : الخ ۳۹ تر ۴۲	۴۹
آیت ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقْرَبُوا الصَّلَاةَ وَأَنْتُمْ سُكَارَى : الخ ۴۳	۵۲
دشرابو دحراموالی درجه پر درجه احکام	۵۳
دتیمّم حُکم یو انعام دی چی ددی اُمّت خصوصیت دی	۵۴
آیت ، أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِنَ الْكِتَابِ يَشْتَرُونَ الضَّلَالَةَ وَيُرِيدُونَ أَنْ تَضِلُّوا السَّبِيلَ : الخ ۴۴ تر ۴۲	۵۴
آیت ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ آمِنُوا الخ ۴۷	۵۷
آیت ، إِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ : الخ ۴۸ تر ۵۰	۵۸
دشرک تعریف او ددی یو څو صورتونه	۵۹
خپل صفتونه کول او دعیبونو څخه دځان پاکولو دعوه جائزه نه ده	۵۹
آیت ، أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِنَ الْكِتَابِ : الخ ۵۱ تر ۵۲	۶۰
دجبت او طاغوت څخه څه مراد دی؟	۶۰
دذکر سوی آیت شانِ نزول	۶۱
دنفس خواهشات خپنی وخت سړی ددین او ایمان څخه محرومه کوی	۶۱
دالله ﷻ لعنت په دنیا او آخرت کی درسوایی سبب دی	۶۲
دالله ﷻ دلعنت مستحق کوم خلک دی؟	۶۲
دلعنت حکمونه	۶۳
آیت ، أَمْ لَهُمْ نَصِيبٌ مِنَ الْمُلْكِ فَإِذًا لَا يُؤْتُونَ :الخ ۵۳ تر ۵۵	۶۴
دیهودو په حسد کولو باندی سخت مذمت	۶۵
دحسد تعریف ، حکم او ددی دضررونو بیان	۶۵
آیت ، إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِنَا سَوْفَ نُصْلِيهِمْ : الخ ۵۶ تر ۵۷	۶۶
دازواجِ مُطهّرۃ تفسیر	۶۷
الخ إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ ، ۵۸ تر ۵۹	۶۸
دآیت شانِ نزول	۶۹
دامانتونو دادا کولو تاکید	۷۰
خیانت دنفاق علامه ده	۷۱
دحکومت منصبونه دالله ﷻ امانتونه دی	۷۱
په یوه منصب باندی نا اهله مقرر کونکی ملعون دی	۷۱
عدل او انصاف ددنیا دامن ضمانت دی	۷۲
دعلاقو او ولایتونو په بُنیاد دحکومت منصبونه سپارل اُصولی غلطی ده	۷۳
دحکومت دقانون یو څو زرّین اُصول	۷۳
دحکم او فرمان برداری دری عملی صورتونه	۷۴
دشریعت څخه په مخالفو کارونوکی دامیر اطاعت جائزنه دی	۷۵
عادل سړی دالله ﷻ محبوب ترین بنده دی	۷۶

Maktaba Tul Ishaat.com

داجتهاد او قیاس ثبوت	۷۶
آیت ، اَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ : الخ ۶۵	۷۶
دنبی کریم ﷺ فیصله نه منل کفر دی	۸۲
په اختلافاتو کی دده ﷺ حکم جوړول دده ﷺ په زمانه پوری خاص نه دی	۸۲
یو څو مهمی مسئلی	۸۲
یوه مهمه فائده:	۸۳
آیت ، وَلَوْ أَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ أَنِ اقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ : الخ ۶۶ تر ۶۸	۸۴
آیت ، وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَئِكَ مَعَ الَّذِينَ : الخ ۶۹ تر ۷۰	۸۶
دجنّت درجی په دعملونو په اعتبار سره وی	۸۶
په جنّت کی دملاقات یو څو صورتونه	۸۷
دنژدیکت شرط محبّت دی	۸۸
دنبی کریم ﷺ ملګرتیا په رنګ او نسل موقوفه نه ده	۸۸
ددرجو تفصیل	۸۹
دصدیقانو تعریف	۹۰
دشهیدانو تعریف	۹۰
دصالحانو تعریف	۹۰
آیت ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا خُذُوا حِذْرَكُمْ فَانْفِرُوا ثُبَاتٍ :الخ ۷۱ تر ۷۴	۹۰
آیت ، وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ : الخ ۷۵ تر ۷۶	۹۳
دمظلوم فریادرسی داسلام یوه مهمه فریضه ده	۹۴
دالله ﷻ څخه ددعا غوښتل دټولو مصیبتونو دیر ښه علاج دی	۹۴
جنګ خو ټول کوی لیکن په دی کی دمؤمن او کافر مقصدونه جلا جلا وی	۹۵
دشیطان تدبیر ضعیف دی	۹۵
آیت ، اَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ قِيلَ لَهُمْ كُفُّوا : الخ ۷۷ تر ۷۹	۹۵
دجهاد دحکم په نازلیدو باندی دمسلمانانو دطرفه څخه دمهلت آرزو ګانی ولی وسوی	۹۸
دملک تراصلاح دنفس اصلاح مخکی ده	۹۹
ددنیا او آخرت په نعمتونو کی فرق	۹۹
یوه عبرتناکه واقعه	۹۹
پوخ او محکمه کور آبادول دتوکل خلاف نه دی	۱۰۱
مصیبت دانسان دبد عمل نتیجه ده	۱۰۱
دحضور ﷺ رسالت دټول عالم دپاره عام دی	۱۰۲
آیت ، مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ : الخ ۸۰	۱۰۲
آیات ، وَيَقُولُونَ طَاعَةٌ فَإِذَا بَرَزُوا مِنْ عِنْدِكَ : الخ ۸۱ تر ۸۲	۱۰۲
دپیشوا دپاره ضروری ښوونه	۱۰۳
په قرآن کی غور او فکر	۱۰۳
دقرآن او سنت په تفسیر او تشریح باندی دیوه تن یا جماعت اجاره داری نسته لیکن ددی دپاره څه شرطونه دی	۱۰۴

آیت ، وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ : الخ ۸۳	۱۰۵
بې تحقیقه خبرې خپرول ګناه او لویه فتنه ده	۱۰۶
په نورو مسئلو کې د قیاس او اجتهاد د عوامو د پاره د امامانو د تقلید ثبوت دی	۱۰۷
آیت ، فَقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ لَا تُكَلَّفُ إِلَّا : الخ ۸۴	۱۰۸
آیت ، مَنْ يَشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَكُنْ لَهُ نَصِيبٌ : الخ ۸۵ تر ۸۷	۱۰۹
د شفاعت حقیقت او د دې حکمونه او قسمونه	۱۱۰
په سفارشت معاوضه اخیستل رشوت دی او حرام دی	۱۱۳
د تحیه د لفظ تشریح او د دې تاریخی ارخ	۱۱۳
آیت ، فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِينَ فِئَتَيْنِ وَاللّٰهُ أَرْكَسَهُمْ : الخ ۸۸ تر ۹۱	۱۱۷
د درو مختلفو ډلو بیان او د دوی حکمونه	۱۱۸
د هجرت مختلف صورتونه او د هغوی حکمونه	۱۲۱
آیت ، وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَنْ يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا خَطَأً : الخ ۹۲ تر ۹۳	۱۲۲
د قتل درې قسمونه او د دې شرعی حُکم	۱۲۴
آیت ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا ضَرَبْتُمْ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ : الخ ۹۴ تر ۹۶	۱۲۵
د مسلمان ګڼلو د پاره یوازې نښانې د اسلام کافي دي د باطن لټول جائزنه دي	۱۲۷
د واقعي د تحقیق کولو څخه پرته فیصله کول جائزنه دي	۱۲۸
اهلِ قبله ورته د کافرنه ویلو مطلب	۱۲۹
د جهاد په اروند څو احکام	۱۳۰
د فرضِ کفایي پېژندل	۱۳۰
آیت ، إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي ، الخ ۹۷ تر ۱۰۰	۱۳۱
د هجرت پېژندګلوی	۱۳۲
د هجرت فضیلتونه	۱۳۳
د هجرت برکتونه	۱۳۴
آیت ، وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ : الخ ۱۰۱ تر ۱۰۴	۱۳۵
د سفر او قصر حکمونه	۱۳۸
آیت ، إِنَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ : الخ ۱۰۵ تر ۱۱۲	۱۳۹
نبی کریم ﷺ ته د اجتهاد کولو حق حاصل وو	۱۴۵
د توبې حقیقت	۱۴۶
د خپلې ګناه الزام په بل لګول د دوچنده عذاب سبب دی	۱۴۶
د نبی کریم ﷺ علم تر ټولو مخلوقاتو زیات دی	۱۴۶
آیت ، لَا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِنْ نَجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ : الخ ۱۱۴ تر ۱۱۵	۱۴۶
دیوه او بل سره د مشورو او مجلسونو آداب	۱۴۷
د صلح کولو فضیلت	۱۴۸
اجماع د امّت حُجّت دی	۱۴۸

Maktaba Tul Ishaat.com

آيت ،) إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا : الخ ۱۱۲ تر ۱۲۱ .... ۱۴۹
دشرک او کفر دسزا هميشه والی ۱۵۱
دظلم دری قسمونه ۱۵۱
دشرک حقیقت ۱۵۱
آيت ، وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَنُدْخِلُهُمْ : الخ ۱۲۲ تر ۱۲۶ .... ۱۵۲
دمسلمانانو او اهلِ کتابو په مينځ کی پر يوه او بل دفخر خبری ۱۵۳
دالله ﷻ په نزد دمقبوليّت يو معيار ۱۵۵
دقومونو دګمراهی سبب داخلاص يا دعمل دصحيح والی نيستی کيدل دی ۱۵۶
آيت ، وَيَسْتَفْتُونَكَ فِي النِّسَاءِ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ : الخ ۱۲۷ تر ۱۳۰ .... ۱۵۷
دکورنی ژوند په اړوند دقرآن څو هدايتونه ۱۶۰
دښځی او خاوند په جګړه کی نورو ته بی ضرورته دخل کول مناسب نه دی ۱۶۱
په غير اختياری کارونو نيول نسته ۱۶۳
ددی آيت څخه دښځو دډيروالی خلاف دليل نيول قطعًا غلط دی ۱۶۵
آيتٌ ، وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَلَقَدْ وَصَّيْنَا : الخ ۱۳۱ تر ۱۳۴ .... ۱۶۵
ضروری فائدی ۱۶۷
آيت ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَاءَ لِلَّهِ : الخ ۱۳۵ .... ۱۶۷
په دنيا کی دپيغمبرانو عليهم السلام او آسمانی کتابونو ليږلو اصلی مقصد عدل او انصاف قائمول دی په دی سره ددنيا امن قائميدی سی ۱۶۸
په عدل او انصاف باندی قائم پاته کول يوازی دحکومت فرض نه دی بلکه هر انسان په دی نيول سوی دی ۱۶۹
ددنيا دامن ضمانت يوازی دآخرت عقيده او دخدای ﷻ بيره ورکولی سی ۱۷۰
دعدل او انصاف په قائمولو کی بنديز راوستونکی سببونه ۱۷۱
آيت ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا آمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَالْكِتَابِ : الخ ۱۳۶ تر ۱۳۷ .... ۱۷۳
آيت ، بَشِّرِ الْمُنَافِقِينَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا : الخ ۱۳۸ تر ۱۴۱ .... ۱۷۴
عزّت خاص دالله ﷻ څخه غوښتل په کار دی ۱۷۶
په رايی سره دتفسير کوونکی په مجلس کی شرکت جائز نه دی ۱۷۸
دبدانو تر مجلس يوازی والی ښه دی ۱۷۹
په کفر باندی راضی کيدل کفر دی ۱۸۰
آيت ، إِنَّ الْمُنَافِقِينَ يُخَادِعُونَ اللَّهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ : الخ ۱۴۲ تر ۱۴۴ .... ۱۸۰
آيت ، إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ وَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرًا : الخ ۱۴۵ تر ۱۴۷ .... ۱۸۱
معلومات او مسئلی ۱۸۲

اللهم اختم لنا بالخير والسعادة والبشارة والايمان

....

Maktaba Tul Ishaat.com

وَّالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ۚ كِتٰبَ

اوخاوند والا ښځې مګر دکومو چې مالکان سی ستاسی لاسونه حکم وسو

اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ۚ وَاُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ اَنْ تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ

دالله په تاسی او حلالی دی ستاسی دپاره ټولی ښځې د دوی څخه ماسوا په دی شرط چې طلب کوی دوی

مُّحْصِنِيْنَ غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ ۗ فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهٖ مِنْهُنَّ

دخپل مال په بدله په قید کی راوړلو لره ، نه مستی ایستلو لره بیا کومی چې په کار کی تاسی را وستلی ددی

فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ فَرِيْضَةً ۗ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا تَرٰضَيْتُمْ

ښځو څخه نو دوی ته ورکړی د دوی حق کوم چې مقرر کړل سوی دی ګناه نسته په تاسی په دی خبره کی چې

بِهٖ مِنْۢ بَعْدِ الْفَرِيْضَةِ ۗ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۲۴﴾

راضی سی تاسی دواړه پخپل مینځ کی په هغه ، نو دمقررولو څخه بیشکه الله دی خبردار حکمت والا

دآیتونو ترون : په تیرو آیتونو کی دځینو ښځو سره دنکاح دحراموالی بیان وو ، اوس په دی ذکرسوی آیت کی دځینو هغه ښځو سره دنکاح دحلال والی بیان دی په کومو کی چې مسلمانانو ته شك پیښ وو ، مثلاً مینځه چې دمسلمانانوپه قبضه کی راسی او ددی اولنی خاوند په دارِ حرب کی وی ، ددی سره د نکاح دشرطونو اومهر اونورو ذکر دی .

لنډتفسیر : دڅلورمی پاری په آخری دوو آیتونو اوددی پنځمی پاری په دی ذکر سوی آیت کی دهغه ښځو ذکر را روان دی دکومو سره چې نکاح حرامه ده او ددی محرماتو (څو قسمونه دی چې دری قسمونه یی هلته ذکر سوه او .

(څلورم قسم) هغه ښځی دی چې خاوند والا دی مګر (په دی قسم کی) هغه مستثنٰی دی کومی چې (شرعاً) ستاسی مینځی سی (اوددی حربی خاوند په دار حرب کی موجود وی، اودا دیو حیض کیدو یادحمل ترپیدا کیدو وروسته حلالی دی) (هدایه) الله ﷻ دا حکمونه پرتاسی فرض کړی دی اوددی ښځو څخه ماسوا نوری (باقی) ښځی ستاسی دپاره حلالی سوی دی ، یعنی داچې تاسی دوی دخپلو مالونوپه ذریعه سره (په نکاح کی راوستل) غواړی (یعنی مهرپه نکاح کی ضروری دی او) داسی چې تاسی (دوی) ښځه جوړوی (چې شرطونه یی په شریعت کی مشهوردی مثلاً چې شاهدان هم په کی وی اونکاح تریو خاص وخته پوری هم نه وی تړل سوی اونور) یوازی مستی ایستل مقصودنه وی (ددی په عموم کی زنا اومتعه ټول داخل دی که څه هم چې په دی کی هم مال خرڅ کول کیږی) بیا (تر نکاح کیدو وروسته) په

Maktaba Tul Ishaat.com

کومه طریقه سره (دشریعت په معتبرو طریقو باندی) چی تاسی ددوی څخه نفع واخیسته نو دوی ته (د دوی عوض) ددوی مهر ورکړی، څه چی مقرر سوی دی او (داسی مه ګڼی چی په دی مقررکی به دهیڅ قسم لکه دلمانځه اوروژی کمښت یازیاتوب ممکن نه وی بلکه) ترمقرر کیدو وروسته هم په څومره (مقدار) باندی چی تاسی (ښځه اوخاوند) یوتربله رضا سی په دی کی پرتاسی هیڅ ګناه نسته (مثلاً خاوند نورمهر زیات کی یاښځه یی کم کی اویایی معاف کی، هرډول جائزدی) بیشکه الله ﷻ ډیر پوهیدونکی دی (ستاسی مصلحتونه ښه ورته معلوم دی) لوی حکمت والا دی (ددی مصلحتونو په لحاظ سره یی احکام مقرر کړی دی که څه هم ستاسی په فکر کی نه راځی)

معلومات او مسئلي: وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ: یعنی خاوندانو والا ښځی یی هم حرامی کړی دی ترڅو پوری چی یوه ښځه دچاپه نکاح کی وی ، بل سړی ددی سره نکاح نه سی کولی ددی څخه په واضح ډول سره دامعلومه سوه چی دیوی ښځی په یووخت کی ډیر خاوندان نه سی کیدی ، ددی دور ځینی جاهلان اوبی دینه وایی چی کله نارینه ووته تریوی دزیاتو ښځو اجازت دی نو ښځوته هم تر یوه دزیاتو خاوندانو اجازت په کار دی ، دا مطالبه ددی آیت شریف څخه بالکل خلاف ده ، داسی دجهالت خبری کوونکی خلک په دی نه پوهیږی چی دسړی دپاره دښځو ډیروالی خویو نعمت دی، چی په هرمذهب اوملت کی جائز ګڼل سوی دی اودانسان تاریخ پرشاهد دی ، لیکن دښځی دپاره په یوه وخت کی تریوه زیات خاوندان کیدل ددی ښځی دپاره هم یومصیبت دی اوکوم دوه سړیان چی دیوی ښځی خاوندان جوړ سی دهغو دپاره څومره عار اوشرم دی اودارنګه په دی کی دیوکوچنی دنسب دثابتیدو هم کومه لاره پاته نه سوه ، کله چی ډیر سړیان دیوی ښځی څخه فآئده واخلی، نو ددی څخه پیدا کیدونکی اولادبه دچا اولاد ګڼل کیږی ، نوپه دی وجه دابد ترینه مطالبه هغه خلګ کولی سی څوك چی سراسر دانسانیت دښمنان وی اودچا څخه چی دغیرت اوحیا جنازه وتلی وی، داسی خلګ راتلونکی نسل داولاد، مور اوپلار دحقونو درحمتونو څخه محرومه کول غواړی، چی کله نسب ثابت نسی نودیوه اوبل په مینځ کی دحقوقو اوفرآئضو ذمه واری پرچا وراړول کیږی ، که خالص په طبعی اوعقلی اعتبار سره وکتل سی نوهم دیوی ښځی دپاره دډیرو خاوندانو جوازپه نظر نه راځی .:

(۱) دښځوالی اوخاوندوالی بنیادی مقصد اولاد پیدا کیدل دی نو په دی اعتبار سره ډیری ښځی دیوه سړی څخه حاملی کیدی سی، لیکن یوه ښځه دډیرو سړیانو څخه نسی حامله کیدی، داخو یوازی دیوه څخه حمل اخلی نوچی خاوندان ډیروی نودپاته خاوندانو قوت به داغسی ضآئع کیږی ، یوازی دشهوت پوره کیدو څخه پرته به دوی ته هیڅ فائده حاصله نه وی .

(۲) په تجربه اومشاهده سره ثابته سوی ده چی ښځه دسړی په مقابله کی صنف نازك (کمزوری قسم) دی دادکال په اکثره حصه کی دنفع اخیستو قابله هم نه وی، په ځینو وختو کی خودی ته دیوه خاوند حقونه اداکول هم ګران وی، بلکه ناممکن وی ، نوچی لا ډیر سی بیابه څه کوی ؟

(۳) کله چی نارینه دجسمانی قوّت په اعتبار سره د ښځی په مقابله کی زیات صحت مند دی ، په دی وجه که دیوه سړی جنسی قوت ترعادت زیات وی اوپه یوه ښځه باندی دده تسلی نه کیږی نوده ته په جائزه

Maktaba Tul Ishaat.com

طریقه ددوهمی اودریمی نکاح اجازت په کار دی اوکه داسی نه وی نوپه ناجآئزه طریقه اختیارولو سره به دی توله معاشره مرداره کی، لیکن دښځی څخه دداسی معاشری دمرداریدو بیره کمه ده ، په اسلامی شریعت کی ددی مسئلی اهمیت دومره زیات دی چی نه یوازی داچی دیوه خاوند په موجودګی کی دی ته دبلی نکاح کولو اجازت نسته ، بلکه چی کومه ښځه یوخاوند طلاقه کړی یاور څخه مړ سی ، نو تر عدی تیریدو پوری ورته دبل سره د نکاح کولو اجازت هم نسته .

الاَّ مَامَلَکَتْ اَیْمَانُکُمْ: داجُمله د وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ څخه استثنآء ده مطلب یی دادی چی دخاوند لرونکی ښځی سره دبل سړی نکاح کول جآئزنه دی ، مګرداچی کومه ښځه دمینځی په شکل کی لاس ته ورسی، چی ددی صورت دادی چی مسلمانان ددارِ حرب دکافرانو سره جهاد وکړی اودهغه ځای څخه یوڅه ښځی په قیدراولی، نوپه دوی کی چی کومی ښځی دارِاسلام ته را وستل سوی اوخاوندان یی په دارحرب کی پاته سول نو ددغی ښځی نکاح دارِ اسلام ته په راتلوسره دخپل زوړ خاوند څخه ختمه سوه، اوس که دغه ښځه کتابیه یامسلمانه وی نو ددی سره په داراسلام کی دمسلمان نکاح کیدای سی ، اوکه امیر المؤمنین ددی څخه مینځه جوړه کړی او یو فوجی سپاهی ته یی دغنیمت دمال په تقسیمولوکی ورکړی نو هم ددی څخه نفع اخیستل جآئز دی ، لیکن دانکاح یانفع اخیستل دیوه حیض تر راتلو وروسته جآئز دی ، اوکه حمل یی وی نودحمل ترپیدا کیدو وروسته جآئز دی .

مسئله: که یوه کافره ښځه په دار الحرب کی مسلمانه سی اوخاوندیی کافروی، نوددرو حیضو ترکیدو وروسته به دادهغه د نکاح څخه ووزی .

مسئله : اوکه په دار الاسلام کی یوه کافره ښځه مسلمانه اوخاوندیی کافروی، نوشرعی حاکم به ددی خاوند ته اسلام وړاندی کړی، که دمسلمانیدو څخه یی انکار وکی نوقاضی به د دواړو په مینځ کی جلاوالی را ولی ، او دا جلاوالی به طلاق شمیرل کیږی ، تردی وروسته چی عده یی تیره سی نو دغه ښځه بیادمسلمان سره نکاح کولی سی .

کِتَابَ اللّٰهِ عَلَیْکُمْ : یعنی دکومو محرماتو ذکرچی وسو ددی حراموالی دالله ﷻ دطرف څخه سوی دی ، قَالَ الْقُرْطُبِیْ اَیْ حُرْمَةُ هٰذِهِ النِّسَآءِ کِتَابًا مِّنَ اللّٰهِ عَلَیْکُمْ یعنی ددی ښځو حراموالی دالله ﷻ دطرف څخه په تاسی فرض سوی دی وَاُحِلَّ لَکُمْ مَّاوَرَآءَ ذٰلِکُمْ :یعنی کوم محرمات چی تر اوسه پوری ذکرسوه ددی څخه پرته نوری ښځی ستاسی دپاره حلالی دی مثلاً داکا لور، دخاله لور، دماما لور، مامی اوچاچی ددوی دخاوندانو دطلاق یاوفات ورکولو څخه وروسته، په دی شرط چی داذکر سوی قسمونه په کومه بله طریقه سره حرام سوی نه وی او دمتبنّٰی ښځه چی کله دی طلاق ورلره ورکی یادی وفات سی که ښځه مړه سی نو ددی دخور سره هم نکاح کیدی سی او داسی نور بی شمیره صورتونه دی چی دا ټول د مَّاوَرَآءَ ذٰلِکُمْ په عموم کی داخل دی .

مسئله : په یوه وخت کی ترڅلورو زیاتی ښځی په نکاح کی ساتل جآئزنه دی ددی تفصیلی بیان دسورةِ نسآء په سرکی تیر سوی دی .

ددی آیت څخه څوك باید په دی غلطی کی ونه لویږی چی د (مَّاوَرَآءَ ذٰلِکُمْ) په عموم کی بغیردکمی پابندی څخه د ښځی سره نکاح کول جآئزدی ، دارنګه ډیری محرماتی هغه هم دی چی دهغو ذکرپه احادیثوکی

دي اودهغو طرف ته په دي آيتونو كي اشاري هم دي چي مونږيي په تفسير كي ورسره ورسره ذكر كړي دي ، اَنْ تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ: يعني دمحرماتو دابيان ستاسي دپاره ځكه وسوچي په خپلو مالونوسره حلالي ښځي ولټوي اوپه خپله نكاح كي يي راولي ، ابوبكر جصاص په احكام القرآن كي ليكي چي ددي څخه دوي خبري معلومي سوي يوه داچي بغير دمهره څخه نكاح نه سي كيدى (تردي چي كه ښځه اوخاوند ديوه او بل سره داسي اقرار وكړي چي نكاح به بي له مهره وي نوهم به مهر پرلازميږي چي تفصيل يي دفقهي په كتابونوكي دي) دوهمه خبره دامعلومه سوه چي مهرهغه شي په كار دي كوم شي ته چي مال ويل كيږي دحنفيانو مذهب دادي چي ترلسو درهمو كم مهر نه سي كيدى يو درهم دري نيمي ماشي سپين زر دي ،

مُحْصِنِيْنَ غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ : يعني دخپلو مالونو په ذريعه حلالي ښځي طلب كړي اوداسي وګڼئ چي دښځو لټول دپاكدامني حاصلولو دپاره دي چي دنكاح مهم مقصددي نود نكاح په ذريعه دغه شي حاصل كړي ، په مال خرڅ كولو سره دزنا دپاره ښځي مه تلاش كوي ، ددي څخه معلومه سوه چي كه څه هم زنا كار هم مال خرڅوي ليكن دغه مال خرڅول هم حرام دي ، او ددغه مال په ذريعه چي كومه ښځه حاصله كړل سي دهغه څخه فائده اخيستل هم حلال نه دي ، په لفظ دغَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ زياتولو سره يي دزنا دمنع كولو سره سره دي طرف ته يي هم اشاره وفرمايله چي په زنا كي يوازي شهوت ادا كول اواوپه تويول وي ځكه چي په دي سره اولاد طلب كول او دنسل باقي پاته كيدو اراده نه وي مسلمانانوته پاكدامن اوسيدل اودانسانانو دنسل زياتولو دپاره خپل قوت پرځاى خرڅول پكار دي چي ددي طريقه مِلك د نكاح اوملك ديمين دي (يعني ښځه اومينځه)

فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهٖ مِنْهُنَّ فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ فَرِيْضَةً : يعني تر نكاح وروسته دكومو ښځو څخه چي نفع اخلئ نو مهر يي وركوي ، دا دمهر وركول په تاسي باندي فرض كړل سوي دي ، په دي آيت كي دنفع اخيستو څخه مراد دښځو سره يوځاى كيدل اوكوروالي كول دي كه يوازي نكاح وسي اورُخصتي نه وي سوي اوخاوندته دنفع اخيستو موقع ونه رسيږي، بلكه تر واده كيدو مخكي طلاق وركړي نو نيم مهر واجبيږي ، اوكه دنفع اخيستو موقع ورته ورسيږي نوپوره مهر واجب سو ، په دي آيت كي يي خاصه توجه راګرځولي ده چي كله ديوي ښځي څخه نفع واخيستل سوه نو ددي مهر وركول په هرډول سره واجب سوه ، په دي كي كوتاهي كول داسلامي شريعت څخه خلاف دي اوانساني غيرت هم داغواړي چي كله دنكاح مقصد حاصل سو نو دښځي په حق كي كوتاهي اوځان دوري دوري كول نه دي په كار ، البته شريعت ښځي ته دا حق هم وركوي چي كه مهر عام وي ، په معلومه نيته نه وي نو دمهر تروصولولو پوري دادخاوند سره دتلو څخه هم انكار كولى سي .

دمتعي حراموالي: داستمتاع دلفظ ماده م ،ت، ع ده چي معنى يي ده فائده حاصلول ، ديوه سړي څخه يادده دمال څخه فائدي حاصلولوته استمتاع وايي ، دعربي دقاعدي په بناء سره ديوي كلمي په ماده كي د س ، ت په زياتولو سره دطلب او حاصلولو معنى پيدا كيږي، نو ددي لغوي تحقيق پربنياد باندي د فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ : ساده معني دټول امت په نزد باندي هم دغه ده، كومه چي مونږ لوړه بيان كړي ده ، ليكن يوه فرقه وايي چي ددي څخه اصطلاحي متعه مراد ده ، او ددي خلګو په نزد دا آيت دمُتعي دحلاليدو

Maktaba Tul Ishaat.com

دپاره دلیل دی ، حال دا دی مُتعه چی څه ته وایی ، ددی صفا رد دقرآن کریم ددی لوړ آیت په لفظ د مُحْصِنِیْنَ غَیْرَ مُسٰفِحِیْنَ سره کیږی چی تشریح یی مخ ته راځی .
مُتعه اصطلاحی دکومی دجواز چی یوه فرقه دعوه کوی ، دا ده چی یو سړی یوی ښځی ته ووایی چی د دومره ورځو دپاره د دومره پیسو یافلانی جنس (شی) په عوض کی زه ستا سره مُتعه کوم ، داصطلاحی مُتعی ددی آیت سره هیڅ تعلق نشته ، یوازی داشتقاق دمادی په کتوسره یی دغه فرقه دعوه کوی چی ددی آیت څخه دُمتعی دحلالوالی ثبوت راوزی .
اوله خبره خوداده چی کله ددوهمی معنی دکم ازکم یوڅه احتمال وی (اوزمونږ په نزدخو متعینه ده) نو دثبوت لاریی بیاڅه ده؟ دوهمه خبره دا ده چی قرآن مجید دمحرماتو دذکر کولو سره وفرمایل چی ددی پرته دخپلو اصولو په ذریعه حلالی ښځی لټوی ، په داسی حال کی چی اوبه بیونکی نه وی یعنی یوازی شهوت پوره کول مقصودنه وی ، او ددی سره سره یی دمُحصنین قید هم لګولی دی ، یعنی دا چی دپاکدامنی خیال ساتونکی وی ، مُتعه چی کله دمخصوص وخت دپاره کول کیږی نوپه دی وجه په دی کی مقصدنه اولاد وی اونه کور آبادول ، اونه پاکدامنی حاصلول ، په دی وجه دکومی ښځی سره چی مُتعه وکړل سی نو دا مخالف فریق یی په میراث کی حصه لرونکی هم نه منی ، او دمعلومو ښځو په شمیر کی یی هم نه راولی اوچی کله یی مقصد یوازی شهوت پوره کول وی په دی وجه سړی اوښځه دنورو نورو یارانو په لټه کی وی ، نو چی حال دا سو بیاخو مُتعه دپاکدامنی ضامنه نه ده بلکه دښمنه ده .
صاحب دهدایی دحضرت امام مالك رحمه الله طرف ته نسبت کړی دی چی دهغه په نزد مُتعه جائزه ده ، لیکن دا نسبت بالکل داسی نه دی ، لکه چی دهدایی شارحانو اونورو مشرانو ددی وضاحت کړی دی چی دهدایی والا څخه سهوه سوی ده ، البته ځینی خلک دادعوه کوی چی حضرت ابن عباس رضی الله عنه ترآخره پوری دمُتعی دحلالوالی قائل وو ، حال دا دی چی داسی نه ده ترمذی په باب د مَاجَآءَ فِی نِکَاحِ الْمُتْعَةِ کی دوه حدیثونه نقل کړی دی . اولنی حدیث دا دی .

عَنْ عَلِیِّ ابْنِ اَبِیْ طَالِبٍ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی عَنْ مُتْعَةِ النِّسَآءِ وَعَنْ لُحُوْمِ حُمُرِ الْاَهْلِیَّةِ زَمَنَ خَیْبَرَ .
دحضرت علی رضی الله عنه څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ دخیبردغزاپه موقع دښځوسره دمتعی کولوڅخه او دکورنیوخرودغوښو دخوړلوڅخه منع فرمایلی ده، دحضرت علی رضی الله عنه داحدیث په بخاری اومسلم کی دی .

دوهم حدیث دا دی کوم چی ترمذی نقل کړی دی . عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی الله عنه قَالَ اِنَّمَا کَانَتِ الْمُتْعَةُ فِیْ اَوَّلِ الْاِسْلَامِ حَتّٰی اِذَا نَزَلَتِ الْاٰیَةُ اِلَّا عَلٰی اَزْوَاجِهِمْ اَوْمَا مَلَکَتْ اَیْمَانُهُمْ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رضی الله عنه فَکُلُّ فَرْجٍ سِوَاهُمَا فَهُوَ حَرَامٌ .
دحضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی ، دی فرمایی چی متعه داسلام په اوله زمانه کی روا وه تردی چی نازل سودا آیت کریمه ، اِلَّا عَلٰی اَزْوَاجِهِمْ اَوْمَامَلَکَتْ اَیْمَانُهُمْ : نو هغه منسوخه سوه تر دی وروسته حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمایی چی دشرعی ښځی او شرعی مینځی څخه پرته دهرقسم شرمګاه څخه فآئده اخیستل حرام دی .
البته دومره خبره ضرورده چی حضرت ابن عباس رضی الله عنه تریوڅه وخته پوری مُتعه حلاله ګڼله خوبیا دحضرت علی رضی الله عنه به پوهولو (لکه چی په صحیح مسلم ص ۴۵۲ کی دی او ددی آیت شریف اِلَّا عَلٰی اَزْوَاجِهِمْ اَوْمَامَلَکَتْ

Maktaba Tul Ishaat.com

اَيۡمَانُهُمۡ څخه په خبريدو باندې يې رجوع وفرمايله ، لکه چې د ترمذي په روايت کې دی کوم چې لوړ ذکر دی دا هم عجبه خبره ده چې کومه فرقه دمتعې دحلالوالی قائله ده ، سره ددې چې دحضرت علي ﷺ سره محبت کونکې او دهغه فرمانبرداره ده په دې مسئله کې دهغه څخه هم مخالفه ده ، فَسَيَعۡلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوٓا اَيَّ مُنۡقَلَبٍ يَّنۡقَلِبُوۡنَ : يعنې ډير ژر به په ځان پوه سي)

صاحب دروح المعاني دقاضي عياض ﷫ څخه نقل کوي چې دخيبر تر غزا مخکې مُتعه حلاله وه بيادخيبر په غزاکې حرامه کړل سوه تردې وروسته دفتح مکې په ورځ حلاله کړل سوه ليکن بيادرې ورځې وروسته دهميشه دپاره حرامه کړل سوه ، دغه ډول داخبره هم دفکر کولو قابله ده چې دالله ﷻ فرمان دی وَالَّذِينَ هُمۡ لِفُرُوۡجِهِمۡ حٰفِظُوۡنَ ۞ اِلَّا عَلٰٓى اَزۡوَاجِهِمۡ اَوۡ مَا مَلَكَتۡ اَيۡمَانُهُمۡ فَاِنَّهُمۡ غَيۡرُ مَلُوۡمِيۡنَ (المؤمنون ۵-۶) (هغه خلک چې دوی دخپلو عورتونو حفاظت کوي مګر نه دخپلو بيبيانو اوخپلو مينځو څخه ، نو په داسې خلکو هيڅ ملامتيا نسته) دا داسې واضح ارشاد دی چې په دې کې دهيڅ قسم تاويل ځای نسته ددې څخه دمُتعې حراموالی صفا ښکاره دی ، ددې په مُقابله کې په ځينو عجيبو قرآئتونو پناه اخيستل بالکل غلط دی ، لکه چې مخکې عرض سوي دی د اِسۡتَمۡتَعۡتُمۡ څخه دمتعې اصطلاحي مراد داخيستو هيڅ قطعي دليل نسته محضي يواحتمال دی اودا احتمال د اِلَّا عَلٰٓى اَزۡوَاجِهِمۡ اَوۡمَامَلَكَتۡ اَيۡمَانُهُمۡ قطعي الدّلالت سره هيڅ کله ټکر نه سي خوړلی اوکه فرض کړه دواړه دليلونه په قوت کې برابر سي نو بيابه ټکر دحلت اوحرمت راسي نو که فرض کړه دا ټکر هم ومنل سي نوبيا دعقلِ سليم تقاضا دا ده چې حرام ته دې پرمباح باندې ترجيح ورکړه سي .

مسئله : دمُتعې دنکاح په شان سره وقتي نکاح هم حرامه اوباطله ده ، وقتي نکاح دا ده چې تر يوې مقررې نيتې پورې نکاح وکړل سي او په دې دواړو کې فرق دا دی چې په متعه کې لفظ دمُتعې ويل کيږي او وقتي نکاح په لفظ د نکاح سره وي .

وَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ فِيۡمَا تَرٰضَيۡتُمۡ بِهٖ مِنۡۢ بَعۡدِ الۡفَرِيۡضَةِ : دآيت ددې جملې مطلب دا دی چې په خپل مينځ کې ترمهر مقرر کولو وروسته دامقرر سوی مهر يوداسې آخرې فيصله سوې شی نه دی چې په دې کې اوس کموالی يا زياتوالی جائزنه دی بلکه خاوند پرمقرر سوي مهر باندې دخپل طرفه څخه زياتوالی هم کولی سي ، اوښځه که وغواړي نو دزړه په خوشحالی سره لرياتول مهر معاف کولی هم سي ، دالفاظو دعام والی څخه دا هم معلومه سوه چې که ښځه خپل مهر نسيًا کړي يعنې ووايي چې خيردی ماته به يې بياوروسته راکړي نو هم جائزدی اوګناه په کې نسته .

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيۡمًا حَكِيۡمًا : دآيت په ختميدو باندې يې ددې جُملې په زياتولوسره يې يوه داخبره وښووله چې الله ﷻ په هرڅه خبردی نوپه دې ذکرسوو حکمونوکې که يوسړی خلاف ورزي وکړي ، نوکه څه هم ددې خبر قاضي ، حاکم يابل چاته نه وي ليکن الله ﷻ دهرڅه څخه خبردی دده څخه په هرحالت کې بيريدل په کاردي ، اودايي هم وښوول چې کم احکام بيان سول ددې ټولو بناء پرېو حکمت باندې ده ، حکمت هغه باريکې خبرې ته وايي چې هرسړی نه په پوهيږي ، دحلالوالی اوحراموالی کوم احکام چې په دې آيتونوکې ذکردي ، ددې وجه که دچاپه خيال کې راځي اوکه نه خوپرهر حال ددې منل لازمي دي ځکه چې

که مونږ ته یې وجه معلومه نه وي نو صاحب د حکم الله جلّ شانه ته خو معلومه ده چې علیم او حکیم دی ، ددې دور ډېر جاهلان تعلیم یافته د الله ﷻ د حکمونو وجهې لټوي نو که کومه وجه یې ورته معلومه نه سي نو معاذ الله د خدای پاك هغه حکم نامناسب یا د دورِ حاضر د غوښتونو څخه مخالف ګڼي او پاته یې کړي، په دې الفاظو سره الله ﷻ د داسې خلګو خولې بندې کړې دي او دایې ورته ښوولې دي چې تاسې ناپوه یاست، الله ﷻ پوه دی ، تاسې نه پوهیږئ ، الله ﷻ حکیم دی ، خپله پوهې د حقوالی د پاره اصل مه جوړوئ ، الله ﷻ علیم دی او علم یې پوره او د حکمت څخه ډك دی .

وَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا اَنْ يَّنْكِحَ الْمُحْصَنٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ فَمِنْ

او څوك چې نه لري طاقت په تاسې کې ددې چې نکاح وکړي دبیبیانو مسلمانانو سره نو

مَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ مِّنْ فَتَيٰتِكُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِاِيْمَانِكُمْ ؕ

نکاح دې وکړي د هغوی سره چې ستاسې دلاس مال دي چې ستاسې مینځې دي مسلمانانې او الله ته ښه معلومه ده ستاسې مسلماني

بَعْضُكُمْ مِّنْ بَعْضٍ ۚ فَانْكِحُوْهُنَّ بِاِذْنِ اَهْلِهِنَّ وَاٰتُوْهُنَّ

تاسې پخپل مینځ کې یو یاست ، نو د دوی سره نکاح کوئ ، د دوی د مالکانو په اجازه سره او ورکوئ دوی ته

اُجُوْرَهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ مُحْصَنٰتٍ غَيْرَ مُسٰفِحٰتٍ وَّلَا مُتَّخِذٰتِ

مهر د دوی موافق د دستور چې په قید کې را وستونکې وي نه مستې ایستونکې او نه پټه یارانه

اَخْدَانٍ ۚ فَاِذَآ اُحْصِنَّ فَاِنْ اَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ

کوونکې ، بیا چې کله دوی په قید کې راغلې نو که وي کړو دبې حیایۍ کار نو په دوی

نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنٰتِ مِنَ الْعَذَابِ ؕ ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ

نیمه سزا ده دبیبیانو سزا څخه دا په دې وجه دې چې څوك په تاسې کې بیرېږي

الْعَنَتَ مِنْكُمْ ؕ وَاَنْ تَصْبِرُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٢٥﴾ ع

د تکلیف ور پېښېدو څخه ، او که صبر وکړئ نو ښه دي ستاسې په حق کې او الله بخښونکی والا مهربانه دی

د آیتونو تړون : د مخکې څخه چې کله د نکاح احکام راروان دي په دې وجه د دې په مناسبت سره د شرعي مینځو سره د نکاح کولو ذکر شروع سو او بیایې د دوی په اړوند د حد حکم هم بیان کې چې د مینځې او مرېی حد د آزادې ښځې او سړي څخه مختلف وي .

لنډتفسیر: اوکوم سړی چی په تاسی کی پوره قدرت اوطاقت نه لري دآزادو مسلمانو ښځو سره دنکاح کولو نوهغه دی په خپل مینځ (والاوو) کی دمسلمانانو مینځوسره کومی چی ستاسی (خلګو) شرعاً معلوم کی دی نکاح دی کوی (ځکه چی اکثره دمینځو مهر اونور شیان کم وی او دغریبانو سره په نکاح کولو کی شرم هم نه کوی) او (دمینځو سره په نکاح کولوکی دی شرم نه کوی، ځکه چی د دین په وجه کیدی سی چی دوی ترتاسی هم ښه وی ځکه چی دښه والی مدار پردین اوایمان دی او) ستاسی دایمان پوره حالت الله تعالی ته معلوم دی (چی کوم په کی اعلی دی اوکوم ادنی ، ځکه چی ددی تعلق دزړه سره دی اودزړه پوره علم الله ﷻ ته دی ، اوپه دنیاکی خودعار (شرم اوپیغور) زیاته وجه دنسب فرق دی اوپه دی کی خودټولو انسانانو پیدا ینبت دحضرت آدم اوحوا ﷺ څخه دی او په دی اعتبار سره) تاسی ټول په خپل مینځ کی یودبل سره برابر یاست (نوبیا دعار اوپیغور څه وجه ده؟) نو (کله چی دشرم نه کولو وجه معلومه سوه نوددکر سوی ضرورت په وخت کی) ددوی سره نکاح کوی (لیکن شرط داهم دی چی) ددوی دمالکانو په اجازت سره (وی) اوددوی مالکانوته ددوی مهر دقاعدی (شریعت) موافق ورکوی (اودامهر ورکول دی) په دی ډول سره (وی) چی هغه دنکاح ښځه جوړه کړل سی، نه چی ښکاره بدکاری کونکی وی اونه په پټه یاری کونکی وی (یعنی چی دغه مهر دنکاح په مقابله کی وی، دزنا داُجرت ورکولوپه ډول سره نه حلالیږی) بیاچی کله دغه مینځه په نکاح کی راوستل سی نوبیاکه دوی دلویی بی حیایی کار (یعنی زنا) وکړی نو (وروسته ترثبوت په دی شرط چی مسلمانه وی) پردی باندی به دهغه سزا نیمایی (جاری) کیږی کمه چی به (پر غیر نکاح سوو) آزادو ښځو باندی وی (لکه څنګه چی تر نکاح مخکی هم دمینځو داسزا وه اودغه ډول دغلامانو) دا (دادمینځوسره نکاح کول) دهغه سړی دپاره (مناسب) دی چی په تاسی کی (دشهوت دغلبی اودآزادی ښځی دحاصلولو دقدرت نلرلوپه وجه) دزنا (په کیدوکی دمبتلا کیدو) بیره لري (اودچاچی دابیره نه وی دهغه دپاره مناسب نه دی) اوکه (ددی بیری په حالت کی هم څوک پرخپل نفس قادر وی نو) ستاسی خپل نفس کنټرولول زیات ښه دی (په نسبت سره ونکاح دمینځی ته او (داغسی خو) الله تعالی دیری ښښنی والادی (چی که دکراهت په صورت کی هم نکاح وکړی نونیول به نه پرکوی او) لوی رحمت والادی (چی دحراموالی حکم یی ونه کی)

معلومات اومسئلې: طَوْلًا : قدرت اوغنآء ته ویل کیږی دآیت مطلب دادی چی دچاچی د آزادو ښځوسره دنکاح کولو قدرت نه وی، یاورسره دومره سامان نه وی نودمومنو مینځو سره نکاح کولی سی ، ددی څخه معلومه سوه چی ترڅو پوری ممکنه وی دآزادی ښځی سره نکاح کول په کار دی ، دمینځی سره دی نکاح نه کوی اوکه خامخادمینځی سره نکاح کوی نوبیادی دمومنی سره کوی ، دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله دامذهب دی چی دآزادی ښځی سره یی دنکاح قدرت وی نودمینځی سره نکاح کول یادکتابیی مینځی سره نکاح کول مکروه دی ، اودحضرت امام شافعی رحمه الله اونورو امامانو په نزدچی دآزادی ښځی سره دنکاح قدرت لری نودمینځی سره نکاح کول حرام دی اودکتابیی مینځی سره نکاح کول خومطلقًا جائزنه دی ، پرهرحال آزاد سړی لره دمینځی دنکاح څخه ځان ساتل ښه دی، په هرحال چی دی اوکه مجبوره سی نو بیادی دمومنی مینځی سره نکاح کوی ، وجه یی دا ده چی دمینځی کوم اولاد

Maktaba Tul Ishaat.com

پیداسي هغه به دهغه سرې غلام وي دځاچې دامينځه ده اودغير مومنې مينځې څخه چې کوم اولاد پيداسي، نوددې خبرې بيره ده چې هغه به دموږ په ډول سره بې ديني اختيارکړي، نوخپل اولاد دغلامی څخه دخلاصولو اودمؤمن جوړولو دپاره داضروري ده چې دکوچنيانو موردې آزاده وي اوکه مينځه وي نوکم ازکم مؤمنه خودې خامخاوي ددې دپاره چې دکوچني ايمان محفوظ پاته سي، په دې وجه علمآء کرامو فرمايلي دي چې کتابي ښځه چې آزاده وي نوددې سره که څه هم نکاح کول جائزدي ليکن خان ورڅخه ساتل ښه دي اوپه دې دورکي خوورڅخه دځان ساتلو اهميت ډير زيات دی ځکه چې ديهودو اونصاراؤ ښځې دمسلمانانو سره په دې وجه نکاح کوي چې داخپل خاوند اوده اولاد پرخپل دين راواړوي.

بيايي وفرمايل ، وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِاِيْمَانِكُمْ بَعْضُكُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ يعني الله ﷻ ته ستاسي دايمان ښه علم دی ، ايمان وجه دفضيلت ده ځيني وخت مريي اومينځه په ايماني مرتبه کې ترآزاد سرې اوښځې زيات وي ، نوپه دې وجه دمؤمني مينځې سره د نکاح کولو څخه نفرت مه کوي ، بلکه ددې دايمان قدرکوئ ، په آخر کې يې وفرمايل : بَعْضُكُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ يعني آزاد اومريان ټوله په يوه جنس پورې تعلق لري اوټول ديوه نفس څخه پيدا سوي دي ، دفضيلت مدار ايمان اوتقویٰ ده .

قَالَ فِي الْمَظْهَرِي : فَهٰذَانِ الْجُمْلَتَانِ لِتَانِيْسِ النَّاسِ بِنِكَاحِ الْاِمَآءِ وَمَنْعِهِمْ عَنِ الْاِسْتِنْكَافِ مِنْهُنَّ .

مظهري وايي چې ددې دواړو جملو مطلب دا دی چې خلګ دمينځو دنکاح سره مانوسه (الفت کونکي) وي اونفرت ورڅخه ونه کي .

فَانْكِحُوْهُنَّ بِاِذْنِ اَهْلِهِنَّ وَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ : يعني دمينځو سره نکاح ددوی دمالکانو په اجازت سره کوی ، که هغوی اجازت نه ورکوي نونکاح نه ورسره صحيح کيږي ، ځکه چې دمينځې خپل نفس په خپل تصرف کې نه وي داحکم دغلام هم دی چې دی دمالك داجازت څخه پرته نکاح نه سی کولی .

بيافرمايي چې دمينځو سره نکاح وکي نومهر يې په ښه ډول سره اداکوي يعني ځان په کې دوري دوري مه کوي اوپوره يې ورکوي ، داسي نه چې مينځه يې ګڼې اوتکليف ورلره ورکوي ، په دې سلسله کې دامام مالك رحمه الله مذهب دا دی چې مهر دمينځې حق دی اونور امامان فرمايي چې کم مال مينځې ته په مهرکي ورکړه سي دامال ددې دمالك دی .

مُحْصَنٰتٍ غَيْرَ مُسٰفِحٰتٍ وَّلَا مُتَّخِذٰتِ اَخْدَانٍ : يعني دمؤمنانو مينځو سره نکاح کوی، په داسي حال کې چې دوی پاکدامنې وي اومسافحاتي نه وي يعني په ښکاره زناکونکي نه وي او نه په پټه طريقه سره آشنايي ساتونکي وي ، ګويا دلته يې دمينځوپه باره کې فرمايلي دي چې دنکاح دپاره پاکدامنې مينځې لټوی ، ليکن آزاده ښځه چې زناکاره وي، ددې سره دنکاح کولو څخه ځان ساتل هم ښه اوبهتر دی ، لکه چې دآيت څخه معلومه سوه چې دآزادي ښځې سره دنکاح قدرت نه وي نودمينځې سره نکاح کوی ، ددی څخه داهم ثابته سوه چې مُتعه جائزه نه ده، ځکه چې که مُتعه جائزه وای نودآزادی ښځې سره دنکاح دقدرت نلرلو په صورت کی ديوه سرې دپاره ترټولو آسانه صورت دمُتعی وو چې په دی کی جنسی خواهش هم پوره کيدی سی اومالی باريې هم دنکاح په مقابله کی ډيرکم دی ، دغه ډول په آيت کی يې په : مُحْصَنٰتٍ غَيْرَ مُسٰفِحٰتٍ سره دمينځو صفت بيان کی اودمتعی په صورت کی خومقصدهم دغه اوبه

Maktaba Tul Ishaat.com

تویول وی اوبس ، چی یوه ښځه په کومه موده کی دډیرو سړیانو په استعمال کی راځی اودکوچنی نسبت هیڅ‌چاته نه سی کیدی ، په دی وجه دتناسل هم کمه خاصه فائده نه حاصلیږی، اودټولو قوت یوازی په شهوت پوره کولو کی ضائع کیږی ، بیایی وفرمایل .

فَإِذَا أُحْصِنَّ فَإِنْ أَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ مِنَ الْعَذَابِ : یعنی کله چی مینځی په نکاح کی راسی او دپاکدامنی انتظام یی وسی نواوس که زنا وکړی نودوی ته به دهغه سزانیمه ور رسیږی کومه چی دآزادو ښځو دپاره مقرره ده ، ددی څخه مراد ناواده سوی آزادی ښځی دی ، ناواده سوی آزاد سړی اوښځه چی زنا وکړی نو ددوی سزا سل دُرّی دی چی ذکریی دسورهٔ نورپه دوهم آیت کی دی اوچی واده سوی سړی اوښځه زناوکړی نوسزا یی رجم دی ، یعنی ترهغه پوری به یی په ډبرو ولی چی ترڅو مړه سوی نه وی . کله چی داسزا نیمیدی نه سی ، په دی وجه دڅلورو امامانو مذهب دا دی چی مریی اومینځه که واده سوی وی اوکه نه وی ، خو چی زناوکړی نو سزا یی پنځوس ۵۰ دُرّی دی ، دمینځو حکم په آیت شریف کی ذکر دی اوپه ډول ددلالة النص ورڅخه دمریی مسئله هم معلومه سوه .

ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ الْعَنَتَ مِنْكُمْ یعنی دمینځو سره دنکاح اجازت دهغه سړی دپاره دی چی په زناکی دواقع کیدو بیره یی وی ، وَأَنْ تَصْبِرُوا خَيْرٌ لَكُمْ یعنی سره دبیری دزناڅخه هم که صبروکړی اوخپل نفسونه پاکدامن ساتلی سی نو دا ستاسی دپاره تردی خبری ښه ده چی دمینځو سره نکاح کوی دآیت پرختمیدو یی وفرمایل . وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ یعنی دمینځوسره نکاح کول مکروه دی نوکه په دی کراهت عمل وکړی نوبیابه هم الله ﷻ معافی وکړی الله ﷻ معافی کونکی دی او رحم والا هم دی ځکه چی ده دمینځو سره دنکاح اجازت ورکی اومنع یی ونه کړه .

فائده : دلوړ آیت په تفسیرکی چی کوم دمینځو اومریانو ذکر راغلی دی ددی څخه مراد شرعی مینځه اومریی دی ، کوم چی دجهادپه ځای کی به یی کافر سړی اوښځه په قیدکی بوتلل اودمؤمنانو امیربه جهاد کونکو ته په تقسیم کی ورکول دابندیان به مریان اومینځی جوړیدل اوبیابه ددوی نسل هم غلامان وه (خوځینی صورتونه ورڅخه مستثنی هم وه، چی تفصیل یی دفقهی په کتابونوکی دی) دکوم وخت څخه چی مسلمانانوپه شرعی ډول سره جهاد کول پاته کړی دی اودخپل جهاد اوصلح اوجنګ دار ومداریی ددین ددښمنانو په اشارو باندی اینی دی، دغیر شرعی أصولو پایبند سوی دی ، دهغه وخت څخه دمریانو اومینځو څخه هم محروم سول ، داموجوده نوکران اومزدوران اوپه کورونوکی خدمت کونکی نوکرانی ، مینځی اومریان نه دی ، دوی آزاد دی ، په ځینو علاقوکی کوچنیان خرڅول کیږی اومریان ورڅخه جوړ وی دا ټوله حرام دی اوپه داسی کولوسره دوی مریان نسی جوړیدی ، بلکه شرعی مریی اومینځه هغه دی دکومو چی لوړ تفصیل بیان سو .

يُرِيدُ اللَّهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ

غواړی الله چی بیان کړی تاسی ته او وچلوی تاسی ، دپخوانو په لاری

وَيَتُوبَ عَلَيْكُمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٢٦﴾ وَاللَّهُ يُرِيدُ أَنْ يَتُوبَ

اومعاف کړی تاسی اوالله پوه دی حکمت والا او الله غواړی چی تاسی متوجه سی

عَلَيْكُمْ ۚ وَيُرِيدُ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الشَّهَوٰتِ أَن تَمِيلُوا مَيْلًا

اوغواړي هغه خلق چي لګيدلي دي پخپلو خواهشاتو پسي چي تاسي کاږه سي دلاري څخه

عَظِيمًا ﴿۲۷﴾ يُرِيدُ اللّٰهُ أَن يُخَفِّفَ عَنكُمْ ۚ وَخُلِقَ الْإِنسَانُ ضَعِيفًا ﴿۲۸﴾

ډير ليري ، غواړي الله چي تاسي څخه بار کم کړي او انسان جوړ دی کمزوری

دآيتونو ترون : په تيرو آيتونو کي داحکامو دتفصيل ذکروو په دي آيتونو کي الله ﷻ خپل انعام او احسان ښيي ، او دا چي ددي احکامو په رواکيدو کي ستاسي نفعي او مصلحتونه دي، که څه هم چي تاسي يي په تفصيل پوه نه سي او بيا ددي سره سره په دي احکامو دعمل کولو ترغيب دي او دګمراهانو دخرابو ارادو په کي خبرداري هم دي چي داخلګ ستاسي بدي غواړي دوی تاسي دلاري څخه بي لاري کوي .

لنډتفسير : الله ﷻ ته (په دي ذکرسوو مضمونونو فرمايلو او دغه ډول په نورو مضمونونو سره خپله کومه نفع مقصودنه ده څکه چي داعقلاً محاله ده بلکه تاسي ته دنفع رسولو دپاره) دامنظوره ده چي (داحکامو په آيتونو کي) تاسي ته (ستاسي دمصلحت احکام) بيان کړي او (دقصوپه آيتونو کي) تاسي ته دمخکنيو خلګو حالات وښيي (چي ستاسي دتابعداري طرف ته شوق پيداسي اودمخالفت څخه وبيريږئ) او (لندشريك مقصد ددي ټولو څخه دادي چي) پرتاسي باندي (په رحمت سره) توجه وفرمايي (اوهغه توجّه هم دا بيانول اوښوول دي چي په دي کي سراسر دبندګانو نفع ده لکه چي ذکر سوه) او الله ﷻ لوی علم والا دی (چي دبندګانو مصلحت ورته معلوم دي) لوی حکمت والادی (چي ددي مصلحتونو دوجوب پرته رعايت فرمايي) او الله ﷻ ته خو (دحکمونو او قصو په بيانولو کي لکه چي اوس يي ذکر وسو) ستاسي په حال باندي (په رحمت سره) توجه فرمايل منظور دی او کوم خلګ (دکافرانو اوفاجرانو څخه) چي شهوت پرسته دي هغوی خود اغواړي چي تاسي (دسيده لاري څخه) په ډيرولويو کږيدو کي وغورځوی (او د دوی په شان سي نو دوی خپل مردار خيالونه دمسلمانانو په غوږنوکي اچوی، اوداالله ﷻ چي څومره په احکامو کي ستاسي په مصلحت باندي نظر دی ، دغه ډول يي ستاسي په آساني باندي هم نظر دی لکه ارشاد دی چي) الله ﷻ ته (په احکامو کي) پرتاسي باندي سپکوالی (يعني آساني راوستل هم) منظوردی او (وجه ددي داده چي) انسان (په نسبت دنورو مکلفينوپه بدن او همت دواړو سره) کمزوری پيداسوی دی (په دي وجه دده دکمزوري سره مناسب احکام يي مقرر کړي دي که نه وي نو په سختو احکامو مقررولو کي هم کومه مضآئقه (تکليف) نه وو ، مګرمونږ ددواړو خبرو په جمع سره لحاظ وفرمايي اودا پرلوی علم اوحکمت اودا رنګه پررحمت اوشفقت باندي موقوفه ده .

معلومات او مسئلي : د نکاح دډيرو احکامو تربيانولو وروسته يي په دي آيتونوکي دا وښووله چي الله پاک په واضح ډول سره ښه په ډاګه تاسي ته احکام بيانوی اودپيغمبرانو اودنيکانو خلګو کوم چي مخکي تير سوي دي ، دهغوی دلاري ښوونه درته کوی تاسي دامه ګڼي چي ذاحرام اوحلال يوازي زمونږ دپاره دي ، بلکه ترتاسي مخکي چي کوم اُمتونه تيرسوي دي هغوته هم دغه ډول احکام ښوول سوي دي

Maktaba Tul Ishaat.com

نوچی هغوی عمل په وکی نودالله تعالی ددربار مقربین جوړسول ، کوم خلګ چی دشهوتونو تابع دی یعنی زناکار دی اوهغه قومونه اودباطلو مذهبونو خاوندان چی دهغوپه نزد حلال اوحرام هیڅ شی نه دی دوی تاسی هم دحقی لاری څخه اړوی اودخپلو باطلو ارادو طرف ته ستاسی مخ کوی ، تاسی د دوی څخه هوښیار اوسی ، په ځینو مذهبونو کی دخپلو محرمو ښځوسره هم نکاح کول جائز دی ، اوځینی بی دینه خو په دی دورکی دنکاح په ختمولو پسی دی ، اوپه ځینو ملکونو کی خو دښځی دمشترك سامان په ډول مقرر کولو خبری کیږی ، دا خبری هغه خلګ کوی چی سراسر دنفس غلامان اودخواهش بندګان دی ، داسلام کلمی ویونکی ځینی کمزوری ایمان والا خلګ چی ددی بی دینو سره ناسته اوولاړه کوی ددوی په خبروکی راځی اوپه خپل دین باندی دزاړه سوی دین خیال کوی ، اوددښمنانو خبری دانسانیت ترقی ګڼی اودناپوهی څخه په دی خام خیالی کی اخته وی چی څنګه داخلګ ددی نوی (ماډرن) زمانی خبری کوی چی زمونږ دین هم ددی اجازت ورکولای نوڅنګه به ښه وای (العیاذ بالله) الله پاك خبرداری وفرمایله چی تاسی خلګ دداسی پلیتو اومردارو خلګو دنظریو دخپلولو څخه لیری اوسی.

بیایی وفرمایل ، يُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ يُّخَفِّفَ عَنْكُمْ الله تعالی په تاسی دسپکو اوآسانو احکامو اراده فرمایی ستاسی څخه دسختیو لیری کولو دپاره یی دنکاح په باره کی داسی نرم احکام ورکړل، چی هرڅوك عمل په کولای سی اوکه دآزادو ښځو سره دنکاح طاقت نه وی نودمینځو سره یی دنکاح اجازت ورکی ، دمهر په باره کی یی دواړو جانبو لره اختیار ورکی، چی په خپله رضادی مقرروی اود ضرورت په وخت کی یی تر یوی دزیاتو ښځوسره هم دنکاح اجازت ورکی په دی شرط چی عدل به نه پریږدی ، بیایی وفرمایل: وَخُلِقَ الْاِنْسَانُ ضَعِيْفًا یعنی انسان په پیدایښتی طور سره ضعیف دی، اوپه ده کی دشهوت ماده ایښوول سوی ده ، که بالکل یی ورته دښځو څخه دلیری اوسیدو حکم ورکړی وای نودی به دفرمان برداری اوحکم منلو څخه عاجزه سوی وای ، دده ددی عجز اوکمزوری په وجه یی ورته دښځو سره دنکاح کولو یوازی دانه چی اجازت ورکی، بلکه ترغیب یی هم ورکی اوتر نکاح وروسته چی ددوی په مابینځ کی کمه دنفس اونظر دپاکوالی نفع اونوری فآئدی حاصلیږی، ددی څخه دواړو جانبوته تقویت رسیږی ، نو نکاح دضعف لیری کولو دپاره دیوه اوبل سره معاهده اویوه بی مثاله طریقه ده.

يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ

ای ایماندارو ! مه خوری مال دیو بل په خپل مینځ کی

بِالْبَاطِلِ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ ۗ وَلَا

په ناحقه سره مګر دا چی تجارت وی دیو بل په خوښی سره اومه

تَقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ۗ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيْمًا ﴿٢٩﴾ وَمَنْ يَّفْعَلْ

قتلوی یوبل ، بیشکه الله ﷻ په تاسی مهربانه دی ، او څوک چی دا کار

Maktaba Tul Ishaat.com

ذٰلِكَ عُدْوَانًا وَّظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيْهِ نَارًا ۚ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿٣٠﴾

وکړي په زياتي اوظلم سره نو مونږ به غورځوو دى په اور کې، او دا کار دى په الله باندې آسانه.

دآيتونو تړون: دسورة نسآء په شروع کې يې وفرمايل چې تاسي ټول ديوه مور اوپلار څخه پيدا سوي ياست اوټول دورور ولي په يوه رسۍ کې تړل سوي ياست ، په دې فرمايلو سره يې دټولو انسانانو دحقونو دحفاظت اوادا کولو طرف ته اجمالي اشاره وفرمايله ، بيايې ديتيمانو اوښځو تفصيلي بيان وکی، بيادميراث احکام بيان سول، چې پريتيمانو اوښځو سربيره په کې دنورو قريبانو دحقونو دادا کولو هم تاکيدراغی او تردې وروسته د نکاح احکام راغله چې دکومې ښځې سره نکاح حلاله ده او دکومې سره حرامه ده ، ځکه چې نکاح يوه داسې معامله اومعاهده ده چې په دې سره دښځې پرځان اومال باندې چاته دتصرف کولو حق رسيږي په ذکرسوو آيتونو کې دعامو انسانانو دځان اومال دحفاظت اوپه دې کې دهريوه ناجائز تصرف کولو دممانعت بيان دی، برابره خبره ده که دغه انسان سړی وي اوکه ښځه خپل قريب وي اوکه په دی ، تردې چې مسلمان وي اوکه غير مسلمان چې دجنګ نه کولو کومه پريکړه ورسره سوې وي (مظهري)

لنډتفسير: اې ايماندارانو! په خپل مينځ کې ديوه اوبل مال په ناحقه (يعني په غيرجائز) ډول سره مه خورئ (مه استعمالوئ) ليکن (چې په جائز ډول سره وي مثلاً) چې تجارت وي ديوه اوبل په رضامندۍ سره وي (په دې شرط چې په دې کې نور شرعي شرطونه هم وي) نوباك نسته (داخومالي تصرف وو ، اوس مخ ته نفسي تصرف فرمايي) اوتاسي يوبل قتلوئ هم مه، بيشکه الله تعالى پرتاسي ډير مهربانه دی (په دې وجه يې دضرر رسولو صورتونه منع کړل، په خاص ډول سره کله چې په دې کې دااثروي چې بل سړی به بيا هم تاسي ته ضرر رسوي نوداهم دالله ﷻ مهرباني ده چې تاسي يې هم دضرر څخه خلاص کړاست) او (کله چې قتل په دې دواړو کارونو کې ډيرسخت دي په دې وجه په دې باندې په خاص ډول سره دسزا وعده اوروی چې) کوم سړی داسې کار (يعني قتل) وکړي په دې ډول سره تر (شرعي) حدتجاوز وکړي او (تجاوز کول هم په خطاء کار ياخطاء فکر سره نه وي بلکه) په دې ډول چې (قصداً) ظلم وکړي نو مونږ به ډير ژر (يعني وروسته تر مرګ) دی (د دوږخ) په اور کې داخل کړو او دا کار (يعني داسې سزا ورکول خدای ﷻ ته (بالکل) آسانه دی (ددې دپاره دهيڅ قسم څه اهتمام کولو حاجت نسته چې ګويادا هم کيدی سی چې ځيني وخت به ددې پوره اسباب جمع نه وي نو سزا به ونه سي)

معلومات اومسئلې

(لکه څنګه چې په باطله طريقه دبل مال خوړل جائز نه دی، خپل مال هم په باطله طريقه خرڅول جائزنه دی)

دآيت په الفاظو کې د اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ لفظ راغلی دی ، چې معنی يې دا ده (خپل مال په خپل مينځ کې) په دې کې دا خبره خو په اتفاق دمفسّرينو دا خله ده چې هيڅوك دې دبل مال په ناجائزه طريقه سره نه خوري ، ابوحيّان په تفسير بحر محيط کې فرمايي چې په دې کې دا هم داخله ده چې څوك دې خپل مال هم په ناجائزه طريقه سره نه خوري ، مثلاًچې په داسې کارونو کې يې خرڅ کوي چې شرعاً ګناه يابې ځايه

اسراف وی نو دا هم ددی آیت په وجه سره منع اوناجآئز دی ، په آیت کی د لاَ تَاْكُلُوْا لفظ راغلی دی چی معنی یی ده (مه خوری) لیکن دعامی محاوری په اعتبار سره ددی معنی دا ده چی دنورو په مال کی په ناحق ډول سره هیڅ قسم تصرف مه کوی ، برابره خبره ده که دخوړلو اوچیښلو وی اوکه داستعمال، په عام عرف کی دیوچاپه مال کی تصرف کولوته خوړل وایی، که څه هم چی هغه شی دخوراك نه وی ، لفظ دباطل چی ترجمه یی په ناحق سره سوی ده دعبدالله ابن مسعود اودجمهورو صحابه وو په نزد ټول هغه صورتونه شامل دی چی شرعًا منع اونا جآئز وی ، چی په دی کی غلا ، ډاکه، غصب، خیانت، رشوت، سُود اوځمار ټولی فاسدی معاملی داخلی دی (بحر محیط)

(په باطله طریقه دمال دخوړلو تشریح اوتفصیل)

قرآن کریم یولفظ د بِالْبَاطِلُ وفرمایی ، په ټولو ناجآئزو طریقو سره حاصل سوی مال یی حرام کی ، بیایی ددی ناجآئزو طریقو تفصیل دنبی کریم ﷺ په حواله سره وفرمایی ، حضورﷺ دهری ناجآئزی طریقی تفصیل بیان کړی دی ، ددی څخه دا هم معلومه سوه چی کوم تفصیلات دناجآئزو اخیستلو، خرڅولو یا نا جآئزو اجارو او نورو معاملو دنبی کریم ﷺ په احادیثو کی ذکر دی ، هغه په حقیقت کی ددی قرآنی حکم تشریح ده ، په دی وجه هغه ټول حکمونه په یوه حیثیت سره دقرآن احکام دی ، دنبی کریم ﷺ په احادیثو کی چی څومره شرعی احکام ذکر سوی دی دټولو په عام ډول سره دغه حال دی چی دا ټوله دڅه ناڅه قرآنی اشاری تصریح دی ، برابره خبره ده که مونږ ته معلوم وی اوکه نه چی دادفلانی آیت تشریح ده.

دآیت په اوله جمله کی یی په ناحقواو ناجآئزو طریقو سره دچاپه مال کی تصرف کول حرام کړی دی ، په دوهمه جمله کی یی جآئزی طریقی ددی څخه ایستلی دی ارشاد فرمایی . إِلاَّ أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ یعنی دنورو هغه مال حرام نه دی ، کوم چی په تجارت دیوه او بل په رضامندی سره حاصل سوی وی ، جآئزی طریقی که څه هم چی دتجارت پرته نوری هم دی مثلاً هبه بخښل ، صدقه خیرات، میراث ، لیکن په عام ډول سره ویوه نفرته دمال په لاس کی ورتلو معلوم اوجاری صورت تجارت دی ، بیادتجارت معنی په عام ډول سره اخیستلو خرڅولو ته ځی ، لیکن په تفسیر مظهری کی اجاره یعنی دنوکری، مزدوری اوکرایی معاملی یی هم په تجارت کی داخلی کړی دی ، ځکه چی په بیع کی خودمال په بدله کی مال حاصلیږی او په اجاره کی دمحنت اوخدمت په بدله کی مال حاصلیږی ، په لفظ دتجارت کی دا دواړه دا خل دی .

دآیت دمضمون خلاصه داسوه چی دچال مال په ناحقه خوړل حرام دی لیکن که په رضا مندی سره یعنی داخیستلو خرڅولو یانوکری اومزدوری معامله وسی نو په دی ډول سره دبل مال حاصلول اوپه دی کی مالکانه تصرفات کول جآئز دی .

(دکسبِ معاش په ذریعو کي تجارت اومحنت ترټولو ښه دی)

دبل دمال حاصلولو په جآئزو صورتونو کی په دی آیت کی یوازی دتجارت په ذکر کولو کی یوه وجه دا هم ده چی دکسبِ معاش په ذریعو کی تجارت او محنت تر ټولو ښه اوپاکه ذریعه دژوند ده ، حضرت رافع بن خدیج ﷺ فرمایی چی دنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وسوه چی کومه ګټه حلاله اوپاکه ده ده ﷺ وفرمایل

Maktaba Tul Ishaat.com

عَمَلُ الرَّجُلِ بِيَدِهٖ وَكُلُّ بَيْعٍ مَبْرُوْرٍ (رواه احمد والحاکم)
یعنی دانسان دځپل لاس مزدوري اوهره ریښتینی بیع اوشرآء (خرڅول اورانیول) چې درواغ اوچم په کې نه وي.
حضرت ابوسعید خدري ﷺ فرمايي چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي.
اَلتَّاجِرُ الصَّدُوْقُ الْاَمِيْنُ مَعَ النَّبِيِّيْنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ (ترمذي)
یعنی ریښتینی تاجر چې امانتدار وي دی به دانبیاؤ او صدیقینو اوشهدآوو سره وي (په قیامت کې)
اوحضرت انس ﷺ فرمايي چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي.
اَلتَّاجِرُ الصَّدُوْقُ تَحْتَ ظِلِّ الْعَرْشِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ (رواه ابونعیم الاصبهاني، الترغیب والترهیب)
یعنی ریښتینی تاجر به دقیامت په ورځ دعرش ترسایې لاندې وي.

(دپاکې ګټې خاص شرطونه)

اوحضرت معاذبن جبل ﷺ څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي (ترټولو زیاته پاکه ګټه دسوداګرو ګټه ده، په دې شرط چې دوی کله خبرې کوي نودرواغ نه وايي اوچې وعده وکړي نووعده خلافي نه کوي، اوکله چې ددوی سره کوم امانت کښېښوول سي نوخیانت په کې نه کوي اوکله چې دچا څخه کوم سامان اخلي نو (دسوداګرو دعادت مطابق) دغه سامان ته خراب اوبیکاره نه وايي، اوکله چې خپل سامان خرڅوي نو (دواقع خلاف) دهغه صفت نه کوي، اوچې دده پرذمه دچاقرض وي نو ورځندوي یې نه او چې دده پرچا قرض وي نوهغه په عذابوي نه (اخرجه الاصبهاني، ازحاشیه مظهري)
په دې وجه په یوه حدیث کې ارشاد دی.
اِنَّ التُّجَّارَ يُبْعَثُوْنَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فُجَّارًا اِلَّا مَنِ اتَّقَى اللّٰهَ وَبَرَّ وَصَدَقَ (اخرجه الحاکم عن رفاعة بن رافع)
یعنی دقیامت په ورځ به سوداګر خلک دفاجرانو ګناهګارانو په صف کې وي بغیر دهغه سړي څخه چې دالله ﷻ څخه بیریږي اونیکه معامله کوي او ریښتیا وايي.

(دبل دمال دحلالیدو دپاره دتجارت او رضامندی دوه شرطونه)

دآیت په دې جمله کې یې دتجارت سره عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ وفرمایل دا یې وښوول چې په کوم ځای کې ګر سره تجارت نه وي، بلکه دتجارت په نامه باندې ځمار، سټه یادسود معامله وي یامال موجود نه وي، یوازې په ذهني قرارداد باندې ددې سودا سوې وي دابیعه باطله اوحرامه ده.
دغه ډول که تجارت یعني دمال اَدَل بدل وي لیکن دفریقینو رضامندي په کې نه وي، هغه بیعه فاسده او ناجائزه ده او دمال دا دواړه صورتونه په باطله طریقه سره په خوړلو کې داخل دي، اول صورت ته فقهآء بیعه باطله وايي او دوهم صورت ته فاسده بیعه وايي.
تشریح ددې دا ده چې دیوه مال دبل په مال سره دبدلولو نوم تجارت دی که په دې کې یوه طرف ته خومال وي لیکن ددې په مقابله کې بل طرف ته ګرسره مال نه وي نودا تجارت نه دی، بلکه فریب (دوکه) ده، دسود دمعاملو داحال دی، چې دسود رقم د نَسِيَا دمیعاد معاوضه (بدله) وي، اودا میعاد خوڅه مال نه دی، دغه ډول حال دستي اوځمار دی، چې په دې کې خویوه طرفته متعین مال موجوددی، لیکن دبل طرف دمال وجود یانه وجود په شك کې دی، دغه ډول دوعدې هغه سوداګانې چې په هغه کې مال

Maktaba Tul Ishaat.com

لاترا وسه موجود سوی نه دی اوسودا ورلره وکړی، نویوه طرفته مال او بل طرفته خیالي وعده ده، نو په دی وجه په حقیقت کی ګرسره تجارت نه دی بلکه یوقسم دوکه اوفریب دی، په دی وجه فقهآء دی ته باطله بیعه وایی، دوهم صورت دادی چی دواړه طرف ته مال اوبدل دمال خوری لیکن دیوه طرف څخه رضامندی نه وی، نودا تجارت خوسو مګر فاسد اوغلط قسم تجارت دی، په دی وجه دی ته فاسده بیع وایی اوناجآئزه ده، ددی تشریح څخه داخیستلو او خرڅولو اودتجارت چی څومره ناجآئزه صورتونه دی، ټول وزی.

(دجانبینو درضا مندی دشرط حقیقت)

البته یو دریم قسم بل دی چی په هغه کی دجانبینو څخه دمال بدل هم دی او په ظاهره دجانبینو رضامندی هم ده، مګر دا رضامندی په حقیقت کی دمجبوری رضامندی وی، حقیقی رضامندی نه وی، په دی وجه شرعًا دا دریم قسم هم په دوهم قسم کی دا خل سوی دی، مثلاً دعام ضرورت شیان ټول یوسړی یایوه کمپنی راټول کړی او ذخیره یی کړی او بیایی په قیمت کی چی څومره غواړی زیاتوالی وکړی اوخرڅوی یی، کله چی په بازارکی بل ځای نه پیدا کیږی نو اخیستونکی مجبوره وی چی اوس ګران وی اوکه ارزان خوچی وایی خلی، په دی صورت کی که څه هم اخیستونکی په خپله راځی اوپه ظاهره یی ښه په رضامندی اخلی، لیکن دده دارضامندی په حقیقت کی یوه مجبوری ده نوپه دی وجه دارضامندی رضامندی نه ده، دغه ډول که یوخاوند دخپلی ښځی سره داسی سلوك شروع کړی چی هغه پرخپل مهر معاف کولو باندی مجبوره سی، نوکه څه هم چی دمعافی په وخت کی دادخپلی رضامندی اظهار کوی، لیکن په حقیقت کی دارضامندی نه وی، یایوسړی کله چی دی ته وګوری چی زماجآئز کار بغیر درشوت ورکولونه کیږی نو دی په رضامندی سره رشوت ورکولوته تیاروی خودا رضامندی هم په حقیقت کی رضامندی نه ده، په دی وجه داهم شرعًا پرنیست لیکه ده، ددی څخه معلومه سوه چی د: إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ څخه داخیستو، خرڅولو اوتجارت یوازی دهغو صورتونو رواوالی ثابت سو دکومو رواوالی چی دنبی کریم ﷺ په احادیثو سره ثابت دی اوکتابونو دغه لیکلی دی اوڅومره صورتونه چی داخیستو، خرڅولو اوتجارت په شریعت کی منع اوناجآئز دی هغه ټول ددی څخه وتلی دی دقرآن کریم یوه لفظ دفقهی دپوره کتاب البیوع اوکتاب الاجاره بیان په مکمل ډول سره وکی، دآیت دریمه جمله دا ده، وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ ددی لفظی معنی دا ده چی (تاسی خپل ځانونه مه قتلوی) په دی کی دمفسرینو په اتفاق سره ځان وژل (خودکشی) هم داخله ده اوداهم چی یو اوبل په ناحقه قتلوی، دآیت په اوله جمله کی دعاموانسانانو دمالی حقونو او د دوی دحفاظت بیان وو، په دی جمله کی د دوی دنفسونو دحقونو دحفاظت بیان راغی او دلته یی مال مخکی او نفس شاید په دی وجه وروسته بیان کی چی په مالی حقونو کی ظلم اوزیاتی اوکوتاهی اوبی پروایی ډیره عامه ده، په ناحقه قتلول اووینی تویول که څه هم تردی ډیر سخت دی لیکن عادتًا په دی کی اخته کیدل کم دی، په دی وجه یی ددی بیان وروسته کی دآیت په آخرکی ارشاددی: إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا یعنی کوم احکام یی چی په دی آیت کی ورکړی دی چی دخلګو مال په ناحقه مه خوری یاڅوك په ناحقه مه قتلوی، داټول احکام ستاسی په حق کی دخدای ﷺ

رحمت دی ددی دپاره چی تاسی ددی کارونو دآخرت دګناه څخه هم خلاص سی اود دنیا دسزاګانو څخه هم تردی وروسته په دوهم آیت کی یی ارشاد وفرمایی ، وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ عُدْوَانًا وَظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيهِ نَارًا یعنی دقرآن دښوونی سره سره که یو سړی ددی خلاف ورزی وکی اوقصداً په زور اوزیاتی دچامال په ناحقه واخلی یاڅوك په ناحقه قتل کړی، نوډیر ژربه یی مونږ جهنم ته داخل کړو ، دزیاتی اوظلم دقید څخه معلومه سوه چی که په هیره، غلطی یاخطاء سره دچاڅخه داسی وسی نو هغه دعذاب په دی وعده کی نه دی .

إِن تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ

که تاسی ځان وساتی دهغه شیانو څخه چی په ګناهونو کی لوی دی نومونږ به معاف کړو

عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَنُدْخِلْكُم مُّدْخَلًا كَرِيمًا ﴿٣١﴾

ستاسی څخه کوچنی ګناهونه ستاسی او داخل به کړو تاسی دعزت مقام ته .

دآیتونو تړون : تردی آیت په مخکنیو آیتونو کی دځولویو لویو ګناهونو ذکروو ، اوس په دی ګناهونو کی داخته کیدونکو دپاره دسخت عذاب بیان دی ، دقرآن کریم دبیان یوه خاصه طریقه دا ده چی کله په یوه ګناه باندی دسزا څخه دبیرولو بیان کوی چی ترهیب ورته وایی نوددی سره دترغیب داړخ هم ذکر کوی چی کوم سړی ددی جُرم څخه پرهیز وکی نودهغه دپاره دا انعامونه او درجی دی .

په دی آیت کی هم خاص دیو خدای انعام ذکر کوی اوترغیب ورکوی ، هغه دا چی که تاسی دلویو لویو ګناهو څخه ځان وساتی نو ستاسی کوچنی ګناهونه به مونږ په خپله معاف کړو او دغه شان به تاسی دلویو کوچنیو هر قسم ګناهونو څخه پاك اوصفا سی دعزت او راحت هغه مقام ته به داخل سی دکوم نوم چی جنت دی .

لنډتفسیر:دکومو کارونو څخه چی تاسی (په شریعت کی) منع کول کیږي (یعنی دګناه دکارونو څخه) په دی کی چی کوم لوی لوی کارونه دی (یعنی لوی لوی ګناهونه دی)که تاسی ددې څخه ځان وساتی (نو ستاسی په ځان ساتلو،مونږ درسره وعده کووچی ستاسی دنیکو عملونو په وجه چی هرکله هغه قبول سی) مونږ ستاسی سپکی بدی (یعنی کوچنی کوچنی ګناهونه چی دوږخ ته بیول کیږي) ستاسی څخه لیری (یعنی معاف) کړو (نو د دوږخ څخه به خلاص سی) او مونږ به تاسی دعزت ځای (یعنی جنت) ته دا خل کی .

معلومات اومسئلي

(دګناهونو دوه قسمونه)

ددی آیت څخه معلومه سوه چی ګناهونه دوه قسمه دی، څه کبیره یعنی لوی ګناهونه اوڅه صغیره یعنی کوچنی ګناهونه، اوداهم معلومه سوه چی که یوسړی همّت وکړی اودلویو ګناهونو څخه ځان وساتی نودالله ﷻ وعده ده چی دده کوچنی ګناهونه به هغه په خپله معاف کړی ، دکبیره ګناهونو څخه په ځان ساتلو کی داهم داخله ده چی ټول فرآئض اوواجبات اداکوی، ځکه چی دیوه فرض یاواجب پریښوول، په خپله کبیره ګناه ده نوحاصل دا سوچی کوم سړی ددی خبری پوره اهتمام کوی چی ټول فرآئض اوواجب ادا کوی اودټولو کبیره ګناهونو څخه ځان وساتی نوالله ﷻ به دده کوچنی ګناهونه معاف کړی او درګذر به ورته وکړی .

(نیک عملونه دصغیره گناهونو کفاره کیږی)

دکفارې مطلب دا دی چی دده په نیکو عملونو به دده صغیره گناهونه ختم کړی او حساب به ورلږ وړپریږدی او برخای دعذاب به ورته ثواب او پرخای دجهنم به یی جنّت نصیب کړی ، لکه په صحیح احادیثو کی راغلی دی چی کله یو سړی دلمانځه دپاره اودس کوی نودهراندام دپریمینځلو سره سره دگناهونو کفاره وسوه ، چی مخ پریمینځی نودسترگو، غوږونو، پزې اونورو دگناهونو کفاره وسوه، چی خوله پریمینځی نودژبی دگناهونو کفاره وسوه ، پښی چی پریمنځی نودپښو گناهونه یی پریمینځل سول، بیاچی مسجدته روان وی نوهریوقدم یی دگناه کفاره کیږی .

(کبیره گناه یوازی په توبه سره معاف کیږی)

دآیت څخه معلومه سوه چی نیک عملونه دگناهونو کفاره کیدل کم چی دحدیث په روایتونو کی ذکردی، ددی څخه مراد صغیره گناهونه دی اوکبیره گناه دتوبی څخه پرته نه معاف کیږی اوپه صغیره کی داشرط دی چی بنده کوشش اوهمّت وکړی څان دکبیره گناهونو څخه وساتی، معلومه سوه چی که یو سړی دکبیره گناهونو دکولوسره سره اودس اولمونځ کوی نو یوازی په اوداسه لمانځه یانورو نیکو عملونو سره دده دصغیره گناهونو کفاره هم نه کیږی، اوکبیره خوپرخپل ځای وی ، نودکبیره گناهونو یودیرلوی ضرر په خپله ددی گناهونو وجود دی چی په قرآن اوحدیث کی وربانډی دسخت عذاب وعدی راغلی دی او دغه پرته دربښتینی توبی څخه نه معاف کیږی، اوپردی سربیره دوهمه محرومی داهم ده چی ددی په وجه کوچنی گناهونه هم نه معاف کیږی او دا سړی به په محشرکی دکبیره اوصغیره گناهونو تربار لاندی حاضر کړل سی اوهیڅوک به په دغه وخت کی دده بارنه سی سپکولی .

(گناه او دهغې دوه قسمونه صغیره او کبیره)

په آیت کی دکبائر لفظ راغلی دی، په دی وجه دا پیژندل په کار دی چی کبیره گناه څه ته وایی، اوداتول څومره دی اوصغیره گناه څه ته وایی اوددی شمیر څومره دی ؟ دامّت عالمانو پردی مسئله باندی په مختلفو طریقو سره ځان ځان ته کتابونه لیکلی دی ، دگناه کبیره اوصغیره دتقسیم اوددوی ترپیژندنی مخکی په دی ځان پوهول په کار دی چی مطلقی گناه نوم دی دهرداسی کارچی دالله ﷻ دحکم اورضا څخه خلاف وی ددی څخه به تاسی ته دااندازه هم ولگیږی چی کومی گناه ته کوچنی گناه ویل کیږی هغه په حقیقت کی کوچنی نه وی ، دالله ﷻ نافرمانی او دده درضا مخالفت په هرحالت کی ډیرسخت جُرم دی په دی حیثیت سره امام الحرمین اودامّت ډیرو عالمانو فرمایلی دی چی دالله ﷻ هره نافرمانی او دهغه درضا مخالفت کبیره گناه ده ، دکبیره اوصغیره فرق یوازی دگناهونوپه یوه اوبل سره دمقابلی اوموازنی څخه کولای سی ، په دی معنی کی دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ څخه نقل دی چی ، کُلُّ مَانُهِیَ عَنْهُ فَهُوَ کَبِیْرَةٌ یعنی کوم کار چی په شریعت کی منع دی ، هغه ټول کبیره گناهونه دی .

لنډه دا ده چی کومی گناه ته په اصطلاح کی صغیره یعنی کوچنی ویل کیږی دهغه دامعنی دهیچاپه نزد هم نه ده چی دداسی گناهونو په کولوکی دی غفلت یاسُستی وسی او دا دی لږ وگڼی ، دپامه دی وغورځوی بلکه صغیره گناه چی په بی باکی اوبی پروایی سره وکړل سی ، نو هغه هم کبیره جوړه سی .

Maktaba Tul Ishaat.com

یوه بزرگ فرمایلی دی چی دکوچنی گناه اوغتی گناه مثال په ښکاره شیانوکی داسی دی، لکه کوچنی
لرم اولوی لرم یاداور کوچنی سکروټه اولویه سکروټه چی انسان په دی دواړو کی دیوه تکلیف هم نه
سی برداشت کولی ، په دی وجه محمد بن کعب فرمایی چی دالله ﷻ ترټولو لوی عبادت دا دی چی
گناهونه پریښوول سی ، کم خلگ چی دلمانځه او تسبیح سره گناهونه نه پاته کوی دهغه عبادت قبول نه
دی او حضرت فضیل بن عیاض رحمه الله فرمایی چی تاسی څومره یوه گناه سپکه گڼی ، هم دومره هغه دالله ﷻ
په نزد لوی جُرم جوړیږی ، اوپخوانی بزرگان فرمایی چی هره گناه دکفر قاصد دی چی انسان ته دکافرانه
عملونواو اخلاقو بلنه ورکوی ، اوپه مسند احمدکی دی چی حضرت عائشی صدیقی رضی الله عنها حضرت
معاویه (رض) ته په یوه خط کی ولیکل چی بنده چی څومره دخدای ﷻ نافرمانی کوی ، نو دده صفت
کونکی هم دده بدی بیانول شروع کړی او دوستان یی هم دښمنان سی ، دگناهونو څخه بی پروایی
دانسان دپاره دهمیشه تباهی سبب دی ، په صحیح حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، چی
مؤمن چی کله یوه گناه وکړی نو دده په زړه یو تور داغ جوړ سی ، بیاکه دی توبه اواستغفار وکړی نو دا
داغ ورک سی اوکه توبه ونه کړی نو دا داغ زیاتیږی زیاتیږی تردی چی دده ټول زړه ونیسی او ددی نوم په
قرآن کی رَین دی کَلَّا بَلْ رَانَ عَلٰی قُلُوبِهِمْ مَا كَانُوا يَكْسِبُونَ (المطففین ، ۱۴) یعنی د دوی بدوعملونو د دوی په
زړونو باندی زنگ ولگوی ، البته دگناهونو دفسادونو، اوبدو نتیجو په اعتبار سره د دوی په مینځ کی
فرق خامخادی ، ددی فرق په وجه ځینو گناهونوته کبیره اوځینو گناهونوته صغیره ویل کیږی .

کبیره گناه: دکبیره گناه تعریف دقرآن ، حدیث او تیرو مشرانو دوینا په مطابق دا دی چی په کومی گناه
باندی قرآن څه شرعی حد یعنی سزا په دنیاکی مقرره کړی وی یاپه کومی چی دلعنت الفاظ راغلی وی
یاپر کومی چی د دوزخ اونورو دعذاب وعده راغلی وی ، دغه ټوله کبیره گناهونه دی ، دغه ډول هره
هغه گناه به هم په کبیره کی داخله وی دکومی فسادونه اوبدی نتیجی چی دیوی کبیری گناه برابر یا په
زیات وی ، دغه ډول کومه صغیره گناه چی په زړه ورتیا اوبی باکی سره وکړل سی یاورباندی همیشه
والی وکړه سی نوهغه هم په کبیره کی داخلیږی ، دابن عباس رضی الله عنه په مخکی چاویل چی کبیره گناهونه
اووه ۷ دی نوده وفرمایل اووه ۷ نه بلکه چی اووه سوه ۷۰۰ وویل سی نوزیاته مناسبه به وی .

امام ابن حجرمکی رحمه الله په خپل کتاب زواجرکی ددی ټولو گناهونو فهرست اودهری یوی پوره تشریح
بیان کړی ده کومی چی په دی ذکر سوی تعریف سره په کبائروکی دا خلی دی ، په دی کتاب کی ددی
کبیره وو شمیر څلورسوه اووه شپیتو ۴۲۷ ته رسیدلی دی او ځینو ورڅخه یوازی غټ غټ راټول کړی
دی نوشمیریی کم لیکلی دی اوځینو داقسامو په لحاظ سره تردی هم زیات شمیر لیکلی دی ، خو دا کوم
ټکر او اختلاف نه دی ، نبی کریم ﷺ په مختلفو ځایونو کی ډیرو گناهونوته کبیره ویلی دی ، او دحالاتو
په مناسبت سره یی یوځای دری ، یوځای شپږ، یوځای اووه، اویوځای تردی هم زیات بیان کړی دی ، نو
دامّت عالمانو ددی څخه دامعلومه کړه چی پریوه شمیر باندی بس کول مقصدنه دی ، بلکه دموقعو
اوحالاتو په مناسبت سره چی څومره یی مناسب گڼل ، دومره یی بیان کړی دی ، دبخاری اومسلم په یوه
حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی په کبیره گناهونوکی هم چی کومی ترټولو لویی دی زه

Maktaba Tul Ishaat.com

تاسی دهغو څخه خبروم، هغه دری دی ، دالله ﷻ سره یومخلوق شریکول، دمور اوپلار نافرمانی کول،
او د درواغو شاهدی ورکول یا درواغ ویل ، دغه ډول دبخاری اومسلم په یوه روایت کی دی چی دنبی
کریم ﷺ څخه یو چاپوښتنه وکړه، چی ترټولو لویه ګناه څه ده؟ ویی فرمایل چی تاسی دالله ﷻ سره یو
څوك شریك جوړ کړی ، حال دا دی چی هغه تاسی پیدا کړی یاست، بیایی ورڅخه پوښتنه وکړه چی تردی
وروسته کومه ګناه ترټولو لویه ده؟ ویی فرمایل چی تاسی خپل کوچنی ددی بیری څخه مړکړی چی دی
به ستاسی سره په خوراك کی شریك سی اوده ته به بیاتاسی خوراك ورکوی، بیایی پوښتنه ورڅخه وکړه
چی تردی وروسته کمه ګناه ترټولو لویه ده؟ ویی فرمایل چی دخپل همسایه دښځی سره بدکاری کول،
بدکاری په خپله لوی جُرم دی اودهمسایه داهل اوعیال حفاظت هم دخپل اهل اوعیال په شان سره
پرانسان لازم دی نو په دی وجه داجرم دوه چنده دی ، دصحیحینوپه یوه حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ
فرمایلی دی چی داخبره دکبیره ګناهونو څخه ده چی یوسړی خپل مور اوپلارته ښکنځل وکړی صحابه
کرامو ﷺ عرض وکی چی یارسول الله ﷺ داځنګه کیدی سی چی یو سړی به خپل مورواوپلارته ښکنځل
کوی؟ ویی فرمایل چی هو! کوم سړی چی دبل سړی موراو پلارته ښکنځل کوی اودهغه په بدل کی هغه
دده مور اوپلارته ښکنځل کوی نودا داسی دی لکه چی ده په خپله خپل مور اوپلارته شکنځل کړی وی
ځکه چی دا دده ښکنځل دهغه دښکنځلو سبب دی ، اودصحیح بخاری په یوه روایت کی نبی کریم ﷺ
شرك اوناحقه قتل، اودیتیم مال په ناجائزه طریقه خوړل، اودسود ګټه خوړل ، اودجهاد دمیدان څخه
تیښته کول ، اوپه پاك لمنو ښځو باندی تهمت لګول ، او دمور او پلار نافرمانی کول ، اودبیت الله بی
حرمتی کول په کبیره ګناهونوکی شمارکړی دی ، دحدیثو په ځینو روایتونو کی یی دا هم په کبیره
ګناهونو کی شمار کړی دی چی یوسړی ددار الکفر څخه هجرت وکړی ، دارالاسلام ته راسی اوبیا بیرته
دوباره دارالهجرت پریږدی دار الکفرته ولاړ سی، دحدیثوپه نورو روایتونوکی یی داصورتونه هم دکبیره
ګناهونو په شمیرکی دا خل کړی دی ، په درواغو قسم خوړل ، ترخپل ضرورت زیاتی اوبه ساتل نورو
ضرورت مندو ته یی نه ورکول ، جادو ازده کول ، دجادو عمل کول ، اوفرمایلی یی دی چی شراب چیښل
اکبر الکبآئر دی اوفرمایلی یی دی چی شراب چیښل دګناهونو مورده، ځکه چی په شرابوکی مست سړی
هر تربیکاره لا بیکاره کار کولی سی ، دغه ډول په یوه حدیث کی ارشاد فرمایی چی ترټولو لویه کبیره
ګناه دا ده چی انسان پرخپل مسلمان ورور داسی عیب ولګوی چی هغه په بی عزته سی ، په یوه حدیث
کی دی چی کوم سړی بغیر دکوم شرعی عذرڅخه دوه لمونځونه په یوه وخت کی جمع کړل نوده کبیره
ګناه وکړه ، مطلب دا دی چی یولمونځ یی په خپل وخت ونه کی، بلکه قضایی یی دبل لمانځه سره وکی،
دحدیثو په ځینو روایتونوکی دی چی دالله ﷻ درحمت څخه مایوسه (نااُمیده) کیدل هم کبیره ګناه ده
اودعذاب څخه یی بی فکره اوبی بیری کیدل هم کبیره ګناه ده ، په یوه روایت کی دی چی وارث ته
نقصان رسول اودده دمیراث دحصی دکمولو دپاره کوم وصیّت کول هم په کبیره ووکی شماردی ، او
دصحیح مسلم په یوه روایت کی دی چی نبی کریم ﷺ یو وار وفرمایل چی (تباه، برباد اوتاوانی سول) او
دا کلمه یی دری واره وفرمایله ، حضرت ابوذر غفاری ﷺ عرض وکی یارسول الله ﷺ ! دامحروم، تباه

Maktaba Tul Ishaat.com

اوبرباد خلګ څوك دي ؟ نوحضور ﷺ جواب ورکی، يو هغه سړی چې دتکبّر په وجه يې پرتوګ يالنګ ياچپنه تربجلکو کښته وي دوهم هغه سړی چې دالله ﷻ په نامه يوڅه ورکړي اوبياورباندي احسان اچوي دريم هغه بوډا چې بدکاري کوي څلورم هغه سړی چې باچا يا افسر وي اودرواغ وايي پنځم هغه سړی چې عيالداروي او تکبّر کوي، شپږم هغه سړی چې ديوه امام پرلاس يوازي ددنيا دپاره بيعت کوي ، اود صحيحينو په يوه حديث کي دي چې چُغلی کونکی به جنت ته نه ځي اودنسآئي اومسند احمد اونورو په يوه حديث کي دي چې څوکسان به جنّت ته نه ځي شرابي دموراوپلارنافرمانه، دقريبانوسره بي وجهی تعلق پری کونکی، احسان اچونکی ، دپيريانو، شيطانانو يانورو په ذريعو سره دغيبو خبرو خپروونکی ديوس (د يوث) يعنی خپل اهل اوعيال دبی حيايي څخه نه منع کونکی ، دمسلم شريف په يوه حديث کی دي چې دالله ﷻ لعنت دي په هغه چاباندي چې يوروح لرونکی دالله ﷻ پرته دبل دچادپاره قرباني کړي .

وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللّٰهُ بِهٖ بَعْضَكُمْ عَلٰى بَعْضٍ ؕ لِلرِّجَالِ نَصِيْبٌ

اوهوس مه کوی په هغه شی کی چی لوی ورکړی ده الله يوه لره په بل باندي ، دسړو دپاره حصه ده

مِّمَّا اكْتَسَبُوْا ؕ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيْبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ ؕ وَسْـَٔلُوا اللّٰهَ

دخپلی ګټی څخه اوښځو لره حصه ده دخپلی ګټی څخه اوغواړی دالله څخه

مِنْ فَضْلِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِيْمًا ﴿۳۲﴾ وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا

دهغه فضل ، بيشکه الله ته هرشی معلوم دی ، اودهريوه دپاره مونږ

مَوَالِیَ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْاَقْرَبُوْنَ ؕ وَالَّذِيْنَ عَقَدَتْ اَيْمَانُكُمْ

مقرر کړی دی وارثان په هغه مال کی چی پاته کړی مور پلار اوخپلوان اودچا سره چی معاهده سوی ده

فَاٰتُوْهُمْ نَصِيْبَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ شَهِيْدًا ﴿۳۳﴾ ع

ستاسی نو هغوی ته ورکوی دهغوی حصه ، بيشکه دالله په مخکې دی هر يو شی

دآيتونو تړون: په تيرو آيتونوکی دميراث احکام تير سوی دی ، په هغه کی دا هم ښوول سوی دی چی دمړی په وارثانوکی که سړی اوښځي وي اودمړی سره يې قرابت يوډول وی نوسړی ته به دښځي په نسبت دوه چنده حصه رسيږی، دغه ډول نور فضيلتونه هم دنارينه وو ثابت دی ، حضرتِ اُمّ سلمه ؓ په دی باندی يووار نبی کريم ﷺ ته عرض وکی چی مونږته نيم ميراث رسيږی اونورهم فلانی اوفلانی فرق په مونږ اونارينه وو کی دی مقصد ددی اعتراض کول نه وو بلکه آرزويی وه چی که مونږهم نارينه وای نو دنارينه ووپه شان فضيلتونه به مونږته هم حاصل وای ، ځينو ښځو دا آرزو وکړه چی کاشکی مونږ نارينه وای نودنارينه وو په شان به په جهادکی مونږ حصه اخيستلای اودجهاد فضيلت به راته حاصليدای ، يوی ښځي نبی کريم ﷺ ته عرض وکی چی نارينه ووته په ميراث کی دوی حصّی رسيږی اودښځي

شاهدی هم دسړی په نیمایی ده نوآیاچی په نورو عبادتونو اوعملونوکی به هم مونږته نیم ثواب رسیږی؟
پردی باندی دا آیت نازل سوچی د دواړو خبرو جواب په کی ورکړل سو ، دحضرت أم سلمه رضی الله عنها دوینا
جواب په لاَ تَتَمَنَّوْا سره ورکړل سو او ددی بلی ښځی دوینا جواب په لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ سره ورکړل سو .

لندتفسیر: او تاسی (ټولو سړیانو اوښځوته حکم کیږی چی په خدای ورکړو فضیلتونوکی) دداسی یوکار آرزومه کوی په کوموکی چی الله ﷻ ځینی (مثلاً نارینه) پرځینو باندی (مثلاً په ښځو باندی بی د دوی دکم عمل ددخل ځخه) لوړوالی ورکړی دی (لکه خاوند کیدل یادنارینه وو دوچنده حصه یاددوی دشهادت کامل والی اوداسی نور) دسړی دپاره ددوی دعملونو (دثواب) حصه (په آخرت کی) ثابته ده اودښځو دپاره ددوی دعملونو (دثواب) حصه (په آخرت کی) ثابته ده (اوخلاصی په آخرت کی قانوناً هم په دی عملونوسره دی اوپه دی کی دهیڅاتخصیص نسته نوکه ترنورو ځان لوړول غواړی نوپه کسبی عملونو کی کوشش کوی ، ترنورو به زیات ثواب حاصل کړی اوچی کله تاسی پر دی باندی قادریاست نوددی ذکر سوو خاصو فضیلتونو محضی تمنا اوهوس خوبی فائدی دی بلکه عمل وکی) او (که په خدای ورکړو فضیلتونو حاصلولوکی موخواهش وی چی په هغه کی عملونو لره هم دخل دی مثلاً باطنی کمالات حاصلول یانور داسی نو بیاهیڅ باك نسته، لیکن دهغه طریقه داهم نه ده چی خالی تمناگانی کوی، بلکه دا په کار دی چی) دالله ﷻ ځخه ددی (خاص) فضل خواست (یعنی دُعا) کوی بیشکه الله ﷻ هرشی ښه پیژنی (په دی کی ټول شیان راغلل، یعنی دخدای ورکړو اول قسم فضیلتونو تخصیص هم، اوپه کسبی فضیلتونو باندی ثواب هم ورکول، اوددوهم قسم خدای ورکړو فضیلتونو غوښتنه هم نوددی جملی تعلق دټولو سره دی) اودهرداسی مال دپاره چی مور اوپلاراو (نور) قریبان خلگ (ترخپل مرگ وروسته) یی پریږدی مونږ وارثان مقرر کړی دی اودکومو خلگوسره چی ستاسی عهد (دمخکی ځخه) سوی وی (دی ته مولی الموالات وایی) دوی ته (اوس چی کله په شریعت کی قریبان خلگ وارثان مقررکړه سوی دی ټول میراث مه ورکوی بلکه یوازی) ددوی حصه (یعنی شپږمه [۴۱]) ورکړی بیشکه الله ﷻ په هرپه خبردار دی (نودوی لره دټول میراث نه ورکولو اوشپږمی حصی مقررولو اوددی چی شپږمه دوی ته څوك ورکوی څوك یی نه ورکوی په دی ټولوکی چی کوم مصلحت دی ، ددی ټولو ځخه هغه خبردار دی)

معلومات اومسئلی

(داختیاری کارونو اودغیر اختیاری کارونو تمنا اوآرزو کول)

په دی آیت کی دهغه غیر اختیاری کارونو دتمنا کولو ځخه منع سوی ده ، کوم چی نوروته حاصل وی (اوده ته نه وی حاصل) وجه یی دا ده چی انسان چی کله خپل ځان ترنورو په مال، دولت، عیش او آرام، ښایست اوښه والی، علم اوفضل اونوروکی تر نوروکم پیداکی نوعادتاً دده په زړه کی دحسدمادهٔ راپورته سی چی غوښتنه یی کم ازکم دا وی چی زه هم دده برابر یاپر زیات وای اوډیر وخت یی ددی طاقت نه وی ، ځکه چی ډیر کمالونه داسی دی چی په هغه کی دانسان دکوشش اوعمل هیڅ دخل نه وی، هغه خاص دالله ﷻ انعامات وی، لکه سړی پیداکیدل یادیو اعلی خاندان ځخه یادشاهی خاندان ځخه پیداکیدل یاښایسته اوخوبصورت پیداکیدل اونورکوم سړی ته چی دا انعامات حاصل نه وی که

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه تول عمر ددی کوشش کوی ، چی مثلاً نرسی یادسیّد خاندان څخه سی یادده قد اوقامت ښایسته سی ، نو دا دده په قدرت کی نه دی او نه دی په کمه دوا یاچم سره داشیان حاصلولی سی اوچی کله دده داقدرت نه وی چی ځان دنورو سره برابرکړی نودده په نفس کی داخواهش کلك سی چی یره ددی نورو څخه هم دا نعمت واخیستل سی چی هغوی هم دده برابر یاتر کم سی ، ددی نوم حسد دی او دا په انسانی اخلاقو کی انتهایی شرموونکی او ضرر رسونکی خوی دی او ددنیا د ډیرو جنګونو، فسادونو، قتلونو اولوټ ماریو سبب دی.

قرآن کریم په دی آیت کی ددی فساد ددروازی دبندولو دپاره ارشاد وفرمایی ، وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللَّهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ : یعنی الله ﷻ چی په تقاضا دحکمت اومصلحت سره کوم کمالونه اوفضیلتونه په خلګوکی تقسیم کړی دی ، چاته یی یوصفت ورکړی دی چاته یی بل، چاته کوم اوچاته زیات په دی کی هریوه نفر ته په خپل قسمت باندی راضی کیدل اوخوشحاله کیدل په کار دی ، دنورو دفضیلتونو اوکمالونو تمناکول نه دی په کار، ځکه چی ددی نتیجه ځان لره غم اوخفګان راوستل اودحسد دلویی ګناه څخه ماسوا نور هیڅ نسته ، څوك چی خدای پاك ﷻ نر پیداکړی دی هغه دی په دی شکر وباسی اوڅوك چی یی ښځه جوړه کړی ده هغه دی په دی سره راضی اوسی اوداسی دی ګنی چی کیدای سی که دانر وای نو دنارینه وو ذمه واری به ورڅخه نه وای پوره سوی نو ګناهګاره به وای ، څوك چی الله ﷻ ښایسته پیدا کړی دی هغه دی په دی شکر ګذار وی چی ده ته یو نعمت رسیدلی دی اوڅوك چی بدرنګه وی هغه دی هم نه خوابدی کیږی ، شاید چی په دی کی دده خیروی چی که ښایست ورته رسیدلی وای نوپه یوه فتنه اوفسادکی به اخته سوی وای اوڅوك چی په نسب کی لوی دی یاسیّد یابل شی دی، نودی دی پردی شکر وباسی چی دانسبت دالله ﷻ یوانعام دی اوچاته چی دانسبت نه دی حاصل هغه دی ددی فکر اوتمنّانه کوی ځکه چی داشی په کم کوشش سره نه سی حاصلیدی او ددی آرزوبه دیٰ په ګناه کی اخته کړی او بغیردغم اوخفګان څخه به ورته نورهیڅ حاصل نه سی ، په نسب دافسوس کولو پرځای دی دنیکو عملونوپه فکرکی سی ځکه چی په نیك عمل سره به دی دلویو لویو نسبونو تر خاوندانو زیات سی ، په قرآنی آیتونو اواحادیثوکی دنیکی طرف ته دوړاندی کیدو یعنی په نیکو کارونوکی ترنورو مخکی کیدل، یادنورو خلګو فضیلتونه اوکمالونه لیدل اودهغو دحاصلولو دجد اوجهد اوکوشش کولو ترغیب راغلی دی نودا دهغه کارونو متعلق دی چی دانسان په اختیارکی وی اوپه کسب کولو سره حاصلیدی سی مثلاً عملی فضیلتونه اوعملی اواخلاقی کمالونه چی دچاووینی اوددی دپاره جد اوجهد اوکوشش کوی، نودا ډیرښه کاردی ، دا آیت ددی څخه منع نه کوی بلکه دآیت آخری حصه ددی تائیدکوی چی ارشاد دی ، لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُوا وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ یعنی کوم شی چی نارینه وو په کسب او عمل سره حاصل کی ، دوی ته به ددی حصّه ورسیږی اوکوم چی ښځو په کسب اوعمل سره حاصل کی ، دوی ته به ددی حصّه رسیږی.

په دی کی دااشاره موجوده ده چی دفضیلتونو اوکمالونو دحاصلولو دپاره کوشش او محنت کول بیکاره نه ځی ، بلکه هریوه ښځی اوسړی ته به دده دکوشش اومحنت حصه خامخا ور رسیږی ، ددی څخه دا هم

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومه سوه چي څوك دچاعلمي او اخلاقي فضيلتونه ويني اودهغه آرزو كوي اوبيا ددي آرزو پوره
كولو دپاره كوشش اومحنت كوي دا ډير ښه كار دي اوداسي په كار دي .
دلته يوه غلطي هم ختمه سوه چي په هغه كي ډير ناپوهان اخته كيږي، ځيني دغير اختياري فضيلتونو په
آرزوكي ولګيږي اوخپل عيش آرام او اطمينان په دنياكي بربادكړي اوكه نوبت حسدته ورسيږي يعني
پربل يي هم دغه پيرزوينه ختمه سي ، نوآخرت يي هم بربادسي، ځكه چي دحسدغوندي عظيمه ګناه يي
وكړه ، اوځيني داسي خلګ هم دي چي دخپلي سُستي اوبي همتي بلكه دبي غيرتي په وجه داختياري
فضيلتونو دحاصلولو كوشش هم نه كوي اوكه څوك ورته ووايي نو پر خپلي بي عزتي دپردي اچولو
دپاره دقسمت اوتقدير بهانه كوي ، دې آيت يوه دحكمت اوعدل ضابطه وښووله چي كم فضيلتونه
اوكمالونه غير اختياري دي اودانسان كسب اوعمل تاثير نه په كي كوي لكه دلوي نسب كيدل په
ښائسته پيدا كيدل اونور نوداتقديرته حواله كول په كار دي اوپه كوم حالت كي چي وي په هغه راضي
كيدل اوددالله ﷻ شكر ادا كول په كار دي ، ترددي زيات آرزوكول فضول اوعبث دي اوځان ته غم اوخفګان
په بيه اخيستل دي ، اوكوم فضيلتونه اوكمالونه چي اختياري دي اوپه كسب اوعمل سره حاصليدي
سي ، ددي آرزو كول فائده مندي دي خوپه دي شرط چي دآرزو سره سره كسب اوعمل هم وي اوپه دي كي
دې آيت داوعده هم وكړه، چي دچا كوشش اوعمل به ضائع نه كړه سي ، بلكه هريوه ته به په قدر دمحنت
حصه رسيږي سري وي اوكه ښځه .

په تفسير بحرمحيط كي دي چي ترددي آيت مخكي د لاَ تَأْكُلُوْا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ اود لاَ تَقْتُلُوْا اَنْفُسَكُمْ
حكمونه راغلي وه ، چي په دي كي دچامال په ناحقه داستعمالولو اودچاپه ناحقه دقتل كولو څخه منع ده
په دې آيت كي ددي دواړو جرمونو دبنياد بندولو دپاره دا ښوونه وركړل سوي ده چي كم نورخلګ الله ﷻ
په مال دولت ياعيش اوعشرت، عزت او مرتبي اونورو سره پرتا باندي لوړوالي دركړي دی، ته ددي
آرزوهم مه كوه ، پردي خبره چي فكر وكړه سي نومعلومه به سي چي په غلا، غصب يانورو ناجائزو
طريقو سره دچا مال اخيستل ياقتلونه اونور كول، ددي ټولو جرمونو اصلي منشاء داوي چي يوانسان
چي كله بل انسان په مال دولت اونوروكي ترځان لوړ او زيات ويني نواول دده په زړه كي دده سره
دبرابري ياورباندي دزياتيدو خواهش او آرزو پيداسي بيا دا آرزودي دغه جرمونوته رسوي ، قرآن ددي
ټولو جرمونو سرچينه بنده كړه، چي دنورو دكمالونو او فضيلتونو تمنّايي منع كړه ، په آيت كي ترددي
وروسته ارشاددي: وَاسْئَلُوا اللّٰهَ مِنْ فَضْلِهٖ په دي كي دا ښوونه ده چي كله تاسي يوڅوك په مال كي ترځان
زيات ووينئ ، نوپه ځاى ددي چي په دغه خاص كمال كي دده سره دبرابريدو آرزو شروع كړئ تاسي ته په
كار دي چي دالله ﷻ څخه دهغه دفضل اوكرم سوال شروع كئ ځكه چي دالله ﷻ فضل دهر سړي دپاره په
جلاجلاصورتونوكي ظاهريږي ، دچادپاره مال دولت دالله ﷻ فضل وي ، چي كه دي فقيرسي نوپه ګناه
اوكفركي به اخته سي اودچا دپاره تنګي اوتنګدستي فضل وي چي كه دي غني اومالداره سي نو
دزرګونو ګناهونو ښكاره به سي ، دغه ډول دچادپاره عزت اومرتبه دالله ﷻ فضل وي اودچا دپاره
سپكيدل وركيدل دالله ﷻ فضل وي اوحقيقت ته چي وكتل سي نومعلومه به سي چي كه ده ته عزت او

Maktaba Tul Ishaat.com

مرتبه ورسیږی نو په ډیرو گناهونو کی به اخته سی ، په دی وجه یی په آیت کی داوښووله چی کله چی دالله ﷻ څخه غواړی نو د څه خاص شی یاصفت دغوښتلو په ځای دالله ﷻ فضل غواړی ، چی هغه دخپل حکمت په مطابق پرتاسی دخپل فضل دروازه خلاصه کړی ، په آخری آیت کی یی وفرمایل: إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا یعنی الله ﷻ دهرشی پیژندونکی دی ، په دی کی یی اشاره وفرمایله چی دالله ﷻ تقسیم عین حکمت اوعین عدل اوانصاف دی، ځوك چی یی پرکم حال پیدا کړی اوساتلی دی هم دغه دعدل اوحکمت تقاضا اوغوښتنه وه ، مگر انسان ته دخپلو عملونو دانجام پوره معلومات نه وی، دا الله ﷻ ښه پیژنی چی دچا په کم حال کی پاته کیدل دده دپاره فآئده منددی ، دذکر سوی آیت په شانِ نزول کی بیان سوی دی چی کله چی په میراث کی دنارینه وو دوچنده حصه مقرره سوه نوځینو ښځودا خواهش وکی چی که مونږ نارینه وای نومونږته به هم دوچنده حصه رسیدای، ددی په مناسبت سره په دوهم آیت کی دمیراث قانون دوباره په داسی طریقی سره ذکرسو چی په دی کی چی کمی حصی مقرری کړه سوی دی داعین دحکمت اوعدل مطابق دی ، دانسان عقل دټول مخلوق دمصلحتونو اوفسادونو احاطه نسی کولای، په دی وجه دوی دی حکمتونوته هم نه سی رسیدی کوم چی دخدای ﷻ په دی مقررسوی قانون کی دی نوکومی حصی چی دچادپاره مقرری کړه سوی دی ، دوی ته پردی باندی راضی کیدل اوشکر گذاره اوسیدل په کار دی .

(په عقدِ موالات سره دمیراث رسیدو حکم)

ددی آیت په آخرکی چی کومه دیوه اوبل سره دمعاهدی (وعدی) پربنآء باندی حصه ورکول ذکر دی ، داداسلام په اول کی وه ، وروسته په آیت د وَأُولُوا الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ سره دامنسوخ سو اوس که نور وارثان موجودوی نو د دوو تنو دیوه او بل سره معاهده (وعده) کول پرمیراث تاثیرنه غورځوی .

الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَىٰ

سړی حاکمان دی په ښځو باندی په دی وجه چی لویی ورکړی ده الله یوه لره په بل باندی او

بَعْضٍ وَبِمَا أَنفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ ۚ فَالصَّالِحَاتُ قَانِتَاتٌ حَافِظَاتٌ

او په دی وجه چی خرج کړل دوی خپل مالونه بیا کومی ښځی چی نیکی دی تابعداری دی ساتونکی دی

لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللَّهُ ۚ وَاللَّاتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ

په پټه دالله په حفاظت سره او دکومو چی دبد خویی بیره وی تاسی ته نو دوی پوهوی

وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ ۖ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا

او جلا کوی یی په بیده کیدو کی او وهی دوی بیا که خبره ومنی ستاسی نومه تلاش کوی

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلَيْهِنَّ سَبِيْلًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيْرًا ﴿۳۴﴾ وَاِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ

په دوی باندی لار دالزام بیشکه الله دی دټولو څخه لوړ لوی ، اوکه تاسی بیرید است چی دیو

بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوْا حَكَمًا مِّنْ اَهْلِهٖ وَحَكَمًا مِّنْ اَهْلِهَا ۚ اِنْ

بل سره ضد ساتی نو ودروی یو منصف دسړی دطرف څخه او یو منصف دښځی دطرف څخه ، که

يُّرِيْدَآ اِصْلَاحًا يُّوَفِّقِ اللّٰهُ بَيْنَهُمَا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا خَبِيْرًا ﴿۳۵﴾

دا دواړه غواړی چی اصلاح وکړی نوالله به موافقت پیدا کړی په دواړو کی بیشکه الله په هرڅه باندی پوهه خبردار دی.

دآیتونو تړون : دښځو متعلق چی کوم احکام تیر سوی دی په دی کی د دوی دحق ضائع کولو منع هم ذکر سوی ده ، اوس مخ ته دنارینه وو دحقونو ذکر دی او ددی نارینه وو حقونه که فوت سی نوپه دی صورت کی دتادیب اجازت هم ورکړل سوی دی ، په دی حقونوکی که اختلاف راسی نو دتصفیی طریقه او دحقونو د ادا کونکو فضیلت هم ذکر دی ، ددی سره سره ددی خبری هم وضاحت دی چی دنارینه وو درجه ترښځو زیاته ده نوددی څخه دا جواب هم راووتی چی کله چی نارینه دښځی په مقابله کی بهتره دی نوپه دی خبره کی څه اشکال نسوپاته چی په میراث کی ددوی حصه دښځو په نسبت ولی زیاته ده ؟

لنډتفسیر: نارینه حاکمان دی پرښځو باندی (په دوو وجهوسره یو) په دی سبب چی الله ﷻ خینو (یعنی نارینه) ته پرخینو (یعنی پرښځو باندی قدرتی) بهتروالی ورکړی دی (دا خدای ورکړی کاردی) او (دوهم په دی سبب سره چی نارینه وو (پرښځو باندی) خپل مالونه (په مهرکی اوددوی اونفقه کی) خرڅ کړی دی (اودخرڅ کونکو لاس لوړ اوښه وی ترهغو پرچاچی خرڅ کول کیږی اودا کسبی کاردی) نوکومی ښځی چی نیکی دی (دوی دنارینه وو ددی فضیلتونو او حقونوپه وجه) حکم منونکی دی (او) دسړی په غیر موجودګی کی (هم) په حفاظت (او) دخدای (په توفیق دده دعزت اومال) ساتنه کوی او کمی ښځی چی (ددی صفت نه وی بلکه) داسی وی چی تاسی ته (په قرآئنو اونښانو سره) د دوی دبد دماغی احتمال وی (قوی) نو دوی ته (اول) په ژبه نصیحت وکی او (که یی نه منی نو) دوی دپریوتو په ځای کی یوازی پریږدی (یعنی ددوی سره یوځای مه پریوزی او ورڅخه جلاسی) او (که په دی هم ونه سی نو) دوی (په درمیانه وهلوسره) ووهی بیاکه دوی ستاسی حکم منل شروع کی نوپه دوی باندی (دزیاتی کولو دپاره) بهانه (اوموقعه) مه لټوی (ځکه چی) بیشکه الله ﷻ دیر لوی لوړ اولویی والا دی (دهغه حقوق اوقدرت اوعلم ټول لوی دی که تاسی داسی وکړی نوهغه به پرتاسی بیاهم دخپلو حقونو په اړوند په زرګونو الزامات قآئمولای سی) اوکه (په قرآئنو اونښانوسره) تاسی خلګوته په دی دواړو ښځه خاوندکی (دیوداسی کش مکش) بیره وی (چی دوی یی په خپل مینځ کی نه سی لیری کولی) نوتاسی خلک یوسړی چی دروغی راوستلو لیاقت لری دنارینه دخاندان څخه اویو سړی چی (هم دغسی) دروغی راوستلو لیاقت لری دښځی دخاندان څخه (مقرر کړی اوددی کش مکش دلیری کولو دپاره یی دوی ته) ورولیږی

Maktaba Tul Ishaat.com

(چې دوی ولاړسي او حالات معلوم کړي اوکوم یوچې بې لارې وي یاپه دواړوکې څه لږ قصور، پوه یې کړي) که چیرې دادواړه کسان (دزړه په صدق سره دمعاملې) روغوالی غواړي نوالله ﷻ به ددې ښځې اوخاوندپه مینځ کې (په دې شرط که دابنځه اوخاوند ددې دواړو په رایه عمل هم وکړي) اتفاق راولي، بیشکه الله ﷻ لوی علم اولوی خبر والا دی (په کومه طریقه چې د دوی مصالحت راتلی سی په هغه پوه دی، کله چې ددې دواړو فیصله کونکو نیت ورته صحیح معلوم سي، نودصلح راوستلو طریقه به د دوی په زړه کې واچوي)

معلومات اومسئلې: دسورةِ نسآء دشروع څخه تردې ځایه پورې ډیر احکام اوهدایت دښځو دحقونو په اړوند راغلې دي چې په دې کې یې هغه ظلمونه وران اوختم کړل، کوم چې تر اسلام مخکې په ټوله دنیاکې پردې نازك قسم باندې کیدل، اسلام ښځوته هغه ټول انساني حقونه ورکړل کم چې نارینهووته حاصل دي، که دښځو پرذمه یې دنارینه څه خدمتونه واچول، نوپر نارینه وو یې هم دښځو حقونه فرض کړل، دسورةِ بقرې په آیت کې یې ارشاد وفرمایې، وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِیْ عَلَیْهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ یعنی دښځو حقونه دنارینه وو په ذمه داسې واجب دي لکه دنارینه وو حقونه چې دښځو په ذمه دي، په دې کې یې ددواړو دحقونو دیر ډول والي حکم ورکړې دې چې ددې تفصیلات یې عرف (اصطلاح) ته حواله کړل، دجاهلیّت اوټولې دنیا دظالمانه رسمونویې دیوه مخه خاتمه وکړه، البته داضروري نه ده چې د دواړو حقونه دې دصورت په اعتبارسره یوډول وي، بلکه په ښځه باندې یو ډول کار لازم دي نو ددې په مقابله کې په نارینه باندې بل قسم کار دی، ښځه دکور دکارونو، دکوچنیانو دپالنې اوحفاظت ذمه داره ده، نونارینه ددې دضرورتونو دپوره کولو دپاره دکسبِ معاش ذمه دار دی، دښځې پرذمه دسړي خدمت اوحکم منل دي نودسړي پرذمه ددې مهر اونفقه ده یعني دټولو ضروري خرڅونو انتظام دی، مقصد دې آیت ښځوته دنارینه وو په شان حقونه ورکړل، لیکن یوشی داسې هم دی چې په هغه کې نارینه ووته پرښځو باندې لوړوالي اویوخاص فضیلت حاصل دی په دې وجه یې ددې آیت په آخر کې وفرمایل، وَلِلرِّجَالِ عَلَیْهِنَّ دَرَجَةٌ: یعنی نارینه ووته پرښځو باندې یوه درجه بنه والي حاصل دی، په دې آیتونوکې ددې درجې بیان قرآن حکیم په حکیمانه طریقه دبیان سره داسې کړی دی چې دنارینه وو دافضیلت اولوړوالي په خپله دښځو دمصلحت اوفآئدې دپاره اوعین دحکمت په تقاضاسره دی، په دې کې نه دښځې دشان کموالي دی اونه په کې ددې کم نقصان دی، ارشادفرمایې، اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَی النِّسَآءِ، قوّام، قیّام، قیّم په عربي ژبه کې هغه سړي ته ویل کیږي، چې دیوکار یانظام ذمه وار اوچلوونکې وي، په دې وجه په دې آیت کې د قوّامْ ترجمه عام طورپه حاکم سره سویده یعني نارینه پرښځو حاکمان دي، مراد دادې چې دهریوه اجتماعي نظام دپاره په عقل اوعرف کې دا ضروري ده چې ددې څوك سربراه یاامیر اوحاکم وي چې داختلاف په وخت کې دهغه په فیصله کار وچلیږي، لکه څنګه چې دملك، حکومت اوریاست دپاره ددې ضرورت همیشه ګڼل سوې دی اویوسړي دقبیلې سردار اوحاکم منل سوی دی، دغه ډول په دې عآئلي نظام کې چې خانه داري ورته ویل کیږي، په دې کې هم دیوامیر اوسربراه ضرورت دی، دښځو اوکوچنیانو په مقابله کې ددې کار دپاره الله ﷻ نارینه منتخب کړل، چې ددوی علمي او عملي قوتونه په نسبت دښځو

Maktaba Tul Ishaat.com

اوکوچنیانو زیات دی اودا داسی بدیهی (یعنی ښکاره) معامله ده چی یوه عقل لرونکی ښځه یاسړی ددی څخه انکار نه سی کولی •

لنډه داچی دسورة بقری په آیت کی یی ، وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ وفرمایل اودسورة نسآء په ذکر سوی آیت کی یی ، اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ وفرمایل دایی وښوولہ چی که څه هم دښځوحقونه پرنارینه ووباندی داسی لازم اوواجب دی لکه څنګه چی دنارینه وو پرښځو دی اوددواړو حقونه په خپل مینځ کی یوډول دی لیکن په یوه شی کی نارینه ووته ښه والی حاصل دی چی دوی حاکمان دی ، اودقرآن کریم په نورو آیتونوکی یی داهم واضحه کړه چی داحکومت کم چی نارینه ووته پرښځو باندی دی، محضی دآمریّت اوظلم حکومت نه دی، بلکه حاکم یعنی نارینه هم دشریعت دقانون اومشوری پابند دی، محضی دخپل طبیعت په خواهش سره یوکار نه سی کولی ، ده ته حکم ورکړل سوی دی چی ، عَاشِرُوْهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ یعنی دښځو سره درواج په طریقه ښه سلوك کوی ، دغه ډول په بل آیت کی د عَنْ تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ تعلیم دی، چی په دی کی یی داهدایت کړی دی چی دکور په کارونوکی دی دښځی په مشوره سره کارکوی ، تردی تفصیل وروسته دسړی حاکمیت دښځی دپاره دڅه خفګان سبب نه سی کیدی ، خوبیاهم دااحتمال ووچی کیدی سی دنارینه وو ددی ښه والی اوحاکم والی پرښځو باندی څه خراب تاثیر وسی ،په دی وجه دلته یوازی الله ﷻ په حکم ښوولو اوجاری کولو باندی بس والی ونکی بلکه په خپله یی ددی حکمت اووجه هم وښوولہ، یوه هغه وجه ده چی دخدای ﷻ ورکړه ده اودچادعمل په دی کی دخل نسته دوهمه کسبی وجه ده چی عمل لره په کی دخل دی ، نو اوله وجه یی داسی ارشاد وفرمایله ، بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ بِهٖ بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ یعنی الله ﷻ په دنیاکی په خاص حکمت او مصلحت سره یوه ته پربل باندی لویی ورکړی ده ، څوك یی افضل اوڅوك یی مفضول (پرده بل شی ښه کړه سوی) جوړکړی دی لکه یوخاص کور الله ﷻ خپل کور (بیت الله) اوقبله مقرره کړه اوبیت المقدس ته یی خاص فضیلت ورکی ، دغه ډول دنارینه ووحاکمیت هم یوخدای ورکړی فضیلت دی چی دنارینه ووکم کوشش اوعمل یادښځو کوتاهی اوبی عملی لره په کی څه دخل اونور نسته ، دوهمه وجه کسبی اواختیاری ده چی سړی خپل مال پرښځه باندی خرخ کوی مهر ادا کوی او ددی دټولو ضروریاتو ذمه واری سرته رسوی ، په دی دوو وجهو یی سړی پرښځو باندی حاکمان جوړکړی دی .

فائده: دلته یوه بله خبره هم دفکر قابله ده ، ابن حبان په بحرمحیط کی لیکی چی په دی آیت کی دنارینه وو دحاکمیّت په دوو وجهو بیانولو سره داهم ثابته سوه چی دچا دحاکمیت اوولایت مستحق کیدل یوازی په زوراوغلبه سره نه سی کیدی بلکه دکار صلاحیّت اواهلیّت دی دحکومت مستحق جوړوای سی

(دنارینه وودښه والي بیانولو دپاره دقران کریم عجیبه طریقه)

داولی وجی په بیان کی لنډه طریقه داوه چی دنارینه وو اوښځوطرف ته یی ضمیرونه راجع کړی وای فَضَّلَهُمْ عَلَيْهِنَّ یی فرمایلی وای ، لیکن قرآن کریم سرنامه بدله کړه دبَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ الفاظ یی اختیارکړه په دی کی داحکمت دی چی ښځه اونارینه یی دیوه اوبل حصی اوجزءونه وګرځول، دی طرف ته یی اشاره وکړه چی که په څه شی کی دنارینه وو ښه والی اولوړوالی ثابت هم سی نوددی داسی مثال دی لکه چی

Maktaba Tul Ishaat.com

دانسان سر دده ترلاسونو ښه دی یادانسان زړه دده ترمعدی ښه دی نولکه څنګه چی دده سرتر لاسونو ښه دی نودا ښه والی خو دلاسونو مقام اواهمیت نه سی کمولی ، دغه ډول دنارینه حاکم کیدل دښځی درجه نه سی کمولی ځکه چی دادواړه دیوه اوبل دپاره په شان داندامونو اواجزاوو دی که سړی سردی نوښځه بدن دی ، اوځینی مفسرین (تفسیر لیکونکی) لیکی چی په دی سرنامه یی دی طرف ته هم اشاره کړی ده چی دا ښه والی کوم چی نارینه ووته پرښځو باندی حاصل دی دادجنس اودمجموعی په اعتبار سره دی اوترڅو پوری چی دافرادو تعلق دی نوډیره ممکنه ده چی یوه ښځه په علمی او عملی کمالاتوکی تریوه سړی زیاته سی اودحاکمیّت په صفت کی هم ترنارینه لوړه سی .

(دسړی اوښځی مختلف عملونه دکار دتقسیم پر اصولو باندی دی)

دوهمه وجه اختیاری چی یی دا بیان کړیده چی سړی خپل مالونه په ښځو باندی خرڅوی، په دی کی هم دیرڅو مهمو کارونو طرف ته اشاره سوی ده، مثلاً یوخوددی شبهی لیری کول دی چی دمیراث په آیت کی دنارینه وو حصه دنارینه وو دوه چنده اودښځو دیوه چند څخه پیدا سوی ده ، ځکه چی دی آیت یوه وجه دا هم وښووله چی مالی ذمه واری ټولی پرنارینه وو باندی دی، دښځو حال خودادی چی ترواده مخکی ددوی دټولو خرڅونو ذمه واری پرپلار باندی ده اوتر واده وروسته پرخاوند ، نوپه دی وجه چی فکر وکړه سی نو نارینه لره دوچنده حصه ورکول ده لره کم زیات ورکول خونه دی، دغه خوبیا بیرته ښځوته رسیږی ، دوهمه اشاره پکښې دژوند دیومهم اُصول متعلق داهم ده، چی ښځه په پیدا ښتی اوفطری ډول سره دخپلو خرڅونو په خپله دګټلو قابله نه ده، نه ددی حالات ددی دپاره برابر دی چی دادی دمحنت اومزدوری اونورو کسبونو دپاره دنارینه وو په شان دفترونو اوبازارونو ته ولاړه سی ، ځکه نو الله ﷻ ددی ټولو ذمه واری پرنارینه وو باندی اچولی ده ترواده مخکی یی پلار کفیل دی اوترواده وروسته یی خاوند ، ددی په مقابله کی الله ﷻ دنسل زیاتولو ذریعه ښځه جوړه کړی ده دکوچنی دپرورش ، دکور ذمه واری هم په دی باندی اچول سوی ده ، ځکه چی سړی داکارونه نه سی کولی په دی وجه دانه سی ګڼل کیدی چی ښځه یی په خپله نفقه کی دسړی محتاجه کړیده ، ددی مرتبه یی کمه کړیده بلکه دکار دتقسیم پراُصولو باندی وظآئف تقسیم سوی دی ، البته دوظآئفو دښه والی اوناښه والی چی په خپل مینځ کی کوم فرق دی هغه دلته هم دی ، لنډه دا ده چی ددی دواړو وجهو په ذریعه دا وښوول سوه چی دنارینه وو په حاکمیّت سره نه دښځو څه درجه کمه سوه او نه په دی کی څه نفع ده بلکه ددی فآئده هم ښځو ته رسیږی .

صالحه بی بی: ددی آیت په شروع کی په ډول دضابطی داوښوول سوه چی سړی پرښځه باندی حاکم دی تردی وروسته یی دنیکو اوبدو ښځو بیان داسی وفرمایی ، فَالصّٰلِحٰتُ قٰنِتٰتٌ حٰفِظٰتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللّٰهُ یعنی نیکی ښځی هغه دی چی دسړی حاکمیّت ومنی، ددوی تابعداری کوی اودنارینه ووپه غآئب والی کی هم دخپلو نفسونو اوددوی دمالونو حفاظت کوی، یعنی په خپلی پاکدامنی اودکور دمال په حفاظت کی دوی ته دنارینه وو دحاضروالی اوغآئب والی ټول حالات برابردی ، داسی نه چی ددوی په مخکی ددی کارونو اهتمام کوی اوپه شاپسی یی بیا پروانه ساتی .

Maktaba Tul Ishaat.com

نبي كريم ﷺ ددې آيت دتفسير په ډول سره فرمايلي دي.

خَيْرُ النِّسَاءِ امْرَأَةٌ اِذَا نَظَرْتَ اِلَيْهَا سَرَّتْكَ وَاِذَا اَمَرْتَهَا اَطَاعَتْكَ وَاِذَا غِبْتَ عَنْهَا حَفِظَتْكَ فِيْ مَالِهَا وَنَفْسِهَا.

يعني ښه ښځه هغه ده چې كله ته هغې ته ګوري نوخوشحاله كيږې او كله چې هغې ته حكم كوې، نو حكم مني او كله چې ته غائب يې نو دخپل نفس او مال حفاظت كوي.

او كله چې دښځو دا ذمه واري يعني ځان پاكدامن ساتل او دخاوند دمال حفاظت كول دا دواړه آسانه كارونه نه دي په دې وجه يې مخ ته وفرمايل بِمَا حَفِظَ اللّٰهُ يعني په دې حفاظت كې الله ﷻ دښځې كومك كوي او دهغه په توفيق او كومك سره دا دا كارونه سرته رسولي سي، كه نه وي نو دنفس او شيطان مكرونو هروخت انسان، ښځه او سړي په قبضه كې اخيستي دي، او بيا خاصكر ښځې خو په خپلو علمي او عملي قوتونو كې دنارينه وو په نسبت كمزوري هم دي خو بيا هم په دې ذمه واريو كې ترنارينه وو محكمه ليدل كيږي دا ټول دالله ﷻ توفيق او كومك دي، هم دا وجه ده چې دبې حيايي په ګناهونو كې زيات تره نارينه اخته كيږي او ښځې دنارينه وو په نسبت ډيرې كمې اخته كيږي، دفرمان بردارو تابعدارو ښځو ښه والى لكه څنګه چې ددې آيت څخه معلوميږي دغه ډول په دې باره كې احاديث هم ډير راغلي دي، په يوه حديث كې نبي كريم ﷺ فرمايي چې كومه ښځه دخپل خاوند تابعداره او فرمانبرداره وي ددې دپاره په هوا كې مرغان او په درياب كې ماهيان او په آسمانونو كې ملائكې او په ځنګلونو كې حيوانان او درندګان استغفار او بخښنه غواړي (بحرمحيط)

(نافرمانه ښځه او ددې داصلاح طريقه)

تردې وروسته دهغو ښځوذكر دى چې دخپلو خاوندانو فرمانبرداري نه دي يادكومو څخه چې په دې كاركې كوتاهي كيږي، قرآن كريم ددوى داصلاح دپاره پرلپسې درې طريقې ونښوولې، وَاللَّاتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ: يعني دښځو دطرف څخه كه دنافرماني بيره وي، نو اوله درجه داصلاح دا ده چې په نرمي سره دوى پوه كړې خو كه په دې پوهولو باندې ونه سي نو دوهمه درجه دا ده چې د دوى بستره دځانه څخه جلاكړې، چې دوى ستاسې په خفګان پوه سي او را وګرځي، دقرآن كريم په الفاظو كې دفِي الْمَضَاجِعِ لفظ دى ددې څخه فقهاوو رحمهم الله دا مطلب را ايستلى دى چې جدايي به يوازې په بستره كې وي دځاى جدايي به نه كوي څكه چې په دې كې دزيات خفګان او فساد بيره ده، ديوه صحابي ﷺ څخه روايت دى.

قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ مَاحَقُّ زَوْجَةِ اَحَدِنَا عَلَيْهِ قَالَ اَنْ تُطْعِمَهَا اِذَا طَعِمْتَ وَتَكْسُوْهَا اِذَا اكْتَسَيْتَ وَلَا تَضْرِبِ الْوَجْهَ وَلَا تُقَبِّحْ وَلَا تَهْجُرْ اِلَّا فِي الْبَيْتِ (مشكوٰة ص۲۸۱)

مارسول الله ﷺ ته عرض وكړ چې زمونږ دبيبيانو پرمونږ څه حق دى؟ ويې فرمايل چې كله تاسې خوړې نو په دوى باندې يې هم خوړې او چې تاسې جامې اغوندې نو دوى ته يې هم وراغوندې او پرمخ يې مه وهي او بد ورته مه وايا ست او مه ورڅخه ليرې كيږې مګر نه په كوركې، او كه جلا كيدل ورڅخه غواړې نو يوازې دومره كوې (چې بستره ورڅخه جلا كړې) ځاى مه ورڅخه جلا كوې.

او كومه چې په دې شريفانه سزا سره هم ونه سي نو بيايې دمعمولي وهلو اجازت هم سته، خو داسې وهل

Maktaba Tul Ishaat.com

چی پربدن یی دوهلو څه تاثیر ونسی اوهډوکی یی هم مات نسی اوزخم هم ورباندی رانسی اودمخ وهل خویی مطلقا منع کړی دی ، اولنی دوی سزاګانی شریفانه سزاګانی دی، په دی وجه دانبیاوو علیهم السلام اونیکانو څخه قولاً هم ددی اجازت نقل سوی دی اوپه دی باندی عمل هم ددوی څخه ثابت دی اودریمه سزایعنی وهل که څه هم دمجبوری په حالت کی په یوخاص شکل سره سړی ته ددی اجازت ورکړه سوی دی ، لیکن سره ددی په حدیث کی داهم ارشاد دی ، وَلَنْ يَضْرِبَ خِيَارُكُمْ یعنی ښه سړی دی دوهلو سزا ښځوته نه ورکوی ، نو په دی وجه دانبیاوو علیهم السلام څخه هیڅکله هم داعمل نه دی سوی .

ابن سعد اوبیهقی دحضرت صدیق اکبر رضی الله عنه دلور صاحبی رضی الله عنها څخه دا روایت نقل کړی دی چی اول سړی مطلق دښځو دوهلو څخه منع کړه سوی وو، لیکن بیاښځی زړه وری سوی نوبیرته دا اجازت وسو ، دذکر سوی آیت تعلق هم ددی قسم یوی واقعی سره دی ، چی ددی شان نزول دادی چی زیدبن زبیر رضی الله عنه دخپلی لور حبیبی رضی الله عنها نکاح دحضرت سعدبن ربیع رضی الله عنه سره کړی وه، ددی دواړو ښځی اوخاوند په مینځ کی څه اختلاف راغی خاوند په یوه چپلاخه ووهله حبیبی رضی الله عنها خپل پلارته شکایت وکی، پلاړدا دحضور ﷺ په خدمت کی حاضره کړه حضور ﷺ حکم وکی چی حبیبی رضی الله عنها ته داحق حاصل دی چی په څومره زور سره سعدبن ربیع رضی الله عنه دی ته چپلاخه ورکړی ده ، هغه دی هم په دغومره زور سره دی په چپلاخه ووهی ، دی دواړو پلار اولورچی داحکم واوریدی نوروان سول چی دسعدبن ربیع رضی الله عنه څخه دحکم مطابق خپل بدل واخلی ، لیکن عینی په دغه وخت کی دا ذکر سوی آیت نازل سو چی په دی کی یی په آخری درجه کی سړی ته دښځی دوهلو اجازت ورکی اودسړی څخه دقصاص یابدل اخیستو اجازت یی ورنه کی، نونبی کریم ﷺ دوی دواړه واپس کړل اودا حکم یی ورته واوروی او دبدل اخیستو اولنی حکم یی منسوخ کی ، دآیت په آخرکی یی ارشاد وفرمایی چی په دی درو تدبیرونو کی که دوی تابعداری سوی نوتاسی هم بیاسترګی پرېتوی اوپه کوچنیو خبرو باندی په دوی کی دالزام لاره مه لټوی اوپوه سی چی دالله ﷻ قدرت په ټولو باندی زیات دی .

دمضمون خلاصه : ددی آیت څخه په بنیادی حیثیت سره چی کمه خبره مخ ته راځی، هغه دا ده، چی دتیرو آیتونو دبیان مطابق دښځو اونارینه وو حقوق یوشان دی ، بلکه دښځو دحقوقو دادا کولویی زیات اهتمام په دی وجه کړی دی چی دوی دنارینه وو په نسبت کمزوری دی ، خپل حقونه دخپلو متوپه زور دنارینه وو څخه نسی حاصلولای خوددی برابری دامعنی نه ده چی په ښځه اونارینه کی دی ددرجی دښه والی څه فرق نه وی ، بلکه دحکمت اوانصاف په تقاضا سره یی نارینه په دوو وجهو پرښځو باندی حاکمان جوړکړی دی ، اول خودنارینه وو جنس ته دخپل علمی اوعملی کمالاتو په اعتبار سره دښځو پر جنس باندی یوخدای ورکړی ښه والی اولوړوالی حاصل دی، چی ددی حاصلول دښځی دجنس دپاره ممکن نه دی، که چیری یوځای خال خال اتفاقی واقعات وی نودا خبره ځان ته ده ، دوهم داچی دښځو ټول ضروریات پوره کول سړی په خپله ګټه اوخپل مال سره کوی، اولنی سبب خاص دخدای ﷻ ورکړه ده دده په اختیارکی نه ده ، دوهم کسبی او اختیاری دی اوداهم ویل کیدای سی چی دیوه مور اوپلارپه اولادو کی دځینو دحاکم او دځینو دماتحت (محکوم) جوړولو دپاره دعقل او انصاف په بناء سره دوه

Maktaba Tul Ishaat.com

شیان ضروری وه، یو داچی څوك چی حاکم جوړیږی، په ده کی دعلم اوعمل په اعتبار سره دحاکمیّت صلاحیت، دوهم دده پرحاکمیت باندی دمحکوم رضامندی ، نواولنی سبب داخبره په ډاګه کوی چی دحاکمیّت صلاحیت په سړی کی دی، او دوهم سبب دمحکوم (ماتحت) رضامندی، ځکه چی دنکاح په وخت کی کله دخپل مهر اوډوډی اونفقی دذمه واری پر شرط باندی دنکاح اجازت ورکوی، نودا سړی داحاکمیّت منظوروی ، غرض دادی چی دآیت په اوله جمله کی دکورنی نظام یوبنیادی اصول وښوول سول چی که په اکثرو شیانوکی څڅونه برابرهم دی خوبیاهم نارینه لره پرښځی باندی یوحاکمیّت اوښه والیږ حاصل دی اوښځه محکومه اوتابع ده ، تردی بنیادی اصولو لاندی په عملی دنیاکی دښځو دوی طبقی سوی یوه هغه طبقه چاچی ددی بنیادی اصولو اوخپلی معاهدی پابندی وکړه اودسړی حاکمیّت یی ومنی، تابعداره سوه ، دوهمه طبقه هغه ده چی پردی اُصولو باندی ولاړه پاته نه سوه ، نواوله طبقه دکورنی امن اواطمینان په خپله کفالت کوی، دی ته دهیڅ قسم اصلاح حاجت نسته ، ددوهمی طبقی داصلاح دپاره دآیت په دوهمه جُملة کی یوداسی جوړ کړه سوی نظام وښوول سوچی ددی په ذریعه دکور روغوالیږ (اصلاح) په کورکی دننه وسی اودښځی اوخاوند جګړه ددی دواړو په خپل مینځ کی خپره سی ، دیوبل نفرمداخلت کولوته په کی ضرورت را نه سی، په دی کی یی نارینه ووته داسی خطاب وفرمایی چی که په ښځوکی دنافرمانیږ کولو یاحکم نه منلو څه کمی ووینی نوترټولو مخکی ددی پوهولو کوشش وکړی که په دی سره کار وسوخو معامله ختمه سوه، ښځه دګناه څخه اوسړی دزړه دآزار څخه خلاص سو، اوکه په پوهولو سره کارونه سو نو دوهمه درجه داده چی ددی دپوهولواوخپل خفګان دښکاره کولو دپاره په جلا بستره کی پریوزیږ، دایوه معمولی سزا اوښه پوهول دی که په دی سره هم کار ونه سو او دا بیا هم دخپل خوی څخه منع نه سوه ، نوپه دریمه درجه کی یی دمعمولی وهلو هم اجازت ورکی، ددی وهلو حددادی چی ددی پربدن دوهلو څه تاثیر اوزخم ونه سی لیکن ددی دریمی درجی دسزا استعمالول نبی کریم ﷺ نه دی خوښ کړی، بلکه فرمایلی یی دی چی ښه اوشریف خلګ داسی نه کوی ، پرهرحال په دی معمولی وهلوسره هم که معامله برابره سوه نوبیاهم مقصد حاصل سو ، په دی باره کی چی نارینه ووته دښځو دروغولو دپاره دادری اختیارات ورکړه سوی دی ، دلته یی دا هم فرمایلی دی ، فَاِنْ اَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوْا عَلَيْهِنَّ سَبِيْلًا : یعنی که په دی درو خبرو کولوسره دوی ستاسی خبره ومنی ، نو اوس تاسی تردی زیات الزامونه مه ورپوری تړی بلکه سترګی پرپټوی اوښه پوه سی چی الله ﷻ تاسی ته پرښځو باندی لویی درکړی ده نو دالله ﷻ لویی پرتاسی باندی مسلطه ده که تاسی زیاتی وکی نوسزابه یی تاسی خوری

(که جګړه اوږده سي نو دواړه طرف ته دی دخپلولي په فیصله کونکي صلح وکړی)

داخو هغه نظام وچی دکورجګړه په کورکی ختمه سی لیکن ځینی وخت جګړه اوږده سی، ښځه سرکښی کوی اویاسړی بی له وجی سختی کوی، پرهرحال په دی صورت کی دکور خبره دباندی وتل لازمی وی، لیکن دعام عادت مطابق داسی کیږی چی دښځی طرف دار سړی ته او دسړی طرفداری ښځی ته بدی ردی وایی اوالزامونه لګوی اونتیجه یی داسی چی دواړه طرف ته راوپاریږی اوددوو تنو جګړه دخاندانی جګړی صورت اختیار کړی، په دی دوهم آیت کی قرآن کریم ددی لوی فساد ددروازی دبندولو

دپاره دوخت حاکمانو اوددواړو جانبو مشرانو اوطرفدارانو ټولو مسلمانانوته خطاب وکی یوه داسی پاکیزه طریقه یی وښووله چی په دی سره به ددواړو فریقو راپارېدل هم ختم سی اوپریوه اوبل دالزامونو لګولو لاربه هم بنده سی اوددوی په مینځ کی به دصلح لار راووزی، اودکور جګړه که په کورکی ختمه نه سوه ، نو کم ازکم په خاندان کی خوبه ختمه سی ، عدالتونو اوکوڅو بازارونوته خوبه ونه وزی ، اوهغه داچی حکومت یادفریقینو مشران یاعام مسلمانان دی داسی کاروکړی چی ددوی (ښځی اوخاوند) په مینځ کی دی دصلحی راوستو دپاره دی فیصله کونکی مقرر کړی، یودسړی دخاندان څخه بل دښځی دخاندان څخه، اودلته قرآن کریم دحَکَمْ په لفظ راوړلو سره ددی دواړو سړیانو ضروری صفتونه هم وښوول چی په دی دواړوکی دی دجګړو دفیصله کولو صلاحیت موجودوی اوښکاره خبره ده چی دا صلاحیت په هغه سړی کی کیدی سی چی دعلم خاوندوی اودیندار وی .

لنډه دا چی یوحَکَمْ دسړی دخاندان څخه اوحَکَمْ دښځی دخاندان څخه دی مقرر کړی اوپه دی دواړو ښځه اوخاوند پسی دی ولیږی، اوس چی دوی دواړه هلته ولاړسی، نوڅه به کوی اوددوی اختیارات څه دی ؟

قرآن کریم ددی ښوونه نه ده کړی البته په آخرکی یی یوه جُملهِ ارشاد وفرمایله ، اِنْ یُّرِیْدَآ اِصْلَاحًا یُّوَفِّقِ اللّٰهُ بَیْنَهُمَا یعنی که دادواړه روغه راوستونکی دحالاتو برابرولو اوددی دواړو دصلحی راوستو اراده وکړی نو الله ﷻ به د دوی په کارکی کومک وکی او دښځی اوخاوندپه مینځ کی به اتفاق پیداکړی ، ددی جُملی څخه دوی خبری معلومی سوی اوله داکه مصلحت راوستونکی دواړه حَکَمَین په نیك نیت سره وی اوپه زړه سره غواړی چی د دوی صلح وسی نوالله ﷻ به ورسره غیبی کومك وکی او دوی به په خپل مقصد کی کامیابه سی او د دوی په ذریعه به الله ﷻ دښځی اوخاوندپه زړونو کی اتفاق اومحبّت پیداکړی نو ددی په نتیجه کی دا هم ګڼل کیږی چی کوم ځای صلح را نه سی نو دصلحی راوستونکی په یوه طرف کی به داخلاص کمی وی ، دوهمه خبره ددی جملی څخه دا هم معلومیږی چی ددی دواړو صلح راوستونکو لیږلومقصد دښځی او خاوندپه مینځ کی صلح کول دی ، ددی څخه ماسوابل کوم مقصد د دوی په لیږلو کی شامل نه دی، دابله خبره ده چی فریقین راضی سی اودادوړه صلح راوستونکی خپل وکیلان یا ثالثان جوړ کړی اودا ومنی چی تاسی دواړه یوځای سی اوکمه فیصله چی هم زمونږ په حق کی تاسی وکړه مونږته به منظوره وی ، په دی صورت کی به دادواړه روغه راوستونکی ددوی په معامله کی دفیصلی کولو اختیارمند سی که دواړه پرطلاق متفق سی، نوطلاق به وسی اوکه ددواړو اتفاق پرخُلع یابل شی باندی راسی نودسړی دطرفه څخه دورکړه سوی اختیارپر بناء به ښځی لره طلاق ورکړی اوفریقین به یی منی ، په امامانوکی دحسن بصری اوامام ابوحنیفة رحمهما الله تحقیق دا دی (روح المعانی وغیره)

دحضرت علی رضی الله عنه په وړاندی یوه داسی واقعه راغله چی په دی کی هم ددی شهادت موجود دی چی دی دواړو حکمینوته په خپله څه اختیار بغیر دصلح کولو څخه نسته ترڅوچی فریقین دوی ته کلی اختیار ورنه کړی ، دا واقعه په سنن بیهقی کی په روایت دعبیده سلمانی داسی ذکر ده ، یو سړی اویوه ښځه دحضرت علی رضی الله عنه په خدمت کی حاضر سول او ددواړو سره پوره پوره خلګ وه حضرت علی رضی الله عنه حکم وکی چی یوحَکَم دسړی دخاندان څخه اویودښځی دخاندان څخه مقررکړی ، کله چی داحَکَمَین مقرر سول نو

دي دواړو ته يې خطاب وکې چې تاسې پوهيږئ چې ستاسې ذمه واري څه ده اوتاسې لره څه کول په کار دي ؟ واورئ ، که تاسې دواړه ښځه اوخاوندېوځاى کول او د دوى دواړو په مصلحت را وستو باندي متفق سواست نو داسې وکړئ ، اوکه تاسې دا معلومه کړه چې په دوى کې مصالحت نه سي کيدى ياقائم نه سي پاته کيدى اوستاسې ددواړو پردې اتفاق راسي چې ددوى جلاکول ښه دي، نوداسې وکړئ، چې دايي واوريدل نوښځې ووېل چې ماته منظوره ده دې دواړو فيصله کونکوچې دالله ﷻ دقانون مطابق هرڅه فيصله وکړه که زما درضا مطابق وي اوکه خلاف ماته منظوره ده ، ليکن سړي ووېل چې جلاوالى اوطلاق خوزه په هيڅ حال کې نه قبلوم البته دې فيصله کونکو ته دا اختيار ورکوم چې پرما مالي تاوان هرڅومره چې غواړي وادي چوي خودادي راضي کړي، حضرت علي ﷺ وفرمايل چې نه؛ ته به هم دې حَکَمينو ته هم دغسې اختيار ورکوې لکه څنګه چې دې ښځې ورکې .

ددې واقعې څخه ځينو مجتهدينو دامسئله راايستلې ده چې حَکَمين بااختياره کول ضروري دي لکه چې حضرت علي ﷺ فريقينوته ووېل او دوى يې با اختياره جوړ کړل او حضرت امام ابوحنيفة رحمه الله اوحسن بصري رحمه الله فرمايي چې که دحکمينو بااختياره کيدل شرعي کار وي اوضروري وي نو دحضرت علي ﷺ ددې ارشاد اودفريقينو څخه درضا مندې حاصلولو ګرسره ضرورت نه وو، فريقينوته درضا مندي کولو کوشش په خپله ددې خبرې دليل دي چې په اصل کې داحکمين بااختياره نه وي البته که ښځه خاوندته اختيار ورکړي نوبيابه بااختياره سي .

دقرآن کريم ددې تعليم څخه دخلګوپه مينځ کې دجګړو اومقدمو فيصله کولو متعلق ديو نوي باب اضافه وسوه اودا ډيره دفائدې خبره ده چې ددې په ذريعه عدالت او حکومت ته ترسيدو مخکې دډيرو جګړو اومقدمو فيصله دخپلوانو په ثالثي سره کيدى سي (اود عدالتونو اوکچرو دخرڅونو څخه خلګ په خلاصيدى سي، خو هلته چې دقرآن په دې تعليم باندې عمل وسي)

(په نورو جګړو کې دې هم دحَکَم په ذريعه مصالحت کول کيږي)

فقهاؤ حضراتو فرمايلي دي چې په خپل مينځ کې دصلح کولو دپاره ددوو حکمونو دليږلو داتجويز يوازې دښځې او خاوند په جګړو پورې محدودنه دي ، بلکه په نورو جګړوکې هم ددې څخه کار اخيستل کيږي اوپه کار دي چې کار ورڅخه واخيستل سي اوخاص کر چې جګړه دخپلوانو په مينځ کې وي ،څکه چې په عدالتي فيصلوسره وقتي جګړې خوختمې سي ليکن دغه فيصلې په زړونوکې خرالى اودښمنيو جراثيم پريږدي چې وروسته بيادېرپه ناکاره شکلونوکې ښکاره کيږي ، حضرت عمر فاروق ﷺ خپلو قاضيانوته داسې فرمان جاري کړى وو ، چې :

رُدُّوا الْقَضَاءَ بَيْنَ ذَوِي الْاَرْحَامِ حَتّٰى يَصْطَلِحُوْا فَاِنَّ فَصْلَ الْقَضَاءِ يُوْرِثُ الضَّغَائِنَ (معين الحكام ص۲۱۴)

يعنې دقريبانومقدمې اودعوې بيرته دوى ته ورواپس کوئ چې دوى په خپله دوروولي په کومك سره په خپل مينځ کې دصلح صورت راوباسي څکه چې دقاضيانو فيصلې په زړونوکې کينه اودښمني پيداکوي په حنفي فقهاؤ کې قاضي قدس علاؤ الدين طرابلسي په خپل کتاب معين الحكام کې اوابن شحنه په لسان الحكام کې دافاروقي فرمان دداسې خپلولي دفيصلو خاص بنياد جوړکړى دى دکوم په ذريعه چې

دفریقینو په رضا مندی سره دصلح یو صورت راایستلای سی. اوددی سره سره یی داهم لیکلی دی چی
که څه هم دافاروقی فرمان دخپلوانو دجګړو په اړوند دی مګرددی چی کوم علّت اوکوم حکمت په دی
فرمان کی ذکر دی چی عدالتی فیصلی په زړونوکی خړوالی پیدا کوی، داحکمت په قریبانو اوغیر
قریبانو دواړوکی عام دی، ځکه چی په خپل مینځ کی دزړه دبدی اودښمنی څخه عام مسلمانان خلاصول
په کار دی ، په دی وجه دحاکمانو اوقاضیانو دپاره مناسب دادی چی دمقدمو تراوریدو مخکی ددی
کوشش کوی چی په کوم صورت سره ددوی په مینځ کی په رضامندی سره صُلح وسی ، مقصد په دی
دوو آیتونوکی یی دانسان دکورنی اوخاندانی ژوند یوداسی جامع اومکمل نظام ارشاد وفرمایی چی که
په دی باندی پوره عمل وسی نوددنیا اکثره جنګونه اوجګړی به ختمی سی، نارینه اوښځی تول به په ښه
اطمینان سره خپل کورنی ژوندون دیوه جنّت په مثال تیروی اوټول جنګونه اوجګړی به ختمی سی دامن
اوامان ژوندبه سی ، په آخرکی بیاپردی عجیبه اوښایسته قرآنی محکم نظام یوسرسری نظر واچوی کم
چی یی دکورنیو جګړو دختمولو دپاره دنیا ته ورکړی دی .

(۱)دکور جګړه دی په ترتیب واره تدبیرونو سره په کور کی ختمه کړل سی .

(۲)که داسی نه سوای کیدی نوحکیمان یادخپلولی خلګ دی ددوو فیصله کونکو (حَکَمینو) په ذریعه د
دوی په مینځ کی لَج وکړی چی که په کورکی نه وی نو چی په خاندان کی دننه خوجګړه ختمه سی .

(۳)کله چی داهم ونه سی نو په آخرکی دی معامله عدالت ته وړاندی کړی هغه دی د دواړو دحالاتو او
معاملی تحقیق وکړی اوعادلانه فیصله دی وکړی .

(۴)دآیت په آخرکی، اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا خَبِيْرًا یی وفرمایل ، دواړه حَکَمین یی هم خبردار کړل چی تاسی که بی
انصافی یاورانی وکی نو تاسی به هم دیوعلیم اوخبیر سره مخامخ کیږی ، دغه خان ته در په یاد کړی .

وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْـًٔا وَّبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا

او بندګی کوی دالله او مه شریکوی دده سره هیڅوک او دمور وپلار سره نیکی کوئ

وَّبِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبٰى

اودخپلوانو سره اویتیمانو سره اوفقیرانو اوهمسایه ګانو نژدی

وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْۢبِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ۙ وَمَا مَلَكَتْ

اوهمسایګانو پردو او درسره کښینستونکو او مسافرانو سره او د خپل لاس دمال

اَيْمَانُكُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا فَخُوْرَا ۙ (۳۶) الَّذِيْنَ

یعنی غلامانو مینځو سره ، بیشکه الله نه خوښوی لویی کوونکی تکبر کوونکی ، کوم چی

Maktaba Tul Ishaat.com

يَّبۡخَلُوۡنَ وَيَاۡمُرُوۡنَ النَّاسَ بِالۡبُخۡلِ وَيَكۡتُمُوۡنَ مَاۤ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ

بخل کوی او امر کوی خلقو ته دبخل اوپټوی څه چی ده لره ورکړی دی الله

مِنۡ فَضۡلِهٖ‌ؕ وَاَعۡتَدۡنَا لِلۡكٰفِرِيۡنَ عَذَابًا مُّهِيۡنًا ‏﴿۳۷﴾ وَالَّذِيۡنَ

دخپل فضل څخه ، او تیار کړی دی مونږ کافرانو دپاره عذاب دذلت ، او هغه خلق

يُنۡفِقُوۡنَ اَمۡوَالَهُمۡ رِئَآءَ النَّاسِ وَلَا يُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ وَلَا

کوم چی خرڅ کوی مالونه خپل خلقو ته دخان دښوونی دپاره، او ایمان نه راوړی په الله او نه

بِالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ‌ؕ وَمَنۡ يَّكُنِ الشَّيۡطٰنُ لَهٗ قَرِيۡنًا فَسَآءَ قَرِيۡنًا ‏﴿۳۸﴾

په ورځ دقیامت ، او دچا چی ملګری سوی شیطان نو دی دیر ناکاره ملګری دی.

دآیتونو تړون: په دی سورة نسآء کی دشروع څخه تاسی وینی چی په دی کی زیات اهتمام دبندګانو دحقونوسوی دی ، دسورة دشروع څخه تردی ځایه پوری دعامو انسانانو دحقونو دسرسری ذکر کولو څخه وروسته دیتیمانو اوښځو دحقونو ذکر وو اوپه دی کی دکوتاهی کوونکو دپاره دسزا وعده دی اودښځو اوکوچنیانو په باره کی چی کم ظالمانه رواجونه په دنیا کی چلیدل دهغه داصلاح اوبیا دوراثت دحقونو بیان دی، اوس دمور او پلار اونورو خپلوانو اوتعلق دارانو اوهمسایګانو اودعام مخلوق دحقونو څه په تفصیل سره بیان راځی اوکله چی داحقونه په کامله وجه سره هغه سړی اداکولی سی ، چی په الله ﷻ اوپه رسول ﷺ اوپه قیامت محکمه عقیده لری، دارنګه دبخل کبر اوریآء څخه ځان ساتی، ځکه چی داکارونه هم دحقونو په اداکولو کی مانع کیدی سی ، په دی وجه یی په دی آیتونو کی دتوحید (دالله ﷻ دیووالی) ترغیب اوترهیب څه مضمونونه بیان کړل ، او دشرك ، دقیامت څخه دانکار، درسول ﷺ دنافرمانی ، اوبُخل اونورو بیکاره اخلاقو بدوالی یی هم ذکر کی.

لنډتفسیر: اوتاسی دالله ﷻ عبادت اختیارکړی (په دی کی توحیدهم راغی) اوده سره کوم شی (برابره خبره ده که انسان وی اوکه غیرانسان وی، په عبادت کی یادهغه په خاصو صفتونو کی، په عقیده کی) مه شریکوی اود (خپلو) مور اوپلار سره ښه معامله کوی اود (نورو) خپلوانوسره هم اودیتیمانو سره هم، اودغریبانو سره هم، اودنژدی همسایګانوسره هم اودلیری همسایګانو سره هم، اودخپل هم مجلسه سره هم (برابره خبره ده که دغه مجلسی همیشه وی لکه داوږد سفر ملګری یاپه یوه مباح کارکی شریك اوکه عارضی وی لکه دلنډ سفر ملګری یاپه ناڅاپه جلسه کی شریك سوی) اودلاری تلونکی سره هم (برابره خبره ده که ستاخاص میلمه وی اوکه نه) اودهغو (مریانو اومینځو) سره هم کوم چی (شرعًا) ستاسی په مالکانه قبضه کی وی (مقصد دا دی چی ددی ټولو سره معامله کوی چی تفصیل یی په بله موقع شریعت

Maktaba Tul Ishaat.com

بنوولي دي اوكم خلګ چي داحقونه نه اداكوي اكثره ددي خوسبونه دي یاپګنبي تكبروي چي دچاپروا نه ساتي اوهيچاته نه ګوري یابخيلان وي چي چاته يي په يوڅه وركولو سره ساه خيژي اويايي پرنبي كريم ﷺ باندي عقيده نسته چي دده دحكمونو اودحقونو اداكولو دثواب دوعدو اودحقونو په نه اداكولو سره دعذاب وعدي صحيح وګني اوداكفر دي اويادوي عادت دخان بنوولو اونوم پيداكولو وي نوكوم ځاي چي نوم يي بنه كيږي هلته يي وركوي كه څه هم چي حق نه وي، اوكوم ځاي چي يي نوم نه بنه كيږي ، هلته يي دوركولو همّت نه وي كه څه هم حق وي اويادسره د دوي په خداي پاك ﷺ باندي عقيده نسته اويا قيامت نه مني ، اوداهم كفردي، په دي وجه په دي ترتيب سره څوك چي داكارونه كوي ددوي حال هم واوري چي، بيشكه الله ﷺ دداسي خلګو سره محبّت نه ساتي كوم چي (په زړه كي) ځان لوي ګني (په ژبه سره) دلويي خبري كوي كم چي بخل كوي اونورو خلګوته هم دبُخل بنوونه كوي (برابره خبره ده په ژبه سره يا داسي چي نورخلګ دوي ته ګوري نوهغوي هم بخل زده كوي) اودوي هغه شي پټوي كوم چي الله ﷺ دوي ته دخپل فضل څخه وركړي دي (ددي څخه مراد يامال دولت دي چي دحفاظت په وجه نه بلكه يوازي دبخل په وجه يي پټوي چي حقدارن طمع ورڅخه ونكي يامراد ورڅخه ددين علم دي چي يهودوبه درسالت خبري پټولي، نوبخل به عام سي نوپه دي كي بخيلان اودرسالت څخه منكران دواړه راغلل) اومونږ دداسي ناشكرو دپاره (كوم چي دنعمت مال درسول ﷺ دراتلو دنعمت حق ونه پيژني) سپكونكي سزا تياره كړي ده اوكوم خلګ چي خپل مالونه خلګوته دځان بنوولو دپاره خرځوي اوپه الله ﷺ اوپه آخري ورځ (يعني دقيامت په ورځ) عقيده نه لري (ددوي هم دغه حال دي چي دالله ﷺ د دوي سره محبّت نسته) او (خبره دا ده چي) شيطان چي دچاملګري وي (لكه ددي ذكر سوو خلګو چي دي) نو دي د دوي بيكاره ملګري دي (چي داسي مشوره وركوي چي دهغه انجام سخت ضرري وي)

معلومات اومسئلي

(دحقونو تربيان مخكي دتوحيد ذكر ولي دی ؟)

دحقونو ترتفصيل مخكي دالله ﷺ دحكم منلو اوعبادت اودتوحيد (دخداي ﷺ ديووالي) مضمون په دي شان سره ارشاد فرمايي ، وَاعْبُدُوا اللهَ وَلَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا يعني دالله ﷺ عبادت كوي اودهغه سره هيڅوك په عبادت كي مه شريكوي دحقونو تربيان مخكي دعبادت اوتوحيد په مضمون ذكر كولو كي ډيرحكمتونه دي چي په دوي كي يوداوي چي دكوم سړي سره دالله ﷺ بيره اودهغه دحقونو اهتمام نه وي نودهغه څخه به ددنيا دبل چادحقونو اداكولو څه اُميد ودرلودل سي؟ دورور ولي يامعاشري دشرم يادحكومت دقانون څخه دځان خلاصولو دپاره په زړګونو لاري چاري لټوي ، هغه شي كوم چي انسان دانساني حقونو پوره كولوته په پټه او په بنكاره مجبوره كوي، هغه يوازي دالله ﷺ بيره اوتقوا ده او دادخداي ﷺ څخه بيره او تقواپه خداي يوګنلو(يعني توحيد) سره حاصليږي په دي وجه دمختلفوتعلقاتو او قريبانو دحقونو ترتفصيل مخكي دالله ﷺ دتوحيد او دهغه دعبادت ور په يادول مناسب وه .

(ترتوحيد وروسته دمور اوپلار دحقونو ذكر)

تردي وروسته يي ترټولو قريبانو اوتعلق لرونكو مخكي دمور اوپلار دحقونو بيان وكي اوالله ﷺ په

Maktaba Tul Ishaat.com

خپل عبادت اوخپلو حقونو پسی متصل دمور اوپلار دحقونو په بیانولو سره دی طرف ته اشاره وکړه چی په حقیقت کی خو ټول احسانات او انعامات دالله ﷻ دطرف څخه دی ،لیکن دظاهری اسبابو په اعتبار سره چی وکتل سی نو تر الله ﷻ وروسته تر ټولو زیات احسانات پرانسان باندی دده دمور اوپلار دی ځکه چی په عامو اسبابوکی دده دپیدا ایښت سبب دوی دی ، اودپیدا کیدو څخه واخله ترځوانیدو پوری خومره سختی مرحلی چی دی په دی ټولوکی په ظاهری اسبابو سره مور اوپلار دده دوجود اوبیا دده دپرونښت اولوییدو ضامن دی ، په دی وجه په قرآن کریم کی په نورو ځایونو کی هم دمور اوپلار حقونه دالله ﷻ په عبادت پسی متصل بیان سوی دی یو ځای ارشاد دی .

اَنِ اشْكُرْلِیْ وَلِوَالِدَیْكَ ...... یعنی زما شکر ادا کړه او دمور اوپلار شکر ادا کړه . اوپه یو بل ځای کی ارشاد دی

وَاِذْ اَخَذْنَا مِیْثَاقَ بَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ لَا تَعْبُدُوْنَ اِلَّا اللّٰهَ وَبِالْوَالِدَیْنِ اِحْسَانًا ..

اوکله چی واخیسته مونږ وعده دنبی اسرآئیلو څخه چی عبادت مه کوی مګر دیوه الله ﷻ او دمور اوپلار سره نیك سلوك کوی .

په دی دواړو آیتونوکی یی دمور اوپلار په معامله کی دا نه دی فرمایلی چی د دوی حقونه ادا کوی یا د دوی خدمت کوی ، بلکه لفظ داحسان یی راوړی دی چی ددی په عامه معنی کی دا هم داخله ده چی دضرورت مطابق ددوی په نفقه کی خپل مال خرڅوی او دا هم په کی دا خله ده چی څنګه ضرورت وی دهغه مطابق بدنی خدمتونه یی کوی داهم په کی داخله ده چی د دوی سره خبری کوی نو په سخت آواز سره یی مه کوی، چی ددوی بی ادبی په کی ونه سی اوکومه داسی کلمه په خوله مه راوړی چی د دوی زړه ته آزار په ورسیږی او د دوی د دوستانو او تعلق دارانو سره هم کوم داسی سلوك مه کوی چی د دوی زړه په آزاریږی بلکه دوی ته دآرام رسولو اوخوشحاله ساتلو دپاره هرممکن کوشش کوی ، تردی پوری چی که مور او پلار داولاد په حقونوکی کوتاهی هم کړی وی خو بیاهم اولادته دبد سلوکی کولو حق نسته ، حضرت معاذبن جبل ﷺ فرمایی چی ماته نبی کریم ﷺ لس وصیتونه فرمایلی وه ، یو دا چی دالله ﷻ سره شریك مه نیسه که څه هم تاځوك قتل کوی یادی په اورکی سوزی ، دوهم دا چی دخپل مور او پلار نافرمانی یا زړه آزارول مه کوه ، که څه هم هغه درته دا حکم وکړی چی ته خپل اهل اومال پریږده (مسند احمد)

دنبی کریم ﷺ په ارشاداتوکی چی څنګه دمور اوپلار دحکم منلو او د دوی سره دښه سلوك کولو ډیر زور راغلی دی، دغه ډول په کی ددی دبی انتها فضیلتونو او د درجو دثواب هم ذکر دی .

دبخاری اومسلم په یوه حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم سړی دا غواړی چی دده په رزق اوعُمرکی دی برکت وی نوده ته په کاردی چی وصیله رحمی دی ساتی یعنی دخپلو خپلوانو حقونه دی ادا کوی ، دترمذی په یوه روایت کی دی چی دالله ﷻ رضا دپلار په رضاکی ده او دالله ﷻ ناراضه کول دپلار په ناراضه کولوکی دی ، بیهقی په شعب الایمان کی روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم هلك دخپل مور اوپلارحکم منونکی فرمان برداره وی ، دی چی کله خپل مور او پلار ته دعزت او محبت په نظر سره ګوری نو په هریوه نظر سره ده ته دقبول سوی حج ثواب ورکول کیږی دبیهقی په یوه بل روایت کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی ټول ګناهونه الله ﷻ معافوی لیکن

Maktaba Tul Ishaat.com

کوم سړي چې د مور او پلار نافرماني کوي او زړه يې آزاروي دې تر آخرت مخکې په دُنيا کې په قسم قسم آفتونو کې مبتلا کيږي .

(دخپلوانو سره دښه سلوک تاکيد)

په آيت کې تر مور او پلار وروسته دعامو خپلوانو يعنې دټولو قريبانو سره دښه سلوک تاکيد راغلی دی دقرآن کريم يو جامع او مشهور آيت چې نبي کريم ﷺ به اکثره دخپلو خطبو په آخر کې تلاوت کوی ، دا مضمون په دې ډول سره بيانوي ، إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَىٰ (النحل: ۹۰)

يعنې الله ﷻ حکم کوي د ټولو سره د انصاف او ښه سلوك کولو او د قريبانو د حقونو ادا کولو چې په دې کې د قريبانو سره د طاقت مطابق مالي او جاني خدمت کول هم داخل دي او د دوی سره ملاقات او خبر اخيستل يې هم ،حضرت سليمان ابن عامر فرمايي چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې خير او خيرات عامو مسکينانو او فقيرانو ته په ورکولو کې يوازې دخيرات ثواب حاصليږي او که دخپلې وصله رحمې قريب ته يې ورکړي نو دوه ثوابونه يې دي يو دخيرات او صدقې بل دصله رحمۍ، يعنې دقرابت دحقونو دادا کولو ، (مسند احمد ، نسائي، ترمذي)

په ذکر سوي آيت کې يې اول دمور او پلار دحقونو تاکيد وکې او بيا دعامو قريبانو .

ديتيم او مسکين حق: په دريم نمبر کې ارشاد فرمايي وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ ديتيمانو او مسکينانو دحقونو پوره بيان که څه هم دسورة په شروع کې راغلی دی ، ليکن ددې دوباره دقريبانو سره په يادولو کې يې دې طرف ته اشاره وکړه چې دلاوارثه کوچنيانو او بې چاره خلګو کومك کول هم داسې ضروري ګڼې لکه دخپلو قريبانو کومك چې کوی .

دهمسايه حق: په څلورم نمبر کې ارشاد فرمايي ، وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَىٰ او په پنځم نمبر کې ، وَالْجَارِ الْجُنُبِ ، دجار معنې ده همسايه ، په دې آيت کې ددې دوو قسمونو بيان سو ، يو جار ذي القربیٰ ، بل جار جنب ، ددې دوو قسمونو په تشريح او تفسير کې دصحابه کرامو ﷺ قولونه مختلف دي ، عام مفسرين ﷺ وايي چې د جَارِذِي الْقُرْبَىٰ څخه مراد هغه همسايه دې چې ستا دکور سره يې متصل کور وي او د جَارِ جُنُب څخه هغه همسايه مراد دې چې ستا دکور څخه په يو څه فاصله کې وي .

حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمايي چې د جَارِذِي الْقُرْبَىٰ څخه هغه سړی مراد دی چې همسايه هم دی او قريب هم، نو دغه ډول په ده کې دوه حقونه جمع سول، او د جَارِ جُنُب څخه مراد هغه دی چې يوازې همسايه وی، قريب نه وی، په دې وجه دی په درجه کې وروسته سو ، ځينې مفسرين صاحبان فرمايي چې جَارِذِي الْقُرْبَىٰ هغه همسايه دی چې په اسلامي ورور ولۍ کې داخل او مسلمان دی، او جَارِ جُنُب غير مسلمان همسايه دی دقرآن الفاظ دا ټولې معناوې راشاملوی او دحقيقت په اعتبار سره هم په درجه کې فرق کيدل عقل منی ، او دهمسايه دقريب کيدو او نه قريب کيدو په اعتبار سره هم او دمسلمان او نه مسلمان کيدو په اعتبار سره هم ، او پر دې دټولو اتفاق دی چې همسايه نژدې وی او که ليرې، قريب وی او که غير قريب، مسلمان وی او که غير مسلمان، پرهر حال دده حق سته پر قدر دطاقت دده کومك او خبر اخيستل لازمي دي .

البته دچا حق چې په همسايه توب سربيره بل هم وی، هغه تر نورو همسايګانو په درجه کې مخ ته دی ، په

یوه حدیث کی په خپله نبی کریم ﷺ دا خبره واضحه کړی ده فرمایی چی ، ځینی همسایګان هغه دی چی دهغو یوازی یوحق دی ، ځینی هغه دی چی دهغو دوه حقونه دی ، ځینی هغه دی چی دهغو دری حقونه دی ، یو حق والا همسایه هغه غیر مسلمان دی چی قرابت ورسره نه وی ، دوو حقونو والا همسایه هغه دی چی همسایه هم وی اومسلمان هم وی، درو حقونو همسایه هغه دی چی همسایه هم وی، مسلمان هم اوقریب هم (ابن کثیر)

دنبی کریم ﷺ ارشاد دی چی جبرآئیل امین همیشه ماته دهمسایه سره دکومك تاکید کوی تردی چی زما داګمان سوی دی چی شاید همسایه هم دقریبانو په ډول سره په میراث کی شریك سی ، (بخاری اومسلم) دترمذی اومسند احمد په یوه روایت کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دیوی محلی په خلګو کی دالله ﷻ په نزد ترټولو ښه او بهتر هغه سړی دی چی دخپلو همسایګانو په حق کی ښه وی ، دمسند احمد په یوه حدیث کی دی چی یوه همسایه ته په ماړه نس خوراك جائزنه دی ترهغه چی دده همسایه وږی وی

دملګری حق: په شپږم نمبرکی ارشادفرمایی ، وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ ددی لفظی معنی ده (دطرف ملګری) چی دسفر ملګری هم په کی دا خل دی ، چی په اورګاډی ، طیاره بس اوبل شی کی ستاطرف ته ناست وی او هغه سړی هم په کی دا خل دی چی په یوه عام مجلس کی ستا خواته ناست وی ، اسلامی شریعت لکه څنګه چی دنږدی اولیری همیشنیو همسایګانو حقونه واجب کړی دی، دغه ډول یی دهغه سړی حق هم واجب کی کوم چی دلږ وخت دپاره په یوه مجلس یاسفر کی ستا طرف ته ناست وی، چی په دی کی مسلمان او غیر مسلمان ، قریب او غیر قریب ټول برابردی ، د دوی سره یی هم دښه سلوك کولو ښوونه وفرمایله چی ادنی درجه یی دا ده چی ستادکمی خبری یاکار څخه ده ته کوم آزار ونه رسیږی ، مثلاً چی سګریټ څکوی نوچی دودیی دهغه دمخ طرفته وریُف نه کړی ، پان خوری چی پوځ تَل یی دهغه طرف ته تُف نه کړی ، داسی دی نه کښینی چی په هغه ځای تنګ کړی .

دقرآن کریم په دی هدایت که خلګ عمل شروع کړی نو د اورګاډو دمسافرانو ټولی جګړی به ختمی سی، هر سړی دی په دی خبره ځان پوه کړی چی ماته یوازی دیوه تن دځای حق دی ، تردی دزیات ځای نیولو حق می نسته ، په دی اورګاډی کی چی بل څوك زما په خواکی دی، دهغه هم دومره حق دی څومره چی زما دی ، ځینی مفسرین صاحبان فرمایی چی په صاحب بالجنب کی هرهغه سړی داخل دی کوم چی په څه کار یاپه کسب کی ستاسره شریك دی، کاریګری ، مزدوری ، ددفتر نوکری ، په سفرکی ، په کور او کلی کی دا ټول په کی دا خل دی او دټولو حق دملګرتیا سته (روح المعانی)

دمسافر حق: په اووم نمبر باندی ارشاد فرمایی ، وَابْنَ السَّبِيْلِ یعنی په لاره تلونکی مسافر ، ددی څخه مراد هغه سړی دی چی دسفرپه دوران کی تاسی ته راسی، یاستاسی میلمه سی ، کله چی ددی نااشنا سړی دلته څوك پیژندګلوی والانه وی ، نو قرآن دده داسلامی، بلکه دانسانی تعلق په وجه دده حق هم پرتاسی لازم کی چی پرقدر دطاقت دده سره ښه سلوك کوی .

(دمینځو، مریانو اودنوکرانو حق)

په اتم نمبرکی ارشاد فرمایی ، وَمَامَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ددی څخه مراد مِلکِیَتی مریان اومینځی دی د دوی یی هم

Maktaba Tul Ishaat.com

دا حق لازم کی چی ددوی سره دښه سلوک معامله کوئ ، دطاقت مطابق د دوی په خوراك چیښاك اوجامه کی کوتاهی مه کوی اومه د دوی ترطاقت زیات کار په دوی ورا پروی ، که څه هم دآیت دالفاظو صحیح دلالت په مریانو اومینځوباندی دی ، لیکن دعلت دشریکوالی اودنبی کریم ﷺ دارشاداتو په بناء باندی دا حکمونه په نوکرانو اوخادمانو هم حاوی دی ، د دوی هم دا حق دی چی په مقرره تنخواه او خوراك اوچیښاك او نورو ورکولوکی بخل مه کوی او وخت مه اړوی ، او د دوی تر طاقت زیات کار په دوی مه اچوی .

(په حقونوکي کوتاهي هغه خلک کوی چې په زړونوکي يې تکبّر وی)

دآیت په آخرکی یی ارشاد وفرمایی ، اِنَّ اللّٰهَ لَایُحِبُّ مَنْ کَانَ مُخْتَالاً فَخُوْرًا یعنی الله ﷻ داسی سړی نه خوښوی چی مُتکبره وی اوپه خلګو باندی ځان لوړګنی ، دآیت دا آخری جُملة دتیرو ټولو بیانونو تکمله ده چی په تیرو اتو قسمونو خلګو کی دکومو دحقونو دپوره کولو چی تاکید سویٰ دی په دی کی هغه خلک کوتاهی کوی دچاپه زړونوکی چی تکبّر او فخر غرور دی ، الله ﷻ دی ټول مسلمانان ددی څخه په امان کړی ، دتکبّر اودجاهلیت دفخر دسزا دوعدی په باره کی ډیر احادیث راغلی دی .

عَنْ اِبْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لاَ یَدْخُلُ النَّارَ اَحَدٌ فِیْ قَلْبِهٖ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ مِّنْ اِیْمَانٍ وَلاَ یَدْخُلُ الْجَنَّةَ اَحَدٌ فِیْ قَلْبِهٖ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ مِّنْ کِبْرٍ (مشکوٰة ص ۴۳۳)

دحضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی هغه سړی به جهنّم ته (دهمیشه دپاره) نه ځی دچاپه زړه کی چی دسپلنی ددانی برابر ایمان وی اوجنّت ته به داسی یوسړی داخل نسی دچاپه زړه کی چی دسپلنی ددانی برابر تکبّر وی . ... په یوه بل حدیث کی دتکبّر تعریف هم ذکر دی.

عَنْ اِبْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لاَ یَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ کَانَ فِیْ قَلْبِهٖ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ مِّنْ کِبْرٍ فَقَالَ رَجُلٌ اِنَّ الرَّجُلَ یُحِبُّ اَنْ یَّکُوْنَ ثَوْبُهٗ حَسَنًا وَنَعْلُهٗ حَسَنًا قَالَ اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰی جَمِیْلٌ یُّحِبُّ الْجَمَالَ اَلْکِبْرُ بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْطُ النَّاسِ (مشکوٰة ص ۴۳۳)

دحضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی جنت ته به هغه سړی داخل نه سی دچاپه زړه کی چی یوه ذره تکبّروی په حاضرینوکی یوه سړی سوال وکی چی خلګ غواړی چی ددوی جامی ښی وی د دوی څپلی ښی وی (نودا هم تکبر دی ؟) ده وفرمایل چی (ځان ښایسته کول تکبرنه دی ځکه) چی خدای ﷻ ښائسته دی اوښائسته خوښوی ، تکبّر حق ردول دی اوخلګ ذلیل ګڼل دی .

تردی وروسته په اَلَّذِیْنَ یَبْخَلُوْنَ کی بیان دی چی کوم خلګ تکبر کونکی وی دوی په واجبو حقونوکی هم بخل کوی خپلی ذمه واری خپله پیژنی او نورو خلګو ته هم ددی بیکاره صفت اختیارولو ترغیب ورکوی په آیت کی دبُخل لفظ راغلی دی چی په عام عُرف کی دمال نه لګولو اوساتلو دپاره استعمالیږی ، لیکن دآیت دشانِ نزول څخه معلومیږی چی دلته دبخل لفظ په عامه معنی کی استعمال سوی دی چی دمال بخل اودعلم بخل دواړو لره شامل دی :

حضرت ابن عباس ﷺ دروایت څخه معلومیږی چی دا آیت دمدینی دیهودو په حق کی نازل سوی وو ، دوی ډیر مغروره وه دپای درجی بخیلان وه ، په مال خرڅولوکی به یی هم بخل کوی اوهغه علم به یی پټوی کم چی دوی دخپلو الهامی کتابونو څخه حاصل کړی وو ، په دی کتابونوکی دنبی کریم ﷺ دراتلو

Maktaba Tul Ishaat.com

زيرى وو اودده ﷺ دنبناو ذکر هم په کی وو ، ليکن يهودو په دی تولو ديقين کولو ځخه وروسته هم دبُخل ځخه کار واخيستی نه يی په خپله په دی علم باندی عمل وکی اونه يی نوروته وښووی چی هغو عمل په کړی وای مخ ته يی وفرمايل چی داسی خلک کوم چی دالله ﷻ په ورکړی مال دولت کی هم بُخل کوی اودعلم اوايمان په معامله کی هم بخيلان دی، داخلک دالله ﷻ دنعمت ناشکره دی او د دوی دپاره سپکونکی عذاب تيارسوی دی، دخرڅ کولو دښه والی اودبُخل دبدوالی په باره کی نبی کريم ﷺ فرمايی

عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ ؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَامِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيْهِ اِلاَّ مَلَكَانِ يَنْزِلَانِ فَيَقُوْلُ اَحَدُهُمَا اَللّٰهُمَّ اَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا وَيَقُوْلُ الاٰخَرُ اَللّٰهُمَّ اَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا (بخاری اومسلم)

دحضرت ابو هريره ؓ ځخه روايت دی چی نبی کريم ﷺ فرمايلی دی دهرسهار په وخت کی دوی ملائکی نازليږی په دوی کی يوه داوايی چی ای الله ﷻ ! دنيکی په لاره کی خرڅ کوونکی ته ښه بدله ورکی اوبله وايی ای الله ﷻ ! دبخيل مال اودولت تباه او برباد کړی .

عَنْ اَسْمَاءَ ؓ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَنْفِقِیْ وَلاَ تُحْصِیْ فَيُحْصِیَ اللّٰهُ عَلَيْكِ وَلاَ تُوْعِیْ فَيُوْعِیَ اللّٰهُ عَلَيْكِ وَارْضَخِیْ مَا اسْتَطَعْتِ (بخاری اومسلم)

دحضرت اسمآء ؓ ځخه روايت چی نبی کريم ﷺ فرمايلی دی ای اسمآء ! دنيکی په لاره کی خرڅ کوه اوپه شميرلو يی مه ورکوه ، که نه وی نوالله ﷻ به هم ستاپه باره کی شميرل شروع کړی او دخرڅ کولو ځخه دځان ساتلو دپاره ډير زيات حفاظت مه کوه، که نه وی نو الله ﷻ به هم حفاظت کول شروع کړی ، اوکم ازکم څومره چی ستا ځخه کيدی سی خرڅ کوه منع کوه يی مه .

عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ ؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلسَّخِیُّ قَرِيْبٌ مِّنَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ مِّنَ الْجَنَّةِ قَرِيْبٌ مِّنَ النَّاسِ بَعِيْدٌ مِّنَ النَّارِ، وَالْبَخِيْلُ بَعِيْدٌ مِّنَ اللّٰهِ بَعِيْدٌ مِّنَ الْجَنَّةِ بَعِيْدٌ مِّنَ النَّاسِ قَرِيْبٌ مِّنَ النَّارِ، وَالْجَاهِلُ سَخِیٌّ اَحَبُّ اِلَی اللّٰهِ مِنْ عَابِدٍ بَخِيْلٍ (ترمذی)

دحضرت ابوهريرة ؓ ځخه روايت دی چی نبی کريم ﷺ فرمايلی دی سخی الله ﷻ ته هم نژدی دی ، جنت ته هم نژدی دی ، خلکو ته هم نژدی دی ، او د دوږخ ځخه ليری دی ، اوبخيل دالله ﷻ ځخه هم ليری دی ، دجنت ځخه هم ليری دی ، دخلکو ځخه هم ليری دی ، او د دوږخ اورته نژدی دی ، اوجاهل سړی چی سخی وی (اوفرض اداکوی اودحرامو ځخه ځان ساتی) ترهغه بخيل ښه دی چی عبادت ګذاره وی .

عَنْ اَبِیْ سَعِيْدٍ ؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خَصْلَتَانِ لاَ تَجْتَمِعَانِ فِیْ مُؤْمِنٍ اَلْبُخْلُ وَسُوْءُ الْخُلُقِ (ترمذی)

دحضرت ابوسعيد ؓ ځخه روايت دی چی نبی کريم ﷺ فرمايلی دی دوه عادتونه په مؤمن کی نه سی جمع کيدی ، بخل اوبد اخلاقی .

په وَالَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ سره يی دتکبر کوونکو يوبل صفت وښووی، چی داخلک دالله ﷻ په لاره کی په خپله هم خرڅ نه کوی او نوروته هم دبخل ترغيب ورکوی البته خلکوته دځان ښوولو دپاره خرڅ کوی اوکله چی داخلک په الله ﷻ اوپه ورځ دآخرت ايمان نه لری ، په دی وجه دالله ﷻ درضا اودآخرت دثواب په نيت سره دخرڅ کولو خو ګر سره پوښتنه نه پيدا کيږی ، داسی خلک دشيطان ملګری دی ، نو په دی وجه د دوی انجام به هم هغه وی کوم چی دشيطان وی ځکه چی دوی دهغه ملګری سول ، ددی آيت ځخه معلومه سوه چی لکه ځنګه چی په واجبو حقونو کی کوتاهی کول بخل کول عيب اونقصان دی، دغه ډول

کوم خلک چي دخان ښوولو دپاره او په بې مقصده خايونو کې خرڅونه کوي، دا هم ډير بيکاره دي ، هغه خلک چي خالص دالله ﷻ دپاره نه بلکه خلګو ته دخان ښوولو دپاره نيکي کوي ، دهغوی عمل دالله ﷻ په نزد قبول نه دی او په حديث کې يې دی ته شرك ويلی دی .

عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ قَالَ اللهُ تَعَالٰى اَنَا اَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ مَنْ عَمِلَ عَمَلًا اَشْرَكَ فِيْهِ مَعِيْ غَيْرِيْ تَرَكْتُهُ وَشِرْكَهُ ، د ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي نبی کريم ﷺ فرمايلي دي الله ﷻ فرمايي چي زه دشرك څخه بالکل بيزاره يم، کوم سړی چي څه نيك عمل کوي او په دی کې زما سره بل څوك هم شريکوي نو زه دغه عمل دده دغه شريك ته پاته کوم او دی هم پاته کوم چي دی پوه سی او شرك يې پوه سی .

وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ اَوْسٍ ﷺ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ مَنْ صَلّٰى يُرَآئِيْ فَقَدْ اَشْرَكَ وَمَنْ صَامَ يُرَآئِيْ فَقَدْ اَشْرَكَ، وَمَنْ تَصَدَّقَ يُرَآئِيْ فَقَدْ اَشْرَكَ (احمد په حواله دمشکوٰة)

دشداد بن اوس ﷺ څخه روايت دی ، دی وايي چي ماد نبی کريم ﷺ څخه اوريدلی دی چاچي لمونځ وکی دخان ښوونی دپاره نوده شرك وکی ، چاچي روژه ونيوله دخان ښوونی دپاره نوده شرك وکی، او چاچي څه صدقه ورکړه دخان ښوونی دپاره نوده شرك وکی .

عَنْ مَحْمُوْدِ بْنِ لَبِيْدٍ ﷺ اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ اِنَّ اَخْوَفَ مَا اَخَافُ عَلَيْكُمُ الشِّرْكُ الْاَصْغَرُ قَالُوْا يَارَسُوْلَ اللهِ ﷺ وَمَا الشِّرْكُ الْاَصْغَرُ قَالَ الرِّيَآءُ (احمد په حواله دمشکوٰة)

دمحمود بن لبيد ﷺ څخه روايت دی چي نبی کريم ﷺ فرمايلي دي ستاسی په اړوند زما ډيره بيره دکوچنی شرك کولو په باره کې ده ، صحابه وو ﷺ پوښتنه وکړه کوچنی شرك څشی دی؟ده ﷺ وفرمايل چي کوچنی شرك ريآء ده .
اوبيهقي په روايت کې دا اضافه ده چي دقيامت په ورځ چي کله دنيکو عملونو ثواب تقسيميږي نو الله ﷻ به دی رياکارانو ته وفرمايي . دهغه خلګو خواته ولاړسی ، کومو ته دښوونی دپاره چي په دُنيا کې تاسی نيك عمل کوی او وګوری چي آيا ستاسی دنيکو عملونو ثواب دهغوی سره سته .

وَمَاذَا عَلَيْهِمْ لَوْ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ

او څه نقصان به وو د دوی که ايمان يې راوړی وی په الله او په ورځ دقيامت

وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ بِهِمْ عَلِيْمًا ۝۳۹ اِنَّ اللّٰهَ

او خرڅ کولی يې دالله د ورکړو څخه ، او الله د دوی څخه ښه خبر دی ، بيشکه الله

لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ ۚ وَاِنْ تَكُ حَسَنَةً يُّضٰعِفْهَا وَيُؤْتِ

ظلم نه کوي ديوې ذرې مقدار که نيکي وي نو هغه دوه چنده کوي او ورکوي

مِنْ لَّدُنْهُ اَجْرًا عَظِيْمًا ۝۴۰ فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ

دخپل طرف څخه لوی ثواب ، بيا څه حال به وي هرکله چي را وغواړو مونږ دهر امت څخه

بِشَهِيْدٍ وَّجِئْنَا بِكَ عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ شَهِيْدًا ﴿۴۱﴾ يَوْمَئِذٍ يَّوَدُّ الَّذِيْنَ

حال بیا نوونکی او را وغواړو تا ته پہ دی خلقو باندی حال ویونکی ، پہ دغه ورځ بہ آرزو وکړی

كَفَرُوْا وَعَصَوُا الرَّسُوْلَ لَوْ تُسَوّٰى بِهِمُ الْاَرْضُ ۭ وَلَا يَكْتُمُوْنَ اللّٰهَ حَدِيْثًا ﴿۴۲﴾

هغه خلق چی کافران دی اودرسول ﷺ نافرمانی یی کړی ده چی برابرسوی دمځکی سره اونه به سی پټولی دالله څخه څه خبره

دآیتونو تړون : تردی پہ مخکی آیتونوکی دخدای ﷻ څخه دانکار او دآخرت څخه دانکار او دبخل اونورو بدوالی ذکر وو او پہ دی آیتونوکی پہ خدای ﷻ او پہ آخرت باندی دایمان اودالله ﷻ پہ لاره کی دخرڅ کولو ترغیب ذکر دی اوپہ آخرکی یی دحشر پہ میدان کی د دریدونکو ذکر وکی د دوی دبیکاره انجام څخه یی دوی وبیرول کوم خلګ چی ایمان نہ راوړی اونیك عمل نہ کوی.

لنډتفسیر: اوپہ دوی بہ څه مصیبت نازل سی کہ دا خلګ پہ الله ﷻ اوپہ ورځ آخره (یعنی قیامت) باندی ایمان راوړی اوالله ﷻ چی دوی ته څه ورکړی دی دهغه څخه یوڅه (پہ اخلاص سره) خرڅوی (یعنی هیڅ نقصان پہ کی نستہ ، بلکہ سراسر فآئده اونفع ده) اوالله ﷻ د دوی (ښه اوبد) ښه پیژنی (نوپہ ایمان اودخدای ﷻ پہ لاره کی پہ خرڅولو بہ ورلره ثواب ورکړی اوپر کفر اونورو بہ عذاب) بیشکه الله ﷻ بہ دیوی ذرّی پہ قدرهم ظلم ونہ کړی (چی دچا ثواب کم کی یاورلره بی وجهی عذاب ورکړی چی دا خو ښکاره ظلم دی) او (بلکه هغه خوداسی رحیم دی چی) کہ یوه نیکی وی نوهغه بہ څوچنده کړی (ثواب بہ ورکړی لکه چی پہ نورو آیتونوکی یی وعده ذکرده) او (پردی وعده کړه سوی ثواب سربیره) دخپل طرف څخه (بی لہ بدلی څخه دعمل پہ ډول دانعام) لوی اجر (جلا) ورکړی نوهغه وخت بہ هم څه حال وی کله چی دهریوه اُمّت څخه یویو شاهد حاضر کړو اوتا پر دی خلګو باندی (دکومو چی ستاسره واسطه راغلی ده) دشاهدی ورکولو دپاره حاضر کړو (یعنی کومو خلګوچی دخدای ﷻ حکمونه پہ دنیاکی نہ وی منلی ، دهغوی ددعوی دپیشی پہ وخت کی بہ پہ ډول دحکومتی شاهد دانبیاو علیهم السلام څخه بیانونه اوریدل کیږی چی کومی معاملی د دوی پہ موجودګی کی سوی وی ټولی ښکاره کړی ، تردی شاهد وروستہ بہ پہ مخالفینو جرم ثابت سی ، سزابه ورکول کیږی، لوړیی فرمایلی وه چی پہ دغه وخت کی بہ څه حال وی، مخ ته اوس ددغه حال بیان فرمایی چی) پہ دغه ورځ (بہ دا حال وی چی) کوموخلګوچی (پہ دنیاکی) کفرکړی وی اودرسول ﷺ خبره یی نہ وی منلی هغوی بہ ددی خبری آرزو کوی چی کاشکی (داوخت) موږ دمځکی سره پیوند سوی وای (چی ددی رُسوایی اوآفت څخه محفوظ سو) آو (پہ شاهدی سربیره بہ پہ خپله هم اقراری مجرمان وی څکه چی) دالله ﷻ څخه یوه خبره (کومه چی ورڅخه پہ دنیاکی سوی وی) بہ پټه نہ کړل سی (نو د دواړو طرفو څخه بہ پہ دوی جُرم ثابت سی اوسزابه پہ جاری کړل سی)

معلومات اومسئلي : پہ اولنی آیت کی یی وفرمایل ، وَمَاذَا عَلَيْهِمْ لَوْ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ یعنی دوی ته بہ څه تاوان ورسیږی اوڅه مصیبت بہ پر راولویږی کہ داخلګ پہ الله ﷻ اوپہ آخرت ایمان راوړی اودالله ﷻ دورکړی مال څخه خرڅ کوی ، دا ټول آسان کارونه دی ددی کارونو پہ اختیارولوکی هیڅ تکلیف نستہ نوبیا ولی

Maktaba Tul Ishaat.com

دوی نافرمانی کوی او خپل آخرت تباه کوی ، تردی وروسته یی وفرمایل: اِنَّ اللّٰهَ لَا یَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ یعنی الله ﷻ دهیڅا دنیك عمل په ثواب کی او په بنه جزاء کی دذرّی په قدر کمی هم نه کوی بلکه دخپل طرفه څخه دی په دی کی نور زیاتی کوی او دآخرت ثواب به ورته په څوڅو چنده زیات ورکوی او دخپل طرفه څخه به ورته لوی ثواب ورکړی ، دالله ﷻ په نزد دثواب لږ تر لږه اندازه دا ده چی دیوی نیکی په ځای لس لیکل کیږی ، او په دی سربیره په مختلفو بهانو سره څوڅو چنده یی زیاتوی داحادیثو درروایتونو څخه معلومیږی چی یوڅه عملونه داسی دی چی ثواب یی شل لکه چنده زیاتیږی ،او دالله ﷻ ذات خوکریم ذات دی هغه یی په خپل بی انتها رحمت سره دومره زیات ثواب ورکوی چی په حساب او شمیر کی هم نه سی راتلی ، وَاللّٰهُ یُضٰعِفُ لِمَنْ یَّشَآءُ هغه لوی اجربه څه په تصوّر کی راسی کوم چی درب العزت د دربار څخه ورکول کیږی ، وَیُؤْتِ مِنْ لَّدُنْهُ اَجْرًا عَظِیْمًا او ورکوی دخپل طرف څخه اجر ډیر لوی .

په آیت کی چی کوم لفظ د ذَرَّةٍ راغلی دی ، ددی یوه ترجمه خومعلومه ده چی مخکی تیره سوه او ځینی حضرات وایی چی ذرّه ترټولو کوچنی سور رنګه میږی (سورکی میږی) ته ویل کیږی ، عربو به دکم اوسپك شی دپاره په طور دمثال دی پیش کوی .

فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ : سره یی دآخرت دمیدان دحشر نقشه وړاندی کړه او دقریشو کافرانو ته زورنه هم ورکوی ، ددغه خلګوبه څه حال وی کله چی دحشرپه میدان کی دهر یوه اُمّت نبی دخپل اُمّت پر نیکو اوبدو عملونو باندی په طور دشاهد پیش سی اوتاسی ﷺ به هم په ډول دشاهد په خپل اُمّت باندی حاضرکړل سی ، اوخاص کر ددی کفارو اومشرکانوپه باره کی په خدایی عدالت کی شاهدی ورکړی چی دوی ښکاره معجزی لیدی اوبیایی هم ورته درواغ ویل اوستا په یووالی اوزما په پیغمبری یی ایمان رانه وړی ، په بخاری شریف کی روایت دی چی نبی کریم ﷺ عبد الله ابن مسعود ﷛ ته وفرمایل چی ماته قرآن واوروه، حضرت عبد الله ﷛ عرض وکی چی تاسی زما څخه اوریدل غواړی ؟ حال دا دی چی قرآن خوپرتاسی نازل سوی دی نو ده وفرمایل چی هو! وایه، مادسورة نسآء تلاوت شروع کی اوکله چی فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ آیت ته ورسیدم نوده وفرمایل چی اوس یی بس کړه ، اوکله چی ماده ته وکتل نو دسترګو مبارکو څخه یی اوښکی روانی وی ، علامه قسطلانی لیکی چی نبی کریم ﷺ ته په دی آیت سره دآخرت نقشه راوړاندی سوه او دخپل اُمّت دهغه خلګو په باره کی یی خیال پیدا سو کوم چی په عملونو کی کوتاهی کوی یایی نه کوی ، په دی وجه یی اوښکی مبارکی روانی سوی .

فائده : ځینی حضرات فرمایی چی د هٰٓؤُلَآءِ اشاره درسالت په زمانه کی دموجودو کفارو او منافقانو وطرف ته ده او ځینی فرمایی چی ترقیامته پوری دټول اُمّت طرف ته اشاره ده ځکه چی دځینو روایتونو څخه معلومیږی چی داُمّت عملونه ده ته پیش کیږی .

په هرحال ددی څخه معلومه سوه چی دتیرو امتونو پیغمبران به پرخپل خپل اُمّت په ډول دشاهد پیش کیږی اودی به هم دخپل اُمّت دعملونوشاهدی ورکوی ،دقرآن کریم ددی طرز څخه معلومیږی چی تردوی وروسته بل نبی راتلونکی نسته چی دخپل کوم اُمّت په اړوند شاهدی ورکړی که وای نو په قرآن شریف کی به دهغه دشهادت ذکر هم وای ، په دی اعتبار سره دا آیت دختم نبوت دلیل هم دی .

په يَوْمَئِذٍ يَّوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا كي دآخرت په ميدان كي دكافرانو دبدحالي ذكر دي چي داخلګ به دقيامت په ورځ غوښتنه وكړي چي كاشكي مونږ دمځكي سره پيوند سوي واى، كاشكي مځكه چاودلي اومونږ پكښي ننوتلي اوخاوري سوي واى اوددي وخت ددي سوال جواب اوعذاب څخه خلاص سوي واى ، په ميدان دحشركي چي كله كفار ويني چي ټول حيوانان ديوه اوبل څخه تربدل اخيستو وروسته خاوري سول نودوي به ارمان او آرزو وكړي چي كاشكي مونږ هم خاوري سوي واى لكه چي په سورة نبآء كي فرمايي: وَيَقُوْلُ الْكَافِرُ يٰلَيْتَنِيْ كُنْتُ تُرٰبًا ، په آخركي يي وفرمايل: وَلَا يَكْتُمُوْنَ اللّٰهَ حَدِيْثًا يعني داكفاربه دخپلو عملونو اوعقيدوپه اړوند هيڅ شي پټ نه كړل سي ددوي خپل لاسونه اوپښي به اقرار وكړي پيغمبران عليهم السلام به شاهدي وركړي اوپه عملنامو كي به يي هم هرڅه موجود وي ، دحضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه پوښتنه وسوه چي په قرآن شريف كي يوځاى ارشاددي چي كفار به هيڅ هم پټ نه كړل سي ، اوبل ځاى داسي دي چي دوي به قسم وخوري اووبه وايي ، وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ چي مونږشرك نه دي كړي ، په ظاهره خو په دي دواړو آيتونو كي ټكر دي ؟ نوده جواب وركړى چي داسي به وسي چي كله په شروع كي كفار دا ويني چي دمسلمانانو څخه ماسوا بل څوك كرسره جنت ته نه سي تلي نو دوي به ووايي چي اوس مونږ له دشرك او دخپلو بدوعملونو څخه انكاركول په كاردي كيدى سي چي په داسي كولو سره به مونږ نجات پيداكو ليكن تردي انكار وروسته به په خپله ددوي اندامونه ددوي پرخلاف شاهدي وركړي اودپټولو كم مقصدچي دوي جوړكړي وو، په دي كي به بالكل ناكامه سي، دغه وخت به ټول اقرار وكړي څكه فرمايي ، وَلَا يَكْتُمُوْنَ اللّٰهَ حَدِيْثًا هيڅ به پټ نه كړل سي .

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ

اى ايماندارو ! مه نژدى كيږئ لمانځه ته كوم وخت چي تاسى ١

سُكٰرٰى حَتّٰى تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ وَلَا جُنُبًا اِلَّا عَابِرِيْ سَبِيْلٍ

په نشه كي ياست تردي چي پوه سي چي تاسى څه واياست او نه په هغه وخت كي چي دغسل حاجت وي مګر كه په لاري

حَتّٰى تَغْتَسِلُوْا ؕ وَاِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰٓى اَوْ عَلٰى سَفَرٍ اَوْ جَآءَ اَحَدٌ

ځي ترهغه چي غسل وكړي او كه تاسى مريضان ياست يا په سفر كي ياست يا راغلى دي په تاسى

مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَآئِطِ اَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ فَلَمْ تَجِدُوْا مَآءً

كي يوتن د اودس ماتي څخه يا ورغلي ياست ښځو له بيا نه پيداكوى تاسى اوبه

فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ وَاَيْدِيْكُمْ ؕ اِنَّ

نو اراده كوى دمځكي پاكي بياراكښوى په خپلو مخونو او لاسونو بيشكه

Maktaba Tul Ishaat.com

اللّٰہَ كَانَ عَفُوًّا غَفُوْرًا ﴿۴۳﴾
الله دی معاف کوونکی بخښونکی والا.

دآیتونو ترون: په ترمذی کی دحضرت علی ﷺ داواقعه ذکرده چی دشرابو ترحراموالی مخکی یووخت حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ ځینوصحابه کرامو ﷺ ته میلمستیاکړی وه چی په هغه کی دشرابو انتظام هم وو کله چی دی ټولو حضراتو خوراك اوڅیښاك وکی نو دماښام دلمانځه وخت سو اوحضرت علی ﷺ یی امام کی ددہ ځخه په لمانځه کی دقُلْ یٰاَیُّهَاالْکَافِرُوْنَ په تلاوت کی دنشی په وجه سخته غلطی وسوه په دی باندی دا آیت نازل سو او په دی کی یی ددی خبرداری ورکی چی دنشی په حالت کی دی لمونځ نه کول کیږی.

تفسیر: ای ایماندارانو! تاسی لمانځه ته هم په داسی حالت کی مه ځی (یعنی په داسی حالت کی لمونځ مه کوی) چی تاسی په نشه کی یاست تردی چی تاسی پوه سی چی په خولی سره څه وایاست (تردغه وخته پوری لمونځ مه کوی مطلب دادی چی دلمانځه اداکول خوپه خپلو وختونوکی فرض دی، اوداحالت دلمانځه سره منافی دی ، نو دلمانځه په وختونوکی دنشی استعمال مه کوی چی ستاسی دخولی ځخه په لمانځه کی خلافه کلمه ونه وزی) اوپه حالت دجنابت کی هم (یعنی کله چی غسل درباندی فرض سی) ماسوادددی ځخه چی تاسی دسفرپه حالت کی یاست (چی ددی حکم نژدی راروان دی ، لمانځه ته مه ورځی) تردی چی غسل وکی (یعنی دجنابت غسل دلمانځه دصحیح کیدو دپاره شرط دی اودا حکم یعنی ترجنابت وروسته بغیر دغسل ځخه لمونځ نه کول په حالت دعذر دنیستی والی کی دی) اوکه تاسی (کوم عذر لری مثلاً) ناجوړی (او داوبو استعمال درلره نقصان درکوی لکه چی مخ ته راځی) یاپه حالت دسفرکی یاست (لکه چی لوردی استثناء راغلی وه چی حکم یی مخ ته راځی یعنی اوبه نه وررسیږی لکه مخ ته به راسی نوپه دی دواړو عذرونو سره دتیمّم اجازت دی اودتیمّم جواز خاص په دی دوو عذرونو پوری نه دی ترلی بلکه که تاسی ته خاص داعذروی) یا (داخاص عذرنه وی یعنی نه تاسی مریضان یاست نه مسافران بلکه دغسی دیوچا اودس مات سی یاغسل پر واوړی داسی چی مثلاً) په تاسی کی ځوك سړی (دکوچنیو بولو یالویو بولو) داستنجا ځخه (فارغ) راسی (چی په دی سره اودس ماتیږی) یاتاسی ښیانوته نژدی سوی یاست (چی په دی سره غسل اوړی او) بیا (په دی ټولو صورتونوکی برابره خبره ده دمرض یاد سفر عذروی یانه مرض وی نه سفرهم دغسی موغسل اواودس ته ضرورت پیښ سی) تاسی ته اوبه (داستعمال موقع یی) ونه رسیږی (برابره خبره ده په دی وجه وی چی په مرض کی درته نقصان رسوی اوکه په دی وجه چی هلته اوبه نه وی برابره خبره ده سفروی اوکه نه) نو (په دی ټولو حالتونوکی) تاسی پرپاکه مځکه تیمم کوی (یعنی پردغه مځکه دوه واره لاس ووهی) په خپلو مخانو اولاسونو باندی (لاس) راکش کړی بیشکه الله ﷻ لوی معافی کوونکی ، لویی بخښنی والادی (او دچاچی عادت داسی وی، هغه آسانه حکم کوی، ځکه الله ﷻ داسی آسانه آسانه حکمونه وکړل چی تاسی ته تکلیف اوتنګی نه وی)

معلومات اومسئلي

(دشرابو دحراموالي درجه پر درجه احکام)

اسلامی شریعت ته الله ﷻ یوخاص شان ورکړی دی چی ددی حکمونه یی ډیر آسانه کړی دی، په دی سلسله کی یوه کړی دا ده چی شراب څیښل دعربو پخوانی عادت وو اوټول قوم په دی عادت کی اخته وو، بغیر دیوڅو خاصو صاحبانو ځخه چی ددوی طبیعتونه الله ﷻ داسی روغ اوسالم جوړ کړی وه، چی

Maktaba Tul Ishaat.com

دی خبیث شی ته هیڅکله هم نژدې سوی نه وه، لکه نبي کریم ﷺ ترنبوت مخکې هم هیڅکله شرابو ته لاس نه وو وروړی او په دې هم هرسړی پوهیږي چې عادت دهرشي چې وی خوپریښوول یې انسان ته ډیر گران وی، خاص بیاد شرابو او دنشې عادت خود انسان پر طبیعت داسې قبضه وکړي چې ددې څخه خلاصیدل بنده دځان دپاره مرگ گني ، دالله ﷻ په نزد شراب چیښل اونشه کول حرام وه ، اوتر اسلام راوړلو وروسته یې مسلمانان ددې څخه خلاصول مقصود وه، مگرکه په یوه واري حرام کړی وای نوپر خلکو به ددې حکم منل ډیر گران سوی وای، په دې وجه یې پردې جزئي پابندي ولگوله اوددې دخرابو تاثیرونو څخه یې ددوی ذهنونه خبردار کړل او پرېښوولو ته یې تیار سول، نو په اول کې په دې آیت یوازې دا حکم وسو چې دنشې په حالت کې لمانځه ته مه ورځئ، ددې مطلب دا وو چې دلمانځه په وخت کې دلمانځه اراده کول خوفرض دي، نودلمانځه په وختونوکې ددې شرابو استعمال نسي کولای، ددې څخه مسلمانانو دامعلومه کړه چې دادومره خراب شی دی چې انسان دلمانځه څخه منع کوي، نو ډیرو صاحبانو ددغه وخت څخه ددې دپرېښوولو اهتمام شروع کې اودنورو سره یې هم فکرسو ترڅوچې آخر دسورة مآئدة په آیت کې ددې حراموالي اوپلیتوالي راغی او په هرحالت کې شراب حرام سول .

مسئله: لکه څنگه چې دنشې په حالت کې لمونځ حرام دی ځینې مفسرین ﷭ فرمایي چې کله خوب دومره غلبه وکړي چې بنده په خپله ژبه بیا کنټرول نه سي درلودای نو په دې حالت کې هم لمونځ کول صحیح نه دي، لکه چې په یوه حدیث شریف کې ارشاد دی .

اذا نعس احدکم في الصلاة فليرقد حتى يذهب عنه النوم فانه لايدري لعله يستغفر فيسب نفسه .

یعنی که په تاسې کې پرچا په لمانځه کې خوب غالبه سی نوهغه ته دلږ ساعت دپاره بیده کیدل په کار دي چې دخوب تاثیر ورڅخه ولاړسي ځکه چې دخوب په حالت کې به دی نه پوهیږي او پر ځای ددعا او استغفار به ځان ته په ښکنځلو شروع سی .

(دتیمم حکم یو انعام دی چې ددې اُمت خصوصیت دی)

دالله ﷻ خومره لوی احسان دی چې داودس او پاکۍ دپاره یې داسې شی داوبو قائم مقام مقرر کې چې په حاصلولو کې تر اوبو زیات آسانه دی اوښکاره خبره ده چې مخکه اوخاوره هرځای موجوده ده، په حدیث شریف کې دي چې دا آساني یوازې دامت محمدي دپاره خاص ده اودا خاصیت یوازې دې اُمت ته ورکړه سوی دی دتیمم ضروري مسئلې دفقهي په کتابونو کې دي او داُردو او پښتو په رسالو کې هم ډیرې چاپ سوي دي ، هلته یې وگورئ .

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يَشْتَرُوْنَ الضَّلٰلَةَ وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ تَضِلُّوا

آیا ته نه گوري هغو ته چې ورته رسیدلی ده څه برخه دکتاب څخه ، اخلي گمراهي او غواړي چې تاسې هم بې

السَّبِيْلَ ﴿۴۴﴾ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِاَعْدَآئِكُمْ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَلِيًّا ۙ وَّ

لاري سی ، او الله ښه پیژني ستاسې دښمنان او الله پوره دی حمایت کوونکی

Maktaba Tul Ishaat.com

كَفَىٰ بِاللَّهِ نَصِيرًا ﴿۴۵﴾ مِنَ الَّذِينَ هَادُوا يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ

او پوره دی الله مددگار ، خینی خلق یهودیان گرځوی خبری

عَنْ مَوَاضِعِهِ وَيَقُولُونَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَاسْمَعْ غَيْرَ

دخپل ځای څخه او وایی چی مونږ واوریده او نه منو او وایی واوره

مُسْمَعٍ وَرَاعِنَا لَيًّا بِأَلْسِنَتِهِمْ وَطَعْنًا فِي الدِّينِ ۚ وَلَوْ

وادی نه وریدل سی او وایی راعنا په اړولو دخپلو ژبو سره او دعیب لگولو په دین کی او که

أَنَّهُمْ قَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَاسْمَعْ وَانْظُرْنَا لَكَانَ خَيْرًا

دوی ویلی چی مونږ واوریده او ومنله او واوره او په مونږ نظر وکړه نو غوره به وه

لَهُمْ وَأَقْوَمَ وَلَٰكِنْ لَعَنَهُمُ اللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿۴۶﴾

ددوی په حق کی اوبرابراولیکن لعنت وکی په دوی الله د دوی دکفر په سبب نو دوی ایمان نه راوړی مگرډیرکم.

تفسیر: (ای مخاطبه) آیاتادغه خلگ ونه لیده (یعنی دلیدلو قابل دی وگوره اوتعجب وکړه) کوموته چی دکتاب (دالله ﷻ یعنی دتورات دعلم) یوه لویه حصه رسیدلی دی (یعنی دتورات علم لری اوسره ددی) چی دغه خلگ گمراهي یعنی کفر اختیاروی او (په خپله خوگمراهان دی مگر دوی) دا غواړی چی تاسی (هم) دلاری (برابری) څخه (واوړی) بی لاری سی (یعنی قسم قسم تدبیرونه اوپلانونه ددی کوی لکه چی ددریمی پاری په آخر او دخلورمی په شروع کی یوڅه ذکر سوی هم دی) او (تاسی ته که ددی خلگو تراوسه پوری خبرنه وی نوڅه وسوه) الله ﷻ ستاسی (دا) دښمنان ښه پیژنی (ځکه یی تاسی ته وښوول، نوتاسی ورڅخه ځان وساتی) او (ددوی دمخالفت حال مو واوریدی نوزیات په فکرکی مه پریوزئ ځکه چی) الله ﷻ (ستاسی) پوره ملگری دی (چی ستاسی دمصلحتونو رعایت ساتی) اوالله ﷻ (ستاسی دپاره) پوره کومکی دی (چی ددوی دضررونو څخه به تاسی ساتی او) داخلگ (دچاچی ذکر وسو) دیهودیانو څخه دی (اوددوی گمراهي اختیارول چی لوړراغلی دی دادی چی) کلام (دالله ﷻ یعنی تورات) دخپل موقع (او محل) څخه (لفظًا یامعنًا) بل طرف ته اړوی او (ددوی یوه گمراهي په کومه کی چی په دوکه سره دنورو ساده گانو خلگو مبتل هم ممکن دی، دا ده چی دوی د نبی کریم ﷺ سره دخبرو کولوپه وخت کی) داکلمات وایی (چی مخ ته ذکر کیږی ددی کلمو دوی دوی معناوی دی یوه ښه اوبله بده دغه خلگ ورڅخه بدمطلب اخلی اونوروته ښکاره کوی چی مونږیی دښه مطلب دپاره وایو اوپه دی سره دیوه مسلمان دوکه کیدل اوپه دی کلموسره حضور ﷺ ته خطاب کول کومه لیری خبره نه ده لکه چی دسورة

Maktaba Tul Ishaat.com

بقرې په ۱۲ دوولسمه رکوع کې مؤمنان دلفظ د راعنا څخه منع کړه سوي وه ، نو په دې اعتبار سره دیهودو ددې کلمو ویل یوقسم نورو لره ګمراه کول هم دي که څه هم لفظًا وي نوپه دې کې د يُرِيْدُوْنَ اَنْ تَضِلُّوا دلفظ چې لوړ راغلی دی بیان هم وسو لکه چې په مِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا کې بیان وو د اَلَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا اوپه يُحَرِّفُوْنَ کې بیان وو د يَشْتَرُوْنَ ددغه کلمو څخه يوه داده سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا (ددې ترجمه خوداده چې مونږ واوریده اومنو یې نه، ددې ښه مطلب خودادې چې ستاسې ارشاد مونږ واوریدی اوستا دهغه مخالف خبره چې مونږ غُولوی نه منو اوبد مطلب خويې ښکاره دي چې مونږ ستاخبره خو واوریده لیکن عمل نه په کوو) او (دوهمه کلمه داده) اِسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ (ددې لفظي ترجمه دا ده چې تاسې زمونږ خبره واورئ اوخدای دې وکړي چې تاسې هيڅ خبره وانه ورئ، ددې ښه مطلب دادی چې د مخالف بده خبره دې تاسې ته وانه ورول سي بلکه ستاسې اقبال دې داسې قآئم وي چې څه خبره تاسې فرماياست دهغه موافق دخوشحالئ خبره دې تاسې ته واورول سي اوبدمطلب یې دادی چې تاسې ته دې دموافق اودخوشحالئ خبره وانه ورول سي بلکه تاسې چې څه خبره کوئ دهغه مخالف جواب دې ستاسې په غوږونو کې پریوزي) او (دریمه کلمه داده) رَاعِنَا (ددې لفظ دواړه ښه اوبد مطلبونه په سورة بقرة کې تیر سوي دي چې ښه معنی یې ده زمونږ رعایت وکړئ اوبده معنی یې دیهودو په لغت کې ښکنځل دی، مقصد داکلمې په دې ډول سره (وایي) چې خپلې ژبې (دعزت دلهجې څخه دبې عزتئ لهجې ته) اړوي او (په زړه سره په دين کې دطعن کولو (اوسپکولو) په نیت سره (وجه داده چې دنبي سره طعن اومسخرې کول عيني ددين سره طعن اومسخرې کول دي) اوکه دې خلګو (پرځای ددوو معناو والا لفظونو) داکلمې ویلای (پرځای د سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا يې) سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا (چې معنی يې دا ده چې مونږ واوریدله اوومو منله) او (پرځای داسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ يوازې) اِسْمَعْ چې معنی یې خالي دا ده چې تاسې واورئ) او (په ځای دراعِنَا) اُنْظُرْنَا (چې معنی یې داده زمونږ پرمصلحت باندې نظر وفرمایی، اوداکلمې دشرارت دمعناوو څخه پاکې دي نوکه داکلمې یې ویلې وای) نوداخبره ددوی دپاره ښه (اوفآئده منده هم) به وای او (په حقیقت کې هم) دموقع مناسبه خبره وه مګر (دوی دنفعې اوموقع مناسبه خبره خوګرسره کوي نه بلکه هم دغه عبث خبرې کوي، په دې وجه دوی ته داتکليف ورسیدی چې) دوی خدای ﷻ د دوی دکفرپه سبب (چې داکلمې ویل په کې هم راغلل اونورې هم ددوی تولې خبرې اوکارونه دکفر په کې داخل سول نو ددې تولو کفریاتو په وجه الله ﷻ دوی) دخپل (خاص) رحمت څخه لیرې وغورځول اوس دوی ایمان نه راوړي مګر هوا لږ خلګ (څکه چې دوی دداسې حرکتونو څخه لیرې اوسیدل ، دغه لیرې والي درحمت خاصه څخه مستثنی دي او دوی ایمان هم راوړي لکه عبد الله بن سلام اونور)

معلومات اومسئلې: دآيتونوترون: په تیرو آیتونوکې دتقوی دموقعو بیان وو چې زیات ذکر په کې دیوا اوبل سره دمعاملو وو اوپه مینځ کې څه حکمونه دعبادت اولمانځه او ددې دمتعلقاتو ذکر وسو چې په بنده کې دخدای ﷻ بیره اودآخرت فکر پیدا کړي او دمعاملو برابر والي آسانه کړي ، په دې ذکر سره آیتونو کې دمخالفینو سره دمعاملو ذکر فرمايي ، په دې کې دیهودو دشرارت علاج دی او مسلمانانو ته په کې په الفاظو او عنوانونو کې هم دادب دلحاظ ساتلو تلقين سوی دی ، چې دحضور ﷺ سره دخبرو

په وخت کي دي دادب لحاظ ساتي او ديهودو په شان بي ادبه الفاظ دي دخولي څخه نه را باسي.

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ آمِنُوا بِمَا نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا

اى اهل كتابو ! ايمان راوړي په هغه چي مونږ نازل كړي دي ربښتيني كوي

لِمَا مَعَكُمْ مِنْ قَبْلِ أَنْ نَطْمِسَ وُجُوهًا فَنَرُدَّهَا عَلَى أَدْبَارِهَا

هغه كتاب چي ستاسي سره دي مخكي ددې څخه چي مونږ وران كړو ډير مخونه بيا چپه كړو هغه دشا طرف

أَوْ نَلْعَنَهُمْ كَمَا لَعَنَّا أَصْحَابَ السَّبْتِ وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ مَفْعُولًا ﴿٤٧﴾

ته يالعنت وكړوپه دوى لكه چي مونږلعنت وكړو په خاوندانو د ورځي دهفتي او دالله حكم خامخاكيدونكي دي

لنډتفسير: اى خلكو! كتاب (تورات) چي دركړل سوي دي ، تاسي په دي كتاب (يعني قرآن) باندي ايمان راوړي كوم چي مونږ نازل كړي دي (اوتاسي په دي دايمان راوړلو څخه مه بيرېږي ځكه چي مونږ دي) په داسي حال كي (نازل كي) چي دي ريښتيني كوي هغه كتاب چي ستاسي سره دي (يعني ستاسي داصلي كتاب تصديق كونكي دي ، پاته ستاسي بدله كړي حصه ورځخه جلاده نوتاسي په قرآن) ترهغه (يقيني كار كيدو) مخكي مخكي (ايمان راوړي) چي مونږ (ستاسي) مخونه (يعني دمخانو نقش اونګار يعني سترګي پزې اونور) بالكل وران كړو اودا (مخان) ددوى دشا دطرف (يعني څټ) په ډول (صفا اوهوار) جوړ كړو ياپردوى (ايمان نه راوړونكو) باندي مونږ داسي (په خاص طور) لعنت وكړو لكه چي لعنت سوى ووپر هفتي والاوو باندي (دغه په يهوديانو كي تير سوى دي اوذكر يې په سورة بقرة كي راغلى دي يعني دهغوى په شان ددوى څخه هم بيزوګيان جوړ كړو) اودالله ﷻ (كم) حكم (چي صادريدونكي وي هغه) خامخا پوره كيږي (نوكه الله ﷻ ستاسي په ايمان نه راوړو باندي دغه دمسخ كيدو حكم وكړي نوبيابه داضروري كيږي، نوپه دي وجه تاسي لره بيريدل په كار دي او ايمان راوړل په كار دي)

معلومات اومسئلي: فائده (١) (دا قول دالله ﷻ فَنَرُدَّهَا عَلَى أَدْبَارِهَا (چپه به كړو دوى دشا طرفته) په چپه كولو كي دوه احتماله دي چي دمخ نقش اونګاربه يې خراب كړي تول مخ به دشاطرف ته چپه كړي اوداهم كيدي سي چي مخ دڅټ په شان هواركړي اوداموجوده مخ دڅټ طرف ته ونه ګرځوي (مظهرى، روح المعاني)

فائده (٢) دلته داسوال پيدا كيږي چي دمخ خرابول اومسخ كول كله وسوه ځيني وايي چي داعذاب به ترقيامت مخكي پر يهودو باندي وي، ځيني وايي داعذاب ځكه واقع نسوچي په دوى كي ځينو خلكو ايمان راوړى وو ، حضرت حكيم الأُمّت تهانوى رحمه الله فرمايي چي زماپه نزد خودسره دغه سوال نه واقع كيږي ،ځكه چي په قرآن شريف كي يولفظ داسي نسته چي دهغه څخه دامعلومه سي چي كه ايمان مورانه وړي نودمخانو خرابولو اومسخ كولو عذاب به خامخا واقع كيږي بلكه احتمال دي، يعني كه د دوى جُرم ته وكتل سي نو ددي سزالائق دي اوكه عذاب ورلره ورنه كړه سي نو دا خو دهغه ﷻ رحمت دي

إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ

بیشکه الله نه بخښي هغه څوك چې شريك ورته جوړ کړي اوبخښي ددې څخه لاندې گناه

يَشَاءُ ۚ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدِ افْتَرَىٰ إِثْمًا عَظِيمًا ﴿٤٨﴾ أَلَمْ

دهغه چاچې وغواړي او چاچې شريك ونيوى الله ﷻ لره نو ده ډير لويه گناه جوړه کړه ، آيا تا ونه

تَرَ إِلَى الَّذِينَ يُزَكُّونَ أَنْفُسَهُمْ ۚ بَلِ اللَّهُ يُزَكِّي مَنْ يَشَاءُ وَ

ليده هغه چې ځانونو ته پاك وايي بلکه الله پاکوي چالره چې وغواړي

لَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٤٩﴾ انْظُرْ كَيْفَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ ۖ

او په دوى به ظلم نه وى دخرما دزونې دخور برابر ، وگوره څنگه ترې په الله پورې درواغ

وَكَفَىٰ بِهِ إِثْمًا مُبِينًا ﴿٥٠﴾

اوکافي ده دا گناه ښکاره

لنډتفسير: بیشکه الله ﷻ به داخبره (ترسزا ورکولو وروسته هم) ونه بخښي چې دهغه سره څوك شريك ونيسي (بلکه په همیشه همیشه سزا کې به گرفتاروي) او ددې څخه ماسوا چې څومره گناهونه دي (برابره خبره ده که کوچني وي او که لوی) دچادپاره چې غواړي (بې له سزا ورکولوبه) هغه گناه وبخښي (البته که مشرك مسلمان سي نوبيا خودې مشرك پاته نسو نواوس دغه سزابه همیشه هم نه وي) او (وجه دشرك دنه بخښلو داده چې) کوم سړی دالله ﷻ سره (څوك شريك) جوړوي دی ډيرلوی جرم کوي (چې دخپل لوی والی په وجه دبخښني قابل نه دی)

(ای مخاطبه !) آياتا هغه خلك ونه ليدل (يعني دتعجب قابل دي) چې خپل ځانونه پاك ښکاره کوي (د دوی په دې ښکاره کولو باندې هیڅ نه کیږي) بلکه الله ﷻ چاته چې غواړي پاك ښکاره کوي (البته داداعتبار قابله ده او الله ﷻ مؤمن په قرآن کې پاك ښوولي دي، لکه په سورة سَبِّحِ اسْمَ کې داشقى يعنى كافرپه مقابله کې يې دمؤمن په باره کې فرمايلي دي: قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكَّىٰ نوهغه به پاك وي نه داچې كفر كوونكې لكه يهوديان) او (دې يهودوته به په قيامت کې ددې درواغجنې دعوی (چې په دې سبب يې كفر ايمان گڼلى دى) كمه سزاوى، په هغه سزاکې به) پردوى دخرما دزونې دخور قدرهم ظلم نه وي (يعنى دغه سزا ددوی ترجرم زياته نه ده، بلکه پردوی ظلم باندې داسې سزا لاتقه ده، لر) وگوره (په دې دعوه کې) داخلگ په الله ﷻ څنگه ددرواغو تهمت لگوي (ځکه چې هرکله دوی سره دکفره دالله ﷻ په نزد دمقبول کيدو دعوه کوی نو ددې څخه ښکاره لازميږي چې كفر دالله ﷻ په نزد ښه دی حال دا دی چې دا محضی

Maktaba Tul Ishaat.com

تهمت دی ، ځکه چی په ټولوشریعتونوکی الله ﷻ ددی خبری وضاحت فرمایلی دی چی کفر زماپه نزد ډیره بیکاره او مردود دی) اوداخبره (چی په خدای ﷻ تهمت ولګول سی) دښکاره مجرم کیدو دپاره کافی ده (بیاپه داسی واضحه لویه خبره باندی داسی سزا څه ظلم اوزیاتی دی؟)

معلومات اومسئلي

(دشرک تعریف اوددی یو څو صورتونه)

دالله ﷻ قول دی ، إِنَّ اللهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ دالله ﷻ دذات اوصفاتو په باره کی چی کومی عقیدی دی دغسی عقیده دیو مخلوق په باره کی ساتل شرك دی ، ددی څه تفصیلات دا دی .

(په علم کي شریک جوړول)

یعنی دیوبزرګ یاپیر په باره کی داعقیده درلودل چی زماپه ټولو حالاتو دی هروخت خبردی ، دنجومی، کوډګرڅخه دغیبو خبرونه معلومول یادیوه بزرګ په خبرو باندی فال نیول اوپه هغه یقین کول یادلیری څخه یی رابلل اوداګڼل چی دی خبر سو یادچا په نامه روژه نیول .

(په تصرّف کي شرک)

یعنی یوڅوك دنفع یا نقصان اختیار مند ګڼل دیوچا څخه مرادونه غوښتل ، رزق اواولاد غوښتل .

(په عبادت کي شریک جوړول)

چاته سجده کول ، دیوچاپه نامه حیوان ایله کول ، دیو بزرګ په قبر باندی نذر اونیاز ایښول ، دیو چا په نامه نذر منل ، دچاپه قبر یا کور باندی طواف کول ، دخدای ﷻ دحکم په مقابله کی دبل چاقول او رواج ته ترجیح ورکول ، چاته مخامخ درکوع په شان کښته کیدل، دیو چاپه نامه حیوان حلالول، ددنیا کارو بار دستورو په تاثیر سره ګڼل او یوه میاشت یاورځ منحوسه (بده) ګڼل .

(خپل صفتونه کول او دعیبونو څخه دځان پاکولو دعوه جائزه نه ده)

دالله ﷻ قول دی ، أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يُزَكُّونَ أَنْفُسَهُمْ یهودو به خپل ځان ته پاك ویل نو په دی خبره الله ﷻ په دی آیت کی د دوی بدوالی بیان کی او وی فرمایل چی لږ دی خلګو ته وګوری چی خپله پاکی بیانوی په دوی باندی تعجب کول په کار دی ، ددی څخه معلومه سوه چی چاته دخپل ځان یادنورو پاکی بیانول جائزنه دی ، دا منع په دری وجهو سره ده .

(۱) دخپل صفت سبب اکثره تکبر وی نو په حقیقت کی دامنع دتکبر دکبله ده(۲) په دی وجه چی دخاتمی حال الله ﷻ ته معلوم دی چی په تقوی اوپاکی سره کیږی اوکه نه ، په دی وجه خپل ځان پاك ښوول دالله ﷻ دبیری څخه خلاف خبره ده ، لکه چی په یوه روایت کی زینب بنت ابی سلمه فرمایی چی نبی کریم ﷺ زما څخه پوښتنه وکړه چی ستانوم څه دی ؟ دغه وخت زما نوم بَرَّةٌ وو (چی ددی معنی ده دګناهونو څخه پاکه) ماورته هم دانوم ووایه نوده ﷺ وفرمایل ، لَا تُزَكُّوا أَنْفُسَكُمْ اللهُ أَعْلَمُ بِأَهْلِ الْبِرِّ مِنْكُمْ سَمُّوهَا زَيْنَبَ (رواه مسلم بحواله مشکوة) یعنی تاسی خپل ځان د ګناهونو څخه پاك مه بیانوی ، ځکه چی دا علم یوازی الله ﷻ ته دی چی په تاسی کی څوك پاك دی ، بیایی دبرة په ځای راته دزینب نوم کښیښوی (مظهری) (۳) دمنع دریمه وجه دا ده چی اکثره په دی دعوه دخلګو دا وهم پیداسی چی دا سړی دالله ﷻ په نزد ځکه مقبول دی چی دی دټولو نقصونو اوعیبونو څخه پاك دی حال دا دی چی دا درواغ دی ځکه چی په بنده کی خو

دیر عیبونه موجود دی (بیان القرآن)

مسئله: که داذکر سوی عوارض نه وی نودنعمت داظهارپه طورباندی دخپل صفت بیانولو اجازت سته. (بیان القرآن)

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِّنَ الْكِتَٰبِ يُؤْمِنُونَ بِالْجِبْتِ وَالطَّٰغُوتِ وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ

آیا تا ونه لیدل هغه، چا ته چی ورکول سوی ده څه برخه دکتاب چی منی بتان اوشیطانان او وایی کافرانو ته

كَفَرُوا هَٰؤُلَاءِ أَهْدَىٰ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا سَبِيلًا ﴿٥١﴾ أُولَٰئِكَ

چی دا خلق زیات په لاره برابر دی دمسلمانانو څخه ، دا هغه خلق

الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ ۖ وَمَن يَلْعَنِ اللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُ نَصِيرًا ﴿٥٢﴾

دی په چاچی لعنت کړی دی الله ، او په چا چی لعنت وکړی الله بیا به نه کی پیدا ته دده څوك مدد گار.

لنډتفسیر: (ای مخاطبه!) آیاتا هغه خلگ ونه لیدل چاته چی دکتاب (دالله ﷻ یعنی دتورات علم) یوه حصه رسیدلی ده (بیا سره ددی) دوی بتان اوشیطانان منی (څکه چی دمشرکانو دین، بت پرستی اودشیطان تابعداری وه کله چی داسی دین ته ښه وایی نو ددی څخه دبُت اوشیطان تصدیق لازم سو) اودغه خلگ (یعنی اهل کتاب) دکفارو (یعنی مشرکانو) په نسبت وایی چی داخلگ په نسبت ددی مسلمانانو زیات پربرابره لاره باندی دی (داخودوی په ژاگه ویلی وه) داخلگ (کوموچی دکفر طریقی ته تراسلامی طریقی غوره وویل) هغه دی کوم چی خدای ﷻ لعنتیان کړی دی (او ددی لعنت تاثیر دی چی دوی داسی بی باکه دکفر خبری کوی) اوخدای پاك ﷻ چی څوك لعنتی کړی دده (دعذاب په وخت کی) څوك حامی به بیانه سی پیدا (مطلب دا دی چی په دی باندی به ده ته په آخرت کی یاپه دنیاکی هم سخته سزاوی، نوپه دنیاکی ځینی قتل، ځینی قید، ځینی ذلیله رعایا سول اوپه آخرت کی چی څه وی هغه به هلته وی)

دآیتونو ترون: دتیر آیت أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِّنَ الْكِتَٰبِ څخه دیهودو دقباحتونو اوبدو خویونو ذکر را روان دی ددی آیتونو تعلق هم د دوی ددغه قباحتونو سره دی .

معلومات اومسئلې

(دجبت اوطاغوت څخه څه مراد دی؟)

په لوړ آیت ۵۱ کی د دوو لفظونو (الجبت) او (الطاغوت) ذکرراغلی دی ددی څخه څه مراددی؟ دمفسّرینو په دی باره کی دیرقولونه دی ، حضرت ابن عباس ابن جبیر اوابو العالیه رحمه الله فرمایی چی (جبت) په حبشی ژبه کی ساحر ته وایی اوطاغوت څخه مراد کاهن دی .

حضرت عمر رضی الله عنه فرمایی چی دجبت څخه مراد سحر دی اودطاغوت څخه مراد شیطان دی ، دمالك بن انس رحمه الله څخه نقل دی چی دالله ﷻ څخه ماسواچی دکومو شیانو عبادت کول کیږی دی ټولوته طاغوت ویل کیږی ، امام قرطبی رحمه الله فرمایی چی دمالك بن انس رحمه الله قول زیات ښه دی څکه چی ددی ثبوت

دقرآن څخه هم کیږي، ارشاد دی ، اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوْتَ لیکن په دې دیرو قولونوکې کوم تکرنسته
په دې وجه ټول ورڅخه مراد کیدای سی داسی چې په اصل کې جبت دبُت نوم هم وو ، لیکن وروسته بیا
ددې استعمال دنورو هغه شیانوچې دالله ﷻ ماسوا یې عبادت کړه کیږي هم نوم سو (روح المعانی)

(دذکرسوي آیت شان نزول)

(حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې دیهودو سردارانو حُیی بن اخطب اوکعب بن اشرف دخپلې
یوې ډلې سره ترجنګ اُحد وروسته دمکې دقریشو سره دلیدلو دپاره راغلل ، دیهودو سردار کعب بن
اشرف ابوسفیان ته راغی او ده دنبی کریم ﷺ خلاف د دوی سره دتعاون (کومك) کولووعده وکړه ، دمکې
خلګو کعب بن اشرف ته وویل چې تاسی یوچم بازه قوم یاست که تاسی واقعی په خپله خبره کې رښتینی
یاست نوزمونږ ددې دوو بتانو جبت او طاغوت په وړاندې سجده وکړی ، نوده دقریشو دمطمئن کولو
دپاره هم دغسی وکړل ترده ې وروسته کعب قریشوته وویل چې دیرش کسان ستاسی څخه اودیرش زمونږ
څخه دې راوړاندې سی چې درب دکعبی په وړاندی ددې شی عهدوکړو چې مونږ به ټول په جمع سره
دمحمد ﷺ خلاف جنګ کوو ، دکعب داتجویز قریشو خوښ کی او دغه ډول دوی دمسلمانانو خلاف
یومتحده محاذ جوړکی ، ترده ې وروسته ابوسفیان کعب ته وویل چې تاسی دعلم خاوندان یاست،
ستاسی سره دالله ﷻ کتاب دی ، لیکن مونږ بالکل جاهلان یوپه دې وجه تاسی زمونږ متعلق دا
ووایاست چې مونږ پرحق یو اوکه محمد ﷺ؟ کعب پوښتنه وکړه چې ستاسی دین څه دی؟ ابوسفیان
وویل چې مونږ دحج دپاره خپل اوښان ذبح کوو او د دوی شیدې په خلګو چیښو ، دمیلمنو دپاره
میلمستیا کوو ، دخپلو خپلوانو سره تعلقات قائم ساتو او دبیت الله طواف اوعمره کوو ، ددې پرخلاف
محمد ﷺ دخپل پلار اونیکه دین پریښی دی، دخپلوانو څخه جلا سوی دی اوده زمونږ دپخوانی دین
پرخلاف یونوی دین پیش کړی دی، داخبری چې کعب بن اشرف واوریدې نو ده وویل چې تاسی خلک پر
حقه یاست، محمد ﷺ معاذ الله ګمراه سوی دی ، په دې باندې الله ﷻ داذکر سوی آیتونه نازل کړل ، د
دوی ددرواغو اوفریب بدوالی یې بیان کی (روح المعانی)

(دنفس خواهشات ځیني وخت سړی ددین اوایمان څخه محرومه کوي)

کعب بن اشرف دیهودیانو یوډیر لوړعالم ووچې په خدای پاك یې هم عقیده درلوده او دده عبادت یې
کوی ، لیکن کله چې دده په زړه او دماغو باندې دنفس دخواهشاتو خبیث روح سپور سو نوده
دمسلمانانو خلاف دقریشو سره ځان یوکې، دمکې قریشو دده سره دیوکیدو دپاره دا شرائط ولګول چې
دې دې زمونږ بتانوته سجدې وکړي ، ده دا هم منظوره کړه چې ددې تفصیل اوس تیر سو ، ده دخپل
مذهب خلاف دقریشو شرط قبول کی ، لیکن دخپلو مذهبی عقیدو دقائم ساتلو دپاره یې د دوی څخه
جلا کیدل اختیار نه کړل ، قرآن کریم په یوه بل ځای کې دا قسم یوه واقعه دبَلْعَمْ باعوراء په باره کې بیان
کړې ده ، ارشاد دی ، وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ الَّذِيْٓ اٰتَيْنٰهُ اٰيٰتِنَا فَانْسَلَخَ مِنْهَا فَاَتْبَعَهُ الشَّيْطٰنُ فَكَانَ مِنَ الْغٰوِيْنَ : مفسرینو لیکلی دی
چې بلعم بن باعوراء یو لوی عالم وو او دتصرف خاوند وو ، لیکن کله چې ده دخپل نفسانی خواهشاتو
دپوره کولو دپاره دموسیٰ علیه السلام خلاف ناپاکه تدبیرونه شروع کړل ، نودې یې هیڅ تاوانی نه کی لیکن په

Maktaba Tul Ishaat.com

خپله مردود او گمراه سو ، ددې څخه معلومه سوه چې د کتاب یوازې علم هیڅ نفع نه سي ورکولی ، ترڅو پورې چې په صحیح معناوو کې ددې تابعداري نه وي او محضې ددنیوي طمعې او بیکاره خواهشاتو څخه په مکمل ډول سره ځان ونه ساتي، که داسې نه وي نوانسان خوخپل مذهب هم پرخواهشاتو قربانوي نن صباهم ځیني داسې قسم خلګ سته چې ددنیوي اوسیاسي غرضونو اومقصدونو دحاصلولو دپاره خپل حق دین په آساني سره پرېږدي اودبې دیني عقیدې اونظریې داسلام په جامه کې دپیش کولو کوشش کوي نه دوې دخداې ﷻ دعهد اومیثاق څه پروا ساتي او نه دآخرت څخه بېرېږي او دا هرڅه دشیطان په اشارو سره کیدې سي .

(دالله ﷻ لعنت په دنیا اوآخرت کي درسوايي سبب دی)

لعنت نوم دی دالله ﷻ درحمت څخه دلیرې کیدواودډیرې رُسوايي اوذلت په چاچې دالله ﷻ لعنت وي هغه دالله ﷻ نژدیکت نه سي حاصلولی د دوي په باره کي دعذاب دومره سخته زورنه راغلې ده چې فرمایي ، مَلْعُوْنِیْنَ اَیْنَمَا ثُقِفُوْا اُخِذُوْا وَقُتِّلُوْا تَقْتِیْلاً په چاچې دالله ﷻ لعنت دی هغوی چې هرځای پیداکړل سي . څټان دې ورپرې کړل سي، دا خو د دوي دنیايي رسوايي ده اودآخرت رسوايي به یې تردې هم سخته وي.

(دالله ﷻ دلعنت مستحق کوم خلګ دي؟)

وَمَنْ یَّلْعَنِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ نَصِیْرًا : ددې آیت څخه معلومېږي چې په چادالله ﷻ لعنت وي دهغه هیڅوک کومکي نه وي ، اوس دفکر کولو قابله خبره دا ده چې دالله ﷻ دلعنت لایق کوم خلګ دي؟په یوه حدیث کي ارشاددی چې نبي کریم ﷺ په سود ورکوونکي سود خوړونکي اوسود لیکونکي اوپه دې دشاهدۍ ورکوونکي په ټولو باندې لعنت کړی دی او دوي ټوله په ګناه کي برابر دي (مسلم په حواله دمشکوٰة)

په یوه بل حدیث کي دی ﷺ فرمایي ، مَلْعُوْنٌ مَنْ عَمِلَ عَمَلَ قَوْمِ لُوْطٍ (رواه رزین، بحواله مشکوٰة)

یعني کوم سړی چې دلوط ﷺ دقوم دکار په شان کار کوي ، هغه لعنتي دی (یعني دسړي سره بدکاري کوونکي) بیافرمایي چې الله ﷻ په غله باندې لعنت لیږي ، کوم چې دهګۍ اوږسۍ په شان دکوچنۍ شي دغلا څخه هم منع نه کوي چې په بدله کي یې دده لاس پرې کیږي ، متفق علیه بحواله مشکوٰة)

په یوه بل حدیث کي ارشاد دی، لَعَنَ اللّٰهُ اٰکِلَ الرِّبٰو وَمُؤْکِلَهٗ وَالْوَاشِمَةَ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ وَالْمُصَوِّرَ (رواه البخاري بحواله مشکوٰة) الله ﷻ لعنت کړی دی پرسودخوړونکي اوپرسود ورکوونکي اوپه هغه ښځو چې په خپل جسم خالونه ایږدي یانوروته خالونه وراږدي او دغه ډول په تصویر جوړونکو ، په یوه بل حدیث کي فرمایي چې الله ﷻ لعنت لیږي په شرابو ، ددې پرچیښونکو او (په بل چاباندې) چیښوونکو ، په خرڅوونکو دشرابو او ددې په اخیستونکو ، ددې په نښتیځونکو ، ددې پر وړونکو او ددې په راغوښتونکو په ټولو باندې (ابوداؤد ابن ماجه بحواله مشکوٰة)

په یوه بل حدیث کي نبي کریم ﷺ ارشاد فرمایي چې شپږ کسان داسې دي چې په دوي باندې ما لعنت کړی دی ، او الله ﷻ هم په دوي لعنت کړی دی ، او دهر نبي دُعا قبوله وي ، هغه شپږ کسان دا دي .

(۱) دالله ﷻ په کتاب کي زیادت کوونکی (۲) اوهغه سړی چې په زور سره قدرت حاصل کړي ، دی هغه چاته عزت ورکړي څوک چې الله ﷻ ذلیل کړي وي او هغه څوک ذلیل کړي چې الله ﷻ هغه ته عزت ورکړی

Maktaba Tul Ishaat.com

وي (۳) او دالله ﷻ د تقدير درواغجن کوونکی وي (۴) دالله ﷻ د حرامو کړو شيانو حلال ګڼونکی (۵) زما په اولاد کی هغه سړی چی د حرامو حلالوونکی وي (۲) او زما دسنتو پاته کوونکی (رواه البيهقی فی المدخل بحواله مشکوٰة)

په يوه بل حديث کی نبی ﷺ فرمايي ، لَعَنَ اللهُ النَّاظِرَ وَالْمَنْظُوْرَ اِلَيْهِ يعنی څوك چی نامحرم ته په بد نظر سره ګوري اوپه چا چی نظر ولويږي (په دی شرط چی په چاچی نظر ولويږي دهغه داختيار اوارادی په کی دخل وي) په هغه باندی الله ﷻ لعنت کړی دی ، دحضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی . لَعَنَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَلرَّجُلَ يَلْبَسُ لِبْسَةَ الْمَرْاَةِ وَالْمَرْاَةَ تَلْبَسُ لِبْسَةَ الرَّجُلِ . يعنی نبی کريم ﷺ په داسی سړی لعنت کړی دی چی دښځی جامی اغوندی اوپه داسی ښځی يی لعنت کړی دی چی دسړی جامی اغوندي (مشکوٰة)

عَنْ عَائِشَةَ ﷺ اَنَّ امْرَاَةً تَلْبَسُ النَّعْلَ قَالَتْ لَعَنَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ الرَّجُلَةَ مِنَ النِّسَآءِ (ابوداؤد بحواله مشکوٰة)

حضرت عآئشی ﷺ ته يوچا عرض وکی چی يوه ښځه دنارينه وو چپلکی په پښوکوی نو حضرت عآئشی ﷺ وفرمايل چی دالله ﷻ رسول ﷺ په داسی ښځی باندی لعنت کړی دی چی دنارينه وو طريقه اختيار وي

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ لَعَنَ النَّبِيُّ ﷺ اَلْمُخَنَّثِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالْمُتَرَجِّلاَتِ مِنَ النِّسَآءِ وَقَالَ اَ خْرِجُوْهُمْ مِنْ بُيُوْتِكُمْ (رواه البخاری بحواله مشکوٰة)

دحضرت ابن عباس څخه روايت دی چی نبی کريم ﷺ لعنت کړی دی په هغو نارينه وو باندی چی دښځو په شان شکل او صورت جوړ وي ، نرښځوکی جوړيږی اولعنت يی کړی دی په هغو ښځوچی په شکل او صورت کی دځان څخه سړی جوړوي او ارشاد يی وفرمايي چی دوی دخپلو کورونو څخه وباسی ، په بخاری شريف کی دی چی حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمايلی دی چی .

لَعَنَ اللهُ الْوَاشِمَاتِ وَالْمُسْتَوْشِمَاتِ وَالْمُتَنَمِّصَاتِ وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللهِ :

يعنی دالله ﷻ لعنت دی وي په خالونو اېښوونکو اوڅوك چی خالونه ايږدی اوڅوك چی دورځو څخه وربښتان باسی اونری کوي يی او لعنت دی وي په هغه ښځو چی دښايست دپاره دغاښونو مينځونه پراخوي چی دالله ﷻ خلقت بدلوونکی دی .

دلعنت حکمونه: لعنت چی څومره بد شی دی ، دغومره ددی په کولو پابندی هم لګيدلی ده ، په يوه مسلمان لعنت کول حرام دی اوپرکافر باندی هم يوازی هغه وخت کول کيږي ، کله چی دده پرکفر باندی مرګ يقينی وي دنبی کريم ﷺ ارشادات ددی په اړوند په حديث کی دا دی .

عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالطَّعَّانِ وَلاَ بِاللَّعَّانِ وَلاَ الْبَذِيْءِ (رواه الترمذی بحواله مشکوٰة)

حضرت ابن مسعود ﷺ فرمايي چی مادنبی کريم ﷺ څخه اوريدلی دی چی هغه مومن نه دی چی طعنه کوونکی ، لعنت کوونکی اوبد ګويه وي .

عَنْ اَبِي الدَّرْدَآءِ ﷺ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ اِنَّ الْعَبْدَ اِذَا لَعَنَ شَيْئًا صَعِدَتِ اللَّعْنَةُ اِلَى السَّمَآءِ فَتُغْلَقُ اَبْوَابُ السَّمَآءِ دُوْنَهَا ثُمَّ تَهْبِطُ اِلَى الْاَرْضِ فَتُغْلَقُ اَبْوَابُهَا دُوْنَهَا ثُمَّ تَاْخُذُ يَمِيْنًا وَشِمَالاً فَاِذَا لَمْ تَجِدْ مَسَاغًا رَجَعَتْ اِلَى الَّذِيْ لُعِنَ فَاِنْ كَانَ لِذٰلِكَ اَهْلاً وَاِلاَّ رَجَعَتْ اِلٰى قَائِلِهَا (ابوداؤد بحواله مشکوٰة)

حضرت ابودردآء ﷺ فرمايي چی مادنبی کريم ﷺ څخه اوريدلی دی چی کله يوبنده پريوه شی باندی لعنت

کوی نو هغه لعنت آسمان ته خیژی نودآسمان دروازی ورته بندی کړه سی، بیاهغه مځکی ته راکښته کیږی نو دمځکی دروازی بندیږی (یعنی مځکه یی نه قبلوی) بیا هغه راسته اوچپه طرف ته ګرځی نوچی هیڅ ځای لاره پیدانه کړی نوچی پرچا لعنت سوی وی هغه ته ولاړسی نوکه هغه په رښتیا دلعنت قابل وی نوپر هغه پریوزی ، که نه وی نو بیرته دی ویونکی ته را واپس سی اوپرده پریوزی.

عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ ؓ اَنَّ رَجُلاً نَازَعَتْهُ الرِّیْحُ رِدَآءَهُ فَلَعَنَهَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لاَ تَلْعَنْهَا فَاِنَّهَا مَاْمُوْرَةٌ وَاِنَّهُ مَنْ لَعَنَ شَیْئًا لَیْسَ لَهُ بِاَهْلٍ رَجَعَتِ اللَّعْنَةُ عَلَیْهِ (رواه الترمذی بحواله مشکوٰة ص ۴۱۳)

دحضرت ابن عباس ؓ څخه روایت دی چی هوا دیوه سړی پټو پورته کی نو ده په هوا لعنت وکی نو نبی کریم ﷺ وفرمایل چی ته په دی لعنت مه کوه ځکه چی دی ته امر سوی دی دالله ﷻ دطرفه څخه او په یادساته کوم سړی چی په داسی شی لعنت وکړی چی هغه یی لائق نه وی نودا لعنت بیرته په دی ویونکی پریوزی.

مسئله: دیوه معیّن سړی په باره کی ترڅوچی دانه وی معلومه چی دده مرګ پرکفر باندی سوی دی، لعنت پرویل جائزنه دی که څه هم دی فاسق وی ، ددی اُصولو په بنآء پریزید دلعنت کولو څخه علامه شامی منع کړی ده ، لیکن په یوه معلوم کافر چی مرګ یی په کفر باندی یقینی وی مثلاً په ابوجهل او ابو لهب باندی جائز دی (رد المحتار ج ۲ ص ۸۳۶)

مسئله: دیو چا دنوم اخیستو څخه بغیر داسی لعنت کول جائزدی چی په ظالمانو یادروغجنانو دی دالله ﷻ لعنت وی

مسئله: په لُغت کی دلعنت معنی دالله ﷻ درحمت څخه دلیری کیدو ده شرعًا دکفارو په حق کی ددی معنی دالله ﷻ درحمت څخه دلیری کیدو ده او دمؤمنانو په حق کی دصالحانو د درجی څخه په لاندی راکښته کیدو ده (شامی دقهستانی ج۲ ص۸۳۶ څخه نقل کړی دی)

په دی وجه دیوه مسلمان دپاره دده دنیك عمل کمیدو دُعاهم جائزه نه ده .

اَمْ لَهُمْ نَصِیْبٌ مِّنَ الْمُلْكِ فَاِذًا لَّا یُؤْتُوْنَ النَّاسَ نَقِیْرًا ﴿۵۳﴾

آیا د دوی سره څه حصه سته په حکومت کی ، بیا به دوی ورنه کړی خلقو ته دیوې خاشی برابر ،

اَمْ یَحْسُدُوْنَ النَّاسَ عَلٰی مَآ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ فَقَدْ

یا حسد کوی دخلقو سره په هغه باندی چی ورکړی دی دوی ته الله دخپل فضل څخه ، نو مونږ

اٰتَیْنَآ اٰلَ اِبْرٰهِیْمَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَاٰتَیْنٰهُمْ مُّلْكًا عَظِیْمًا ﴿۵۴﴾

ورکړی دی دابراهیم ؑ خاندان لره کتاب او حکمت او دوی لره مونږ ورکړی دی لوی حکومت

فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ بِهٖ وَمِنْهُمْ مَّنْ صَدَّ عَنْهُ ۗ وَكَفٰی بِجَهَنَّمَ سَعِیْرًا ﴿۵۵﴾

بیاپه دوی کی چاایمان راوړی په دی سره او څوک ددې څخه په څنګ سو ، او پوره دی د دوزخ لمبی وهونکی اور

لنډتفسیر: آیا د دوی سره څه حصّه سته دحکومت نو په داسی حالت کی خو به نورو خلګو ته لږشی هم

ورنه کړي یا دنورو خلګو څخه (لکه دنبي کریم ﷺ) په هغه شیانو باندي سوزي کوم چي الله ﷻ دوی ته دخپل فضل څخه ورکړي دي نو (نوتاسی ته داسي شي رسیدل کمه نوي خبره نه ده څکه چي) مونږ (دمخکي څخه) دحضرت ابراهیم ﷺ (خاندان والاؤ) ته (آسماني) کتاب هم ورکړي دي اوعلم موهم ورکړي دي او مونږ دوی ته ډیر لوی حکومت هم ورکړي دي (څکه چي په بني اسرآئیلو کي ډیر پیغمبران تیر سوي دي ، ځیني په کي باچهان هم وه ، لکه حضرت یوسف ﷺ اوحضرت داؤد ﷺ، اودحضرت داؤد ﷺ دبیبیانو ډیروالي هم مشهوره دي او دا ټوله په اولاد دحضرت ابراهیم ﷺ کي وه ، نوکله چي نبي کریم ﷺ هم دحضرت ابراهیم ﷺ په اولاده کي دي نوکه ده ته دانعمتونه اوبخششونه ورسیدل نو دا خو کومه دتعجب وړخبره نه وه) نو (ددې پیغمبرانو ﷺ په زمانه کي هم کوم چي دحضرت ابراهیم ﷺ په خاندان کي تیر سوي دي ، کوم خلګ چي موجود وه) په دوی کي ځینو خو ایمان راوړی په دغه (کتاب اوحکمت) باندي او ځیني داسي وه چي دهغه څخه یې مخان واړول (نوکه ستاپه پیغمبري اوقرآن باندي هم ستا دزماني خلګ ایمان رانه وړی نو هیڅ دخفګان خبره نه ده) او (که دي کفارو اواعتراض کوونکوته په دنیاکي سزا کمه وي یاهم ګرسره نه وي نو څه به وسي د دوی دپاره په آخرت کي) د دوږخ سوځونکي اور (دسزا دپاره) کافي دي .

معلومات او مسئلي

(دیهودو په حسد کولو باندي سخت مذمت)

الله ﷻ چي نبي کریم ﷺ ته کوم علم، فضل، جاه اوجلال ورکړی وو، په دي به یهودیان سوځیدل ، الله ﷻ په ۵۳ او ۵۴ نمبر آیتونوکي د دوی ددې حسد او بغض مذمّت (بیکاره والی) کړی دی اووی فرمایل چي دا حسد په دوو وجهو سره عقل نه مني ، یوه وجه یې په آیت نمبر۵۳ کي بیان کړه اوبله یې په آیت نمبر ۵۴ کي ، لیکن د دواړو حاصل یو دی ، یعني که ستاسي حسد په دي خبره دي چي اصلي دحکومت خاندان تاسي یاست ، ستاسي حکومت دوی ته ورکول سوی دی نو دا خو ښکاره غلطه ده چي تاسي دحکومت څخه په خپله محرومه یاست اوکه تاسي ته دحکومت کومه حصه رسیدلي واي نو تاسي به یوه خاشه هم هیچاته نه واي ورکړي اوکه ستاسي حسد په دي دي چي ګویا زمونږ څخه وړته حکومت نه دی ورغلی خو بیا هم دوی ته ولي ورسیدی؟ د دوی دحکومت سره څه تعلق دی نو ددې جواب یې دا ورکی ، چي دی هم دپیغمبرانو دخاندان څخه دي چي دمخکي څخه پکښي حکومت راروان دی نو په دي وجه حکومت ناولده چاته نه دی تللی ، نو ستاسي حسد بې ځایه دی .

(دحسد تعریف ، حکم او ددې دضررونو بیان)

علامه نووي رحمه الله (دمسلم شریف شارح) دحسد تعریف داسي کوي ، اَلْحَسَدُ تَمَنِّیْ زَوَالِ النِّعْمَةِ مسلم ج۲ یعني دبل سړي څخه دنعمت دليري کیدو خواهش کولو ته حسد وایي او دا حرام دی .دنبي کریم ﷺ ارشاد دی

لَا تَبَاغَضُوْا وَلَا تَحَاسَدُوْا وَلَا تَدَابَرُوْا وَكُوْنُوْا عِبَادَ اللهِ اِخْوَانًا، وَلَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ اَنْ يَّهْجُرَ اَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثٍ (مسلم ج۲)

تاسي دیوه اوبل سره بغض اوحسد مه کوی ، او مه یوبل ته شاکوی ، بلکه دالله ﷻ بندګان او وړونه جوړ سی او جائز نه دي یوه مسلمان ته چي دخپل وړور سره تر درو ورځو زیات تعلق قطع کړي .

Maktaba Tul Ishaat.com

په یوه بل حدیث کی فرمایی.

اِیَّاکُمْ وَالْحَسَدَ فَاِنَّ الْحَسَدَ یَاْکُلُ الْحَسَنَاتِ کَمَا تَاْکُلُ النَّارُ الْحَطَبَ (ابوداؤد بحواله مشکوٰة)

تاسی دحسد څخه ځان وساتی ځکه چی حسد نیکی داسی ختموی لکه څنگه چی اور لرگی خوری.

عَنِ الزُّبَیْرِ ؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ دَبَّ اِلَیْکُمْ دَآءُ الْاُمَمِ قَبْلَکُمْ اَلْحَسَدُ وَالْبَغْضَآءُ هِیَ الْحَالِقَةُ لَا اَقُوْلُ تَحْلِقُ الشَّعْرَ وَلٰکِنْ تَحْلِقُ الدِّیْنَ (احمد وترمذی بحواله مشکوٰة)

حضرت زبیر ؓ فرمایی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی تاسی ته هم دتیرو قومونو مرض په پټه سره درته راغلی دی او هغه حسد دی او بغض داسی خوی دی چی خروونکی دی ، زه دا نه وایم چی دا وریښتان خر وی بلکه دین خر وی.

حسد برابره خبره ده که په دینی کمال وی او که پر دنیاوی کمال وی ، دواړه حرام دی نو دالله ﷻ دقول اَمْ لَهُمْ نَصِیْبٌ مِّنَ الْمُلْكِ څخه دنیاوی امرته اشاره ده او په اٰلَ اِبْرٰهِیْمَ الْکِتٰبَ وَالْحِکْمَةَ سره دینی کارته اشاره معلومیږی.

اِنَّ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا بِاٰیٰتِنَا سَوْفَ نُصْلِیْهِمْ نَارًا ؕ کُلَّمَا

بیشکه خوك چی منکر سو زمونږ دآیتونو څخه دوی به مونږ وغورځوو اورته ، هرکله

نَضِجَتْ جُلُوْدُهُمْ بَدَّلْنٰهُمْ جُلُوْدًا غَیْرَهَا لِیَذُوْقُوا الْعَذَابَ ؕ

چی وسوزی څرمنی ددوی نومونږ به بدلی کړو دوی ته نوری څرمنی چی وڅکی عذاب ،

اِنَّ اللّٰهَ کَانَ عَزِیْزًا حَکِیْمًا ﴿۵۶﴾ وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

بیشکه الله دی زبردست حکمت والا او کوم خلق چی ایمان یی راوړو او کار یی وکی نیك ،

سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِیْنَ فِیْهَآ

البته مونږ به داخل کړو دوی باغونو ته چی بهیږي لاند دهغوی څخه ولی (نهرونه) اوسی به په دی کمی همیشه

اَبَدًا ؕ لَهُمْ فِیْهَآ اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ؗ وَّنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِیْلًا ﴿۵۷﴾

د دوی دپاره هلته ښځی دی پاکی او دوی به مونږ داخل کړو گڼو سایو ته

لنډتفسیر: بیشکه کوم خلگ چی زمونږ دآیتونو (احکامو) څخه منکرسول (مونږبه دوی) ډیر ژرپه یو سخت اورکی داخل کړو (او هلته به ددوی برابر داحالت وی چی) کله یووار د دوی پوست (په اور سره) وسوځی نومونږ به ددی مخکنی پوست پرځای په دستی بل (تازه) پوست پیداکړو ددی دپاره چی (همیشه) عذاب خوری (ځکه چی په اول پوست کی ترسوځیدو وروسته داشك کیدی سی چی شاید په دی کی به اوس نور دسوځیدلو ادراك او پوهی نه وی یعنی اوس به دا پوست نور په سوځیدو نه پوهیږی

نو په دې وجه يې ددې شك ختمولو دپاره دا وويل) بيشكه الله ﷺ غالب دى (چې هغه داسې سزا وركولى سي او) حكمت والا دى (نو سره دقدر ته سوځلى پوست ته هم تكليف رسولى سي بيايې هم په يوڅه حكمت سره بدل كي، لكه چې ديوه حكمت بيان يې دغه اوس سوى دى) اوكوم خلك چې ايمان رالوړى او نيك كار كوي مونږ به دوى ډېر داسې باغونو ته داخل كړو چې دهغه (ترمحلونو) لاندې به نهرونه بهيږي دوى به په هغه كي هميشه اوسيږي، د دوى دپاره به په دغه (باغونو) كي پاكې صافي بيبيانې وي اومونږ به دوى ډېرو ګڼو سايو (ځاى) ته داخل كړو.

معلومات اومسئلې: حضرت معاذ ﷺ د كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُمْ بَدَّلْنٰهُمْ جُلُوْدًا په تفسير كي فرمايي چې د دوى څرمنې وسوځي نوبدلى به كړه سي اودا كار به دومره په تيزۍ سره كيږي چې په يوه ګړي كي به يې سل ۱۰۰ واره څرمن بدليږي، اوحضرت حسن بصري رحمه الله فرمايي.

لَاَكُلُ النَّارُكُلَّ يَوْمٍ سَبْعِيْنَ اَلْفَ مَرَّةٍ كُلَّمَا اَكَلَتْهُمْ قِيْلَ لَهُمْ عُوْدُوْا فَيَعُوْدُوْنَ كَمَا كَانُوْا (اخرج البيهقي عن الحسن بحواله مظهري ج۲)

اور به په يوه ورځ كي اويا زره واره دوى خوري كله چې دوى وخوري نو دوى ته به وويل سي چې بيا په اول حالت سي نو دوى به بيا په اول حالت سي.

عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ اِنَّ اَهْوَنَ اَهْلِ النَّارِ عَذَابًا رَجُلٌ فِيْ اَخْمَصِ قَدَمَيْهِ جَمْرَتَانِ يَغْلِيْ مِنْهُمَا دِمَاغُهُ كَمَا يَغْلِيْ الْمِرْجَلُ بِالْقُمْقُمِ.

نبي كريم ﷺ فرمايي چې په دوږخيانو كي به ترټولوكم دعذاب په اعتبار سره هغه سړى وي دچا په تلوكي چې به داور دوى سكروټې وي چې ددې په وجه به دده دماغ دكټوي په شان سره جوشيږي (رواه البخاري ومسلم بحواله الترغيب والترهيب ج ۲ ص ۲۳۹)

د اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ تفسير: حاكم دابوسعيد خدري ﷺ څخه نقل كړى دى چې نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې دجنت ښځې به پاكې وي، يعني دحيض، نفاس، بولو، ګندګۍ او دېزې دبلغم څخه، حضرت مجاهد په ذكر سوو شيانو باندې اضافه كوي، فرمايي چې دوى به دكوچنيانو دپيدا كولو او ددې ناپاكۍ نطفې څخه هم پاكې وي (مظهري).

ظِلًّا ظَلِيْلًا: تر ظل وروسته يې دظليل لفظ ذكركى اودې طرف ته يې اشاره وكړه چې دغسې سايې به دهميشه دپاره وي او ګڼې سايې به وي، لكه چې ويل كيږي، شَمْسٌ شَامِسٌ او لَيْلٌ لَيْلٌ ددې څخه اشاره دې طرف ته ده چې دجنت نعمتونه به هميشه پاته كيدونكي وي.

عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ قَالَ اِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَشَجَرَةً يَسِيْرُ الرَّاكِبُ فِيْ ظِلِّهَا مِائَةَ عَامٍ مَا يَقْطَعُهَا اِقْرَءُوْا اِنْ شِئْتُمْ وَظِلٍّ مَّمْدُوْدٍ (متفق عليه بحواله مظهري)

حضرت ابوهريره ﷺ دنبي كريم ﷺ څخه روايت كوي چې ده ﷺ فرمايلي دي بيشكه په جنت كي يوه داسې درخته ده چې دهغې سايه به يوسپور په سل كاله كي قطع نه كړي كه تاسې غواړى نو دا آيت وَظِلٍّ مَّمْدُوْدٍ ووايست.

ربيع بن انس د ظِلًّا ظَلِيْلًا په تفسير كي فرمايي هُوَ ظِلُّ الْعَرْشِ الَّذِيْ لَا يَزُوْلُ يعني دهغه عرش سايه ده چې هيڅكله به هم زائله نه سي، يعني نه به ليرې كيږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم
بيشکه الله تاسی ته فرمایی چی ورسوی امانتونه امانت والؤته او کله چی فیصله کوی
بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ ۚ إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِ
په خلقو کی نو فیصله کوی په انصاف سره الله ښه نصیحت کوی تاسی ته
إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا ﴿٥٨﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ
بیشکه الله دی اوریدونکی لیدونکی، ای ایماندارو! حکم منی دالله
وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ ۖ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي
او حکم منی درسول اودحاکمانو کوم چی تاسی څخه وی، بیاکه جګړه مو راسی په څه
شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ
شی کی نو هغه واپس کوی طرف دالله ته او درسول ﷺ ته که یقین لری په الله
وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴿٥٩﴾
او په ورځ دقیامت دا خبره ښه ده او ډیر غوره دی ددې انجام

لنډتفسیر: (ای دحکومت خاوندانو! برابره خبره ده که په لږو مو حکومت وی او که په ډیرو) بیشکه الله ﷻ ددی خبری حکم درکوی چی حقدارو ته دهغوی حقونه (کوم چی ستاسی په ذمه دی) رسوی او (تاسی ته دا (هم حکم درکوی) چی کله (دخپل رعیت) دخلکو فیصله کوی (په داسی حقونو کی چی د دوی په مینځ کی دیوه اوبل په ذمه وی) نو په عدل (انصاف) سره فیصله کوی، بیشکه الله ﷻ دکومی خبری چی تاسی ته نصیحت کوی دغه خبره ډیره ښه ده (ددنیا په اعتبار سره هم، چی په دی کی دحکومت محکموالی دی او دآخرت په اعتبار سره هم چی سبب دنژدیکت او ثواب دی) بیشکه الله ﷻ (ستاسی خبری چی دامانتونو او تصفیی په باره کی ستاسی څخه کیږی) ښه اوری (او ستاسی کارونه کوم چی په دی باره کی ستاسی څخه کیږی) ښه وینی (نو که کومی اوکوتاهی وکړی نو هغه په خبریږی تاسی ته به سزا درکړی، دا خطاب حاکمانوته وسو، اوس محکومینو (رعیتو) ته خطاب دی چی) ای ایماندارو! تاسی دالله ﷻ خبره منی او درسول ﷺ خبره منی (او دا حکم ستاسی او دحاکمانو دپاره عام دی) او په تاسی (مسلمانانو) کی چی کوم خلک حاکمان دی دهغوی هم (خبره منی او دا حکم خاص دی په محکومینو پوری) بیا (که د دوی حکمونه دالله ﷻ او درسول ﷺ دوینا مخالف نه وی نو په دی کی ددې حاکمانو حکم منی او) که

چیری (د دوی په احکامو کی) په یوه کارکی تاسی په خپل مینځ کی په اختلاف سواست (چی داحکم دالله ﷺ او درسول ﷺ دوینا څخه خلاف دی اوکه نه دی) نو (درسول الله ﷺ په ژوندکی دهغه څخه پوښتنه کوی او ورروسته دده تروفات مجتهدینو امامانو اوعالمانوته رجوع کوی) دغه کار دالله ﷺ (کتاب) او درسول (دسنتو) طرف ته حواله کوی (او ددی حضراتو څخه چی کومه فتوی درته ورسیږی په هغه تول حاکمان او محکومین عمل کوی) که تاسی په الله ﷺ او په ورځ دقیامت ایمان لری (ځکه چی ددی ایمان مقتضیٰ دا ده چی دقیامت په ورځ دالله ﷺ دګرفت څخه وبیریږی) دا کارونه (کوم چی ذکر سول دالله ﷺ درسول ﷺ او داولی الامر حکم منل اود جګړو حواله کول دالله ﷺ کتاب او دنبی ﷺ سنت ته) تول (په دنیاکی هم) ښه دی او (په آخرت کی) هم ددی انجام ډیر ښه دی (ځکه چی په دنیاکی امن او راحت دی او په آخرت کی نجات او سعادت دی)

معلومات اومسئلي : **دآیت شانِ نزول** : په دی آیتونو کی داول آیت دنزول یوه خاصه واقعه ده ، چی دکعبی خدمت تراسلام مخکی هم ډیرعزت ګڼل کیدی اوکوم خلګ چی به دبیت الله دیوخاص خدمت دپاره منتخب کیدل نوهغه به په تول قوم کی ډیر عزتمند منل کیدل ، په دی وجه دبیت الله مختلف خدمتونه په مختلفوخلګوکی تقسیم سوی وه ، دجاهلیت دورځو څخه دحج په ورځو کی حاجیانو ته داوبو ورکولو خدمت دنبی کریم ﷺ داکا محترم حضرت عباس ؓ په ذمه وو ، چی سقا به یی ورته وایه دغه ډول ځینی نور خدمتو نه دنبی کریم ﷺ بل اکا ابوطالب ته سپارل سوی وه ، دغه ډول دبیت الله کیلی ساتل اوپه مقررو ورځو کی ددی خلاصول او بندول دعثمان بن طلحه پرذمه وو .

دعثمان بن طلحه خپل بیان دی چی دجاهلیت په زمانه کی به مونږ ددوشنبی اوجمعرات په ورځ بیت الله شریفه خلاصوله اوخلګو به ورته ددننه تللو سعادت حاصلوی ، ترهجرت مخکی یوه ورځ نبی کریم ﷺ دخپلوځو صحابه وو ؓ سره بیت الله شریفی ته دداخلیدو دپاره تشریف راوړی (تردغه وخته پوری عثمان بن طلحه په اسلام کی نه ووداخل سوی) ده نبی کریم ﷺ ددننه تلو څخه منع کړی اوډیری ردی بدی یی ورته وویلی ، ده په ډیر صبرسره دده سختی خبری وزغملی ، بیایی وفرمایل ، ای عثمانه ! شاید ته به یوه ورځ دبیت الله داکیلی زما په لاسونوکیووینی چی ماته به اختیارږی چی چاته وغوارم وربه یی کړم ، عثمان بن طلحه وویل چی که داسی وسوه نوقریش به هلاك اوذلیله سی ، ده ﷺ وفرمایل چی نه ! دغه وخت به قریش آباد اوعزتمند سی ده ﷺ دا وفرمایل او بیت الله شریفی ته یی دننه تشریف یووړی ، تردی وروسته چی کله ماخپل زړه راتول کی (عثمان بن طلحه وایی) نوزما یقین راغی چی ده ﷺ چی څه وفرمایل ، دابه وسی ، مادغه وخت دمسلمانیدو اراده وکړه لیکن دخپل قوم تندیان می تریو ولیدل اوتولو زه ډیر سخت ملامت کړم ، په دی وجه ماخپله اراده پوره نه کړل ، کله چی مکه فتح سوه نو نبی کریم ﷺ زه را وغوښتم دبیت الله کیلی یی طلب کړه ، ماورته پیش کړه .

په ځینو روایتونو کی دی چی عثمان بن طلحه کیلی واخیسته اوبیت الله ته لوړ وختی ، حضرت علی ؓ ور څخه دنبی ﷺ دحکم دتعمیل دپاره په زوره دلاسه ورڅخه وکښله او حضور ﷺ ته یی ورکړه ، بیت الله ته دداخلیدو او هلته ترلمونځ کولو وروسته کله چی نبی کریم ﷺ دباندی تشریف راوړی نو بیایی کیلی

Maktaba Tul Ishaat.com

ماته بیرته راکړه او وی فرمایل چی واخله اوس به داکیلی همیشه ستاپه خاندان کی ترقیامته پوری وی کوم سړی چی ستا څخه داکیلی واخلی هغه به ظالم وی ، مقصد دا وو چی بل سړی ته دا حق نسته چی ستا څخه داکیلی واخلی ، ددی سره یی دا هدایت هم وفرمایی چی دبیت الله ددی خدمت په بدله کی چی تاته کم مال ورسیږی هغه دشرعی قاعدی مطابق استعمالوه ، عثمان بن طلحه ﷛ وایی چی کله ماکیلی واخیسته ، په خوشحالی خوشحالی روان سوم نوده ﷺ ماته بیا راناری کړه اووی فرمایل څنګه عثمانه کومه خبره چی ماکړی وه ، هغه پوره سوه اوکه نه ؟ اوس ماته هغه خبره راپه یاد سوه کومه چی نبی کریم ﷺ تر هجرت مخکی فرمایلی وه ، چی یوه ورځ به ته داکیلی زماپه لاس کی وینی ، ماعرض وکی چی بیشکه ستاسی ارشاد پوره سو او دغه وخت ماکلمه وویل مسلمان سوم (مظهری بروایت ابن سعد) حضرت فاروق اعظم ﷛ فرمایی چی په دغه ورځ کله چی نبی کریم ﷺ دبیت الله شریفی څخه دباندی راووتی نو دا آیت یی په ژبه مبارکه وو . إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُكُمْ اَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلٰى أَهْلِهَا تردی مخکی ما دا آیت دده څخه نه وو اوریدلی ، ښکاره خبره ده چی دا آیت په دغه وخت کی په کعبه کی دننه نازل سوی وو ، په دی آیت دعمل کولو دپاره نبی کریم ﷺ دوباره عثمان بن طلحه ﷛ راوغوښتی ، کیلی یی هغه ته وسپارله څکه چی عثمان بن طلحه ﷛ چی کله کیلی نبی کریم ﷺ ته ورکړی وه نو دا یی ورته ویلی وه چی (زه دا امانت تاسی ته سپارم) که څه هم دقانون مطابق دهغه داخبره صحیح نه وه ، بلکه نبی کریم ﷺ ته دهر قسم اختیار وو ، چی څه وغواړی هغه وکړی ، لیکن قرآن کریم دامانت دصورت هم لحاظ وساتی او نبی کریم ﷺ ته یی دا هدایت وکی چی کیلی دی هم عثمان ﷛ ته بیرته ورکړی ، حال دادی چی دغه وخت حضرت عباس ﷛ اوحضرت علی ﷛ نبی کریم ﷺ ته دادرخواست کړی وو چی داکیلی دی مونږ ته را کړه سی لیکن دذکر سوی آیت موافق نبی کریم ﷺ دهغوی درخواست رد کی ، کیلی یی عثمان بن طلحه ﷛ ته بیرته واپس ورکړه (مظهری) تردی ځایه پوری دآیت په شانِ نزول خبره وه اوپه دی دټولو اتفاق دی چی دآیت شانِ نزول که یوه خاصه واقعه وی خوحکم عام وی، چی پابندی یی دټول اُمت دپاره ضروری وی.

اوس یی معنی اومطلب واوری ، ارشاد دی ، إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُكُمْ اَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلٰى أَهْلِهَا یعنی الله ﷻ تاسی ته حکم کوی چی امانتونه دهغومستحقینو ته رسوی ، ددی حکم مخاطب دا هم کیدی سی چی عام مسلمانان وی او دا هم احتمال دی چی خاص امیران اوحاکمان یی مخاطب وی او زیاته ښکاره خبره دا ده چی هر هغه سړی یی مخاطب دی څوك چی دامانتونو امین وی ، په دی کی عوام هم دا خل دی او حاکمان هم.

(دامانتونو دادا کولو تاکید)

حاصل ددی ارشاد دا دی چی دچاپه لاس کی کوم امانت وی په ده لازم دی چی دغه امانت خپل مستحق ته ورسوی ، نبی کریم ﷺ دامانتونو دادا کولو ډیر تاکید فرمایلی دی ، حضرت انس ﷛ فرمایی چی ډیرا کمه به داسی سوی وی چی نبی کریم ﷺ به خطبه ویله اودا الفاظ به په کی نه وه .
لاَ اِيْمَانَ لِمَنْ لاَ اَمَانَةَ لَهُ وَلاَ دِيْنَ لِمَنْ لاَ عَهْدَ لَهُ په چاکی چی امانت داری نسته په هغه کی ایمان نسته اوپه چاکی چی دوعدی پابندی نسته په هغه کی دین نسته ، دا روایت بیهقی په شعب الایمان کی نقل کړی دی.

(خیانت دنفاق علامه ده)

په بخاری اومسلم کی دحضرت ابوهریرة ﷺ او ابن عمرﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ یوه ورځ دنفاق نښانی ښوولی یوه نښانه یی په کی داهم وښووله چی کله ورسره امانت کښیږدی نوخیانت په کی کوی.

دامانتونو قسمونه: دلته دا خبره دفکر کولو قابله ده چی قرآن کریم لفظ دامانات په صیغی دجمع سره فرمایلی دی ، په دی کی دا اشاره ده چی امانت یوازی دانه دی چی دچاپوځه مال دچاسره پروت وی ، چی په عام طور سره دی ته امانت وایی ، بلکه دامانتونو نور قسمونه هم دی کومه واقعه چی دآیت دنزول اوس ذکر سوه په خپله په دی کی هم امانت په مالی شکل کی نه وو ، بلکه دبیت الله دخدمت یوه کیلی وه چی دوعدی نښانه وه .

دحکومت منصبونه دالله ﷻ امانتونه دی)

ددی څخه معلومه سوه چی دحکومت عهدی اومنصبونه څومره چی دی ټول دالله ﷻ امانتونه دی چی امانتدار یی حاکمان او افسران دی ، دچاپه لاس کی چی دمعزول کولو اومقرر کولو اختیارات دی ، دوی ته جائز نه دی چی یوه څوکی داسی سړی ته وسپاری چی دخپل عملی یاعلمی قابلیت په اعتبار سره دهغی اهل نه دی ، بلکه په دوی باندی لازم دی چی دهر کار او هری عهدی دپاره په خپل حکومت کی دمستحق پلټنه کوی .

(په یوه منصب باندی نااهله مقرر کونکی ملعون دی)

چی دپوره اهلیت اودټولو شرطونو پوره کونکی څوك پیدا نه سی نو په موجودو خلګو کی چی کوم یو دقابلیت او امانتداری په لحاظ سره تر ټولو زیات وی هغه ته دی ترجیح ورکول سی .

په یوه حدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی چی کوم سړی ته دعامو مسلمانانو کومه ذمه واری سپارل سوی وی ، بیادی په یوه منصب کی یو څوك د دوستی اوتعلق په وجه بغیر داهلیت معلومولو څخه ، مقرر کوی په ده باندی دالله ﷻ لعنت دی ، نه دده فرض قبول دی او نه نفل ، تردی چی دی به جهنّم ته دا خل کړل سی (جمع الفوآئد ص ۳۲۵)

په ځینو روایتونوکی دی چی کوم سړی یومنصب چاته وسپاری اوسره ددی چی ده ته معلومه وه چی بل سړی ددی منصب دپاره تردده زیات قابل او اهل (لائق) سته نو ده دالله ﷻ سره خیانت وکی او درسول ﷺ او دټولو مسلمانانو .

نن صباچی دحکومت کوم نظام خراب دی دا ټوله ددی قرآنی تعلیم دپام څخه دغورځولو نتیجه ده ، چی په تعلقاتو اوسفارشتونو سره ، اوپه رشتونو سره منصبونه تقسیمیږی ، ددی په نتیجه کی نااهله او ناقابله خلګ په ښومنصبونو قابض سول او دخدای ﷻ مخلوق پریشانه کوی اودحکومت ټوله نظام بربادیږی په دی وجه نبی کریم ﷺ په یوه حدیث کی ارشاد فرمایلی دی ، اِذَا وُسِّدَ الْاَمْرُ اِلٰی غَیْرِ اَهْلِهٖ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ یعنی هروخت چی ووینی چی دکارونو ذمه داری داسی خلګو ته وسپارل سوه چی ددغه کار اهل اوقابل نه وی نو (اوس ددی فساد هیڅ علاج نسته) دقیامت انتظار کوه ، دا روایت دصحیح بخاری په کتاب العلم کی دی ، لنډه دا ده چی قرآن کریم لفظ د اَمٰنٰت په صیغه دجمع سره راوړی او دی طرف ته یی اشاره

وکړه چې امانت یوازې ددې نوم نه دی چې دیوه سړی مال دبل سړی سره په ډول دامانت پروت وی، بلکه دامانت ډیر قسمونه دی چې په هغه کې دحکومت منصبونه هم داخل دی ، او په یوه حدیث کې دنبی کریم ﷺ ارشاد دی ، اَلْمَجَالِسُ بِالْاَمَانَةِ یعنی مجلسونه په امانتداری سره په کار دی ، مطلب دا دی چې په مجلس کې کومه خبره وسی ، هغه ددې مجلس امانت دی ، ددې مجلس داجازت څخه پرته دغه خبرا نورو خلګو ته نقل کول ، اوخپرول جائز نه دی ، دغه ډول په یوه حدیث کې دی ، اَلْمُسْتَشَارُ مُؤْتَمَنٌ یعنی «دکوم سړی څخه چې کومه مشوره واخیستل سی ، هغه امین دی» په ده لازمه ده چې هغه مشوره ورته ورکړی کومه چې دده په نزد دمشوره اخیستونکی په حق کې مفیده اوبه وی ، که دپوهی څخه یې مخالفه مشوره ورکړه نو په امانت کې یې خیانت وکی ، دغه ډول که یوچا ده ته خپل راز ووایه نو دا د هغه امانت دی پرته دهغه داجازت څخه یې چاته ویل خیانت دی ، په ذکر سوی آیت کې ددې ټولو امانتونو دحق ادا کولو تاکید دی.

تردې ځایه پوری دآیت داولی جملی تفسیر وو اوس دآیت د دوهمی جملی تفسیر دی ، وَاِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ اَنْ تَحْكُمُوْا بِالْعَدْلِ : یعنی کله چې تاسی دخلګو په مینځ کې دجګړو فیصله کوی نو په عدل او انصاف سره یې کوی ، ظاهره ده چې دا خطاب امیرانو اوحاکمانو ته دی چې دجګړو او مقدمو (دعوو) فیصلی کوی او ددې نښانی په وجه ځینو حضراتو داولی جملی مخاطب هم امیران اوحاکمان مقرر کړی دی ، که څه هم د اولی جملی په ډول سره په دې کې هم ددې خبری امکان موجود دی چې حاکمان اوعوام دې دواړه په دې خطاب کې شامل وی ، ځکه چې په عوامو کې هم اکثره ډلی یوبل څوك دریم (نیم ګړی \ مینځنی) مقرر کړی ، هغه فیصلی کوي ، دغه ډول دجګړو فیصله کول په عوامو کې هم وی ، مګر په دې کې شك نسته چې په اول نظر کې ددې دواړو جملو مخاطب امیران اوحاکمان دی ، په دې وجه دا ویل کیږی چې ددې مخاطب اول امیران اوحاکمان دی او دوهم دا خطاب هر هغه سړی ته هم دی دچاسره چې دخلګو امانتونه هم وی او څوك چې په یوه فیصله کې دریم جوړه کړل سی.

په دې جمله کې الله ﷻ بَيْنَ النَّاسِ وفرمایل بَيْنَ الْمُسْلِمِيْنَ يا بَيْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ یې ونه فرمایل ، په دې کې یې دې خبری ته اشاره وفرمایله چې ددعوو په فیصلو کې ټول انسانان برابر دی ، مسلمان وی اوکه غیر مسلمان ، دوست وی اوکه دښمن ، دخپل وطن ، هم رنګ ، هم ژبان وی اوکه غیر وی ، دفیصله کوونکو فرض دی چې ددې ټولو تعلقاتو څخه جلا کوم چې دحق او انصاف تقاضا وی ، هغه فیصله وکړی.

(عدل او انصاف ددنیا دامن ضمانت دی)

مقصد دا دی چې دآیت په اوله جمله کې دامانتونو دادا کولو حکم دی ، او په دوهمه جمله کې دعدل او انصاف په دې کې یې دامانتونو ادا کول مخکی کړل شاید چې ددې وجه دا وی چې په ټول ملك کې عدل او انصاف بغیر ددې څخه قائمیدی نسی چې دچاپه لاس کې دملك قدرت دی، هغه دې اول دامانتونو دادا کولو فریضه ادا کړی په صحیح ډول سره ، یعنی دحکومت پر منصبونو دې یوازی هغه خلګ مقرر کړی چې دکار دصلاحیت او دامانت او دیانت په بناء سره ددې منصب دپاره ترټولو زیات ښه په نظر ورځی ، د دوستی دتعلقاتو یامحضی دسفارش یارشوت په وجه دې نه مقرر کوی ، که نه وی نو نتیجه

Maktaba Tul Ishaat.com

په بې دا وي چې نا اهله ناقابله یا خیانتګر اوظالمان خلګ به په منصبونو باندې قبضه وکړي ، بیاکه دقدرت خاوندان په زړه سره هم دا غواړي چې په ملك کې دې دعدل اوانصاف رواج وسي، نو دا به د دوي دپاره ممکنه نه وي ځکه چې هم دا دمنصبونو خاوندان دحکومت لاس اوپښې وي ، کله چې دوی خیانتګر اونا قابله وي نو عدل او انصاف به دکومه طرفه څخه راسي ، په دې آیت کې دا خبره په خاص ډول سره دیادونې وړه چې په دې کې الله ﷻ دحکومت منصبونوته هم امانت وویل اول یې دا خبره ښکاره کړه چې لکه څنګه چې امانت یوازې هغه چاته ادا کول په کار دي کوم چې ددې امانت مالك دی ، په یوه فقیر یامسکین باندې رحم کول اوپه دې امانت ورته ورکول جائز نه دي ، دغه ډول دحکومت منصبونه چې دعامو خلګو کارونه ورسره تړل سوي دي ، دا هم امانتونه دي او ددې امانتونو لایق یوازې هغه خلګ دي چې دکار دصلاحیّت او قابلیّت په اعتبار سره هم ددې منصب دپاره مناسب اوپه موجوده خلګو کې ترټولو ښه وي او ددینداري اوامانت داري په اعتبار سره هم په ټولو کې بهتر وي ، که د دوي څخه ماسوا بل چاته یې دا منصب وسپاري نو امانت ادا نه سو .

(دعلاقو او ولایتونو په بُنیاد دحکومت منصبونه سپارل اُصولي غلطي ده)

ددې سره دقرآن حکیم دې جُملې هغه عامه غلطي هم لیرې کړه چې داکثروملکونوپه قانون کې چلیږي چې دحکومت منصبونه یې دملك داوسیدونکو حقونه مقرر کړي دي ، او ددې اصولي غلطي په بناء دملك قانون داسې جوړول پریوتل چې دحکومت منصبونه دآبادۍ په تناسب سره تقسیمیږي ، دهر ولایت دپاره کوټې مقررې دي ، دیوه ولایت په کوټه کې دبل ولایت سړي نه سي ځای کیدی برابره خبره ده که هغه هرڅومره قابل او امانتدار ولې نه وي او ددې صوبې سړي که څه هم غلطي کوونکي اونا اهل وي ، قرآن کریم صفا اعلان وفرمایې چې دا منصبونه دهیچا حق نه دی ، بلکه دا امانتونه دي چې یوازې په امانتګروته ورکول کیږي ، برابره خبره ده که هغه دهر ولایت اوهرځای اوسیدونکي وي، البته پریوه خاصه علاقه اوولایت باندې دحکومت دپاره ددغې علاقې سړي ته ترجیح ورکول کیږي چې په دې کې ډیرمصلحتونه دي مګرشرط دادې چې دکار په صلاحیت اوامانتداري کې په ده باندې پوره اطمینان وي

(دحکومت دقانون یو څو زرّین اُصول)

دغه ډول په دې لنډ آیت کې دحکومت دقانون یوڅو بنیادي اُصول راغلل ، چې دا لاندې دي (۱) اول دا چې دآیت داولې جملې په شروع کې چې د اِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُكُمْ څخه یې شروع کړه اودې طرف ته یې اشاره وکړه چې اصل امر اوحکم دالله ﷻ دی ، دټولې دنیا باچهان په دې ماموره دي ددې څخه ثابته سوه چې په ملك کې ترټولو لوړ قدرت یوازې دالله ﷻ دی (۲) دوهم دا چې دحکومت منصبونه دملك داوسیدونکو حقونه نه دي چې دآبادۍ دتناسب په اُصولو به تقسیمیږي بلکه دالله ﷻ دطرف څخه ورکړل سوي امانتونه دي چې یوازې دهغه اهل اولائقو خلګوته به ورکول کیږي (۳) دریم دا چې په مځکه دانسان حکمراني یوازې دیوه نائب او امین په حیثیت سره کیدی سي ، دې به دملك په قانون جوړولو کې دهغه اصولو پابندوي کوم چې دحاکم مطلق الله ﷻ دطرفه څخه دوحې په ذریعه ښوول سوي دي (۴) څلورم دا چې دحاکمانو او امیرانو فرض دي چې کله یوه دعوه دوی ته راسي نو دنسل اووطن ، رنګ اوژبې ، تردې چې دمذهب

اومسلك دامتياز اوتفاوت څخه پرته دي په عدل اوانصاف سره فيصلې کوي په دې آيت کې بې دحکومت دقانون زرين اُصول وښوول په آخرکې يې وفرمايل چې الله ﷻ تاسې ته کوم نصيحت کړی دی ، هغه ډيرښه دی ځکه چې الله ﷻ دهرچا دا اوري اوکوم چې په خبرو اوفرياد کولو طاقت نه لري دهغه حالات په خپله ويني ، په دې وجه دهغه ښوولې اوجوړ سوې اُصول داسې دي چې هميشه په هرملك کې او په هر دورکې دعمل کولو قابل کيدې سي ، دانساني دماغونو جوړ سوې اصول او قانون يوازې تر خپل ماحول پورې محدود وي او دحالاتو په بدليدو سره بيادهغه بدلول بيا خامخا لازمي وي ، لکه څنګه چې داول آيت مخاطب حاکمان او اميران وه ، په دوهم آيت کې يې عوام مخاطب کړل ويې فرمايل چې اى ايماندارو! تاسې دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ او دخپلو اولي الامرو حکم مني .

أولي الامر کم خلګ دي : أُولي الامر په لغت کې هغه خلګوته وايي دچاپه لاس کې چې ديو شي نظام او انتظام وي ، په دې وجه حضرت ابن عباس ﷺ مجاهد ، حسن بصري اونورو مفسرينو ﷺ دقرآن دأولي الامر مصداق علمآء اوفقهآء ﷺ مقررکړي دي چې دوی دنبي کريم ﷺ نآئبان دي او ددين نظام ددوی په لاسوکې دی ، او دمفسرينو يوجماعت چې په دوی کې حضرت ابو هريرة ﷺ هم شامل دی فرمايي چې دأولي الامر څخه مراد حاکمان اواميران دي چې ددوی په لاسوکې دحکومت نظام دی ، او په تفسير ابن کثير اوتفسير مظهري کې دي چې دالفظ دواړو طبقوته شامل دی يعنې عالمانوته هم او حاکمانو او اميرانو ته هم ځکه چې نظام دامر ددې دواړو سره تړلی دی ، په دې آيت کې په ظاهره د درو اميرانو دخبرو دمنلو حکم دی ، الله ﷻ ، رسول ﷺ او أُولي الامر، ليکن دقرآن کريم نورو آيتونو دا خبره واضحه کړې ده چې حکم او اطاعت په اصل کې يوازې دالله ﷻ دی ، اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ مګر دده حکم او دده دفرمان برداری عملي صورت په څلورو حصوکې تقسيم دی .

﴿ دحکم او فرمان برداری درې عملي صورتونه ﴾

يوهغه دی دکوم شي حکم چې خدای ﷻ په قرآن کريم کې واضح نازل کړی دی او په دې کې دکوم قسم تفصيل اوتشريح حاجت نسته، لکه شرك اوکفر چې ډير سخت جُرم دی ديوه الله ﷻ عبادت کول او په آخرت او قيامت يقين ساتل اومحمّد ﷺ دالله ﷻ آخري برحق پيغمبر منل، لمونځ، روژه، حج، زکوٰة فرض ګڼل ، دا هغه کارونه دي چې سيده په سيده دالله ﷻ حکمونه دي ، په دې عمل کول بې له واسطې څخه دالله ﷻ حکم منل دي .

دوهمه حصه داحکامو هغه ده چې په هغه کې تفصيل اوتشريح ته ضرورت دی په دې کې قرآن کريم اکثره يومُجمل او مبهم حکم ورکوی اوتفصيل اوتشريح يې نبي کريم ﷺ ته حواله کيږي ، بياهغه تفصيل او تشريح کومه چې نبي کريم ﷺ په خپلو احاديثوکې فرمايي هغه هم يوقسم وحي وي ، که په دې تفصيل او تشريح کې په اجتهادي ډول سره کومه کمي ياکوتاهي کيږي ، نو دوحي په ذريعه دهغه اصلاح فرمايي او په آخري ډول سره دنبي کريم ﷺ قول او عمل کوم چې په آخرکې وي ، هغه دالله ﷻ دحکم ترجمان وي ددې قسم حکمونو منل هم که څه هم چې په حقيقت کې دالله ﷻ فرمانبرداری ده ليکن په ښکاره ډول سره چې کله دا احکام واضح قرآن نه وي ، دنبي کريم ﷺ دژبې مبارکې څخه اُمت ته رسيدلې دي ، په دې وجه

دي فرمانبرداري ته په ښکاره ډول سره درسول ﷺ فرمانبرداري وايي چي په حقيقت کي دالله ﷻ فرمانبرداري ده خو په ظاهري اعتبار سره جلا حيثيت لري ، په دي وجه يي په ټول قرآن کريم کي دالله ﷻ دفرمان برداري دحکم په ورکولو سره درسول ﷺ دفرمان برداري ذکر مستقل کړي دی .

دريمه درجه داحکامو هغه ده چي نه په قرآن کي صراحةً ذکر ده اونه په حديثو کي اونه داحاديثو په ذخيره کي ددي متضاد (چپه) روايتونه پيدا کيږي ، په داسي حکمونو کي مجتهدين عالمان دقرآن اوسنتو په رڼاکي ددي په نظيرونو (يعني ددي په شان نوري کمي مسئلي چي په قرآن ياحديثو کي وي) باندي غور اوفکر کوي اوددي حکم لټوي ، ددي حکمونو منل که څه هم په حقيقت کي دقرآن اوسنّت څخه درا ايستو په وجه دخداي پاك ﷻ دحکم منلويوه حصه ده ليکن په ظاهري اعتبار سره دي ته فقهي فتوٰی وايي اود عالمانو طرف ته يي نسبت دی .

په دي دريم قسم کي داسي احکام هم دي چي په هغه کي دقرآن اوسنّت په اعتبار سره څه پابندي نشته ، بلکه په دي باندي دعمل کولو اختيار دي چي څنګه غواړي ودي کړي ، دي ته په اصطلاح کي مباحات ويل کيږي ، په داسي احکامو کي عملي انتظام حاکمانو او اميرانو ته سپارل سوي دي چي هغوي دحالاتو مطابق څه قانون جوړ کړي او خلک پرهغه دچليدو پابند کړي ، مثلاً دکراچي په ښارکي دي ډاکخانې (دخط استولو دفترونه) پنځوس وي اوکه سل وي ، دپوليسو تاني دي څومره وي ، داورګاډي انتظام دي څنګه وي ، دآباد کارۍ انتظام دي پرکومو قاعدو وي ، داټول مباحات دي ددي يوطرف نه واجب دی اونه حرام ، بلکه اختياري دي ليکن که دا اختيار عوامو ته ورکړه سي نويوکار به هم ونه چليږي نوپه دي وجه دنظام ذمه واري پرحکومت ده ، په ذکرسوي آيت کي دأولو الامر داطاعت څخه دعلماوو اوحاکمانو دواړو اطاعت مراد دی ، په دي وجه ددي آيت په وجه سره په فقهي مسئلو کي دفقهاوو حکم منل اوپه انتظامي کارونو کي دحاکمانو او اميرانو حکم منل واجب سوه ، داحکم منل هم په حقيقت کي دالله ﷻ دحکمونو منل دی ، ليکن په ظاهره داحکمونه نه په قرآن کي سته نه په سنّت کي بلکه ددي بيان يادعالمانو دطرفه څخه وي يادحاکمانو ، په دي وجه ددي منل يي جلاپه دريم نمبرکي مقرر کړل دأولو الامر داطاعت نوم يي ورته کښيښوی اولکه څنګه چي دقرآن په دليلونو دقرآن حکم منل او درسول دوينا په دليل درسول حکم منل لازم اوواجب دي ، دغه ډول په فقهي مسئلوکي دفقهاوٴ په انتظامي کارونو کي دحاکمانو اواميرانو تابعداري واجب ده ، او دا مطلب دي داطاعت دأولي الامر .

(دشريعت څخه په مخالفو کارونوکي دامير اطاعت جائزنه دی)

وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ : په دي آيت کي چي الله ﷻ دکوم کار ارشاد وفرمايي چي که تاسي دخلکو په مينځ کي کمه فيصله کوي نو په عدل اوانصاف سره يي کوي ، او تردي مخکي الله ﷻ خلکوته داولي الامر دحکم منلو تعليم ورکی ، ددي څخه يي دي طرف ته اشاره وکړه چي اميرکه پرعدل ولاړوي نودده حکم منل واجب دي اوکه دي عدل او انصاف پريږدي ، دشريعت څخه مخالف حکمونه کوي ، نوپه دي کي به دامير اطاعت نه کول کيږي ، لکه چي دنبي کريم ﷺ ارشاد دی ، لَاطَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ يعني دمخلوق داسي حکم منل جائزنه دي چي په هغه کي دخالق نافرماني کول لازميږي ، په دي

Maktaba Tul Ishaat.com

آیت کی الله ﷻ ارشاد فرمایی چی که تاسی دخلګو په مینځ کی فیصله کوی نو په عدل سره یی کړی، ددی څخه دا خبره معلومیږی چی کوم سړی دعدل او انصاف دقآئمولو طاقت اوصلاحیت نه لری، دده ته قاضی جوړیدل هم نه دی په کار، ځکه چی حکم کول په عدل سره هم یوامانت دی چی حفاظت یی کمزوری اونا اهله سړی نه سی کولی نوکله چی حضرت ابوذر ﷺ حضوراکرم ﷺ ته درخواست وکی چی تاسی مادیو ځای حاکم مقرر کی نوده په جواب کی وفرمایل چی.

يَااَبَاذَرَ اِنَّكَ ضَعِيفٌ وَاِنَّهَا اَمَانَةٌ وَاِنَّهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ خِزْيٌ وَنَدَامَةٌ اِلاَّ مَنْ اَخَذَ بِحَقِّهَا وَاَدَّى الَّذِي عَلَيْهِ فِيهَا (رواه مسلم، بحواله مظهری)

یعنی ای آباذره! ته یوضعیف سړی یی اومنصب یوامانت دی چی ددی په وجه به دقیامت په ورځ ډیر زیات ذلت اورسوایی وی ماسوا دهغه سړی څخه چاچی ددی امانتونو حق پوره کړی وی (یعنی دی به دذلت څخه خلاص وی)

(عادل سړی دالله ﷻ محبوب ترین بنده دی)

په یوه حدیث کی نبی کریم ﷺ ارشاد فرمایی چی عادل دالله ﷻ محبوب اوزیات نژدی بنده دی اوظالم دالله ﷻ درحمت او دکرم دنظر څخه لیری وی ، په یوه بل حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ صحابه وو ﷺ ته وفرمایل چی تاسی ته معلومه ده چی ترټولو اول به دالله ﷻ ترسایی لاندی څوك راځی؟ دوی جواب ورکی چی الله ﷻ او دهغه رسول په دی زیات ښه پوه دی ، بیاده ارشاد وفرمایی چی دا به هغه خلګ وی دچامخ ته چی حق راسی اوپه ستی یی قبول کړی اوکله چی سوال ورڅخه وکړه سی نومال خرڅوی اوکله چی دوی فیصله کوی نو داسی عادلانه فیصله کوی لکه چی دوی یی دځپل ځان دپاره کوی.

داجتهاد او قیاس ثبوت: قوله تعالی: فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ اِلَى اللهِ وَالرَّسُولِ په دی آیت کی الله ﷻ حکم کړی دی چی که ستاسی دکم کار په باره کی اختلاف راسی نوتاسی دالله ﷻ او درسول طرف ته رجوع کوی، دکتاب اوسنت طرف ته درجوع کولو دوه صورتونه دی، یو دا چی دکومو احکامو دپاره په قرآن اوسنت کی دلیلونه راغلی دی دهغوطرف ته رجوع وکړه سی ، دوهم صورت دا دی چی داحکامو دپاره دلیلونه موجود نه وی ، نو دهغه په نظآئرو (یعنی دهغه په مثل په نورو مسئلو) باندی قیاس وکړی ، رجوع ورته وسی ، د فَرُدُّوهُ الفاظ عام دی چی دواړو صورتونو ته شامل دی.

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ اَنَّهُمْ اٰمَنُوا بِمَا اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَا اُنْزِلَ مِنْ

آیا تاونه لیدل هغه چی دعوی کوی چی ایمان یی راوړی دی په هغه چی نازل سو تاته اوپه هغه چی نازل سوی دی

قَبْلِكَ يُرِيدُونَ اَنْ يَتَحَاكَمُوا اِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ اُمِرُوا

ستا څخه مخکی غواړی چی فیصله یوسی شیطان طرف ته اوحکم سوی دی دوی ته

اَنْ يَكْفُرُوا بِهٖ وَيُرِيدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ يُضِلَّهُمْ ضَلٰلًا بَعِيدًا ﴿۶۰﴾

چی دغه به نه منی ، او غواړی شیطان چی دوی وغلوی ډیر لیری یی بوزی،

Maktaba Tul Ishaat.com

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَىٰ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ رَأَيْتَ

او کله چی ورته وویل سی دوی ته چی راسی دالله دحکم طرف ته کوم چی یی نازل کړو او درسول طرف ته نو ته

الْمُنَافِقِينَ يَصُدُّونَ عَنْكَ صُدُودًا ﴿٦١﴾ فَكَيْفَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ

وینی منافقان چی واپس کیږي ستا څخه په منع کولو سره ، نو څه وی هرکله چی اورسیږي دوی ته

مُصِيبَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ثُمَّ جَاءُوكَ يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ

مصیبت دخپلو لاسونو دکړو څخه بیا راسی تاته قسمونه خوری په الله چی

إِنْ أَرَدْنَا إِلَّا إِحْسَانًا وَتَوْفِيقًا ﴿٦٢﴾ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يَعْلَمُ اللَّهُ مَا

زموږ غرض نه وو مګر دښیګړی او موافقت ، دا هغه خلق دی چی الله ﷻ ته معلوم دی هغه

فِي قُلُوبِهِمْ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَعِظْهُمْ وَقُلْ لَهُمْ فِي أَنْفُسِهِمْ

چی په زړونو کی یی دی نو ته ددوی څخه ځان ناخبره کړه او دوی ته نصیحت کوه اودوی ته وایه د دوی په حق کی

قَوْلًا بَلِيغًا ﴿٦٣﴾ وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ رَسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللَّهِ

خبره دکار ، او موږ یو رسول نه دی لیږلی مګر ددی دپاره چی دده حکم ومنل سی دالله په اذن سره

وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ جَاءُوكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللَّهَ

او که دغه خلق کوم چی دځان سره یی بد کړی وو راتلی تاته بیا یی نه معافی غوښتی

وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُوا اللَّهَ تَوَّابًا رَحِيمًا ﴿٦٤﴾

او رسول هم بخښنه غوښتی وای دوی دپاره البته پیدا کولی به یی الله معاف کوونکی مهربانه .

تفسیر: (ای محمد ﷺ) آیا تا هغه خلګ ونه لیدل کوم چی (په ژبه سره) دعوه کوی چی دوی (یعنی موږ) په هغه کتاب هم ایمان لری چی تاته نازل کړه سوه (یعنی قرآن) او په هغه کتاب هم کوم چی تر تا مخکی نازل کړه سوی دی (یعنی تورات، ځکه چی په دی کی دمنافقانو بیان دی او اکثره منافقان دیهودو څخه وه، مطلب دادی چی په ژبه سره دعوه کوی چی لکه څنګه چی موږ تورات منو دغه ډول قرآن هم منو یعنی داسلام دعوه کوونکی دی ، بیا په دی سربیره حال دا دی چی) خپله فیصله شیطان ته ورل غواړی (ځکه چی دغیر شرعی طرفته دفیصلی وړل دشیطان ښوونه ده، نو په دی عمل کول داسی دی لکه فیصله

Maktaba Tul Ishaat.com

شیطان ته ورورې) حال دادې چې (ددې څخه دوه کارونه منع کوونکې موجوددي یودا چې) دوی ته (دشریعت دطرف څخه) داحکم دې چې دې (شیطان) مه منې (یعنی په عمل اوعقیده دواړو دده مخالفت کوی) او (دوهم منع کوونکې کاردا دې چې) شیطان (د دوی داسی دښمن او بدخواه دې چې) دوی (دحق څخه) بې لاری کوی ډیر لیری یې بیول غواړې (نوسره ددې دواړو کارونو چې دا یې غوښتنه چې دشیطان په وینادې عمل نه کوی، بیاهم دوی دهغه موافقت کوی) اوکله چې دوی ته وویل سی چې راسی دهغه حکم طرفته چې الله ﷻ نازل کړی دی او (راسی) درسول ﷺ طرف ته (چې دوی ددې حکم موافق فیصله وفرمایې) نوته به (دغه وخت) په دې حالت کې منافقان وینی چې ستاسی (دخوا) څخه منع کوی بیایې حال داسی جوړسی چې کله په دوی کوم مصیبت راسی د دوی ددغه کارپه وجه کوم چې (تردې مصیبت) یې مخکې کړی وی (مراد ددې کار څخه شریعت پریښوول بل ځای ته فیصله وړل دی اودمصیبت څخه مراد قتل یاخیانت اونفاق یې ښکاره کیدل اوپوښتنه ورڅخه کیدل، یعنی دغه وخت فکر کوی چې ددې کار کومه بهانه جوړه کړی چې مخ یې روښانه سی) بیا (بهانه جوړه کړی) تاته راسی په خدای قسمونه خوری چې (مونږچې کوم بل ځای ته تللی وو) زمونږ کوم بل مقصدنه وو ماسوا ددې څخه چې (د دواړو ډلو دمعاملې) څه فائده (یعنی یوصورت یې) راووزی او (د دوی) موافقت یې راسی (مطلب دا دی چې قانون خو دشرعی حق دی مونږ بل ځای ته په دې وجه نه وو تللی چې شریعت موناحقه ګنی خوخبره دا ده چې په قانونی فیصله کې خو دحق خاوند حاکم ته دا نه سی ویلی چې رعایت وکړه اوپه خپل مینځ کې په فیصله کولوکې اکثره رعایت کول کیږی، نو داوجه وه زمونږ بل ځای ته دتللو او دقتل په قصه کې ذمقتول په خپل کارکې دبهانی جوړولو مقصود خپل ځان بری کول اوپه حضرت عمر ؓ دقتل دعوه کول به هم وی، الله ﷻ د دوی دبهانو د درواغ کولو دپاره فرمایې چې) داهغه خلګ دی چې الله ته معلوم دی هغه (دنفاق اوکفرخبری) چې ددوی په زړونوکې دی (چې ددې کفراونفاق اوپه شرعی حکم دنه رضا کیدو په وجه به داخلګ بل ځای ته ځی اوپه مقرر وخت کې ددې سزاهم وینی) نو (مشوره داده چې) تاسی (دخدای په علم اودخدای په مواخذه اکتفاوکې او) په دوی باندې ځان بې پرواه کې (یعنی څه ورته مه وایاست) او (دخپلې پیغمبری دمرتبې په وجه) دوی ته نصیحت کوی (چې دداسی کارونو څخه هغه راوګرځی) اودوی ته خاص ددوی دنفسونو (داصلاح) متعلق پوره بیان وکې (چې دلیل په پوره سی بیاکه یې نه منی نودوی پوه سه اوکار یې پوه سه) اومونږتول پیغمبران خاص په دې وجه رالیږلی دی چې دخدای ﷻ په حکم سره (کوم چې درسول داطاعت په باب کې ویل سوي دی) د دوی حکم ومنل سی (نو داول څخه پردې خلګودرسول حکم منل واجب وو) اوکه (دبدبختی څخه ورڅخه بې وقوفی سوی وه نو کوم وخت چې یې (په دې ګناه سره) خپل نقصان کړی وو، دغه وخت (په پښیمانتیا سره) ستاپه خدمت کې حاضر سوی وی بیا (وروسته ترحاضری) دالله ﷻ څخه یې (دخپلې دې ګناه) معافی غوښتی او رسول (یعنی تاسی هم) د دوی دپاره دالله ﷻ څخه معافی غوښتی نوخامخابه یې الله ﷻ توبه قبلوونکی او رحمت کوونکی پیدا کړی وای (یعنی الله ﷻ به یې په خپل رحمت سره توبه قبوله کړی وای)

معلومات اومسئلې: دآیتونوتړون: په تیروآیتونوکې په ټولو معاملوکې دالله ﷻ او درسول ﷺ دحکمونو

Maktaba Tul Ishaat.com

طرف ته درجوع کولوحکم ؤ په دی آیتونوکی دشریعت خلاف بل قانون ته درجوع کولو بدوالی بیان سوي دی.
دآیتونو شانِ نزول: ددی آیتونو دنزول یوه خاصه واقعه ده دهغه تفصیل دا دی چی بشر نومی یومنافق وو دده دیو یهودی سره جګړه جوړه سوه ، یهودی وویل درځه ! چی ولاړ سو، په محمد ﷺ دا فیصله وکړه ، لیکن بشرمنافق دا خو ښه نه کړه ، بلکه کعب بن اشرف یهودی ته تلل اوپه هغه یی دفیصلی کولو واړندیز وکی کعب بن اشرف دیهودو سردار وو اودنبی کریم ﷺ اودمسلمانانو سخت دښمن وو دا عجیبه خبره وه چی یهودی خپل سردار پریښوی وی په نبی کریم ﷺ یی فیصله کول خوښول اوځان ته مسلمان ویونکی بشر دحضور ﷺ پرځای دیهودی سردار فیصله خوښوی لیکن رازپه دی کی داووچی ددی دواړو دایقین ووچی نبی کریم ﷺ به فیصله په حق اوانصاف سره کوی دی ﷺ دچا رعایت اولحاظ هیڅ نه کوی ، اویهودی په دی جګړه کی په حقه وو، په دی وجه دده دخپل سردارکعب بن اشرف څخه زیات اعتماد په نبی کریم ﷺ وو ، بشرمنافق په ناحقه وو ، په دی وجه هغه پوهیدی چی دا فیصله به زماخلاف وی که څه هم زه ځان ته مسلمان وایم او دی یهودی دی.
دخبرو اترو څخه وروسته دواړه په دی راضی سول چی نبی کریم ﷺ ته ولاړسی اوپه هغوی دا فیصله وکی نو دعوه حضور ﷺ ته پیش سوه، ده ﷺ دمعاملی تحقیق وکی نو حق دیهودی ثابت سو، اودهغه په حق کی یی فیصله وکړه اوبشرچی په ظاهره مسلمان وو، ناکامه سو، نوپه دی وجه دی په فیصله راضی نه سو او بوه نوی لار یی را وایسته چی په هرشان چی وی دایهودی په دی راضی کړی چی مونږ دواړه دحضرت عُمر ﷺ طرف ته ولاړسو اوفیصله په هغه وکړو، یهودی داقبوله کړه ، رازپه دی کی دا وو چی بِشر په دی پوه وو چی حضرت عمر ﷺ دکفارو په معامله کی سخت دی ، دی به دیهودی په حق کی دفیصلی کولو پرځای زماپه حق کی فیصله وکړی ، په هرحال دواړه اوس عمر فاروق ﷺ ته ورسیدل ، یهودی حضرت فاروق اعظم ﷺ ته پوره واقعه بیان کړه چی ددی دعوی فیصله رسول الله ﷺ کړی ده لیکن ددی سړی په هغه باندی اطمینان نسته او اوس یی دعوه تاسی ته راوړه ، حضرت عمر ﷺ دبشر څخه پوښتنه وکړه چی دا خبره صحیح ده؟ نو هغه اقرار وکی چی هو! حضرت فاروق اعظم ﷺ وفرمایل چی ښه دی یواری لږ ودریږی زه راځم ، کورته ولاړی اویوه توره یی راوړه اودمنافق کاریی په ورخلاص (سریی ورپری) کی او وی فرمایل (کوم سړی چی دنبی کریم ﷺ په فیصله راضی نه وی دهغه هم دا فیصله ده) دا واقعه روح المعانی په روایت دثعلبی اوابن حاتم دحضرت عبدالله ابن عباس ﷺ څخه نقل کړی ده)
اوعامو مفسرینو په دی کی داهم لیکلی دی چی تردی وروسته ددغه مقتول منافق وارثانو دحضرت عمر ﷺ خلاف دادعوه هم داخله کړه چی ده یومسلمان بغیر دشرعی دلیل څخه وژلی دی اودده دمسلمان ثابتولو دپاره یی مختلفی بهانی جوړی کړی چی ګویا دی مسلمان وو ، په ذکرسوی آیت کی الله ﷻ دمعاملی اصلی حقیقت او ددغه قتل سوی سړی منافقوالی ښکاره کی او حضرت عمر ﷺ یی بری کی ، په دی سلسله کی نوری هم څو واقعی نقل دی چی ځینو خلګو شرعی فیصله پری ایښی وه او دیوه کاهن یانجومی فیصله یی قبوله کړی وه، کیدی سی چی دا ذکر سوی آیت ددی ټولو واقعوپه اړوند نازل سوی وی ،اوس دآیتونو تفسیر واوری ، په اولنی آیت کی ارشاد وسو چی دغه سړی ته وګوری کوم چی دا

Maktaba Tul Ishaat.com

دعوه کوي ، چي ما په تيرو کتابونو ، تورات او انجيل باندي هم ايمان راوړی وو او کوم کتاب قرآن چي په تاسي نازل سو په دی هم ايمان راوړم، يعني اول په اهلِ کتابو کی داخل وو بيا په مسلمانانو کی داخل سو ، ليکن دا په مسلمانانو کی داخليدل يی يوازي په ژبه دي زړه يی هم دهغه کفر څخه ډك دی کوم چي دجګړي په وخت کی داسی ښکاره سو چي نبی کريم ﷺ يی پري ښووی او ديهودی سردار کعب بن اشرف طرف ته يی دتللو درخواست پيش کی او ترډی وروسته چي کله نبی کريم ﷺ واضحه اودحق فيصله وکړه نو په هغه راضی نه سو ، دطاغوت دلفظ لغوی معنی سرکښی کوونکی دی او په عُرف کی شيطان ته طاغوت ويل کيږی ، په دی آيت کی يی دکعب بن اشرف طرف ته فيصله وړل دشيطان طرف ته وړل ويلي دی، يا په دی وجه چي کعب بن اشرف په خپله يو شيطان وو او يا په دی وجه چي شرعی فيصله پري ښوول دخلاف شرعی فيصلي طرف ته رجوع کول خاص دشيطان تعليم کيدی سی، ددی تابعداری کوونکی ګواکی دشيطان طرف ته خپله فيصله وړی، په دی وجه يی دآيت په آخرکی وفرمايل چي کوم سړی دشيطان خبره منی نو شيطان به دی په ډيره ليری ګمراهی کی اخته کړی ، په دوهم آيت کی وښوول چي په خپل مينځ کی دجګړي په وخت کی دنبی کريم ﷺ دشرعی فيصلي څخه ډډه کول ديو مسلمان کار نه سی کيدی ، داسی کار کوونکی منافق کيدی سی او کله چي ددغه منافق کفر عملاً په داسی شان سره ښکاره سو ، چي دنبی کريم ﷺ په فيصله راضی نه سو نو دفاروقِ اعظم ﷺ قتلول ده لره صحيح سوه ، څکه چي اوس هغه منافق پاته نه سو ، بلکه ښکاره کافر سو ، په دی وجه يی ارشاد وفرمايی چي داخلګ داسی دی چي کله دوی ته وويل سی چي راسی دهغه حکم طرف ته کوم چي الله ﷻ نازل کړی دی او دهغه درسول طرف ته نو دا منافقان ستا طرف ته دراتلو څخه ودريږی ، په دريم آيت کی يی ددغو باطلو بهانو غلط والی ښکاره کړی دی ، کوم چي شرعی فيصله پريږدی او دغير شرعی فيصلي طرف ته درجوع کوونکو دطرف څخه پيش کړه کيږی چي خلاصه يی داوه چي مونږ نبی کريم ﷺ په ناحقه ګڼلو سره نه وو پری ايښی او دنورو فيصله مونږ دده په مقابله کی دحق ګڼلو په وجه نه وه اختيار کړی ، بلکه دا کار مونږ دځينو مصلحتونو په وجه وکی ، مثلاً يو په کی دا مصلحت وو چي ستاسی فيصله خو قانونی فيصله وه چي په دی کی دصلحی او رواداری څه سوال نه پيداکيدی ، خو مونږ فيصله بل ځای ته په دی وجه يووړه چي ددی دواړو ډلو دپاره په کی دخوښ والی کوم صورت راووزی او د دواړو په مينځ کی مصالحت وکړه سی (يعنی ددواړو صلح راوستل سی) ، دا تاويلونه (بهانی) دوی خلګو ته هغه وخت پيش کړه کله چي ددوی راز ښکاره سو او خباثت او نفاق يی ښکاره سو د دوی سړی دحضرت عمر ﷺ دلاسه مړسو ، مقصد دا دی چي کله د دوی دبدو عملونو په نتيجه کی په دوی رسوايی او دقتل مصيبت پريوتی ، نو قسمونه يی خوړل او بهانی يی جوړولی ، الله ﷻ په دی آيت کی په ډاګه کړه چي دوی په خپلو قسمونو او بهانوکی درواغجن دی ، دوی چي څه وکړل دخپل کفر او نفاق په وجه يی وکړل ، ارشاد يی وفرمايی چي کله پردوی باندي دخپلو بدو عملونو په نتيجه کی کوم مصيبت راسی ، مثلاً خيانت او نفاق يی ښکاره سی رُسوايی يی وسی يا ورته ددی په نتيجه کی دقتل واقعه وړپيښه سی نو دغه وخت داخلګ تاته راځی او قسمونه خوری چي دنبی کريم ﷺ څخه ما سوا بل چاته دفيصلو وړلو سبب کفر يا دده

ﷺ فیصلی ناحقه گڼل نه وو، بلکه زمونږ مقصد فائده اوموافقت وویعنی د دواړو ډلو دپاره دفائدی اوصلحی لاری لټول مقصود وو .

په څلورم آیت کی ددی جواب راغی چی د دوی په زړونو کی چی کوم کفر او نفاق دی ، الله ﷻ په دی ښه خبری د دوی بهانی غلطی اوقسمونه یی په درواغودی نو ته د دوی عذر مه قبلوه او دحضرت عمرخلاف ددعوه کوونکو دعوه ردکړه ، ځکه چی ددغه منافق کفر ښکاره سوی وو ، تردی وروسته فرمایی چی دی منافقانوته دخیر خواهی نصیحت کوه چی د دوی په زړونو تاثیر وکی یعنی دآخرت څخه یی بیروه او داسلام طرف ته ورلره مخلصانه دعوت ورکوه یاورته ددنیا دسزا ذکر کوه چی که تاسی دنفاق څخه راونه گرځیدلاست نوبیو وخت به ستاسی دانفاق ښکاره سی، نوستاسی به هم دغه انجام وی کوم چی دبشر سو په پنځم آیت کی یی اول یوه عامه قاعده وښوول چی مونږ کوم رسول لیږلی نو ددی دپاره یی لیږلی چی ټول خلک دالله ﷻ دحکم مطابق دده حکمونه ومنی نولازمی نتیجه به یی دا وی چی کوم سړی درسول داحکامو مخالفت کوی دهغه سره به دکفارو په شان مقابله کول کیږي ، په دی وجه حضرت عمرچی کوم کار وکی دا صحیح وسو ، تردی وروسته یی ورته دخیر خواهی مشوره ورکړی ده چی که دی خلکو دباطلو بهانو اود درواغو دقسمونو په ځای په خپله گناه ډا ډه سوی وی اوستا په حضورکی یی په خپله هم دالله ﷻ څخه معافی غوښتلای اورسول هم ددوی دبخښنی دُعا کولای نو الله ﷻ به خامخا د دوی توبه قبوله کړی وای ، دلته دتوبی دقبلیدو دپاره دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضریدل اوبیا دحضور ﷺ دمغفرت دپاره ددُعا کولو شرط غالبًا په دی وجه دی چی دی خلکو دنبی کریم ﷺ دنبوّت په منصب (مرتبی) باندی حمله وکړه او دده په فیصله یی عمل ونه کی ده ته یی آزار ورسوی، په دی وجه ددی جُرم دتوبی دپاره د نبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضری اودده ﷺ څخه بخښنه غوښتل یی په کی شرط مقرر کی دا آیت که څه هم چی دمنافقانو دیوی خاصی واقعی په باره کی نازل سوی دی لیکن ددی دالفاظو څخه یوه عامه قاعده راووته چی کم سړی دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضرسی اودی دده دپاره دمغفرت دعا وکړی نوده ته به خامخا معافی وسی او دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضری لکه څنگه چی دده ﷺ په دنیوی ژوند کی کیده دغه ډول نن هم دده ﷺ په پاکه روضه مبارکه کی حاضری په دی حکم کی ده .

حضرت علی ﷺ فرمایی چی کله مونږ نبی کریم ﷺ دفن کی نو دری ورځی وروسته یو کلی وال راغی اوپر قبر شریف باندی ورغوځار سو اوډیر ډیر یی وژړل اوددی آیت حواله یی ورکړه ، عرض یی وکی چی الله ﷻ په دی آیت کی وعده فرمایلی ده چی که گناهگار درسول ﷺ په خدمت کی حاضرسی اورسول ﷺ دده دپاره دمغفرت دعاوکړی نو دده مغفرت به وسی په دی وجه زه ستاپه خدمت کی حاضر سوی یم چی ته زما دپاره دمغفرت دعا وکه ، نو دغه وخت چی کوم خلک حاضر وه ، دهغو بیان دی چی په جواب کی ورته دپاکی روضی مبارکی څخه دا آواز راغی قَدْ غُفِرَ لَكَ (ستا بخښنه وسوه) بحر محیط

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ

نوقسم دی ستا درب چی دوی مؤمنان کیدی نه سی ترهغه پوری چی تا منصف ونه منی په هغه جگړه کی چی

Maktaba Tul Ishaat.com

ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِيٓ اَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿۶۵﴾

په دوی کی راپورته سی پس بیا پیدا نه کی په خپلو نفسونو کی تنگی ستا د فیصلی څخه او قبلوله یی کی په خوشحالی سره.

لنډ تفسیر: بیا قسم دی ستا درب دا خلگ (چی یوازی په ژبه سره ایمان ښکاره کوی په نزد دخدای) ایماندار نه سی کیدی تر هغه پوری چی دا خبره نه وی چی ددوی په مینځ کی کومه جگړه جوړه سی په هغه کی دا خلگ پرتاسی (اوچی تاسی نه یاست بیا ستاسی په شریعت باندی) فیصله ونه کړی بیا (کله چی تاسی فیصله وکی نو) ستاسی په فیصله سره په خپلو زړونو کی (دانکار) تنگی نه پیدا کوی او (دا فیصله) پوره پوره (په ظاهر او باطن سره) ومنی.

معلومات او مسئلي

(دنبي کریم ﷺ فیصله نه منل کفر دی)

په دی آیت کی دنبی کریم ﷺ دلویی اولویی مرتبی اوشان ښکاره کولو سره دده دحکم منلو واضحه تشریح بیان کړی ده چی دا دبی شمیره نورو آیتونو دقرآن څخه هم ثابته ده، په دی آیت کی الله ﷻ قسم خوری، فرمایی چی یو سړی ترهغه وخته پوری مؤمن یا مسلمان نسی کیدي ترڅو پوری چی دی دزړه دا خلاصه دنبی کریم ﷺ پیغمبری او حکم ونه منی، چی دده په زړه کی هم دده دفیصلی څخه کومه تنگی را نه سی، نبی کریم ﷺ په خپله په حیثیت درسول دامت حاکم اودهری پیښوی سوی دعوی دفیصلی کولو ذمه واردی، دوی ﷺ خودبخوده ددی ذمه واردی، داسی نه ده چی گویا څوك به دی حاکم یا حَکَمْ ومنی نو هلته به بیا دی حاکم وی، بیا په دی آیت کی یی مسلمانانو ته دده دحکم جوړولو تلقین ځکه فرمایلی دی چی دحکومت دمقرر سوی حاکم او دده په فیصله خو د ډیرو خلگو اطمینان نه راځی داسی لکه څنگه چی یی په خپل مقرر کړی ثالث یا حاکم اطمینان راځی، لیکن نبی کریم ﷺ یوازی حاکم نه دی بلکه رسول معصوم هم دی دمخلوق دپاره رحمت هم دی، دامّت مشفق او مهربانه پلار هم دی، په دی وجه یی دا تعلیم ورکی چی هروخت ستاسی په یوه معامله یا یوه مسئله کی اختلاف راسی نو د دواړو ډلو فریضه ده چی نبی کریم ﷺ حَکَمْ (فیصله کوونکی) جوړ کړی په ده فیصله وکړی او بیا دده فیصله پرسر او سترگو قبوله کړی او عمل په وکی.

(په اختلافاتو کي دده ﷺ حکم جوړول دده ﷺ په زمانه پوری خاص نه دی)

مفسّرین فرمایی چی دقرآن په ارشاد باندی عمل کول دده په زمانه مبارکه پوری خاص نه دی، ترده ﷺ وروسته دده دپاك شریعت فیصله په خپله دده ﷺ فیصله ده، په دی وجه دا حکم هم دغه ډول ترقیامته پوری جاری دی چی دده ﷺ په زمانه مبارکه کی به ده ﷺ ته رجوع کول کیږی او ترده ﷺ وروسته به دده ﷺ دشریعت طرف ته رجوع کول کیږی، چی په حقیقت کی هم ده ﷺ ته رجوع ده.

یو څو مهمي مسئلي: اوله دا چی هغه سړی مسلمان نه دی چی په خپله هره یوه جگړه او دعوه کی دنبی کریم ﷺ په فیصله باندی مطمئن نه وی دغه وجه ده چی حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه هغه سړی قتل کی کوم چی دنبی کریم ﷺ په فیصله راضی نسو او بیا یی معامله حضرت فاروق رضی الله عنه ته یو وړه، ددی وژل سوی

Maktaba Tul Ishaat.com

وارثانو دنبی کریم ﷺ په عدالت کی په حضرت عمر ﷺ باندی دعوه وکړه چی ده یو مسلمان بی له وجهی قتل کی ، کله چی دنبی کریم ﷺ په خدمت کی درخواست پیش کړه سونودهغه دژبی مبارکی څخه په دی دا الفاظ ووتل ، مَا كُنْتُ اَظُنُّ اَنَّ عُمَرَ ﷺ يَجْتَرِءُ عَلٰى قَتْلِ رَجُلٍ مُؤْمِنٍ (یعنی زما داګمان نه ووچی عمر ﷺ به دیو مؤمن دوژلو جرئت وکړی) ددی څخه ثابته سوه چی کله دلوړحاکم څخه دیوه ماتحت حاکم دفصیلی غوښتنه وسی نوده ته دخپل لاندی حاکم دطرف پرځای په انصاف سره فیصله کول پکاردی لکه چی په دی واقعه کی دآیت ترنازلیدو مخکی نبی کریم ﷺ دحضرت عمر ﷺ پرفیصله باندی ناخوښی ښکاره کړه، بیاچی کله دا آیت نازل سو نو حقیقت ښکاره سو چی ددی آیت په بناء سره دغه سړی مؤمن نه وو .

دوهمه مسئله ددی آیت څخه دا راووته چی لفظ د فِيمَا شَجَرَ یوازی دمعاملو اوحقونو سره متعلق نه دی، پرعقیدو نظریاتو اونورو باندی هم حاوی دی یعنی عقیدی اونظریی هم په کی داخلی دی (بحرمحیط) په دی وجه دهرمسلمان دافرض دی چی کله هم په یوه مسئله کی اختلاف ته خبره ورسیږی نودیوه اوبل سره دجګړی کولو پرځای دواړو دلوته پکاردی چی دنبی کریم ﷺ طرف ته اوترده وروسته دده ﷺ دشریعت طرف ته رجوع وکړی اودمسئلی حل را وباسی .

دریمه مسئله دا معلومه سوه چی کوم کار دنبی کریم ﷺ څخه قولاً یا عملاً ثابت سودهغه په کولوکی دزړه تنګی محسوس کول دایمان دکمزوری نښانه ده ، مثلاً کوم ځای چی شریعت په تیمم سره دلمانځه کولو اجازت ورکړی دی، هلته چی په تیمم سره دیوه سړی زړه راضی نه وی نودی دي داتقوی نه ګڼی بلکه دا دده دزړه خړوالی دی ، ترنبی کریم ﷺ زیات متقی څوك نسی کیدی، په کوم صورت کی چی نبی کریم ﷺ په ناستی دلمانځه کولو اجازت ورکړی دی او په خپله یی کړی دی که دچازړه په دی راضی نه وی اوتر وس زیات محنت اومشقت تیروی، په ولاړی یی کوی، نوداسی دی وګڼی چی دده په زړه کی خړوالی دی ، البته که دلږ تکلیف یاضرورت په وخت کی په رُخصت عمل ونه کړی، عزیمت اختیار کړی ،نو دنبی کریم ﷺ دتعلیم مطابق داصحیح ده، لیکن په مطلقی شرعی رخصتونوکی تنګدلی محسوس کول څه تقوی نه ده ، په دی وجه نبی کریم ﷺ فرمایلی دی .

اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰی يُحِبُّ اَنْ تُؤْتٰی رُخْصَتُهٗ كَمَا يُحِبُّ اَنْ تُؤْتٰی عَزَآئِمُهٗ .

یعنی الله ﷻ لکه څنګه چی په عزیمتونو سره په عمل کولو خوشحاله کیږی دغه ډول په رخصتونو هم عمل کول خوښوی)

په عامو عبادتونو، ذکرونو او وظیفوکی ترټولو ښه طریقه هغه ده کومه چی په خپله د نبی کریم ﷺ عادت پاته سوی ده اوترده وروسته وربانُدی صحابه کرامو ﷺ عمل کړی دی ، په مسلمانانو فرض دی چی دحدیثو دصحیح روایتونو څخه دغه طریقه معلومه کړی اوخپل عمل یی جوړ کړی .

یوه مهمه فائده: دتیر تفصیل څخه دا خبره واضحه سوه چی نبی کریم ﷺ دأمت یوازی اصلاح کوونکی اواخلاقو ښوونکی نه وو ، بلکه یوعادل حاکم هم وو اوبیا حکم هم داسی شان چی دده فیصله دایمان اودکفر معیار مقرر کړه سوه، لکه چی دیشر منافق دواقعی څخه ښکاره ده ، ددی خبری دوضاحت دپاره الله ﷻ په خپل پاك کتاب کی ډیر ځایه دخپل حکم منلو دتعلیم سره سره دنبی کریم ﷺ حکم منل هم

Maktaba Tul Ishaat.com

لازمي مقرر كړي دي فرمايي ، أَطِيعُوا اللهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ يعني دالله ﷻ حكم مني او دالله ﷻ د رسول ﷺ حكم مني په يوه بل ځاى كي ارشاد فرمايي ، مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ يعني څوك چي دالله ﷻ د رسول ﷺ حكم ومني نو ده په حقيقت كي دالله ﷻ حكم ومنی ، په دي آيتونو كي چي فكر وكړه سي نو دده دحاكموالي شان ورڅخه ښه په ډاګه كيږي ، چي ددې دعملي صورت دښكاره كولو دپاره الله ﷻ ده ته خپل قانون وليږي چي ددې مطابق ده ددعوو فيصلي وكړي، لكه چي ارشاد دي.

إِنَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللَّهُ .

يعني مونږ په تاكتاب په حق سره نازل كړى چي ته دخلګو په مينځ كي داسي فيصلي وكړي ، څنګه چي الله ﷻ تاته ښوولي دي اوته يي په پوه كړي يي .

وَلَوْ أَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ أَنِ اقْتُلُوا أَنفُسَكُمْ أَوِ

او كه مونږ په دوی باندي حكم كړى چي هلاك كړي خپل ځانونه

اخْرُجُوا مِن دِيَارِكُم مَّا فَعَلُوهُ إِلَّا قَلِيلٌ مِّنْهُمْ وَلَوْ أَنَّهُمْ

يا پاته كړي خپل كورونه نو داسي به يي نه وو كړي ، مګر لږ د دوی څخه ، او كه دا خلق وكړي

فَعَلُوا مَا يُوعَظُونَ بِهِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَأَشَدَّ تَثْبِيتًا ﴿٦٦﴾

هغه كوم چي يي دوی ته نصيحت كول سي ، نو دا به غوره وي دوی لره او زياته ثابت لرونكي په دين كي

وَإِذًا لَّآتَيْنَاهُم مِّن لَّدُنَّا أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٦٧﴾ وَلَهَدَيْنَاهُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿٦٨﴾

او په دغه وخت كي به البته وركړو مونږ دوی ته دخپل طرف څخه ثواب لوی او وبه ښيو دوی ته لاره سيده برابره

لنډتفسير: او مونږ كه په خلګو باندي داخبره (په ډول دمقصودي حكمونو) فرض كړي واى چي تاسي ځانونه وژني يادخپل وطن څخه بې وطنه كيږي نو بغير ديوڅو كسانو څخه (كوم چي كامل مؤمنان وه) دا حكم به هيڅاهم نه واى په ځاى كړي (ددې څخه ثابته سوه چي كامل حُكم منونكي ډيركم وي) اوكه چيري (دي منافقانو) خلګوته چي په څه شي سره دوی ته (درسول دحكم پرسر اوسترګو دمنلو) نصيحت كول كيږي، په دي باندي عمل كولاى نو ددوی دپاره به (په دنياكي دثواب ګټلو په وجه) ښه واى او (دارنګه ددين دمكمل كولو په اعتبار سره به ددوی) ايمان لره زيات پخونكي واى (څكه چي په تجربي سره ثابته سوه چي ددين په كار كولو سره په خپله باطن، عقيده اويقين پخيږي اوترقي كوي) اوپه دې حالت كي به (چي كله په عمل سره دوی ته ددين ثابت والی حاصليدي نو په آخرت كي به) مونږ دوی ته خاص دخپل طرف څخه لوی اجر وركولای او مونږ به دوی ته (دجنت) سيده لار ښوولای (چي ښې منعی جنت ته داخليږي چي دلوی ثواب پيداكولو مقام دی)

معلومات اومسئلې: شانِ نزول: دکومی واقعی په بنآء چی دا آیتونه اوتردی مخکی آیتونه نازل سول ، هغه دبشر منافق معامله وه چی دخپلی جګړی دفیصلی دپاره یی اول کعب بن اشرف یهودی منتخب کی، بیاپه مجبوری دنبی کریم ﷺ خواته ولاړی اوکله چی دهغه فیصله دده خلاف وه نوپه هغی هم راضی نه سو او حضرت عمر رضی الله عنه ته ولاړی دا واقعه چی کله په مدینه کی مشهوره سوه نو مسلمانانوته یهودیانو پیغور ورکی چی تاسی څنګه خلګ یاست څوك چی تاسی رسول بولی اودتابعداری یی دعوه یی کوی نودهغه فیصله نه منی اوګوری یهودیانوته، ددوی دګناه دتوبی په باره کی داحکم سوی وو، چی تاسی یو بل قتل کړی نو مونږ دغه وخت سخت حکم هم ومنی تردی چی زمونږ اویازره کسان ووژل سوه که چیری تاسی ته داسی حکم سوی وای نو تاسی به څه کولی ، پردی باندی دا آیت نازل سو ، وَلَوْ اَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ یعنی ددی منافقانو یادعامو خلګوچی کافر اومؤمن ټول په کښی داخل دی خوحال دادی چی که پردوی باندی دبنی اسرآئیلو په شان کم سخت حکم دځان وژلو یادوطن پریښوولو سوی وای نوپه دوی کی به ډیرو کمو خلګو داحکم منلی وای.

په دی کی هغه خلګوته سخت خبرداری دی چی دخپلو جګړو فیصله درسول الله ﷺ یا درسول الله ﷺ دشریعت څخه پریږدی اوبل طرف ته یی وړی اودیهودو دپیغور جواب هم په کی دی ، چی دا حال دمنافقانو دی دپخو مسلمانانو نه دی اوشاهد ددی دا دی چی کله دا آیت نازل سونوپه صحابه کرامو کی یوه صحابی وویل چی الله ﷻ مونږ په دی امتحان کی نه یو اچولی ددی صحابی داخبره رسول الله ﷺ ته ورسیده نوده ﷺ وفرمایل چی زماپه اُمّت کی داسی خلګ هم سته چی په زړونوکی یی ایمان ترمحکمه غرونو زیات محکمه سوی دی ، دابنِ وهب بیان دی چی داکلمه دحضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه وه.

او په یوه روایت کی دی چی حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه چی کله دا آیت واوریدی نووی فرمایل چی که دا حکم نازل سوی وای نو په خدای قسم چی تر ټولو مخکی به اول ماخپل ځان اودکور خلګ قربان کړی وای ، په ځینو روایتونوکی دی چی ددی آیت په نازلیدو باندی نبی کریم ﷺ وفرمایل چی که داحکم دځان وژلو یاوطن پریښوولو دالله ﷻ دطرفه څخه راغلی وای نوامّ عبدیعنی حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه به ضرورپه دی عمل کړی وای، اوپاته سوه دوطن پریښوولو معامله نوصحابه کرامو خوپه دی عمل کړی اوښوولی دی چی خپل وطن مکه اوټول جایدادونه اوتجارتونه یی پریښی وه اودمدینی منوری طرف ته یی هجرت اختیار کی ، په آخرد آیت کی یی وفرمایل چی داکار که څه هم ګران دی لیکن که زما دحکم مطابق دوی داومنی نو انجام به یی داوی چی دابه ددوی دپاره ښه وی اوداعمل به دده ایمان نورقوی کړی اومونږبه په دی باندی ده ته لوی ثواب ورکړو او دی په سیده لاره روان کړو.

او تردی وروسته په آخری آیت کی دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ دحکم منونکو دلویو درجو ذکر دی چی په دی کی دوی ته زیری هم ورکړل سوی دی چی داخلګ به په جنت کی دانبیاوو علیهم السلام صدّیقانو اوشهیدانو او صالحانو سره وی ، ددی آیت دنزول یوه خاصه واقعه ده اوددی تفصیل دانبیاوو، صدّیقانو، شهیدانو اوصالحانو دڅلورو درجو دکوموچی په دی کی آیت کی ذکر دی ددی تشریح اوپه جنت کی د دوی دملګری کیدو تفسیر به انشآء الله مخته راسی.

وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ

او څوك چي حكم مني دالله او درسول نو هغه به دهغو سره وي په چا چي

اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ

الله ﷻ انعام كړى دى چي هغوى نبيان صديقان اوشهيدان

وَالصّٰلِحِيْنَ ۚ وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا ﴿۶۹﴾ ذٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللّٰهِ ۚ وَكَفٰى بِاللّٰهِ عَلِيْمًا ﴿۷۰﴾

اونيك بخت دى او غوره ده د دوى ملګر تيا ، دا فضل دى دالله دطرف څخه او الله پوره دى پوه.

لنډتفسير: اوكوم سړى (چي په ضروري احكاموكي هم) دالله اودرسول خبره ومني (كه څه هم په ډيرو عبادتونو سره كمال پيدا نه كي) نوداسي خلګ به هم (په جنت كي) دهغه حضراتوسره وي پرچاچي الله (كامل) انعام (دنژديكت اودين اوقبول والي) كړى دى، يعني انبيآء عليهم السلام اوصدّيقان (كوم چي دانبياؤ په اُمّت كي ترټولو زياتي مرتبي والا وي چي پباطني كمال هم په كي وي اوپه اصطلاح كي ورته اوليآء وايي) اوشهيدان (چاچي ددين په محبّت كي خپل ځانونه قربان كړي وي) اوصالحان (چي دشريعت پوره تابع وي، په واجباتوكي هم اوپه مستحباتوكي هم چي نيك بخت اوديندار ه ورته ويل كيږي) اودا حضرات (چي دچاملګري وي) ډير ښه ملګري دي (اودفرمان بردارو ددوى سره ملګرتيا ثابته ده، نوحاصل داسوچي دفرمانبرداري داميوه سوه چي دوى ته به داسي ملګري ورسيږي) دا (ملګرتيا او يو ځاى والي ددى حضراتو سره خاص) فضل دى دالله ﷻ دطرفه څخه (دعمل اجرنه دى ځكه چي دعمل مقتضا دا ده چي كومه درجه دعمل وي ترهغه درجي دى مخ ته نه سي تلى نودا په ډول دانعام ده) او الله پوره پوه دى (په هريوه عمل اودهغه په مقتضا باندي، اوتردى دزيات مناسب انعام اندازه ښه ورته معلومه ده، ځكه چي په دى انعام كي به هم فرق وي څوك به ددى حضراتوسره هروخت يوځاى وي او څوك كله كله، الله ښه عالم دى)

دآيتونو تړون: لوړ دالله ﷻ او درسول پر فرمانبرداري باندي دلوى اجر وعده وه ، اوس په دى آيتونوكي په ډول دقاعدى كليى دالله ﷻ او دهغه درسول په فرمانبرداري باندي دعامي وعدي ذكر دى.

معلومات اومسئلي

(دجنّت درجي به دعملونو په اعتبار سره وى)

كوم خلګ چي په هغه ټولو شيانو باندي عمل كوى دكومو دكولو حكم چي الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ كړى دى ، دهغو ټولو شيانو څخه ځان ساتى دكومو دكولو څخه چي الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ منع فرمايلى ده نو دعمل په اعتبار سره به د دوى مختلفى درجي وى داولى درجي خلګوته به الله ﷻ دانبياء عليهم السلام سره دجنت په لوړو ځايونوكي ځاى وركړى او د دوهمى درجي خلګوته به دهغه خلګوسره ځاى وركړى چي تر انبياؤ عليهم السلام وروسته دى، كوموته چي صدّيقين ويل كيږي ، يعني هغه لوى لوى صحابه كرام

کرموچی بغیر دکم چون اوچرا خخه په اوّل وار کی ایمان قبول کړی دی لکه حضرت ابوبکرصدیق ﷺ بیا په د دریمې درجې خلک دحضراتو شهیدانوسره وی ، شهیدان هغه خلک دی چاچی دالله ﷻ په لاره کی خپل ځانونه اومالونه قربان کړی دی ؛ بیا دڅلورمې درجې خلک به دصالحانو حضراتو سره وی اوصالحان هغه خلک دی چی په خپل ظاهراو باطن کی دنیکو عملونو پابندوی .

لنډه دا ده چی دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ پوره په پوره فرمانبرداري کوونکی به ددی حضراتوسره وی کوم چی دالله ﷻ په نزد ترټولو زیات عزتمند اومقبول وی اودکومو چی څلور درجی وښوول سوی یعنی انبیآء، صدیقان، شهیدان او صالحان .

شان نزول: دا آیت دیوی خاصی واقعی پربنآء باندی نازل سوی دی چی د تفسیر امام حافظ ابن کثیر رحمه الله په ډیرو سندونو سره نقل کړی ده ، واقعه دا ده چی حضرت عائشه ﷺ فرمایی چی یوه ورځ یو صحابی دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سو اوعرض یی وکی چی یا رسول الله ! زما په زړه کی ستاسی محبت ترخپل روح هم زیات دی اوتر خپلی ښځی هم اوتر خپل اولاد هم، ځینی وخت زه په خپل کورکی بی آرامه یم تردی چی ستاسی په خدمت کی حاضرسم ستاسی زیارت وکړم نوتردی وروسته آرام راته حاصل سی ، اوس زما سره دافکردی چی کله ددی دنیا څخه تاسی ولاړ سی او ماته هم مرګ راسی ، نو زه پوهیږم چی تاسی به په جنت کی دانبیاو علیهم السلام سره په لوړو درجو کی یاست اوماته خو اول دا معلومه نه ده چی زه په جنت ته ورسیږم اوکه نه ، که ورسیږم هم نو زما درجه به ترتاسی ډیره لاندی وی ، زه به هلته ستاسی زیارت نه سم کولی ، نو زه به څنګه صبریږم ؟

نبی کریم ﷺ ددہ دا خبره واورېده هیڅ جواب یی ورنه کی تردی چی دا ذکر سوی آیت نازل سو ، وَمَنْ يُطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُولَ فَأُولٰئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِينَ : نوډغه وخت نبی کریم ﷺ ده ته زیری ورکی چی فرمانبردارته به په جنت کی دانبیآوو علیهم السلام، صدیقانو، شهیدانو اوصالحانو سره دملاقات موقع رسیږی یعنی په جنت کی به ددرجو دلوړوالی اولاندی والی سره سره دملاقات اویوځای کښینستو موقع پیدا کیږی .

(په جنّت کي دملاقات يوڅو صورتونه)

ددی به یوصورت دا هم وی چی پرخپل خپل ځای به ناست وی اویوبل به وینی ، لکه چی په مؤطاء امام مالك کی په روایت دابو سعید خدری ﷺ نقل دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی جنتیان به په خپلو کلکینانوکی ترځان لوړی درجی والا خلک وینی لکه تاسی چی په دنیاکی ستوری وینی ، او دا صورت به هم وی چی دیو بل درجوته دملاقات دپاره راځی لکه چی ابن جریر رحمه الله په روایت دربیع ﷺ نقل کړی دی ، چی نبی کریم ﷺ ددی آیت په تفسیرکی دا ارشاد فرمایلی دی چی دلوړی درجی خلک به دلاندی درجی دخلکو دملاقات دپاره راځی او د دوی سره به ملاقات او مجلس کوی ، او دا هم ممکنه ده چی دلاندی درجی خلکوته دملاقات دپاره لوړو درجوته دتلو اجازت وی ، ددی آیت په بنآء رسول الله ﷺ ډیرو خلکو ته په جنت کی دخپل ځان سره دیوځای اوسیدو زیری ورکړی دی ، په صحیح مسلم کی دی چی حضرت کعب بن اسلمی ﷺ دنبی کریم ﷺ سره شپی تیرولی ، یوه شپه دتهجد په وخت کی کعب

اسلمی ﷺ د نبی کریم ﷺ دپاره داوداسه اوبه مسواك اونور راوړل اوكښي يي ښوول نو دی خوشحاله سو
وی فرمایل چی غواړه څه غواړی کعب اسلمی ﷺ عرض وکی چی په جنت کی ستاسره یو ځای اوسیدل
غواړم وی فرمایل اونور څه ؟ نوهغه عرض وکی نورهيڅ نه ، په دی خبره نبی کریم ﷺ ارشاد وفرمایل
چی که ته زماسره په جنت کی اوسیدل غواړی نو (اَعِنِّيْ عَلٰى نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُوْدِ) یعنی ستامقصدبه حاصل
سی خوته هم په دی کی زما کومك داسی وکړه چی ډیری سجدی کوه ، یعنی نفل زیات کوه ، په مسند
احمد کی دی چی نبی کریم ﷺ ته یوسړی راغی اوعرض یي وکی چی یارسول الله ! ماددی خبری شاهدی
کړی ده چی دالله ﷻ څخه ماسوا بل څوك لائق دعبادت نسته اوددی چی ته دالله رېښتینی رسول یي اوز
دپنځه وخته لمانځه هم پابندیم اوزکوة هم ورکوم ، اودرمضان روژی هم نیسم ، دا چی یي واوریدل ، نو
نبی کریم ﷺ وفرمایل چی کوم سړی په دی حالت کی مړ سو ، دی به دانبیاؤ ﷷ ، صدّیقانو ، شهیدانو
اوصالحانو سره وی خوپه دی شرط چی دخپل مور اوپلار نافرمانی ونه کړی .
دغه ډول دترمذی په یوه حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی .

اَلتَّاجِرُ الصَّدُوْقُ الْاَمِيْنُ مَعَ النَّبِيِّيْنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ .
یعنی هغه تاجرچی رېښتینی او امانت داروی دی به دانبیاؤ ﷷ صدیقانو اوشهیدانو سره وی .

(دنژدیکت شرط محبّت دی)

دنبی کریم ﷺ صحبت (مجلس) اوملګرتیابه دده سره په محبت ساتلو حاصليږي ، لکه چی په صحیح
بخاری کی دصحابه کرامو دیولوی جماعت څخه په طریقه دتواتر سره نقل دی چی دنبی کریم ﷺ څخه
پوښتنه وسوه چی دهغه سړی به څه درجی وی چی دیوی ډلی (جماعت) سره محبت اوتعلق لری مګرپه
عمل کی د دوی درجی ته ونه رسیږی نو ده وفرمایل ، اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ اَحَبَّ یعنی په قیامت کی به هر سړی
دهغه چاسره وی چی دچاسره یي محبّت وی .
حضرت انس ﷺ فرمایي چی صحابه کرام په دنیاکی په یوه شي دومره نه وه خوشحاله سوی لکه چی
خومره په دی حدیث سره خوشحاله وه ، ځکه چی په دی حدیث کی دوی ته دا زیری ورکړل سوی دی چی
د نبی کریم ﷺ سره محبت کوونکی به په محشر اوجنت کی هم دحضور سره وی .

(دنبي کریم ﷺ ملګرتیا په رنګ او نسل موقوفه نه ده)

طبرانی په معجم الکبیرکی دحضرت عبدالله بن عمر ﷺ دا روایت نقل کړی دی چی یوحبشی سړی دنبی
کریم ﷺ په خدمت کی حاضرسو اوعرض یي وکی چی یارسول الله ! تاسی ترمونږ په حُسن ، صورت
اوښایست کی هم غوره یاست اوپه نبوت اورسالت کی هم ، اوس په دی حال کی که زه هم پردغه څه
باندی ایمان راوړم پرکم چی تاسی ایمان لری او هغه عمل کوم کم چی تاسی یي کوی نوآیا زه به په جنت
کی ستاسی سره کیدی سم ؟
نبی کریم ﷺ وفرمایل چی هو! خامخا (ته ددی خپلی حبشی بدصورتی څخه مه بیریږه) قسم دی په هغه
ذات دچاپه قبضه کی چی زماروح دی په جنت کی به تور رنګی حبشی سپین اوښایسته سی اودزرو کالو
پرفاصله باندی په بریښی ، اوکوم سړی چی دلااله الا الله ویونکی وی دهغه خلاصی اونجات دالله ﷻ په

ذمه دی ، اوکوم سړی چی سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ وایی دده په عملنامه کی یولك څلورویشت زره نیکی لیکل کیږی ، چی دا یی واوریدل نو په مجلس کی یوه سړی عرض وکی یارسول الله ! کله چی دالله ﷻ په دربارکی دنیکیو دومره سخاوت دی نوبیا مونږ څنګه هلاکیدی یاپه عذاب کی اخته کیدی سو؟ حضور ﷺ وفرمایل (داخبره نه ده) حقیقت دادی چی په قیامت کی به ځینی خلګ دومره نیکی راوړی چی که هغه په غره باندی کښیښوول سی نوغربه یی هم تکلیف برداشت نکړای سی لیکن ددی په مقابله کی چی دالله ﷻ نعمتونه راسی اودهغوی سره وزن کړه سی نودانسان عمل به دهغه په مقابله کی ختم سی، مګرداچی الله ﷻ دی په خپل رحمت سره ولمانځی.

ددی حبشی پرسوال اوجواب باندی دسورهٔ دهر دا آیت نازل سو ، هَلْ اَتٰى عَلَى الْاِنْسَانِ حِيْنٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُنْ شَيْـًٔا مَّذْكُوْرًا حبشی په حیرانتیاسره پوښتنه وکړه چی یارسول الله ﷺ زما سترګی به هم هغه نعمتونه ولیدای سی کوم چی ستاسی مبارکی سترګی به یی وینی؟ حضور ﷺ وفرمایل چی هو! خامخا چی دایی واوریدل نو دی نوی مسلمان سوی حبشی ژړا شروع کړه تردی چی په ژړا ژړا کی یی هم په دغه ځای روح ورکی او نبی کریم ﷺ په خپلو مبارکو لاسونو سره دده تجهیز اوتکفین وکی.

ددرجو تفصیل: د آیت تفسیر سره د شانِ نزول اوداړوندو تشریحاتو بیان سو اوس یوه خبره دفکر قابله پاته سوه، چی الله ﷻ پرکومو خلګو باندی چی انعام کړی دی دهغوی یی څلور درجی بیان کړی، دا درجی په کوم اعتبار سره دی او ددی درجو په مینځ کی نسبت او فرق څه دی؟ او آیا داڅلور سره درجی په یوه سړی کی جمع کیدی سی اوکه نه ؟

مفسّرینوحضراتوپه دی باره کی مختلف قولونه اولوی لوی بحثونه کړی دی ځینی فرمایی چی داڅلورسره درجی په یوه سړی کی هم جمع کیدی سی اوداټول داخلی صفتونه دی څکه چی په قرآن کریم کی یی نبی ته دصدیق القاب هم ورکړی دی دحضرت ابراهیم متعلق ارشاد دی اِنَّهٗ كَانَ صِدِّيْقًا نَّبِيًّا اودحضرت یحیٰی ﷺ په باره کی راغلی دی وَنَبِيًّا مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ دغه ډول دحضرت عیسٰی ﷺ په اړوند وَكَهْلًا مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ راغلی دی.

نوددی حاصل دا سوچی که دمفهوم اومعنی په اعتبار سره داڅلور سره صفتونه اودرجی جلاجلادی لیکن دا ټول صفتونه په یوه سړی کی هم جمع کیدٔی سی ، ددی مثال داسی دی ، لکه مُفسّر، محدّث، فقیه، مؤرخ اومتکلم چی دعلماؤ مختلف صفتونهٔ دی ، لیکن ځینی علمآء داسی هم کیدی سی چی مفسر هم وی ، محدث هم وی ، فقیه هم وی ، او مؤرخ اومتکلم هم ، یالکه څنګه چی ډاکټر، انجینیئر، پیلوټ مختلف صفتونه دی ، مګردا ټوله په یوه سړی کی هم جمع کیدی سی ، البته په عام عُرف کی دا قاعده ده چی په کوم سړی باندی کوم یوصفت غالب وی په هغه نوم سره هغه پیژندل کیږی ، په طبقو باندی کتابونه لیکونکی هم دی په دغه طبقه کی شمیری په دی وجه عام مفسرین فرمایی چی دصدیقینو څخه مراد لویی مرتبی والا صحابه اودشهیدانو څخه مراد شهیدان دأُحد دی او دصالحانو څخه عام نیکان مسلمانان مراد دی.

او امام راغب اصفهانی رحمه الله دا څلور درجی مختلفی درجی مقرری کړی دی په تفسیر بحرمحیط ، روح المعانی اومظهری کی هم دا ذکردی ،یعنی دا چی په دی آیت کی الله مؤمنان په څلورو قسمونو کی

Maktaba Tul Ishaat.com

تقسیم کړل او دهریوه دپاره یې درجې اعلی او ادنی مقرری کړی ، اوعامو مسلمانانو ته یې ددې ترغیب ورکړې دی چې په دې کې تریوې درجې هم شاته پاته نسی ، په علمی اوعملی کوششونو سره دې ته درسیدو جد اوجهد دې کوی ، په دې کې نبوّت یوداسی مقام دی چې په جد اوجهد سره هیڅ څوک نسی حاصلیدای، لیکن دانبیاوو ملګرتیا بیاهم حاصلیدی سی امام راغب رحمه الله فرمایي چې په دې درجو کې ترټولو اوله درجه دانبیاوو ده چې دوی ته دالله ﷻ څخه دقوت کومك حاصل دی اوددی مثال داسی دی لکه یوسړی چې یوشی دنږدې څخه وینی په دې وجه الله ﷻ د دوی په اړوند ارشاد فرمایي ، اَفَتُمٰرُوْنَهٗ عَلٰی مَایَرٰی . النجم : ۱۲

صدیقانو تعریف: دوهمه درجه دصدیقانوده او دا هغه خلګ دي چې په معرفت کې انبیآء علیهم السلام ته نږدې دي او د دوی مثال داسی دی لکه څوك چې یوشی دلیرې څخه وینی ، دحضرت علي رضی الله عنه څخه یوچا پوښتنه وکړه چې آیا تاسی الله ﷻ لیدلی دی؟ ده وفرمایل زه دیوداسی شي عبادت نه سم کولی چې نه یې وینم بیایی وفرمایل چې الله ﷻ خوخلګو په سترګو سره نه لیدلی ، لیکن د دوی زړونو دایمان دحقیقتونو په ذریعه لیدلی دی ، ددې لیدو څخه د حضرت علي رضی الله عنه مراد علمی لیدل دي یعنی علم یې دهغه په موجود والی باندې کامل راغلی دی .

دشهیدانو تعریف : دریمه درجه دشهیدانو ده دا هغه خلګ دي چې مقصود ددلیلونو په ذریعه سره پیژنی په مشاهده (مخامخ لیدو) سره نه ، د دوی مثال داسی دی لکه یو سړی چې یو شی په هنداره کې دنږدې څخه وینی ، لکه حضرت حارثه رضی الله عنه فرمایي چې ماته داسی محسوسیږي چې زه دخپل ربّ کریم عرش وینم ، او په حدیث کې په اَنْ تَعْبُدَ اللّٰهَ کَاَنَّكَ تَرَاهُ کې هم دا ډول لیدل مُراد کیدی سی .

دصالحانو تعریف : څلورمه درجه دصالحانوده داهغه خلګ دي چې مقصود دتقلید اوتابعداری په ذریعه پیژنی ، د دوی مثال داسی دی لکه څوك چې یو شی په هنداره کې دلیرې څخه وینی ، او په حدیث کې ، فَاِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَاِنَّهٗ یَرَاكَ راغلی دی په دې کې هم دلیدو دادرجه مرادکیدی سی دامام راغب اصفهانی رحمه الله ددې تحقیق خلاصه داده چې دادرجې دالله ﷻ دمعرفت درجې دي اودمعرفت دمختلفو درجوپه بنآء باندې درجې مختلفی دي په هرحال دآیت مضمون صفادی په دې کې مسلمانانوته دازیرې ورکړل سوچې دالله ﷻ اودهغه رسول ﷺ مکمل حکم منونکی به دلوړو درجو داوسیدونکو سره په جنت کې وي الله ﷻ دې دا محبّت زمونږ دټولو نصیب کړی اومونږ ته دې په دین دمکمل عمل کولو توفیق راکړي . آمین ثم آمین

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا خُذُوْا حِذْرَكُمْ فَانْفِرُوْا ثُبَاتٍ اَوِ انْفِرُوْا جَمِیْعًا ۝ وَاِنَّ مِنْكُمْ لَمَنْ لَّیُبَطِّئَنَّ

ای ایماندارو ! واخلئ خپله وسله وروزی دلی دلی سی یا ټول په جمع سره ، او په تاسی کې ځینی داسی دي

فَاِنْ اَصَابَتْكُمْ مُّصِیْبَةٌ قَالَ قَدْ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَیَّ اِذْ لَمْ

چې واپس کیږي به ، بیاکه تاسی ته څه مصیبت ورسیږي ، نووایي چې انعام وکی الله په ما باندې چې زه

أَكُنْ مَّعَهُمْ شَهِيدًا ﴿٧٢﴾ وَلَئِنْ أَصَابَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ اللَّهِ

نه وم د دوی سره ، او که ورسیږي تاسي ته فضل دالله دطرفه

لَيَقُولَنَّ كَأَن لَّمْ تَكُن بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُ مَوَدَّةٌ يَا لَيْتَنِي كُنتُ

نو داسي وایي چي گویا نه وه په مونږ اوپه تاسي کي څه دوستي ای کاشکي چي زه وای

مَعَهُمْ فَأَفُوزَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴿٧٣﴾ فَلْيُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ

د دوی سره نو پیدا کړی به می وای لوی مراد ، نو په کار دي چي جنگ دي کوي دالله په لاره کي هغه

يَشْرُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا بِالْآخِرَةِ ۚ وَمَن يُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ

خلق چي خرڅوي ژوند ددنیا په بدله دآخرت ، اوڅوك چي جنگیږي دالله په لاره کي

اللَّهِ فَيُقْتَلْ أَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٧٤﴾

بیا مړه کړل سی یا غالب سی نو مونږ به ورکړو ده لره لوی ثواب .

لنډتفسیر: ای ایماندارانو! (دکافرانو په مقابله کي خو) خپل احتیاط کوی (یعني ددوی دحملی اوبرید څخه هوښیار اوسی او دجنگ په وخت کي سامان ، وسله ډول او توره هم برابر ساتی) بیا (د دوی سره دجنگ کولو دپاره) جلاجلا یاپه جمع باندی (څنگه چي موقع وی) ووزی اوستاسی په جماعت (ټولی) کی (چي ځیني منافقان هم په کی شامليږي) ځیني خلگ داسی دی (مراد ددی څخه منافقان دی) چي په شا کیږی (یعني په جهادکی نه شریکیږی) بیاکه تاسی ته کمه حادثه ورسیده (لکه شکست یانور) نو (په خپلونه تلو خوشحاله کیږی) وایی بیشکه الله پرمالوی لوی فضل وکی چي زه ددغو خلگوسره (په جنگ کی) شریك نسوم (کنی پرمابه هم دامصیبت راغلی وو) اوکه پرتاسی دالله فضل وسی (یعني فتح اوغنیمت) نوپه داسی ډول باندی (په خود غرضی سره) چي گواکی په تاسی اوپه دوی کی څه تعلق گرسره نسته (دمال په فوت کیدو باندی افسوس کوی) وایی چي های څنگه ښه به وای چي زه هم دخلگو سره شریك وای (یعني جهادته تللی وای) نومابه هم ډیره کامیابی پیدا کړی وای (چي مال اودولت به می راوړی وای او خود غرضی اوبی تعلقی ددی وینا څخه ظاهره ده، که نه نو دچا سره چي تعلق وی، دهغه په کامیابی باندی خوهم خلگ خوشحاله کیږی ، داسی نه وی چي پرځان باندی افسوس کوی او دهغه دخوشحالی نوم هم نه اخلی ، الله ﷻ دداسی سړی په حق کی فرمایی چي لویه کامیابی په مفته کی نه پیداکیږی که ددی طالب وی) نوخامخا داسی سړی ته په کار دی چي دالله په لاره کی (یعني دالله ﷻ دکلمی دلوړولوپه نیت سره دی په ایمانی اواخلاقه جذبه یعني مخلص مسلمان دی جوړسی) ددی

Maktaba Tul Ishaat.com

(کافرانو) خلګو سره دی وجنګیږی کوم چی آخرت (پریږدی او دهغه) په بدله کی یی ددنیا ژوند اختیار کړی دی (یعنی ددی سړی که دلوی کامیابی حاصلولو شوق وی نوزړه دی برابر کړی ، لاس اوپښی دی وښوروی ، مشقت دی تیرکړی غشو او نیزوته دی سینه ونیسی نو بیادی ګوری چی لویه کامیابی ورته په لاس ورځی اوکه نه ، او دا خو څه مسخری نه دی ، بیاچی کوم سړی دومره مصیبت تیرکړی نو رینتینی کامیابی دهغه ده ځکه چی ددنیا کامیابی اول خوهیڅ هم نه ده اوبیا کله وی اوکله نه وی ځکه چی که غالب راسی نووی که نه نو نه وی ، او دآخرت کامیابی دکمی چی دداسی سړی دپاره وعده سوی ده ، داسی ده چی عظیمه هم ده ، او په هر حالت کی هم ده ځکه چی دهغه قانون دا دی چی) کوم سړی دالله په لاره کی جنګ کوی بیا برابره خبره ده (که مغلوب سی تردی چی) مړکړه سی یاغالب راسی موږ (په هرحالت کی) ده ته (دآخرت) لوی اجربه ورکړو (چی عظیمه کامیابی هغه ته ویل لائق دی)

دآیتونوتړون: تردی مخکی دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ دحکم دمنلوذکروو اوس مخ ته په دی آیتونوکی حکم منونکوته ددین دژوندی ساتلو او دالله ﷻ دکلمی دلوړولو دپاره دجهاد حکم ورکړه سوی دی (قرطبی)

معلومات اومسئلی: مهمی فائدی (۱) يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا خُذُوا حِذْرَكُمْ ، ددی آیت په اوله حصه کی یی دجهاد دپاره دوسلی دراجمع کولوحکم وکی اوپه دوهمه حصه کی یی دجهاد دکولودی څخه یوه خبره خودا معلومه سوه کومه چی یی په ډیرو ځایونوکی واضحه کړی ده چی ظاهری اسباب اختیارول دتوکّل منافی نه دی. دوهمه خبره ورڅخه دا معلومه سوه چی دلته دوسلی دجمع کولوحکم خویی وکی، لیکن دا وعده یی نه ده کړی چی ددی په وجه به تاسی خامخا محفوظ یاست، ددی څخه اشاره دی طرف ته وسوه چی داسبابو اختیارول یوازی دزړه داطمینان دپاره وی که نه فی نفسه په دی کی کومه نفع اونقصان نسته لکه ارشاد دی ، قُلْ لَنْ يُصِيبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا یعنی ای نبی ! تاسی ووایاست چی مونږ ته څه تکلیف نه رسیږی مګرهغه چی زمونږ دپاره مقدر سوی وی (۲) په دی آیت کی اول خودجهاد دتیاری حکم ورکړل سو ، تردی وروسته ددی دپاره دوتلو طریقه وښوول سوه چی دهغه دپاره یی دوی جملی ذکرکړی یعنی فَانْفِرُوا ثُبَاتٍ أَوِ انْفِرُوا جَمِيعًا ثبات دثبة جمع ده چی معنی یی کوچنی غوندی جماعت دی چی فوجی ډلګی (سریّه) ورته ویل کیږی یعنی که تاسی دجهاد دپاره ووزی نو یوازی اوځان ته مه وزی ، بلکه دکوچنیو کوچنیو ډلګیو په شکل کی وزی یاډیر (په جمع) دلښکر په صورت کی ځی ، ځکه چی یوازی دجنګ دپاره په تلوکی دنقصان قوی احتمال دی اودښمن دداسی موقعی څخه پوره پوره فائده اخیستی سی .

داتعلیم خودجهاد په موقع مسلمانانوته ورکړل سوی دی ، لیکن په عامو حالاتوکی هم دشریعت داتعلیم دی چی یوازی دی سفر نه کوی، لکه چی په یوه حدیث کی یوازی مسافرته یوشیطان ویل سوی دی او دوو مسافرانوته دوه شیطانان اودروته یی جماعت ویلی دی ، دغه ډول په یوه بل حدیث کی ارشاد دی .

خَيْرُ الصَّحَابَةِ أَرْبَعَةٌ وَخَيْرُ السَّرَايَا أَرْبَعُ مِائَةٍ وَخَيْرُ الْجُيُوشِ أَرْبَعَةُ آلَافٍ (رواه الطبرانی، بحواله مشکوٰة)

یعنی ښه ملګری څلور دی اوښه فوجی ډلګی څلورسوه ده اوښه لښکر څلور زره کسان دی .

(۳) وَإِنَّ مِنْكُمْ . ددی آیت څخه په ظاهره دا معلومیږی چی داهم مؤمنانوته خطاب دی لیکن مخ ته چی کوم صفتونه بیان کړه سوی دی دغه دمؤمنانو نه سی کیدی ، په دی وجه علامه قرطبی رحمه الله فرمایی چی

Maktaba Tul Ishaat.com

ددي ښځه مراد منافقان دي دوی به چې کله په ظاهره دمسلمانيدو دعوی کولی ، په دی وجه په خطاب کې دوی ته دمسلمانانو یو جماعت وویل سو .

وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ

او تاسې ته څه وسوه چې نه جنګیږي دالله په لار کې او دهغو دپاره چې مغلوب دي

الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا

سړي اوښځې اوبچې کوم چې وايي ای ربه زمونږ اوباسې مونږ

مِنْ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا

ددې کلی ښځه چې ظالمان دی خلق ددې او کړه زمونږ دپاره دخپل طرف ښځه څوك مددګار

وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا ﴿٧٥﴾ الَّذِينَ آمَنُوا يُقَاتِلُونَ

او کړې زمونږ دپاره دخپل طرف ښځه امداد کوونکی ، کوم خلق چې ایماندار دی نو جنګیږي

فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۖ وَالَّذِينَ كَفَرُوا يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ الطَّاغُوتِ

دالله په لاره کې ، او کوم چې کافران دی ، نو جنګ کوی په لاره دشیطان کې

فَقَاتِلُوا أَوْلِيَاءَ الشَّيْطَانِ ۖ إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطَانِ كَانَ ضَعِيفًا ﴿٧٦﴾

نو جنګ کوی تاسې دشیطان دملګرو سره ، بیشکه فریب دشیطان کمزوری دی.

لنډتفسير: اوستاسې سره څه عذردی چې تاسې جهادنه کوی (سره ددی چې قوی ضوروت یې موجود دی ځکه چې دا جهاد) دالله په لاره کی (دی یعنی دالله ﷻ دکلمی دلوړولو دپاره دی او ددی اهتمام ضروری دی) او (ددی دین دلوړ ساتلو دنښانو ښځه دیوی خاصی نښانی ضرورت هم په وړاندی دی او هغه داچی) دکمزورو (ایماندارو) په خاطر (هم دا جنګ کول ضروری دی چې دکفارو دظلم دپنجی ښځه خلاص سی) په کومو (عاجزانو) کی چې څه نارینه دی څه ښځی دی اوڅه کوچنیان دی کم چې (دکفارو ښځه تنګ سوی دی) دعاګانی کوی چې ای زمونږ پروردګاره مونږ (په یوډول) ددی کلی ښځه (یعنی مکّی ښځه چې زمونږ دپاره جیل خانه جوړه سویده) وباسی دباندی دکم اوسیدونکی چې سخت ظالمان دی (چې پرمونږیې یو آفت راغورځولی دی) اوزمونږ دپاره دغیبو ښځه یوکومك کوونکی راولیږی (چې زمونږ کومك وکی اوددی ظالمانو دپنجی ښځه مونږ خلاص کړی) کم خلګ چې پوخ ایمان لرونکی دی (دوی چې داحکمونه واوری) دالله په لاره کی (یعنی داسلام دغلبی په قصد سره) جهاد کوی اوکوم خلګ (د دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

په مقابله کی) چی کافران دی دوی دشیطان په لاره کی (یعنی دکفر دغلبی په قصد سره) جنگ کوی (او ښکاره خبره ده چی په دی دواړو کی به دالله ﷻ کومك دایماندارو سره وی ، نوکله چی دایماندارو سره دالله ﷻ کومك دی) نو(ای ایماندارانو) تاسی دشیطان دملګرو سره (یعنی دکافرانو سره کوم چی دالله ﷻ دکومك څخه محرومه دی) جهادی کوی (اوکه څه هم هغوی دخپلی غلبی دپاره مختلف تدبیرونه کوی لیکن) په واقع کی (دغه شیطانی تدبیرونه دی چی شیطان ددی کفر دتدبیرونو حکم کوی) شیطانی تدبیر (په خپله) بی کاره کوی (ځکه چی په دی کی غیبی کومك نه وی اوکه چیری یووار اونیم هم غلبه پیداکی نو دادوی ته یوڅو ورځی مهلت ورکول دی، نوکوم غیبی کومك چی دمؤمنانو سره دی ددوی دغه تدبیر به دهغه څه مقابله وکړی ؟) لنډه دا ده چی ضرورت یی هم دی ، او وعده دکومك هم ده ، نوبیاعذرڅه دی؟ په دی وجه مکرر تاکید وسو)

معلومات اومسئلي

(دمظلوم فریادرسي داسلام یوه مهمه فریضه ده)

په مکه کی داسی کمزوری مسلمانان پاته سوی وه چی دبدن دکمزوری اودسامان دلږوالی په وجه یی هجرت نه وکړای سوای او وروسته بیاکافرانو هم دوی نه پریښوول اوقسم قسم تکلیفونه یی ورته رسول چی داخلګ داسلام څخه بیرته راوګرځی ، په دی حضراتو کی دځینو نومونه هم په تفسیرونو کی ذکر دی مثلاً ابن عباس ﷺ او د دوی مور بی بی ، سلمه بن هشام، ولید بن ولید اوابوجندل بن سهل (قرطبی) دی حضراتو دخپل ایمان دپوخوالی په وجه ددوی ظلمونه زغمل اوپه اسلام باندی ښه کلك ولاړوه البته دالله ﷻ څخه به یی ددی مصیبتونو څخه دخلاصی دپاره دُعاګانی برابری کولی آخرالله ﷻ ددوی دُعاقبوله کړه اومسلمانانو ته یی حکم وکی چی جهاد دی وکړی اودوی دی دکافرانو دزور اوزیاتی څخه خلاص کړی.

په دی آیت کی مؤمنانو الله ﷻ ته ددو خبرو درخواست کړی وو، یوداچی مونږ ددی کلی څخه وباسی (دلته دکلی څخه مراد مکّه ده) دوهم دا چی زمونږ دپاره یوڅوك ساتونکی اوکومك کوونکی راولیږی ، نو الله ﷻ د دوی دا دواړی خبری قبولی کړی ، داسی چی ځینوته یی ددغه ځای څخه دوتلو موقعی په لاس ورکړی چی په دی سره ددوی اوله خبره پوره سوه ځینی دالته پاته سوِل تردی چی مکی فتح سوه نونبی کریم ﷺ عتاب بن اسید ﷺ ددوی سرپرست مقررکی چی ده دغه مظلومان دظالمانو دپنجو څخه خلاص آزادکړل او دغه دول ددوی دوهمه خبره هم پوره سوه، په دی آیت کی په صفا لفظونو کی دجنګ دحکم ورکولو پرځای قرآن کریم دا الفاظ اختیار کړل ، مَالَكُمْ لَا تُقَاتِلُوْنَ په دی کی دی طرف ته هم اشاره ده چی په داسی حالاتوکی جنګ اوجهاد یو طبعی اوفطری فریضه ده (یعنی انسان طبعًا دی ته مجبوره وی) چی ددی نه کول دښه سړی دشان څخه ډیره لیری خبره ده .

(دالله ﷻ څخه ددعا غوښتل دټولو مصیبتونو ډیر ښه علاج دی)

په آیت ، يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اَخْرِجْنَا سره یی داوښوله چی دجنګ دحکم کولو یوسبب دهغو کمزور مسلمانانو نارینه وو او ښځینه وو دُعاوه چی دهغی قبول والی یی مسلمانانو ته دجهاد دحکم په کولو سره وکی ، او د دوی دمصیبتونو فوراً خاتمه وسوه .

Maktaba Tul Ishaat.com

(جنګ خو ټول کوی لیکن په دی کي دمؤمن اوکافر مقصدونه جلا جلا وی)

اَلَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ الخ په دی آیت کی وښوول سوه چی مؤمنان دالله ﷻ په لاره کی جنګیږی اوکافران دشیطان په لاره کی ، ددی څخه صفا ښکاره ده چی دمؤمن دجد اوجهد مقصد یوازی داوی چی په دنیاکی دی دخدای ﷻ قانون رواج وی اودالله ﷻ حکم دی لوړ وی ، ځکه چی الله ﷻ دټولومخلوقاتو مالك دی او دده قانون خالص په انصاف باندی بنآء دی اوکله چی دانصاف حکومت قآئم سی نوامن به قآئم وی ددنیا دامن دپاره داضروری ده چی په دنیاکی دی هغه قانون جاری وی کوم چی دخدای ﷻ قانون دی نو په دی وجه کامل مؤمن چی کله جنګ کوی نودده په وړاندی هم دامقصدوی ، لیکن ددی په مقابله کی دکفارو غوښتنه داوی چی کفر دی جاری وی اوکفردی غالب وی اوشیطانی قوتونه دی پر قدرت باندی قبضه کوونکی وی، چی په دنیاکی کفر اوشرك ښه وچلیږی اوکله چی کفر اوشرك دشیطان لاری دی نوپه دی وجه کافران دشیطان په کارکی دده کومك کوی.

(دشیطان تدبیر ضعیف دی)

اِنَّ كَيْدَ الشَّيْطٰنِ كَانَ ضَعِيْفًا : په دی آیت کی وښوول سوه، چی دشیطان تدبیرونه بی کاره اوکمزوری دی ، په دی وجه دا دمؤمنانو هیڅ نه سی خرابولی ، نومؤمنانو ته په کار دی چی دشیطان ددوستانو یعنی کافرانو سره په جنګ کولوکی سُستی نه کوی ، ځکه چی ددوی کومکی الله ﷻ دی اوکافرانو ته به دشیطان تدبیر هیڅ فآئده ورنه کړی لکه چی په جنګِ بدر کی داسی وسول چی اول شیطان دکافرانوپه مخکی لویی لویی لاپی کولی اودوی ته یی مکمل یقین ورکی چی لَاغَالِبَ لَكُمُ الْيَوْمَ نن ورځ تاسی هیڅوك نه سی مغلوب کولی ځکه چی ، اِنِّيْ جَارٌ لَّكُمْ (یعنی زه ستاسی کومکی یم) زه به دخپل ټول لښکر سره ستاسی کومك کوم ، کله چی جنګ شروع سونودی دخپل لښکرسره که څه هم ورمخ ته سو لیکن کله چی ده ولیدل چی دمسلمانانو دکومك دپاره ملائکی راورسیدی نوده خپل تدبیر ناکامه ولیدی اوپه شایی تښتیدل شروع کړل ، او خپلو دوستانو یعنی کافرانوته یی وویل ، اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّنْكُمْ، اِنِّيْٓ اَرٰى مَالَا تَرَوْنَ اِنِّيْٓ اَخَافُ اللهَ، وَاللهُ شَدِيْدُ الْعِقَابِ (زه ستاسی څخه بیزاره یم، ځکه چی زه هغه څه وینم چی تاسی یی نه سی لیدای (یعنی دملائکو لښکر) زه دالله ﷻ څخه بیریږم ، ځکه چی هغه سخت عذاب ورکوونکی دی (مظهری) په دی آیت کی یی دشیطان تدبیرته چی کوم ضعیف ویلی دی په دی وجه ددی آیت څخه دوه شرطونه هم معلوم سول، یو دا چی هغه سړی دچاپه مقابله کی چی شیطان تدبیرکوی مسلمان وی ، او دوهم دا چی دده دغه کار خاص دالله ﷻ دپاره وی ، کوم دنیاوی یانفسانی غرض په کی نه وی ، اول شرط د اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا څخه اودوهم شرط د يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ څخه معلوم سو که په دی شرطونو کی یو فوت سی نو بیا ضروری نه ده چی دشیطان تدبیردی دده په مقابله کی کمزوری وی.

حضرت ابن عباس ؓ فرمایی (چی کله تاسی شیطان ووینی نوبغیر دکمی بیری ترخی څخه ورباندی حمله کوی ، بیایی دا آیت تلاوت کی ، اِنَّ كَيْدَ الشَّيْطٰنِ كَانَ ضَعِيْفًا (احکام القرطبی للسیوطی)

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ قِيْلَ لَهُمْ كُفُّوْٓا اَيْدِيَكُمْ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ

آیا تا ونه لیدل هغه خلق چاته چی حکم سوی وو چی خپل لاسونه بند ساتی اوقائم ساتی لمونځ

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ۚ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ

او ورکوی زکوٰۃ نو کله چی حکم وسو دوی ته دجنګ کولو نو په دغه وخت کی یو جماعت

يَخْشَوْنَ النَّاسَ كَخَشْيَةِ اللّٰهِ اَوْ اَشَدَّ خَشْيَةً ۚ وَقَالُوْا رَبَّنَا

د دوی بیریدی دخلقو څخه په شان دبیری دالله ﷻ څخه یا ددې څخه هم زیاته بیره ، او وې ویل ای زمونږ ربه

لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا الْقِتَالَ ۚ لَوْلَآ اَخَّرْتَنَآ اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ ؕ

ولی دې فرض کی پر مونږ جنګ ، ولی دی نه پاته کولو مونږ دلږ وخت پوری

قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا قَلِيْلٌ ۚ وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ اتَّقٰى ۫ وَ

او وایه چی فائده ددنیا لږ ده او آخرت غوره دی دپرهیزګارانو دپاره ،

لَا تُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا ﴿٧٧﴾ اَيْنَ مَا تَكُوْنُوْا يُدْرِكْكُّمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ

او ستاسی حق به پاته نه کړل سی ددخرما دخور برابر ، کوم ځای کی چی تاسی یاست وبه نیسی تاسی مرګ که

فِيْ بُرُوْجٍ مُّشَيَّدَةٍ ؕ وَاِنْ تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ

څه هم تاسی یاست ، په مضبوطو قلاګانو کی ، او که ورسیږي دی خلقو ته نیکی نو وایی دا

عِنْدِ اللّٰهِ ۚ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِكَ ؕ

دالله دطرف څخه ده ، او که ورسیږي خلقو ته څه بدی نو وایی چی دا ستا دطرف څخه ده ،

قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ فَمَالِ هٰٓؤُلَآءِ الْقَوْمِ لَا يَكَادُوْنَ

او وایه چی دا ټول دالله دطرف څخه دی نو څه حال دی ددې خلقو هیڅکله نه دی دوی

يَفْقَهُوْنَ حَدِيْثًا ﴿٧٨﴾ مَآ اَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ ۫ وَمَآ

چی پوه سی په خبره ، هغه چی رسیږي تاته څه نیکی نو دالله دطرف څخه ده او څه چی

اَصَابَكَ مِنْ سَيِّئَةٍ فَمِنْ نَّفْسِكَ ؕ وَاَرْسَلْنٰكَ لِلنَّاسِ رَسُوْلًا ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ﴿٧٩﴾

رسیږی تاته بده نو ستا دنفس دطرف څخه ده ، او مونږ لیږلی دی تاته پیغام رسونکی خلقوته او الله پوره دی مخامخ لیدونکی

Maktaba Tul Ishaat.com

تفسير: (اې مخاطبه) ولې تا هغه خلګ ونه ليدل (چې دجهاد دحکم ترنازليدو مخکې خويې دجنګ کولو داسې خواهش وو چې) دوی ته (دمنع کولو دپاره) داويل سوی وه چې (اوس) خپل لاسونه (دجنګ څخه) بندساتئ او (کوم کوم حکمونه چې تاسې ته سوي دي، په هغه کې اخته اوسئ مثلاً) دلمونځونو پابندي کوئ اوزکوة ورکوئ (ياخودا حالت وو اويا) بياپردوی باندې جهاد کول فرض کړه سونوڅه حال يې سوچې په دوی کې ځيني ځيني خلګ (دمخالفو) خلګوڅخه (طبعاً) داسې بيريدل (چې مونږبه قتل کړي) لکه (څوك) چې دالله ﷻ څخه بيريږي بلکه تردې هم زياته بيره (دزياتي بيرې دوی معناوي کيدی سې يوه داچې اکثره دالله ﷻ څخه بيره عقلاً وي اوددښمن څخه بيره طبعاً وي او قاعده داده چې طبعي حالت ترعقلي حالت سخت وي، دوهمه داچې لکه ځنګه دخدای ﷻ څخه بيره ده نودغه ډول ورڅخه درحمت اُميد هم دی اودکافر دښمن څخه خو دضرر بيره اوبيره ده اوکله چې دابيره طبعي وه نوځکه ګناه نه سوه) او (يادجهاد دحکم دوروسته کولو په آرزوکې) داسې يې وويل (برابره خبره ده که په ژبه سره وي اوکه په زړه سره او دخدای ﷻ په علم کې خودژبې وينا اودزړه وينا برابرې دي) چې اې زمونږ پروردګاره تا اوس پرمونږ جهاد ولې فرض کې، مونږ ته به دي (دخپلې مهرباني په وجه) لږه نوره موده مهلت راکړې وای (نو لږ په بې فکرۍ سره به مونږ خپل ضرورتونه پوره کړي وای اوکله چې داعرض په ډول داعتراض ياد انکارنه وو، ځکه ګناه نسوه ، مخ ته ددې جواب فرمايې چې اې محمد ﷺ) تاسې ووايأست چې ددنيا څخه فائده اخيستل (دکمې دپاره چې تاسې دمهلت آرزوکوئ) محضې يوڅو ورځې دي او آخرت (چې دپيداکولو اعلی ذريعه يې جهاد دی) په هرډول سره ښه دی (مګر هغه) دهغه چادپاره (دی) څوك چې دالله ﷻ دمخالفت څخه خلاص سو (ځکه چې که دکفرپه وجه يې مخالفت وکې نودده دپاره نو دآخرت سامان هيڅ هم نسته اوکه ګناه يې وکړه نوداعلی درجې څخه به محرومه سي) اوپرتاسې به يوه ذرّه ظلم ونه کړه سي (يعني څومره عملونه چې وی دهغې پوره پوره ثواب به ورته ورسيږي نوبيادجهاد په شان دعمل څخه ولې خانونه محروم کوئ اوکه جهاد موهم ونه کې نوپر مقرر وخت باندې به دمرګ څخه خلاص سئ نيشکله نه، ځکه چې دمرګ خودا حال دی چې) تاسې هرځاى چې ياست هلته به مرګ تاسې رانيسي که څه هم په پخو محکمو قلاګانوکې (ولې نه) ياست (مقصد دادی چې کله چې مرګ پرخپل مقرر وخت باندې خامخا راځي اوپه مرګ سره به يووخت دا دنيا پاته کيږي نو آخرت ته ولې خالي لاسونه ولاړ سو، بلۀ دعقل خبره خو دا ده چې (يو څو ورځې محنت پاته ټول عمر خندا) اوکه چيرې دوی (منافقانو) ته کومه حالت وروړاندی سي (لکه فتح اوکاميابي) نو وايي چې دا دالله ﷻ دطرفه څخه (اتفاقي) وسوه (که نومسلمانانو خو ددې دپاره هيڅ تدبير هم نه دی کړی) اوکه دوی ته کوم بدحالت وروړاندی سي (لکه، جهادکې مرګ ياقتل) نو (اې محمد ﷺ نعوذ بالله ستاپه نسبت باندې) وايي چې داستا (او دمسلنانو دبې تدبيرۍ) په وجه سره ده (کني چې په آرامه په کورونو کې ناست وای نو ولې به په دې مصيبکې پريوتو) تاسې ورته ووايأست چې (زما په دې کې يوه ذرّه دخل هم نسته بلکه) هرڅه (ښه اوبد) د، ﷻ دطرف څخه دي (که څه هم يوپه واسطه سره دي اوبل بې له واسطې څخه دي لکه چې تفصيل ، راروان دی چې حاصل يې دادی چې نعمت خو يوازې دالله ﷻ په فضل سره بې له واسطې

Maktaba Tul Ishaat.com

دعمل څخه دی، اومصیبت په واسطه دبدو عملونو دبندګانو دالله ﷻ دعدل څخه دی ، نوتاسی چی په
کوم مصیبت کی زما دخل ګنئ، په واقع کی ستاسی دبدو عملونوپه دی کی دخل دی، لکه په اُحد کی
چی دشکست په اسبابوکی تیر سوي دی ، او دا خبره ډیره ظاهره ده ، که بنده لږ هم فکر وکړی نو
ترخوشحالی مخکی کوم نیك عمل به ددومره درجی پیدانه کی بلکه دابه ثابته سی چی دا یوازی دالله
ﷻ فضل دی اوتربدحالی مخکي به خامخا کوم عمل داسی پیداکی چی دهغه سزابه تردی هم زیاته وی
نوچی کله داخبره ښکاره ده) نوپه دی (بی عقلو) خلګو څه وسوه چی په خبره باندی ګرسره پوهیږی نه
(اوکه پوه سی نوڅه ؟ اوهغه تفصیل دادی چی) ای انسانه ! تاته چی څه خوشحالی مخ ته راځی نو دا
یوازی دالله ﷻ دطرف څخه (مهربانی) ده اوکومه بدحالی چی مخ ته درته راځی نوهغه ستا د(بدو
عملونو د) دسببه څخه ده (نودی بدحالی ته دشریعت په احکامو دعمل کولو نتیجه ویل یایی دشارع
طرف ته نسبت کول پوره جهالت دی ، لکه چی منافقانوبه جهاد اوجهاد دامام طرف ته ددی نسبت کړی
او مونږته دټولو خلګوطرف ته پیغمبر جوړ کړی ولیږلی او (که څوك منافق، کافر انکار کوی نودهغه په
انکار سره نبوّت نه سی لیری کیدی ځکه چی) الله ﷻ (ستادرسالت) پوره شاهد دی (چی ددی قولی
اوفعلی شهادت یی ورکړی دی ، قولی شهادت لکه داکلمه: وَاَرْسَلْنٰكَ سوه ، اوفعلی شهادت معجزی
دی چی دنبوّت دثابتولو دپاره یی تاته درکړی دی)

معلومات اومسئلي: شانِ نزول: اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ قِيْلَ لَهُمْ كُفُّوْا اَيْدِيَكُمْ : په مکّه کی ترهجرت مخکی به کافرانو
مسلمانان ډیر آزارول مسلمانان دحضورﷺ په خدمت کی حاضر سول ، شکایت یی کوی او رخصت یی
غوښتی چی مونږ دکفارو سره جنګ وکو او د دوی څخه ددی خپل ظلم بدله واخلو، خو دوی به مسلمانان
دجنګ څخه منع کول ، چی ماته دجنګ حکم نسته، بلکه دصبر اومعافی حکم دی ، اوفرمایل به یی چی
دلمانځه اوزکوٰة کوم حکم چی تاسی ته سوی دی هغه برابر کوی ځکه چی ترځو پوری انسان دخدای
په اطاعت (حکم منلو) کی په خپل نفس باندی دجهاد کولو اودبدنی تکلیفونو سره اموخته سوی نه
او دخپل مال په خرڅ کولو باندی عادت سوی نه وی نوده ته جهاد کول اودخپل روح ورکول ډیر ګرانږی
دا خبره مسلمانانو قبوله کړی وه بیا تر هجرت وروسته کله چی مسلمانانوته دجهاد حکم وسو نو دوی ته
خوشحالیدل په کار وه ، چی زمونږ غوښتنه قبوله سوه، لیکن ځینی کچه مسلمانان دکافرانو دجنګ
څخه داسی بیریدل لکه څنګه چی دالله ﷻ دعذاب څخه بیره په کار ده یاتردی هم زیات اوآرزوګانی یی
شروع کړی چی لږی ورځی نوری دجنګ حکم نه وی راغلی اومونږ ژوندی اوسیدی نو ښه به وای ، په دی
دغه آیت نازل سو (روح المعانی)

(دجهاد دحکم په نازلیدو باندی دمسلمانانو دطرفه څخه دمهلت آرزو ګاني ولي وسوی)

دجهاد په حکم باندی دمسلمانانو دطرف څخه دمهلت آرزوپه حقیقت کی څه اعتراض نه ، بلکه
خوندوره ګیله وه ، ددی وجه داوه چی عادت داسی وی چی کله چی سری ډیری تنګی اوتکلیف ته
ورسیږی نو دده جذبات را پورته سی نو په داسی وخت کی بدل اخیستل ډیر آسانه وی ، لیکن دآرام او
راحت په وخت کی دده طبیعت جنګ ته تیار نه وی، دایو انسانی خواهش دی ، نوکله چی مسلمانان

Maktaba Tul Ishaat.com

په مکه کې وه نودغه وخت دکفارو دضررونو څخه تنګ سوی وه ، دجهاد دحکم آرزویي کوله لیکن کله چې مدینې ته راغلل او دوی ته سکون او آرام حاصل سو ، نو په داسې صورت کې چې دجنګ حکم وسو نو دغه وخت ددوی پخوانی جذبه کمه سوې وه اوددوی په زړونوکې هغه جوش اوخروش نه وو پاته سوی ، په دې وجه دوی یوازې یوه آرزو وکړه چې که داوخت دجهاد حکم نه وای سوی نوښه به وای ، دا آرزو اعتراض ګڼل اودغه مسلمانانو ته دګناه نسبت کول صحیح نه دی خودا تقریر هلته دی چې که دوی ددې ګلې اظهارپه ژبه سره هم کړی وي، لیکن که په ژبه سره یې نه وي کړی یوازې په زړه کې یې وسوسه پیدا سوی وي نودزړه وسوسه خو ګرسره شریعت ګناه نه ده شمیرلې، دلته دادواړه احتماله سته، اودآیت دلفظ قَالُوا څخه داشك کول نه دي پکارچې دوی په ژبه سره هم اظهاری کړی وو ځکه چې ددې دامعنی کیدی سي چې دوی په خپل زړه کې ویلي وه (بیان القرآن مخلصاً)

دځینو مفسّرینوپه نزد دآیت تعلق دمؤمنانوسره نه دی ، بلکه دمنافقانو سره دی، نوپه دې صورت کې خو هیڅ قسم اشکال نه پاته کیږي (تفسیر کبیر)

(دملك تراصلاح دنفس اصلاح مخکې ده)

اَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّکٰوةَ الله ﷻ اول دلمانځه اوزکوٰة حکمونه بیان کړل چې دنفس داصلاح سببونه دي ، یعنې ددې په ذریعه ظلم اوزیاتي ختمیږي او په ملك کې امن اوامان قآئمیږي ، ددې څخه معلومه سوه چې انسان لره دنورو تراصلاح مخکې اول خپله اصلاح پکار ده نودارنګه ددې درجې په اعتبار سره هم داول قسم حکم فرضِ عین دی اوددوهم دافرض کفایه چې ددې څخه دنفس داصلاح اهمیّت اومخکې والی ښکاره دی (مظهری)

(ددنیا او آخرت په نعمتونوکي فرق)

په آیت کې یې ددنیا دنعمتونو په مقابله کې دآخرت نعمتونوته ښه او بهتر ویلي دي ، ددې دالاندیني څلور وجهې دي .

1. ددنیا نعمتونه لږ اودآخرت نعمتونه ډیر دي .
2. ددنیا نعمتونه ختمیدونکي دي اود آخرت دا باقي پاته کیدونکي دي .
3. ددنیا دنعمتونو سره قسم قسم پریشاني دي اودآخرت نعمتونه ددې پریشانیو څخه پاك دي .
4. ددنیادنعمتونو حاصلیدل یقیني نه دي اود آخرت نعمتونه به هریوه متقي ته یقیناً ورسیږي (تفسیر کبیر)

وَلاَ خَیْرَ فِی الدُّنْیَا لِمَنْ لَمْ یَکُنْ لَهُ ******** مِنَ اللهِ فِیْ دَارِ الْمَقَامِ نَصِیْبٌ

فَانْ تُعْجِبُ الدُّنْیَا رِجَالاً فَاِنَّهَا ******** مَتَاعٌ قَلِیْلٌ وَالزَّوَالُ قَرِیْبٌ

یعنې په دې فاني دنیاکې ده اسې سړي دپاره هیڅ خیرنسته دچادپاره چې دالله ﷻ دطرف څخه په هغه همیشه پاته کیدونکي کور یعنې په آخرت کې څه ځای نه وي ، بیاکه دا دنیا ځینې خلګ په ځان باندې مئین کړي نو خبردار چې دا دنیا لږ سامان دی او زوال یې ډیر نږدې دی ، یعنې دسترګو پټیدل دي او آخرت مخ ته راتلل دي .

یوه عبرتناکه واقعه: اَیْنَ مَا تَکُوْنُوْا یُدْرِکْکُّمُ الْمَوْتُ الخ ، الله ﷻ په دې آیت سره دجهاد څخه دپاته کیدونکودې شبهې ازاله وکړه یعنې داشبهه یې په لیرې کړه چې شاید دجهاد څخه پاته سي نودمرګ څخه به هم خلاص سي په دې وجه یې وفرمایل چې مرګ به یوه ورځ خامخا راځي تاسي هرځای یاست هلته به مري

Maktaba Tul Ishaat.com

نوچی خبره داسی ده نوستاسی دجهاد څخه ځان پاته کول بیکاره دی .

حافظ ابن کثیر رحمه الله ددی آیت په اړوند یوه عبرتناکه واقعه په روایت دابن جریر رحمه الله اوابن حاتم رحمه الله دمجاهد رحمه الله څخه لیکلی ده چی په مخکنیو امتونوکی یوه ښځه وه ، ددی چی کله دکوچنی پیداکیدو وخت شروع سو اولږ ساعت وروسته یی کوچنی وسو نودی خپل نوکر داور راوړلو دپاره ولیږی، دی چی ددروازی څخه راووتی نوناڅاپه یو سړی رابنکاره سو او پوښتنه یی وکړه چی ددی ښځی څنګه کوچنی وسو؟ نوکر جواب ورکی چی یوه انجلی پیدا سوه ، نودی سړی وویل چی ته دا خبره په یادلره چی دا انجلی به دسلو ۱۰۰ نارینه وو سره زنا کوی اوپه آخرکی به دیوه جولاګی (عنکبوت) دلاسه مری ، دی نوکرچی دا خبره واوریده نوبیرته راوګرځیدی اوپه دستی یی یوه چاړه راواخیسته اوددی انجلی نس یی ورڅیری کی، اوفکر یی وکی چی اوس به دامړه وی او ولاړی وتښتیدی ، لیکن دانجلی مور ددی انجلی نس وروګنډی او آخر دغه انجلی ځوانه سوه او ښایسته دومره وه چی په دغه ښارکی بی مثله وه، بلی خواته هغه نوکر ددریاب پرلاره ولاړی او وتښتیدی، او ډیره زمانه یی مال اودولت وګټی اوبیا دواده کولو دپاره بیرته دی ښارته راغی اودلته یی دیوی بوډی سره شناخت سو نوهغی ته یی وویل چی زه دداسی انجلی سره واده کول غواړم چی ترهغی زیاته ښایسته په دی ښارکی بله نه وی ، دغی ښځی ورته وویل چی تر فلانکی انجلی ښایسته په دی ښارکی بله نسته، ته دهغی سره واده وکړه ، ده کوشش وکی اوآخرچی دهغی سره یی واده سو نوهغه انجلی ددی سړی څخه پوښتنه وکړه چی ته څوك یی؟ اوپه کوم ځای کی اوسی ؟ دی سړی ورته وویل چی زه ددی ښار اوسیدونکی یم لیکن دیوی انجلی نس می څیری کړی وو اوتښتیدلی وم ، پوره واقعه یی ورته بیان وکړه ، چی دا یی واوریدل نو دی ورته وویل چی هغه انجلی زه یم اوخپل نس یی ورته وښووی چی نښانی پرموجودی وی چی سړی داولیدل نو وی ویل چی که ته هغه ښځه یی نوستاپه اړوند دوی خبری نوری دی یوه داچی ته به دسلو ۱۰۰ سړیانوسره زنا کوی نودی ښځی اقرار وکی چی هو! زما څخه داسی سوی دی ، لیکن شمیر یی راته په یادنه دی ، سړی وویل شمیریی سل ۱۰۰ دی دوهمه خبره دا ده چی ته به دجولاګی څخه مری سړی ددی دپاره یوعالیشان محل تیارکی داسی چی دجولاګی دزالګی ګرسره په کی کوم نوم اونشان نه وو ، یوه ورځ دواړه په دغه محل کی پراته وه چی پردیوال باندی یی جولاګی ولیدی ، ښځی وویل چی هغه جولاګی دادی چی ته ماورڅخه بیروی سړی وویل چی هو! دادی ، نو دا ښځه پدستی ولاړه سوه چی دی خوبه زه اوس لامرکړم اوجولاګی یی لاندی راارتاوکی اوپه پښوسره یی پرمخکه ومښی چی ښه مړسی جولاګی خو مړ سو لیکن دهغه دزهرو څاڅکی ددی په پښو اونوکانو کی پریوتل اودا دهغه څخه مړا سوه (ابن کثیر رحمه الله)

دا ښځه په صفا سُتره اوعالیشان محل کی ناڅاپه دیوه جولاګی دزریعه سره هلاکه سوه (اوچی وخت یی نه وو پوره نو دنس دڅیرلو څخه نسوه مړه) اوبل ددی په مقابله کی ډیر داسی خلګ دی چی تول عمر یی په جنګونوکی تیر سوی دی، اوهلته مړه نه دی ، حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه چی داسلام سپاهی اومشهور قوماندان دی ، تول عمر دشهادت په ارمان کی په جهاد کی مشغول وو اوپه زرګونو کافران یی وژلی دی

او په ډېرو خطرناکو موقعو باندې ورغلی دی او همیشه به یې دا آرزو کوله چې زما مرګ دې دښمنو په شان په کټ کې نه وي بلکه دېوه بهادر سپاهي په شان دې دجهاد په میدان کې وي ، خو آخر دده مرګ په بستره کې راغی ، ددې څخه معلومه سوه چې دژوند او مرګ نظام الله ﷻ په خپل لاس کې ساتلی دی کله چې هغه وغواړي نو دخوب په بستري باندې یې دجولاګي دلاسه وژني او چې څه خلاصول یې غواړي نو دتورو دکړپ او کړوپ په مینځ کې یې ساتي .

(پوخ او محکمه کور آبادول دتوکّل خلاف نه دي)

وَلَوْ كُنْتُمْ فِيْ بُرُوْجٍ مُّشَيَّدَةٍ : په دې آیت کې وویل سوه چې مرګ به تاسی ته پرهرحال باندې راسی که څه هم چې تاسی په محکمو محلونو کې یاست ، ددې څخه معلومه سوه چې داوسیدو ، مال او اسباب دحفاظت دپاره محکمه او ښایسته کور جوړول دتوکل څخه خلاف نه دي او نه دشریعت څخه خلاف دي (قرطبی)

(انسان ته نعمت خاص دالله ﷻ په فضل رسیږي)

مَا أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللهِ : دلته دحسنة څخه مراد نعمت دی (مظهری) په دې آیت سره یې اشاره دې خبرې ته وکړه چې انسان ته کوم نعمت رسیږي دادده څه حق نه وي بلکه خاص دالله ﷻ فضل وي انسان برابره خبره ده هرڅومره عبادت چې کوي، په دې سره دې دنعمت مستحق کیدی نه سي ، ځکه چې دعبادت توفیق هم دالله ﷻ دطرفه څخه وي ، او بیا دالله ﷻ نعمتونه خو بې حسابه دي په دې لږ غوندې محدود عبادت او طاعت سره څنګه حاصلیدی سي؟ او بیا خاص چې زمونږ عبادت هم درب العٰلمین دباچهی لائق نه وي . په یوه حدیث کې نبی کریم فرمایي .

مَا أَحَدٌ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلاَّ بِرَحْمَةِ اللهِ قِيْلَ وَلاَ أَنْتَ يَارَسُوْلَ اللهِ قَالَ وَلاَ أَنَا (متفق علیه، بحواله مظهری)

یعني ماسوا دالله ﷻ درحمت څخه یو سړی جنت ته نه سي تلی ، را وی عرض وکی چې تاسی هم یارسول الله ا وی فرمایل چې هو! زه هم نه سم تلی .

(مصیبت دانسان دبد عمل نتیجه ده)

وَمَا أَصَابَكَ مِنْ سَيِّئَةٍ فَمِنْ نَّفْسِكَ : دلته دسيّئة څخه مراد مصیبت دی (مظهری) دمصیبت پیدا کوونکی که څه هم الله ﷻ دی لیکن ددې سبب په خپله دانسان بدعملونه وي ، اوس که دا انسان کافر دی ، نو ده ته چې په دنیاکې کوم مصیبت راځي ، نو دا دده دپاره ددې عذاب یومعمولي ډول نمونه ده او دآخرت عذاب یې ډیر زیات دی ، او که دې مؤمن دی نو دده دپاره مصیبتونه او تکلیفونه دده دګناهونو کفاره کیږي ، دآخرت دنجات (خلاصون) سبب یې جوړیږي ، لکه په یوه حدیث کې حضور فرمایي .

مَا مِنْ مُّصِيْبَةٍ تُصِيْبُ الْمُسْلِمَ إِلاَّ كَفَّرَ اللهُ عَنْهُ بِهَا عَنْهُ حَتَّى الشَّوْكَةَ يُشَاكُهَا (ترمذی بحواله مظهری)

یعني یو مصیبت داسی نسته چې یو مسلمان ته ورسیږي، مګر دده دګناهونو کفاره کیږي، تردې پورې چې ازغی (خوز) کوم چې دده په پښو کې ننوزي ...... په یوه بل حدیث کې فرمایي .

عَنْ أَبِيْ مُوْسٰى رضي الله عنه أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ لَايُصِيْبُ عَبْدًا نَكْبَةٌ فَمَافَوْقَهَا وَمَادُوْنَهَا إِلاَّ بِذَنْبٍ وَمَايَعْفُوْا أَكْثَرُ (ترمذی بحواله مظهری)

حضرت ابوموسٰی رضي الله عنه فرمایي چې نبی کریم ﷺ فرمایلي دي چې بنده ته چې کوم کوچنی یا سخت مصیبت راځي نو دا دده دګناهونو نتیجه وي او ډیر ګناهونه الله ﷻ معاف کوي .

Maktaba Tul Ishaat.com

(دحضور ﷺ رسالت دټول عالم دپاره عام دی)

وَاَرْسَلْنٰكَ لِلنَّاسِ رَسُوْلًا : ددی څخه ثابته سوه چې نبی کریم ﷺ دټولو خلګو دپاره رسول جوړ کړی اورا لیږل سوی دی ، دی یوازی دعربو دپاره نه وو رالیږل سوی ، بلکه دده رسالت دټول عالم انسان دپاره عام دی برابره خبره ده که دغه موجودوی اوکه آئنده تر قیامته پوری پیدا کیږی (مظهری)

مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ ۚ وَمَنْ تَوَلّٰى فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ﴿۸۰﴾

چاچې حکم ومنی درسول ﷺ ده حکم ومنی دالله اوخوك چې وګرځی، نوموږتاته نه دی لیږلی په دوی باندی نګهبان (ساتونکی)

لنډتفسیر: کوم سړی چې درسول حکم ومنی نو ده دخدای حکم ومنی (اوچاچې درسول نافرمانی وکړه نو هغه دخدای ﷺ نافرمانی وکړه ، او دالله ﷺ حکم منل په عقل سره هم واجب دی نو دده حکم منل هم واجب سوه) اوکوم سړی چې (دده دحکمه څخه) مخ واړوی نو (تاسی هیڅ غم مه کوی ځکه چې موږ تا (په شکل دذمه وار) د دوی ساتونکی نه یی لیږلی (چې ته به دوی کفر کولو ته نه پریږدی بلکه ستا فرض پیغام رسول دی او دا په رسولو سره پوره کیږی که تردی وروسته دوی بیاهم کفر کوی نو ستا څخه به ددی خبری کومه پوښتنه نه کول کیږی ، تاسی ددی خبری فکر مه کوی)

وَيَقُوْلُوْنَ طَاعَةٌ ۫ فَاِذَا بَرَزُوْا مِنْ عِنْدِكَ بَيَّتَ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ الَّذِيْ

او وایی قبول دی بیاچې هرکله دباندی ولاړی سی ستادخوا څخه نومشوری کوی ځینی ځینی په دوی کی دشپې

تَقُوْلُ ؕ وَاللّٰهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُوْنَ ۚ فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى

دهغه څخه خلاف چې تاته یی ویلی وی او الله لیکی کومې چې دوی مشوری کوی نوته خان ناخبره کړه په دوی اوتول کوه

اللّٰهِ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿۸۱﴾ اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ ؕ وَلَوْ كَانَ

په الله او الله کافی دی کار ساز ، آیا دوی غور نه کوی په قرآن کی اوکه وی

مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ لَوَجَدُوْا فِيْهِ اخْتِلَافًا كَثِيْرًا ﴿۸۲﴾

دبل چا ماسوا دالله څخه نوخامخابه پیدا کیدی سوای په دی کی دیر تفاوت

لنډتفسیر: او دا (منافقان) خلګ (ستاحکمونه واوری نوستاپه وړاندی په ژبه سره خو) وایی چې زموږ کار (ستاسی) حکم منل دی بیاچې کله ستادخوا څخه دباندی ولاړسی نو دشپې په وخت کی (پټی) مشوری کوی په دوی کی یوه ډله (یعنی ددوی دسردارانو ډله) په خلاف دهغه چې څه یی په ژبه سره ویلی وی (اوکله چې دوی سرداران دی اصلی مشوره دوی کوی باقی نور ددوی تابع وی نو په دی خلاف کی دټولو حال یودی) او الله (په حکومتی روزنامچه کی) لیکی هغه څه چې دوی دشپې مشوره په کی کوی (په خپله موقع به سزا ورکړی) نو ته د دوی (ددی بی هودګی) طرف ته مه ګوره (اوخیال مه کوه) او (مه څه فکر کوه)

بلکه تولہ قصه) الله ته حواله کوه او الله پوره کار سازه دی (هغه به په خپله په مناسب ډول سره ددی دفعه وفرمايي نوهیڅکله هم ده ته ددوی ددی شرارتونوکوم نقصان ونه رسیدی) آیاداخلګ (دقرآن په مُعجزوالی ، فصاحت اوبلاغت کی اودغیبو په خبرونو ورکولوکی فکر کوی اوبیاهم) په قرآن کی فکرنه کوی (چی ثابته سی ورته چی دا دالله ﷺ کلام دی) اوداکه دالله څخه ماسوا دبل چا (کلام) وای نوپه دی (په مضامینو) کی به یی ډیر زیات تفاوت پیدا کړی وای (ځکه چی په هریوه مضمون کی به یویو اختلاف وای نوپه ډیرو مضمونونوکی به یی اختلافات ډیر وای ، اوحال دادی چی ددی په یوه مضمون کی هم اختلاف نسته نوخامخا دا دغیر الله کلام نه سی کیدی)

معلومات اومسئلي : وَيَقُولُونَ طَاعَةٌ فَإِذَا بَرَزُوا مِنْ عِنْدِكَ بَيَّتَ طَائِفَةٌ مِنْهُمْ غَيْرَ الَّذِي تَقُولُ : په دی آیت کی دهغه خلګو بدوالی بیان سوی دی چی دوی ژبی والا پالیسی لری ، په ژبه یوڅه وایی ، په زړه کی بل څه لری ، تردی وروسته دداسی خلګو په باره کی دنبی کریم ﷺ دطرز عمل په اړوند یوه خاصه ښوونه ده .

(دپیشوا دپاره ضروری ښوونه)

فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ وَكَفَى بِاللَّهِ وَكِيلًا : کله چی به منافقان دده مخ ته راغلل نوویل به یی چی مونږ ستاسی حکم قبول کی اوکله چی به بیرته ولاړل نو دده دنافرمانی کولو دپاره به یی مشوری کولی، په دی سره به نبی کریم ﷺ ته سخت خفګان رسیدی نوالله ﷺ ده ته ښوونه وکړه چی د دوی پرواه مه کوه ، تاسی خپل کار دالله ﷺ په توکل باندی کوی ځکه چی هغه ستاسی دپاره کافی دی ، ددی څخه معلومه سوه چی کوم سړی دخلګو راهنما اوپیشوا وی دی به ترقسم قسم سختیو تیریږی خلګ قسما قسم الزامونه دده پرسر ورتپی ، د دوستی په شکل کی یی دښمنی هم کوی ، ددی ټولو خبره سره سره دی راهنماته په کار دی چی په محکمه اراده ثابت قدمی اودالله ﷺ په توکل خپل کارجاری ساتی، که دده لار اومنزل مقصود صحیح وی نو انشآء الله خامخابه کامیابیږی .

(په قرآن کي غور اوفکر)

أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ : په دی آیت سره الله ﷺ په قرآن کی دغور اوکفر کولو بلنه ورکوی ، په دی کی څوشیان دفکر وړ دی ، یوداچی الله ﷺ أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ وفرمايل ، أَفَلَا يَقْرَءُونَ یی ونه فرمایل ، ددی څخه په ظاهره یوه باریکه اشاره دی طرف ته معلومیږی چی په دی آیت سره ددی خبری ښوونه کول کیږی چی که چیری دوی په ژور نظر سره قرآن ته وګوری نوددی په معناوو اوپه مضمونونوکی به ورته کوم اختلاف په نظر را نه سی نو ددی مقصد دپاره یی دتدبُّر عنوان راوړی ځکه چی یوازی په تلاوت اوقرآئت چی تدبُّریعنی غور اوکفر په کی نه وی په دی سره ډیر اختلافات په نظر راتلی سی چی دحقیقت څخه خلاف وی ، دوهمه خبره ددی آیت څخه دا معلومه سوه چی دقرآن مطالبه دا ده چی هر انسان دی ددی په مطالبوکی فکر کوی ، نو دا خبره ګڼل چی په قرآن کی تدبر فکر اوسوچ کول یوازی دامامانو اومجتهدینو کاردی ، صحیح نه ده ، البته دفکر اوسوچ درجی به دعلم اوپوهی د درجو په شان سره مختلفی وی ، دامامانو او مجتهدینو فکر به دیوه یوه آیت څخه په زرګونو مسئلی راباسی دعامو عالمانو فکر به دومره وی چی په دی مسئلو به پوه سی ، عوام که دقرآن ترجمه او تفسیر په خپله ژبه وکړی اوفکر په کی کوی نودالله ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com

دلویی اومحبّت اوآخرت فکر به یی پیداسی، چی دادکامیابی کیلی ده ، البته عوامو لره دغلط فهمی اوغلطیو څخه دساتنی دپاره دا ضروری ده او ښه ده چی دیوعالم څخه قرآن په سبق سبق سره ووایی اوکه دا نه سوای کیدی ، نو دخپلی ژبی یومعتبر او مستند تفسیر دی مطالعه کوی اوکوم ځای چی ورته شك راځی ، هلته دی فیصله په خپلی رایی سره نه کوی، بلکه دیوه پوه عالم څخه دی ځان پوهوی.

(دقرآن اوسنت په تفسیراوتشریح باندی دیوه تن یاجماعت اجاره داری نسته لیکن ددی دپاره څه شرطونه دی)

دذکر سوی آیت څخه معلومه سوه چی هرسړی ته داحق سته چی دی په قرآن کی غور او فکر وکړی لیکن لکه څنګه چی مونږ ویلی دی چی دغور اوفکر درجی مختلفی دی اودهر یوه حُکم جلادی دمجتهد فکر د قرآن کریم څخه مسئلی راباسی، نودده دپاره ضروری ده چی ده ته تردی مخکی کوم علمونه حاصلول ضروری دی ، هغه په کامله طریقه سره حاصل کړی دکوموچی یوه مجتهد ته ضرورت وی، نوکه دی دغه علمونه حاصل نه کړی یایی حاصل کړی خو ناقص یی حاصل کړی اوکوم صفتونه اوشرطونه چی یوه مجتهد ته یی ضرورت وی اوهغه په ده کی نه وی نوښکاره خبره ده چی نتیجی به غلطی راوباسی ، نو که دده څخه عالمان انکار کوی، نوحق دی .

که یوه سړی یوځای میډیکل کالج (طبی پوهنتون) لیدلی هم نه وی اودا اعتراض کوی چی په ملك کی پرعلاج معالجه باندی دسند یافته ډاکټرانو اجاره ولی قائمه ده؟ (یعنی ولی په ټول ملك کی یوازی سند یافته ډاکټران علاجونه اومعالجی کوی، ولی یی هر څوك نه سی کولی؟) ماته هم په حیثیت دیوه انسان داحق رسیدل په کار دی .

یا یو دعقل څخه ړوند انسان ووایی چی په ملك کی دنهرونو، پُلونو اوبندونو جوړولو ټیکه یوازی ماهرو انجنیرانو ته ولی ورکول کیږی؟ زه هم په حیثیت ددی ملك داوسیدونکی ددی کارکولو حقداریم یایو بی عقله دا اعتراض وکړی چی دملك دقانون پرتشریح اوتعبیر یوازی دقانون دپوهانو اجاره داری ولی قائمه کړل سوی ده؟ زه هم دیوه عاقل اوبالغ په حیثیت سره داکار کولی سم ، نودی سړی ته به داسی وویل سی چی بیشکه په حیثیت ددی ملك داوسیدونکی تاته ددی ټولو کارونو حق حاصل دی ، لیکن ددی کارونو په ځان کی دقابلیت اواهلیت پیداکولو دپاره ډیرموده محنت کول غواړی ، دماهرو اوپوهو اُستاذانو څخه ددی په اړوند علمونه اِزده کول غواړی اوددی دپاره ډګری حاصلول غواړی، اول به داتکلیف اوسختی تیری کړی ، نوبیابیشکه چی ته به هم داټول خدمتونه کولی سی ، لیکن که دا خبره دقرآن اوسنّت دتشریح اودباریکو اونازکو مسئلو په باره کی وکړل سی نوپه دی باندی دعلماؤ داجاره داری چیغی اونعری وهل کیږی؟ نو ولی دقرآن اوسنّت دتشریح اوتعبیر دپاره څه اهلیّت اوقابلیّت نه دی په کار؟ اوولی په دُنیاکی یوازی یو دقرآن اوسنّت علم داسی لاوارثه پاته سوی دی چی په دی معامله کی هر سړی دخپلی تشریح اوخپل تعبیر حق لری، برابره خبره ده که ده دقرآن اوسنّت دعلم دحاصلولو دپاره یو څو میاشتی هم نه وی خرڅی کړی .

دقیاس ثبوت: ددی آیت څخه یوه داخبره معلومه سوه چی که دیوی مسئلی وضاحت په قرآن اوسنت کی پیدانه سی نو دقرآن اوسنت څخه به په غور اوفکر کولو سره ددی حل را ایستل کیږي اودی کارته په اصطلاح کی قیاس وایی (قرطبی)

Maktaba Tul Ishaat.com

دډيرو اختلافونو تشريح: وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ لَوَجَدُوْا فِيْهِ اخْتِلَافًا كَثِيْرًا : د ډيرو اختلافونو مطلب دا دی چې که په يوه مضمون کی اختلاف وی نو په ډيرو مضمونونو کی به هم اختلاف زيات وای (بيان القرآن) ، ليکن دلته په يوه مضمون کی هم اختلاف نسته نو په دی وجه دا دالله ﷻ کلام دی ، دبنده په کلام کی داسی يوشان والی هيڅکله نه وی ، نه په کښی يوځای دفصاحت اوبلاغت کمی سته ، نه دتوحيد کفر اوحلالو حرامو په بيان کی کوم تفاوت او تناقض سته ، اوبيا دغيبيو په خبرونو کی هم يو خبر داسی نه دی چې دواقعی مطابق نه وی اونه دقرآن په نظم کی يوځای داسی فرق سته چې څه فصيح اويو څه غير فصيح وی دهربنده پرتقريراوتحريرباندی دچاپيريال اثروی داطمينان په وخت کی يی کلام يوډول وی اودپريشانی په وخت کی بل ډول، دخوشحالی په وخت کی په يوه رنګ وی اودغم په وخت کی په بل رنګ ، ليکن قرآن کريم دهرقسم تفاوت اوضد څخه پاک دی اودده دکلام الهی کيدو ښکاره دليل دی .

وَاِذَا جَآءَهُمْ اَمْرٌ مِّنَ الْاَمْنِ اَوِ الْخَوْفِ اَذَاعُوْا بِهٖ ؕ وَلَوْ رَدُّوْهُ اِلَى الرَّسُوْلِ

او هرکله چې دوی ته ورسيږي څه خبر دامن يا دبيری نوهغه مشهور کړی اوکه دغه يی رسولی رسول ﷺ

وَاِلٰٓى اُولِی الْاَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِيْنَ يَسْتَنْۢبِطُوْنَهٗ مِنْهُمْ ؕ

ته ياخپلو حاکمانو ته نو تحقيق به کړی وای په دی کی کوم چې په دوی کی تحقيق کوونکی دی ددې

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطٰنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۸۳﴾

اوکه نه وای فضل دالله په تاسی اودهغه مهربانی نو خامخا به تاسی وروپسی سوی وای په شيطان مګر (نه) لږ.

لنډتفسير: اوکله چې دوی ته دکم (نوی) کار خبر ورسيږی برابره خبره ده که (دغه کار سبب) دامن وی يا (سبب) دبيری (مثلاً دمسلمانانو لښکر يوځای ته دجهاد دپاره ولاړی اودهغوی دغالب کيدو خبر راغی دادامن خبر سو يادډوی دمغلوب کيدو خبر راغی دا دبيری خبردی) نودا (خبره پدستی) مشهوره کړی (حال دادی چې ځينی وخت هغه غلط وخيژی اوکه صحيح هم سی خوبيا هم دانتظامی کارونو په بنا سره دهغه مشهورول دمصلحت څخه خلاف وی) اوکه چيری (پرځای ددی چې دوی يی په خپله مشهوروی) دې خلګودا (خبر) رسول ته اوکم چې (لوی صحابه کرام) په دوی کی کارونه پيژنی (رايی) ددوی ته حواله کولای (اوپه خپله يی په کښی کوم دخل نه کولی) نو (د) داخبر (دصحت او غلط اودقابل شهرت والی يادناقابل شهرت کيدو) به دغه حضراتو پيژندی کوم چې په دوی کی ددی تحقيق کوونکی دی (لکه چې هميشه دوی خبره پيژنی نوبياچې ددی خبر سره دغه حضراتو څه عمل کولی هغسی به دوی ته هم کول په کار وای ، دځانه دوی ته په داسی خبروکی دخل ورکولو ته کوم ضرورت دی که دوی په کښی دځانه دخل نه کولی نو ددوی به څه خراب سوی وای؟ مخکی دذکر سوو حکمونو داورولو څخه وروسته کوم چې ددنيا اوآخرت مصلحتونه پکښی دی، په طور داحسان مسلمانانوته ارشاد دی) اوکه پر تاسی خلګو دخدای (داخاص) فضل اورحمت (چې تاسی ته يی قرآن درکی، خپل پيغمبر يی رالېږلی که دا) نه وای

نوتاسي ټولو به (ددنيا اوآخرت نقصان اختيار کړي واى) دشيطان ملګري سوي به واى ، بغير دلږو خلګو څخه (پرکومو باندي چي الله پاك خپل خاص فضل اورحمت کړي دى اورغ عقل يي ورکړي دى ، ددى څخه به محفوظه سوي واى ، نوتاسي ته په کار دي چي داسي پيغمبر اوداسي قرآن چي ددنيا او آخرت دجوړيدو احکام په کښي راځي غنيمت وګڼي اوپوره په پوره ددې اطاعت اوفرمانبرداري اختيارکړي

معلومات اومسئلي: شانِ نزول: وَإِذَا جَآءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ داين عباس ﷺ ضحاك ﷺ اوابومعاذ ﷺ په نزد دا آيت دمنافقانو په باره کي نازل سوی دی اودحضرت حسن ﷺ اونورو اکثرو حضراتو په نزد دا آيت دکمزورو او ضعيفو مسلمانانو په باره کي نازل سوی دی (روح المعاني)

علامه ابن کثير رحمه الله ددى آيت په اړوند دواقعونقل کولو څخه وروسته فرمايي چي ددی آيت په شان نزول کي دحضرت عمر ﷺ بن خطاب دحديث ذکر کول په کار دي ، هغه داچي حضرت عمر ﷺ ته دا خبر ورسيدی چي نبي کريم ﷺ خپلو بيبيانو ﷺ ته طلاق ورکړی دی ، نودی دخپل کور څخه مسجدته راغی چي دروازي ته راورسيدی نوده واوريدل چي په مسجدکي دننه خلګ هم داخبري کوي ، ده چي دا واوريدل نو وي ويل چي ددی خبري تحقيق په کار دی ، نو دی نبي کريم ﷺ ته ورسيدی اوپوښتنه يي ورڅخه وکړه چي تاسي خپلو بيبيانوته طلاق ورکړی دی ؟ ده ﷺ وفرمايل چي نه ! حضرت عمر ﷺ فرمايي چي ددی تحقيق کولو څخه وروسته زه مسجدته راغلم اوپه دروازه ودريدم دا اعلان مي وکی چي نبي کريم ﷺ خپلو بيبيانوته طلاق نه دي ورکړی داتاسي خلګ چي څه واياست دا دروا غ دی ، نوپه دی باندی دا آيت نازل سو ، وَإِذَا جَآءَهُمْ أَمْرٌ الخ (تفسير ابن کثير رحمه الله)

(بې تحقيقه خبري خپرول ګناه اولويه فتنه ده)

ددى آيت څخه معلومه سوه چي هره اوريدلې خبره بغير دتحقيق څخه نه دي بيانول په کارلکه چي نبي کريم ﷺ په يوه حديث کي فرمايلي دي ، كَفَى بِالْمَرْءِ كَذِبًا اَنْ يُّحَدِّثَ بِكُلِّ مَاسَمِعَ يعني ديوه بنده د دروا غجن کيدو دپاره دا خبره کافي ده ، چي دی هره اوريدلې خبره بغير دتحقيق څخه بيان کړي په يوه بل حديث کي دي فرمايي ، مَنْ حَدَّثَ بِحَدِيْثٍ وَهُوَ يَرٰى اَنَّهٗ كَذِبٌ فَهُوَ اَحَدُ الْكَاذِبِيْنَ : يعني کوم سړی چي کومه داسي خبره بيان کړي چي ده ته معلومه وي چي دا درواغ دي نو په دوو دروا غجنانو کي يو دي هم دی (تفسير ابن کثير رحمه الله)

اُولوا الامرکوم خلګ دي ؟ وَلَوْ رَدُّوْهُ اِلَى الرَّسُوْلِ وَاِلٰٓى اُولِي الْاَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِيْنَ يَسْتَنْۢبِطُوْنَهٗ مِنْهُمْ الخ استنباط په اصل کي دڅاه دبيخ څخه اوبو را ايستلو ته وايي ، دڅاه دکيندلو په وخت کي چي کومي اوبه په اول وار راوزي ، هغه ته مَآء مُستَنبَط وايي ، ليکن دلته ورڅخه مراد دا دی ، چي ديوی خبري بيخ ته رسيدل اوصحيح حقيقت يي معلومول (قرطبي)

داُولوا الامر په تعيين کي ډير قولونه دي ، دحضرت حسن ﷺ قتاده اوابن ابي ليلی رحمهم الله په نزد باندی علمآء اوفقهآء مراد دي ، حضرت سدی رحمه الله فرمايي چي اميران اوحاکمان ورڅخه مراد دي ، ابوبکر جصاص رحمه الله ددی دواړو قولونو نقل کولو څخه وروسته فرمايي، صحيح دا ده چي دواړه مراد دي ځکه چي داُولی الامر اطلاق په دی ټولو باندی کيږي ، البته په دی باندی ځيني خلګ شُبهه کوي چي داولی الامر څخه مراد فُقهآء نه سي کيدی ، ځکه چي اولی الامر دخپلی لفظي معني په اعتبار سره هغه

خلک دی دچاچی حکم چلیږی او دا خو ښکاره خبره ده چی دفقهاؤ داکار نه دی ، حقیقت دا دی چی دحکم چلیدو دوه صورتونه دی، یو په جبر اوتشدد سره دغه یوازی دحکومت کوونکو کاردی دوهم صورت دعقیدی اواعتماد په وجه سره دحکم منلودی اودا فقهاووحضراتو ته حاصل دی چی دا دعامو مسلمانانو دحالاتو څخه په هردورکی لیدل کیږی چی ددین په معاملوکی عام مسلمانان په خپل اختیار سره دعلماوو په حکم باندی عمل واجب ګڼی، اودشریعت په وجه سره پر دوی باندی ددی احکامومنل واجب هم دی نوپردوی باندی هم داولوا الامر اطلاق صحیح دی (احکام القرآن للجصاص رحمه الله)

ددی بحث زیات تفصیل تر أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ لاندی هم سوی دی .

(په نوو مسئلوکي دقیاس اواجتهاد دعوامو دپاره دامامانو دتقلید ثبوت دی)

ددی آیت څخه معلومه سوه چی په کومو مسئلوکی نص نه وی دهغه احکام داجتهاد اوقیاس په اصولو باندی په قرآنی حیثیت سره راایستل کیږی ځکه چی په دی آیت کی یی ددی خبری حکم ورکی چی دنوو مسئلو دحل کولو دپاره که نبی کریم ﷺ موجود وی نو هغوته رجوع کوی اوکه دی موجودنه وونو عالمانو اوفقهاؤ ته رجوع کوی ځکه چی دوی دمسئلو راایستلو پوره صلاحیت لری .

ددی آیت څخه یوڅو خبری معلومی سوی .

یو دا چی په کمه مسئله کی نص نه وی په هغه کی دی علماوو اوفقهاؤ ته رجوع کول کیږی ، دوهمه دا چی دالله ﷻ حکمونه دوه قسمه دی یوقسم هغه دی چی نَص په کی وی او واضح وی اوځینی هغه قسم دی چی واضح نه وی اومُبهم وی اودآیت په ژورو معناووکی الله ﷻ ایښی وی ، دریمه دا چی دعالمانو دافرض دی چی دوی داسی معنی داجتهاد اوقیاس په ذریعه را وباسی .

څلورمه دا چی عوامو ته ضروری ده چی په داسی مسئلوکی دعلماؤ تقلید (پیروی) وکړی (احکام القرآن للجصاص رحمه الله)

(نبي کریم ﷺ هم داستنباط اواستدلال مکلف وو)

لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنبِطُونَهُ مِنْهُمْ : ددی آیت څخه معلومیږی چی نبی کریم ﷺ هم ددلیلونو په ذریعه دحکمونو په راایستلو باندی مکلف وو ، نوځکه یی دآیت په اول کی ددوو تنو طرف ته درجوع کولو حکم ورکی یو د نبی کریم ﷺ طرف ته اوبل داولوا الامر طرف ته ، تردی وروسته یی وفرمایل ، لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنبِطُونَهُ او دا حکم عام دی چی ددی ذکر سوو دواړو ډلو څخه په کی دیوی ډلی خاصوالی نسته ، نوپه دی وجه ددی څخه ثابته سوه چی دده ﷺ ذات مبارك هم داحکامو په راایستومکلف وو (احکام القرآن للجصاص رحمه الله)

مهمي فائدي: (۱) که څوك داشُبهه کوی چی ددی آیت څخه خویوازی دومره معلومیږی چی ددښمن څخه دامن اودبیری په باره کی تاسی دځانه خبرونه مه خپروی بلکه کم چی دعلم اورایی خاوندان دی هغوی ته رجوع کوی ، نوبیاچی هغوی دغور اوفکر څخه وروسته کمه خبره وښیی په هغه عمل کوی نو ښکاره خبره ده چی دحادثاتی مسئلو سره ددی هیڅ تعلق نسته نوجواب یی دا دی چی په ، وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ : کی ددښمن کوم ذکر نسته ، نو په دی وجه امن اوبیره عام دی ، لکه څنګه چی ددی تعلق ددښمن سره دی ، دغه ډول یی دحادثاتی مسئلو سره هم دی ، ځکه چی کله یوه نوی مسئله دیوه عام

Maktaba Tul Ishaat.com

سړي مخ ته راسي چي دهغې دحراموالي اوحلالوالي په باره کې څه نص نه وي نو دده سره فکر سي چي کوم اړخ اختيارکړي په دواړو صورتونو کې دنفع انقصان احتمال وي نو ددې بنه عمل شريعت دارا وايستې چي تاسي دمسئلو درا ايستونکو طرف ته رجوع وکې هغوی چي کومه خبره دروښيي په هغه عمل کوی (احکام القرآن للجصاص رحمه الله)

(اجتهاد اواستنباط دغلبي دګمان فائده ورکوی دعلمِ يقيني دانه ورکوی)

(۲) په استنباط سره چي کوم حکم فقهآء راوباسي ددې په باره کې په قطعي ډول سره دانه سی ويل کيدی چي د الله ﷻ په نزد داپه قطعي ډول سره حق دی بلکه ددې حکم دخطآء هم احتمال وي البته ددې دصحيح کيدو غالب ګمان حاصل سی کوم چي دعمل دپاره کافي دی (احکام القرآن للجصاص رحمه الله وتفسير کبير)

فَقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ لَا تُكَلَّفُ اِلَّا نَفْسَكَ وَحَرِّضِ

نو ته جنګ کوه دالله په لاره کې ته ذمه وارنه يې مګر دخپل ځان اوتاکيد کوه

الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّكُفَّ بَاْسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۗ وَاللّٰهُ

مسلمانانو ته نژدې ده چي الله بند کړي جنګ دکافرانو او الله

اَشَدُّ بَاْسًا وَّاَشَدُّ تَنْكِيْلًا ﴿٨٤﴾

ډير سخت دی په جنګ کې او ډير سخت دی سزا ورکونکی.

لنډتفسير: (کله چي دجهاد ضرورت سی) نو ته (ای محمده ﷺ) دالله په لاره کې (دکفارو سره) جنګ کوه (اوکه فرض کړه يو څوك ستاسره نه وي نوته فکر مه کوه څکه چي) تاته بغير دخپل ذاتي کار څخه (دبل کارسړي دکار) څه حکم نسته او (ددې سره) مسلمانانوته (يوازې) ترغيب ورکوه (بياکه هم درسره څوك ملګرتيانه کوی نوستا غاړې خلاصي دی نو ستا څخه دپوښتنی کيدو فکرمه کوه اومه ديوازې پاته کيدو غم کوه څکه چي) دالله څخه اُميددی (اودا اُميد درکول وعده ده) چي دکافرانو دجنګ زوربه مات کړي (اودوی به مغلوبه کړي) او (که څه هم چي دوی ډير زورورپه نظر درځي ليکن) الله دجنګ په زړه کې (تردوی په ډيرودرجوسره) زيات سخت (اوقوی) دی او (مخالف ته) سخته سزا ورکوی.

معلومات اومسئلي: شانِ نزول: کله چي داُحد غزا دشوال (کوچنی اختر) په مياشت کې وسوه ، نو نبی کريم ﷺ په ذی قعده کې دکفارو دوعدې مطابق بدرته دمقابلې دپاره تلل وغوښتل (چي تاريخ ليکونکي ورته بدرِ صغرٰی وايي) په دغه وخت ځينې خلګو دتازه زخمونو په وجه اوځينو دافواهي خبرونو په وجه په تللوکې لږ تامّل وکې، نوپردې باندې الله ﷻ دا آيت نازل کې ، چي په دې کې يې نبی کريم ﷺ ته دا هدايت وفرمايي چي که دا تازه مسلمان دجنګ څخه بيريږي نو ای رسوله ! ته يوازې په خپل ذات سره جنګ کوه الله ﷻ ستا کومك کوونکی دی ، په دې هدايت سره ده داويا ۷۰ ملګرو سره کوچني بدر ته

تشریف یوړی ، دکوم وعده چی دابوسفیان سره دأحد ترغزا وروسته سوی وه ، الله ﷻ دابوسفیان اوکفارو په زړونوکی رُعب او بیره واچوله اوهیڅوك مقابلی ته رانغی اوکفار په خپله وعده کی دروغجنان سول الله ﷻ دخپل ارشاد موافق دکافرانو جنګ بندکی او نبی کریم ﷺ دخپلو ملګرو سره صحیح سلامت بیرته تشریف راوړی (قرطبی ، مظهری)

(دقرآن دحکمونو ښایسته طرز اوطریقه)

فَقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ الخ ددی آیت په اوله جُمله کی خونبی کریم ﷺ ته داحکم ورکړل سوی دی چی تاسی یوازی دجهاد دپاره تیار سی بل څوك ستاسره تللوته تیاروی اوکه نه وی لیکن ورسره یی په بله جُمله کی داهم ارشادوفرمایی چی نورومسلمانانوته هم جهادته دتلوترغیب ورکول مه پریږدی دترغیب ورکولو وروسته هم که دوی تیار نه سول نوتاسی خپل فرض اداکړی، د دوی دکاربه ستاسی څخه پوښتنه نه کول کیږی .

ددی سره چی جنګ ته په یوازی تلوکی کمه بیره وه دهغی دلیری کولو دپاره یی وفرمایل چی ددی خبری اُمیددی چی الله ﷻ به دکافرانو جنګ بندکړی اوپردوی به رُعب واچوی، دوی به مغلوب اوتاسی به په یوازی سر کامیاب سئ ، بیا یی تردی وروسته پردی کامیابیدو دلیل وفرمایی چی کله چی دالله ﷻ کومك ستاسی سره دی ، چی دهغه دجنګ قوّت اودجنګ زور تردی کافرانوپه ډیرو درجو سره زیات دی، نوبیاخو کامیابی هم یقینًا ستاسی ده ، بیایی دجنګ ددی سخت والی سره دخپلی سزاسخت والی هم بیان کی ، دا سزا برابره خبره ده که په قیامت کی وی ، لکه چی ښکاره ده، اوکه په دنیاکی وی لکه چی څینی وایی پرهرحال لکه څنګه چی په جنګ کولوکی زمونږ قوت اوطاقت زیات دی، دغه ډول سزاهم زمونږ ډیره سخته ده .

مَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَّكُنْ لَّهٗ نَصِيْبٌ مِّنْهَا ۚ وَمَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَّكُنْ لَّهٗ كِفْلٌ

څوك چی سفارش وکړی په نیکه خبره کی نوده ته به هم ورسیږي ددې څخه یوه حصه او څوك چی سفارش وکړی دبدی خبری په ده به هم وی یو بار ،

مِّنْهَا ۗ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ مُّقِيْتًا ﴿۸۵﴾ وَاِذَا حُيِّيْتُمْ بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوْا

ددې څخه اودی الله په هرڅه باندی قدرت لرونکی، او کله چی تاسی ته دعا وکړی څوك نوتاسی هم دعاکوی

بِاَحْسَنَ مِنْهَآ اَوْ رُدُّوْهَا ۗ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ حَسِيْبًا ﴿۸۶﴾

ددې څخه ښه یا هغه ورته بیرته وایه ، بیشکه الله دی دهر شی حساب کوونکی

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ لَيَجْمَعَنَّكُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيْهِ ۗ

دالله څخه ماسوابل هیڅوك دبندګی لائق نسته،بیشکه تاسی به جمع کړی دقیامت په ورځ په دی کی هیڅ شك نسته

Maktaba Tul Ishaat.com

وَمَنْ أَصْدَقُ مِنَ اللهِ حَدِيثًا ﴿٨٧﴾

او دالله څخه دچا خبره رښتنی ده

لنډتفسير: كوم سړی چی ښه شفاعت وكی (يعنی دكوم طريقه اومقصود چی دواړه جائزوی) ده ته به دغه (شفاعت) څخه (دثواب) حصّه وررسيږی اوكوم سړی چی بيكاره شفاعت وكړی (يعنی ديوچاچی طريقه اوغرض ناروا وی) ده ته به ددی (شفاعت) په وجه سره (دگناه) حصه وررسيږی اوالله پرهرڅه قدرت لرونكي دی (دی په خپل قدرت سره پر نيكی ثواب اوپر بدی عذاب وركولی سی) اوكله چی تاسی ته څوك (په شرعی ډول سره) سلام كوی نوتاسی هم (په جواب كی) په ښو الفاظو سره سلام كوی يا (په جواب كی) هم هغه الفاظ ورته واياست (تاسی ته دواړه اختياره دركول كيږی) بيشكه الله په هرڅه (يعني په هرعمل) باندی به حساب واخلي (يعني دهغه قانون دا دی اوكه داغسي يي په خپل فضل سره معاف كړاست ، نو دا بيله خبره ده) الله داسی دی چی دهغه څخه ماسوا بل هيڅوك دعبادت لائق نسته، هغه به خامخا تاسی ټول را جمع كړی په ورځ دقيامت، په دی كی هيڅ شك نسته او ترالله زياته دچاخبره رينبتينی كيدی سی؟ (نوچی هغه خبر وركوی نودا بالكل صحيح دی)

معلومات اومسئلي

(دشفاعت حقيقت او ددی حكمونه او قسمونه)

مَنْ يَشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً په دی آيت كی يی شفاعت يعنی سفارشت پرښه اوبد دوو قسمونو تقسيم كی ، ددی حقيقت يی هم ښكاره كی اودايی هم وښووله چی نه هريو شفاعت اوسفارشت بد دی اونه هر يوښه دی اوددی سره يی داهم وښوول چی ښه سفارشت كوونكی ته به په ثواب كی حصّه ور رسيږی اودبدو سفارش كونكی ته به عذاب، په آيت كی يی دښه سفارشت كوونكی سره د نَصِيبٌ لفظ راوړی دی اودبد سفارشت كوونكی سره يی د كِفْلٌ ، اوپه لغت كی ددواړو معنی يوه ده، يعني ديوشي يوه حصه ، ليكن په عام عرف كی د نَصِيبٌ لفظ دښی حصی دپاره ويل كيږی اود دكِفْلٌ لفظ اكثره دبدی حصی دپاره ويل كيږی كه څه هم په ځينو ځايونوكی دښی حصی دپاره هم لفظ دكِفْلٌ استعمال سوی دی ، لكه په قرآن كريم كی چی كِفْلَيْنِ مِنْ رَحْمَتِهِ فرمايل سوی دی .

دشفاعت لفظی معنی (رسيدل) يا (رسول) دی ، په دی وجه په عربی ژبه كی لفظ د (شفع) دجوړی په معنی باندی راځی اوددی په مقابله كی د (وتر) لفظ دطاق په معنی استعماليږی ، نوپه دی وجه دشفاعت لفظی معنی داسوه چی دخپل حق طلب كوونكی كمزوری سره خپل قوّت يوځای كړی اوهغه قوی كړه يادبی چاره يوازی سړی سره په خپله يوځای سی دهغه نه جوړه ورجوړه كړی ، ددی څخه معلومه سوه چی دجائز شفاعت اوسفارشت دپاره يوخوداشرط دی چی دچا سفارش كول كيږی دهغه مطالبه حقه اوجائزه وی ، دوهم داچی هغه خپله مطالبه دكمزوری په وجه په خپله لويو خلگوته نسی رسولای اوتاسی يی ورسوی ، ددی څخه معلومه سوه چی ناحقه سفارشت كول يانورددی پرقبلولو مجبوره كول شفاعت سيئه يعنی دگناه سفارشت دی، ددی څخه داهم معلومه سوه چی په سفارشت كی

که دخپل تعلق یامرتبې په وجه ددباؤ اوزور طریقه استعمال کړه سي نودا هم دظلم په وجه جائزنه دی ، په دی وجه داهم په شفاعت سیئه کی داخل دی .
اوس دذکر سوی آیت دمضمون خلاصه دا سوه چی کوم سړی دیوچا دجائز حق او جائز کار دپاره په جائزه طریقه سفارشت وکړی نوده ته به دثواب حصه وررسیږی اودغه ډول څوك چی دیوچا دناجائز کار دپاره یاپه ناجائزه طریقه سفارشت کوی ، ده ته به دعذاب حصه وررسیږی ، دحصی رسیدو مطلب دا دی چی کوم سړی ته شفاعت سوی دی هغه چی کله ددی مظلوم یامحروم کاروکړی نولکه څنګه چی دغه کار کوونکی افسرته ثواب رسیږی، دغه ډول په شفاعت کوونکی ته هم ثواب رسیږی ، اودغه ډول به دیوناجائز کار شفاعت کوونکی هم ګناهګاروی ، اودا مخکی معلومه سویده چی دسفارش کوونکی ثواب یا عذاب په دی پوری تړل سوی نه دی چی دده شفاعت دی تاثیرهم کړی وی اوکامیاب دی هم سی بلکه ده ته به پرهرحال خپله حصه دثواب یاعذاب رسیږی که دده شفاعت کار وکی او که نه .
دنبی کریم ﷺ ارشاد دی ، اَلدَّالُّ عَلَی الْخَیْرِ کَفَاعِلِهٖ (رواه البزار عن ابن مسعود ؓ والطبرانی رحمه الله عنه وعن سهل بن سعد ؓ ، بحواله مظهری) یعنی کوم سړی چی یونیك کارته څوك تیار کړی ده ته به هم داسی ثواب رسیږی لکه چی دغه نیك کار کوونکی ته رسیږی، دغه ډول دابن ماجه په یوه حدیث کی دحضرت ابوهریرة ؓ څخه نقل دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی .

مَنْ اَعَانَ عَلٰی قَتْلِ مُؤْمِنٍ بِشَطْرِ کَلِمَةٍ لَقِیَ اللهَ مَکْتُوْبٌ بَیْنَ عَیْنَیْهِ اٰیِسٌ مِّنْ رَّحْمَةِ اللهِ (مظهری)
کوم سړی چی دیوه مسلمان په قتل کی په یوه کلمه سره هم کومك وکړی نو دی به دقیامت په ورځ دالله ﷻ په مخکی داسی راوستل سی چی په تندی به یی دالیکلی وی چی دا سړی دخدای ﷻ درحمت څخه نااُمیده دی .
ددی څخه معلومه سوه چی لکه څنګه چی نیك کارته یو سړی تیارول نیك کاردی اوبرابر ثواب په وررسیږی، دغه ډول بدی اوګناه ته یو سړی تیارول یاورته داده کول هم دغومره ګناه ده ، دآیت په آخرکی یی ارشاد وفرمایی ، وَکَانَ اللهُ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ مُّقِیْتًا د(مقیت) دلفظ معنی دلُغت په اعتبار سره دقادر اوقدرت لرونکی هم ده او دحاضر اولیدونکی هم ، اود رزق تقسیمونکی هم ، او په دی جمله کی دری سره معناوی مراد کیدی سی داولی معنی په اعتبارسره خوبه یی مطلب داسی چی (الله ﷻ په هرڅه قادر دی ، دعمل کوونکی او سفارش کوونکی جزا یاسزا هغه ته ګرانه نه ده) ، او د دوهمی معنی په اعتبار سره به یی مطلب دا وی چی (الله ﷻ حاضر او دهرڅه لیدونکی دی، ده ته هرڅه معلوم دی چی څوك په څه نیت سره سفارشت کوی، محضی دالله ﷻ دپاره دیوه مسلمان ورور کومك کول یی مقصد دی یادخپل کوم غرض دپاره په طور درشوت اخیستویی کوی) او د دریمی معنی په اعتبارسره به یی مطلب دا وی چی (درزق اوروزی دتقسیم خو الله ﷻ په خپله کفیل دی څومره چی دچادپاره لیکلی وی هغه به ورته رسیږی، دچاپه سفارش کولو هغه نه مجبوره کیږی، بلکه چاته چی څومره وغواړی رزق ورکوی، البته سفارش کوونکی ته په مُفت کی ثواب رسیږی چی دی دیو کمزوری کومك کوی)
په یوه حدیث شریف کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی .

کَانَ اللهُ فِیْ عَوْنِ عَبْدِهٖ مَادَامَ فِیْ عَوْنِ اَخِیْهِ . یعنی الله ﷻ ترهغه وخته پوری دخپل بنده په کومك کی وی

Maktaba Tul Ishaat.com

ترخوپوری چی دی دخپل یو مسلمان ورورپه کومك کی اخته وی)
په دی بنآء سره دصحیح بخاري په یوه حدیث شریف کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی.

اشفعوا فلتؤجروا ویقضی الله علی لسان نبیه ماشآء.

(تاسی سفارشت کوی تاسی ته به ثواب در رسیږی بیاچی الله ﷻ دخپل نبی په ذریعه کومه فیصله وفرمایی په هغه راضی اوسی)

په دی حدیث کی شریف کی چی یی کوم ځای سفارشت ته ثواب ویلی دی نوهلته یی داهم فرمایلی دی چی دسفارشت حد دا دی چی دکمزوری سړی کوم چی خپله خبره لویانوته درسولو اودخپل حاجت په صحیح ډول سره دبیانولو طاقت نه لری ، تاسی دهغو خبره هلته رسوی ، اوس مخ ته دغه سفارشت ومنل سی اوکه نه اودغه سړی مطلب پوره سی اوکه نه، په دی کی ستاسی دخل کول نه دی په کار اوکه کار خلاف هم وسی نوتاسی ته ورباندی خفګان کول هم نه دی په کار، دحدیث شریف دآخری جملی ، ویقضی الله علی لسان نبیه ماشآء : هم دا مطلب دی ، اوهم داوجه ده چی دقرآن په الفاظوکی دی طرف ته اشاره موجوده ده چی دسفارشت ثواب یاعذاب په دی پوری نه دی تړل سوی چی سفارشت یی کامیابه سی، بلکه دثواب اوعذاب تعلق مطلقی دسفارشت کولو سره دی، که تاسی شفاعت حسنه وکی نود ثواب مستحق سواست اوکه شفاعتِ سیئه مووکی نو دعذاب مستحق سواست برابره خبره ده که ستاسی په سفارشت عمل وسی اوکه نه.

په تفسیر بحرِ محیط اوبیان القرآن اونورو کی یی په لفظ د مَنْ یَشْفَعْ کی مِنْهَا سببیه مقرر کړی دی ، دی طرف ته یی اشاره ښوولی دی ، اوپه تفسیرمظهری کی یی دمجاهد رحمه الله قول نقل کړی دی چی سفارشت کونکی ته به دسفارشت ثواب رسیږی، که څه هم دده سفارشت قبول نه کړل سی اوداخبره یوازی درسول سره خاص نه ده که یوبل انسان ته سفارشت وکړه سی نودهغه هم دغه اُصول کیدل په کار دی چی سفارشت دی وکړی بیادی هغه په قبلولو نه مجبوره کوی ، لکه چی نبی کریم ﷺ په خپله دحضرت عائشی صدیقی رضی الله عنها آزادی کړی مینځی ته داسفارشت وکی چی دی چی کوم طلاق دخپل خاوند مغیث رضی الله عنه څخه حاصل کړی دی اوهغه ددی په محبت کی پرشانه ګرځی، دوباره دی دهغه سره نکاح وکړی ، نو بریری رضی الله عنها عرض وکی چی یارسول الله ! که داستاسی حکم وی نو په سر اوسترګو اوکه سفارشت وی، نو زما طبیعت بالکل دی ته تیارنه دی ، نبی کریم ﷺ وفرمایل چی حکم نه دی ، سفارشت دی ، بریرة رضی الله عنها پوهیده چی نبی کریم ﷺ به داُصولو څخه خلاف خفګان نه کوی، په دی وجه یی صفا عرض وکی چی حکم نه دی نوبیا زه دا سفارشت نه قبلوم ، نوحضور ﷺ بنه په خوشحالی سره داپرخپل حال باندی پریښووله دا وو دسفارشت حقیقت چی شرعًا داجر اوثواب باعث وو ، نن سبا خلګو دا سفارشت داسی خراب کړی دی چی په حقیقت کی سفارشت نه دی پاته سوی بلکه تعلقات یا دمرتبی تاثیر اوزور اچول وی، اوهم داوجه ده چی کله یی سفارشت ونه منل سی نوخفه کیږی اوبلکه دښمنی ته تیارسی، حال دا دی چی په داسی سړی باندی زور اچول چی هغه دضمیر اورضا څخه په خلاف کار کولو باندی مجبوره سی په جبر اواکراه کی داخل دی اوسخته ګناه ده ، اوداسی خبره ده لکه څوك چی دچاپرمال یایریوحق باندی په

Maktaba Tul Ishaat.com

زور سره قبضه وکړی دغه سړی شرعًا اوقانونًا آزاد اوخود مختاره (دخپل اختیار خاوند) وو او تاسی دی مجبوره کی اودهغه آزادی دی ختمه کړی، ددی مثال به داسی وی چی لکه دیوه محتاج دحاجت پوره کولو دپاره دبل دمال غلا وکړی او هغه ته یی ورکړی .

(په سفارشت معاوضه اخیستل رشوت دی اوحرام دی)

په کوم سفارشت چی معاوضه واخیستل سی هغه رشوت دی ، په حدیث کی یی دی ته سُحت اوحرام فرمایلی دی ، په دی کی هرقسم رشوت داخل دی برابره خبره ده که مال وی اوکه دده دکار کولو په بدله کی په ده خپل کار وکړی ، په تفسیر کشاف اونوروکی دی چی شفاعت حسنه هغه دی چی منشآء یی دیوه مسلمان حق پوره کول وی یاده ته کمه جآئزه نفعه رسول یاد ضرر اونقصان څخه یی خلاصول وی اوددی سفارش کولو داکار دکوم دنیوی مقصد دپاره نه وی ، بلکه خاص دالله ﷻ دپاره دکمزوری کومك کول یی مقصودوی ، اوپه دی سفارشت باندی کوم مالی یا جانی شوت هم وانه خیستل سی اوداسفارشت په کوم ناجآئز کارکی هم نه وی اودارنگه دا سفارشت دداسی یوثابت سوی جُرم دمعافی دپاره نه وی دکم سزاچی په قرآن کی معلومه اومقرره ده .

په تفسیر بحر محیط اومظهری اونوروکی دی ، چی دیوه مسلمان دحاجت پوره کولو دپاره دالله ﷻ څخه دعا غوښتل هم په شفاعت حسنه کی داخل دی او دعا کوونکی ته به هم ثواب رسیږی ، په یوه حدیث کی دی چی کله یو سړی دخپل مسلمان ورور دپاره دخیر دعاکوی، نوملائکی وایی (ولَكَ بِمِثْلٍ) یعنی الله ﷻ دی ستاحاجت هم پوره کړی .

سلام اوسلام: وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا په دی آیت کی الله ﷻ سلام اودسلام دجواب طریقی ښوولی دی

(دتحیّه دلفظ تشریح او ددی تاریخی اړخ)

دتحیّه لفظی معنی ده یوچاته حَيَّاكَ اللهُ ویل یعنی الله ﷻ دی تا ژوندی لری ، تر اسلام مخکی دعربو عادت وو چی کله به دیوه اوبل سره یو ځای کیدل نویوه اوبل ته به یی په حَيَّاكَ اللهُ یاپه أَنْعَمَ اللهُ بِكَ عَيْنًا یاپه أَنْعِمْ صَبَاحًا او نورو الفاظوسره سلام کوی، اسلام دتحیی طرزبدل کی د اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ ویلوطریقه یی جاری کړه چی ددی معنی ده (ته دی دهرتکلیف اومصیبت څخه سلامت اوسی) ابن عربی رحمه الله په احکام القرآن کی فرمایی چی دسلام لفظ دالله ﷻ داسماء حُسنٰی څخه اخیستل سوی دی او دالسَّلَامُ عَلَيْكُمْ معنی ده چی اَللهُ رَقِيبٌ عَلَيْكُمْ یعنی الله ﷻ ستامحافظ دی .

(اسلامی سلام دټولو نورو قومونو ترسلام غوره دی)

ددنیا په هرتهذیب یافته قوم کی ددی رواج دی چی کله دیوبل سره یوځای کیږی نویوکلمه دیوبل سره دالُفت اومحبّت دپاره وایی ، لیکن چی موازنه وسی نومعلومه به سی چی اسلامی سلام چی څومره جامع دی، دومره بل یونه دی ، څکه چی په دی کی یوازی دمحبّت اظهارنه دی، بلکه ددی سره سره په کښی دمحبّت حق اداکول هم دی چی دالله ﷻ څخه داسوال کوی چی تادی دټولو افتونو او غمونو څخه سلامت وساتی اوبیا دُعا هم دعربو په شکل سره یوازی دژوندی پاته کیدو نه ده، بلکه دپاك ژوند دُعاده ، یعنی دټولو آفتونو اودردونو څخه دمحفوظ پاته کیدو اوددی سره ددی خبری هم اظهاردی

Maktaba Tul Ishaat.com

چې مونږ او تاسې ټول د الله ﷻ محتاجه يو، يو بل ته كمه نفع بغير دهغه د اجازت څخه نه سو رسولی، د دی معنی په اعتبار سره د اكلمه يو عبادت هم دی او خپل مسلمان وروړ ته دخدای دیادولو ذريعه هم دی سره كه دی ته وكتل سی چی كوم سړی د الله ﷻ څخه د دُعا غواړی چی د ازما ملګری د ټولو آفتونو او تكليفونو څخه محفوظ كړی، نو په دی ضمن كی دی ګويا د ا وعده هم كوی چی ته زما دلاسونو او ژبی څخه په امن يی ستا د مال، جان او عزت زه حفاظت كوونكی يم.

ابن عربی په احكام القرآن كی د امام ابن عُيينه د ا قول نقل كړی دی.

اَتَدْرِیْ مَا السَّلَامُ ؟ يَقُوْلُ اَنْتَ اٰمِنٌ مِّنِّیْ

يعنی ته پوهيږی چی سلام څشی دی؟ سلام كوونكی د ا وايی چی ته زما څخه په امن يی.

لنډه دا چی اسلامی سلام يو ډير لوی جامع سلام دی (۱) په دی كی د الله ﷻ ذكر هم دی (۲) يادګيرنه هم (۳) دخپل مسلمان وروړ سره دتعلق او محبت اظهار هم (۴) دهغه دپاره دخير دُعا هم (۵) او دده سره دا معاهده هم ده چی زما دلاس او ژبی څخه به تا ته تكليف نه رسيږی، لكه چی په حديث كی شريف كی د نبی كريم ﷺ دا ارشاد وارد دی.

اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِّسَانِهٖ وَيَدِهٖ (الحديث)

يعنی مسلمان هغه دی دچا دلاس او ژبی څخه چی بل مسلمان ته تكليف نه رسيږی او محفوظ وی.

كاشكی! چی مسلمانانو د اكلمه دعامو خلګو درسم په شان نه ادا كولی بلكه لكه څنګه چی ددی حقيقت يی وپيژندی په هغه طريقه يی اداكولی، نو شايد چی دټول قوم داصلاح دپاره به داكافی وای، هم دا وجه ده چی نبی كريم ﷺ مسلمانانو ته په خپل مينځ كی دسلام رواج كولو لوی تاكيد فرمايلی دی او دا يی په عملونو كی ترټولو ښه عمل مقرر كړی دی او ددی دفضيلتونو او دبركتونو او اجر او ثواب يی بيان كړی دی په صحيح مسلم كی دحضرت ابوهريرة ﷺ يو حديث دی چی نبی كريم ﷺ فرمايلی دی چی (تاسی جنّت ته ترهغه پوری نه سئ داخليدی ترڅو پوری چی مؤمنان نه سئ او ستاسی ايمان نه سی مكمل كيدی ترڅوپوری چی په خپل منيځ كی محبت نه كوی، زه تاسی ته داسی شی ښيم چی كه تاسی په هغه عمل وكړی نو ستاسی به ديو بل سره محبت قائم سی هغه دا چی په خپل مينځ كی سلام عام كړئ.

يعنی دهريوه مسلمان دپاره برابره خبره ده كه ستاسی ورسره پيژندګلوی وی او كه نه)

خضرتِ عبدالله ابن عمر ﷺ فرمايی چی يو سړی دنبی كريم ﷺ څخه پوښتنه وكړه چی داسلام په عملونوكی ترټولو ښه عمل څه شی دی؟ ده ﷺ وفرمايل چی ته خلګوته خوراك وركوه او سلام عام كړه، برابره خبره ده كه ته يی پيژنی او كه نه (صحيحين)

مسند احمد، ترمذی، ابوداؤد دحضرت ابوامامه ﷺ څخه نقل كړی دی چی نبی كريم ﷺ فرمايلی دی چی د الله ﷻ په نزد ترټولو زيات نژدی هغه سړی دی چی په سلام كی ابتدآء وكړی، په مسند بزار او معجم كبير دطبرانی كی دحضرت عبدالله بن مسعود ﷺ حديث دی چی نبی كريم ﷺ فرمايی چی سلام د الله ﷻ په نومونوكی يو نوم دی كوم چی الله ﷻ په مځكه باندی نازل كړی دی، په دی وجه تاسی په خپل مينځ كی سلام عام كړی ځكه چی مسلمان سړی كله چی يوه مجلس ته ځی او ددوی ته سلام كوی نو دی سړی ته

دالله ﷺ په نزد دفضیلت لوړ مقام حاصلیږی ، ځکه چی ده ټولوته سلام یعنی دالله ﷻ نوم ورياد کی که دی مجلس والاؤ دده دسلام جواب ورنه کی نو داسی خلګ به ده ته جواب ورکړی چی تردی مجلس والاو به ښه وی یعنی دالله ﷻ ملائکی.

اوپه یوه حدیث دنبی کریم ﷺ ارشاد دی چی ډیر بخیل هغه سړی دی چی په سلام کی بُخل کوی (معجم کبیر دطبرانی ، عن ابی هریرة ﷺ)

دنبی کریم ﷺ ددی ارشاداتو چی پرصحابه کرامو ﷺ کوم اثر وسو ددی اندازه ددی روایت څخه کیدی سی چی حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ به اکثره بازارته صرف ددی دپاره تلی چی یوڅوك مسلمان په مخه ورسی اوسلام ورته وکړی اودعبادت ثواب حاصل کړی، څه اخیستل یاخرڅول به یی مقصد نه وو، دا روایت یی په مؤطاء امام مالك رحمه الله کی دطفیل بن ابی کعب ﷺ څخه نقل کړی دی.

دقرآن مجید کوم آیت چی لوړ ذکر سوی دی په دی کی ارشاد دا دی چی کله تاسی ته سلام وسی نو جواب یی ترهغه په ښو الفاظو کی ورکوی یالږ تر لږه هم دغه الفاظ وایاست، ددی تشریح نبی کریم ﷺ په خپل عمل سره داسی فرمایلی ده چی یووار نبی کریم ﷺ ته یو صاحب راغی اوویی ویل . اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ یارسول الله ده په جواب کی یوه کلمه زیاته کړه ویی فرمایل ، وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ ، بیایوبل صاحب راغی هغه وویل ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَارَسُولَ اللهِ وَرَحْمَةُ اللهِ ، ده ﷺ په جواب کی وویل ، وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ بیا یوبل صاحب راغی هغه په خپل سلام کی دادری سره کلمی زیاتی کړی وی ویل ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَارَسُولَ اللهِ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ ، نوده ﷺ په جواب کی صرف وَعَلَيْكُمْ وفرمایل دهغه په زړه کی ګیله پیدا سوه اوعرض یی وکی، یارسول الله زمامور اوپلاردی پرتاقربان سی، دامخکنی صاحبان چی راغلل نودهغوی په جواب کی تاسی ددعا ډیری کلمی وفرمایلی اومادغه ټولی په سلام کی وویلی نوتاسی صرف وَعَلَيْكُمْ وفرمایل ، ده ﷺ وفرمایل: چی تاماته ګرسره بله کلمه پاته نکړه چی ماپه جواب کی زیاته کړی وای ، تاټولی کلمی په خپل سلام کی جمع کړی نوپه دی وجه ما دقرآن دتعلیم مطابق په جواب بالمثل باندی صبروکی، داروایت ابنِ جریر اؤابن ابی حاتم په مختلفو سندونو سره نقل کړی دی.

ددی حدیث څخه یوه خبره خو دا معلومه سوه چی دسلام جواب ترده په ښو الفاظو کی دورکولو حکم چی کوم په آیت کی راغلی دی ددی صورت دا دی چی دسلام کوونکی تر الفاظودی په زیاتو الفاظو سره جواب ورکړی مثلاً سلام کوونکی ، السّلام علیکم، نوپه جواب کی دی : وعلیکم السلام ورحمة الله ، روایی، اوکه دی ، السّلام علیکم ورحمة الله ووایی نوپه جواب کی دی وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته ووایی.

دوهمه خبره ورڅخه دامعلومه سوه چی دادکلمو زیاتوالی یوازی تردرو کلمو پوری سنت دی تردی زیات سُنّت نه دی اوحکمت په دی کی دادی چی دسلام ځای دلنډو خبرو وخت دی ډیری خبری نه په کښی ځاییږی ، داسی نه چی دیوچا په کار کی تاوان راسی یابه پر اوریدونکی باندی ګرانه سی نوکله چی یوملګری په خپل اولنی سلام کی دری سره کلمی جمع کړی نونبی کریم ﷺ په دی باندی نور زیاتوالی نه کی غوره ، ددی زیات وضاحت حضرت عبدالله بن عباس ﷺ داسی فرمایلی دی چی په ذکرسوو درو سرو

Maktaba Tul Ishaat.com

کلمو باندی زیاتی کوونکی ته یی داسی وفرمایل اومنع یی کړل چی ، انّ السّلَامَ قَدِ انْتَهٰی اِلَی الْبَرَکَاۃِ (مظهری عن البغوی) یعنی سلام پرلفظ دبرکت باندی ختم دی، تردی زیاتول سنت نه دی (ومثله عن ابن کثیر) دریمه خبره د ذکر سوی حدیث څخه دا معلومه سوه چی په سلام کی د درو کلمو ویونکی په جواب کی که یوازی یوه کلمه وویل سی نو هغه هم دقرآن دحکم ، اَوْرُدُّوْهَا باندی دعمل کولو دپاره پوره ده لکه چی په دی حدیث کی نبی کریم ﷺ یوازی پریوه کلمه باندی بس والی فرمایلی دی (تفسیر مظهری)

دآیت دمضمون خلاصه دا سوه چی کله چی یوه مسلمان ته سلام وکړه سی نود هغه پرذمه جواب ورکول واجب دی ، که بغیرد څه شرعی عذرڅخه یی جواب ورنه کی نو ګناهګار دی البته په جواب ورکولو کی ددوو خبرو اختیار دی یو دا چی په کومو الفاظو سره یی سلام کړی دی ، ترهغو په ښو الفاظو کی جواب ورکی ، دوهم داچی بالکل هم په هغو الفاظو سره جواب ورکی ، په دی آیت کی یی دسلام جواب ورکول خوصراحةً واجب فرمایلی دی لیکن داول سلام کولو کمه درجه ده، دایی نه دی فرمایلی ، لیکن په اذا حُیِّیْتُمْ کی ددی حکم طرف ته هم اشاره ده ، څکه چی دالفظ په صیغه دمجهول بغیر دتعین دفاعل څخه په ذکر کولو کی اشاره کیدی سی چی سلام داسی شی دی چی عادةً یی تول مسلمانان کوی ، په مسند احمد ، ترمذی اوابوداؤد کی درسول اکرم ﷺ ارشاد نقل دی چی الله ﷻ ته نژدی ترټولو زیات مقرب هغه سړی دی چی دسلام ابتدآء وکړی ، اودسلام تاکید او فضیلتونه دنبی کریم ﷺ دارشاداتو څخه اوس تاسی اوریدلی دی ددی څخه دومره خامخا معلومیږی چی اول سلام کول هم ترسنت مؤکده کم نه دی . په تفسیر بحرمحیط کی دی چی اول سلام کول خو داکثرو عالمانو په نزد سنّت مؤکده دی اوحضرت حسن بصری رحمه الله فرمایی ، اَلسَّلَامُ تَطَوُّعٌ وَالرَّدُّ فَرِیْضَةٌ یعنی په اولنی سلام کولو کی خو اختیاردی لیکن ردول دسلام فرض دی ، نبی کریم ﷺ دقرآن تردی دزیاتی تشریح په ډول سره دسلام او دسلام دجواب متعلق نور هم تفصیلات بیان کړی دی هغه هم په لنډه طریقه سره واوری .

دصحیحینو په حدیث کی دی چی کوم سړی پرسپرلی باندی سپور وی ، هغه ته په کار دی چی په پیاده تلونکی باندی مخکی سلام واچوی اوڅوك چی روان وی دی دي په ناست باندی سلام اچوی اوکوم خلګ چی په شمیرکی کم وی اوپر ډیرو باندی تیریږی، نوده ته په کار دی چی اول سلام وکړی ، دترمذی په یوه حدیث کی دی چی کله سړی خپل کورته راسی نوپه خپل کوروالاوو باندی سلام اچول په کار دی چی په دی سره ده ته هم برکت دی اودده کور والاوو لره هم ، دابوداؤد په یوه حدیث کی دی چی دیوه مسلمان سره دی وار وار ملاقات وی نوهروار سلام اچول په کار دی ، اولکه څنګه چی داول ملاقات په وخت کی سلام اچول سنت دی، دغه ډول درخصت په وخت کی هم سلام اچول سنّت اوثواب دی، په ترمذی اوابوداؤد کی داحکم په روایت دقتاده اودابو هریرة رضی الله عنه نقل دی .

او دا حکم چی اوس بیان سوی دی چی دسلام جواب ورکول واجب دی، ددی څخه څو حالتونه مستثنی دی ، کوم سړی چی لمونځ کوی که ده ته څوك سلام درواچوی نوجواب ورکول یی واجب نه دی ، بلکه په جواب ورکولوسره یی لمونځ ماتیږی دغه ډول کم څوك چی خطبه وایی یادقرآن مجید تلاوت کوی یااذان اواقامت کوی یاددینی کتابونو درس کوی یاپه انسانی ضرورتونو استنجآء اونوروکی مشغول وی ،

دوی ته په دی حالتونو کی سلام کول هم جائزنه دی او دده پرذمه یی جواب ورکول هم واجب نه دی .
دمضمون په ختمیدو باندی یی وفرمایل ، إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ حَسِيبًا یعنی الله ﷻ دهر شی حساب اخیستونکی دی ، چی په دی کی دانسان او اسلامی حقونو لکه سلام اوجواب دسلام ټول کارونه داخل دی، ددی به هم الله ﷻ حساب اخلی ، بیافرمایی ، اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ : یعنی دالله ﷻ څخه ماسوا څوك دعبادت لائق نسته ، دی معبود وګڼی اوکوم کار چی کوی دهغه دعبادت په نیت یی کوی ، هغه به تاسی دقیامت په ورځ راجمع کړی ، چی څه شك په کښی نسته ، په دغه ورځ به ټولو ته بدلی ورکړی، دقیامت وعده، جزا اوسزا ټوله حق دی .
وَمَنْ أَصْدَقُ مِنَ اللَّهِ حَدِيثًا : څکه چی ددی خبرالله ﷻ ورکړی دی اوتر الله ﷻ زیات دچاخبره ریښتینی کیدی سی ؟نو دا هرڅه حق دی څکه چی خبر یی الله ﷻ ورکړی دی .

فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِينَ فِئَتَيْنِ وَاللَّهُ أَرْكَسَهُمْ بِمَا كَسَبُوا ۚ أَتُرِيدُونَ أَنْ تَهْدُوا مَنْ

نو تاسی ته څه وسوه چی دمنافقانو په باره کی دوې ډلی کیږي اوالله دوی چپه کړی دی په سبب د دوی دعملونو ، آیا تاسی غواړی چی په لاری کړی هغه ،

أَضَلَّ اللَّهُ ۖ وَمَنْ يُضْلِلِ اللَّهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهُ سَبِيلًا ﴿٨٨﴾ وَدُّوا

چی ګمراه یی کړی الله اوڅوك چی ګمراه کړی الله هیڅکله به بیا نه کی پیدا ده لره څه لار ، غواړی چی

لَوْ تَكْفُرُونَ كَمَا كَفَرُوا فَتَكُونُونَ سَوَاءً ۖ فَلَا تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ

تاسی هم کافر سی ، لکه چی دوی کافر سوی دی بیا به تاسی ټول برابرسی نو تاسی په دوی کی څوك دوست

أَوْلِيَاءَ حَتَّىٰ يُهَاجِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۚ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَخُذُوهُمْ

مه جوړ وی تردی چی وطن پریږدی دالله په لاره کی ، بیا که دا قبوله نه کړی نودوی نیسی

وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ ۖ وَلَا تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَ

او قتلوی یی کوم ځای چی دوی مومئ اومه جوړ وی په دوی کی چاته دوست

لَا نَصِيرًا ﴿٨٩﴾ إِلَّا الَّذِينَ يَصِلُونَ إِلَىٰ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ

او نه مددګار ، مګر هغه خلق چی یوځای دی دیوقوم سره چی ستاسی او د دوی په مینځ کی

مِيثَاقٌ أَوْ جَاءُوكُمْ حَصِرَتْ صُدُورُهُمْ أَنْ يُقَاتِلُوكُمْ أَوْ يُقَاتِلُوا

عهد دی یا راسی تاسی ته چی تنګ سوی دی زړونه د دوی ستاسی دجنګ څخه اودخپل قوم دجنګ څخه ،

قَوْمَهُمْ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ فَلَقٰتَلُوْكُمْ فَاِنِ

اودخپل قوم د جنګ څخه، او که الله غوښتلای نو دوی لره به یې په تاسی زورور کړی وای نو خامخا به یې تاسی سره جنګ کولی

اعْتَزَلُوْكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ وَاَلْقَوْا اِلَيْكُمُ السَّلَمَ فَمَا جَعَلَ

نو که تاسی څخه په بغل سی او تاسی سره جنګ نه کوی او مخکښې کړی تاسی ته صلح نو الله نه دی ور

اللّٰهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيْلًا ﴿۹۰﴾ سَتَجِدُوْنَ اٰخَرِيْنَ يُرِيْدُوْنَ اَنْ

کړی تاسی ته په دوی باندی لار ، اوس به تاسی پیدا کړی یو بل قوم لره چی غواړی چی

يَّاْمَنُوْكُمْ وَيَاْمَنُوْا قَوْمَهُمْ ؕ كُلَّمَا رُدُّوْٓا اِلَى الْفِتْنَةِ اُرْكِسُوْا فِيْهَا ۚ

په امن سی تاسی څخه او دخپل قوم څخه هم هر کار چی دوی واپس کړه سی فساد طرف ته نو دوی ورته واپس

فَاِنْ لَّمْ يَعْتَزِلُوْكُمْ وَيُلْقُوْٓا اِلَيْكُمُ السَّلَمَ وَيَكُفُّوْٓا اَيْدِيَهُمْ

کیږي ، بیا که دوی تاسی څخه یو طرف ته نه سی او مخکښې نه کړی تاسی ته صلح او خپل لاسونه منع نه کړی

فَخُذُوْهُمْ وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ ؕ وَاُولٰٓئِكُمْ جَعَلْنَا لَكُمْ

نو نیسی دوی او قتل کوی دوی چیری چی یې پیدا کړی او په دوی باندی مونږ تاسی ته

عَلَيْهِمْ سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ﴿۹۱﴾

درکړی دی ، ښکاره سند .

لنډ تفسیر

(د درو مختلفو ډلو بیان او د دوی حکمونه)

داولي فرقي بیان: (کله چی تاسی د دی مرتدینو حالت ولیدی) بیا تاسی ته څه وسوه چی د دی منافقانو په باره کی تاسی (اختلاف رایی کوی) دوی ډلی کیږی (چی یوه ډله دوی ته اوس هم مسلمانان وایی) حال دادی چی الله دوی (د دوی د ښکاره کفر طرف ته) واپس کړل د دوی د (بد) عمل په سبب (دغه بد عمل دوچی د مرتد کیدو څخه دار اسلام پریښوول، سره د قدرته، چی په دغه وخت کی دار اسلام ته هجرت نه کول په مثل د اقرار نه کولو په اسلام باندی وو او د کفر نښانه وه، او په حقیقت کی دوی اول هم نه وه مسلمانان سوی او په دی وجه یې دوی ته منافقان وویل) ایا تاسی خلک (ایا هغی ډلی چاته چی د دار اسلام پریښوول، د کفر نښانه کیدل معلوم نه دی) د دی اراده لرئ چی د اسی خلکو ته هدایت وکړی کوم چی الله

(کله چی دی خلگو گمراهی اختیار کړه) په گمراهی کی اچولی دی (لکه چی دالله ﷻ عادت دی چی دبنده دکم کار قصد وکړی نوالله ﷻ هغه کارپیداکړی ، مطلب دا دی چی غیرمؤمن گمراه ته دهدایت پیدا کونکی مؤمن وایاست داستاسی دپاره جائزنه دی) اوڅوك چی الله په گمراهی کی واچوی دهغه د (مؤمن کیدو) دپاره هیڅ لار نسته (نو داسی خلگوته مؤمن ویل نه دی پکار، اودوی به څنگه مؤمنان سی ددوی په کفرکی دبُختیدو خوداحال دی چی) دوی په دی آرزوکی دی چی څنگه دوی کافران دی تاسی هم (خدای دی نه کړی) کافران سی چی تاسی اودوی ټول یوشان سئ نو (چی کله د دوی دا حالت دی نو) په دوی کی هیڅوك دوست مه جوړوی (یعنی دیوه سره هم دمسلمانانو په شان سلوك مه کوی څکه چی ددوستی دجائز کیدو دپاره اسلام شرط دی) کله چی دوی دالله په لاره کی (یعنی داسلام دمکمل کیدو دپاره) هجرت ونه کی (څکه چی دغه وخت دهجرت هغه حکم وو، کم چی اوس په دوو شهادتونو اقراردی، اوداسلام دمکمل کولو قیدپه کبنی څکه دی چی خالی دارالاسلام ته راتلل کافی نه دی ، داغسی خوکافران دتجارت دپاره هم راځی، بلکه چی په اسلامی حیثیت سره راسی، یعنی اسلام هم ظاهر کړی چی په اسلام اقراراو هجرت دواړه یی سره جمع سی اوپاته سو دزړه تصدیق نو ددی علم یوازی الله ﷻ ته کیدی سی، مسلمانانو ته ددی لټون ضروری نه دی) اوکه دوی (داسلام څخه) ډډه وکړی (اوکافران پاته سی) نودوی نیسئ اوقتلوی یی کوم ځای چی دوی پیداکی (دانیول یاخودقتل دپاره دی یادغلام جوړولو دپاره) اومه په دوی کی څوك (ځان لره) دوست جوړوی، اومه یی (خپل) کومکی جوړوی (مطلب دا دی چی په هیڅ حالت کی هم د دوی سره څه تعلق مه ساتی، نه په امن کی ددوستی، نه په بیره کی دکومك، بلکه جلا اوځان ته لیری ورڅخه اوسی)

دنوهمي ولي بيان: مگر (په دی کفاروکی) کوم خلگ چی داسی دی چی (ستاسی سره په روغه باندی) اوسیدل غواړی (چی ددی دوی طریقی دی یوه داچی په واسطه دصلح وی یعنی) دداسی خلگوسره یوځای سی (یعنی وعده وکړی) چی ستاسی اودهغوی په مینځ کی عهد (صلح) وی (لکه بنومدلج، چی ددوی سره صلح وسوه، نوددوی چی دچاسره عهدوو هغوی هم په دی استثناء کی راغلل نوبنی مدلج خوپه طریق اولی سره ورڅخه مستثنٰی سوه) یا (دوهمه طریقه داده چی بی له واسطی صلح وی، داسئ چی) په خپله تاسی ته په داسی حالت کی راسی چی ددوی زړه ستاسی سره اودخپل قوم سره هم دجنگ څخه تنگ وی (نونه دخپل قوم سره ستاسی دجنگ کولو دپاره ملگرتیاکوی اونه ستاسی سره ملگری کیږی چی دخپل قوم سره جنگ کوی، بلکه ددوی سره هم صلح ساتی اوستاسی سره هم نوپه دواړو طریقوکی چی په کمه طریقه سره صلح ساتی نودوی به په دی ذکرسوی حکم کی دنیولو اوقتلولو څخه مستثنٰی وی) او (تاسی ددی خلگو دصلح په درخواست کی دالله ﷻ احسان ومنی چی ددوی په زړونو کی یی ستاسی هیبت وغورځوی که نه نو) که چیری الله غوښتلي نودوی به یی پرتاسی مسلط کړی وای (او زړه به یی ورکړی وای) اوستاسی سره به یی جنگ کولای (مگرالله ﷻ تاسی ددی پریشانی څخه خلاص کړاست) اوبیاکه چیری (صلح وکړی) دوی ستاسی څخه په ډډه سی یعنی ستاسی سره جنگ نه کوی اودسلامتیا معامله درسره ساتی (ددی ټولو الفاظو مطلب دادی چی په صلح اوسیدل غواړی، دیر

الفاظ یې دتاکید دپاره راوړل) نو (په دې حالت دصلح کې) الله تاسې ته پردوی باندې (دقتل یاقید اونورو) کمه لاره نه ده درکړې (یعنې اجازت یې نه دې درکړې)

ددریمې ډلې بیان: ځینې به داسې هم تاسې ته ضرور ورسیږي (یعنې ددوی به داحالت معلوم وي) چې (دچم دپاره) هغوی دا (هم) غواړي چې ستاسې څخه هم بې خطره واوسي اودخپل قوم څخه هم بې خطره اوسي (اوددې سره) کله چې هم دوی (بنکاره مخالفین) دشرارت (اوفساد) طرف ته متوجه کوی (یعنې دمسلمانانوسره یې جنګ ته راپاروي) نو دوی (پدستي) په دې (شرارت) کې ورولویږي (یعنې د مسلمانانوسره جنګ ته تیاریږي اوددغه ددوکې اوچم صلحه ماتوي) نوداخلګ (که صلح ماته کړي او ستاسې څخه (یعنې ستاسې دجنګ څخه) منع نه سي اونه ستاسې سره دسلامتیا رویه اوطریقه وساتي اونه خپل لاسونه (ستاسې دمقابلې څخه) بندوي (ددې ټولو الفاظو مطلب دتیروپه شان سره یودی یعنې چې صلح ماته کړي) نوتاسې (هم) دوی نیسئ اوقتلوئ یې کم ځای چې دوی پیداکړئ اومونږ تاسې ته پردوی باندې صفا حجّت درکړی دی (چې په هغه سره ددوی قتلول ښکاره دي اوهغه حجت دوعدې ماتول دي)

معلومات اومسئلې: په دې ذکر سوو آیتونوکې ددرو فرقو بیان دی، چې د دوی په اړوند دوه حکمونه ذکر سوه ، ددې فرقو واقعات به ددې لاندې روایتونو څخه په ډاګه سي .

اولنۍ روایت: عبدالله بن حمید دمجاهد رحمه الله څخه روایت کړی دی چې ځینې مشرکان دمکې څخه مدینې ته راغلل اوښکاره یې کړه چې مونږ مسلمانان سو اوهجرت موو کې راغلو بیامُرتد سول اونبی کریم ﷺ ته یې دتجارت دسامان راوړلوبهانه وکړه اوبیامکې ته ولاړل اوبیرته نه راغلل د دوی په باره کې دمسلمانانو رایې مختلفې سوې ځینو ویل چې دوی کافران دي اوځینو ویل چې دوی مؤمنان دي الله ﷻ د دوی کافرکیدل په آیت ، فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِينَ فِئَتَيْنِ سره بیان کړل ، او د دوی دقتل حکم یې ورکی .

حضرت حکیم الأُمّت تهانوی رحمه الله فرمایي چې دوی ته منافق ویل په دې معنی دي چې کوم وخت دوی داسلام دعوه کړې وه ، په هغه وخت کې هم دوی منافقان وه ، په زړه سره یې ایمان نه وو راوړی اومنافقان خوګویا نه سي قتل کیدلی ، ترڅوچې دوی خپل کفر پټ ساتي او ددې خلګومرتد کیدل خوښکاره سوی وه اوچاچې ورته مسلمانان ویل چې شایدچې داددوی نیك ګمان وو اوددوی دمرتد کیدوپه دلیلونوکې به یې یوڅه تاویلونه کړي وي اودابه یوازې ددوی خپله رایه وي چې شرعي دلیل به ورباندې نه وي، نوپه دې وجه معتبر نه کړه سو .

دوهم روایت : ابن ابی شیبة دحسن رحمه الله څخه روایت کړی دی چې سراقه بن مالك مدلجي دبدر اواُحد تر واقعې وروسته دنبي کریم ﷺ حضورته راغئ، درخواست یې وکې چې زما دقوم بني مُدلج سره صلح وکړې، حضور ﷺ حضرت خالد رضي الله عنه دصلح دمکمل کولو دپاره هلته ولیږی ، دصلحې مضمون دا وو (مونږ به دنبي کریم ﷺ خلاف دچا کومك نه کوو ، اوچې قریش مسلمانان سي نومونږبه هم مسلمانان سو، اوکوم قومونه چې زمونږ سره یوسي هغوی به هم په همدې پریکړه کې زمونږ سره شریك وي)

په دې باندې دا آیت د ، وَدُّوا لَوْ تَكْفُرُونَ څخه تر: اِلَّا الَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ الخ پورې نازل سو .

Maktaba Tul Ishaat.com

دریم روایت: دحضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چی په آیت ، سَتَجِدُوْنَ اٰخَرِيْنَ الخ کی چی دکومو خلګو ذکر دی ، مراد ددی څخه قبیلې داسد اوغطفان دی ، چی مدینی ته راغلل او په ظاهره یی داسلام دعوه کوله اوخپل قوم ته یی ویل چی مونږ خوپه بیزو اولړم باندی ایمان راوړی دی او مسلمانانوته به یی ویل چی مونږستاسی پردین یو ، اوضحاك دابن عباس رضی الله عنه څخه داحالت دبنی عبدالدار نقل کړی دی، اواولنی او دوهم روایت په روح المعانی او دریم روایت په معالم کی دی .
حضرت تهانوی رحمه الله فرمایی چی ددی دریم روایت دخلګو حالت داولنی روایت دخلګو په شان سره دی چی په دلیل سره ددوی دسره مسلمانیدل ثابت نسوه، په دی وجه ددوی حکم دعامو کافرانو په شان دی، یعنی دصلح په وخت کی به ددوی سره جنګ نه کول کیږی اوچی صلح نه وی بیابه ورسره جنګ کول کیږی، نوداولنی روایت والاوو په باره کی دوهم آیت یعنی ، فَاِنْ تَوَلَّوْا فَخُذُوْهُمْ وَاقْتُلُوْهُمْ دنیولو اوقتلولو حکم اوپه دریم آیت ، اِلَّا الَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ الخ کی دصلح په وخت کی ددی استثنآء موجوده ده ، چی دصلح ذکر یی په دوهم روایت کی دی اوداستثنآء دتاکید دپاره یی بیاد ، فَاِنِ اعْتَزَلُوْكُمْ الخ وضاحت وکی .
او د دریم روایت والاوو په باره کی په څلورم آیت یعنی ،سَتَجِدُوْنَ اٰخَرِيْنَ الخ کی بیان وکی ، چی که دا خلګ ستاسی څخه ډډه ونه کړی ، بلکه جنګ کوی نوتاسی هم د دوی سره جهاد کوی ، ددی څخه دا معلومیږی چی که دوی صلح کوی نوبیا ورسره جنګ مه کوی (بیان القرآن)
لنډه دا چی دلته ددرو فریقو ذکر سوی دی .

۱. کومه فرقه چی کله هجرت داسلام دپاره شرط وو، په دغه زمانه کی سره دقدرته هجرت ونه کړی یایی وکړی خوبیا ددار اسلام څخه ووزی ، دار حرب ته ولاړسی .
۲. دمسلمانانو سره دجنګ نه کولو فیصله په خپله وکړی یادداسی فیصله کوونکو سره فیصله وکړی .
۳. کوم چی دوخت دغرض دپاره صلح وکړی اوکله چی ورته دمسلمانانو خلاف دجنګ کولو وویل سی نوشریك کیږی پکښی، اودخپلی فیصلی هیڅ قسم پروانه کوی اوپر خپلی وعدی قائم نه وی .

داولی ډلی حکم دعامو کفارو په شان سره دی، دوهمه ډله دوژنی اوبند څخه مستثنی ده، دریمه ډله دهغه سزا لائقه ده دکومی چی اوله ډله وه په دی آیتونو کی تول دوه حکمونه ذکر سوی دی ، یعنی دصلح دنه موجودوالی په وخت کی جنګ ، او دصلحی په وخت کی جنګ نه کول .

(دهجرت مختلف صورتونه او دهغوی حکمونه)

دالله ﷻ قول : حَتّٰى يُهَاجِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ (۱) داسلام په اوله کی هجرت ددارالکفر څخه پرټولو مسلمانانو فرض وو ، په دی وجه الله ﷻ دداسی خلګو سره مسلمانان دسلوك کولو څخه منع کړی دی ، چی دا فرض نه اداکوی ، بیاچی کله مکه فتحه سوه ، نو نبی کریم ﷺ وفرمایل لَا هِجْرَةَ بَعْدَ الْفَتْحِ (رواه البخاری) یعنی کله چی مکه فتحه سوه اودار اسلام جوړه سوه نو اوس دمکی څخه هجرت کول فرض نه سو پاته، دا دهغه زمانی حکم دی کله چی هجرت دایمان شرط وو، هغه سړی به مسلمان نه سوای ګڼل کیدی چی سره دقدرته هجرت ونه کړی، لیکن وروسته بیادا حکم منسوخ سو، اوس داصورت باقی نه دی پاته سوی .

(۱) دهجرت متعلق دپوره بحث دپاره ددې سورة النساء آیت نمبر ۱۰۰ وګوری

Maktaba Tul Ishaat.com

دهجرت دوهم صورت دا دی کوم چی به ترقیامته پوری باقی وی او دکوم په باره کی چی په حدیث
شریف کی راغلی، لاَ تَنْقَطِعُ الْهِجْرَةُ حَتّٰى تَنْقَطِعَ التَّوْبَةُ یعنی هجرت به تر هغه وخته پوری جاری وی، ترڅو پورې
چی دتوبی دقبلیدو وخت باقی وی (صحیح بخاری)

علامه عینی رحمه الله دبُخاری شرح کوونکی ددی هجرت په اړوند لیکلی دی، اَنَّ الْمُرَادَ بِالْهِجْرَةِ الْبَاقِيَةِ هِيَ
هِجْرَةُ السَّيِّئَاتِ: یعنی ددی هجرت څخه مراد گناه پریښوول دی، لکه چی په یوه حدیث کی نبی کریم ﷺ
ارشاد فرمایی، اَلْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللّٰهُ عَنْهُ: یعنی مهاجر هغه دی چی دهغو ټولو شیانو څخه ځان وساتي
کوم چی الله ﷻ حرام کړی دی. بحواله مرقاة جلد اول (۱)

ددی بحث څخه معلومه سوه چی په اصطلاح کی دهجرت اطلاق پردوو معناوو باندی کیدی سی (۱)
ددین دپاره وطن پریښوول، لکه چی صحابه کرامو رضي الله عنهم خپل وطن مکه پریښووله اومدینی اوحبشې ته
یی تشریف یووړی (۲) دگناهونو پریښوول.

وَلاَ تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَّلاَ نَصِيْرًا: ددی آیت څخه معلومه سوه چی دکفارو څخه طلب دکومك حرام دی، لکه په یوه
روایت کی راغلی چی دکفارو خلاف انصارو چی کله دیهودو څخه دکومك طلب کولو اجازت دحضور ﷺ څخه
وغوښتی نو هغه وفرمایل، اَلْخَبِيْثُ لاَ حَاجَةَ لَنَا بِهِمْ دا خبیث قوم دی دوی ته زمونږ حاجت نسته (مظهری جلد ۲)

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ اَنْ يَّقْتُلَ مُؤْمِنًا اِلَّا خَطَـًٔا ۚ وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَـًٔا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَّدِيَةٌ

اونه دی لائق مسلمان ته چی قتل کړی مسلمان مگر په غلطی سره او چاچی قتل کړو مسلمان په غلطی سره نو آزاد دی کړی
یو غلام مسلمان او دوینی قیمت،

مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهْلِهٖٓ اِلَّآ اَنْ يَّصَّدَّقُوْا ۚ فَاِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ

دی ورکړی دهغه اهل ته مگر دا که هغوی یی معاف کړی بیا که مقتول وو دداسی قوم څخه چی هغه

لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۚ وَاِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ

ستاسی دښمن وی او دی پخپله مسلمان وی نو آزاد دی کړی یو غلام مسلمان، او که وو دداسی قوم څخه

بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهْلِهٖ وَتَحْرِيْرُ

چی ستاسی او دهغوی په مینځ کی عهد وو نو دوینی قیمت دی ورکړی دهغه کور والاوو ته او ازاد دی کړی

رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۚ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ ۫

یو غلام مسلمان نو چا چی نه کی پیدا (مریی) نو روژی دی ونیسی دوی میاشتی پرله پسی

تَوْبَةً مِّنَ اللّٰهِ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۹۲﴾ وَمَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا

دپاره دگناه بخښولو دالله څخه، او الله پوه او حکمت والا دی، او چاچی قتل کړو مسلمان

مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خٰلِدًا فِيْهَا وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ

قصداً نو سزا یی دوږخ دی پروت به وی په هغه کی او په ده غضب دی دالله ﷻ

لَعَنَهٗ وَاَعَدَّ لَهٗ عَذَابًا عَظِيْمًا ﴿۹۳﴾

اولعنت دی پر او ده لره تیار دی لوی عذاب

تفسیر: دیوه مؤمن شان دا نه دی چی دی بل مؤمن (اول دواره) قتل کړی لیکن په غلطی سره (که ورڅخه داسی وسی نوبیله خبره ده) اوکوم سړی چی یومؤمن په غلطۍ سره قتل کړی نوپرده (شرعاً) یو مسلمان مریی یامینځه آزادول (واجب) دی اوفدیه یی (هم واجب) ده چی دده (مقتول) خاندان والاوو ته (یعنی په دوی کی چی کوم وارثان دی په قدر دحصو دمیراث) ورکړه سی (اودچاچی وارث نه وی نوبیت المال دوارث پرځای دریږی اوهغه یی قآئم مقام دی) مګرداچی دغه خلګ (دافدیه اودیت) ورمعاف کړی (برابره خبره ده که ټوله ورمعاف اوکه یوڅه نوهغومره به معاف کړه سی) اوکه هغه (مقتول یعنی په خطآء سره وژل سوی) دداسی قوم څخه وی چی ستامخالف وی (یعنی حربی وی اوپه یووجه سره په مسلمانانوکی اوسیږی) اودغه سړی په خپله مؤمن وی نو (یوازی) یوغلام اویامینځه مسلمانه آزادول (دی، اودیت ځکه نسته چی که وارثان ددی قتل سوی مسلمانان وی، خوبیاهم تراسلامی حکومت ماتحت اولاندی نه دی، نوپه دی وجه مستحق اوحقداره نه دی، اوکه کافروی نوپه دی صورت دیّت دبیت المال حق دی او ددار الحرب څخه ددار الاسلام بیت المال ته ترکه نه راوړل کیږی) اوکه هغه (په خطاسره وژل سوی) دداسی قوم څخه وی چی ستاسی اودهغوی په مینځ کی فیصله (دصلحی یا دذمه داری) وی (یعنی ذمّی وی یاامن ورکړل سوی یاورسره صلح سوی وی) نوفدیه (هم واجب) ده چی ددی (قتل سوی) خاندان والاووته (یعنی کم چی په دوی کی وارثان وی) حواله کړه کیږی (ځکه کافردکافر وارث وی) اودیوه مسلمان مریی یامینځی آزادول (دی) بیا (په کومو صورتونوکی چی دمریی یامینځی آزادول واجب دی) کوم سړی ته چی (مریی یامینځه) ورپیدانه سی (اونه ورسره دومره پیسی وی چی په رایی نیسی) نو (دده پرذمه پر ځای ددی آزادولو) پرلپسی دوی میاشتی روژی دی (داآزادول یاکه دانه وی اوروژی نیسی) په طریقه دتوبی (دی) کوم چی دالله ﷻ دطرفه څخه مقرر سوی دی (یعنی داطریقه یی مشروع سوی ده) اوالله ﷻ لوی علم والا، حکمت والادی (دخپل علم اوحکمت په بناء سره حکمونه مقررکوی، که څه هم چی په هرځای کی دغه حکمت بنده ته معلوم نه وی) اوکوم سړی چی په قصدسره یو مسلمان قتل کړی نو دده (اصلی) سزا (خو) جهنم دی (داسی به په کی وی) چی همیشه همیشه به په هغه کی اوسی (لیکن دالله ﷻ فضل دی چی دا اصلی سزاجاری نه سی بلکه دایمان په برکت سره آخربیرته خلاصیدی سی) اوپرده باندی به (تریوی مقرری مودی پوری) الله ﷻ غضبناك وی اودی به دخپل (خاص) رحمت څخه لیری کړی او دده دپاره به دلویی سزا (یعنی ددوږخ) سامان تیارکړی.

معلومات اومسئلي: دآیتونو ترون: دلوړ څخه دقتل اوقتال ذکر راروان دی اوټول صورتونه اول دسره دقتل

Maktaba Tul Ishaat.com

دا اته ۸ دی، ځکه چی وژل سوی به دځلورو حالاتو څخه خالی نه وی ، یا به مؤمن، یاذمی یاصلح کوونکی اوآمن غوښتونکی یاحربی وی ، اوقتل پردوه قسمه دی یابه قصداً وی یاخطآء، نوپه دی اعتبارسره دقتل ټول صورتونه اته سول (۱) دمؤمن قتل قصداً (۲) دمؤمن قتل په خطا سره (۳) دذمّی قتل په قصدسره (۴) دذمّی قتل په خطآء سره (۵)دصلح ورسره کړل سوی قتل قصداً (۶) دصلح ورسره کړل سوی قتل په خطآء سره (۷) دحربی قتل قصداً (۸) دحربی قتل په خطآء سره.

په دی صورتونوکی دځینو حکم لوړ معلوم سو، ځینی مخ ته ذکردی اوځینی په حدیث کی ذکر دی، نو داولنی صورت حکم ددنیا یعنی دقصاص واجب کیدل په سورة بقرة کی ذکردی اودآخرت حکم یی په مخ ته آیت ، وَمَنْ يَقْتُلْ کی راځی ، او د دوهم صورت بیان په ، وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ څخه تر وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ پوری په دی آیتونوکی راځی ، او د دریم صورت بیان په حدیث ددارقطنی کی دی چی دذمّی په بدله کی نبی کریم ﷺ دمسلمان څخه قصاص واخیستی (اخرجه الزیلعی رحمه الله فی تخریج الهدایة) دځلورم صورت ذکر دالله ﷻ دا قول دی ، وَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ په دی کی راځی، دپنځم صورت ذکر په پورته رکوع کی دالله ﷻ په دی قول ، فَمَا جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيلاً کی راغلی دی ،دشپږم صورت حکم دځلورم سره ذکردی ځکه چی میثاق عام دی ، وقتی اودآئمی دواړو ته شامل دی نوذمی اوامن غوښتل سوی دواړه پکښی راغلل، په درّمختارکی دکتاب الدّیات په شروع کی یی دامن غوښتل سوی ددیت دوجوب تصحیح کړی ده ،دا ووم اواتم صورت حکم په خپله دجهاد په رواکیدو سره لوړ معلوم سوی دی ځکه چی په جهادکی حربیان په قصد سره قتلول کیږی، نودخطآء جائزوالی خو خامخا ثابت سو (بیان القرآن)

(دقتل دری قسمونه او ددی شرعي حُکم)

اول قسم قتلِ عمد یعنی په قصد قتل کول ، چی په ښکاره سره قصدًا ددسی آلی په ذریعه سره واقع سی چی داوسپنی وی یاپه پریکولو داندامونوکی داوسپنی دآلی په شان وی لکه تیره بانس یاتیره ډبره اونور

دوهم قسم: شبه عمد ، چی په قصدسره وی خوپه داسی آلی سره نه وی چی اجزآء په پری کیدی سی.

دریم قسم: خطآء ، یا خوپه قصداوګمان سره دلیری څخه سړی ښکار، حیوان، حربی اویاکافر وګنی اوپه نښه یی کړی یافعلاً په نښه کړی یی حیوان وی ، خو ومښلی په انسان باندی ، په دی کی دخطآء څخه مراد غیرقصداً دی نودوهم اودریم دواړه قسمونه په دی کی راغلل، په دواړوکی دیت هم دی اوګناه هم ، لیکن په دی دواړو کارونوکی دادواړه قسمونه مختلف دی ، ددوهم قسم دیت سل ۱۰۰ اوښان دی څلورقسمه، یعنی دهریوه قسم څخه پنځه ویشت پنځه ویشت اوددریم قسم دیت سل ۱۰۰ اوښان دی، پنځه قسمونه یعنی دهریوه قسم څخه شل شل اوښان دی ، البته که چیری دیت په نقدو ورکوی نوپه دواړو قسمونوکی لس زره ۱۰۰۰۰ درهمه شرعی یازر ۱۰۰۰ دیناره شرعی دی ، اوګناه په دوهم قسم کی زیاته ده دقصد په وجه سره اوپه دریم قسم کی یوازی دبی احتیاطی ګناه ده (کذافی الهدایة) لکه چی دمریی آزادولو واجب کیدل اولفظ دتوبی هم پردی باندی دلالت کوی ، اودادری سره په حقیقت کی په دنیاکی دجاری کیدونکو احکاموپه اعتبار سره دی ، اودګناه په اعتبار سره چی قصداً یاغیر قصداً کیدل دی، ددی تعلق دزړه دقصد اوارادی سره دی چی دعذاب وعده ده باندی، نودا خدای ﷻ ته معلومه ده ممکنه ده چی په دی اعتبارسره اول قسم غیر قصداً سی او دوهم قسم قصداً سی.

Maktaba Tul Ishaat.com

مسئله: ددیت داذکرسوی مقدار هلته دی چی قتل سوی سړی وی او که ښځه وی نو بیانیم دیّت دی (هدایه)

مسئله: دیّت دمسلمان او ذمّی برابر دی، دنبی ﷺ ددی قول په وجه ، دِیَۃُ کُلِّ ذِیْ عَھْدٍ فِیْ عَھْدِہٖ اَلْفُ دِیْنَارٍ (کذافی الهدایة اخرجه ابوداؤد فی مراسیله)

مسئله: کفاره یعنی دغلام آزادول یاروژې نیول به په خپله قاتل اداکوی ، اودیّت دقاتل په اهلِ نصرت اوکومك کوونکو باندی دی چی دشرعی په اصطلاح کی ورته عاقله وایی (بیان القرآن)

دلته داشبهه پیدا کیږی چی دقاتل دجرم بار دده پراولیاؤ اوکومکیانو باندی ولی اچول کیږی څکه چی هغوی خو بی ګناه دی؟ وجه په اصل کی داده چی په دی کی دقاتل اولیآء هم قصورلرونکی دی چی هغو دی د داسی قسم بی احتیاطی څخه نه دی منع کړی او ددیت دبیری څخه به دوی په آینده کی دده حفاظت کوی .

مسئله: په کفاره کی مینځه اومریی برابر دی، لفظ درقبه عام دی البته ددوی اندامونه سلامت په کاردی .

مسئله: دیت به دمقتول په شرعی وارثانو باندی تقسیمیږی ، او څوك چی په کښی خپله حصه معاف کړی ، هغه معاف کیږی اوکه ټولو معافی وکړه نوټول به معاف سی .

مسئله: دکوم مقتول چی یوڅوك شرعی وارث نه وی دهغه دیّت به په بیت المال کی داخلیږی څکه چی دیّت ترکه ده اوترکی دغه حکم دی (بیان القرآن)

مسئله: دچاسره چی فیصله سوی وی (ذمّی یامستأمن) دده په باره کی چی کم دیّت واجب دی، ظاهره خبره داده چی داپه هغه وخت کی دی چی کله ددی ذمّی یامستأمن اهل موجودوی اوکه دده اهل نه وی یاوی خومسلمانان وی اومسلمان دکافر وارث کیدی نه سی نو دا په ځای دنیستی دی نوکه دی ذمّی وی ، دیت به یی په بیت المال کی داخلول کیږی څکه چی دذمّی لاوارث ترکه چی دیت په کی داخل دی ، په بیت المال کی داخلول کیږی (درمختار) اوکه داسی نه وی نونه واجبیږی (بیان القرآن)

مسئله: په روژوکی که دمرض اویابل شی په وجه پرلپسی والی را نه سی نو دنوی سره به یی بیانیسی ، البته دښځی دحیض په وجه پرلپسی والی نه ختمیږی .

مسئله: که دڅه عذر په وجه یی په روژو قدرت نه وی نو تر قدرت راتلو پوری دی توبه وکړی .

مسئله: په قتلِ عمد کی (یعنی قصداً قتل کی) کفاره نسته توبه دی وکاږی اومعافی دی وغواړی (بیان القرآن)

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا ضَرَبْتُمْ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ فَتَبَیَّنُوْا وَ لَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ اَلْقٰۤى اِلَیْكُمُ السَّلٰمَ

ای ایماندارو ! هرکله چی سفرکوی دالله په لاره کی نوتحقیق کوی اومه وایاست هغه چاته چی تاسی سلام وکی

لَسْتَ مُؤْمِنًا تَبْتَغُوْنَ عَرَضَ الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا فَعِنْدَ اللّٰهِ مَغَانِمُ

ته نه یی مسلمان تاسی غواړی اسباب ددنیا دژوند نو دالله سره ډیر غنمتونه

كَثِیْرَةٌ كَذٰلِكَ كُنْتُمْ مِّنْ قَبْلُ فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَیْكُمْ فَتَبَیَّنُوْا اِنَّ

دی ، تاسی خو هم داسی واست ددې څخه مخکې بیا الله په تاسی فضل وکی نو اوس تحقیق کوی

Maktaba Tul Ishaat.com

اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴿٩٤﴾ لَا يَسْتَوِي الْقٰعِدُوْنَ مِنَ

بیشکه الله ستاسی دکارونو څخه خبردار دی ، برابر نه دی ناست

الْمُؤْمِنِيْنَ غَيْرُ اُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجٰهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

مسلمانان چا ته چی هیڅ عذر نسته او هغه مسلمانان چی جنګیږي دالله په لاره کی ،

بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ؕ فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ بِاَمْوَالِهِمْ وَ

په خپلو مالونو سره اوخپلو نفسونو سره ، الله لویه کړی ده دجنګیدونکو په خپلو مالونو

اَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ دَرَجَةً ؕ وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ؕ وَ

اوخپلو نفسونو سره په ناست خلقو باندی درجه او دهر یو ه سره وعده کړی ده الله دنیکی ،

فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿٩٥﴾ دَرَجٰتٍ

او زیات کړی دی الله جنیدونکو ته په ناستو خلقو باندی په لوی اجر کی ، چی درجی دی

مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَّرَحْمَةً ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿٩٦﴾

دالله دطرف څخه اوبخښنه ده او مهربانی ده ، او الله دی بخښونکی اومهربانه.

لنډتفسير: ای مؤمنانو! کله چی تاسی دالله ﷻ په لاره کی (یعنی دجهاد دپاره) سفرکوی نوهریوکار (که قتل وی اوکه بل څه) ترتحقیق وروسته کوی اوداسی سړی ته چی ستاسی په وړاندی (نښانی) داطاعت ښکاره کړی (لکه کلمه ویل یادمسلمانانوپه ډول سلام کول) داسی مه وایاست چی دی (په زړه سره) مسلمان نه دی (محضی دخپل ځان ساتلو دپاره په درواغو اسلام ښکاره کوی) په داسی ډول سره چی تاسی ددنیادژوند دسامان خواهش کوی ، ځکه چی دخدای ﷻ سره (یعنی دهغه په علم اوقدرت کی ستاسی دپاره) ډیر دغنیمت مالونه دی (چی تاسی ته به په جائزه طریقه سره ورسیږی اویاد کړئ چی) اول (په یوه زمانه کی) تاسی هم داسی واست (چی ستاسی داسلام قبلولو مدار یوازی ستاسی دعوه او اظهارو) بیاالله ﷻ په تاسی احسان وکی (چی په دی ظاهری اسلام باندی یی بس والی وکی اودباطن پلټنه یی لازمه نه کړه) نو (لږ) فکر (خو) کوی بیشکه الله ﷻ ستاسی دعملونو پوره خبرلری (چی وروسته تردی حکم څوك په دی عمل کوی او څوك یی نه کوی) برابرنه دی هغه مسلمان چی بی له څه عذر څخه په کورکی ناست وی (یعنی جهادته نه ځی) اوهغه خلق کوم چی دالله ﷻ په لاره کی په خپلو مالونو اونفسونو

Maktaba Tul Ishaat.com

سره (یعنی مالونه خرڅوی اونفسونه حاضروی) جهادکوی (بلکه) الله ﷻ دداسی خلګو درجه ډیره زیاته جوړه کړی ده چی په خپلو مالونو اونفسونو سره جهاد کوی په نسبت دکور کښینستونکو او (داغسی خوپه وجه ددی چی دافرض عین نه دی، ګناه پردی کښینستونکو هم نسته ، بلکه په وجه دایمان اونورو فرضِ عین کارونه پرځای راوړی) دټولوسره (یعنی دجهاد کوونکوسره هم اوناستوسره هم) الله ﷻ دښه کور (یعنی دجنت په آخرت کی) وعده کړیده او (لوړچی کم اِجْمالاً ویل سوی دی چی دجهاد کوونکو لویه درجه ده ددی تعین دادی چی) الله ﷻ (دی ذکرسوو) مجاهدینو لره په مقابله دکور کښینسونکو لوی اجر ورکړی دی (دغه درجه ددغه اجرِ عظیم اجمالی تفصیل فرمایی) یعنی (دډیرو عملونوپه وجه چی دجهاد کوونکی څخه صادریږی، دثواب) ډیری درجی کومی چی دخدای ﷻ دطرفه څخه ورکول کیږی او (دګناهونو) مغفرت اورحمت (داټول داجرِ عظیم تفصیل سو) اوالله ﷻ لوی مغفرت والااورحمت والادی.

معلومات اومسئلي: دآیتونو تړون: په تیرو آیتونوکی دمؤمن پرقتل باندی دعذاب سختی زورنی راغلی دی ، اوس مخ ته فرمایی چی دشرعی حکمونو دجاری کیدو دپاره دمؤمن ، دمؤمن کیدو یوازی ظاهری اسلام کافی دی ، کوم سړی چی داسلام اظهار وکړی دده دقتل څخه لاس بندول واجب دی اویوازی دشك اوشبهی په وجه دباطن لټول اوداسلامی حکمونوپه جاری کولوکی دده دیقینی ایمان دثبوت انتظار کول جائز نه دی ، لکه چی دځینو صحابه وو د دوی دا اسلام په درواغو وګڼی، قتل یی کی او دقتل سوی مال یی په غنیمت کی واخیستی الله ﷻ ددی منع وفرمایله اوکله چی دغه مسئله اصحابوته په ښکاره ډول سره معلومه نه وه، نوپه دی وجه یی یوازی ددوی پرپوهولو صبر وکی اوپر دی کاریی په دوی څه دعذاب وعده نازله نه کړه (بیان القرآن)

(دمسلمان ګڼلو دپاره یوازی نښاني داسلام کافي دی دباطن لټول جآئزنه دی)

په ذکر سوو درو آیتونوکی په اول آیت کی داښوونه سوی ده چی کوم سړی ځان مسلمان ښکاره کړی نویوه مسلمان لره جآئزنه دی چی بغیر دتحقیق څخه دهغه داوینا نفاق وګڼی ددی آیت دنزول سبب څه داسی واقعات دی چی په هغه کی دځینو صحابه کراموڅخه داسی خطا سوی وه ، لکه چی په ترمذی اومسند احمد رحمہ اللہ کی دحضرت عبدالله بن عباس ؓ څخه نقل دی چی دقبیله بنوسلیم یوسړی دصحابه کرامو دیوی ټولی سره یوځای سو ، په داسی موقع باندی چی داحضرات جهادته روان وه ، دی سړی خپلی بزی څرولی ، ده اصحابوته سلام وکی چی داپه عمل کی ددی خبری اظهاروو چی زه مسلمان یم ، صحابه کرامو ؓ داسی وګڼله چی دا وخت دی محضی دخپل ځان اومال دساتلو دپاره دوکه اوچم کوی ، نو هغوی دي قتل کی اودهغه بزی یی دغنیمت مال مقررکی ، دنبی کریم ﷺ په خدمت کی یی حاضری کړی ، په دی باندی دا آیت نازل سوچی کوم سړی تاسی ته په اسلامی طرز او طریقی سره سلام وکړی نو بغیر دتحقیق څخه داسی مه ګڼی چی ده دچم په وجه سره ځان مسلمان ظاهرکی ، او دده مال دغنیمت ګڼلو په جوړ سره مه حاصلوی (ابن کثیر)

اودحضرت عبدالله بن عباس ؓ څخه یوبل روایت دی چی بخاری په لنډه اوبزارپه مفصّله طریقه سره نقل کړی دی، چی نبی کریم ﷺ دمجاهدینو یوه ټولګی ولیږله چی حضرت مقدادبن اسود ؓ په کښی هم وو ،

Maktaba Tul Ishaat.com

کله چي دوی موقعی ته ورسیدل، نوټول خلګ وتښتیدل یوازی یو سړی پاته سو چي دده سره ډیرمال ور ده داصحابو په وړاندی وویل اَشْهَدُ اَنْ لاَّ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ لیکن حضرت مقداد رضی الله عنه داسی وګڼله چي دزړه څخه یې نه وایی ، نودی یې قتل کی ، په حاضرینوکی یوه صحابی رضی الله عنه وویل چي تابدوکړل چي یوداسی سړی دی قتل کی چاچي د لاَ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ شاهدی ورکړی وه ، زه که دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضرسوم، نو ددی واقعی ذکر به خامخاکوم ، کله چي دا خلګ مدینی ته بیرته راغلل، نونبی کریم ﷺ ته یې دا واقع بیان کړه ، ده ﷺ حضرت مقداد رضی الله عنه راوغوښتی اوسخته زورنه یې ورکړه او وی فرمایل، چي په ورځ دقیامت به ستاڅه جواب وی کله چي د لاَ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ کلمه ستاپه مقابله کی دعوه داره وی ، په دی واقعه باندی دا آیت نازل سو ، لاَ تَقُوْلُوْا لِمَنْ اَلْقٰى اِلَيْكُمُ السَّلٰمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا ددی آیت په باره کی په دی دوو واقعو سربیره نوری واقعی هم نقل دی لیکن دتفسیرتحقیق کوونکی فرمایی چي په دی روایتونوکی ټکرنه سی کیدی چي داټو واقعی دی په مجموعی حیثیت سره دنزول سبب وی ، دآیت په الفاظوکی اَلْقٰى اِلَيْكُمُ السَّلٰمَ راغلی دی، په دی کی د (سلام) دلفظ څخه که اصطلاحی سلام مراد سی نواوله واقعه ورسره زیات سمون خوری اوکه دسلام دلفظ څخه معنی دسلامت اواطاعت واخیستل سی، نو بیادا ټوله واقعات په دی کی برابردی، په دی وجه اکثرو حضراتو دسلام ترجمه دلته داطاعت (حکم منلو) کړی ده .

(دواقعي دتحقيق کولو څخه پرته فيصله کول جائزنه دی)

ددی آیت په اوله جمله کی یوعام هدایت دی چي مسلمان دی یوکار بی له تحقیقه محضی په ګمان باندی نه کوی، ارشاد دی ، اِذَا ضَرَبْتُمْ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ فَتَبَیَّنُوْا یعنی کله چي تاسی دالله ﷻ په لاره کی سفرکوی نوهرکار ترتحقیق کولو وروسته کوی ، یوازی په ګمان اوخیال باندی په کارکولو سره ډیر وختونه غلطی کیږی، په دی کی یې دسفرقیدهم په دی وجه سره ذکرکی چي دغه واقعات په سفر کی مخ ته راغله یاپه دی وجه چي شبهات په عام ډول سره په سفرکی مخ ته راځی ، په کلی اووطن کی په عام ډول سره دیوه اوبل دحالاتو څخه خلګ خبروی ، که دانه وی نو اصلی حکم عام دی، په سفرکی وی اوکه په کلی کی خوبغیر دتحقیق څخه یوکار کول جائزنه وی ، په یوه حدیث کی د نبی کریم ﷺ ارشاد دی ، په فکر اوخیال سره کار کول دالله ﷻ دطرفه څخه دی اوتلواری کول دشیطان دطرفه څخه دی (بحرِمحیط)

دوهمه جمله ده: تَبْتَغُوْنَ عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا په دی کی ددی مرض اصلاح ده کوم چي ددی غلطی کولو باعث سو ، یعنی ددُنیا د دولت او دغنیمت دمال حاصلولو خیال .

مخ ته دا هم فرمایی چي ستاسی دپاره الله ﷻ دغنیمت مالونه ډیر مقرّرکړی دی ، تاسی دمالونوپه فکرکی مه لویږی ، تردی وروسته یې یوبل خبرداری وفرمایی چي یوڅه دی ته هم وګوری چي اول په تاسی کی هم ډیر حضرات داسی وه چي په مکه مکرمه کی یې دخپل اسلام اوایمان اعلان نه سوای کولی ، بیاالله ﷻ په تاسی باندی احسان وکی چي دکفارو دقبضی څخه یې آزاد کړاست ، نوداسلام ښکاره والی مو وکی ، نو آیا دا ممکنه نه ده چي دغه سړی کوم چي داسلام لښکر ووینی اوکلمه ووایی په حقیقت کی دمخکی څخه لا مسلمان وی خودکفارو دبیری څخه یې داسلام ښکاره کول نه وی کړی اوچي دغه وخت دمسلمانانو لښکریې ولیدی نواظهاریې وکی ، یاچي کله په اول کی تاسی داسلام

کلمه وویل اوځان ته مو مسلمانان وویل نوپه هغه وخت کې خوتاسې ته دمسلمان مقرر کولو دپاره شریعت داقیدنه وو لګولی چې ستاسې دزړونودې پلټنه دې وسې، نوکه په زړونوکې مو داسلام ثبوت پیداسو، نوبیابه ورته مسلمان وایې ، بلکه یوازې کلمه ویل یې ستاسې دمسلمان مقررکولو دپاره کافي ګڼلې وو ، نودغه ډول اوس هم چې ستاسې په وړاندې څوك کلمه ووایي نومسلمان یې ګڼئ .

(اهلِ قبله ووته دکافرنه ویلو مطلب)

ددې آیت کریمه څخه یوه دا مهمه مسئله معلومه سوه چې کوم سړی خپل ځان ته مسلمان وایې برابره خبره ده په کلمه ویلووي اوکه په بله یوه اسلامي طریقه اختیارولو اوښکاره کولووي مثلاً په لمانځه، اوداسې یانوروکې په شریك کیدو، نوپرمسلمان لازم دي چې دی به مسلمان ګڼي اودده سره به دمسلمانانو په شان معامله کوي ، ددې خبرې انتظار به نه کوي چې دی دزړه څخه مسلمان سوی دی اوکه نه دی یاپه کومه بله وجه داسلام اظهارکوي .

او دغه ډول په دې معامله کې به دده عملونوته هم نه کتل کیږي، فرض کړه چې دی لمونځ نه کوي، روژه نه نیسي اوهرقسم ګناهونه کوي، بیاهم ده ته دکافرویلو یادده سره دکافرانو دمعاملې کولو دهیڅاحق نسته ، په دې وجه امام اعظم﵀ فرمایي ، لاَ نُکَفِّرُ اَهْلَ الْقِبْلَةِ بِذَنْبٍ : یعنې مونږاهلِ قبله ووته دکومې ګناه په وجه کافر نه سو ویلای .

دحدیثو په ځینو روایتونوکې هم ددې قسم الفاظ ذکردي، چې اهلِ قبله ووته کافرمه وایاست برابره خبره ده که دی هرڅومره ګناهګارچې وي .

مګردلته یوه خبره په خاص طورسره دیادساتلو اوځان پوهولو قابله ده چې دقرآن او حدیث څخه داثابته ده چې کوم سړی خپل ځان ته مسلمان وایي هغه ته کافرویل یایې کافر ګڼل جائزنه دي ، ددې واضح مطلب دا دی چې ترڅوپورې دده څخه کمه داسې خبره یاکار نه وي سوی چې دکفریقیني نښانه وي ، تر هغه وخته پورې به دده داسلام اقرارصحیح وي اوده ته به مسلمان ویل کیږي او دده سره به دمسلمانانو په شان معامله کول کیږي ، دده دزړه په اړوند دبحث کولو هیڅاته حق نسته .

لیکن کوم سړی چې داسلام داظهار او دایمان داقرارسره سره دکفرڅه کلمې هم وایي یاکوم بت ته سجده کوي یاداسلام دیوداسې حکم څخه انکارکوي چې هغه داسلام قطعي او یقیني حکم وي یادکافرانو کومه مذهبي نښانه اختیار وي لکه په غاړه زنّار (لکتایي) یانور اچول ، نودی به بیشکه دخپل کفر دعملونو په سبب کافر ګڼل کیږي ، په ذکر سوی آیت کې په لفظ د، تَبَيَّنُوْا کې دې طرف ته اشاره موجوده ده ، که نه وي نویهودو اونصاراؤ خو ټولو خپلو ځانونوته مسلمانان ویل اومسیلمة کذّاب چې په اجماع دصحابه کرامو﵃ کافر مقررسوی ووا وقتل کړه سوی دی ، دی یوازې داسلام دکلمې اقراری نه وو بلکه داسلامي شعآئرو لمونځ، آذان اونوروهم پابندوو ، په خپل اذان کې به یې د اَشْهَدُ اَنْ لاَّ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ سره اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ هم ویل ، خوددې سره به یې خپل ځان ته هم نبي اورسول اوصاحب دوحې وایه چې دقرآن اوسنّت دنصوصو څخه خلاف اوښکاره انکاروو ، په دې وجه دی مُرتدمقرر سو او دده خلاف داصحابو﵃ په اجماع سره جهاد وکړل سو .

دمسئلې خلاصه دا سوه چې هرکلمه ویونکی اواهلِ قبله مسلمان ګڼی او دده دزړه او باطن معامله دخدای ﷻ سره ده ، ددی لټون دانسان کارنه دی ، دا الله ﷻ ته حواله کوی ، البته که دایمان داظهارسره ورځخه دایمان خلاف کوم کار وسی نو دی مرتد ګڼی ، په دی شرط چې دایمان څخه خلاف کیدل یې قطعي اویقیني وی اوپه دی کی دځه بل احتمال یاتاویل ځای نه وی .

ددی څخه دا هم معلومه سوه چې لفظ د(کلمه ویونکی) یا (اهلِ قبله) اصطلاحی الفاظ دی چې مصداق یې یوازی هغه سړی دی چې داسلام ددعوه کولوڅخه وروسته ورڅخه کمه کافرانه وینایاکارصادرنه سی

دجهاد په اړوند څو احکام: په دوهم آیت ، لَايَسْتَوِي الْقٰعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ کی دجهادڅو احکام ذکرسوی دی . چې کوم خلګ بغیر دځه معذوری څخه په جهادکی نه شریك کیږی ، دوی دهغه خلګوسره نه سی برابریدی کوم چې دالله ﷻ په لاره کی په خپل ځان اومال سره جهادکوی بلکه الله ﷻ جهاد کوونکولره په غیر جهاد کوونکو باندی لوړه درجه اوبښه والی ورکړی دی ، ددی سره یې دا هم وفرمایل چې الله ﷻ دجهادکوونکو اوغیر جهاد کوونکو دواړو فریقو سره دښې بدلی وعده کړی ده ، جنّت او مغفرت به دواړو ته حاصل وی ، فرق به یوازی په درجوکی وی .

دتفسیر عالمان فرمایی چې ددی آیت څخه معلومه سوه چې په عاموحالاتوکی جهاد فرض کفایی دی چې ځینی خلګ یې ادا کړی نودباقی مسلمانانو غاړه خلاصیږی ، په دی شرط چې کوم خلګ په جهاد کی شریك وی، هغه ددی دپاره پوره وی اوکه هغوی پوره نه وی نو د دوی په شاوخوا مسلمانانوهم فرض کیږی چې دمجاهدینو کومك وکړی .

دفرضِ کفایي پیژندل: فرض کفایی په شریعت کی هغوفرضوته ویل کیږی چې اداکول یې پرهر مسلمان باندی ضروری نه وی، بلکه دځینوکول یې پوره کیږی اوپه عامه طریقه سره قومی اواجتماعی کارونه په دی درجه کی دی ، ددینی علمونو تعلیم اوتبلیغ هم داسی فرض دی ، څه خلګ چې په کښی مشغول وی اوهغه ورلره پوره وی نودنورو مسلمانانو غاړی په خلاصیږی ، لیکن کوم ځای چې هیڅوك هم په دی کی مشغول نه وی، نوټوله ګناهګاروی ، دمړی دجنازی لمونځ اوکفن دفن هم یوقومی شی دی چې یو مسلمان ورورد خپل بل مسلمان ورورحق اداکوی اوددی حکم هم دغه دی ، مسجدونه اومدرسی جوړول اودعامو خلګودفائدی نورکارونه کول هم په دی حکم کی داخل دی ، یعنی چې ځینی مسلمانان یې کوی نو دنورو غاړی خلاصیږی .

په عام طورسره هغه حکمونه چې داجتماعی اوقومی ضرورتونوسره یې تعلق وی ، دغه اسلامی شریعت فرضِ کفایی مقرر کړی دا ددی دپاره چې دکارونودتقسیم پراُصولو باندی عمل کیږی اوټول فرض ادا کیږی، یعنی چې ځینی خلګ جهاد کوی، ځینی دتعلیم اوتبلیغ کارکوی اوځینی نورخلګ داسلامی یاانسانی ضرورتونو دپوره کولو کارکوی، نوټول کارونه به سرته رسیږی .

په دی آیت کی یې كُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى وفرمایل ، هغه خلګ یې هم مطمئن کړل ، چې دجهاد څخه پرته په نورودینی ضرورتونوکی مشغول وی لیکن داحکم په عاموحالاتوکی دی چې کله دیوڅوخلګو جهاد داسلام ددښمنانوددفع کولودپاره کافی وی اوکه ددوی جهادکافی نه وی دنورکومك ضرورت وی نو

Maktaba Tul Ishaat.com

دشاوخواپه نورو خلکوهم فرض عین کیږی اوکه دغه هم کافی نه وی نوبیاپرنورو دشاوخوا خلکو فرض
عین کیږی اوهم دغسی ترمشرقه اومغربه پوری پرهریوه مسلمان فرض کیږی چی شریك سی په کښی.
په دریم آیت کی هم ددغو درجو دفضیلت بیان دی کومی چی جهاد کوونکوته په نورو حاصلی دی.
مسئله: په شل، گوډ، ړوند، ناجوړی اوبل شرعی معذور باندی جهاد فرض نه دی.

إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي أَنفُسِهِمْ قَالُوا فِيمَ كُنتُمْ ۖ قَالُوا كُنَّا

هغه خلق دچا چی ملائکی روح وباسی په داسی حالت کی چی دخان سره یی بد کړی وی، وایی دوی ته
ملائکی چی تاسی په څه حال کی واست، دوی وایی مونږ وو،

مُسْتَضْعَفِينَ فِي الْأَرْضِ ۚ قَالُوا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةً

ناچاره په دی ملك کی، وایی ملائکی آیا نه وه مځکه دالله فراخه

فَتُهَاجِرُوا فِيهَا ۚ فَأُولَٰئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَسَاءَتْ مَصِيرًا ﴿٩٧﴾

چی وطن مو پریښی وای او هلته تللی وای؟ نو داسی خلقو ځای دوږخ دی اوهغه ډیرناکاره ځای دی،

إِلَّا الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ لَا يَسْتَطِيعُونَ

مګر کوم چی کمزوری دی دسړو او دښځو اودبچو څخه چی نه سی کولی

حِيلَةً وَلَا يَهْتَدُونَ سَبِيلًا ﴿٩٨﴾ فَأُولَٰئِكَ عَسَى اللَّهُ أَنْ يَعْفُوَ

څه تدبیر او نه ورته څه لار معلومه ده، نو دغوته امید دی چی الله ﷻ یی معاف

عَنْهُمْ ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَفُوًّا غَفُورًا ﴿٩٩﴾ وَمَنْ يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ

کړی او دی الله معاف کوونکی بخښنی والا، اوڅوك چی وطن پریږدی دالله په لاره کی

يَجِدْ فِي الْأَرْضِ مُرَاغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً ۚ وَمَنْ يَخْرُجْ مِنْ بَيْتِهِ

بیا به پیدا کړی ددې په مقابل کی ځای ډیر او فراخی، اوڅوك چی ووزی دخپل کور څخه

مُهَاجِرًا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُ

هجرت کوونکی الله او رسول طرف ته بیا ونیسی دی مرګ نو مقرر سو دده ثواب

عَلَى اللّٰهِ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۰۰﴾

دالله سره او دی الله بخښنې والا مهربانه

لنډتفسير: بیشکه دداسی خلکو روح چی ملائکی قبض کوی چاچی (سره دقدرته دهجرت، هجرت نه وی کړی) خپل ځانونه یی ګناهګار ساتلی وی نو (دغه وخت) هغه (ملائکی) ده ته وایی چی ته (ددین) په کم (کم) کارکی وی (یعنی ددین کوم کوم ضروری کاردی کوی) دی به (په جواب کی) ووایی چی مونږ (دخپلی اوسیدنی) په مځکه کی محضی مغلوب وو (نوپه دی وجه مونږددین په ډیرو ضروری خبرو عمل نه سو کولی ، یعنی دغه فرض مونږدمجبوری څخه پاته کړی وو) دوی (ملائکی) وایی (که په دغه ځای کی مو نه سوای کولی نو) ولی دخدای ﷻ مځکه پراخه نه وه تاسی ته وطن پریښوول ددی څخه (بلی مځکی ته) تلل په کار وه (هلته به تللی وای نو فرض به موادا کولی سوای نو دوی به لاجوابه سی اوجُرم به یی ثابت سی) نوددی خلکو ځای دوږخ دی اودتللو دپاره دغه ډیر بیکاره ځای دی، لیکن کوم سړی اوښځی اوکوچنیان (چی په واقع کی پرهجرت هم) قادرنه وی، نه څه تدبیرکولی سی، نه ورته لار معلومه وی نو د دوی دپاره اُمیددی چی الله ﷻ معافی وکړی اوالله ﷻ لوی معاف کوونکی ، لوی مغفرت کولو والا دی او (دکومو خلکودپاره چی هجرت روا دی په دوی کی) کوم سړی چی دالله ﷻ په لاره کی (یعنی ددین دپاره) هجرت وکړی نوده ته به په مځکه کی دتللو دپاره ډیرځایونه ورسیږی او (ددین دښکاره کولو) ډیره فراخی به پیداکړی (نوکه داسی ځای ته ورسیدی، نوپه دُنیاکی هم په دی سفراو اظهار ددین سره کامیابی ظاهره ده) او (که اتفاقًا داذکرسوی کامیابی ورته حاصله نه سی نوبیاهم دآخرت کامیابی خویی یقینی ده ، ځکه چی زمونږ قانون دی چی) کوم سړی دخپل کورڅخه په دی نیت سره ووزی چی دالله ﷻ او رسول ﷺ (ددین دښکاره کولوځای) وطرف ته هجرت وکړم بیا (ترمقصد حاصلولومخکی) دی مرګ ونیسی نوبیاهم دده ثواب (دکم وعده چی پرهجرت کولوده) ثابت سو (چی دوعدی په وجه سره داسی ده لکه) دالله ﷻ په ذمّه (که څه هم چی لادی سفرته هجرت نه ویل کیږی لیکن په ښه نیّت سره ددی په شروع کولو ورته پوره ثواب ورکړل سو) اوالله ﷻ لوی مغفرت کوونکی دی (ددی نیم ګړی هجرت په برکت سره که څه هم چی پوره نه سو، ډیر ګناهونه به معاف کړی ، لکه چی په حدیث کی دهجرت په فضیلت کی راغلی دی چی په هجرت سره تیرګناهونه معاف کیږی او) لوی رحمت والادی (چی دعمل په ښه نیت سره پر شروع کولو دعمل دپوره کیدو غوندی ثواب ورکوی) یعنی چی نیک عمل شروع کړه سی نوکه پوره هم نه سی خو ثواب یی پوره ور رسیږی .

معلومات اومسئلې: دهجرت پیژندګلوی: په دی څلورو آیتونو کی دهجرت دفضیلتونو برکتونو اودحکمونو بیان دی په لُغت کی هجرت دهجران اوهجرپه معنی کی دی یعنی دیوه شی څخه بیزاره کیدل اوپریښوول یی، اوپه عامومحاورو کی دهجرت لفظ دوطن پریښوولودپاره ویل کیږی دشرع په اصطلاح کی دارالکفر پریښوول اودار الاسلام ته تللوته هجرت وایی (روح المعانی) اوملاعلی قاری) په شرح دمشکوة کی فرمایی چی یو وطن ددینی وجوهو پربنآء پریښوول هم په هجرت کی دی (مرقاة ص ۳۹ ج ۱)

دسورة حشر آیت ، اَلَّذِیْنَ اُخْرِجُوْا مِنْ دِیَارِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ کوم چی دمهاجرینو اصحابو﷜ په باره کی نازل سوی دی ددی څخه معلومه سوه چی که دیوه ملك کفار مسلمانان د دوی دمسلمانیدو په وجه په زورسره وباسی نو دا هم په هجرت کی دا خل دی .

ددی تعریف (یعنی معلوماتو) څخه معلومه سوه چی دهندوستان څخه پاکستان ته کوم مسلمانان په خپل اختیار سره د دارالکفرڅخه دبیزاری په سبب راغلی دی یاکوم چی غیرمسلمانانوپه زورسره را ایستلی دی ، دا ټول خلګ دشرعی معنٰی په اعتبارسره مهاجرین دی ، البته څوك چی دتجارتی ترقی یادمزدوری دآسانی په وجه رانقل سی هغه شرعًا دمهاجرویلو لائق نه دی ، او دصحیح بخاری اومسلم په یوه حدیث کی د نبی کریم ﷺ ارشاد دی .

اَلْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَانَهَی اللهُ عَنْهُ وَرَسُوْلُهٗ

(مهاجرهغه دی چی هغه ټول شیان پریږدی دکومو څخه چی الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ منع فرمایلی ده) نو ددی مطلب ددی حدیث داولی جملی څخه صادریږی په کوم کی چی دا ارشاد دی .

اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِّسَانِهٖ وَيَدِهٖ .

(مسلمان هغه دی دچاد ژبی اولاسونو دتکلیف څخه چی ټول مسلمانان محفوظ اوسلامت وی) ددی مراد ښکاره دی چی رښتینی اوپوخ مسلمان هغه دی چی نوروته تکلیف نه رسوی ، دغه ډول دربښتینی اوکامیاب مهاجر هغه دی چی یوازی دوطن په پریښوولو بس والی ونه کړی ، بلکه څومره شیان چی شریعت حرام اوناجآئز مقررکړی دی ، هغه ټول هم پریږدی .

خپل زړه هم بدل کړه داحرام په جامو سره .

دهجرت فضیلتونه : په قرآن کریم کی لکه څنګه چی دجهادپه اړوند آیتونه خپاره واره دی نو دغه ډول دهجرت ذکر هم دقرآن کریم په اکثرو سورتونوکی خای پرخای ډیر وارونه راغلی دی ، چی داټول آیتونه راجمع کړه سی ، نو ددی څخه معلومیږی چی دهجرت په آیتونوکی دری قسمه مضمونونه دی ، اول دهجرت فضیلتونه ، دوهم یی ددنیا او آخرت برکتونه .... دریم سره دقدرته د دارالکفر څخه دهجرت په نه کولو دعذاب وعدی .... اول مضمون یعنی دهجرت فآئدی دسورة بقرة په یوه آیت کی دی .

اِنَّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِیْنَ هَاجَرُوْا وَجَاهَدُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللهِ اُولٰٓـئِكَ یَرْجُوْنَ رَحْمَةَ اللهِ وَاللهُ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ .

یعنی هغه څوك چی ایمان راوړی اوچاچی دالله ﷻ په لاره کی هجرت اوجهادوکی دوی دالله ﷻ درحمت اُمیدواره دی اوالله ﷻ لوی بخښونکی مهربانه دی .... دوهم آیت په سورة توبه کی دی .

اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجَاهَدُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ اَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ اللهِ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ .

یعنی کوم خلګ چی ایمان راوړی اوچاچی دالله ﷻ په لاره کی هجرت اوجهاد اختیارکی دوی دالله ﷻ سره په لویه درجه کی دی او دا خلګ کامیاب اوبامراده دی .... او دریم دا آیت دسورة نسآء دی .

وَمَنْ یَّخْرُجْ مِنْۢ بَیْتِهٖ مُهَاجِرًا اِلَی اللهِ وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ یُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ اَجْرُهٗ عَلَی اللهِ .

یعنی کم سړی چی دالله ﷻ او درسول ﷺ دپاره دخپل کورڅخه دهجرت په نیت ووزی بیاپه لاره کی ورته مرګ راسی نو دده ثواب دالله ﷻ په ذمّه سو .

Maktaba Tul Ishaat.com

دا آیت دځینو روایتونو مطابق دحضرت خالدبن حزام په باره کی دحبشی دهجرت په زمانه کی نازل سوی دی ، دی دمکی څخه حبشی ته دهجرت په نیت وتلی وو ، په لاره کی دی مار وخوړی اودهغه څخه وفات سو ، په هرحال په دی درو سره آیتونوکی ددار الکفر څخه دهجرت ترغیب او ددی دلویو لویو فضیلتونو بیان په واضح ډول سره راغلی دی .... په یوه حدیث کی د نبی کریم ﷺ ارشاد دی .

اَلْهِجْرَةُ تَهْدِمُ مَاكَانَ قَبْلَهَا .... یعنی هجرت هغه ټول گناهونه ختموی کوم چی یی ترهجرت مخکی کړی دی .

دهجرت برکتونه : دبرکتونو په اړوند دسورةِ نحل په یوه آیت کی ارشاد دی .

وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي اللهِ مِنْم بَعْدِ مَا ظُلِمُوا لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ أَكْبَرُ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ .

یعنی کوموخلکو چی دالله ﷻ دپاره هجرت وکی وروسته تردی چی په دوی باندی ظلم وسو مونږ به دوی ته په دنیاکی ښه ځای ورکړو او دآخرت ثواب خو ډیر لوی دی ، کاشکی! دا خلگ پوهیدی .

دسورةِ نسآء څلور آیتونه کوم چی لوړ ذکر سوی دی ، په دی کی دڅلورم آیت هم تقریبًا دا مضمون دی ، په دی کی ارشاد دی .

وَمَنْ يُهَاجِرْ فِيْ سَبِيلِ اللهِ يَجِدْ فِي الْأَرْضِ مُرَاغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً ..

یعنی کوم سړی چی دالله ﷻ په لاره کی هجرت وکړی ، دی به پیداکی په مځکه کی ځای ډیر اوفراخی .

د آیت لفظ مُرَاغَم ' .. مصدر دی چی معنی یی ده دیوی مځکی څخه د دوهمی مځکی وطرف ته منتقل کیدل او دمنتقل کیدو ځای ته هم (مُراغم) وایی .

په دی دواړو آیتونوکی دهجرت ظاهری اوباطنی برکتونه بیان سوی دی چی په دی کی دالله ﷻ دا وعده ده چی کوم سړی دالله ﷻ او درسول ﷺ دپاره هجرت کوی الله ﷻ ده دپاره په دنیاکی لاری پیداکوی او ده ته په دنیاکی ښه ښکانه هم ورکوی اود آخرت ثواب اودرجی خو تر وهم اوگمان هم ډیری زیاتی دی .

دښه ښکانی تفسیر مجاهد رحمه الله په رزقِ حلال سره اوحسن بصری رحمه الله په ښائسته مکان اوځای سره اوځینو نورو تفسیر لیکونکو په مخالفینو دغلبی ، عزت اوشرافت سره کړی دی ، او حقیقت دا دی چی دآیت په مفهوم کی داټولی خبری داخلی دی ، لکه چی ددنیا تاریخ شاهددی چی کله چادالله ﷻ دپاره وطن پری ایښی دی ، نوالله ﷻ ده ته دوطن ترمکان ښایسته مکان، دوطن ترعزت اوشرافت زیات عزت، دوطن ترآرام زیات آرام ورکړی دی .

حضرت ابراهیم علیه السلام خپل وطن عراق پری ښوی، شام ته یی هجرت وکی نوالله ﷻ دا ټول شیان دهغه نصیب کړل ، حضرت موسیٰ علیه السلام اودهغه سره بنی اسرآئیلو دخپل وطن څخه دالله ﷻ دپاره هجرت وکی یعنی مصریی پری ښووی ، نوالله ﷻ دوی تردی ښه وطن دشام ملك ورکی اوبیامصر هم دوی ته ورسیدی ، زمونږ سردار حضرت خاتم الانبیآء نبی اکرم ﷺ اوده ﷺ صحابه وو دالله ﷻ اورسول ﷺ دپاره مکه پری ښوولـه نو دی مهاجرینوته ترمکی ښه ښکانه په مدینه شریفه کی نصیب سوه ، هرقسم عزت، غلبی، راحت اومالداری ورته ورکړل سوه ، دهجرت په اولنیو ورځوکی یوڅو ورځی تکلیف او سختی خوڅه خبره نه ده ، ددی عبوری دور څخه وروسته چی کم نعمتونه الله ﷻ دوی ته ورکړل او د دوی په نسلونو کی تر ډیره پوری جاری پاته سوه ، اعتبار هغه لره دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

دصحابه کرامو ﷺ دلوړو تندو کوم واقعات چې په تاریخ کې مشهوردي هغه په عام ډول سره دهجرت دابتدایی (اولنی) دورسره تعلق لري، اویاهغوی دافقرپه خپله رضا سره خوښ کړی وو، مال اودولت یی نه خوښوی څه چې به ورته راتلل دالله ﷺ په لاره کې به یی خرڅول، لکه چې په خپله دنبی کریم ﷺ دا حال وو چې دده ﷺ لوړه اوتنده یوازی اختیاری وه، ده ﷺ غنا اومالداری نه اختیاروله ، او ددی سره هم دهجرت په شپږم کال دخیبر ترفتح وروسته دنبی کریم ﷺ دټول اهل اوعیال دګذار یوڅه انتظام وسو، دغه ډول دخلفآء راشدینو ﷺ ټولو داحال وو، چې مدینی ته تررسیدو وروسته الله ﷺ دوی ته هرڅه ورکړی وه لیکن چې اسلامی ضرورت پیښ سونو حضرت صدیق اکبر ﷺ دخپل کور ټول مال راوړی اوپیش یی کی ، اُمّ المؤمنین حضرت زینب ﷺ ته چې به کومه وظیفه رسیده هغه به یی ټوله پرفقیرانو اومسکینانو تقسیموله اوپه خپله به یی دفقیرانو ژوند تیروی ، په دی وجه ددی نوم اُمّ المساکین (دمسکینانو مور) وو اوسره ددی دغنیانو صحابه وو دچاڅخه چې په ډیر مقدارسره مال اوجایداد پاته سوی وو، ددوی مقدارهم په صحابه کرامو کی کم نه وو ، ډیرصحابه کرام داسی هم وه چې په خپل وطن مکّه مکرّمه کی مفلسه اونادارہ وه، ترهجرت وروسته الله ﷺ دوی ته مال ، دولت اوهرقسم راحتونه ورکړل ، حضرت ابوهریرة ﷺ چې کله دیوه ولایت والی جوړکړه سو، نو په ډیرخوندسره به یی دخپل تیر ژوند نقشه ځان ته راحاضروله اوخپل نفس ته به یی ویل: ابوهریره ﷺ ته هغه یی چې دفلانکی قبلیی مزدور وی اوستا تنخواه یوازی دنس ډکولو ډوډۍ وه اوستا کار دا وو چې کله به دغه خلګ په سفرتلل نوته به ورسره پیاده روان وی اوکله چې به دوی پر یوه منزل کښته سول نوتابه ورته داور بلولو دپاره خاشی او لرګی راوړل، نن داسلام په برکت ته دکوم ځای څخه کوم ځای ته ورسیدی ، تاته امام اوامیر المؤمنین ویل کیږی لنډه دا ده چې الله ﷺ کومه وعده دمهاجرینو دپاره په قرآن کریم کی فرمایلی ده ، دادنیاپه خپلوسترګو سره پوره سوی لیدلی ده ، البته په دی آیت کی شرط دادی چې د هَاجَرُوا فِي اللهِ مصداق وی ، ددنیا دمال، دولت یاحکومت، بادشاهت یاعزّت اومرتبی دطلب دپاره یی هجرت نه وی کړی ، که نه وی نودصحیح بخاری په حدیث کی دنبی کریم ﷺ دا ارشاد هم دی چې کوم سړی دالله ﷺ او دهغه درسول ﷺ په نیت سره هجرت کوی نودهغه هجرت دالله ﷺ اودرسول ﷺ دپاره دی یعنی صحیح هجرت دی چې فضیلتونه اوبرکتونه یی په قرآن کی ذکردی اوکوم سړی چې دڅه مال دطلب یادښځی دنکاح په خیال سره هجرت کوی نودده دهجرت بدله هم دغه شی دی دکوم دپاره چې ده هجرت کړی وی .

نن چې کوم ځینی مهاجرین پریشان حاله دی یاخولا تراوسه په دغه عبوری زمانه کی دی کوم چې دهجرت په اولنی دورکی پریشانی راځی یاهغوی په صحیح معنی سره مهاجرنه دی ، دوی ته په کاردی چې دخپل نیت اوحال داصلاح طرف ته توجه وکړی ، دنیت اوعمل داصلاح کولو څخه وروسته به دوی دالله ﷺ دوعدی ریښتین والی په خپلو سترګوسره ووینی .

وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلَوٰةِ ۖ إِنْ خِفْتُمْ

اوکله چې تاسی سفرکوی په مځکه کی نوپه تاسی ګناه نسته چې څه کم کړی دلمانځه څخه که تاسی سره بیره وی .

Maktaba Tul Ishaat.com

اَنْ يَّفْتِنَكُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۭ اِنَّ الْكٰفِرِيْنَ كَانُوْا لَكُمْ عَدُوًّا مُّبِيْنًا ﴿١٠١﴾

که تاسي سره بیره وي چي آزار به کړي تاسي کافران ، البته کافران ستاسي ښکاره دښمنان دي

وَاِذَا كُنْتَ فِيْهِمْ فَاَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلٰوةَ فَلْتَقُمْ طَاۗىِٕفَةٌ مِّنْهُمْ

اوکله چي تاسي ﷺ په دوی کی موجود یاست بیا دوی ته دجمع لمونځ ورکوی نو په کار دي چي یوه ډله د دوی

مَّعَكَ وَلْيَاْخُذُوْٓا اَسْلِحَتَهُمْ ۣ فَاِذَا سَجَدُوْا فَلْيَكُوْنُوْا مِنْ وَّرَاۗىِٕكُمْ

ودریږي تاسي ﷺ سره اودخان سره دي واخلي خپله وسله بیاچي کله دوی سجده وکړي نولیري دي سي ستاد خواځنه

وَلْتَاْتِ طَاۗىِٕفَةٌ اُخْرٰى لَمْ يُصَلُّوْا فَلْيُصَلُّوْا مَعَكَ وَلْيَاْخُذُوْا

اورادي سي بله ډله چاچي لمونځ نه دی کړی هغوی دی لمونځ وکړي تاسره اوراوادی خلي

حِذْرَهُمْ وَاَسْلِحَتَهُمْ ۚ وَدَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ تَغْفُلُوْنَ عَنْ

خپل دبچانو سامان او خپله وسله کافران غواړي چي په څه شان سره تاسي به پرواه سی د

اَسْلِحَتِكُمْ وَاَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيْلُوْنَ عَلَيْكُمْ مَّيْلَةً وَّاحِدَةً ۭ وَ

خپلی وسلی او اسباب څخه چي په تاسي حمله وکړي په یوه وار

لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِنْ كَانَ بِكُمْ اَذًى مِّنْ مَّطَرٍ اَوْ كُنْتُمْ مَّرْضٰٓى

اوپه تاسي څه گناه نسته که تاسي ته تکلیف وی دباران څخه یا تاسي مریضان یاست

اَنْ تَضَعُوْٓا اَسْلِحَتَكُمْ ۚ وَخُذُوْا حِذْرَكُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ اَعَدَّ لِلْكٰفِرِيْنَ

چي کښیږدی خپله وسله ، اودخان سره اخلئ خپل دبچانو سامان بیشکه الله تیارکړی دی دکافرانو دپاره

عَذَابًا مُّهِيْنًا ﴿١٠٢﴾ فَاِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلٰوةَ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ قِيٰمًا وَّقُعُوْدًا

عذاب دذلت ، نو کله چي تاسي لمونځ وکی نو یاد وی الله په ولاړی په ناسته

وَّعَلٰي جُنُوْبِكُمْ ۚ فَاِذَا اطْمَاْنَنْتُمْ فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ ۚ اِنَّ الصَّلٰوةَ

او په پروتی بیا چي کله بیرته ولاړه سی نو برابر وی لمونځ ، بیشکه لمونځ

Maktaba Tul Ishaat.com

كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا ﴿۱۰۳﴾ وَلَا تَهِنُوْا فِي ابْتِغَآءِ الْقَوْمِ

په مسلمانانو باندی فرض دی په خپلو مقررو وختوکی، او بی همته کیږي مه په دوی پسی په ورپسی

اِنْ تَكُوْنُوْا تَاْلَمُوْنَ فَاِنَّهُمْ يَاْلَمُوْنَ كَمَا تَاْلَمُوْنَ ۚ وَتَرْجُوْنَ مِنَ

کیدونکی ، که تاسی بی آرامه کیږي نو دوی هم بی آرامه کیږي لکه څنګه چی تاسی کیږي او تاسی امیدلری

اللّٰهِ مَا لَا يَرْجُوْنَ ۗ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۱۰۴﴾ ع

دالله څخه داسی چی دوی نه لری او الله په هرڅه پوه حکمت والا دی

تفسیر: اوکله چی تاسی په مځکه کی سفرکوی (چی مقداریی دری منزله وی) نو تاسی ته په دی کی څه ګناه به نه وی (بلکه ضروری ده) چی تاسی (دماپښین، مازدیګر، او ماسختن فرض) لمونځ (څلور رکعته کم کړی (یعنی دڅلوروپرځای دوه وکی) که ستاسی سره دابیره وی چی کافران خلګ به تاسی پریشانه کړی (اوددی بیری په وجه سره به یو ځای تردیره وخته پوری دریدل دفآئدی خلاف ګنی څکه چی) بیشکه کافران خلګ ستاسی ښکاره دښمنان دی ، اوکله چی ته په دوی کی تشریف لری (اودغه ډول چی ستاسی په ځای بل څوك امام وی) بیاستاسی سره دوی لمونځ کول غواړی (اوبیره وی چی که ټول په لمانځه کی مشغول سو نو داسی نه چی دښمن موقع پیداکړی اوحمله وکړی) نو (په داسی حالت کی) داسی په کار دی چی (دغه جماعت دی دوی ډلی سی بیا) په دوی کی دی یوه ډله ستاسره (پرلمانځه) ودریږی (اودوهمه ډله دی دحفاظت دپاره ددښمن مقابلی ته ودریږی چی دښمن ته ګوری) اودغه خلګ (کم چی ستاسره په لمانځه کی شامل دی دوی دی هم کوچنی غوندی) وسله واخلی (یعنی ترلمانځه دریدومځکی دی راواخلی چی شاید که دمقابلی ضرورت راسی نوپه وسله رااخیستوکی به وخت نه لګیږی، په دستی به جنګ کوی، که څه هم چی لمونځ به یی په جنګ سره مات سی لیکن داګناه نه ده) بیاچی کله داخلګ (ستاسره) سجده وکړی (یعنی یورکعت پوره کړی) نودا خلګ دی (دحفاظت دپاره) ستاسی څخه شاته سی (یعنی دنبی کریم ﷺ څخه اوددغی بلی ډلی څخه چی لاپه لمانځه کی نه ده شامله اوس شاملیږی، دوی دی ددی ټولو څخه شاته ولاړسی) اوهغه بله ډله چاچی لالمونځ نه دی کړی (یعنی شروع کړی یی هم نه دی هغه دی ددی اولنی ډلی په ځای امام ته نژدی) راسی اوستاسره دی (یورکعت لمونځ چی باقی دی (هغه دی) وکړی اوداخلګ دی هم دخپل ځان دساتلو سامان اوخپلی وسلی را واخلی (او دسامان اووسلی دځان سره داخیستوڅکه حکم سوی دی چی) کافران خلګ دا غواړی چی که تاسی دخپلو وسلو اوسامانونوڅخه (لږغوندی) غافله سواست نودوی به پرتاسی په یوه وار حمله وکړی (نوپه داسی حالت کی احتیاط ضروری دی) اوکه تاسی ته دباران (اونورو) په وجه (دوسلی سره په تللوکی تکلیف وی یاتاسی ناجوړه یاست (اوپه دی وجه اسلحه نسئ درسره اخیستلای) نو تاسی ته په دی کی

(هم) کومه ګناه نسته چې اسلحه ایستلې ساتې (بیاهم) دخپل خلاصون سامان (خامخادځان سره) اخلی (اودا خیال مه کوی چې دکفارو ددښمنئ یوازې) په دنیاکې علاج سوی دی بلکه په آخرت کې به تردې زیات ددوی علاج (وی ځکه چې) بیشکه الله ﷻ دکافرانو دپاره سپکوونکې سزا تیاره کړې ده بیاچې کله تاسې لمونځ (دبیرې) اداکړې نو (په زړه طریقه) دالله ﷻ په یادولو کې مشغوله کیږئ، په ولاړې هم، او په ناستې هم، اوپه پروتې هم (یعنې په هرحالت کې حتی چې عینې دجنګ په وخت کې هم دالله ﷻ ذکر جاری ساتئ، په زړه سره هم اود شرعي احکاموپه منلوسره هم، دغه هم په ذکرکې داخل دی. په جنګ کې دخلاف شرع کوم کارکولو څخه ځان ساتې، مقصد دا دی چې لمونځ ختم سوخوذکرنه ختمیږي، دسفراو بیرې په وجه په لمانځه کې کمې سوی وه، لیکن ذکرپه خپل حالت باندې دی) بیاچې کله تاسې مطمئن سئ (یعنې سفرختم کړې مقیم سی، او دغه ډول دبیرې ترختمیدو وروسته بې بیرې سئ) نولمونځ د (اصلي) قاعدو موافق کوئ (یعنې قصراوپه لمانځه کې تلل او نور اوس مه کوئ ځکه چې دغه خودیوه عارض په وجه رواسوی وه) یقیناً لمونځ پر مسلمانانو فرض دی اوپه وخت پورې تړل سوی دی (وروسته ترفرض والې په وجه یې اداکول ضروری سو، اودوخت سره دخاص کیدوپه وجه یې په وخت کې اداکول ضروری سوه، په دې وجه په شکل اوصورت کې یې یوڅه لږتبدیلي وکړل سوه، خوبیاهم دلمانځه مقصودې صورت هم هغه اصلي صورت دی نوچې سبب ختم سونودلمانځه داصلي صورت حفاظت لازمي سو) اوبې همتې مه کوئ ددې مخالف قوم په ورپسې کیدلوکې (ځکه چې ددې ضرورت دی) اوکه تاسې (دزخمونو څخه) په تکلیف کې اخته یاست نو (څه وسوه) هغوی هم په دردکې اخته دې لکه تاسې چې په دردکې اخته یاست (نوهغوی ترتاسې زیات قوت نلري، بیابیره دچشي ده) او (په تاسې کې یو زیاتوالې تردوی دادی چې) تاسې دالله ﷻ دطرف څخه دداسې شیانو اُمید ساتې چې دغه خلق (دهغه) اُمیدنه ساتې (یعنې ثواب، نودزړه په قوّت کې تاسې زیات سواست اودبدن په کمزوری کې یو ډول نوتاسې ته زیات چسپ کیدل په کاردي) الله ﷻ لوی علم والادی (هغه ته دکفاروکمزوری زړه اوکمزوری بدن معلوم دی) لوی حکمت والادی (ستاسې دبراشت ترطاقت یې زیات حکم درته ونه فرمایی)

معلومات اومسئلې: دآیتونو ترون: لوړدجهاداودهجرت ذکرؤ اوپه غالبو حالاتوکې دجهاد اوهجرت دپاره دسفرکولو ضرورت وي، اوپه داسې سفرکې دمخالف دطرفه بیره هم اکثره وي، په دې وجه دسفراو بیرې په رعایت سره چې په لمانځه کې کومې خاصې آسانې ورکړل سوې وي، مخ ته دهغه ذکر فرمایي.

دسفر اوقصرحکمونه: مسئله: کوم سفر چې تر درو منزلونو (اته څلویښت ۴۸ میلونو\ پنځه اویا ۷۵ کیلو مترو) کم وي په هغه سفرکې لمونځ پوره کول کیږي، دقصر لمونځ به نه کوی.

مسئله: اوکله چې سفرختم کړې، منزل ته ورسیږې نوکه هلته یې اراده ترپنځلسو ورځو دکم پاته کیدو وه بیاهم مسافر دی، څلور رکعته لمونځ فرض به دوه رکعته کوی، دی ته قصر وایي، اوکه دپنځلسو ورځو یا تردې دزیاتو ورځو دپاته کیدو اراده یې وه په یوه کلې کې، نو هغه به یې وطن داقامت سی هلته به قصرنه کوی؛ بلکه داصلي وطن په شان پوره لمونځ به کوی.

مسئله: قصریوازې ددرو وختونوپه فرض لمونځونوکې دی دماښام اوسهارپه لمونځونوپه سنتواووتروکې نسته

Maktaba Tul Ishaat.com

مسئله: په سفرکی که بیره نه وی هم به قصر لمونځ کوی.

مسئله: ځینی خلق دپوره لمونځ په ځای په قصرلمونځ کولوکی په زړه کی دګناه وسوسه پیداکوی داصحیح نه ده، ځکه چی قصرهم دشریعت حکم دی نو دشریعت په حکم منلوکی ګناه نه وی. بلکه ثواب وی.

مسئله: په آیت کی دی، وَاِذَا كُنْتَ فِيْهِمْ فَاَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلٰوةَ (یعنی کله چی ته ﷺ په دوی کی موجود یې) ددی ځخه دانه دی ګڼل په کار چی ګوندی اوس دبیری دلمانځه حکم باقی پاته نسو ځکه چی دده ﷺ ذات مبارك اوس په مونږکی موجود نه دی. اوداشرط دهغه وخت په اعتبارسره بیان سوی دی. ځکه چی دنبی ﷺ په موجودګی کی بل سړی بی له عُذره امام نه سی جوړیدی، ترده ﷺ وروسته اوس چی څوك امام وی، هغه دده ﷺ قآئم مقام دی اوهغه به دبیری لمونځ قوم ته ورکوی دټولو امامانو رحمهم الله په نزد دبیری دلمونځ حکم دده ﷺ وروسته هم جاری دی منسوخ سوی نه دی.

مسئله: لکه دانسان ځخه دبیری په وخت کی چی دبیری کم لمونځ جآئز دی، دغه ډول که دزمری یاافعی مار اونورو شیانو بیره وه اودلمانځه وخت تنګ وو، نودغه وخت هم جآئزدی.

مسئله: په آیت کی یی د دواړو ډلو دیوه یوه رکعت کولوذکر کړی دی ددوهم رکعت کولو طریقه په حدیث کی راغلی ده، چی نبی کریم ﷺ چی کله پردوو رکعتونو باندی سلام وګرځوی نودواړو ډلو خپل یویو رکعت خان خان ته وکی، نور تفصیل په احادیثوکی دی.

إِنَّآ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ ٱلنَّاسِ بِمَآ أَرَىٰكَ ٱللَّهُ ۚ وَلَا تَكُن

بیشکه مونږنازل کړی دی تاته کتاب رښتینی چی ته انصاف وکړی په خلقوکی په هغه څه چی ښودلی دی تاته الله اوته مه کیږه

لِّلْخَآئِنِينَ خَصِيمًا ﴿١٠٥﴾ وَٱسْتَغْفِرِ ٱللَّهَ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورًا

دټګی کوونکودطرف ځخه، جګړه کوونکی، اوبخشش غواړه دالله ځخه، بیشکه الله بخښونکی والا

رَّحِيمًا ﴿١٠٦﴾ وَلَا تُجَٰدِلْ عَنِ ٱلَّذِينَ يَخْتَانُونَ أَنفُسَهُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ

مهربانه دی، اوجګړه مه کوه دهغوی دطرف ځخه چی په زړونوکی ټګی ساتی، بیشکه الله

لَا يُحِبُّ مَن كَانَ خَوَّانًا أَثِيمًا ﴿١٠٧﴾ يَسْتَخْفُونَ مِنَ ٱلنَّاسِ وَ

نه خوښوی هغه څوك چی ټګ ګناهګار وی، شرمیږي دخلقو ځخه

لَا يَسْتَخْفُونَ مِنَ ٱللَّهِ وَهُوَ مَعَهُمْ إِذْ يُبَيِّتُونَ مَا لَا يَرْضَىٰ

او نه شرمیږي دالله ځخه اوهغه د دوی سره دی کله چی مشوری کوی دشپی دهغه خبری چی الله پرراضی

مِنَ ٱلْقَوْلِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطًا ﴿١٠٨﴾ هَٰٓأَنتُمْ

نه دی او څه چی دوی کوی ټول دالله په قابو کی دی، اوری تاسی خلق

Maktaba Tul Ishaat.com

هٰٓؤُلَآءِ جٰدَلْتُمْ عَنْهُمْ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا قف فَمَنْ يُّجَادِلُ اللّٰهَ

جگړه کوی د دوی د طرف څخه ددنیا په ژوند کی بیا به څوک جگړه وکړی د دوی

عَنْهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَمْ مَّنْ يَّكُوْنُ عَلَيْهِمْ وَكِيْلًا ﴿۱۰۹﴾ وَمَنْ يَّعْمَلْ

دپاره دالله سره ، دقیامت په ورځ ، یا څوک به وی د دوی کار ساز ، اوڅوک چی وکړی

سُوْٓءًا اَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهٗ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللّٰهَ يَجِدِ اللّٰهَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۱۰﴾

گناه یا دخپل ځان سره بد وکړی بیا دالله څخه بخښنه غواړی نو بیا به پیدا کړی الله بخښونکی مهربانه

وَمَنْ يَّكْسِبْ اِثْمًا فَاِنَّمَا يَكْسِبُهٗ عَلٰى نَفْسِهٖ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا

اوڅوک چی وکړی گناه نو کوی دخپل ځان په حق کی او الله په هرڅه پوه

حَكِيْمًا ﴿۱۱۱﴾ وَمَنْ يَّكْسِبْ خَطِيْٓئَةً اَوْ اِثْمًا ثُمَّ يَرْمِ بِهٖ بَرِيْٓـًٔا فَقَدِ

حکمت والا دی ، اوڅوک چی کوی خطاء یا گناه بیا تهمت ولگوی په چابی گناه ده

احْتَمَلَ بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۱۱۲﴾ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهٗ

په خپل سر بار کړو طوفان او گناه ښکاره ، او که نه وی په تا دالله فضل او دهغه رحمت

لَهَمَّتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ اَنْ يُّضِلُّوْكَ ؕ وَمَا يُضِلُّوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ

نو قصد کړی وو د دوی څخه یوی ډلی چی تا بی لاری کړی او نه بی لاری کوی مگر خپل ځانونه

وَمَا يَضُرُّوْنَكَ مِنْ شَیْءٍ ؕ وَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ

اوستا هیڅ نه سی ورانولی او الله نازل کړو په تا کتاب او حکمت

وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ ؕ وَكَانَ فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ عَظِيْمًا ﴿۱۱۳﴾

او تا ته یی وښوولی هغه خبری چی تاته نه وی معلومی او دالله فضل په تا باندی ډیر لوی دی

لنډتفسیر: بیشکه مونږ تاته داکتاب ولیږی چی (په دی سره) دواقعی مطابق (به حال معلومیږی) چی تاسی (په دی واقعه کی) ددغه خلکو په مینځ کی ددی موافق فیصله کوی، کوم چی الله ﷻ (دوحی په ذریعه

Maktaba Tul Ishaat.com

سره) تاته (اصل حال) ښوولی دی (هغه وحی دا ده چی په واقع کی بشیرغل دی اوقبیله دا اُبَیرق چی دده
ملاتړکوی درواغجنه ده) او (کله چی اصلی حال معلوم سونو) ته ﷺ ددی خیانت کوونکو دطرف دادری
خبره مه کوه (لکه چی دبنی اُبیرق اصلی خواهش داوو، لکه چی په دوهمه رکوع کی راځی، لَهَمَّتْ طَّآئِفَةٌ
مِّنْهُمْ اَنْ يُّضِلُّوْكَ مگرتا ﷺ داسی نه وه کړی، په خپله ددی جملی څخه ستاپه دی عمل نه کول هم معلومیږی
ځکه چی حاصل دا دی چی دالله ﷻ فضل ته ﷺ دغلطی څخه خلاص کړی، چی په دی کی دهری غلطی
نفی وسوه اودمنع کولو څخه دانه لازمیږی چی گوندی دغه کارپه تیروخت کی واقع سوی وو، بلکه
اصلی فائده دمنع داده چی دآئنده دپاره ورته دحال حقیقت معلوم سی اودکولو څخه یی منع وسی،
نومطلب دمنع داسو چی لکه ځنگه چی دی تراوسه پوری طرفداری نه ده کړی، آئنده یی هم مه کوه
اوداټول انتظامات دیوه نبی ﷺ دمعصوم ساتلو دپاره دی، اوپه آیت کی یی ټولوته خیانت کوونکی
وویل، حال دادی چی ټول خیانت کوونکی نه وه، داځکه چی کم خیانت کوونکی نه وه نودخیانت
کوونکی طرفداری یی کوله نو په دی وجه خیانت کوونکی مقرر سوه) او (دخلگوپه وینا سره په وجه
دنیك گمان چی تاﷺ بنی اُبَیرق دینداره گڼلی دی، که څه هم چی داسی گڼل گناه نه ده، لیکن کله چی په
دی کی دااحتمال وو چی ستاسی په دی فرمایلوسره اهلِ حق خپل حق پریږدی، نوداسی وسوه، رفاعه
پټه خوله کښینستی، نوپه دی وجه داکار نا مناسبه وسو نوځکه) ته ﷺ استغفارکوه (ځکه چی ستاشان
ډیرلوی دی، دومره کارهم ستادپاره داستغفار قابل دی) بیشکه الله ﷻ لوی مغفرت کوونکی، لوی
رحمت والادی اوته ﷺ ددی خلگو دطرفه دکوم جواب ورکولو خبره مه کوه (لکه ځنگه چی دی خلگو
ستاسی څخه غوښته) کوم چی (دخلگو خیانت اونقصان کوی، اوپه اعتبار دتاوان اوضرر سره په حقیقت
کی) خپل نقصان کوی، بیشکه الله ﷻ داسی سړی نه خوښوی (بلکه بدیی گڼی) کوم چی لوی خیانت
کوونکی وی، ډیرگناه کوونکی وی (لکه چی لږخیانت کوونکی هم نه خوښوی، لیکن دبشیر لوی خیانت
کوونکی ښکاره کول مقصوددی، نوځکه یی صیغه دمبالغی راوړه) دکوموخلگوچی داحال دی چی (په
خپل خیانت خو) دانسانانو څخه (شرمیږی) پټوی یی اودالله ﷻ څخه نه شرمیږی حال دا دی چی هغه
(هروخت) دا وخت (هم) دده سره دی، کله چی دی دالله ﷻ درضا خلاف دخبرو متعلق تدبیرونه کوی او
الله ﷻ ددوی ټولو عملونه په خپله احاطه کی راگیرکړی دی، هو! (دبشیر اونوروپه ملاتړ کی چی کوم
خلگ دمحلی جمع سوی اوراغلی وه، دوی دی واوری چی) تاسی داسی یاست چی تاسی ددنیاپه
ژوندکی خو د دوی دطرفه څخه موخبری وکړی دجواب ورکولو په غرض، نو (داوایاست چی) دخدای ﷻ
په مخکی دقیامت په ورځ به د دوی دطرف څخه څوك جواب ورکړی، هغه به کوم سړی وی چی د دوی
کارجوړوونکی وی (یعنی نه به څوك دڅبی جواب ورکولی سی اونه به عملی د دوی دعوه برابرولی سی)
او (که چیری دی خیانت کوونکو اوس هم دشریعت دقاعدی موافقه توبه کړی وای، نومعافی به ورته
سوی وای، ځکه چی زمونږ قانون دادی چی) کوم سړی کمه (ترحد تیریدونکی) بدی وکړی (یعنی چاته
نقصان ورسوی) یا (یوازی) دخپل ځان نقصان وکړی (یعنی داسی گناه ونکړی چی تاثیریی نوروته
رسیږی او) بیاداالله ﷻ څخه (دشریعت دقاعدی موافق) معافی وغواړی (چی په دی کی دبندگانو حقونه

Maktaba Tul Ishaat.com

اداکول یایي معاف کول هم داخل دي) نوهغه به الله ﷻ لوی بخښونکی پیداکړي او (خامخا ګنهګارانو
ته ددي کوشش کول په کار دي ځکه چي) کوم سړی دګناه کوم کارکوي نودي یي فقط دخپل ځان دپاره
کوي اوالله ﷻ لوی علم والا دي (دټولو په ګناهونو هغه خبردي) لوی حکمت والادي (مناسبه سزا ټاکي) او
(داخوپه خپله دګناه کولو انجام سو اوڅوك چي پرنورو تهمت ولګوي د دوی حال واوری چي) کوم سړی
کومه کوچنی ګناه وکړي یالویه ګناه، بیا (پرځای ددي چي په خپله ورلره توبه ایستل په کار وه، دي
داسي وکړل چي) ددي (ګناه) تهمت یي پریوه بی ګناه ولګوي ، نوده ډیر لوی بهتان اوښکاره ګناه په خپل
ځان (سر) سربیره بارکړه (لکه بشیر چي وکړه چي په خپله یي غلاوکړه اودیونیك بخته بزرګ سړي لبید
پرسریي دغه دغلا تهمت ولګوي) او که (په دي فیصله کي) پرتاﷺ (ای محمده ﷺ) دالله ﷻ فضل اورحمت
نه وای (کوم چي همیشه په تاﷺ باندي وي) نو ددي (چالاکو) خلګوڅخه یوی ډلي خوستاپه غلطی کي
دغورځولو اراده کړي وه (لیکن دخدای ﷻ په فضل سره د دوی دسُولول سوو خبرو په تا څه تاثیر ونه سو او
آئنده به درباندي هم نه کیږي لکه چي فرمایي) اودوی (هیڅکله تا) په غلطی کي نه سي غورځولی لیکن
(په دي اراده سره) خپل ځانونه (په ګناه کي اخته کوي اودعذاب لائق کوي یي) اوتاسي ته یوه ذره (ددي
قسمه څخه) ضررنه سي رسولی او (تاسي ته په غلطی سره ضرر رسول کله ممکن دي کله چي) الله ﷻ په تا
باندي کتاب اودعلم خبري نازلي کړي دي (چي ددي په یوه حصه کي ددي قصي خبر یي هم درکی) او تاته یي
هغه دفآندي (غتي) خبري ښوولي دي چي تا (تردي دمخه) نه پیژندي اوپه تاسي دالله ﷻ لوی فضل دی.

معلومات اومسئلي: دآیتونو تړون: لوړ دښکاره کافرانو دمعاملو په ضمن کي څو ځایه دمنافقانو ذکر
راغلی دي چي کُفر په دواړو کي یو ډول دي اوس مخ ته دځینو منافقانو دیوی خاصي قصي په اړوند
مضمون ذکر دي (بیان القرآن)

دآیتونو شان نزول: دا ذکر سوی اووه آیتونه دیوی خاصي واقعي په اړوند دي ، لیکن دقرآن دعام اسلوب
(طریقي) مطابق کم هدایات چي په دي سلسله کي ورکړل سوي دي، هغه ددي واقعي سره خاص نه دي
بلکه دټولو موجوده اوآئنده راتلونکو مسلمانانو دپاره عام دي اوډیري بنیادي اوفروعي مسئلي دي.
اول واقعه واوری بیاپه دي کي چي کم هدایات اومسئلي دي پرهغوی باندي غور اوفکر وکړي: واقعه
داوه چي په مدینه کي یوخاندان دبنو اُبیرِق په نامه سره مشهوروو ، په دوی کي یوسړی وو، چي
دترمذي اوحاکم په روایت کي یي نوم بشیر ذکر دي اودبغوی اوابن جریر په روایت کي یي نوم طعمه ذکر
دي ، ده دحضرت قتاده ﷛ بن نعمان داکا رفاعه ﷛ په کور کي سوری (غار) جوړکړي اوغلایي ورڅخه
وکړه ، دترمذي په روایت کي داهم دي ، چي دا سړی په حقیقت کي منافق وو په مدینه کي اوسیدی
دصحابه وو په سپکاوری کي به یي شعرونه لیکل اودپردیو په نومونو سره به یي هغه خپرول.
او دغلا صورت داسي وسوچي دهجرت په اوله زمانه کي به عامو مسلمانانو په لوږه، تنده اوتنګی سرا
وخت تیروی او د دوی عام خوراك داوربشو وړه وه یاخرماوي یادغنمو وړه چي ډیرکم به پیداکیدل اوپه
مدینه کي به وه هم نه، دشام دملك څخه چي به کله راغله نوخلګوبه دمیلمنو دپاره یادکم بل خاص
ضرورت دپاره اخیستل ، حضرت رفاعه ﷛ هم دغه ډول دغنمو وړه اخیستي وه اوپه یوه بوری کي یي

Maktaba Tul Ishaat.com

اینبی وه ، په دی کی یی څه اسلحه اونورشیان هم اینبی وه، اوپه یوه کوچنی غوندی خونه کی یی محفوظ اینبی وه ، ابن اُبیرق بشیر یاطعمه دغه لیدلی وه، نوغاریی ورپسی وکښی اودابوری یی را وایستله ، حضرت رفاعه ﷺ چی سهارداولیدل نوخپل وراره حضرت قتادة ﷺ ته راغی اوپه دی غلا باندی یی خبرکی ، دُ لوپه محله کی تلاشی شروع کړه، ځینو خلکو وویل چی نن شپه مونږ ولیدل، چی دبنو اُبیرق په کورکی اور بلیدی، زمونږ داخیال دی چی دوی دودی پخولی ، بنواُبیرق ته چی کله دراز ښکاره کیدو خبرورسیدی نوپه خپله راغی اووی ویل چی داکار دلبیدبن سهل دی ، حضرت لبید ﷺ خوټولو پیژندی چی مخلص مسلمان اونیك بزرګ دی ، دی چی کله خبرسو نوتوره یی وایستله راغی اووی ویل چی غلا اوس زما پر سر تاوانوئ اوس به زه داتوره ترهغه وخته نه ایږدم ترڅوچی ددی غلاحقیقت نه وی ښکاره سوی ، بنواُبیرق ورته په پټه وویل چی ته بیغمه اوسه، ستانوم هیڅوك نه سی اخیستی اونه دا کار ستاکیدی سی ، دبغوی اوابن جریرپه روایت کی دلته داخبره ده چی بنو اُبیرق غلا په یوه یهودی پوری وتړله اوداهوښیاری یی وکړه چی دوړوپه بوری کی یی یوکوچنی سوری وکی چی ددی څخه وړه توییدل اودرفاعه ﷺ دکور څخه دیهودی ترکوره پوری دوړو نښانی پیداسوی ، ترمشهوره کیدو وروسته غلاسوی اسلحه اوزغره یی هم دیهودی په کورکی کښیښوول اودتلاشی په وخت کی دهغه کره پیداکړل سوی ، یهودی قسم وخوړی چی داخو ابن اُبیرق ماته راکړی دی .

دترمذی دروایت اودبغوری دروایت مطابقت داسی کیدی سی چی بنواُبیرق اول غلاپه حضرت لبید ﷺ ور تپلی وی ، خو بیا چی کله خبره نه جوړیده نوپر یهودی دی یی وراړه لی وی ، پرهرحال اوس معامله دیهودی او بنواُبیرق جوړه سوه .

بلی خواته دحضرت قتادة ﷺ اوحضرت رفاعه ﷺ په مختلفو صورتونوسره داګمان غالب سوی وو چی داکار روایی د بنو اُبیرق ده ، حضرت قتادة ﷺ د نبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضرسو اودغلا دواقعی اودتفتیش په سلسله کی یی پربنو اُبیرق دغالب ګمان ذکر وکی ، بنواُبیرق چی خبرسو نود نبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضرسو ، دحضرت رفاعه ﷺ اوحضرت قتادة ﷺ شکایت یی وکی چی بغیر دشرعی ثبوت څخه غلا پرمونږ رااړوی ، حال دادی چی غلاسوی مال دیهودی په کورکی ښکاره سوی دی ، ته ﷺ یی منع کړه چی زمونږ په سر یی نه راتپی اودعوه دی په یهودی وکړی ، په ظاهری حالاتو اونښانونوسره دنبی کریم ﷺ هم دی طرف ته میلان راغلی وو چی داکار دیهودی دی ، پربنی اُبیرق الزام صحیح نه دی ، تردی چی دبغوی په روایت کی دی چی دنبی کریم ﷺ اراده وسوه چی په یهودی دغلا سزا جاری کړه سی اولاس یی پریکړل سی .

بلی خواته چی کله حضرت قتادة ﷺ دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سو، نو هغه ورته وفرمایل چی تاسی بی له دلیل اوثبوت څخه پریوه مسلمانه کورنی دغلا الزام لګوئ؟ حضرت قتادة ﷺ په دی معامله دیرخفه سواو افسوس یی وکی، چی کاشکی په دی معامله کی ماحضور ﷺ ته ګرسره کمه خبره نه وای کړی ؟ که څه هم چی زما مال هم تللی وی اوحضرت رفاعه ﷺ ته چی هم معلومه سوه چی نبی کریم ﷺ داسی فرمایلی دی نوده هم صبر اختیار کی اووی ویل . وَاللّٰہُ الْمُسْتَعَانُ .

Maktaba Tul Ishaat.com

په دې معامله لاځه وخت نه ووتير سوی چې دقرآن کريم يوه پوره رکوع په دې باره کې نازله سوه اونبي کريم ﷺ ته يې دواقعي حقيقت ښکاره کې اوداسې معاملوپه اړوند عام هدايتونه وښوول سول ، قرآن کريم دبنو أبيرق غلا ښکاره کړه اويهودي يې برئ (خلاص) کې، نو بنو أبيرق مجبوره سوه اوغلاکړی مال يې دنبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضرکې، اوده ﷺ حضرت رفاعه (رضـ) ته بېرته ورکي اوحضرت رفاعه (رضـ) اوس دغه ټوله وسله دجهاد دپاره وقف کړه، دې خواته چې کله دبنو أبيرق غلا ښکاره سوه نوبشير بن أبيرق دمديني څخه وتښتيدی اومکې ته ولاړی اودمشرکانو سره يوځای سو ، که دی اول منافق وو اوس ښکاره کافر سو اوکه اول مسلمان وو نواوس مُرتد سو .

په تفسير بحرمحيط کې دي چې دالله ﷻ اودرسول ﷺ دمخالفت ګناه بشيربن أبيرق په مکه کې هم په آرامه نه پرېښووی، دکمې ښځې په کورکې چې دی پاته سوی وو ، هغه ددې قصې څخه خبره سوه نوهغې دکوره وايستی دغه ډول ځای په ځای ګرځيدی چې آخر ديوه بل سړی په کورکې يې غار جوړوی چې ديوال وربانډې راولويدی او دې تر هغه لاندې مړسو .

تردې ځايه پورې دواقعې تفصيل وو ، اوس ددې په اړوندپه قرآني ارشاداتو باندې فکر وکړی ، په اولنۍ آيت کې نبي کريم ﷺ ته دغلا دواقعي اصلي حقيقت ښکاره کوی، فرمايي چې مونږ په تا باندې قرآن او وحي ځکه نازل کړی دی چې الله ﷻ کوم علم اوپوهه تا ته درکړی ده دهغه مطابق فيصله کوه او دخيانت ګرو يعني بنوأبيرق طرف داری مه کوه ، که څه هم چې دظاهری حالاتو اودليلونو په بنآء باندې دغلاپه معامله کې ستاميلان ديهودي طرف ته کمه ګناه نه وه ، خو د واقعي خلاف وه په دې وجه يې په دوهم آيت کې ده ته داستغفار حکم ورکی ، چې دانبياوو عليهم السلام شان ډير لوړ دی ، دده څخه دومره خبره هم ښه نه ده.

په دريم آيت (۱۰۷) کې بيادډی تاکيد فرمايي چې دخيانت کوونکو دطرف څخه جواب مه ورکوه ځکه چې دوی دالله ﷻ خوښ نه دی ، په څلورم (۱۰۸) آيت کې ددې خيانت کوونکو دبدحال اوبې وقوفی بيان دی چې داخلګ دځان په شان دخلګوڅخه شرميږي او غلاپټوی اودالله ﷻ څخه نه شرميږي چې هروخت ددوی سره دی او د دوی هريو کار ويني ، اوخاص بياپه دې واقعه کې چې کله دوی مشوره وکړه اودا رايه يې قائمه کړه چې غلا پريهودي ور اړوو اودقتادة ﷺ اورفاعه (رضـ) شکايت به نبي کريم ﷺ ته وکړو چې بې له وجې په مونږ باندې الزام لګوی او دا درخواست به ده ته وکړو چې ديهودي په مقابله کې زمونږ ملاتړ وکړی .

په پنځم آيت (۱۰۹) کې دبنو أبيرق کومك کوونکو اوملاتړ کوونکوته خبرداری دی چې په دنياکې خوبه تاسې د دوی ملاتړ وکی ، خومعامله دلته نه ختميږي ، په قيامت کې چې کله دالله ﷻ په عدالت کې پيش کړه سی هلته به يې څوك ملاتړ کوی ؟ په دې آيت کې دوی ته ملامتيا هم ده اودآخرت بيره يې هم ورته ورانډې کړه ، ددې خپل کارڅخه دپه شا کيدو اودتوبې کولو ترغيب هم دی ، په شپږم آيت (۱۱۰) کې دقرآن کريم دعام حکيمانه طريقې سره مطابق دمجرمانو ګناهګارانو دنااُميدی څخه دخلاصولو دپاره فرمايي چې کوچنۍ ګناه اوکه لويه کله چې ګناهګار الله ﷻ ته توبه او استغفار کوی نوالله ﷻ به

Maktaba Tul Ishaat.com

غفور اورحیم پیدا کړی ، په دی کی هغو خلګوته دکومو څخه چی داګناه سوی وه، ددی خبری ترغیب دی چی که اوس هم واپس سی اوپه زړه سره توبه وکړی نوهیڅ خراب کارنه دی ، الله ﷻ به ټول معاف کړی ، په اووم آیت (۱۱۱) کی داهدایت سوی دی چی که دا خلګ اوس هم توبه ونه باسی نودالله ﷻ یادهغه درسول ﷺ یاد مسلمانانو هیڅ نه خرابیږی تاوان یی په خپله پردوی باندی دی ، په اتم آیت (۱۱۲) کی یوه عامه ضابطه ارشاد فرمایی چی کم سړی په خپله کم جُرم وکړی اوبیادغه خپل جُرم پریوه بی ګناه باندی وروتپی (لکه په دی واقعه کی چی بنو اُبیرق غلاپه خپله وکړه اوالزام یی پر حضرت لبید ؓ یاپه یهودی ولګوی) نو ده ډیر لوی بهتان اوښکاره ګناه پرخپل ځان دی بار کړه ، په نهم آیت (۱۱۳) کی یی نبی کریم ﷺ ته خطاب فرمایلی دی چی که دالله ﷻ فضل اورحمت په تا باندی نه وای چی دوحی په ذریعه یی تاته دواقعی حقیقت وښوویِ، نودی خلګوبه ته په غلطی سره اخته کړی وای لیکن دالله ﷻ فضل اورحمت ستاسره دی ، په دی وجه دوی هیڅکله تاپه غلطی کی نه سی اچولی ، بلکه په خپله په ګمراهی کی اخته کیږی اوتاته یوه ذرّه هم نقصان نه سی رسولی ، ځکه چی الله ﷻ په تاکتاب اودپوهی خبری نازلی کړی دی کومی چی تاته نه وی معلومی .

(نبی کریم ﷺ ته داجتهاد کولو حق حاصل وو)

إِنَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ الخ ددی آیت څخه پنځه مسئلی ثابتی سوی یوه داچی نبی کریم ﷺ ته په داسی مسئلوکی په کوموکی چی دقرآن کریم واضح نص نه وی راغلی په خپله رایه باندی داجتهاد کولو حق حاصل وو او دمهمونو (یعنی مهموخبرو) په فیصلوکی به ده ډیری فیصلی په خپل اجتهاد سره هم فرمایلی ، دوهمه خبره دا هم معلومه سوه چی دالله ﷻ په نزد اجتهاد اورایه هغه معتبره ده کمه چی دقرآنی اُصولو اوحکمونو څخه رااېستل سوی وی ، خالص خیال اورایه معتبره نه ده اونه دی ته په شریعت کی اجتهاد ویل کیږی .

دریمه خبره دا معلومه سوه چی دنبی کریم ﷺ اجتهاد دنورو امامانو مجتهدانو په شان نه وو، په کوم کی چی دغلطی اوخطآء احتمال همیشه باقی وی ، بلکه کله چی به دوی کومه فیصله په خپل اجتهادسره فرمایله نوکه کومه غلطی به په کی کیده نوالله ﷻ به ورباندی دوی خبردار کړل اوفیصله به یی صحیح اوحق مطابقورباندی کوله اوکله چی به ده یوه فیصله په خپل اجتهادسره وکړه اودالله ﷻ دطرفه څخه به ددی خلاف کم شی رانغی نودا ددی نښانه وه چی دافیصله دالله ﷻ په نزد بهتره اوصحیح ده .

څلورمه خبره دامعلومه سوه چی نبی کریم ﷺ چی به دقرآن څخه څه ازده کول دابه ورته الله ﷻ ښوولی وه ، په دی کی دغلط فهمی څه امکان نه وو ، په خلاف دنورو عالمانو او مجتهدانوچی د دوی په قرآن باندی پوهیدل دالله ﷻ طرف ته داسی نسی منسوب کیدی چی الله ﷻ دوی ښوولی دی، لکه چی په دی آیت کی دنبی کریم ﷺ په اړوند ، بِمَا أَرَاكَ اللهُ راغلی دی ، په دی وجه کله چی یوه سړی فاروق اعظم ؓ ته داسی وویل چی ، فَاحْكُمْ بِمَا أَرَاكَ اللهُ نوهغه وترټی چی دا خصوصیت دنبی کریم ﷺ دی .

پنځمه مسئله دامعلومه سوه چی د درواغو دفیصلی او د درواغو ددعوی پیروی یاوکالت کول یایی تایید اوملاتړ کول ټوله حرام دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

دتوبي حقيقت: اود آيت (۱۱۰) څخه يعني ، وَمَنْ يَّعْمَلْ سُوْءًا اَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهٗ الخ څخه دامعلومه سوه چي گناه برابره خبره ده كه متعدي وي اوكه لازمي يعني دبندګانو دحقونو سره يي تعلق وي اوكه دالله ﷻ دحقونو سره هرقسم ګناه په توبه اواستغفار سره معاف كيدى سي ، البته دتوبي اواستغفار حقيقت پيژندل ضروري دي ، محضي په ژبه سره د، اَسْتَغْفِرُ اللهَ وَاَتُوْبُ اِلَيْهِ ويلو نوم توبه اواستغفارنه دى . په دي وجه دعالمانو په دي باندي اتفاق دى چي كوم سړى په يوه ګناه كي اخته وي ، اوپه دي پښيمانى هم نه كوي اوپريږدى يي هم نه اووايي دآئنده دپاره دپريښوولو اراده هم نه كوي اوپه دي حالت كي په ژبه سره اَسْتَغْفِرُ اللهَ وايي نو دا په توبي سره مسخري كړي دي ، لنډه دا چي دتوبي دپاره دري شيان ضروري دي يو په تيرو ګناهونو باندي پښيمانه كيدل ، دوهم په كومه ګناه كي چي اخته وي هغه په دغه وخت پريښوول ، او دريم دآئنده دپاره دګناه څخه دبچ كيدو پخه اراده كول ، البته دكومو ګناهونوتعلق چي دبندګانو دحقونوسره دي ، دغه دهغوى څخه معاف كول يادهغوى حقونه اداكول هم دتوبي شرط دي .

(دخپلي ګناه الزام په بل لګول د دوچنده عذاب سبب دى)

اود آيت (۱۱۲) يعني د وَمَنْ يَّكْسِبْ خَطِيْٓئَةً اَوْ اِثْمًا ثُمَّ يَرْمِ بِهٖ الخ څخه معلومه سوه چي كوم سړى ګناه په خپله وكړي اوالزام يي پربل بي ګناه سړي ولګوي نوده خپله ګناه دوچنده اوډيره سخته كړه اودسخت عذاب لايق سو ، يو دخپلي اصلي ګناه عذاب دوهم د درواغو اوبهتان سخت عذاب .

دقرآن او سنت حقيقت : په آيت (۱۱۳) يعني وَاَنْزَلَ اللهُ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ الخ كي يي دكتاب سره حكمت هم داخل كي، دي طرف ته يي اشاره كړي ده چي حكمت كوم چي نوم دى دنبي كريم ﷺ دسنتو اوتعليماتو، دا هم دالله ﷻ دطرفه څخه نازل كړه سوي دي ، فرق يوازي دا دى چي ددى الفاظ دالله ﷻ دطرفه څخه دي، په دي وجه په قرآن كي نه دي داخل ، او معنى ددى اودقرآن د دواړو دالله ﷻ دطرفه څخه دي ، په دي وجه په دواړو عمل كول واجب دي .

ددى څخه دهغه كلام حقيقت معلوم سوكوم چي ځينو فقهاوو رحمهم الله ليكلي دي چي دوحي دوه قسمونه دي مَتْلُو (دكوم چي تلاوت كړه كيږي) اوغير متلو (كوم چي نه تلاوت كيږي)، وحي متلو دقرآن نوم دى ، چي معنى اوالفاظ يي دواړه دالله ﷻ دطرفه څخه دي اوغير متلو دنبي كريم ﷺ دحديثونو نوم دى ، چي الفاظ يي دنبي كريم ﷺ دي اومعنى يي دالله ﷻ دطرفه څخه ده .

(دنبي كريم ﷺ علم ترټولو مخلوقاتو زيات دى)

دوهمه مسئله دعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ الخ څخه دا ثابته سوه چي دنبي كريم ﷺ علم دالله ﷻ دعلم په شان پرټولو كائناتو باندي محيط نه وو ، لكه ځيني جاهلان چي وايي ، بلكه څومره علم چي الله ﷻ وركوى ، هغه ورته رسيدى، البته ده ﷺ ته چي كوم علم وركړل سوى دى دادټولو مخلوقاتو ترعلم زيات دى .

لَا خَيْرَ فِيْ كَثِيْرٍ مِّنْ نَّجْوٰىهُمْ اِلَّا مَنْ اَمَرَ بِصَدَقَةٍ اَوْ مَعْرُوْفٍ

هيڅ خير نسته د دوى په اكثرو مشورو كي مګر څوك چي وايي دصدقي كولو يا دنيك كار

Maktaba Tul Ishaat.com

أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ

یا د صلح کولو په خلقو کی او څوك چی دا کار کوی دالله ﷻ دخوشحالولو دپاره

اللَّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿١١٤﴾ وَمَن يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِن

نوموړ به ورکړو ده ته لوی ثواب ، او څوك چی مخالفت کوی درسول ﷺ

بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَىٰ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ

وروسته ترهغه چی ښکاره سوی ده ، ده ته سیده لار او ځی دټولو مسلمانانو دلاری څخه خلاف نوموړ

مَا تَوَلَّىٰ وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ ۖ وَسَاءَتْ مَصِيرًا ﴿١١٥﴾ ع

به حواله کړو دی هغه طرف ته چی ده اختیار کړی ده او به غورځوو موږ دی دوږخ ته او دی ډیر بدځای ته ورسیدی.

تفسیر: دعامو خلکو په اکثرو مشوروکی خیر (یعنی ثواب اوبرکت) نه وی، البته مګر کوم خلګ چی داسی دی چی د (خیر) خیرات یادبل نیك کاریا دخلګو په مینځ کی داصلاح کولو (ترغیب ورکوی اوددی تعلیم اوترغیب دپوره کولو اوانتظام دپاره پټ تدبیرونه او مشوری کوی یاپه خپله دصدقی اونورو شیانو نورو خلګوته پټ ترغیب ورکوی، ځکه چی ځینی وخت په پټ ویلوکی ګټه وی، ددوی په مشوروکی خامخاخیر یعنی ثواب او برکت دی) اوکوم سړی چی داکار کوی (یعنی ددی کارونو ترغیب ورکوی) دالله ﷻ درضا کولودپاره (نه دمرتبی اوشهرت په غرض سره) نوموږ به ده ته ډیر ژر لوی اجرورکو اوکوم سړی چی درسول (مقبول) مخالفت کوی وروسته تردی چی حق ښکاره سوی وو او دمسلمانانو (دینی) لارپاته کوی پربله لاره ځی (لکه بشیر چی مرتدسو حالانکه داسلام حقوالی اودارنګه په دی خاصه واقعه کی دنبی کریم ﷺ دفیصلی حق والی په خپله ده ته معلوم وو اوبیاهم دی بدبختی ونیوی) نوموږ به ده ته (په دنیاکی) څه چی دی کوی دهغه وکولوته پریږدو او (په آخرت کی) به دی جهنّم ته داخل کړو اوهغه بدځای دی.

معلومات اومسئلي

(دیوه اوبل سره دمشورو اومجلسونو آداب)

ارشاد دی ، لَا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِّن نَّجْوَاهُمْ یعنی دخلګو دیوه اوبل سره په مشورو اوتدبیرونوکی چی دآخرت دفکر او په انجام باندی دفکر کولو څخه خالی وی محضی ددنیا دځوروځو اووقتی فآئدو دپاره وی هیڅ خیر په کښی نسته ، مخ ته ارشاد فرمایی ، إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ یعنی په دی مشورو اوپټو جرګوکی چی کم دخیرشی کیدی سی نوهغه دادی چی یوه اوبل دصدقی اوخیرات ترغیب ورکړی، یادنیکی حکم وکړی یادخلګو په مینځ کی دصلح کولو دپاره مشوره کوی ، په یوه حدیث کی ارشاد دی

Maktaba Tul Ishaat.com

چی ، دانسان هره یوه خبره دده دپاره مُضره ده بغیر دهغه کلام (یعنی خبری) څخه چی دالله ﷻ ذکر وی یاپه نیکیو امروی یا دبدیو څخه منع وی.

دمعروف معنی ده هرهغه کارچی په شریعت کی ښه ګڼل کیږی او چی په شریعت کی معلوم وی اوددی مقابل منکر دی یعنی هرهغه کارچی په شریعت کی ناخوښه وی اوپه اهلِ شرع کی نااشنا اونامعلوم وی امربالمعروف دهری یوی نیکی حکم اوترغیب ته شامل دی چی په دی کی دمظلوم کومك حاجتمندو لره قرض ورکول بی لاری سوی ته لارښوول اونور ټول کارونه داخل دی اوصدقه اودخلګوپه مینځ کی روغه راوستل هم که څه هم چی په دی کی داخل دی لیکن دوی یی په تخصیص سره جلا څکه بیان کړه چی ددی دواړو شیانو نفع متعدی ده، یعنی نوروته رسیږی ، اوپه دی سره دملّت اجتماعی ژوند برابریږی.

دارنګه دادواړه کارونه دخلګودخدمت دوه خاص بابونه دی، یودالله ﷻ مخلوق ته نفع رسول ، دوهم دضرر دفع کول ، یعنی خلګ دتکلیف او رنځ څخه خلاصول ، صدقه دنفع رسولو یو مهم عنوان دی او اصلاح بین النّاس ، دالله ﷻ مخلوق دضرر اونقصان څخه دخلاصولو مهم عنوان دی، په دی وجه دتفسیر دجمهورو علماؤ قول دی چی دلته صدقه عامه ده چی زکوٰة اوواجبی صدقی هم په کښی شاملی دی اونفلی صدقی هم اوهره نفع چی چاته ورسول سی.

دصلحِ کولو فضیلت: دخلګودیوه اوبل په مینځ کی دخفګانونو لیری کولو اوددوی په مینځ کی دصُلح اوموافقت پیداکولو متعلق دنبی کریم ﷺ ارشادات داهم دی ، دی ﷺ فرمایی.

(آیازه تاسی ته داسی کار ونه ښیم چی دهغی درجه تر روژی، لمانځه اوصدقی ټولو بهتره ده ؟ اصحابو ﷡ عرض وکی ، ضرور یی را وښیی ، ده ﷺ وفرمایل چی دغه کار اصلاح ذات البین دی ، یعنی چی ددو کسانو په مینځ کی خفګان پیداسی نو هغه لیری کول اوصلح کول اوفساد ختمول)

دارنګه نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی ، فَسَادُ ذَاتِ الْبَیْنِ هِیَ الْحَالِقَةُ یعنی دخلګوپه مینځ کی جګړه اوفساد خروونکی دی ، بیایی ددی وضاحت داسی وفرمایی چی داجګړه سرنه خروی بلکه دانسان دین خروی.

دآیت په آخرکی یی یومهم مضمون دا ارشاد وفرمایی ، چی دانیکی صدقه اوامر بالمعروف ، اواصلاح بین الناس هغه وخت معتبراو مقبول کیدی سی ، کله چی دا په اخلاص سره محضی دالله ﷻ درضا دحاصلولو دپاره وسی ، په دی کی کوم خپل نفسانی غرض اومقصد شاملول نه وی.

اجماع داُمّت حُجّت دی: وَمَن یُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِنم بَعْدِ مَا تَبَیَّنَ لَهُ الْهُدٰی الخ آیت (۱۱۵) په دی آیت کی یی ددوو شیانو لوی جرم بیان کی اودجهنّم دننوتو سبب یی وښووی ، یومخالفت درسول ﷺ اودابنکاره خبره ده چی درسول ﷺ مخالفت کُفر اولوی تاوان دی ، دوهم په کوم کار چی ټول مسلمانان متفق وی هغه پریښوول او ددی څخه خلاف ځان ته بله لار اختیارول ، ددی څخه معلومه سوه چی اجماع داُمّت حُجّت دی ، یعنی لکه څنګه چی دقرآن اوحدیث په بیان کړو حکمونو باندی عمل کول واجب دی ، دغه ډول داُمّت اتفاق چی په کړم شی باندی وسی په هغه هم عمل کول واجب دی اوددی مخالفت کول لویه ګناه ده لکه چی نبی کریم ﷺ په یوه حدیث کی ارشاد فرمایلی دی ، یَدُ اللهِ عَلَی الْجَمَاعَةِ مَنْ شَذَّ شُذَّفِی النَّارِ یعنی دجماعت (ټولی) په سرباندی دالله ﷻ لاس دی اوکوم سړی چی دمسلمانانو دجماعت څخه جلاسودی په

Maktaba Tul Ishaat.com

جلا جهنم ته وغورځول سي.

دامام شافعي رحمه الله څخه چا پوښتنه وکړه چي آیا داجماع دامّت دحجّت کیدو دلیل په قرآن کریم کي سته؟ ده رحمه الله دقرآن څخه ددلیل معلومولو دپاره دري ورځي پرلپسي دقرآن شریف تلاوت معمول جوړکی هره ورځ به یې دري واره دورځي او دري واره دشپي قرآن شریف ختموی په آخرکي همدا ذکرسوی آیت یې په ذهن کي راغی او دایې دعالمانو په مخکي بیان کی نو ټولو اقرار وکی چي په اجماع دامّت دا دلیل کافي دی

إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ ۚ وَمَن يُشْرِكْ

بیشکه الله نه بخښي هغه څوك چي دهغه سره شریك کړي یو څوك او بخښي ددې څخه ماسوا چاته چي غواړي

بِاللَّهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا ﴿١١٦﴾ إِن يَدْعُونَ مِن دُونِهِ

او چاچي شریك جوړکی الله لره ، هغه ګمراه سو ډیرلیري ولاړی ، دالله څخه ماسوا بلې مګر ښځي

إِلَّا إِنَاثًا وَإِن يَدْعُونَ إِلَّا شَيْطَانًا مَّرِيدًا ﴿١١٧﴾ لَّعَنَهُ اللَّهُ ۘ وَقَالَ

او نه بولي مګر شیطان سرکښ ، په چاچي لعنت کړی دی الله او وویل

لَأَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ﴿١١٨﴾ وَلَأُضِلَّنَّهُمْ وَ

شیطان چي خامخا وابه خلم ستا دبندګانو څخه حصه مقرره ، او دوی به وغولوم

لَأُمَنِّيَنَّهُمْ وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ آذَانَ الْأَنْعَامِ وَلَآمُرَنَّهُمْ

اودوی ته به آرزوګاني ورکوم او دوی ته به ورښیم چي څیری کړي غوږونه ذحیوانانو اودوی ته به ورښیم

فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللَّهِ ۚ وَمَن يَتَّخِذِ الشَّيْطَانَ وَلِيًّا مِّن دُونِ

چي بدلوی صورتونه دالله جوړ سوی او څوك چي جوړ کړي شیطان دوست ما سوا

اللَّهِ فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَانًا مُّبِينًا ﴿١١٩﴾ يَعِدُهُمْ وَيُمَنِّيهِمْ ۖ وَمَا

دالله څخه نو دی پریوت په ښکاره نقصان کي ، دوی ته وعده ورکوی او آرزوګاني ورکوی او څه

يَعِدُهُمُ الشَّيْطَانُ إِلَّا غُرُورًا ﴿١٢٠﴾ أُولَٰئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَلَا

وعده چي ورکوی دوی ته شیطان نو ټول فریب دی ، د داسي خلقو ټیکانه دی دوږخ او نه

Maktaba Tul Ishaat.com

يَجِدُونَ عَنْهَا مَحِيصًا ﴿١٢١﴾

به كي پيدا دهغه څخه يوځاى دتيښتي ځاى

اندتفسير پښكه الله ﷻ داخبره (ترسزا وركولو وروسته هم) نه بخښي چي دده سره څوك شريك جوړكړي (بلكه په هميشه سزاكي به يي اخته ساتي) اوددي څخه ماسوا چي څومره ګناهونه دي (كه كوچني وي اوكه لوى) چادپاره چي يي خوښه سي (بي له سزا) هغه ګناه به وبخښي (البته كه مشرك مسلمان سي نوبيامشرك پاته نه سو ځكه اوس هغه هميشه سزاهم ولاړه پاته نه سوه) او (وجه ددي شرك دنه بخښلو دا ده چي) كوم سړي دالله ﷻ سره (يوڅوك) شريك جوړوي دي (دحق كارڅخه) ډيرليري په ګمراهي كي ولويدي (دغه حق كارتوحيد دي چي عقلاً هم واحب دي اودكار جوړوونكي تعظيم دهغه دحقونو څخه دي، نومشرك دهغه ذات صانع اوجوړوونكي سپكاوي وكړي، نوپه دي وجه ددي سزابه مستحق وي، په خلاف دنورو ګناهونو څخه چي هغه ګمراهي خوده، مګردتوحيد خلاف اوبعيده ورڅخه نه ده، په دي وجه دمغفرت قابله مقرره سوه اودشرك په شان بل قسم كفرهم په نه قابل والي كي دمعافي شريك دي ځكه چي په دي كي هم انكار وي دخالق ديوي ښوو' سوي خبري ، نوهغه دده دصدق دصفت څخه انكار كوي ، اوځيني كافران په خپله دالله ﷻ دذات څخه منكردي، ځيني يي ديوه صفت څخه منكردي اوځيني يي دذات اوصفاتو دواړو څخه منكردي اوپه دي كي .ي دهريوه څخه انكار وي نودادتوحيد څخه انكار اودده څخه ليري والي دي، نوكفر اوشرك دواړه دمعافي قابل نه دي، مخ ته دمشركانو بي عقلي ددوى په مذهبي طريقه كي بيانوي چي) دا (مشركان) خلګ خداى ﷻ پريږدي (يوځو) يوازي ديوڅو زنانه شيانو عبادت كوي او (بل) يوازي دشيطان عبادت كوي كوم چي د(خداى ﷻ د) حكم څخه وتلى دي (او) څوك چي (ددي بي حكمي په وجه) خداى ﷻ دخپل (خاص) رحمت څخه ليري كړى دي اوچاچي (كوم وخت چي دخاص رحمت څخه ليري اوملعون سو) داسي ويلي وه (چي په دي سره دده دښمني ښكاره معلوميږي) چي زه (دپوره كوشش كولو اراده لرم چي) ضروربه ستادبندګانو څخه خپله حصه دعبادت اخلم او (ددى حصي تفصيل دادي چي) زه به دوى (په عقيدوكي) ګمراه كوم اوزه به دوى ته (په خيالاتوكي) هوسونه وركوم (چي په دي سره به ګناه ته مېلان كوي اوضررته به يي نه ګوري) اوزه به دوى ته (دبدو عملونوكولو) تعليم وركوم چي دوى به د (بتانوپه نامه د) حيوانانو غوږونه پري كوي (اودادكفر كارونه دي) اوزه به دوى ته (نورهم) تعليم وركوم چي دوى به په دي سره دالله ﷻ جوړسوي صورتونه خرابوي (اودادفسق كارونه دي لكه ږيره خرَيل اوكوچني كول، پربدن باندي په ستنوسره خالونه وهل اوداسي نور) اوكوم سړي چي الله ﷻ پريږدي شيطان خپل ملګري جوړوي (يعني دخداى ﷻ حكم نه مني اودشيطان حكم مني) دغه (سړى) په ښكاره نقصان (اوزيان) كي واقع سو (دغه تاوان جهنم ته رسيدل دي) شيطان دهغه خلګوسره (دعقيدو په اړوند ددرواغو) وعدي كوي (چي تاسي بي فكره اوسي، نه حساب سته اونه كتاب) او (په خيالاتوكي) هغوى ته هوسونه وركوي (چي په دي ګناه كي داسي خونددي اوپه دي حرامه ذريعه كي دومره آمدني ده اودشيطاني كارونو وجود اوعبث والي اوضررخوپه خپله ښكاره دي)

Maktaba Tul Ishaat.com

اوشیطان دهغوی سره یوازی درواغ (اوفریبناکی) وعدی کوی (ځکه چی په واقع کی حساب اوکتاب حق دی اودده دهوسونو فریب ډیر ژر ښکاره کیږی) ددا سی خلګو (څوك چی دشیطان پرلاره ځی) ټیکانه جهنم دی (اودهغه ښکاره تاوان هم دادی) اوددی (جهنم) څخه به هیڅکله دخلاصیدو ځای پیدانه کړی (چی هلته ولاړسی اوپناه واخلی)

معلومات اومسئلي: دآیتونو تړون: لوړ دجهاد په ذکر کی که څه هم توله داسلام مخالفین داخل دی ، لیکن حالات تر اوسه پوری دیهودو اونصاراؤ اومنافقانو بیانیدل او په مخالفینو کی یوه ډله بلکه ترنورو زیاته دمشرکانو وه ، مخ ته اوس د دوی دعقیدو حال او دبدوالی طریقه او د دوی دسزا ذکردی اوپه دی مقام باندی داځکه زیاته مناسبه سوه چی لوړدکم غله واقعه ذکرده ، په دغه کی داخبره هم ده چی ډغه غل مُرتدوو نو ددی څخه دده ددائمی سازحال معلوم سو (بیان القرآن)

اولنی آیت یعنی . اِنَّ اللّٰهَ لَا یَغْفِرُ اَنْ یُّشْرَكَ بِهٖ وَیَغْفِرُ مَادُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ یَّشَآءُ الخ دسوره نسآء په شروع کی هم په دی الفاظو سره راغلی دی ، فرق یوازی دا دی چی هلته په ختمیدو د آیت باندی ، وَمَنْ یُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدِ افْتَرٰی اِثْمًا عَظِیْمًا راغلی دی اودلته وَمَنْ یُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا بَعِیْدًا دی ، دفرق وجه یی دتفسیر دامامانو دوضاحتونو مطابق دا ده چی داولنی آیت مخاطبین سیده په سیده یهود اهل کتاب وه ، دوی ته دتورات په ذریعه دتوحید حقوالی ، او دشرك باطلوالی او دنبی کریم ﷺ برحق نبی کیدل هرڅه معلوم وه، اوددی سره سره دوی په شرك کی مبتلا سوه، نوګویا په خپل عمل سره دوی دا ښکاره کړه چی دتورات داتعلیم دی، اودا سراسر افترآء اوبهتان دی ، په دی وجه دلته ارشاد وسو ، فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا بَعِیْدًا .

دشرك اوكفر دسزا همیشه والي: دلته ځینی خلق داشبهه کوی چی سزا دعمل په قدرپه کارده مشرك او كافر چی کوم جرم دکفر اوشرك کړی دی دایی دعُمر په یوه محدوده موده کی کړی دی نو سزا یی غیر محدوده او دآئمی ولی سوه؟ جواب دا دی چی څوك كفر او شرك کوی نوهغه دا جُرم نه ګڼی بلکه نیکی یی ګڼی ، په دی وجه دده قصد اواراده داوی چی همیشه به پردی حال قآئم وی اوچی کله ترمرګه پوری دی پردی حال قآئم پاته سونو دخپل اختیار ترحده پوری ده همیشه جُرم وکی نو په دی وجه دده سزاهم همیشه سوه.

دظلم دری قسمونه: دظلم یوقسم هغه دی چی الله ﷻ به یی هیڅکله ونه بخښی، دوهم قسم هغه دی چی دهغه بخښنه به وسی او دریم قسم هغه دی چی دهغه بدله الله ﷻ بغیر داخیستو څخه نه پریږدی ، اول قسم ظلم شرك دی، دوهم قسم ظلم دالله ﷻ په حقونوکی کوتاهی کول دی اودریم قسم ظلم دبندګانو دحقونو مخالفت کول دی ، ابن کثیر بحواله مسند بزار .

دشرك حقیقت: دشرك حقیقت دالله ﷻ څخه ماسوا یو څوك مخلوق په عبادت یامحبّت یا تعظیم کی دالله ﷻ برابرګڼل دی قرآنکریم دمشرکانو هغه خبری کومه چی به دوی جهنّم ته په رسیدوسره وایی ،نقل کړی ده .

تَاللّٰهِ اِنْ كُنَّا لَفِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ۝ اِذْ نُسَوِّیْكُمْ بِرَبِّ الْعٰلَمِیْنَ .

قسم دی په خدای ﷻ چی مونږ په ښکاره ګمراهی کی وو ، کله چی مونږ تاسی دالله رب العالمین ﷻ سره برابر مقرر کړی واست .

ښکاره خبره ده چی دمشرکانو دا عقیده خو نه وه چی زمونږ داجوړی سوی ډبری ددی جهان پیدا کوونکی

Maktaba Tul Ishaat.com

اومالکان دی ، بلکه دوی دنورو غلط فهمیو په وجه دوی په عبادت کی یامحبت اوتعظیم کی دالله ﷻ سره برابر مقرر کړی وه ، دغه وجه وه چی دوی یی جهنّم ته ورسول (فتح الملهم)

معلومه سوه چی دالله ﷻ په خاصو صفتونو خالق ، رازق ، قادرمطلق په پتو اوښکاره وو عالم اونورو کی یوڅوك دالله ﷻ سره برابر ګڼل شرك دی (یاالله ﷻ مونږ دهر قسم شرك څخه په امان کړی . آمین)

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ

اوکوم خلق چی ایمان راوړی اوعمل وکړی نیك دوی به مونږ داخل کړو باغونو ته چی لاندی به تربهیږي نهرونه

اَبَدًا ؕ وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ؕ وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ قِيْلًا ﴿۱۲۲﴾ لَيْسَ

اوسیږي به په دی کی همیشه وعده ده دالله رښتینی ، اودالله څخه زیات رښتینی څوك دی ، نه مدار

بِاَمَانِيِّكُمْ وَلَآ اَمَانِيِّ اَهْلِ الْكِتٰبِ ؕ مَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا يُّجْزَ بِهٖ ۙ وَ

ستاسی په امیدونودی او نه داهل کتابو په امیدونو دی ، څوك چی بدکار وکړی دهغه سزا به پیدا کی

لَا يَجِدْ لَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۱۲۳﴾ وَمَنْ يَّعْمَلْ

اوبیا به نه کی پیدا دالله څخه ماسوا خپل څوك حمایتی کونکی اونه مددګار ، اوڅوك چی وکړی

مِنَ الصّٰلِحٰتِ مِنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ

نیك کار سړی وی اوکه ښځه اودی مؤمن وی نو دغه به داخلی سی

الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُوْنَ نَقِيْرًا ﴿۱۲۴﴾ وَمَنْ اَحْسَنُ دِيْنًا مِّمَّنْ اَسْلَمَ

جنت ته اوددوی حق به ضائع نه سی دخاشی په اندازه ، او دده څخه ښه دچا دین دی چاچی وسپاری ځان خپل

وَجْهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ وَّاتَّبَعَ مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ؕ وَاتَّخَذَ

الله ته او دی نیك کارونه کوی او روان سو په دین دابراهیم چی یو طرف ته وو اوجوړکړی دی

اللّٰهُ اِبْرٰهِيْمَ خَلِيْلًا ﴿۱۲۵﴾ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ

الله ابراهیم ؈ خالص دوست ، اوخاص الله لره دی هغه چی په آسمانونو کی دی او هغه چی په مځکه کی دی

وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيْطًا ﴿۱۲۶﴾

اوټول شیان دالله په قبضه کی دی

تفسیر: او کوم خلک چې ایمان راوړی او (دوی) نیک کارکوی مونږبه دوی داسې ژرداسې باغونوته داخل کړو چې دهغه (ترمحلونو) لاندې به نهرونه بهیږی، هغوی به دې کې همیشه همیشه اوسی خدای ﷻ ددی وعده فرمایلې ده اوریښتینی وعده یې فرمایلې ده اوتر خدای ﷻ به زیاته صحیح دچاخبره وی ، نه ستاسی په آرزوګانو کیږی اونه داهل کتابو په آرزوګانو (چې خالی په ژبه سره خپل ښه والی بیانوی ، بلکه کار په حکم منلو کیږی نو) کوم سړی چې (په حکم منلوکې کمې کوی او) څه بدکار وکړی (برابره خبره ده که په عقیده سره وی اوکه په عمل سره) ده ته به ددی په بدله کې سزاورکړه سی (که دغه بدی دکفر ترعقیدې پورې وی نوسزایې همیشه اویقینې ده اوکه تردې کمه وی نوسزابه یې همیشه نه وی) اودې سړی ته به دخدای ﷻ څخه ماسوا نه بل څوک دوست پیداسی اونه بل کومکی (چې دخدای ﷻ دعذابه څخه دې خلاص کړی) اوڅوک چې کم نیک کار کوی برابره خبره ده که هغه سړی اوکه ښځه په دې شرط چې مؤمن وی، نوداسې خلک به جنت ته داخل سی اوپرهغوی به یوه ذرّه ظلم هم نه وی (چې د دوی کومه نیکی ضائع کړل سی) او (لوړچې دمؤمن کیدو کوم قیدلګول سوی دی ، ددې مصداق هره فرقه نه ده، بلکه یوازې هغه فرقه ده دچادین چې دخدای ﷻ په نزد په قبلیدو کې ترټولو ښه وی، اوداسې فرقه یوازې مسلمانان دی چې دلیل یې دادی چې په دوی کې داصفتونه دی ، مکمل حکم منل ، اخلاص، دابراهیمی دین پیروی کول او) دداسې سړی (تردین) به زیات ښه دچادین وی، چې خپل مخ دالله ﷻ طرف ته کښته کړی (یعنی فرمانبرداری یې اختیار کړې وی، په عقیدوکې هم اوپه عملونوکې هم) او (ددی سره) هغه مخلص هم وی (چې په زړه سره یې فرمانبرداری اختیار کړې وی، تش په مصلحت سره ښکاره کول نه وی) اوهغه دملّتِ ابراهیم (یعنی اسلام) تابعداری کوی چې په دې کې دکوږوالی نوم نسته او (ملّتِ ابراهیمی خامخا دتابعداری قابل دی ځکه چې) الله ﷻ ابراهیم ﷺ خپل خالص دوست جوړکړی وو (نو ښکاره خبره ده چې د دوست په طریقه تلونکی هم محبوب اومقبول وی ، نو داسلام طریقه مقبوله سوه ، نو دمؤمنانو لقب خاص دمسلمانانو سو، اونورو فرقو دحضرت ابراهیم ﷺ پیروی پریښوولې چې اسلام یې رانه وړی ، نو په دې وجه یوازی مسلمانان داسې ثابت سوه چې دوی یوازی آرزوګانی نه کوی بلکه حکم منونکی دی ، نو کار اوخبره به ددوی صحیح وی) او (دالله ﷻ مکمله فرمانبرداری ضروری ده، ځکه چې دهغه حکومت اوقدرت اودهغه هرڅه لره تصرف کوونکی علم دواړه پوره اومکمل دی اوداکارونه داطاعت واجبوونکی دی نو) دالله ﷻ په ملکیت کې دی څه چې په آسمانونو کې دی اوڅه چې په مځکه کې دی (داخویې کمال دسلطنت سو) اوالله ﷻ ټول شیان (په خپل علم کې) راګیرکړی دی (دایی دعلم کمال سو)

معلومات اومسئلې

(دمسلمانانو او اهلِ کتابو په مینځ کې پر یوه او بل دفخر خبری)

لَیْسَ بِاَمَانِیِّکُمْ وَلَآ اَمَانِیِّ اَهْلِ الْکِتٰبِ الخ په دې آیتونوکې اول دیوی محاوری اوخبرو اترو ذکر دی چې د مسلمانانو اواهلِ کتابوپه مینځ کې سوی وی اوبیا پردې خبرواترو باندې حکیمانه فیصله ده ، دواړو فرقوته دهدایت صحیح لار وښوول سوه ، په آخرکې یې دالله ﷻ په نزد دمقبول کیدو اوبهتره کیدو

Maktaba Tul Ishaat.com

يومعيار وښووي چې كه دامخ ته كښېښوول سي نوهيڅكله به انسان په غلطۍ اوګمراهۍ كې اخته نه
سي ، حضرت قتادة ﷺ فرمايي چې يووخت ديوڅو مسلمانانو اواهلِ كتابوپه مابينځ كې پريوه اوبل
دفخر خبرې شروع سوې اهلِ كتابو وويل چې مونږ ترتاسي بهتره اوشريف يو. ځكه چې زمونږ نبي
ستاسي ترنبي مخكې او زمونږ كتاب ستاسي تركتاب مخكې دی ، مسلمانانو وويل چې مونږ ترتاسي
بهتره يو ځكه چې زمونږ نبي ﷺ خاتم النبيّين دی اوزمونږ كتاب آخرې كتاب دی چې مخكني ټول
كتابونه يې منسوخ كړي دي ، پردې باندې دا آيت نازل سو.
لَيْسَ بِأَمَانِيِّكُمْ وَلَا أَمَانِيِّ أَهْلِ الْكِتَابِ الخ يعني دافخر اوتعلق هيڅالره نه ښايي اومحضې په خيالاتو، آرزوګانو
اودعوو باندې څوك پربل څا بهتره كيدې نه سي ، بلكه مدار په عملونو دی ، دڅانبې كه هرڅومره
افضل او شريف وي اوكتاب يې چې هرڅومره غوره اوشريف وي خوكه دې عمل غلط كوي نو داسې
سزابه ويني چې دده خلاصونكی به هيڅوك نه وي.
دا آيت چې كله نازل سو نوپه صحابه كرامو ﷺ باندې ډېره ګرانه سوه ، امام مسلم، ترمذي، نسآئي
اوامام احمد دحضرت ابوهريرة ﷺ څخه داروايت نقل كړی دی چې دې فرمايي ، كله چې دا آيت نازل سو
مَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا يُّجْزَ بِهٖ (يعني څوك چې څه بدي كوي دهغه سزابه وركول كيږي) نومونږ په سخت غم اوفكر كې
ولويدو او نبي كريم ﷺ ته موعرض وكی ، چې دې آيت خوهيڅ پاته نه كړه ، كه لږه غوندې بدي هم وي خو
سزا به يې ور رسيږي ، نبي كريم ﷺ وفرمايل چې فكر مه كوئ ، دخپل طاقت اوقدرت مطابق عمل كوئ
ځكه (دكومې سزا چې دلته ذكر دی ، ضروري نه ده چې دغه دې دجهنّم سزا وي بلكه) تاسي ته په دُنياكې
هم چې څه تكليف يامصيبت درپيښيږي داستاسي دګناهونو كفاره اودبدي جزا وي ، تر دې چې كه دڅا
په پښو كې څوز ننوزي نودغه هم دګناه كفاره ده ، اوپه يوه روايت كې دي چې مسلمان ته په دُنياكې چې
هرڅه غم ياتكليف ياناجوړي ياڅه فكر ورپيښيږي، دادده دګناهونو كفاره كيږي جامع ترمذي او تفسير
ابن جرير اونورو دحضرت صديق اكبر ﷺ څخه روايت كړی دی چې نبي كريم ﷺ چې كله دا آيت ، مَنْ يَّعْمَلْ
سُوْٓءًا يُّجْزَ بِهٖ : ده ته واوروی نو په ده داسې تاثير وسولكه چې ملا يې ماته سوې وي ، نبي كريم ﷺ چې دا
تاثير وليدی نووې فرمايل څه خبره ده؟ نوحضرت صديق اكبر ﷺ عرض وكی يارسول الله ﷺ ! په مونږ كې
څوك داسې دی چې هغه به څه بدي نه وي كړې اوكله چې دهرې بدي سزا وركول كيږي نو په مونږكې به
څوك خلاص سي؟ حضور ﷺ وفرمايل اې ابوبكره ﷺ ! ته اوستا مؤمنان ورونه دې هيڅ فكرنه كوي ځكه
چې ددنيا دتكليفونو په ذريعه به ستاسي دګناهونو كفاره وسي.
په يوه روايت كې دي چې حضور ﷺ وفرمايل ، آياتاسې ناجوړه كيږي نه ؟ آياتاسې ته كوم مصيبت اوغم
نه رسيږي؟ صديق اكبر ﷺ عرض وكی ، بيشكه دا ټولې خبرې را رسيږي ، نوحضور ﷺ وفرمايل ، بس دا
سزاده ستا دګناهونو ، اودحضرت عآئشې ﷺ په يوه حديث كې دي چې ابوداؤد اونورو روايت كړی دی
چې بنده ته تبه ياتكليف ورسيږي يايې څوز په پښه ورننوزي نو دده دګناهونو كفاره كيږي ، تردې چې
يو سړی خپل څه شی په يوه جيب لټوي ، مګر هغه په بل جيب كې پيدا سي په دومره تكليف به هم دده
دګناهونو كفاره كيږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډه دا چې دی آیت مسلمانانوته هم دانښوونه کړیده، چې محضې په دعوو او آرزوګانو کې مه اخته کیږئ، بلکه دعمل فکر کوئ ځکه چې کامیابي یوازې په دې سره نه ده چې تاسې دفلاني نبي یافلاني کتاب نوم اخیستونکي یاست، بلکه اصلي کامیابي په دې کې ده چې په دې صحیح ایمان راوړې او ددې مطابق دنیکو عملونو پابند اوسې، ارشاد دی.

وَمَنْ يَعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ مِنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُوْنَ نَقِيْرًا.

یعنې کوم سړی یاښځه چې نیک عمل وکړي په دې شرط چې ددې عمل سره دده ایمان هم وي نوخامخا به جنت ځي اوده ته به دعملونوبدله پوره پوره وررسیږي چې یوه ذره کمی به هم په کښې نه کول کیږي.

په دې کې یې اشاره وفرمایله چې داهلِ کتابویانورو غیر مسلموکه عملونه نیك هم وي، خوکله چې ددوی ایمان صحیح نه دی په دې وجه هغه عمل مقبول نه دی اودمسلمانانو چې کله ایمان هم صحیح دی اوعمل یې هم نیك دی په دې وجه دوی کامیاب دي اوترنورو افضله دي.

(دالله ﷻ په نزد دمقبولیّت یو معیار)

په دریم آیت کې یې دالله ﷻ په نزد دښه والي اوقبول والي یومعیار وښووی چې په دې سره ددې خبرې صحیح فیصله کیدی سی چې څوك مقبول دي اوڅوك مردود، ددې معیاردوه جزءونه دي، نوکه په دې دواړوکې په یوه جزء کې خلل راسی نوټول کوشش به عبث اوضائع سی اوکه فکر وکړل سي نو په دنیاکې په هرځای کې چې هم څه ګمراهي یاغلط کاری ده هغه په دې دوو جزونوکې دیوه جُز دتاواني کیدو څخه پیداکیږي، که دمسلمانانو اوغیر مسلمانانو موازنه کوی یاپه خپله دمسلمانانو په فرقو، ډلو اوپارټیو کې مقابله وکړل سی نومعلومه به سی چې همدا دوی نقطې دي چې په دوی کې دیوی څخه یوی خواته کیدل اولیری کیدل انسان دذلت او ګمراهي په کنده کې اچوی، ارشاد یې وفرمایي.

وَمَنْ اَحْسَنُ دِيْنًا مِّمَّنْ اَسْلَمَ وَجْهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ وَّاتَّبَعَ مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا وَاتَّخَذَ اللّٰهُ اِبْرٰهِيْمَ خَلِيْلًا.

یعنې ترهغه سړي ښه دبل چاطریقه نه سی کیدی چې په کې دوې خبرې پیداسي یو، اَسْلَمَ وَجْهَهٗ لِلّٰهِ یعنې خپل ذات الله ﷻ ته وسپاري دریا کاری یادُنیاجوړولو دپاره نه بلکه په اخلاص سره دالله ﷻ دراضي کولو دپاره عمل کوي.

دوهم: وَهُوَ مُحْسِنٌ یعنې هغه عمل هم په صحیح طریقه سره کوي، امام ابن کثیر رحمه الله په خپل تفسیر کې فرمایي چې په صحیح طریقه سره دعمل کولو مطلب دا دی چې دده عمل محضې دځانه په جوړه سوي طریقه باندي نه وي، بلکه دپاك شریعت پر ښوول سوي طریقه باندي وي، دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ دښوونې مطابق وي.

ددې څخه معلومه سوه چې دالله ﷻ په نزد دیوه عمل دقبلیدودوه شرطونه دي، یو اخلاص او دوهم دعمل صحیح والی یعنې چې دشریعت اوسنّت مطابق وي، په دې دوو شرطونو کې داولني شرط اخلاص، تعلق دانسان دزړه سره دی اوددوهم شرط یعنې دشریعت دمطابق والي تعلق دانسان دظاهر سره دی کله چې دادواړه شرطونه چاپوره کړل نودده ظاهر اوباطن صحیح سو اوکله چې په دوی کې یو شرط پوره نه سو نو عمل فاسد سو، که اخلاص نه وو نوعمل دمنافق سواوکه دشریعت تابعداري نه وه

Maktaba Tul Ishaat.com

نو گمراه سو (مطلب دا سو چې دا دواړه شرطونه دالله ﷻ په نزد دښه والي او مقبول والي دپاره لازمي دي

(دقومونو دګمراهي سبب داخلاص یا دعمل دصحیح والي نیستي کیدل دی)

دقومونو اومذهبونو په تاریخ که نظروا چوی نو معلومه به سی چی څومره بی لاری فرقی اوقومونه چی په دُنیا کی دی، په چاکی اخلاص نسته اوپه چاکی دعمل صحیح والی نسته ، دا دوی ډلی دی چی د دوی ذکر په سورهٔ فاتحه کی دصراط مستقیم څخه دبی لارو سووپه سلسله کی د مَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ او ضَالِّيْنَ په لفظونو سره بیان سوی دی مَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ هغه خلګ دی چی اخلاص په کی نسته او ضَالِّيْنَ هغه دی دچاچی عمل صحیح نه دی ، اولنی ډله په شهواتو خواهشاتو کی راګیره ده اودوهمه په شبهاتو کی داولنی شرط یعنی داخلاص ضرورت او دده دنشتوالی په صورت کی دعمل په بی کاره کیدوخو په ځ طورسره هر سړی پوهیږی، لیکن دعمل صحیح واله یعنی دشریعت دتابعداری شرط ته ډیر مسلمانان هیڅکله خیال هم نه کوی، داسی ګڼی چی نیك عمل هرڅنګه چی کوی کوه یی، حال دادی چی قرآن اوسنّت ښه واضحه کړی ده چی دعمل صحیح والی پوازی دنبی کریم ﷺ په تعلیماتواودسنّتو په تابعداری باندی موقوف دی تردی کمول هم جُرم دی اوزیاتول هم جُرم دی لکه دماپښین دڅلورو رکعتونو په ځای دری کول جُرم دی ، دغه ډول پنځه کول هم دغسی جُرم اوګناه ده ، په یوه عبادت کی چی کوم شرط الله ﷻ او دهغه رسول الله ﷺ لګولی وی ، په دی کی دخپل طرف څخه دشرطونو زیاتول ، یا دهغوی دښوول سوی شکل اوصورت څخه مختلف صورت اختیارول داټول ناجآئز اودعمل دښه والی څخه خلاف دی ، برابره خبره ده که په ظاهرکی هرڅومره ښه په نظر راسی ، بدعتونه اونوی کارونه کوم ته چی نبی کریم ﷺ ګمراهی ویلی دی او ددی څخه یی دځان ساتلو تاکید فرمایلی دی هغه ټول ددی قسمه څخه دی ، جاهلان دا ښه په اخلاص سره دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ دخوشحالولو اوعبادت او ثواب ګڼلو په جوړ سره کوی ، مګر په شریعت محمّدی ﷺ کی دده داعمل ضآئع بلکه واجبوونکی دګناه وی ، په دی وجه قرآنکریم وار وار دصحیح عمل یعنی دسنتو دتابعداری تاکید فرمایلی دی په سورهٔ مُلك کی دی ، لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلاً دلته یی ، اَحْسَنُ عَمَلاً وفرمایل اَكْثَرُ عَمَلاً یی ونه فرمایل یعنی دعمل د ډیروالی ذکرنسته، بلکه دښه عمل کولو ذکردی اوښه عمل هغه دی چی دنبی کریم ﷺ دسنتومطابق وی دقرآن کریم په یوه بل آیت کی یی داښه عمل اود نبی کریم ﷺ دسنتو تابعداری په دی الفاظوسره تعبیر فرمایلی ده ، وَمَنْ اَرَادَ الْاٰخِرَةَ وَسَعٰى لَهَا سَعْيَهَا یعنی سعی اوعمل دهغوخلګو مقبول دی چاچی نیت هم خالص دآخرت کړی وی اودهغه دپاره سعی هم کوی اوکومه سعی چی کوی هغه مناسبه هم وی اومناسبه سعی هغه ده چی ددی بل نوم حُسنِ عمل (یعنی صحیح عمل) دی کوم چی په دی آیت کی ذکر دی لنډه دا ده چی دالله ﷻ په نزد دیوه عمل دمقبول کیدو دوه شرطونه دی اخلاص اوحُسن عمل ، اوحُسنِ عمل نوم دی د نبی کریم ﷺ دسنتو دتابعداری ، په دی وجه په اخلاص سره دحُسنِ عمل کوونکو داهم فرض دی چی دعمل کولو څخه مخکی دامعلومه کړی چی نبی کریم ﷺ داعمل څنګه کړی دی او ددی په اړوند هغه څه ښوونی کړی دی زمونږ کوم یو عمل چی دسنت دطریقی څخه واوری هغه نامقبول دی، په لمانځه، روژه، حج، زکوٰة صدقو ، خیراتونو ، دالله ﷻ په ذکر او درود اوسلام ټولوکی ددی لحاظ ساتل

Maktaba Tul Ishaat.com

ضروري دي چې نبي کریم ﷺ دا عمل څنګه کړی دی او دڅنګه کولو ارشادیې فرمایلی دی ، دآیت په آخر کې یې داخلاص او حُسنِ عمل یو مثال دحضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ پیش کړی دی او دهغه دتابعداری حکم یې ورکړی دی او وَاتَّخَذَ اللّٰهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا یې وفرمایل او دی طرف ته یې اشاره وکړه چې دحضرت خلیل الله ﷺ ددی لوړ مقام سبب دادی چې هغه مُخلص هم داعلی درجې وو او دهغه عمل هم دالله ﷻ په اشارو سره صحیح او دُرست وو .

وَيَسْتَفْتُونَكَ فِي النِّسَاءِ ۖ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيكُمْ فِيهِنَّ ۙ وَمَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ فِي يَتَامَى

اوستاڅخه رخصت غواړی دښځو په نکاح کې ، ووایه چې الله تاسی ته اجازه درکوی د دوی او هغه چې تاسی ته اورول کیږي په قرآن کې نو حکم دی ددې یتیمانو ،

النِّسَاءِ اللَّاتِي لَا تُؤْتُونَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُونَ أَنْ

ښځو په باره کې کومو ته چې تاسی نه ورکوی کوم څه چې د دوی دپاره مقرر سوی دی او غواړی چې د دوی سره

تَنْكِحُوهُنَّ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الْوِلْدَانِ ۙ وَأَنْ تَقُومُوا

نکاح وکړی او حکم دی کمزورو هلکانو اودا چې قائم وسیږي

لِلْيَتَامَىٰ بِالْقِسْطِ ۚ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِهِ

دیتیمانو په حق کې په انصاف سره ، او څه چې کوی نیکی نو هغه الله ته معلومه ده ،

عَلِيمًا ﴿۱۲۷﴾ وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا

او که یوه ښځه وبیریږي دخاوند دجنګ څخه یا دمخ اړولو څخه

فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا ۚ وَالصُّلْحُ خَيْرٌ ۗ

نو هیڅ ګناه نسته په دواړو چې وکړی په خپل مینځ کې په څه شان صلح ، صلح ښه شی دی

وَأُحْضِرَتِ الْأَنْفُسُ الشُّحَّ ۚ وَإِنْ تُحْسِنُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللّٰهَ

او زړونو ته حرص مخکې سوی دی او که تاسی نیکی کوی اوپرهیزګاری کوی نو الله ﷻ

كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿۱۲۸﴾ وَلَنْ تَسْتَطِيعُوا أَنْ تَعْدِلُوا بَيْنَ

ستاسی په ټولو کارونو خبر دی ، تاسی هیڅکله برابر نه سی ساتلی

Maktaba Tul Ishaat.com

النِّسَآءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ فَلَا تَمِيلُوا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا

ښځی که څه هم ددې حرص کوی نو بیا هم داسی مه کوېږئ چی پرېږدی يوه

كَالْمُعَلَّقَةِ ۚ وَإِن تُصْلِحُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿۱۲۹﴾

لکه خوړنده ، اوکه اصلاح کوی اوپرهيزگاری کوی نو الله ﷻ بخښنی والامهربانه دی ،

وَإِن يَتَفَرَّقَا يُغْنِ اللَّهُ كُلًّا مِّن سَعَتِهِ ۚ وَكَانَ اللَّهُ وَاسِعًا حَكِيمًا ﴿۱۳۰﴾

اوکه دواړه جلاسی نو الله به هريوبی پرواه کړی په خپله فراخی سره ، اوالله فراخی راوستونکی تدبيروالادی

دآيتونوتړون: دسورة په شروع کی ديتيمانو اوښځو خاص حکمونه اوددوی دحقونو ادا کولو واجبوالی ذکر وو ، څکه چی په جاهليّت کی خوبه ښځو هيڅکله دوی ته ميراث نه ورکوی اوښځوچی به کوم دوی ته په ميراث کی ياپه بل ډول سره رسيده هغه به يی په ناجائزه طريقه سره خوړی ، ښځوبه د دوی سره نکاح وکړه اومهر به يی پوره نه ورکوی، پورته ددی ټولو خبرو څخه منع سوی وه ، پردی باندی مختلف واقعات مخ ته راغله دښځو داخيال سوچی دښځو اودکوچنيانوفی نفسه حق دميراث اخيستونسته دڅه وختی مصلحت په وجه ديوڅو خلگو دپاره داحُکم سوی دی اُميد دی چی منسوخ به سی او ښځی ددی په انتظارکی سوه خوکله چی منسوخ نه سو نو دا مشوره يی وکړه چی په خپله د نبی کريم ﷺ څخه پوښتنه کول په کار دی اوحاضر سول پوښتنه يی ورڅخه وکړه ابن جرير او ابن منذر دآيت دنزول سبب داسوال نقل کړی دی اوتردی په وروستوپه آيتونوکی دښځوپه اړونديوڅونوری مسئلی بيان سوی دی (بيان القرآن)

لنډتفسير: اوخلگ ستا څخه دښځو (دميراث اومهر) په باره کی حکم معلوموی، ته ﷺ ورته وفرمايه چی الله ﷻ په دی باره کی تاسی ته (هغه تير) حکم درکوی او هغه آيتونه هم (تاسی ته حکم کوی) کوم چی (تردی مخکی نازل سوی دی او) په قرآن کی تاسی ته اوروُل کيږی (څکه چی دقرآن په تلاوت کی ښکاره خبره ده چی ددی تلاوت هم کول کيږی) کوم چی دهغه يتيمانو ښځو په باره کی (نازل سوی) دی دکومو (سره چی ستاسی دامعامله ده چی که هغوی دمال خاوندانی اوښايسته وی نونکاح ورسره کوی ، مگر دوی) ته کوم چی (په شريعت کی) د دوی حق (ميراث اومهر) مقرر دی ، نه ورکوی او (که ښايسته نه وی يوازی خاوندانی وی نو) د دوی سره (په وجه دنه ښايسته کيدو) دنکاح کولو څخه نفرت کوی (ليکن دمالداری په وجه ددی بيری څخه چی دامال بل ځای ته ولاړ نه سی دبل سره يی نکاح کولوته نه پريږدی) او (کوم آيتونه چی) دکمزورو کوچنيانو په باره کی (دی) او (کوم آيتونه چی) په دی باره کی (دی) چی ديتيمانو سره (ټول) سلوک (که دمهر ميراث په اړونددی يانورڅه وی) په انصاف سره کوئ (دامضمون دی ددغو تيرو آيتونو، نودغه آيتونه خپل مضمون اوس هم ستاسی پرذمه واجبوی اوحکم يی بعينه باقی دی تاسی دهغه موافق عمل کوی) اوکوم نيک کارچی کوئ (دښځو ديتيمانوپه باره کی ياپه نورو کارونوکی هم) نوبيشکه الله ﷻ په دغه ښه پوه دی (تاسی ته به ددغه بهتره جزا درکړی اوبده خبره هم

Maktaba Tul Ishaat.com

پېژني لیکن دلته ترغیب دخیر طرف ته مقصود دی، په دی وجه یې تخصیص وکی) اوکه یوی ښځی ته (په قرآنو سره) دخپل خاوند څخه غالب احتمال وی دبد دماغی (اوکوړوالی) یادبې پرواهی (اوبې مخی) وی نو (په داسی حالت کی) دواړو ته په دی کار کی هیڅ گناه نسته چی دواړه دیوه اوبل سره په څه خاص ډول سره صلح وکړی (یعنی ښځه که دداسی خاوندسره اوسیدل غواړی چی ددی پوره حقونه اداکول نه غواړی اوپه دی وجه ددی پریښوول غواړی نوښځی ته جائزدی چی خپل څه حقونه پرېږدی ، مثلاً ډودی نفقه معاف کړی یایې کمه کړی یاخپل وارمعاف کړی ددی دپاره چی دی یې پری نږدی اوخاوندلره هم جائزدی چی دامعافی قبوله کړی) او (دجگړی یا جدایئ څخه خو) داصلح (ډېره) ښه ده او (داسی صلح کول څه لیری خبره نه ده ځکه چی) نفسونوته (طبعًا) دحرص سره پیوست والی وی (کله چی دده حرص پوره کیږی ، نو راضی کیږی نوکله چی خاوند ووینی چی زماپه مالی اوجانی آزادی کی چی دطبیعت حرص دی تاوان نه راځی اوښځه راته په مفته کی رسیږی نو دی به یې بیاپه نکاح کی په پرېښوولو راضی وی ، او دښځی حرص په نکاح کی دپاته کیدو برابره خبره ده په هره وجه سره چی وی خوظاهره ده چی اصلی سبب دصلح دی، نو د دواړو طرفوپه خاص خاص حرص سره دصلح تکمیل کیږی) او (ای نارینه وو) که تاسی (په خپله دښځوسره) ښه سلوک ساتئ (اوددوی څخه دحقونو معاف کول نه غواړی) اوددوی سره (دکوړوالی اوبې مخی کولو څخه) احتیاط ساتئ نو (تاسی ته به لوی ثواب ورسیږی ځکه چی) بیشکه الله ﷻ ستاسی دعملونوپوره خبرلری (اوپرنیکو عملونو ثواب ورکوی) او (عادتًا) ستاسی څخه داخو هیڅکله نه سی کیدی چی په ټولو ښیبیانوکی به (هرډول) برابری وساتئ (ترڅی چی دزړه په مینه کی هم) که څه هم (دبرابری) هرڅومره ستاسی زړه غواړی (اوتاسی هرڅومره کوشش چی کوی لیکن دزړه مینه غیر اختیاری ده نوپه دی ستاسی قدرت نسته ، که څه هم په اتفاقی ډول یوځای برابری وسی هم نوآیت ددی نفی نه کوی ، نومقصد دادی چی کله چی دادزړه مینه اختیاری نه ده نوتاسی پردی نیولی هم نه یاست، نوهسی نه چی ددی دغیر اختیاری کیدوپه وجه ظاهری حقونه هم غیر اختیاری کړئ بلکه دغه نورظاهری حقونه اختیاری دی نوکله چی دااختیاری دی) نو (پرتاسی واجب ده چی) تاسی بالکل یوه طرف ته کاږه نه سی (دبالکل مطلب دادی چی په زړه سره هم چی په هغی کی معذورئ اوپه ظاهر سره هم پرکم چی ستاسی اختیاردی یعنی په شرعی حقونوکی ددوی سره بدخونی اومنع ورڅخه مه کوی) چی په دی سره دا (مظلومه) داسی کړئ لکه ځوك چی نه دی خوا ته وی اونه هاخواته (یعنی په مینځ کی) ځوړنده وی (یعنی نه حقونه ادا کولی سی چی خاوند والا وګڼل سی اونه ورلره طلاق ورکوی چی بی خاونده ورته ووېل سی، بلکه که ساتی یې نوپه ښه شان سره یې ساتی) او (دساتلوپه صورت کی چی په تیره زمانه کی کوم خراب سلوك ددی سره سوی دی) که چیری (ددغه سلوك کولو فی الحال) اصلاح وکړی او(په راتلونکی وخت کی دداسی معاملوڅخه) احتیاط ولرئ نو (دغه تیرکارونه به معاف کړل سی ځکه چی) بیشکه الله ﷻ لوی مغفرت والا لوی رحمت والا دی (چونکه کوم گناهونه چی دبندگانو دحقونوسره تعلق لری هغه ددغه بندگانوپه معاف کولوسره معاف کیږی نوپه اصلاح کی دامعافی هم راغله نوچی روغه په مینځ کی وسوه نوتوبه شرعًا صحیح سوه په دی وجه مقبوله سوه) اوکه دواړه ښځه خاوند (یعنی

ددواړو په مینځ کې موافقت نه راځي او دواړه جلاسي (یعني خلع یاطلاق واقع سي) نو (په دوی کې دې یو تن برابره خبره ده که دسړي زیاتي وي اوکه دښځي کوتاهي وي داسي دی نه ګڼي چي بغیر زما څخه به ددې بل کاروته چلیږي څکه چي) الله ﷻ به دخپل (قدرت) په فراخي سره (د دواړو څخه) هریو (دبل څخه بې حاجته کړي (یعني دهریوه کاربه بغیردبل څخه وچلیږي) اوالله ﷻ لوی فراخي والا اولوی حکمت والا دی (دهریوه دپاره مناسبه لار ایستلای سي)

معلومات اومسئلې

(دکورني ژوند په اړوند دقرآن څو هدایتونه)

وَاِنِ امْرَاَةٌ خَافَتْ مِنْۢ بَعْلِهَا څخه تر وَاسِعًا حَكِيْمًا پوري ، په دې درو سره وو آیتونوکې الله ﷻ دکورني ژوند دترخي اوسختی ددې په اړوند هدایتونه ورکړي دي ، چي ددې اوږد ژوندپه مختلفو دورونوکې هرې جوړې ته کله ناکله مخ ته راځي ، هغه ده، دیوه اوبل څخه خفګیان اوخوابدي ، اودایوداسي شی دی چي که په صحیح اُصولوسره ددې مخ نیوی ونه سي نو نه یوازي دا چي دښځې اوخاوند دپاره دنیا جهنّم کیږي ، بلکه ډیرځله دا کورني خفګیان دخاندانونو اوقبیلو په مینځ کې جنګ جګړوته نوبت رسَوي ، قرآنکریم دښځي اوسړي د دواړو دجذباتو او احساساتو لحاظ وساتي هرې یوې فریقي ته یې دژوند داسي نظام ورکې چي په دې باندې دعمل کولوپه نتیجه کې دانسان کور دجنت نمونه جوړیدی سي ، کورني تریخوالی به په محبّت او راحت بدل سي اوکه دناچاري څخه کوم ځای جلاوالي ته هم نوبت ورسیږي نو هغه به هم په ښه طریقه اوروغه اوصلح سره وي، دتعلقاتو قطع کول به هم داسي وي چي دښمني او عداوت به په کې نه وي .

آیت ۱۲۸ دداسي حالاتوپه اړونددی چي په کوم کې په غیراختیاري ډول سره دښځي اوتعلقات ګډوډسي اوهره فرقه پرخپل ځای معذوره ګڼل کیږي اودیوه اوبل سره دوراني راتلوپه وجه دابیره پیداسي چي دیوه اوبل په حقونوادا کولوکې به کوتاهي راځي، لکه دیوی بی بی سره دخاوند زړه نه لګیږي او دزړه نه لګیدو وجه لیرې کول دښځي په اختیار کې نه وي ، مثلاً ښځه بدشکله یابوډی ده اوخاوند یې ځوان اوښایسته دی ، نو ښکاره خبره ده چي په دې کې نه ښځي ته ګناه سته اونه خاوند مُجرم دی .

لکه چي ددې آیت په شانِ نزول کې دغه ډول څوواقعي په مظهري اونوروکې نقل دي ، په داسي حالاتوکې دسړي دپاره یوعام قانون قرآنکریم دابنوولی دی چي ، فَاِمْسَاكٌۢ بِمَعْرُوْفٍ اَوْتَسْرِيْحٌۢ بِاِحْسَانٍ چي که ساتي دابښځه نو ددستور مطابق ددې ټول حقونه اداکوه اوساته یې اوکه پردې باندې دې قدرت نه وي نوپه ښه طریقه یې آزاده کړه، اوس که ښځه هم آزادیدوته تیاره وي نومعامله صفاده چي تعلقات به په ډیره ښه طریقه سره قطع کړل سي ، لیکن که په داسي حالاتوکې ښځه په څه وجه سره آزادي نه غواړي، برابره خبره ده که داولاد دفآئدو دپاره وي اوکه په دې وجه چي بل ځای یې څه غمخورنسته، نودلته یوه لاره ده چي خاونددې په څه شی باندې راضي کړي مثلاً ښځه دې دخپلو ټولو یاځینو حقونو مطالبه پریږدي اوخاوند دې داخیال وکړي چي دډیرو حقونو دبار څخه آزادیږم، ښځه راته په مُفته کې رسیږي ، په دې دې صلح وکړي .

Maktaba Tul Ishaat.com

قرآنکریم په دی آیت خو یو ددی ډول مصلحت کولو ته په دی شان سره راهنمایی فرمایلی ده ، وَاُحْضِرَتِ الْاَنْفُسُ الشُّحَّ یعنی ټولو نفسونو ته حرص راوړاندی سوی وی ، په داسی مصلحت کی خو ښځه ددی حرص کوی چی که ماپریږدی نو اولاد به یی برباد سی یا به بل ځای زماژوند تریخ وی او خاوندته دا حرص دی چی کله ښځی خپل ټول مهر ځینی معاف کی او دنورو حقونو مطالبه یی هم پریښوولـه نو او س ددی په ساتلو کی ماته هیڅ تکلیف نسته، نو په دی سره به په مینځ کی صلح کول آسانه سی ددی سره یی ارشاد وفرمایی.

وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا : یعنی که یوه ښځه دخپل خاوند دجګړی یابی مخی ځخه بیریږی نو په دواړو کی په هیڅا ګناه نسته چی په خپل مینځ کی په څه خاصو شرطونو سره صلح وکړی او نه ګناه یی ورته ځکه وویل چی ددی معاملی ظاهر درشوت په شان دی چی خاوندته دمهر اونورو معاف کولو فریب ورکوی اوکورنی ژوند باقی پاته کوی ، لیکن دقرآن دی ارشاد ښکاره کړه چی دا په رشوت کی داخل نه دی ، بلکه صلح ده ، چی په دی کی دواړه طرفه خپله خپله ځینی مطالبی پریږدی اودیوه اوبل سره رضامند کیږی اودا جائز دی.

(دښځي او خاوند په جګړه کي نوروته بي ضرورته دخل کول مناسب نه دی)

په تفسیر مظهری کی دی چی دلته الله ﷻ ان يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا فرمایلی دی ، یعنی ښځه اوخاوند دی په خپل مینځ کی په یو ډول سره صلح وکړی ، په دی کی د بَيْنَهُمَا دلفظ ځخه دی طرف ته اشاره راوزی چی دښځی اوخاوند په معاملو کی ښه دا ده چی بل دریم دخل ونه کړی ، دوی دواړه دی پخپله په خپل مینځ کی په یوه خبره باندی جوړ سی ، ځکه چی د دریم کس په مداخلت سره ځینی وخت سره صلح کول ګران سی اوکه صلح وسی هم نو د دواړو طرفونو عیبونه د دریم نفر په مخکی بی وجی ښکاره سی ، او ددی ځخه ځان ساتل د دواړو دپاره ګټه ده.

دذکر سوی آیت په آخرکی فرمایی ، وَإِنْ تُحْسِنُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا یعنی په داسی حالت کی چی ښځی ستا دزړه ځخه وزی اوپه دی وجه یی حقونه نه سی ادا کولی ، آزادول یی غواړی ، نوتاته دا حق هم حاصل دی چی آزاده یی کړی او دښځی دځینو مطالبو په پاته کولو ورسره هم صلح جائزه ده دآیت داولنی جملی په رُوسره ، لیکن که دالله ﷻ بیره ځان ته راوړاندی کړی اوداحسان ځخه کارواخلی اودزړه نه لګیدو سره سره ورسره ښه چلند وکړی اوددی ټولو حقونه هم پوره کوی، نوستادانیك عمل دالله ﷻ په وړاندی دی نونتیجه به یی دا وی چی الله ﷻ به تاله ستاددی ښه سلوك اوصبربدله داسی نعمتونه اوحقونه درکړی چی ته به یی تصوّرهم نه سی کولی ، او په دی وجه یی دلته یوازی دا وښوول چی ستادانیك عمل زمونږ په وړاندی دی اودا ی ذکریی ونه کی چی ددی بدله به مونږ څه درکړو؟ په دی کی اشاره دی طرف ته ده چی دغه بدله به ستا تروهم اوخیال هم زیاته وی .

ددی آیت دمضمون خلاصه دا سوه چی خاوندکله دا ووینی چی دده زړه دی خپلی ښځی ته په هیڅ وجه سره نه ورځی اوحقونه یی نه پوره کیږی ، نوترڅو چی دښځی داختیاری معاملو تعلق دی ددی دی داصلاح کوشش وکړی دتنبیه دپاره دی په عارضی ډول سره ورځخه مخ واړوی ، په ژبه سره دی یی پوه کړی او په مجبوری سره که معمولی وهلوته ضرورت وی ، نو هم دی وکړی لکه دسورةِ نسآء دشروع په

Maktaba Tul Ishaat.com

آیتونو کی چی تیرسوی دی او که ددی تولو کوششونو سره سره داصلاح څخه نااُمیده سی یامعامله داسی وی چی دهغی صحیح کول دښځی په اختیارکی نه وی نواوس ده لره دشریعت قانون داحق ورکوی چی په ښه طریقه سره بغیرد جنګ جګړی څخه طلاق ورکړی اوآزاده یی کړی لیکن که دی داسی وکړی چی خپل حقونه دپام څخه وغورځوی اودهغی حقونه پوره پوره اداکوی نو دا دده دپاره ښه اوډیره اعلی اوعظیم ثواب دی ، ددی په مقابله کی که معامله بدله وی چی سړی واجب حقونه نه اداکوی، په دی وجه ښځه آزادی غواړی نوپه دی صورت کی که خاوندهم په آزادولو راضی وی نومعامله صفاده ، ښځی ته هم داحق حاصل دی چی کله خاوند دحقونو دنه اداکولو پربنآء ددی آزادول غواړی نوښځه دی هم خپله آزادی اختیارکړی، اوکه خاوندیی په خپل اختیار آزادولوته تیارنه وی نوښځی ته داحق حاصل دی چی په اسلامی عدالت کی دخپلی آزادی مطالبه وکړی اوځان آزادکړی ، لیکن که دا دخاوند په بی مخی اوبی تعلقی صبرکوی ، دخپلو حقونو مطالبه پریږدی اودخاوند حقونه اداکوی نو دا ددی دپاره بهتره او ډیره اعلی اولوی ثواب دی .

لنډه داچی یوه طرف ته خپل تکلیف لیری کول اودخپل حق حاصلولو دواړو فریقوته قانونی حکم قرآنکریم ورکی دوهم طرف ته یی دواړوته دلویو اخلاقو اوخپلو حقونو پر پریښوولو باندی دصبر تلقین وکی اوداهدایت یی ورته وفرمایی چی ترهر څو پوری کیدی سی ددی تعلق دپریکولو څخه ځان ساتل په کاردی اوپه کاردی چی ددواړوطرفوڅه حقوق پریښوول سی اوپریوخاص صورت باندی صلح وکړی .

ددی آیت په شروع کی یی دښځی اوخاوند داختلاف په وخت کی دصُلح یوازی جائز والی ښوولی دی او دآیت په آخرکی یی دصلح نه کیدوپه صورت کی یی هم په صبراو تحمّل سره دتعلق پرځای پاته کولو تلقین فرمایلی دی ، په مینځ کی یی یوه داسی جمله ارشاد فرمایلی ده چی ددی څخه دصلح ښه والی اوبهتروالی ثابتیږی ، ارشاد دی ، وَالصُّلْحُ خَیْرٌ یعنی دیوه اوبل سره صلح کول بهتره دی او دا جمله یی په داسی عام انداز سره بیان کړی ده چی هم دا روان بحث یعنی دښځی اوخاوند جګړی په کی هم داخلی دی او نور قسم کورنی اختلافات هم ،او دټولی دُنیامعاملی اوجګړی اومقدمی هم ، ځکه چی دقرآن الفاظ عام دی چی صلح ښه ده ، دمضمون خلاصه دا ده چی دواړو طرفوته پوره په پوره په خپلو مطالبو داړکیدو څخه دابهتره ده چی دواړه طرفونه دخپلو ځینو مطالبو څخه لاس واړوی اوپه څه درمیانی صورت باندی په رضامندی سره صلح وکړی ، دنبی کریم ﷺ ارشاد دی .

كُلُّ صُلْحٍ جَائِزٌ بَيْنَ الْمُسْلِمِيْنَ اِلاَّ صُلْحًا اَحَلَّ حَرَامًا اَوْ حَرَّمَ حَلاَلاً وَالْمُسْلِمُوْنَ عَلٰى شُرُوْطِهِمْ اِلاَّ شَرْطًا حَرَّمَ حَلاَلاً (رواه الحاکم عن کثیربن عبدالله، تفسیر مظهری)

یعنی دمسلمانانوپه مینځ کی په هرقسم سره صلح کول جائزدی بغیر دهغی صلحی څخه په کومه کی چی حرام حلال یاحلال حرام سوی وی اومسلمانانو ته په خپلو منلو سوو شرطونو باندی قآئم پاته کیدل په کار دی ، بغیر دهغو شرطونو څخه په کوموکی چی حلال حرام مقرر سوی وی .

مثلاً دیوی ښځی سره په دی شرط باندی صلح کول جائز نه دی چی ددی سره به ددی خور هم په نکاح کی ساتی ، ځکه چی د دوو خوندو په یوه نکاح کی جمع کول شرعًا حرام دی یاپه دی صلح وکړی چی دبلی

بې بې حقونه به نه ادا کوي ، ځکه چې په دې کې ديوه حلال حرام ګڼل دي .
او په روايت کې يې هره صلحه په عام ډول سره جائزه مقرره کړې ده ، ددې عاموالي څخه امام اعظم رحمه الله دامسئله را ايستلې ده، چې دصلح ټول اقسام جائزدي برابره خبره ده که په اقرارسره وي ، لکه په چاچې دعوه سوې وي هغه دا اقرار وکې چې ددعوه کوونکې ددعوى مطابق زماپه ذمه دده زر روپۍ واجب الاداء دي ، بياصلح په دې وسي چې دعوه کوونکې دې په دې يوڅه رقم پريږدي يادې ددې رقم په بدله کې دده څخه يوڅه شي واخلي ياپه چاچې دعوه سوې وي ، هغه ددعوى په باره کې اقرار او انکار هيڅ ونه کړي او ووايي چې په حقيقت کې هرڅه چې وي خوزه غواړم چې ته په دې صورت باندې صلح وکړې ياپه چاچې دعوه سوې وي ، هغه ددعوى څخه قطعي انکاروکړي ، ليکن دانکار سره دجګړې ختمولو دپاره په څه ورکولو باندې راضي سي ، او په دې صلح وسي دا درې سره قسمونه دصلح جائز دي دچپ کيدو اوانکار په صورت کې دځينو فقهاؤ اختلاف هم دی .
په آخر کې يوه مسئله دذکر کولو قابله ده چې تعلق يې دښځې اوخاوند په مابينځ کې دمصالحت سره دی چې ذکريې په دې آيت کې سوی دی هغه داچې که يوې ښځې دخپلو ځينو حقونوپه پريښوولو باندې صلح وکړه، نوداصلح خوبه دښځې دغه حق کوم چې دصلح په وخت کې په خاوند باندې وي په قطعي ډول سره ختم کړي ، لکه دمهر قرضه چې په خاوند باندې تردې صلح مخکې واجب الاداء سوې ده ، نو په دې وجه چې کله دا پوره مهر يا ددې دڅه حصې په معاف کولو باندې اصلح وکړي ، نو دغه مهر يا دمهر دغه حصه به ساقطه سي تردې وروسته به بيادې دغوښتنې حق نه وي پاته ، ليکن کوم حقونه چې داسې دي چې دصلح په وخت کې دهغو اداکول په خاوند واجب نه وي مثلاً دراتلونکې زمانې ډوډۍ اونفقه يادشپې حق چې ددې واجب کيدل دراتلونکې زمانې سره تعلق لري، بالفعل دده پرذمه واجب نه دي نوددې حقونو پرپاته کولو که صلح وسوه نودښځې دمطالبې حق دهميشه دپاره نه ختميږي بلکه کله چې ددې زړه وغواړي نوويل کيږي چې دا تنده دپاره زه دخپل دې حق پريښوولوته تياره نه يمه، نوپه دې صورت کې خاوندته اختيار دی چې دا آزاده کړي (تفسير مظهري اونور)
آخرې آيت يعنې په ، وَإِن يَتَفَرَّقَا يُغْنِ اللهُ كُلًّا مِّن سَعَتِهِ کې دواړو ډلوته تسلي ورکړل سوې ده چې که داصلاح اوصلح ټول کوششونه ناکامه سي اوجلا والي راسي نو په دې سره هم دخفه کيدو ضرورت نسته الله ﷻ به هر يو دبل څخه بې حاجته کړي ، دښځې دپاره به بل ځاي اوبل سرپرست اوسړي ته بله ښځه ورکړي دالله ﷻ قدرت ډير لوی دی دهغه څخه دنا اُميده کيدو هيڅ وجه نسته ، په دوی کې دې دواړه په خپل هغه ژوند نظر واچوي کوم چې ترنکاح مخکې وه ، چې دوی يو بل پيژندل هم نه ، اوالله ﷻ دوی جوړه کړل ، نن هم بيا داسې صورت پيدا کيدی سي .
دآيت په آخر کې يې ، وَكَانَ اللهُ وَاسِعًا حَكِيمًا وفرمايل او دا خبره يې نوره پخه کړه چې دالله ﷻ سره لويه فراخي ده او دده په هر يوه کار کې حکمت وي ، ممکنه ده چې په دې جلاوالي کې حکمت اوفائده وي ، ترجدايي وروسته دواړو ته داسې جوړې پيدا سي چې د دواړو ژوند ورباندې ښه سي .
په غير اختياري کارونو نيول نسته: دکورنې ژوند دښه کولو اوهميشه پاته کولو دپاره چې قرآن کريم په دې

ذکرسوو آیتونوکی کم هدایتونه دواړو فریقوته ورکړی دی ، په دی آیتونوکی یو آیت دا دی ، وَلَنْ تَسْتَطِيْعُوْا اَنْ تَعْدِلُوْا بَيْنَ النِّسَآءِ یعنی دواړو ډلوته یی یوخاص هدایت فرمایلی دی ، هغه دا چی که دیوه سړی په نکاح کی تر یوی زیاتی ښځی وی نو قرآنکریم دسورۃ نسآء په شروع کی دِۀ ته دا هدایت وکی چی دټولو ښځوپه مینځ کی عدل اوبرابری ساتل دده پرذمه فرض دی ، اوکه دچادا خیال وی چی دا فرض به زه ادا نه کړم نو ده ته په کار دی چی تر یوی زیاتی ښځی نه کوی ، ارشاد دا دی ، فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تَعْدِلُوْا فَوَاحِدَةً اَوْمَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ : یعنی که ستاسی سره دا بیره وی چی برابری به ونه کړم نوبیاپه یوی صبر کوی .

اونبی کریم ﷺ په خپل قول اوعمل سره په بیبانوکی دعدل اوبرابری ډیر په تاکید سره حکم کړی دی او ددی په خلاف کولو یی دسخت عذاب وعده فرمایلی ده ، حضرت عآئشة ؓ فرمایی چی نبی کریم ﷺ به دخپلو پاکو بیبانو په مینځ کی دبرابری وعدل ساتلو ډیر اهتمام فرمایی او ددی سره به یی دالله ﷻ په دربار کی عرض کوی .

اَللّٰهُمَّ هٰذَا قَسْمِيْ فِيْمَا اَمْلِكُ فَلَا تَلُمْنِيْ فِيْمَا تَمْلِكُ وَلَا اَمْلِكُ .

ای الله ﷻ ! دا زما منصفانه تقسیم او مساوات په هغه شی کی دی چی زماپه اختیارکی دی نوپه دی وجه کوم شی چی ستاپه اختیارکی دی او زما په اختیارکی نه دی (یعنی دزړه میلان) په دی کی مامه نیسه .
تر نبی کریم ﷺ زیات په خپل ځان باندی واك لرونکی څوك کیدی سی؟ لیکن دزړه میلان ده ﷺ هم ترخپل اختیار دباندی مقررکی او دالله ﷻ په دربار کی یی عذر پیش کی .
دسورۃ نسآء په شروع کی چی کوم آیت دی ددی دالفاظو څخه په ښکاره مطلق په بیبانو کی برابری فرض معلومیږی چی دزړه په میلان کی هم برابری کول شامل دی او دا معامله دانسان په اختیارکی نه ده ، دی وجه یی دسورۃ نسآء په دی آیت کی دحقیقت وضاحت وفرمایی چی په کومو شیانو ستاسی قدرت نسته ، په دی کی مساوات (برابروالی) فرض نه دی ، البته برابری به په اختیاری معاملاتوکی وی ، مثلاً دشپی په وارکی ، په طریقه او سلوك کی ، په ډوډی نفقه او نورو کی ، الله ﷻ دا حکم په داسی ډول سره بیان کی چی په دی سره یوشریف انسان په عمل کولو مجبوره سی ، فرمایی .

وَلَنْ تَسْتَطِيْعُوْا اَنْ تَعْدِلُوْا بَيْنَ النِّسَاءِ وَلَوْحَرَصْتُمْ فَلَا تَمِيْلُوْا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوْهَا كَالْمُعَلَّقَةِ .

یعنی تاسی ته معلومه ده چی تاسی په ټولو بیبانوکی که کوشش هم کوی خو دزړه دمیلان په باره کی برابری نه سی کولی ځکه چی دا ستاسی په اختیارکی نه ده ، نوبیاداسی مه کوی چی پوره یوه طرفته کاږه سی یعنی دزړه میلان موهم دی طرف ته وی اوپه اختیاری معاملوکی هم داطرف خوښ کړی چی نتیجه یی داسی چی هغه بله ښځه خوړنده پاته سی ، یعنی خاوندیی حقونه هم نه ادا کوی اوآزادوی یی هم نه .
معلومه سوه چی په دی آیت کی په عدل باندی چی دچادقدرت نه راتلوکوم ذکر دی ، دا دزړه دمینی او میلان برابری ده چی دانسان په اختیارکی نه ده ، او ددی آیت په الفاظو فَلَا تَمِيْلُوْا كُلَّ الْمَيْلِ کی په خپله ددی معنی قرینه موجوده ده ، ځکه چی معنی ددی الفاظو دا ده چی که څه هم دزړه په مینه کی برابری ستاسی په قدرت کی نسته لیکن بالکل یوه طرف ته کیږی مه ، چی په اختیاری معاملوکی هم دی ته ترجیح ورکړی .

Maktaba Tul Ishaat.com

په دې ډول سره دا آيت د سورة نسآء د اولني آيت تشريح سوه چې د هغې د ظاهري الفاظو څخه د زړه په مينه کې هم د برابرۍ را وستو فرض والي معلوميدې ، دې آيت ښکاره کړه چې دا په وجه د غير اختياري کيدو فرض نه دی ، بلکه په اختياري کارونو کې برابروالي فرض دی .

(د دې آيت څخه د ښځو د ډېروالي خلاف دليل نيول قطعًا غلط دی)

د دې تفصيل څخه د هغه خلګو غلط فهمي هم واضحه سوه کوم چې دا دواړه آيتونه يو ځای کوي دا نتيجه ور څخه را ايستل غواړي ، چې د سورة نسآء په شروع کې آيت دا حکم وکې چې که پرځو ښځو برابري نه سی کولی نو بيا په يوه نکاح باندي صبر کوي د و همه نکاح مه کوي او د دې دوهم آيت دا وښووله چې په دوو بيبانو کې برابري هيڅکله ممکنه نه ده نو نتيجه ور څخه دا راووته چې دوې ښځې هيڅکله په نکاح کې ساتل جائز نه دي او عجيبه خبره داده چې الله ﷻ په خپله په دې دواړو آيتونو کې د دې غلط فهمي دليري کولو اهتمام کړی دی ، د دوهم آيت قرينه اوس تيره سوه چې د ، فَلَا تَمِيلُوا كُلَّ الْمَيْلِ الفاظ دي ، او په اولني آيت کې يې دا وفرمايل ، فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً نو په دې کې يې په ډول د شرط دا وفرمايل چې که تاسي بيريږئ ، دا خوښکاره قرينه ده د دې خبرې چې په دوو ښځو کې عدل او برابري ناممکنه يا تر اختيار وتلې نه ده که نه وي نو د و مره اوږد عبارت او هغه هم بيا په دوو آيتونو کې ورته هيڅ ضرورت نه وو ، لکه حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ : والا آيت کې چې د هغو ښځو تفصيل دی د کومو سره چې نکاح حرامه ده او وَأَنْ تَجْمَعُوا بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ يې وفرمايل ، دوې خوندې په نکاح کې جمع کول يې حرام کړل ، د غه ډول دا به يې هم فرمايلي وای چې په يوه وخت کې په نکاح کې دوې ښځې ساتل حرام دي او بيا به د أَنْ تَجْمَعُوا سره قيد د بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ فضول سوی وای ، په دغه يوه جمله کې به يې دا سې فرمايلي وای وَأَنْ تَجْمَعُوا بَيْنَ امْرَأَتَيْنِ يعني مطلق دوې ښځې په نکاح کې جمع کول حرام دي ، ليکن قرآنکريم دالنده خبره پريښووله نه يوازې دا چې يو اوږد عبارت يې را اوړې بلکه په دوو آيتونو کې يې د دې تفصيل بيان کې ، د دې څخه دا هم معلومه سوه چې آيت وَأَنْ تَجْمَعُوا بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ هم په يوه حيثيت سره د دې جواز ښيي چې تر يوې زياتي ښځې په نکاح کې جمع کول حلال دي او جائز دي مګر شرط دا دی چې دغه دواړې په خپل مينځ کې خوندې نه وي .

وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَلَقَدْ وَصَّيْنَا

او خاص الله لره دی څه چې په آسمانونو کې او څه چې په مځکه کې دي ، او مونږ حکم کړی دی

الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَاِيَّاكُمْ اَنِ اتَّقُوا اللّٰهَ ؕ وَاِنْ

مخکنيو اهل کتابو ته او تاسي ته ، چې بيره کوی د الله څخه ، او

تَكْفُرُوْا فَاِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ

که تاسي نه منئ نو الله ﷻ لره دی هغه چې په آسمانونو کې دي او هغه چې په مځکه کې دي او دی الله بې

غَنِيًّا حَمِيدًا ﴿۱۳۱﴾ وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۚ وَكَفٰى

حاجته دی تولو صفتونو والادی ، او خاص الله لره دی هغه څه چی په آسمانونو کی دی او هغه چی په مځکه کی دی

بِاللّٰهِ وَكِيلًا ﴿۱۳۲﴾ إِنْ يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ أَيُّهَا النَّاسُ وَيَأْتِ بِآخَرِينَ

او کافی دی الله کارساز ، که وغواړی نو لیری به مړی تاسی ای خلقو او را به ولی نور

وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى ذٰلِكَ قَدِيرًا ﴿۱۳۳﴾ مَنْ كَانَ يُرِيدُ ثَوَابَ الدُّنْيَا

او الله ﷻ . په دې باندی قادر دی ، څوك چی غواړی ثواب ددنیا

فَعِنْدَ اللّٰهِ ثَوَابُ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ۚ وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيعًا بَصِيرًا ﴿۱۳۴﴾

نو دالله سره دی ثواب ددنیا . او دآخرت او الله هرڅه اوری او وینی یی.

دآیتونو تړون: دښځو او یتیمانو دحکمونو تربیانولو وروسته دقرآن دطرز مطابق یی بیا دترغیب او ترهیب مضمون ارشاد وفرمایی.

لنډ تفسیر: او دالله ﷻ په ملکیت کی دی څه شیان چی په آسمانونو کی دی او څه شیان چی په مځکه کی دی (نو دداسی مالك حکمونه منل ډیر ضروری دی) او (دحکم منلو داخطاب خاص تاسی ته نه دی بلکه واقعی مونږ هغه خلګو ته هم حکم کړی وو، کوم چی تر تاسی مخکی ورته (آسمانی) کتاب (یعنی تورات او انجیل) رسیدلی وو او تاسی ته هم (حکم دی) چی دالله ﷻ څخه بیره کوی (څه ته چی تقوی وایاست چی دټولو حکمونو سره یی موافقت دی، په دی وجه داسورت یی ددی تقوی څخه شروع کی او ددی په تفصیل کی یی مختلف حکمونه راوړی دی) او (دا هم دوی ته او تاسی ته واورول سو چی) که تاسی ناشکری وکړی (یعنی دالله ﷻ دحکمونو څخه مخالفت وکړی) نو (دخدای ﷻ هیڅ نقصان نسته البته ستاسی نقصان دی ځکه چی) دالله ﷻ ملکیت دی کوم شیان چی په آسمانونو کی دی او کوم شیان چی په مځکه کی دی (نو دداسی لوی باچا به څه نقصان وی البته دداسی لوی بادشاه مخالفت کول بیشکه چی مُضر دی) او الله ﷻ دچا (دعبادت) محتاجه نه دی (او) په خپله په خپل ذات کی صفت کړل سوی (په کاملو صفاتو) دی (نو دچا په مخالفت سره دهغه په صفتونو کی څه نقصان نه لازمیږی) او دالله ﷻ ملکیت دی څه شیان چی په آسمانونو کی دی او څه شیان چی په مځکه کی دی او (کله چی هغه داسی قادر او مختار دی نو دخپلو عبادت کوونکو بندګانو دپاره هغه) الله ﷻ کار جوړوونکی دی (نو چی دی کار جوړوونکی دی نو دده حکم منونکو ته به څوك ضرر ورسولی سی ، نو دچا څخه بیره نه ده په کار او الله ﷻ چی تاسی ته ددین کار ښیی نو ستاسی دنیك بخت کولو دپاره ، که نه وی نو هغه داکار دنورو څخه هم اخیستلی سی ځکه چی دهغه قدرت داسی دی چی) که الله ﷻ غوښتلای نو ای خلګو! تاسی ټول به یی فنا کړی وای

Maktaba Tul Ishaat.com

اونور به یې موجود کړي وای (او دهغوی څخه به یې کار اخیستی) بلکه په یوه بل آیت کې دي ، اِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ الخ) او الله ﷻ په دې پوره قدرت لري (بیاچې داسې یې ونه کړل نو دهغه مهربانۍ ده دحکم منل غنیمت وګنئ ، نیک بختي حاصله کړئ اوګورئ ددین دکار اصلي میوه په آخرت کې ده په دنیا کې که ونه رسیږي نو زړه مه بدوئ بلکه) کوم سړي چې (ددین په کار کې) ددنیا معاوضه غواړي نو (هغه ډیر په غلطۍ کې دي ځکه) دالله ﷻ سره (یعنې دهغه په قدرت کې) خود دنیا او آخرت دواړو بدله (موجوده) ده (کله چې اعلی او ادنی دواړه دهغه په قدرت کې دي نو اعلی شی ورځخه ولې نه سي غوښتل کیدلی) او الله ﷻ لوی اوریدونکی ، لوی لیدونکی دی (دټولو خبري او درخواستونه که ددنیاوي او که ددین ، اوري او دټولو نیتونه ورته معلوم دي ، نو دآخرت طلب کوونکو ته به ثواب ورکړي او ددنیا طلب کوونکي به دآخرت څخه محروم وساتي نو دآخرت نیت او درخواست کول په کار دي ، البته ددنیا حاجت په مستقل ډول غوښتل څه بد نه دي ، لیکن په عبادت کې دي داقصد نه کوي)

معلومات اومسئلې: ضروري فائدې: لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ : یعنې دالله ﷻ دپاره دي دآسمانونو او دمځکې ټول مخلوقات ، دلته یې دا الفاظ دري واره بیا بیا راوړي دي ، په اول سره فراخي او وسعت مقصود دی چې دهغه سره دهیڅ شي کمی نسته ، په دوهم سره بې نیازي اوبې حاجتي بیانول مقصود دي چې هغه دهیچا پروانه کوي که تاسي منکر سي په دریم سره درحمت اوکار سازي اظهار دی ، چې که تاسي تقوی اوفرمانبرداري اختیار کړئ ، نو هغه به ستاسي ټول کارونه برابر کړي ، په دریم آیت کې یې دا خبره واضحه کړې ده چې الله ﷻ په دې قادر دی چې تاسي ټول فنا کړي او ددنیا څخه تاسي پورته کړي او نور حکم منونکي او فرمانبرداره خلګ پیدا کړي په دې سره هم دالله ﷻ استغنا اوبې حاجتي ښه ښکاره سوه او نافرمانو ته زورنه اوبیره سوه .

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْا قَوّٰمِيْنَ بِالْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلّٰهِ وَ

ای ایماندارو ! قائم وسیږئ په انصاف سره شاهدي کوئ دالله دطرفه

لَوْ عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ اَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ ۚ اِنْ يَّكُنْ غَنِيًّا

که څه هم نقصان وي ستاسي یا دمورو پلار یا دخپلوانو که څوک مالدار دی

اَوْ فَقِيْرًا فَاللّٰهُ اَوْلٰى بِهِمَا ۫ فَلَا تَتَّبِعُوا الْهَوٰٓى اَنْ تَعْدِلُوْا ۚ

یامحتاج دی نو ددوی خیرخواه الله دی تاسي څخه زیات،نو تاسي تابعداري مه کوئ دزړه دخواهش ، په انصاف

وَاِنْ تَلْوٗٓا اَوْ تُعْرِضُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴿١٣٥﴾

کولوکې ، اوکه تاسي ژبې واړوئ یامنع وکئ نو الله ﷻ ستاسي په ټولو کارونو خبردار دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسير: اې مؤمنانو! (په ټولو معاملوکې دحق ادا کولو په وخت کې هم اودفيصلې په وخت کې هم) پر انصاف ښه قآئم پاته کيدونکي (اوچې داقرار يادشاهدي وخت راسي نو) دالله ﷻ (دخوشحالولو) دپاره (رينښتيني) شاهدي (اواقرار) ورکوونکي اوسئ که څه هم چې (دغه شاهدي اواقرار) دخپل ذات خلاف وي (چې اقرارورته وايي) يادمور اوپلار او قريبانو په مقابله کې وي (اودشاهدي په وخت کې داخيال مه کوي چې دچاپه مقابله کې چې زه شاهدي ورکوم دا اميردی، ده ته ګټه رسول په کار دي چې بې مروتي ونه سي ياغريب دی دده نقصان ولې وکړم ، تاسي په شاهدي ورکولوکې دچا داميرۍ ، غريبۍ ياګټې يانفع اونقصان ته مه ګورئ ځکه چې) دغه سړی (دچاخلاف چې شاهدي ورکول وي) که امير دی اوکه غريب دی نو د دواړو سره دالله ﷻ زيات تعلق دی (دومره تعلق ورسره ستاسي نسته، ځکه چې داستاسي ورسره څومره تعلق دی دا هم دهغه درکړل سوی دی او دالله ﷻ چې ورسره کوم تعلق دی داستاسي ورکړل سوی نه دی، نوبياچې ورسره دالله ﷻ تعلق ستاسي ترتعلق قوي دی اوهغه مصلحت يې په دې کې اينې دی چې په شاهدي کې دې حقه خبره وکړه سي برابره خبره ده که يوڅه ډول نقصان هم په رسيږي، نوتاسي دخپل کمزوري تعلق په وجه په خپل شهادت کې دهغه يوې عارضي فآئدې ته خيال ولې کوئ) نوتاسي (په دې شهادت کې) دنفس دخواهش تابعداري مه کوئ چې دحق څخه واوړئ اوکه تاسي کوږبيان وکړئ (يعني غلطه شاهدي ورکړئ) ياورڅخه ځان وساتئ (يعني شاهدي ورنه کړئ) نو (په يادساتئ) بيشکه الله ﷻ ستاسي دټولو عملونو څخه پوره خبرلری.

معلومات اومسئلې

(په دنيا کې دپيغمبرانو عليهم السلام اوآسماني کتابونو ليږلو اصلي مقصد عدل او انصاف قآئمول دي په دې سره ددنيا امن قآئميدی سي)

دسورة نسآء په دې آيت کې ټولو مسلمانانوته په عدل اوانصاف دقآئم اوسيدلو اودرينښتيني شاهدي ورکولو هدايت سوی دی اوکوم شيان چې دعدل په قآئمولوکې يادرينښتيني شاهدي په ورکولوکې بنديز راولي هغه يې ډيرپه زړه راکښونکي طريقه سره ليرې کړي دي ، ددې مضمون يو آيت په سورة مآئدة کې را روان دی ، د دواړو مضمون، بلکه الفاظ هم تقريبًا يوډول دي اودسورة حديد دآيت څخه معلوميږي چې دنياته دحضرت آدم عليه السلام دخليفه جوړولو اوراليږلو اوبيا ترده وروسته نور پيغمبران عليهم السلام پرله پسې په حيثيت دالله ﷻ دخليفګانو دراليږلو او د دوی سره د ډيرو کتابونو اوصحيفو دنازلولو مهم مقصد دا وو چې په دنيا کې انصاف او ددې په ذريعه امن او امان قآئم وي ، هرانسان دې دخپل اختيار په دآئره کې انصاف خپل شعار جوړکړي اوکوم سرکښه خلګ چې په وعظ نصيحت اوتعليم اوتبليغ عدل او انصاف ته نه راګرځي ، په خپله سرکښۍ اړوي ، دی دي دقانون او دسزا په ذريعه په انصاف باندې قآئم پاته کيدو ته مجبوره کړل سي.

دسورة حديد په پنځه ويشتم آيت کې يې دا حقيقت داسي واضح کړی دی.

لَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنٰتِ وَاَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتٰبَ وَالْمِيْزَانَ لِيَقُوْمَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ وَاَنْزَلْنَا الْحَدِيْدَ فِيْهِ بَاْسٌ شَدِيْدٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ

يعني مونږ خپل پيغمبران دنښانوسره ليږلي دي اونازل کړي مودي د دوی سره کتاب اوتله چې خلګ برابر سي په

انصاف باندی اومونږ نازله کړی ده اوسپنه په دی کی ډیر رعب دی او په دی سره دخلګو کارونه چ ېږی.

ددی ښخه معلومه ـوه چی دپیغمبرانو درالیږلو اودآسمانی کتابونو دنازلولو داټول نظام دانصاف قآئمولو دپاره جوړ سوی دی اوپه آخرکی داوسپنی نازلولو ذکریی وکی دی طرف ته یی اشاره وکړه چی دټولو خلګوپر انصاف باندی دقآئمولو دپاره به یواځی وعظ اونصیحت پوره نه سی بلکه څه شریان خلګ به داسی هم وی چی داوسپنی په زنځیرونو او نورو وسلوسره به ورباندی رُعب اچول کیږی اوپه انصاف به قآئمول کیږی.

(په عدل اوانصاف باندی قآئم پاته کول یوازی دحکومت فرض نه دی بلکه هر انسان به دی نیول سوی دی)

دسورة حدید دا ذکر سوی آیت او دسورة نسآء په دی آیت کی ، دغه ډول دسورة مآئدة په آیت ، كُوْنُوْا قَوّٰمِيْنَ لِلّٰهِ شُهَدَآءَ بِالْقِسْطِ وَلاَ يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ عَلٰى اَلاَّ تَعْدِلُوْا اِعْدِلُوْا هُوَ اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌم بِمَا تَعْمَلُوْنَ . کی یی په واضح ډول سره دا هدایت ورکړی دی چی انصاف قآئمول اوپه دی قآئم پاته کیدل یوازی دحکومت او عدالت فرض نه دی بلکه هرانسان پر دی باندی مکلف (نیول سوی) دی اومخاطب دی ، چی دی به په خپله هم په انصاف باندی قآئم وی اودنورو به هم پرانصاف باندی دقآئمولو کوشش کوی ، البته انصاف یوازی یوه درجه په حکومت اوحاکمانو پوری خاص ده ، هغه داده چی شریر اوسرکښه خلګ چی کله دانصاف خلاف ضد ونیسی ، نه په خپله په انصاف قآئمیږی اونه نور انصاف کولوته پریږدی نوده ته دحاکمانه سزا ضرورت وی اوداعدل اوانصاف قآئمول بیادحکومت کار وی چی په لاس کی یی قدرت وی، هغه به ورلره سزا ورکوی.

په نن دنیا کی جاهلان عوام خوپریږده ، تعلیم یافته حضرات هم داګنی چی انصاف کول یوازی دحکومت اوعدالت فرض دی ، عوام ددی ذمه وارنه دی اوهمدا وجه ده چی په هر حکومت اوهرملك کی دی خبری حکومت اوعوام دوی جلا جلا ډلی جوړی کړی دی ، درعیت اوحاکم په مینځ کی یی دخلاف او اختلاف یولوی دیوال وهلی دی ، دهرملك عوام دخپل حکومت څخه دعدل او انصاف غوښتنی کوی ، لیکن په خپله پرانصاف قآئم پاته کیدوته تیارنه وی ، اوهم ددی نتیجه ده چی په دُنیاکی هرځای قانون بی اثره دی ، جرمونه ورځ په ورځ ترقی کوی ، نن په هرملك کی دقانون جوړولو دپاره اسمبلی قآئمی دی ، په کروړونو روپی ورباندی خرڅیږی دنمآئندګانو دمنتخب کولو دپاره دخدای ټوله دنیا ښوری اوبیا دوی دټول ملك دضرورتونو اودخلګو دجذباتو اواحساساتو په رڼا کی په ډیر احتیاط سره قانون جوړ وی او بیایی دخلګو درایی اخیستو دپاره خپروی او دخلګو درایی معلومولو څخه وروسته دغه قانون نافذ ګڼل کیږی ، بیاددی نافذ کولو دپاره دحکومت بی شمیره مشینری په حرکت کی راځی چی ددی په زرګونوبلکه په لکونوشعبی وی اوپه هره شعبه کی دملك دلویولویوتجربه کاروخلګومحنتونه په کار راځی لیکن که دحقیقت په سترګوورته وکتل سی نوهرسړی به بی باکه پردی ویلوباندی مجبور وی چی.

یعنی ددنیا خلګ وایی چی دنیا ترقی کوی ، لیکن زماپه نظرکی لاښه تنزل ته روانه ده.

دنن څخه ترسل کاله مخکی زمانی داوس زمانی سره (یعنی د۱۸۵ ء میلادی د۱۹۵۷ ء سره) موازنه وکړی اعداد او شمیر محفوظ دی نو هغه به شاهدی ورکړی چی څومره قانون سازی زیاتیږی اوپه قانون کی

Maktaba Tul Ishaat.com

دخلګو دخوښی نمائشونه ډیریږي او دقانون نافذ کولو دپاره مشینری زیاتیږي ، دیوه پولیس په ځای مختلف قسمونه پولیس په کار را وستل کیږي نو هغومره ورځ په ورځ جرمونه زیاتیږي او خلق دانصاف څخه بېلیږي ځي او په دې رفتار سره ددنیا بد امني پرمخ زیاتیږي .

(ددنیا دامن ضمانت یوازي دآخرت عقیده او دخدای ﷻ بیره ورکولی سي)

یونیك بخت سړی داسی نسته چی په رغړیدلو سترګو وګوری او ددی چلیدونکو رسمونو دا بندونه وشکوی ، لږ درسولِ عربی ﷺ راوړی پیغام ته فکر وکړی اوځان په پوه کړی ، او په دی حقیقت فکر وکړی چی ددنیا امن اوسکون په دی قانونی تعزیراتو سره نه هیڅکله حاصل سوی دی اونه به حاصل سی ددنیا دامن اوامان ضمانت یوازی دآخرت عقیده او دخدای ﷻ بیره ورکولی سی ، چی ددی په ذریعه دراعی اورعیت ، عوامو اوحکومت په مینځ کی فرآئض مشترك کیږي اوهرسړی ته دخپلو ذمه واریو احساس راپیداکیږي ، او عوام بیا داسی نه سی ویلای چی دقانون حفاظت اواحترام دحکومت کار دی مونږ ورځخه خلاص یو دقرآنکریم دا ذکر سوی آیتونه چی دعدل اوانصاف قآئمولو په سلسله کی دی ، ددی انقلابی عقیدی په تلقین باندی ختم کړل سوی دی .

دسورة نسآء ددی آیت په ختمیدو باندی اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ارشاد دی . اودسورة مآئدة په آخرکی اول دتقوٰی هدایت فرمایی اوبیا فرمایی، اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ او دسورة حدید دآیت په آخرکی ارشاد دی ، اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيْزٌ .

په دی درو سره آیتونوکی حاکمانو اوعوامو دواړوته پرعدل اوانصاف دقآئم اوسیدو اودخلګو په دی دقآئم ساتلو دهدایت کولو څخه وروسته دآیتونو په ختمیدو باندی دټولو نظرونه ددی حقیقت طرف ته راګرځول سوی دی کوم چی دانسان په ژوند خیالاتو اوجذباتوکی یولوی انقلاب پیداکوونکی دی ، یعنی دخدای ﷻ قوت اوسلطنت او دهغه په مخکی حاضری اودحساب کتاب جزاء اوسزا تصوّر اوخیال دا هغه شی دی چی ترنن سل کاله مخکی ناخواندی اوبی سوادی دنیاته دنن په نسبت ډیر زیات امن او سکون وربخښلی وو اودا هغه شی دی چی ددی په هیرولو اودپامه څخه په غورځولو سره دنن ترقی یافته دآسمانونو سره خبری کوونکی سیّاری په فضاکی الوزونکی دُنیا دامن اوسکون څخه محرومه ده .

روښن فکره دی دا واوری چی دسآئنس په حیرانوونکی ترقیو سره دوی فضاته ختلای سی، سیّاروته رسیدی سی، په دریابونو باندی تلی سی لیکن امن اوامان سکون او اطمینان چی ددی ټولو سامانونو اوټولو کارخانو اصلی مقصد دی ، هغه دوی ته نه په یوه سیّاره کی په لاس ورتلای سی ، اونه تریوه نوی لاپه نوی ایجادکی، هغه که پیدا کیږی نو درسولِ عربی ﷺ (زماروح دی ترهغه قربان سی) په پیغام اودهغه ﷺ په تعلیماتوکی ، دخدای ﷻ په منلو اوپرحساب اوکتاب باندی په عقیده لرلوکی پیداکیږی ، اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ دسآئنس حیرانوونکی نوی نوی ایجادات ورځ په ورځ دالله ﷻ کامل قدرت اوبی مثله کاریګری نوره زیاته واضحه کوی ، چی دالله ﷻ ددغو دقدرتونو په وړاندی دانسان هره یوه ترقی دخپل عِجز اودرماندګی اعتراف کوی ، لیکن .

چه سود چون دل دانا وچشم بینا نیست

Maktaba Tul Ishaat.com

هیڅ فائده نه کوي چې يوه زړه اوعبرت سترګې ولري . قرآنکريم يوه طرف ته ددُنيا ددې ټول نظام منشاء دعدل اوانصاف قائمول ښوولي دي، بل طرف ته يې ددې يوې مثاله انتظام په داسې عجيبه طريقه وفرمايي چې كه دغه پوره نظام خپل كړه سي اوپه دې عمل وكړه سي نودا خوانخواره اوبدكاره دُنيابه په يوه داسې صالحه معاشره كې بدله سي چې دآخرت ترجنت مخكې به نقدجنت په دُنياكې جوړسي اوقرآن دارشاد ، وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ يو تفسير دا هم دى چې څوك دخداى ﷻ څخه ېريږي هغوته به دوه جنتونه ورسيږي ، يو په آخرت كې دوهم نقد په دنياكې چې په سترګو به يې وويني او دا كوم يوفرضي خيال ياخيالي جوړ سوى شى نه دى ، ددې پيغام راوړونكي پاك پيغمبر ﷺ داپه عملي صورت كې رأوستلي اوپرېښي دي اوترده وروسته خلفاء راشدينو اونورو دشريعت اوسنت تابعدارو پاچهانو چې ترڅو پورې هم په دې عمل كوي، نودبزي او شرمښ پريوه ګودر داوبو چيښلو فرضي مثال يوجوړسوى حقيقت خلګو په رغړيدلو سترګو وليدى ، دامير ، غريب ، مزدور ، اوسرمايه دار فرق ګرسره ختم سو . دقانون احترام كول هرسړي دخپلو كورونو په بندو خونوكي دشپې په تياروكي كوي . دا څه نصه نه ده ، دتاريخ حقيقتونه دي چې غير مسلمانان هم په ډاګه دي . اودصفا زړه هريو غير مسلم يې هم په منلو مجبور سوى دى

د آيت تر مضمون وروسته د آيت تفسير په تفصيل سره وګورئ په ذكر سوى آيت كې يې ، كُوْنُوْا قَوّٰمِيْنَ بِالْقِسْطِ فرمايلي دي ، د قِسْط په زير دقاف سره معنى ده، عدل اوانصاف . اودعدل اوانصاف حقيقت دادى چې دهريوه خاوند دحق پوره حق ادا كړل سي. چې په دې كې دالله ﷻ حقونه هم داخل دي او دهر قسم مخلوق حقونه هم نوپه دې وجه دقيام بالقسط په معنى كې داهم داخله ده چې څوك دې پرچاظلم نه كوي، اودا په كې هم داخله ده چې ظالم دظلم څخه منع كړل سي اودمظلوم ملګرتيادې وسي اوداپه كې هم داخله ده چې دظالم دظلم څخه دمنع كولو اودمظلوم دحق اخيستلو دپاره كه دشهادت ضرورت پېښ سي نو دشهادت څخه دې منع نه كوي ، اوداپه كې هم داخل دي چې په شهادت كې دې دحق اوحقيقت اظهار كوي برابره خبره ده كه دچاپه خلاف يې وركوي اوكه دچاپه حق كې داپه كې هم داخله ده چې كه دچاپه لاسونوكې حكومت اوانتظام دي. كله چې ددوو فريقو فيصله دوى ته وړاندې سي، نو د دواړو فريقو سره دې يوډول معامله كوي . يوې ډلې ته دې په هيڅ قسم سره څه ميلان ورڅخه ونه سي . دشاهدانو بيانونه دې په فكرسره اوري، اودمعاملې په تحقيق كې دې پوره كوشش كوي، بيا دې فيصله په پوره پوره عدل او انصاف سره كوي .

(دعدل او انصاف په قائمولو کي بنديز راوستونکي سببونه)

دسورة نسآء اوسورة مآئدة دا دواړه آيتونه كه څه هم دمختلفو صورتونو دي . ليكن مضمون د دواړو تقريباً يو ډول دي ، فرق يوازې دومره دى چې دعدل او انصاف په لاره كې بنديز اچوونكي په عام ډول سره دوه شيان وي . يو دچا محبّت خپلولي يادوستي اوتعلق چې ددې خواهش په زړه كې دا وي چې شاهدي د دوى موافقه وسي چې دوى دنقصان څخه خلاص سي ياورته نفع ورسيږي او دفيصله كوونكي قاضي ياجج په زړه كې ددې تعلق تقاضا دا وي چې فيصله د دوى په حق كې وسي . دوهم شى

Maktaba Tul Ishaat.com

دیو چا سره ورانی او دښمنی ده چی داسی شاهد دده په خلاف شاهدی ورکولو ته تیار وی ، او قاضی او جج دده خلاف فیصلی ورکولو ته ، مقصد دا دی چی محبت او دښمنی دوه داسی شیان دی چی انسان دعدل او انصاف دلاری څخه اړوی ، او په ظلم او زیاتی کولو کی یی اخته کوی ، دسورة نسآء اوسورة مآئدة په دواړو آیتونوکی دا دواړه بندیزونه لیری کړل سوی دی ، دسورة نسآء په آیت کی یی دخپلولی او تعلق دبندیز لیری کولو هدایت فرمایلی دی ، ارشاد دی ، اَوِالْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ یعنی که څه هم چی ستاسی شاهدی دخپل مور او پلار په خلاف ولی نه وی خو هم په حقه خبره ویلو او رښتینی شهادت ورکولو کی به ددی تعلق لحاظ نه ساتی .

او دسورة مآئدة په آیت کی دورانی اودښمنی بندیز لیری کړی دی ، فرمایی ، لَايَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ عَلٰى اَنْ لَّا تَعْدِلُوْا اِعْدِلُوْا هُوَ اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى : یعنی دیوه قوم بغض او عداوت دی هم ستاسی دپاره ددی باعث جوړ نه سی چی دعدل لارپریږدی او دهغه په خلاف شاهدی یافیصله وکړی د دواړو آیتونوپه عنوان کی هم معمولی فرق دی ، دسورة نسآء په آیت کی یی ، قَوّٰامِيْنَ بِالْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلّٰهِ فرمایلی دی ، اودسورة مآئدة په آیت کی قَوّٰامِيْنَ لِلّٰهِ شُهَدَآءَ بِالْقِسْطِ فرمایلی دی ، یعنی په اول آیت کی د دوو شیانو هدایت دی یو قیام بالقسط دوهم شهادت لله او په دوهم آیت کی هم د دوو شیانو حکم دی ، خو عنوان یی وربدل کی قیام لله اوشهادت بالقسط ، اکثره مفسرین حضرات فرمایی چی دعنوان ددی بدلولو څخه معلومه سوه چی دا دواړه شیان په اصل کی دیوه حقیقت دوه تعبیرونه دی ، یو ځای یی ورڅخه په قیام بالقسط اوشهادت لله سره تعبیر کړی دی اویو ځای یی ورڅخه په قیام لله اوشهادت بالقسط سره ، ددی دواړو آیتونودبیان په طرزکی دا یوه خبره دفکر قابله ده چی د كُوْنُوْا قَوّٰامِيْنَ بِالْقِسْطِ باد قَوّٰامِيْنَ لِلّٰهِ اوږده جمله یی اختیار کړی ده ، حال دا دی چی دعدل او انصاف حکم یوازی په یوه لفظ د اَقْسِطُوْا سره هم ورکیدی سوای خوپه دی اوږده جمله اختیارولو کی دی طرف ته اشاره کول مقصود دی چی په اتفاقی ډول سره په یوه معامله کی په عدل او انصاف کولو ذمه واری نه سی پوره کیدی ، ځکه چی په څه ناڅه معامله کی انصاف کیدل داسی طبعی کار دی چی په هر تر بد لاپر بد اوترظالم لاپرظالم حاکم باندی هم صادق کیدی سی چی دده څخه به هم په یوه نه یوه معامله کی انصاف خامخا کیږی ، په دی جمله کی یی لفظ دقوّامین استعمال کی، دایی وښووله چی په عدل اوانصاف همیشه، هروخت پرهرحال اوهردوست اودښمن دپاره قآئم اوسیدل ضروری دی .

بیاپه دی دواړو آیتونوکی چی پوره دنیالره پرانصاف اوعدل دقآئمولو اوقآئم لرلو کوم زرین اُصول اختیار کړی دی دغه هم دقرآنکریم دخاصو خصوصیاتو څخه دی ، په دی کی یو مهم شی خو دا دی چی حاکمان او عوام ټول یی دخدای ﷻ دغالب قدرت او دقیامت دحساب څخه وبیرول ، ددی دپاره یی تیار کړل چی عوام په خپله هم دقانون احترام کوی او حاکمان چی دقانون دنافذکولو ذمه وار دی ، دوی هم دقانون په نافذ کولوکی خدای ﷻ او آخرت ته ځان مخامخ کړی دخدای ﷻ دمخلوق خادمان جوړ سی ، او دقانون څخه دخلګو دخدمت او دملك داصلاح ذریعه جوړه کړی اوپه دی سره دخلګو په پریشانیوکی زیاتوالی اومظلومان ددفترونو په په چکروکی ونه نیسی ، په یوه ظلم سربیره دبل ظلم سبب یی جوړ نه

Maktaba Tul Ishaat.com

کړي قانون په خپلو ذلیلو خواهشاتو یایوځو ټکو خرڅ نه کړي ، قوّامین لله یاشهداء لله یې وفرمایل ، حاکمانو اوعوامو دواړو ته یې خاص دخدای ﷻ دپاره اوپه اخلاص سره دکار کولو دعوت ورکی .
دوهم بنیادي شي دا دی چې دعدل او انصاف دقائمولو ذمه واري یې په ټولو انساني افرادو غورځولې ده په سورة نسآء او سورة مآئدة کې خو یې ، یا أیها الذین آمنوا وفرمایل ، ټول مسلمان اُمّت یې مخاطب کړی دی او په سورة حدید کې یې لیقوم الناس بالقسط وفرمایل دا فرض یې په ټولو انساني افرادو باندي وغور ځوی ، دسورة نسآء په آیت کې یې ولو علی أنفسکم وفرمایل او دې طرف ته یې اشاره وفرمایله ، چې دانصاف مطالبه دې یوازې دنورو څخه نه وي بلکه په خپل نفس باندي هم په کار ده ،که دخپل نفس خلاف کوم بیان یا اظهار کول وي ، نو هم دې دحق او انصاف خلاف څه نه وایي ، که څه هم چې ددې نقصان دده په ذات باندي پریوزي ، ځکه چې دا نقصان ډیر لږ اوعارضي دی او چې په دروا غو ویلو سره خان خلاص کړي نو دقیامت سخت عذاب به دخان دپاره واخلي .

یٰٓأَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالْکِتٰبِ الَّذِیْ

ای امؤمنانو ! یقین وکړی په الله اودهغه په رسول ﷺ اوپه هغه کتاب چې

نَزَّلَ عَلٰی رَسُوْلِهٖ وَالْکِتٰبِ الَّذِیْٓ اَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ ؕ وَمَنْ

نازل کړی یې دی په رسول خپل اوپه هغه کتاب چې نازل کړی یې دی مخکې ، اوڅوک

یَّکْفُرْ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِکَتِهٖ وَکُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ فَقَدْ

چې یقین نه کوي په الله او دهغه په ملائکو اودهغه په کتابونو اورسولانو اوپه ورځ دقیامت نو دی

ضَلَّ ضَلٰلًاۢ بَعِیْدًا ﴿۱۳۶﴾ اِنَّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا ثُمَّ کَفَرُوْا ثُمَّ

ګمراه سو ډیرلیری ولاړی ، کوم خلق چې مسلمانان سول بیا کافران سول بیا

اٰمَنُوْا ثُمَّ کَفَرُوْا ثُمَّ ازْدَادُوْا کُفْرًا لَّمْ یَکُنِ اللّٰهُ لِیَغْفِرَ لَهُمْ

مسلمانان سول بیا کافران سول بیا زیات سول په کفرکې نو الله ﷻ هیڅکله دوی لره بخښونکی نه دی ،

وَلَا لِیَهْدِیَهُمْ سَبِیْلًا ﴿۱۳۷﴾ؕ

او نه به وښیي دوی ته لاره

دآیتونوټرون : پورته زیاته حصه دفرعي احکامو ذکر وو او دایمان او دکفر بحثونه په کې ځای پرځای دمخالفینو سره دمعاملو په ضمن کې راغلي دي ، اوس دغه بحثونه لږ په تفصیل سره بیانیږي او

Maktaba Tul Ishaat.com

دسورة ترختميدو پورې تللې دی . دبيان په ترتيب کې اول بيان ددې دی چې په شريعت کې کوم ايمان معتبر دی اوبيا دکفارو دمختلفو فريقو په عملونو او عقيدوکې دبدوالی بيان دی

لنډتفسير ای مؤمنانو! (يعني کومو چې اجمالي ايمان راوړی دی دمؤمنانو په ډله کې داخل سوي دی) ناسی (دضروري عقيدو تفصيل واوري چې) عقيده لرئ په الله ﷻ (په ذات او په صفاتو) سره يې او دهغه په رسول (محمّد ﷺ په رسالت) سره يې او دهغه په کتاب (په حقوالی) سره يې کوم چې هغه (يعني الله ﷻ) په خپل رسول (يعني محمّد ﷺ) باندې نازل کې او په هغه کتابونو (دحقوالی) سره يې (هم) کوم چې (نبي کريم ﷺ) مخکې (پرپورو نبيانو) نازل سوي دي (او په نبي کريم ﷺ او په تيرو کتابونو په ايمان راوړلو کې په ملائکو اوپه باقي پيغمبرانو او په ورځ دقيامت ايمان راوړل هم داخل سو) اوکوم سړی چې دالله ﷻ (دذات ياصفاتو) څخه انکاروکړی او (دغه ډول چې) دهغه دملائکو څخه (انکار وکړي) او (دغه ډول چې) دهغه دکتابونو څخه (چې قرآن په کې هم راغی انکار وکړي) او (دغه ډول خوک چې) دهغه درسولانو څخه (چې په دوی کې نبي کريم ﷺ هم دا خل دی انکار وکړي) او (دغه ډول څوک چې) دورځې دقيامت څخه (انکار وکړي) نو دغه سړی په گمراهی کې ډير لېرې ولويدی بيشکه کوم خلک (چې اول) مسلمانان سول بيا کافران بيا مسلمانان سول (او داوارهم په اسلام قائم پاته نه سول که نه يې نو اولنی مُرتدوالی به ورته معاف وای بلکه) بيا کافران سول بيا (گرسره مسلمانان نه سول که نه وي بيابه يې هم ايمان قبول سوی وای. بلکه) په کفرکې زيات سول (يعني په کفر باندې ترمرگه پورې ثابت اوقائم پاته سول) الله ﷻ به داسې خلک هيڅکله ونه بخښي اونه به دوی ته (دمنزلِ مقصود يعني جنّت) لاره وښيي (څکه چې دبخښنې اوجنّت دپاره ترمرگه پورې مؤمن پاته کيدل شرط دی)

معلومات اومسئلې: ضروري فائدې: دالله ﷻ قول دی ، إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا الخ ددی څخه مراد منافقان دي او ځينې فرمايي چې دا آيت ديهودو په شان کې دی چې اول يې ايمان راوړی ، بيايي دگيلګی عبادت وکی ، کافران سول ، بيايې توبه وکړه ، مؤمنان سول ، بيا دحضرت عيسیٰ عليه السلام څخه منکرسول اوکافران سول تردې وروسته يې دنبي کريم ﷺ درسالت څخه انکار وکې په کفرکې يې ترقي وکړه (روح المعاني)

دالله ﷻ قول دی لَّمْ يَكُنِ اللَّهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيلًا مطلب ددې آيت دا دی چې د دوی په وار وار کفرته واپس کيدو د دوی دحق توفيق ختم سی او آئنده دتوبه کولو اوايمان راوړلو ورته گرسره موقع نصيب نه سوه ، که نه وی نوکومه قاعده چې دقرآن اوسنتو دقطعي دليلونو څخه ثابته ده هغه دا ده چې هرڅومره کافر يامرتدچې وی خوچې ريښتيني توبه وکړي نوټير گناهونه ورته معاف کيږي ، که داخلک هم توبه وکړي ، نو دمعافی قانون او دروازه ورته خلاصه اوپرانستلې ده .

بَشِّرِ الْمُنَافِقِينَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٣٨﴾ الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ

خوشخبری واوروه منافقانوته ، چې ددوی دپاره عذاب دردناک دی هغه چې جوړوی کافران خپل ملگري (او ، پاته کوي مسلمانان

أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا ﴿١٣٩﴾ وَقَدْ نَزَّلَ

آيادوی لټوي دهغوی سره عزت نو عزت دالله دپاره دی ټول ، اوحکم نازل سوی دی

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلَيۡكُمۡ فِي الۡكِتٰبِ اَنۡ اِذَا سَمِعۡتُمۡ اٰيٰتِ اللّٰهِ يُكۡفَرُ بِهَا وَيُسۡتَهۡزَاُ

باتاسی په قرآن کی چی کله تاسی اوری چی دالله دآیتونو ځخه انکار کیدل او په دی پوری مسخری کیدل

بِهَا فَلَا تَقۡعُدُوۡا مَعَهُمۡ حَتّٰى يَخُوۡضُوۡا فِيۡ حَدِيۡثٍ غَيۡرِهٖۤ ۖ

نو مه کښینی د دوی سره تردی چی مشغول سی په بله خبره کی ،

اِنَّكُمۡ اِذًا مِّثۡلُهُمۡ ؕ اِنَّ اللّٰهَ جَامِعُ الۡمُنٰفِقِيۡنَ وَالۡكٰفِرِيۡنَ فِيۡ جَهَنَّمَ

که نه وی تاسی به هم د دوی په شان سی ، الله به جمع کړی منافقان او کافران په دوږخ کی

جَمِيۡعَا ۙ (۱۴۰) الَّذِيۡنَ يَتَرَبَّصُوۡنَ بِكُمۡ ۚ فَاِنۡ كَانَ لَكُمۡ فَتۡحٌ مِّنَ اللّٰهِ

یوځای ، هغه منافقان چی ستاسی په انتظار کی دی ، بیا که تاسی ته فتح ورسیږی دالله په اراده سره

قَالُوۡۤا اَلَمۡ نَكُنۡ مَّعَكُمۡ ۖ وَاِنۡ كَانَ لِلۡكٰفِرِيۡنَ نَصِيۡبٌ ۙ قَالُوۡۤا اَلَمۡ

نو وایی ولی مونږ نه وو ستاسی سره ، او که نصیب سی کافرانو ته نو وایی مونږ

نَسۡتَحۡوِذۡ عَلَيۡكُمۡ وَنَمۡنَعۡكُمۡ مِّنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ؕ فَاللّٰهُ يَحۡكُمُ بَيۡنَكُمۡ

ستاسی ځخه نه وو تاو سوی او ساتلی مونه واست دمسلمانانو ځخه ، نو الله به فیصله وکړی په تاسی

يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ ؕ وَلَنۡ يَّجۡعَلَ اللّٰهُ لِلۡكٰفِرِيۡنَ عَلَى الۡمُؤۡمِنِيۡنَ سَبِيۡلًا (۱۴۱) ع

کی دقیامت په ورځ ، او هیڅکله به ورنه کړی الله کافرانو ته په مسلمانانو باندی غلبه

لنډتفسیر: منافقانو ته خوشخبری واوروه ، ددی خبری چی د دوی دپاره (په آخرت کی) لویه دردناکه سزا (منتخب کړه سوی) ده، دچاچی دا حالت ووچی (عقیدی خویی دمؤمنانو ډرلودلی لیکن وضع یی هم دمؤمنانو ونه ساتلای سوه نو) کافران خپل دوستان جوړوی، مسلمانان پریږدی آیا د دوی سره (ځی) عزت حاصلول غواړی نو (ښه پوه سی چی) عزت خوټول دالله ﷻ په قبضه کی دی (هغه یی چی چالره وغواړی ورکوی یی نوکه خدای ﷻ دوی لره یادوی چی دچاخواته ځی دوستی ورسره کوی ، هغولره عزت ورنه کړی نو دکوم ځای ځخه به عزتمنده سی، او (ای مسلمانانو! تاسی دمنافقانوپه شان دکفارو سره خصوصیت مه ساتی بیاپه تیره تیره په هغه وخت کی کوم وخت چی دوی دکفرخبری کوی ، لکه چی تردی مدنی سورة مخکی هم، الله ﷻ تاسی ته دا فرمان (په سورة انعام کی چی مکی دی) رالیږلی دی چی دهغه حاصل دا دی، چی کله (په یود مجلس کی)، دالله ﷻ دحکمونو سره مسخری او کفر کیدل اوری

Maktaba Tul Ishaat.com

نو دغه خلګو سره مه کښینئ ترڅو چې دوی کومه بله خبره شروع نه کړي (او دا مضمون ددې آیت حاصل دی ، وَاِذَا رَاَیْتَ الَّذِیْنَ یَخُوْضُوْنَ الخ نو دا مسخري کوونکي په مکه کې مشرکان وه ، او په مدینه کې یهود په ښکاره او منافقان یوازې دغریبو مسلمانانو او کمزورو مسلمانانو په مخ کې ، نو لکه څنګه چې هلته دمشرکانو سره کښینستل په داسې وخت کې منع وه ، دلته دیهودو او منافقانو سره منع دې او دامنع مونږ څخه کوو) چې په دې حالت کې به تاسې هم (په ګناه کې) د دوی په شان سې (که څه هم چې فرق به په قسمونو ددواړو کې وي چې یوه ګناه دکفرده او بله دفسق، او دکښینستو په دې منع کې کفار او منافقان ټول برابردي څکه چې ددې خبرو وجه یوه ده چې خبرې دکفردي او منشاء یې کفردی نو په دې کې دواړه برابردي نو دکفر په سزاکې یعني دأور په پیلوزې کیدلو کې به دواړه برابروي څکه چې) یقیناً الله ﷻ به منافقان او کافران ټول په دوزخ کې جمع کړي (او) دغه (منافقان) داسې دي چې پرتاسې دکوم تکلیف پریوتو په انتظار (او آرزو) کې دي بیا (تردې انتظار وروسته) که ستاسې فتح د الله ﷻ دطرفه څخه نصیب سی نو (تاسې ته راسې) خبرې جوړ وي چې آیا مونږ ستاسې سره (په جهاد کې شریك) نه وو (څکه چې دنوم او نمایش دپاره خو به په مسلمانانو کې ننوتلي وه، مطلب دادې چې مونږ ته هم په غنیمت کې حصه راکړې) او که کافرانو ته (دغلبې) کومه حصه ورسیږي (یعني په اتفاقي ډول سره هغوې غالبه راسي) نو (هغوی ته ولاړ سي) خبرې جوړوي چې آیا مونږ په تاسې غالب کیدلو (لیکن مونږ قصداً ستاسې دغالب کیدلو دپاره دمسلمانانو کومك ونه کړې او داسې تدبیرمو وکړې چې جنګ وران سو او تاسې وګټئ) او آیا مونږ (کله چې تاسې مغلوب کیداست) د مسلمانانو څخه خلاص نه کړاست (داسې چې مونږ دهغوی کومك ونه کړې او په تدبیرسره مونږ جنګ روان کې ، مطلب دا دې چې زمونږ احسان ومنئ او څه چې ستاسې په لاس درغلي دي مونږ ته هم څه حصه ورڅخه راکړې مقصد دا دې چې دواړو طرفو ته لاسونه وهي) نو (په دنیاکې که څه هم داسلام ښکاره کولو په وجه او برکت دمسلمانانو په شان ژوند تیر وي لیکن) الله ﷻ ستاسې او د دوی په قیامت کې (عملي) فیصله وکړې او (په دې فیصله کې) هیڅکله به الله ﷻ کافران دمسلمانانو په مقابله کې غالب نه کړي (بلکه کفار به مجرمان مقرر سي، دوزخ ته به ولاړ سي او مسلمانان به اهل حق ثابت سي، جنت ته به ولاړ سي او عملي فیصله هم دا ده)

معلومات او مسئلې: په اول آیت کې دمنافقانو دپاره د دردناك عذاب خبر ورکړل سوی دی او دا دغم خبر یې دزیرې په لفظ سره تعبیر کړې دی ، دې طرف ته یې اشاره کړې ده ، چې هر یو بنده دخپل راتلونکي وخت دپاره دخوشخبرې په انتظارکې وي ، لیکن دمنافقانو دپاره ددې څخه ماسوا بل هیڅ خبرنسته نو دوی دپاره دزیرې په بدله کې هم دا خبر دی .

(عزّت خاص دالله ﷻ څخه غوښتل په کاردي)

په دوهم آیت کې دکفارو او مشرکانو سره ددوستانه تعلقاتو ساتلو او یوځای او سیدلو څخه منع سوې ده او دداسې کوونکو دپاره دسزا وعده ذکرده او ددې سره په دې مرض کې داخته کیدو اصلي منشاء او سبب یې بیان کړې دی او ددې لغوه او عبث والی یې ښوولی دی، ارشاد فرمایي ، اَیَبْتَغُوْنَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ فَاِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِیْعًا یعني دکفارو او مشرکانو سره ددوستانه تعلقاتو ساتلو او ددوی سره دیوځای کیدو مقصد په عام

Maktaba Tul Ishaat.com

دول سره داوی چی ددوی دظاهری عزت اوقوت څخه دمتاثره کیدو په وجه داخیال پیداسی چی که ددوی سره دوستی وکړه سی نوموږته به هم داسی قوّت اوعزت حاصل سی ددوی څخه، الله ﷻ ددی عبث خیال حقیقت داسی واضح کی چی تاسی د دوی په ذریعه عزت حاصلول غواړی اوحال دا دی چی د دوی سره په خپله عزت نسته ، عزّت دکوم معنی چی غلبه اوقوّت دی هغه یوازی دالله ﷻ دپاره خاص دی اوپه مخلوق کی چی کله چاته څه قوّت اوغلبه رسیږی هغه ټول دالله ﷻ ورکړل سوی وی ، نو دا به څومره بی عقلی وی چی دعزت حاصلولو دپاره دعزّت اصلی مالك اوعزت ورکوونکی خو خفه کړل سی او دهغه ددښمنانو په ذریعه دعزت حاصلولو کوشش کول کیږی ، دقرآن مجید په سورة منافقون کی هم دا مضمون دیوی اضافی سره داسی راغلی دی .

وَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَلٰكِنَّ الْمُنَافِقِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ :

عزت خویوازی دالله ﷻ دپاره دی اودهغه درسول ﷺ دپاره اودمسلمانانودپاره دی لیکن منافقان په دی نه پوهیږی په دی کی یی دالله ﷻ سره درسول ﷺ اومؤمنانو اضافه وکړه دایی هم وښوول چی اصلی دعزت مالك یوازی الله ﷻ دی ، هغه چاته چی غواړی څه حصّه عزت ورکوی، او دالله ﷻ رسول ﷺ اوپه هغه ایمان راوړونکی چی کله هغه ته نژدی اومقبول اومحبوب دی ، په دی وجه هغوی ته عزت اوغلبه ورکول کیږی کفارو اومشرکانوته په خپله نصیب نه دی نو د دوی په تعلق سره به بل ته څه عزت ورسیږی ، په دی وجه حضرت فاروقِ اعظم فرمایی . مَنِ اعْتَزَّ بِالْعَبِيْدِ اَذَلَّهُ اللّٰهُ کوم سړی چی دمخلوقاتو اوبندګانو په ذریعه عزّت حاصلول غواړی نو الله ﷻ هغه ذلیله کوی .

په مستدرك حاکم کی دی چی حضرت فاروقِ اعظم ﷺ دشام دملك ګورنرته وفرمایل ، كُنْتُمْ اَقَلَّ النَّاسِ وَاَذَلَّ النَّاسِ فَكَثَّرَكُمْ بِالْاِسْلَامِ وَكُنْتُمْ اَذَلَّ النَّاسِ فَاَعَزَّكُمُ اللّٰهُ بِالْاِسْلَامِ مَهْمَا تَطْلُبُوْا الْعِزَّةَ بِغَيْرِ اللّٰهِ يُذِلَّكُمُ اللّٰهُ (مستدرك ص ۸۲) یعنی ای ابوعبیدة ﷺ) تاسی په شمیر ترټولو کوم او تر ټولو زیات کمزوری واست تاسی ته یوازی داسلام په وجه عزت اوشوکت ورسیدی نو ښه پوه سه چی که تاسی داسلام څخه ماسوا دبل چاپه ذریعه سره عزّت حاصلول وغوښتل نو خدای ﷻ به تاسی ذلیله کړی .

ابوبکر جصاص رحمه الله په احکام القرآن کی فرمایی چی ددی آیت څخه مراد دا دی چی دکافرانو اوفاجرانو سره په دوستی کولو کی عزت مه لټوی البته که دمسلمانانوپه ذریعه عزّت اوقوت طلب کړه سی نو ددی منع نسته څکه چی دسورةِ منافقون آیت داخبره ښکاره کړی ده چی الله ﷻ خپل رسول ﷺ او مؤمنانو ته عزت وربخښلی دی (جصاص ص۳۵۲ ج ۲)

دلته دعزّت څخه مرادکه همیشه پاته کیدونکی دآخرت عزت وی نوبیاپه دنیاکی ددی خاص کیدل په الله ﷻ او په رسول ﷺ اوپه مؤمنانو سره ښکاره خبره ده ، څکه چی دآخرت عزت یوکافر اومشرك ته هیڅکله نه سی حاصلیدی اوکه مراد ورڅخه ددنیا عزت واخلی نوبیا عبوری دور اواتفاقی حادثی چی پرېښوول سی نو دانجام په اعتبار سره داعزت اوغلبه آخر داسلام اودمسلمانانو حق دی ، ترڅوپوری چی مسلمان په صحیح معنی مسلمان وی ، دنیاپه خپلو سترګو لیدلی ده اوبیاچی په آخره زمانه کی چی کله دحضرت عیسیٰ علیه السلام په امامت اوقیادت کی مسلمانان په صحیح اسلام باندی قائم سی نو بیابه

غلبه د دوی وی ، په درمیانی اوعبوری دورکی مسلمانانو دایمان دکمزوری اودگناهونو دامتحان په وجه د دوی کمزوری په نظر راتلل ددی منافی نه دی

په آیت ، وقد نزل علیکم في الکتب الخ کی قرآنکریم دیوه بل آیت چی په سورة انعام کی دی ترهجرت مخکی په مکه مکرمه کی نازل سوی وو حواله کی اودایی وښوولہ چی مونږ دانسان داصلاح دپاره اول داحکم لیږلی وو چی دکافرانو اوفاجرانو په مجلس کی مه کښینی او عجیبه ده چی داغافلان خلک ترڅو هم مخکی ولاړل. چی دوستی یی ورسره شروع کړی او دوی یی دعزت اوقوت خاوندان ګڼل شروع کړل

دسورة نسآء ددی آیت اودسورة انعام دهغه آیت دکم حواله چی یی دسورة نسآء په دی آیت کی ورکړی ده د دواړو مشترك مطلب دا دی چی که په یوه مجلس کی څه خلک دالله ﷻ دآیتونو څخه انکار یا ورپوری مسخری کوی ، نو تر څو چی دوی په دی عبث شغل کی مشغول وی د دوی په مجلس کی کښېناستل اوشرکت کول حرام دی ، بیا دسورة انعام په آیت کی لږ زیات تفصیل دی، څکه چی دهغه الفاظ دا دی

وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ الشَّيْطَانُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرَىٰ مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ

یعنی کله چی تاسی ووینی هغه خلک چی جګړی کوی په آیتونو زمونږکی نو د دوی څخه منع کوی تردی پوری چی دوی مشغول سی په څه بله خبره کی اوکه هیر کړی تاسی شیطان نومه کښینی تر یادیدو وروسته دظالمانو سره .

په دی کی دالله ﷻ په آیتونو جګړه کول ذکردی چی کفر اومسخری په کی داخلی دی ، او دآیتونو معنی بدلول یعنی دقرآن دآیتونو څخه داسی معنی راایستل چی دنبی کریم ﷺ اوصحابه کرامو دتفسیر څخه خلاف وی یادامّت داجماع څخه خلاف وی داهم په دی کی داخل دی ، په دی وجه دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ په روایت دضحاك نقل دی چی ددی آیت په مطلب کی هغه خلګ هم داخل دی چی دقرآن تفسیر غلط یاپه کښی تحریف کوونکی یابدعات راایستونکی وی ، ددوی ﷺ الفاظ دا دی ، دَخَلَ فِيْ هٰذِهِ الْآيَةِ كُلُّ مُحْدِثٍ فِي الدِّيْنِ وَكُلُّ مُبْتَدِعٍ اِلىٰ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ (مظهری ص ۲۶۳ ج ۲)

(په رایی سره دتفسیر کوونکي په مجلس کي شرکت جائز نه دی)

ددی څخه معلومه سوه چی کوم سړی دقرآنکریم په درس یاتفسیرکی دسلفو صالحینو پابند نه وی ، بلکه د دوی خلاف معنی بیانوی ده په درس او تفسیرکی شرکت دقرآن په نص سره ناجائز اودثواب پرځای ګناه ده ، په تفسیر بحرمحیط کی ابوحیان رحمه الله فرمایی چی ددی آیتونو څخه معلومه سوه چی دکومی خبری په ژبه سره ویل ګناه ده، ددی په غوږونو سره په خپل اختیار اوریدل هم ګناه ده ، اوپه دی باندی یی دا شعر نقل کړی دی .

وَسَمْعَكَ صُنْ عَنْ سَمَاعِ الْقَبِيْحِ ••••••••••• كَصَوْنِ اللِّسَانِ عَنِ النُّطْقِ بِهٖ

یعنی خپل غوږونه دبدی خبری داوریدو څخه وساته لکه څنګه چی ژبه دبدی خبری څخه ساتی

دوهمه خبرد دسورة انعام په آیت کی دا زیاته ده چی که څه وخت په هیرد یاپه بی خبری کی یو سړی په داسی مجلس کی شریك سی اوبیایی په خیال کی راسی نو پدستی ددغه مجلس څخه لیری کیدل په کار

Maktaba Tul Ishaat.com

دی . ترخیال راتلو وروسته دی دظالمانو سره نه کښیني . دسورة نساء اوسورة انعام په دواړو آیتونو کې یې دا فرمایلي دي چې ترڅو پورې دغه خلک په دې عبثو خبرو کې مشغول وي ترهغه وخته پورې د دوی په مجلس کې کښينستل حرام دي . ددې مسئلې دوهم اړخ دا دی چې کله دوی دا خبرې ختمې کړې څه بله خبره شروع کړي نو دغه وخت د دوی سره په مجلس کې کښينستل اوشرکت جائزدی اوکه نه ؟ قرآنکريم ددې وضاحت نه دی فرمایلی، په دې وجه دعالمانو په دې کې اختلاف دی ځيني فرمايي چې دمنع وجه دالله ﷻ دآيتونو سپکاوی اوتحريف وو چې هغه ختم سو، نومنع هم ختمه سوه نوچې نورې خبرې شروع سوې، اوس په دغه مجلس کې کښينستل ګناه ده. اوځيني فرمايي چې دداسې کافرانو او فاجرانو اوظالمانو خلګو په مجلس کې بياهم کښينستل جائز نه دي . دحسن بصري رحمه الله دا ارشاد دی ، دی رحمه الله دسورة انعام داجمله په دليل کې پيش کوي ، فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ (يعنې ترياديدو وروسته دظالمانو سره مه کښينې) اودا ښکاره خبره ده چې ظالمان ددغه خبرې ترختمولو وروسته هم ظالمان دي نو د دوی دمجلس څخه وروسته هم ځان ساتل لازم دي (جصاص رحمه الله) اوپه تفسير مظهري کې قاضي صاحب رحمه الله د دواړو تطبيق داسې فرمايي چې کله دکفر او مسخرو اودقرآن دتحريف خبرې بندې سي، نورې خبرې شروع سي نودغه وخت هم دداسې خلګو په مجلس کې شرکت کول بې ضرورته خوحرام دي اوکه څه شرعي ياطبعي ضرورت وي، نوبيا جائز دي .

دبدانو تر مجلس يوازې والي ښه دی: امام ابوبکر جصاص رحمه الله په احکام القرآن کې فرمايي چې ددې آيت څخه ثابته سوه چې په کوم مجلس کې څه ګناه کيږي نو په مسلمان باندې دنهي عن المنکر ضابطه سره دالازمه ده چې که ددې دبندولو قدرت يې وي نوپه قوت سره دې يې منع کړي، اوکه داقدرت يې نه وي.نوکم ازکم په دې ګناه دې دخپل دخفګان اظهار وکړي چې ددې ادنی درجه دا ده چې ددې مجلس څخه دې ولاړسي ، همدا وجه ده چې يووار حضرت عمربن عبدالعزيز رحمه الله څه خلک په دې جرم کې ونيول چې دوی شراب چيښل، په دوی کې ديوه سړي په باره کې داثابته سوه، چې دده روژه وه دده شراب نه دي چيښلي ، ليکن د دوی په مجلس کې شريك وو ، حضرت عمربن عبدالعزيز رحمه الله ده ته هم سزا ورلره ورکړه چې دی ولې ددوی په مجلس کې ناست وو (بحر محيط ص ۳۷۵ ج ۳)

په تفسير ابن کثير کې يې دلته داحديث نقل کړی دی چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي .

مَنْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَلَا يَجْلِسْ عَلٰى مَآئِدَةٍ يُدَارُ عَلَيْهَا الْخَمْرُ (ابن کثير ص ۵۶۷ ج ۱)

يعنې کوم سړی چې په الله ﷻ اوپه ورځ دآخرت ايمان لري، ده ته په کار دي چې په داسې سترخوان يادخوراك پرميز نه کښيني کوم ځای چې دشرابو دور چليږي .

په دې ذکرسوي بحث کې چې کوم دمجلس څخه دولاړيدو ويل سوي دي ، ددې پاره دا شرط دی چې په شرعي حيثيت سره ددې مجلس پر پرېښوولو باندې څه ګناه نه لازميږي مثلاً په مسجد کې په جماعت کې شريکيدل ضروري خبره ده ، که هلته کوم دشريعت څخه مخالف کار کيږي نوجماعت ددې په وجه پرېښوول نه دي په کار بلکه يوازې دزړه په ناراضه کيدو دې بس والي کوي ، دغه ډول کوم بل ضروري مجلس چې ضرورت يې په شريعت سره ثابت وي که هلته څوك دشريعت خلاف کارکوي نودنورو دګناه

Maktaba Tul Ishaat.com

په وجه په خپله دمجلس پریښوولو ګناه کول دعقل خبره اوجآئزنه دی ، په دی وجه حضرت حسن بصری رحمه الله فرمایي چي که مونږ دخلګو دګناه په وجه خپل ضروری کار پریږدو نوداخوبه مونږ دفاسقانو اوفاجرانو دپاره دسنت اوشریعت ماتولو لاره هواره کړو .

لنډه دا سوه چي داهلِ باطلو سره دمجلس څو صورتونه دی ، اول د دوی په کفریاتو باندی درضاسره دا کفر دی ، دوهم دکفریاتو داظهار په وخت کی دبد ګڼلو سره بی له عذره څخه ، دا فسق دی ، دریم ددنیوی ضرورت په وجه دا مباح دی ، څلورم داحګامو دتبلیغ دپاره داعبادت دی ، پنځم په مجبوری اوبی اختیاری سره ، په دی کی معذوره دی .

(په کفر باندی راضي کیدل کفر دی)

دآیت په آخرکی یی ارشاد وفرمایی ، اِذًا مِّثْلُهُمْ یعنی که تاسی په داسی مجلس کی دزړه په مینه شریك سواست په کوم کی چی دالله ﷻ په آیتونو باندی کفر مسخری یاتحریف کیږی ، نو تاسی به هم په دغه ګناه کی شریك سی او د دوی په شان به سی مراد دا دی چی خدای ﷻ دی نه کړی که ستاسی خیالات اوجذبات همداسی وی چی دغه کفریات خوښوی اوراضي یاست ورباندی ، نو په حقیقت کی تاسی به هم کافران یاست څکه چی کفر خوښول هم کفردی ، اوکه داسی نه وی نو ددوی په شان دکیدو دامعنی ده چی لکه څنګه دوی اسلام اومسلمانانو ته په نقصان رسولو اوددین په دروغجن کولو کی لګیادی تاسی ددوی سره دشریکیدو په ذریعه ددوی کومك کوئ، معاذ الله ددوی په شان کیږی .

اِنَّ الْمُنٰفِقِیْنَ یُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ ۚ وَاِذَا قَامُوْٓا اِلَی

بیشکه منافقان دوکه کوی دالله سره او هغه به دوی لره سزا ورکړی ، هرکله چی دریږي

الصَّلٰوةِ قَامُوْا كُسَالٰی ۙ یُرَآءُوْنَ النَّاسَ وَلَا یَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ

لمانځه ته نو دریږي په سستی سره خلقو ته ځانونه ښیی اونه یا دوی الله

اِلَّا قَلِیْلًا ﴿۱۴۲﴾ مُّذَبْذَبِیْنَ بَیْنَ ذٰلِكَ ۖ لَآ اِلٰی هٰٓؤُلَآءِ وَلَآ اِلٰی

مګر لږ شان ، خوړندی د دواړو په مینځ کی نه هغوی طرف ته دی اونه د دوی طرف ته دی

هٰٓؤُلَآءِ ۗ وَمَنْ یُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ سَبِیْلًا ﴿۱۴۳﴾ یٰٓاَیُّهَا

او څوك چی ګمره کړی الله ﷻ نو هیڅکله به بیانه کی پیدا دی لاره ، ای

الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الْكٰفِرِیْنَ اَوْلِیَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِیْنَ ؕ

ایماندارو ! مه جوړوی کافران خپل ملګری چی مسلمانان پاته کوی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

أَتُرِيدُونَ أَن تَجْعَلُوا لِلَّهِ عَلَيْكُمْ سُلْطَانًا مُّبِينًا ﴿١٤٤﴾

آیا اخلی تاسی په خپلو ځانونو باندی دالله الزام ښکاره

تفسیر: بیشکه منافقان خلگ (دایمان په ښکاره کولوکی) چل بازی کوی دالله ﷻ سره (او د دوی داچل دالله ﷻ څخه پټ نه سی پاته کیدی، که څه هم چی د دوی عقیده دالله ﷻ سره دچل بازی کولونه وی، خو د دوی دا کاروایی مشابه ده ددی سره لکه ددوی چی دا عقیده وی) حال دا دی چی الله ﷻ ددی دچلبازۍ دسزا دوی ته ورکولو والا دی او (کله چی په زړه کی خو د دوی ایمان گرسره نسته نوپه دی وجه لمونځ فرض نه گڼی اونه په کی دثواب عقیده ساتی په دی وجه) کله چی لمانځه ته دریږی نوډیرپه سستی سره دریږی (ځکه چی خوشحالی خو په عقیده اواُمید سره پیدا کیږی) یوازی خلگوته خپل ځانونه (لمونځ کوونکی) ښیی (چی دوی یی مسلمان وگڼی) او (کله چی داغسی په نامه لمونځ کوی، په دی وجه په لمانځه کی) دالله ﷻ ذکر (په ژبه سره) نه کوی مگر ډیر لنډ (یعنی محضی دلمانځه صورت جوړوی چی دلمانځه نوم پکښی راسی اوداغسی کښینستل او ولاړیدل دی هم وی ځکه چی په زوره قرآئت خوپه څینو لمونځونوکی امام کوی اودوی ته امامت کله نصیب کیدی سی دمقتدی په صورت کی که څوك داغسی شونډی ښورروی اوڅه نه وایی نوڅوك څه په خبریږی نوداسی بداعتقاده کیدی سی چی شونډی هم نه ښورروی) خوړند وی د دواړو (یعنی کفارو اومؤمنانو) په مینځ کی نه (پوره) دی خواته نه (پوره) هاخواته (ځکه چی په ظاهرکی مؤمنان خودکفارو څخه جلا اوپه باطن کی کافران خو دمؤمنانو څخه جلادی) اوڅوك چی خدای ﷻ په گمراهی کی واچوی (لکه چی عادت یی دی چی دکاردقصد کولوپه وخت کی دغه کار پیداکوی) دداسی سړی د (مؤمن کیدو د) پاره به هیڅ لارپیدانه کړی (مطلب دا دی چی ددی منافقانو دپه لاری کیدو اُمیدمه ساته په دی کی دمنافقانودپاره زورونه ده او مسلمانانوته تسلی ده چی ددوی په شرارتونومه خفه کیږئ) ای مؤمنانو! تاسی مؤمنان پاته کوی کافران (برابره خبره ده که منافقان وی او که ښکاره وی) دوستان مه جوړوئ (لکه چی دادمنافقانو خوی دی ځکه چی تاسی ته ددوی حالت دکفر اودښمنۍ معلوم سو) آیاتاسی (ددوی سره دوستی کوی) داغواړئ چی په خپل ځان (یعنی په خپل جُرم اودعذاب په مستحق کیدو) دالله ﷻ ښکاره دلیل قآئموی (ښکاره دلیل دا دی چی مونږ منع کړی واست بیاتاسی ولی داسی وکړه)

معلومات اومسئلي:

مسئله: دالله ﷻ داقول، قَامُوا کُسَالٰی: دکومی سستی چی دلته بدوالی بیان سوی دی هغه دعقیدی سُستی ده او کومه چی سره دصحیح عقیدی سستی وی هغه ددی څخه وتلی دی بیاکه په څه عذرسره وی لکه دمرض ستومانی یادخوب دغلبی په وجه وی نوبیادملامتیا قابله هم نه ده اوکه بغیردعذرڅخه وی نودملامتیا قابله ده (بیان القرآن)

إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ وَلَن تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرًا ﴿١٤٥﴾ إِلَّا الَّذِينَ

بیشکه منفقان دی دټولو څخه په لاندی درجه کی د دوږخ اوهیڅکله به پیدانه کی ته دوی لره څوك مددگار مگر چا چی،

Maktaba Tul Ishaat.com

تَابُوْا وَاَصْلَحُوْا وَاعْتَصَمُوْا بِاللّٰهِ وَاَخْلَصُوْا دِيْنَهُمْ لِلّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ

توبه وکړه او خپله اصلاح یې وکړه اومضبوط یې ونیوی الله او خالص حکم منونکي سول دالله نودغه دي

مَعَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَسَوْفَ يُؤْتِ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۱۴۶﴾ مَا

دایماندارو سره ، ژر به ورکړي الله ایماندارو ته ثواب لوی ، څه

يَفْعَلُ اللّٰهُ بِعَذَابِكُمْ اِنْ شَكَرْتُمْ وَاٰمَنْتُمْ وَكَانَ اللّٰهُ شَاكِرًا عَلِيْمًا ﴿۱۴۷﴾

کوي دالله ستاسي په عذابولو که تاسي حق ومني او یقین وکړي ، او الله قدردان دی په هرڅه پوهېدونکی

لنډتفسير بېشکه منافقان به د دوږخ ترټولو لاندي طبقي ته ځي او (ای مخاطبه !) ته به هیڅکله دوی ته څوک کومکي پیدانه کې (چي دوی دسزا څخه خلاص کړه سي) لیکن (په دوی کي) کوم خلګ چي (دنفاق څخه) توبه وباسي او (مسلمانانو ته چي کوم ضررونه رسوی ددغه معاملو) اصلاح وکړي (یعني بیاداسي خبري نه کوي) او (دکفارو سره چي ددوی په پناه کي داوسیدو دپاره دوستي کوي دغه پرېږدي) په الله ﷻ یقین (اوتوکل) ساتي او (ریاء پرېږدي) دخپل دین (عملونه) خالص دالله ﷻ د[رضا] دپاره کوي (مقصددا دی چي دخپلو عقیدو ، معاملو ، باطني اخلاقو اوټولو عملونو صحیح والی وکړي) نو دا (توبه کوونکي) خلګ به د (دی) مؤمنانو سره (په درجود جنّت کي) وي (کوم چي دمخکي څخه کامل ایمان لري) او (دی) مؤمنانو لره به الله ﷻ (په آخرت کي) لوی اجر ورکړي (نو چي دوی دمؤمنانو سره وي نو دوی ته به هم لوی اجر حاصل سي او ای منافقانو!) الله ﷻ تاسي ته په سزادرکولو څه کوي که تاسي (دهغه دنعمتونو څخه کوم چي په تاسي دي) شکر اداکړي او (ددې شکر اداکولو ښه طریقه زمونږ په نزد دا ده چي تاسي) ایمان راوړي (یعني دخدای ﷻ څه کار په دې باندي بندنه دی چي ګوندی تاسي ته په سزا درکولوسره به وچلیږي ، بلکي ستاسي کفر چي دنعمت لویه ناشکري ده داستاسي دسزا سبب دی که داپرېږدي نو بیا خو ټول رحمت او رحمت دی) او الله ﷻ (خو دخدمت) لوی قدردان دی (او دخدمت ګاري اخلاص اونور) ښه پېژندونکی دی (نو څوک چي تابعدار او مخلص پاته سو ، هغه ته هرڅه ورکوي)

معلومات اومسئلي دالله ﷻ قول ، اَخْلَصُوْا دِيْنَهُمْ ددې آیت څخه معلومه سوه چي الله ﷻ ته هغه عمل قبول دی چي دریاء څخه پاک وي او محضی دهغه دپاره وي ، څکه چي دمخلص معنی فقهاوو رحمهم الله دا بیان کړې ده

اَلَّذِيْ يَعْمَلُ لِلّٰهِ لَا يُحِبُّ اَنْ يَّحْمَدَهُ النَّاسُ عَلَيْهِ (بحواله مظهري)

مخلص هغه سړی دی چي عمل محض دالله ﷻ دپاره کوي او دا خبره نه خوښوي چي خلګ دي په دې عمل دده صفت وکړي

پنځم پاره ختمه سوه

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی کتاب ټول حقوق دمکتبه حنفۍ سره محفوظ دي

تفسير

معارف القرآن

په قندهاري پښتوکی

(تاليف)

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمه الله

پښتو ترجمه کوونکي (ابو صديق احمد مولوی نصیر احمد حقانی)

تصحيح اوسمون مولوی نصیر احمد حقانی، او مولوی آمین الله (حقانی)

دکمپوز او ترجمي جاري الدين العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵٦)

پاره (۲)

خپرونکي

مكتبه حنفيه

فون نمبر (۲۶۶۲۵۱۰)

کانسي روډ حاجي غيبي چوک کوټه

چاپ ځای لاهور

تفسير معارف القرآن د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا په هيله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵٦۹

Maktaba Tul Ishaat.com

فهرست تفسیر معارف القرآن

مضمون	مخ
آیت ، لَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْجَهْرَ بِالسُّوْءِ : الخ ۱۴۸ تر ۱۵۲	۵
دنجات دار او مدار په اسلام دی په مخالف مذهب کی نجات نه سی کیدی	۸
آیت ، يَسْأَلُكَ اَهْلُ الْكِتَابِ اَنْ تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ كِتَابًا :الخ ۱۵۳ تر ۱۵۴	۹
آیت ، فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِيثَاقَهُمْ وَكُفْرِهِمْ بِآيَاتِ اللّٰهِ :الخ ۱۵۵ تر ۱۵۹	۱۱
یهودو ته اشتباه څنګه ورپیښه سوه ؟	۱۳
په آخره زمانه کی دعیسی ؑ دراکښته کیدو عقیده قطعی او اجماعی ده او ددی څخه منکر کافر دی	۱۶
آیت ، فَبِظُلْمٍ مِنَ الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبَاتٍ : الخ ۱۶۰ تر ۱۶۱	۱۶
آیت ، لَكِنِ الرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ : الخ ۱۶۲	۱۸
آیت ،) إِنَّا اَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا اَوْحَيْنَا إِلَى نُوحٍ : الخ ۱۶۳ تر ۱۶۹	۱۹
آیت ، يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَكُمُ الرَّسُولُ بِالْحَقِّ : الخ ۱۷۰ تر ۱۷۱	۲۳
په دین کی غلو (یعنی مبالغه) حرامه ده	۲۷
ضروری فائدی..... ددُنیا دمحبت حدونه	۲۸
دسنتو او بدعت حدونه	۲۹
دعالمانو او شیخانو په تعظیم او تابعداری کی داعتدال لاره	۳۰
آیت ، لَنْ يَسْتَنْكِفَ الْمَسِيحُ اَنْ يَكُونَ عَبْدًا لِلّٰهِ : الخ ۱۷۲ تر ۱۷۳	۳۱
دالله ﷻ بنده کیدل داعلیٰ درجی شرافت او عزّت دی	۳۲
آیت ، يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَكُمْ بُرْهَانٌ : الخ ۱۷۴ تر ۱۷۵	۳۲
دبُرهان څخه څهٔ مراد دی	۳۳
آیت ، يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ : الخ ۱۷۶	۳۳
﴿ سورة المائدة ﴾	**۳۵**
آیت ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اَوْفُوا بِالْعُقُودِ : الخ ۱	۳۵
دسورة شانِ نزول او دمضامینو لنډیز	۳۶
معلومات او مسئلی	۳۷
آیت ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحِلُّوا شَعَائِرَ : الخ ۲	۴۰
دیوبل سره دتعاون او کومک کولو قرآنی اُصول	۴۴
دقومونو تقسیم	۴۶
دقومیّت او اجتماعیّت دپاره قرآنی تعلیم	۴۷
آیت ، حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ : الخ ۳	۴۹
داختر او خوشحالی کولو اسلامی اصول	۵۵
آیت ، يَسْأَلُونَكَ مَاذَا أُحِلَّ لَهُمْ قُلْ أُحِلَّ : الخ ۴	۵۹
الْيَوْمَ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ وَطَعَامُ الَّذِينَ أُوتُوا : الخ ۵،	۶۱

Maktaba Tul Ishaat.com

یوازی په نامه یهودی او نصرانی چی په حقیقت کی دهریان دی په دی کی داخل نه دي	٦٧
داهلِ کتابو دطعام څخه څه مراد دی؟	۶۸
داهلِ کتابو په ذبیحه کی دحلالوالی حکمت او وجه	۶۹
إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ : الخ ۲ تر ۷	۷۹
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ : الخ ، ۸ تر ۱۰	۸۱
دامتحانونو نومری ، اسناد او دانتخاباتو ووټونه دا ټول دشاهدی په حکم کی داخل دی	۸۴
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ : الخ ، ۱۱ تر ۱۲	۸۵
فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِيثَاقَهُمْ لَعَنَّاهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ : الخ ، ۱۳ تر ۱۴	۹۲
په عیسایی فرقو کی دیوه سر سره دښمنی	۹۵
يَا أَهْلَ الْكِتَابِ قَدْ جَاءَكُمْ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ كَثِيرًا : الخ ۱۵ تر ۱۹.	۹۶
دفترت دزمانی تحقیق	۱۰۰
دفترت دزمانی احکام	۱۰۱
دخاتم الانبیاء ﷺ خاصو کمالاتو ته اشاره	۱۰۱
وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ : الخ ۲۰ ۲۲	۱۰۲
دارض مقدسه څخه کومه مځکه مراد ده ؟	۱۰۷
دقوم انتهایی بی وفایی او دحضرت موسیٰ ؑ انتهایی صبر او ثابت قدمی	۱۱۱
وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ ابْنَيْ آدَمَ بِالْحَقِّ إِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا : الخ ۲۷ تر ۳۲	۱۱۴
معلومات او مسئلی: دهابیل او دقابیل قصه	۱۱۷
دتاریخی روایتونو په نقل کولو کی احتیاط او ریښتینوالی واجب دی	۱۱۸
دعمل دقبلیدو دار او مدار په اخلاص او په تقوی باندی دی	۱۱۹
دجرم او سزا یو څو قرآنی ضابطی	۱۲۰
إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ : الخ ، ۳۳ تر ۳۴	۱۲۰
دقرآن دقانونو عجیبه او نا اشنا انقلابی طریقه	۱۲۱
دشرعی سزا گانو دری قسمونه	۱۲۲
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ : الخ ، ۱۳۵ تر ۴۰	۱۲۸
يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ لَا يَحْزُنْكَ الَّذِينَ يُسَارِعُونَ فِي الْكُفْرِ : الخ ،۴۱ تر ۴۳	۱۴۰
په اسلامی حکومت کی دغیر مسلمانانو ددعوو قاعدی	۱۴۷
دیهودیانو یو بیکاره خوی	۱۴۹
دعوامو دپاره دعلماؤ دتابعداری ضابطه	۱۴۹
دریم بیکاره خوی دکتاب الله تحریف	۱۵۱
څلورم بیکاره خوی رشوت خوری	۱۵۱
إِنَّا أَنْزَلْنَا التَّوْرَاةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ يَحْكُمُ : الخ ، ۴۴ تر ۵۰	۱۵۲
دانبیاوو علیهم السلام په شریعتونو کی جزوی اختلاف او ددی حکمت	۱۵۴

Maktaba Tul Ishaat.com

په ذکر سوو آیتونو کې دراغلو واضحو او ضمني احکامو خلاصه	۱۶۳
یا أیها الذین آمنوا لا تتخذوا الیهود والنصارٰی : الخ ۵۱ تر ۵۸	۱۶۳
قل یا أهل الکتاب هل تنقمون منا إلا أن آمنا : الخ ، ۵۹ تر ۲۱	۱۷۶
په تبلیغ او دعوت کې د مخاطب لحاظ	۱۷۸
وتری کثیرا منهم یسارعون في الإثم والعدوان وأکلهم : الخ ،۲۲ تر ۲۳	۱۷۸
یهودو د اخلاقو تباه حالي	۱۷۸
د عملونو د اصلاح طریقه	۱۷۹
په عالمانو د عوامو د عملونو ذمه واري	۱۷۹
د عالمانو او مشائخو د پاره خبرداري	۱۸۰
د اُمّت د اصلاح طریقه	۱۸۱
په گناهونو باندې د نفرت په نه ښکاره کولو سره د عذاب وعده	۱۸۲
وقالت الیهود ید الله مغلولة غلت أیدیهم ولعنوا : الخ ، ۲۴ تر ۲۷	۱۸۲
د الله ﷻ په حکمونو باندې پوره عمل کول په دُنیا کې هم د برکتونو سبب دی	۱۸۵
د الله ﷻ په حکمونو باندې پوره عمل څنگه کیدې سی ؟	۱۸۶
د تبلیغ تاکید او نبي کریم ﷺ ته تسلي	۱۸۷
د حجة الوداع په موقع د نبي کریم ﷺ یو نصیحت	۱۸۷
قل یا أهل الکتاب لستم علی شيء حتی تقیموا التوراة : الخ ، ۲۸ تر ۲۹	۱۸۸
اهلِ کتابو ته د الله ﷻ د شریعت د تابعداری بنوونه	۱۸۹
خلورو قومونو ته د ایمان او نیک عمل ترغیب او په آخرت وعده	۱۹۱
د الله ﷻ په نزد د ښه والي دار او مدار په نیک عمل سره دی	۱۹۱
په رسول د ایمان څخه بغیر نجات نسته	۱۹۲
لقد أخذنا میثاق بني إسرائیل : الخ ، ۷۰ تر ۷۲	۱۹۴
د مسیح ﷺ د خدایي تردید	۱۹۸
قل یا أهل الکتاب لا تغلوا في دینکم غیر الحق : الخ ، ۷۷ تر ۸۱	۱۹۸
د بني اسرآئیلو د کوږوالي یو دوهم اړخ	۲۰۰
د بني اسرائیلو افراط او تفریط	۲۰۱
علمي تحقیق او باریکات لټول غلو نه ده	۲۰۲
بني اسرائیلو ته د درمیانه لارې هدایت	۲۰۲
د بني اسرائیلو بد انجام	۲۰۳
لتجدن أشد الناس عداوة للذین آمنوا الیهود : الخ ، ۸۲	۲۰۳

اللهم اختم لنا بالخیر والسعادة والبشارة والایمان

Maktaba Tul Ishaat.com

لَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْجَهْرَ بِالسُّوْٓءِ مِنَ الْقَوْلِ اِلَّا مَنْ ظُلِمَ ؕ وَ

الله ﷻ نه خوښوی څه بده خبره ښکاره کول مګر په چا چی ظلم سوی وی

كَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا عَلِيْمًا ﴿۱۴۸﴾ اِنْ تُبْدُوْا خَيْرًا اَوْ تُخْفُوْهُ اَوْ

او الله ﷻ اوریدونکی پوه دی ، که تاسی ښکاره کوی نیکی او که پټه یی کوی

تَعْفُوْا عَنْ سُوْٓءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيْرًا ﴿۱۴۹﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

یامعاف کوی بدی نو الله ﷻ هم معاف کوونکی لوی قدرت والادی ، کوم خلق چی

يَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّفَرِّقُوْا بَيْنَ اللّٰهِ وَ

منکر دی دالله ﷻ او دهغه درسولانو څخه او غواړی چی فرق وکړی په الله او دهغه په

رُسُلِهٖ وَيَقُوْلُوْنَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَّنَكْفُرُ بِبَعْضٍ ۙ وَّيُرِيْدُوْنَ

رسولانو کی او وایی چی مونږ منو ځینی او نه منو ځینی او غواړی

اَنْ يَّتَّخِذُوْا بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا ﴿۱۵۰﴾ ۙ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ

چی راوباسی په دی مینځ کی یوه لاره ، دا خلق دی اصل کافران

حَقًّا ۚ وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا مُّهِيْنًا ﴿۱۵۱﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ

او مونږ تیار کړی دی کافرانو دپاره دذلت عذاب ، او کوم خلق چی ایمان راوړی په الله

وَرُسُلِهٖ وَلَمْ يُفَرِّقُوْا بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ اُولٰٓئِكَ سَوْفَ يُؤْتِيْهِمْ

او دهغه په رسولانو او جلا نه کړی په دوی کی یو تن دوی ته به ژر ورکړی

اُجُوْرَهُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۵۲﴾ ع

د دوی ثواب او دی الله ﷻ بخښونکی مهربانه .

تفسیر: الله ﷻ بده خبره پرژبی باندی راوړل (دهیچا دپاره) نه خوښوی بغیر دمظلوم (چی دخپلو ظلمونو په باره کی څه ګیله یاشکایت کوی نوداګناه نه ده) او الله ﷻ (دمظلوم دخبری) ښه اوریدونکی دی

(او ظالم د ظلم حالت) ښه پېژني (په دې کې اشاره ده، دې خبرې ته چې مظلوم ته هم دواقعي څخه خلاف
دڅه ويلو اجازه نسته او هرڅومره داشکايت که جائز خو دي ليکن) که نيک کاروښکاره کوي يايي په پټه
کوي (چې معاف کول هم په کې راغله) يا (خاص کر ديوچا) يوه بدي معاف کړي نو (زياته بهتره ده ځکه
چې) الله ﷻ (هم) لوي معاف کوونکی دی (سره ددې چې) پوره قدرت والا دي (چې دخپلو مجرمانو څخه
په هرډول بدله اخيستي سي ليکن بياهم اکثره معافي کوي نوکه تاسي داسي وکړي نواول خو دخداي
دخويونو تابعداري ده او بيابه دالله ﷻ دطرفه ستاسي سره هم دداسي معامله کيدو اُميدوي) کوم خلگ
چې کفرکوي دالله ﷻ سره (کوم چې د دوي دعقيدې اوقول څخه کوم چې مخ ته راځي په ښکاره ډول سره
لازميږي) او (کفرکوي) دهغه درسولانوسره (يعنې دځينوسره ښکاره ځکه چې دحضرت عيسیٰ ؑ اود
حضور ﷺ دنبوت څخه ښکاره منکر وه او دټولوسره لازمًا لکه چې مخ ته راځي) اوداسي غواړي چې دالله
ﷻ او دهغه درسولانو په مينځ کې (په اعتبار دايمان راوړلوسره) فرق وکړي (اوخپله داعقيده په ژبه سره
هم) وايي چې مونږ (په پيغمبرانو ؑ کې) په ځينو خو ايمان راوړو او دځينو څخه منکر يو (په دې
قول اوپه دې عقيده باندي هم دالله ﷻ سره کفرلازم سو او هم دټولو رسولانو ؑ سره ، ځکه چې الله
ﷻ اوهر يوه رسول ﷺ ټولو رسولانو ؑ ته رسول ويلي دي ، نوکله چې دځينو څخه انکاروسو نودالله
ﷻ او دپاته رسولانو ؑ وينا درواغجنه کړل سوه او دادتصديق اوايمان څخه خلاف ده) اوداغواړي
چې په مينځ مينځ کې يوه لاره جوړه کړي (چې نه په ټولو ايمان وي لکه مسلمانان چې يې پرټولو باندي
لري، اونه دټولو څخه انکار وي ، لکه مشرکان چې يې کوي نو) داسي خلگ يقينًا کافران دي (ځکه چې
په ځينو باندي کفر هم کفر دی ، او دايمان او دکفر په مينځ کې کومه واسطه نسته نو چې په ټولوايمان
نه سو نو کفر سو) اودکافرانو دپاره مونږ سپکوونکې سزاتياره کړې ده (هغه به د دوي دپاره هم وي) اوکوم
خلگ چې په الله ﷻ باندي ايمان لري اودهغه ﷺ په ټولو رسولانو ؑ باندي هم اوپه دوي کې په
هيچا کې (دايمان راوړو په اعتبار سره) فرق نه کوي دې خلگوته به الله ﷻ خامخا د دوي ثواب ورکړي او
(کله چې) الله ﷻ لوي بخښني والادي (نو په دې وجه کوم ګناهونه چې دايمان راوړلو څخه مخکې سوي
دي ټول به معاف کړي اوکله چې هغه) لوي رحمت والادي (په دې وجه دايمان په برکت سره به ددوي
نيکئ دوچنده کړې ښه ثواب به ورکړي)

معلومات اومسئلې: په دې آيتونوکې په اولنۍ آيت او دوهم آيت کې ددنياڅخه دظلم اوزورختمولو يو
قانون دی ، ليکن دعامي دنيا دقوانينو په شان نه دی چې حيثيت يې يوازې اميرانه وي ، بلکه درغبت
پيدا کولو اوبيرولو په اندازکي يوقانون دی چې په دې کې يې يوه طرف ته ددې اجازت ورکړی دی ،
چې په کوم سړي څوك ظلم وکړي نو مظلوم ددغه ظلم شکايت يايوه عدالت ته رجوع کولی سي چې دا
عين عدل او دانصاف تقاضاده او دجُرمونو بندولو يوه ذريعه ده ، ليکن دسورة نحل په آيت کې ددې
سره يو قيد هم ذکر دی ، وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُم بِهِ وَلَئِن صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصَّابِرِينَ يعنې که يو سړی به
تاسي ظلم وکړي نوتاسي هم دده څخه دظلم بدله اخيستي سي مگرشرط دادی چې څومره ظلم اوزياتی

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه کړی وی ، په بدله کی ترهغه زیاتی ونه سی که نه نوتاسی به ظالمان سی ، ددی حاصل دا دی چی دظلم په بدله کی دظلم اجازت نسته بلکه دظلم بدله به په انصاف سره اخیستل کیږی . ددی سره دا هم بنوونه ده چی بدله اخیستل که څه هم چی جائز دی مگر صبر اومعافی کول بهتره دی .

او دذکر سوی آیت څخه دامعلومه سوه چی په چاباندی چاظلم کړی وی که هغه دظلم شکایت او بیان خلگو ته کوی نو دا په غیبت او په حراموکی نه دی دا خل ، ځکه چی ده په خپله مظلوم ته دشکایت کولو موقع ورکړی ده ، مقصد دا دی چی قرآنکریم یوه طرف ته مظلوم ته دظلم دبرابر بدلی اخیستلو اجازت ورکی ، او بل طرف ته یی دښو اخلاقو تعلیم ، عفوی درگذر او ددی په مقابله کی یی ورته دآخرت لویه فائده وړاندی کړه ، مظلوم یی دی ته تیارکی چی دی په دی خپل جائزحق کی دقربانی څخه کاروا خلی ، دظلم بدله اخیستل پریږدی ارشادفرمایی .

إِن تُبْدُوا خَيْرًا أَوْ تُخْفُوهُ أَوْ تَعْفُوا عَن سُوٓءٍ فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيرًا : یعنی که تاسی څه نیکی په ښکاره کوی یاپه پټه یی کوی یاڅه ظلم اوبدی معاف کوی نودابهتره ده ځکه چی الله ﷻ ډیرمعاف کوونکی اولوی قدرت والادی په دی آیت کی اصلی مقصد خو دظلم دمعاف کولو په اړوند دی لیکن ددی سره یی دښکاره اوپټی نیکی ذکر هم ورکی ، دی طرف ته یی اشاره وکړه چی دا عفوه اوبخښنه یوه لویه نیکی ده ځوك چی دا اختیار کړی ، نو دالله ﷻ دعفوی او رحمت لائق به سی .

دآیت په آخرکی یی ، فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيرًا وفرمایل او دایی وښوول چی الله جلّ شانه قادر مطلق دی ، چاته چی غواړی سزا ورکولی سی ، خو ددی باوجود ډیرمعاف کوونکی دی نو انسان چی قدرت اواختیاریی هیڅ هم نسته که بدله اخیستل هم وغواړی نوډیره ممکنه ده چی قدرت یی په ونه رسیږی نوپه دی وجه ده ته خو عفوه اوبخښنه نوره هم زیاته مناسبه ده .

دی دظلم لیری کولو اومعاشری جوړولو قرآنی أصولو اوتربیتی اندازچی یوه طرف ته یی دبرابربدل اخیستلو حق ورکی ، دعدل اوانصاف یو ډیربهتره قانون یی جوړکی ، بل طرف ته یی مظلوم ته دښو اخلاقو تعلیم ورکی اوعفوی اوبخښنی ته یی تیارکی ، چی ددی لازمی نتیجه هغه ده کومه چی قرآن کریم په بل ځای کی داسی ارشاد فرمایلی ده ، إِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ یعنی دکوم سړی اوستاپه مینځ کی چی دښمنی وه په داسی ډول عمل کولو سره به هغه ستا مخلص دوست جوړسی .

په عدالتی فیصله اوظلم په بدله اخیستو سره دظلم بندیز خامخا راتلی سی ، لیکن د دواړو فریقو په زړونو کی یو داسی همیشه پاته کیدونکی تاثیر کوی چی په راتلونکی وخت کی بیا هم دجگړو ذریعه جوړیدی سی اودا اخلاقی درس کوم چی قرآن کریم ورکی ، ددی په نتیجه کی ډیری زوړی اوپخوانی دښمنی په دوستی سره بدلی سی .

په دریم ، څلورم اوپنځم آیت کی قرآن کریم دا ښکاره فیصله ورکړي ده چی کوم سړی الله ﷻ منی ، لیکن دهغه په رسولانو ایمان نه راوړی یاځینی رسولان منی اوځینی نه منی دغه دالله ﷻ په نزد مؤمن نه دی ، بلکه ښکاره کافر دی ، چی په آخرت کی دده دخلاصی هیڅ لار نسته .

Maktaba Tul Ishaat.com

(دنجات دار او مدار په اسلام دی په مخالف مذهب کي نجات نه سي کيدی)

دقرآن حکيم دی ښکاره فيصلی دهغه خلګو بی لاری اوکوږوالی په ښه ډول سره ښکاره کړی دی چی دنورو مذهبونو دخلګوسره درواداری دپاره خپل مذهب اومذهبی عقيدی په ډالی اوتحفه کی پيش کول غواړی، اودقرآن اوسنّت دښکاره فيصلو خلاف دنورو مذهبونو خلګوته دا ښوول غواړی چی د مسلمانانوپه نزد نجات (خلاصون) يوازی په اسلام پوری پيوست نه دی، يهودی پرخپل مذهب اوعيسايی پرخپل مذهب باندی په پاته کيدوکی هم نجات پيدا کولای سی، حال دادی چی دغه خلګ دټولو رسولانو څخه يالږ ترلږه دځينو رسولانو څخه مُنکردی، چی ددوی دکافرکيدو اودوږخی کيدو دی آيت اعلان کړی دی.

په دی کی هيڅ شك نسته چی اسلام دغيرمسلمو سره دعدل، انصاف، همدردئ، خيرخواهی احسان او روا داری په معامله کی خپل مثال نه لری، ليکن احسان اوسلوك خپل حقونه اوخپل ملکيّت وی، مذهبی اصول اوعقيدی زمونږ ملکيّت نه دی چی مونږ يی چاته په تحفه کی ورياندی کړو اسلام لکه څنګه چی دغير مسلموسره درواداری اوښه سلوك په معامله کی انتهايی سخی، فياض دی، دغه ډول دی دخپلو سرحدونو په حفاظت کی ډير احتياط کوونکی اوسخت هم دی، دی دغير مسلموسره دهمدردی، خيرخواهی اوډيری رواداری سره سره دکفر اودکفر درسمونوڅخه په ښه ډول سره دبيزاره کيدو اعلان هم کوی، مسلمانان دغيرمسلمو څخه جلا يوقوم مقرروی اوددوی دقومی ښنبانو (شعائرو) په ښه ډول حفاظت هم کوی، دی دعبادت په ډول دمسلمانانو معاشرتی ژوندهم ترنورو لوړ ساتل غواړی چی ددی بی شميره مثالونه په قرآن اوسنّت کی موجوددی، که داسلام اوقرآن داعقيده وای چی نجات (خلاصی) په هرملّت اومذهب کی کيدی سی نوده ته بياداسلام دمذهب پرتبليغ باندی ددومره زور ورکولو څه حق نه وو اوددی دپاره به دادومره بی دريغه کوشش کول غلط اود عقل څخه خلاف وو، بلکه په دی صورت کی خوپه خپله د نبی کريم ﷺ راليږل او دقرآن کريم نازلول معاذ الله فضول اوبی کاره به وی، او دنبی کريم ﷺ اوخلفاءِ راشدينو رضي الله عنهم ټول جهاد خو ټول بی مطلبه اودملك دنيولو خواهش ثابتيږی.

په دی معامله کی ځينی خلګ دسورة بقری په آيت ۶۲ باندی خطا وزی، په هغه کی ارشاد دی.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا وَالنَّصَارَىٰ وَالصَّابِئِينَ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ يعنی (هغه خلګ چی ايمان راوړی او هغه خلګ چی يهوديان دی اونصارىٰ اوصآئبين دی په دوی کی هم څوك چی په الله ﷻ اوپه ورځ دآخرت ايمان راوړی اونيك عمل وکړی نو د دوی اجر د دوی درب سره محفوظ دی، نه په دوی څه بيره بسته او نه به دوی غمجن وی)

په دی آيت کی يی دايمانونو دپوره تفصيل بيانولو په ځای يوازی په ايمان بالله يعنی په الله ﷻ باندی ايمان راوړل اوپه ورځ دآخرت باندی بس والی کړي دی، نوکوم خلګ چی يوازی دقرآن دنيمګړی مطالعی څخه ځان پوه کول غواړی، نوهغوی يوازی دغه وپيژنی چی بس پر الله ﷻ اوپرقيامت باندی ايمان درلودل دنجات دپاره کافی دی، پررسولانو باندی ايمان درلودل دنجات دپاره شرط نه دی اوپه

Maktaba Tul Ishaat.com

دی خان پوه نه کړی چی دقرآن په اصطلاح کی په الله ﷻ باندی هغه ایمان معتبردی کوم چی په رسول ﷺ باندی دایمان سره وی او که داسی نه وی نو یوازی دخدای دیووالی اوسته والی اقرارخوشیطان هم کوی قرآن کریم په خپله دا حقیقت په دی الفاظوکی واضح کړی دی .

فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنتُم بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوا وَّإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا هُمْ فِي شِقَاقٍ فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللَّهُ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ : یعنی د دوی ایمان به هغه وخت معتبر وی کله چی دوی دعامو مسلمانانو په شان ایمان اختیار کړی په کوم کی چی دایمان بالله سره ایمان بالرّسول لازم دی که داسی نه وی نو بیاپوه سئ چی داخلک ډلی ډلی او اختلاف پیدا کیدل غواړی، نو الله ﷻ ستا دطرفه څخه دوی لره کافی دی او هغه ډیر اوریدونکی او پوهیدونکی دی .

او په ذکرسوی آیت کی یی خوتردی هم زیاته په وضاحت سره ښوولی ده چی کوم سړی دالله ﷻ دیوه رسول څخه هم منکر سو ، هغه ښکاره کافردی اودده دپاره دجهنّم عذاب دی، ایمان په الله ﷻ هغه معتبر دی کوم چی دایمان بالرّسول سره وی ، ددی څخه بغیر دی ته په الله ﷻ باندی ایمان ویل هم صحیح نه دی .

په آخری آیت کی یی بیاپه ایجابی ډول سره فرمایلی دی چی دآخرت نجات دهغو خلکو حصه ده کوم چی دالله ﷻ سره دده په ټولو رسولانو علیهم السلام باندی هم ایمان لری په دی وجه نبی کریم ﷺ فرمایلی دی .

اِنَّ الْقُرْآنَ يُفَسِّرُ بَعْضُهُ بَعْضًا : یعنی دقرآن شریف یوه حصه دبلی حصی تفسیر او تشریح کوی ، ځکه نو دقرآنی تفسیر خلاف بل ډول تفسیر دځانه کول دهیچاد پاره هم جائزنه دی .

يَسْئَلُكَ أَهْلُ الْكِتٰبِ أَنْ تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ كِتٰبًا مِّنَ السَّمَآءِ فَقَدْ سَأَلُوا مُوسٰى أَكْبَرَ

درخواست کوی تاته اهل کتاب چی ته په دوی نازل کړی لیکل سوی کتاب دآسمان څخه نو غوښتی وو دوی دموسٰی علیه السلام څخه ددی څخه هم لوی شی ،

مِنْ ذٰلِكَ فَقَالُوا أَرِنَا اللّٰهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْهُمُ الصّٰعِقَةُ بِظُلْمِهِمْ

ویی ویل موږ ته وښیی الله بالکل مخامخ نو راولویدی په دوی باندی تندر د دوی دګناه په وجه

ثُمَّ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ مِنْ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ فَعَفَوْنَا عَنْ

بیا جوړ کړو دوی ګلیګی د ډیرو نښانو راتلو څخه وروسته بیا موږ دغه

ذٰلِكَ وَآتَيْنَا مُوسٰى سُلْطٰنًا مُّبِينًا ﴿١٥٣﴾ وَرَفَعْنَا فَوْقَهُمُ الطُّورَ

هم معاف کړه ، او ورکړه موږ موسیٰ ته غلبه ښکاره ، او موږ لوړ کی په دوی باندی غر

بِمِيثَاقِهِمْ وَقُلْنَا لَهُمُ ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَّقُلْنَا لَهُمْ

داقرار اخیستو دپاره او موږ وویل داخل سی دروازی ته سجده کوونکی اوموږ وویل چی

Maktaba Tul Ishaat.com

لَا تَعۡدُوۡا فِی السَّبۡتِ وَاَخَذۡنَا مِنۡهُمۡ مِّیۡثَاقًا غَلِیۡظًا ﴿۱۵۴﴾

زياتوب مه کوی دخالی په ورځ کی او مونږ د دوی څخه واخستی قول مضبوط

دآيتونوترون: په تيرو آيتونوکی ديهودو دبدوعقيدو دذکر کولو سره د دوی بدوالی ذکر وو، په دی آيتونو کی هم د دوی دنورو خرابو حرکتونو يواوږد فهرست او د دوی په دی قباحتونو باندی د دوی دعذاب او سزا ذکر دی او داسلسله ترليری پوری تللی ده.

لنډتفسير: (ای محمده ﷺ) تاته اهلِ کتاب (يهود) دادرخواست کوی چی ته ﷺ دوی ته يو خاص ليکلی کتاب دآسمان څخه راوغواړه نو (ته ﷺ ددی خلګو داعيب مه ګڼه ځکه چی دافرقه داسی عنادګره ده چی دوی (يعنی ددی فرقی کم خلک چی دحضرت موسیٰ ؑ په وخت کی موجود وه، دوی) موسیٰ ؑ ته تردی هم دلويی خبری درخواست کړی وو او داسی يی ويلی وه چی مونږته الله ﷻ په ډاګه (بی حجابه) راوښيه چی په دوی ددی بی شرمه خبروپه وجه بريښنا اوتالانده راولويده بيا (تردی زيات د دوی داحرکت سوی دی چی) دوی ګيلګی (دعبادت دپاره) ونيوی وروسته تردی چی ډير دليلونه (دحق اوباطل دفرق دپاره) دوی ته رسيدلی وه (مراد ددی دليلونو څخه معجزی دی دحضرت موسیٰ ؑ چی په دی کی دفرعون غرقيدل ډيروپه سترګو سره ليدلی وه) بيا مونږدوی ته معافی وکړه اوحضرت موسیٰ ؑ ته مونږ لوی رُعب ورکړی وو (ددی رعب اومونږ دمعافی اومهربانيو په کيدو باندی ددی خلګو داحال وو چی نه دمهربانيو تاثير په کيدی اونه درعب) اومونږ ددی خلګو څخه (په تورات باندی دعمل کولو) قول اواقرار اخيستودپاره کوه طور راپورته کړی اوپردوی باندی مو (برابر) ځوړند کړی ووا ومونږ هغوی ته داحکم ورکړی وو چی په دروازه کی په عاجزی سره دا خليږی اومونږ هغوی ته داحکم ورکړی وو چی دشنبی ورځی په باره کی (چی کوم حکم تاسی ته رسيدلی دی چی په دی کی ښکارمه کوئ، په دی کی دشرع ترحد) زياتئ مه کوئ او (ددی څخه علاوه نورهم) مونږ ددوی څخه قول اواقرار ډيرسخت واخيستی (چی بيان يی په ، وَاِذۡ اَخَذۡنَا مِيۡثَاقَ بَنِیۡ اِسۡرَآءِيۡلَ کی ذکردی ليکن دی خلګوسره ددومره اهتمامه بياخپلی وعدی ماتی کړی)

معلومات او مسئلې: ديهودو څه سرداران دنبی کريم ﷺ په خدمت کی حاضر سول او مطالبه يی ورځخه وکړه چی لکه څنګه چی په موسیٰ ؑ ليکل سوی کتاب دآسمان څخه نازل سوی وو، دغه ډول يوکتاب ته هم دآسمان څخه راوړه نومونږ به ايمان راوړو، ددوی دا مطالبه ددی دپاره نه وه چی دوی په زړه سره ايمان راوړل غوښتل اودا ددوی يوشرط وو، بلکه دضد او عنادپه وجه به يی څهٔ ناڅه عُذر پيش کوئ، الله ﷻ دا آيت نازل کی او نبی کريم ﷺ يی داصلی حقيقت څخه خبرکی اوتسلی يی ورلره ورکړه چی په حقيقت کی داقوم داسی دی چی دالله ﷻ رسولان آزاروی اودالله ﷻ خلاف دبغاوت کولودپاره ترلويو لالوی حرکتونه هم کوی، ددوی پلرونو اونيکونو دحضرت موسیٰ ؑ څخه تردی دلوی خبری مطالبه کړی وه چی مونږ ته الله ﷻ په ډاګه راوښيه د دوی پردی بی ادبی دآسمان څخه بريښنا راغله اودوی به

Maktaba Tul Ishaat.com

هلاک کړل، بیادتوحید اودخدای پاک ﷻ دبی شریکوالی دښکاره دلیلونو راتلو اوپه دی تر پوهیدو وروسته هم دوی دحقیقی خالق پرځای گیلګلی معبود جوړکی، لیکن ددی ټولو خبرو باوجود مونږ دعفوی اودرگذر څخه کار واخیستی، که نه نوموقع خوددی وه چی هم پر دغه ځای مونږ دوی ختم کړی وای اوخپل پیغمبر حضرت موسیٰ ؑ ته مونږ غلبه ورکړه.

بوه موقع داسی هم راغلی وه چی دی خلگو دتورات دشریعت منلو څخه صفا انکار کړی وو نومونږ کوه طور پورته کړی اوپردوی مو لوړ ونیوی چی داشریعت به لازمًا منی که نه نوتر غره لاندی به چُختان سئ، مونږدوی ته داهم وویل چی کله دایلیاء دښار دروازی ته داخلیږئ نوډیرپه عاجزی سره دالله ﷻ دفرمانبرداری په شکل کی سرونه کښته کوئ او ننوزی اوداهم مونږدوی ویلی وه چی دشنبی په ورځ دماهیانو(کبانو) ښکارمه کوئ دا زمونږ حکم دی، ددی څخه مخ مه اړوئ، اودغه ډول مونږددوی څخه مضبوطه وعده اخیستی وه لیکن وسوه داسی چی دوی دیوه یوه حکم خلاف ورزی وکړه اوزمونږ وعده بی ماته کړه نومونږپه دُنیاکی هم دوی ذلیل کړل اوپه آخرت کی به هم ډیره بیکاره سزا زغمی.

فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِّيْثَاقَهُمْ وَكُفْرِهِمْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَ قَتْلِهِمُ الْاَنْۢبِيَآءَ

دوی ته چی کومه سزا ورکول سوه دا د دوی په وعده ماتولو او په منکریدو دالله ﷻ دآیتونو څخه اوپه قتلولو

بِغَيْرِ حَقٍّ وَّقَوْلِهِمْ قُلُوْبُنَا غُلْفٌ ؕ بَلْ طَبَعَ اللّٰهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ

دپیغمبرانو په ناحقه او په دی ویناچی زمونږ په زړونو پرده ده نو دا نه ده بلکه الله مهر وهلی دی په زړونو

فَلَا يُؤْمِنُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ۝۱۵۵ وَّبِكُفْرِهِمْ وَقَوْلِهِمْ عَلٰى مَرْيَمَ بُهْتَانًا

د دوی دکفر په سبب نوایمان نه راوړی مگر لږ، او د دوی په کفر او په مریم باندی دلوی بهتان

عَظِيْمًا ۝۱۵۶ وَّقَوْلِهِمْ اِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيْحَ عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُوْلَ

ترلو په وجه ، او د دوی په دی وینا چی مونږ قتل کړو میسح عیسیٰ ؑ دمریم زوی چی رسول وو

اللّٰهِ ۚ وَمَا قَتَلُوْهُ وَمَا صَلَبُوْهُ وَلٰكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ ؕ وَاِنَّ

دالله ، او نه دوی هغه قتل کړی دی او نه یی په سولئ کړی دی لیکن دهغه په شکل جوړ سو دوی ته ، او

الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِيْهِ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ ؕ مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ

کوم خلق چی په دی کی مختلفی خبری کوی، دغه خلق دلته په شبهه کی لویدلی دی نسته دوی لره په دی هیڅ خبر

Maktaba Tul Ishaat.com

إِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ ۚ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا ﴿١٥٧﴾ بَل رَّفَعَهُ اللَّهُ إِلَيْهِ ۚ

صرف اټکل چلوی او دی یې په یقین سره نه دی قتل کړی ، بلکه لوړ کی الله خپل طرف ته،

وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿١٥٨﴾ وَإِن مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ إِلَّا

او الله دی زبردست حکمت والا ، او نشته هیڅوک چی دی داهل کتابو

لَيُؤْمِنَنَّ بِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ ۖ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكُونُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا ﴿١٥٩﴾

نو په عیسیٰ ﷺ به یقین راوړی دده دمرګ څخه مخکې او دقیامت په ورځ به وی په دوی باندی شاهد

دآیتونوتړون: په تیرو آیتونوکی هم دیهودو دشرارتونو ذکر وو ، اوددی شرارتونو په وجه په دوی دلعن طعن اوسزابیان وو ، په دی آیتونوکی هم دیهودو دځینو جرمونو تفصیل ذکر دی ، په دی باره کی یی دحضرت عیسیٰ ﷺ په اړوند د دوی دباطل خیال ردوکی اوداخبره یی واضحه کړه چی حضرت عیسیٰ ﷺ الله ﷻ د دوی دظلم اوزیاتی څخه وساتی ، ژوندی یی آسمان ته پورته کړی دی، دا خلګ چی کومه دعوه کوی چی مونږ عیسیٰ ﷺ قتل کړی دی اوپه دار کړی مودی داسراسر درواغ ده، کوم سړی چی دوی قتل کړی وو ، هغه عیسیٰ ﷺ نه وو ، بلکه دده په شکل یوبل سړی ووچی دوی قتل کی نو دوی وګڼل چی مونږ عیسیٰ ﷺ قتل کی .

لنډتفسیر : نومونږ (ددی حرکتونو په وجه سره) په سزا (دلعنت، غضب، ذلت، مسخ اونورو) کی اخته کړل (یعنی) د دوی دوعدی ماتولو په وجه سره اوددوی دکفر (اوانکار) په وجه دالله ﷻ دحکمونو سره اوددوی دقتل کولو په وجه دپیغمبرانو (علیهم السلام کوم چی د دوی په نزدهم) ناحق (وو) او د دوی ددی وینا په وجه سره چی زمونږ زړونه (داسی) محفوظ دی (چی په دی کی دمخالف مذهب یعنی اسلام تاثیرنه کیږی نومونږ پر مذهب باندی پاخه یو، الله ﷻ په دوی باندی ردفرمایی چی داپوخوالی نه دی) بلکه ددوی دکفرپه سبب ددوی پرزړونو باندی الله ﷻ بندلګولی دی (چی حقه خبره ورباندی تاثیرنه کوی) نوپه دوی کی ایمان نسته مګرلږ (او لږڅه ایمان مقبول نه دی نوکافران پاته سول) او (مونږ دوی دلعنت اونورو په سزاکی په دی وجه سره اخته کړی دی یعنی) ددوی د (یوخاص) کفرپه وجه سره او (تفصیل ددی دادی چی پرحضرت مریمی ﷺ باندی ددوی دلوی بهتان تړلوپه وجه سره (چی ددی څخه درواغجن کول دحضرت عیسیٰ ﷺ هم لازمیږی ځکه چی حضرت عیسیٰ ﷺ په خپله معجزه سره ددی برآئت هم ښکاره کړی دی) او (دارنګه په ډول دفخر) ددوی ددی وینا په وجه سره چی مونږ مسیح عیسیٰ ﷺ زوی دمریمی ﷺ چی دالله ﷻ رسول دی قتل کی (داوینا په خپله دلیل دی ددښمنی، اودښمنی دانبیاو علیهم السلام سره کفر دی) دارنګه په دی کی دعوه ده دقتل، اوقتل دنبی هم کفردی، اودعوه دکفرهم کفردی) حال دا دی چی (سربیره پرکفر د دوی دا دعوه په خپله هم غلطه ده ځکه چی) دوی (یعنی یهودو) نه دی (یعنی عیسیٰ ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com

قتل کړی دی اونه یی په دار کړی دی لیکن دوی ته (یعني یهودوته) اشتباه سوی ده او کوم خلګ (داهل کتابو څخه) چی دده (یعني عیسیٰ ﷺ) په باره کی اختلاف کوی دوی په غلط خیال کی (اخته) دی د دوی سره په دی کوم (صحیح) دلیل (موجود) نسته بغیر ددی څخه چی په اټکلی خبرو عمل کوی اودوی (یعنی یهودو) دی (یعنی عیسیٰ ﷺ) یقیني خبره ده چی قتل کړی نه دی (دکوم چی دوی دعوه کوی) بلکه دی خدای ﷻ خپل طرف ته (یعني آسمان ته) پورته کړی دی (اویوبل سړی یی دده په شکل کی اوهغه په دارسو اوقتل سو اوداسبب سودیهودو داشتباه اودی اشتباه په اهل کتابو کی اختلاف پیداکی) اوالله ﷻ لوی غالب (یعني قدرت والادی) حکمت والادی (چی په خپل حکمت اوقدرت سره یی حضرت عیسیٰ ﷺ وساتی او پورته یی کی اویهودوته دتشبیه په وجه درك هم ونه لګیدی) او(یهودو ته به خپل درواغجنوالی اوانکار دحضرت عیسیٰ ﷺ دنبوت څخه ډیرژر په دنیاکی ښکاره سی چی دوی پرباطله وه ځکه چی دوخت دنازلیدو دآیت څخه راواخله په یوځه زمانه کی به هم) یو سړی داهل کتابو څخه (یعنی دیهودو څخه) پاته نه سی مګردی به دعیسیٰ ﷺ (دنبوت) ترخپل مرګ (یوه ذره) مخکی (کله چی عالم برزخ ورته په نظرراسی) خامخا تصدیق وکړی (که څه هم چی ددغه وخت تصدیق ګټورنه دی لیکن ددوی دباطلوالی دپاره خوکافی دی نوتردی ښه داده چی اوس ایمان راوړی نونفع به ورته وکړی) او (کله چی عالم دنیا اوعالم برزخ دواړه ختم سی یعنی) دقیامت په ورځ به هغه (یعني عیسیٰ ﷺ) په دوی (ددی منکرانو په انکار) شاهدی ورکړی.

معلومات اومسئلي: دسورة آلِ عمران په آیت: يٰعِيسٰىٓ اِنِّىْ مُتَوَفِّيْكَ وَرَافِعُكَ اِلَيَّ الخ کی الله ﷻ دحضرت عیسیٰ ﷺ ددښمنانو یهودو دارادو دناکامه کولو اوعیسیٰ ﷺ د دوی دلاسونو څخه دساتلوپه سلسله کی پنځه وعدی فرمایلی وی چی تفصیل او مکمّله تشریح یی هلته بیان سویده په دغه وعدوکی یوه وعده داهم وه چی یهودوته به ستادقتل کولو قدرت ورنه کړل سی، بلکه تابه الله ﷻ خپل طرف ته پورته کړی په دی آیت کی دیهودو دشرارتونو اود درواغو دعووپه بیان کی دالله ﷻ دهغه وعدی تکمیل اودیهودو دمغالطی په تفصیل سره بیان اودیهودو ددی قول مکمل رددی چی دوی حضرت عیسیٰ ﷺ قتل کړی دی په دی آیتونوکی یی داخبره ښکاره کړه چی. وَمَا قَتَلُوْهُ وَمَا صَلَبُوْهُ یعني دوی حضرت عیسیٰ ﷺ نه قتل کړی دی اونه یی په دارکړی دی بلکه داسی صورت حال پیښ سوچی معامله یی پرْ دوی باندی مشتبه کړه.

(یهودو ته اشتباه څنګه ورپیښه سوه ؟)

وَلٰكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ: ددی آیت په تفسیرکی دتفسیر امام حضرت ضحاك رحمه الله فرمایی چی قصه داسی ورپیښه سوه چی کله یهودو دحضرت مسیح ﷺ دقتل اراده وکړه نودده حواریان یوځای ته جمع سول حضرت مسیح ﷺ هم د دوی خواته تشریف راوړی ابلیس دیهودو هغه خلګوته کوم چی دحضرت عیسیٰ ﷺ دقتل دپاره تیار ولاړوه دحضرت عیسیٰ ﷺ پته وروښووله اوڅلورو زرو کسانوپردی ځای شاوخوا محاصره واچوله حضرت عیسیٰ ﷺ خپلو حواریانوته وفرمایل چی په تاسی کی کم سړی دی ته تیاردی چی دباندی ووزی اوقتل کړه سی اوبیاپه جنت کی زماسره وی په دوی کی یوه نفرددی غرض دپاره ځان

پیش کی نوده هغه ته خپل قمیص اولنګوټه ورکړه اوبیا په دغه سړی دده مشابهت واچول سو، اوکله چی هغه دباندی ووتی نو یهودو هغه ونیوی اوپه داریی کړی اوحضرت عیسیٰ ﷺ پورته کړل سو (قرطبی) په ځینو روایتونو کی دی چی یهودیانو یو سړی طیطلانوس دحضرت عیسیٰ ﷺ دقتل دپاره لیږلی وو، حضرت عیسیٰ ﷺ خو په ځای کی پیدا نه سو ځکه چی الله ﷻ هغه پورته کړی وو اوکله چی دا سړی دځای څخه راووتی نو دحضرت عیسیٰ ﷺ په شکل سوی وو، یهودو دا وګڼل چی دی عیسیٰ ﷺ دی او دغه خپل سړی یی بوتلی مړ یی کړی (مظهری) .

په دوی کی هریو صورت حال چی وی، تول په کی ځاییږی، قرآن کریم کوم خاص صورت نه دی ښوولی نو په دی وجه داصلی حال علم خو الله ﷻ ته دی البته د قرآن کریم ددی جملی اودنورو تفسیری روایتونو څخه په شریکه دااندازه خامخا راوزی چی یهود اونصارا په لویه غلطی کی لویدلی وه، اصلی واقعه د دوی څخه پټه پاته سوه او دخپل خپل ګمان اوقیاس مطابق دوی قسم قسم دعوی وکړی او د دوی په خپل مینځ کی اختلافات پیدا سول، دی حقیقت ته قرآن کریم په دی الفاظوکی اشاره کړی ده، وَإِنَّ الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِيهِ لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ مَا لَهُم بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا : چی د دوی سره دصحیح علم په بنیاد کومه یقینی خبره نسته، کوموکومو خلګوچی دحضرت مسیح ﷺ په باره کی اختلاف وکی، قسم قسم دعوی یی کړی دی داټولی دشك اوداټکل خبری دی، صحیحه واقعه دا ده چی دوی حضرت مسیح ﷺ یقیناً نه دی قتل کړی، بلکه الله ﷻ هغه خپل طرف ته پورته کی .

په ځینو روایتونو کی داهم دی چی څه خلګ پوه سول نودوی وویل چی داخومونږ خپل سړی قتل کی، ځکه چی داقتل سوی په مخ (قواره، چهره) کی خو حضرت مسیح ﷺ په شان دی لیکن په باقی جسم کی دده په شان نه دی اوداچی که داقتل سوی حضرت مسیح ﷺ دی نو زمونږ سړی څه سو اوکه دازمونږ سړی وی نو حضرت مسیح ﷺ څه سو؟

وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا . الله ﷻ زبردست قدرت اوغلبی والادی، یهودکه دقتل منصوبی په لکونو جوړی کړی، لیکن کله چی الله ﷻ دحضرت مسیح ﷺ دحفاظت ذمه اخیستی ده نودهغه دقدرت اوغلبی په وړاندی د دوی دپلانونو څه حیثیت دی، هغه قدرت والادی که داظاهر بین انسان دحضرت عیسیٰ ﷺ دپورته بوتلو په حقیقت پوه نه سی نو دا دده خپله کمزوری ده، هغه حکمت والادی دده هر یو کار په حکمت اومصلحت باندی بناء وی .

په آخرکی یی ددی مضمون دپوره کولو دپاره وفرمایل، وَإِن مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ داخلګ که څه هم په دی وخت کی دحقیقت په سترګو دکتلو کوشش نه کوی، دبغض اوحسد په وجه، او دحضرت عیسیٰ ﷺ په باره کی باطل خیالونه لری، اودارنګه دحضرت محمد ﷺ دنبوت څخه هم انکارکوی لیکن یو وخت داسی راتلونکی دی چی د دوی سترګی به روښانه سی او دغه وخت به د دوی یقین راسی چی دحضرت عیسیٰ ﷺ او حضرت محمد ﷺ په اړوند چی زمونږ کوم خیال وو هغه ټول باطل وه .

ددی آیت یو تفسیر خوهغه دی کوم چی په لنډ تفسیرکی تیرسوی دی چی د مَوْتِهِ ضمیر اهلِ کتابو ته

Maktaba Tul Ishaat.com

راجع کړه سي اود آيت مطلب به دي صورت کي دادي چي دا يهود به تر خپل مرگ لږ مخکي کله چي دعالم برزخ ننباني ووينې نودعيسٰی ﷺ په نبوت به ايمان راوړي که څه هم چي ددغه وخت ايمان به دوی ته څه نفع نه ورکوي، لکه څنگه چي فرعون ته دده ايمان دغرقيدو په وخت کي څه فائده نه وه ورکړې.

دوهم تفسير کوم چي داصحابو ﷺ او تابعينو ﷺ يولوی جماعت اختيار کړی دی او دصحيح حديث څخه هم ددي تاييد کيږي دا دی چي د(موته) ضمير حضرت مسيح ﷺ ته راجع دی او دآيت مطلب دادی چي دااهلِ کتاب که څه هم چي دا وخت په حضرت عيسٰی ﷺ باندي ايمان نه راوړي، يهوديان خودی نبي هم نه مني، بلکه العياذ بالله مفتري اوکاذب ورته وايي او نصارا که څه هم په ده دايمان راوړلو دعوه کوي، ليکن ځيني په دوی کي دخپل جهالت په وجه دي حدته رسيدلي دي چي ديهودو په شان دحضرت عيسٰی ﷺ په قتل کيدو اوپه دار کيدو قائل دي او ځيني په عقيده کي دومره اندازي ته رسيدلي دي چي دی یې خدای او دخدای زوی وگڼي، دقرآن کريم په دي آيت کي يي دا ښوولي ده چي دا خلگ که څه هم چي دا وخت دحضرت عيسٰی ﷺ په نبوت صحيح ايمان نه لري ليکن کله چي قيامت ته نژدي مخکي ته بيا راکښته سي نودا ټول اهلِ کتاب به پرده صحيح ايمان راوړي، نصارا خوبه ټوله په صحيح عقيده سره ايمان راوړي او په يهودو کي چي څوك مخالفت وکي قتل به کړه سي او پاته به مسلمانان سي، دغه وخت به کفر دخپلو ټولو قسمونو سره ددنيا څخه فنا کړه سي او په دي دنيا به يوازي داسلام حکمراني راسي.
دحضرت ابوهريرة ﷺ څخه يو روايت نقل دی چي.

عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ اَنَّهُ قَالَ لَيَنْزِلَنَّ ابْنُ مَرْيَمَ حَكَمًا عَدْلاً فَلَيَقْتُلَنَّ الدَّجَّالَ وَلَيَقْتُلَنَّ الْخِنْزِيْرَ وَلَيَكْسِرَنَّ الصَّلِيْبَ وَتَكُوْنَ السَّجْدَةُ وَاحِدَةً لِّلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ، ثُمَّ قَالَ اَبُوْ هُرَيْرَةَ ﷺ وَاقْرَءُوْا اِنْ شِئْتُمْ : وَاِنْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهٖ قَبْلَ مَوْتِهٖ قَالَ اَبُوْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَبْلَ مَوْتِ عِيْسٰى ، يُعِيْدُهَا ثَلٰثَ مَرَّاتٍ (قرطبی)

دحضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چي عيسٰی ابن مريم ﷺ به ديوه عادل حکمران اوباچا په صورت کي خامخا راکښته سي، هغه به دجّال اوخنزير قتل کړي، صليب به مات کړي اودغه وخت به عبادت يوازي دپروردگارِ عالم وي، تردي وروسته ابوهريرة ﷺ وفرمايل، که تاسي غواړي نود قرآن کريم دا آيت هم ووایاست چي په دي کي ددي حقيقت ذکرسوی دی چي دا اهلِ کتابو څخه به يو هم پاته نه سي مگر دا چي دی به په ده باندي ترمرگ مخکي ايمان راوړي، ده وفرمايل چي دعيسٰی ﷺ ترمرگ مخکي اودا الفاظ يي دري واره وفرمايل.

دذکر سوي آيت دا تفسير ديوي لويي مرتبي دصحابي حضرت ابوهريرة ﷺ څخه په صحيح روايت سره ثابت دی چي په دي کي دقبل موته څخه مراد قَبْلَ موتِ عيسٰی ﷺ مقرر سوی دی چي دآيت معنی يي واضحه کړې ده چي دا آيت قيامت ته نژدي دحضرت عيسٰی ﷺ دراکښته کيدو په اړونددی، ددي تفسير په بناء باندي دا آيت ناطق دی چي حضرت عيسٰی ﷺ لاتر اوسه وفات سوی نه دی، بلکه قيامت ته نژدي کله چي دی دآسمان څخه راکښته سي اودده دنزول سره چي دالله ﷻ کوم حکمتونه ترلي دي هغه پوره سي نو بيا به دغه وخت په دي مځکه دی وفات کيږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی تایید دسورة زخرف ددی آیت څخه هم کیږی ، وَاِنَّهٗ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُوْنِ یعنی حضرت عیسیٰ ﷺ دقیامت یوه نښانه ده نوته دقیامت په راتلو کی شك مه کوه اوزما خبره ومنه ، دتفسیر لیکونکو یوه ډله په دی ځای کی لیکی چی د اِنَّهٗ ضمیرحضرت عیسیٰ ﷺ ته راجع دی اومعنی یی دا ده چی حضرت عیسیٰ ﷺ دقیامت یوه نښانه ده، ددی څخه معلومه سوه چی په دی آیت کی دحضرت مسیح ﷺ دراکښته کیدو خبر ورکړل سوی دی چی دی به قیامت ته نژدی راکښته کیږی اوده راتلل به دقیامت دنښانو څخه وی .

په دی آیت کی یوبل قرآئت (لَعَلَمٌ) هم نقل دی، چی ددی څخه دامعنی زیاته واضحه کیږی، ځکه چی عَلَمٌ په زور دلام سره په معنی دنښانی دی ، دحضرت عبدالله ابن عباس ﷺ تفسیر هم ددی تایید کوی ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فِیْ قَوْلِهٖ تَعَالٰی وَاِنَّهٗ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ ، قَالَ خُرُوْجُ عِیْسٰی ﷺ قَبْلَ یَوْمِ الْقِیٰمَةِ یعنی دحضرت ابن عباس ﷺ څخه دآیت ، وَاِنَّهٗ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ په باره کی نقل دی چی ددی څخه حضرت عیسیٰ ﷺ مراد دی چی ترقیامت مخکی به تشریف راوړی (ابن کثیر رحمه الله)

لنډه داده چی دذکرسوی آیت قَبْلَ مَوْتِهٖ سره دحضرت ابوهریرة ﷺ دصحیح حدیث تفسیر شامل کړل سی نو ددی څخه په ښکاره ډول سره دحضرت عیسیٰ ﷺ ژوندی پاته کیدل اوبیا قیامت ته نژدی راکښته کیدل اوپر یهودو مکمله غلبه حاصلول ثابتیږی، دغه ډول دآیت: اِنَّهٗ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ څخه دابن عباس ﷺ دتفسیر په مطابق هم دا مضمون یقینی کیږی .

دتفسیر امام ابن کثیر رحمه الله دآیت ، وَاِنَّهٗ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ په تفسیرکی لیکی ، وَقَدْ تَوَاتَرَتِ الْاَحَادِیْثُ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ اَنَّهٗ اَخْبَرَ بِنُزُوْلِ عِیْسٰی ﷺ قَبْلَ یَوْمِ الْقِیٰمَةِ اِمَامًا عَادِلًا یعنی دنبی کریم ﷺ احادیث په دی باره کی متواتردی چی ده ﷺ ترقیامت مخکی دعیسیٰ ﷺ دنیاته دراکښته کیدو خبر ورکړی دی (ابن کثیر رحمه الله) دامتواترروایتونه زمونږ اُستاد حجة الاسلام حضرت مولانا محمد انور شاه الکشمیری رحمه الله جمع کړی دی چی شمیریی ترسلو زیات دی، دحضرت اُستاذ رحمه الله په حکم باندی دی عاجزه بنده (مولانا مفتی محمد شفیع رحمه الله) دغه مجموعه په عربی ژبه کی مرتب کړه، حضرت رحمه الله ددی نوم اَلتَّصْرِیْحُ بِمَا تَوَاتَرَ فِیْ نُزُوْلِ الْمَسِیْحِ منتخب کړی دی چی په هم هغه وخت کی چاپ سوی وه اودا وخت دحلب (شام) یولوی عالم علامه عبد الفتاح ابوغدهٔ د زیاتی شرحی اوحاشیی سره په بیروت کی په اعلیٰ کتابت چاپ کړی ده .

(په آخره زمانه کي دعیسي ﷺ دراکښته کیدو عقیده قطعي او اجماعي ده او ددی څخه منکر کافر دی)

دامضمون په ذکرسوی آیت سره هم واضح سوی دی اوددی پوره تفصیل په سورة آل عمران کی تیرسوی دی، هلته یی وګوری، په هغه ځای دهغو شبهو ذکر هم دی چی په دی زمانه کی دځینو ملحدینو دطرفه څخه ددی عقیدی دشکمنی کولو دپاره پیش کړل سوی دی (وَاللّٰهُ وَلِیُّ الْهِدَایَةِ)

فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِیْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا عَلَیْهِمْ

نو دیهودو دګناهونو په وجه سره مونږ حرام کړل په دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

طَيِّبٰتٍ اُحِلَّتْ لَهُمْ وَبِصَدِّهِمْ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ كَثِيْرًا ﴿١٦٠﴾

ډېر پاك شيان چې په دوی حلال وو او په دې وجه چې منع كول به يې د الله د لارې څخه ډېر

وَّاَخْذِهِمُ الرِّبٰوا وَقَدْ نُهُوْا عَنْهُ وَاَكْلِهِمْ اَمْوَالَ النَّاسِ

او په دې وجه چې سود به يې اخستى او دوى ته ددې څخه منع سوې وه او په دې وجه چې د خلقو مالونه به

بِالْبَاطِلِ ۭ وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ مِنْهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿١٦١﴾

يې خوړل په ناحقه ، او تيار كړي دي مونږ كافرانو د پاره كوم چې په دوی كې دي عذاب دردناك .

د آيتونو ترون: په تيرو آيتونو كې د يهودو د شرارتونو او ددې شرارتونو په وجه د دوی د سزا ذكر وو ، په دې آيتونو كې هم د دوی د څه نورو قباحتونو ذكر دی او د سزا ديوه بل قسم هم ذكر دی او هغه دا چې په قيامت كې خو به دوی لره عذاب وی چې وی به ، خو په دنيا كې هم د دوی د ګمراهۍ دا نتيجه سوه چې ډېر پاك شيان كم چې د مخكې څخه حلال وه ، په ډول د سزا پر دوی حرام كړل سوه .

تفسير: نو د يهودو د دغه لويو لويو جرمونو په سبب (چې ډېر ور څخه په سورة بقرة كې ذكر سوي دي) مونږ ډېر پاكيزه (يعنى حلال اوګڼه ور اوخوندور) شيان كوم چې (د مخكې څخه) په دوی (هم) حلال وه (چې په آيت ، كُلُّ الطَّعَامِ كَانَ حِلًّا لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ كې دي) پر دوی (د موسى ﷺ په شريعت كې) حرام كړل (چې ددې بيان د سورة انعام په آيت: وَعَلَى الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا كُلَّ ذِيْ ظُفُرٍ الخ كې دی او هلته هم دا ښوول سوی دی چې دا حلال او پاك شيان پر دوی باندې د دوی د ګناهونو په سبب او نافرمانيو په وجه حرام سوي وه: ذٰلِكَ جَزَيْنٰهُمْ بِبَغْيِهِمْ الخ) او (د موسى ﷺ په شريعت كې هم هغه ټول حرام پاته سول هيڅ په كې حلال نه سول) په سبب ددې چې (د دوی آينده هم د داسې حركتونو څخه منع سول مثلاً دا چې) دوی (به په احكامو كې ادل بدل كوی يا به يې د خدای ﷻ حكم پټوی) ډېر خلګ به يې د الله ﷻ د لارې (يعنى حق دين د قبلولو) څخه منع كول (څكه چې د دوی په دې كارسره به عوام خامخا په شك كې لويدل ، كه څه هم چې په رښتينى طلب سره خو دغه شك ليرې كيدل ممكن وه) او په سبب ددې چې دوی به سُود اخيستى حال دا دی چې دوی (په تورات كې) ددې څخه منع سوي وه ، او په سبب ددې چې دوی به د خلګو مالونه په ناحقه طريقه (يعنى ناجائزه طريقه) سره خوړله (نو د حق په لاره كې د بنديز جوړيدو ، سود اخيستو او په ناجائزو طريقو سره د نورو د مالونو د خوړلو په وجه ترڅو پورې چې دغه شريعت وونو پر دوی څه سپكوالى ونه سو البته په نوی شريعت د عيسى ﷺ كې څه احكام بدل سوي وه ، لكه د آيت ، وَلِاُحِلَّ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِيْ حُرِّمَ عَلَيْكُمْ څخه چې معلوميږی او په شريعت محمدی ﷺ كې ډېر سپكوالى وسو لكه د، وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبٰتِ الخ څخه چې ثابته ده ، دا خو دنيوی سزا وه) او (په آخرت كې) مونږ د دغه خلګو د پاره كوم چې په دوی كې كافران دي ، د دردناكې سزا اسباب تيار كړي دي (البته كوم څوك چې د شرعي قاعدې مطابق ايمان راوړی ، دده

تیر گناهونه به ټول معاف سي)

معلومات اومسئلې: په شریعت محمّدي ﷺ کې هم څه شیان حرام دي لیکن هغه دځه جسماني یاروحاني ضرر په وجه سره حرام کړل سوي دي، په خلاف دیهودو څخه چې په دوي کې کوم پاك شیان حرام سوي وه په هغوکې څه جسماني یاروحاني ضررنه وو، بلکه ددوي دنافرمانیو دسزاپه ډول سره پردوي داشیان حرام کړل سوي وه.

لٰكِنِ الرّٰسِخُوْنَ فِي الْعِلْمِ مِنْهُمْ وَالْمُؤْمِنُوْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ

لیکن کوم چې پاخه دي په علم کې. په دوي کې او ایمان والا دي نو منې څه چې نازل سو

اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ وَالْمُقِيْمِيْنَ الصَّلٰوةَ وَالْمُؤْتُوْنَ

په تاباندي اوڅه چې نازل سوه ستاڅخه مخکې او آفرین دي په لمونځ قائم ساتونکو او کوم چې

الزَّكٰوةَ وَالْمُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ اُولٰٓئِكَ سَنُؤْتِيْهِمْ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿١٦٢﴾

ورکوونکي دي زکوٰة اویقین لرونکي دي په الله اوپه ورځ دقیامت نو داسي خلقو ته به مونږ ورکړو لوي ثواب.

دآیتونو ترون: په لوړو آیتونو کې دهغه یهودو ذکر وو، چې پرخپل کفر باندي قائم وه اوپه لوړو ذکر سوو بدوعملونوکې اخته وه، مخ ته دهغو صاحبانو بیان دي چې اهلِ کتاب وه اوکله چې نبي کریم ﷺ مبعوث سو اوهغه صفتونه کوم چې د دوي په کتابونوکې دخاتم النبیّین ﷺ په اړوند موجود وه، په ده کې یې پوره پوره ولیدل نو ایمان یې راوړی، لکه حضرت عبدالله بن سلام اوأسید اوثعلبه، په دې آیتونوکې ددې حضراتو تعریف او صفت ذکر سوی دی.

لنډتفسیر: لیکن په دوي (یهودو) کې چې کوم خلک په علم (دین) کې پاخه (یعني ددې په موافق عمل کولوکې محکمه) دي (اودې تیاری پردوي باندي حق ښکاره اودحق قبلول آسان کړل کوم چې مخ ته یې اُصول اوفروع ذکردي) اوکوم چې (په دوي کې) ایمان راوړونکي دي چې په دې کتاب هم ایمان راوړي چې تاته رالیږل سواو په هغوکتابونو هم (ایمان لري) کوم چې ترتا مخکې (نبیانو ﷺ ته) لیږل سوي وه (لکه تورات انجیل) اوکوم چې (په دوي کې) دلمانځه پابندي کوونکي دي اوکوم چې (په دوي کې) زکوٰة ورکوونکي دي اوکوم چې (په دوي کې) په الله ﷻ او دقیامت په ورځ عقیده لرونکي دي (نو) داسي خلکو ته به مونږ ضرور (په آخرت کې) لوی ثواب ورکړو.

معلومات اومسئلې: په آیت کې چې دکومو حضراتو دپاره دکامل اجر وعده ده دغه ددوي دایمان اونیك عمل کولو په وجه سره ده اوترڅو پوري چې صرف یوازې دنجات تعلق دی هغه پرضروري عقیدو صحیح کولو باندي موقوف دی، په دې شرط چې ایمان سره دخاتمې سعادت (خوشبختي) ورته نصیب سي.

Maktaba Tul Ishaat.com

إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَىٰ نُوحٍ

مونږ وحی ولیږله تاته لکه چی وحی لیږلی وه مونږ نوح ؑ ته

وَالنَّبِيِّينَ مِن بَعْدِهِ ۚ وَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَ

او هغه نبیانو ته کوم چی دده څخه وروسته وه او وحی لیږلی وه مونږ ابراهیم ؑ او اسماعیل ؑ ته

إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ وَعِيسَىٰ وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَ

او اسحق ؑ ته اویعقوب ؑ ته او دده اولاد ته اوعیسی ؑ ته اویوب ؑ ته اویونس ؑ ته

هَارُونَ وَسُلَيْمَانَ ۚ وَآتَيْنَا دَاوُودَ زَبُورًا ﴿١٦٣﴾ وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنَاهُمْ

هارون ؑ ته اوسلیمان ؑ ته ،او ورکړی وو مونږ داؤد ؑ ته زبور ،اولیږلی دی مونږ داسی رسولان حلات یی

عَلَيْكَ مِن قَبْلُ وَرُسُلًا لَّمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ ۚ وَكَلَّمَ اللَّهُ

مونږ تاته واورول ددې څخه مخکې او داسې رسولان چی حالات یی مونږ تاته نه دی اورولی او خبری کړی دی

مُوسَىٰ تَكْلِيمًا ﴿١٦٤﴾ رُّسُلًا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ

الله دموسی ؑ سره خبری کول ، لیږلی دی مونږ پیغمبران خوشخبری او بیره اورونکی ددې دپاره چی پاته

لِلنَّاسِ عَلَى اللَّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿١٦٥﴾

نه سی دخلقو په الله باندی دځه الزام موقع درسولانو څخه وروسته ، او الله ﷻ زبردست حمت والا ،

لَّٰكِنِ اللَّهُ يَشْهَدُ بِمَا أَنزَلَ إِلَيْكَ ۖ أَنزَلَهُ بِعِلْمِهِ ۖ وَالْمَلَائِكَةُ

لیکن الله شاهد دی په دی چی څه یی په تا نازل کړل چی دایی نازل کړی دی پخپل علم سره او ملائکی هم

يَشْهَدُونَ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا ﴿١٦٦﴾ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا

شاهدی دی او الله ﷻ کافی دی حق ښکاره کوونکی ، کوم خلق چی کافران سول او بند یی کړل

عَن سَبِيلِ اللَّهِ قَدْ ضَلُّوا ضَلَالًا بَعِيدًا ﴿١٦٧﴾ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا

دلاری دخدای څخه دوی ګمراه سوه ډیر لیری ، بیشکه کوم خلق چی کافران

Maktaba Tul Ishaat.com

وَظَلَمُوا لَمْ يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيقًا ﴿۱۶۸﴾

سول اوحق یی پټ کی هیڅکله الله نه دی بخښوونکی دوی ته او نه به وښیی دوی ته لار برابره .

إِلَّا طَرِيقَ جَهَنَّمَ خٰلِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۚ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيرًا ﴿۱۶۹﴾

مګر لار د دوزخ اوسیږي به دوی په دی کی همیشه ، او دا په الله پاك باندی آسانه ده.

دآیتونوتړون: د يَسْئَلُكَ أَهْلُ الْكِتٰبِ څخه یی دیهودو یواحمقانه سوال ذکر کی، ذدی یو الزامی جواب یی په تفصیل سره ورکی، دلته په یوه بل عنوان سره هم دغه سوال باطل کیږی، چی تاسی په نبی کریم ﷺ دایمان راوړلو دپاره کوم شرط لګوی چی ته دآسمان څخه لیکلی کتاب راوړه، اوو یبنیه، نودا وواياست چی دادلوی مرتبی پیغمبران علیهم السلام کوم چی ذکر یی په دی آیتونوکی دی داخوتاسی هم منی او د دوی په حق کی تاسی داسی قسم مطالبی نه کوی ، نو په کوم دلیل سره چی تاسی داحضرات نبیان منی یعنی په معجزو سره نودمحمّد ﷺ سره خوهم معجزی سته، نوپرده باندی هم ایمان راوړی، لیکن خبره دا ده چی ستاسی دا مطالبه دحق دپاره نه ده بلکه دعناد دپاره ده.

مخکی یی دانبیاوو علیهم السلام دراليږلوحکمت هم بیان کی ، اونبی کریم ﷺ یی مخاطب کی ، ویی ښوول ورته چی داخلګ که ستاپه نبوت ایمان نه راوړی نوخپل آخرت خرابوی ، ستاپه نبوت خوخدای ﷻ هم شاهددی او دخدای ﷻ ملائکو ؑ ددی شاهدی ورکوی.

لنډتفسیر: مونږ (خویوازی ته رسول نه یی جوړکړی چی داسی عبث فرمآئشونه کوی بلکه) تاته (هم داسی) وحی لیږلی ده لکه (حضرت) نوح (علیه السلام) ته چی مونږ لیږلی وه اوترده وروسته نورو پیغمبرانو علیهم السلام ته (لیږلی وه) او (په دوی کی دځینو نومونه هم ښیوچی) مونږ (حضراتو) ابراهیم علیه السلام اواسمٰعیل علیه السلام اواسحٰق علیه السلام اویعقوب علیه السلام او اولاد دیعقوب علیه السلام (کی چی کوم نبیان تیر سوی دی) اوعیسٰی علیه السلام او ایّوب علیه السلام اویونس علیه السلام اوهارون علیه السلام اوسلیمان علیه السلام ته وحی لیږلی وه او (دغه ډول) مونږ داوٗد (علیه السلام) ته هم وحی لیږلی وه نو ده) ته (کتاب) زبور ورکړی وو او (په دوی سربیره) نور (ځینی) داسی پیغمبران (هم) دوحی خاوندان جوړکړل چی حال یی تردی مخکی (په سورةِ انعام اونورومکّی سورتونوکی) مونږتاته بیان کړی دی او (ځینی) داسی پیغمبران (دوحی خاوندان جوړکړل) چی ددوی حال (تراوسه پوری) مونږتاته نه دی بیان کړی او (حضرت) موسٰی (علیه السلام) موهم صاحب دوحی جوړکی ځکه چی دده) سره الله ﷻ په خاص ډول سره کلام وفرمایی (او) داټول (په ایمان) خوشخبری (زیری) (دخلاصون) ورکوونکی او (پر کفر دعذاب څخه) بیروونکی پیغمبران جوړل کړل، ځکه موولیږل چی دخلګوسره دالله ﷻ په وړاندی ددی پیغمبرانو (دراتلو) څخه وروسته څه (ظاهری) عذر (هم) پاته نه سی (که نه وی نو په قیامت کی به یی داسی ویلای چی دډیرو شیانوښه والی اوبدوالی خوپه عقل سره نه سوائ معلومیدلای نوزمونږ څه خطآء ده) او (داغسی خو) الله ﷻ دپوره زور (اواختیار) خاونددی (چی که بغیر دپیغمبرانو دراليږلو څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

بې عذاب ورکولای، نو په دې وجه چې هغه حقیقي مالك دی یوازې، نو دا به هم ظلم نه وای او په حقیقت کې دعذر کولو حق هیچاته نه وو، لیکن کله چې لوی حکمت والا (هم) دی (نو په رالیږلو کې یې حکمت وو چې ظاهري عذرهم پاته نه سي، دا د حکمت بیان تبعًا په مینځ کې راغلی وو، مخ ته دنبوّت محمّدي ﷺ دثابتولو دجواب تکمیل فرمایي چې که دوی دخپلې دې شبهې په رفع کیدوهم نبوّت ونه مني) لیکن (په واقع کې خوثابت دی اوپردې ثبوت باندې صحیح دلیل قآئم دی لکه چې) الله ﷻ په ذریعه ددې کتاب کوم چې یې تاته را لیږلی دی اولیږلی یې هم (په یوډول) په خپل علمي کمال سره (چې په دې سره دا کتاب یو لویه معجزه سوه کم چې دنبوت دلیل قاطع دی، دداسې مُعجز کتاب په ذریعه سره ستادنبوت) شهادت ورکوی (یعنې دلیل قآئموی لکه چې اوس معلومه سوه چې معجزکتاب یې نازل کی اودا اعجاز دنبوت دلیل دی نو پس په واقع کې په دلیل سره نبوت ثابت دی ، اوس پاته سو دچامنل اونه منل نو ددې خوخیال هیڅ هم نه دی) او (که چیرې طبعًا زړه داغواړي نوتردوی ښه مخلوق یعنې) ملائکې (ستادنبوت) تصدیق کوي (اودمؤمنانو تصدیق خولیدل کیږي چې تردې وروسته که یوڅو احمقان یې نه مني نونه دې یې مني) او (اصلي خبره خو دغه ده چې) دالله ﷻ شهادت کافي دی (چې دا واقعي دلیل دی دبل چادتصدیق اومنلوتاته حاجت نسته) کوم خلګ چې (ددې محکمو دلیلونوڅخه وروسته هم) منکر دي او (خوندوره دا ده چې نور هم) دخدایي دین څخه منع کوي ، دوی (دحق څخه) ډیرلیرې په ګمراهې کې لویدلي دي (دا خو په دنیاکې د دوی دمذهب فآئده سوه او میوه یې په آخرت کې مخ ته واوره چې) بیشکه کوم خلګ چې (دحق څخه) منکر دي او (دحق څخه منع کوونکي جوړیږي) دنورو هم نقصان کوي الله ﷻ به هیڅکله هم دوی ونه بخښي او نه به دوی ته دجهنم دلارې څخه ماسوا بله لار (یعنې دجنت لار) وښیي دغه ډول چې په دې (جهنّم) کې به همیشه همیشه اوسي اودالله ﷻ په نږد داسزا معمولي خبره ده (ددې دپاره څه اسباب تیارول نه غواړي)

معلومات اومسئلې: د ، إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَىٰ نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِن بَعْدِهِ څخه معلومه سوه چې وحي خاص دالله ﷻ حکم او دهغه پیغام دی چې پیغمبرانو علیهم السلام ته لیږل کیږي اوپر تیرو پیغمبرانو علیهم السلام چې څنګه دالله ﷻ وحي نازله سویده، دغه ډول په حضرت خاتم الانبیآء محمّد ﷺ باندې الله ﷻ خپله وحي رالیږلې ده نوڅوك چې هغه مني دابه هم خامخا مني اوچاچې ددې څخه انکار وکی نوګویا دې دټولو څخه منکر سو اودحضرت نوح علیه السلام اوترده دمخکنیو سره دمشابهت وجه شاید داده چې دحضرت آدم علیه السلام په وخت کې کومه وحي شروع سوه، نودغه وخت بالکل ابتدایي حالت وو، په حضرت نوح علیه السلام ددې تکمیل وسو، ګویا اول حالت محضې دتعلیم ابتدایي حالت وو، دحضرت نوح علیه السلام په زمانه کې دغه حالت پوره سو او ددې قابل سو چې د دوی امتحان واخیستل سي اوفرمانبردارو ته انعام اونافرمانو ته سزا ورسیږي لکه چې داولو العزمو پیغمبرانو علیهم السلام سلسله هم دحضرت نوح علیه السلام څخه شروع سوه اودالله ﷻ دوحي څخه پر مخ اړوونکو باندې هم اول عذاب دحضرت نوح علیه السلام دوخت څخه شروع سو.

لنډه داچې دحضرت نوح علیه السلام څخه مخکې دالله ﷻ په حکم اودانبیاوو علیهم السلام په مخالفت عذاب نه

Maktaba Tul Ishaat.com

نازلیدی ، بلکه دوی به یی معذور ګڼل صبربه ورته کول کیدی او دپوهولو کوشش به یی کیدی، دحضرت نوح ﷺ په زمانه کی کله چی مذهبی تعلیم ښه ښکاره سو او خلګوته دالله ﷻ دحکم په متابعت کی څه پټ والی نه سو پاته نو اوس پرنافرمانو عذاب نازل سو، اول دحضرت نوح ﷺ په زمانه کی طوفان راغی تردی وروسته دحضرت هود ﷺ حضرت صالح ﷺ حضرت شعیب ﷺ اونورو نبیانو په زمانه کی په کافرانو قسم قسم عذابونه راغلل ، نو دحضرت نوح ﷺ په وحی او ترده دوروسته وحی سره دحضور ﷺ دوحی په مشابه کولو کی دمکی مشرکانوته پوره تنبیه (خبرداری) ورکړل سوه چی که څوک ستاسی وحی یعنی قرآن ونه منی ، دی به دلوی عذاب لایق سی (فوائد علامه عثمانی)

دحضرت نوح ﷺ ذات په خپله یوه معجزه وه نهه نیم سوه ۹۵۰ کاله عمرده ته ورکړل سوی وو او دده یوغاښ هم نه وولویدلی اونه یی یوورېښته سپین سوی وو، دده په جسمانی طاقت کی هم څه کمښت نه وو راغلی اوټول عمر یی دقوم آزار او تکلیف رسول په صبر سره زغملی وو (مظهری)

وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنٰهُمْ عَلَيْكَ : دحضرت نوح ﷺ څخه وروسته چی کوم نبیان علیهم السلام راغلی دی ، د دوی یی اجمالاً ذکر وکی، په دوی کی چی کم اولوا العزم اولوی مرتبی والا پیغمبران علیهم السلام دی ، د دوی یی په خاص ډول سره ذکر وکی ، ددی مقصد دا ښوول دی چی داټول انبیاء علیهم السلام دی او انبیاوو ته په مختلفو طریقو سره وحی راغی، کله ملایکی پیغام راوړی، کله لیکلی کتاب ورکول کیږی، کله الله ﷻ سیده په سیده دخپلو رسولانو سره خبری کوی، مقصد دا دی چی وحی په هره طریقه چی راسی خوعمل په واجب دی، په دی وجه دیهودو داوېناچی که دتورات په شان لیکلی کتاب نازل سی، نوو به یی منو کنی نونه یی منو، داخالص حماقت او کفردی، دحضرت ابوذر غفاری ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی الله ﷻ یو لك څلور ویشت زره ۱۲۴۰۰۰ پیغمبران علیهم السلام رالیږلی دی ، چی دری سوه دیارلس ۳۱۳ په کښی دشریعت خاوندان وه (قرطبی)

رُسُلًا مُّبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ : الله ﷻ پیغمبران علیهم السلام برابر راولیږل چی مؤمنانو ته خوشخبری واوروی او کافران وبیروی ، ددی دپاره چی دقیامت په ورځ دخلګو دا عذر پاته نه سی چی مونږ ته ستا خوښه او دبل خوښه معلومه نه وه که معلومه وای نوخامخا به مونږ وربادنی عمل کولای، ښوکله چی الله ﷻ پیغمبرانو علیهم السلام لره معجزی ورکړی ، را ویی لیږل اوپیغمبرانو علیهم السلام حقه لاره وښووله نواوس دحق دین په نه قبلولوکی دهیچاعذرنه اوریدل کیږی، دالله ﷻ وحی یوداسی قطعی دلیل دی چی ددی په وړاندی بل دلیل نه چلیږی، بلکه ټول دلیلونه ختم سی اودا دالله ﷻ حکمت اوتدبیردی، دحضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی ، چی دیهودو یوه ډله دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضره سوه ، ده ورته وفرمایل چی په خدای ﷻ قسم دی تاسی یقیناً پوهیږئ ، چی زه دخدای ﷻ حق رسول یم ، نو دوی ددی څخه انکار وکی ، نو په دی باندی دا آیت نازل سو ، لٰكِنِ اللّٰهُ يَشْهَدُ بِمَآ اَنْزَلَ اِلَيْكَ : په دی کی یی دا وښووله چی الله ﷻ ددی مُعجز کتاب په ذریعه چی دده علمی کمال دی ، ستاپه نبوت شاهد دی ، هغه چی په تا دا کتاب نازلوی نو په دی پوه وو، چی ته ددی اهل یی اوملائکی هم پردی شاهدی دی ، او دعلیم او

Maktaba Tul Ishaat.com

خبیر ذات ترشاهدی وروسته دکوم دلیل حاجت پاته کیدی سی ؟ د قرآن کریم اودحضور ﷺ ترتصدیق وروسته فرمایی چی اوس کوم خلک منکردی اوپه تورات کی چی کوم ستا صفتونه اوحالات موجود وه هغه پټوی اوخلګوته نورڅه ښکاره کوی دحق دین څخه یی منع کوی، نوداسی خلګوبه نه مغفرت نصیب سی، نه هدایت، ددی څخه ښه معلومه سوه چی هدایت ستاپه متابعت کی دی اوګمراهی ستادمخالفت نوم دی، په دی سره دیهودو ټول خیالات باطل اوغلط کړه سول.

یَٰٓأَیُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَكُمُ ٱلرَّسُولُ بِٱلۡحَقِّ مِن رَّبِّكُمۡ

ای خلقو ! تاسی ته رسول راغی دحقی خبری راوړو سره ستاسی درب څخه

فَـَٔامِنُواْ خَيۡرٗا لَّكُمۡۚ وَإِن تَكۡفُرُواْ فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ

نو ویی ومنی چی تاسی لره ښه سی اوکه تاسی ونه منی نو دالله ﷻ دی څه چی په آسمانونو کی دی

وَٱلۡأَرۡضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمٗا ﴿١٧٠﴾

او په مځکه کی ، او دی الله ﷻ په هرڅه پوه حکمت والا .

دآیتونوتړون: دیهودو داعتراضاتو دجواب او دنبوّتِ محمّدی علی صاحبها الصّلاة والسلام دثابتولو څخه وروسته اوس دټولی دنیا خلګوته خطاب فرمایی چی ستاسی نجات په دی کی دی چی دمحمّد ﷺ په نبوّت ایمان راوړی.

لنډتفسیر: ای ټولو (دجهان) خلګو تاسی ته دی رسول ﷺ رینښتنی خبره (یعنی رینښتینی دعوه رینښتینی دلیل) راوړی ستاسی دربّ دطرف څخه یی تشریف راوړی دی نو (ددی صحیح دلیل چی پردعوه باندی ثابت دی دامقتضٰی ده چی) تاسی (په ده اوڅه چی دی فرمایی په ټولو) یقین لری (کوموچی مځکی لایقین راوړی دی هغه دی پردی قآئم اوسی اوچاچی نه دی راوړی اوس دی اختیار کړی) دابه ستاسی دپاره ښه وی (ځکه چی نجات به پیداکړی) اوکه تاسی منکران سواست نو (ستاسی نقصان دی دالله ﷻ هیڅ تاوان نه دی ځکه چی) دالله ﷻ ملکیّت دی دا هرڅه چی په آسمانونو اومځکه کی (موجود) دی (نوداسی لوی عظیم الشان مالك ته به څه نقصان ورسولای سئ، خپل خیر غواړئ) اوالله ﷻ (دټولود ایمان اوکفر) پوره خبر لری (اوپه دنیا کی چی پوره سزا نه ورکوی نوځکه چی) کامل حکمت والا (هم) دی (نو دغه حکمت ددی مُقتضی دی)

یَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَا تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ وَلَا تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّۚ إِنَّمَا ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى

ای اهل کتابو! مبالغه مه کوی ددین په خبره کی اومه وایاست دالله په شان کی مګر حقه خبره بیشکه مسیح چی دی عیسی

Maktaba Tul Ishaat.com

ابْنُ مَرْيَمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ وَكَلِمَتُهٗ ۚ اَلْقٰهَاۤ اِلٰى مَرْيَمَ وَرُوْحٌ

دمرمی ؑ زوی هغه رسول دی اودهغه کلام دی چی غورخولی یی دی مریمی ؑ ته او دهغه دطرف څخه روح

مِّنْهُ ۫ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ۚ وَلَا تَقُوْلُوْا ثَلٰثَةٌ ؕ اِنْتَهُوْا خَيْرًا

دی ، نو ومنی الله او دهغه رسولان او مه وایاست چی خدایان دری دی ، داخبره پریږدی

لَّكُمْ ؕ اِنَّمَا اللّٰهُ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ؕ سُبْحٰنَهٗۤ اَنْ يَّكُوْنَ لَهٗ وَلَدٌ ۘ لَهٗ مَا

دا به غوره وی تاسی ته بیشکه الله ؓ معبود دی یوازی ، ددې لائق نه دی چی دده اولاد وی دهغه دی څه

فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ؑ ﴿۱۷۱﴾

چی په اسمانونو کی دی اوڅه چی په مځکه کی دی اوکافی دی الله ؓ کار ساز .

دآیتونوتړون: په تیرو آیتونوکی یهودوته خطاب وواوددوی دګمراهیو تفصیل په کښی ذکر وو، په دی آیتونوکی نصاراوته خطاب دی او د دوی دبدو عقیدو اودحضرت عیسٰی . په اړوند ددوی دباطلو خیالاتو رَدْ په کښی سوی دی .

لنډتفسیر: ای اهل کتابو! (یعنی انجیل والاوو) تاسی دخپل دین (په باره) کی (دحقی عقیدی تر) حدمه وزئ اودالله ؓ په شان کی غلطه خبره مه کوی (چی نعوذ بالله هغه خاوند داولاد دی لکه چی ځینی وایی اَلْمَسِيْحُ ابْنُ اللّٰهِ یاهغه دمجموعهٔ الهیه یوجُزء دی ، لکه چی ځینی وایی ، اِنَّ اللّٰهَ ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ اوپاته دوه جزونه یو به یی حضرت عیسٰی . ته ویل ، اویو حضرت جبرآئیل ؑ ته ، لکه چی په راتلونکی آیت کی د، وَلَا الْمَلٰٓئِكَةُ الْمُقَرَّبُوْنَ دزیاتولو څخه معلومیږی اوځینی حضرت مریمی ؑ ته ویل لکه د، اِتَّخِذُوْنِیْ وَاُمِّیَ څخه چی معلومیږی یا به یی ویل چی خدای عین مسیح دی لکه چی ځینو به ویل ، اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ مقصد دا تولی عقیدی باطلی دی) مسیح عیسٰی زوی دمریمی خو بل څه نه دی البته دالله ؓ رسول دی اودالله ؓ یوه کلمه (دپیدا ایښت) ده چی الله ؓ (حضرت) مریمی ؑ ته (دحضرت جبرآئیل ؑ په ذریعه سره) رسولی وه اودالله ؓ دطرفه څخه یوروح (لرونکی شی) دی (چی داروح یی دحضرت مریمی ؑ جسم ته په واسطه دپو کل (پُف) دحضرت جبرآئیل ؑ رسولی وو ، نورنه هغه ابن الله دی ، نه په دروکی یو دی لکه چی په دی ذکرسوو عقیدو باندی لازمیږی) نو (داتولی خبری غلطی دی ، دتولو څخه توبه وکئ او) په الله ؓ اودهغه په رسولانو تولو (دهغوی دتعلیم او ښوونی مطابق) ایمان راوړی (اودا ایمان راوړل موقوف دی پرتوحید نوعقیده دتوحید ساتئ) اوداسی مه وایاست چی (خدایان) دری دی (مقصود منع کول دی دشرک څخه اوشرک په دی تولو ذکر سوو قولونو کی شریک دی ، ددی شرک څخه) منع سئ ستاسی دپاره به بهتره

Maktaba Tul Ishaat.com

وي (او د توحید قائل سړی څکه چې) حقیقي معبود خو یو معبود دی (او) هغه د اولاد څخه پاك دی، هر څه چې په آسمانونو کې او په مځکه کې موجود دي، ټول د هغه ملکیت دی (او د هغه د پاکوالي او د مالك والي دليل دی د توحید) او (یو دلیل دادی چې) الله ﷻ په کار جوړولو کې کافي دی (او د هغه څخه ماسوا نور ټول په کار جوړولو کې ناکافي، بل ته محتاج او ترڅه حده پورې عاجز دي او دا پوره والي د صفتونو د کمال څخه دی او د کمال صفتونه د خدایي سره لازم دي نو کله چې دا صفتونه په غیرالله کې نسته نو خدایي (الوهیت) په کښې هم نسته نو توحید ثابت دی)

معلومات او مسئلې: وَكَلِمَتُهُ ، په دې لفظ کې یې دا ښوولې ده چې حضرت عیسیٰ ﷺ د الله ﷻ کلمه ده ، تفسیر لیکونکو د دې مختلفې معناوې بیان کړې دي .

(۱) امام غزالي رحمه الله فرمایي چې دیوه کوچني پرپیدا ایښت دوه عوامل کارکوي، یو عامل نطفه ده او دوهم د الله ﷻ کلمه (کُنْ) فرمایل دي چې تر دې وروسته د غه کوچني په وجود کې راځي، د حضرت عیسیٰ ﷺ په پیدا ایښت کې چې کله اولنی عامل نیستی دی، په دې وجه یې د دوهم عامل و طرف ته نسبت وکې او ده ته یې کلمة الله وویل، چې مطلب یې دادی چې دی . د مادي (ظاهري) اسبابو د واسطې څخه پرته یوازې په کلمه د کُنْ سره پیدا سوی دی، په دې صورت کې د (اَلْقٰهَا) معنی دا سوه چې الله ﷻ دا کلمه حضرت مریمې ﷺ ته ورسوله چې د دې په نتیجه کې د حضرت عیسیٰ ﷺ پیدا ایښت وسو .

(۲) ځیني فرمایي چې ، كَلِمَةَ اللهِ د بَشَارَةُ اللهِ په معنی دی او مراد د دې څخه حضرت عیسیٰ ﷺ دی ، الله جلّ شانه د ملائکو په ذریعه حضرت مریمې ﷺ ته د حضرت عیسیٰ ﷺ کوم بشارت (زیری) چې ورکړی وو، په دې کې د (کلمې) لفظ استعمال سوی دی ، إِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ يَا مَرْيَمُ إِنَّ اللهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ .

(۳) ځیني فرمایي چې (كَلِمَة) د آیت او ښنانې په معنی ده، لکه چې بل ځای دا لفظ د آیت په معنی کې استعمال سوی دی، وَصَدَّقَتْ بِكَلِمٰتِ رَبِّهَا .

وَرُوْحٌ مِّنْهُ: په دې لفظ کې دوې خبرې د فکر قابلې دي، یوه دا چې حضرت عیسیٰ ﷺ ته د روح ویلو څه معنی ده؟ او دوهم دا چې د الله ﷻ جلّ شانه طرف ته چې د دې نسبت سوی دی، د دې نسبت څه مطلب دی ؟ په دې سلسله کې د تفسیر لیکونکو ډیر قولونه نقل دي .

(۱) ځیني فرمایي چې د عُرف په قاعده چې کله د څه شي پاکوالي او طهارت بیانول وي نو د مبالغې د پاره پر ده د روح اطلاق کول کیږي، د حضرت عیسیٰ ﷺ په پیدا ایښت کې چې کله د پلار د نطفې دخل نه وو او دی یوازې د الله ﷻ په اراده او په کلمې د (کُنْ) سره پیدا سوی وو ، په دې وجه په خپل پاکوالي او صفایي کې د کمال درجې ته رسیدلی وو ، په دې وجه د عُرف د محاورې پر مُطابق ده ته روح وویل سو او د الله ﷻ طرف ته یې نسبت د ده د تعظیم او شرافت د پاره دی، لکه د مسجدونو د تعظیم د پاره چې د دوی نسبت د الله ﷻ طرف ته کول کیږي ، د الله مسجدونه، یا د کعبې نسبت د الله ﷻ طرف ته کوي بیت الله ور ته وایي، یا د یوه عبادت گذاره بنده نسبت د الله ﷻ طرف ته کوي عبدالله ور ته وایي، لکه چې په سورة بني اسرائیل کې یې د نبي کریم ﷺ د پاره دا صیغه استعمال کړیده . أَسْرٰى بِعَبْدِهٖ .

Maktaba Tul Ishaat.com

(٢)ځینی حضرات فرمایی چی دعیسیٰ ؑ دراليږلو مقصد داوو چی دخلګوپه مړو زړونوکی روحانی ژوند واچوی بیایی ژوندی کړی نوکله چی دی دروحانی ژوند سبب وولکه څنګه چی روح دجسمانی ژوند سبب وی په دی وجه په دی اعتبار سره ده ته روح وویل سو، لکه چی په خپله دقرآن شریف دپاره هم دالفظ استعمال سوی دی وَكَذٰلِكَ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ رُوْحًا مِّنْ اَمْرِنَا ځکه چی قرآن کریم هم روحانی ژوند بخښی.

(٣)ځینی فرمایی چی دروح استعمال درازپه معنی کی دی، حضرت عیسیٰ ؑ دخپل عجبه اوناولد پیدا ابنیت په وجه چی کله دالله ﷻ یوه نښانه اوراز وو، په دی وجه ده ته «روح الله» وویل سو.

(٤)ځینی وایی چی دلته مضاف محذوف دی او اصلی عبارت داسی وو، ذُوْرُوْحٍ مِّنْهُ اوکله چی په دی روح کیدوکی ټول حیوانات برابردی په دی وجه دعیسیٰ. بهتره والی یی داسی ښکاره کی چی دده نسبت الله ﷻ خپل طرف ته وکی.

(٥)یوقول داهم دی چی روح دپُف په معنی باندی دی، حضرت جبرآئیل ؑ دحضرت مریمی ؓ په ګریبان کی دالله ﷻ په حکم سره پُف کړی وو او ددی څخه یی حمل وسو، کله چی حضرت عیسیٰ ؑ په ډول دمعجزی یوازی په پُف سره پیدا سوی وو، په دی وجه ده ته روح الله وویل سو، دقرآن کریم په بل آیت، فَنَفَخْنَا فِيْهِ مِنْ رُّوْحِنَا سره دی طرف ته اشاره سوی ده، په دی سربیره نورهم ډیر احتمالات بیان سوی دی، په هرحال ددی مطلب دا هیڅکله نه دی چی حضرت عیسیٰ ؑ دالله ﷻ یو جزء دی او دغه روح دحضرت عیسیٰ ؑ په انسانی شکل کی ظاهرسوی دی.

لطیفه : علامه آلوسی رحمه الله یوه واقعه لیکلی ده چی دهارون الرشید په دربارکی یوه نصرانی طبیب دحضرت علی بن الحسین واقدی رحمه الله سره مناظره وکړه اوورته یی وویل چی ستاسی په کتاب کی داسی لفظ موجوددی چی دهغه څخه معلومیږی چی حضرت عیسیٰ. دخدای جزء دی اوپه دلیل کی یی دا آیت ووایه په کم کی چی د رُوْحٌ مِّنْهُ الفاظ دی.

علامه واقدی رحمه الله ددی په جواب کی یوبل آیت ووایه: وَسَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا مِّنْهُ (په دی آیت کی ویل سوی دی چی په آسمانونو اومځکه کی چی څه دی داټول ددغه الله ﷻ څخه دی اود: مِنْهُ په ذریعه سره دټولو شیانو نسبت دالله ﷻ طرف ته سوی دی، اووی فرمایل چی که درُوْحٌ مِّنْهُ مطلب داوی چی حضرت عیسیٰ ؑ دالله ﷻ جزء دی، نو ددی آیت مطلب به بیاداوی چی په آسمانونو اومځکه کی چی څه دی داهم دالله ﷻ جزء دی؟ دا جواب یی چی واوریدی نو نصرانی طبیب لاجوابه سو او مسلمان سو.

وَلَا تَقُوْلُوْا ثَلٰثَةٌ : دقرآن دنزول په وخت کی چی نصارا په کومو لویو لویو ډلوکی تقسیم وه، دتثلیث په اړوند ددوی عقیده پردرو جلا جلا اُصولو مبنی وه، یوی ډلی به ویل چی مسیح ؑ عین خدای دی، او خدای په شکل دمسیح دنیاته راکښته سوی دی، د دوهمی ډلی وېناوه چی مسیح دخدای زوی دی او دریمی ډلی دا دعوه کوله چی دیووالی رازپه دی درو کی پټ دی، پلار، زوی، مریمه، په دی ډله کی هم دوی ډلی وی، دوهمی ډلی به دحضرت مریم پر ځای روح القدس ته اقنوم ثالث وایه، مقصد داچی دی

خلګوبه حضرت مسیح ﷺ دریم په دروکی منی، په دی وجه قرآنکریم دادری سره جلا جلا هم مخاطب کړی دی اویوځای هم، اونصاراووته یی دا ښکاره کړی ده چی حق یودی اوهغه داچی مسیح ﷺ دمریمی ﷺ دنس څخه پیداسوی انسان اودخدای ﷻ رینبتینی رسول دی ، ددی څخه ماسواچی هرڅه ویل کیږی ټول باطل اوعبث دی برابره خبره ده که تفریط (کمی) په کښی وی لکه چی دیهودو عقیده ده چی دی یوساحر اودرواغ جوړوونکی وو ، اوکه افراط (زیاتوب) په کښی کوی لکه چی دنصاراوو عقیده ده چی هغه خدای دی یادخدای زوی دی یاپه دروکی دریم دی قرآن کریم په بی شمیره آیتونوکی خویوه طرف ته دنصاراوو اویهودو ګمراهی ښکاره کړه او بل طرف ته یی دحضرت عیسٰی ﷺ لوړشان اودالله ﷻ په نزد ده لوړمقام ښکاره کړی دی ددی دپاره چی دافراط اوتفریط دکږو لاروڅخه دحق درمیانه لارښکاره سی دعیسایانو په عقیدو او د دوی په مختلفو اړخونو اوددی په مقابله کی داسلام په حقوالی که په تفصیل سره معلومات حاصلول غواړئ نو دحضرت مولانا رحمت الله صاحب کیرانوی رحمه الله دمشهور کتاب (اظهارالحق) مطالعه وکړی ، چی ددی دعربی څخه اُردو ترجمه سره دشرح اوتحقیق همدا اوس دار العلوم کراچی په درو جلدونو کی چاپ کړی ده .

لَهُ وَلَدٌ لَهُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيلًا : یعنی په آسمانونو اومځکه کی دلوړ څخه ترلاندی پوری چی څه دی ټول دهغه مخلوق، مملوك اوبندګان دی، نوبیا ووایاست چی دهغه شریك یادهغه زوی څوك اوڅنګه کیدی سی، اوالله ﷻ دټولو کارونو جوړوونکی دی اودټولو دکار جوړولو دپاره هغه کافی اوبس دی، دبل چاڅه حاجت نسته، بیا ونبیاست چی دهغه (شریك یازوی ته حاجت څنګه کیدی سی .

لنډه دا سوه چی نه په یوه مخلوق کی دهغه دشریك جوړیدو قابلیت اولیاقت سته اونه دهغه په پاك ذات کی ددی امکان نسته اونه یی ورته حاجت سته، نوددی څخه معلومه سوه چی په مخلوقاتوکی یوڅوك دخدای ﷻ شریك یازوی جوړول دهغه چاکاردی چی دایمان اوعقل دواړو څخه محروم وی .

(په دین کی غلو (یعنی مبالغه) حرامه ده)

دالله ﷻ قول دی ، لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ په دی آیت کی یی اهلِ کتاب په دین کی دغلو (یعنی ترحد دتیریدو) څخه منع کړل ، دغلو لفظی معنی ترحدوتل دی اوامام جصاص رحمه الله په احکام القرآن کی فرمایی ، اَلْغُلُوُّ فِي الدِّيْنِ هُوَ مُجَاوَزَةُ حَدِّ الْحَقِّ فِيْهِ یعنی په دین کی غلوداده چی ددین په یوه شی کی کوم حد مقرر سوی وی تر هغه مخ ته تیر سی ، اهلِ کتاب یعنی یهود اونصارا دواړه ددی حکم مخاطب څکه جوړسول چی په دین کی غلو په دوی دواړو کی مشترکه ده اودادواړی فرقی په دی کی غلو کوونکی دی څکه چی نصاراوو دعیسٰی ﷺ په منلو، اودهغه په تعظیم کی غلو وکړه ، هغه یی خدای یادخدای زوی یادریم خدای جوړکړی اویهودو په نه منلو اورد کولو کی غلو وکړه چی هغه یی رسول هم ونه منی بلکه معاذالله دهغه په مور بی بی مریمی ﷺ باندی یی تهمت ولګوی اوپه نسب ییورباندی عیب ولګوی ، کله چی په دین کی دغلوپه وجه دیهودو اونصاراوو ګمراهی اوتباهی لیدل سوی وه، په دی وجه نبی کریم ﷺ خپل اُمّت ته په دی معامله کی پوره داحتیاط کولو تاکید وفرمایی ، په مسنداحمد کی

Maktaba Tul Ishaat.com

دحضرت فاروق اعظم ﷜ څخه روایت دی، چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی .

لَا تُطْرُوْنِیْ كَمَا اَطْرَتِ النَّصَارٰی عِیْسَی ابْنَ مَرْیَمَ فَاِنَّمَا اَنَا عَبْدُہٗ فَقُوْلُوْا عَبْدُ اللّٰهِ وَرَسُوْلُہٗ

زما په ثنا اوصفت کی دومره مبالغه مه کوی لکه نصاراوو چی دعیسیٰ ابن مریم په معامله کی کړی ده ، ښه پوه سئ چی زه دالله ﷻ بنده یم نوتاسی ماته دالله ﷻ بنده اورسول وایاست

(دا روایت بخاری اوابن مدینی هم روایت کړی دی اوصحیح یی ګڼلی دی)

خلاصه یی دا ده چی زه دالله ﷻ په بنده والی اوبشر کیدوکی دټولو سره شریك یم، زماترټولو لویه درجه دا ده چی زه دالله ﷻ رسول یم، تردی هاخواته لویول چی دخدای ﷻ په صفاتوکی ماشریك کړی داغلو ده تاسی دنصاراوو په شان هیڅکله چی په دی غلوکی اخته نه سئ ، او دیهودو اونصاراوو داغلوپه دین کی یوازی دانبیاوو ﷩ ترحده پوری نه وه بلکه دوی چی کله په دی عادت سول نودانبیاوو ﷩ دحواریانو اوتابعدارانو اونائبانوپه مقابله کی یی هم داسلوك اختیار کی، درسول څخه یی خوخدای جوړکړی وو ، اودرسول تابعدارانوته یی هم دمعصومانو درجه ورکړه اوبیایی داتحقیق هم نه کوی چی داخلګ په حقیقت کی دانبیاوو ﷩ تابعداران اودهغوی پرتعلیماتوپه صحیح ډول سره قآئم هم دی اوکه یوازی میراثی عالمان یاشیخان ګڼل کیږی، نونتیجه یی داسوه چی دڈوی مشری دداسی خلګوپه لاس کی ورغله چی په خپله هم ګمراه وه او د دوی ګمراهی یی نوره هم زیاته کړه ددین اودینداری دطرفه څخه ددوی دین بربادسو ، قرآن کریم ددغه خلګو ددی حالت بیان په دی آیت کی فرمایلی دی ، اِتَّخَذُوْا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ یعنی دی خلګو خپلو مذهبی پیشوایانو ته هم دمعبود درجه ورکړه، دغه ډول درسولانو څخه یی خدایان جوړول خولاڅه چی درسول دتابعدارانو په نامه یی دتیرو مذهبی پیشوایانو هم عبادت شروع کی .

ددی څخه معلومه سوه چی غلوپه دین کی هغه تباه کوونکی شی دی چی دتیرو امتونو دین یی ددین په نامه سره برباد کړی دی، ځکه زمونږ سردار اوپیشوا حضرت محمّد ﷺ خپل اُمّت ددی لویی وبا څخه دساتلو دپاره مکمل تدبیرونه وفرمایل .

په حدیث شریف کی دی چی دحج پرموقع باندی نبی کریم ﷺ دجمراتو درمی دپاره حضرت عبدالله ابن عباس ﷠ ته وفرمایل چی ده ﷺ ته کانی ورټول کړی اورایی وړی ، هغه ﷜ درمیانه غوندی کانی جمع کړل اورایی وړل نوده ﷺ ډیرخوښ کړل اودوه واره یی وفرمایل ، بِمِثْلِهِنَّ بِمِثْلِهِنَّ یعنی په همداسی درمیانه کانو باندی دجمراتو رمی (ویشتل) په کار دی بیایی وفرمایل .

اِیَّاكُمْ وَالْغُلُوَّ فِی الدِّیْنِ فَاِنَّمَا هَلَكَ مَنْ قَبْلَكُمْ بِالْغُلُوِّ فِیْ دِیْنِهِمْ

یعنی په دین کی دغلو څخه ځان ساتی ځکه چی ترتاسی مخکنی اُمّتونه په دین کی دغُلوپه وجه هلاك اوبربادسوی دی .

ددی حدیث څخه یوڅو مهمی مسئلی معلومی سوی .

ضروری فائدی: اوله دا چی په حج کی کومی ډبری چی جمرات په ویشتل کیږی د دوی سنّته اندازه دا ده

چې هغه دې درمیانه وي ، نه ډېرې کوچنی نه ډېرې لویې ، په لویو ډېرو ویشتل په دین کې غلو ده .
دوهمه دا معلومه سوه چې د هر شي شرعی حد هغه دی ، کوم چې نبی کریم ﷺ په خپل قول او عمل سره مقرر کړی دی ، په دین کې تر دې تجاوز کول غلو ده .
دریمه ورځخه دا خبره په ډاګه سوه چې په دین کې دغلو تعریف دا دی چې په یوه کارکې دسنتو ترحد تجاوز وکړه سي .
دُنیا دمحبت حدونه: ترضرورت دزیاتی دنیا ، مال ، دولت ، اوعیش وعشرت طمع په اسلام کې بده ګڼل سوې ده ، او ددې دپریښوولو هدایتونه هم په قرآنه کریم کې په ډېر شمیر سره راغلي دي لیکن نبی کریم ﷺ چې کوم ځای ددنیا دطمع اومحبّت ځخه منع فرمایلې ده ، هلته یې په خپله ویناوعمل سره ددې حدونه هم مقررکړی دي ، لکه نکاح کولوته یې سنّت ویلې دي او ددې ترغیب یې ورکړی دی داولاد پیداکولو فآئدې اودرجې یې ښوولې دي ، داهل اوعیال سره ښه سلوك اوددوی حقونه اداکول یې فرض مقررکړل ، دخپلو اوددوی دضرورتونو دپوره کولو دپاره یې کار اوکسب کول فرض وروسته ترفرضو مقررکې دتجارت زمینداری ، کاریګری اومزدوری کولویې خلګوته تاکید وفرمایی ، داسلامی حکومت قآئمول اوداسلامی نظام جاری کول یې دنبوّت فرض مقررکړل په خپل عمل سره یې په ټوله جزیره دعربو کې یوحکومتی نظام قآئم کې اوخلفآء راشدینو دا ددنیا مشرق اومغرب ته خپورکې ، ددې ځخه معلومه سوه چې پرقدر دضرورت ددې شیانو شغل نه ددنیاپه محبّت کې شماردې اونه په حرص اوطمع کې .
یهودو اونصاراؤ دا حقیقت ونه پېژندې اوپه رهبانیت کې اخته سول ، قرآن حکیم د دوی دا بې لارې کیدل په دې الفاظو سره رد وفرمایل ، وَرَهْبَانِيَّةً نِ ابْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنَاهَا عَلَيْهِمْ إِلاَّ ابْتِغَاءَ رِضْوَانِ اللهِ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا یعنی دې خلګو دخپل طرف ځخه درهبانیت یعنی ددنیا دپریښوولو طریقې اختیار کړې دي چې مونږ په دوی نه وې لازمی کړې بیاکوم شیان چې یې په خپله په ځان لازم کړي وه هغه یې پوره نه کړل .
دسنتو او بدعت حدونه : نبی کریم ﷺ په عبادتونو معاملو اوډژوندپه ټولو طریقوکې دخپلې وینا اوعمل په ذریعه ددرمیانه روی حدونه مقررکړې دي چې ددې ځخه شاته کیدل کوتاهي اومخ ته کیدل ګمراهي ده ، په دې وجه ده بدعتونه اونوې کارونه ډېرپه سختی سره منع کړې دي ، ارشاد فرمایی ، كُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ وَكُلُّ ضَلَالَةٍ فِي النَّارِ یعنی هر یو بدعت ګمراهي ده او دهرې ګمراهي انجام دوږخ دی .
بدعت هغه شي ته وایي چې دنبی کریم ﷺ په وینا اوعمل کې ښکاره یاپه اشاره سره موجودنه وي ، حضرت شاه ولیُّ الله رحمه الله لیکلې دي چې په اسلام کې بدعت ځکه سخت جُرم مقرر سوی دی چې داددین دبدلیدو لارده ، په تیرو امتونوکې داسې وسوه چې دوی په خپل کتاب اودرسول په تعلیماتوکې دخپل طرف ځخه زیاتی وکې اوهریوه راتلونکې نسل په دې کې پرمخ زیاتوب کوی تردې چې بیادرك نه معلومیدې چې اصلي دین کوم یو دی او دخلګو زیاتوبونه په کښې کم دي .
شاه صاحب په خپل کتاب (حجّة الله البالغة) کې دابیان کړې دي چې ددین دبدلولوپه دُنیا کې کوم کوم اسباب پیدا سوی دي ، او اسلامی شریعت په دې ټولو دروازو باندې ځنګه پهره (پیره) کښېنولې ده چې

Maktaba Tul Ishaat.com

چیرې دیوه طرف څخه دا وبا، په دې اُمت کې خپره نه سي .

(دعالمانو او شیخانو په تعظیم او تابعداري کې داعتدال لاره)

په دې سببونو کې یې ددین په باره کې ژوروالی او سختي یعني په دین کې غلو لوی سبب مقرر کړی دی، لیکن افسوس دی چې دنبي کریم ﷺ ددومره اهتمام او دشریعت ددومره پابندیو سره سره نن مسلمان اُمت په دې غلو کې ډیر په بیکاره طریقه سره اخته دی، ددین په ټولو اړخونو کې ددې نښاني ښکاره دي، په دې کې په خاص ډول سره کوم شی چې دملت دپاره هلاکوونکی او ډیر ضررناك ثابتیږي، هغه ددیني پیشوایانو معامله ده، د مسلمانانو یوه ډله خودی طرف ته تللی دی چې پیشوایان، عالمان، عارفان هیڅ نه دي، دالله ﷻ کتاب زمونږ دپاره پوره دی لکه څنګه چې دوی دالله ﷻ په کتاب پوهیږي، دغسې ورباندې مونږهم پوهیږو ، هُمْ رِجَالٌ وَنَحْنُ رِجَالٌ یعني دوی هم انسانان دي او مونږهم انسانان یو، نوددې نتیجه داسوه چې هریو هوسناك چې نه په عربي ژبه پوهیږي اونه دقرآن په حقیقت او معرفت اونه دنبي کریم ﷺ په بیان او تفسیر، محضې دقرآن په ترجمه کتلوسره ځان ته دقرآن عالِم وایي، دقرآن کریم کوم تفسیر اوتشریح چې په خپله د نبي کریم ﷺ یادده ﷺ دبي واسطې شاګردانو یعني صحابه کرامو ؓ څخه نقل دي ددې ټولو څخه قطع نظر، کمه خبره چې یې په ذهن کې راسي پر قرآن یې وروتپي، حال دادی چې که یوازې کتاب بغیر دمعلم څخه کافي کیدی نو دالله ﷻ داقدرت وو چې دکتاب نسخې یې لیکلې خلګوته یې رسولې، درسول ﷺ څخه معلّم جوړول اوخلګوته یې دلیږلو ضرورت به نه وای، اوکه فکر وکړه سي نومعلومه به سي چې داخبره یوازې دکتاب الله سره خاصه نه ده، دهیڅ یوه علم اوفن دکتاب په کتلو باندې او یوازې په ترجمه لیدلو باندې یې هیڅ سړی هم ددې فن عالِم نه سي جوړیدای، دډاکټري یا دیوناني طب دکتابونوپه ترجمه کتلوسره تراوسه پورې یوحکیم یاډاکټرنه دی جوړسوی، دانجنیئرۍ په کتابونو کتلو سره څوك انجنیئر نه دی جوړ سوی، دکالو ګنډلو یادپخلي دکتابونوپه کتلوسره هیڅ څوك درزي (خیاط) یا اشپزنه دی جوړسوی، بلکه په دې ټولو شیانو کې دتعلیم اوتعلّم او اُستاد ضرورت خودهرچاپه نزدمنلې سوې خبره ده، لیکن افسوس دی چې قرآن اوسنت داسې سرسري ګڼل سوي دي چې ددوی دپاره ګرسره دأستاد ضرورت نه ګڼل کیږي او په دې وجه دتعلیم یافته وو یوه لویه ډله دې طرف ته په غلو کې تللې ده چې یوازې دقرآن مطالعه کافي ګڼي، دتیرو عالمانو تفسیرونه اودهغوی راایستلي معناوې او تعبیرونه اوپه دوی پسې کیدل اوتابعداري یې کول خوبې ګرسره دپامه څخه غورځولي دي، دوهم طرف ته دمسلمانانو یولویه ډله په دې غلو کې اخته سویده چې په ړندو سترګو څوك چې وغواړي هغه خپل مقتدا اوپیشوا جوړوي اودې ته نه ګوري چې داڅوك مونږ پیشوا جوړوو، په ده کې داقابلیت سته اوکه نه ؟ اونه بیادې ته ګوري چې کوم تعلیم دی ورکوي دا خو به دقرآن اوسنت څخه مخالف نه وي، شریعت اسلامي دغلو څخه دساتلو دپاره ددې دواړو په مینځ کې داطریقه کار وښوولې چې کتاب الله دخدایي خلګو څخه ازده کوي او خدایي خلګ په کتاب الله سره پیژني، کوم چې دقرآن اوسنت په علمونو کې مشغول وي او ژوندیې دکتاب اوسنت په رنګ کې رنګ سوي وي، بیادکتاب اوسنت په هر

مشکله او کړکیچنه مسئله کې د دوی تفسیر او تشریح پرخپلې رایې مخکې ګڼئ او د دوی تابعداري کوئ

لَنْ يَّسْتَنْكِفَ الْمَسِيْحُ اَنْ يَّكُوْنَ عَبْدًا لِّلّٰهِ وَلَا الْمَلٰٓئِكَةُ

مسیح ته هیڅکله په دې شرم نسته چې دی بنده سي دالله او نه ملائکو ته

الْمُقَرَّبُوْنَ ۭ وَمَنْ يَّسْتَنْكِفْ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَيَسْتَكْبِرْ فَسَيَحْشُرُهُمْ

چې مقربې دي او څوک چې شرم کوي دالله دبندګۍ څخه او تکبر کوي نورا جمع به کړي دوی

اِلَيْهِ جَمِيْعًا ﴿١٧٢﴾ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَيُوَفِّيْهِمْ

خپل خان ته په جمع سره ، نو کومو خلقو چې ایمان راوړی او عمل یې کړی وي نیک نو دوی ته به پوره ورکړي

اُجُوْرَهُمْ وَيَزِيْدُهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ۚ وَاَمَّا الَّذِيْنَ اسْتَنْكَفُوْا

د دوی ثواب ، او زیات به ورکړي دخپل فضل څخه ، او چا چې شرم وکې

وَاسْتَكْبَرُوْا فَيُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ڏ وَّلَا يَجِدُوْنَ لَهُمْ

او تکبر یې وکې نو دوی ته به عذاب ورکړي عذاب دردناک ، او بیا به نه کې پیدا دخپل خان دپاره

مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿١٧٣﴾

دالله څخه ماسوا څوک حمایتي او نه مدد ګار.

تفسیر: (نصارا خامخا حضرت مسیح ؑ خدای یا جزء دخدای بولي ، په خپله دحضرت) مسیح (ؑ) دا حال دی چې دمخکې داوسیدو په حالت کې خودهغه اقرار دبندګۍ چې باطلوونکی دالُوهیّت دی مشهور او تولوته معلوم دی، لیکن اوس هم چې په آسمان کې اوسي چې دمخکې داوسیدو څخه ډیر لوړ مقام دی یاتر قیامته پورې چې هغه په کوم حالت کې وي دده څخه دې څوک پوښتنه وکړي او ودې ګوري په دغه حالت کې هم) هیڅکله به دخدای دبنده جوړیدو څخه شرم (او انکار) ونه کړي او نه به مقربې ملائکې (هیڅکله شرم وکړي چې په دوی کې حضرت جبرائیل ؑ هم دی کوم چې یې دوی دخدای یو جزء مني په خپله دده څخه دې څوک پوښتنه وکړي، ودې ګوري) او (دوی به شرم څنګه وکړي ددې شرم کولو خودومره بدانجام دی چې) کوم سړي چې دالله ﷻ دبندګۍ څخه شرم وکړي او تکبر وکړي نو (انجام یې داوړي) خدای ﷻ به خامخا ټول خلګ خپل خان ته (یعنې دحساب موقعې ته) جمع کړي بیا کومو خلګو چې (په دنیاکې) ایمان راوړی وي او د دوی ښه کارکړي وي (یعنې بندګان اوسیدلي وي څکه چې

Maktaba Tul Ishaat.com

حاصل دبندگی هم ایمان اونیك عملونه دی) نو دوی ته به د دوی پوره ثواب (هم) ورکړو (چې دایمان اونیکو عملونو بدله ده) او (پردی سربیره) دوی ته به دخپل فضل څخه نور زیات (هم) ورکړی (چې دهغه تفصیل کومه اندازه نه ده مقرره) اوکومو خلکوچې (دبنده جوړیدو څخه) شرم کړی وی اوتکبری کړی وی دوی ته به سخته دردناکه سزاورکړی اودغه خلګ به دالله ﷻ څخه بغیر بل څوك خپل دوست اوکومکی پیدانه کړی.

معلومات اومسئلي

(دالله ﷻ بنده کیدل داعلیٰ درجي شرافت او عزت دی)

لَنْ يَّسْتَنْكِفَ الْمَسِيْحُ اَنْ يَّكُوْنَ عَبْدًا لِّلّٰهِ الخ یعنی حضرت مسیح ؈ لره دالله ﷻ په بنده کیدوکی څه شرم نسته اونه دالله مقربو ملائکوته شرم دی ، ځکه چې دالله ﷻ بنده کیدل اودهغه عبادت کول اودهغه حکمونو پرځای کول خوداعلی درجی شرافت اوعزّت دی، دحضرت مسیح . اومقربو ملایکو څخه ددی نعمت دقدر اوقیمت پوښتنه وکړئ، دوی ته په دی سره څنګه شرم اوعار راتلی سی، البته ذلت اوعبرت خودالله ﷻ څخه ماسوادبل په بندگی کی دی لکه نصاراوو چې حضرت مسیح ؈ دالله ﷻ زوی اومعبود ومنی اومشرکینو ملائکی ؊ دالله ﷻ لوڼی ومنلی ، د دوی اود بتانو عبادت یی شروع کی ، نو دوی ته همیشه عذاب اوذلت دی ، (فوآئد عثمانی)

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمْ بُرْهَانٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَاَنْزَلْنَآ اِلَيْكُمْ نُوْرًا مُّبِيْنًا ﴿۱۷۴﴾ فَاَمَّا الَّذِيْنَ

ای خلقو! تاسی ته ورسیدی ستاسی درب دطرف څخه دلیل اونازله کړه مونږ په تاسی رڼا ښکاره ، نوکومو خلقو

اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَاعْتَصَمُوْا بِهٖ فَسَيُدْخِلُهُمْ فِيْ رَحْمَةٍ مِّنْهُ

چې ایمان راوړی پرالله ﷻ اودی یی محکمه ونیوی نودا خل به کړی دوی په خپل رحمت کی اوپه

وَفَضْلٍ ۙ وَّيَهْدِيْهِمْ اِلَيْهِ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴿۱۷۵﴾ؕ

فضل کی او وبه رسوی دوی دخپل طرف څخه سیده لاری ته .

لنډتفسیر: ای (ټولو) خلګو! یقینًا تاسی ته ستاسی دپروردګار دطرف څخه یو (کافي) دلیل راغلی دی (هغه ذات مبارك، دی دنبی کریم ﷺ) اومونږ تاسی ته یوصفا نور رالیږلی دی (هغه قرآن مجید دی، نود نبی کریم ﷺ اود قرآن په ذریعه چې تاسی ته څه ښوول کیږی داټول حق دی چې داذکر سوی مضمونونه هم په کی داخل دی) نوکوم خلګ چې په الله ﷻ ایمان راوړی (چې ددی سره دتوحید اوپاکی عقیده لازمه ده) او دوی (د) الله (دین یعنی اسلام) محکمه ونیوی (چې ددی دپاره درسول اودقرآن تصدیق لازم دی) نوداسی خلګ به الله ﷻ په خپل رحمت کی (یعنی جنّت کی) داخل کړی اوپه خپل فضل کی (به یی واخلی یعنی دجنت په داخلیدوسربیره به ورته نورنعمتونه هم ډیرلوی لوی ورکړی چې د الله ﷻ دیدارهم په کی داخل

Maktaba Tul Ishaat.com

دي) اوخپل طرف ته به (درسيدو) دوی ته سيده لاروښيي (يعني په دنياکې به يې په لاري درضاباندې ثابت قدم اوقائم ولري اوپه دې سره دېي ايمانه اوبې عمله حالت معلوم سوچې دوی ته به داڤاندې ونه رسيږي)
معلومات اومسئلې: دبُرهان څخه څهٔ مراد دي ؟ دا قول دالله ﷻ ، قَدْ جَآءَكُمْ بُرْهَانٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ دبُرهان لفظي معنی دليل دی ددې څخه مراد دنبي کريم ﷺ پاك ذات دی (روح) حضرت ابن عباس ﷺ فرمايي چې دنبي کريم ﷺ دپاك ذات څخه يې په لفظ دبرهان سره ځکه تعبير وفرمايي چې دده ذات مبارك اودده کريمانه اخلاق اودده معجزې اوپه ده دکتاب نازليدل داټول شيان دده دنبوت اودده ﷺ درسالت ښکاره دليلونه دي چې ددې په ليدو سره بل دليل ته حاجت نه پاته کيږي نو داسي ګڼل په کار دي چې دده ﷺ ذات په خپله يو مجسّم (جسم لرونکي) دليل دی .
اودنور څخه مراد قرآن مجيد دی (روح) لکه چې دسورةِ مآئدة ددې آيت څخه هم معلوميږي ، قَدْجَآءَكُمْ مِّنَ اللهِ نُوْرٌ وَّكِتٰبٌ مُّبِيْنٌ يعني تاسي ته دالله ﷻ دطرفه څخه يو روښانه شي راغلی دی اوهغه يوکتاب واضح يعني قرآن دی (بيان القرآن) په دې آيت کې چې څه ته نور ويل سوي دي مخ ته يې ده ته کتاب مبين ويلی دی، دلته دې داشُبهه نه کول کيږي چې عطف خوتغاير غواړي نوپه دې وجه نور اوکتاب يوشي نسي کيدای، ځکه چې تغاير دعنوان کافي دی که څه هم چې مصداق او معنون يودی (روح)
اوکه دنورڅخه مراددنبي کريم ﷺ ذات مبارك وي اودکتاب څخه مرادقرآنه کريم وي نوداهم صحيح ده (روح) ليکن ددې څخه دنبي کريم ﷺ دذات مبارك داسي نور محضي والې نه ثابتيږي چې دبشريت اوجسمانيت سره منافي وي

يَسْتَفْتُوْنَكَ ؕ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ فِي الْكَلٰلَةِ ؕ اِنِ امْرُؤٌا هَلَكَ لَيْسَ لَهٗ وَلَدٌ

دحکم پوښتنه کوي ستاڅخه نو ووايه چې الله حکم ښيي تاسي ته دکلاله که سړی مړ سو اودده زوی نه وو

وَّلَهٗۤ اُخْتٌ فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ ۚ وَهُوَ يَرِثُهَاۤ اِنْ لَّمْ يَكُنْ

اودده يوه خور وه نو دې ته به رسيږي نيمه دهغه چې مړی پرې ايښې وي ، اودغه ورور وارث وي ددې خور

لَّهَا وَلَدٌ ؕ فَاِنْ كَانَتَا اثْنَتَيْنِ فَلَهُمَا الثُّلُثٰنِ مِمَّا تَرَكَ ؕ وَاِنْ

که نه وي ددې زوی ، بيا که دوې خوندې وي نو دوی ته به رسيږي دوه ثلثه (٢/٣) دهغه مال څخه چې مړی پريږدي

كَانُوْۤا اِخْوَةً رِّجَالًا وَّنِسَآءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ ؕ

اوکه خوتنه وي په دې قرابت کې سړي اوښځې وي ، نو ديو سړي برخه د دوی ښځو برابره ده

يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اَنْ تَضِلُّوْا ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۱۷۶﴾

بيان کوي الله ﷻ ستاسي دپاره چې تاسي ګمراه نه سی او الله ﷻ په هر څه باندې پوه دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

دآيتونوتړون: دسورة دشروع څخه لږ وروسته دميراث حکمونه ذکر وه بيا تقريباً يوه پاره وروسته دنورو احکامو سره دميراث حکم ته بيابيرته راګرځيدل سوی وه اوس دسورة پر ختميدو باندی بيا ميراث ته واپسی ده، شايد چی په درو ځايو کی ځکه داجلا جلا سول چی تراسلام مخکی دميراث په باب کی ډير ظلم وو، نو دسورة په اول کی په مينځ کی اوپه آخر کی ددی په ذکر کولو کی حکمت دا دی چی اوريدونکی ته ددی لوی اهتمام معلوم سی او دوی ددی زيات اهتمام کوی .

لنډتفسير: خلګ ستاڅخه (دکلاله دميراث په باره کی دچاچی نه اولادوی اونه مور اوپلار وی) حکم معلوموی ته (په جواب کی) وفرمايه چی الله ﷻ تاسی ته دکلاله په باره کی حکم کوی (هغه دا دی چی که يو سړی مړ سی چی اولادبی نه وی (يعنی نه مذکر نه مؤنث اونه يی مور اوپلار وی) او دده يوه (عينی ياعلاتی) خور وی نو دی (خور) ته به دده ددی ټولی ترکی نيمه حصه رسيږی (يعنی وروسته ترتيرو سور حقونو اوپاته نيمه به که نور عصبه وه نو هغوی لره دی ورکړه سی اوکه نه وه نو هغه به هم بيادی ته بيرته ورکړی) اودغه سړی به (ددی خپلی خور) وارث (دټولی ترکی) وی که (دغه خورمړه سی او) ددی اولاد نه وی (اومور اوپلاربی هم نه وی) اوکه (داسی) خويندی دوی وی (يازياتی) نودوی ته به دټولی ترکی څخه دوی ثلثی رسيږی (اويوه ثلثه به دعصبوو اوکه عصبه نه وی نودوی ته به بيرته ورکول کيږی) اوکه (داسی مړی وی چی نه يی اولادوی اونه مور اوپلار برابره خبره ده که دغه مړی مذکر وی اوکه مؤنث وارثان خو (يعنی تريوه زيات داسی) وروڼه خوندی وی سړی اوښځی نو (ترکه به داسی تقسيميږی چی يو سړی به د دوو ښځو دحصی برابر (يعنی ورورته دوه چنده خور ته يو چند ، ليکن په عينی خور سره علاتی وروڼه خويندی ټول ساقطيږی اوپه عينی خورسره کله دوی ساقط اوکله يی حصه کميږی، ددی تفصيل دميراث په کتابونوکی دی) الله ﷻ تاسی ته (ددين خبری) ځکه بيانوی چی تاسی (په ناپوهی سره) په ګمراهی کی ونه لويږی (داخو يادګيرنه اواحسان دی) اوالله ﷻ هرشی ښه پيژنی (نود احکامو په مصلحتونو باندی هم خبردی اوپه احکاموکی ددی رعايت کول کيږی، دا دحکمت بيان دی)

معلومات اومسئلي ، ضروری فائدی ، (۱) دالله ﷻ دا قول چی ، يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ دلته دکلاله دحکم او دده دسبب دنزول دبيانولوڅخه خو خبری معلومی سوی اوله دا چی لکه څنګه چی اول يی ، وَإِن تَكْفُرُوا فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ : وفرمايل تردی وروسته يی په طريقه دمثال داهلِ کتابو حال ذکرکړی وو ، دغه ډول يی دارشاد ، فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَاعْتَصَمُوا بِهِ الخ څخه وروسته يی درسول الله ﷺ داصحابو حال په ډول دمثال سره ذکر کی ، ددی دپاره چی دوحی څخه دمخ اړوونکو ګمراهی اوبدی او دوحی دتابعداری کوونکو حقوالی اوښه والی په ښه ډول سره ښکاره سی .

(۲)ددی ترمخه دوهمه خبره دا ښکاره سوه چی اهلِ کتابو خو دا غضب وکی چی دالله ﷻ دپاک ذات سره يی شريک او داولاد په شان نامناسبه کار خپل ايمان جوړ کی او دالله ﷻ دوحی څخه يی مخالفت وکی اودرسول الله ﷺ داصحابو داحالت دی چی دايمان او عباداتو أصول خو پريږده په جزئی معاملو اومعمولی مسئلو دميراث په اړوند او دنکاح او نورو کی هم دوحی په لټون اوانتظارکی وی اوپه هر کار کی دنبی کريم ﷺ طرف ته ګوری، خپل

Maktaba Tul Ishaat.com

عقل او خواهش حاکم نه ګني که په یوه واریې تسلي ونه سي نو بیا په خدمت کې حاضریږي او پوښتنه کوي.

ببین تفاوت ره از کجا ست تا به کجا

وګوره چې د داوړو ډلو په مابینځ کې څومره تفاوت او فرق دی.

او دا هم معلومه سوه چې حضرت خاتم المرسلین ﷺ به بې له حکمه څخه دوحې دخپل طرف څخه حکم نه فرمایی، که په کوم کارکې به دوحې حکم موجودنه وو، نو په حکم فرمایلوکې به یې دوحې تر راتلو پورې انتظار کوی کله چې به وحې راغله نو هلته به یې حکم کوی، دغه ډول اشاره ده دې طرف ته چې په یوه وار په ټول کتاب نازلیدوکې لکه چې اهلِ کتابو درخواست کوی، هغه فآئده به نه وای کومه چې په وخت کې دحاجت او دموقع موافق په جلاجلا نازلیدوکې وه، ځکه چې هرځوك دخپل ضرورت مطابق په دې صورت کې سوال کولی سی او په ذریعه دوحې ورته جواب رسیږي لکه چې په دې موقع او دقرآن شریف په ډیرو موقعوکې موجوده ده، او داصورت که یوه طرف ته زیات فآئده مند دی نوبل طرف ته په کښې دخداوندقدس ﷺ دیادولو او دخطاب کولو دعزت یوداسې لوی فخر موجود دی چې دبل هیڅ یوه اُمت نه دی نصیب سوی وَاللّٰهُ ذُوالْفَضْلِ الْعَظِيْمِ دکوم صحابي دفآئدې یادده دسوال په جواب کې چې کوم آیت نازل سوی دی هغه دهغه په مناقبوکې شمیرل کیږي او داختلاف په ځای کې چې دچا درایې یادچا دقول موافقه وحې نازله سوې ده ترقیامته پورې ورسره دهغه نیك نوم باقي پاته دی، نو دکلاله په اړوند یې دسوال اوجواب ذکر وکې، دغه ډول دعامو سوالونو او جوابونو طرف ته یې اشاره وفرمایله (فوآئد عثماني)

تَمَّتْ .. سُوْرَةُ النِّسَآءِ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ اَوَّلُهٗ وَاٰخِرُهٗ

﴿سورة المائدة﴾

سُوْرَةُ الْمَآئِدَةِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّسِتَّةَ عَشَرَ رُكُوْعًا

دا سورة مدني دی په دې کې یوسل اوشل (۱۲۰) ایتونه او شپاړس (۱۶) رکوع ګاني دي.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ ؕ اُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيْمَةُ

ای ایماندارو! پوره کوئ وعدې حلال سوي دي تاسي لره چارپایان

الْاَنْعَامِ اِلَّا مَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَاَنْتُمْ حُرُمٌ ؕ

حیوانان ماسوا دهغه څخه چې تاسی ته مخکې اوروَل کیږي مګر حلال مه ګڼئ ښکار د احرام په حالت کې

اِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيْدُ ①

الله حکم کوی څه چې غواړي.

(دسورة شانِ نزول او دمضامينو لنډيز)

دا دسورة مآئدة اولنى آيت دى، سورة مآئدة په اتفاق سره مدنى سورة دى، اوپه مدنى سورتونوکى هم آخرى سورة دى، تردى چې ځينو حضراتودى ته دقرآن آخرى سورة ويلى دى، په مسند احمد کى په روايت دحضرت عبدالله بن عمرؓ او اسمآء بنت يزيد ؓ نقل دى چې سورة مآئده په نبى کريم ﷺ په داسى وخت کى نازل سوکله چې دى په سفرکى په عضبًا نامى اوښى باندى سپور وو، دوحى دنزول په وخت کى چې کم غيرعادى درونډوالى اوباربه وو، دقاعدى موافق دغه وخت هم وو، تردى چې اوښه عاجزه سوه، نودى ﷺ ورځخه راکښته سو، دا سفر په ظاهرکى دحجة الوداع سفردى، لکه چې ځينى روايتونه ددى تاييد کوى، حجة الوداع دهجرت په نهم کال سوى وو اوددى ځخه دواپس کيدو وروسته دنبى کريم ﷺ دنيوى ژوند تقريبًا اتيا ٨٠ ورځى وو، ابن حبان په بحرِمحيط کى فرمايى چې دسورةِ مآئدة ځينى اجزآء دحديبيى په سفرکى اوځينى دفتح مکى په سفرکى اوځينى دحجة الوداع په سفرکى نازل سوى دى، ددى ځخه معلومه سوه چې دا سورة دقرآن دنزول په آخرى مرحلوکى نازل سوى دى، که څه هم بالکل آخرى سورة نه وى.

په روح المعانى کى په حواله دابوعبيده حضرت حمزه بن حبيب اوعطيه بن قيس دا روايت درسول کريم ﷺ ځخه نقل دى، اَلْمَآئِدَةُ مِنْ آخِرِ الْقُرْآنِ تَنْزِيْلاً فَاَحِلُّوْا حَلاَلَهَا وَحَرِّمُوْا حَرَامَهَا يعنى سورةِ مآئده دهغو شيانوځخه دى چې دقرآن دنزول په آخرى دورکى نازل سوى دى په دى کى چې کوم شيان حلال سوى دى، هغه د هميشه دپاره حلال اوکوم شيان چې حرام سوى دى، هغه د هميشه دپاره حرام ګڼى، ددى قسم يو روايت ابن کثير دمستدرك حاکم په حواله سره دحضرت جبيربن نفيرؓ ځخه نقل کړى دى چې دى ترحج وروسته دحضرت عآئشى صديقى ؓ خواته حاضر سو، نو دى وفرمايل جبيره! تاسى سورةِ مآئدة واياست؟ ده عرض وکى چې هو! وايم يى، حضرت صديقى ؓ وفرمايل چې دا دقرآن پاك آخرى سورة دى، په دى کى چې کوم احکام دحلالو اوحرامو راغلى دى، هغه محکم دى په دى کى دنسخ احتمال نسته، ددى خاص اهتمام کوى، په سورةِ مآئدة کى هم دسورةِ نسآء په شان سره فروعى احکام، معاملات، معاهدات اونور زيات بيان کړل سوى دى، په دى وجه روح المعانى ليکى چې سورةِ بقرة او سورةِ آلِ عمران په اعتبار دمضمونونو سره يودى، ځکه چې په دى کى زيات احکام دعقيدو داصولو، توحيد، رسالت قيامت اونورو راغلى دى، فروعى احکام په کښى ضمنى دى او سورةِ نسآء اومآئدة په اعتبار دمضمونونوسره يودى، په دى دواړوکى فروعى احکام بيان سوى دى، دأصولى احکامو بيان ضمنى دى، په سورةِ نسآء کى پرباهمى معاملو اوحقوق العباد باندى زور ورکړل سوى دى، دخاوند اوښځى حقونه، دمور اوپلار اونورو قريبانو حقونه په تفصيل سره بيان سوى دى، دسورةِ مآئدة په اول آيت کى هم ددى ټولو معاملو او معاهدو دپابندى اوددوى دپوره کولو هدايت راغلى دى، يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا اَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ په دى وجه ددى سورةِ مآئدة دوهم نوم (سورةِ عقود) هم دى (بحرمحيط)

دمعاهدو اومعاملو په باره کى دا سورة اوپه تيره تيره بيا ددى دا اولنى آيت يو خاص حيثيت لرى، په دى

Maktaba Tul Ishaat.com

وجه نبي كريم ﷺ چې كله عمروبن حزم ؓ ديمن عامل (والي) جوړ كې او وې لیږی اویو فرمان یې ورته حواله كې نو ددې فرمان په سرنامه یې دا آیت ولیکی .

تفسير: ای مؤمنانو! (ستاسی دایمان مقتضٰی دا ده چې) خپلی معاهدې (کومې چې دایمان په وجه تاسی دخدای ﷻ سره کړی دی) پوره کړئ (يعنې شرعي حکمونه په ځای کوی ځکه چې په ایمان راوړلو سره داټول لازم سول اودلازمیدو مقتضٰی پوره کول دی) ستاسی دپاره ټول چارپایان کم چې مشابه د (دې) حيوانانو (يعني اوښ، بزې، غوا) وي (دکوموحلالوالي چې تردې مخکې په سورة انعام کې چې مکّې دې معلوم سوی دی نوددوی په شان چې څومره حيوانان دي ټول) حلال کړه سوی دی (لکه هوسی، صحرایی غويي اونور چې داوښ، بزې اوغوا مشابه دي په دې خبره کې چې درندگان اوښکاریان نه دی، بغير دهغو حيوانانو څخه چې په نورو شرعي دليلونو حديث اونورو سره مخصوص اومستثنٰی سوی دی لکه خر، غاطر اونور ددې مستثنٰی سوو څخه ماسوا ټول حيوانان کورني اووحشي حلال دي) مگر دکومو ذکر چې مخ ته (په آيت حُرِّمَتۡ عَلَيۡكُمُ الۡمَيۡتَةُ الخ کې) راځي (چې هغه سره ددې چې په بَهِيمَةُ الۡاَنۡعَامِ کې داخل دي اودحديثو دخاصو سوو څخه هم خارج دي خوددې سره بياهم حرام دي اوپاته تاسی لره حلال دي) ليکن (په دې کې چې کوم) ښکار (دی هغه) حلال مه گڼی په کوم حالت کې چې تاسی په احرام (یاحرم) کې یاست (مثلاً دحج اوعمری احرام موتړلی وي، ترحرم دباندې وي یاپه حرم کې دننه چې غالباً ښکارهم په حرم کې دننه وي ځکه چې اصلي مدار دښکار دحکم په حرم کې دننه والي دی که څه هم چې احرام یې نه وي تړلی، په دواړو حالتونوکې ښکاره یعنې برّی اووحشي حرام دی) بیشکه الله ﷻ څه چې غواړي حکم کوي (يعني هغه فآئده وي، نوکوم حيوان چې یې غوښته دهمیشه دپاره یې في نفسه بغير دحالت داضطرار څخه حرام کړی اوکوم چې یې غوښته دهمیشه دپاره حلال کړل کوم چې یې غوښته په يوه خاص حالت کې یې حرام کړه ، په تاسی ددې ټولو حالتونو رعایت واجب دی)

معلومات اومسئلې: ددې سورة داولنی آیت اولنی جمله یوه داسی جامعه جمله ده چې ددې په تفسیراو تشریح کې په زرگونو صفحې لیکل کیدی سی اولیکل سوی دی، ارشاد دی ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ يعني ای مؤمنانو! خپلې معاهدې پوره کوی په دې کې یې اول په يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا سره خطاب وکی ، دمضمون داهمیت طرف ته یې توجّه راوگرځوله چې په دې کې کوم حکم دی ، دا عین دایمان تقاضاده ، تردې وروسته یې حکم وفرمایی ، أَوْفُوا بِالْعُقُودِ لفظ دعقود دعقد جمع ده چې لفظي معنی یې تړل دي اوکمه معاهده چې ددوو تنو یادوو ډلوپه مینځ کې وتړل سی دی ته هم عقدویل کیږي په دې وجه په معنی دوعد اوعهود باندې سو .

د تفسير امام ابن جرير ؒ دمفسرينو صحابه وو اوتابعينو په دې باندې اجماع نقل کړی ده ، امام جصاص ؒ فرمایی چې عقدوویل سی یاعهد اومعاهده ددې اطلاق په یو داسی معامله باندې کیږي په کومه کې چې دوو ډلو په راتلونکی زمانه کې دیوه کار دکولو یاپرینښولو پابندي په یوه اوبل باندې اچولی وي اودواړه په اتفاق سره ددې پابند سوي وي، زمونږ په اصطلاح کې ددې نوم معاهده ده، په دې

Maktaba Tul Ishaat.com

وجه ددی جملی خلاصه داسوه چی دیوبل سره دمعاهدو اووعدو پوره کول لازمی اوضروری وګنی اوس دی ته کتل دی چی ددی معاهدو څخه څنګه معاهدی مراددی په دی کی دتفسیر لیکونکو حضراتو وینا ګانی په ظاهره مختلفی ښکاری ، چاویلی دی چی ددی څخه مراد هغه معاهدی دی کومی چی الله ﷻ دخپلو بندګانو څخه دایمان او فرمانبرداری په اړوند اخیستی دی یاهغه معاهدی کومی چی الله ﷻ دخپلو نازلو کړو احکامو دحلالو او حرامو په اړوند دخپلو بندګانو څخه اخیستی دی، دحضرت عبدالله ابن عباس ؓ څخه دانقل دی اوځینی فرمایی چی دمعاهدو څخه دلته هغه معاهدی مراد دی کومی چی خلګ په خپل مینځ کی دیوه اوبل سره کوی، لکه معاهده دنکاح، معاهده داخیستلو خرڅولو اونورو.
په مفسرینوکی ابن زید اوزیدبن اسلم دی طرف ته تللی دی اوځینی فرمایی چی دمعاهدو څخه هغه قسمونه او معاهدی مراد دی کومی چی دجاهلیّت په زمانه کی دیوه اوبل دکومك دپاره اخیستل کیدی مجاهد ، ربیع، قتادة اونور مفسرین رحمهم الله هم دافرمایی ، لیکن صحیح خبره داده چی په دوی کی هیڅ تضاد یااختلاف نسته، بلکه داټول قسم معاهدی په لفظ دعقودکی داخلی دی، اود ټولو دپوره کولو دپاره قرآن حکیم ښوونه کړی ده .
په دی وجه امام راغب اصفهانی فرمایی چی دمعاهدو څومره قسمونه دی ټول ددی لفظ په حکم کی داخل دی ، اوبیا فرمایی چی ددی معاهدو ابتدایی دری قسمونه دی ، یوه هغه معاهده ده چی دانسان دربّ العالمین سره ده ، مثلاً دایمان اوطاعت عهدیا دحلالو او حرامو دپابندی عهد، دوهمه هغه معاهده ده چی دیوه انسان دخپل نفس سره ده، لکه دیوشی نذر پرځان منل یا قسم وکړی یوشی پرځان لازم کړی، دریمه هغه معاهده ده چی دیوه انسان سره ده اوپه دی دریم قسم کی هغه ټولی معاهدی شاملی دی کمی چی ددوو سړیانو یادوو ډلو یادوو حکومتونو په مینځ کی وی .
دحکومتونو نړیوالی معاهدی یادیوه اوبل سره معاهدی ، دډلوپه مینځ کی معاهدی او قولونه اوددوو انسانانوپه مینځ کی هرقسم معاملی، نکاح، تجارت، شرکت، اجاره، هبّه اونور داټولی معاهدی چی په جائزو شرطونوسره په مینځ کی مقررسی، ددی آیت په وجه سره ددوی پابندی په هرطرف باندی لازم اوواجب ده او دا جائز قیدیی په کښی ځکه ولګوی ، چی دشریعت څخه خلاف شرط لګول یایی قبلول هیڅ چاته جائز نه دی .
تردی وروسته دآیت په دوهمه جمله کی ددی عامی ضابطی دخاصو جزونو ذکر یی کړی دی، ارشاددی أُحِلَّتْ لَكُم بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ لفظ د (بهیمه) هغه حیوان ته ویل کیږی کم چی عادةً بی عقله (غیرذی العقل) ګڼل کیږی ځکه چی خلګ عادةً ددوی په خبرو نه پوهیږی، نومرادیی مُبهم اوپټ وی اوامام شعرانی فرمایی چی بهیمه ته بهیمه په دی وجه نه وایی چی ددوی عقل نسته او دعقل خبری پردوی مبهمی وی، لکه دخلګوعام نظرچی دی. بلکه حقیقت دادی چی دعقل اوادراك څخه یوحیوان نه بلکه کانی اوبوټی هم خالی نه دی، البته ددرجو فرق ضرور سته. په دی شیانوکی دومره عقل نسته لکه څومره چی په انسان کی دی نو په دی وجه یی انسان داحکامومکلف کړی دی اوحیوان یی نه دی مکلّف کړی، کنی

Maktaba Tul Ishaat.com

دخپل ژوند دضرورتونو تراندازې پورې هرحیوان بلکه هرکاڼی اوبوټی ته خدای پاك ﷻ عقل اوادراك ورکړی دی ، هم دا وجه ده چې هرشی دالله ﷻ تسبیح وایی . وَاِنْ مِّنْ شَیْءٍ اِلَّا یُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ چې عقل یی نه وای نو خپل خالق اومالك به یی څنګه پیژندلای اوڅنګه به یی تسبیح ویلای .

دامام شعرانی دفرمایلو خلاصه دا سوه چې بهیمه ته بهیمه په دی وجه نه وایی چې دده دبی عقلی په وجه معلومات په ده باندی مُبهم وی ، بلکه په دی وجه چې دده په خبرو خلک نه پوهیږی، دده خبری په خلګو باندی مبهمی وی ، په هرحال لفظ دبهیمه دهر روح لرونکی دپاره استعمالیږی اوځینی حضرات فرمایی چې دچارپایه حیوانانو دپاره دالفظ استعمالیږی، اودانعام لفظ دنعم جمع ده، ساتل سوو حیوانانولکه اوښ، غوا، ګامیښه، بزه اونورچې اته قسمونه یی په سورة انعام کی بیان سوی دی دوی ته انعام ویل کیږی، دبهیمة لفظ عام وو، دانعام لفظ دی خاص کی، دآیت مراد داسو چې دکورونو دحیوانانو اته قسمونه ستاسی دپاره حلال سوی دی

په لفظ دعقود کی اوس تاسی وویل چې ټولی معاهدی په کښی داخلی دی په دی کی یوه معاهده هم هغه ده کومه چې الله ﷻ دخپلو بندګانو څخه دحلالو اوحرامو دپابندی په اړوند اخیستی ده ، په دی جمله کی ددی خاص معاهدی بیان راغلی دی چې الله ﷻ ستاسی دپاره اوښ، بزه، غوا، ګامیښه اونورحلال کړی دی، دوی دشریعت دقاعدی موافق ذبح کیږی او خوړل کیږی، دالله ﷻ داحکم په دی حدونوکی دننه ساتی اوپابندی یی کوی نه خو د مجوسیانو اوبُت پرستوپه شان سره مطلق ددی حیوانانو ذبح حرامه ګڼی چې دالله ﷻ په دی حکمت باندی اعتراض اودهغه دنعمتونو ناشکری ده ، اونه دنورو غوښو خوړونکو ډلوپه شان بی قیده سیَ چې هرډول حیوان حلال ګڼی اوخوری یی، بلکه دالله ﷻ د درکړل سوی قانون لاندی کوم حیوانان چې هغه حلال کړی دی، هغه خوری اوکوم چې یی حرام کړی دی دهغه څخه ځان ساتی، ځکه چې الله ﷻ خالق دکآئناتو دی ، هغه دهرحیوان په حقیقت اوخواصواوپه انسان کی دهغه څخه دپیدا کیدونکو اثراتو څخه خبردی ، هغه پاك اوسُتره شیان دانسان دپاره حلال کړی دی چې دهغه په خوړلوسره دانسان پرجسمانی صحت یا روحانی اخلاقو باندی بد تاثیر نهِ لویږی، اوګنده اوناپاکو حیوانانو څخه یی منع کړی ده، کوم چې دانسان دصحت دپاره هلاکوونکی دی یایی پر اخلاقو باندی خراب تاثیر کوونکی دی، په دی وجه ددی عام حکم څخه یی دیوڅو شیانو استثنآء وفرمایله .

اوله استثناٰء دا ده ، اِلَّا مَا یُتْلٰی عَلَیْکُمْ یعنی بغیر دهغه حیوان څخه چې حرمت یی په قرآن کی بیان سوی دی مثلاًمردارحیوان یاخنزیر اونور، دوهمه استثناٰء یی په ، غَیْرَ مُحِلِّی الصَّیْدِ وَاَنْتُمْ حُرُمٌ سره وفرمایله، مطلب یی دادی چې چارپایه حیوان ستاسی دپاره حلال دی اودځنګل ښکارهم حلال دی مګرکله چې تاسی دحج یا دعمری احرام تړلی وی نو دغه وخت ښکار کول جُرم اوګناه ده ددی څخه ځان ساتی دآیت په آخرکی یی ارشاد وفرمایی: اِنَّ اللّٰهَ یَحْکُمُ مَا یُرِیْدُ یعنی الله ﷻ چې څه وغواړی حکم کوی دهیچاداحق نسته چې دهغه په وړاندی بهانی وکړی په دی کی شاید ددی حکمت وطرف ته اشاره ده چې دانسان دپاره دځینو حیوانانو دذبح کولو اوخوړلو اجازت څه ظلم نه دی ، کوم مالك چې دا ټول روحونه جوړکړی دی ، هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

په پوره حکمت اوپوهې سره داقانون هم جوړکړی دی چې ادنی یې داعلی دپاره خوراك جوړکړی دی،
دمځکې خاوره ددرختو خوراك دی اودرختې دحیواناتو خوراك دی اوحیوان دانسان خوراك دی،
ترانسان اعلی هیڅ مخلوق په دې دنیاکې نشته ، په دې وجه انسان دچا خوراك نه سې جوړیدی .

يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحِلُّوْا شَعَآئِرَ اللّٰهِ وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَلَا الْهَدْيَ وَلَا الْقَلَآئِدَ وَلَآ اٰمِّيْنَ

ای ایماندارو ! حلال مه ګڼې دالله نښانی اونه دادب میاشتی اونه هغه حیوانان چې دکعبې دپاره هدیه سوي وي او نه هغه
چې په غاړه کې يې رسۍ اچول سوي وي ، او نه دحرمت ،

الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّهِمْ وَرِضْوَانًا ؕ وَاِذَا

والا کور طرف ته کوم چې لټوی فضل دخپل رب اودهغه خوشحالی ، او کله چې داحرام

حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوْا ؕ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ اَنْ صَدُّوْكُمْ

څخه ووزی نوښکار کوی اوباعث دی نه سی په تاسی دهغه قوم دښمنی کوم چې تاسې یې

عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اَنْ تَعْتَدُوْا ۘ وَتَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَ

منع کولاست دحرمت والامسجد څخه په دې باندې چې زیاتی وکړی او په خپل مینځ کې مددکوی په نیك

التَّقْوٰى ۪ وَلَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ۪ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ

کاراوپرهیزګاری باندی ، اومدد مه کوی په ګناه او په ظلم باندی او بیریږی دالله څخه

اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۲﴾

بیشکه دالله عذاب سخت دی .

دآیتونو تړون: دسورۀ مآئدة په اول آیت کی دمعاهدو دپوره کولو تاکیدوو په دې معاهدوکی یو معاهده
دا هم ده چې دالله ﷻ دمقررکړو حلالو اوحرامو پابنداوسئ ، په دې دوهم آیت کی ددې معاهدې د دوو
مهمو دفعو بیان دی ، یو دشعآئر الله (دالله ﷻ دنښانو) تعظیم او د دوی دبې ادبی څخه دخلاصیدو
هدایت، دوهم دخپل اوپردی دوست اودښمن ټولو سره دعدل او انصاف معامله اودظلم بدله په ظلم سره
دبدلې اخیستلو ممانعت .

ددې آیت دنزول سبب څو واقعات دی، اوله داواوری چې دآیت مضمون په ښه ډول سره زړه ته ولویږی ،
یوه واقعه دحدیبیې ده چې تفصیل یې قرآن حکیم په بل ځای کې بیان کړی دی ، هغه دا چې دهجرت په
شپږم کال نبی کریم ﷺ اوصحابه کرامو اراده وکړه، چې عُمره وکړی .

نبی کریم ﷺ دیو زر ۱۰۰۰ صحابه کرامو ؓ سره دعمری احرام وتړی اومکی مکرمی ته روان سوچی مکی ته نژدی دحدیبیی مقام ته ورسیدل نومکی والاووته یی خبرورکی چی مونږدځه جنګ دپاره نه، بلکه دعمری کولودپاره راځو، مونږ ته اجازت راکی ، دمکی مشرکانو اجازت ورنه کی اوپه ډیرو سختو اوګرانو شرآئطوسره یی داسی معاهده وکړه چی دا وخت به ټول خپل احرامونه خلاص کړی اوواپس سی په راتلونکی کال به عمری ته داسی راسئ چی وسله به درسره نه وی یوازی به دری ورځی دلته پاته کیږی اوعمره به کوی بیرته به ځئ ، او نور هم داسی ډیر شرطونه وه چی دهغومنل په ظاهره دمسلمانانو دوقار اوعزت ځخه خلاف وه، د نبی کریم ﷺ په حکم باندی ټول مطمئن سول اوبیرته ولاړل، بیاپه سنه۷هـ کی دوباره ددغه شرطونو دپابندی سره یی دغه قضا عمره ادا کړه، پرهرحال دحدیبیی واقعی اودی ناخوښه شرطونودصحابه کرامو ؓ په زړونوکی دمکی دمشرکانودطرف ځخه ډیردنفرت اوبغض ګړونده کرلی وه دوهمه واقعه داسی وسوه چی دمکی دمشرکانو ځخه حطیم بن هندخپل دتجارت مال مدینی ته راوړی اودمال ترخرڅولو وروسته یی خپل سامان اوسړی دمدینی ځخه دباندی پریښوول اوپه خپله دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضرسو، اود منافقانوپه شان سره یی خپله اراده داسلام راوړلو ظاهره کړه چی مسلمانان دده ځخه مطمئن سی، لیکن نبی کریم ﷺ دده تر راتلو مخکی دوحی په ذریعه خبر حاصل کړی وو، صحابه ووته یی وویل چی مونږ ته یو سړی راتلونکی دی چی دشیطان په ژبه سره به خبری وکړی اوکله چی دی بیرته ولاړی نو نبی کریم ﷺ وفرمایل چی دا سړی دکفرسره راغی او د دوکی اوغداری سره بیرته واپس ښو، داسړی چی دنبی کریم ﷺ دمجلس ځخه ووتی نودی سیده دمدینی ځخه دباندی هغه ځای ته ورسیدی، کوم ځای چی دمدینی والاوو حیوانان څریدل ، هغه یی وشړل اودځان سره یی روان کړل ، صحابه ووته ددی خبرلږ وروسته ورسیدی هغوی ورپسی ووتل خو دی د دوی دواك ځخه وتلی وو، بیاچی کله دهجرت په اووم کال دنبی کریم ﷺ سره صحابه کرام ؓ دحدیبیی دقضاعمری دپاره تلل نو دلیری ځخه یی دتلبیی اواز واوریدی اووی لیدل چی همدغه حطیم بن هند دمدینی دخلګو هغه حیوانان کم چی یی دمدینی والاوو ځخه راوستلی وه په ډول دقربانی دځان سره راروان کړی دی، عمری ته ځی، دغه وخت صحابه کرامو ؓ قصدوکی چی پرده حمله وکړی اوخپل حیوانان ورځخه واخلی اودی په دی ځای ختم کړی ، دریمه واقعه داوسوه چی دهجرت په اتم کال په رمضان المبارك کی مکه فتح سوه اوتقریبًا پرټول عرب اسلامی قبضه وسوه چی رسول کریم ﷺ دمکی مشرکان بغیر دځه بدل اخیستو ځخه آزادکړل، دوی به په آزادی سره خپل ټول کارونه کول، تردی چی په خپل جاهلانه طرز باندی به یی دحج اوعمری رواجونه هم اداکول، دغه وخت دځینو صحابه کرامو ؓ په زړونوکی دحدیبیی ذواقعی دبدل اخیستوخیال راغی چی دوی مونږپه جائزه اوحقه طریقه سره دعمری کولو ځخه بندکړی وو نومونږ ددوی ناجائزه اوپه غلطه طریقه باندی عمره اوحج ځنګه آزاد پریږدو، په دوی حمله کوو، حیوانان ورځخه اخلو او ختمو و یی.

داواقعات ابن جریر په روایت دعکرمه اوسدّی نقل کړی دی، دایوځو واقعات وه چی د دوی په بنآء دا

آیت نازل سوچی په دی کی مسلمانانوته داهدایت سوی دی چی دالله ﷻ دنښانو تعظیم ساتل ستاسی خپل فرض دی ، دیو دښمن دبغض او عداوت په وجه سره په دی کی دخلل غورځولو هیڅکله اجازه نسته. دحُرمت په میاشتو کی قتل او قتال هم جائزنه دی او کم مشرکان چی احرام وتړی اودخپل خیال مطابق دالله ﷻ دفضل او رضا حاصلولو په اراده سره روان وی (که څه هم چی په وجه دکفر د دوی داخیال باطل دی خو بیاهم) دالله ﷻ دنښانو دحفاظت او احترام تقاضادا ده چی د دوی سره دی جنجال نه کول کیږی ، دارنګه هغه خلګو چی تاسی یی دعمری څخه منع کړی واست د دوی څخه دبغض او عداوت دبدل اخیستو دپاره داسی کول نه دی جائز چی تاسی دوی منع کړئ ، څکه چی دا د دوی دظلم په بدله کی به زمونږ دطرفه څخه ظلم سی کوم چی په اسلام کی روانه دی . اوس د آیت پوره تفسیر وګوری

لنډتفسیر: ای مؤمنانو! بی حرمتی مه کوی دالله ﷻ د (دین د) نښانو (یعنی دکوموشیانو دادب دپاره چی الله ﷻ یوڅه احکام مقرر کړی دی، ددغه احکامو په خلاف کولوسره بی ادبی مه کوی مثلاً دحرم اواحرام یی دا ادب مقررکړی دی چی په دی کی ښکارمه کوئ نو ښکارکول په کښی بی ادبی اوحرام دی) اومه دحُرمت دمیاشتو (بی ادبی کوی چی په دی کی دکافرانو سره جنګ وکی) اومه په حرم کی دقربانی کیدونکو حیوانانو (بی ادبی کوی چی جنجال ورسره کوی) اومه دهغو حیوانانو (بی ادبی کوی) دچاپه غاړه کی چی (ددی نښانی دپاره) رسی پرتی وی (چی دادالله ﷻ دپاره قربانی ده په حرم کی به ذبح کیږی) اومه دهغو خلګو (بی حرمتی کوی) کوم چی دبیت الحرام (یعنی بیت الله) په نیت سره روان وی (او) دخپل رب دفضل اورضامندی طلب ګاروی (یعنی ددی شیانوپه ادب سره دکافرانوسره هم جنجال مه کوی) او (په لوړنی آیت کی چی یی داحرام په ادب سره ښکار حرام کړی دی دغه تراحرامه پوری دی کنی) کوم وخت چی تاسی داحرام څخه دباندی راووزی نو (اجازت دی چی) ښکارکوئ (په دی شرط سره چی دغه ښکارپه حرم کی نه وی) او (لورچی دکوموشیانو دلتولوڅخه منع سوی واست په دی کی) داسی دی ونه سی چی تاسی دیوه قوم سره په دی وجه بغض ساتی چی دوی (تاسی دحدیبیې په کال دتلو دمسجدحرام څخه منع کړی واست (دقریشو کفار ورڅخه مراددی) دغه (بغض) ستاسی دپاره ددی سبب جوړسی چی تاسی د (شریعت تر) حدووزی (یعنی دذکرسوو حکمونو خلاف وکړی داسی مه کوئ) او (په خبرود) نیکی اوتقوی کی دیوه اوبل سره کومک کوی (مثلاً دااحکام دی چی په دی کی نوروته هم دنیک عمل کولوترغیب ورکوئ) اودګناه او زیاتی (په خبروکی) دیوه اوبل سره کومک مه کوی (مثلاً دا احکام دی که څوك ددی خلاف کوی نوتاسی دهغه کومك کوی) اودالله ﷻ څخه وبیریږی (چی په دی سره دتولو احکامو پابندی آسانه کیږی) بیشکه الله ﷻ (دحکمونو مخالفت کوونکوته) سخته سزاورکوونکی دی

معلومات اومسئلي: دآیت په اوله جمله کی ارشاددی ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحِلُّوا شَعَائِرَ اللهِ یعنی ای مؤمنانو! دالله ﷻ دنښانو بی حرمتی مه کوی، په دی کی لفظ دشعآئرچی ترجمه یی په نښانوسره سوی ده ، دشعیره جمع ده چی معنی یی ده نښانه، په دی وجه شعآئر اوشعیره هغه محسوس شی ته ویل کیږی چی دیوشی علامه (نښانه) وی، شعآئرِ اسلام هغو عملونو او کارونوته ویل کیږی چی په اصطلاح کی

Maktaba Tul Ishaat.com

دمسلمانیدو نښانه ګڼل کیږی او محسوس او ښکاره وی، لکه لمونځ، اذان، حج، ختنه (سنتی) او دسنتو مطابق ږیره او نور، د شَعَآئِرَ اللّٰهِ تفسیر په دی آیت کی په مختلفو الفاظو سره نقل دی. لیکن صفاخبره هغه ده کمه چی په بحر محیط اوروح المعانی کی دحضرت حسن بصری رحمه الله او حضرت عطاء څخه نقل ده او امام جصاص رحمه الله دی ته دټولو قولونو جامع ویلی دی او هغه دادی چی دشعآئر الله څخه مراد ټول شریعتونه او ددین مقررکړی واجبات، فرآئض او د دوی حدود دی . په دی آیت کی د لَا تُحِلُّوْا شَعَآئِرَ اللّٰهِ دارشادهم دامطلب دی چی دالله ﷻ دشعآئرو بی حرمتی مه کوئ اودالله ﷻ دشعآئرو بی حرمتی یوخوداده چی دسره دا احکام پریښوول سی، دوهمه داده چی په دی باندی عمل خوکوی لیکن نیمګړی بی کوی پوره یی نه کوی، دریم داچی ترمقررو سوو حدونو تجاوز وکړی مخ ته تیرسی په لَا تُحِلُّوْا شَعَآئِرَ اللّٰهِ کی ددی دروسرو صورتونو څخه منع فرمایل سوی ده

داهدایت قرآن کریم په بل عنوان سره داسی ارشاد فرمایلی دی ، وَمَنْ يُّعَظِّمْ شَعَآئِرَ اللّٰهِ فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ یعنی کوم سړی چی دالله ﷻ دمحرماتو تعظیم کوی نو دا دزړونو دتقوی اثر دی ، دآیت په دوهمه جمله کی دشعآئر الله دیوه خاص قسم یعنی دحج دشعآئرو څه تفصیلات ښوول سوی دی .

فرمایی : وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَلَا الْهَدْيَ وَلَا الْقَلَآئِدَ وَلَا آٰمِّيْنَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّهِمْ وَرِضْوَانًا یعنی په میاشت درحرمت کی په قتل اوقتال کولو سره ددی بی حرمتی کوی، دحُرمت میاشتی څلوردی په دی کی جنګ کول شرعًا حرام وو ، ذی قعده، ذی الحجّه، محرم اورجب، وروسته داحکم دجمهورو علماوو په نزد منسوخ سو ، دارنګه دمکی په حرم کی قربانیدونکی حیوانان اوخاص هغه چی په غاړه کی یی ورته دقربانی دنښانی دپاره رسی اچولی وی ، د دوی بی حرمتی مه کوی ، ددی حیوانانو دبی حرمتی یو صورت خو دا دی چی دی حرم ته درسیدو څخه منع کړه سی یاوتښتول سی دوهم صورت یی دا دی چی د دوی څخه دقربانی پرته بل کار دسپرلی یادشیدو واخیستل سی، دی آیت دا ټول صورتونه ناجآئز مقرر کړل ، بیا فرمایی ، وَلَا آٰمِّيْنَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّهِمْ وَرِضْوَانًا یعنی دهغو خلګو بی حرمتی مه کوی چی دحج دپاره دمسجد الحرام قصدوکړی، دکوره ووزی اوددی سفر څخه دده مقصدداوی چی دخپل رب فضل اورضا حاصله کړی، ددی خلګو دبی حرمتی نه کولو مطلب دا دی چی په دی سفرکی د دوی سره جنجال ونه کړل سی او نه ورته کوم تکلیف ورسول سی

تردی وروسته ارشاد فرمایی ، وَاِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوْا یعنی په اولنی آیت کی چی داحرام په حالت کی دښکار کوم ممانعت سوی وو ، ددی حد وښوول سو چی کله تاسی داحرام څخه فارغ سی نو دښکار کولو ممانعت ختم سو ، اوس ښکارکولی سی .

په ذکر سوی آیت کی ددی معاهدی داجزء هم بیانیږی چی دهریوه انسان اورب العالمین په مینځ کی ده، ددی یوڅو جزونو بیان دلته سوی دی چی په دی کی اول مطلق دشعآئر الله دتعظیم اوددوی دبی حرمتی څخه دځان ساتلو ښوونه ده، اوبیا په خاص ډول سره ددغه شعآئر الله څه تفصیلات دی چی تعلق یی دحج سره دی، په دوی کی دحج په قصدسره دراتلونکو مسافرو اوددوی سره دراتلونکو دقربانی

Maktaba Tul Ishaat.com

دحيوانانو سره دكم قسم جنجال كولو څخه منع اوددوی دبی حرمتی كولو څخه دځان ساتلو هدايت دی، تردی وروسته دمعاهدی دوهم جز داسی ارشاد فرمايی ، ﴿وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ اَنْ صَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اَنْ تَعْتَدُوْا﴾ يعنی كوم قوم چی دحُديبيی په واقعه كی تاسی دعُمری څخه اومكی ته دداخليدو څخه منع كړی واست اوتاسی ددیر سخت غم اوغصی سره ناكامه بيرته راغلاست ، اوس چی كله تاسی ته قدرت او قوت حاصل دی نو داسی نه ده په كار چی دتيری واقعی دغم اوغصی او بغض بدل داسی واخيستل سی چی تاسی دوی دبيت الله اومسجدحرام دداخليدو څخه منع كړئ، ځكه چی داظلم دی اواسلام دظلم بدله په ظلم سره اخيستل نه غواړی، بلكه دظلم په بدله كی انصاف كول اوپرانصاف قآئم پاته كيدل ښيی، دوی دخپل قوّت اواقتدارپه وخت كی مسلمانان دمسجدحرام دداخليدو څخه اودعمری كولو څخه په ظلم سره منع كړی وه، نو دهغه جواب دا نه دی وركول په كار چی اوس مسلمانان دخپل اقتدارپه وخت كی دوی دحج دكارونو څخه منع كړی .

دقرآن كريم تعليم دا دی چی په عدل اوانصاف كی ټول دوست ، دښمن برابر په كار دی ستاسی دښمن كه هر څومره سخت وی ، او ده تاسی ته هرڅومره آزارچی رسولی وی د دوی سره معامله هم په انصاف باندی كول ستاسی فرض دی ، دا داسلام دخصوصياتو څخه دی چی دی دډښمن دحقونو حفاظت كوی او دده دظلم جواب په ظلم سره نه ، بلكه په انصاف سره وركول ښيی .

(ديوبل سره دتعاون اوكومک كولو قرآني اُصول)

﴿وَتَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى وَلَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ﴾: دا دسورةِ مآئدة ددوهم آيت آخری جمله ده، په دی كی قرآنِ حكيم ديوه داسی اُصولی اوبنيادی مسئلی په اړوند يوه حكيمانه فيصله كړی ده چی دټول عالم دنظام روح دی ، اوپه كوم چی دانسان دهری اصلاح اوكاميابی بلكه په خپله دده ژوند اوبقا موقوفه ده، دغه مسئله ده ديوبل سره دتعاون اوكومك، هردعقل خاوند انسان پوهيږی ، چی ددی دنيا ټول انتظام دمخلوق ديوبل سره پرتعاون اوكومك ولاړدی، كه يوانسان دبل انسان كومك ونه كړی، نو يوازی يوانسان كه هر څومره عقلمند او زورآور يامالدار وی خپل دژوند ضروريات يوازی نه سی پوره كولی ، يوازی يوانسان دخپل خوراك دپاره دغلی حاصلولو دكرلو څخه واخله تر خوراك قابليدو پوری ټولی مرحلی سرته نه سی رسولی اونه دجامو دپاره دپُنبی كرلو څخه واخله تركالو تيارولو پوری بی شميره مسئلی حل كولی سی ، اونه خپل بار ديوځای څخه بل ځای ته وړی سی، مقصد دا دی چی هرانسان دخپل ژوند په هره شعبه كی دنورو زرگونو اولكونو انسانانو محتاج دی، ددوی ديوه اوبل سره په تعاون او كومك كی دټولی دنيا انتظام چليږی اوكه فكر وكړه سی نوداتعاون اوكومك ددنياپه ژوند كی يوازی ضروری نه دی، بلكه دمرگ څخه واخله په قبركی ترښخولو پوری ټولی مرحلی هم ددی تعاون محتاجه دی ، بلكه تردی وروسته هم دپس ماندگانو ودعاگانو اوثواب رسولو ته محتاجه وی .

الله ﷻ په خپل لوی اوكامل قدرت سره ددی دنيا نظام داسی محكم جوړكړی دی چی هر يوانسان يی دبل محتاج جوړكړی دی كه غريب دپيسو دپاره دمالدار محتاجه دی نومالدارهم دمحنت اومشقت دپاره

Maktaba Tul Ishaat.com

دغریب مزدوری ته محتاجه دی سوداګر دګراك محتاجه دی اوګراك دسوداګر، سرای جوړوونکی دبنا، ترکاڼ (نجار) اوپښ محتاجه دی اوداټول دده محتاجه دی ، که داسراسر احتیاج نه وای اوکومك یوازی داخلاقو په بنآء وای نوهیڅابه دبل کار نه وای کړی اوددی به هم دغه حال وای کوم چی په دی دنیاکی دعامو اخلاقو دقدر کولو دی ، اوکه دا دکارونو تقسیم دحکومت یادملګرو ملتونو یابلی اداری دطرفه څخه په صورت دقانون نافذ کیدی نو ددی به هم هغه انجام وای کوم چی نن په ټوله دنیاکی دقانون انجام دی ، چی قانون یوازی په ایکټونوکی محفوظ دی اوپه بازار اودفترونوکی درشوت بی خایه رعایت، فرض نه پیژندو اوبی کارئ قانون چلیږی، دامحضی داحکم الحاکمین قادر مطلق الله پاك ﷻ نظام دی چی دمختلفو خلګوپه زړونوکی یی دمختلفو کارونو شوق او صلاحیّت پیداکړی دی اودوی دخپل خپل ژوند محوّر دغه کار جوړکړی دی .

هر یکی بهر کاری ساختند.............................میل او را در دلش انداختند

هر یو یی دیو کار دپاره پیدا کړی دی او دهغه کار مینه یی دهغه په زړه کی اچولی دی .

اوکه داسی نه وای دیوه حکومت یابین الاقوامی اداری دطرفه څخه ددی کارونوتقسیم کیدی اوچاته یی دترکانی چاته یی دپښتوب چاته یی دجارو وهلو ، اوچاته یی داوبو رسولوکار، چاته یی دخوراك انتظام حواله کولی نوهیڅابه هم په خان شپه اوورځ نه وای یوه کړی (دکارکولو دپاره) اونه به یی پوره حکم منلی الله ﷻ چی کوم انسان دکوم کاردپاره پیداکړی دی دهغه کارمینه یی دده په زړه کی اچولی ده ، دی بغیر دڅه قانونی مجبوری څخه دغه خدمت دخپل ژوند کار ګڼی او ددغه په ذریعه خپل رزق حاصلوی ددی محکم نظام دا نتیجه ده چی دانسان ټول ضرورتونه دیوڅو پیسو په خرځ کولو سره په آسانی سره رسیږی تیار پوخ خوراك ، ګنډلی تیاره سوی جامه ، تیاردلرګی سامان ، تیار داوسیدلوکور انسان په یوڅو پیسو خرځ کولوسره حاصلولی سی ، که دانظام نه وای نو یوه کروړپتی (بډای، شتمن) انسان که په کروړونو روپی خرڅولی نو یوه دا نه دغنم به یی نه وای حاصله کړی ددی قدرتی نظام دانتیجه ده چی که تاسی په یوه هوټل کی لږ درنګ وکی او دکومو شیانو څخه چی تاسی فآئده اخلی او ددی معاینه وکړی نومعلومه به سی ، چی اوړه دامرنکی څخه ، غوړی دپنجاب څخه، غوښه دسیند څخه، مصالحی (دارو) دمختلفو ملکونو څخه، لوښی اودلرګی سامان دمختلفو ملکونو څخه، کارکوونکیّ مزدوران، اشپزان دمختلفو ښارونو څخه ستاسی په خدمت کی لګیدلی دی او یوه دودی چی کومه ستاسی خولی ته رسیږی ، په دی کی په لکونو ماشینانو حیوانانو او انسانانو کارکړی دی اوتردی وروسته ستاسی دخولی خوندبنه کوی، تاسی چی سهار دکوره وزئ، دری څلورمیله مزل کوی ، اوددی وخت یاطاقت ستاسی سره نسته، اوتاسی ته ټیکسی (سراچه)، رکشه یابس ورسیږی چی اوسپنه یی داسټرلیا ، لرګی یی دبرما ، مشینری دامریکی وی، ډریور (چلوونکی) دفرنټییر، کنډیکټر دیوپی، دادکوم کوم ځای سامان اودکوم کوم ځای مخلوق ستاسی دخدمت دپاره ولاړدی ، چی یوازی یوڅو پیسی ورکړی اوپه دی ټولو باندی خدمت وکړی، دوی کوم حکومت مجبورکړی دی یاچا پابندکړی دی چی داټول هرڅه یی

Maktaba Tul Ishaat.com

تاته تيار کړي دي بس دي قدرتي قانون چي دزړونو مالك دي ددي تولوزړونه دي طرف نه جاري کړي دي نن صبا سوشلستو ملکونو داقدرتي نظام بدل کړی، داشيان يي دحکومت ذمه واري جوړه کړي ده چي کوم سړي به کوم کارکوی ، ددي دپاره يي ترټولو اول دزور اوظلم په ذريعه دانسان آزادي ختمه کړه چي ددي په نتيجه کي په زرگونو انسانان قتل سول په زرگونو بنديان سول اوپاته انسانان يي دسخت زور اوظلم په ذريعه دماشين دپرزو په ډول سره استعمال کړل ، ددي په نتيجه کي که يوخاي دخينو شيانو پيدا وار زيات هم سول نودانسانانوانسانيت يي ختم کي اوکه زيات نه سو نو دا سودا ارزانه نه سوه . په قدرتي نظام کي هرانسان آزادهم دی اوپه قدرتي تقسيم سره دخاصوخاصوکارونودپاره طبيعتونه مجبور هم دي اودغه مجبوري دده طبيعت هم غواړي نوپه دي وجه دي څه جبرهم نه محسوسوی،ترسخت لا دسخت اوتر ذليل لاذليل کاردپاره په خپله وړاندي کيدونکي اوکوشش کوونکي هروخت په هره زمانه کي پيدا کيږي اوکه يو حکومت ددوی ددي کار دپاره په مجبوره کولو پسي سي نوبيابه ټول ورڅخه تښتي لنډه دا ده چي دټولي دنيانظام ديوه اوبل په تعلق سره قائم دی، ليکن ددي تصوير يوبل مخ هم دی چي که د جرمونو، غلاګانو، ډاکو، قتلونو اولوټولو اوچور کولو دپاره داديوه اوبل سره تعاون شروع سی، دغلو اولارو نيوونکو لويي لويي منظمي ډلي جوړي سي نوداتعاون اوکومك بياددی دنيا ټول نظام درهم برهم کولای هم سی، معلومه سوه چي داديوبل سره تعاون دوه سري اودوطرفه توره ده، چي پرخپل ځان هم چليدی سی اوددنيا نظام هم بربادولی سی، اودا دنياچي کله دخير اوشر، ښه اوبد يومرکب معجون دی، په دی وجه په دی کي داسي کيدل هم کمه ليري خبره نه وه چي دجرمونو اوقتل اولوټ يانقصان رسولو دپاره په کي ديوبل سره دتعاون ، قوت استعمالول شروع سي اودا يوازي احتمال نه بلکه واقعه جوړه سوه اومخ ته راغله، نوددی درد عمل په ډول ددنيا هوښيارانو دخپل حفاظت دپاره په مختلفو نظر يو باندي دخاص خاص جماعتونو ياقومونو بنياد کښيښوی ، چي ديوه جماعت يايو قوم خلاف چي کله بل جماعت ياقوم حمله وکړي، نو دوی ټول به دهغوی دمقابلي دپاره ديوبل سره دتعاون قوت استعمال کړي خپل مدافعت به حاصل کړي .

دقومونو تقسيم: دعلامه عبد الکريم شهرستاني په (الملل والنحل) کي دي چي په اول کي کله انساني آبادي زياته نه وه، نوددنيا دڅلورو طرفونوپه اعتبار سره څلور قومونه جوړ سول، مشرقي، مغربي، شمالي، جنوبي، په دوی کي دهرطرف خلګوبه خپل ځان ته يوقوم او نوروته نورقومونه ويل، اوپردی بنيادي تعاون اوديوه اوبل سره کومك کوی،تردی وروسته کله چي آبادي زياته خپره سوه نودهرطرف په خلګوکي پرنسبي اوخانداني بنيادونودقوميّت اواجتماعيت تصوّريو اُصول جوړسو ،دعربوټول نظام په دی نسبي اوقبآئلي بنياد باندي وو ، پردی به جنګونه کيدل، بنوهاشم يوقوم، بنوتميم بل قوم، بنوخزاعه دريم قوم، دهندوستان په هندوانوکي خوترننه پوري دلوړذات اولاندی ذات جلاوالي دغه ډول چليږی ديورپي قومونو نوی دور نه خپل نسب باقي پرينښووی اونه يي ددنيا نسبونه يوڅه وګڼل، کله چي په دنيا کي ددوی ترقي سوه نونسبي اوقبآئلي قوميتونه اوتقسيم يي ختم کی، بيا يي پرعلاقآئي

اوصوبایي وطني اولساني بنیادونو باندې انسانیّت نړوتي کې. جلا جلا قومونه یې ودرول اونن هم دغه سکه تقریباً په ټوله دنیا چلیږي ترڅو چې دا جادو په مسلمانانو باندې هم وچلیدې او یوازې په عربي ، ترکي ، عراقي ، سندهي کې تقسیم نه سو ، بلکه په دې کې هم تقسیم درتقسیم سو ، مصري، شامي، حجازي، نجدي او پنجابي، بنگالي، سندهي، هندي اونور جلا جلا قومونه جوړ سول. دحکومت ټول کار وبار یې پردې بنیادونو باندې وچلوی، ترڅو چې داصوبایي دښمني ددوی په رګونوکي وچلیده او دهرې صوبې دخلګو تعاون او دیو بل سره کومك هم په دې بنیادونو باندې شروع سو .

(دقومیّت او اجتماعیّت دپاره قرآني تعلیم)

قرآن کریم انسان ته بیاهیرسوی سبق وریادکی، دسورة نسآء دشروع په آیت کې یې دا ښکاره کړه چې تاسي ټول انسانان دیوه مور اوپلار اولاد یاست ، نبي کریم ﷺ ددې تشریح دحجة الوداع په خطبه کې داسې وکړه چې یوه عربي لره پریوه عجمي یاسور لره پرتورهیڅ فضیلت نسته، دفضیلت مدار یوازې پرتقوی اودخدای ﷻ په حکم منلو باندې دی ، دې قرآني تعلیم د ، اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ اعلان وکی ، دحبشو تور یې دسور ترکي او رومي سره دعجمو دلاندې ذات انسانان یې دعربو دقریشو اوهاشمیانو سره وروڼه کړل ، قومیّت او ورورولي یې په دې بنیادباندې قائمه کړه چې دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ منونکي یو قوم اونه منونکي یې بل قوم دی ، دا هغه بنیاد وو چې دابوجهل اوابولهب خانداني قرابت یې دنبي کریم ﷺ څخه پریکي اودحبشي بلال ؓ اوصُهیب ؓ رومي سره یې وتړی .

حسن زبصره بلال ازحبش صهیب ازروم زخاك مكّه ابوجهل این چه بو العجبی است

داخومره عجبه خبره ده چې په بصره کې حسن ؓ اوپه حبشه کې بلال ؓ اوپه روم کې صهیب ؓ پیدا کیږي او دمکې په خاوره کې ابوجهل پیدا کیږي .

ترڅو چې قرآن کریم اعلان وکی : خَلَقَكُمْ فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَّمِنْكُمْ مُّؤْمِنٌ یعني الله ﷻ تاسي ټول پیدا کړاست بیا تاسي په دوو حصوکې تقسیم سواست څه کافران سواست څه مؤمنان ، په بدر، اُحد، احزاب اوحُنین جنګونو کې ددې قرآني تقسیم عملي مظاهره سوې وه، چې نسبي ورور چې کله دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ داطاعت څخه ووتي ، نود مسلمانان ورور دورورولي قرابت اودتعاون رابطه دده څخه قطع سوه او هغه دده دتورې ترګذار لاندې راغي ، نسبي ورور توره را واخیسته مقابلې ته راغي نو مسلمانان ورور یې کومك ته ور ورسیدی ، دبدر، اُحد اوخندق دغزاګانو واقعات په دې باندې شاهدي دی .

هزار خویش که بیگانه از خدا باشد ………… فدائی یك تن بیگانه که آشنا باشد

په زرګونو خپلوان چې دخدای ﷻ څخه په دې وي ، تر هغه یوه پردې دې قربان سي چې دخدای ﷻ سره آشنا وي په ذکر سوې آیت کې قرآن حکیم دتعاون اویو بل سره دکومك کولوهم دامعقول اوصحیح اصول ښوولی دی ، وَتَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى وَلَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ یعني په نیکي اوخدا ترسي باندې تعاون کوی ، پربدې او ظلم باندې تعاون مه کوی .

فکروکړی چې په دې کې قرآن کریم داعنوان هم اختیارنه کې چې د مسلمانانو وروڼوسره تعاون کوی او

Maktaba Tul Ishaat.com

دغیرمسلمانانو سره یې مه کوی، بلکه دمسلمانانو سره دتعاون کولو چې کوم اصلي بنیاد دی یعنی نیکي او دخدای ﷻ څخه بیره هغه یې دتعاون کولو بنیاد مقرر کی ، ددی صفامطلب دا دی چې مسلمان ورور هم که دحق خلاف یاظلم اوزیاتی طرف ته روان وی ، نوپه ناحقه اوپه ظلم دده هم کومك مه کوی ، بلکه ددی کوشش کوی چې دناحقی اوظلم څخه دده لاسونه ونیسی ځکه چې په حقیقت کی دا دده صحیح کومك دی چې په ظلم او زیاتی کولو سره دده دنیا اوآخرت تباه نه سی .

په صحیح بخاری اومسلم کی د حضرت انس ؓ څخه روایت دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، أُنصُرْ أَخَاكَ ظَالِمًا أَوْ مَظْلُومًا یعنی دخپل ورور کومك کوه برابره خبره ده که دی ظالم وی اوکه مظلوم وی ، صحابه کرام ؓ چې په قرآنی تعلیم باندی رنګ سوی وه ، پوښتنه کوی په حیرانتیا سره چې یارسول الله ﷺ دمظلوم وروپه کومك کولو خومونږ پوه سو لیکن دظالم دکومك څه مطلب دی، ده ﷺ وفرمایل چې دی دظلم څخه منع کړی دا دده کومك دی ، دقرآن کریم دی تعلیم دنیکیٔ اوتقویٰ (یعنی دنیك کاراو دخدای ﷻ څخه دبیری) اصلیٔ معیار جوړکی اوپه دی یې دمسلمان قوم تعمیروکی اوپه دی یې دیوبل سره دتعاون او کومك کولو بلنه ورکړه، اوددی په مقابله کی یې اثم اوعُدوان یعنی ګناه اوزیاتی سخت جرم مقررکی، اوپردی یې دتعاون څخه منع وکړه، دبرّ اوتقویٰ دوه لفظونه یې اختیار کړل ، جمهور مفسّرین رحمهم الله دبرّ معنی دلته (فعل الخیرات) یعنی نیك عمل مقرره کړی ده ، اودتقویٰ معنی یې (ترك المنکرات) یعنی دبدو پریښوول مقررکړی دی، اولفظ داثم مطلقی دګناه او معصیت په معنی دی، برابره خبره ده که دحقونو په اړوندوی اوکه دعبادتونو ، اودعدوان لفظی معنی ترحد تجاوز کول دی مراد ورڅخه زور اوزیاتی دی .

په بر اوتقویٰ باندی دتعاون کولو اوکومك کولو دپاره نبی کریم ﷺ ارشاد فرمایلی دی ، اَلدَّالُ عَلَى الْخَيْرِ كَفَاعِلِهِ یعنی کوم سړی چې دنیکیٔ لار ښیی نو دده دومره ثواب دی لکه دغه نیکی چې ده په خپله کړی وی داحدیث ابن کثیرپه حواله دبزار نقل کړی دی ، اوپه صحیح بخاری کی دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چې کوم سړی خلګوته هدایت اودنیکی طرف ته بلنه ورکوی نوځومره خلګ چې په دغه بلنه باندی نیك عمل کوی ددی ټولو دثواب غوندی ده ته هم ثواب رسیږی بغیرددی څخه چې ددغو خلګو دثواب څخه څه کم کړل سی ، اوکوم سړی چې خلګ دګمراهی یاګناه طرف ته رابولی نوځومره خلګ چې دده په رابللو په ګناه کی اخته سول ، ددی ټولو دګناهونو برابره به دده ګناه هم وی ، بغیرددی څخه چې د دوی په ګناهونو کی کمی وکړل سی .

اوابن کثیر رحمه الله په روایت دطبرانی نقل کوی چې نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چې کوم سړی دیوه ظالم سره دده دکومك دپاره ولاړی ، دی داسلام څخه ووتی ، په دی بنآء باندی سلفو صالحینو دظالمانو بادشاهانو دنو کری اوکم منصب قبلولو څخه ځانونه په سختی سره ساتلی دی چې په دی کی د دوی دظلم کومك اواعانت دی، په تفسیر روح المعانی کی یې تردی آیت کریمه ، فَلَنْ اَكُوْنَ ظَهِيْرًا لِّلْمُجْرِمِيْنَ لاندی دا حدیث نقل کړی دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چې دقیامت په ورځ به آوازوسی چې چیری دی

Maktaba Tul Ishaat.com

ظالمان خلگ او د دوی کومك کوونکی ، تردی چی هغه خلگ چاچی ظالمانوته رنګ اوقلم برابر کړی دی ، هغه به هم ټوله داوسپنی په یوه تابوت کی جمع کړی ، جهنم ته به وغورځول سی.

دا دی دقرآن اوسنّت هغه تعلیم کوم چی په دُنیاکی دنیکی، انصاف، همدردی، اوښو خویونو دخپرولو دپاره دملت هرفرد یوبلونکی جوړکړی، درولی وو اودظلم اوزیاتی دبندولو دپاره یی دملت هریوفرد یوداسی سپاهی جوړکړی ووچی په پټه او ښکاره دخدای ﷻ دبیری څخه په خپله وظیفه پوره کولو باندی مجبوره دی ، ددی حکیمانه تعلیم اوتربیت نتیجه وه چی دنیا داصحابو ؓ اوتابعینو ؒ په دور کی ولیدل ، نن هم که په یوه ملك کی دجنګ خطره پیدا سی نو دښاری دفاع محکمی قآئمول کیږی او هر سړی ته ددفاع دچلونو دښوولو تعلیم ورکول کیږی ، لیکن دجرمونو دبندولو دپاره ددی هیڅ ځای هم کوم اهتمام نسته چی خلګ دخیر طرف ته بلونکی او دشر څخه منع کوونکی سپاهیانو جوړولو کوشش وکړی ، اوښکاره خبره ده چی ددی مشق نه په فوجی پریډونو سره کیدی سی اونه دښاری دفاع په طریقو سره، دا تعلیم په درسګاهونوکی دازده کولودی چی خلګ نن سبا دبد بختی څخه ددی شیانو سره نابلده دی، دبرّ اوتقوٰی اوددی دتعلیماتو داخله نن په عامو درسګاهونوکی ممنوع ده، اود اثم اوعدوان هریوه لاره خلاصه ده، بیادا بیچاره پولیس به ترکمه پوری دجُرمونو بندیز کوی چی ټول قوم دحلالو اوحرامو حق اوناحقو څخه بیګانه سی، جُرم کسب ګرځیدلی دی، نن صباچی کوم دجرمونو زیاتوالی، غلاګانی، ډاکی، قتلونه فحاشیانی هرځای اوپه هرملك کی ورځ په ورځ زیاتیږی اوقومی مشینریانی یی دبندولو څخه عاجزه دی ددی هم دا دوه سببونه دی چی یوه طرف ته حکومتونه ددی قرآنی نظام څخه لیری دی ، دقدرت خاوندان دبرّ اوتقوٰی پراصولو باندی دعمل کولو څخه بیریږی، که څه هم چی په نتیجه کی ورباندی بی شمیره سختی راځی، افسوس چی دوی داتریخ غرپ یووار دتجربی دپاره چیښلی وای اودخدای ﷻ دقدرت تماشایی لیدلی وای چی څنګه دوی ته اوعوامو ته دامن، سکون، آرام اوراحت پاك ژوند نصیب کیږی.

دوهم طرف ته عوامو داګڼلی ده چی جرمونه بندول یوازی دحکومت کار دی ، دوی دهرمجرم په جُرم باندی دپردی په اچولوسره عادت سوی دی یوازی دحق ثابتولو اوجُرمونو بندولو دپاره دریښتینی شاهدی ورکولو ګرسره رواج په دوی کی نه دی پاته سوی، دوی لره ځان په دی پوهول په کار دی چی دمُجرم په جُرم پرده اچول اودشاهدی ورکولوڅخه ځان ساتل دجُرم کومك کول دی چی د قرآن کریم له مخی حرام اوسخته ګناه ده ، اود، وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ دحکم څخه بغاوت دی

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهِ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوذَةُ

حرام سول په تاسی باندی مړحیوانان اووینه اوغوښه دخنزیر اوپه کوم حیوان چی اواز وسی دغیرالله اوکوم چی مړسی دغاړی دخپه کیدوڅخه یا دویشتلو څخه ،

وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ وقف وَمَا

یا درالویدو څخه یا دشکر وهلو څخه اوهغه چی ویی خوری درنده مګر کوم چی تاسی ذبح کړی ، او

ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَأَنْ تَسْتَقْسِمُوا بِالْأَزْلَامِ ذٰلِكُمْ فِسْقٌ

حرام دی هغه چی ذبح سی په ستانه باندی اودا چی تقسیموی په غشو دخمار ، دا دګناه کار دی ،

اَلْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ دِيْنِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ

نن نا امیده سول کافران ستاسی ددین څخه نو د دوی څخه مه بیریږي

وَاخْشَوْنِ اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ

زما څخه و بیریږي نن ما پوره کی ستاسی دپاره دین ستاسی او پوره می کی په تاسی باندی احسان

وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا فَمَنِ اضْطُرَّ فِيْ مَخْمَصَةٍ غَيْرَ

خپل اوخوښ می کی ستاسی دپاره داسلام دین بیا چی څوك نا چاره سی په لوږه کی لیکن

مُتَجَانِفٍ لِّاِثْمٍ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ③

ګناه ته مائل نه وی نو الله بخښنی والا مهربانه دی

لنډتفسیر: په تاسی (داحیوانان اونور) حرام کړه سوی دی مردار (هغه حیوان کوم چی سره ددی چی ذبح یی واجب وی اوبی له شرعی وجه څخه مړسی) اووینه (بهیدونکی) اودخنزیر غوښه (دغه ډول دده ټول اجزآء) اوکوم حیوان چی (په قصد دثواب) دغیرالله په نامه کړل سوی وی اوکم چی دغاړی خپه کیدو څخه مړسی اوکم چی دوار (ویشتلو) څخه مړسی اوکوم چی دلوړځای څخه راولویږی مړسی (مثلاً دغره څخه، یاڅاه ته) اوکوم چی دبل دښکر وهلو څخه مړسی اوکوم چی یودرنده یی (ونیسی) اووی خوری (اوددی څخه مړسی) لیکن (دمنخنقه څخه تر مَا اَكَلَ السَّبُعُ پوری چی دکوموذکر دی ددوی څخه چی) کوم چی تاسی (دساه ترختو مخکی په شرعی طریقه سره) ذبح کړئ (هغه ددی حراموالی څخه مستثنٰی دی) او (دارنګه) کوم حیوان چی (دغیرالله) په عبادت ګاهونو باندی ذبح کړل سی (حرام دی که څه هم په ژبه دغیر الله نوم وانه خلی ځکه چی مدار دحُرمت پرنیتِ خبیث باندی دی اوداکله په ویناسره ښکاره کیږی چی نوم ورباندی واخلی اوکله په کار سره چی په داسی ځایونوکی یی ذبح کړی) اودا (هم حرام دی) چی (غوښه اونور) تقسیموی په ذریعه دغشو دخاشی داټول ګناه (اوحرامه) ده، نن ورځ (یعنی اوس) کافران خلګ نااُمیده سول ستاسی ددین (دمغلوب کیدو اوورکیدو) څخه (ځکه چی ماشآء الله اسلام ښه خپور سو) نو ددی (کفارو) څخه مه بیریږئ (چی ستاسی دین به ورك کړی) اوزما څخه بیریږئ (یعنی زما دحکمونو مخالفت مه کوی) نن ورځ ستاسی دپاره ستاسی دین ما (په هرډول) کامل کی (په قوت کی هم

Maktaba Tul Ishaat.com

چې کفار ورځخه مایوسه سول اوپه احکامو اوقاعدو کې هم) او (په دې کاملولو سره) ماپرتاسې خپل انعام تمام کې (دیني انعام هم چې حکمونه پوره سول او دنیوي انعام چې قوت حاصل سو اوددین په کاملوالي کې دواړه راغلل) اوماٴاسلام ستاسې ددین دجوړیدو دپاره (په همیشه سره) خوښ کې (یعنې تر قیامته پورې به ستاسې دادین وي ددې منسوخ کول اودبل دین منتخب کول به نه وي نوتاسې لره په کار دي چې زمادنعمت شکر اداکې اوپه دې دین پوره په پوره قائم سئ) بیا دذکر سوو شیانو دحراموالي معلومولوځخه وروسته داهم معلومه کړئ چې) کوم سړی دډیرې لوږې ځخه بې ارامه سي (اوپه دې وجه سره دالوړذکرسوي شیان وخوري) په دې شرط چې دکمې گناه طرف ته دده میلان نه وي (یعنې نه دضرورت ترقدر زیاته وخوري اونه یې خوند اخیستل مقصودوي دکوم چې یې په سورة بقره کې په غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ سره تعبیر فرمایلی دی) نویقینا الله ﷻ معاف کوونکی دی (اوکه دضرورت اندازه ورته پوره نه وي اویوه گوله یادوې زیاتې وخوري او) رحمت والادی (چې په داسې حالت کې یې اجازت ورکې)

معلومات اومسئلې: دا دسورهٔ مآئده دریم آیت دی چې په دې کې ډیر اُصول اوفروعي احکام اومسئلې بیان سوي دي، اوله مسئله دحلالو اوحرامو حیواناتوده، دکومو حیواناتو غوښه چې دانسان دپاره ضررناکه ده، په جسماني ډول سره چې دانسان په بدن کې ورځخه دناجوړې بیره ده یاپه روحاني ډول چې په دې سره دانسان داخلاقو اوزړه دخرابیدو بیره ده، هغه قرآن، خبیث مقررکړل اوحرام یې کړل، اوپه کومو حیواناتوکې چې کم جسماني یا روحاني ضررنسته، هغه یې پاك اوحلال مقرر کړل.

په دې آیت کې فرمایي چې حرام سوي دي پرتاسې باندې مردار حیوانان، ترمردار لامرادا, هغه حیوان دی چې بغیر دذبحې ځخه دکمې ناجوړې په سبب یاپه خپل طبعي مرگ مړسي، دداسې مردار حیوان غوښه په (طبّي) ډول سره هم دانسان دپاره سخته مُضرّه ده اوپه روحاني ډول سره هم، البته په حدیث شریف کې دوه شیان نبي کریم ﷺ ددې ځخه مستثنې کړي دي یوماهي ، دوهم ملخ، داحدیث مسنداحمد، ابن ماجه، دارقطني، بیهقي اونورو روایت کړی دی.

دوهم ، شي کوم چې یې په دې آیت کې حرام کړي دي هغه وینه ده، اودقرآن کریم په بل آیت کې یې أَوْ دَمًا مَسْفُوحًا فرمایلي دي ، دا یې ښوولې ده چې ددې وینې ځخه مراد بهیدونکې وینه ده، په دې وجه اینه اوتوري سره ددې چې وینه ده خو ددې حکم ځخه مستثنې دي ، په ذکر سوي حدیث کې چې یې کوم ځای ماهي اوملخ دمرداري ځخه مُستثنې کړي دي هلته یې اینه اوتوري هم دوینې ځخه مستثنې کړي دي.

دریم شي غوښه دخنزیرده ، چې حرامه کړي یې ده، دغوښې ځخه مراد دده ټول بدن دی چې په هغه کې وازگه اوپلې اوهرڅه شامل دي.

ځلورم : هغه حیوانان دي چې دغیرالله دنامه دپاره مقررکړه سوي دي، بیاکه دذبح په وخت کې پرده هم دغیرالله نوم واخیستل سي نوداښکاره شرك دی، اوداحیوان په اتفاق سره دمردار په حکم کې دی لکه چې دعربو مشرکانوبه دخپلو بتانوپه نامه باندې ذبحه کوله یاپوجاهل یې دیوچا پیر یافقیرپه نامه باندې ذبح کوي اوکه په وخت کې دذبحې یې نوم دالله ﷻ واخیستی ، لیکن حیوان یې دغیرالله په نامه

Maktaba Tul Ishaat.com

نذر کړې وو او دغير الله درضا دپاره یې ذبح کړې ، نو جمهورو فقهاوو رحمهم الله دا هم تر ، مَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ الله لاندې حرام کړې دي .

پنځم (مُنخنِقه) يعني هغه حيوان حرام دی چې دغاړې دخپه کیدوپه وجه مړسي یاپه خپله په یوشي یایوځای کې ومښلي اوپه ساه بندي سره مړسي، که څه هم چې (مُنخنقه) او (موقُوذَة) هم په مرداره کې داخل دي، ليکن په جاهليّت کې به یې داحلال ګڼل نوځکه ددوی ذکریې جلاوکی .

شپږم (موقُوذَة) يعني هغه حيوان چې دسخت ګذار څخه مړسي، لکه په لکړی یاډبرې یابل شي سره وویشتل سي ، اوکوم غشي چې پربښکار داسي ومښلي چې تیره سريي ورباندې ونه مښلي اودغه ښکارمړسي نوهم په (موقوذه) کې داخل دی اوحرام دی .

حضرت عدی بن حاتم رضی الله عنه نبي کريم ﷺ ته عرض وکي چې زه ځيني وخت په غشي ښکارکوم نوکه ښکار ددې څخه مړسي ، نوآیا زه یې خوړلی سم؟ ده ﷺ وفرمایل چې که دغه حيوان دغشي په پلنوالی باندې ولګیږي اومړسي نوپه (موقوذه) کې داخل دی، دغه مه خوره (او که په تیره طرف لګیدلی وي) اوزخم یې جوړکړی وي نوخوړلای يې سي، داروايت جصّاص رحمه الله په احکام القرآن کې په خپل سندسره ذکرکړی دی، په دې کې شرط دا دی چې دغشي ویشتلو په وخت کې یې بسم الله ویلی وي .

کوم ښکارچې دټوپك په ګولي ولګیږي اوهلاك سي، دغه هم فقهاوو رحمهم الله دموقوذه په حکم کې داخل کړی اوحرام کړی دی، امام جصاص) دحضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنه څخه نقل کړی دی ، چې هغه به فرمايل اَلْمَقْتُولَةُ بِالْبَنْدُقَةِ تِلْكَ الْمَوْقُوْذَةُ يعني دټوپك په ذريعه چې کوم حيوان قتل کړه سو هم دغه موقوذه دی اوحرام دی، امام ابوحنيفه رحمه الله شافعي رحمه الله مالك رحمه الله اونور ټول په دې متفق دي (قرطبي)

اووم (مُتَرَدِّيه) يعني هغه حيوان چې دغره دسریابل لوړځای څخه را ایله سی یاڅاه ته ولویږي اومړسي، دغه هم حرام دی په دې وجه دحضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه څخه روايت دی چې که یوښکارپه غره باندې ولاړوو اوتاپرغشي بسم الله وویل اوودی ویشتی اوهغه دغشي دګذار څخه کښته ولویدی مړسو نودغه مه خوره، ځکه چې په دې کې احتمال دی چې دده مرګ دغشي دګذار څخه نه وي سوی اودایله کیدلوپه وجه مړسوی وي، نودی به په مترديّه کې داخل وي، دغه ډول که پریوه مرغه یې دغشي ګذاروکی اوهغه اوبوته ولویدی نوددې خوراك څخه یې هم په دې وجه منع فرمايلي ده چې دااحتمال دی چې دده مرګ دډوبیدو په وجه سوی وي (جصاص)

اوحضرت عدّی بن حاتم رضی الله عنه دا مضمون د نبي کريم ﷺ څخه هم روايت کړی دی (جصاص)

اتم (نطيحه) يعني هغه حيوان چې دټکر اوښکر وهلو څخه مړسي لکه ترموټر، ګاډی یابل شي لاندې سی، مړسي یې یایې بل حيوان په ښکرونو ووهی مړسي .

نهم : هغه حيوان چې بل درنده حيوان یې څیری کړی اومړسي، ددې نهو قسمونو دحراموالی بیانولو څخه وروسته دیوی استثناء ذکرسوی دی، فرمايي ، اِلاَّ مَاذَكَّيْتُمْ يعني که په دې حيوانانوکی تاسی یوژوندی پیداکی اوذبحه موکی نوحلال سو او خوړل یې جائزدي، دا استثناء داولنیو څلورو

Maktaba Tul Ishaat.com

قسمونوسره نسي متعلقه کيدي، ځکه چي په مرداره اووينه کي خوددي امکان نسته اوخنزيراو مَا اُهِلَّ لِغَيْرِ اللهِ په خپل ذات کي حرام دي، ذبح کول اونه ذبح کول په دوی کي برابردي، په دي وجه دحضرت علي ﷺ ابن عباس ﷺ حسن بصري رحمه الله قتاده او نورو سلفو صالحينو رحمهم الله په دي باندي اتفاق دی چي دا استثناء داولنيو څلورو څخه وروسته يعني ترمنخنقة اوتردي دوروسته سره تعلق لري ، نو په دي وجه ددي مطلب دا سو چي په دي ټولو صورتونو کي که حيوان ژوندي پيدا سو، دژوند نښاني په کښي وی اوپه دي حالت کي دالله ﷻ په نامه ذبح کړل سونو هغه حلال دی، برابره خبره ده که منخنقه وی یاموقوذه یا متردّیه اونطيحه ياکوم بل حيوان خيري کړی وی، په دوی کي په هريوه کي چي دژوند نښاني وی اوذبح سونو حلال دی .

لسم : هغه حيوان حرام دی چي پرنُصب ذبح کړل سوی وی، نُصب هغه ډبري دی کومي چي دکعبي پرشاوخوا درول سوي وی اوپه جاهليّت کي به ددي عبادت کيدی اوحيوانان به يی راوستل د دوی په خواکي به يي د دوی دپاره قربانول اودابه يي عبادت گڼی .

دجاهليّت خلگ ددی ټولو قسمونو حيوانانو په خوړلو عادت وه کوم چي په خبآئثوکي داخل دی ، قرآن کريم دا ټول حرام کړل .

يوولسم : شی کوم چي دی آيت حرام کړی دی هغه (اَسْتِقْسَامْ بِالْاَزْلَامِ) دی، ازلام دزَلَمْ جمع ده، زلم هغه شي ته ويل کيږي کم چي په جاهليّت کي دعربوددی کاردپاره مقررکړی وو، چي دبخت ازمايښت اوامتحان به يی په کوی، اودا اووه غشي وه چي پريوه يی نعم (هو) پربل يی لا (يا) اودغه ډول نور الفاظ ليکلي وه اوداغشي به دبيت الله دخادم سره وه، کله چي به يوه سړی خپل بخت معلوموی يادآئنده دپاره به يي ديوه کارفآئده مندکيدل يا مُضر کيدل معلوموی نودکعبي خادم ته به ولاړی اوسل روپي به يي هغه نذرانه (شکرانه) ورکړی، هغه به دغه غشي دترکش څخه يويو راايستي که لفظ د (نعم) به په راووتی نوګڼل به يي چي داکار فآئده مندی اوکه (لا) به راووتی نوګڼل به يي چي داکارنه دی کول په کار، دحرامو حيوانانوپه سلسله کي ددی دذکر کولووجه داده چي دعربو داهم عادت ووچي يو څوکسان به شريك سول يواوښ يابل شی به يي ذبح کي خودغوښي تقسيم به يي دشرکت مطابق نه کوی، بلکه ددی غشوبه يي تقسيم کوی، چي څوك به پکښي بالکل محرومه سو ، چاته به ډيره زياته اوچاته به ترحق کمه ورسيده، په دی وجه دحيوانانو دحراموالي سره يی ددی کار حراموالی بيان کی .

عالمان فرمايي چي دراتلونکي زماني حالات اودغيبو دشيانو معلومولو چي دڅومره طريقو رواج دی، برابره خبره ده که دعلم جفر په ذريعه وی او که دلاس په کتو يا دفال ايستلو په ذريعه وی داټولي طريقي د (استقسام بالازلام) په حکم کي دی .

اود (استقسام بالازلام) لفظ کله دقُمار دپاره هم ويل کيږي په کوم کي چي دپچي يالاټري په طريقوسره حقونه مقررکړه کيږي ، دا هم دقرآن په نص باندی حرام دی کوم چي قرآن کريم دميسر په نامه سره منع کړی دی ، په دی وجه حضرت سعيدبن جبير ﷺ مجاهد رحمه الله اوشعبي رحمه الله فرمايی لکه څنګه چي عربو

Maktaba Tul Ishaat.com

دازلام په ذریعه حصَی ایستلی دغه ډول په فارس اوروم کی په شطرنج، چو سر اونورو مهرو سره دا کار اخیستل کیدی دادازلام په حکم کی دی.
مظهری داستقسام بالازلام دحرمت سره ارشاد فرمایی: ذٰلِكُمْ فِسْقٌ یعنی په دی طریقه بخت معلومول یاحصَی مقررول فسق یعنی گمراهی ده تردی وروسته ارشاد فرمایی.

اَلْیَوْمَ یَئِسَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا مِنْ دِیْنِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ یعنی نن ورځ کفار ستاسی پردین باندی دغالب راتلو څخه مایوسه سوی دی، ځکه نواوس تاسی ددوی څخه بیره مه کوی البته دالله ﷻ څخه بیره کوی.
دا آیت دهجرت په لسم کال په حجة الوداع کی دعرفات په ورځ پر نبی کریم ﷺ نازل سو، په داسی وخت کی چی مکّه مکرّمه اوتقریبًا ټول عرب فتح سوی وه، پرټول جزیرة العرب باندی اسلامی قانون جاری وو، په دی وجه یی وفرمایل چی داوس څخه مخکی به چی کفاروکمی منصوبی اوپلانونه جوړول چی دمسلمانانو ټولی زمونږپه مقابله کی کمه هم ده اوکمزوری هم ده، دابه ختم کړل سی، اوس په دوی کی نه دغه حوصلی پاته دی اونه په کښی دغه طاقت پاته دی، نو مسلمانان دی ددوی دطرفه څخه مطمئن سی دخپل رب په اطاعت اوعبادت کی دی شروع سی.

اَلْیَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِیْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَیْكُمْ نِعْمَتِیْ وَرَضِیْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِیْنًا.
ددی آیت دنزول خاص شان دی، دعرفات ورځ ده چی دټول کال په ورځوکی سرداره ده او اتفاقًا داعرفات دجمعی په ورځ راغلی وو، چی ددی فضیلتونه معلوم دی، ځای دعرفات میدان جبلِ رحمت (درحمت غره) ته نژدی دی، چی دعرفات په ورځ دالله ﷻ دطرفه څخه درحمت دنازلیدو خاص ځای دی، وخت ترمازدیگر وروسته دی چی په عامو ورځوکی هم مبارك وخت دی اوخاص بیا دجمعی په ورځ چی ددُعا دقبلیدو ساعت دډیرو روایتونو مطابق په دی وخت کی راځی اودعرفات په ورځ نورهم زیات په خصوصیّت سره ددُعاگانو دقبلیدو خاص وخت دی، دحج دپاره دمسلمانانو ترټولو لویه اوله اجتماع ده چی تقریبًا یو نیم لك صحابه کرام (رضوان الله علیهم اجمعین) په کښی شریك دی رحمة للعٰلمین دصحابه کرامو ﷺ سره تر جبلِ رحمت لاندی پر خپله اوښه (عضبآء) باندی سپور دی اودحج په لوی رکن یعنی وقوف عرفات کی مشغول دی.
ددی فضیلتونو، برکتونو اورحمتونو په سایه کی دا آیت کریمه په نبی کریم ﷺ نازلیږی، دصحابه کرامو ﷺ بیان دی چی کله پرده ﷺ دا آیت په ذریعه دوحی نازل سونو دقانون مطابق دوحی دروندوالی اوبار دومره محسوس سوچی اوښه یی کښته کړه، تردی چی مجبوره سو او کښیناستی، حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ فرمایی چی دا آیت تقریبًا دقرآن آخری آیت دی، تردی وروسته یوآیت هم داحکامو په اړوند نه دی نازل سوی، یوازی دترغیب اوترهیب یوڅو آیتونه دی چی نزول یی تردی آیت وروسته شوول سوی دی، ددی آیت تر نازلیدو وروسته نبی کریم ﷺ په دی دُنیاکی یوازی یواتیا ۸۱ ورځی ژوندی وو، ځکه چی دسنـ۱۰ـه هجری په نهمه ۹ دذی الحجی دا آیت نازل سواوپه سنـ۱۱ـه هجری دوولسمه ۱۲دربیع الاول نبی کریم ﷺ وفات سو. (۱)

(۱) دا دمشهور قول په وجه لیکل سوی دی ګنی خپله حضرت مؤلف قدس سره پخپله رساله سیرت خاتم الانبیاء صـ ۱۴۴ باندی کی دحافظ ابن حجر عسقلانی رحمه الله اوحافظ مغلطائی رحمه الله په حواله دحضور ﷺ تاریخ وفات دویم ربیع الاول صحیح ګڼل دی او یو (۸۱) ورځی په دی حساب سره جوړیږي (محمد تقی عثمانی رحمه الله)

دا آیت چی په دی خاص شان او اهتمام سره نازل سو ددی منشاء هم دملّت اسلام او مسلمانانو دپاره یوه ډیره لویه خوشخبری اولوی انعام اوداسلام یوه امتیازی نخښه اوشان دی چی خلاصه یی داده چی حق دین اوداالله ﷻ دنعمت لوړه درجه چی په دی دنیاکی مخلوق ته ورکیدونکی وه هغه نن مکمله کړل سوه ، ګویا چی دحضرت آدم علیه السلام دپیدا کیدو څخه وروسته دهغه وخت څخه چی دکوم حق دین اوداالله ﷻ دنعمت نازلیدل او رواج کیدل شروع سوی وه اوپه هره زمانه اوهره حصه دمځکی کی چی دحال مناسب ددی نعمت یوه حصه دآدم علیه السلام اولادته ورکول کیده ، نن هغه دین اونعمت په مکمل صورت کی په خاتم الانبیاء رسول الله ﷺ باندی نازل او دهغه اُمّت ته ورکړل سو .

په دی کی دټولو انبیاوو اورسولانو علیهم السلام په ټولی کی دسیّد الانبیاء ﷺ دسعادت اولوی شان اظهار ښوول دی، خوددی سره دټولو اُمتونو په مقابله کی دأُمتِ مرحومه هم دیوه خاص اولوړشان ښکاره ثبوت دی، هم داوجه ده چی یووخت دیهودو یوڅو عالمان دحضرت فاروقِ اعظم رضی الله عنه په خدمت کی حاضر سول اوعرض یی وکی چی ستاسی په قرآن کی یوداسی آیت دی چی که داپر یهودو نازل سوی وای نودوی به ددی آیت دنزول دورځی دخوشحالی یوجشن کولای، فاروق اعظم رضی الله عنه پوښتنه ورڅخه وکړه چی هغه کوم آیت دی ؟ دوی دا آیت ، اَلْیَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِیْنَكُمْ ووایه ، حضرت فاروقِ اعظم رضی الله عنه ورته په جواب کی وویل چی هو! مونږ پوه یوچی دا آیت په کوم ځای کی اوپه کومه ورځ نازل سوی دی ، اشاره ددی خبری طرف ته ده چی دغه ورځ زمونږ دپاره ددوچندی خوشحالی (اختر) ورځ وه یعنی دوه اختره وه په دغه ورځ چی یو عرفات وو او بل جمعه وه .

(داختر او خوشحالي کولو اسلامي اُصول)

دفاروقِ اعظم رضی الله عنه په دی جواب کی دیوه اسلامی اُصول طرف ته هم اشاره ده چی دټولی دُنیا په قومونوکی یوازی داسلام یوه امتیازی نښانه ده، هغه داچی په دنیاکی هرقوم اودهرمذهب اوملّت خلګ ترخپلو حالاتو اوخصوصیاتو لاندی دخپلو خاصو خاصو تاریخی واقعاتو یادګارونه جوړوی اودغو تاریخونوته ددوی په نزد دیوه اختر یاخوشحالی حیثیت حاصل وی، کله دیوه لوی سړی دپیدا ښت یامرګ یاپرتخت دکښینستو ورځ جوړیږی اوکله دیوه خاص ملك یاښار دفتح یادیوی بلی لویی تاریخی واقعی چی مطلب یی دکومو خاصو خلګودعزت زیاتولو څخه ماسوا نورهیڅ نه وی، اسلام دشخص پرستی قائل نه دی، اسلام دجاهلیت رسمونه اودخلګو یادګارونه پاته کړی دی، دأُصولو یعنی په دین کی دبنیادی خبرو اومقصدونو دیادګارونو قائمولو اصول یی جوړ کړی دی .

حضرت ابراهیم علیه السلام ته یی د (خلیل الله) خطاب ورکی اوپه قرآن کریم یی دده دامتحانونو او دده دمکملی کامیابی ستاینه وکړه، وَاِذِ ابْتَلٰى اِبْرَاهِیْمَ رَبُّهٗ بِكَلِمٰتٍ فَاَتَمَّهُنَّ مطلب همدا دی ، لیکن نه یی دده دپیدا ښت ورځ

ولمانځله، نه دمرګ اونه یې دده داولاد حضرت اسمٰعیل ﷺ اودده دموربې بې دپیدا ایښت اومرګ یانورو حالاتوکم یادګار قائم کړی، البته ددوی په کارونوکی چی کوم شیان ددین دمقصدونو سره متعلق وه، دهغو یادګارونه یی نه یوازی محفوظ پاته کړه، بلکه دراتلونکو نسلونو ددین اومذهب جزونه اوفرض اوواجب یی مقررکړل، قربانی، ختنه (سنتی) دصفا اومروه په منیځ کی ځغاسته، په منیٰ کی دری ځایه شیطان ویشتل داټول ددغه بزرګانو دداسی کارونو یادګارونه دی چی دوی خپل نفسانی جذبات اوخپل طبعی خواهشونه دالله ﷻ درضا حاصلولو دپاره وړاندی کول اوادا کول به یې ، اوپه کومو کی چی دهری زمانی اوهر وخت خلګو ته ددی خبری سبق ورکول کیږی چی مخلوق ته دخدای ﷻ درضا دحاصلولو دپاره دخپل ترخوږ لاخوږ اوترګران لاګران شی قربانول په کار دی .

دغه ډول اسلام ترلوی لا دلوی سړی دمرګ اوژوند یادده دشخصی حالاتو دکومی ورځی دجوړولو په ځای د دوی دعملونو ورځی جوړی کړی دی چی دیوه خاص عبادت سره یې تعلق دی، لکه شب برات، رمضان المبارك، شبِ قدر، دعرفات ورځ، دعاشورآء ورځ اونوری، اخترونه یی یوازی دوه مقررکړل، او هغه هم خاص په دینی لحاظ سره اولنی اختر دروژی په ختمیدو اودحج دمیاشتو په شروع کیدو باندی، او دوهم اختر دحج عبادت څخه په فارغ کیدو باندی مقرر سو .

لنډه دا ده چی دحضرتِ فاروق اعظم ﷺ ددی جواب څخه دامعلومه سوه چی دیهودو او نصاراوو په شان زمونږ اخترونه دتاریخی واقعاتو تابع نه دی ، چی په کوم تاریخ کومه مهمه واقع سوی ده، دهغی مونږ اختر جوړ کړو، لکه چی دجاهلیّت رواج وو، اودنن صبا جاهلیّت دا نور هم زیات خپورکړی دی، تردی چی دنورو قومونوڅخه یی نقل کی، مسلمانان هم په دی کی اخته سول .

عیسایان دحضرتِ عیسیٰ ﷺ دپیدا ایښت دورځی اختر جوړوی نومسلمانانو هم ددوی څخه نقل وکی اودنبی کریم ﷺ دپیدا ایښت په ورځ باندی یی دعیدِ میلاد النّبی ﷺ په نامه سره عیدِ میلاد جوړکی په دی ورځ په بازارونوکی جلسونه راباسی اوقسم قسم خرافات په کښی کوی اودشپی چراغان کوی اوداهرڅه عبادت ګڼی، چی ددی هیڅ اصل داصحابو ﷺ تابعینو اودأمت دنورو مشرانوپه عمل کی نه پیدا کیږی .

اوحقیقت خو دا دی چی دا دورځو جوړولو طریقه په هغه قومونوکی چلیدا ای سی چی دباکماله افرادو او د دوی دحیرانوونکو کارنامو په لحاظ سره مُفلسان وی ، دوه، څلور کسان په ټول قوم کی ددی قابل وی او د دوی هم کوم مخصوص کارونه داسی وی چی یادګار جوړول یی قومی فخروی، په اسلام کی که ددی ورځو جوړولو رواج شروع سی نوتریوه لك شلو زرو څخه زیات خو یوازی انبیآء دی چی په دوی کی دهر یوه نه یوازی پیدا ایښت بلکه د دوی دحیرانوونکو کارنامو یو اوږد فهرست دی چی ورځی جوړول به یی په کار وی ، ترانبیاوو علیہم السلام وروسته چی دخاتم الانبیآء ﷺ پاك ژوندته وکتل سی، نودده ﷺ دژوند شاید یوه ورځ دداسی کارنامو څخه خالی نه ده، دده ﷺ به هم ډېرورځی جوړول په کار وی ، دکوچنیوالی څخه واخله ترځوانی پوری دده ﷺ هغه کمالونه چی ټولو عربو پرهغه باندی ده لره دامین لقب ورکړی وو ، ولی هغه داسی نه دی چی مسلمانان ددی یادګارونه جوړاو ولمانځی ؟ بیاد قرآن نزول،

هجرت، دبدر غزا، اُحد، خندق، فتح مکه، حنین، تبوك اوټولی غزاګانی دنبی کریم ﷺ چی دی، يوه هم داسی نه ده چی یادګارونه دی یی ونه لمانځل سی، دغه ډول دده ﷺ په زرګونو معجزی دیادګارونو جوړولو شیان دی، اوکه په غور سره دنبی کریم ﷺ پر ژوند نظر واچول سی، نو دده ﷺ دپاك ژوند هره ورخ هره لمحه دیادګار جوړوولو قابله ده.

ترنبی کریم ﷺ وروسته دده ﷺ یونیم لك صحابه کرام ﷺ هغه دی چی په دوی کی هریو په حقیقت کی دنبی کریم ﷺ ژوندی معجزه ده، نودابه بیابی انصافی نه وی چی ددوی یادګارونه نه لمانځل کیږی اوکه دا رواج وچلیږی نوبیا دا مّت پرمشرانو، اولیاوو، علماوو، مشآئخو نظر واچوی چی دکروړونو په شمیر کی دی نوکه دیادګاری ورځی لمانځل وی نوددوی پرینبوول به ددوی په حق کی بی انصافی اوقدر ناشناسی وی، اوکه دامقرر کړل سی چی دټولو ورځی دی لمانځل کیږی، نو په ټول کال کی به یوه ورخ هم بیا مونږ ته دیادګارونو لمانځلو څخه خالی پاته نه سی، بلکه دهری ورځی په هریوه ساعت (ګنټه) کی به څوڅو یادګارونه اوڅو څو اخترونه جوړول وی.

په دی وجه نبی کریم ﷺ اوصحابه کرامو ﷺ داړواج دجاهلیّت رواج وګڼی اودپامه څخه یی لیری کی، دحضرت فاروق اعظم ﷺ په دی فرمان کی دی طرف ته اشاره ده.

اوس دآیت معنی او مطلب په تفصیل سره واوری، په دی کی الله ﷻ نبی کریم ﷺ اودهغه اُمّت مرحومه ته ددرو خصوصی انعامونو ورکولو زیری ورکړی دی، یوددین مکمّل کولو، دوهم دنعمت پوره کولو، دریم داسلامی شریعت ددی امّت دپاره دمنتخب کولو.

ددین دمکمّل کولو معنی ترجمان القرآن حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ اونورو دابیان کړی ده چی (نن دحق ټول حدونه فرض اواحکام او آداب مکمّل کړل سول اوس په دی کی نه دڅه زیاتولو اواضافه کولو ضرورت پاته دی اونه په کښی دکمی کولوڅه احتمال سته) (روح) دا وجه ده چی تردی وروسته داسلامی شریعت کوم نوی حکم نازل نه سو، یو څو آیتونه تردی وروسته نازل سوی دی چی په دوی کی یادترغیب او ترهیب بیان دی اویادهغو احکامو تاکید دی دکومو ذکر چی مخکی سوی وو.

او دا خبره ددی منافی نه ده چی تراصولو او اجتهاد لاندی امامان مجتهدین دنوی نوی مخ ته راتلونکو واقعاتو اوحالاتو په اړوند دخپل اجتهاد څخه شرعی احکام بیان کړی، ځکه چی قرآن کریم لکه څنګه چی دشرعی احکامو حدونه اوفرآئض اونور بیان کړی دی، دغه ډول داجتهاد اصول هم قرآن کریم مقرر کړی دی، ددی په ذریعه چی کوم احکام ترقیامته پوری رااېستل کیږی، هغه ټول په یوه حیثیت سره دقرآن بیان کړه سوی احکام دی، ځکه چی تردغه اُصولو لاندی دی کوم چی قرآن کریم بیان کړی دی.

لنډه دا ده چی د (دین مکمّل کولو مطلب دحضرت عبدالله ابن عباس ﷺ دتفسیر مطابق دا دی چی، ددین ټول احکام مکمل کړه سول، اوس نه په دی کی دکم زیاتی کولوضرورت پاته دی اونه دمنسوخ کولو اوکمی احتمال) ځکه چی تردی وروسته متصل دوحی سلسله دنبی کریم ﷺ تروفات وروسته قطع کیدونکی وه، اوبغیر دوحی الهی څخه دقرآن یوحکم نه سی منسوخ کیدی، اوکوم چی په ظاهره په

احکامو کې زیاتوب داجتهاد تراُصولو لاندې دفقهاوو مجتهدینو رحمهم الله دطرفه ځخه وسو هغه په حقیقت کې زیاتوب نه دی بلکه دقرآن دحکمونو وضاحت اوبیان دی .

اودنعمت پوره کولو ځخه ، مراد دمسلمانانو غلبه او لوړوالی دی او ددوی دمخالفینو مغلوب کیدل ، اوفتح کیدل دی چې دا دمکې مکرّمې په فتح کیدو او دجاهلیّت درواجونو په خرابولو اوپه دې کال په حج کې دیوه مشرك په نه شریکیدلو سره ښکاره سو ، دلته دقرآن په الفاظو کې دایوه خبره هم دکتلو قابله ده چې ددین سره یې لفظ د اکمال او دنعمت سره یې لفظ د اتمام استعمال کې ، حال دادی چې دادواړه لفظونه په ظاهره په معنی کې یوډول اودیوه اوبل مترادف ګڼل کیږي .

لیکن په حقیقت کې ددې دواړو په مطلب کې یوفرق دی چې په مفردات القرآن کې امام راغب اصفهانی داسې بیان کړی دی چې دیوه شي اکمال اوتکمیل دی ته وایې چې ددغه شي سره کم غرض اومقصودوو ، هغه پوره سو ، اودلفظ داتمام ، معنی دا ده چې اوس بل شي ته ضرورت اوحاجت نه دی پاته ، په دې وجه د ، اکمال دین مطلب داسوچې دالله ﷻ ددین داحکامو اوقانون چې دی دنیاته دلیږلو کوم مقصدوو ، هغه نن پوره کړل سو اود ، نعمت تمام کولو مطلب دا سو چې اوس مسلمانان هیڅ ته محتاجه نه دي ، دوی ته په خپله الله ﷻ غلبه ، قوت اوقدرت ورکې چې ددې په ذریعه به دوی ته دحق دین حکمونه جاري اونافذ کړه سي ، دلته داخبره دفکر قابله ده چې په دې آیت کې یې ددین نسبت مسلمانانوته کړی دی او د نعمت نسبت یې دحق تعالی ﷻ وطرف ته ، وجه دا ده چې ددین ښکاره کیدل دهغو عملونو اوکارونوپه ذریعه کیږي ، کوم چې د اُمّت افرادیې کوي او دنعمت تکمیل بې له کمې واسطې دالله ﷻ دطرفه ځخه دی (ابن القیم ، تفسیر القیم)

ددې تقریر ځخه داهم ښکاره سوه چې نن ددین دمکمّل کیدو دامطلب نه دی چې دتیرو پیغمبرانو دین ناقص وو ، بلکه لکه ځنګه چې په تفسیرِ بحرمحیط کې په حواله دقفال مروزي نقل کړی دی چې دین دهر نبي او رسول دهغه زمانې په اعتبار سره کامل اومکمل وو یعنې په کومه زمانه کې چې په کوم پیغمبر کوم شریعت اودین دالله ﷻ دطرفه ځخه نازل کړه سو ، دهغه زمانې اودهغه قوم په لحاظ سره هغه کامل اومکمّل وو لیکن دالله ﷻ په علم کې داتفصیل دمخکې ځخه ووچې کوم دین ددې زمانې او ددې قوم دپاره مکمل دی ، هغه به دراتلونکې زمانې اوراتلونکو قومونو دپاره مکمل نه وي ، بلکه دابه منسوخ کیږي اوبل دین اوشریعت به نافذ کړه کیږي ، په خلاف داسلامي شریعت ، چې دټولوپه آخر کې نازل سو ، دی دهرطرف ځخه اوپه هرلحاظ کامل اومکمل دی ، نه دی په کمې خاصې زمانې پورې مخصوص دی ، اونه په کمې خاصې ټوټې ، ملك یاقوم پورې ، بلکه ترقیامته دهرې زمانې ، هرې ټوټې اوهرقوم دپاره داشریعت کامل او مکمل دی .

دریم انعام چې یې ددې اُمّتِ مرحومه دپاره په دې آیت کې بیان کړی دی ، هغه دادی چې ددې اُمّت دپاره الله ﷻ داسلام دین منتخب کې چې په هر حیثیت سره کامل اومکمّل دی او په کوم چې دنجات یعنې دعذاب ځخه خلاصون حصر دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

خلاصه دخبری دا ده چی دی آیت داوښوله چی دامّتِ مرحومه دپاره داسلام دین یولوی نعمت دی چی دوی ته بخښل سوی دی اوهمدادین دی چی په هرحیثیت اوجهت سره کامل اومکمّل دی نه به تردی وروسته کوم نوی دین راسی اونه به په دی کی څه کمی یازیاتی وسی داوجه ده چی کله دا آیت نازل سونو عام مسلمانان ددی په اوریدوسره خوشحاله کیدل، لیکن حضرت فاروق ﷺ ژړل ، نبی کریم ﷺ دده څخه دژړا پوښتنه وکړه نوده عرض وکی چی ددی آیت څخه دی طرف ته اشاره معلومیږی چی اوس ستاسی په دی دنیاکی پاته کیدل ډیرکم دی ، ځکه چی دمکمّل کیدوسره درسول دلیږلو ضرورت هم پوره سو، نبی کریم ﷺ دده تصدیق وفرمایی (تفسیر بحرِمحیط وابن کثیر وغیره) لکه چی راتلونکی وخت دا وښووله چی تردی یوازی یواتیا ٨١ ورځی وروسته نبی کریم ﷺ ددی دنیا څخه رُخصت سو .

دآیت په آخرکی د ، فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ تعلق دهغو حیواناتوسره دی ، دکومو دحراموالی بیان چی د آیت په شروع کی راغلی دی، اوددی جملی مطلب یوخاص حالت دعامی قاعدی څخه مستثنٰی کول دی چی که یو سړی ددیری لوږی څخه بی آرامه سی اودمړ کیدو بیره ورته راوړاندی سی، نوپه داسی حالت کی که دی ددغه لوږو ذکرسوو حرامو حیواناتو څخه یوڅه وخوری، نودده دپاره ګناه نه ده، مګرشرط دادی چی نس ډکول اوخوند حاصلول به یی مقصودنه وی، بلکه فقط دومره وخوری چی یوڅه لوږه یی په دفع سی، په آیت کی د: غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِإِثْمٍ دامطلب دی چی په دی خوراك سره دده میلان دګناه وطرف ته نه وی، بلکه یوازی لوږه دفع کول وی .

په آخرکی په ، فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ سره دی ته اشاره ده چی دا حرام سوی شیان دغه وخت هم په خپل ځای حرام دی ، یوازی دده دلوږی په وجه ده ته معاف سوه .

يَسْـَٔلُونَكَ مَاذَآ أُحِلَّ لَهُمْ ۖ قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ ٱلطَّيِّبَٰتُ ۙ وَمَا عَلَّمْتُم مِّنَ ٱلْجَوَارِحِ

پوښتنه کوی ستا څخه چی څه شی د دوی دپاره حلال دی ،ووایه چی تاسی دپاره حلال دی پاك شیان اوکوم چی عادت کړی تاسی ښکاری حیوان

مُكَلِّبِينَ تُعَلِّمُونَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ ٱللَّهُ ۖ فَكُلُوا۟ مِمَّآ أَمْسَكْنَ

په ښکار ورپریښودباندی چی دوی ته ازده کوئ دهغه څخه چی الله ﷻ تاسی ته ازده کړی دی نوخوری دهغه څخه چی ونیسی دوی ،

عَلَيْكُمْ وَٱذْكُرُوا۟ ٱسْمَ ٱللَّهِ عَلَيْهِ ۖ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ④

ستاسی دپاره اودالله نوم اخلئ په دی باندی او بیره کوی دالله څخه بیشکه الله ډیر ژرحساب اخستونکی دی

دآیتونوتړون: په تیرو آیتونو کی دحلالو اوحرامو حیواناتو ذکر وو، په دی آیت کی ددی معاملی په اړوند دیوه سوال جواب ذکردی ځینو صحابه کرامو ﷺ دنبی کریم ﷺ څخه د ښکاری سپی اوباز دښکار کولو دحکم پوښتنه کړی وه ، په دی آیت کی ددی سوال جواب ذکردی .

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسیر: خلګ ستا څخه پوښتنه کوي چې (دسپي اوبازپه ښکار سوو حیواناتوکي) کوم کوم حیوان دهغوی دپاره حلال کړه سوي دي (یعني څومره حلال ښکارچې په ذبح سره حلالیږي نوآیا دسپي اوبازپه ښکارکولو سره دغه ټول حلال وي اوکه په دوی کې یوخاص حیوان حلالیږي یاپه دوی کې مطلقاً یولام حلال نه دي اوکوم چې حلال وي نوآیا د دوی دپاره څه شرط هم سته؟) تاسي (په جواب کې) وواياست چې ستاسي دپاره ټول حلال حیوانان (چې دښکار ترقسم څخه مخکی حلال دي هغه ټول دسپي اوبازپه ذریعه په ښکارکولو سره هم) حلال کړه سوي دي (دادسوال داول جُزء جواب دي، مخ ته دبل جزء جواب دي چې دسپي او باز دښکار دحلالیدو دپاره څه شرآئط دي هغه داچې) کومو ښکاري حیواناتوته (مثلاً سپي باز اونوروته) تاسي (په خاص ډول سره چې بیان یې مخ ته راځي) تعلیم ورکړئ (دایوشرط دي اوتاسي هغه (په ښکارپسي) ورخلاص هم کړي (دادوهم شرط دي) اودوی ته (کم تعلیم ورکول چې لوړذکر سو) په دغه طریقه سره تعلیم ورکړئ کوم چې تاسي ته الله ﷻ (په شریعت کې) تعلیم درکړی دی (هغه طریقه داده چې سپي ته داسي تعلیم ورکړل سي چې هغه ښکار کوي خوخوري یې نه اوبازته داسي تعلیم ورکړل سي چې کله هغه رابولی نوپدستي راځي که څه هم چې په ښکار پسي روان وي دادا‌ول شرط بیان دي) نوداسي ښکاري حیوان چې کم ښکار ستاسي دپاره ونیسي هغه خورئ (دادریم شرط دی چې نښانه یې دتعلیم په طریقه کې بیان سویده، نوکه سپي دا ښکار خوري یاباز په رابللوسره بیرته نه راځي نو دابیي به ګڼل کیږي چې کله داحیوان دده خبره نه مني نو ښکارهم ده ځان ته کړي دی، ده لره یې نه دی کړی) او (کله چې په ښکارپسي دغه ښکاري حیوان ورپریږدي نودهغه حیوان په ورایله کیدو) دالله ﷻ نوم ورباندی اخلی (یعني دایله کولوپه وخت کې بسم الله واياست، داځلورم شرط دي) او (په ټولوکارونوکې) دالله ﷻ څخه بیره کوي (مثلاً دومره په ښکارمه پسي کیږي چې لمونځ اونور کارونه درڅخه پاته سي یادومره حرص مه کوي چې دحلالوالي دشرطونو پوره کولوڅخه پرته دغه حیوان خوري) بیشکه الله ﷻ زرحساب اخیستونکی دی.

معلومات او مسئلې: په دې ذکرسوي سوال اوجواب کې دښکاره سپي باز اونوروپه ذریعه دښکار دحلالیدو دپاره څلور شرطونه ذکرسوي دي، اول داچې سپي یاباز پوه کړل سوي وي اوتعلیم ورلره ورکړل سوي وي اودپوهولو یې دا اُصول مقررکړی دی چې کله تاسي سپي په ښکار پسي ورایله کې نوهغه ښکار نیسي اوتاسي ته یې راوړي، په خپله یې نه خوري، اودباز دپاره یې دا اُصول مقررکړی دی چې کله تاسي دي بیرته راغواړي نودي فوراً راځي که څه هم چې په ښکار پسي روان وي، نوکله چې دا ښکاري حیوان داسي برابرسي نوددي څخه ثابته سوه چې دی کم ښکار کوي داستاسي دپاره کوي دخپل ځان دپاره یې نه کوي اوس به نوددې ښکاري حیوان ښکاربه ستاسي ښکار ګڼل کیږي اوکه کوم وخت دی ددي تعلیم څخه خلاف کاروکړي مثلاً سپي په خپله دخپل ښکارپه خوراك شروع وکړي یاباز ستاسي په راغوښتلو رانسي نواوس دغه ښکار ستاسي ښکار نه سونو په دی وجه ددي خوړل جائزنه دي.

دوهم شرط دا دی چې تاسي پدستي سپي یاباز په خپله اراده سره په ښکار پسي پریږدي، داسي نه چې

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه په خپله په یو ښکارپسی وځغلی او ښکار یی کړی ، په ذکر سوی آیت کی یی ددی شرط بیان په لفظ د ، مکلبین سره کړی دی دالفظ په اصل کی دتکلیب څخه مشتق دی چی اصلی معنی یی سپیو ته تعلیم ورکول دی بیاد عامو ښکاری حیوانانو دپوه کولو په ښکارپسی دورایله کولو دپاره هم استعمالیږی ، دجلالین صاحب دلته د: مکلبین تفسیر په ارسال سره کوی چی معنی یی په ښکارپسی ایله کول دی، اوپه تفسیر قرطبی کی هم داقول نقل سوی دی ۔

دریم شرط دا دی چی ښکاری حیوان ښکارپه خپله نه خوری، بلکه تالره یی راوړی، ددی شرط بیان په: مِمَّا أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ سره سوی دی، څلورم شرط دادی چی کله ښکاری سپی یاباز په ښکارپسی ایله کوی نوبسم الله به وایی، اوورایله کوی به یی، کله چی دا څلور شرطونه پوره سول نوکه ښکارتاسی ته تررا رسیدو مخکی ساه ورکړی وی نوهم حلال دی دذبح کولو ضرورت یی نسته، اوکه داسی نه وی نو بغیر دذبح کولو څخه به تاسی ته حلال نه وی ، دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله په نزد یوپنځم شرط دا هم دی چی دا ښکاری حیوان ښکار زخمی هم کړی ، ددی شرط طرف ته په لفظ د جَوَارِح کی اشاره موجوده ده ۔

مسئله : دا حکم دهغه وحشی حیوان دی چی په خپله قبضه کی نه وی اوکه یو وحشی حیوان په خپل واك کی را وستل سوی وی ، نو هغه بیا بغیر دباقاعده ذبحی څخه نه حلالیږی ۔

دآیت په آخرکی یی دا هدایت هم کړی دی چی ښکار خودحیوان په ذریعه الله جل جلاله حلال کړی دی ، مګرپه ښکارپسی کیدل لمونځ اوضروری شرعی احکام پریښوول جائزنه دی ۔

اَلْيَوْمَ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ ؕ وَطَعَامُ الَّذِيْنَ

نن حلال سول تاسی لره | تول پاك شیان | او داهل کتابو خوراك

أُوْتُوا الْكِتٰبَ حِلٌّ لَّكُمْ ۪ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ ۫ وَالْمُحْصَنٰتُ

تاسی لره حلال دی | اوستاسی خوراك دوی لره حلال دی او حلالی دی تاسی لره

مِنَ الْمُؤْمِنٰتِ وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ

پاکدامنی ښځی مسلمانانی | او پاکدامنی ښځی | دهغو څخه چی ورکړل سوی دی ورته کتاب

قَبْلِكُمْ إِذَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ أُجُوْرَهُنَّ مُحْصِنِيْنَ غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ وَلَا

مخکی ستاسی څخه کله چی ورکړی دوی ته | مهرونه د دوی | په قید کی راوستلو لره | نه مستی لیری کولو لره

مُتَّخِذِيْٓ أَخْدَانٍ ؕ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِالْإِيْمَانِ فَقَدْ حَبِطَ

اونه پټه یاری کوونکی | او څوك چی منکر سو | دایمان څخه | نو ضائع سو محنت دده

عَمَلُهُۥ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝٥ ع

او په آخرت کې به دی د تاوان کوونکو څخه وي.

لنډتفسير: نن (پرتاسي لکه څنګه چې ديني ابدي انعام وسوچې په کامليدو سره ددين مشرف کړل سواست، دغه ډول يو بهتره ابدي دنيوي انعام درباندي هم وسوچې) ستاسي دپاره حلال شيان (چې تردې مخکې حلال کړه سوي وه، دهميشه دپاره) حلال کړل سوه (چې هيڅکله به منسوخ نه سي) اوکومو خلګو ته چې (ترتاسي مخکې آسماني) کتاب ورکړل سوی دی (يعني يهود اونصارا) ددوی ذبيحه (هم تاسي لره حلاله ده او (ددې حلال والي داسي يقيني دی لکه چې) ستاسي ذبيحه دوی لره حلاله ده اوپاکدامني ښځي هم کمي چې مسلماناني وي (تاسي لره حلالي دي) او (لکه څنګه چې د مسلمانو ښځو حلالوالي يقيني دی دغه ډول) پاکدامني ښځي دهغو خلګو څخه هم کوموته چې ترتاسي مخکې کتاب (آسماني) ورکړل سوی دی (تاسي لره حلالي دي) کله چې تاسي دوی ته ددوی مهرونه ورکړئ (يعني مهرورکول که څه هم چې شرط نه دي مګر واجب دي اوذکر سوي ښځي کمي چې حلالي سوي دي نو داسي چې تاسي (دوی) ښځي جوړوئ (يعني په نکاح کې يې راولې چې ددې شرطونه په شريعت کې معلوم دي) نه داسي چې ښکاره بدکاري کوی اونه پټه آشنايي کوی (دا ټول دشريعت احکام دي چې ايمان راوړل درباندي فرض دي) اوکم سړی چې په ايمان (راوړونکوشيانو) سره کفر کوی (يعني دقطعي حلالو دحلالوالي څخه ياد قطعي حرامو دحراموالي څخه انکار وکړي) نو ددا سي سړي (هرنيك) عمل خراب سو اودغه سړی به په آخرت کې بالکل زيان کاره وي (نو حلال حلال او حرام حرام وګڼئ)

معلومات او مسئلي: دسورة مآئدة په اولني آيت کې يې دساتونکو حيوانانو، بزي، غوا، ګامېښي اونورو دحلالوالي بيان کړی وو، په دريم آيت کې دنهو ٩ قسمو حرامو حيوانانو تفصيل دی، مګر ددې تفصيل په اولني جمله کې يې ددې ټول باب خلاصه داسي بيان کړې ده چې په دې سره دحيوانانو دحلالوالي اوحراموالي خاصيّت هم معلوم سو اوددې معيار اواُصول هم، ارشاددی، اَلْيَوْمَ اُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ يعني نن ستاسي دپاره حلال سول ټول پاك شيان دنن څخه مراد هغه ورځ ده په کمه کې چې دا آيت اوتردې مخکې آيتونه نازل سوي دي، يعني دحجة الوداع سنه ١٠ﻫ هجري ورځ دعرفې، مطلب دا دی چې لکه څنګه چې ستاسي دپاره نن ستاسي دين مکمل کړه سو اود الله ﷻ نعمت په تاسي پوره سو، دغه ډول دالله ﷻ پاکيزه شيان چې دمخکې څخه هم ستاسي دپاره حلال وه، دهميشه دپاره حلال مقرر سوه، او ددې دمنسوخ کيدو احتمال ختم سو ځکه چې دوحې سلسله پرختميدو باندي ده، په دې جمله کې دطيباتو دحلاليدو بيان دی، او په يوه بل آيت کې داسي ارشاد دی، يُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبٰٓئِثَ يعني حلالوی ددوی دپاره طيّبات اوحراموي په دوی باندي خبآئث په دې کې دطيبات په مقابله کې يې خبآئث ذکر کړل، ددواړو لفظونو حقيقت يې ښکاره کې، په لُغت کې طيّبات پاك صاف اوخوندناکو شيانو ته ويل کيږي، اوخبائث ددې په مقابله کې خرابو اومردارو شيانو ته ويل کيږي، نو په دې وجه دآيت دی

جملي داوښوولـه چي ښومره شیان پاك صفا، فائده مند اوپاکیزه دی، هغه دانسان دپاره حلال سوه اوکوم چي خراب اودکرکي شیان دی اوضررناك دی هغه حرام کړل سوه، وجه داده چي انسان دنورو حیوانانو په شان نه دی چي ده دژوند مقصدپه دنیاکي خوړل، چیښل، بیده کیدل اوویښیدل ترمرګه پوري محدود دی، دی الله ﷻ دټولو کائناتو مخدوم جوړکړی دی، دیوه خاص مقصد دپاره اودغه لوی مقصد دپاکیزه اخلاقو څخه بغیرنه حاصلیږي، په دی وجه بداخلاقه انسان په حقیقت کي دانسان ورته ویلو لائق نه دی.

نو ځکه قرآن کریم دداسي خلګو په باره کي فرمایي: بَلْ هُمْ اَضَلُّ یعني دوی ترحیوانانوهم زیات ګمراه دی اوکله چي دانسان دانسانیت مدار داخلاقو پراصلاح باندي دی، نوضروري ده چي ښومره شیان دانسان داخلاقو ګنده کوونکي اوخرابوونکي دی، ددي څخه دده مکمل پرهیز په کار دی، دانسان په اخلاقو باندي دده دماحول دشیانو اودده دټولني تاثیر کیدل هر سړی پیژني، نوکله چي دماحول شیان دانسان پراخلاقو تاثیر اچوي نوکوم شي چي دده دبدن جُزء جوړیږي، دهغه څخه به دده اخلاق ښومره متاثره کیږي، په دی وجه دخوراك اوڅیښاك په ټولو شیانوکي ددي احتیاط لازمي سو، دغلا، ډاکي، رشوت، سُود، څُمار اونورو حرامو لارو څخه دراتلونکي رزق څخه چي دڅابدن جوړیږي هغه به په لازمي ډول سره دانسانیت څخه لیري اوشیطانت ته نژدي وي، په دی وجه دقرآن کریم ارشاد دی، یٰاَیُّهَا الرُّسُلُ کُلُوْا مِنَ الطَّیِّبٰتِ وَاعْمَلُوْا صَالِحًا په حلال خوراك سره دنیك عمل کولو حکم ورکړل سوی دی، ځکه چي دحلال خوراك څخه پرته دنیك عمل هیڅکله تصوّر نه سی کیدی.

اوخاص بیاغوښه چي دانسان دبدن مهم جزء جوړیږي، په دی کي ددي احتیاط ترټولو زیات ضروري دی چي کومه داسي غوښه دده په خوراك کي داخله نه سي چي دده اخلاق خراب کړي، دغه ډول هغه غوښه چي په جسماني ډول سره دانسان دپاره ضررمنه وي چي دناجوړی او هلاکت جراثیم په کښي دی ددي څخه دانسان پرهیز کیدل خوهر سړی پیژني، ښومره شیانوته چي شریعت خبائث ویلي دی هغه په یقیني ډول سره دانسان دجسم یادروح یاددواړو خرابوونکي اودانسان دروح یااخلاقو تباه کوونکي دی، په دی وجه یي داحرام کړل، ددی په مقابله کي په طیباتوسره دانسان دجسم اوروح تربیت اودښو اخلاقو پروښت کیږي، دایي حلال کړل، مقصد دا دی چي د قرآن کریم جملي، اُحِلَّ لَکُمُ الطَّیِّبٰتُ دحلالو اوحرامو فلسفه هم وښووله او ددی اُصول یی هم وښوول.

اوس دا خبره چي کم شیان طیّبات یعني پاك صفا، فائده مند اوخوندناك دی، اوکوم خبائث یعني مردار، مُضر اودکرکي دی، ددی اصلی فیصله دروغ اوسلیم طبیعت پرمینه اونفرت باندي ده، داوجه ده چي کم حیوانان اسلام حرام کړي دی، دهري زماني سلیم طبع انسان دا مردار اودنفرت لائق ګڼلي دی، لکه مردار حیوان، وینه، البته ځیني وخت جاهلانه رواجونه پر طبیعت باندي غالب راسي، نودښو اوبدو فرق ورك سي یادځینو شیانوخبیث والي پټ وي نوپه داسي معاملوکي دانبیاوو علیهم السلام فیصله دټولو دپاره دلیل دی، ځکه چي په انساني افرادوکي ترټولو زیات سالم طبیعته انسانان انبیاء علیهم السلام

Maktaba Tul Ishaat.com

دی چی دوی لره الله ﷻ په خاص ډول سره فطرتِ سلیمه ورکړی دی او په خپله یی ورلره تربیت ورکړی دی او څلورپه څلور (شا وخوا) کی یی ورباندی دملائکو پیره لګولی ده چی ددوی زړه اودماغ اواخلاق دکوم غلط چاپیریال څخه نه متاثره کیږی، دوی چی کومو شیانوته خبآئث ویلی دی، هغه په حقیقت کی خبآئث دی اوکوموته چی یی طیّبات ویلی دی، هغه په حقیقت کی طیّبات دی.

لکه چی دحضرت نوح ﷺ دزمانی څخه ترمبارکی زمانی پوری دخاتم الانبیآء علیهم السلام هر پیغمبر دمردار حیوان او خنزیر اونورو دحراملو په خپل خپل وخت کی اعلان فرمایلی دی، ددی څخه معلومه سوه چی داشیان داسی خبآئث دی چی دهری زمانی سلیم طبع حضراتو دوی مردار اومُضر ګڼلی دی.

حضرت شاه ولیّ الله په حُجّة الله البالغة کی فرمایلی دی چی څومره حیوانان اسلامی شریعت حرام کړی دی پردی ټولو چی فکروکړل سی نوخلاصه یی تردوو اُصولو لاندی راځی یو داچی یو حیوان دخپل ذات اوطبیعت په لحاظ سره خبیث وی،، دوهم داچی دده ذبح په غلطه طریقه سره وی چی نتیجه به یی داوی چی دی به دذبحی پرځای یعنی دذبح کیدو پر ځای میتة یعنی مردار سی.

دسورةِ مآئدة په دریم آیت کی نه ۹ شیان حرام ښوول سوی دی په دوی کی خنزیر په اول قسم کی داخل دی، پاته اته ۸ قسمونه په دوهم کی، قرآن کریم ، وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبٰٓئِثَ وفرمایل، په اجمالی ډول سره یی دټولو خبیثو حیواناتو دحراموالی حکم وکی او د دوی په تفصیل کی څوشیان قرآن کریم په وضاحت سره بیان کړل ، لکه لَحْمُ الْخِنْزِيْرِ او دَمٍ مَّسْفُوْحٍ او نور، دپاته شیانو بیان یی نبی کریم ﷺ ته وسپاری ، نبی کریم ﷺ دیوه حیوان دخبیث کیدو یوه نښانه دا وښووله چی دیوه قوم چی په ډول دعذاب سره دکوم حیوان پرشکل باندی مسخ اوبدلون سوی وی، نودا نښانه ددی ده چی داحیوان طبعًا خبیث دی نوپر کومو خلګوچی دالله ﷻ غضب نازل سو ددغه حیوان په شکل یی کړل، مثلاً په قرآن کریم کی دی . وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيْرَ یعنی ځینی قومونه یی په مثال دخنزیر اوبیزوګانو په ډول دعذاب مسخ کړی دی، ددی څخه ثابته سوه چی دحیواناتو دادوه قسمونه په طبع سره په خبآئثو کی داخل دی که دا باقاعده ذبح هم کړل سی، خونه حلالیږی اوډیر حیوانان داسی هم دی چی دافعالو اوآثارو څخه ددوی خبیث والی عام طبیعتونه هم محسوس کولی سی ، لکه درنده حیوان چی کار یی دنورو حیواناتو زخمی کول دی او سخت دلی ده یعنی زړونه یی سخت دی.

په دی وجه د نبی کریم ﷺ څخه یوچا دشرمښ په اړوند پوښتنه وکړه چی آیا څوک دی خوړلی سی ؟ دغه ډول ډیر داسی حیوانان دی چی طبیعت یی آزار رسول، شیان تښتول دی، لکه مار، لړم، سمساره، غوماشه، مچمچی، کارګه باز اونور.

په دی وجه نبی، کریم ﷺ دیوی ضابطی په ډول فرمایلی دی چی هریودرنده حیوان چی په غاښونوسره ښکار کوی لکه زمری شرمښ اونور اوپه مارغانو کی هغه حیوان چی په پنجوسره ښکارکوی لکه باز، شکری اونور داټول حرام دی، یا داسی حیوان چی په طبیعت کی یی خساست اوذلت یاپه ګندګی سره ککړکیدل وی لکه مونږک یامردار خور حیوان لکه تپوس اونور، داټول داسی دی چی ددوی څخه هریو

سلیم طبع انسان ته کرکه ورځی او ضرر اونقصان یی معلوم دی هر عادی سلیم طبع انسان په پوهیږی .

لنډه دا ده چی کوم حیوان اسلامی شریعت حرام کړی دی ، په دوی کی یوقسم خوهغه دی چی ذاتی ډول په کښی خباثت پیدا کیږی، دوهم قسم هغه دی چی په خپل ذات کی خبیث نه دی خودحیوانانو دذبحی چی کمه طریقه الله ﷻ مقرره کړی ده ، چی په هغه طریقه سره ذبح نه سی، برابره خبره ده که ګرسره ذبح نه سی مثلاً په غاړه خپه کیدو یاایله کیدو سره مړ سی یاذبح سی، مګر دالله ﷻ دنامه پرځای وربا ندی دبل چاغیردالله ﷻ نوم واخیستل سی یاوربا ندی دهیچاهم نوم وانه خلی اوقصداً دالله ﷻ نوم په وخت دذبحی کی پریږدی نوداذبح هم شرعاًمعتبره نه ده بلکه داسی ده لکه چی بغیردذبحی څخه یی هلاك کړی دلته یوه خبره په خاص ډول سره دفکر کولو قابله ده چی انسان چی څه خوری اوڅیښی دا ټول دالله ﷻ ورکړل سوی نعمتونه دی، مګر دحیوانانو څخه ماسوا دبل شی په خوړلو او پخولو باندی داپابندی نسته چی ، اَللّٰهُ اَکْبَرُ یا بِسْمِ اللهِ دی وربا ندی دخوړلو یاپخولو په وخت کی وویل سی اوددی څخه پرته نه حلالیږی ، تر زیاتو لازیاته خبره دا ده چی دهرشی دخوړلو څیښلو په وخت کی ، بِسْمِ اللهِ ویل مستحب سوی دی او دحیوانانو دذبحی په وخت کی دالله ﷻ نوم اخیستل واجب سوی دی اوقصداً که څوك په دغه وخت کی دالله ﷻ نوم پریږدی ، نوحیوان به مُردار اوحرام سی ، په دی کی حکمت څه دی ؟

چی فکرپه کښی وکړل سی نو فرق ښکاره دی چی دروح لرونکو روحونه په یوه حیثیت سره ټول برابردی، نو په دی وجه دیوه روح لرونکی دپاره بل روح لرونکی فنا کول اوذبح کول، خوړل په ظاهره خوجآئزنه دی پکار، خواوس دچا دپاره چی یی دا جآئزکړی دی نو داپردوی دالله ﷻ یولوی انعام دی، په دی وجه دحیوان دذبح کولوپه وخت کی دالله ﷻ ددی نعمت اقرار او شکر ادا کول ضروری سو، په خلاف دغلی، دانی، میوی اونورو چی ددوی پیدا ٔیښت خاص ددی دپاره دی چی انسان دا فناکړی اوخپل ضرورتونه وربا ندی پوره کړی په دی وجه پردی باندی یوازی بسم الله ویل دمستحبوپه درجه کی سوه واجب اوضروری نه کړل سوه پردی سربیره یوه وجه داهم ده چی دجاهلیّت دزمانی څخه دارواج جاری وو ، چی مشرکانو به دحیوانانو دذبحی په وخت کی دخپلوبتانو نوم اخیستی، اسلامی شریعت ددوی داکافرانه رواج په یوه ښایسته اوبهتره عبادت سره بدل کی، چی دالله ﷻ نوم اخیستل یی ضروری کړل اوددی مشرکانه رواج دختمولوصحیح اومناسب صورت داوو چی دغلط نوم په ځای کوم صحیح نوم منتخب کړل سی،کنی دعا دی سوی رواج اوعادت پریښوول څه آسانه کار نه وو ، تردی ځایه پوری دآیت داولی جُملی تشریح وه .

دوهمه جمله دا ده ، وَطَعَامُ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ حِلٌّ لَّكُمْ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ یعنی داهلِ کتابو خوراك ستاسی دپاره حلال دی اوستاسی خوراك اهلِ کتابو لره حلال دی .

دلته دجمهورو صحابه وو ؓ اوتابعینو رحمهم الله په نزد دخوراك څخه مراد ذبیحه ده، حضرت عبدالله ابن عباس ؓ، ابودرداء ؓ، ابراهیم، قتادة، سدی، ضحاك اومجاهد څخه دانقل دی (روح المعانی، جصاص) څکه چی په نور قسم خوراکونو کی اهلِ کتاب اوبُت پرسته مشرکین ټول برابردی، چی ډوډی، اوړه، دال، میوه، اونورچی دذبح ضرورت په کښی نسته ، دا چی په هره جآئزه طریقه سره ترلاسه سوی

Maktaba Tul Ishaat.com

وی نومسلمان ته ددی خوړل جائزدی او که دمسلمانانو څخه دوی ته ورسیږی نودوی ته حلال دی، په دی وجه ددی جُملی دمضمون خلاصه داسوه چی داهلِ کتابو ذبیحه دمسلمانانو دپاره او دمسلمانانو ذبیحه داهلِ کتابو دپاره حلاله ده.

اوس په دی ځای کی یوخومسئلی دفکر لایقی دی، اوله داچی اهلِ کتاب دقرآن په اصطلاح کی کوم خلګ دی اودکتاب څخه څه مراد دی؟ اوآیا دکتابی کیدو دپاره داهم ضروری ده چی دغه خلګ به په خپل کتاب په صحیح ډول سره ایمان لرونکی اوعمل کوونکی وی؟ په دی کی خودا خبره ښکاره ده چی دکتاب څخه مراد هره یوه لیکل سوی پاڼه نه سی کیدی، هغه کتاب مراد کیدی سی کوم چی دالله ﷻ دطرفه څخه راغلی وی، په دی وجه په اتفاق دامّت دکتاب څخه مراد هغه آسمانی کتاب دی چی دقرآن په تصدیق سره هغه دالله ﷻ کتاب منل سوی وی لکه توراة انجیل زبور، دحضرت موسیٰ ؑ او حضرت ابراهیم ؑ صحیفی اونور، په دی وجه هغه قومونه چی په یوه داسی کتاب ایمان لری اووحی الهی یی ګنی چی په قرآن اوسنت سره هغه یقینی دالله ﷻ کتاب نه وی ثابت نو هغه قومونه په اهلِ کتابو کی نه سی داخلیدی، لکه دمکّی مشرکان، مجوسیان، بُت پرستان، هندوان، بُودایان، آریان، سیکان اونور.

ددی څخه معلومه سوه چی یهود اونصارا چی په تورات اوانجیل ایمان لرونکی دی، دوی دقرآن په اصطلاح کی په اهلِ کتابوکی داخل دی، دریم یوقوم چی هغوی ته صائبین وایی، دهغوی حالات شکمن دی، دکومو حضراتو په نزدچی داخلګ دداؤد ؑ په زبور ایمان لری، هغوی دوی هم په اهلِ کتابوکی شاملوی اودکومو صاحبانو تحقیق چی داوی چی دزبور سره ددوی هیڅ تعلق نسته، دوی دستورو عبادت کوونکی دی، هغوی دوی دبُت پرستو او مجوسیانو سره شریکوی، په هرحال په یقینی ډول سره چی په اتفاق باندی کومو خلګوته اهلِ کتاب ویل کیږی، هغه یهود اونصارادی، نودقرآن کریم ددی حکم حاصل دا سو چی دیهودو اونصاراوو ذبیحه دمسلمانانو دپاره اود مسلمانانو ذبیحه د دوی دپاره حلاله ده، اوس پاته سوه دامعامله چی یهودو اونصاراوته داهلِ کتابو ویلو دپاره آیا داشرط دی چی دوی په صحیح ډول سره په اصلی تورات اوانجیل عمل کوی اوکه دبدل سوی تورات او انجیل تابعداری کوونکی اوعیسیٰ ؑ اوبی بی مریمه ؓ دخدای ﷻ سره شریک جوړوونکی هم په اهلِ کتابو کی داخل دی؟ نودقرآن کریم دبی شمیره وضاحتونو څخه ښکاره ده چی داهلِ کتاب ویلو دپاره یوازی دومره خبره کافی ده چی دوی دیوه آسمانی کتاب قائل وی او ددی دتابعداری کولو دعوه کوی، که څه هم چی په دی تابعداری کولوکی دوی په هرخومره ګمراهیوکی لویدلی وی.

قرآن کریم چی چاته داهلِ کتابو لقب ورکړی دی، دهغوی په باره کی یی داهم ځای پرځای ارشاد فرمایلی دی چی دا خلګ په خپلو آسمانی کتابونوکی ادل بدل کوی، يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهِ اوداهم فرمایی چی یهودو حضرت عزیر ؑ دخدای ﷻ زوی ګڼلی دی او نصاراؤ حضرت عیسیٰ ؑ وَقَالَتِ الْيَهُودُ عُزَيْرٌ ابْنُ اللَّهِ وَقَالَتِ النَّصَارَى الْمَسِيحُ ابْنُ اللَّهِ ددی حالاتو اوصفاتوسره سره قرآن کریم دوی ته اهلِ کتاب ویلی دی، نو معلومه سوه چی یهود اونصارا چی ترڅو پوری یهودیت او نصرانیت بالکل پری نږدی دوی په اهلِ کتابو

Maktaba Tul Ishaat.com

کي داخل دی ، که څه هم چي هرڅومره چي په خرابو عقیدو اوبدو عملونو کي اخته دی
امام جصاص رحمه الله په احکام القرآن کي نقل کوی چي د حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه په خلافت کي دوی ته په عامل یاوالی خط ولیکی اوپوښتنه یی ورڅخه وکړه چي دلته ځیني خلک داسی دی چي تورات وایی او دشنبی د ورځی تعظیم هم دیهودو په شان کوی ، مګر په قیامت د دوی ایمان نسته . دداسی خلګو سره څه معامله کول په کار دی ؟ حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه ورته ولیکل چي دوی داهل کتابو یوه ډله ګڼل په کار دی .

(یوازی په نامه یهودی او نصرانی چي په حقیقت کي دهریان دی په دی کي داخل نه دی)

ن صبا دیورپ په عیسایانو او یهودیانو کی ډیر شمیر دداسی خلګوهم دی چي په مردم شماری کی ځان ته یهودی یانصرانی وایی، مګرپه حقیقت کی دوی دخدای جل جلاله دوجود اودهیڅ مذهب قائل نه دی، نه تورات اوانجیل دخدای جل جلاله کتابونه منی اونه حضرت موسیٰ اوحضرت عیسیٰ علیه السلام دخدای جل جلاله نبیان او پیغمبران منی ، نو دا ښکاره خبره ده چي دغسی سړی دمردم شماری دنامه په وجه داهل کتابو په حکم کی نه سی داخلیدی .
دنصاراو په باره کی کوم چي حضرت علی رضی الله عنه فرمایلی دی چي د دوی ذبیحه حلاله نه ده ، وجه یی ورلره دا ښوولی ده چي دا خلک په نصرانی دین کی بغیر دشرابو چیښلو څخه دبل هیڅ شی قائل نه دی، دحضرت علی رضی الله عنه ارشاد دا دی .

رَوَی ابْنُ الْجَوْزِیْ بِسَنَدِهٖ عَنْ عَلِیٍّ رضی الله عنه قَالَ لَا تَأْکُلُوْا مِنْ ذَبَائِحِ نَصَارٰی بَنِیْ تَغْلِبَ فَاِنَّهُمْ لَمْ یَتَمَسَّکُوْا مِنَ النَّصْرَانِیَّةِ بِشَیْءٍ اِلَّا شُرْبُهُمُ الْخَمْرَ وَرَوَاهُ الشَّافِعِیُّ رحمه الله بِسَنَدٍ صَحِیْحٍ عَنْهُ (تفسیر مظهری ص٣٤ ج٣ سورة مآئدة)

ابن جوزی رحمه الله په صحیح سندسره دحضرت علی رضی الله عنه څخه دا قول نقل کړی دی چي دبنی تغلیب دنصاراو ذبیحه مه خوری ځکه چي دوی دنصرانیّت په مذهب کی دشراب نوشی څخه ماسوا نورهیڅ نه دی اخیستی، امام شافعی رحمه الله هم په صحیح سندسره دا روایت نقل کړی دی ، حضرت علی رضی الله عنه ته دبنی تغلبو په اړوند دامعلومات ورچي دوی بی دینه دی، نصرانیان نه دی، که څه هم چي ځان ته نصرانیان وایی ، په دی وجه یی ددوی دذبیحی څخه منع وکړه دجمهورو صحابه وو رضی الله عنهم اوتابعینو رحمهم الله تحقیق دا ورچي دا هم دعامو نصرانیانو په شان دی ، بالکل ددین څخه منکر نه دی ، په دی وجه یی د دوی ذبیحه هم حلاله مقرره کړه .

وَقَالَ جُمْهُوْرُ الْاَئِمَّةِ اَنَّ ذَبِیْحَةَ کُلِّ نَصْرَانِیٍّ حَلَالٌ سَوَاءٌ کَانَ مِنْ بَنِیْ تَغْلِبَ اَوْ غَیْرِهِمْ وَکَذٰلِكَ الْیَهُوْدُ (تفسیر قرطبی ص ٧٨ ج ٢)

اوجمهور اُمّت وایی چي دنصرانی ذبیحه حلاله ده برابره خبره ده که دبنی تغلبو څخه وی اوکه نوروی ددوی څخه ماسوا ، دغه ډول دهریوه یهودی ذبیحه هم حلاله ده، لنډه دا ده چي دکومو نصرانیانو په اړوند دا خبره په یقینی ډول سره معلومه سی چي دی دخدای جل جلاله وجود نه منی یاحضرت موسیٰ علیه السلام دالله جل جلاله نبی نه منی ، دغه اهل کتابو په حکم کی نه دی .

(داهلِ کتابو دطعام څخه څه مراد دی؟)

دطعام لغوی معنی ده دخوراك شی چی دعربی لُغت په بنآء سره هریو دخوراك شی په کښی داخل دی ، لیکن دجمهور اُمّت په نزد دلته دطعام څخه مراد یوازی داهلِ کتابو ذبیحی غوښه ده. ځکه چی دغوښو څخه ماسوا دخوراك په نورو شیانوکی کوم چی دخوراك دی، په اهلِ کتابو اونورو کفاروکی څه فرق نسته، دخوراك او چیښاك وچ شیان غنم، نخود، وریجی، میوه اونور دهرکافر دلاس دا حلال اوجائز دی، په دی کی دهیچاڅه اختلاف نسته او په کوم خوراك کی چی دانسان دکارکولو څه دخل وی، په دی کی چی کله دکفارو دلوښو اولاسونو دپاکوالی څه یقین نه وی، په دی وجه احتیاط په دی کی دی چی ځان ورڅخه وساتل سی، بی له سخت ضرورت څخه دی یی نه استعمالوی، لیکن په دی کی چی کم حال دمشرکانو ، بُت پرستانو دی هغه داهلِ کتابو هم دی، چی دپلیتی احتمال په دواړو کی برابر دی .

لنډه دا ده چی داهلِ کتابو اونورو کافرانو په خوراك کی چی کوم فرق شرعًا کیدی سی هغه یوازی د دوی په ذبح سوی غوښه کی دی ، په دی وجه په ذکر سوی آیت کی په اتفاق داُمّت داهلِ کتابو دطعام څخه مراد د دوی ذبیحی دی ، دتفسیر امام علامه قرطبی رحمه الله لیکلی دی .

وَالطَّعَامُ اِسْمٌ لِمَا يُؤْكَلُ وَالذَّبَائِحُ مِنْهُ، وَهُوَ هٰهُنَا خَاصٌّ بِالذَّبَائِحِ عِنْدَ كَثِيْرٍ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ بِالتَّأْوِيْلِ، وَأَمَّا مَا حَرَّمَ عَلَيْنَا مِنْ طَعَامِهِمْ فَلَيْسَ بِدَاخِلٍ فِيْ عُمُوْمِ الْخِطَابِ . (قرطبی صـ ۷۷ جـ ۶)

لفظ دطعام هر دخوراك شی ته ویل کیږی چی ذبحی هم په کښی داخلی دی او په دی آیت کی یی دطعام لفظ خاص دذبحی دپاره استعمال کړی دی ، داکثرو عالمانو دتفسیر او تحقیق په نزد، او داهلِ کتابو په طعام کی چی کوم شیان د مسلمانانو دپاره حرام دی هغه په دی عموم کی نه دی داخل .

تردی وروسته امام قرطبی رحمه الله فرمایلی ذی .

وَلاَ خِلاَفَ بَيْنَ الْعُلَمَاءِ أَنَّ مَا لاَ يَحْتَاجُ إِلىٰ ذَكَاةٍ كَالطَّعَامِ الَّذِيْ لاَ مُحَاوَلَةَ فِيْهِ كَالْفَاكِهَةِ وَالْبُرِّ جَائِزٌ أَكْلُهُ ؛ إِذْ لاَ يَضُرُّ فِيْهِ تَمَلُّكُ أَحَدٍ، وَالطَّعَامُ الَّذِيْ تَقَعُ فِيْهِ الْمُحَاوَلَةُ عَلىٰ ضَرْبَيْنِ: أَحَدُهُمَا: مَا فِيْهِ مُحَاوَلَةُ صَنْعَةٍ لاَ تَعَلُّقَ لِلدِّيْنِ بِهَا ؛ كَخُبْزِ الدَّقِيْقِ ، وَعَصْرِ الزَّيْتِ وَنَحْوِهِ، فَهٰذَا إِنْ تُجُنِّبَ مِنَ الذِّمِّيِّ فَعَلىٰ وَجْهِ التَّقَزُّزِ، وَالضَّرْبُ الثَّانِيْ: هِيَ التَّذْكِيَةُ الَّتِيْ ذَكَرْنَا أَنَّهَا هِيَ الَّتِيْ تَحْتَاجُ إِلَى الدِّيْنِ وَالنِّيَّةِ، فَلَمَّا كَانَ الْقِيَاسُ اَنْ لاَّ تَجُوْزَ ذَبَائِحُهُمْ كَمَا نَقُوْلُ إِنَّهُمْ لاَ صَلاَةَ لَهُمْ وَلاَ عِبَادَةَ مَقْبُوْلَةً رَخَّصَ اللّٰهُ تَعَالىٰ فِيْ ذَبَائِحِهِمْ عَلىٰ هٰذِهِ الْأُمَّةِ، وَأَخْرَجَهَا النَّصُّ عَنِ الْقِيَاسِ عَلىٰ مَا ذَكَرْنَاهُ مِنْ قَوْلِ ابْنِ عَبَّاسٍ (قرطبی سورة مآئدة ص ۷۷ ج ۶)

یعنی دعالمانو په مینځ کی په دی کی هیڅ اختلاف نسته چی هغه شیان په کوموکی چی دذبحی ضرورت نسته مثلاً هغه خوراك چی تصرف کول په کښی نه غواړی لکه میوه اوغنم اونور ددی خوړل جائز دی ځکه چی په دی کی دیوچامالك جوړیدل دومره ضررناك نه دی ، البته هغه خوراك چی په هغه کی انسان یو عمل کوی نو دهغه دوه قسمونه دی یوهغه چی یوداسی کارپه کښی کول وی چی ددین سره یی کوم تعلق نه وی لکه داوړوڅخه ډوډۍ جوړول یادزیتون څخه تیل ایستل اونورنو دذمی کافرداسی شیانوڅخه که څوك ځان ساتی نوهغه محضی دطبعی کرکی په بناء به وی اودوهم قسم هغه دی چی دذبحی عمل به په کی کیږی چی ددی دپاره ددین اونیت ضرورت دی نوکه څه هم چی دقیاس تقاضاداوه چی دکافر دلمونځ

اوعبادتونو په شان سره دده عمل دذبحی دی هم قبول نه سی لیکن الله ﷻ ددی اُمّت دپاره په خاص ډول سره د دوی ذبیحی حلالی کړی دی اود حضرت ابن عباس ﷺ نص دامسئله دقیاس خلاف ثابته کړی ده.

لنډه داچی دطعام داهلِ کتابو څخه مراد په دی آیت کی په اتفاق دعلماوو دتفسیر هغه طعام دی چی حلالوالی یی پر مذهب اوعقیده باندی موقوف وی یعنی ذبیحه، په دی وجه په دی طعام کی داهلِ کتابوسره پرفرق معامله وکړل سوه ځکه چی دوی هم دالله ﷻ پرلیږل سووکتابونو اوپیغمبرانو باندی دایمان دعوه کوی ، که څه هم چی ددوی تحریفاتو (ادلون بدلون) دادعوه زخمی کړی (یعنی نقصانی) کړی ده ، تردی چی په شرك اوکفرکی اخته سوی دی ، په خلاف دبت پرستو مشرکانو چی دوی په هیڅ آسمانی کتاب یانبی یارسول دایمان راوړلو دعوه هم نه کوی اوپه کومو کتابونو یاسرپانو چی ددوی ایمان دی، هغه نه دالله ﷻ رالیږل سوی کتابونه دی اونه د دوی رسالت دالله ﷻ دکوم کلام څخه ثابت دی

﴿ داهلِ کتابو په ذبیحه کي دحلالوالي حکمت اووجه ﴾

تربحث دلاندی مسئلی دا دریم سوال دی ، ددی جواب داکثرو صحابه ووﷺ، تابعینو رحمهم الله اودتفسیر دامامانو دطرفه څخه دا دی چی ، په ټولوکفاروکی داهلِ کتابو یهودو اونصاراوو دذبیحی او د دوی دښځوسره دنکاح حلالیدو وجه دا ده چی ددوی په دین کی که څه هم دوی ډیرپه سوونو بدلونونه کړی دی خو په دی دوو مسئلوکی د دوی مذهب هم داسلام سره بالکل مطابق دی یعنی دوی پرذبح باندی دالله ﷻ نوم اخیستل په عقیده سره ضروری ګڼی ، ددی څخه پرته حیوان مردار اوحرام ګڼی .

دغه ډول دنکاح په مسئله کی چی دکومو ښځوسره په اسلام کی نکاح حرامه ده، ددوی په مذهب کی هم حرامه ده اولکه څنګه چی په اسلام کی دنکاح اعلان اودشاهدانو په وړاندی یی تړل ضروری دی، دغه ډول ددوی په موجوده مذهب کی هم داحکمونه دی .

د تفسیرامام ابن کثیر دا قول داکثرو صحابه ووﷺ اوتابعینو رحمهم الله څخه نقل کړی دی دهغه عبارت دادی

(وَطَعَامُ اَهْلِ الْكِتٰبِ) قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ ﷺ وَاَبُوْ اُمَامَةَ وَمُجَاهِدٌ وَسَعِيْدُ بْنُ جُبَيْرٍ وَعِكْرَمَةُ وَعَطَآءٌ وَالْحَسَنُ وَمَكْحُوْلٌ وَاِبْرَاهِيْمُ النَّخْعِيُّ وَالسُّدِّيُّ وَمُقَاتِلُ بْنُ حَيَّانَ يَعْنِيْ ذَبَآئِحُهُمْ حَلَالٌ لِّلْمُسْلِمِيْنَ لِاَنَّهُمْ يَعْتَقِدُوْنَ تَحْرِيْمَ الذَّبْحِ لِغَيْرِ اللهِ وَلَا يَذْكُرُوْنَ عَلٰى ذَبَآئِحِهِمْ اِلَّا اسْمَ اللهِ وَاِنِ اعْتَقَدُوْا فِيْهِ تَعَالٰى مَاهُوَ مُنَزَّهٌ عَنْهُ تَعَالٰى وَتَقَدَّسَ (ابن کثیر مآئدة ص ١٩ ج ٣)

ابن عباس ﷺ ابوامامهﷺ مجاهدﷺ سعیدبن جبیرﷺ عکرمه ﷺ عطآء ﷺ حسن ﷺ مکحول ﷺ ابراهیم نخعی ﷺ سدی ﷺ اومقاتل بن حیان ﷺ داهلِ کتابو دطعام تفسیر د دوی په ذبیحوسره کړی دی او دا مسئله دمسلمانانو دپاره دلته اجماعی ده چی د دوی ذبیحی دمسلمانانو دپاره حلالی دی ځکه چی دوی دغیرالله دپاره ذبح کول حرام ګڼی اوپه خپلی ذبیحی باندی دخدای ﷻ څخه ماسوا دبل چا نوم نه اخلی که څه هم چی دوی دالله ﷻ په باره کی دداسی خبرو عقیده لری دکومو څخه چی الله ﷻ پاك اولوی دی .

دابن کثیر رحمه الله په دی بیان کی خویوه خبره دامعلومه سوه چی ددی ټولو ذکر سوو حضراتو اصحابوﷺ اوتابعینو رحمهم الله په نزد داهل کتابو دطعام څخه د دوی ذبیحی مراد دی او د دوی په حلالوالی دامّت اجماع ده .

دوهمه خبره دامعلومه سوه چی ددی ټولو حضراتو په نزد داهلِ کتابو دذبحی دحلالیدو وجه داده چی

Maktaba Tul Ishaat.com

دیهودو اونصاراوو په مذهب کی ډیر ادلون بدلون سره بیاهم دذبحی مسئله داسلامی شریعت مطابق پاته ده ، چی دغیرالله په نامه ذبح سوی حیوان ته دوی هم حرام وایی ، اوپه ذبح دالله ﷻ نوم اخیستل ضروری گڼی، دابله خبره ده چی دالله ﷻ په شان کی دوی ددری خدایانو دمشرکانه عقیدی قائل سوی دی اوالله ﷻ اومسیح بن مریم ته یو وایی چی قرآن کریم یی په دی الفاظوکی ذکر کړی دی .

لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ .

بیشکه کافران سوه هغه خلک چاچی وویل چی الله خومسیح ابن مریم دی .

ددی خلاصه داسوه چی دذبیحی په اړوند ټول قرآنی آیتونه کوم چی په سورة بقرة اوسورة انعام کی راغلی دی چی دغیرالله په نامه ذبح سوی حیوان هم او هغه حیوان هم چی دالله ﷻ نوم وربانذی نه وی اخیستل سوی ، حرام گڼل سوی دی، دا ټول آیتونه په خپل ځای محکم اوعمل وربانذی کول دی ، دسورة مآئدة آیت په کوم کی چی یی طعام داهلِ کتابو حلال کړی دی ، هغه هم ددغه آیتونو دحکم څخه مخالف نه دی ، ځکه چی داهلِ کتابو دطعام دحلالیدو وجه دا ده چی د دوی په موجوده مذهب کی هم دغیرالله په نامه ذبح سوی حیوان اوهغه حیوان چی دالله ﷻ نوم وربانذی نه وی اخیستل سوی حرام دی، په موجوده زمانه کی چی دتورات اوانجیل کمی نُسخی اوس هم موجودی دی، په هغوی کی هم دذبیحی اونکاح احکام تقریباً هغه دی کوم چی په قرآن کریم اواسلام کی دی ، چی تفصیل به یی ډیر ژر ذکر کړل سی ، البته داکیدی سی چی ځینی جاهلان عوام دخپل مذهب ددی حکم خلاف یوعمل کوی، لکه چی په خپله دمسلمانانوپه جاهلو عواموکی ځینی جاهلانه رواجونه شامل سوی دي،چی هغه ته داسلام مذهب نه ویل کیږی، دنصاراوو دجاهلو عوامو داکړه وړه چی یی ولیدل نوځینو تابعینو حضراتو داوفرمایل چی کله الله ﷻ داهلِ کتابو طعام حلال کی اوالله ن ته معلومه وه چی دوی به دخپلو ذبحوسره کمه معامله کوی، څوك به وربانذی دعزیر یا مسیح نوم اخلی اوڅوك به بغیر دبسم الله څخه ذبح کوی ، نومعلومه سوه چی دمآئدة آیت چی داهلِ کتابو طعام یی په کښی حلال کړی دی، دی آیت داهلِ کتابو دذبح په باره کی دسورة بقری اوسورة انعام په دغو آیتونوکی تخصیص یایوقسم نسخ وفرمایله په کم کی چی دغیر الله په نامه ذبح کولو یابغیر دالله ﷻ دنامه څخه په ذبح کولوسره ذبیحه حرامه مقرره کړی ده دځینو لویو عالمانودخبری څخه معلومیږی چی کومو تابعینو حضراتو داهلِ کتابو بغیر دبسم الله څخه ذبیحه اودغیرالله په نامه ذبیحه حلاله فرمایلی ده، ددوی په نزدهم داهلِ کتابوداصلی مذهب احکام خوداسلام داحکامو څخه مختلف نه دی، لیکن ددوی جاهلانو عوامو داغلطی کړی دی، ددی سره سره بیاهم دی حضراتو جاهلان اهلِ کتاب دعامو اهلِ کتابو دحکم څخه جلا کړل اوذبیحی اونکاح په معامله کی یی ددوی هم هغه حکم مقرر کی، کوم چی د دوی دپلرونو نیکونو او اصلی مذهب والاوودی چی د دوی ذبیحه او د دوی دښځو سره نکاح جائزه ده .

ابن عربی ﷺ په احکام القرآن کی لیکلی دی چی مادخپل أستاد ابوالفتح مقدسی ﷺ څخه سوال وکی چی موجوده نصارا دغیر الله په نامه باندی ذبح کوی، مثلاً دعُزیر یامسیح نوم دذبحی په وخت کی

Maktaba Tul Ishaat.com

اخلی، نو د دوی ذبیحه څنګه حلالیدی سی؟ نو په دی باندی ابو الفتح مقدسی رحمه الله وفرمایل.

هُمْ مِنْ اٰبَآئِهِمْ وَقَدْ جَعَلَهُمُ اللهُ تَعَالٰی تَبَعًا لِمَنْ كَانَ قَبْلَهُمْ مَعَ عِلْمِهِ بِحَالِهِمْ.

د دوی حکم دپلرونو اونیکونو په شان دی (دنن ورځ ددی اهلِ کتابو) داحال الله ﷻ ته معلوم وو، لیکن الله ﷻ دوی دپلرونو، نیکونو تابع کړی دی.

ددی بیان خلاصه دا سوه چی په تیرو مشرانو دامّت کی چی کومو عالمانوضاحبانو داهلِ کتابودداسی ذبحو اجازت ورکړی دی پرکوموچی دالله ﷻ نوم نه وی اخیستل سوی، بلکه دغیرالله نوم ورباندی اخیستل سوی وی، د دوی په نزد هم اصلی مذهب داهلِ کتابودا دی چی داشیان د دوی په مذهب کی هم حرام دی، مګر دی حضراتو غلط کار کوونکی عوام هم په دی حکم کی شامل کړل کوم چی داصلی اهلِ کتابو دی، په دی وجه یی د دوی ذبیحه هم حلاله کړه اوجمهورو صحابه وو رضی الله عنهم اوتابعینو رحمهم الله اومجتهدینو رحمهم الله امامانو په دی نظروکی چی داهلِ کتابو جاهل عوام چی دغیرالله په نامه یابغیردالله ﷻ دنامه څخه ذبح کوی دا داسلامی حکم خلاف خو ده حتی په خپله دنصاراؤ دموجوده مذهب څخه هم خلاف ده په دی وجه د دوی دعمل په احکامو باندی هیڅ اثر نه دی کیدل په کار، دوی دافیصله ورکړه چی ددی خلګو ذبیحه داهلِ کتابوپه طعام کی ګرسره داخله نه ده، په دی وجه ددی دحلالیدو هیڅ وجه نسته اونه ددوی دغلط عمل په وجه سره دقرآن په آیتونوکی دنسخ یادتخصیص قول اختیارول په هیڅ دول صحیح نه دی.

په دی وجه د تفسیر تول امامان، ابن جریر، ابن کثیر، ابوحیان اونورپر دی باندی متفق دی چی دسورة بقرة اوانعام په آیتونوکی څه نسخ نه ده سوی، دادجمهورو، صحابه وو اوتابعینو مذهب دی، لکه چی په حواله دابن کثیر لوړنقل سوی دی اوپه تفسیرِ بحرِ محیط کی په دی لاندی الفاظو سره ذکر دی.

وَذَهَبَ اِلٰى اَنَّ الْكِتَابِیَّ اِذَا لَمْ یَذْكُرِ اللهَ عَلَى الذَّبِیْحَةِ وَذَكَرَ غَیْرَ اللهِ لَمْ تُؤْكَلْ وَبِهٖ قَالَ اَبُو الدَّرْدَآءِ وَعُبَادَةُ بْنِ الصَّامِتِ وَجَمَاعَةٌ مِّنَ الصَّحَابَةِ وَبِهٖ قَالَ اَبُوْ حَنِیْفَةَ وَاَبُوْ یُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ وَزُفَرَ وَمَالِكٌ وَكَرِهَ النَّخَعِیُّ وَالثَّوْرِیُّ اَكْلَ مَا ذُبِحَ وَاُهِلَّ بِهٖ لِغَیْرِ اللهِ (بحرِ محیط ص ۴۳۱ ج ۴)

او د دوی مذهب دا دی چی کتابی که په ذبیحه باندی دالله ﷻ نوم وانه خلی اودالله ﷻ څخه ماسوا بل نوم واخلی نوخوړل یی جآئزنه دی دا قول دی دابودردآء، عباده بن صامت او دصحابه کرامو رضی الله عنهم دیوی ټولی، او دا دابوحنیفه، ابویوسف، محمد، زفر اومالك رحمهم الله مذهب دی، نخعی اوثوری ددی خوړل مکروه ګڼی چی دغیرالله نوم ورباندی اخیستل سوی وی، خلاصه دخبری دا ده چی دصحابه وو رضی الله عنهم اوتابعینو رحمهم الله اودامّت دتیرو مشرانوپه دی کی هیڅ اختلاف نسته چی داهلِ کتابو اصلی مذهب دقرآن دنزول په زمانه کی همداوو، چی په کوم څیوان دغیر الله نوم واخیستل سی یاقصداً ورباندی دالله ﷻ نوم پرینبوول سی، هغه حرام دی، دغه ډول دنکاح په حلالوالی اوحراموالی کی هم داهلِ کتابو اصلی مذهب ترموجوده زمانی پوری په اکثرو شیانوکی داسلامی شریعت مطابق دی، ددی خلاف چی په اهلِ کتابو کی څه لیدل کیږی، هغه دجاهلو عوامو غلطیانی دی ددوی مذهب داسی نه دی، موجوده تورات

او انجیل چی په مختلفوژبوکی چاپ سوی پیدا کیږی، دهغه څخه هم ددی خبری تایید کیږی، دتورات او انجیل قولونه دالاندی وګوری کم چی دبائبل په پخوانی عهدنامه کی دی اودموجوده زمانی دیهودو اونصاراوو دواړو په نزد مسلم (منل سوی) دی، دذبیحی په اړوند د ااحکام دی.

(۱)کوم حیوان چی په خپله مړ سی اوکوم چی درندګان څیری کړی ددی وازګی که په بل یو کارکی استعمالوی نو استعمال یی کړی خو تاسی دا په هیڅ حال کی مه خوری (احباری ۲۴)

(۲)غوښی خو دخپلو ټولو ګاشونو دننه دخپل زړه په رغبت اودخدای دخپل ورکړی برکت موافق ذبح کړی خوړلی سی ، لیکن تاسی وینه بالکل مه خوری (استثناء ۱۲، ۱۵)

(۳) تاسی دبتانو دقربانی دغوښی اووینی اوترغاړی خپه سوی حیوان څخه اودحرام کاری څخه پرهیز کوی (عهدنامه جدید ، کتاب اعمال ۱۵، ۲۹)

(۴)دعیسایانو تر ټولو لوی پیشوا دپولس کرنتهیون په نامه په اولنی خط کی لیکی چی کومه قربانی نور قومونه کوی دشیطانانو دپاره قربانی کوی، نه داچی دخدای دپاره اوزه نه غواړم چی تاسی دشیطانانو شریکان سی ، تاسی دخدای دپیالی او دشیطانانو دپیالی دواړو څخه چیښل نه سی کولی، (کرنتهیون ۱۰، ۲۰، ۲۰)

(۵)په کتاب اعمال حواریین کی دی (مونږ) دا فیصله کړی لیکلی وه چی دوی دی یوازی دبتانو دقربانی دغوښی څخه او د وینی څخه اوترغاړی خپه سوی حیوانانو څخه اودحرام کاری څخه دی خپل ځانونه ساتلی لری (اعمال ۲۱، ۲۵)

دا دتورات اوانجیل هغه وضاحتونه دی چی نن سبا دبآئبل سوسآئټو چاپ کړی دی چی دسوو بدلونونو څخه وروسته بیاهم بعینه دقرآن حکیم داحکامو مطابق داشیان پاته دی ...... دقرآن کریم آیت دا دی.

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ.

په تاسی حرامه سوی ده مرداره اووینه اودخنزیر غوښه اوپه کوم چی دالله ﷻ څخه ماسوا دبل چانوم واخیستل سی اوچی غاړه یی خپه سی اوهغه چی وویشتل سی اومړسی اوهغه چی ولویږی اوکوم چی درنده خوړلی وی ، مګرچی تاسی یی ذبح کړی اوهغه چی دبتانو په نامه ذبح کړل سی .

په دی آیت کی دمرداری، وینی اوخنزیر دغوښو اوپه کوم چی دغیر الله نوم اخیستل سوی وی اودغاړی څخه خپه سوی وی اوپه ګذارسره مړ یاتر لوړځای په لویدلو سره مړ یادښکرونو په وهلوسره مړ اوکوم چی درندګانو څیری کړی وی دټولو دحراموالی حکم دی ، دتورات او انجیل په ذکرسوو بیانونوکی هم دخنزیر دغوښی څخه پرته تقریباً نور ټول حرام سوی دی، یوازی دګذار څخه، دلویدو څخه اودښکرونو دوهلو څخه دمړه سوی حیوان ذکر په کښی نسته لیکن دا ټول تقریباً په خپله مړه او دغاړی په خپه کیدو سره دمړوپه حکم کی داخل دی .

دغه ډول قرآن کریم په ذبح باندی دالله ﷻ دنوم اخیستلو تایید کړی دی كُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ او په کوم

Maktaba Tul Ishaat.com

چی یی دالله ﷻ نوم نه وی اخیستی ، هغه یی حرام کړی دی ، وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللهِ عَلَيْهِ دبآئبل په ذکر سوی عبارت ۲ داستثناء کی هم ددی تاکید معنی موجوده ده ، چی حیوان دالله ﷻ په نامه سره ذبح کوی دغه ډول دنکاح په معاملاتوکی هم داهلِ کتابو مذهب په اکثرو شیانوکی داسلامی شریعت مطابق دی .
وګوری احبار ۱۸، ۱۶ تر ۱۹ پوری چی په دی کی یو اوږد فهرست دمحرماتو ورکړل سوی دی چی په دی کی ډیر هغه دی کوم چی قرآن کریم حرام کړی دی ترڅو چی د دوو خوندو په یوه نکاح کی دجمع کولو حرمت او په حالت دحیض کی دکوروالی حرمت هم ذکر دی ، دارنګه په بآئبل کی ددی هم وضاحت سوی دی چی دبُت پرستو اومشرکو قومونوسره نکاح جائزه نه ده ، دموجوده تورات الفاظ دا دی .
نو ددوی سره کوزده اووا ده مه کوی مه ددوی زامنوته خپلی لونی ورکوی اونه ددوی لونی خپلو زامنوته، ځکه چی دوی زما زامن زما دپیروی څخه اړوی چی دوی دنورو عبادت وکړی (استثناء ۷، ۳، ۴)
خلاصه دخبری دا ده چی په قرآن کی داهلِ کتابو ذبیحی اوددوی دښځوسره نکاح حلاله اودنورو کفارو دذبیحو اوښځو دحرامولو وجه داده چی په دی دواړو مسئلوکی داهلِ کتابو اصلی مذهب ترننه پوری داسلامی قانون مطابق دی اوکوم خلاف چی ددوی په عواموکی لیدل کیږی، هغه دجاهلانو غلطی دی مذهب یی نه دی، په دی وجه دجمهورو صحابه وو ﷺ، تابعینو اومجتهدینو امامانو په نزد دسورة بقرة، انعام اومآئدة په ټولو آیتونوکی تضاد یانسخ اوتخصیص نسته اوکومو عالمانو اوتابعینو چی دغلط کارو عوامو عمل هم تبعًا داهلِ کتابوپه حکم کی شامل کړی دی اوپه آیتونو دبقرة اوانعام کی یی دنسخ یاتخصیص قول اختیار کړی دی، ددی هم بنیاد دادی چی نصارا دکومو قول چی دا دی چی ، اِنَّ اللهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ یعنی الله خو عیسیٰ ابن مریم دی ، داخلګ که دالله ﷻ نوم هم واخلی نو ددی څخه مراد عیسیٰ ابن مریم اخلی ، په دی وجه ددوی په ذبیحه کی دالله نوم اخیستل یا دمسیح نوم اخیستل برابرسوه، په دی بناء باندی حضراتو تابعینو داهلِ کتابوپه ذبیحه کی ددی اجازت ورکړی دی، ابن عربی په احکام القرآن کی ددی بنیاد وضاحت فرمایلی دی (احکام ابن عربی ص ۲۲۹، ج ۱)، لیکن جمهور اُمّت دانه دی قبول کړی لکه چی په حواله دتفسیر ابن کثیر او تفسیر بحرمحیط اوس تیرسوی دی او په تفسیر مظهری کی دمختلفو اقوالو نقل کولو څخه وروسته لیکی .

وَالصَّحِيحُ الْمُخْتَارُ عِنْدَنَا هُوَ الْقَوْلُ الْاَوَّلُ يَعْنِيْ ذَبَائِحُ اَهْلُ الْكِتَابِ تَارِكًا لِلتَّسْمِيَةِ عَامِدًا اَوْعَلٰى غَيْرِ اِسْمِ اللهِ تَعَالٰى لَا يُؤْكَلُ اَنْ عِلْمَ ذٰلِكَ يَقِيْنًا اَوْكَانَ غَالِبُ حَالِهِمْ ذٰلِكَ وَهُوَ مَحْمَلُ النَّهْيِ عَنْ اَكْلِ ذَبَائِحِ نَصَارَى الْعَرَبِ وَمَحْمَلُ قَوْلِ عَلِيٍّ ﷺ لَا تَأْكُلُوْا مِنْ ذَبَائِحِ نَصَارٰى بَنِي تَغْلِبَ فَاِنَّهُمْ لَمْ يَتَمَسَّكُوْا مِنَ النَّصْرَانِيَّةِ بِشَيْءٍ اِلَّا بِشُرْبِهِمُ الْخَمْرَ فَلَعَلَّ عَلِيًّا عَلِمَ مِنْ حَالِهِمْ اَنَّهُمْ لَا يُسَمُّوْنَ اللهَ عِنْدَ الذَّبْحِ اَوْ يَذْبَحُوْنَ عَلٰى غَيْرِ اِسْمِ اللهِ هٰكَذَا حُكْمُ نَصَارَى الْعَجَمِ اِنْ كَانَ عَادَتُهُمُ الذَّبْحَ عَلٰى غَيْرِ اِسْمِ اللهِ تَعَالٰى غَالِبًا لَا يُؤْكَلُ ذَبِيْحَتُهُمْ وَلَا شَكَّ اَنَّ النَّصَارٰى فِيْ هٰذَا الزَّمَانِ لَا يَذْبَحُوْنَ بَلْ يَقْتُلُوْنَ بِالْوَقْذِ غَالِبًا فَلَا يَحِلُّ طَعَامُهُمْ (تفسیر مظهری ص۳۷ ج۳ ....)

او صحیح او مختاره زمونږ په نزد هغه اولنی قول دی یعنی دا چی داهلِ کتابو ذبیحه چی قصداً ورباندی دالله ﷻ نوم پریږدی یادغیر الله په نامه یی ذبح کړی وی هغه حلال نه دی که په یقینی ډول سره ددی علم وسی چی پردی دالله ﷻ نوم نه دی اخیستل سوی یادغیرالله دا ورباندی اخیستل سوی دی یا

Maktaba Tul Ishaat.com

داهلِ کتابو عام عادت داسی ، کومو بزرگانو چی دعربو دنصاراوو دذبیحو څخه منع کړی ده د دوی دقول مقصدهم دا دی ، دغه ډول حضرت علی ﷺ کوم چی داسی فرمایلی دی چی دنصاراوو دبنی تغلب ذبیحه خوړل جائزنه دی، ځکه چی دوی دنصرانیت دمذهب څخه بغیر دشرابو چیښلو څخه نورڅه نه دی اخیستی، ددی محمل هم دغه دی حضرت علی ﷺ ته به داثابته سوی وی چی بنی تغلیب پرخپلو ذبیحو باندی دالله ﷻ نوم نه اخلی، نو دا حکم دعجمی نصاراووهم دی چی که ددوی عادت داسی چی په عام ډول سره دغیرالله په نامه ذبح کوی نوددوی ذبیحه خوړل جائزنه دی اوپه دی کی شك نسته چی نن سبا خونصارا اگرسره ذبح نه کوی بلکه په عام ډول سره یی په ویشتلو هلاکوی په دی وجه ددوی ذبیحه حلاله نه ده، داتفصیلی بحث دلته ځکه نقل کړل سوچی پردی مقام باندی دمصردمشهورعالِم مفتی عبدهٗ څخه سخه غلطی سوی ده چی دهغی دغلطوالی اودکتاب اوسنت اوجمهور اُمّت څخه په خلاف والی کی یی هیڅ شك اوشُبهه نسته، ددی ذکرسوی شخص څخه په تفسیر منار کی دلته دوچنده غلطی سوی ده.

اول خو یی داهلِ کتابو په معنی کی ددنیا کفار مجوسیان ، هندوان، سیکان اونور ټول داخل کړی دی او دا معنی یی دومره عامه کړي ده چی په ټول قرآن کی چی کوم دکفارو اهلِ کتابو اوغیراهلِ کتابو تقسیم اوجلاوالی سوی ، هغه بالکل بی معنی اوبی حقیقته کیږی، اودوهمه غلطی تردی لالویه داسوی ده چی داهلِ کتابو دطعام په معنی کی یی داهلِ کتابو هریو خوراك بی له څه شرطه حلال کړی دی برابره خبره ده که دوی حیوان ذبح کړی اوکه نه اوکه دالله ﷻ نوم په واخلی اوکه نه ، په هرحال دوی چی هرډول حیوان خوری هغه یی دمسلمان دپاره حلال کړی دی.

کله چی دده دافتوی په مصرکی چاپ سوه، دغه وخت په خپله دمصر اوددنیا ټولو لویو عالمانودا غلطه کړه، اوپردی ډیری رسالی اومقالی ولیکل سوی، دمفتی عبدهٗ دفتوی دمنصب څخه دلیری کولو غوښتنی دهرطرف څخه وسوی، بلی خواته دمفتی صاحب شاگردانو اوځینو هغو خلکو چی دمغربی معاشری تاثیر پرسوی وو، بحثونه وچلول، ځکه چی دافتوی ددوی دلاری دټولو مشکلاتو حل وو اودیورپ دیهودو اونصاراوو بلکه ددهریانو هریو خوراك ددوی دپاره حلال سو.

لیکن داسلام داهم معجزه ده چی دشریعت څخه خلاف کار برابره خبره ده که دهرڅومره لوی عالم څخه وسی، خودعامو مسلمانانو زړونه هیڅکله هم په دی سره نه مطمئن کیږی، په دی معامله کی هم داسی وسوه اودټولی دنیا مسلمانانو دی ته گمراهی وویل اوهغه وخت دا معامله سړه پاته سوه، لیکن داوسنی زمانی مُلحدان چی ددوی مقصد یوازی دادی چی داسلام نوی طرز جوړکړه سی اوداروپا اوغربی نړی هره یوه لغوه اوعبث خبره په کښی ځای کړل سی او دنوی ځوانانو نفسانی خواهشات پوره کړی دوی بیادا بحث په نوی شکل کی داسی راوایستی چی گواکی دوی خپل یوتحقیق وړاندی کوی حال دادی چی هغه ټول دمفتی عبدهٗ دذکر سوی مقالی نقل دی، په دی وجه ضروری سوه چی دابحث لږ په تفصیل سره ولیکل سی.

اوس الحمدلله دضرورت مناسب ددی بیان وسو ، اوددی پوره تفصیل زماپه رساله (اسلامی ذبیحه) کی

دی که خوك غواړی هلته یې کتی سی و دی یې گوری .

دوهمه مسئله : دلته دا ده چې د قرآن کریم په دې ارشادکې یوحکم کوم چې دمسلمانانو دپاره بیان سوی دی چې داهلِ کتابو طعام ستاسی دپاره جائزدی، داخو ښکاره خبره ده، مگرددی ددوهم جُزء چې دمسلمانانو خوراك داهلِ کتابو دپاره جائز دی، ددی څه مقصددی ځکه چې اهلِ کتاب کوم چې دقرآنی احکامو قائل نه دی، ددوی دپاره څه حلال اوڅه حرام دی اوددی دبیان څه فائده ده .

په تفسیربحرمحیط اونوروکی ددی په اړوند فرمایی چې په اصل کی داحکم هم مسلمانانو ته ښوونه ده، چې ستاسی ذبیحه ددوی دپاره جائزه ده په دی واسطه سره که تاسی په خپله ذبیحه کی یوچا غیر مسلم کتابی ته خوراك ورکړی نوکومه گناه نسته، یعنی په خپله قربانی کی یوچا کتابی سړی ته څه ورکولای سی، اوکه زمونږ ذبیحه دوی لره حرامه وای نومونږ به لره به جائزنه وای چې مونږپه دوی خوړلای، په دی وجه حکم په ظاهره داهلِ کتابودی، مگر په حقیقت کی ددی مخاطب مسلمانان دی .

اوپه تفسیر روح المعانی کی په حواله دسدی یی ددی جملی یوه بله منشاء ذکر کړی ده، هغه داچی داهلِ کتابو یهودو اونصاراوو په مذهب کی ځینی حلال حیوانان یاددوی څه حصی دسزاپه شکل سره حرامی سوی وی، په دی وجه هغه حیوان یادحیوان هغه حصه داهلِ کتابو په طعام کی په ظاهره داخله نه ده، لیکن دآیت دی جملی وښووله چی کوم حیوان ستاسی دپاره حلال دی که څه هم چی اهلِ کتاب داحلال نه گنی که داهلِ کتابودلاس ذبح سوی پیداسی نوهغه هم دمسلمانانودپاره به حلال گڼل کیږی په وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ کی دی طرف ته اشاره سوی ده پردی تقریر باندی بیاهم ددی جملی تعلق په خپله دمسلمانانوسره سو .

اوپه تفسیر مظهری کی فرمایی چی فائده ددی جملی فرق بیانول دی دذبیحو په معامله کی اودنکاح په معامله کی هغه فرق دا دی چی ذبیحی خو د دواړو طرفوڅخه حلالی دی داهلِ کتابو ذبیحه دمسلمانانو دپاره اود مسلمانانو ذبیحه داهلِ کتابو دپاره، لیکن دښځوپه نکاح کی دامعامله نه ده، داهلِ کتابو ښځی دمسلمانانو دپاره حلالی دی مگر دمسلمانانو ښځی داهلِ کتابو دپاره حلالی نه دی .

دریمه مسئله: دا ده چی که معاذ الله یو مسلمان مرتدسی، یهودی یانصرانی جوړسی، نودی په اهلِ کتابوکی داخل نه دی ، بلکه دی مرتددی، دده ذبیحه په اجماع دامّت سره حرامه ده، دغه ډول کوم مسلمان چی ددین په ضروری اوقطعی احکاموکی دیوشی څخه دانکار په وجه سره مُرتد سوی دی ، که څه هم چی دی دقرآن اودنبی کریم ﷺ دمنلو دعوه هم کوی ، خودی مرتددی، ذبیحه یی حلاله نه ده، یوازی په قرآن ویلو یاپه قرآن دعمل کولوپه دعوه کولوسره دی، په اهلِ کتابوکی نه سی داخلیدی ، البته دیوه بل مذهب اودین سړی که خپل مذهب پریږدی ، یهودی یانصرانی جوړ سی نو دی به په اهلِ کتابوکی شمیرل کیږی او دده ذبیحه به حلاله وی ...... دآیت دریمه جمله دا ده .

وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الْمُؤْمِنٰتِ وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْکِتٰبَ مِنْ قَبْلِکُمْ اِذَآ اٰتَیْتُمُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ مُحْصِنِیْنَ غَیْرَ مُسٰفِحِیْنَ وَلَا مُتَّخِذِیْٓ اَخْدَانٍ

یعنی ستاسی دپاره دمسلمانو پاکدامنو ښځو سره نکاح حلاله ده دغه ډول داهلِ کتابو دپاکدامنو ښځوسره هم نکاح حلاله ده، په دی کی دواړه ځایه د مُحْصَنٰت لفظ راغلی دی چی معنی یی دعربی لُغت

اومحاوری په اعتبار سره دوی کیدی سی یوه آزاده چی په مقابل کی یی مینځه ده دوهم عفیفه او پاکدامنه ښځی ، دلغت په اعتبارسره دلته هم دواړه معنی کیدی سی.

په دی وجه دتفسیرپه عالمانوکی مجاهددلته دمحصنت تفسیرپه حرآئرو(آزادوښځو) سره کړی دی مطلب یی داسوچی داهلِ کتابو آزادی ښځی دمسلمانانو دپاره حلالی دی، مینځی یی حلالی نه دی (مظهری) لیکن دجمهوروعالمانوصحابه وو﷽ اوتابعینوپه نزددلته دمحصنت معنی عفیفی اوپاکدامنی ښځی دی ، اومراددآیت دادی چی لکه څنګه چی دعفیفو اوپاکدامنو مسلمانو ښځو سره نکاح جائز ده دغه رنګه داهلِ کتابو دعفیفو اوپاکدامنو ښځو سره هم تاسی ته نکاح حلاله ده (احکام القرآن للجصاص مظهری)

لیکن په اتفاق دجمهورو باندی دلته دعفیفو اوپاکدامنو ښځو دقید دامعنی نه ده چی دغیر عفیفوسره نکاح حرامه ده ، بلکه ددی قید فائده دښو اومناسبو ښځو وطرف ته ترغیب دی ، چی که دمسلمانو ښځوسره نکاح کوی أوکه داهلِ کتابو سره پرهرحال داخبره په نظرکی ساتل په کار دی چی دپاکدامنی عفیفی ښځی سره دی نکاح کوی ، دبدکارو فاسقو ښځوسره دنکاح تعلق تړل دیوه شریف مسلمان کارنه دی (مظهری اونور)

په دی وجه خلاصه دمضمون ددی جملی داسوه چی دمسلمان دپاره حلال دی چی دیوی مسلمانی ښځی سره نکاح وکړی یاداهلِ کتابو دښځی سره دی نکاح وکړی البته په دواړو صورتونوکی ددی خبری لحاظ ساتل په کاردی چی دعفیفی اوپاکدامنی ښځی سره نکاح وسی، دبدکاری اوبی اعتباری ښځی سره نکاح کول ددین اودنیا دواړو تباهی ده ، ددی څخه ځان ساتل په کار دی ، په دی آیت کی داهلِ کتابو دقید ذکرکولو څخه په اجماع دأمّت سره داخبره ثابته ده چی کوم غیر مسلم په اهلِ کتابوکی داخل نه دی ددوی دښځو سره نکاح حلاله نه ده .

په تیر بیان کی داخبره ښکاره سوه چی په دی زمانه کی چی څومره فرقی اوډلی دغیر مسلمو موجودی دی په دوی کی یوازی یهود اونصارا دوه داسی قومونه دی چی په اهلِ کتابوکی شمیرل کیږی، پاته په موجوده مذهبونوکی یوهم په اهلِ کتابوکی داخل نه دی، آتش پرسته یابُت پرسته هندو یاسیك، آریا، بُودایی اونور ټول په دی عموم کی داخل دی، ځکه چی داخبره بیان سویده چی داهلِ کتابو څخه مراد هغه خلګ دی، کوم چی دیوه داسی کتاب منونکی اودتابعداری دعوه کوونکی وی چی ددغه کتاب دآسمانی کیدو اووحی الهی کیدو ثبوت په قرآن اوسنّت سره ثابت وی اوظاهره ده چی هغه تورات اوانجیل دی، چی ددوی منونکی څه قومونه داوخت په دنیاکی موجوددی، پاته زبور اوصحیفی دحضرت ابراهیم . نه یوځای محفوظی اوموجودی دی اونه یوقوم ددی دتابعداری کولو دعوه کوونکی سته، او (وید) او (ګرنت) یا (زردشت) اونوز کتابونه کم چی په دنیاکی مقدس (سپیڅلی) ګڼل کیږی ددی دوحی الهی کیدو اوآسمانی کیدو څه ثبوت په شرعی دلیل سره نسته، او یوازی دا امکان چی شایدد (زبور) اود حضرت ابراهیم . دصحیفو مسخ سوی هغه صورتونه وی کم ته چی دبدُمت کتاب یا (وید) یا (ګرنت) اونور وایی، دامحضی امکان اواحتمال دی چی دثبوت دپاره کافی نه دی، په دی وجه په اجماع

دامّت سره ثابته سوه چې دموجوده زمانې په مختلفو مذهبونوکې یوازې دیهودو اونصاراوو دښځو سره دمسلمانانو نکاح حلاله ده، دبل هیڅ یوه قوم دښځې سره ترڅوچې مسلمانه سوې نه وي، نکاح ورسره حلاله نه ده حرامه ده، دقرآن کریم آیت: وَلاَ تَنْكِحُوا الْمُشْرِكٰتِ حَتّٰى يُؤْمِنَّ ددې مضمون دپاره راغلې دي چې معنی یې داده چې دمشرکانو ښځو سره تر هغه پورې نکاح مه کوې ترڅوچې دوې مسلمانانې نسي اوداهلِ کتابو څخه ماسوا نورټول قومونه په مشرکانوکې داخل دي.

مقصددا دی چې دقران شریف یوازې دوه آیتونه په دې مسئله کې واردسوي دي، په یوه کې دا دي چې دمشرکو ښځوسره ترهغه وخته پورې نکاح حلاله نه ده، ترڅوچې دوې مسلمانانې نه سي دوهم دا آیت دسورهٔ مآئدة دی چې ددې څخه معلومه سوه چې داهلِ کتابو دښځوسره نکاح جآئزه ده، په دې وجه جمهورو علماوو صحابه وو ﷺ اوتابعینو ﷺ ددواړو آیتونو څخه مطلب دا راوایستی چې په اُصولي ډول دغیر مُسلمې ښځې سره دمسلمان نکاح کول نه دي په کار، لیکن دسورهٔ مآئدة دې آیت داهلِ کتابو ښځې ددې عُموم څخه مستثنٰى کړې دي، په دې وجه دیهودو او نصارا وو دښځو څخه ماسوا دبل کافر قوم دښځې سره بغیر داسلام راوړلو څخه، دمسلمان نکاح نه سي کیدی.

اوس پاته سوه مسئله داهلِ کتابو، یعنې یهودو اونصاراوو دښځو نودځینې صحابه کرامو ﷺ په نزد داهم جآئزنه دي، دحضرت عبدالله ابن عمر ﷺ دامذهب دی، دده څخه چې به چاپوښتنه وکړه نوفرمایل به یې چې دالله ﷻ ارشاد په قرآن کریم کې واضح دی، وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكٰتِ حَتّٰى يُؤْمِنَّ یعنې دمشرکو ښځو سره ترهغه وخته پورې نکاح مه کوې ترڅو چې دوې مسلمانانې نه سي اوماته نه ده معلومه چې تردې لوی شرك به کم وي چې دوې عیسٰی ابن مریم یابل بنده دخدای په خپله خدای وګڼي (احکام القرآن للجصاص)

یووار میمون ابن مهران دحضرت عبدالله ابن عمر ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې مونږپه یوه داسې ملك کې آبادیوچې هلته اهلِ کتاب زیات اوسي نوآیا مونږددوی دښځوسره نکاح کولای سو اوددوی ذبیحې خوړلای سو ؟ حضرت عبدالله ابن عُمر ﷺ ورته په جواب کې دا دواړه آیتونه واورول، یوهغه چې دمشرکانو ښځو سره په کښې نکاح حرامه سوې ده، دوهم دا دسورهٔ مآئدة آیت چې داهلِ کتابو دښځو سره په کښې دحلالوالی بیان دی.

میمون بن مهران وویل چې دادواړه آیتونه خوزه هم په قرآنکریم کې وینم اومعلوم دي راته، زما سوال خودادی چې ددې دواړو آیتونو پربنآء باندې زمادپاره شرعي حکم څه دی ؟ ددې په جواب کې حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ ورته بیا دا دواړه آیتونه وویل او دخپل طرف څخه یې هیڅ ونه ویل چې ددې مطلب دامّت عالمانو دامقررکی چې حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ ته داهلِ کتابو دښځوسره دنکاح په حلالیدو باندې اطمینان نه وو.

اودجمهورو صحابه وو ﷺ اوتابعینو ﷺ په نزد که څه هم چې دقرآن په وجه سره داهلِ کتابو دښځوسره فی نفسه نکاح حلاله ده، لیکن ددوی سره په نکاح کولوکې چې کم نور فسادونه اوخرابي دي، دخپل ځان اودخپل اولاد دپاره بلکه دټول اُمّت اسلامي دپاره په تجربه سره خامخاپیداکیږي ددې خرابیوپربنآء

باندی داهلِ کتابو دښځوسره نکاح دوی هم مکروه ګڼله.
جصاص رحمه الله په احکام القرآن کی دشقیق بن سلمه په روایت سره نقل کړی دی چی حضرت حذیفه بن یمان رضی الله عنه چی کله مدآئن ته ورسیدی نوهلته یی دیوی یهودی ښځی سره نکاح وکړه، حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه په خبر سو نوخط یی ورته ولیکی چی دی ته طلاق ورکه، حضرت حذیفه رضی الله عنه ورته په جواب کی ولیکل چی ولی دازما دپاره حرامه ده، نوبیاورته امیر المؤمنین فاروق اعظم رضی الله عنه په جواب کی ولیکل چی زه ورته حرامه نه وایم لیکن ددی خلګوپه ښځوکی په عام ډول سره عفت اوپاکدامنی نسته په دی وجه زمابیره ده چی هسی نه ستاسی خلګوپه کورنوکی ددوی په وجه فحاشی اوبدکاری داخله نه سی او امام محمّدبن حسن رحمه الله په کتاب الاثارکی داواقعه په روایت دامام ابوحنیفة رحمه الله داسی نقل کړی ده چی په دوهم وارچی کله فاروقِ اعظم رضی الله عنه حضرت حذیفه رضی الله عنه ته خط ولیکی نودهغه الفاظ دا دی.

اَعْزِمُ عَلَيْكَ اَنْ لَا تَضَعَ كِتَابِىْ حَتّٰى تُخَلِّىْ سَبِيْلَهَا فَاِنِّىْ اَخَافُ اَنْ يَّقْتَدِيَكَ الْمُسْلِمُوْنَ فَيَخْتَارُوْا نِسَآءَ اَهْلِ الذِّمَّةِ لِجَمَالِهِنَّ وَكَفٰى بِذٰلِكَ فِتْنَةً لِّنِسَآءِ الْمُسْلِمِيْنَ (کتاب الاثار ص ۱۵۲)

تاته قسم درکوم چی زمادذی خط دخپل لاس ښځه ترایښنولو مخکی دی ته طلاق ورکړه، آزاده یی کړه، ځکه چی زه بیریږم چی نور مسلمانان به هم ستا پیروی وکړی اوذمیانو او کتابیانو ښځوته به ددوی دښایست په وجه سره پر مسلمانانو ښځو باندی ترجیح ورکړی نود مسلمانانو ښځو دپاره به تردی بل لوی مصیبت څه وی؟

ددی واقعی ترنقل کولوځخه وروسته حضرت محمدبن حسن رحمه الله فرمایی چی حنفیان فقهآء دا قول اختیار وی چی دی نکاح ته حرامه خونه وایی لیکن دنورو فسادونو اوخرابیو په وجه سره یی مکروه ګڼی اوعلامه ابن همام رحمه الله په فتح القدیرکی نقل کوی چی په حذیفه رضی الله عنه سربیره طلحه رضی الله عنه اوکعب بن مالك رضی الله عنه ته هم داسی واقعه وریپیښه سوه چی دوی دمآئدة دآیت پربنآء باندی داهلِ کتابو دښځوسره نکاح وکړه نو کله چیورباندی فاروقِ اعظم رضی الله عنه خبرسونوډیرخفه سواودوی ته یی حکم وکی چی طلاق ورکړی(مظهری) دفاروقِ اعظم رضی الله عنه زمانه دخیر القرون زمانه ده چی ددی خبری هیڅکله احتمال نه وو چی یوه یهودی یانصرانی ښځه به دیوه مسلمان ښځه سی اوداسلام اومسلمانانوخلاف به یوسازش اوچم وکړی، هغه وخت خو یوازی دابیره وه چی که چیری په دوی کی بدکاری وی، نوددوی په وجه به زمونږ کورنی ګنده کړل سی یاددوی دښایست په وجه به خلګ دوی خوښوی چی نتیجه به یی داوی چی مسلمانانی ښځی به په تکلیف کی اخته سی، لیکن حضرت فاروقِ اعظم رضی الله عنه چی ډیر لیری نظر کوونکی وو یوازی ددغو فسادونو دمخ نیوی دپاره داحضرات په طلاقو مجبوره کوی، که دا ننی نقشه ددغو حضراتوپه مخکی وای نو اندازه ولګوی چی دوی به ددی په اړوندځه عمل کولی، اول خو دغه خلګ کوم چی نن دمردم شماری په رجسترونوکی دخپل نامه سره یهودی یانصرانی لیکی په دوی کی ډیر هغه خلګ دی چی دخپلی عقیدی په بنآء سره یهودیّت یا نصرانیّت یولعنت ګڼی، نه ددوی پرتورات اوانجیل عقیده ده اونه پرحضرتِ موسیٰ اوحضرتِ عیسیٰ، دوی دعقیدی په اعتبارسره بالکل بی مذهبه اودهریان دی یوازی

په قومي یارواجي ډول باندې خپل ځان ته یهودي یانصراني وایي، ښکاره خبره ده چې دداسې ښځو د مسلمانانو دپاره په هیڅ ډول سره حلالې نه دي اوکه فرض کړې چې دوی دخپل مذهب پابندهم وي نودوی ته په یوه مسلمانه کورنۍ کې ځای ورکول دخپل ټول خاندان دپاره دیني اودنیاوي تباهي ته بلنه ورکول دي، داسلام او مسلمانانو خلاف کم سازشونه اوفریبونه چې ددې لارې څخه په دې آخري دورکې وسول اوکیږي اوددې عبرتناکې ورځې دسترګوپه وړاندې ځې اوراځي چې یوې انجلۍ پوره مسلمان قوم اوحکومت تباه کې، داداسې شیان چې دحلالو اوحرامو څخه قطع نظر یو دعقل خاوندبه هم دې ته دنژدې کیدو دپاره تیار نه سي .

مقصددا دي چې دقرآن اوسنّت اودصحابه وو ﷺ دعمل مطابق په مسلمانانو لازم دي چې دنن ورځې دکتابیانو دښځو دنکاح څخه په مکمّل ډول سره ځانونه وساتي، دآیت په آخرکې یې داښوونه هم کړې ده چې که داهلِ کتابو ښځې دځان سره ساتل غواړي نوباقاعده نکاح ورسره کوئ، دښځې په حیثیت سره یې ساتئ ، د دوی مهر اونور حقونه ورکوئ ، دوی دګوندو په شکل ساتل اوښکاره بدکاري کول، دا ټول شیان حرام دي .

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قُمْتُمْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ فَٱغْسِلُواْ وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى

اې ایماندارو ! هرکله چې تاسې پورته سې لمانځه ته نو مینځئ خپل مخونه اولاسونه خپل تر

ٱلْمَرَافِقِ وَٱمْسَحُواْ بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى ٱلْكَعْبَيْنِ ۚ وَإِن

څنګلو پورې او مسح کړئ خپل سرونه او پښې خپلې تر بجلوکې پورې ، او که

كُنتُمْ جُنُبًا فَٱطَّهَّرُواْ ۚ وَإِن كُنتُم مَّرْضَىٰٓ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوْ

او که تاسې په جنابت کې یاست نو ښه ځان پاک کړئ ، اوکه تاسې مریضان یاست یا په سفر کې یاست ،

جَآءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ ٱلْغَآئِطِ أَوْ لَٰمَسْتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَلَمْ تَجِدُواْ

یا راسې ستاسې څخه څوک دضروري حاجت څخه یا ورسې تاسې ښځو ته نو نه کې پیدا

مَآءً فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدًا طَيِّبًا فَٱمْسَحُواْ بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُم

اوبه نو قصد کوئ دخاورو پاکو او مسح کوئ خپل مخونه ۔ اولاسونه

مِّنْهُ ۚ مَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُم مِّنْ حَرَجٍ وَلَٰكِن يُرِيدُ

په دې سره الله اراده نه لري چې په تاسې تنګي راولي او لیکن اراده لري

Maktaba Tul Ishaat.com

لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ۝٦ وَ

چی تاسی پاك كړی او پوره كړی خپل احسان په تاسی باندی چی تاسی احسان ومنی

اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَمِيثَاقَهُ الَّذِي وَاثَقَكُمْ بِهِ

او یاد كړی احسان دالله په خپل خان او وعده دهغه چی ستاسی سره یی كړی وه،

إِذْ قُلْتُمْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ۖ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۚ إِنَّ اللّٰهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ۝٧

هركله چی تاسی ویلی وو چی مونږ واوریدل او ومنله مونږ او ویریږئ دالله څخه، الله ښه پوه دی دزړونو په خبروباندی

دآیتونو تړون: په تیرو آیتونوكی هغه شرعی احكام ذكر سوی وه چی تعلق یی دانسان ددنیوی ژوند اوخوراك اوچیبناك سره دی اوپه دی آیت كی څوشرعی احكام دعباداتو په اړوند ذكرسوی دی.

لنډتفسیر: ای مؤمنانو! كله چی تاسی لمانځه ته پورته سی (یعنی دلمونځ كولو اراده وكړی اوستاسی دغه وخت اودس نه وی) نو (اودس كوی یعنی) خپل مخان مینځی اوخپل لاسونه ترڅنګلو پوری (مینځی) اوپر خپلو سرونو باندی (لانده) لاسونه راتیروئ اوخپلی پښی هم تربجلكو پوری (مینځی) اوكه تاسی دجنابت په حالت كی یاست نو (ترلمانځه مخكی) ټول بدن پاك كړی اوكه تاسی ناجوړی یاست (اوداوبو استعمال درته ضررمن وی) یاپه حالت دسفركی یاست (اواوبه نه پیدا كیږی لكه چی مخ ته راځی نودادعذر حالت سو) یا (كه دمرض اوسفر عذرهم نه وی بلكه دغسی اودس یاغسل مات سی داسی چی مثلاً) په تاسی كی یوسړی (دتشو بولو یاغټو بولو) دحاجت څخه (فارغ سی) راسی (چی په دی سره اودس ماتیږی) یاتاسی خپلو ښځوته نژدی سئ (چی غسل ورباندی اوړی او) بیا (په دی ټولو صورتونوكی) تاسی ته اوبه (داستعمال دپاره) پیدانه سی (برابره خبره ده كه دضررپه وجه وی یاداوبونه پیداكیدوپه وجه) نو (په دی ټولو حالتونوكی) تاسی په پاكه مځكه سره تیمّم كوئ یعنی خپل مخان اولاسونه مسح كوئ ددی مځكه (په جنس) سره (لاسونه ووهی) الله ﷻ ته (ددی احكاموپه مقررولوسره) دامنظوره نه ده چی پرتاسی كومه تنګی راولی (یعنی دا ورته منظوره ده چی په تاسی كومه تنګی نه وی لكه چی په ذكر سوو احكاموكی خصوصًا اوپه ټولو شرعی احكاموكی عمومًا دآسانی رعایت ښكاره دی) لیكن الله ﷻ ته دا منظوره ده چی تاسی پاك اوصفا كړی (په دی وجه دپاكی قاعدی اوطریقی یی جاری كړی اوپه یوه طریقه یی بس والی ونه كی چی كه دانه وی نوبیابه پاكوالی ممكن نه وو، مثلاً كه یوازی اوبه یی دپاكوالی دپاره خاصی كړی وای نوچی اوبه نه وای ، پاكوالی به نه سوای كیدی ، دا دبدنونو پاكوالی خوخاص داحكامو دطهارت څخه دی، اوطهارت دزړونو په ټولو عبادتونوكی عام دی، نوداپاكوالی دواړوته شامل دی او كه دااحكام نه وای نوهیڅ پاكی به نه حاصلیدی) اودا (ورته منظوره ده) چی په تاسی خپل انعام پوره كړی.

Maktaba Tul Ishaat.com

(په دې وجه یې احکام مکمل کړل چې په هرحال کې پاکوالی بدني او قلبي چې فائده یې رضا او قرب دی چې تر ټولو نعمتونو لوی نعمت دی حاصل کړئ) ددې دپاره چې تاسې (ددې مهربانۍ) شکر اداکړئ (په شکر کې امتثال هم داخل دی) او تاسې خلګ دالله ﷻ انعام چې پر تاسې باندې یې کړی دی، یادکړئ (چې په دې کې لوی انعام دادی چې ستاسې دفلاح طریقې یې ستاسې دپاره رواکړې) او دهغه داعهد هم (یادکړئ) دکم چې ستاسې سره معاهده سوې ده کله چې تاسې (ددې التزام هم کړی وو چې دعهد اخیستو په وخت کې تاسې) ویلي وه چې مونږ (دااحکام) واوریدل او ومومنل (ځکه چې داسلام راوړلو په وخت کې هرسړی ددې خبرې عهد کوي) او دالله ﷻ (دمخالفت) څخه بیریږئ بیشکه الله ﷻ دزړونو په خبرو پوره خبرلری (په دې وجه چې کوم کارکوی نو په اخلاص او عقیده سره یې کوی ، یوازې دمنافقانو په شان داغسې شکل مه جوړوئ، مطلب دا دی چې په دې احکامو کې اول خو ستاسې نفع ده او بیا تاسې هم په خپل ځان لازم کړې دی ، بیا په مخالفت کې یې ضرر په دې وجه سره امتثال (یعنې بعینه هم دغسې کول) ضروري سو او هغه هم په زړه سره یې کول په کار دي ، کنې دا دنه منلو په شان جوړیږي)

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ

ای مؤمنانو ! سی ولاړ دالله ﷻ دپاره شاهدي ورکولو لره

بِالْقِسْطِ ۖ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَىٰ أَلَّا تَعْدِلُوا

په انصاف سره او دچا قوم ددښمنۍ په وجه انصاف مه پریږدی

اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ۖ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ

عدل کوی دا خبره زیاته نژدی ده تقوی ته او وبیریږي دالله څخه الله ښه خبر دی دهغه څه

بِمَا تَعْمَلُونَ ⑧ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ۙ

څخه چې تاسې کوی ، وعده کړې ده الله دایماندارو سره او خوک چې نیک عمل کوی

لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِيمٌ ⑨ وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا

چې دهغوی دپاره بخښنه او لوی ثواب دی ، او کومو خلقو چې کفر وکی او درواغجن یې کړل زمونږ آیتونه

أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ⑩

دغه دی دوږخیان

لنډتفسير: (دبيان القرآن خخه)

اې مؤمنانو! دالله ﷻ د (خوشحاله كيدود) پاره (داحكامو) پوره پابندي كوونكي (اوچي دشاهدي وخت راسي نو) دانصاف شاهدي وركوونكي اوسئ اوديوي خاصي ډلي دښمني دې تاسي دې ته جوړ نه کړي چي تاسي (ددوى په معاملوكي) عدل ونه کړئ (خامخاپه هره معامله کي) عدل كوئ (يعني عدل كول تقوي ته زيات نژدې دي (يعني په دې سره تقوا داره بلل كيدى سي) او (تقوى كول په تاسي فرض دي نو حكم سوى دى چي) دالله ﷻ (دمخالفت) خخه بيره كوى (داحقيقت دى دتقوى، نو عدل چي پرتقوى باندي موقوف دى، هم فرض سو) بيشكه الله ﷻ ستاسي دټولو عملونو خخه پوره خبردى (نوكه داحكامو خخه خلاف كوونكو ته سزا ورسيږي نو ليري نه ده) اوالله ﷻ دداسي خلكوډپاره چي ايمان راوړى او (دوى نيك كاركوي وعده كړيده چي ددوى دپاره مغفرت اولوى ثواب دى اوكومو خلكو چي كفروكي او زمونږ احكام يې درواغجن كړل، داسي خلگ په دوږخ كي اوسيدونكي دي.

معلومات اومسئلي: په ذكر سوو درو آيتونوكي په اول آيت كي چي كوم مضمون بيان سوى دى تقريباً هم په دې الفاظوسره په سورة نسآء كي هم تير سوى دى، فرق يوازې دومره دى چي هلته، كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلّٰهِ بيان سوى وو اودلته كُونُوا قَوَّامِينَ لِلّٰهِ شُهَدَآءَ بِالْقِسْطِ فرمايل سوى دى، په دې دواړو آيتونوكي دالفاظو دمخكي والي او وروسته والي يوه باريكه وجه ابوحيان په تفسيرِ بحرِ محيط كي ذكر كړيده چي دهغې خلاصه دا ده.

انسان دعدل اوانصاف خخه منع كوونكي اوپه زور اوظلم كي اخته كوونكي عادتاً دوه سببونه دي، يو دخپل يادخپلو دوستانو اوخپلوانو طرف داري دوهم ديوچاسره دښمني او عداوت، دسورة نسآء دا آيت دخبرى مخ داول مضمون (سبب) طرف ته دى اودسورة مآئدة ددې آيت دخبرى مخ ددوهم مضمون (سبب) طرف ته دى.

په دې وجه په سورة نسآء كي تردې وروسته ارشاددى: وَلَوْ عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ اَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ يعني پرعدل اوانصاف باندي قآئم اوسئ، كه څه هم ددغه عدل اوانصاف داحكم په خپله ستاسي دنفسونو ياستاسي دمور اوپلار يادخپلوانو دوستانوخلاف هم وي، اودسورة مآئدة په آيت كي تردې جُملي وروسته دا ارشاددى: وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ عَلٰٓى اَلَّا تَعْدِلُوْا يعني ديوه قوم سره دښمني اووراني دې تاسي دې ته تيار نه كړي چي تاسي دانصاف خخه مخالف كار وكړئ، په دې وجه دسورة نسآء ذآيت مطلب داسوچي دعدل اوانصاف په معامله كي دخپل نفس اومور اوپلار اوخپلوانوهم پروا مه كوئ كه دانصاف حكم ددوى خلاف وي نوپرخلاف قآئم اوسئ اودسورة مآئدة دآيت مطلب دا سو چي دعدل اوانصاف په معامله كي ديوه دښمن ددښمنى په وجه سره خطآء راتلل نه دي په كار چي ده ته دنقصان رسولودپاره دانصاف خخه خلاف كار وكړئ.

دا وجه ده چي دسورة نسآء په آيت كي يې، قسط يعني انصاف مخكي كي، ارشاديې وفرمايي، كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلّٰهِ او دسورة مآئدة په آيت كي يې لِلّٰهِ مخكي كي او ارشاد يې وفرمايي، كُونُوا قَوَّامِينَ لِلّٰهِ

Maktaba Tul Ishaat.com

شُهَدَآءَ بِالْقِسْطِ كه څه هم چې دانجام اونتيجې په اعتبار سره دا دواړه عنوانونه يومقصد ادا كوي ، څكه چې كوم سړي په انصاف ولاړوي هغه دالله ﷻ دپاره ولاړوي اوكوم سړي چې دالله ﷻ دپاره ولاړ وي هغه به خامخا انصاف كوي ، ليكن دخپل نفس اودوستانو ، خپلوانو درعايت په مقام كې داخيال راتلې سي چې ددې تعلقاتو ساتنه كول هم دالله ﷻ دپاره ده ، په دې وجه يې هلته لفظ دقسط مخكې راوړي دي طرف ته يې ښوونه وكړه چې دغه رعايت دالله ﷻ دپاره نه سي كيدې كوم چې دعدل اوانصاف څخه خلاف وي ، اوپه سورة مآئدة كې ددښمنانوسره دعدل اوانصاف كولوحكم وركول وو ، نوهلته يې لفظ دالله مخكې راوړي اوانساني فطرت اوجذبات يې دمغلوب كيدو څخه وايستل چې تاسې خلګ دالله ﷻ دپاره ولاړ ياست چې ددې لازمي نتيجه داده چې ددښمنانو سره هم انصاف كوئ ، لنډه دا ده چې دسورة نسآء اومآئدة په دواړو آيتونوكې د دوو شيانو طرف ته ښوونه ده ، يوه دا چې برابره خبره ده معامله ددوستانو سره وي اوكه ددښمنانو سره دعدل اوانصاف په حكم باندې قآئم اوسئ ، نه دكم تعلق په وجه په دې كې كمزوري راتلل په كار دي اونه ديو چاپه دښمنۍ او وراني سره .

دوهمه ښوونه په دې دواړو آيتونوكې داهم ده چې دريښتيني شاهدي اوحقې خبرې دبيانولو څخه ډډه نه دې كول په كار ، ددې دپاره چې فيصله كوونكو ته په حق اوصحيح فيصله كې ګرانوالي ورپيښ نه سي .

قرآن كريم په دې مضمون په ډيرو آيتونوكې په مختلفو عنوانونو سره زور وركړي دي او تاكيد يې كړي دي چې خلګ دې په ريښتيني شاهدي وركولوكې كوتاهي اوسُستي نه كوي په يوه آيت كې ډير په وضاحت سره دا حكم وركوي ، وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ وَمَنْ يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ يعني شاهدي مه پټوئ اوكوم سړي چې يې پټه كړي دده زړه به ګناهګار وي .

چې ددې څخه دريښتيني شاهدي وركول واجب اوپټول يې سخته ګناه ثابته سوه .

ليكن ددې سره قرآن حكيم په دې هم نظر ساتلې دې چې خلګو ته دريښتيني شاهدي وركولوڅخه منع كوونكې شې په اصل كې دادې چې شاهدانوته وار وار په عدالتونوكې حاضري اوفضول قسم وكيلانه جرحوسره مخامخ كيدل وي چې ددې نتيجه داوي چې دچا نوم په شاهدۍ كې راسي ، دې په يوه مصيبت كې اخته سي ، دخپل كاروبار څخه پاته سي اومفت په تكليف كې ولويږي ، په دې وجه قرآن كريم چې يوه طرف ته شاهدي لازمه اوواجبه مقرره كړه ، بل طرف ته يې داهم وفرمايل ، وَلَا يُضَارَّ كَاتِبٌ وَلَا شَهِيدٌ يعني دمعاملو ليكونكو او شاهدانوته دې نقصان نه رسول كيږي .

دنن ورځې دعدالتونو اوپه دې كې دپيش كيدونكو دعوو كه صحيح تحقيق وكړل سي نو معلومه به سي چې دموقعې اوريښتيني شاهدان به ډيركم يوځاى پيدا كيږي ، يوه اوشريف سړي چې كومه داسې واقعه ويني نوتښتي ورڅخه چې هسې نه په شاهدۍ كې مې نوم رانه سي ، پوليس هاخوا اوديخوا دشاهدانو څخه خانه پُرې كوي اونتيجه يې هم دا وي كومه چې شپه او ورځ ليدل كيږي چې په سلوكې دلسويا پنځو دعوو هم په حق اوانصاف سره فيصله نه سي كيدې اوعدالتونه هم مجبور دي ، دوى ته چې څنګه شهادت ورسيږي دوى دهغه په ذريعه يوه نتيجه راباسي اودهغه پربنياد فيصلې كوي .

Maktaba Tul Ishaat.com

لیکن دی بنیادی غلطی ته هیڅوك نه ګوری چی که دشاهدانو سره شریفانه معامله وسی اودوی وار وارنه پریشانه کوی، نوښه نیکان اوربښتینی خلګ به دقرآنی تعلیماتوپه رڼاکی دشاهدی څخه ځانونه نه لیری کوی ، لیکن څه چی کیږی هغه دا دی چی دمعاملی اولنی تحقیق کوم چی پولیس یی کوی هغه ته هم په وار وار راغوښتلو باندی شاهدان دومره پریشانه کړی چی هغوی آئنده هم خپل اولادته لالیکلی ورکوی چی هیڅ ځای هم په کمه معامله کی شاهدان جوړنسی، بیاچی معامله عدالت ته ورسیږی نوهلته بیاډیر تاریخونه لګول کیږی، پرهر تاریخ باندی دی بی ګناه شاهدته دحاضریدو سزا ورکول کیږی، دی اوږدی عدالتی کارروایی کمه چی انګریزانو خپل یادګار پریښی دی، زمونږ ټول عدالتونه اومحکمی رامرداری کړی دی، په پخوانی ساده ډول کوم چی نن هم په حجاز اوځینو نورو ملکونوکی رواج دی، نه دعوی دومره ډیریدی سی اونه پکښی دومره اوږدوالی راځی اونه شاهدانوته شاهدی ورکول مصیبت جوړیږی، لنډه داچی که دشاهدی اوکار روایی طریقی دقرآن دتعلیماتو مطابق سی نوددی برکتونه به نن هم سترګی ووینی، قرآن کریم که یوه طرف ته دواقعی څخه پرخبردارو خلګو ریښتینی شاهدی ورکول لازم اوواجب کړی دی نوبل طرف ته یی خلګوته داسی ښوونی کړی دی چی شاهدان به بی له وجی نه پریشانه کوئ، ترلږ لا په لږوخت کی دی ددوی څخه بیان واخیستل سی اودوی دی فارغ کړه سی .

(دامتحانونو نومری ، اسناد او دانتخاباتو ووټونه دا ټول دشاهدی په حکم کي داخل دی)

په آخرکی یوه مهمه خبره دلته پیژندل ضروری دی هغه داچی دلفظ دشهادت اوشاهدی په اصطلاح کی مشهورسوی دی، هغه یوازی په دعوو اوجګړوکی دحاکم په وړاندی دشاهدی ورکولو دپاره مخصوص ګڼل کیږی لیکن دقرآن اوسنّت په اصطلاح کی لفظ د شهادة تردی زیاته وسیعه معنی لري، مثلاً یوه مریض ته ډاکتری اسنادورکول چی دی دوظیفی اداکولوقابل نه دی یادنوکری کولو قابل نه دی داهم یوه شاهدی ده که په دی کی یی دواقعی څخه خلاف څه ولیکل نو ددرواغوشاهدی اوګناه کبیره (لویه ګناه) ده دغه ډول په امتحانونوکی دطالب علمانو په پرچو باندی نومری لګول هم یوه شاهدی ده که قصداً یاپه بی پروایی سره په نومروکی کمی یازیاتی وکړی نوداهم ددرواغو شاهدی ده اوحرام اوسخته ګناه ده ، کامیابو اوفارغ سوو طالب علمانو ته سند یا سرټفیکیټ ورکول ددی خبری شاهدی ده چی دی ددی اړوندکار اهلیّت او صلاحیّت لری، که دغه سړی په حقیقت کی داسی نه وی، نوپه دی سرټیفیکیټ یاسند باندی دستخط کوونکی ټول د درواغو دشاهدی مجرمان سول .

دغه ډول دپارلمانونو، اسمبلیانو، کونسلونو اونورو په انتخاب کی یوه امیدوار ته ووټ ورکول هم یوه شاهدی ده چی دووټ ورکوونکی دطرفه څخه ددی خبری شاهدی ده چی زما په نزد داسړی دخپل طاقت اوقابلیّت په اعتبارسره هم اود امانت اودینداری په لحاظ سره هم دقوم دنمآئنده جوړیدو قابل دی، اوس فکر وکړی چی زمونږپه دی نمآئنده ګانوکی څومره داسی دی چی دهغوی په حق کی به داشاهدی ریښتینی اوصحیح ثابته سی ؟ مګرزمونږ عوام دی چی هغو دا دګټی اوبایللو یوه لوبه ګڼلی ده، په دی وجه دووټ حق کله په پیسو خرڅیږی اوکله دیوچا تردباو لاندی استعمالیږی اوکله دبی فآئدی دوستانو

اوذلیلو وعدو په اُمید باندی استعمالول کیږی، اونور لاداچی نه تعلیم یافته دینداره مسلمانان هم نااهلو خلګوته دووټ ورکولوپه وخت کی هیڅکله هم دانه ګنی چی مونږدا ددرواغو شاهدی او خان دلعنت اوعذاب مستحق کوو.

نمائنده ګانولره دانتخاب په وخت کی دووټ ورکولو دقرآن په وجه سره یوبل حیثیت هم دی چی شفاعت یاسفارشت ورته ویل کیږی، چی ووټ ورکوونکی ګواکی ددی خبری سفارش کوی چی فلانکی اُمیدوارته دی نمائندګی ورکړل سی، ددی حکم دقرآن شریف په الفاظو کی مخکی بیان سوی دی، ارشاددی، مَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَّكُنْ لَّهٗ نَصِيْبٌ مِّنْهَا وَمَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَّكُنْ لَّهٗ كِفْلٌ مِّنْهَا کوم سړی چی ښه اوربښتینی سفارش کوی نودچاپه حق کی چی یی سفارش کړی دی، دده دنیك عمل حصه به ده ته هم رسیږی اوکوم سړی چی دبیکاره سفارش کوی یعنی دیوه نااهله اوناکاره سړی دکامیابولو کوشش کوی ده ته به دهغه دبدعمل حصه رسیږی، ددی نتیجه داده چی دا اُمیدوار دخپلی کارکردګی په دی پنځه کلیزی دورکی چی هرڅومره غلط کارونه وکړی ددی ټولو ګناه به ووټ ورکوونکی ته هم رسیږی.

دووټ یو دریم شرعی حیثیت دوکالت دی، چی ووټ ورکوونکی دا اُمیدوار دخپلی نمائندګی دپاره وکیل جوړوی، لیکن که داوکالت یوازی هم ددغه سړی په حق پوری اړوند وی اونفع اونقصان یی یوازی دده ذات ته رسیدی، نو ددی به دی په خپله ذمه وار وو، مګر دلته داسی نه ده څکه چی داوکالت په داسی حقونو پوری اړوند دی په کوموکی چی دده سره پوره قوم شریك دی، په دی وجه که یوه نااهله ته یی دخپلی نمائندګی دپاره ووټ ورکی اوکامیاب یی کی نودټول قوم دحقونو دپایمال کولو ګناه هم دده په غاړه سوه.

لنډه دا چی زمونږ ووټ دری حیثیتونه لری، یوشهادت، دوهم شفاعت، دریم په مشترکو حقونوکی وکالت، په درو سرو حیثیتونوکی چی لکه څنګه نیك صالح اوقابل سړی ته ووټ ورکول لوی ثواب دی اوفآئدی یی ده ته رسیږی، دغه ډول نااهله یابی دینه سړی ته ووټ ورکول ددرواغو شاهدی هم ده اوبیکاره سفارش هم دی اوناجآئزه وکالت هم دی، اودهغه تباه کوونکی ګناهونه به دده په عمل نامه کی هم لیکل کیږی.

په دی وجه دهریوه مسلمان ووټ ورکوونکی دافریضه ده چی تروووټ ورکولو مخکی ددی خبری پوره تحقیق وکړی چی چاته دی ووټ ورکوی په هغه کی دکار صلاحیّت سته اوکه نه؟ دینداره دی اوکه نه؟ هسی نه چی بی ضرورته په دی لویه ګناه کی اخته سی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ هَمَّ قَوْمٌ اَنْ يَّبْسُطُوْٓا اِلَيْكُمْ اَيْدِيَهُمْ فَكَفَّ

ای مؤمنانو! یادساتی احسان دالله ﷻ په خپل ځان باندی هرکله چی قصد وکی خلقو چی په تاسی لاسونه وچلوی

اَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۱﴾

بیایی بند کړل تاسی څخه دهغوی لاسونه اوویره کوی دالله څخه، اوپه الله ﷻ په کار دی باور مؤمنانوته

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَقَدْ أَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ بَنِيْٓ إِسْرَآءِيْلَ ۚ وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ

او اخستی دی الله پاک عهد دبنی اسرائلو څخه او مقرر کړی دی مونږ په دوی کی

اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيْبًا ۗ وَقَالَ اللّٰهُ إِنِّيْ مَعَكُمْ ۗ لَئِنْ أَقَمْتُمُ الصَّلٰوةَ

دولس (۱۲) سردارن ، او وویل الله ﷻ زه به ستاسی سره یم ، که تاسی قائم کی لمونځ

وَاٰتَيْتُمُ الزَّكٰوةَ وَاٰمَنْتُمْ بِرُسُلِيْ وَعَزَّرْتُمُوْهُمْ وَأَقْرَضْتُمُ

او ورکوی تاسی زکوٰة او یقین مو را وړی زما په رسولانو او مدد وکی تاسی د دوی او قرض ورکی

اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا لَّأُكَفِّرَنَّ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَلَأُدْخِلَنَّكُمْ

تاسی الله لره قرض ښه نو البته لیری به کړم زه ستاسی څخه ګناه ستاسی او داخل به کړم تاسی

جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ ۚ فَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ مِنْكُمْ

باغونو ته چی بهیږي به لاندی دهغوی څخه ولی بیا څوك چی کافران سوه په تاسی کی ددې څخه وروسته

فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيْلِ ⑫

نو دی بیشکه ګمراه سوه دسیده لاری څخه .

لنډتفسير: (دبيان القرآن څخه)

ای مؤمنانو! دالله ﷻ انعام یادکی چی پرتاسی سوی دی کله چی یو قوم (یعنی کافران دقریشو داسلام په اول کی چی مسلمانان کمزوری وه) په دی فکرکی وو چی پرتاسی (داسی) لاسونه اوږده کړی (چی تاسی ختم کړی) نوالله د دوی واك پرتاسی باندی (دومره) ونه چلوی (اوپه آخرکی یی تاسی غالب کړاست نودانعمت یادکړئ) او (داحکاموپه ادا کولو کی) دالله ﷻ څخه بیره کوی (چی ددی نعمت داشکریه ده) او (آئنده هم) مؤمنانولره په الله ﷻ اعتماد ساتل په کار دی (چاچی داول څخه ستاسی ټول کارونه جوړکړی دی اوآئنده هم تر آخرته پوری أمید ساتی په اتَّقُوا الله سره یی وبیرول اودتوکّل په امرکولو سره یی ورلره أمید ورکی اوهم دادوی خبری دی چی دعمل کولو کومك کوی) اوالله ﷻ د (حضرت موسیٰ ؑ په ذریعه د) بنی اسرآئیلو څخه (هم) عهدا خیستی وو (چی بیان یی نژدی راروان دی) او (ددی وعدو دتاکید دپاره) په دوی کی مونږ (ددوی دقبیلو دشمیر موافق) دوولس ۱۲ سرداران مقررکړل (چی پرهره یوه قبیله یو یو سرداردی چی په خپلو ماتحتانو باندی به همیشه دوعدی پوره کولو تاکیدساتی) او (ددی څخه

ماسوا دعهد دتاکید دپاره دوی ته) الله ﷻ داسی (هم) وفرمایل چی زه ستاسی سره یم (ستاسی دښو اوبدو هرڅه خبرلرم ، مطلب دا دی چی عهد ورڅخه واخیستل سو، بیایی ددی وار وار تاکید وفرمایی او ددی عهد دمضمون خلاصه داوه چی) که تاسی دلمانځه پابندی ساتی اوزکوٰة ورکوئ اوزمایه ټولو رسولانو (چی آئنده به هم نوی نوی راځی) ایمان راوړئ او (ددښمنانو په مقابله کی به) ددوی کومك کوی او (سربیره پرزکوٰة به نورهم دخیر په کارونوکی خرڅ اومصرف کوی) الله ﷻ لره په ښه ډول سره (یعنی په اخلاص سره) قرض ورکوی نو زه به خامخا ستاسی څخه ګناه لیری کړم اوخامخا به تاسی (دجنّت) په باغونوکی داخل کړم چی تر (محلونو) لاندی به یی نهرونه بهیږی اوکوم سړی چی ددی (عهد او وعدی کولو) څخه وروسته هم کفر وکړی نو هغه بیشکه دسیده لاری څخه لیری ولاړی.

معلومات اومسئلي: دسورةِ مآئدة اووم آیت چی مخکی تیرسوی دی ، په دی کی الله ﷻ دمسلمانانو سره دیو عهد او وعدی کولو اومنلو اوتسلیمولو ذکر داسی فرمایلی دی ، وَاذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللهِ عَلَيْكُمْ وَمِيْثَاقَهُ الَّذِيْ وَاثَقَكُمْ بِهٖٓ اِذْ قُلْتُمْ سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا وَاتَّقُوا اللهَ : دامیثاق دالله ﷻ او درسول ﷺ دحکم منلو او دشرعی حکمونو دتابعداری کولو میثاق (عهد) دی چی ددی اصطلاحی عنوان کلمه (لَآ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ) ده، اوهر کلمه ویونکی مسلمان ددی میثاق پابندی، تردی وروسته په آیت کی دمیثاق دځینو مهمودفعو یعنی خاص خاص شرعی احکامو بیان دی ، چی په دی کی ددوست اودښمن ټولودپاره دعدل اوانصاف دقآئمولو اوداقتدار حاصلولو څخه وروسته ددښمنانو څخه دبدل اخیستو پرځای دانصاف اورواداری تعلیم ورکړل سوی دی، دامیثاق په خپله هم دالله ﷻ یولوی انعام دی په دی وجه یی دا په وَاذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللهِ عَلَيْكُمْ: سره شروع کړی دی.

داذکرسوی آیت یی بیاپه دی جملی ، وَاذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللهِ عَلَيْكُمْ سره شروع کی او دا یی وښووله چی مسلمانانو ددی خپل عهد اومیثاق پابندی وکړه نوالله ﷻ دوی لره په دُنیا اوآخرت کی قوت اولو یی درجی ورکړی او د دُښمنانوپه هره یوه مقابله کی یی ددوی کومك وفرمایی اود دښمنانو واك یی په دوی ونه چلوی، په دی آیت کی په خاص ډول ددی ذکردی چی دښمنانو وار وار دنبی کریم ﷺ او دمسلمانانو ورکولو اوقتل کولو پلانونه جوړکړی دی اوتیاریانی یی وکړی لیکن الله ﷻ په ټولوکی نامراده اوتاوانیان کړل ارشاد دی چی ، یو قوم په دی فکر کی وو چی په تاسی لاسونه اوږده کړی لیکن الله تبارك وتعالی د دوی لاسونه ستاسی څخه منع کړل.

په مجموعی حیثیت سره خو داسی واقعات په اسلامی تاریخ کی بی شمیره دی چی د کفاروپلانونه دخدای ﷻ په فضل سره په خاوروکی ګډوډ سوی دی لیکن ځینی خاص خاص مهمی واقعی هم دی چی مفسرینو حضراتو ﷭ ددی آیت مصداق ګرځولی دی، مثلاً په مسندِ عبد الرزاق کی دحضرت جابر﷛ څخه روایت دی چی.

په یوه جهادکی نبی کریم ﷺ اوصحابه کرام ﷡ په یوه منزل اوځای باندی تم سول، صحابه کرام خواره واره په خپلو خپلو ځایونوکی په آرام سول، نبی کریم ﷺ یوازی تریوی درختی لاندی په آرام سو اوخپله وسله

Maktaba Tul Ishaat.com

یې پر یوې درختې باندې وځړوله، په دښمنانوکې یوه کلیوال دغنیمت موقع وګڼله اوپه پټه راغلی دنبی کریم ﷺ په توره یې قبضه وکړه او توره یې وربانديرا ویسته اووی ویل، مَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّي وایه چې اوس به دې زما څخه څوك خلاصوي؟

نبي کریم ﷺ پدستي وفرمایل الله عَزَّ وَجَلَّ کلیوال بیا هغه کمله وویله، مَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّي هغه بیاپه بې فکری سره وفرمایل، الله عَزَّ وَجَلَّ دوه دری واره دغسې خبرې سره وسوې چې غیبي قدرت پرهغه سړي دومره رُعب واچوی چې دی مجبوره سواو توره یې په تیکی کې دننه کړه، دغه وخت نبي کریم ﷺ صحابه ﷺ را وغوښتل او دا واقعه یې ورته بیان کړه، دغه کلیوال لا تراوسه دده ﷺ په څنګ کې ناست وو، ده هغه ته هیڅ هم نه ویل (ابن کثیر) دغه ډول دځینو صحابه وو ﷺ څخه ددې آیت په تفسیرکې نقل دي چې کعب بن اشرف یهودي یووار نبي کریم ﷺ خپل کورته را وغوښتی دده ﷺ دقتلولو پلان یې جوړکړی وو، الله ﷻ ده ﷺ ته وختی لاخبر ورکی اودهغه ټول پلان دخاورو سره ګډوډ سو (ابن کثیر)

او دحضرت مجاهد، عکرمه اونورو څخه نقل دي چې یووار نبي کریم ﷺ په یوه معامله کې دیهودیانو دبني نضير خواته تشریف یوړی هغو نبي کریم ﷺ تریوه دیوال لاندې کښینوئ اوپه خبروکې یې مشغول کړی، اوبلې خواته یې عمروبن جحش ﷺ په دې کارمقررکی چې دشادطرفه څخه دیوال ته وخیژی اویوه لویه ډبره دده ﷺ په سر راوغورځوي الله ﷻ خپل رسول ﷺ د دوی په اراده خبرکی اودی ﷺ پدستي دهغه ځایه څخه ولاړسو (ابن کثیر)

په دې واقعاتوکې څه تضاد نسته داټول دذکر سوی آیت مصداق جوړیدی سي، په ذکر سوي آیت کې دنبي کریم ﷺ او دمسلمانانو دغیبي حفاظت دذکر کولو څخه وروسته فرمایي، وَاتَّقُوا اللهَ وَعَلَى اللهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ: په دې کې یو ارشاد خو دا دی چې داخدایي انعام یوازې په نبي کریم ﷺ پورې خاص نه دی، بلکه ددې نصرت اوکومك اوغیبي حفاظت اصلي سبب تقوىٰ اوتوکّل دی، کوم قوم یافردچې په کومه زمانه اوکوم ځای کې چې دا دوه صفتونه اختیار کړي دهغه به هم دغه ډول دالله ﷻ دطرفه څخه حفاظت اوکومك وي، یوشاعر څنګه ښه ویلي دي:

دبدر په شان فضاء (یعني حالات) پیدا کړه نو اوس هم ستا کومك ته دآسمان څخه په قطارونو کې ملائکي راکښته کیدي سي.

اوداهم کیدی سي چې داجمله دتیر آیت دمجموعي سره ولګول سي په کوم کې چې یې دبیکاره دښمنانو سره دښه سلوك اوعدل اوانصاف احکام ورکړي دي، نوبیابه په دې جُملې کې دې طرف ته اشاره وي چې دداسي سختو دښمنانو سره دښه سلوك اوروا داری تعلیم په ښکاره یوه سیاسي غلطي اودښمنانوته زړه ورکول دي، په دې وجه په دې جمله کې یې مسلمانان په دې باندې پوه کړل چې که تاسي تقوىٰ اختیارکړې اوپه الله ﷻ باورکوونکې سي نوروا داری اوښه سلوك به ستاسي دپاره هیڅکله مُضرنه وي اوپه دې سره به ستاسي دښمنان پرتاسي دزړه ورکیدو پرځای ستاسي ترتاثير لاندې راسي اواسلام ته دننوتلو سبب به یې جوړسي، دغه ډول تقوىٰ اودخدای ﷻ څخه بیره هغه شی ده چې یوانسان دعهد

Maktaba Tul Ishaat.com

اومیثاق پرپابندی کولو باندی مجبوره کوی ، کوم ځای چی تقوٰی یعنی دخدای ﷻ بیره نه وی هلته دعهد اومیثاق هغه حال وی، لکه نن سباچی په عامو خلګو کی لیدل کیږی، په دی وجه په لوړنی آیت کی چی کم دمیثاق ذکردی، هلته یی دآیت په آخرکی: وَاتَّقُوا اللهَ فرمایلی وه، اودلته یی دوباره بیاراوړه، دارنګه په دی پوره آیت کی یی دی طرف ته هم اشاره کړیده چی د مسلمانانوفتح یوازی په ظاهری اسبابو اوسامان باندی نه ده بلکه ددوی داصلی طاقت رازپه تقوٰی اوتوکّل کی دی.

په دی آیت کی دمسلمانانو دعهد اومیثاق اخیستو اوددوی په وعدی پوره کولو باندی ددنیا اوآخرت ددی بی شمیره فآئده مندو نتیجوذکر کولو څخه وروسته دمعاملی دوهم اړخ مخ ته دراوړلو دپاره په دوهم آیت کی دا ښوولی ده چی دا عهد او میثاق اخیستل یوازی دمسلمانانو دپاره مخصوص نه دی بلکه تردوی مخکی دنورو امتونو څخه هم داسی قسم وعدی اخیستل سوی.وی، مګردوی په خپل عهد اومیثاق کی پوره ونه ختل، په دی وجه په دوی قسم قسم عذابونه مسلّط کړل سوه ، ارشاد فرمایی چی الله ﷻ دبنی اسرآئیلو څخه هم یو عهد اخیستی وو او د دوی څخه یی عهد په داسی صورت سره اخیستی وو چی ټول قوم دبنی اسرآئیلو چی پردوولسو خاندانونو باندی مشتمل وو، ددوی دهریوه خاندان څخه یی یویو سردار واخیستی، اودی سردارانو هریوه دخپل خپل خاندان دطرفه څخه داذمه واری قبوله کړه چی زه اوزماټول خاندان به دالله ﷻ ددی میثاق اووعدی پابندی کوو، دغه ډول دی دوولسو سردارانو دبنی اسرآئیلو دټول قوم ذمه واری واخیسته ددوی ذمه واری داوه چی په خپله ددی وعدی پابندی وکړی اوپه خپل خاندان باندی یی هم وکړی، دلته داخبره دیادولو قابله ده چی دعزت اوفضیلت په معامله کی داسلام اُصول خو دا دی چی.

بندۂ عشق شدی ترک نسب کن جامی　　　　که درین راه فلان بن فلان چیزی نیست

یعنی دعاشقانو په ټولی کی دنسب پوښتنه مه کوه ، دلته داخلاقو اوصدق پوښتنه کیږی..

نبی کریم ﷺ دحجّة الوداع په تاریخی خطبه کی په پوره وضاحت سره ددی اعلان کړی او فرمایلی دی چی په اسلام کی دعربی، عجمی، تور، سور، لوی اوکوچنی ذات اونسب هیڅ فرق نسته څوك چی په اسلام کی داخل سودی دټولو مسلمانانو ورور سو، دحسب اونسب، درنګ او ژبی اووطن کوم فرقونه چی په جاهلیّت کی وه ، داټول اسلام مات کړل، لیکن ددی معنی دانه ده چی په انتظامی معاملاتوکی دانتظام قآئم ساتلو دپاره دی هم دخاندانی خصوصیاتو لحاظ نه کول کیږی، دافطری خبره ده، چی دیوه خاندان خلګ دخپل خاندان پرمعلوم سړی باندی ترنورو زیات اعتماد کولی سی اوداسړی ددوی دپوره نفسیاتو څخه دخبرداری په وجه ددوی دجذباتو اوخیالاتو زیات رعایت ساتلای سی، نوددی حکمت او مصلحت پربنآء باندی دبنی اسرآئیلو ددوولسو خاندانونو څخه چی کله عهد اخیستل کیدی نو دهریوه خاندان څخه یی یو یو سردار ذمه وارکی.

او ددی انتظامی مصلحت اواطمینان رعایت په هغه وخت کی هم وساتل سو کوم وخت چی دبنی اسرآئیلو قوم داوبونه پیداکیدو په وجه په سخته پریشانی کی وو حضرت موسٰی ؑ دعا وکړه اودالله

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷺ په حکم باندې ده خپله لکړه پریوه ډبره ووهله نو الله ﷻ ددغې ډبرې څخه دوولس چینې ددوولسو ۱۲ خاندانونو دپاره جلا جلا جارې کړې .
په سورة اعراف کې قرآن کریم دالله ﷻ ددې لوی احسان ذکر داسې فرمایلی دی .
وَقَطَّعْنٰهُمُ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ اَسْبَاطًا اُمَمًا – او – فَانْۢبَجَسَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا .
یعنې مونږ تقسیم کړې وه د دوی دوولس خاندانونه په دوولسو ډلوکې او بیا راووتې دوولس چینې (دهر یوه خاندان دپاره جلا جلا) اودا د دوولسو عدد هم څه عجبه خصوصیّت اومقبولیّت لرې .
کوم وخت چې دمدینې انصار نبی کریم ﷺ ته راغلل دمدینې دتللو دعوت یې ورکوی اوده ﷺ ورځنه دبیعت په ذریعه معاهده واخیسته نوپه دې معاهده کې هم دانصارو دوولسو ۱۲ سردارانو ذمه واری واخیسته اودنبی کریم ﷺ پرلاسو مبارکو یې بیعت کړې وو، په دوی کې درې ۳ سرداران داوس دقبیلې څخه وه اونه ۹ سرداران دقبیلې دخزرج څخه وه (ابن کثیر)
اوپه صحیحینو کې دحضرت جابربن سمرة ﷺ څخه روایت دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چې دخلګو کار اوانتظام به تر هغه وخته پورې چلیږی ترڅوچې دوولس خلیفه ګان ددوی مشرې کوی، امام ابن کثیر) ددې حدیث دنقل کولو څخه وروسته لیکې چې ددې حدیث دیوه لفظ څخه هم دانه معلومیږی چې دادوولس خلیفه ګان به پرلپسې وی، بلکه ددوی په مینځ کې فاصله کې هم کیدې سې، لکه چې څلور خلیفه ګان حضرت صدیق اکبرﷺ، فاروق اعظمﷺ، عثمانﷺ، علیﷺ پرلپسې دی اوپه مینځ کې یوڅه موده وروسته حضرت عمربن عبدالعزیز ﷺ په اجماع دامّت سره پنځم خلیفه برحق منل سوی دی .
خلاصه دخبرې دا ده چې دبنی اسرآئیلو څخه دمعاهدې اخیستو دپاره الله ﷻ د دوی د دوولسو خاندانونو څخه دوولس سرداران ذمه وار مقررکړل اودوی ته یې وفرمایل ، اِنِّیْ مَعَکُمْ یعنې زه ستاسې سره یم، مطلب دادې چې که تاسې دمیثاق (وعدې اوقول) پابندی وکړه اوپرنورو خلګو موهم دپابندی کولو قصدوکی نوزما کومك اونصرت به ستاسې سره وی، تردې وروسته په ذکر سوی آیت کې ددې میثاق دځو مهمو دفعو (حکمونو) اودبنی اسرآئیلو دوعدې ماتولو اوپردوی دالله ﷻ دعذاب ذکر دی .
دمیثاق (وعدې اوقول) دحکمونو ذکر کولو څخه مخکې یې یوه داجمله وفرمایله چې اِنِّیْ مَعَکُمْ په دې کې دوی خبری ښوول سوی دی، یوه داچې که تاسې پرمیثاق قآئم پاته سواست نوزما کومك به ستاسې سره وی اوتاسې به پرهرقدم داوینئ، دوهم داچې الله ﷻ هروخت اوهرځای ستاسې سره دی اوددې میثاق نګرانی اومشری کوی ستاسې هیڅ قصد اواراده اوفکر اوخیال یاحرکت اوعمل دده دعلم څخه دباندې نه دی، هغه ستاسې دپټو رازونو څخه هم خبردی اواوری اوستاسې دزړونو دارادو څخه هم خبردی، که دوعدې خلاف ورزی مو وکړه، نوپه هیڅ ډول دهغه دنیولو څخه نسئ خلاصیدی، تردې وروسته دمیثاق په دفعوکې ترټولو مخکې د: اَقَامَت الصَّلٰوة ذکردی ، اوبیا دادا کولو دزکوٰة ، ددې څخه معلومه سوه چې دلمانځه اوزکوٰة فرض والی تراسلام مخکې دحضرت موسی ﷺ په قوم باندې هم وو او دنورو قرآنی اشارو او روایتونو څخه ثابتیږی چې دافرآئض یوازې په بنی اسرآئیلو پورې خاص نه

Maktaba Tul Ishaat.com

دی، بلکه پرهر پیغمبر اوهریوه شریعت کی د همیشه دپاره لازم راغلی دی، دریم نمبر په میثاق کی دادی چی دالله ﷻ په ټولو رسولانو ایمان راوړی او د دوی په مقصد رشد اوهدایت کی ددوی کومك کوئ، یعنی د دین په خپرولو کی ورسره کومك کوی.

په بنی اسرآئیلو کی چی کله ډیر پیغمبران راتلونکی وه ، په دی وجه دوی ته په خصوصیّت سره داخبره وکړل سوه اوکله چی دایمانی خبرو درجه ترعملی کارونو مخکی ده، مګرپه میثاق کی یی عملی کارونه لکه لمونځ اوزکوٰة څکه مخکی کړل چی په دوی باندی فی الحاله عمل کول وو اوراتلونکی پیغمبران خوبه وروسته راځی په دوی ایمان راوړل اود دوی دکومك کولو موقع وروسته راتلونکی ده، په دی وجه یی دا وروسته بیان کړل.

څلورم نمبرپه میثاق کی دا دی چی ، اَقْرَضْتُمُ اللهَ قَرْضًا حَسَنًا یعنی تاسی الله ﷻ ته قرض ورکړی ، ښه ډول قرض ، دښه قرض مطلب دادی چی په اخلاص سره وی، کوم دنیوی غرض په دی کی شامل نه وی اودالله ﷻ په لاره کی خپل دخوښی شی خرڅ کړی ، ردّی اوبیکاره شی ورنه کړی په دی کی یی دالله ﷻ په لاره کی دخرڅ کولو څخه په قرض سره څکه تعبیروکی چی دقرض بدله قانونًا اوعُرفًا اواخلاقًا واجب الاداء ګڼل کیږی، دغه ډول چی په دی یقین سره خرڅ کوی چی دالله ﷻ په لاره کی خرڅ سی نوبدله به یی خامخا ورکول کیږی، اودفرض زکوٰة دجلا ذکر کولو څخه وروسته دلته دقرضِ حسنه ذکرکول داښیی چی ددی څخه مراد دزکوٰة څخه پرته نوری صدقی اوخیراتونه دی، ددی څخه داهم معلومه سوه چی مسلمان یوازی په اداکولو سره دټولو ذمه واریو څخه نه سی خلاصیدی ، دزکوٰة څخه پرته نور هم مالی حقونه دانسان په ذمه لازم دی ، که چیری مسجدنه وی نومسجد جوړول اوددینی تعلیم که حکومت انتظام نه کوی نو ددینی تعلیم انتظام هم په مسلمانانو لازم دی، فرق یوازی دومره دی چی زکوٰة فرض عین دی اودافرض کفایه دی.

دفرضِ کفایه معنی دا ده چی دقوم یو څو کسان یا یو جماعت دا ضرورتونه پوره کړی نو دنورو مسلمانانو غاړه خلاصه سی اوکه هیچاهم ونکړل نوټول ګناهګاردی، نن سباچی دینی تعلیم اوددی مدرسی څومره په بی چارګی اوبی کسی کی دی، داهغه خلګ پیژنی چاچی دا مدرسی ددین یومهم خدمت ګڼلی دی اوقآئمی کړی یی دی ، دزکوٰة ادا کولو ترحده پوری څومسلمان پوهیږی چی دازما پرذمه فرض دی او ددی دپیژندو سره سره ډیرکم خلګ داسی دی چی زکوٰة ادا کوی اوپه ادا کوونکوکی هم ډیرکم خلګ دی چی پوره زکوٰة ادا کوی اوکوم چی خال خال پوره اداکوونکی هم دی، نوهغوی بالکل داسی ګڼی چی اوس زمانه آزاده سوه که دمسجد ضرورت ورته رامخ ته سی نودزکوٰة مال ورته پیش کوی اوکه ددینی مدرسی ورته ضرورت رامخکی سی نو یوازی دزکوٰة مال ورته وړاندی کوی، اوحال داچی دادفرض زکوٰة څخه پرته پرمسلمانانو لازم دی اودقرآن کریم دا آیت او ددی په مثال نور ډیر آیتونه دا خبره واضحه کوی.

دمیثاق دمهمو حکمونو دبیانولو څخه وروسته یی داوښوله چی که تاسی دمیثاق پابندی وکړه نو ددی

Maktaba Tul Ishaat.com

جزا به دا وي چې ستاسې تیر ګناهونه به هم معاف کړه سي او په جنت کې به درته دهمیشه راحت
اوعافیت ځای هم درکړل سي، او په آخرکې یې داهم وښوولة چې ددې ټولو واضحو بیانونو اوارشاداتو
څخه وروسته هم که چاکفر اوسرکښي اختیار کړه نوده صفا اوسیده لاره پریښوولة، اودځپله لاسه
دتباهي په کنده کې ولویدی.

فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِّيثَاقَهُمْ لَعَنَّاهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَاسِيَةً ۚ يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَن

نو د دوی دعهد په ماتولو مونږ په دوی لعنت وکی او کړل مونږ د دوی زړونه سخت اړوی کلام

مَّوَاضِعِهِ ۙ وَنَسُوا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوا بِهِ ۚ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ

دځپل ځای څخه اوهیر وی نفع اخستل دهغه څه څخه چې دوی ته وربانده نصیحت سوی دی، او همیشه ته

عَلَىٰ خَائِنَةٍ مِّنْهُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۖ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاصْفَحْ ۚ

خبریږې د دوی په څه خیانت باندې مګر لږ خلق د دوی څخه نو معاف کوه دوی ته او ورتیریږه

إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴿١٣﴾ وَمِنَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّا نَصَارَىٰ

الله دوست ګڼی احسان کوونکو لره ، او هغه چې وایې ځان ته چې مونږ نصاری یو

أَخَذْنَا مِيثَاقَهُمْ فَنَسُوا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوا بِهِ فَأَغْرَيْنَا بَيْنَهُمُ

د دوی څخه هم اخستې وو مونږ عهد بیا هیرکړه دوی هغه څه چې دوی ته وربانده نصیحت سوی وو بیامونږ
وغورځوله په مینځ د دوی کې،

الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ ۚ وَسَوْفَ يُنَبِّئُهُمُ

دښمني او بغض دقیامت د ورځې پورې ، او آخر به خبر کړي دوی

اللَّهُ بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ ﴿١٤﴾

الله ﷻ په څه چې دوی کول.

لنډتفسیر: (دبیان القرآن څخه)

(لیکن بنی اسرائیلو دغه ذکرسوی عهد مات کی اودعهد ترماتولو وروسته په قسم قسم عذابونوکی
لکه مسخ کیدل او ذلت اونوروکی ګرفتار سول، نوداچې کم پردوی دالله ﷻ دمهربانی څخه وروسته
وسو) نو یوازې ددوی دعهد دماتولوپه وجه مونږ دوی دځپل رحمت (یعنی دآثارو) څخه لیرې کړل

Maktaba Tul Ishaat.com

(او داحقیقت دی دلعنت) او (ددی لعنت آثاردادی چی) مونږ ددوی زړونه سخت کړل (چی دحقی خبری پردوی تاثیرنه کیږی اوددی زړونو دسختیدو نښانی دادی چی) دغه خلګ (یعنی ددوی عالمان) کلام (دخدای ﷻ یعنی تورات) دده د (الفاظویا مطلبونو) دموقعو څخه بدلوی (یعنی لفظی بدلون یامعنوی بدلون په کې کوی) او (ددی بدلون تاثیر داسوچی) دغه خلګ چی دوی ته (په تورات کې) کوم نصیحت سوی وو په دی کی خپله یوه لویه حصه (دنفع چی دوی ته په عمل کولو نصیب کیده) فوت یې کړه (ځکه چی زیات بدلون دوی په هغومضمونونوکی وکی په کوموکی چی دمحمدﷺ درسالت تصدیق وو اوظاهره ده چی دایمان څخه ماسوا بله لویه حصه به څه وی مقصدداچی دعهد ماتولوپه وجه ورباندی لعنت وسو اودلعنت په وجه یی زړونه سخت سول اودسخت دلی په وجه یی تحریف یعنی بدلون وکی اودبدلون په وجه ورڅخه لویه حصه فوت سوه چی په نصیحت عمل کول وو اوددی ترتیب وجه ښکاره ده) او (بیاداسی هم نه ده چی ګوندی کوم څه چی یی وکړه پرهغه بس والی وکړی بلکه حال دادی چی) تاته روزانه (یعنی همیشه ددین په باره کی) دڅه نه څه (نوی نوی) خیانت خبر کیږی کوم چی ددوی څخه کیږی بغیر دیوڅو کسانو څخه (کوم چی مسلمانان سوی وه) نوته دوی معاف کوه اوبخښنه ورته کوه (یعنی ترڅو پوری چی شرعی ضرورت نه وی ، د دوی دخیانتونو اظهار او د دوی رسواکول مه کوه) بیشکه الله ﷻ دنیکی دکوونکوسره محبّت کوی (اوبی له ضرورته نه رسواکول نیکی کول دی) اوکوم خلګ چی (ددین دنصرت په دعوی سره) وایی چی مونږ نصارٰی یو مونږ د دوی څخه د دوی عهد (په شان دعهد دیهودو) اخیستی وو نودوی هم څه چی دوی ته (په انجیل او نوروکی) نصیحت سوی وو، په دی کی په خپله یوه لویه حصه (دنفع کمه چی دوی ته پرعمل کولو نصیب کیده) فوت کړه (ځکه هغه کارکوم چی دوی فوت کی توحیددی، اوایمان دی په نبی کریم ﷺ باندی چی ددی حکم دوی ته هم سوی وو، اوښکاره خبره ده چی دالویه حصه ده، نوکله چی دوی توحید پریښووی) نومونږپه دوی کی ددوی په مینځ کی ترقیامته پوری بغض اودښمنی واچوله (داخو ددنیا عذاب سو) اوډیر ژر (په آخرت کی) چی هغه هم نژدی دی، به دوی ته الله ﷻ د دوی دکارونه وښیی (بیابه ورته سزا ورکړی)

معلومات اومسئلي: په آیت کی دا ښوول سوي ده چی بنی اسرآئیلو دخپلی بدبختی په وجه دا ښکاره هدایتونه پرغوږ وانه چول، اودمیثاق (عهد) مخالفت یی وکی نو الله ﷻ دوی په قسم قسم عذابونوکی اخته کړل.

په بنی اسرآئیلو د دوی بدعملی اوسرکښی په سزاکی دوه قسمه عذاب راغی یوظاهری او لیدونکی لکه ډبری اورول یا (١) دمخکی پسته کیدل اونور چی ذکریی په قرآن شریف کی په ډیرو آیتونوکی په مختلفو ځایونوکی راغلی دی، دوهم قسم عذاب معنوی اوروحانی دی چی دسرکښی په سزاکی د دوی زړونه اودماغ مسخ سواوپه دوی کی دفکر او پوهیدو صلاحیت پاته نه سو او دوی دخپلو ګناهونو په وبال کی په زیاتو ګناهونوکی اخته سول.

(١) په مخکنیو چاپونوکی دلته عبارت داسی وو ، لکه چی په دوی دوینی اوملخانو وغیره باران یاډبری اوریدل الغ خینی اهل اعلمو توجه ګرځولی ده چی د وینی او ملخانوعذاب په بنی اسرائیلو نه وو راغلی نو ځکه دي ځای

ښځه د ، وینی او ملخانو ذکر ختم کړل سو ، دحضرت مصنف رحمه الله دطرف ښځه احقر ته دداسی تصرفاتو اجازه وه
..... احقر محمدتقی عثمانی غفرله ....

ارشاددی ، فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِّيْثَاقَهُمْ لَعَنّٰهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوْبَهُمْ قٰسِيَةً : یعنی مونږ د دوی دوعدی ماتولو اودمیثاق ښځه دخلاف کولو په سزاکی دوی دخپل رحمت ښځه لیری کړل او د دوی زړونه موسخت کړل چی اوس په کی نورهیڅ شی نه ځاییږی ، دا درحمت ښځه لیری والی اودزړونو سختی قرآن کریم په سورة مطففین کی د رَانَ په لفظ سره تعبیرکړی دی ، كَلَّا بَلْ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ دقرآن کریم دواضحو آیتونو اوښکاره نښانو دانکار وجه دا ده چی د دوی په زړونو باندی د دوی دګناهونو په وجه زنګ لویدلی دی .

نبی کریم ﷺ په یوه حدیث کی ارشاد فرمایی چی: انسان چی کله اول کمه ګناه وکړی نودده پر زړه یوه توره نقطه (ټکی) جوړسی چی ددی داغ بدوالی دی هروخت داسی محسوسوی لکه پرصفا سپینه کپړه چی یوتورداغ جوړسی اوهروخت چی یی وینی نوبد پرلګیږی نوبیا که ده ددی ښځه توبه وکړه اوآئنده یی بیاګناه پرېښووله، نودغه تورټکی خراب سی، اوکه ده پرواونه کړه اومخ ته په نورو ګناهونو پسی اخته سو نوپه هره یوه ګناه کولوسره ددغه تور ټکی سره بل ټکی زیاتیږی، تردی چی دده دزړه مخ په دی تورو ټکوسره بالکل تور سی، دغه وخت دده دزړه داحالت سی لکه چی یولوښی نسکور کښیښول سی اوبیا یو شی په کښی واچول سی اوځاییږی په کښی نه دباندی ورښځه راووزی، په دی وجه دکوم خیراونیکی خبره دده په زړه کی نه ځاییږی دغه وخت دده دزړه حالت داسی سی چی ، لَا يَعْرِفُ مَعْرُوْفًا وَلَا يُنْكِرُ مُنْكَرًا یعنی نه اوس دی نیکی نیکی ګڼی نه بدی بدی ، بلکه معامله په عکس باندی سی اوپه دغه خپله سرکښی کی نورپرمخ پسی زیاتیږی، دا دده دګناه نقده سزاده چی ده ته په دنیاکی رسیږی، ځینو مشرانو فرمایلی دی ، اِنَّ مِنْ جَزَآءِ الْحَسَنَةِ الْحَسَنَةُ بَعْدَهَا وَاِنَّ مِنْ جَزَآءِ السَّيِّئَةِ السَّيِّئَةُ بَعْدَهَا : یعنی دنیکی یوه نقده جزآء دا ده چی تردی وروسته دده دبلی نیکی توفیق په برخه کیږی ، دغه ډول دګناه نقده سزا داده چی تریوی ګناه وروسته دده زړه دبلی ګناه کولوته مآئله کیږی، معلومه سوه چی په عبادتونو اوګناهونوکی تجاذب دی (یعنی ځان ته دراکښولو قوت دی په کښی) چی .

زر زر کشد در جهان گنج گنج

یعنی زر ، زر ځانته راکښوی په دنیاکی اوخزانه ځان ته خزانه راکښوی ، بنی اسرآئیلو ته دعهد ماتولو نقده سزا داورسیده چی دوی دالله ﷻ درحمت ښځه لیری سول چی داترټولو لویه وسیله دنجات ده اوددوی زړونه سخت سول چی دی اندازی ته ورسیدل چی ، يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ یعنی داخلګ دالله ﷻ کلام دخپل ځای ښځه بدلوی ، یعنی دخدای په کلام کی تحریف اوبدلون کوی، کله یی په الفاظوکی اوکله یی په معنی کی، کله یی په تلاوت کی تحریف کوی، دتحریف داټول قسمونه په قرآن کریم او دحدیثونو په کتابونوکی بیان سوی دی، چی ددی یوښځه قدر اقرار دنن سبا ځینو یورپی عیسایانو هم کړی دی (تفسیر عثمانی)

ددی معنوی سزا دا نتیجه دا سوه چی ، وَنَسُوْا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوْا بِهٖ یعنی نصیحت چی کوم دوی ته سوی وه

دهغه څخه یی نفع اخیستل هیر کړل ، او بیایی وفرمایل چی د دوی داسزا داسی د دوی دغاړی هار جوړ سو : وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلٰى خَآئِنَةٍ مِّنْهُمْ یعنی ته ﷺ همیشه د دوی په یوه مکر او فریب باندی خبریږی اِلَّا قَلِیْلًا مِّنْهُمْ بغیر دلږو خلګو څخه لکه حضرت عبدالله بن سلام ﷺ او نور چی اول داهلِ کتابو پردین باندی وه بیا ریښتینی مسلمانان سول .

تردی پوری چی دبنی اسرآئیلو دبدو عملونو اوبدو اخلاقو چی کوم بیان راغی په ظاهره ددی مقتضٰی دا وه ، چی نبی کریم ﷺ دی د دوی سره انتهایی دنفرت اوسپکوالی معامله وکړی چی دوی دی خان ته نه پریږدی ، په دی وجه یی دآیت په آخری جمله کی نبی کریم ﷺ ته داهدایت وکی چی ، فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاصْفَحْ اِنَّ اللّٰهَ یُحِبُّ الْمُحْسِنِیْنَ : یعنی ته دوی ته معافی کوه او د دوی تربدو عملونو ورتیریږه ، د دوی څخه نفرت مه اختیار وه ، ځکه چی الله ﷻ احسان کوونکی خوښوی .

مطلب دا دی چی د دوی دداسی حالاتو سره سره په خپل طبعی خواهش عمل مه کوی ، یعنی دنفرت یا دکرکی سلوك ورسره مه کوی، ځکه چی ددوی دسخت دلی او بی حسی څخه وروسته که څه هم چی هیڅ وعظ اونصیحت پردوی هیڅ اثیرنه کوی، لیکن رواداری اودښه خوی معامله یوه داسی کیمیاء ده چی ددی په ذریعه په دی بی پوهو کی هم یوه پیداکیدی سی، اوکه په دوی کی یوه پیداکیږی یانه، خوپرهرحال خپل اخلاق برابر درلودل خوضروری دی، داحسان معامله دالله ﷻ خوښه ده، ددی په ذریعه مسلمانانوته دالله ﷻ نور نژدیکت هم حاصلیدی سی ، وَمِنَ الَّذِیْنَ قَالُوْا اِنَّا نَصٰرٰی ددی آیت څخه په مخکی آیت کی دیهودو دعهد ماتولو اوعذاب ذکر وو ، په دی آیت کی دنصاراوو څه حال بیان سوی دی .

(په عیسایي فرقو کي دیوه سر سره دښمني)

په دی آیت کی الله ﷻ دعیسایانو دعهد ماتولو داسزا بیان کړی ده چی د دوی په مینځ کی ګډوډ کیدل ، بغض اوعداوت غورځول سوی دی، چی تر قیامته پوری به دغه دول وی، پردی باندی دنن سبا دعیسایانو دحالاتو څخه داشُبهه پیدا کیدی سی چی دوی خوټول متحدپه نظر راځی، جواب دادی چی داحال دهغو خلګو بیان سوی دی کم چی واقعی عیسایان دی اودعیسایی مذهب پابندی اوکوموچی خپل مذهب پریښی دی ، دهریان جوړ سوی دی ، دوی په حقیقت کی دعیسایانو دفهرست څخه خارج سوی دی ، که څه هم چی دوی په قومی لحاظ سره خان ته عیسایان وایی،په داسی خلګوکی که دغه مذهبی ګډوډوالی او دښمنی نه وی نو ددی آیت سره منافی نه دی، ځکه چی ګډوډوالی اودښمنی اواختلاف خودمذهب پربنیاد باندی وو ، کله چی مذهب پاته نه سو نو اختلاف هم نه سوپاته اوپه آیت کی بیان دهغو خلګودی چی دمذهب په لحاظ سره نصارا او عیسایان دی، دّدوی اختلاف او ګډوډوالی خومشهور اومعلوم دی .

دبیضاوی په حاشیه کی یی دتیسیر څخه نقل کړی دی چی په نصاراووکی اصلی دری فرقی وی، یوه نسطور یه چی حضرت عیسٰی ﷺ ته به یی دخدای ﷻ زوی وایه ، دوهمه یعقوبیه چی به خپله حضرت عیسٰی ﷺ به یی دخدای سره شریك منی ، دریمه ملکآنیه کومو چی به حضرت عیسٰی ﷺ په درو

Maktaba Tul Ishaat.com

خدایانو کی یو منی اوښکاره ده چی دعقیدو د دومره لوی اختلاف سره په خپل مینځ کی عداوت ضروری خبره ده .

يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ كَثِيرًا مِّمَّا كُنتُمْ تُخْفُونَ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ

ای اهل کتابو په تحقیق راغلی دی تاسی ته رسول زمونږ ښکاره کوی تاسی ته ډیرشیان کوم چی تاسی پټول دکتاب څخه

وَيَعْفُوا۟ عَن كَثِيرٍ ۚ قَدْ جَآءَكُم مِّنَ ٱللَّهِ نُورٌ وَكِتَٰبٌ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾

او عفوه کوی دډیرو شیانو څخه ، بیشکه تاسی ته راغلی ده دالله دطرف څخه رڼا او کتاب ظاهرونکی ،

يَهْدِى بِهِ ٱللَّهُ مَنِ ٱتَّبَعَ رِضْوَٰنَهُۥ سُبُلَ ٱلسَّلَٰمِ وَيُخْرِجُهُم

چی په دی سره الله هدایت کوی هغه چاته چی تابع سو دهغه درضا دسلامتیا دلارو او را وباسی دوی

مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ بِإِذْنِهِۦ وَيَهْدِيهِمْ إِلَىٰ صِرَٰطٍ

دتاریکیو څخه رڼا طرف ته په خپل حکم سره او دوی ته هدایت کوی دسیده

مُّسْتَقِيمٍ ﴿١٦﴾ لَّقَدْ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓا۟ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْمَسِيحُ ٱبْنُ

لاری ، بیشکه کافر سو چا چی وویل چی الله خو هغه مسیح دی زوی

مَرْيَمَ ۚ قُلْ فَمَن يَمْلِكُ مِنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا إِنْ أَرَادَ أَن يُهْلِكَ

دمریمی ، ته ووایه ، نو دچا طاقت چلیدی سی دالله په مخکې که هغه وغواړی چی هلاک کړی

ٱلْمَسِيحَ ٱبْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُۥ وَمَن فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا ۗ وَلِلَّهِ

میسح دمریمی زوی او دده مور او خومره خلق چی په مځکه کی دی ټول اوالله د پاره

مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۚ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ

دی حکومت دآسمانونو او دمځکی اوڅه چی په مینځ ددې دواړو کی دی ، پیدا کوی څه چی غواړی او الله ﷻ

عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٧﴾ وَقَالَتِ ٱلْيَهُودُ وَٱلنَّصَٰرَىٰ نَحْنُ

په هر شی باندی قادری دی ، او وایی یهودیان او نصاری چی مونږ

أَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ وَأَحِبّٰٓؤُهٗ ۚ قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُمْ بِذُنُوبِكُمْ ۖ بَلْ أَنْتُمْ

زامن يُو دالله ، او دهغه دوستان يُو ، ته ووايه بيا ولي عذابوي تاسي په ګناهونو ستاسي ، هيڅ نسته

بَشَرٌ مِّمَّنْ خَلَقَ ۚ يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَلِلّٰهِ

بلکه تاسي هم انسانان ياست دهغه په مخلوق کي ، بخښي چالره چي وغواړي اوعذابوي چالره چي وغواړي

مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۖ وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ ﴿١٨﴾

اودالله دپاره دي حکومت دآسمانونو اودمځکي اوځه چي ددواړوپه مينځ کي دي اودهغه طرف ته ګرځيدلي دي

تفسير: اى اهلِ کتابو! (يعني يهودو اونصاراوو) تاسي ته زمونږ دارسول (محمّد ﷺ) راغلي دي (چي دعلمي کمال يي داحال دي چي) دکتاب (دمضمونونو) ځنځه کوم شيان چي تاسي يي پټوئ ددي ځخه ډيري خبري (دکوموپه ښکاره کولوکي چي يوشرعي مصلحت او فائده وي دظاهري علم حاصلولوپه وجه نه بلکه خالص دوحي په ذريعه خبريږي) ستاسي په وړاندي يي صفا صفا بيانوي او ښکاره کوي يي او (دعلمي اواخلاقي کمال يي داحال دي چي کم شيان تاسي پټول دهغو ځخه) ډير کارونه (سره ددي چي په پوه اوخبرداردي اخلاقًا دهغو دښکاره کولو ځخه) درګذر کوي (کله چي دځغوپه ښکاره کولوکي کوم شرعي مصلحت نه وي او يوازي تاسي وړباندي رسوا کيږي، اودا علمي کمال يي دنبوّت دليل دي اواخلاقي کمال يي ددي تائيد اومضبوطول کوي ، ددي ځخه معلومه سوه چي دنبي کريم ﷺ په نورو معجزو سربيره په خپله ستاسي سره داسي سلوك کول دده دنبوت ثابتولو دپاره کافي دي، اوددي رسول ﷺ په ذريعه) تاسي ته دالله ﷻ دطرفه ځخه يو روښانه شي راغلي دي او (هغه) يو کتاب واضح (دي) چي ددي په ذريعه الله ﷻ داسي خلګو ته څوك چي دحق رضا طلب کوونکي وي دسلامتيا لاره ښيي (يعني جنت ته دتلو طريقي چي خاص عقيدي او عملونه دي ښيي ځکه چي مکمله سلامتيا په جنت کي کيدي سي چي نه په کښي دکمي بيره کيدي سي اونه دزوال بيره) اودوي په خپل توفيق سره (دکفراو ګناه) دتاېکيو ځخه راباسي (دايمان اوطاقت) دنور طرف ته يي راولي اودوي (هميشه) پرسيده لاره قائم ساتي، بيشکه هغه خلګ کافران دي چي داسي وايي چي الله تعالی عيسیٰ ابن مريم دي، ته د دوي ځخه دا پوښتنه وکړه چي که داسي وي نوتاسي ووايا ست چي که الله تعالی دعيسیٰ زوي دمريمي (کوم چي تاسي يي عينى الله ګڼي) او دده دمور (حضرت مريمي ﷺ) اوڅومره چي په مځکه کي آباددي ددي ټولو (په مړه کولوسره) هلاکول وغواړي (نو) آياڅوك سړي داسي سته چي دخداى ﷻ ځخه يوه ذره هم دوي خلاص کړي (يعني دومره خبره خوتاسي هم مني چي د دوي هلاکول دالله ﷻ په قدرت کي دي ، نود کوم ذات هلاکول چي دبل په قبضه کي وي هغه خداى ځنګه کيدي سي، په دي سره مسيح دالله کيدو عقيده باطله سوه) او (څوك چي په حقيقت کي خداى اودټولو معبوددي يعني) الله ﷻ (دهغه داشان دي چي هغه

لره دی خاص حکومت په آسمانونو اوپرمځکه اوڅومره شیان چی ددی دواړو په مابینځ کی دی پردوی
باندی اوهغه کوم شی لره (ځنګه) چی وغواړی پیدا کوی یی اوالله ﷻ ته په هر شی باندی پوره قدرت دی
اویهود اونصارا (دواړی فرقی) دعوه کوی چی مونږ دالله زامن یو اودهغه دوستان یو (مطلب یی
دامعلومیږی چی کله چی مونږ دانبیاوو اولاده یونو په دی وجه دالله ﷻ په نزدمونږ یوخاص شان دی
چی که مونږ ګناه هم وکړو، نو هغه دومره وړباندی نه راځخه ناراضه کیږی لکه دنوروپه ګناه چی ناراضه
کیږی، لکه پرپلارچی دزوی په نافرمانی باندی دومره تاثیرنه کیږی لکه څومره چی دبل سړی په دی کار
باندی خفه کیږی، ددوی ددی باطل خیال دباطلولو دپاره نبی کریم ﷺ ته خطاب دی چی) ته ﷺ (ددوی
ځخه) پوښتنه وکه چی ښه نوبیاتاسی ته ستاسی دګناهونوپه عوض کی (په آخرت کی) عذاب ولی درکول
کیږی (دکوم چی تاسی هم قائل یاست لکه چی دیهودو قول وو، لَن تَمَسَّنَا النَّارُ اِلاَّ اَیَّاماً مَّعْدُوْدَةً یعنی که مونږته
دجهنم عذاب هم راکول کیږی نویوڅو ورځی به وی اوپه خپله دحضرت مسیح ﷺ وینا په قرآن کی ده ، اِنَّهُ
مَنْ یُّشْرِكْ بِاللهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللهُ عَلَیْهِ الْجَنَّةَ یعنی چاچی دالله ﷻ سره شریك جوړکی نوالله ﷻ په ده جنت حراموی ،
نوددی ځخه هم دنصاراوو دقول په مثل عذاب لازمیږی، لنډه داچی دآخرت دعذاب چی کله تاسی په
خپله هم اقرارکوی نو دا وواياست چی آیا یو پلار خپل زوی یادوست ته هم عذاب ورکوی نوپه دی وجه
چی تاسی ځان ته دخدای اولاد واياست داباطله ده .
دلته داشبهه نه دی کول په کارچی ځینی وخت پلارهم خپل اولادته داصلاح اوتربیت دپاره دادب کولوپه
مقصد سزا ورکوی، نوسزا ورکول دزوی والی منافی نه دی ، ځکه چی دپلارسزا دادب دپاره سوی ده
چی دی دبل واردپاره بیا داسی کار نه کوی اوپه آخرت کی دادب کولوکوم مقام نسته ، ځکه چی هغه
دار العمل (دعمل کولوځای) نه دی دارُ الجزآء (دبدلی اخیستو ځای) دی، هلته دکم کار دکولو، یا دکم
کار ځخه دمنع کولوکوم احتمال نسته چی تادیب (یعنی ادب ورکول) ورته ووایی، نو په دی وجه هلته
چی کومه سزا وی هغه به خالصه سزا او عذاب وی چی داولاد یادمحبوب سره به قطعًا منافی وی په دی
وجه معلومه سوه چی ستاسی هیڅ خصوصیت دالله ﷻ سره نسته) بلکه تاسی هم ددی نورمخلوق په شان
یو معمولی خلګ یاست ، الله ﷻ چاته چی وغواړی وبه یی بخښی، چاته چی وغواړی سزابه ورکړی
اوخاص دالله ﷻ دی ټول حکومت په آسمانونوکی هم او په مځکه کی هم اوڅه چی ددوی په مینځ کی دی
په دی کی هم اودالله طرف ته دټولو ورتلل اوواپس کیدل دی (دهغه ځخه ماسوا هیڅ دپناه ځای نسته)
معلومات اومسئلې: په دی آیت کی دنصاراوو دیوه قول رد سوی دی چی دډوی دیوی فرقی عقیده ده،
یعنی دا چی حضرت مسیح (معاذ الله) عینی الله تعالی دی ، لیکن رد په داسی دلیل سره سوی دی ، چی
دټولو فرقو باطلی عقیدی ردکوی، هرڅومره چی دتوحید ځخه خلافی دی برابره خبره ده که دخدای
دزوی والی عقیده وی، په دی سره دټولو رد او باطلوالی وسو ، اودلته دحضرت مسیح اودهغه دمورپه
ذکرکولوکی دوه حکمتونه کیدی سی، اول خوداچی دحضرت مسیح ﷺ دالله ﷻ په مخکی دا عجز چی
دی نه خپل ځان دالله ﷻ ځخه خلاصولی سی او نه خپله مور [illegible]

Maktaba Tul Ishaat.com

لا هم زیات خوبنوی، دوهم داچی په دی کی دهغه فرقی دخیال هم رد وسوکومه چی حضرت مریمه ﷺ په درو خدایانو کی یوخدای منی.
اودلته یې دحضرت مسیح اومریمی ﷺ مرگ په ډول دفرض ذکرکړی دی، حال دا دی چی دقرآن دنزول په وخت کی دحضرت مریمی مرگ محضی فرضی نه وو، بلکه واقع سوی وو، ددی وجه په اصل کی دحضرت عیسیٰ ﷺ مرگ په ډول دفرض ذکر کول وو، نودمور دمرگ ذکریې هم په دی ضمن کی وکړل سو که څه هم چی ددی مرگ واقع سوی وو اودا هم کیدی سی چی مراد داوی چی لکه څنگه چی پرحضرت مریمی ﷺ باندی مونږمرگ راوستلی دی، پرحضرت مسیح اونورټول مخلوق باندی هم دغه ډول مرگ راوستل زمونږ په قبضه کی دی، اوپه یَخۡلُقُ مَایَشَآءُ کی دعیسایانو ددی باطلی عقیدی باطلول دی، څکه چی دحضرت مسیح ﷺ څخه په خدای جوړولو کی د دوی اصلی منشاء دا ده چی ده پیدا ایښت دټولی دنیا دقاعدو څخه خلاف بغیر دپلار څخه یوازی دمور څخه سوی دی که دی بنده وای نودقاعدی مطابق به دمور اوپلار دواړو په ذریعه دی پیدا سوی وای.
په دی جمله کی یې ددی جواب ورکی چی الله ﷻ ته پرهر ډول کامل قدرت حاصل دی چی څه غواړی او څنگه یې غواړی پیدا کوی یې لکه چی په آیت إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ اللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ کی یې ددی شبهی ازاله فرمایلی ده چی دحضرت عیسیٰ ﷺ پیدا ایښت دقدرت دعام قانون څخه جلاکیدل دده دخدایی دلیل نه سی کیدی. وگوری حضرت آدم ﷺ خو الله ﷻ دمور اوپلار دواړو څخه بغیر پیدا کړی وو، ده لره هر ډول قدرت سته هم دغه الله ﷻ خالق او مالك اولائق دعبادت دی، بل هیڅوك دده سره نه سی شریك کیدی.

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمۡ عَلَىٰ فَتۡرَةٖ

ای اهل کتابو! راغلی دی تاسی ته رسول زمونږ چی بیان کړی تاسی ته درسولانو دقطع

مِّنَ ٱلرُّسُلِ أَن تَقُولُواْ مَا جَآءَنَا مِنۢ بَشِيرٖ وَلَا نَذِيرٖۖ

کیدو څخه وروسته چی چیری ونه وایاست چی مونږ ته نه وو راغلی څوك زیری ورکوونکی یا بیرونکی

فَقَدۡ جَآءَكُم بَشِيرٞ وَنَذِيرٞۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١٩

نو راغلی تاسی ته زیری کوونکی اوبیرونکی، او الله په هرڅه باندی قادر دی.

لنډتفسیر: ای اهل کتابو تاسی ته دازمونږ رسول (محمدﷺ) راغلی چی تاسی ته (دشریعت خبری) صفا صفا ښیی په داسی وخت کی چی درسولانو (دراتلو) سلسله (دډیری مودی څخه) بنده وه (اومخکنی شریعتونه ورك سوی وه، اوترډیری مودی پوری دانبیاوو دسلسلی دبندیدوپه وجه دورکو سوو شریعتونو ددوباره ژوندی کولو امکان هم نه وو پاته سوی نو په دی وجه اوس دیوه رسول دراتلوسخت ضرورت وو، نو په داسی وخت کی دده ﷺ تشریف راوړل یولوی نعمت اوغنیمت گڼل په کار دی) ددی دپاره چی تاسی (په

Maktaba Tul Ishaat.com

قیامت کی) داسی ونه وایاست (چی ددین په معامله کی دغلطی اوکوتاهی کولومونږ څکه معذور یوچی) مونږته (څوك رسول چی) زیری ورکوونکی اوبیروونکی (وی چی په هغه سره مونږصحیح علم اوعمل ته تیار سوی وای) نه دی راغلی (نواوس ددی عذرځای پاته نه سوځکه چی) تاسی ته زیری ورکوونکی اوبیروونکی (یعنی محمّد ﷺ) راغلی دی (اوس که یی نه منی نوپه خپل انجام به په خپله پوه سی) اوالله ﷻ په هرشی پوره قدرت لری (چی کله وغواړی نوپه خپل رحمت سره خپل پیغمبران رالیږی، کله چی وغواړی په حکمت سره یی بندوی، دهیچادا حق نسته چی دډیری مودی څخه دانبیاوو سلسله بنده ده نواوس څوك رسول نسته، ځکه چی داسلسله تریوی مودی پوره بنده ساتل دالله ﷻ په حکمت سره وو، ده دنبوت دسلسلی بندولو اوختمولوڅه اعلان تردغه وخته پوری نه ووکړی، بلکه دتیرو ټولو پیغمبرانو علیهم السلام په ذریعه سره یی دا خبرونه هم ورکړی وه چی په آخره زمانه کی یوخاص رسول په خاص شان اوپه خاصو صفاتوسره راتلونکی دی چی پرهغه به نبوّت ختمیږی، ددی اعلان مطابق خاتم الانبیآء ﷺ تشریف راوړی.

معلومات اومسئلي: عَلٰی فَتْرَةٍ مِّنَ الرُّسُلِ : دفترت لفظی معنی سست کیدل، ساکن کیدل او دیوه کار معطله کیدل او بندیدل دی، په دی آیت کی دتفسیر امامانو دفترت دامعنی بیان کړی ده اومراد ددی څخه دیو څه مودی دپاره دنبوّت سلسله او دانبیاوو بندیدل دی کومه چی دحضرت عیسیٰ څخه وروسته دخاتم الانبیآء تر راتلو پوری زمانه ده.

دفترت دزماني تحقيق: حضرت عبدالله بن عباس فرمایی چی دحضرت موسیٰ اوحضرت عیسیٰ علیه السلام په مینځ کی یو زر او اووه سوه ١٧٠٠ کاله زمانه ده، په دی ټوله زمانه کی انبیآء برابر راتلل جاری وه، په دی وخت کی هیڅکله هم فترت نه دی سوی، یوازی په بنی اسرآئیلوکی یوزر ١٠٠٠ انبیآء په دی زمانه کی راغلی دی اوپه غیر دبنی اسرآئیلوکی چی کم انبیآء راغلی دی هغه تردی لازیات دی، بیادحضرت عیسیٰ علیه السلام دپیدا کیدو څخه دنبی ﷺ تر راتلو پوری په دی مینځ کی پنځه سوه ٥٠٠ کاله زمانه ده په دی کی دانبیاوو سلسله بنده وه، په دی وجه دی زمانی ته دفترت زمانه وایی، تر دی مخکی هیڅکله هم دومره زمانه دانبیاوو دراتلو څخه خالی نه ده پاته سوی (قرطبی مع ایضاح)

دحضرت موسیٰ اوحضرت عیسیٰ علیه السلام په درمیانی زمانه کی اودغه ډول دحضرت عیسیٰ څخه ترخاتم الانبیآء ﷺ پوری په درمیانی زمانه کی نور هم مختلف روایتونه دی چی تر دی کمی اوزیاتی مودی په کی بیان سوی دی لیکن په اصلی مقصد باندی ددی هیڅ تاثیر نه لویږی، امام بخاری دحضرت سلمان رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چی دحضرت عیسیٰ علیه السلام اودخاتم الانبیآء ﷺ په مینځ کی شپږ سوه ٦٠٠ کاله زمانه وه اوپه دی ټوله موده کی یونبی نه دی راغلی لکه چی دصحیح بخاری اومسلم په حواله سره په مشکوٰة شریف کی حدیث راغلی دی، چی په هغه کی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی، اَنَا اَوْلَی النَّاسِ بِعِیْسٰی یعنی زه حضرت عیسیٰ علیه السلام ته ترټولو خلکو زیات نژدی یم، او ددی مطلب دحدیث په آخرکی داسی بیان سوی دی، لَیْسَ بَیْنَنَا نَبِیٌّ : یعنی زمونږ دواړو په مینځ کی یو نبی نه دی راغلی.

Maktaba Tul Ishaat.com

او په سورة یٰس کې چې د کومو درو رسولانو ذکر دی دغه په حقیقت کې د حضرت عیسیٰ ؑ لیږل سوي قاصدان وه چې د لغوي معنی په اعتبار سره ورته رسولان ویل سوي دي.

او د خالد بن سنان عربي چې ځینو په دې زمانه د فطرت کې راتلل ذکر کړي دي، دده په اړوند په تفسیر روح المعاني کې په حواله د شهاب بیان کوي چې دی خونبي دی، مګر زمانه یې تر حضرت عیسیٰ ؑ مخکې ده، وروسته نه ده.

دفترت د زماني احکام: د ذکر سوي آیت څخه په ظاهره دا معلومیږي چې که بالفرض یو قوم داسې وي چې دوی ته نه څه رسول اونه څه پیغمبر راسی اونه ورته د دوی نائبان ورسیږي اونه د تیرو انبیاوو شریعت د دوی سره محفوظ وي او دا خلګ د شرك څخه پرته په کمه غلط کاري او ګمراهي کې اخته سي نو دوی به معذور ګڼل کیږي او د عذاب مستحق به نه وي، په دې وجه د فقهاوو حضراتو د اهلِ فترت په معامله کې اختلاف دی چې دوی به وبخښل سي او که نه؟

د جمهورو رایه دا ده چې اُمید دادی چې دوی به وبخښل سي کله چې دوی د هغه مذهب پابند وي کوم چې غلط ملط دوی ته د حضرتِ موسیٰ یا د حضرت عیسیٰ ؑ د طرفه څخه رسیدلی وي په دې شرط چې دوی د توحید څخه مخالف او په شرك کې اخته نه وي، ځکه چې مسئله د توحید د څه نقل محتاجه نه ده، دا داسې مسئله ده چې هر یو انسان چې هم لږ څه غوندې فکر وکړي نو په خپل عقل سره یې معلومولی سي

یو سوال او د هغه جواب: دلته دا سوال پیدا کیدی سي چې کومو اهلِ کتابو یهودو او نصاراوو ته چې په دې آیت کې خطاب دی، دوی ته که څه هم په زمانه د فترت کې کم رسول نه دی رسیدلی مګر د دوی سره تورات او انجیل خو موجود وو او عالمان یې هم وه، نو بیا په قیامت کې د دوی د پاره د دې عذر کولو څه موقع وه چې مونږ ته کم هدایت نه دی رسیدلی، جواب دادی چې د نبي کریم ﷺ تر زمانې مبارکې پورې تورات او انجیل اصلي نه وه پاته سوي ، بدلون په کښې سوي وو ، او د دروا غو قصې په کښې داخلې سوي وي ، په دې وجه د دې وجود او نیستي والي سره برابروه ، او که اتفاقاً یو ځای د یو چا سره په یوه نامعلومه ځای کې اصلي نسخه محفوظه هم وه نو هغه د دې منافي نه ده، لکه چې ځینو عالمانو ابن تیمیه او نورو لیکلي دي چې د تورات او انجیل اصلي نسخې هم یو ځای خال خال موجودې وې.

د خاتم الانبیاء ﷺ خاصو کمالاتو ته اشاره: په دې آیت کې اهلِ کتاب مخاطب کول او دا ارشاد فرمایل چې زمونږ رسول محمّد ﷺ د یوه اوږد فطرت څخه وروسته راغلی دی، په دې کې یوه اشاره دې طرف ته هم ده چې تاسې خلګو ته په کار دي چې دده ﷺ وجود لوی غنیمت وګڼئ ځکه چې د ډیري مودې څخه دا سلسله بنده وه او س ستاسې د پاره بیا خلاصه سوه.

دوهمه اشاره دې طرف ته هم ده چې دده ﷺ تشریف راوړل په داسې زمانه او داسې مقام کې وسو په کوم ځای کې چې د علم او دین هیڅ رنا موجوده نه وه، مخلوق د خدای ﷻ څخه نا اشنا سوي وو، په بُت پرستۍ کې اخته سوي وو ، په داسې زمانه کې د داسې قوم اصلاح کول څه آسانه کارنه وو ، د داسې جاهلیت په زمانه کې داسې وران سوي قوم ده ﷺ ته حواله سو ، دده ﷺ د مجلس په برکت او په نُور د نبوّت سره په لږه

Maktaba Tul Ishaat.com

زمانه کی داقوم دټولی دنیا دپاره دعلم، عمل، اخلاقو، معاملو اودژوند په ټولو اړخونوکی اُستاذان او
لارښوونکی جوړ سول چی په دی سره دنبی کریم ﷺ نبوت اورسالت اودده ﷺ پیغمبرانه تعلیم ترټولو تیرو
پیغمبرانو علیهم السلام غوره اواعلی ثابت سو، کوم ډاکټرچی دژوند څخه دیوه نا اُمیده سوی مریض علاج
وکړی اوپه داسی ځای کی ورلره علاج وکړی په کم ځای کی چی دطبابت سامان او دواوی هم نه پیدا
کیږی اوبیاپه دغه علاج کی دومره کامیاب سی چی مرګ ته نژدی سوی مریض نه یوازی داچی جوړسی،
بلکه یوپوه اوحاذق ډاکټر هم جوړسی نودداسی ډاکټرپه کمال کی به دڅاڅه شُبهه وسی.
دغه ډول داوړدی زمانی دفترت څخه وروسته کله چی هرطرف ته دکفر اوګناهونو تیاری خپری سوی وی
دده تعلیم اوتربیّت داسی رڼا وکړه چی مثال یی په تیردورکی هیڅ ځای په نظرنه راځی، نوټولی معجزی
یوه طرف ته او یوازی دایوه معجزه بل طرف ته انسان په ده ﷺ باندی په ایمان راوړلو مجبوره کوی.

وَاِذْ قَالَ مُوْسٰی لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ

اوکله چی وویل موسٰی خپل قوم ته ای زماقومه ! یاد کړی احسان دالله

عَلَيْكُمْ اِذْ جَعَلَ فِيْكُمْ اَنْۢبِيَآءَ وَجَعَلَكُمْ مُّلُوْكًا ۖ وَّاٰتٰىكُمْ

په خپل ځان کله چی پیدا یی کړل په تاسی کی نبیان او کړل یی په تاسی کی بادشاهان او دریی کړل

مَّا لَمْ يُؤْتِ اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٠﴾ يٰقَوْمِ ادْخُلُوا الْاَرْضَ

تاسی ته هغه چی نه یی وو ورکړی هیچاته په جهان کی ، ای زما قومه داخل سی مځکی

الْمُقَدَّسَةَ الَّتِيْ كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوْا عَلٰٓى اَدْبَارِكُمْ

پاکی ته کومه چی مقرر کړی ده الله تاسي دپاره اومه واپس کیږي په په شاګانو خپلو باندی

فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿٢١﴾ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِنَّ فِيْهَا قَوْمًا جَبَّارِيْنَ ۖ

وبه لویږي په نقصان کی ، وویل دوی ای موسٰی ! هلته یو قوم دی زبردست

وَاِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَا حَتّٰى يَخْرُجُوْا مِنْهَا ۚ فَاِنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَا

او مونږ به هیڅکله هلته ولاړ نه سو ترڅو چی دوی ورڅخه ونه وزی ، نو که دوی ورڅخه ووتل

فَاِنَّا دٰخِلُوْنَ ﴿٢٢﴾ قَالَ رَجُلٰنِ مِنَ الَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ

نو مونږ به ورته داخل سوخامخا ، وویل دوو خلقو دالله څخه بیریدونکو چی دخدای انعام ود

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلَيْهِمَا ادْخُلُوْا عَلَيْهِمُ الْبَابَ ۚ فَإِذَا دَخَلْتُمُوْهُ فَإِنَّكُمْ

په دی دوارو ، دا خل سی په دوی حمله کوونکی دروازی ته ، بیا کله چی تاسی دی ته ننوزی نو تاسی

غٰلِبُوْنَ ۚ وَعَلَى اللّٰهِ فَتَوَكَّلُوْٓا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٢٣﴾ قَالُوْا

به غالب سی، او په الله ﷻ توکل کوی که تاسی یقین کوونکی یاست، وویل دوی

يٰمُوْسٰٓى اِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَآ اَبَدًا مَّا دَامُوْا فِيْهَا فَاذْهَبْ اَنْتَ

ای موسٰی مونږ هیڅکله نه داخلیږو تول عمر ترڅو چی دوی په کی وی نو ته ولاړ سه

وَرَبُّكَ فَقَاتِلَآ اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ ﴿٢٤﴾ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ لَآ اَمْلِكُ

او ستا رب او تاسی دواړه جنګ وکړی مونږ به دلته ناست یُو ، وویل موسٰی ای ربه ، زما زما په

اِلَّا نَفْسِيْ وَاَخِيْ فَافْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿٢٥﴾

اختیارکی نه دی مګر خپل ځان او زما ورور نو ته جلاوالی راولی په مینځ زمونږ او ددې نافرمان قوم کی ،

قَالَ فَاِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً ۚ يَتِيْهُوْنَ فِي

وفرمایل (الله) بیشکه هغه مځکه حرامه سوه په دوی باندی څلویښت کاله سرګردانه به ګرځی

الْاَرْضِ ۚ فَلَا تَاْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿٢٦﴾

په ملك کی نو ته افسوس مه کوه په نافرمان قوم باندی

تفسیر: او هغه وخت هم دیادولو قابل دی کله چی موسٰی (ﷺ) قوم ته (جهادته دترغیب ورکولو په شروع کی دا) وفرمایل چی ای زماقومه ! تاسی دالله ﷻ هغه انعام کوم چی په تاسی باندی سوی دی یادکړئ کله چی الله ﷻ په تاسی کی ډیر پیغمبران جوړکړل (لکه حضرت یعقوب ﷺ او حضرت یوسف ﷺ او په خپله حضرت موسٰی ﷺ او حضرت هارون ﷺ او داسی نور، او په یوه قوم کی دپیغمبرانو راتلل د دوی دنیوی اودینی شرافت دی، دا خویی معنوی نعمت درکی) او (ظاهری نعمت یی دادرکی چی) تاسی یی باچهان جوړ کړاست (لکه چی دفرعون پرملك باندی اوس تاسی قبضه کړیده) او تاسی لره یی (څینی) هغه شیان درکړی دی چی ددنیا په خلګوکی یی هیچا لره نه دی ورکړی (لکه په دریاب کی لار درکول دښمن په عجیبه طریقه سره غرقول چی تردی وروسته په یوه پلا دانتهایی ذلت اوزحمت څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

انتهايي راحت اوبلندي ته ورسيد است يعني په دي کي يي تاسي ته خاص شان درکی، بياتردي ابتدايي
خبرو وروسته اصلي مقصد دوی ته فرمايي چي) اى زما قومه! (ددي نعمتونو اواحسانونو مقتضی دا ده
چي تاسي ته کوم چي ددي جهادپه اړوند دالله ﷻ حکم سوی دی ، دی ته تيارسئ او) په دی مبارك ملك
(يعني دشام په پايتخت) کي (کوم ځاى چي ددي عمالقه ووحکومت دی دجهادپه اراده سره) داخل سی
چي الله ﷻ ستاسي په حصه کي ليکلي دی (په دی وجه به په قصدکولوسرهٔ تاسي داملك فتح کړئ او
وروسته (دوطن طرف ته) واپس مه ځئ چي بيابه بالکل په تاوان کي ولوېږئ (په دُنياکي هم چي
دحکومت دلويولو څخه به محرومه سئ اوپه آخرت کي هم چي دفرض جهادپه پرېښوولو سره به ګناهګار
سي) وي ويل اى موسٰی ﷺ! هلته خولوی لوی زورور خلک دی اومونږخوبه هلته هيڅکله قدم کښېږدو
ترڅوچي دوی (په يوډول) دهغه ځای څخه ونه وزي، البته که دوی ددغه ځاى څخه کمی بلی خوانه
ولاړسی نوبيابه مونږ بيشکه چي هلته تللوته تياريو (دحضرت موسٰی (ع) دخبري دتاييد دپاره) هغودوو
خلکو (هم) کوم چي (دالله ﷻ څخه) دبيرېدونکو څخه وه (يعني متقيان وه او) پرچا چي الله ﷻ فضل کړی
وو (چي پرخپل عهد باندي ثابت قدم وه دي بي همتوته دپوهولو په ډول سره) وويل چي تاسي پردوی
باندي (حمله وکړئ ددغه ښار) تردروازي پوري خوورسی نوڅه وخت چي تاسي په دروازه باندي قدم
کښېږدی ، دغه وخت به غالب سئ (مطلب دا دی چي ژربه فتح سي برابره خبره ده که دبيری څخه وتښتي
اوکه يوڅه مقابله هم وسی) اوپه الله ﷻ باندي باورکوی که تاسي ايمان لری (يعني ددوی قوت اوغتوالي
ته مه ګوری ، ليکن پردی خلکو دپوه کولو هيڅ تاثير ونه سو بلکه ددی دواړو مشرانو خبره يي ګرسره
خبره ونه ګڼله اوحضرت موسٰی ﷺ ته يي په ډيربي پرواهی اوبي شرمی سره) وويل چي اى موسٰی مونږ
خو (يوه خبره کړېده چي مونږ) هيڅکله به هم هلته قدم کښې نږدو ترڅوچي دغه خلک هلته موجودوي
(اوکه خامخا جنګ ضروري وي) نوته اوستا الله باچا ولاړسی اودواړه جنګ وکی مونږبه ددي ځای څخه
نه ښورو (موسٰی ﷺ ډير پريشانه اوتنګ سو) دعايي وغوښته چي اى زماپروردګاره! (زه څه وکم په دوی
مي هيڅ وس نه رسيږي) خوپه خپل ځان اوپه خپل ورور (پوره) اختيارلرم ته زمونږ دواړو (وړونو) اوددي
نه منونکي قوم په مينځ کي (مناسبه) فيصله وکی (يعني زمونږ دهريوسره دخپل حال مناسب کاروکی)
ارشاد وسو (ښه ده) خو (مونږدافيصله کووچي) داملك به څلويښت کاله ددوی لاس لره ورنه سي
(اوکورته تلل به يي هم نصيب نه سي لار به نه کی پيدا) دغه شان به (ترڅلويښتو کالوپوري) په مځکه کي
سرګردانه ګرځي (حضرت موسٰی ﷺ چي دا فيصله واورېده چي ددي خودده ګمان نه وو ، خيال يي دا وو
چي څه معمولي تنبيه به ورته وسي نوخفه غوندی سو ، ارشاد ورته وسو چي اى موسی! کله چي ددي سرکښانو
دپاره مونږ داخبره تجويزکړه ، نودامناسب ده) پس ته ددی بي اوريدو قوم (پرحالت) باندي (ذره) غم مه کوه.

معلومات او مسئلي: ددی ذکرسوی آيت څخه په مخکي آيت کي دهغه عهد اخستلو ذکر وو کوم چي دالله ﷻ او دهغه دپيغمبرانو دحکم منلوپه باره کي دبني اسرائيلوڅخه اخيستل سوی وو اوددی سره ددوی دعامی وعدی (عهد) ماتولو اودميثاق (عهد) څخه دخلاف کولو او په دی باندي دسزاګانو بيان وو، په

Maktaba Tul Ishaat.com

دی ذکرسوی آیت کی ددوی دوعدی ماتولو دیوی خاص واقعی ذکر دی.
هغه دا دی چی کله فرعون اوده لښکرپه دریاب کی غرق سو اوحضرت موسیٰ ﷺ او دده قوم بنی اسرائیلو دفرعون دغلامی څخه خلاصی پیدا کړه دمصر دحکومت مالکان سول نوالله ﷻ دخپل زیات انعام او د دوی دنیکنی وطن دشام حکومت هم د دوی په قبضه کی دواپس ورکولو دپاره دوی ته په ذریعه دحضرت موسیٰ ﷺ دا حکم ورکول سوچی دوی دی دجهادپه نیت سره مقدسی مځکی یعنی ملك دشام ته داخل سی اوددی سره ورته دا خوشخبری هم واورول سوه چی په دی جهادکی به فتح د دوی وی الله ﷻ دا مقدسه مځکه د دوی په حصه کی لیکلی ده ، دغه به خامخا دوی ته رسیږی لیکن بنی اسرائیل دخپل طبعیٰ خصوصیت په وجه سره دالله ﷻ دانعاماتو دفرعون غرقیدل اودمصرحکومت فتح کیدل اونور په سترګو دلیدوسره بیاهم په وعده اومیثاق پوره ونه ختل اودشام دجهاد حکم چی ورته دالله ﷻ دطرف څخه وسو داحکم یی ونه منی اوضدیی وکی کښینستل، نوددی سزاورته دقدرت دطرف څخه داملاو سوه چی تر څلوېښتو کالو پوری په یو محدوده علاقه کی قید اوبندپاته سول چی په ظاهره یی پرشاوخوا باندی نه یو قلعه وه اونه ددوی لاس اوپښی په څه قیدکی بندوی، بلکه په ډاګ میدان کی وه، اوخپل وطن مصرته به دواپس تلودپاره به یی روزانه دسهارڅخه ترماښامه پوری سفرکوی لیکن چی ماښام به سوبیابه پرخپل هغه ځای وه دکم ځای څخه چی به دوی سهارروان سوی وه، په دغه دوران کی حضرت موسیٰ . اوحضرت هارون ﷺ وفات سول اوداخلګ هم دغه شان په دغه تیه بیابان کی حیران اوپریشانه ګرځیدل، ددی څخه وروسته الله ﷻ نور پیغمبران د دوی دهدایت دپاره راولیږل.
څلوېښته کاله دغه شان دپوره کیدو څخه وروسته بیاددوی پاته نسل ددغه وخت دپیغمبرپه مشری کی دشام اوبیت المقدس دجهاد قصدوکی اودالله ﷻ هغه وعده پوره سوه چی دا مقدسه مځکه ستاسی په حصه کی لیکل سویده اودا اجمال دی ددغه واقعی کومه چی په دی ذکر سوو آیتونو کی بیان سوي ده ، اوس ددی تفصیل په قرآنی آیتونوکی واوری.
حضرت موسیٰ ﷺ ته چی کله داهدایت ورسیدی چی خپل قوم ته دبیت المقدس اودشام دملك دفتح کولودپاره دجهادحکم وکه نوده ورته دپیغمبری دحکمت اووعظ پربنادحکم اوورولو څخه مخکی دالله ﷻ هغه انعامونه وریادکړه کوم چی په بنی اسرائیلوباندی تر اوسه پوری سوی وه ارشاد فرمایی.

اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَعَلَ فِيكُمْ أَنبِيَاءَ وَجَعَلَكُم مُّلُوكًا وَآتَاكُم مَّا لَمْ يُؤْتِ أَحَدًا مِّنَ الْعَالَمِينَ.
(یعنی دالله ﷻ فضل اوانعام یادکی کوم چی په تاسی سوي دی چی ستاسی په قوم کی یی ډیرپیغمبران راولیږل اوتاسی یی باچهان جوړ کړاست اوتاسی لره یی هغه نعمتونه درکړل چی په دنیاکی یی هیچالره نه دی ورکړی)
په دی کی د درو نعمتونوبیان دی چی اولنی په کښی یوروحانی اومعنوی نعمت دی چی ددوی په قوم کی یی پرلپسی ډیرپیغمبران راولیږل چی تردی زیات اخروی اومعنوی عزت بل هیڅ شی نه سی کیدی ، په تفسیر مظهری کی نقل سوی دی چی په یوقوم اویوامت کی دومره پیغمبران نه دی راغلی، لکه څومره

Maktaba Tul Ishaat.com

ډیرچي په بني اسرائیلو کي راغلي دي .
دحدیثو امام ابن ابي حاتم په روایت داعمش نقل کوي چي دبني اسرائیلو دقوم په آخري دورکي کم چي دحضرت موسیٰ ﷺ څخه واخله ترحضرت عیسیٰ ﷺ پوري دي، یوازي په دي دورکي یو زر انبیاء په بني اسرائیلو کي لیږل سوي دي ، دوهم نعمت دکوم ذکر چي په دي آیت کي دي هغه دنیوي اوظاهري نعمت دي چي دوي یي باچهان یعني دحکومتونو خاوندان جوړ کړل، په دي کي دي طرف ته اشاره ده چي دابني اسرائیل چي دموږي څخه دفرعون اودفرعون دقوم غلامان جوړ سوي وه اوشپه ورځ به یي ظلمونه برکول، نن الله ﷻ ددوي دښمن نیست اونابود کي، دوي یي دهغه دحکومت اوملك مالكان كړل، دلته داخبره دفکرکولو قابله ده چي دانبیاوو په معامله کي خوارشاد وسوچي ، جَعَلَ فِيكُمْ أَنبِيَآءَ يعني ستاسي په قوم کي یي ډیر خلګ انبیاء جوړ کړل چي ددي مطلب دادي چي ټول قوم انبیاء نه وو اوداحقیقت هم دی چي انبیاء یوځو کسان وي اونور ټول قوم ددوي اُمّت او تابعداران وي اوکم ځای چي ددنیا دملك اوحکومت ذکر راغلي دي ، نوهلته یي فرمایلي دي ، وَجَعَلَكُمْ مُلُوكًا يعني جوړ کړاست مونږ تاسي باچهان، چي ددي ظاهري مطلب دا دي چي تاسي ټول مونږ باچهان جوړ کړاست لفظ دملوك دملك جمع ده چي په عام عرف کي ددي معنیٰ دباچا ده اوداښکاره خبره ده چي لکه څنګه چي ټول قوم نبي اوپیغمبر نسي کیدی، دغه ډول په یوه ملك کي ټول قوم باچهان هم نه سي کیدی ، بلکه دقوم یوځو کسان یا یو کس باچا وي نور ټول قوم یي تابعداروي، لیکن دقرآن الفاظو دي ټولو ته باچا وویل .
ددي یوه وجه خو هغه ده چي په بیان القرآن کي دځینو مشرانو څخه نقل ده، چي په عام عرف کي چي باچا دکم قوم وي، دهغه دحکومت اوبادشاهي نسبت دغه ټول قوم ته کول کیږي، لکه داسلام په درمیاني زمانو کي به یي حکومت ته دبني اُميه اودبني عبّاس حکومت وایه، دغه ډول په هندوستان کي دغزنوي اوغوري حکومتونه بیا دمغلو حکومت بیا دانګریزانو حکومت چي دټول قوم افرادو ته یي نسبت کول کیږي ، نو په دي وجه دکوم قوم چي یو باچاوي ، هغه ته دټول قوم حکمران اوباچا ویل کیږي .
ددي محاوري مطابق ټول قوم ته دبني اسرآئیلو قرآنکریم باچهان وویل، په دي کي اشاره دي طرف ته هم کیدی سي چي اسلامي حکومت په حقیقت کي عوامي حکومت وي، عَواموته دخپل امیر اوامام منتخب کولو حق وي اوعوام دي په خپل اجتماعي رایي سره معزول کولی هم سي په دي وجه په ظاهرکي که څه هم چي حکمران یو کس وي لیکن په حقیقت کي دغه حکومت خاص دعوامو حکومت وي .
بله وجه دا ده کومه چي په ابن کثیر اوتفسیر مظهري کي دځینو مشرانو څخه نقل سوي ده چي لفظ دمَلِكْ دباچاتر مفهوم (معنیٰ) زیات عام دي ، داسي سړي ته ملك ویل کیږي چي آسوده حال وي ، دمکان ، جایداد ، نوکر اوچاکرمالك وي، ددي معنیٰ په اعتبارسره دغه وخت دبني اسرآئیلو هریونفر دملك مصداق وو ، په دي وجه یي دي ټولو ته مُلُوك وویل .
دریم نعمت دکوم ذکر چي په دي آیت کي دي، دغه دمعنوي اوظاهري دواړو قسمونو نعمتونو مجموعه ده چي فرمایي ، وَآتَاكُم مَّا لَمْ يُؤْتِ أَحَدًا مِّنَ الْعَالَمِينَ يعني تاسي ته هغه نعمتونه درکړل سوه چي په دنیاکي

Maktaba Tul Ishaat.com

هیڅاته نه دی ورکړل سو، په دی نعمتونوکی معنوی شرافت اونبوت اورسالت هم داخل دی اوظاهری حکومت باچهی اومال اودولت هم، البته دلته داسوال کیدی سی چی دقرآن په نص سره اُمّت محمّدی په ټولو امتونوکی بهتره دی، دقرآن ارشاد دی كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ او وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا په دی باندی شاهددی اودحضور ﷺ په احادیثوکی بی شمیره روایتونه ددی تاکید کوی، جواب دادی چی په دی آیت کی ددنیا دهغو خلګو ذکر دی کوم چی دبنی اسرآئیلو څخه دحضرت موسٰی ﷺ په زمانه کی موجود وه چی دغه وخت په ټوله دنیاکی هیڅاته دا نعمتونه نه وه ورکړل سوی کوم چی بنی اسرآئیلوته ورکړل سوی وه، په راتلونکی زمانه کی که یوامّت ته تردوی هم زیات نعمتونه ورکړل سی نو دا ددی نفی نه کوی.

په دی اولنی آیت کی چی یی دحضرت موسٰی ﷺ کوم قول نقل کړی دی دا سریزه وه ددی حکم دبیانولو کوم چی په راتلونکی آیت کی داسی راغلی دی، يٰقَوْمِ ادْخُلُوا الْاَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ الَّتِيْ كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ یعنی ای زماقومه! تاسی هغه پاکی مځکی ته داخل سی کومه چی الله ﷻ ستاسی په حِصه کی لیکلی ده.

دارضِ مقدّسه څخه کومه مځکه مراد ده؟ دارضِ مقدّسه (پاکی مځکی) څخه کومه مځکه مراد ده؟ په دی کی دتفسیر لیکونکو ویناګانی په ښکاره دیوبل څخه مخالفی دی، ځینی فرمایی چی بیت المقدس ورڅخه مراددی، ځینی دقدس ښار اوایلیآء ته ارضِ مقدسه وایی ځینی یی داریحا ښارته وایی چی دأردن دنهر اوبیت المقدس په مینځ کی ددنیا تر ټولو پخوانی ښاردی اوتراوسه پوری موجوددی اود حضرت موسٰی ﷺ په زمانه کی ددی عجیبه اونا اشنا دلویی، فراخی اوترقی حالات نقل کیږی.

په ځینو روایاتوکی دی چی ددی ښار یوزر حصّی (واړدونه) وه، په هره حصه کی یو یوزر باغونه وه اوپه ځینو روایتونوکی دی چی دارضِ مقدسه څخه مراد: دمشق، فلسطین او دځینوپه نزد اُردن دی، اوحضرت قتادة ﷺ فرمایی چی دشام ملك ټول ارضِ مقدس دی، كعبِ احبار ﷺ فرمایی چی مادالله ﷻ په کتاب (غالبًا تورات) کی لیدلی دی چی دشام په ټول ملك کی دالله ﷻ یوخاص خزانه ده اوپه دی کی دالله ﷻ خاص مقبول بندګان دی، دی مځکی ته مقدسه په دی وجه ویل کیږی چی دا دانبیاوو ﷺ وطن او داوسیدو ځای پاته سوی دی، په ځینو روایتونوکی دی چی یوه ورځ حضرت ابراهیم ﷺ دلبنان غره ته وختی، الله ﷻ ارشاد وفرمایی چی ای ابراهیمه! ددی ځای څخه خپل نظرواچوه ترځومره حده پوری چی ستا نظر ورسیږی ماهغه ارضِ مقدسه جوړه کړه دا ټول روایتونه دتفسیر ابن کثیر اوتفسیر مظهری څخه نقل سوی دی اوصفا خبره دا ده چی په دی قولونو کی هیڅ تعارض (اختلاف) نسته، دآخری روایتونو مطابق دشام ټول ملك ارضِ مقدس دی، په بیان کی ځینی حضراتو دشام دملك یوه حصه بیان کړی ده اوځینو ټول ملك.

قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى: تردی په مځکی آیت کی الله ﷻ بنی اسرآئیلو ته په ذریعه دحضرتِ موسٰی ﷺ دعمالقه وو دقوم سره دجهاد کولو اودشام دملك دفتح کولو حکم ورکړی وو، اوددی سره یی داخوشخبری هم ورکړی وه چی دشام مځکه الله ﷻ د دوی دپاره لیکلی ده، په دی وجه ددی فتح کول یقینی دی.

په دی ذکر سوی آیت کی ددی بیان دی چی ددی خبری سره سره بیاهم بنی اسرآئیلو دخپلی معلومی

Maktaba Tul Ishaat.com

سرکښې اوکوږ طبعي په وجه سره داحکم هم ونه منی، بلکه حضرت موسیٰ علیه السلام ته یې وویل چې ای موسیٰ! په دې ملك باندې خو ډېرو زو رورو اوقومي خلکو قبضه ده ، مونږ به ترهغه وخته پورې دغه ملك ته داخل نه سو ترڅوپورې چې دغه خلک هلته قبضه کوونکي وي ، البته که دوی یوې خواته ورځخه ولاړل نو بیشکه چې بیابه مونږ هلته ولاړ سو .

ددې واقعه کومه چې دتفسیر داامامانو حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه عکرمه اوعلی بن ابی طلحه اونورو ځخه نقل ده ، دا ده چې دغه وخت په شام او بیت المقدس باندې دعمالقه دقوم قبضه وه چې دعادیانو دقوم یوښاخ ، ډېر غټ ، جُوسه ناك او دهیبت ناك قد او قامت خلګ وه، دکومو سره چې دجهاد کولو او دبیت المقدس فتح کولو حکم حضرت موسیٰ علیه السلام او دده قوم ته سوی وو .

حضرت موسیٰ علیه السلام دالله ﷻ دحکم پوره کولو دپاره خپل قوم بني اسرآئیل دځان سره کړل اودشام طرفته روان سول، لارې پربیت المقدس وه کله چې دأردن ترنهر پورې وتل نو ددنیا ترټولو پخوانی ښار اریحاته ورسیدل اوهلته تم سول اودبنی اسرآئیلو دانتظام دپاره د دوولسو سردارانو دانتخاب کولو بیان دقرآن کریم په تیرو آیتونوکی بیان سوی دی ، دغه سرداران یې مخکې ولیږل چې ددې خلګو حالات اودجنګ دځای اندازه معلومه کړي اوبیرته راسي، ددغه خلګو حالات کوم چې پربیت المقدس باندې قابض دي اودکوموسره چې دجهاد کولوحکم سوی دی، داحضرات چې بیت المقدس ته ورسیدل نو ترښار دباندې ورته دعمالقه قوم یوسړی په مخه ورغی چې هغه دوی ټول ګرفتار کړل او خپل باچاته یې پیش کړل چې دا خلګ زمونږ سره دجنګ کولو دپاره راغلي دي، په شاهي دربارکې مشوره وسوه چې داټول دې قتل کړل سي یادې ورلره بله کومه سزا ورکړل سي، خوآخرپردې رایه اتفاق وسوچې دوی دې آزادکړه سي چې خپل قوم ته ولاړسي اود عمالقه دقوم دسترګو لیدلی قوت اوشوکت هغوی ته بیان کړي چې هغوی هیڅکله هم بیادې طرف ته دمخ کولوخیال په زړه کې رانه وړي، پردې موقع باندې دتفسیر په اکثروکتابونوکې دپلنواوړدوا اسرآئیلي روایتونوقصي لیکل سوي دي چې په دوی کې ددې پیښیدونکې سړي نوم عوج بن عنق ښوول سوی دی او دده یې ډېر بې اندازې قداوقامت اوقوت اوطاقت په دومره مبالغه سره بیان کړې دي چې یو هوښیار سړی ته ددې نقل کول هم ډېرګران دي ، دتفسیر امام ابن کثیر فرمایي چې دعوج بن عنق کومې قصې چې په اسرآئیلي روایتونوکې ذکر دي ، نه عقل دغه قبلولی سي اونه په شریعت کې ددې کوم جوازسته ، بلکه دا ټول درواغ اودځانه جوړې سوې دي ، خبره فقط دومره ده چې دعمالقه قوم خلګ دعادیانو اولاد دي دکوموچې دهیبتناك قداوقامت ذکر په خپله قرآن کریم فرمایلی دی ، ددې قوم قداوقامت قوت اوطاقت مثالي وو ، ددې قوم یوسړي دبني اسرآئیلو د دوولسو کسانو په ګرفتارولو قادر سوی وو .

په هرحال دبنی اسرآئیلو دوولس سرداران دعمالقه قوم دقید ځخه آزادسول خپل قوم ته داریحا وځای ته راغلل اوحضرت موسیٰ علیه السلام ته یې ددې عجیبه اونا اشناقوم ترقیاس دباندې دقوت اوشوکت ذکر وکی ، دحضرت موسیٰ علیه السلام په زړه باندې خو ددې خبرو یوه ذره هم تاثیرو نه سو ځکه چې الله ﷻ دوحی په

ذریعه سره دفتح اوکامیابی زیری ورکړی وو ، په قول داکبر .

یعنی داسی څوك دی چی مابه بی زړه کړی ماته دالله ﷻ وعده چی تاسی به غالب یاست یاده ده .

حضرت موسٰی ﷺ خو د دوی دقوت او شوکت حال واوریدی په خپل ځای لکه غرثابت قدم ولاړ دجهاد په فکرکی وو ، لیکن دا بیره ورسره پیدا سوه چی که بنی اسرآئیلوته ددی مقابل دښمن دبی پناه طاقت علم وسی نو د دوی پښی به وښوییږی ، په دی وجه یی دی دوولسو سردارانو ته دا هدایت وفرمایی چی دعمالقه قوم دا حالت بنی اسرآئیلو ته هیڅکله هم ښکاره نه کړی ، بلکه دا خبره په رازکی وساتی ، مګر داسی وسوه چی په دوی کی هریوه خپلو خپلو دوستانوته په پټه باندی ددی ذکروکی، یوازی دوو کسانوچی دیوه نوم یوشع بن نون اودبل دا کالب بن یوقنا وو ، دوی دحضرتِ موسٰی ﷺ په هدایت باندی عمل وکی او دا راز یی هیچاته ونه وایه، او ښکاره خبره ده چی په دوولسوکی لسو ١٠ کسانو راز ښکاره کی نوددی خپریدل قدرتی خبره وه په بنی اسرآئیلوکی چی کله داخبر خپورسو نو په ژړاسوه اووی ویل چی تردی بهتره خوداوه چی مونږهم دفرعونیانوپه شان په دریاب کی ډوب سوی وای دهغه ځای څخه یی خلاص کړو اوس دلته مونږ وژنی، په دی حالاتو کی بنی اسرآئیلو دا الفاظ وویل ، یَا مُوسٰی اِنَّ فِیۡهَا قَوۡمًا جَبَّارِیۡنَ وَاِنَّا لَنۡ نَّدۡخُلَهَا حَتّٰی یَخۡرُجُوۡا مِنۡهَا یعنی ای موسٰی! په دی ښارکی ډیر زورور قوم آباددی چی مقابله یی مونږ نه سو کولی په دی وجه ترڅوپوری چی دغه خلګ پکښی موجودوی مونږبه ددغه ځای دتلونوم هم وانخلو، په راتلونکی آیت کی دی چی دوه سړیان کوم چی بیریدونکی وه اوپه چاچی دالله ﷻ انعام سوی وو ، هغوی چی دبنی اسرآئیلو داخبری واوریدی نوپه ډول دنصیحت یی وویل دوی ته، چی تاسی مخکی ولی دبیری څخه مړه کیږی ، لږقدم پورته کړی ، دبیت المقدس دښار تر دروازی پوری خو ورسی زمونږ یقین دی چی ستاسی دغومره عمل به ستاسی دکامیابی اوفتحی سبب جوړسی اودبیت المقدس دروازی ته دداخلیدو سره به تاسی غالب سئ، اودښمن به شکست وخوری اووبه تښتی، دادوه سړیان دکوموچی په آیت کی ذکردی، داکثرو مفسرینوپه نزد ددغو دوولسو څخه دوه سرداران دی کومو چی دحضرتِ موسٰی ﷺ په هدایت باندی عمل وکی دعمالقه وو پوره حال یی بنی اسرآئیلو ته نه وو ښوولی ، یعنی یو شع بن نون اوکالب بن یوقنا .

قرآن کریم په دی ځای کی ددی دوو بزرګانو دوه صفتونه په خاص ډول سره ذکرکړی دی یو ، اَلَّذِیۡنَ یَخَافُوۡنَ یعنی داخلګ کوم چی بیریږی، په دی کی یی دا ذکر نه کړل چی دچاڅخه بیریږی، اشاره ددی خبری طرف ته ده چی دبیری لائق په ټول عالم کی یوازی یوذات دی یعنی الله ﷻ ځکه چی ټول کآئنات دهغه په قبضه اوقدرت کی دی، دهغه درضا اواجازت څخه بغیرڅوك نه چاته لږه نفعه رسولی سی نه لږڅه نقصان، اوکله چی دبیری لائق خاص یو ذات دی او هغه معلوم دی نو بیا دهغه دتعین ضرورت پاته نه سو .

دوهم صفت ددی بزرګانو قرآن کریم دا بیان کړی دی چی ، اَنۡعَمَ اللّٰهُ عَلَیۡهِمَا یعنی الله ﷻ په دی دواړو انعام فرمایلی دی ، په دی کی ددی خبری طرف ته اشاره ده چی په کوم سړی کی چی کوم ښه والی اونیکی ده دا دالله ﷻ انعام اوبخشش دی که نه وی نو په دی دوولسو سردارانو کی ظاهری قوّت دلاسو اوپښو،

Maktaba Tul Ishaat.com

سترګو اوغوږونو، ظاهري اوباطني قوتونه او عقل اوفکر اوبیادحضرت موسیٰ علیه السلام صحبت اوملګرتیا دا ټول شیان ټولوته یوډول حاصل وه، او ددې سره سره ټول وښوييدل او دا دوه په خپل ځای ثابت قدمه پاته سول ، نو معلومه سوه چې اصلي هدايت دانسان دظاهري اوباطني قوتونو او دده دکوشش اوعمل تابع نه دی ، بلکه دالله ﷻ انعام دی ، البته ددې انعام دپاره کوشش او عمل شرط ضرور سته .

ددې څخه معلومه سوه چې کوم سړی ته الله ﷻ عقل ، فکر، پوهه اوهوښیاري ورکړې، دی دې په دې خپلو طاقتونو نازنه کوي ، بلکه دالله ﷻ څخه دې هدايت غواړي .

عارف رومي رحمه الله څه ښه فرمايلي دي .

فهم وخاطر تیز کردن نیست راه جز شکسته می نگیرد فضلِ شاه

په عقل اوپوهه باندې لارپيدا کول نسته ، لار پيدا کول دالله ﷻ په فضل سره حاصلیږي .

خلاصه دخبرې داده چې دې دواړو بزرګانوپه خپله وروړولي دانصيحت وکی چې دعمالقه وو دښکاره قوت اوشوکت څخه مه بيريږئ پرالله ﷻ توکّل وکړئ، دبيت المقدس تردروازې پورې ولاړسئ نوفتح اوغلبه به ستاسې وي، ددې بزرګانو دافيصله چې تردروازې پورې وررسيدو وروسته به دوی ته خامخا غلبه حاصله سي اودښمن به وتښتي، کيدای سي چې دعمالقه قوم دمعاينې کولو پربنآء باندې وي چې دا خلګ که ډيرغټ کټ دي خوداغسې دپُنبه وو غوندې دي چې په حملې خبرسی نوتښتي به اوداهم ممکنه ده چې کوم دالله ﷻ دطرفه څخه دفتح زيرې دوی دحضرتِ موسیٰ علیه السلام څخه اوريدلی وو، په دې باندې دکامل يقين په وجه يې دا فرمايلي وي .

ليکن بني اسرآئيلو چې کله دخپل پيغمبر حضرت موسیٰ علیه السلام خبره وانه وريده نوددې دوو بزرګانوبه يې څه اوريدلي وي، بيايي هم دغه جواب په زياته بې عقلی سره ورکی چې، فَاذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَآ اِنَّا هٰهُنَا قَاعِدُوْنَ يعني ته اوستارب ولاړسئ د دوی سره جنګ وکړئ مونږ به دلته ناست يو، دبني اسرآئيلو داخبره که دمسخرو په ډول وي نوښکاره کفروو او تردې وروسته دحضرت موسیٰ علیه السلام ددوی سره پاته کيدل او د دوی دپاره دتيه په ميدان کې دعاګانې کول چې ذکر يې په راتلونکي آيت کې راځي ، ددې امکان نه وو.

په دې وجه دتفسير امامانو دکلمې مطلب دا مقررکړی دی ، چې ته ولاړسه او د دوی سره جنګ کوه ، ستارب به ستاکومک کوي، مونږخو دکومک کولو څخه عاجزه يو ، ددې معنی په اعتبارسره داکلمه دکفر دحد څخه ووته، که څه هم چې داجواب ډير دبې عقلي اودزړه دآزارولودی، داوجه ده چې دبني اسرآئيلو داکلمه ضرب المثل جوړه سوه .

دبدرپه غزاکې دخالي لاسو او وږو مسلمانانوپه مقابله ديوزر ١٠٠٠ باوسله ځوانانو لښکرراغی اومقابل سونو نبی کريم ﷺ چې داحالت وليدی خپل رب ته يې دعاګانې شروع کړې، نوحضرت مقدادبن اسود رضي الله عنه صحابي ورته راوړاندې سواوعرض يې وکی يا رسول الله په خدای ﷻ قسم دې مونږ به هيڅکله هغه خبره ونه کړوکومه چې دحضرتِ موسیٰ علیه السلام قوم حضرت موسیٰ علیه السلام ته کړې وه چې ، فَاذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَآ اِنَّا هٰهُنَا قَاعِدُوْنَ : بلکه مونږ به ستا د ... [illegible]

Maktaba Tul Ishaat.com

دمقابلې تياري كوه ، نبي كريم ﷺ چي داواوريدل نو ډير خوشحاله سواوپه صحابه كرامو ﷺ كي هم دجهاد يو نوي جوش راپورته سو ، حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ به هميشه فرمايل چي دحضرت مقداد بن اسود ﷺ دي كارنامي ته زه ډير شوقمند كيږم چي كاشكي ! داسعادت ماته هم حاصل واى .

دخبري خلاصه دا ده چي دحضرت موسٰی ﷺ قوم په داسي نازكه موقع بلندي حضرت موسٰی ﷺ ته داسي بد جواب وركي چي خپل ټول عهد او ميثاق يي مات كي .

(دقوم انتهايي بي وفايي او دحضرت موسٰی ﷺ انتهايي صبر او ثابت قدمي)

قَالَ رَبِّ إِنِّىْ لَآ أَمْلِكُ إِلَّا نَفْسِىْ دبني اسرآئيل قوم ته تير حالات او واقعات او د دوى سره دالله ﷻ او دحضرت موسٰی ﷺ دمعاملو معاينه كوونكي اونظر كوونكي كه په سرسري ډول سره هم داخانته راوړاندي كړي چي دبني اسرآئيلو قوم دصد يو راهيسي په غلامي دفرعون كي په قسم قسم ذلتونو اوعذابونو كي اخته وو ، دحضرت موسٰی ﷺ دتعليم او بركت په وجه دوى خداى ﷻ دكوم ځاى څخه كوم ځاى ته ورسول .

د دوى دسترګو په وړاندي دالله ﷻ دكامل قدرت څنګه څنګه نښاني ښكاره سوي ، فرعون اودفرعون قوم په خپل دربار كي دحضرت موسٰی ﷺ او دحضرت هارون ﷺ دلاسه شكست وخوړي ، په كومو ساحرانو چي د دوى باور وو ، هغو اوس په حضرت موسٰی ﷺ باندي ايمان راوړي او دحضرت موسٰی ﷺ سره سول ، بيا دغه فرعون څخه چي دخدايي دعوه يي كړي وه او په شاهي محلونو كي داوسيدونكو فرعوني قوم څخه دخداى عزّ وجلّ قدرت كامله څنګه ټول محلونه او مكانات او ددوى ساز او سامان په يوه وخت كي خالي كړه اوڅنګه يي دبني اسرآئيلو دسترګو په وړاندي په درياب كي غرق كړه اوڅنګه يي په معجزانه ډول سره بني اسرآئيل پردرياب پوري ايستل اوڅه رنګه يي هغه دولت چي فرعون به أَلَيْسَ لِىْ مُلْكُ مِصْرَ وَهٰذِهِ الْأَنْهٰرُ تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِىْ ويل فخربه يي ورپوري كوى ، الله ﷻ دغه ټول ملك او ساز او سامان بغير دكم جنګ اوجګړي څخه بني اسرآئيلو ته وركړل .

په دي ټولو واقعاتو كي دالله ﷻ دلوى قدرت علامي ددى قوم په مخكي راغلي ، حضرت موسٰی ﷺ ددى قوم اول دغفلت اوجهالت څخه بيادفرعون دغلامي څخه په خلاصولو كي څومره تكليفونه اومصيبتونه تير كړل ، ددى ټولو شيانو وروسته كله چي دى قوم ته دخداى ﷻ دكومك اوانعامونو دوعدو سره دشام په ملك كي دجهاد كولو حكم وركړل سو نو دى خلګو دخپلي دي نااهلي اظهار وكي او وى ويل ، اِذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَآ إِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ .

ددنيا ترټولو لوى مصلح دى په زړه لاس كښيږدى ، ودى ګوري چي ددى حالاتو اوترددى وروسته دقوم په دى حركتونو باندي به پرده څه تاثير كيږي ، ليكن دلته دالله ﷻ اولوا العزم رسولان دي چي ديوه محكمه غره په شان په خپل كاركي ثابت قدمه بوخت دى ، دقوم په دى پرلپسي وعده ماتولو او وعدى هيرولو سره ، دخپل رب په مخكي يوازي دومره عرض كوى ، إِنِّىْ لَآ أَمْلِكُ إِلَّا نَفْسِىْ وَأَخِىْ يعني زما دخپل ځان اوخپل ورور څخه ماسوا پربل هيچا اختيار نسته نودعمالقه وو سره څنګه دجنګ مهم كار سرته ورسوو ، دلته دا خبره هم دفكر كولو قابله ده چي دبني اسرآئيلو په قوم كي لږترلږه دوه سرداران يوشع بن

نون اوکالب بن یوقنا کوموچی په پوره ډول سره دحضرت موسٰی ﷺ دتابعداری ثبوت ورکړی وو او دقوم دپوهولو دپاره او د دوی سیده لارې ته دراوستو دپاره یی دحضرت موسٰی ﷺ سره پرلپسی کوشش کړی وو، دغه وخت حضرت موسٰی ﷺ د دوی هم ذکر ونه کی ، بلکه یوازی خپل او دحضرت هارون ﷺ ذکر یی وفرمایی ، ددی سبب هم دغه دبنی اسرآئیلو عهد ماتول اونافرمانی وه چی یوازی حضرت هارون ﷺ په وجه دپیغمبری معصوم وو اودده پرحق قآئم پاته کیدل یقینی وه اودغه باقی دواړه سرداران معصومان هم نه وه ، نوددی انتهایی غم اوغصی په حالت کی یی یوازی دهغه ذکروکی دچاچی پر حق باندی قآئم پاته کیدل یقینی وه، ددی خبری په ښکاره کولوسره چی زماد خپل ځان اوخپل ورور څخه ماسوا پربل هیچا باندی اختیار نسته ، حضرت موسٰی ﷺ دا دُعا وفرمایله ، فَافْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ : یعنی زمونږ د دواړو او زمونږ دقوم په مینځ کی ته فیصله وکړی ، ددی دُعاحاصل دحضرت عبدالله ابن عباس ﷺ دتفسیر مطابق دا وه ، چی دا خلګ دکمی سزا لائق دی ، دوی ته دی دغه سزا ورکړل سی او مونږ دواړه چی دکوم صورت حال لائق یو، مونږ ته دی هغه راکړل سی.

الله ﷻ دادُعا داسی قبوله کړه چی ارشادوسو چی ، فَإِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ أَرْبَعِينَ سَنَةً يَتِيهُونَ فِي الْأَرْضِ یعنی دشام دملك مځکه په دوی باندی ترڅلویښتو کالوپوری حرامه کړل سوه اوس که دوی هلته تلل هم غواړی نونه به سی تلی اوبیاداهم نه ده چی شام ته به نه سی تلی ، بلکه که دوی خپل وطن مصرته بیرته تلل غواړی نوهلته به هم نه سی تلی ، بلکه په دی میدان کی به دوی نظربند کړل سی.

دالله ﷻ دسزاګانودپاره نه پولیس اودلاسوکړی شرط دی اونه بندیخانی اومحکمه دیوالونه او د اوسپنی دروازی ، بلکه کله چی هغهدچابندی کول وغواړی نو په پراخ میدان کی یی هم بندی کولی سی اوسبب یی ښکاره دی چی ټول کآئنات دده مخلوق دی او دده په حکم کی دی کله چی دی کآئناتوته دچا دبندی کولوحکم وکړی ، نو ټوله هوا او فضا او مځکه اومکان دده دپاره بندیخانه جوړیږی.

خاك وباد وآب وآتش بنده اند — بامن وتو مرده با حق زنده اند

خاوری، باد، اوبه اواُور ټول دهغه دحکم تابعداره دی ، مااوتاته مړه دی اودالله ﷻ په نزد ژوندی دی.

نو دغه لنډغوندی میدان چی دمصر اوبیت المقدس په مینځ کی دی چی پلنوالی او اوږدوالی یی دحضرت مقاتل دتفسیر مطابق دیرش۳۰ فرسخه اوږدوالی اونهه ۹ فرسخه پلنوالی دی، یوفرسخ که دری میله مقررکړه سی نو نوی ۹۰ میله اوږدوالی او اوه ویشت ۲۷ میله پلنوالی ورڅخه جوړیږی، اودځینو روایتونو مطابق یوازی دیرش ۳۰ ضرب اتلس ۱۸ میله پراخی ده ، الله ﷻ داټول قوم چی شمیریی دحضرتِ مقاتل دبیان موافق شپږ لکه نفوسه وو، په لنډغوندی پراخ میدان کی یی داسی بندیان کړل چی څلویښت کاله پرلپسی په دی منډو ترنډو کی وه چی څنګه به ددی میدان څخه ووزی او مصرته به بیرته ولاړسی اویاچی مخ ته ولاړسی اوبیت المقدس ته ورسیږی، مګرکیده به داسی چی ټوله ورځ به یی سفر وکی اوچی ماښام به سونو داسی به معلومیده چی دوی په دی ټوله ورځ سفر باندی یوازی هغه ځای ته ورسیدل دکم ځای څخه چی روان سوی وه.

Maktaba Tul Ishaat.com

دتفسيرعالمان فرمايي چې الله ﷻ چې كله يوه قوم ته سزا وركوي ، هغه د دوى دبدعمل په مناسبت سره وي ، نو دى نافرمانه قوم چې كله داكلمه ويلي وه چې اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ يعني مونږ دلته كښينو ، نو الله ﷻ دوى په دى سزا كې هلته ترڅلويښتو كالو پورې بنديان كړل ، دتاريخ روايتونه په دى كې مختلف دي چې په دې څلويښت كاله موده كې دبنى اسرائيلو موجوده نسل كوموچې نافرماني وكړه ټول فناء سول او د دوى راروان نسل باقي پاته سوكوم چې ددى څلويښتوكالوبندڅخه ترخلاصيدو وروسته په بيت المقدس كې داخل سول ياددوى څخه هم څه خلګ باقي پاته وه ، په هرحال قرآن كريم خو يوه دا وعده كړې وه چې ، كَتَبَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ يعني دشام ملك يې دبنى اسرائيلوپه حصّه كې ليكلى دى ، دغه وعده پوره كول ضرورى وه چې دبنى اسرائيلو قوم به پردى ملك قابض وي ، ليكن دبنى اسرائيلو موجوده خلګو نافرمانى وكړه اودالله ﷻ ددى انعام څخه يې ډډه وكړه نو دوى ته داسزا ورسيده چې : مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً يعني څلويښت كاله دوى دارضِ مقدسى دفتح كولو څخه محرومه كړل سول ، بياد دوى په نسل كې چې كوم خلګ پيدا سول د دوى په لاسو دا ملك فتح سو او دالله ﷻ وعده پوره سوه ، په دى تيه بيان كې حضرت موسىٰ اوحضرت هارون ﷺ هم دخپل قوم سره وه ، مګر دا بيابان د دوى دپاره قيد او سزا وه او ددې دواړو حضراتو دپاره دالله ﷻ دنعمتونو اظهار وو .

دغه وجه ده چې داڅلويښت كاله دوركوم چې په بنى اسرائيلو دعتاب تيرسو په دى كم هم الله ﷻ دوى دحضرت موسىٰ او حضرت هارون عليهما السلام په بركت سره په قسم قسم نعمتونوسره سرفرازه كړل ، په ډاګ ميدان كې چې دغرمو څخه عاجزه سول نو دحضرت موسىٰ ﷺ په دُعا سره الله ﷻ په دوى دوريځې سايه وكړه كوم طرف ته چې به دوى تلل وريځ به ورسره روانه وه ، دتندى سختي به ورباندى راغله نو الله ﷻ حضرت موسىٰ ﷺ ته يوه داسې ډبره وركړه چې هرځاى به ددوى سره وه اوكله چې به داوبو ضرورت سونو حضرت موسىٰ ﷺ به په خپله لكړه ووهله نو دولس چينې به ورڅخه روانى سوى ، دلوږې تكليف ورته راغى ، نوآسمانى خوراك من اوسلوىٰ ورباندى نازل سو ، دشپې دتاريكې څخه په عذاب سوه نوالله ﷻ ورباندى دړنا يوه مُناره ودروله چې دهغې په رڼاكې به دوى تولو خپل خپل كارونه كوله .

مقصد دا دى چې په دى ميدان دتيهه كې يوازى دغه په عتاب سوى خلګ نه وه ، بلكه دالله ﷻ دوه محبوب پيغمبران عليهما السلام او د دوى سره دوه مقبول بندګان يوشع بن نون اوكالب بن يوقناهم وه ، ددوى په بركت سره ددى بند اوسزا په زمانه كې هم دا انعامات په دوى باندى كيدل اوالله ﷻ درحيمانو رحيم دى ، ممكنه ده چې دبنى اسرائيلودى خلګو كله چې داحالات ليدلي وي اوتوبه ګارسوى وي اوددى په بدله كې ورته داانعامات رسيدلي وي ، دصحيح رواياتوپه مطابق په دى څلويښت كاله دوركې اول حضرت هارون ﷺ وفات سو ، اوتردى يوكال ياشپږ مياشتى وروسته حضرت موسىٰ ﷺ وفات سو ، تردى وروسته الله ﷻ حضرت يوشع بن نون نبى جوړكې اودبنى اسرائيلوپه هدايت باندى يې ماموره كې ، اودڅلويښت كاله بند ختميدو څخه وروسته دبنى اسرائيلو باقى قوم دحضرت يوشع بن نون ﷺ په مشريكې دبيت المقدس دجهاد دپاره روان سو دالله ﷻ دوعدى مطابق دشام ملك د دوى په لاسو فتح

Maktaba Tul Ishaat.com

سو او ددی ملك بی اندازی دولت د دوی لاس ته ورغی .

په آخری آیت کی چی یی کوم ارشاد فرمایلی دی چی ، فَلَا تَاْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ یعنی په دی نافرمانه قوم باندی مه خفه کیږه ، داپه دی بناء باندی چی پیغمبران علیهم السلام دخپل طبیعت او فطرت په وجه داسی وی چی دخپل اُمّت تکلیف اوپریشانی نه سی برداشت کولی که دوی ته سزاورسیږی نوهم ورباندی دوی غمجن کیږی ، په دی وجه حضرت موسٰی علیه السلام ته دا تسلّی ورکړل سوه چی دوی ته په سزا رسیدو سره ته مه خفه کیږه .

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ ابْنَيْ اٰدَمَ بِالْحَقِّ اِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِنْ اَحَدِهِمَا

او واوره دوی ته واقعی حال دادم د دوو زامنو کله چی قربانی وکړه دواړو څه قربانی اوقبوله سوه دیوه څخه

وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الْاٰخَرِ ؕ قَالَ لَاَقْتُلَنَّكَ ؕ قَالَ اِنَّمَا يَتَقَبَّلُ

او قبوله نه سوه دبل څخه ، ویی ویل چی زه به تا مړ کړم ، هغه وویل چی

اللّٰهُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿٢٧﴾ لَئِنْۢ بَسَطْتَّ اِلَيَّ يَدَكَ لِتَقْتُلَنِيْ مَاۤ

الله قبلوی دپرهیزګارانو څخه ، که ته لاس وچلوی په ما دمرګ دپاره

اَنَا بِبَاسِطٍ يَّدِيَ اِلَيْكَ لِاَقْتُلَكَ ۚ اِنِّيْۤ اَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ

زه نه چلوم په تا لاسونه خپل ستا دمرګ دپاره ، زه بیریږم دالله څخه چی رب

الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٨﴾ اِنِّيْۤ اُرِيْدُ اَنْ تَبُوْٓاَ بِاِثْمِيْ وَاِثْمِكَ فَتَكُوْنَ مِنْ

دټول جهان دی ، زه غواړم چی ته واخلی زما ګناه اوخپله ګناه نو سی به ته

اَصْحٰبِ النَّارِ ۚ وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا الظّٰلِمِيْنَ ﴿٢٩﴾ ۚ فَطَوَّعَتْ لَهٗ نَفْسُهٗ

د دوږخ والا وو څخه او دا سزا ده دظالمانو ، بیا دی راضی کی دده نفس

قَتْلَ اَخِيْهِ فَقَتَلَهٗ فَاَصْبَحَ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٣٠﴾ فَبَعَثَ اللّٰهُ

په قتل د ورور دده ، نو دی یی مړ کی ، نو سو دنقصان کوونکو څخه ، بیا ولیږل الله ﷻ

غُرَابًا يَّبْحَثُ فِي الْاَرْضِ لِيُرِيَهٗ كَيْفَ يُوَارِيْ سَوْءَةَ اَخِيْهِ ؕ

یو کارګه چی کیندله یی مځکه چی ده ته وښیی چی څنګه پټوی لاش دخپل ورور ،

قَالَ يٰوَيْلَتٰٓى اَعَجَزْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِثْلَ هٰذَا الْغُرَابِ فَاُوَارِيَ

ويې ويل اى افسوس، زما څخه دومره هم ونه سوه، چې سم برابر ددې كارګه چې پټ كړم

سَوْءَةَ اَخِيْ ۚ فَاَصْبَحَ مِنَ النّٰدِمِيْنَ ﴿٣١﴾ مِنْ اَجْلِ ذٰلِكَ ۚۛ

لاش دورور خپل نو سو دپښيمانه كيدونكو څخه، په دې سبب سره

كَتَبْنَا عَلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اَنَّهٗ مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ

وليكل مونږ په بنى اسرائيلو چې څوك قتل كړي يو نفس بې بدله دبل نفس

اَوْ فَسَادٍ فِي الْاَرْضِ فَكَاَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيْعًا ؕ وَمَنْ اَحْيَاهَا

يا بغير دفساد كولو څخه په ملك كې نو ګويا قتل كړل ده ټول مخلوق او چاچې ژوندى

فَكَاَنَّمَآ اَحْيَا النَّاسَ جَمِيْعًا ؕ وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِالْبَيِّنٰتِ ؗ

وساتى يو نفس نو ګويا ده ژوندى كړ ټول مخلوق، او راورى دې دوى ته زمونږ رسولانو ښكاره حكمونه

ثُمَّ اِنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ بَعْدَ ذٰلِكَ فِي الْاَرْضِ لَمُسْرِفُوْنَ ﴿٣٢﴾

بيا هم ډير خلق وروسته ددې څخه په ملك كې زياتى كوى.

تفسير: او (اى محمده ﷺ) تاسى دې اهلِ كتابوته د (حضرت) آدم ؑ ددوو زامنو (يعنى هابيل او قابيل) قصه په صحيح ډول سره واوروئ (چې ددوى داغرور چې مونږ دصالحانو اولاد يو ختم سى، دكوم چې دوى په نَحْنُ اَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ كې اظهار كوى، او دغه قصه هغه وخت سوى وه) كله چې دواړو (دالله ﷻ په نامه) يوه يوه قربانى پيش كړه او په دوى كې ديوه (يعنى هابيل) دا خو قبوله سوه او دبل (يعنى قابيل) دا قبوله نه سوه (ځكه چې په كومه معامله كې دفيصلى دپاره دغه قربانى سوى ده، په هغه كې قابل په حقه وو، په دې وجه ددہ قربانى قبوله سوه او قابيل پرحقه نه وو نو ددہ دانه سوه قبوله، كه داسى نه واى نو فيصله نه كيده، بلكه نوره اشتباه به پيدا سوى واى كله چې) هغه دوهم (يعنى قابل فيصله ونه ګڼله نوناره يې كړه) وې ويل چې زه به تا خامخا قتل كوم، دغه بل (يعنى هابيل) جواب وركى (چې ستا نه قبولوالى خوستا دناحق والى په وجه دې زماڅه ګناه ده ځكه چې) الله ﷻ دپرهيزګارانو عمل قبلوى (ماپرهيزګارى اختيار كړه او دخداى ﷻ حكم مې ومنى نو الله ﷻ زما قربانى قبوله كړه تا پرهيزګارى پريښوله او دخداى ﷻ دحكم څخه دې مخ واړوى نو ستا قربانى يې قبوله نه كړه، نو دا خطآء ستاده او

Maktaba Tul Ishaat.com

که زما، انصاف وکړه لیکن که بیاهم ستادا اراده وی نوته پوه سه چی ماخوپوخ قصد کړی دی) که تاماته دقتل کولو دپاره لاس راوړی نو بیا هم زه تاته ستا دقتل کولو دپاره هیڅکله لاس دروړونکی نه یم (ځکه چی) زه دالله ربّ العالمین ښخه بیریږم (چی سره ددی چی په ظاهره خوستا دقتل کولو دجواز سبب موجوددی، یعنی داچی ته ماقتل کول غواړی مګر په دی وجه چی ددی جائزوالی تراوسه پوری په یوه دلیل سره ماته نه دی ثابت سوی، په دی وجه ستادا کار داحتیاط ښخه خلاف ګڼم اوددی شك په وجه دخدای ﷻ ښخه بیریږم، اوداهمّت ستاسره دی چی سره ددی چی زمادقتل دجواز دپاره هیڅ داسی خبره نسته، بلکه مانع موجوددی، لیکن بیاهم دخدای ﷻ ښخه نه بیریږی) زه خوداغواړم چی (زما ښخه کومه ګناه ونه سی برابره خبره ده که ته پرما هرخومره ظلم وکړی چی په دی سره به) ته زماګناه اوخپله ګناه ټوله پرسر واخلی بیابه ته په دوږخیانوکی شامل سی اوداسزا وی دظلم کوونکو (داغسی خوهم هغه دقتل اراده داول ښخه کړی وه او چی دایی واوریدل چی دی خپل دفاع هم نه کوی نوپکار خوداوه چی آرام کښینستلای وای لیکن بی فکره سو اونورهم) دده زړه دی دخپل ورور قتل ته تیارکی (بیا) آخرچی دی یی قتل کی چی په دی سره (داکم بخت) په لوی نقصان کوونکوکی شامل سو (په دنیاکی خودانقصان چی خپل دمټو قوّت اودروح راحت یی ورك کی اوپه آخرت کی دانقصان چی په سخت عذاب کی به اخته وی، اوس چی کله دقتل ښخه فارغ سونو حیران سوچی اوس په دی مړی څه وکړم چی دارازپټ پاته سی اوڅه درك یی معلوم نسی، هیڅ نه پوهیدی نو) بیا (آخر) الله ﷻ یو کارګه (هلته) ورولیږی چی هغه (په مشوکه اوپنجوسره) مځکه کیندله (اوترکیندلو وروسته یی یو بل کارګه چی هغه مړ وو، په دغه غار کی یی کښیښوی او خاوری یی ورباندی واچولی) چی دغه (کارګه) ده (قابیل) ته وښوولله چی دخپل ورور (هابیل) مړی په څه طریقه سره پټ کړی (قابیل چی دا واقعه ولیدله په خپل زړه کی ډیر پښیمانه سو چی ددی کارګه غوندی عقل می هم نسته اوپه ډیر افسوس سره) یی وویل چی افسوس دی زماپرحالت آیازه تردی هم کم یم چی ددی کارګه برابرسوی وای اودخپل ورور مړی می پټ کړی وای (نوپه دی بدحالی باندی) ډیرشرمنده سوددی (واقعی) په وجه سره (چی دناحقه قتل فسادونه ورښخه ثابتیږی) مونږ (پر ټولو مکلفو عمومًا اوپر) بنی اسرآئیلو (خصوصًا) دا (حکم) ولیکی (یعنی مقرر یی کی) چی (ناحقه قتل دومره لویه ګناه ده چی) کوم سړی چی بل نفر بی له بدلی دبل نفرښخه (چی ناحقه قتل سوی وی) یابغیردکوم (شراو) فساد ښخه چی په مځکه کی دده ښخه خپورسوی وی (خامخا) قتل کړی نو (ده ته به په ځینو اعتبارو سره دومره ګناه وی چی) ګویا ده ټول خلګ قتل کړل (هغه ځینی اعتبارونه دا دی چی په دی ګناه یی جُرئت اوزړه ورتیا وکړه ، دخدای ﷻ نافرمانی یی وکړه ، خدای ﷻ دده ښخه ناراضه سو په دُنیاکی دقصاص لائق سواوپه آخرت کی ددوږخ لائق سو داکارونه دیوه قتل اودزرو قتلو ټولو یوډول دی، که څه هم چی دسختوالی فرق په کی سته او دا دوه قیدونه په کښی ځکه ولګول سول چی په قصاص کی قتل کول جائز دی اودوهم سبب دقتل دجواز دپاره لار شکول دی چی مخ ته راځی اوحربی کفردی چی دجهادپه احکاموکی راغلی دی ، دا ټول په کښی دا خل دی چی ددوی قتل جائزبلکه په ځینو

Maktaba Tul Ishaat.com

صورتونوکی واجب دی) او (داهم لیکلی وه چی ځومره چی ناحقه قتل کول لویه گناه ده، دغه ډول یوځوك دغیرواجب قتل ځخه ساتل لوی اوعظیم ثواب دی چی) کوم سړی چی ځوك وساتی نو (ده ته به داسی ثواب رسیږی چی) گواکی ده ټول خلگ وساتل (دغیرواجب قیدپه کښی ځکه ولگیدی چی دکوم سړی قتل شرعًا واجب وی، دده کومك یا شفاعت حرام دی اوددی ژوندی کولو دمضمون ځخه هم دقتل سخت والی معلوم سو چی کله چی ژوند کول دومره بهتره دی نوخامخابه قتل بیکاره وی، په دی وجه ددی ترتّب او تسبّب هم په واسطه دعطف په مِنْ اَجْلِ ذٰلِكَ سره صحیح سو) اوبنی اسرآئیلوته (ددی مضمون دلیکلی ورکولو ځخه وروسته) زمونږ ډیر پیغمبران هم دواضحو دلیلونو (دنبوّت) سره راغلل (اووقتًا نوقتًا یی وربانذی ددی مضمون تاکید کوی) مگربیاهم ددی (تاکید اواهتمام) وروسته ډیرپه دوی کی په دنیاکی زیاتی کوونکی پاته سول (اوپه دوی کی هیڅ تاثیر ونه سو تردی چی ځینو په کښی په خپله دغه پیغمبران علیهم السلام قتل کړل)

معلومات اومسئلي : دهابیل او دقابیل قصه : په دی آیتونوکی الله ﷻ نبی کریم ﷺ ته دا هدایت فرمایلی دی چی ته اهلِ کتابوته یاټول اُمّت ته د حضرت آدم . ددوو زامنو قصه صحیح صحیح واوروه، په قرآن مجید نظر کوونکی پوهیږی چی قرآن کریم څه دقصو یاد تاریخ کتاب نه دی چی مقصدیی دیوی واقعی داول ځخه ترآخره پوری بیانول وی لیکن تیر واقعات اوپرتیرو قومونوچی څه تیرسوی وی دوی په خپل ځان کی ډیر عبرتونه او نصیحتونه لری اودغه دتاریخ اصلی روح دی، اوپه دوی کی ډیر حالات اوواقعات داسی هم وی چی دمختلفو شرعی حکمونو بنیادوی، نوددی فآئدو پربناء باندی دقرآن شریف طریقه په هرځای کی داوی چی موقع پرموقع یوه واقعه بیانوی اواکثره پوره واقعه هم پر یوه ځای نه بیانوی، بلکه دهغه واقعی ځومره حصه چی ددغه ځای دمقصدسره اړوندوی یعنی تعلق ورسره لری هم هغه ټوټه یی دلته بیانول کیږی .

دحضرت آدم علیه السلام ددوو زامنو داقصه هم دډیر حکمت په طریقه سره نقل کیږی، په دی کی دموجوده اوراتلونکو نسلونو دپاره ډیر عبرتونه اونصیحتونه دی اوددی په ضمن کی ډیرو شرعی احکاموته اشاره سوی ده .

اوس اول دقرآن دالفاظو تشریح او تردی لاندی قصه وگوری ، تردی وروسته تردی پوری داړوندو احکامو اومسئلو بیان دی .

تردی په مخکی آیتونوکی بنی اسرآئیلو ته دجهادحکم او په دی کی د دوی دبُزدلی اوکوم همتی ذکر وو په دی قصه کی ددی په مقابله کی دناحقه قتل دبدوالی اوددی دتباه کاری بیان کوی اوقوم داعتدال طرف ته راوستل غواړی، چی لکه ځنگه چی دحق په ملگرتیا اودباطل په ختمولو کی دقتل اوقتال ځخه ځان ساتل غلطی ده، دغه ډول په ناحقه قتل اوقتال کول ددین اودنیا تباهی ده .

په اول آیت کی د اِبْنَیْ اٰدَمَ لفظ راغلی دی ، داغبسی خوهریو انسان بنی آدم اودآدم اولاد دی هر یوه ته دآدم علیه السلام زوی ویل کیږی لیکن دجمهورو عالمانو دتفسیر په نزد دلته د اِبْنَیْ اٰدَمَ ځخه دحضرت آدم علیه السلام

Maktaba Tul Ishaat.com

دوه صلبي او حقيقي زامن مراد دي يعني هابيل او قابيل، ددي دواړو دقصې دبيانولو دپاره ارشاد وسو.

(دتاريخي روايتونو په نقل کولو کې احتياط او ريښتينوالي واجب دی)

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ ابْنَيْ آدَمَ بِالْحَقِّ: يعني دی خلکو ته دآدم ﷺ د دوو زامنو قصه دصحيح واقعي مطابق واوروی په دی کی يې دبالْحَقِّ په لفظ سره دتاريخي روايتونو په نقل کولو کی يو مهم أصول وښووی چې دتاريخي روايتونو په نقل کولو کی ډير احتياط لازم دی، چې نه پکښې دروغ وی نه څه خلط ملط او دوکه اونه په اصلي واقعه کی دکوم قسم تبديلي او ياکمي او زياتي وی (ابن کثير)

قرآن کريم يوازی په دی ځای کی نه بلکه په نورو موقعو باندی هم په دی أصولو دقائم پاته کيدو هدايات کړی دی، يو ځای ارشاد دی، اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْقَصَصُ الْحَقُّ بل ځای ارشاد دی، نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَأَهُمْ بِالْحَقِّ دريم ځای ارشاد دی، ذٰلِكَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ قَوْلَ الْحَقِّ په دی ټولو موقعو باندی په تاريخي واقعاتو سره يې په لفظ دحق راوړلو يې ددی خبر اهميّت په ډاګه کړی دی چې دواقعو په نقل کولو کی دحق او ريښتيا والي رعايت لازمي دی، دروايتونو او قصو په بناء چې څومره فسادونه په دنيا کی کيږی، ددی ټولو په عام ډول سره دواقعو په نقل کولو کی بی احتياطي وی، په لږغوندی لفظ او عنوان بدلولو سره دواقعي حقيقت خراب سی، دتيرو قومونو مذهبونه او شريعتونه ددی بي احتياطي په وجه سره ضائع سوی دی، او ددوی مذهبي کتابونه ديوڅو بی سنده او بی تحقيقه قصو مجموعي جوړی سوی دی، دلته يې ديوه لفظ بِالْحَقِّ اضافه وکړه او ددی مهم مقصد وطرفته يې اشاره وفرمايله.

په دی سربيره په دی لفظ کی دقرآن کريم مخاطبينو ته داخبره هم ښيی چې نبی کريم ﷺ کوم چې محض أمّي دی او دزرګونو کلونو مخکی واقعي بالکل ريښتيني او صحيح بيانوی نو ددی سبب بغير دالله ﷻ دوحي او نبوت څخه بل څه کيدی سی.

تردی سريزی وروسته ددی دواړو زامنو واقعه قرآن کريم دا بيان کړه، اِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِنْ اَحَدِهِمَا وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الْاٰخَرِ: يعني دی دواړو دالله ﷻ دپاره خپله خپله قرباني پيش کړه، ليکن ديوه قرباني قبوله سوه او دبل دا قبوله نه سوه.

لفظ دقُربان دعربي لُغت په اعتبار سره هغه شی ته ويل کيږی کوم چې يو چاته دنژديکت ذريعه جوړول کيږی او دشرعي په اصطلاح کی هغه ذبحی او نوروته ويل کيږی چې دالله ﷻ دنژديکت حاصلولو دپاره وکړل سی، ددی قرباني پيش کولو واقعه کمه چې په صحيح او قوی سندونو سره نقل ده او ابن کثير دمخکنيو او وروستنيو عالمانو په جمع سره وينا مقرره کړی ده، دا ده چې کله حضرت آدم او حضرت حوآء ﷺ دنياته راغلل او د کوچنيانو دپيداکيدو سلسله شروع سوه نودهر يوه حمل څخه به ددوی دوه کوچنيان پيدا کيدل، يو هلك او بله انجلۍ، دغه وخت چې دحضرت آدم ﷺ په اولاده کی دخوندو او ورونو څخه ماسوا نور څوك نه وه او دخور او ورور په مينځ کی نکاح نه سوای کيدی، نو الله ﷻ ددغه وخت دضرورت په لحاظ سره دحضرت آدم ﷺ په شريعت کی داخصوصي حکم جاري کی چې ديوه حمل څخه چې کوم هلك او انجلۍ پيدا سی، هغه به په خپل مينځ کی حقيقي ورور او خور ګڼل کيږی او ددوی

په مینځ کی به نکاح حرامه وی لیکن دیوه حمل څخه پیدا سوی هلك به دبل حمل څخه دپیدا سوی انجلی حقیقی وررورنه ګڼل کیږی اوددوی په مینځ کی به نکاح جائزه وی.

لیکن وسوه داسی چی داولنی هلك قابیل سره چی کمه انجلی پیدا سوی وه هغه ښایسته اوښکلی وه اودبل هلك هابیل سره چی کمه انجلی پیداسوی وه، هغه بدشکله وه، کله چی دنکاح وخت راغی نو دقاعدی مطابق دهابیل سره پیداسوی بدشکله انجلی دقابیل په حصه کی راغله، نوپه دی قابیل خفه سو اودهابیل دښمن سو اوپردی خبره یی زور ولګوی چی زماسره چی کمه انجلی پیدا سوی ده، هغه دی ماته په نکاح کی راکړل سی حضرت آدم ﷺ دشرعی قاعدی مطابق داخبره قبوله نه کړه اودهابیل او قابیل په مینځ کی داختلاف دلیری کولو دپاره یی داطریقه جوړه کړه چی تاسی دواړه خپله خپله قربانی دالله ﷻ دپاره پیش کی، دچاقربانی چی قبوله سی داانجلۍ به هغه ته ورکول کیږی، ځکه چی دحضرت آدم ﷺ دایقین ووچی قربانی به دهغه چاقبلیږی، دچاچی حق دی، یعنی دهابیل، په دغه زمانه کی دقربانی دقبلیدودغه یوه ښکاره نښانه وه، چی دآسمان څخه به یواُور راتلی اوقربانی به یی خوړه اوکومه قربانی چی به اور ونه خوړه نودابه ددی دنه قبلیدو نښانه وه، اوس داسی پیښه سوه چی دهابیل سره پسونه اوبزی وی ده یو ښایسته چاغ پسه قربانی کی قابیل زمیندارسړی وو ده څه غله غنم اونوری دقربانی دپاره پیش کړه اوداسی وسوه چی دقانون مطابق دآسمانه اورراغی اودهابیل قربانی یی وخوړه اودقابیل قربانی پرخپل ځای هم دغسی پاته سوه، په دی باندی دقابیل رد اوغصه نوره هم زیاته سوه نودده څخه صبر ونسو اوپه ښکاره ډول سره یی خپل وررورته وویل چی لَأَقْتُلَنَّكَ یعنی زه به تامړکړم.

هابیل دغه وخت هم دغصی دخبری په غصه سره دجواب ورکولو په ځای په سړه سینه یوه اُصولی خبره وکړه چی دده سره همدردی اوخیرخواهی په کی هم وه چی، إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللَّهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ یعنی دالله ﷻ قانون دا دی چی هغه دپرهیزګارانو عمل قبلوی، که تاتقویٰ او په هیزګاری اختیارولی نوستاقربانی به هم قبوله سوی وای خو تاداسی ونه کړل، نو قربانی دی قبوله نه سوه، په دی کی زماڅه قصور دی؟

په دی خبره کی دحاسد دحسد علاج هم ذکر سوی دی، چی حاسدچی کله دا ووینی چی په یوه سړی الله ﷻ خپل یوخاص داسی نعمت فرمایلی دی چی ده ته حاصل نه دی، نو ده ته په کاردی چی خپله محرومی دخپل عمل کوتاهی اودګناهونو سبب وګڼی اودتوبی ایستلوپه فکرکی سی، داسی نه چی ددغه بل څخه دنعمت زآئله کیدوپه فکرکی ولویږی ځکه چی داسی کول دده فآئده نه ده، بلکه دا دده دضررسبب دی، ځکه چی دالله ﷻ په نزد دقبلیدو دار اومدار پرتقویٰ باندی دی (مظهری)

(دعمل دقبلیدو دار او مدار په اخلاص او په تقویٰ باندی دی)

دلته دهابیل اوقابیل دیوبل سره په خبرو اتروکی یوه داسی جمله راغله چی دیوه خاص اُصول حیثت لری، چی دعملونو او عبادتونو قبلیدل په تقویٰ اودخدای ﷻ څخه په بیره ساتلو سره دی، په چاکی چی تقویٰ نه وه دده عمل مقبول نه دی، په دی وجه سره پخوانی عالمان فرمایی چی داآیت دعبادت کوونکودپاره یوه تازیانه ده، دغه وجه وه چی حضرت عامربن عبدالله دخپل وفات په وخت کی ژړل،

Maktaba Tul Ishaat.com

خلکو غرض ورته وکی چی ته خو ټول عمر په نیکو عملونو او عبادتونو کی مشغول وی، بیاستا دڑرا ځه
وجه ده؟ وی فرمایل چی تاسی دا وایاست خو زما په غوږونو کی دالله ﷻ دا ارشاد ږغیږی ، اِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللّٰهُ مِنَ
الْمُتَّقِيْنَ ک ماته څه معلومه ده چی زما یو څه عبادت به قبول سوی هم وی او که نه .

حضرت عبدالله ابن مسعود رضی فرمایی چی که زما یقین راسی چی زما یو عمل الله ﷻ قبول کی ، نودا هغه نعمت دی چی که ټوله مځکه چی د سرو زرو څخه ډکه سی او زما په قبضه کی راسی نو هم به یی ددی په مقابله کی هیڅ ونه گنم .

دغه ډول حضرت ابودرداء رضی فرمایی چی که دا خبره په یقینی ډول سره معلومه سی چی زما یو لمونځ دالله ﷻ په نزد قبول سوی دی نو زما دپاره دغه تر ټولی دنیا او دهغی تر نعمتونو زیات دی .

حضرت عمربن عبدالعزیز رح یوه سړی ته په خط کی دا نصیحتونه ولیکل چی (زه تاته دتقوی تاکید کوم ځکه چی ددی څخه پرته هیڅ عمل نسی قبلیدی او دتقوی دارو څخه ماسوا په بل هیچا رحم نه کول کیږی او ددی څخه ماسوا پربل هیڅ شی ثواب نه پیدا کیږی، ددی خبری کوونکی خو ډیر دی لیکن عمل کوونکی یی ډیر کم دی)

او حضرت علی مرتضیٰ رضی فرمایی چی دتقوی سره کوچنی عمل هم کوچنی نه دی او کوم عمل چی مقبول سی هغه ته بیا کوچنی څنگه ویل کیدی سی (ابن کثیر)

(دجرم او سزا یو څو قرآني ضابطي)

إِنَّمَا جَزَٰٓؤُا۟ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَسْعَوْنَ فِى ٱلْأَرْضِ

دا سزا ده دهغو چی جنگ کوی دالله سره او دهغه درسول سره او کوشش کوی په مځکه کی

فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوٓا۟ أَوْ يُصَلَّبُوٓا۟ أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم

دفساد کولو چی دوی دی قتل کړل سی یا دی په دار کړل سی یا دي پری کړل سی د دوی لاسونه او پښی ،

مِّنْ خِلَـٰفٍ أَوْ يُنفَوْا۟ مِنَ ٱلْأَرْضِ ۚ ذَٰلِكَ لَهُمْ خِزْىٌ فِى ٱلدُّنْيَا

دبدل طرف څخه او یادی ویستل سی ددغه مځکی څخه ، دا د دوی رسوایی ده په دنیا کی

وَلَهُمْ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٣٣﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُوا۟ مِن قَبْلِ

او د دوی دپاره په آخرت کی عذاب دی لوی ، مگر چا چی توبه ویستله ستاسی په قابو کی

أَن تَقْدِرُوا۟ عَلَيْهِمْ ۖ فَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٤﴾

دراتلو څخه مخکی نو پوه سی چی الله ﷻ بخښونکی او مهربانه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسير: کوم خلګ چې دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ سره جنګ کوي (او ددې جنګ مطلب دا دی چې) په ملك کې فساد (يعنې بدامنې) خپروي (مراد ددې څخه لارشکول يعنې ډاکه ده، پرداسې سړي باندې چاته چې الله ﷻ په شرعي قانون سره چې اظهاريې دنبي کريم ﷺ په ذريعه سوی دی، امن ورکړی وي يعنې پرمسلمان ياپرذمّي باندې ډاکه اچوي يايې قتلوي نو په دې وجه يې ډې ته دالله ﷻ اودرسول ﷺ سره جنګ ويلې دي چې ده دالله ﷻ ورکړل سوی امن مات کې اوکله چې بيا ددې اظهار درسول په ذريعه سوی دی نوپه دې وجه يې درسول سره تعلق هم زيات کې، مقصدکوم خلګ چې داسې حرکت کوي) دهغو داسزاده چې (په يوه حالت کې خو) به قتل کول کيږي (دغه حالت دادی چې دغو ډاکوګانو يوازې يوځوك قتل کړی وي اومال يې نه وي ورڅخه اخيستی) يا (که بل حالت پيښ سوی وي نو) په داردې کړل سي (دا هغه حالت دی چې دوی مال هم اخيستی وي اوقتل يې هم کړی وي) يا (که دريم حالت پيښ سوی وي نو) لاس اوپښې دې ورڅخه پريکړل سي دمخالف طرف څخه (يعنې راسته لاس اوچپه پښه، داهغه حالت دی چې مال يې اخيستی وي اوقتل يې نه وي کړی) يا (که څلورم حالت سوی وي نو) دمځکې څخه دې (دآزاد اوسيدو څخه) وايستل سي (بنديخانې ته دې وليږل سي، دا هغه حالت دی چې نه يې مال اخيستی وي، نه يې قتل کړی وي خوترقصد کولويې وروسته ګرفتارسوي وي) دا (ذکرسوي سزاګانې خو) ددوی دپاره په دنياکې سخته رسوايي (اوذلت) دی اودوی لره په آخرت کې (چې کوم) لوی عذاب به وي (نو هغه جلادی) البته کم خلګ چې مخکې تردې چې تاسې دوی ګرفتارکړی توبه وکاږي نو (په دې حالت کې) پوه سئ چې الله ﷻ به (خپل حقونه) وبخښي دوی ته (اوپه توبه قبلولوکې) مهرباني به وکړي (مطلب دا دی چې لوړه کومه سزا ذکر سوی ده داحد دی اودالله ﷻ حق دی چې دبنده په معاف کولو باندې نه معاف کيږي، لکه قصاص دبنده دحق په ډول سره نه دی چې دبنده په معاف کولو سره معاف کيږي، نوکله چې ترنيول کيدومخکې ددغه خلګو توبه کښل ثابت سي نوحدبه ساقط سي کوم چې دالله ﷻ حق وو، البته دبنده حق به باقي وي نو که مال يې اخيستی وي دهغه تاوان به ورکوي، اوکه قتل يې کړی وي دهغه قصاص به ورڅخه اخيستل کيږي، ليکن ددې تاوان اوقصاص دمعاف کولوحق به يوازې دمال خاوند اودقتل سوي شخص ولي ته حاصل وي)

معلومات اومسئلې

(دقرآن دقانونو عجيبه اونا اشنا انقلابي طريقه)

په مخکې آيتونوکې دهابيل واقعه دقتل اوددې دګناه دلوی والي ذکر وو، په دې ذکر سوو آيتونو کې اوتر دې په وروسته آيتونوکې دقتل، ډاکې، لوټ اوغلا دشرعي سزاګانو بيان دی، دډاکې اوغلا دسزاګانو په مابينځ کې دخدای ﷻ څخه دبيرې اودعبادت په ذريعه ده ته دځان نژدې کولو تلقين دی، دقرآنکريم داطريقه ډيره نرمه اوپه ذهنونوکې انقلاب پيدا کوونکی ده، چې دې ددنيا دتعزيراتو دکتابونوپه شان يوازې دجُرم اوسزا پربيان باندې صبرنه کوي، بلکه دهريوه جُرم اوسزاسره دخدای ﷻ بيره اوآخرت راوړاندې کوي دانسان مخ ديوې داسې دنياطرف ته ګرځوي چې دهغې په خيال اوتصوّرکې

Maktaba Tul Ishaat.com

راتلل دي دهرعيب اوګناه څخه پاکوي اوکه پرحالاتو اوواقعاتو فکر وکړه سي، نوثابته به سي چي دخداى ﷻ اود آخرت دبيرې څخه پرته ددنيا هيڅ يوقانون، پوليس اوفوج دجرمونو دمنع کولو ضمانت نه سي ورکولی دقرآن حکيم داطريقه حيکمانه او مربّيانه ډول دی چي په دنياکی يې انقلاب راپورته کی اوداسی انسانانو يوه ټولنه يې پيداکړه چي دخپل پاکوالي په وجه تر ملائکوهم لوړ مقام لري.

دشرعي سزاګانو دري قسمونه: دداکي اوغلا شرعي سزاګاني چي ذکريې په دی ذکرسوو آيتونوکی دی، ددی دتفصيل اوددغه آيتونو دتشريح او تفسير تربيانولو مخکی مناسبه ده چي ددغه سزاګانو په اړوند دشرعي اصطلاحاتو يوڅه وضاحت وسی دکوموچي دنا خبرۍ په وجه ډيرو تعليم يافته خلګوته هم مشکلات اواعتراضونه مخ ته راځي، ددنياپه عامو قانونوکی دجُرمونو ټولو سزاګانوته مطلق دتعزيراتو نوم ورکول کيږي برابره خبره ده که دهرقسم جُرم سره چي تعلق لري، دتعزيراتِ هند، تعزيرات پاکستان اونورو نومونو سره چي څومره کتابونه چاپيږي، هغه په هرقسم جُرمونو اوسزاګانو باندی مشتمل دی، ليکن په اسلامي شريعت کی معامله داسی نه ده، بلکه دجرمونو سزاګاني يې پردري قسمه مقررکړی دی.

١، حدود ٢، قصاص ٣، تعزيرات، ددی درو سرو قسمونو دتعريف اومطلب ترپيژندلو مخکی يوه داخبره پيژندل ضروري دی چي دکومو جرمونو څخه بل انسان ته تکليف يا نقصان رسيږي، په دی کی پرمخلوق هم ظلم اودخالق نافرماني په کنبی هم وی نوپه هر داسی جرم کی دالله ﷻ اودبنده دواړو حقونه شامل وی اوانسان ددواړو مجرم کيږي.

ليکن په ځينو جرمونوکی دبنده دحق اهميت زيات دی اوپه ځينوکی دالله ﷻ دحق اهميت زيات دی اودحکمونو مداريې هم په دی زيات اهميّت باندی دی.

دوهمه خبره دا پيژندل ضروري دی چي اسلامي شريعت دخاصو خاصو جرمونو څخه پرته دسزاګانو دپاره کومه خاصه اندازه نه ده مقرره کړی، بلکه دقاضي په اختيارکی يې ورکړی ده چي دهری زماني اوهرځای اوهر چاپيريال په لحاظ سره چي څنګه اوڅومره سزادجُرم دمخنيوی دپاره ضروري ګنی، هغه دی جاری کړی، داهم جائزه ده چي دهرځای اوهری زماني اسلامي حکومت دشرعي قاعدو ترلحاظ ساتلو لاندی دقاضيانوپه اختياراتو باندی پابندی ولګوی اودجرمونو دسزاګانو يوه خاصه اندازه مقرره کړی اوددی يې پابندکړی، لکه چي په تيرو قرنونوکی داسی سوی ده او دا وخت په ټولو ملکونو کی تقريبًا دا طريقه رواج ده.

اوس پوه سی چي دکومو جرمونوکومه سزا قرآن اوسنّت نه ده مقرره کړی بلکه دحاکمانو رايی ته يې پرييښی ده، دغه سزاګانوته دشريعت په اصطلاح کی (تعزيرات) وايي اود کومو جرمونو سزاګاني چي قرآن اوسنت مقرري کړی دی، هغه پردوه قسمه دی، يو هغه چي په هغه کی دالله ﷻ حق غالب ګڼل سوی دی، دهغی سزاته (حد) وايي، چي جمع يې (حدود) ده اودوهم هغه جُرمونه چي په هغه کی دبنده حق دشريعت له مخی غالب ګڼل سوی دی، دهغی سزاته (قصاص) وايي، قرآنکريم دحدودو اوقصاص بيان

Maktaba Tul Ishaat.com

په پوره تفصيل او تشريح سره په خپله كړې دي پاته دتعزيري جرمونو تفصيلونه يې درسول ﷺ بيان ته او دوخت دحاكمانو رايې ته پريښې دي .
لنډه دا ده چې قرآن كريم دكومو جرمونو سزاګانې په طور دالله ﷻ دحق مقررې كړې او جارې كړې دي ، دي ته (حدود) وايي، او كومې چې يې په طور دبنده دحق جارې كړې دي، دي ته (قصاص) وايي، او دكومو جرمونو دسزا چې يې تعين نه دې كړى، دي ته (تعزير) وايي، دسزاددې دروقسمونو حكمونه په ډيرو شيانو كې مختلف دي ، كوم خلګ چې دخپل عام عرف په بناء باندې دهر جُرم سزا ته تعزير وايي او دشرعي اصطلاحاتو په فرق باندې نظرنه كوي دوى ته په شرعي احكامو كې ډيرې غلطۍ مخ ته راځي .
تعزيري سزاګانې ترحالاتو لاندې ترسپكو لاسپكې هم وركول كيږي او ترسختو لاسختې هم او معاف كړه كيږي هم، په دې كې دحاكمانو اختيارات ډيرلوى دي او په حدودو كې حكومت ياحاكم او اميرته دلږغوندې تغير او تبديل ياكمي او زياتي اجازت نسته، اونه دزمانې او دځاى په بدليدو سره په دوى كوم تاثير لويږي، اونه كم امير اوحاكم ته ددې معاف كولو حق سته ، په اسلامي شريعت كې حدود يوازې پنځه ٥ دي: ۱، ډاكه ۲، غلا ۳، زنا ۴، تهمت دزنا ددې سزاګانې په قرآن شريف كې راغلې دي، ٥: پنځم دشرابو چيښلو حد دې چې دصحابه وو په اجماع سره ثابت دي، دغه ډول دپنځو جرمونو سزاګانې معيّنې سوې چې حدود ورته ويل كيږي، داسزاګانې لكه څنګه چې يو امير اوحاكم كمولې يامعاف كولې نه سي ، دغه ډول په توبه ايستلوسره هم ددنياوي سزاپه حق كې نه معاف كيږي، البته دآخرت ګناه داخلاص په توبه سره معاف كيدې سي او دهغه ځاى كتنه به باقي كيدې سي، په دوى كې يوازې دډاكې په سزاكې يوه استثناء ده چې ډاكوكه ترګرفتاره كيدو مخكې توبه وكړي او په معاملاتو كې دده پرتوبه باندې اطمينان حاصل سي نوهم ورڅخه حدساقط كيدې سي اوتر ګرفتاره كيدو وروسته يې توبه معتبره نه ده، ددې څخه پرته نورحدونه په توبه سره هم ددنياپه حق كې نه معاف كيږي، برابره خبره ده كه داتوبه تر نيول كيدو مخكې وي او كه وروسته وي په ټولو تعزيري جرمونو كې دحق موافق سپارشتونه اوريدل كيږي، اودالله ﷻ په حدونو كې سپارشت كول هم جائزنه دي، اوپر غوږ نيول يې هم جائزنه دي، نبي كريم ﷺ ددې سخته منع فرمايلې ده، دحدودو سزاګانې په عام ډول سره سختې دي اوددې دنافذ كولو قانون هم سخت دي، چې په دې كې هيچا ته دهيڅ كمي او زياتي په هيڅ حال كې اجازت نسته اونه څوك دامعاف كولى سي، په كوم ځاى كې چې دسزا اوقانون داسې سختې اېښوول سوې وي، هلته دمعاملې دبرابرولو دپاره دجُرم دمكمّل كولو اودجرم دثبوت مكمل كولو دپاره شرطونه هم ډير سخت اېښوول سوې دي، په دې شرطونو كې چې يوشرط مفقود (نيستي) سي نوحد ساقطيږي، بلكه كه لږغوندې شُبهه هم په ثبوت كې پيداكړل سي نوحد ساقطيږي، داسلام منل سوى قانون په دې كې دا دې چې ، اَلْحُدُوْدُ تَنْدَرِءُ بِالشُّبْهَاتِ يعني حدونه په لږغوندې شُبهه سره ساقطيږي .
دلته دا هم پيژندل په كار دي چې په كومو صورتونو كې شرعي حدپه كومه شُبهه يادشرط دكمي په وجه ساقط سي ، نو دا ضروري نه ده چې مجرم ته آزادي وركړل سي چې بيا بيا پردې جُرم باندې زړه ورسي،

بلکه حاکم به ورلره دحالت مطابق تعزیری سزا ورکوی، اود شریعت تعزیری سزاگانی هم په عام ډول سره بدنی اوجسمانی سزاگانی دی چی دعبرتناك کیدوپه وجه سره دجرمونو ختمولو پکښی مکمل انتظام دی، فرض کړه چی دزناپه ثبوت باندی یوازی دری شاهدان عادلان اوثقه وی چی ددرواغو شبهه وړباندی نه سی کیدی، لیکن دشرعی قانون په بناء سره دڅلورم شاهدنه پیش کیدوپه وجه پرده شرعی حدنسی جاری کیدی نوددی دامطلب نه دی چی دی به آزاد پریښوول کیږی، بلکه دوخت حاکم به ده ته تعزیری سزا دحال مناسبه ورکوی چی د دُرَو وهلوپه صورت کی به وی، یادغلا دثبوت دپاره چی کوم شرطونه مقرر دی په دی کی دیوخه کمی یاشُبهه پیدا کیدلو په وجه سره پرده دلاس پریکولوشرعی حد نه سی جاری کیدی نوددی دامطلب نه دی چی دی بالکل خلاص سو، بلکه ده ته به بله تعزیری سزادحال مطابقه ورکول کیږی.

دقصاص سزاهم دحدودوپه شان په قرآن کی مقرره ده چی دروح په بدله کی به روح اخیستل کیږی. دزخمونوپه بدله کی به دزخم برابره سزاورکول کیږی، لیکن فرق دا دی چی په حدودوکی دالله ﷻ حق غالب دی اودحق الله په حیثیت سره نافذ کړل سوی دی، که دحق خاوندیی معاف کوی هم، خونه معاف کیږی اوحدنه ساقطیږی، مثلاً دیوچا مال غلاسوی دی نوکه هغه یی معاف هم کړی خودغلا شرعی سزانسی معاف کیږی، په خلاف دقصاص څخه چی په دی کی دبنده حق قرآن اوسنت غالبه مقرر کړی دی، همداوجه ده چی پرقاتل دقتل دجُرم ترثابتیدو وروسته به دی دقتل سوی ولّی ته حواله کړل سی که هغه وغواړی نوددہ څخه به قصاص واخلی اودی به قتل کړی اوکه وغواړی نومعاف دی کړی.

دغه ډول دزخمونو دقصاص هم داحال دی، داخبره تاسی ته مخکی معلومه ده چی دحدودو یا دقصاص دساقط کیدو څخه دانه لازمیږی چی مجرم دی آزاد پریښوول سی بلکه دوخت حاکم دی ورلره تعزیری سزا څومره اوڅنګه چی مناسبه یی ګڼی ورکړی، په دی وجه داشُبهه کول نه دی پکار چی دقتل مجرم که دقتل سوی اولیاء معاف کړی نو آزاددی پریښوول سی، په دی سره به دقاتلانو زړه ورتیا زیاته سی اوقتلونه به عام سی، ځکه چی ددی سړی قتل کول خودقتل سوی دولی حق وو او هغه ده معاف کی، لیکن دنورو خلکو دروحونو حفاظت دحکومت حق دی، هغه ددی حق دحفاظت دپاره ده ته دعمر قید یابل قسم سزاګانوپه ورکولوسره ددی خطری دفع کولی سی.

تردی ځایه پوری دشرعی سزاګانو حدود، قصاص اوتعزیراتو دشرعی اصطلاحاتو اود دوی په اړوند دضروری معلوماتو بیان وسو، اوس ددی په اړوند دآیتونو تفسیر اود حدودو تفصیل وګوری په اولنی آیت کی دهغو خلکو دسزاګانو بیان دی کوم چی دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ سره مقابله اوجګړه کوونکی دی اوپه مځکه کی فساد خپروونکی دی، دلته اوله خبره دفکرکولو قابله دا ده چی دالله ﷻ اورسول ﷺ سره جګړه اوپه مځکه کی دفسادڅه مطلب دی اوکم خلک ددی مصداق (ماصدق علیه) دی؟ لفظ د (محاربی) دحرب څخه جوړدی اوددی اصلی معنی دسلب کولو اوتښتولو ده اوپه محاوراتوکی دالفظ دسَلْم په مقابل کی استعمال سوی دی چی معنی یی امن اوسلامتی ده نومعلومه سوه چی دحَرْب مطلب بدامنی خپرول دی او ښکاره خبره ده چی دیوه اونیم قتل یالوټ مار څخه عام امن نه ختمیږی، بلکه

Maktaba Tul Ishaat.com

داحالت هلته وي چي يوه طاقتوره ټولي په رهزنۍ اوقتل اوغارت ګري باندي راپورته سي، په دي وجه فقهاوو حضراتو ددي سزا مستحق يوازي هغه ټولي يافرد مقررکړي دي چي دوسلي سره پرعوامو باندي ډاکه واچوي اود حکومت قانون په قوّت اوزور سره ماتول وغواړي چي په نوړو لفظونو کي ورته ډاکو يا باغي وايي، عام غل، جيب پريکوونکي اونورپه دي کي داخل نه دي (مظهري)
دوهمه خبره دلته دادفکر کولو قابله ده چي په دي آيت کي يي دمحاربي نسبت دالله ﷻ او درسول ﷺ طرف ته کړي دي او حال دا دي چي ډاکو يابغاوت کوونکي چي کومه مقابله ياجګړه کوي دا دانسانانو سره وي ، وجه يي دا ده چي يوه طاقت لرونکي ټولي کله چي په طاقت سره دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ قانون ماتول وغواړي، نوکه څه هم چي په ښکاره دده مقابله دعوامو اوانسانانو سره ده ليکن په حقيقت کي دده جنګ دحکومت سره دي اوپه اسلامي حکومت کي چي کله دالله ﷻ او درسول ﷺ قانون نافذوي نو دي جګړي ته هم دالله ﷻ اودرسول ﷺ جګړه ويل کيږي .
لنډه دا ده چي په اولني آيت کي دکومي سزا ذکر دی ، دا سزا په هغو ډاکوګانو اوباغيانو باندي پريوزي چي په اجتماعي قوت سره حمله وکړي ، عام امن خراب کړي اودحکومت دقانون په ډاګه دماتولو کوشش وکړي او ښکاره خبره ده چي ددي مختلف صورتونه کيدی سي، دمال لوټ کولو، پرعزت باندي دحملي کولو څخه واخله ترقتل اووينو توييولو پوري ټول په کښي شامل دي نو ددي ځاي څخه دمقاتلي (ويني توييونکي جنګ) او محاربي (په زورسره بدامني خپرول) فرق معلوم سو، چي لفظ دمقاتلي ويني توييونکي جنګ ته ويل کيږي که څوك قتل سي اوکه نه او په دي کي مال هم لوټ کړل سي ، او لفظ دمحار بي په طاقت سره بدامني خپرولوته ويل کيږي اودامن اوسلامتي ختمولوپه معنى کي دي، په دي وجه دالفظ په اجتماعي طاقت سره دعوامو په ځان، مال اوعزت کي پريوه شي باندي دحملي کولو دپاره استعماليږي ، چي راهزني (لاره نيول) ډاکه او بغاوت ورته ويل کيږي .
ددي جُرم سزا قرآن کريم په خپله مقررکړي ده اودالله ﷻ دحق په ډول يي يعني دحکومتي جُرم په حيثيت سره يي نافذه کړي ده ، چي دشريعت په اصطلاح کي ورته حد ويل کيږي ، نو اوس واوري چي دډاکي اوراهزني يعني لارشکولو شرعي سزاڅه ده؟ په ذکر سوي آيت کي دلاري شکولو څلور سزاګاني ذکر سوي دي ، أَنْ يُقَتَّلُوٓا أَوْ يُصَلَّبُوٓا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَافٍ أَوْ يُنفَوْا مِنَ الْأَرْضِ يعني قتل دي کړل سي يادي په دارکړل سي يادي د دوی لاسونه اوپښي دمختلفو طرفونو څخه پريکړل سي يادي دوی دمځکي څخه وايستل سي، په دي کي په اولو درو سزاګانو کي دمبالغي لفظ دباب تفعيل څخه استعمال سوی دي چي دکار پرمکمّل کولو اوسختولو دلالت کوي ، او دجمعي صيغه يي په کښي هم استعمال کړه او دي طرف ته يي اشاره وکړه چي ددوی قتل کول يا په دارکول ياورڅخه لاسونه اوپښي پريکول دعامو سزاګانو په شان نه دي چي په کوم سړي جُرم ثابت سي يوازي په هغه سړي باندي سزاجاري کول کيږي بلکه داجُرم چي ددغه ډلي په کوم يوه نفر باندي ثابت سي نوټوله ډله به قتلول ياپه دارول کيږي يابه ورڅخه لاسونه اوپښي پريکول کيږي .
دارنګه دي طرف ته يي هم اشاره وکړه چي داقتلول اوپه دارکول اونور دقصاص په ډول باندي نه دي چي

دقتل سوی اولیآء یی معاف کړی نومعاف به سی، بلکه دادشرعی حد اودالله ﷻ دحق په حیثیت سره نافذ سوی دی نوچاته چی ورځخه تاوان رسیدلی وی دهغوی په معاف کولو شرعًا سزا نه معاف کیږی، دا دوه حکمونه ددی ځخه دتفعیل دصیغی په ذکر کولو سره معلوم سول (مظهری اونور)

دراهزنی دا څلور سره سزاګانی په حرف د اَوْ سره ذکر سوی دی چی دا (او) په څو شیانو کی دیوه داختیارولو دپاره هم استعمالیږی اودتقسیم دکار دپاره هم، په دی وجه دامّت دفقهاوو، صحابه وو اوتابعینو یوی ټولی داحرف د اَوْ داختیار دپاره مقررکړی دی او دی طرف ته تللی دی چی په دی څلورو سزاګانوکی امام اوامیرته شریعت اختیار ورکړی دی چی دداکوګانو دزور، دباؤ اودجُرم دسخت والی اوکموالی په لحاظ سره ددوی دحال مطابق داڅلورسره سزاګانی یاپه دوی کی یوه جاری کړی.

سعیدبن مسیّب، عطآء، داؤد، حسن بصری، ضحاك، نخعی، مجاهد اوداڅلورو امامانو څخه دامام مالك دامذهب دی، اوامام ابوحنیفة، شافعی، احمد بن حنبل اودصحابه وو دیوی ټولی اوتابعینوحرف د (اَوْ) دلته دتقسیم دکارپه معنی کی اخیستی دآیت مطلب یی دامقررکړی دی چی دراهزنانو اوراهزنی دمختلفو حالاتوپه وجه مختلفی سزاګانی مقرر دی، ددی تائید دیوه حدیث څخه هم کیږی چی په هغه کی په روایت دابن عباس ﷺ نقل دی چی نبی کریم ﷺ دابوبرده اسلمی سره دصلح معاهده فرمایلی وه، مګر هغه معاهده ماته کړه اوځه خلګ دمسلمانیدو دپاره مدینی طیّبی ته راتلل پرهغوی یی داکه وکړه په دی واقعه کی جبرآئیل امین دسزا داحکم راوړی چی کم سری یوځوك قتل کړی اومال یی هم لوټ کی، دی دی په دارکړه سی اوچاچی یوازی قتل وکی، مال یی لوټ نه کی، دی دی قتل کړه سی اوچاچی قتل نه دی کړی، یوازی مال یی لوټ کړی دی دده لاس اوپښی دی دمختلفو طرفو څخه پریکړل سی اوځوك چی په دوی کی مسلمان سی دهغه جرم دی معاف کړه سی اوچاچی قتل اولوټماری هیڅ نه دی کړی یوازی خلګ یی بیرول، چی په دی سره په عام امن کی تاوان راغلی دی دي جلاوطن کړل سی، اوکه دی خلګو ددارِ اسلام یومسلمان یاغیر مسلم ښاری قتل کړی وی، مګرمال یی نه وی لوټ کړی نوددوی سزا: اَنْ یُّقَتَّلُوْا ده یعنی ټول دي قتل کړل سی، که څه هم چی دقتل کاربی له واسطی څخه یوازی دځینو افرادو څخه سوی وی، اوکه ځوك یی قتل هم کی اومال یی هم لوټ کی نو د دوی سزا، یُصَلَّبُوْا ده یعنی دوی دي په دارکړل سی، چی ددی صورت دادی چی ژوندی په دار راوځړول سی، بیادی په نیزه یابل شی باندی ورلره نس یابل ځای ورخیری کړی چی مړسی، اوکه دی خلګو یوازی مال لوټ کړی وی، ځوك یی نه وی قتل کړی نوددوی سزا ، اَوْ تُقَطَّعَ اَیْدِیْهِمْ وَاَرْجُلُهُمْ مِّنْ خِلَافٍ ده یعنی ددوی راسته لاس ترمړوند لږ څه پورته اوچپه پښه تربجلګو لږلوړه دي پریکړل سی، اوپه دی کی هم دمال لوټ کولو داکار که څه هم چی بی له واسطی دځینو څخه صادرسوی دی لیکن سزابه دټولو دپاره هم دغه وی، ځکه چی دی کوونکی چی څه کړی دی، ددی خپلو ملګروپه کومك اوتعاون سره یی کړی دی، په دی وجه په جُرم کی ټول شریك دی اوکه لادقتل اولوټ ماری کم کار ددوی څخه نه وی سوی اوتردی مخکی دوی ونیول سی نوددوی سزا، اَوْ یُنْفَوْا مِنَ الْاَرْضِ ده، یعنی دمخکی څخه دی وایستل سی.

Maktaba Tul Ishaat.com

دمځکی څخه دایستلو مطلب دفقهاوو دیوې ټولی په نزد دا دی چی دوی دی ددار اسلام څخه وایستل سی اودځینوپه نزد دادی چی په کم مقام کی دوی ډاکه اچولی ده دهغه ځای څخه دی وایستل سی، حضرت فاروقِ اعظم ﷺ په دی قسم معاملوکی داسی فیصله فرمایلې ده چی که مجرم ددغه ځای څخه وایستل سی اوپه نورو ښارونوکی آزاد پریښوول سی نودهغو ځایونو خلک به بیاتنګوي، په دی وجه داسی مجرم دی په قید خانه کی بندکړه سی، داده دمځکی څخه ایستل دی چی په مځکه کی هرځای ګرځیدی نه سی ، امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله هم دا اختیار کړی ده .

پاته سوداسوال چی په دغه ډول باوسله حملوکی نن سباپه عام ډول سره یوازی په لوټ ماری کولو اوقتلونو کولو صبرنه کول کیږی بلکه اکثره دښځو بی حُرمتی اوداغوا کولو (تښتولو) اونوری واقعی هم پیښیږی اودقرآن مجید جمله وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا ددی قسم ټولو جرمونوته شامله هم ده، نودوی به دکومی سزا لائق وی، په دی کی خو ښکاره خبره داده چی امام اوامیرله اختیاردی چی په دی څلورو سزاګانوکی ددوی دحال سره مناسبه کمه سزاګڼی، هغه ورکړی اوکه دبدکاری شرعی ثبوت پیداسی نودزنا حد وربانډی جاری کړی .

دغه ډول که صورت داسی وی چی نه یی مال لوټ کړی وی اونه یی څوک قتل کړی وی، بلکه یوڅه خلک یی زخمی کړی وی نودزخمونو دقصاص قانون به وربانډی نافذکړل سی (مظهری)

دآیت په آخرکی فرمایی ، ذَٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ : یعنی داشرعی سزاګومه چی په دوی په دنیاکی جاری کړل سوی ده ، دا خو ددنیا رسوایی ده اودسزا یوه نمونه ده اودآخرت سزا تردی هم سخته اواوږده ده، ددی څخه معلومه سوه چی ددنیاپه سزاګانو حدود اوقصاص یاتعزیراتو اونورو سره بغیر دتوبی څخه دآخرت دسزا څخه نسی خلاصیدی، البته چی سزا وخوری اوبیاپه زړه سره توبه وباسی نودآخرت سزابه معاف سی .

په دوهم آیت ، إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِنْ قَبْلِ أَنْ تَقْدِرُوا عَلَيْهِمْ کی یوه استثناء ذکرسویده، هغه داده چی ډاکو اوباغی که دحکومت په ګیرکی تر راتلو اوپرده دواك پیداکولو څخه مخکی چی خپل قوت اوطاقت یی پرځای وی، په دی حالت کی که توبه وکړی اودراهزنی اوډاکی اچولو څخه په خپله قرارسی نوداشرعی حدبه ډاکو څخه ساقط سی، دااستثناء دقانون دعامو حدودو څخه جلاده، ځکه چی په نورو جرمونو غلا، زنا اونوروکی ترجُرم کولو اودقاضی په عدالت کی دجُرم ثابتیدلو څخه وروسته که مُجرم په ریښتینی زړه سره توبه هم وکړی نوکه څه هم چی په دی توبه سره دآخرت سزاخوبه معاف سی لیکن ددنیاشرعی حدنه معاف کیږی، لکه چی یوڅو آیتونه وروسته به دغلاپه سزاکی ددی تفصیلی بیان راسی .

په د ی استثناء کی حکمت دا دی چی یوه طرف ته یی دډاکوګانوپه سزاکی داسختی اختیارکړی ده چی په ټوله ټولی کی که دیوه څخه هم جُرم صادرسی، نوسزا ټولی ټولی ته ورکول کیږی، په دی وجه یی بل طرف ته ددی استثناء په ذریعه معامله سپکه کړه چی که توبه وکړی نوددنیاسزابه هم معاف سی اوپردی سربیره په دی کی یوسیاسی مصلحت هم دی، چی پریوه زوروری ټولی باندی هروخت واك حاصلول

گران وی نو په دی وجه یی په دی طریقه سره د ترغیب دروازه خلاصه پریښوله چی دوی توبی ته مائله سی دغه ډول په دی کی دا مصلحت هم دی چی دنفس قتل کول یو انتهایی سزا ده، په دی داسلامی قانون هدف دادی چی دادی لږ ترلږه وی اوډاکی په صورت کی خودیوی تولی قتل کول لازمیږی په دی وجه په ترغیبی اړخ سره یی ددوی داصلاح دعوت هم ددی سره سره جاری وساتی، ددی تاثیر داووچی علی اسدی چاچی دمدینی طیّبی په خواکی ځانته ډله جمع کړی وه، پرتلونکو اوراتلونکوبه یی ډاکه اچوله یوه ورځ یی په قافله کی دیوه قاری دخولی څخه دا آیت په غوږ کی ولویدی .

یٰعِبَادِیَ الَّذِیْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰی اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ دقاری خواته یی ځان ورسوی اودبیا ویلو خواست یی ورته وکی، چی په دوهم واریی آیت واوریدی نوتوره یی په تیکی کی دننه کړه اوډاکی کولو څخه یی توبه وایسته اومدینی منوری ته ورسیدی، دغه وخت په مدینه منوره کی مروان بن حکم حاکم وو، حضرت ابوهریره ﷺ دده لاس ونیوی ، دمدینی امیرته یی بوتلی اودقرآن شریف داذکرسوی آیت یی ووایه اووی فرمایل چی ده ته هیڅ ډول سزانه ورکول کیږی .

حکومت هم دده ددی ډاکو دفساد څخه عاجزه سوی وو، تول ډیرخوشحاله سول .

دغه ډول دحضرت علی کَرَّمَ اللّٰهُ وَجْهَهٗ په زمانه کی حارثه بن بدر بغاوت وکی او ووتی جنګ، لوټماری اوقتلونه یی دځان دپاره کسب وګرځول، لیکن بیا الله ﷻ توفیق ورته ورکی اوتوبه یی وایسته، بیرته راغی حضرت علی ﷺ په ده شرعی حدجاری نه کی .

دلته داخبره دیادولو قابله ده چی دشرعی حد دمعاف کیدلو څخه دانه لازمیږی چی دبندګانو حقونه کوم چی ده ضائع کړی دی ، هغه هم معاف سول، بلکه که دچامال یی اخیستی وی اوهغه موجود وی نو هغه بیرته وررډول ضروری دی اوکه څوك یی قتل کړی یازخمی کړی وی، نودهغه قصاص وربانډی لازم دی البته چی کله قصاص دبنده حق دی نودقتل سوی اولیآء یادحق مالك یی که معاف کړی، نومعاف به سی اوکوم مالی نقصان یی چی چاته رسولی دی دهغه تاوان اداکول یایی دهغه څخه معاف کول پرده لازم دی، دامام ابوحنیفه ﷫ اودجمهورو فقهاوو ﷭ دامذهب دی ، اوکه فکر وکړل سی نو دا خبره دغسی هم ښکاره ده چی دبندګانو دحقونو څخه ځان خلاصول په خپله دتوبی یوجزء دی، بغیر ددی څخه خوتوبه نه مکمّله کیږی، په دی وجه یوډاکوبه هغه وخت توبه کوونکی منل کیږی، کله چی دی دبندګانوحقونه اداء کړی اویایی په هغوی پاندی معاف کړی .

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَابْتَغُوْۤا اِلَیْهِ الْوَسِیْلَةَ وَجَاهِدُوْا فِیْ سَبِیْلِهٖ لَعَلَّكُمْ

ای ایماندارو ! بیره کوی دالله څخه اولټوی هغه ته وسیله اوجهاد کوی دهغه په لاره کی چی تاسی

تُفْلِحُوْنَ ﴿٣٥﴾ اِنَّ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا لَوْ اَنَّ لَهُمْ مَّا فِی الْاَرْضِ جَمِیْعًا

کامیاب سی ، کوم خلق چی کافران دی که د دوی سره وی هرڅه چی په مځکه کی دی تول

Maktaba Tul Ishaat.com

وَّمِثْلَهٗ مَعَهٗ لِيَفْتَدُوْا بِهٖ مِنْ عَذَابِ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَا تُقُبِّلَ

او ددې سره دومره نور چی په بدله کی یی ورکړی په ورځ دقیامت دعذاب څخه نو د دوی څخه به قبول

مِنْهُمْ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۳۶﴾ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّخْرُجُوْا مِنَ النَّارِ

نه سی او د دوی دپاره عذاب دردناك دی ، غواړی به چی ووزی د اور څخه

وَمَا هُمْ بِخٰرِجِيْنَ مِنْهَا ؗ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿۳۷﴾ وَالسَّارِقُ

او دوی به ددی څخه وتونکی نه وی ، او د دوی دپاره عذاب همیشه دی، اوغلا کونکی سړی

وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْٓا اَيْدِيَهُمَا جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِّنَ اللّٰهِ ؕ

اوغلاکوونکی ښځه پرېکړی د دوی څخه لاس د دوی ،په سزاکی د دوی دکسب خبرداری دی دالله دطرف څخه

وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۳۸﴾ فَمَنْ تَابَ مِنْۢ بَعْدِ ظُلْمِهٖ وَاَصْلَحَ فَاِنَّ

او الله غالب دی حکمت والا دی ، بیا چاچی توبه وکښله وروسته د ظلم خپل څخه او اصلاح یی وکړه

اللّٰهَ يَتُوْبُ عَلَيْهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۳۹﴾ اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ

نو الله قبلوی دده توبه ، بیشکه الله بخښوونکی مهربانه دی ، تاته معلومه نه ده چی دالله

لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ وَيَغْفِرُ

دپاره دی حکومت دآسمانونو او دمځکی عذاب ورکوی هغه چاته چی وغواړی او بخښی

لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۴۰﴾

هغه څوك چی وغواړی ، او الله په هرڅه باندی قادر دی .

لنډتفسیر: ای مؤمنانو! دالله ﷻ (داحکامو دمخالفت) څخه وبیرېږئ (یعنی گناهونه پرېږدی) او (دعبادت په ذریعه) دخدای ﷻ نژدیکت ولټوی (یعنی دضروری عبادتونو پابندی کوئ) او (په عبادتونوکی خاص دالله ﷻ په لاره کی جهادکوئ اُمید دی چی (په دی طریقه سره) تاسی به (پوره) کامیاب سی (اوکامیابی دالله ﷻ رضا حاصلول اوددوزخ څخه نجات دی) یقینًا کم خلگ چی کافران دی که (بالفرض) ددوی (هریوه) سره دټولی دنیا ټول شیان وی (چی په دی کی ټولی دفینی اوخزانی هم راغلی) او (یوازی دانه

Maktaba Tul Ishaat.com

بلکه، ددی شیانو سره نورهم دغومره شیان وی چی هغه ورکړی دقیامت دعذاب څخه خلاص سی نوبیابه هم دغه شیان هیڅکله ددوی څخه قبول نه کړل سی (اودعذاب څخه به خلاص نه سی بلکه) دوی لره به دردناك عذاب وی (بیاپه عذاب کی ترداخلیدو وروسته) ددی خبری خواهش (اوآرزو) به کوی چی ددوزخ څخه (په یوډول) ووزی او (داخواهش به یی هیڅکله هم پوره نه سی او) دوی به ددی څخه هیڅکله ونه وتلی سی اودوی لره به همیشه عذاب وی. (یعنی په هیڅ ډول سره به نه ورڅخه سزالیری سی اونه به ورڅخه همیشه والی دسزالیری سی)

اوکوم سړی چی غلاوکی او (دغه ډول) کومه ښځه چی غلاوکړی نو (حکم یی دا دی چی ای حاکمانو) ددی دواړو رسته لاسونه (دمړوندڅخه) پریکړی د دوی د (دی) کار په عوض کی (او دا عوض) په ډول دسزا (دی) دالله ﷻ دطرفه څخه اوالله ﷻ لوی قوت والا دی (کومه سزا چی وغواړی مقرره کوی یی او) لوی حکمت والادی (چی مناسبه سزا منتخبه کوی) بیاچی کوم سړی (دشرعی قاعدی موافق) توبه وکړی دخپل دی زیاتی (یعنی غلا کولو) څخه وروسته او (دآئنده دپاره) خپل عملونه برابرکړی (یعنی غلا او نور نه کوی په خپله توبه قآئم وی) نو بیشکه الله ﷻ په (حال د) ده (په رحمت سره) به توجه وفرمایی (چی په توبه سره به ورته تیره ګناه معاف کړی اوپه توبه دقآئم پاته کیدو په وجه به ورباندی زیاته مهربانی وفرمایی) بیشکه الله ﷻ لوی بخښنی والادی (چی دده ګناه یی معاف کړه) لوی رحمت والادی (چی آئنده یی ورباندی لویه مهربانی وفرمایله، ای مخاطبه!) آیاته نه پوهیږی (بلکه تول پوه دی) چی دالله ﷻ دپاره ثابت دی، حکومت دټولو آسمانونو اودمځکی هغه چاته چی وغواړی سزا ورکوی اوچاته چی وغواړی معاف کوی یی اوالله ﷻ په هرڅه باندی پوره قدرت لرونکی دی.

معلومات اومسئلې: ددی ذکر سوو آیتونو څخه په مخکی آیتونوکی دډاکی اوبغاوت شرعی سزا او ددی داحکامو تفصیل ذکر وو اومخ ته تردرو آیتونو وروسته دغلا دشرعی سزا بیان راروان دی ددی په مینځ کی په درو آیتونوکی دتقوی، اطاعت اوعبادت او جهاد طرف ته ترغیب دی اودکفر اوعناد اوګناهونو دتباه کاریو بیان دی، دقرآن کریم په دی خاص طرز باندی چی فکر وکړل سی نومعلومه به سی چی دقرآن کریم عامه طریقه اوطرز دا دی چی دی محضی په حاکمانه ډول باندی دتعزیر اوسزا قانون بیان کړی نه پریږدی، بلکه دتربیت اوپالنی په اندازکی ذهنونه دجرمونو څخه دلیری ساتلو دپاره هم هواروی دخدای پاك اوآخرت بیره اودجنت همیشه پاته کیدونکی نعمتونه ورته را وړاندی کوی ددوی په زړونوکی دجرمونو څخه نفرت پیدا کوی، دغه وجه ده چی اکثره دجرم اوسزا دقانون څخه وروسته، اتَّقُوا اللّٰهَ اونور بیا بیا راوړی، دلته یی هم په اول آیت کی د درو شیانو حکم کړی دی.

اول، اتَّقُوا اللّٰهَ یعنی دالله ﷻ څخه وبیریږی، ځکه چی دالله ﷻ بیره هغه شی ده چی انسان په حقیقی ډول ره په پټه او ښکاره دګناهونو څخه منع کولی سی.

دوهم ارشاد دی، وَابْتَغُوْا اِلَيْهِ الْوَسِيْلَةَ یعنی دالله ﷻ نژدیکت لټوی، لفظ دوسیلی د وَسْلٌ مصدر څخه مشتق دی چی معنی یی ...

Maktaba Tul Ishaat.com

تقریبًا په یوه معنی کی راځی، فرق یوازی دومره دی چی وَصْلٌ په صاد سره مطلقًا دملاویدو اوپیوست کیدوپه معنی کی دی، او وَسْلٌ په سین سره درغبت اومحبّت په ډول دملاویدو دپاره استعمالیږی ، په صحاح دجوهری او مفردات القرآن دراغب اصفهانی کی ددی تصریح ده، په دی وجه په صاد سره وُصله او وَصِیْله هرهغه شی ته ویل کیږی چی ددوو شیانوپه مینځ کی میلان اوپیوستون پیدا کړی، برابره خبره ده که دغه میلان اوپیوستون په رغبت اومحبّت سره وی اوکه په بل صورت سره وی اوپه سین سره دلفظ (وسیله) معنی هغه شی دی چی یودبل سره په رغبت اومحبّت یوځای کړی (لسان العرب، مفردات امام راغب)

دالله ﷻ طرف ته وسیله هرهغه شی دی چی بنده په رغبت اومحبّت سره خپل معبودته نژدی کړی، پردی بنآء تیر نیکان صحابه اوتابعین په دی آیت کی دوسیلی تفسیر په عبادت، نژدیکت، ایمان اونیك عمل سره کوی، په روایت دحاکم حضرت حذیفه فرمایی چی دوسیلی څخه مراد نژدیکت اوعبادت دی اوابنِ جریر دحضرت عطآء، مجاهد، حسن بصری اونورو څخه هم دانقل کړی ده .

او ابن جریر اونورو دحضرت قتادة څخه ددی آیت تفسیر دانقل کړی دی ، تَقَرَّبُوْا اِلَيْهِ بِطَاعَتِهٖ وَالْعَمَلِ بِمَا يُرْضِيْهِ یعنی دالله ﷻ طرف ته نژدیکت حاصل کړی دهغه درضامندی اوفرمان برداری په کار کولوسره ، نو په دی وجه دآیت دتفسیر خلاصه دا سوه چی دالله ﷻ نژدیکت ولټوی په ایمان اونیك عمل سره .

اودمسندِ احمدپه یوه صحیح حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی، وسیله یوه اعلی درجه ده دجنت چی تردی پورته بله درجه نسته ، تاسی دالله ﷻ څخه سوال کوی چی دغه درجه ماته را کړی .

اودصحیح مُسلم په یوه روایت کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کله اذان کوونکی اذان کوی نوتاسی هم هغه کلمی وایاست کمی چی اذان کوونکی یی وایی تر دی وروسته پرما درود وایاست اوزما دپاره دوسیلی دعا کوی .

ددی احادیثو څخه معلومه سوه چی وسیله یوه خاصه درجه ده دجنت چی په نبی کریم ﷺ سره خاص ده او په ذکر سوی آیت کی هم مؤمن ته دوسیلی طلب کولو اولټولو حکم په ظاهره ددی خصوصیّت سره منافی دی ، لیکن جواب یی ښکاره دی ، چی لکه څنګه چی دهدایت اعلی مقام دنبی کریم دپاره خاص دی او ده ﷺ په ددی دپاره همیشه دعا کوله ، مگر ددی ابتدایی او درمیانه درجی دټولو مؤمنانو دپاره عامی دی ، دغه ډول دوسیلی اعلی درجه دنبی کریم ﷺ دپاره خاص ده اوتردی لاندی درجی دټولو مؤمنانو دپاره دده ﷺ په واسطه او ذریعه سره عامی دی .

حضرت مجدّد الف ثانی رحمه الله په خپلو مکتوباتو کی اوقاضی ثنآء الله پانی پتی رحمه الله په تفسیر مظهری کی په دی باندی خبرداری فرمایلی دی چی په لفظ دوسیله کی دمحبّت او رغبت دمعنی په شاملیدو سره دی طرف ته اشاره ده چی دوسیلی په درجو کی ترقی دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ په محبت باندی موقوفه ده ، اومحبّت پیدا کیږی په تابعداری دسنتو، څکه چی دالله ﷻ ارشاد دی ، فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ : په دی وجه څومره چی څوك په خپلو عبادتونو معاملو اخلاقو او دژوند دطریقو په ټولو اړخونو کی

Maktaba Tul Ishaat.com

دنبی کریم ﷺ دسنتو تابعداری کوی دومره به دالله ﷻ محبّت ده ته حاصلیږی او دی به په خپله الله ﷻ ته نژدی اومحبوب سی ، او څومره چی محبّت زیاتیږی ، دومره به الله ﷻ ته نژدیکت حاصلیږی .

دلفظ دوسیلی دلغوی تشریح او دصحابه وو اوتابعینو دتفسیر څخه چی کله دا معلومه سوه چی هرهغه شی کوم چی دالله ﷻ درضا او نژدیکت ذریعه جوړیږی هغه دانسان دپاره الله ﷻ ته دنژدی کیدو وسیله ده ، په دی کی لکه څنګه چی ایمان اونیك عمل داخل دی ، دغه ډول دپیغمبرانو اوصالحانو سره صحبت اومحبّت په کښی هم داخل دی چی دغه هم دالله ﷻ درضا داسبابو څخه دی او په دی وجه دوی وسیله جوړول اودالله ﷻ څخه سوال صحیح سو ، لکه چی حضرت عُمر ؓ دقحطی په زمانه کی حضرت عباس ؓ وسیله جوړکی ، دالله ﷻ څخه یی دباران دُعا وغوښته اوالله ﷻ قبوله کړه .

او په یوه روایت کی نبی کریم ﷺ په خپله یوه نابینا صحابی ؓ ته داسی ددُعا غوښتلو ښوونه کړی ده ،

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ وَاَتَوَجَّهُ اِلَیْكَ بِنَبِیِّكَ مُحَمَّدٍ نَبِیِّ الرَّحْمَةِ (منار)

په ذکر سوی آیت کی یی اول دتقویٰ ښوونه وکړه، بیاپه الله ﷻ باندی دایمان اونیك عمل په ذریعه دنژدیکت حاصلولو ، په آخرکی ارشاد فرمایی ، وَجَاهِدُوْا فِیْ سَبِیْلِهٖ یعنی جهادکوی دالله ﷻ په لاره کی که څه هم چی په نیك عمل کی جهاد هم داخل وو ، لیکن په نیکوعملونوکی دجهاد داعلی مقام ښوولو دپاره یی دده جلا ذکر وکی ، لکه چی په حدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی ، وَذِرْوَةُ سَنَامِهِ الْجِهَادُ یعنی داسلام لوړمقام جهاد دی ، بل دلته جهادپه اهمیّت سره دذکر کولو کی دا حکمت هم دی ، چی په تیرو سوو آیتونو کی دمځکی دفساد حراموالی اوناجائز والی او ددی دنیا اوآخرت دسزاګانو بیان راغلی وو نو جهادهم په ښکاره اعتبار سره دمځکی دفساد صورت معلومیږی ، په دی وجه ممکنه وه چی څوك ناخبره دجهاد او فساد فرق ونه پیژنی ، په دی وجه یی دمځکی دفساد منع کولو څخه وروسته دجهاد حکم په اهمیّت سره بیان کی ، د دواړو فرق یی ښکاره کی په لفظ د فِیْ سَبِیْلِهٖ سره یی ورته اشاره وفرمایله ، څکه چی په ډاکه بغاوت اونوروکی چی کوم قتل اوقتال اومال لوټیږی ، هغه یوازی دخپلو ذاتی غرضونو اوخواهشونو اوذلیلو مقصدونو دپاره وی ، او په جهاد کی که خبره دی ته ورسیږی هم نو دا یوازی دالله ﷻ دکلمی دلوړولو اوظلم اوزور ورکولو دپاره وی چی دمځکی اودآسمان فرق یی دی .

په دوهم او دریم آیت کی دکفر اوشرك اودګناه لوی وبال په داسی طریقه سره ښوول سوی دی چی که لږ فکر ورباندی وکړل سی نو دغه به دانسان په ژوندکی یو ډیر لوی انقلاب راولی او دکفر، شرك اوګناه ټولو په پرېښوولو به یی مجبوره کوی .

هغه دا ده چی په عام ډول سره انسان چی په کومو ګناهونوکی اخته وی دغه دخپلو خواهشونو اوضرورتونو یااهلِ اوعیال دخواهشونو دپاره وی او دا ټول دمال او دولت دجمع کولو دپاره وی او دمال او دولت په جمع کولوکی دحرامو اوحلالو دفرق کولو څخه پرته اخته وی ، په دی آیت کی الله ﷻ دده ددی بدمستی دعلاج دپاره وفرمایل چی نن ددی څو ورځو ژوند دپاره او ددی دراحت حاصلولو

Maktaba Tul Ishaat.com

ددې ناجائز خواهش انجام دا دی چې دقيامت عذاب چې کله مخ ته راسی نو دغه وخت که دا خلگ وغواړي چې په دنيا کې حاصل کړی مال ، دولت اوساز اوسامان ټوله په فديه کې ورکړي ځان دعذاب څخه خلاص کړي نو دا ممکنه نه ده ، بلکه فرض کړه که دټولي دنيا مال او دولت اوټول سامان دغه يوه سړي ته ورسيږي اوبيا په دی لاهم بس والی نه وي دغومره مال نور هم ورسره يوځای سی او دا ټول دخپل ځان دعذاب څخه دخلاصولو دپاره فديه کول وغواړي نوهيڅ شی به يې قبول نه وی ، او دی به دآخرت دعذاب څخه خلاص نه سی .

په دريم آيت کې يې دا هم ښکاره کړه چې دکفارو دا عذاب به دائمي وي چې دوی به ددې څخه هيڅکله خلاصوالی پيدا نه کی .

په څلورم آيت کې بيا دجرمونو دسزاگانو طرف ته بيرته ستنيدل وسوه او دغلا دشرعي سزا بيان يې وکی دشرعي سزاگانو درې قسمونه چې مخکې بيان سوی دی دغلا سزا په دې قسم حدودو کې داخله ده ، څکه چې قرآن کريم دا سزا په خپله مقرره کړه ، دحاکمانو رايې ته يې پاته نه کړه اوداللّٰه ﷻ دحق په ډول يې مقرره کړه ، په دی وجه دی ته حد دغلا وايي ، په آيت کې ارشاد دی ، وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِّنَ اللّٰهِ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ : يعني دغلا کوونکي سړي اوغلا کوونکي ښځې لاس پريکړي د دوی دکار په بدله کې اوالله ﷻ زورور حکمت والا دی .

دلته دا خبره دفکر قابله ده چې دقرآن په حکمونو کې په عام ډول سره خطاب نارينهووته وي اوښځې هم په هغه کې تبعًا شاملي وي ، لمونځ ، روژه ، حج ، زکوٰة اوپه ټولو احکامو کې دقرآن اوسنت دغه اُصول دی ، ليکن دغلاپه سزا کې او دزناپه سزاکې يې يوازی دنارينه وو په ذکر کولو باندی بس والی ونه کی بلکه دواړه قسمونه يې جلا جلا کړل او حکم يې وفرمايي، ددی وجه داده چې معامله دحدودو ده چې په معمولي غوندی شُبهه باندی ساقطيږی، په دی وجه يې دښځو ذکرجلا وکی اووضاحت يې وفرمايي .

دوهمه خبره دلته دفکر قابله دا ده چې دسرقې دلفظ لغوي معنی اوشرعي تعريف څه دی؟ په قاموس کې دی چې يو سړی دبل څامال ديوه محفوظ ځای څخه بغير دهغه داجازت څخه واخلي دی ته سرقه (يعني غلا) وايي دا ددی شرعي تعريف دی او ددی تعريف په بناء سره دسرقې دثابتيدو څوشيان ضروري سوه .

اول دا چې دغه مال ديو فرد ياټولي ذاتی ملکيّت وی ، دغلا کوونکی نه په دی کی ملکيّت وی ، نه دملکيّت شبهه وی اونه داسی شيان وی چې په هغه کی دعوامو حقونه برابر وی لکه دعامي فآئدی اداری او ددی شيانو څخه دا معلومه سوه چې که يو چا يو داسی شی واخيستی چې دده ملکيّت يادملکيّت شُبهه پکښی وی ياپه کښی دعوامو حقونه برابر وی نوحد دسرقې به په ده نه سی جاری کيدی ، حاکم به وربانديدخپل حق خيال مناسب تعزيری سزاجاری کوی .

دوهم شی دسرقې په تعريف کې دمال محفوظ کيدل دی يعني په مکان کې يې ژرنده کول يادچوکيدار په ذريعه يې ساتل ، نوکوم مال چې په محفوظ ځای کې نه وی اوڅوك يې پورته کړی نو په ده هم دسرقې حد نه جاری کيږی اوکه دمال په محفوظ کيدو کی شُبهه هم راسی ، نو هم به حد ساقط سی ، دگناه او

تعزیری سزا معامله جلا ده.
دریم شرط بی اجازته پورته کول دی ، نو دکوم مال درا اخیستلو یا استعمال کولو چی چاته اجازت ورکړل سوی وی که هغه بالکل یو سی نو هم دسرقی حد نه جاری کیږی او که داجازت یوه شُبهه غوندی پیداسی نو هم به حد ساقط سی.
څلورم شرط په پټه وړل دی ، څکه چی دبل مال په ډاګه لوټ کړل سی نو هغه سرقه نه ده بلکه ډاکه ده چی سزایی مخکی بیان سویده ، مقصد دادی چی په پټه نه وی ، نوحد دسرقی وربانذی نه سی جاری کیدی .
ددی ټولو شرطونو دتفصیل اوریدو څخه به داتاسی ته معلومه سوی وی چی زمونږ په عُرف کی کوم شی ته غلاویل کیږی دا یوعام او وسیع مفهوم دی ددی پرټولو افرادو باندی دسرقی حدیعنی دلاس پریکولو سزا شرعًا نه سی جاری کیدی بلکه دغلا به یوازی په هغه صورت باندی دا شرعی حد جاری کیږی په کوم کی چی دا ټول شرطونه موجود وی .
ددی سره به تاسی دا معلومه کړی وی چی په کومو صورتونو کی دغلا شرعی حد ساقطیږی، نو دا لازمه نه ده چی مجرم دی آزاد پریښوول سی ، بلکه دوخت حاکم به ده ته دخپل فکر برابر دده په نزد په مطابق تعزیر سزا ورکوی چی دبدنی دُرّو په صورت کی هم کیدی سی .
دغه ډول دا دی هم نه ګڼل کیږی چی په کومو صورتونوکی دیوه شرط نه پیدا کیدو په وجه سره دسرقی شرعی حدجاری نسو نوګوندی دغه شی به شرعًا جائز اوحلال وی ؟ څکه چی مخکی بیان سوی ده چی دلته دګناه او دآخرت دعذاب ذکر نسته ، ددنیوی سزا او هغه هم دیوه خاص قسم سزا ذکر دی ، دغسی خو دیو چا مال بغیر دهغه دزړه دخوشحالی څخه په هر ډول سره چی یووړل سی نو حرام دی او دآخرت دعذاب واجبوونکی دی ، لکه چی دقرآن کریم په آیت ، لَا تَأْكُلُوٓا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ کی ددی وضاحت موجود دی .
دلته دا خبره هم دذکر قابله ده چی په غلاکی دقرآن کریم کم الفاظ راغلی هم دغه دزناپه سزاکی دی، لیکن دغلاپه معامله کی دسړی ذکرمخکی اودښځی ذکر وروسته دی اوپه زناکی ددی برعکس دښځی ذکراول دی دغلاپه سزاکی ارشاد دی ، اَلسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ او دزناپه سزاکی فرمایی ، اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِي ددی ترتیب دچپه کولو حکمتونه تفسیرلیکونکوصاحبانو ډیرلیکلی دی په دی کی دایوه خبره ډیره په زړه لګیدونکی ده چی دغلا جُرم دښځی په نسبت دسړی دپاره زیات سخت دی څکه چی ده ته الله ﷻ دکسب او معاش هغه قوت ورکړی دی چی ښځی ته نه دی حاصل ، نو چی دکسب اومعاش د دومره خلاصو دروازو سره بیاهم دی دغلاپه ذلیل جُرم کی اخته کیږی ، دا د ده جُرم زیاتوی او دزنا په معامله کی ښځی ته الله ﷻ دطبعی شرم اوحیاسره داسی چاپیریال ورکوی چی ددی ټولو شیانو په موجودګی کی ددی داسی بی حیایی کول ددی دپاره زیات جُرم دی ، په دی وجه په غلاکی دسړی ذکر اول دی اوپه زنا کی دښځی .
دذکرسوی آیت په الفاظوکی دغلا دشرعی سزا بیانولو څخه وروسته دوی جُملی ارشاد فرمایی ، یو جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا یعنی داسزا بدله ده د دوی دبد عملی دوهمه جُمله فرمایی ، نَكَالًا مِّنَ اللّٰهِ په دی کی دوه

لفظونه دی نَكَال او مِنَ الله دلفظ دنكال معنی په عربی لغت کی دداسی سزا ده چی ددی په لیدو سره نور خلگ هم عبرت اخلی ، او دداسی جُرم کولو څخه منع سی ، په دی وجه دنكال ترجمه زمونږ دمحاوری موافق عبرتناکه سزا سوه ، په دی کی اشاره ده چی دلاس پریکولو سخته سزا په یوه خاص حکمت باندی بنآء ده ، چی په یوه باندی سزا جاری سی نو ټول به بیربږی او دا قبیح جرم به بند سی ، بل لفظ دمِنَ الله یی زیات کی ، دیوه مهم مضمون طرف ته یی اشاره وکړه هغه دا دی ، چی دغلا دجُرم دوه ۲ حیثیتونه دی یو دا چی ده دبل انسان مال بغیر دحق څخه واخیستی چی دایی په هغه ظلم وکی ، دوهم دا چی ده دالله ﷻ دحکم خلاف ورزی وکړه په اول حیثیت سره داسزا دمظلوم حق دی اوددی په بنآء سره که دی معافی وکړی نومعاف به سی ، لکه دقصاص په ټولو مسئلو کی چی داسی عمل کول کیږی ، په دوهم حیثیت سره داسزا دالله ﷻ دحق په خلاف ورزی کولوسره ده ، نوپه دی بنآء سره چی دکوم سړی څخه یی غلاکړی ده که هغه یی معاف هم کړی خونه معاف کیږی ، ترڅوچی په خپله الله ﷻ یی معاف نه کړی ، کوم ته چی په اصطلاح دشرع کی حدیا حدود ویل کیږی ، په لفظ د مِنَ الله سره یی ددی دوهم حیثیت تعین وکی او دی طرف ته یی اشاره وفرمایله چی دا سزا حد دی ، قصاص نه دی یعنی دسرکاری جُرم په حیثیت سره دا سزاورکړل سوی ده په دی وجه دچا څخه چی یی غلاکړی ده دهغه په معاف کولوهم سزا نه معاف کیږی .

دآیت په آخرکی یی ، وَاللهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ وفرمایل ددی شبهی جواب یی ورکی چی نن صباپه عام ډول سره دخلگو پرژبه ده چی داسزا ډیره سخته ده اوځینی بی شرمه ناخبره خوددی څخه هم باك نه کوی چی وایی «دا وحشیانه سزا ده» نعوذ بالله منه ، اشاره یی دی طرف ته وفرمایله ، چی ددی سختی سزا منتخب کول محضی په دی وجه باندی نه دی چی الله ﷻ قوی او زورور دی بلکه پردی بنآء باندی هم دی چی دی حکیم دی ، کومو شرعی سزاگانو ته چی نن صبا دیورپ عاقلان سختی او وحشیانه وایی د دوی دحکمت او ضرورت او دفائدو بحث به ددی آیتونو دتفسیر څخه وروسته په تفصیل سره راسی .

په دوهم آیت کی یی ارشاد وفرمایی ، فَمَن تَابَ مِن بَعْدِ ظُلْمِهِ وَأَصْلَحَ فَإِنَّ اللهَ يَتُوبُ عَلَيْهِ إِنَّ اللهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ یعنی کوم سړی چی دخپلی بدعملی اوغلا څخه واپس سی او دخپل عمل اصلاح وکړی نو الله ﷻ به دی معاف کړی ځکه چی الله ﷻ ډیر بخښنی والا او مهربانه دی .

دډاکی شرعی سزا دکومی چی بیان څو آیتونه مخکی راغلی دی ، په دی کی هم دمعافی ذکر دی او دغلا تر سزا وروسته هم دمعافی ذکر دی ، لیکن دواړه ځایه دمعافی په بیان کی یوخاص فرق دی او ددی فرق پربنآء په دواړو سزاگانو کی دمعافی مطلب دفقهاوو په نزد مختلف دی ، دډاکی په سزاکی خو الله ﷻ په ډول داستثنآء ذکر وکی ، إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِن قَبْلِ أَن تَقْدِرُوا عَلَيْهِمْ چی ددی حاصل دا دی چی دډاکی کومه شرعی سزا چی په آیت کی ذکر ده دهغه څخه دا صورت مستثنیٰ دی چی په ډاکوگانو باندی دحکومت دواك راتلو اوتر گرفتارولو مخکی چی توبه وکاږی نو دا شرعی سزا به ورته معاف سی او دغلا تر سزا وروسته چی دکومی معافی ذکر دی په دی کی ددی دنیوی سزا څخه استثنآء نسته ، بلکه دآخرت په اعتبار سره ددوی دتوبی قبلیدو بیان دی ، چی ددی طرف ته په : فَإِنَّ اللهَ يَتُوبُ عَلَيْهِ کی اشاره

Maktaba Tul Ishaat.com

موجوده ده چې دوخت حاکمان به ددې توبې په وجه شرعي سزانه معاف کوي ، بلکه الله ﷻ به د دوی جُرم معاف کړي دآخرت دسزا څخه به يې خلاص کړي په دې وجه باندې فقهآء صاحبان تقريبًا په دې باندې متفق دي چې ډاکوکه ترګرفتاره کيدو مخکې توبه وکړي نو دډاکې شرعي سزا به په ده جاري نه وي ليکن غل که ترغلاکولو وروسته ترګرفتاره کيدو مخکې يا وروسته توبه وکښله نو دسرقې حد چې ددنيا سزاده هغه به معاف نه وي اودګناه نه معاف کيدل اودآخرت دسزا څخه خلاصيدل ددې منافي نه دي .

په وروسته آيت کې يې ارشاد وفرمايي .

أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ لَهُ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ وَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَاللَّهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ .

يعنې آياتاته معلومه نه ده چې دآسمانونو اومځکې حکومت اوباچهي يوازې دالله ﷻ ده او دهغه داشان دي چې چاته وغواړي عذاب ورکوي چاته چې وغواړي بخښې يې او الله ﷻ په هرڅه قادر دی .

ددې آيت ترون اومناسبت دتيرو آيتونو سره دا دی چې په تيرو آيتونوکې دډاکې اوغلا دشرعي حدونوچې دلاس اوپښې دپريکولو يا يوازې دلاس دپريکولو سخت حکمونه دي په ظاهري نظرکې داحکمونه دانساني شرافت اودده داشرف المخلوقات کيدوسره منافي دي، ددې شُبهې دليرې کولو دپاره په دې آيت کې الله ﷻ اول دا وفرمايل چې زه دټول جهان دپاره حقيقي مالك يم بيايې دخپل قادر مطلق کيدو ذکر وفرمايي اوددې په مينځ کې يې داارشاد وفرمايي چې هغه يوازې سزا اوعذاب نه ورکوي ، بلکه معاف کول هم کوي اوددې معافي اوسزا دار اومدار دده پرحکمت باندې دي، ځکه چې هغه لکه څنګه چې مالك مطلق اوقادر مطلق دی، دغه ډول حکيم مطلق هم دی، لکه څنګه چې دهغه دقدرت اوسلطنت احاطه ديوه انسان طاقت نه سې کولی دغه ډول دهغه دحکمتونو پوره احاطه هم دانسان عقل او دماغ نه سې کولی اوپه اُصولوسره غور اوفکر کوونکو ته په قدر دکفايت څه علم هم حاصليږي چې په دې سره د دوی زړونه مطمئن کيږي ، داسلامي سزا ګانو په باره کې ديورپ والاوو او د دوی دتهذيب او تعليم څخه دمتاثرو خلګو دا عام اعتراض دی چې دا سزاګانې سختې دي اوخينې عاقبت ته نه فکرکوونکي خوداخبره هم کوي چې داسزاګانې وحشيانه اودانساني شرافت څخه خلاف دي ددې په اړوند خو اول دا خبره خپل مخ ته کښيږدې کومه چې اول بيان سوې ده چې قرآن کريم يوازې دڅلورو جرمونو سزاګانې په خپله مقررې اومعيّنې کړې دي چې دشريعت په اصطلاح کې ورته حدويل کيږي، دډاکې سزارسته لاس اوچپه پښه پريکول، دغلا سزا رسته لاس دمروند څخه پريکول، دزنا سزا په ځينو صورتونوکې سل دُرّې وهل اوپه ځينوکې سنګسارول اوقتلول، دزنا ددرواغو تهمت پرچا باندې دلګولو سزا اتيا ٨٠ دُرّې، پنځم شرعي حد دشرابو چيښلودې چې په اجماع دصحابه ووسره اتيا ٨٠ دُرّې مقررې سوې دي، ددې پنځو جُرمونو څخه ماسوا دنورو ټولو جُرمونو سزا دوخت دحاکم ورايې ته سپارل سوې ده ، چې جُرم اومجرم اوچاپيرپال ته نظر وکړي څومره اوڅنګه چې وغواړي سزادې ورکړي، په دې کې داهم کيدی سی چې دسزاګانو دحدونو اوتعين څه خاص نظام دعالمانو اواهل الرّاي په مشوره مقرر کړ ...

داسمبلیوپه ذریعه متعین کړه کیږی اوقاضی یاجج دمقررو سرو حدونو دننه سزاجاری کوی، البته په دی پنځو جرمونوکی چی سزاګانی یی په قرآن یاپه اجماع سره مقرری سوی دی اوپه دی کی یوفرد یاټولی یااسمبلی ته دادل بدل کولو څه اختیار نسته مګرپه دی کی هم که دمجرم ثبوت دشریعت پر مقرری کړی ضابطی دشهادت سره ونه سی یادجُرم ثبوت خو پیدا سی مګر په دی جُرم باندی چی په کومو شرطونو سره دا سزا جاری کړه کیږی ، هغه شرطونه مکمل نه وی اونفسِ جُرم دقاضی یاجج په نزد باندی ثابت وی، نوپه دی صورت کی هم شرعی حدنسی جاری کیدی، بلکه تعزیری سزابه ورکول کیږی.
ددی سره داشرعی ضابطه هم مقرره اومنل سویده چی دشبهی فآئده مجرم ته رسیږی، دجُرم په ثبوت یادجرم په شرطونوکی چی په څه شی کی شُبهه لویږی، نوشرعی حد ساقطیږی، لیکن چی دنفسِ جرم ثبوت وسی نو تعزیری سزابه ورکول کیږی، ددی څخه معلومه سوه چی په دی پنځو جُرمونوکی ډیر صورتونه داسی راوزی چی شرعی حدود په کښی نه سی نافذ کیدی ، بلکه تعزیری سزابه دحاکم په رایی سره ورکول کیږی ، تعزیری سزاګانی چی کله اسلام نه دی متعینی کړی ، بلکه دهری زمانی اوهر ماحول مطابق دعامو ملکونو دقوانینو په شان په دی کی ادل بدل اوکمی او زیاتی کول کیږی ، په دی وجه په دی باندی هیچاته دهیڅ اعتراض ځای نسته ، اوس بحث یوازی په پنځو سزاګانو او د دوی هم په خاصو صورتونو کی پاته سو، دمثال په ډول غلا رواخلی اووګوری چی په اسلامی شریعت کی دلاس پریکولو سزامطلقی پرهره یوه غلانه عآئده کیږی کمی نه چی په عام عُرف کی غلا ویل کیږی، بلکه هغه غلاچی دغله لاس پکښی پریکول کیږی دهغی یوخاص تعریف دی چی تفصیل یی مخکی تیرسوی دی ، چی دچا مال دمحفوظ ځای څخه چی دحفاظت سامان مات کړی اوپه ناجآئزه طریقه یی په پټه راوباسی اویوسی، ددی تعریف په بنآء سره ډیر صورتونه چی په عُرف کی ورته غلا ویل کیږی، دغلا دحد دتعریف څخه ایستل کیږی مثلاً دمحفوظ ځای دشرط څخه معلومه سوه چی دعامو عمومی ځایونو مثلاً مسجد، عیدګاه، پارك، کلب، استیشن، ویټنګ روم (دانتظار کوټه) ریل، جهاز اونورو کی اینښوول سوی مال پټ کړی یادرختو څخه میوی وشکوی پټی یی کړی یادګبین غلا وکړی، نوپرده حدسرقی نه جاری کیږی، بلکه دعامو ملکونو دقوانینوپه شان تعزیری سزابه ورکول کیږی، دغه ډول هغه سړی چی کورته دراتلواجازت ورلره ورکړل سوی وی، برابره خبره ده که نوکروی، که مزدور او بنا یابل دوست اوخپل وی، دی که ددی ځای څخه یوڅه شی یوسی نوکه څه هم چی داپه عامه غلاکی داخل اوتعزیری سزا لائق دی لیکن دلاس پریکولو شرعی سزاپرده نه سی جاری کیدی، ځکه چی دی کورته په اجازت سره داخل سوی دی ، دده په حق کی حفاظت مکمّل نه دی.
دغه ډول که یوچا دبل چاجیب پری کی یایی دلاسونو څخه کالی یاپیسی وتښتولی یایی په دوکه دیوچا څخه څه واخیستل یاپر امانتونو باندی منکرسو ، داټول شیان حرام اونا جآئزدی اوپه عامو غلاګانوکی خامخا داخل دی، مګر ددی ټولو سزا تعزیری ده چی دحاکم پررایی باندی موقوفه ده، دشرعی غلاپه تعریف کی نه ده داخل، په دی وجه په دی لاس نه پری کیږی، دغه ډول دکفن کښ لاس هم نه پریکول

Maktaba Tul Ishaat.com

کیږي، ځکه چې اول خو دغه محفوظ ځای نه دی، دوهم کفن دمړي ملکیّت نه دی، البته دده داکار سخت حرام دی، پرده تعزیري سزادحاکم درایې موافقه جاري کړل کیږي، دغه ډول که یوچا په مشترك مال کې غلا وکړه چې دده هم یوڅه حصه په کښې وه، برابره خبره ده که دمیراث مشترك مال وو اوکه دتجارت شریك مال وونوپه دې صورت کې داخیستونکې هم یوڅه حصه په دې کې شامله ده، ددې ملکیت دشُبهې په وجه شرعي حد ساقطیږي، تعزیري سزا به ورکول کیږي.

دا ټول شرطونه دجُرم ترتکمیل لاندې راځي چې سرسري نقشه یې تاسې ولیده اوس یوبل شی دثبوت دپاره مکمّل کوونکې دی، دحدودو په نافذ کولو کې اسلامي شریعت دشهادت ضابطه هم دعامو معاملو څخه جلا اوډیره داحتیاط جوړه کړیده، دزناپه سزا کې ددوو شاهدانو پرځای یې دڅلورو شاهدانو شرط مقررکړی دی اوهغه هم چې داسې عیني شاهدي ورکړي چې هیڅ مشتبه لفظ په کښې نه وي، دغلا اونورو په معامله کې که څه هم چې دوه شاهدان کافي دي، مګرددې دوو دپاره یې دشهادت پرعامو شرطونو سربیره څه نور شرطونه هم عائد کړي دي، مثلاً په نورو معاملوکې دموقعې دضرورت په وخت کې قاضي ته دا اختیار ورکړل سوی دی چې دیوه فاسق سړي په باره کې که قاضي ته دا اطمینان وسي چې داسړی که څه هم چې عملي فاسق دی خودرواغ نه وایي نوقاضي یې شاهدي قبلولی سي، لیکن په حدودوکې قاضي ته دده دشاهدي قبلولو اختیار نسته، په عامو معاملوکې دیوه سړي اودوو ښځوپه شاهدي سره فیصله کیدی سي، مګر په حدودوکې ددوو سړیانو شاهدي ضروري ده، په عامو معاملوکې اسلامي شریعت مودي تیریدو ته څه عذرنه دی مقررکړی په معامله کې چې هرڅومره وخت تیر سي او وروسته بیاڅوك شاهدي ورکي، نوقبلیدی سي، لیکن په حدودوکې که فوري شاهدي ونه سي، بلکه یوه میاشت یازیات صبروکي اوبیاشاهدي وکي نوقبوله به نه وي.

دغلادحد دنافذ کولو کوم شرطونه چې دا وخت بیان سول دا ټول دفقه حنفي دمستند کتاب، بدائع الصنائع څخه را اخیستل سوي دي.

ددې ټولو شرطونو حاصل دادی چې شرعي حدیوازې په هغه صورت کې جاري کیدی سي کله چې دپاك شریعت دمقررې ضابطې مطابق جُرم هم مکمّل وي اوثبوت یې هم مکمّل وي اومکمّل هم داسې چې یوارخ یې هم مشتبه پاته نسي، ددې څخه معلومه سوه چې اسلامي شریعت کوم ځای چې ددې جُرمونو سزاګانې دحکمت پرمقتضاء باندې سختې مقررې کړي دي، هلته یې دشرعي حدونوپه نفاذکې هم انتهایي احتیاط کړی دی دحدودو دشهادت ضابطه یې هم دعامو معاملو دشهادت ترضابطې مختلفه اوډیره پر احتیاط باندې بناء کړیده، په دې کې که یوه ذرّه غوندې هم کمي راسي نوشرعي حدپه تعزیري سزا بدلیږي، دغه ډول که دجُرم دمکمل کیدوپه سلسله کې کمه کمي پیداکړل سي نوبیاهم شرعي حدساقط سي، تعزیري سزا ورکول کیږي، په دې وجه شرعي حدونه یوځای کله کله نافذ کیږي، په عامو حالاتوکې دحدودو جُرمونه هم په تعزیري سزاګانو کې بدلیږي، لیکن کله چې یوځای جُرم دثبوت سره مکمل سي که څه هم چې یوپه سلوکې هم وي نوسزا ډیره سخته اوعبرتناکه ورکول کیږي چې ددې هیبت

Maktaba Tul Ishaat.com

دخلګو پرزړونو اود ماغونو باندی مسلط سی اودغه جُرم ته په نژدی کیدو سره یی بیابدن ولړزیږی اود همیشه دپاره دجُرمونو دبندیدو اودعام امن راتلو ذریعه جوړیږی، په خلاف ددی موجوده تعزیری سزاګانو اوقوانینو چی دکسبی مجرمانوپه نظرکی دایوه لوبه ده چی ډیر په خوشحالی سره یی دوی کوی، په بندیخانه کی ناست وی اودآئنده جرمونو کولو دپاره ښه خوندور اوښایسته پروګرامونه جوړوی، په کومو ملکونوکی چی شرعی حدونه نافذ کړه کیږی، دهغوی دحالاتو که معاینه وکړل سی نوحقیقت به معلوم سی چی هلته به نه یوځای تاسی دخلګو ډیر لاسونه پریکړی ووینی اونه به په کلونوکی یوځای دسنګساری واقعه ولیدل سی، لیکن ددی شرعی سزاګانو داسی هیبت په زړونوکی ناست وی چی هلته دغلا، ډاکی اوبی حیایی نوم په سترګونه لیدل کیږی، دسعودی عرب دحالاتو څخه عام مسلمانان سیده په سیده خبردی، څکه چی دحج اوعُمری په سلسله کی دهری طبقی اوهرملك خلګ هلته حاضری ورکوی، په ورځ کی پنځه واره هرسړی داوینی چی دکانونه خلاص ولاړوی دلکونو روپوسامانونه په کښی پراته وی اومالکان یی بغیر ددکان بندولو څخه دلمانځه په وخت کی حرم شریف ته ځان رسوی اوبیه په اطمینان سره لمونځ ادا کوی اوبیاراځی دده هیڅکله هم داشك نه راځی چی دده ددکان څخه به یوشی ورك سوی وی اوبیا دادیوی ورځی خبره هم نه ده عُمرونه په دی کی تیریږی، ددُنیا دیوه مهذب ملك معاینه وکړئ نوبیاوګورئ چی په یوه ورځ کی به په سوونو غلاګانی او ډاکی وسی.

دانسانی تهذیب اوانسانی حقونو دعوه لرونکی عجبه دی چی پرمجرمانو باندی رحم کوی، مګر پرټول انسانیت باندی رحم نه کوی دکومو ژوندچی دی مجرمانوپه اورکی اچولی دی، حقیقت دادی چی پریوه مجرم باندی بیره کول پرټول مخلوق ظلم کول دی او دعام امن دخرابولو ترټولو لوی سبب دی، همداوجه ده چی رب العالمین ﷻ چی نیکو، بدو، متقیانو، اولیاوو، کافرانواو فاجرانو ټولولره رزق ورکوی، مارانو، لړمانو، زمریو، شرمښانو اونورو لره رزق ورکوی اودچارحمت چی پرټولو باندی عام دی، هغه چی کله شرعی حدونه په قرآن کی نازل کړل، نو ددی سره یی دا هم وفرمایل، وَلاَ تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِيْ دِيْنِ اللهِ یعنی دالله ﷻ په حدودو جاری کولوکی په دی مجرمانو هیڅکله بیره (یعنی زړه سوی) مه کوی، اوبل طرف ته یی قصاص دعالَم انسانی ژوند مقررکړی دی، وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ يَآ أُولِي الْأَلْبَابِ معلومیږی چی داسلامی حدونو خلاف کوونکی داګرسره نه غواړی چی جُرمونه دی بندسی، که نه وی نوترکمه ځایه پوری چی درحمت اوشفقت معامله ده هغه تراسلامی شریعت زیاته څوك ښوولای سی، چاچی په عینی میدانِ جنګ کی دخپلو قاتلانو دښمنانوحق ساتلی دی اوحکم یی کړی دی چی ښځه مخ ته درسی نو لاس ورځخه بندکړی، کوچنیان چی مخ ته درسی نولاس ورځخه بندکړی، بو ډا چی مخ ته درسی نولاس ورځخه بندکړی، دکفارو مذهبی عالِم چی ستاسی خلاف په جنګ کی شریك نه وی، دخپل طرزپه عبادت کی مشغول وی، نودی مه قتلوی.

اوترټولو عجیبه خبره داده چی پردی اسلامی سزاګانو داعتراض دپاره دهغو خلګو ژبی ښوری دکومو لاسونه چی تراوسه پوری دهیروشیما دلکونوبی ګناه، بی قصوره انسانانو په وینو رنګین دی، دکوموپه

زړه کې چې شاید هیڅکله هم دجنګ اومقابلې تصوّرنه وو راغلی، په دوی کې کوچنیان، ښځې، بوډاګان ټول شامل دي او دکوموچې دغضب اور دهیروشیما په حادثه سره هم یخ سوی نه دی، بلکه روزانه ترخطرناك لادخطرناك نوی بمانو په جوړولو اوتجربو کولوکې مشغول دی، مونږ به ددی څخه پرته نورڅه ووایوچې الله ﷻ دي ددوی دسترګو څخه دخود غرضی پردی لیری کړی اوپه دُنیاکی دي دامن قائمولو صحیح اسلامی طریقو وطرف ته ددوی هدایت نصیب کړی . آمین

يٰٓاَيُّهَا الرَّسُوْلُ لَا يَحْزُنْكَ الَّذِيْنَ يُسَارِعُوْنَ فِى الْكُفْرِ مِنَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا

ای رسول ! غم مه کوه دهغوچې په ځغستا لویږي په کفر کې هغه خلق چې وایی مونږ

اٰمَنَّا بِاَفْوَاهِهِمْ وَلَمْ تُؤْمِنْ قُلُوْبُهُمْ ۛ وَمِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا ۛ

مسلمانان یو په خُلو خپلو سره او زړونه یې مسلمانان نه دي او هغه چې یهودیان دي

سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ سَمّٰعُوْنَ لِقَوْمٍ اٰخَرِيْنَ ۙ لَمْ يَاْتُوْكَ ۭ يُحَرِّفُوْنَ

جاسوسی کوی د دروغو ویلو دپاره ، دوی جاسوسان دي دبل جماعت چې تاته نه دی راغلی بدلوی

الْكَلِمَ مِنْۢ بَعْدِ مَوَاضِعِهٖ ۚ يَقُوْلُوْنَ اِنْ اُوْتِيْتُمْ هٰذَا فَخُذُوْهُ

خبره د خپل ځای څخه وایی که تاسی ته دا حکم ورسیدی نو قبول یې کړی

وَاِنْ لَّمْ تُؤْتَوْهُ فَاحْذَرُوْا ۭ وَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ فِتْنَتَهٗ فَلَنْ

اوکه دا حکم ونه رسیدی نو ځان ورڅخه وساتی ، او چالره چې الله ﷻ ګمراه کول وغوښتل نوته ﷺ دهغه

تَمْلِكَ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ۭ اُولٰۗىِٕكَ الَّذِيْنَ لَمْ يُرِدِ اللّٰهُ اَنْ يُّطَهِّرَ

دپاره هیڅ نه سی کولی دالله په نزد ، دا هغه خلق دي چې الله نه دي غوښتلی چې ددوی

قُلُوْبَهُمْ ۭ لَهُمْ فِى الدُّنْيَا خِزْيٌ ښ وَّلَهُمْ فِى الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ

زړونه پاك کړی ، دوی لره په دنیاکی ذلت دی او دوی لره په آخرت کی لوی عذاب

عَظِيْمٌ ۝۴۱ سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ اَكّٰلُوْنَ لِلسُّحْتِ ۭ فَاِنْ جَاۗءُوْكَ

دی ، جاسوسی کوونکی د دروغو ویلو دپاره اولویې حرام خوړونکی ، نو که راسی دوی تاته

فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ أَوْ أَعْرِضْ عَنْهُمْ ۚ وَإِنْ تُعْرِضْ عَنْهُمْ فَلَنْ

نو فیصله کوه په دوی کی یا مخ اړوه د دوی څخه او که ته مخ واړوې د دوی څخه نو دوی ستا هیڅ

يَضُرُّوكَ شَيْئًا ۖ وَإِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ ۚ إِنَّ

نه شي ورانولی او که ته ﷺ فیصله کوې نو فیصله کوه په دوی کی په انصاف سره،

اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ ﴿٤٢﴾ وَكَيْفَ يُحَكِّمُونَكَ وَعِنْدَهُمُ

بیشکه الله دوست لري انصاف کوونکي، او دوی به تا څنګه منصف جوړ کړي او د دوی سره خو

التَّوْرَاةُ فِيهَا حُكْمُ اللَّهِ ثُمَّ يَتَوَلَّوْنَ مِنْ بَعْدِ ذَٰلِكَ ۚ وَمَا

تورات دی چی په هغه کی حکم دی د الله بیا دوی بیرته ګرځي وروسته ددې څخه، او دوی

أُولَٰئِكَ بِالْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٣﴾

هیڅکله منونکی نه دی

دآیتونو ترون: دسورة مآئدة ددریمی رکوع څخه داهلِ کتابو ذکر راروان دی، په مینځ کی لږغوندې اوځنیی مضمونونه په خاصو خاصو مناسبتونو سره راغلی وه، اوس مخ ته بیا داهلِ کتابو ذکرتر لیری پوری تللی دی، په اهلِ کتابوکی دیهودو او نصاراوو دوی فرقی خووی، یوه دریمه فرقه پکښې بله هم شامله سوی وه چی په حقیقت کی یهودیان وه، لیکن په منافقانه ډول سره مسلمانان سوی وه، دمسلمانانو په وړاندی به یی خپل اسلام ښکاره کوی او چی په خپلو مذهبیانو یهودیانوکی به کښینستل نوپه اسلام او مسلمانانو پوری به یی مسخری کولی داذکرسوی دری آیتونه ددی دروسرو فرقو دداسی کارونو او حالاتوپه اړونددی چی ددوی څخه ښکاره کیږی چی دا خلګ دالله ﷻ دحکمونو او هدایتونو په مقابله کی خپل خواهشونه اوخپلی رایی مخکی ساتی اوپه حکمونو او هدایتونوکی تاویلونه کوی دخپلو خواهشونو سره یی دمطابق کولو په فکرکی دی، په دی ذکرسووآیتونوکی دداسی خلګوپه دُنیا اوآخرت کی درُسوایی اوبدانجام بیان دی او ددی په درمیان کی دمسلمانانودپاره یوڅواُصولی هدایتونه اودشرعی حکمونوبیان دی.

شانِ نزول: دذکر سوو آیتونو دنزول سبب دوی واقعی دی کومی چی دنبی کریم ﷺ په مبارك وخت کی دمدینی په شاوخوا کی په اوسیدونکو یهودو قبیلوکی رامینځ ته سوی وی، یوه واقعه دقتل اوقصاص ده اوبله واقعه دزنا اودهغی دسزا ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

دا خبره خو دهیڅ تاریخ پیژندونکی څخه پټه نه ده چې تراسلام مخکې هرځای په هره طبقه اوپه هره مخکه کې دظلم او زیاتي حکومت وو، قوي به کمزوري، عزت منده بې عزته غلام جوړوی، دزورآور اوعزتمند دپاره قانون یوډول وو اود کمزوري اوبې عزته دپاره قانون بل ډول. لکه چې نن هم خپل ځان ته مهذب اومتمدن ویونکو په ډیرو ملکونوکې دتور او سپین قانون جلا جلا کړی دی، پرانسانیت احسان کوونکی رسول عربي چې راغی دا فرقونه یې ورك کړل او دانسانانو دحقوقو دبرابري اعلان یې وکی اوانسان ته یې دانسان اوسرېتوب سبق ورکی، درسولِ کریم ﷺ مدینې منورې ته دتشریف راوړلو څخه مخکې دمدینې په اطرافوکې دیهودو دوی ۲ قبیلې بنو قریظه اوبنو نضیر آبادي وې، په دوی کې بنو نضیر دقوت اوشوکت اودعزت اودولت په لحاظ تربنو قریظه زیات وه، دی خلګوپه مخه پربنو قریظه باندې ظلم کوی اودوی به چار اوناچاره دغه زغمی، تردې چې بنو نضیرو بنو قریظه پردې ذلیله معاهده مجبوره کړل چې که دبنو نضیرو کوم سړی دبنو قریظه کوم سړی قتل کی نو دده دقصاص یعنې جان اخیستلوحق به دوی ته نه وی ، بلکه یوازې اویا ۷۰ وَسَق خُرماوی به ده ته دوینې دقیمت په ډول ادا کول کیږي (وَسَق دعربي وزن یوه پیمانه ده چې زمونږ دوزن په اعتبارسره پنځه منه اولس سیره ده) اوکه معامله ددې برعکس وه چې دبنوقریظه سړي یوڅوك دبنو نضیر څخه مړکی نوقانون به داوی چې دغه قاتل به قتلول کیږي هم اودوینې قیمت به ورڅخه هم اخیستل کیږي اوهغه به هم دبنو نضیرو دوینې ترقیمت دوه چنده یعنې یوسل او څلویښت ۱۴۰ وَسَق خرماوې به وي او یوازې داهم نه بلکه ددې سره دا هم وه چې که ددوی څخه به یې ښځه قتل کړی وه نودبنوی قریظه څخه به سړی قتلول کیږي اوکه سړی به یې قتل کړی وونو دبنوقریظه څخه به دوه سړیان قتلول کیږي اوکه دنضیر څخه به یې غلام قتل کړی وو نوپه بدله کې به یې دبنو قریظه څخه آزاد قتلول کیدی اوکه دبنوی نضیرو دسړی څخه به یې یولاس پریکړی وو نودبنو قریظه وو دسړی به دواړه لاسونه پریکیدل، که یوغوږبه وونو دوه غوږونه به یې پریکیدل، داهغه قانون ووچې تراسلام مخکې په دې دواړو قبیلوکې رواج وو اوبنو قریظه دخپلې کمزوري په وجه ددې پرمنلو باندې مجبوروه، کله چې نبي کریم ﷺ هجرت وکی اومدینې منورې ته یې تشریف راوړی اومدینه یو دارالاسلام جوړ سو نو دا دواړې قبیلې لانه په اسلام کې داخلې سوی وې او نه دکمې معاهدې په بنآء سره داسلامي حکمونو پابندې وې لیکن داسلامي قوانینو عدل کول اوعامي آسانې یې دلیرې څخه لیدلې .

په دغه وخت کې دا واقعه پیښه سوه چې دبنوقریظه وو یوه سړي دبنو نضیرو یو سړی مړ کی ، نو بنو نضیرو د ذکر سوې معاهدې مطابق دبنو قریظه وو څخه د دوچنده دیت یعنې دوینې دقیمت غوښتنه وکړه ، بنو قریظه که هم چې نه په اسلام کې داخل وه اونه یې دنبي کریم ﷺ سره دغه وخت کومه معاهده وه لیکن دا خلګ یهودیان وه ، په دوی کې ډیر تعلیم یافته خلګ هم وه ، چې دتورات دپیشګویانو مطابق په دې پوه وه چې نبي کریم ﷺ نبي آخر زمان دی چې دده ﷺ دراتلو خوشخبري تورات ورکړې ده لیکن دمذهبي تعصّب یاپه دنیادخطا وتلوپه وجه سره یې ایمان نه وو راوړی اودایې هم لیدل چې ددوی

مذهب دانساني برابري اوعدل اوانصاف نښان داره دی، په دې وجه دبنونضير دظلم څخه دخان خلاصولو دپاره دوی ته يوه موقع پيدا سوه اودوی ددوچنده ديت ورکولو څخه انکاروکی دايي وويل چی مونږ اوتاسی ديوه خاندان څخه يو ديوه وطن اوسيدونکي يو او زمونږ ددواړو مذهب هم يو يعني يهوديّت دی، دابې انصافه معامله چی ترننه پوری ستاسی دزورورتيا اوزمونږ دکمزوری په سبب کيده اوس دامونږ نه سو منلی.

په دې جواب بنو نضيرپه جوش کی راغلل اونږدې وه چی جنګ جوړسی ليکن بيادمشرانوپه مشوره سره دامقرره سوه چی ددې معاملی فيصله په نبی کريم ﷺ کوو، دبنوقريظه وو خودا عيني مراد وو، څکه چی دوی پوهيدل چی نبی کريم ﷺ به دبنو نضيرو ظلم په ځای پری نږدی، بنو نضير هم دخبرو اترو اوصلح په بنآء سره دی ته مجبوره سول ليکن داسازش يي وکی چی ده ﷺ ته تردعوی وړلومخکی يي يوڅه داسی خلګ مخکی وليږل چی په اصل کی ددوی دمذهب يهوديان وه، ليکن په منافقانه ډول سره يي داسلام اظهار کړی وو، نبی کريم ﷺ ته به راتلل اومطلب ددوی داوو چی دا خلګ په يوډول سره دمقدمی تړاوړلو اودهغی ترفيصله کولو مخکی په دې معامله کی دنبی کريم ﷺ خيال او نظريه معلومه کړی، او دا تاکيد يي دی خلګوته وکی چی که نبی کريم ﷺ زمونږ دمطالبی موافقه فيصله وفرمايله نوقبوله يي کړی اوکه خلاف حکم يي وکی نودمنلو وعده مه ورسره کوی.

دنزول دسبب دا واقعه په تفصيل سره بغوی رحمه الله نقل کړی ده اوپه مسند احمد رحمه الله اوابوداؤد کی دحضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه څخه ددې خلاصه نقل ده (مظهری)

دغه ډول يوه بله واقعه دزناده چی تفصيل يي بغوی رحمه الله داسی نقل کړی دی چی دخيبرپه يهوديانو کی دا واقعه پيښه سوه اودتورات دمقررکړی سزا موافق دی دواړو ته سنګسار کول لازم وو، مګردا دواړه ديولوی خاندان وه، يهوديانو دخپل پخوانی عادت په موافق داوغوښته چی ددوی سره په سزاکی نرمی وسی اودوی ته دامعلومه وه چی په اسلامی مذهب کی ډيری آسانی ورکړل سوی دی، په دې وجه دوی په خپل نزد داوګڼله چی په اسلام کی به په دې سزاکی هم آسانی وی، دخيبر خلګو دخپلی وروروڵی خلګوبنو قريظه وته پيغام وليږئ چی ددې معاملی فيصله به محمّد ﷺ وکړی او دواړه مجرمان يي هم ورسره وليږل، د دوی منشآء هم دا وه چی که ده ﷺ کومه آسانه سزا جاري کړه نو ودې منل سی که نه وی نو انکاز دې وکړی، بنو قريظه خو اول څه ګډوډ غوندی سول چی معلومه نه ده دې څنګه فيصله کوی او هلته ترتلو وروسته به بيا مونږ ته منل وی، مګر دځه ساعت خبرو کولو څخه وروسته دافيصله وسوه چی ددوی يوڅو سرداران دې دنبی کريم ﷺ په خدمت کی دامجرمان بوزی اوپه ده ﷺ دې ددې مجرمانو فيصله وکړی، نوپه دې بنآء سره کعب بن اشرف اودنورو يووفد دوی دنبی کريم ﷺ په خدمت کی حاضرکړل اوسوال يي وکی، چی واده سوی سړی او ښځه که بدکاری وکړی نوسزايي څه ده؟ حضور ﷺ وفرمايل چی ولی تاسی به زما فيصله ومنی؟ دوی اقرار وکی، دغه وخت جبرآئيل امين دالله ﷻ دا حکم نازل کی چی د دوی سزا سنګسارول اوقتلول دی دی خلګوچی دافيصله واوريده نوحيران سول اودمنلو

Maktaba Tul Ishaat.com

ځخه یی انکاروکی ، جبرآئیل علیه السلام نبی کریم ﷺ ته مشوره ورکړه چی ته دی خلګو ته ووایه چی زمادی فیصلی دمنلو یانه منلو دپاره ابنِ صوریا حکم مقررکی اودابنِ صوریا حالات اوصفات یی نبی کریم ﷺ ته وښوول ، حضورﷺ دی راغلی وفدته وویل چی آیا تاسی هغه ځوان پیژنی چی سپین رنګه مګر په یوه سترګه معذور دی ، په فدك کی اوسی او ابن صوریا ورته ویل کیږی؟ ټولو اقرار وکی ، حضورﷺ پوښتنه وکړه چی تاسی دغه سړی ځنګه ګڼی؟ هغو وویل چی دیهودو په عالمانو کی په مخ دمځکی تردہ لوی بل هیڅوك عالِم نسته نو حضورﷺ وفرمایل ، چی هغه راوغواړی .

نو هغه راغی حضورﷺ ده ته قسم ورکی اوپوښتنه یی ورځخه وکړه چی په دی صورت کی دتورات ځه حُکم دی ؟ ده وویل چی قسم دی په هغه ذات دچاقسم چی تا ماته راکی، که تاقسم نه وای راکړی اوزماسره دابیره نه وای چی دغلطی خبری کولو په صورت کی به ما تورات وسوځی، نومابه داحقیقت نه وای ښکاره کړی، حقیقت دادی چی داسلامی حکم په شان په تورات کی هم داحکم دی چی دادواړه دی سنګسار اوقتل کړل سی .

نبی کریم ﷺ وفرمایل، چی بیاپرتاسی ځه آفت راغلی دی چی تاسی دتورات دحکم خلاف ورزی کوی؟ ابن صوریا وویل ، چی اصلی خبره دا ده چی دزنا شرعی سزاخو زمونږ په مذهب کی دا ده ، لیکن زمونږ یو شهزاده په دی جُرم کی ګرفتارسو، مونږ دهغه رعایت وکی، پاته موکی ، سنګسارمو نه کی ، بیا دا جُرم دیوه عادی سړی ځخه وسو نوذمه دارانو دی سنګساروئ خودده دڵلی خلګو احتجاج وکی چی که شرعی سزاده ته ورکوئ نو اول یی شهزاده ته ورکی، که نه وی نومونږ په ده ددی سزا جاری کولوته تیارنه یو، دا خبره زیاته سوه ، نو ټول یو ځای سول صلح یی وکړه چی دهر یوه دپاره دي سپکه سزا مقرره کړل سی او دتورات حکم دی پاته کړل سی ، نو مونږ دیرځه لړو وهلو ټکولو اومخ توررولو او جلوس ایستلو سزا منتخبه کړه اواوس داپه ټولوکی رواج سوه .

لنډتفسیر: ای رسول ﷺ کوم خلګ چی (په خبرو) دکفرکی په ځغاسته سره لویږی (یعنی ښه په آزادی اوپه مینه سره دغه خبری کوی) تا ﷺ دی دغه غجمن نه کړی (یعنی ته ددوی په دغه کفریاتو غم اوافسوس مه کوه) برابره خبره ده که دغه دهغه خلګو ځخه وی چی په خپلو خُلوسره خو (درواغ) وایی چی مونږ ایمان راوړی دی او د دوی زړه یقین (یعنی ایمان) نه راوړی (مراد ورځخه منافقان دی چی په یوه واقعه کی د نبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضرسوی وه) اوکه دغه دهغو خلګو ځخه وی کوم چی یهودیان دی (لکه په بله واقعه کی چی داخلګ حاضرسوی وه) دا (دواړه قسمه) خلګ (دمځکی ځخه ددین په باره کی دخپلو تحریف کوونکو عالمانو ځخه) دغلطو خبرو اوریدولو عادی دی (او دډغو غلطو خبرو دتاییدپه لټولوکی دلته راغلل) ستاخبری دبل قوم دپاره غوږ اږدی اوری، دکم قوم چی داحالت دی چی (یوځو) دغه ستاخواته (دډیر تکبر اودښمنی ځخه په خپله) نه راځی (بلکه نوریی راولیږل اودغه نوریی هم دحق دطلب کولو دپاره نه دی رالیږلی بلکه شایدچی دخپلو تحریف کړو حکمونو موافق کومه خبره ورته پیداسی ځکه چی دمځکی ځخه) کلام (دخدای) وروسته تر هغه چی دغه (کلام) په ځای (صحیح) ځای

Maktaba Tul Ishaat.com

باندی (قائم) وی (لفظاً یامعنًی یادواړه قسمه) بدلوی یی (لکه چی ددی عادت موافق یی دوینی قیمت او
درجم حکم یی هم دخپل جوړ سوی رواج په شان سره بدل کی ، بیاپه دی احتمال سره چی شاید په شریعت
محمدی کی هم دی رواج ته یوځای پیداسی دلته یی خپل جاسوسان راولیږل ، دریمه یوازی دا نه ده چی
دخپل تحریف سوی رواج موافق دخبری ترپلټنی پوری وی بلکه ددی ښخه ماسوا داده چی دغه تلونکو
ته) وایی چی که تاسی ته (هلته پرتلو) داحکم (تحریف سوی) پیدا سونو دغه قبلوی (یعنی ددی موافق
عمل کوی اواقرار وکی) اوکه تاسی ته داحکم (تحریف سوی) ونه رسیږی نو (دقبلولو ښخه یی) احتیاط
کوئ (نوددی لیږونکی قوم دکوم چی داجاسوسان راغلی دی ، څو خرابی سوی ، اول تکبّر اوعدوات چی
ددی په سبب په خپله حاضرنه سوه ، دوهم دحق نه طلب کول بلکه حق بدلوی اودتائید فکر یی کوی ،
دریم نور خلګ هم دحق دقبولو ښخه منع کول ، تردی ځایه پوری دراتلونکو اوراليږونکو جلاجلا
بدوالی بیان سو مخ ته ددی ټولو بدوالی دی) او (اصلی خبره داده چی) دچاچی خراب (اوګمراه) کیدل
خدای ته منظور وی (که څه هم چی دا پیداینبتی منظوری ددی ګمراه دګمراهی ترقصد کولو وروسته
وی) نو دده دپاره دالله ﷻ سره (ای عام مخاطبه) ستاهیڅ زورنه سی چلیدای (چی داګمراهی دپیدا کیدلو
ښخه منع کړل سی داخوعامه قاعده سوه اوس په دی پوه سئ چی) داخلګ داسی دی چی خدای ﷻ ته د
دوی دزړونو (دکفریاتو ښخه) پاکول مقبول نه سول (ځکه چی دوی یی قصد نه کوی په دی وجه الله ﷻ
پیداینبتی پاکوالی نه پیداکوی بلکه ددوی دګمراهی دقصدپه وجه سره پیداینبتی ددوی خرابیدل
مقبول دی نوذکر سوی قاعدی مطابق څوك ده ته هدایت نه سی کولی مطلب دا دی چی کله دی په خپله
دخرابیدو قصد لری اوترقصد وروسته دهغه کارپیدا کول دالله ﷻ عادت دی اودالله ﷻ پیداکول دیوه
شی څوك نه سی منع کولی ، نو د دوی ښخه به دښه کیدو څه اُمید وسی ؟ په دی سره نبی کریم ﷺ ته
زیاته تسلّی کیدی سی، چی ددی ښخه کلام شروع سوی هم وو نوشروع او آخر دکلام دتسلی مضمون
سو ، مخ ته ددوی دعملونو فائده فرمایی چی) دی (ټولو) خلګوته په دنیاکی رسوایی ده اوپه آخرت کی
دی (ټولو) لره لویه سزاده (یعنی دوږخ، نو دمنافقانو دارسوایی سوه چی مسلمانانوته ددوئ نفاق معلوم
سو اوټولو ورته په ذلّت سره کتل، اودیهودو قتل اوقید اودجلا وطنی ذکرپه روایتونوکی مشهوردی،
اودآخرت عذاب خو ښکاره دی) داخلګ (ددین په باره کی) دغلطو خبرو داوریدو عادیان دی (لکه چی
مخکی راغله) دلوی حرام (مال) خوړونکی دی (دی دوی په حکمونوکی غلطو بیانو ته دکومو په وجه چی
دوی ته شُکرانی اونور ورکول کیږی، عادیان کړی دی، کله چی ددی خلګو داحالت دی) نوکه داخلګ
(خپله کومه دعوه) تاته (دفیصلی دپاره راوړی) راسی نو (ستا اختیاردی) برابره خبره ده که ته (په معامله
د) دوی کی فیصله کوی اوکه یی وروسته کوی اوکه ته (دارایه مقرره کړی چی) ته دوی وروسته کړی نو
(دابیره مه کوه چی شاید خفه به سی دښمنی به ښکاره کړی ځکه چی) ددوی طاقت نسته چی تاته یوه ذره
هم ضرر ورسوی (ځکه چی الله ﷻ ستاساتونکی دی) اوکه (پرفیصله کولو باندی ستا رایه مقرره سی او)
ته فیصله کوی نوپه دوی کی دعدل (یعنی داسلامی قانون) موافقه فیصله کوه، بیشکه الله ﷻ دعدل

Maktaba Tul Ishaat.com

کوونکوسره محبّت کوی (اواوس دغه عدل په اسلامی قانون کی دی نو هغه خلگ به یی خوښ وی چی ددی قانون موافقه فیصله کوی) او (دتعجب خبره ده چی) دوی به (په دینی معامله کی) په تاځنګه فیصله وکړی حال دا دی چی ددوی سره تورات (موجود) دی چی په هغه کی دالله ﷻ حکم (لیکلی) دی (چی دهغه دمنلو دوی دعوه کوی اول خوداخبره ډیره لیری ده) بیا (داتعجب په دی سره نورپوخ سوچی) ددی (فیصلی راوړلو) څخه وروسته (کله چی ستافیصله اوری نوددی فیصلی څخه هم) وروسته کیږی (یعنی اول خوپه دی حالت کی دفیصلی راوړلو څخه تعجب کیږی، لیکن په دی احتمال سره رفع کیدی چی شاید ستاسی پرحق باَندی کیدل دوی ته ښکاره سوی وی په دی وجه راغلی وی، لیکن چی دغه فیصله یی ونه منله نو دغه تعجب (حیرانی) بیاتازه سوچی اوس دغه احتمال هم پاته نه سو، بیابه کمه خبره وی چی دهغه په وجه یی دافیصله راوړی وی) او (په دی سره به هرعاقل پوه سوی وی چی) داخلګ هیڅکله عقیدی والانه دی (دلته په اعتقادسره نه دی راغلی دخپل مطلب دپاره راغلی وه اوکله چی نه منل دنه عقیدی درلودلو دلیل دی نوددی څخه داهم معلومه سوه چی لکه څنګه چی پرمحمدﷺ باندی ددوی اعتقاد نسته دغه ډول پرخپل کتاب هم ددوی پوره اعتقاد نسته که نه وی نوهغه یی ولی پرېښوری اوولی به راتلل، مقصد داچی په دواړه طرفه سره ولاړه چی دچا څخه یی انکاردی دهغه سره یی هم عقیده نسته او دچاسره چی یی دعقیدی دعوه ده دهغه سره یی هم نسته.

معلومات اومسئلي: دا دری آیتونه او تردی وروسته آیتونه دکومو واقعاتو اواسبابو لاندی چی نازل سوی دی، دهغه تفصیلی بیان مخکی راغلی دی چی دهغه خلاصه دا ده چی دیهودیانو دا پخوانی خوی وو، چی کله دقریبانو دپر وربنت په وجه اوکله دمرتبی اومال په حرص کی دخلګو دخواهش مطابق فتواوی جوړولی او ورکولی، خاصکر دسزاګانو په معامله کی داعام رواج جوړ سوی ووچی کله به دیوه لوی سړی څخه جُرم وسونو دتورات سخته سزابه یی په کوچنی سزابدلوله، ددوی داحال په ذکر سوی آیت کی په دی الفاظو سره بیان سوی دی، يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ مِنْ بَعْدِ مَوَاضِعِهِ کله چی نبی کریم ﷺ مدینی منوری ته تشریف یووړی اواسلامی شریعت عجیبه اونا اشنا نظام ددوی مخ ته راغی چی ډیری آسانی اوسهولتونه پکښی هم وه او دجرمونو دبندولو دپاره پکښی دسزاګانو یومعقول انتظام هم وو، دغه وخت هغوخلګوته کوموچی دتورات سختی سزاګانی بدلولی اوآسانه کولی، دوی ته داموقع هم په لاس ورغله چی په داسی معاملوکی نبی کریم ﷺ حَکَم جوړکړی چی ددوی دشریعت دنرمو اوآسانو احکامو څخه هم فائده واخلی اوپه تورات کی دادل بدل کولو مجرمان هم جوړ نه سي، مګر په دی کی به یی هم دا شرارت کوی چی دباقاعده حَکَم جوړولو څخه مخکی به یی په کمه بله ذریعه سره دخپلی معاملی حکم په ډول دفتوا معلوم کی، بیابه یی که ده دا حکم دخپلو خواهشاتو موافق ولیدی نوحَکَم بی جوړوی اوفیصله ورباندی کوی اوکه داسی نه وی نوپرېږدی یی، ددی سلسلی کم واقعات چی ذکرسوی دی په دی کی چی کله نبی کریم ﷺ ته آزار رسیدلی وو، په دی وجه دآیت په شروع کی یی نبی کریم ﷺ ته تسلي ورکړه چې

ورکی چی داخلک په اخلاص سره تاسی حَکَم نه جوړوی بلکه ددوی په نیتونوکی فساددی، بیایی په وروستی آیت کی ده ته اختیار ورکی چی که ته غواړی نو ددوی دمعاملی فیصله کوه اوکه نه وی نوواپس کوه یی ستا اختیار دی اودایی هم اطلاع ورکړیده چی که ته یی واپس کول غواړی نو دوی تاسی ته هیڅ نقصان نه سی رسولی دآیت ، فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ اَوْ اَعْرِضْ عَنْهُمْ الآية دا مضمون دی او تردی وروسته په وروستی آیت کی ارشاد دی چی که تاسی فیصله کول خوښوئ نوپه دی کی تاسی ته داهدایت درکړل سوی دی چی فیصله دعدل اوانصاف په بنیاد کول په کار دی چی مطلب یی دا دی چی فیصله دخپل شریعت مطابق کوه ځکه چی دنبی کریم ﷺ تر راتلو وروسته ټول مخکنی شریعتونه او د دوی قانونونه منسوخ سوی دی ، بغیر دهغو څخه کوم چی قرآن کریم او شریعتِ مصطفوی باقی پریښی دی په دی وجه په وروستی آیت کی یی دالله ﷻ دقانون خلاف په بل قانون یارسم او رواج باندی فیصله کولو ته ظلم اوفسق اوکفر ویلی دی .

(په اسلامي حکومت کي دغير مسلمانانو ددعوو قاعدي)

دلته داخبره دیادولو قابله ده چی دا یهودیان کوموچی خپلی دعوی دنبی کریم ﷺ عدالت ته ولیږلی ددوی نه پر نبی کریم ﷺ اونه دده پرشریعت ایمان وو اونه داچی دوی دمسلمانانو ترحکومت لاندی ذمیان وه البته دنبی کریم ﷺ سره ددوی دجنګ نه کولو فیصله سوی وه، دغه وجه ده چی نبی کریم ﷺ ته اختیار ورکړل سوچی که غواړی نو واپس یی کړه اوکه غواړی نوفیصله یی دخپل شریعت مطابق وروکړه، ځکه چی ددی خلګو کومه ذمه واری په اسلامی حکومت باندی نسته اوکه دوی ذمیان وای او داسلامی حکومت طرف ته یی رجوع کړی وای نوپر مسلمان حاکم به ددوی فیصله کول فرض وای پسی اخیستل یی جائز نه وو، ځکه چی ددوی دحقونو حفاظت کول اودوی دظلم څخه خلاصول داسلامی حکومت ذمه داری ده ، لکه دمسلمانانو دحقونواوددوی څخه دظلم لیری کول داسلامی حکومت فرض دی، په دی وجه په راتلونکی یوه آیت کی داهم ارشاد دی ، وَاَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ یعنی که دا خلګ خپله معامله تاته راوړی نو ته د دوی فیصله دخپل شریعت مطابق کوه .

په دی آیت کی داختیار ورکولو په ځای دیوی متعینی فیصلی دحکم کولوارشاد دی ، امام ابوبکر جصّاص په احکام القرآن کی ددی دواړومطابقت داسی کړی دی چی اولنی آیت کوم چی اختیار ورکړل سوی دی دهغوغیرمسلموپه اړونددی چی زمونږدحکومت اوسیدونکی یاذمیان نه دی بلکه په خپل ځای کی اوسی ددوی سره یوفیصله سوی وی لکه بنوقریظه اوبنونضیرچی وه چی داسلامی حکومت ددی څخه ماسوا د دوی سره نور کوم تعلق نه وو چی دیوی فیصلی په ذریعه دوی دجنګ نه کولو پابند سوی وه .

او دوهم آیت دهغو غیر مسلمو په اړوند دی چی دمسلمانانو ذمیان داسلامی حکومت اوسیدونکی ښکاری اوترحکومت لاندی وی .

اوس دلته دا یوه خبره دفکر کولو قابله ده چی په اولنی آیت داختیار او په دوهم آیت دواړو کی نبی کریم ﷺ ته دا هدایت دی چی کله ددی غیر مسلمو په معامله کی فیصله کوی نو دالله ﷻ دنازل کړی حکم یعنی دخپل شریعت مطابق یی کوه، ددی غیر مسلمو دخواهشونو یاددوی دمذهب مطابق یی مه کوه، ددی

Maktaba Tul Ishaat.com

وضاحت دادی چی داحکم دهغو معاملو په اړونددی دکومو ذکرچی ددی آیتونوپه شان نزول کی تاسی اوریدلی دی، چی یوه معامله دقتل دسزا اودوینی دقیمت وه اودوهمه دزنا اوددی دسزاوه. په داسی معاملو یعنی دجرمونوپه سزاګانو کی دټولی دنیا داقانون دی چی دټول ملك قانون یو وی. چی جنرل (عمومی) قانون ورته وایی، په دی جنرل قانون کی دطبقو یامذهبونو په وجه سره کم فرق نه کول کیږی. مثلاً دغله سزا لاس پریکول دی نودا یوازی دمسلمانانو دپاره خاص نه ده. بلکه دملك دهریوه اوسیدونکی دپاره به داسزاوی، دغه ډول دقتل او زنا سزاګانی هم دټولو دپاره عامی وی لیکن ددی څخه دانه لازمیږی چی دغیر مسلمانانو دشخصی اوخالصو مذهبی معاملو فیصله به هم داسلامی شریعت مطابق کول ضروری وی.

په خپله نبی کریم ﷺ شراب او خنزیر دمسلمانانو دپاره خوحرام کړل اوسزا یی وربانددی مقرره کړل. لیکن غیر مسلمانان یی ددی څخه آزاد وساتل، دغیر مسلمانانو په نکاح، واده اونورو شخصی معاملوکی یی هیڅکله هم دخل نه دی کړی، ددوی دمذهب مطابق چی څنګه نکاح صحیحه ده هم هغه یی دوی لره قائمه پریښی ده.

دهجر مقام مجوسیان، اودنجران اودقرای وادی یهودیان اونصارا داسلامی حکومت ذمیان جوړسول اونبی کریم ﷺ ته دا معلومه وه چی دمجوسیانوپه نزد دخپلی مور او خور سره هم نکاح حلاله ده، دغه ډول په یهودو اونصاراوکی بغیر دعدی تیریدو څخه یابغیر دشاهدانو څخه نکاح معتبره ده، مګر ده ﷺ په دی شخصی معاملوکی هیڅ مداخلت ونه فرمایی اوددوی نکاحی یی برقراری ومنلی.

لنډه داچی غیر مسلمانان کم چی داسلامی حکومت اوسیدونکی وی ددوی دشخصی او ذاتی اومذهبی معاملوفیصله ددوی پرمذهب اوخیال باندی پریښوول کیږی اوکه ددعوو دفیصله کولو ضرورت پیښ سی نوددوی دمذهب حاکم به مقررول کیږی اوفیصله به کول کیږی، البته که دوی مسلمان حاکم ته رجوع کوی اودده په فیصله دواړی فریقی رضامند وی نوبیابه اسلامی حاکم فیصله دخپل شریعت مطابق کوی، ځکه چی اوس دی دفریقینو دطرف څخه دثالث حکم لری، آیت کریمه: اَنِ احۡکُمۡ بَیۡنَهُمۡ بِمَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ کم چی مخ ته راځی په دی کی داسلامی شریعت مطابق دفیصلی کولو حکم کم چی نبی کریم ﷺ ته ورکړل سوی دی یاخوپردی بناء باندی چی معامله دعام قانون یعنی جنرل قانون وی چی په دی کی یوه فرقه نه سی مستثنی کیدی اویاپردی بناء چی دی خلګوپه خپله نبی کریم ﷺ حَکَم منلی دی اوپه ده ﷺ باندی فیصلی کولوته راغلی دی، نوښکاره خبره ده چی دده ﷺ فیصله هغه په کار ده په کومه چی دده ﷺ ایمان دی او دده ﷺ دشریعت حکم دی.

په هرحال په ذکر سوو آیتونوکی په اول آیت کی مخکی نبی کریم ﷺ ته تسلی ورکړل سوی ده تردی وروسته دیهودیانو دسازش اوچم څخه خبر کړل سو، یَاۤ اَیُّهَا الرَّسُوۡلُ لَا یَحۡزُنۡكَ الَّذِیۡنَ څخه ترآخره پوری ددی بیان دی، په دی سره یی دابښکاره کړه چی ستا په خدمت کی راتلونکی وفد دمنافقانو دی چی پټ سازبازیی دیهودیانو سره دی اودهغوی دطرفه راځی، تردی وروسته دراتلونکی وفد څه نابښکاره خوبونه

Maktaba Tul Ishaat.com

بیانوی چی مسلمانان ددوی په ناکاره والی باندی خبردارسی اوپه ضمنی ډول یی دوی ته داهدایت وفرمایی چی داخویونه دکافرانودی ددوی څخه دځان ساتلو اولیری اوسیدلو فکر کوی.

دیهودیانو یو بیکاره خوی: اولنی خوی یی دا دی، سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ یعنی داخلک ددرواغو او غلطو خبرو په او ریدو سره عادت دی خپل ځان ته دعالمانو ویونکو غدارو یهودیانو داسی تابعداردی، چی دتورات داحکامو دښکاره مخالفت کولو لیدلو سره سره بیاهم د دوی تابعداری کوی او د دوی غلطی بیان سوی قصی اوری.

(دعوامو دپاره دعلماؤ دتابعداری ضابطه)

په دی کی لکه څنګه چی دتحریف کوونکو او دخدای ﷻ او درسول ﷺ په احکاموکی دغلطو شیانو شاملوونکو دپاره دسزا زوروني دی، دغه ډول هغه خلک یی هم مجرمان مقررکړی دی چی داسی خلک امامان جوړوی، دځانه څخه دجوړسوو اوغلطو روایتونو داوریدوعادت سوی دی په دی کی دمسلمانانو دپاره یو مهم هدایت دادی چی که څه هم چی دجاهلو عوامو دپاره په دین دعمل کولو لار یوازی دغه ده چی دعلماوو په فتواوو اوتعلیم عمل وکړی، لیکن ددی ذمه واری څخه عوام هم آزادنه دی، چی دفتویٰ اخیستلوڅخه اوپه دی دعمل کولو څخه مخکی دخپلو پیشوایانوپه اړوند دومره تحقیق خووکړی څومره چی یی مریض یوډاکتر یاطبیب ته دورتلو څخه مخکی کوی چی دپوه خلګو څخه تحقیق کوی چی ددی مرض دپاره کوم ډاکتر پوه دی اوکم طبیب ښه دی، دده کومی کومی درجی دی په ده باندی دعلاج کوونکو څه حال دی؟ دخپل ممکن تحقیق څخه وروسته هم که دی دکوم غلط ډاکتر یا حکیم په دام کی ونښلی یادی کمه غلطی وکړی نودهوښیارانو په نزددی نه ملامتول کیږی، لیکن کوم سړی چی بی تحقیقه دیوچاپه دام کی ونښلی اوبیاپه کوم مصیبت کی اخته سی نو دهوښیارانو په نزد دی په خپله دخپلی ځان وژنی ذمه واره دی، هم داحال دعوامو دپاره ددینی کارونوپه باره کی دی، چی که دوی دخپل کلی دعالمانو اوتجربه کارو خلګو څخه دحالاتو دتحقیق کولو څخه وروسته یوعالم خپل پیشوا جوړولای او دده په فتویٰ یی عمل کولی نودخلګوپه نزدبه معذوره ګڼل کیدی اودالله ﷻ په نزدهم، دداسی معاملی په اړوندپه حدیث شریف کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی، فَاِنَّ اِثْمَهٗ عَلٰی مَنْ اَفْتٰی یعنی په داسی صورت کی که عالم اومفتی غلطی وکړی اوبیو مسلمان دده په غلطه فتویٰ عمل وکړی نوګناه یی پرده نسته بلکه پردغه عالم اومفتی باندی ده اوداهم هغه وخت کله چی دی عالم قصداً داغلطی کړی وی یاپه ممکنه غور اوفکر کی یی کمی کړی وی یاداچی دی عالم نه وی اوخلګوته یی دوکه ورکړی وی اوپردی منصب مسلّط سوی وی، لیکن که یو سړی بی تحقیقه محضی په خپل خیال سره څوك عالم اوپیشوا مقرر کړی، دده په قول باندی عمل کوی اودی په حقیقت کی ددی اهل نه وی، نوددی ګناه یوازی پردغه مفتی اوعالم باندی نه ده بلکه دا سړی هم برابر ورسره شریك دی په کښی چی ده بی تحقیقه دخپل ایمان واګی یوداسی سړی ته حواله کړی، دداسی خلګوپه باره کی دقرآن ارشاد دی، سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ یعنی داخلک ددرواغو اوریدلو عادت سوی دی، دخپلو پیشوایانو دعلم اوعمل

Maktaba Tul Ishaat.com

امانت او دیانت د تحقیق کولو څخه پرته په دوی پسی سوی دی او د دوی د خان څخه د جوړو سوو او غلطو روایتونو داوریدلو او منلو عادت سوی دی.

قرآن کریم داحال دیهودیانو بیان کړی دی او مسلمانانو ته یی اوروولی دی چی دوی ددی څخه ځان وساتی، لیکن دنن دنیا په مسلمانانو کی دډیری لویی بربادی یوسبب داهم دی چی دوی ددنیا په معاملو کی خو ډیر هوښیاران، بیداره او چالاکه دی، چی ناجوړه سی نو ترښه لادښه ډاکټر او حکیم په تلاش کی وی چی کمه دعوه ورپیښه سی نو دښه لاترښه وکیل، او بیرسټر لټوی که کوم ځای جوړوی نوتر اعلی لا اعلی کاریگر او انجنیئر لټوی، لیکن ددین په معامله کی داسی سخیان دی چی دیوچا ډیره اوچته وینی او کوم الفاظ ورڅخه واوری بس دغه خپل پیشوا، عالم، مفتی او رهبر جوړوی، بغیر ددی تحقیق څخه چی آیاده یو ځای په یوه مدرسه کی باقاعده زده کړه کړی ده که یا؟ دماهرو عالمانو په خدمت کی یی ددین کم خوند پیدا کړی دی که یا؟ دعلم څه خدمتونه یی کړی دی او که نه؟ دربښتینو بزرگانو او خدایی خلگو په خدمت کی پاته سوی دی کمه تقوٰی او پاکی یی حاصله کړی ده او که یا؟

ددی دانتیجه ده چی په مسلمانانو کی کم خلگ که ددین طرف ته متوجه هم سی، نو ددوی زیاته حصه دجاهلو واعظانو او دکانداړانو پیرانو په دام کی ولویږی او ددین دصحیح لاری څخه ډیر لیری ولاړ سی، دده علم دین یوازی هغه قصی جوړی سی په کوموکی چی دنفس پرخواهشاتو کوم ضدنه راځی (یعنی دنفس خواهشات یی وربانددی نه کمیږی) دوی خوشحاله وی چی مونږ پر دین روان یو او ډیر عبادت کوو، لیکن په حقیقت کی هغه څه کیږی کوم چی قرآن کریم په دی الفاظوکی بیان کړی دی، اَلَّذِیْنَ ضَلَّ سَعْیُهُمْ فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا وَهُمْ یَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ یُحْسِنُوْنَ صُنْعًا: یعنی هغه خلگ دی چی ددوی کوشش او عمل په دنیاکی برباد سوی دی او دوی په خپل خیال کی داسی گڼی چی مونږ ډیر غوره عمل کړی دی.

لنډه دا ده چی قرآن کریم ددی منافقانو یهودیانو حال د سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ په الفاظوکی بیان کړی دی یومهم او ډیر لوی أصول یی ښوولی دی، چی دجاهلو عوامو خو دعالمانو پیروی کول دناچاری څخه دی، لیکن پردوی لازمه ده چی بی تحقیقه کوم عالم پیشوانه جوړوی او دناپوهو خلگو څخه دغلطو ملطو خبرو داوریدو نه عادیان کیږی.

دیهودو یو بل بد خوی: ددی منافقانویی دوهم بیکاره خوی دا وښووی چی، سَمّٰعُوْنَ لِقَوْمٍ اٰخَرِیْنَ لَمْ یَاْتُوْكَ یعنی دا خلگ په ښکاره خو تاته ډیوی دینی مسئلی دحکم دپوښتنی دپاره راغلی دی لیکن په حقیقت کی ددوی مقصدنه دین دی نه ددینی معاملی حکم معلومول دی، بلکه دا دیوداسی یهودی قوم جاسوسان دی چی دخپل تکبّر په وجه تاته په خپله نه دی راغلی دهغوی دخواهش مطابق یوازی داغواړی چی دزنا دسزاپه باره کی ستا نظریه معلومه کړی او هغوی ته یی وښیی، بیا دمنلو اونه منلو فیصله به په خپله کوی، په دی کی مسلمانانوته داخبرداری دی چی دیوه عالم دین څخه دفتوا دمعلومولو دپاره ضروری ده چی دپوښتنی کوونکی نیت دالله ﷻ او درسول ﷺ حکم معلومول او دهغه تابعداری کول وی محض دمفتیانو رایی معلومول دخپل خواهش مطابق حکم لټول ښکاره دنفس او شیطان تابعداری ده، ددی

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه ځان ساتل په کار دي.

(دريم بيکاره خوي دکتاب الله تحريف)

دريم بيکاره خوي يې ددې خلګودا بيان کې چې داخلګ دالله ﷻ کلام دهغه دځاي څخه ليرې کوي غلطه معنی وراغوندي او دالله ﷻ په حکمونو کې تحريف (بدلون) کوي، په دې کې داصورت هم داخل دی چې دتورات په الفاظو کې کوم رد اوبدل وکړي او دا هم چې الفاظ هم دغه پريږدي اوپه معنی کې يې عبث غوندي تاويل او تحريف وکړي، يهوديان ددې دواړو قسمونو تحريف عاديان دي.

دمسلمانانو دپاره په دې کې داخبرداري دی چې دقرآن کريم حفاظت الله ﷻ په خپله ذمه اخيستی دی، په دې کې دلفظي تحريف خوهيڅوك زړه ورتيا نه سي کولی، ځکه چې په ليکل سوو پانو سربيره دلکونو (بلکه دميليونو) انسانانو په سينو کې په محفوظ کلام کې چې څوك ديوه زور، زير اوپيښ غلطي کوي نوپدستي نيول کيږي دمعنی تحريف په بيکاره سره کيدی سي اوکوونکو کړي هم دي، مګر ددې دحفاظت دپاره الله ﷻ دا انتظام فرمايلی دی چې په دې اُمّت کې به ترقيامته پوري يوه داسې ډله وي چې دقرآن کريم دصحيح مفهوم اومعنی حاملان (درلودونکي) وي اودتحريف کوونکو پرده څيروي.

(څلورم بيکاره خوي رشوت خوري)

په دوهم آيت کې يې ددوي دابيکاره خوي فرمايلی دی: اَكّٰلُوْنَ لِلسُّحْتِ يعني داخلګ دسُحت خوړلو عاديان دي، دسُحت لفظي معنی يوشي دبيخ څخه ايستل اوبربادول دي، په دې معنی کې قرآن کريم فرمايي و فَيُسْحِتَكُمْ بِعَذَابٍ يعني که تاسي دخپلو حرکتونو څخه واپس نه سواست نوالله ﷻ به په خپل عذاب سره ستاسي بيخ وباسي، په قرآن شريف کې دلته دسُحت دلفظ څخه مراد رشوت دی، حضرت علي ؓ ابراهيم نخعي ؒ مجاهد ؒ، حسن بصري ؒ قتادة ؒ اوضحاك ؒ اونورو دتفسير امامانو ددې تفسير په رشوت سره کړی دی.

رشوت ته دسُحت ويلو وجه دا ده چې دا يوازې اخيستونکي اوورکوونکي نه بربادوي بلکه دپوره ملك اوملّت بيخ اوبنياد اوعام امن تباه کوونکی دی، په ملك يامحکمه کې چې رشوت وچليږي هلته قانون معطل سي اوقانون دملك هغه شی دی په کوم سره چې دملك، ملّت اوامن برقراره ساتل کيږي اوچې دامعطل سي نونه دچاځان محفوظه پاته کيدی سي نه عزت اونه مال، په دې وجه په اسلامي شريعت کې يې دې ته سحت وويل، سخت حرام يې مقرر کې اوددې ددروازې بندولودپاره يې داميرانو اوحاکمانو هغه هديې اوتحفې چې دوی ته ورکول کيږي په صحيح حديث کې رشوت مقرر کړي اوحرامې کړي دي، (جصاص) اوپه يوه حديث کې نبي کريم ﷺ ارشادفرمايي چې الله ﷻ په رشوت اخيستونکي او ورکوونکي باندې لعنت کوي اوپه هغه سړي هم چې ددې دواړوپه مينځ کې دلال او واسطه جوړسي، (جصاص)

درشوت شرعي تعريف دادی چې دکم شي معاوضه اخيستل شرعًا جائزنه وي، دهغه معاوضه واخيستل سي، مثلاً کوم کار چې ديوه سړي په فرآئضو کې داخل وي اودهغه پوره کول دده پرذمه لازم وي، پردې ديوې فريقې څخه معاوضه اخيستل، لکه دحکومت افسر اوميرزا دسرکاري منصب په وجه دخپلو

Maktaba Tul Ishaat.com

فرضونو دادا کولو ذمه واردی، دوی چی دمعاملی دخاوند څخه څه واخلی نو دارشوت دی یادانجلی مور اوپلار ددی پرواده کولو ذمه واردی، دچاڅخه ددی معاوضه نسی اخیستلای، دوی چی یوچاته قرابت ورکړی او یوڅه ورڅخه واخلی دارشوت دی، یاروژه اولمونځ اوحج اودقرآن تلاوت عبادتونه دی چی دمسلمان پرذمه دی، پردی چی دچا څخه معاوضه واخلی نودارشوت دی، دقرآن تعلیم اوامامت ددی څخه مستثنٰی دی، (دمتاخرینو په فتوٰی سره)

بیاچی کوم سړی رشوت واخلی او دچاکار دحق په مطابق کوی نو دی درشوت اخیستو گناهگاردی او دا مال دده دپاره سُحت اوحرام دی اوکه درشوت په وجه دحق څخه خلاف کار یی وکی ، نو دا دوهم سخت جُرم ، حق وهل اودخدای ﷻ حکم بدلول ، ددی څخه علاوه سوه ، الله ﷻ دی مونږ ورڅخه وساتی .

إِنَّا أَنزَلْنَا التَّوْرَاةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ ۚ يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّونَ الَّذِينَ أَسْلَمُوا لِلَّذِينَ هَادُوا وَالرَّبَّانِيُّونَ

مونږ نازل کړی دی تورات چی په دی کی هدایت اورڼا ده حکم کوی په دی سره پیغمبرانو کوم چی حکم منونکی وو دالله یهودوته او حکم کوی خدای خلقو ،

وَالْأَحْبَارُ بِمَا اسْتُحْفِظُوا مِن كِتَابِ اللَّهِ وَكَانُوا عَلَيْهِ شُهَدَاءَ ۚ

او عالمانو په دی وجه چی دوی حفاظت کونکی مقرر سوی وو ، دالله دکتاب اودده په خبر اخستو مقرر وو

فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ وَاخْشَوْنِ وَلَا تَشْتَرُوا بِآيَاتِي ثَمَنًا

نوی تاسی بیره مه کوی دخلقو څخه او زما څخه بیره کوی او مه اخلی زما په آیتونو قیمت

قَلِيلًا ۚ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ

لږ اوخوک چی حکم نه کوی ددي موافق کوم چی الله نازل کړی دی ، نو دغه خلق

الْكَافِرُونَ ﴿٤٤﴾ وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَا أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ

کافران دی ، او ولیکل مونږ په دوی باندی په دغه کتاب کی چی دنفس په بدله کی نفس دی ،

وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ وَالْأَنفَ بِالْأَنفِ وَالْأُذُنَ بِالْأُذُنِ

او دسترگی په بدله کی سترگه ، او دپزی په بدله کی پزه ، اود غوږ په بدله کی غوږ

وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ وَالْجُرُوحَ قِصَاصٌ ۚ فَمَن تَصَدَّقَ بِهِ فَهُوَ

اود غاښ په بدله کی غاښ او دزخمونو بدله دهغه په برابر ده ، بیا چاچی معافی وکړه نو هغه دگناه

كَفَّارَةٌ لَّهٗ ؕ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ

خخه پاك سو ، او څوك چې حكم نه كوي دهغه موافق كوم چې الله نازل كړې دي ، نودغه ،

الظّٰلِمُوْنَ ﴿٤٥﴾ وَقَفَّيْنَا عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ بِعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ

ظالمان دي ، او وروسته ولېږل مونږ د دوی په قدمونو عیسیٰ دمریمې زوی

مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ ۪ وَاٰتَيْنٰهُ الْاِنْجِيْلَ

تصديق كوونكی دتورات چې دمخكې څخه وو ، او وركې مونږ ده ته انجيل

فِيْهِ هُدًى وَّنُوْرٌ ۙ وَّمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ

چې په دې كې هدايت او رڼا وه او تصديق كوونكی وو دهغه كتاب تورات چې دده څخه مخكې وو

وَهُدًى وَّمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٦﴾ وَلْيَحْكُمْ اَهْلُ الْاِنْجِيْلِ

او لارښوونكی او نصيحت وو بېرېدونكو ته ، او په كار دي چې حكم كوي انجيل والا

بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فِيْهِ ؕ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ

موافق دهغه چې نازل كې الله په هغه كې ، او څوك چې حكم نه كوي موافق دهغه چې الله نازل كې نو دغه

هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَاَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا

خلق دي نافرمانه ، او په تا نازل كې مونږ كتاب رښتينې تصديق كوونكی

لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتٰبِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ

دمخكې كتابونو او د دوی دمضمونونو نګهبان نو ته حكم كوه په دوی كې

بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ الْحَقِّ

موافق دهغه چې نازل كړې دي الله د دوی په خواهش باندې مه ځه ، چې كومه سيده لار تاته راغلې ده هغه

لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَّمِنْهَاجًا ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَكُمْ

پرېږدې هر يوه لره په تاسې كې وركړې دي مونږ يو دستور او لار او كه الله غوښتې نو تاسې به يې

Maktaba Tul Ishaat.com

أُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ لِّيَبْلُوَكُمْ فِيْ مَآ اٰتٰكُمْ فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ

په یو دین کړی واست ، لیکن ستاسی ازمائیل غواړی په خپلو درکړل سوو حکمونو کی ، نو تاسی مخکي

إِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿٤٨﴾

کیږي نیکیوته ، الله ته ستاسی دټولو رسیدل دی بیا به خبر کړی تاسی په هغه چی ستاسی په کی اختلاف وو

وَأَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَآ أَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ

اودایی فرمایلی دی چی حکم کوه په دوی کی موافق دهغه چی نازل کړی دی اومه خه د دوی په خواهش باندی

أَنْ يَّفْتِنُوْكَ عَنْۢ بَعْضِ مَآ أَنْزَلَ اللّٰهُ إِلَيْكَ فَإِنْ تَوَلَّوْا

اوبچ اوسه د دوی څخه چی تاوانه اړوی دداسی حکم څخه چی الله نازل کړی دی په تا ، بیا که نه منی

فَاعْلَمْ أَنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ أَنْ يُّصِيْبَهُمْ بِبَعْضِ ذُنُوْبِهِمْ وَإِنَّ

نو پوه سه چی الله ﷻ دا غواړی چی ورسوی دوی ته څه سزا د دوی دګناهونو ، او په

كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ لَفٰسِقُوْنَ ﴿٤٩﴾ أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُوْنَ

خلقو کی ډیر نافرمانه دی ، آیا دوی اوس حکم غواړی دکفر دوخت

وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿٥٠﴾ ع

او دالله ﷻ څخه ښه څوك دی حکم کوونکی دیقین کوونکو دپاره

لنډتفسير:::

دآیتونوتړون: دا دسورة مآئدة اوومه رکوع ده په دی کی الله ﷻ یهودو اونصاراؤ او مسلمانانوته پریوه خای باندی پریوه مهم اوخاص شرعی حکم باندی خبرداری فرمایلی دی، چی ذکریی په سورة مآئدة کی په خان خان ته ډول سره دمخکی څخه راروان دی او دغه معامله ده دالله ﷻ سره دسوی عهد څخه دخلاف ورزی کولو اودده په رالیږل سوو حکمونو کی دتغیر، تبدل، تاویل اوتحریف کوم چی دیهودو اونصاراؤ همیشنی خوی او عادت جوړ سوی دی.

په دی رکوع کی الله ﷻ اول تورات والا یهود مخاطب کړل دوی یی د دوی په کړیدو او ددی په بد انجام باندی په اولنیو دوو آیتونو کی خبردار کړل اوددی په ضمن کی یی ورته دقصاص په اړوند ځینی احکام

هم په دې مناسبت سره ذکرکړل، چې په تيرو آيتونو کې کمه واقعه ديهودو دسازش ذکرسوې ده هغه دقصاص په اړوندوه چې بنونضير په ديت او قصاص کې دبرابرۍ قائل نه وه، بلکه بنوقريظه يې ترځان په کم ديت اخيستلو مجبوره کړې وه، په دې دواړو آيتونو کې يې يهودوته دالله ﷻ دنازل کړې قانون په خلاف خپل قانون جاري کولو باندې سخت خبرداري وفرمايي اوداسې کوونکې يې سرکښه اونا فرمانه مقررکړل. تردې وروسته په څلورم، پنځم اوشپږم آيت کې يې نبي کريم ﷺ مخاطب کې، مسلمانانوته يې ددې مضمون په اړوند هدايتونه وکړل، چې دوی کله داهلِ کتابوپه دې ناجوړې کې اخته نه سي چې دمرتبې اومال په حرص کې دالله ﷻ دحکمونو بدلول شروع نه کړي يادالله ﷻ دقانون خلاف کوم قانون دخپل طرف څخه جاري نه کړي.

په دې ضمن کې يې يوه مهمه اصولي مسئله داهم بيان کړه چې که څه هم دعقيدوپه اُصولوکې اودحق جلّ شانه دحکم منلوپه معامله کې ټول پيغمبران علیہم السلام دېوې عقيدې او دېوې طريقې پابند دي، ليکن دحکمت اومصلحت په تقاضا سره هر يوه پيغمبرته دهغه دزمانې په مناسبت سره شريعت ورکړل سوی دی ، چې په هغه کې ډير فروعي اوجزوي احکام مختلف دي اودايي ونبوله چې هريوه پيغمبرته چې کوم شريعت ورکړل سوی ده په زمانه کې هم دغه دحکمت مقتضا اوتابعداري يې واجب ده اوکله چې به دغه منسوخ سوبل شريعت به راوړل سو نودغه وخت به هغه عين حکمت اومصلحت وو اوتابعداري به يې واجب وه، په دې کې يې دشريعتونوپه مختلف کيدو اوبدليدوکې ديوه خاص حکمت وطرف ته اشاره هم وکړه.

مونږ (په موسیٰ علیہ السلام) تورات نازل کړی ووچې په هغه کې (دصحيح عقيدوهم) ښوونه وه او (دعملي حکمونو هم) وضاحت وو انبياوو (علیہم السلام دبني اسرائيلوته) کوم چې (دلکونو خلکو پيشوايان وه او د دوی حکم منل کيدې ددې سره) دالله ﷻ فرمانبرداره وه ، ددې (تورات) موافق به يې يهودوته حکم کوی او (دغه ډول په دوی کې) خدايي خلکو اوعالمانوهم (ددې موافق چې هم دغه په دې وخت کې شريعت وو، حکم کوی) په دې وجه چې دې (خدايي خلکو اوعالمانو) ته ددې کتاب دالله ﷻ (دعمل ورباندې کولو او په نورو يې هم دکولو) دساتنې حکم (دپيغمبرانو علیہم السلام په ذريعه سره) ورکړل سو او د دوی ددې (يعني په خپله دعمل کولو اوپه نورويې دکولو) اقرار وو (يعني کله چې دوی ته ددې حکم سوی وو اودوی داحکم قبول کړې وو په دې وجه هميشه ددې پابند وه) نو (ای ددې زمانې ديهودو مشرانو اوعالمانو! کله چې هميشه ستاسې ټول پيشوايان دتورات منونکې راغلي دي نو) تاسې هم (دمحمّد ﷺ درسالت په باب کې چې حکم يې په تورات کې دی) دخلکو څخه (دا) بيره مه کوی (چې که مونږيې تصديق وکړونو دعامو خلکوپه نظرکې به زمونږپه مرتبه کې فرق راسې) او (يوازې) زما څخه بيره کوی (چې په تصديق نه کولو باندې دسزاګانو) اوزما داحکاموپه بدله کې (ددنيا) لږ سامان (کوم چې دخپلو عوامو څخه تاسې ته رسيږي) مه اخلې (چې دا دمرتبې اومال محبت پرتاسې باعث کيږي اوتاسې دتصديق کولو څخه منع کوی) او(په يادساتې چې) کوم سړی چې دخدای دنازل سوی حکم موافق حکم نه

کوی (بلکه غیر شرعی بل حکم قصداً خلګوته شرعی حکم ښیی دهغه موافق حکم کوی) نوداسی خلګ بالکل کافران دی (لکه څنګه چی یی ای یهودوتاسی کوئ چی په عقیدو کی هم لکه درسالت محمّدی ﷺ عقیده اوپه عملونو کی هم لکه حکم درجم اونور چی خپل دخانه څخه جوړکړی حکمونه دالله ﷻ حکم ښکاره کوی په ګمراهی اوګمراه کولوکی اخته کیږی) اوموږ پردوی (یهودو) باندی په دی (تورات) کی داخبره فرض کړی وه چی (که چا یوځوك په ناحقه قصداً قتل یازخمی کی او دحق خاوند دعوه وکړی نو) دنفس په بدله کی نفس دی اودسترګی په بدله کی سترګه اودپوزی په په بدله کی پزه اودغوږپه بدله کی غوږ اودغاښ په بدله کی غاښ او (دغه ډول دنورو) خاصو زخمونوهم بدله ده، بیاکم سړی چی (ددی قصاص یعنی بدلی اخیستو مستحق سی هم) دا (قصاص) معاف کړی دغه (معاف کول) ددی (معاف کول) ددی (دمعاف کوونکی) دپاره (دده دګناهونو) کفاره (یعنی دګناه لیری کیدوسبب) سی (یعنی معاف کول سبب دثواب دی) او (کله چی یهودو دا احکام پاته کړی وه، په دی وجه ورته پرلپسی عذاب وعدی اوروی چی) کم سړی دخدای ﷻ دنازل سوی موافق حکم نه کوی (چی معنی یی مخکی تیره سوه) نوداسی خلګ بالکل ظالمان دی (یعنی ډیربیکاره کار کوی) اوموږ تردوی (پیغمبرانو) وروسته (چی ذکریی په یَحۡکُمُ بِهَا النَّبِیُّوۡنَ کی راغلی دی) عیسیٰ زوی دمریمی ﷺ په داسی حالت کی (پیغمبر جوړکی) ولیږئ چی دی تر ځان دمخکي کتاب یعنی تورات تصدیق کوی (چی درسالت دلوازماتو څخه داده چی دخدای ﷻ دټولو کتابونو تصدیق وکړی) اوموږده ته انجیل ورکی چی په هغه کی (دتورات په شان دصحیح عقیدوهم) هدایت وو او (دعملی حکمونوهم) وضاحت وو او دغه (انجیل) ترخپل ځان څخه دمخکی کتاب یعنی تورات تصدیق (هم) کوی (چی دا هم دالله ﷻ دکتاب سره لازمه ده) اودغه سراسر هدایت اونصیحت وو دخدای ﷻ څخه دبیریدونکو دپاره او (انجیل مو ورلره ورکی حکم مو ورته کړی ووچی) انجیل والاووته په کار دی چی الله ﷻ په دی کی څه نازل کړی دی ، ددی موافق حکم دی کوی او (ای ددی زمانی نصاراؤ واوری چی) کوم سړی چی دالله ﷻ دنازل سوی موافق حکم نه کوی (او ددی معنی مخکی تیره سویده) نوداسی خلګ بالکل نافرمانی کوونکی دی (اوانجیل دمحمّد ﷺ درسالت خبر ورکوی نوتاسی ددی خلاف ولی چلیږئ) او (ترتورات اوانجیل وروسته) موږ داکتاب (چی نوم یی قرآن دی) تاته درلیږلی چی په خپله هم په صدق (اوریښتیاوو) موصوف دی اوتردی مخکی چی کوم (آسمانی) کتابونه (راغلی) دی (لکه تورات، انجیل، زبور) دهغوی هم تصدیق کوی (چی دغه دالله ﷻ دطرفه نازل سوی دی) او (چی کله دغه کتاب چی نوم یی قرآن دی ترقیامته پوری محفوظ دی اوعمل به وربانذی کول کیږی اوپه دی کی ددغه آسمانی کتابونو تصدیق موجوددی په دی وجه دغه کتاب) ددی کتابونو (دتصدیق مضمون) لره (دهمیشه دپاره) حفاظت کوونکی دی (څکه چی په قرآن شریف کی به همیشه دغه خبره محفوظه وی چی دغه کتابونه دالله ﷻ دطرفه څخه نازل سوی دی، کله چی قرآن کریم داسی کتاب دی) نوددوی (اهلِ کتابو) دخپل مینځ معاملی (کله چی ستاپه مجلس کی پیښی سی) ددی لیږل سوی (کتاب موافقه فیصله کړه او داکوم ریښتینی کتاب چی تاته رسیدلی دی، ددی، څخه) لری کیدل

Maktaba Tul Ishaat.com

اوددوی په (خلاف دشرع) خواهشونو (اوفرمائشونو) باندی (آئنده هم) عمل درآمد کوی (لکه څنګه چی تراوسه پوری سره ددوی ددرخواست اوغوښتنی تا صفا انکار وفرمایی، یعنی ستاسی دارایه ډیره برابره ده، پردی همیشه قائم اوسی، اوای اهلِ کتابوتاسی ددی قرآن دحق ګڼلو اوددی دفیصلی منلو څخه ولی انکار کوئ؟ آیا دنوی دین راتلل کمه تعجب خبره ده؟ آخر) په تاسی کی دهریوه (اُمّت) دپاره (تردی مخکی) مونږ خاص شریعت اوخاصه لاره منتخبه کړی وه (مثلاً دیهودو شریعت اولار تورات وو اودنصاراوو شریعت اولار انجیل وونوکه داُمّت محمّدی ﷺ دپاره شریعت اولار قرآن مقررکړل سو، چی حق والی یی هم په دلائلوسره ثابت دی، نو دانکار وجه څه ده؟) اوکه الله ﷻ ته (دټولو دپاره یوه لاره ساتل) منظوروای نو (په دی هم هغه قادر وو چی) تاسی ټولو (یهودو، نصاراوُ اومسلمانانو) ته (یی یو شریعت ورکړی وای) پریوه اُمّت باندی یی جمع کړی وای (اونوی شریعت به نه وای راغلی چی تاسی ورڅخه نفرت کوی) لیکن (په خپل حکمت سره یی) داسی ونه کړه (بلکه هراُمّت لره یی جلا جلا لار ورکړه) ددی دپاره چی کوم دین تاسی ته (په هره زمانه کی نوی نوی) درکړل سوی دی په دی کی ستاسی دټولو (ستاسی دحکم منلو دښکاره کولو دپاره) امتحان وکړی (څکه چی اکثره طبعی امر دی چی دنوی طریقی دبیری او دمخالفت طرف په حرکت کی راځی، لیکن کوم سړی چی دصحیح عقل اوانصاف څخه کار واخلی هغه ددی حقیقت تر ښکاره کیدو وروسته خپل طبیعت پرمنلو باندی مجبوره کوی او دا یو لوی امتحان دی نوکه ټول یو شریعت وای نو ددی شریعت په اول کی چی کوم خلک وه، دهغوی امتحان خو به سوی وای، لیکن دنورو خلګوکوم چی د دوی پرنقش اوقدم تلونکی او ددی طریقی سره آشنا وای دهغوی امتحان به نه کیدی اواوس دهر یوه اُمّت امتحان وسو اودامتحان یوصورت داوی چی انسان دکم شی څخه منع کړل کیږی که دهغه رواج وی اوکه پاته سوی وی خو دی دهغه پرکولو حارص وی اودا امتحان په ډیرو شریعتونو کی ډیر قوی دی، چی دمنسوخ سوی شریعت څخه منع کړل کیږی اودشریعت په یووالی کی که څه هم چی دګناهونو څخه منع کړل کیږی، لیکن په دی کی خودحقیقت کومه شُبهه نه وی نو په دی وجه ددی درجی امتحان نه وی، څکه چی دمخکی څخه به معلومه وی چی داګناه ده، ددی دواړو امتحانونو مجموعه دهراُمّت دمخکنیو اووروستنیو ټولو دپاره عامه سوه، لکه چی اولنی سورة بیاپه مخکنیو سره خاص دی، نوکله چی په نوی شریعت کی دا حکمت دی) نو (تعجبْ پریږدئ) دفائده مندو خبرو طرف ته (یعنی دهغو عقیدو عملونو اواحکامو طرف ته چی په قرآن کی دی) رامخکی سی (یا په قرآن ایمان راوړی اوپه دی عمل کوی یوه ورځ) ستاسی ټولو دخدای ﷻ طرف ته تلل دی بیابه هغه تاسی ټولوته ښکاره کړی هغه چی تاسی (سره دحق دښکاره کیدوپه دنیاکی خامخا) اختلاف کوی (نو په دی وجه دابی ځایه اختلاف پریږدئ، حق چی اوس یوازی په قرآن کی دی قبول کړی) او (کله چی دی اهلِ کتابو داسی لویه خبره وکړه چی تاته درخواست دخپلی موافقی فیصلی دکولو کوی چی ددی ګرسره احتمال نسته په دی وجه ددوی دحوصلی ماتولو او دوی ته په اورولو اودهمیشه دپاره یی دناامیده کولو په وجه) مونږ (بیابیا) حکم کووچی ته ددوی (اهلِ کتابو) دخپل مینځ په معاملوکی (کله چی

ستاسي په مجلس كې پيښ سي) ددې ليږل سوې كتاب موافقه فيصله كوه اوددوى (دشريعت څخه خلاف) په خواهشونو (اوفرمآنشونو) باندې (آئنده هم) عمل مه كوه (لكه چې تراوسه پورې دې نه دي كړي) اوددوى څخه يعني ددوى ددې خبرې څخه (آئنده هم دتيرپه شان) احتياط كوه چې دوى تادخداى ﷺ دليږل سوې يوه حكم څخه بل طرف ته نه كړي (كه څه هم چې ددې خوهيڅ احتمال هم نسته. مګردخان ساتلو قصدكول هم ثواب دى) بيا (هم كه سره دواضح كيدو دقرآن اودده دفيصلې حق ثابتيدو) هم كه داخلګ (دقرآن څخه اوستا دفيصلې څخه چې موافقه دقرآن ده) ډډه كوي نودايقين وكړئ چې بس خداى ﷺ ته منظوره ده چې ددوى دځينو جرمونوپه وجه (په دنياكې) دوى لره سزا وركړي (اودغه ځيني جرم فيصله نه منل دى اودقرآن دحق والى نه منلو سزا به پوره په آخرت كې وركول كيږي ځكه چې اولنى جرم ددوى دذمّي والى څخه خلاف دى اودوهم جرم دايمان خلاف دحربيّت سزاپه دنياكې وي اودكفر سزاپه آخرت كې وي نوچې كله ديهودو سركښي او عهد شكني ترحد زياته سوه نودوى ته دقتل، قيد اوملك څخه دايستلو سزا وركړل سوه) او (اى محمّده ﷺ ددوى ددې حال په اوريدو باندې به تاته غم اوخفګان وي، ليكن ته زيات غم مه كوه ځكه چې) زيات خلګ خو (په دنياكې) نافرمانه وي داخلګ (چې دقرآن دفيصلې څخه چې عين عدل دى ډډه كوي) آيابيا دجاهليّت فيصلې غواړي (كمې چې دوى دآسماني شريعت څخه خلاف دځانه جوړې كړې وي چې ذكريې ددوو واقعوپه ضمن كې تردې ركوع په مخكې ركوع د: يَآيُّهَا الرَّسُوْلُ كې په تمهيد سره تيرسوى دى، حال دادى چې دغه سراسر دعدل اودليل څخه خلاف دى، يعني سره دعلمه، دعلم څخه ډډه كول اوجهل طلب كول ترعجيبې لاعجبه خبره ده) اوپه فيصله كولوكې تر الله ﷺ به څوك ښه (فيصله كوونكى) وي (بلكه هيڅوك برابرهم نسته ورسره، نوخداي فيصله پريښوول اودبلې فيصلې طلب كول عينې جهل نه دى، نوڅه دى؟ ليكن دا خبره هم) ديقين (اوايمان) لرونكوپه نزد (ځكه چې په دې پوهيدل موقوف دى دعقل پرصحت باندې اودغه كافران ددې څخه بې برخې دي)

معلومات اومسئلې: دذكر سوو آيتونوڅخه په اولنى آيت كې ارشاد فرمايي ، إِنَّا أَنْزَلْنَا التَّوْرٰةَ فِيهَا هُدًى وَّنُورٌ يعني مونږخپل كتاب تورات ليږلى دى چې په دې كې دحق طرف ته راهنمايي اويو خاص نورروو، په دې كې ددې خبرې طرف ته اشاره وسوه چې نن كم دتورات شريعت منسوخ كړه كيږي، په دې كې دتورات كوم نقصان نسته ، بلكه دزماني دبدليدوپه سبب سره داحكامو دبدلون ترضرورت لاندې داسې وكړل سوه، كه نه وي نو تورات هم زمونږ نازل كړل سوى كتاب دى، په دې كې دبنى اسرآئيلو دپاره أصولي هدايات هم ذكردي اويوخاص نورهم دى چې په روحاني ډول سره ددوى پرزړونو تاثير كوي، تردې وروسته ارشادفرمايي . يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّوْنَ الَّذِيْنَ اَسْلَمُوْا لِلَّذِيْنَ هَادُوْا وَالرَّبّٰنِيُّوْنَ وَالْاَحْبَارُ يعني تورات مونږ ددې دپاره نازل كړى وو ، چې ترڅو پورې دده شريعت منسوخ نكړل سي، ترهغه وخته پورې به راتلونكي انبيآء اوددوى نآئبين خدايي خلګ اوعالمان ټول دي ددې تورات مطابقې فيصلې كوي، داقانون دي په دنياكې چلوي، په دې كې يې دانبيآء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ نآئبين پردوه قسمه ذكر كړي دي اول: رَبّٰنِيُّوْنَ دوهم ، أَحْبَارُ

Maktaba Tul Ishaat.com

لفظ دربّانی درب وطرف ته منسوب دی چی معنی یی ده الله والا او احبار دحبر جمع ده یهودو په محاوره کی به عالِم ته حَبر ویل کیده که څه هم چی داخبره ښکاره ده چی څوك الله والا وی ضروری ده چی هغه ته به دالله ﷻ دضروری احکامو علم هم وی، که نه وی نوبغیر دعلمه څخه عمل نه سی کیدی اوبغیر دالله ﷻ داحکامو دمنلو اوعمل کولو څخه یوسړی الله والا نه سی جوړیدی دغه ډول دالله ﷻ په نزد عالِم هغه ته ویل کیږی چی په خپل علم باندی هم عمل کوی ، څکه چی هغه عالِم چی دالله ﷻ داحکامو څخه دخبریدو سره سره ضروری فرآئض اوواجبات نه ادا کوی اونه کم خیال ورته کوی، هغه دالله ﷻ اورسول ﷺ په نزد ترجاهل ډیربددی، ددی نتیجه دا سوه چی هرالله والا عالِم وی اوهرعالِم الله والاوی ، مګر دلته یی دواړه جلا جلا بیان کړل، ددی خبری خبرداری یی ورکړی چی که څه هم دالله والا دپاره علم ضروری اودعالِم دپاره عمل ضروری دی، لیکن په کوم چی دکوم رنګ غلبه وی دهغه په اعتبار سره دهغه نوم اینښوول کیږی، دکوم سړی توجّه چی زیاته عباداتو، عمل او دالله ﷻ دذکر وطرف ته مصروفه وی اوددین علم یوازی په قدر دضرورت حاصلوی، هغه ته ربّانی یعنی الله والا وایی چی دنن صباپه اصطلاح کی ورته شیخ، مُرشد، پیر اونور وایی اوکوم سړی چی عملی مهارت پیداکړی، خلګوته دشرعی احکامو دښوولو اوزده کولوپه خدمت کی زیات مشغول وی اودفرضو اوواجبو اومؤکدو سنتو څخه پرته په نورو نفلی عبادتونوکی زیات وخت نه لګوی ، ده ته حبر یاعالِم ویل کیږی .

لنډه دا ده چی په دی کی یی دشریعت او طریقت اوعالمانو اوشیخانو اصلی یووالی هم وښووی ، او دکار دطریقی او دغالب شغل په اعتبار سره یی په دوی کی فرق هم واضح کی، ددی څخه معلومه سوه چی دعالمانو اوصوفیانو دوی ډلی یادوی فرقی نه دی، بلکه ددواړو دژوند مقصد دالله ﷻ او درسول ﷺ حکم منل اوفرمانبرداری ده ، البته ددی مقصد دحصول دپاره د دوی دکار طریقه صورةً دیو او بل څخه بدله په نظر راځی .

تردی وروسته ارشاد فرمایی ، بِمَا اسْتُحْفِظُوْا مِنْ كِتٰبِ اللّٰهِ وَكَانُوْا عَلَيْهِ شُهَدَآءَ یعنی دا انبیآء عَلَیْهِمُ السَّلَامُ او د دوی دواړه قسمه نآئبین عالمان اومشآئخ خلګ دتورات داحکامو جاری کولوپه دی وجه پابند وه چی الله ﷻ دتورات حفاظت د دوی په ذمه لګولی وو، او دوی ددی دحفاظت وعده اوپیمان کړی وو .

تردی پوری دتورات ذکروو چی دا دالله ﷻ کتاب او هدایت اونور ووچی انبیآء عَلَیْهِمُ السَّلَامُ او د دوی رینښتینی نآئبینو، مشآئخو او عالمانو ددی حفاظت کړی وو، تر دی وروسته دموجوده زمانی دیهودو دکړیدو اوپه کږو لارو دتلو او ددی په اصلی سبب باندی یی خبرداری ورکی، چی تاسی پرځای ددی چی دخپلو مشرانو پرنقش اوقدم تللی وای، دتورات حفاظت موکولی ، ددی تورات په احکاموکی یی تغیر اوتبدّل وکی ، چی په تورات کی په ډیر وضاحت او په تفصیل سره دنبی آخر زمان محمّد ﷺ دراتلو خبر اویهودو ته په ده ﷺ دایمان راوړلو هدایت ذکروو، دی خلګوددی خلاف ورزی وکړه اوپه نبی کریم ﷺ باندی دایمان راوړلو پرځای یی دده ﷺ مخالفت شروع کی، اوددی سره یی ددوی ددغه هلاکوونکی غلطی سبب هم بیان کی چی داستاسی دمرتبی اومال محبت دی، تاسی دامنی چی نبی کریم ﷺ برحق

Maktaba Tul Ishaat.com

رسول دی خوددی سره دده ﷺ دتابعداری کولو څخه بیریږی چی اوس تاسی دخپل قوم پیشوایان بلل کیږئ عام یهودیان په تاسی پسی دی که تاسی اسلام قبول کړی نوتاسی به دمسلمانانو دیوه فردپه حیثیت سره پاته سی دامشری به ختمه سی ، دوهم دی خلګو داعادت جوړ کړی ووچی دلویو خلګوڅخه به یی رشوت اخیستی ددوی دپاره به یی دتورات احکام بدلول آسانی به یی پکښی پیداکولی، په دی دخبرداری ورکولو دپاره یی دموجوده زمانی یهودو ته وفرمایل چی .

فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ وَاخْشَوْنِ وَلَا تَشْتَرُوا بِآيَاتِي ثَمَنًا قَلِيلًا : یعنی تاسی دخلګو څخه مه بیریږی چی دوی به ستاسی تابعداری پریږدی یابه ستاسی مخالف سی اوتاسی ددنیاپه لږ سامان اخیستو سره د دوی دپاره دالله ﷻ په احکامو کی رد اوبدل مه کوی چی دا ستاسی دپاره ددین اودُنیا بربادی ده ، څکه چی .

وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ یعنی کوم خلګ چی دالله ﷻ په نازل سوو احکامو باندی حکم نه کوی واجب یی نه ګنی بلکه ددی خلاف فیصله کوی نودوی کافران اومنکران دی چی سزا یی همیشه عذاب دجهنم دی .

تردی وروسته یی په دوهم آیت کی دقصاص احکام په دی حواله سره بیان کړی دی چی مونږدا احکام په تورات کی نازل کړی دی، ارشاد دی ، وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَا أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ وَالْأَنفَ بِالْأَنفِ وَالْأُذُنَ بِالْأُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ وَالْجُرُوحَ قِصَاصٌ : یعنی مونږ دیهودو دپاره په تورات کی دقصاص داحکم نازل کړی ووچی دنفس په بدله کی نفس، دسترګی په بدله سترګه ، دپزی په بدله کی پزه ، دغوږ په بدله کی غوږ، دغاښ په بدله کی غاښ ، او دخاص زخمونو بدله ده .

دبنوقریظه اوبنونضیر کومه دعوه چی نبی کریم ﷺ ته پیش سوی وه چی بنونضیرو دخپل قوت اوشوکت په وجه بنو قریظه دی ته مجبور کړی وه چی دکه دبنو نضیرو کوم سړی ددوی دیوه سړی دلاسه قتل سی نوقصاص به یی هم دنفس په بدله کی نفس اخیستل کیږی اوپردی سربیره دیّت به هم اخیستل کیږی اوکه معامله برعکس وسی چی دبنو نضیرو دسړی دلاسه دبنو قریظه وو سړی مړسی نوقصاص به نه وی یوازی دیت به اخیستل کیږی اودغه هم دبنو نضیرپه نیمایی باندی .

په دی آیت کی الله ﷻ ددی خلګو ددی غلا څخه پرده پورته کړیده چی په خپله په تورات کی هم دقصاص اودیّت دبرابری احکام موجوددی دا خلګ قصداً دغه څخه مخ اړوی اومحضی دحیلی لټولو دپاره خپله دعوه دنبی کریم ﷺ حضورته راوړی، په آخری آیت کی یی ارشاد وفرمایی ، وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ : یعنی څوک چی دالله ﷻ په نازل سوو احکامو باندی حکم نه کوی دغه ظالمان دی ، څکه چی دالله ﷻ دحکم څخه باغیان اومُنکردی، په دریم آیت کی اول دحضرت عیسیٰ ؑ دبعثت ذکر دی چی دی دتیر کتاب یعنی تورات دتصدیق کولو دپاره رالیږل سوی وو، بیا دانجیل ذکردی چی دغه هم دتورات په شان هدایت اونور دی .

په څلورم آیت کی یی وفرمایل چی انجیل والاوو ته په کار دی چی کوم قانون الله ﷻ په انجیل کی نازل کړی دی ، ددی مطابق احکام نافذ کړی اوکوم خلګ چی دالله ﷻ دنازل کړو احکامو خلاف حکم جاری

Maktaba Tul Ishaat.com

کوی هغه نافرمان اوسرکښه دی .

قرآن دتورات او انجیل هم محافظ دی : په پنځم اوشپږم آیت کی نبی کریم ﷺ ته خطاب دی چی مونږ په تا باندی قرآن نازل کی چی ترڅان دمخکی کتابونو تورات اوانجیل تصدیق هم کوی اوددوی محافظ هم دی ځکه چی کله تورات والاوو په تورات کی اوانجیل والاووپه انجیل کی تحریف (ادلون اوبدلون) وکی، نو قرآن کریم دهغو محافظ اونگران ثابت سوچی ددوی دتحریفاتو پرده یی څیری کړه حق اوحقیقت یی ښکاره کی اودتورات او انجیل اصلی تعلیمات نن هم دقرآن په ذریعه په دنیاکی باقی دی، که څه هم چی په خپله دتورات وارثانو اودده پیروی کوونکو مُدّعیانو ددی شکل داسی خراب کړی دی چی دحق او باطل جلا کول ناممکن سوی دی ، په آخر آیت کی یی نبی کریم ﷺ ته هغه حکم ورکی کوم چی تورات والا او انجیل والاوو ته ورکړل سوی وو ، چی ستاسی احکام او فیصلی ټولی دالله ﷻ دنازل کړو احکامو مطابق کیدل په کار دی او دا خلگ چی په تا باندی دخپلو خواهشاتو مطابق فیصلی کول غواړی، ددوی دمکر څخه خبردار اوسه، ددی ارشادُ یوه خاصه وجه داوه چی دیهودو یوڅو عالمان دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضرسول اوعرض یی وکی چی تاته معلومه ده چی مونږ دیهودو عالمان اوپیشوایان یوکه مونږ مسلمانان سو نودوی به همْ ټول مسلمانان سی ، لیکن زمونږ یو شرط دا دی چی زمونږ یوه فیصله ستادقوم دخلگوسره ده مونږ دافیصله تاته راوړو ، دافیصله ته زمونږ موافقه وکړه، نومونږبه مسلمانان سو، الله ﷻ په دی باندی خبرداره کی چی ته ددی خلگو دمسلمانیدو دوجی څخه دعدل اوانصاف اودخدای ﷻ دنازل کړی قانون خلاف فیصله هیڅکله مه کوه او ددی پروا هیڅکله مه کوه چی دا خلگ به مسلمانان سی یانه ؟

(دانبیاوو عليهم السلام په شریعتونو کي جزوی اختلاف او ددی حکمت)

په دی آیت کی ددوهم هدایت سره دیوه مهم أصولی سوال جواب هم بیان سوی دی هغه داچی کله چی ټول انبیاء عليهم السلام دالله ﷻ دطرفه څخه رالیږل سوی دی اوپردوی نازل سوی کتابونه صحیفی او د دوی شریعتونه ټول دالله ﷻ دطرفه څخه دی نوبیاپه دی کتابونو اوشریعتونوکی اختلاف ولی دی؟ او نوی راتلونکی شریعت اوکتاب مخکنی شریعت اوکتاب منسوخ کوی ولی؟ ددی جواب سره دخدایی حکمته په دی آیت کی بیان سو، لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَٰكِن لِّيَبْلُوَكُمْ فِي مَا آتَاكُمْ فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ یعنی مونږپه تاسی کی دهری طبقی دپاره یوخاص شریعت اویوه خاصه طریقه دعمل جوړه کړي ده چی په دی کی سره ددی چی أصول (یعنی بنیاد) شریك اومتفق یعنی دټولو دا یوډول دی البته فروعی احکام یی دمصلحت په وجه مختلف دی، اوکه الله ﷻ غوښتلای نوهغه ته هیڅ گران نه وه چی تاسی ټول یی یواُمّت اویوملت جوړکړی وای، دټولو یوکتاب اویو شریعت وای، لیکن الله ﷻ داځکه خوښه نه کړه چی خلگ وازمایی چی کوم خلگ دی چی دعبادت دحقیقت څخه ځان خبروی اوهروخت حکم منلو ته غوږ وی چی کوم حکم ورته ورسیږی دهغه تعمیل کوی یعنی منی یی چی کوم نوی کتاب یانوی شریعت راځی دهغه تابعداری کوی اومخکنی کتاب اوشریعت که یی هرڅومره خوښ وی اودپلار

Maktaba Tul Ishaat.com

اونیکه دمذهب په وجه که ددی پاته کول که ده ته هرڅومره ګران وی خوبیا هم هروخت یی غوږ اینبی وی دحکم منلوته تیاروی، اوڅوك دی چی ددی حقیقت څخه څان غافله کوی یوخاص شریعت یاکتاب یی خپل مقصد جوړ کړی وی اودایی دخپل یوابائی مذهب په حیثیت سره اخیستی وی ، ددی خلاف دالله ﷻ کوم حکم ته غوږ نه ایږدی .

دشریعتونوپه اختلاف کی دایولوی حکمت دی چی ددی په ذریعه سره دهری زمانی دهری طبقی خلګوته دصحیح عبادت اوبندګی درك ورکول کیږی، چی په حقیقت کی عبادت نوم دی دبندګی اوحکم منلو چی دا یوازی په لمونځ، روژه، حج او زکوة کی را حصرنه دی اونه داشیان په خپل ذات کی مقصدونه دی، بلکه ددی ټولو مقصد یوازی یو دالله ﷻ دحکم فرمانبرداری ده ، دا وجه ده چی په کومو وختونوکی دلمانځه ممانعت دی ، په دغه وختونوکی دلمانځه هیڅ کار دثواب نه دی، بلکه سرچپه ګناه ده، داخترونو او نوروپه ورځوکی روژه نیول منع دی، نوپه دغه ورځ روژه نیول ګناه ده، دنهمی دذی الحجی څخه پرته په بله ورځ په یوه میاشت کی دعرفات په میدان کی جمع کیدل دعا او عبادت کول دثواب کارنه دی ، حال دا دی چی په نهمه دذی الحجی ترټولو لوی عبادت دغه دی، دغه ډول دنورو ټولو عبادتونو حال دی، ترکومه حده پوری چی یی دکولو حکم دی ، نو هغه عبادت دی اوکله اوپه کوم وخت کی یی چی منع سویده نودغه عبادت هم بیا حرام اوناجائز سی، جاهل عوام ددی حقیقت څخه خبرنه وی، کم عبادتونه چی ددوی عادت جوړسی، بلکه کوم قومی رواجونه چی دوی عبادت وګنی، اختیار یی کړی نو دالله ﷻ او رسول ﷺ ښکاره حکمونه هم بیاپه دی پسی دوی له پامه وغورځوی، دغه بدعتونه او نوی کارونه ددین حصه جوړه سی چی همداخبری دتیرو شریعتونو اوکتابونو دتحریف سبب سوی دی، الله ﷻ پرمختلفو پیغمبرانو مختلف کتابونه اوشریعتونه نازل کړی دی، انسانانوته یی داښولی دی چی یوعمل یایوقسم عبادت مقصود نه جوړوی، بلکه په صحیح معناووکی دی دالله ﷻ فرمانبردار بندګان جوړ سی اوکوم وخت چی دتیر عمل دپریښوولو حکم وی نوپدستی یی پریږدی اودکوم عمل دکولو چی حکم وی پدستی په هغه عمل کول شروع کړی .

په دی سربیره دشریعتونو داختلاف یولوی حکمت داهم دی چی ددنیا دهردور اوهری طبقی دانسانانو مزاج اوطبیعتونه مختلف وی، دزمانی اختلاف پرانسانی طبیعت ډیر زیات تاثیر اچوی، که دټولو دپاره فروعی احکام یوډول سی نوانسانانوته به ډیره ګرانه سی، په دی وجه دالله ﷻ حکمت داوغوښتله چی دهری زمانی اوهرمزاج دجذباتو لحاظ وساتل په فروعی احکاموکی تبدیلی راوستل سی، دلته دناسخ اومنسوخ دامعنی نه وی چی حکم ورکوونکی ته اول حالت معلوم نه وو، نویو ډول حکم یی وکی بیاچی نوی حالات مخ ته راغلل، نو هغه حکم یی منسوخ کی، یااول یی دغفلت اوغلطی په وجه یو حکم کړی وو، بیاپوه سو نوبدل یی کی، بلکه په شریعت کی دناسخ اومنسوخ مثال بالکل دیوه حکیم یاډاکټر دنسخی په مثال دی، په کمه کی چی دواوی (درملونه) کرار کرار بدلول کیږی چی حکیم یا ډاکټرته اول دا اندازه وی چی دری ورځی تردوا استعمالولو وروسته به پرمریض داسی حالت راځی نودغه وخت به

Maktaba Tul Ishaat.com

فلانکی دوا ورکول کیږی ، کله چی دی اوله نسخه منسوخه کوی اودوهمه ورکوی نوداسی ویل صحیح نه وی چی اوله نسخه غلطه وه، په دی وجه یې منسوخه کړه ، بلکه حقیقت دا وی چی په اولو ورځوکی هغه نسخه صحیحه اوضروری وه اوپه دی وروستیو حالاتوکی دا دوهمه نسخه صحیح اوضروری ده.

(په ذکر سوو آیتونو کې دراغلو واضحو او ضمني احکامو خلاصه)

اول داولنیو آیتونو ښځه معلومه سوه چی دیهودو دعوه کومه چی دنبی کریم ﷺ په حضورکی پیش سوی وه او ده ﷺ ددی فیصله وفرمایله نودا فیصله دتورات دشریعت مطابق وه، ددی ښځه ثابته سوه چی دتیرو شریعتونو کوم خدایی حکمونه چی نافذوه، ترڅوچی قرآن کریم اودخدای ﷺ وحی هغه منسوخ کړی نه وی ، هغه په خپل حال باقی وی ، لکه دیهودوپه دعووکی دقصاص برابری او دزنا دسزا دسنگساری حکم په تورات کی هم وو، بیا قرآن هم دغه بعینه باقی پرېښوی.

دغه ډول په دوهم آیت کی د زخمونو دقصاص حکم چی دتورات په حوالی سره بیان سوی دی ، په اسلام کی هم دا حکم نبی کریم ﷺ جاری کړی دی ، په دی بناء باندی داسلام دجمهورو عالمانو په نزد ضابطه دا ده چی دتیرو شریعتونو هغه حکمونه چی قرآن هغه منسوخ کړی نه وی ، هغه زمونږ په شریعت کی هم نافذ او عمل ورباندی واجب دی، دغه وجه ده چی تورات والاووته دتورات مطابق اوانجیل والاووته دانجیل مطابق دحکم کولو اوعمل کولو حکم ورکړل سوی دی حال دا دی چی دا دواړه کتابونه او د دوی شریعتونه دنبی کریم ﷺ تراتلو وروسته منسوخ سوی دی، مطلب دا دی چی دتورات اوانجیل کم احکام چی قرآن نه دی منسوخ کړی دهغوی تابعداری نن هم واجب ده.

دریم حکم په دی آیتونوکی داثابت سو، چی دالله ﷺ دنازل سوو احکامو خلاف حکم کول په ځینو صورتونوکی کفر دی ، کله چی په عقیده کی هم دغه خلاف حق گڼی اوپه ځینو صورتونوکی ظلم اوفسق دی ، کله چی دعقیدی په وجه سره خودغه نازل سوی احکام حق منی مگر په عمل کی ددی خلاف کوی.

څلورم حکم په دی آیتونوکی دا راغلی دی چی رشوت اخیستل مطلق حرام دی اوخاص په عدالتی فیصله رشوت اخیستل نور زیات سخت دی.

پنځم حکم ددی آیتونو ښځه دا واضح سوچی ټول انبیاء علیہم السلام او د دوی شریعتونه په اُصولو کی بالکل متفق اویو دی مگرپه جزوی اوفروعی حکمونوکی مختلف دی اودا اختلاف په ډیرو حکمتونو مبنی دی.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَىٰ أَوْلِيَاءَ ۘ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ

ای ایماندارو امه جوړوی یهودو اونصاراؤ لره دوستان ، دوی په خپل مینځ کی دوستان دی

بَعْضٍ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي

دیوبل ، او څوک چی په تاسی کې دوستی کوی د دوی سره ، نو هغه د دوی ښځه دی ، الله هدایت نه کوی

الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٥١﴾ فَتَرَى الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ يُّسَارِعُوْنَ

ظالمانو خلقو ته ، اوس به ته ووینی هغه چی په زړونو کی یی ، مریضی ده خغلی

فِيْهِمْ يَقُوْلُوْنَ نَخْشٰى اَنْ تُصِيْبَنَا دَآئِرَةٌ ۭ فَعَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّاْتِيَ

په دوی کی وایی چی زمونږ بیره ده چی را نه سی په مونږ گردش دزمانی نو نژدی ده چی الله ژر ښکاره کړی

بِالْفَتْحِ اَوْ اَمْرٍ مِّنْ عِنْدِهٖ فَيُصْبِحُوْا عَلٰى مَآ اَسَرُّوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ

فتح یا څه حکم دخپل طرف څخه نوسی به دخپلو زړونو په خبره باندی

نٰدِمِيْنَ ﴿٥٢﴾ ۭ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَهٰٓؤُلَاۗءِ الَّذِيْنَ اَقْسَمُوْا

ستړمانه ، او وایی مسلمان آیا دا هغه خلق دی چی قسمونه یی

بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ ۙ اِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ ۭ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فَاَصْبَحُوْا

خوړل په الله په تاکید سره چی مونږ تاسی سره یو ، برباد سول د دوی عملونه نو پاته سول

خٰسِرِيْنَ ﴿٥٣﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَنْ يَّرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ

په تاوان کی ، ای ایماندارو ! څوک چی په تاسی کی واپس سی دخپل دین څخه

فَسَوْفَ يَاْتِي اللّٰهُ بِقَوْمٍ يُّحِبُّهُمْ وَيُحِبُّوْنَهٗٓ ۙ اَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ

نو الله به دیر ژر راولی داسی قوم لره چی الله به ورسره مینه کوی او دوی به دهغه سره مینه کوی نوم زړه به وی په مسلمانانو

اَعِزَّةٍ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ۡ يُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَا يَخَافُوْنَ

زبردست به وی په کافرانو ، جنگ به کوی دالله ﷻ په لاره کی او نه بریږي

لَوْمَةَ لَاۗىِٕمٍ ۭ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ

دچا دالزام څخه ، دا فضل دی دالله ورکوی یی هغه چاته چی غواړی او الله فراخی والا دی

عَلِيْمٌ ﴿٥٤﴾ اِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوا الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ

خبر دار ، ستاسی ملګری الله دی او دهغه رسول او څوک چی ایماندار دی چی قائم ساتی

Maktaba Tul Ishaat.com

الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ رٰكِعُوْنَ ﴿٥٥﴾ وَمَنْ يَّتَوَلَّ اللّٰهَ

لمونځ او ورکوي زکوٰة اوعاجزي کوونکي دي ، اوڅوك چې دوست لري الله

وَرَسُوْلَهٗ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَاِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿٥٦﴾ ع

اوهغه رسول ﷺ او ايماندارو لره ، نوډغه دالله جماعت په ټولو غالب دي ،

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَكُمْ هُزُوًا وَّ

اى ايماندارو ! مه جوړوى هغه خلق چې نيسي ستاسې دين په ټوقو

لَعِبًا مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَالْكُفَّارَ اَوْلِيَآءَ ج

اولوبو سره،هغه خلق چې کتاب ورته ورکړل سوى دى ·تاسې څخه مخکې او نه کافرانو لره خپل دوستان

وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٥٧﴾ وَاِذَا نَادَيْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ

او بيره کوى دالله څخه که چيرى تاسي ايماندار ياست ، او کله چې تاسي آواز کوى دپاره دلمانځه

اتَّخَذُوْهَا هُزُوًا وَّلَعِبًا ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُوْنَ ﴿٥٨﴾

نو دوى ورپورى مسخرى کوى ، دا په دې وجه چې دغه خلق ناپوه دي .

دآيتونو ترون: په ذکر سوو آيتونو کې د درو مهمو أصولي مضمونونو بيان دى چې دمسلمانانو داجتماعي اوملي يو والي او راغونډيدو بنيادي أصول دي .

اول داچې مسلمانان دغير مسلمانانو سره روا داري ، همدردي ، خير خواهي عدل او انصاف اواحسان اوسلوك هرڅه کولاى سي، اوداسي کول په کار دي ځکه چې دوى ته ددي تعليم ورکړل سوى دى ، ليکن د دوى سره داسي ژوره دوستي اوخلط ملط چې په هغه سره داسلام امتيازي نښاني ګډوډي سي ددي اجازت نسته، داهغه مسئله ده چې د (ترك موالات) په نامه سره پيژندل کيږي .

دوهم مضمون دا دى چې که چيرى په يووخت کې په يوځاى کې مسلمانان ددي بنيادي أصولو څخه واوړي دغير مسلموسره داسي خلط وکړي نودادي نه ګني چې په دې سره به اسلام ته کوم ضرر اونقصان ورسيږي . ځکه چې داسلام دحفاظت اوباقي پاته کيدو ذمه واري الله ﷻ اخيستي ده ، دا هيڅوك هم نه سي ختمولى که فرض کړه يو قوم بالکل اسلام پريږدي اوبل طرف ته واوړي نو الله ﷻ به يو بل داسي قوم را پورته کړي چې داسلام أصول اوقانون به قائم کړي .

Maktaba Tul Ishaat.com

دریم مضمون دا دی چی کله یوه طرف ته منفی اړخ معلوم سونو مسلمانانو لره ژوره دوستی یوازی دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ او په دوی دایمان راوړونکو سره کیدی سی .

دا سرسری بیان دی دهغو مضمونو کوم چی په لوړو ذکر سوو پنځو آیتونوکی بیان سوی دی .

اوس ددی آیتونو لنډ تفسیر : وګوری .

ای مؤمنانو! تاسی (دمنافقانو په شان) یهود او نصارا (خپل) دوستان مه جوړوی، دوی (په خپل مینځ کی) دیوه اوبل دوستان دی (یعنی یهود دیهودو سره او نصارا دنصاراوو سره، مطلب دا دی چی دوستی کیږی په مناسبت سره، نو ددوی دیوه اوبل سره مناسبت دی، مګرپه تاسی اوپه دوی کی څه مناسبت دی او (کله چی ددی څخه معلومه سوه چی دوستی کیږی په مناسبت سره نو) کوم سړی چی په تاسی کی د دوی سره دوستی کوی بیشکه دغه (دیوخاص مناسبت په اعتبار سره) به ددوی څخه وی (اوکه څه هم چی داکار خو ښکاره دی لیکن) یقینًا الله ﷻ (ددی کار) پوهی نه ورکوی هغو خلګوته کوم چی (دکفارو سره دوستی کوی) خپل نقصان کوی (یعنی په دوستی کی دورننوتو په وجه دا خبره ګرسره ددوی په خیال کی نه راځی اوکله چی داسی خلګ په دی کار پوهیږی) په دی وجه (ای لیدونکو!) تاسی داسی خلګ چی په زړه کی یی (دنفاق) مرض دی، وینئ چی ځغلی په (کفارو) کی ورننوزی (اوکه څوك یی ملامت کوی نو دحیلی اوخبری جوړولو دپاره داسی) وایی چی (زمونږ ددوی سره یوځای کیدل دزړه څخه نه دی بلکه زړونه خوزمونږ ستاسی سره دی یوازی دیوی ګټی په وجه ددوی سره یوځای کیږو، هغه داچی) زمونږ سره بیره ده چی (شاید دزمانی په انقلاب سره) په مونږ کومه حادثه راسی (لکه قحطی، تنګی اونور اودایهودیان زمونږ مددګاران دی ددوی څخه مونږته قرض اوکومك رسیږی که داظاهری شناخت ورسره پریږدو نوپروخت باندی به مونږته تکلیف وی، به ظاهره به یی د: نَخْشٰى اَنْ تُصِيْبَنَا دَآئِرَةٌ دامطلب اخیستی، لیکن په زړه کی به یی دامطلب اخیستی چی که په آخرکی په مسلمانانو باندی کافران غالب راسی نوبیابه زمونږ دوی ته حاجت وی، په دی وجه د دوی سره دوستی ساتل په کار دی) نونژدی اُمید (یعنی وعده) ده چی الله ﷻ (مسلمانانو ته کامله) فتح (ددی کفارو په مقابله کی چی دوی ورسره دوستی کوی) ورکړی (چی په دی کی دمسلمانانو دکوشش هم دخل وی) یادکمی بلی خبری خاص دخپل طرف څخه (ښکاره کول وفرمایی یعنی ددوی نفاق دوحی په ذریعه ښکاره کړی چی په دی کی دمسلمانانو دتدبیر ګرسره دخل نسته، مطلب داچی دمسلمانانوفتح او د دوی راز ښکاره کول دواړه کارونه نژدی کیدونکی دی) بیابه (دغه وخت) دخپلو زړونو په (تیرو) پټوخیالونو باندی شرمنده سی (چی مونږڅنګه ګڼل چی کفاربه غالب سی اودا خوبرعکس کاروسو، یوه پښیمانی به یی دخپل خیال په غلطیدو وی چی داطبعی امر دی ، دوهمه پښیمانی به یی پرخپل نفاق وی چی دهغه په وجه نن رسوا سوه، په مَآ اَسَرُّوْا کی دادواړه داخل دی اودادریمه پښیمانی چی دکفاروسره دوستی یی عبث سوه اودمسلمانانو سره یی هم ښه جوړه نه سوه ، کله چی دوستی ددوی په مَآاَسَرُّوْا باندی بنآء وه په دی وجه ددی دوو پښیمانیوپه ذکرسره دادریمه بی له ذکره څخه په ډاګه په خپله معلومه سوه) او (کله چی دفتح په دی زمانه کی ددی

Maktaba Tul Ishaat.com

خلګو نفاق هم ښکاره سی نوپه خپل مینځ کی به) مسلمانان خلګ (په تعجّب سره) ووایی چی آیادا هغه خلګ دی چی په ډیره مبالغه سره به یی (زمونږ په وړاندی) قسمونه خوړل چی مونږ (په زړه سره) سره ستاسی سره یو(داخوبله یوه خبره ثابته سوه الله ﷻ فرمایی چی) ددی خلګو ټول کارونه (چی ددواړو ډلوسره یی ښه اوسیدل غوښتل ټول) ګډوډ سول چی په دی سره (ددواړو طرفو څخه) نااُمیده سول (ځکه چی کفارخو مغلوب سول دهغوی سره ملګری کیدل خومحضی بیکاری ده اود مسلمانانو سره یی خوراز ښکاره سو، ددوی سره یی اوس جوړ راتلل هم ګران کاردی بس دغه مثال یی سو (چی نه ددی دنیا سوه اونه دهغی)، ای مؤمنانو! (یعنی کوم خلګ چی ددی آیت دنزول په وخت کی مسلمانان دی) کوم سړی چی په تاسی کی دخپل (دی) دین څخه بیرته وګرځی نو (داسلام هیڅ نقصان نسته ځکه چی داسلام دخدمت دپاره به) الله ﷻ ډیر ژر (ددوی پرځای) داسی قوم پیداکړی دکوموسره چی به دالله ﷻ محبّت وی او د دوی به دالله ﷻ سره محبت وی مهربان به وی دوی په مسلمانانو باندی ، تیز به وی په کافرانو باندی (چی ددوی سره) به جهاد کوی دالله ﷻ په لاره کی او (ددین اوجهادپه باره کی) دغه خلګ به دیوچا ملامتی کوونکی دملامتی بیره نه کوی (لکه چی دمنافقانو حال دی چی بې زړه به جهادته تلل لیکن دافکربه ورسره وو چی کفار دکوموسره چی یی دزړه دوستی ده، ملامت به یی کړی یادچاسره چی یی دجهادمقابله ده هغه ددوی دوستان اوخپلوان دی که اتفاقًا دوی یوځای ووینی نوبدرد به پروایی چی تاسی دداسی خلګو دوژلودپاره تللی واست) دا (ذکرسوی صفتونه) دالله ﷻ فضل دی چاته چی یی غواړی ورکوی یی اوالله ﷻ ډیر فراخی والادی (چی که وغواړی نوټولو ته داصفتونه ورکولی سی لیکن) لوی علم والادی (دده په علم کی چی چالره فآئده وی هغه ته یی ورکوی) ستاسی دوستان خو (دکوموسره چی تاسی ته دوستی په کارده) الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ اوایماندار خلګ دی کم چی په داسی حالت کی دلمانځه پابندی کوی اوزکوة ورکوی چی په دوی (یعنی ددوی په زړونو) کی خشوع وی (یعنی داخلاقو اوعملونو بدنی اومالی دټولو جمع کوونکی دی) اوکوم سړی چی (ددی مضمون موافق) دالله ﷻ سره دوستی ساتی اودده درسول ﷺ سره اودایماندارو خلګوسره نو (دغه دالله ﷻ په ډله کی شامل سو او) دالله ﷻ ډله بیشکه غالبه ده (اوکفار مغلوب دی نوغالب لره دمغلوب سره دموافقت اودوستی فکر کول محضی ناالآئقه خبره ده) ای مؤمنانو! کومو خلګوته چی ترتاسی مخکی کتابونه (آسمانی یعنی تورات، انجیل) ورکول سوی دی (مراد یهود اونصارا دی) کوم چی داسی دی چی دوی ستاسی دین خندا اولوبه جوړه کړیده (چی دانښانه ده ددرواغجن کولو) دوی او (دغه ډول) نورکفار (هم لکه مشرکان او نور سول) دوستان مه جوړوئ (ځکه چی اصلی علت کفر اودرواغجن کول مشترك دی) اودالله ﷻ څخه بیره کوی که تاسی ایمانداران یاست (یعنی ایمانداران خویاست نو دکوم شی څخه چی الله ﷻ منع کړی ده ، هغه مه کوی) او(لکه څنګه چی ددین داُصولوسره ټوکی کوی دغه ډول دفروعوسره هم ځکه) کله چی تاسی دلمانځه دپاره (دآذان په ذریعه سره) اعلان کوی نودغه خلګ (ستاسی) په دی (عبادت) سره (په کوم کی چی آذان اولمونځ دواړه راغلل) خندا اولوبی کوی (او) دا (حرکت) په دی سبب سره دی چی دوی داسی

Maktaba Tul Ishaat.com

خلک دي چي بالکل عقل نه لري (کني نوحق کاربه يي پيژندلای اوپه دي پوري به يي خندا نه کولی)

معلومات اومسئلي: په اولني آيت کي مسلمانانو ته حکم ورکړل سوی دی چي دوی دي ديهودو اونصاراؤ سره مؤالات (يعني ژوره دوستي) نه کوی، لکه چي دعامو غيرمسلمو اويهودو اونصاراؤ په خپله دا قانون دی چي دوی ژوره دوستي يوازي دخپل قوم سره ساتي، دمسلمانانو سره دامعامله نه کوی.
بياکه کوم مسلمان ددی خلاف ورزي وکړی، دچايهودی يانصراني سره يي ژوره دوستي وکړه نودی به داسلام په نظرکي په ځای دمسلمان ددغه قوم دفرد شميرل کيدو قابل وی.

شانِ نزول: دتفسير امام ابن جرير رحمه الله په روايت دعکرمه رضی الله عنه بيان کوی چي دا آيت په يوه خاصه واقعه کي نازل سوی دی ، هغه دا چي نبی کريم ﷺ کله چي په مدينه منوره کي تشريف فرما سو نودمديني داطرافو ديهودو اونصاراووسره يي يوه فيصله پردی باندی کړی وه چي دوی به دمسلمانانو سره نه په خپله جنګ کوی اونه به دجنګ کوونکي قوم کومک کوی، بلکه دمسلمانانو سره به يوځای کيږی اودهغوی مقابله به کوی، دغه ډول به مسلمانان نه ددوی سره جنګ کوی نه به ددوی خلاف ديوه قوم کومك کوی بلکه دمخالف مقابله به کوی، يوڅه موده دامعاهده ددواړو طرفو څخه قائمه وه، ليکن يهوديان دخپل سازشي خويي اواسلام دښمني طبيعت په وجه پردی معاهده زيات قائم پاته نه سول اودمسلمانانو خلاف يي دمکي دمشرکانوسره سازش وکی، دوی ته يي خپلی قلعی ته درابللو دپاره خط وليکی، نبی کريم ﷺ ته چي کله داسازش معلوم سو نوده ﷺ ددوی دمقابلي دپاره دمجاهدينو يوه ډلګی وليږلی دبنوقريظه دی يهوديانو خويوه طرف ته دمکي دمشرکانوسره داسازش کوی اوبل طرف ته په مسلمانانو کي ننوتلي وه اوډيرو مسلمانانو سره يي ددوستي معاهدی کړی وی، اودغه ډول به يي د مسلمانانو خلاف دمشرکانو دپاره دجاسوسي کارکوی، په دی وجه داذکرسوی آيت نازل سوچي دی مسلمانان ديهودو اونصاراوو دژوري دوستي څخه منع کړل، ددی دپاره چي دمسلمانانو دخاصو خبرونودرك ورته معلوم نسی، دغه وخت ځينو صحابه کرامود حضرت عباده بن صامت رضی الله عنه او نورو خو په ډاګه ددغو خلګوسره خپله معاهده ختمه کړه او د دوستي پريښوولو اعلان يي وکی اوځيني خلګ په منافقانه ډول سره دمسلمانانو سره يوځای سوی وه يايي لا تراوسه پوری ايمان په زړونوکي نه ووکلك سوی، دوی به ددغو خلګوسره په تعلقاتو ختمولوکي دابيری محسوسولي چي ممکنه ده که دمشرکانو اويهودو سازش کامياب سی او مسلمانان مغلوب سی نوموږ لره ددغه خلګوسره هم داسی معامله ساتل په کار دی چي دغه بيازموږ دپاره مصيبت جوړنسی، عبدالله بن اُبیّ ابن سلول پردی بناء باندی وويل چي ددغه خلګو سره په تعلق قطع کولو کي ماته بيره ده ، په دی وجه داسی نه سم کولی ، په دی دوهم آيت نازل سو .

فَتَرَى الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يُسَارِعُونَ فِيهِمْ يَقُولُونَ نَخْشَىٰ أَن تُصِيبَنَا دَائِرَةٌ .

يعني ددوستي پاته کولوشرعي حکم چي يي واوريدی نوهغه خلګ دکوموپه زړونوکي چي دنفاق مرض دی، دخپلو کافرو دوستانوطرف ته په څغاسته سول اووی ويل چي د دوی سره په تعلقاتو پاته کولوکي

زمونږ سره بیره ده ، الله ﷻ د دوی په جواب کی وفرمایل ، فَعَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّاْتِيَ بِالْفَتْحِ اَوْ اَمْرٍ مِّنْ عِنْدِهٖ فَيُصْبِحُوْا عَلٰى مَآ اَسَرُّوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ نٰدِمِيْنَ یعنی داخلک په دی خیال کی دی چی مشرکین اویهودبه په مسلمانانو غالب راسی ، مګر الله ﷻ فیصله فرمایلی ده چی داسی به ونسی، بلکه نژدی ده چی مکه فتح سی یادمکی ترفتح مخکی الله ﷻ ددی منافقانو دنفاق پرده څیری کړی، دوی رُسوا کړی ، نو دغه وخت به دا خلک په خپلو پټو خیالاتو باندی پښیمانه سی .

په دریم آیت کی یی ددی زیاته تشریح داسی وفرمایله چی کله ددی منافقانو دنفاق پرده څیری سی او د دوی ددوستی ددعوو اوقسمونو حقیقت ښکاره سی نو مسلمانان به حیران پاته سی اووبه وایی چی آیادا هغه دی چی مونږته به یی په الله ﷻ سخت قسمونه خوړل د دوستی دعوی به یی کولی اونن د دوی حشر دا سو ، چی ددوی ټول اسلامی عملونه چی محضی دځان ښوولو دپاره یی کول، ضائع سول اودالله ﷻ په دی آیتونوکی کوم چی دمکی دفتح او دمنافقانو درسوایی ذکر یی فرمایلی دی هغه یو څو ورځی وروسته ټول په خپلو سترګو سره ولیدل .

په څلورم آیت کی دانښوول سوی دی چی دغیر مسلمانانو سره دژوری دوستی اوخلط ملط چی کوم ممانعت سوی دی دا په خپله دمسلمانانو دفآئدی دپاره دی که نه وی نو اسلام هغه حق دین دی چی دحفاظت ذمه یی الله ﷻ په خپله ذمه اخیستی ده ، دیو فرد یا ټولی کړیدل یانافرمانی خوپرخپل ځای دی که دمسلمانانو یوفرد یایوه ټولی خامخا اسلام پرېږدی اوبالکل مرتد سی، دغیر مسلمانانو سره یوځای سی، په دی سره هم اسلام ته هیڅ ضرر نه سی رسیدی ، ځکه چی قادر مطلق خدای ﷻ چی ددی دحفاظت ذمه وار دی ، پدستی به یوبل قوم میدان ته راوباسی چی دالله ﷻ ددین دحفاظت اواشاعت فرض به پوره کوی، دده کارنه په کوم ذات باندی موقوف دی ، نه پرکمی لویی ټولی یااداره باندی، هغه چی کله وغواړی نودخاشو څخه دغشی کار اخیستی سی اوکه دهغه رضانه وی نوغشی هم بیاخاشی وی، یوچاڅه ښه ویلی دی .

اِنَّ الْمَقَادِيْرَ اِذَا سَاعَدَتْ اَلْحَقَتِ الْعَاجِزَ بِالْقَادِرِ

یعنی دالله ﷻ تقدیرچی کله دیوچا کومك کوونکی سی نو دیوه عاجز اوبی کاره څخه دقادر اوطاقتمند کار اخلی .

په دی آیت کی چی یی کوم ځای دا ذکر وفرمایی چی که مسلمانان مرتدان سی نو پروا نسته ، الله ﷻ به بله ټولی را پورته کړی ، هلته یی ددی پاکی ټولی څه صفتونه هم بیان کړل چی په دی ټولی کی به داسی صفتونه وی ، نو ددین په خدمت کوونکوکی دا صفتونه په کار دی ، ځکه چی دآیت څخه معلومه سوه چی ددی صفتونو اوعادتونو لرونکی خلک دالله ﷻ په نزد مقبول دی او دهغه محبوب دی .

د دوی اولنی صفت قرآن کریم دا بیان کړی دی چی الله ﷻ به د دوی سره محبت ساتی او دوی به دالله ﷻ سره محبت ساتی، ددی صفت دوه جزونه دی، یوددی خلکومحبت دالله ﷻ سره، دا خو په یوه نه یوه درجه کی دانسان په اختیارکی ګڼل کیدی سی چی که دیوه انسان که دبل سره طبعی محبت نه وی ، نو لږ

ترلږه عقلي محبت خو دخپل قصد اوارادې تابع ساتلای سي او طبعي محبت که څه هم چې په اختیارکې نه دی، مګر ددې اسباب اختیاري دي، مثلاً دالله ﷻ دلويۍ اوجلال اوکامل قدرت اوپرانسان دده داختیاراتو او دانعاماتو فکر اوتصوّر په لازمي ډول سره دانسان په زړه کې دالله ﷻ محبت په طبعي ډول سره هم پیدا کوي.

لیکن دوهم جُز یعني دالله ﷻ محبت به ددې خلګو سره وي، په دې کې خو په ښکاره دا معلومیږي چې دانسان داختیار اوعمل هیڅ کارپه دې کې نسته اوکوم شی چې زمونږ دقدرت او اختیار څخه دباندې دی، ددې داورولو اوښوولو هم په ښکاره کم حاصل نه راوزي، لیکن دقرآن شریف په نورو آیتونوکې چې فکر وکړل سي نو معلومه به سي چې دمحبت ددې جُز اسباب هم دانسان په اختیارکې دي که دې دغه اسباب استعمال کړي نودالله ﷻ محبت به دده سره لازمي وي او دغه اسباب دقرآن کریم په دې آیت، قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِیْ یُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ : کې ذکرسوي دي، یعني ای رسوله ﷺ ته دې خلګوته ووایه چې که ستاسې دالله ﷻ سره محبت وي، نوزما تابعداري کوې ددې نتیجه به دا وي چې الله ﷻ به ستاسې سره محبت شروع کړي.

ددې آیت څخه معلومه سوه چې کم سړی دا غواړي چې الله ﷻ دده سره محبت وکړي نوده ته په کار دي چې دنبي کریم ﷺ سنّت دخپل ژوند عادت جوړکړي اودژوندپه هره شُعْبه کې اوهرکارکې دسنّتو تابعداری پرځان لازمه کړي، او ددې آیت څخه داهم معلومه سوه چې دکفر او ارتداد مقابله هغه ټولی کولی سي چې دسنتو تابعدار وي، نه دشریعت په حکمونوکې کوتاهي کوي اونه دخپل طرف څخه دسنتوکم خلاف کارونه اوبدعتونه جاري کوي.

دوهم صفت ددې ټولې دابنوول سوی دی چې، اَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اَعِزَّةٍ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ په دې کې لفظ داَذِلَّة دقاموس دوضاحت په بنآء سره د ذَلیل یا ذَلُول دواړو جمع کیدی سي، دذلیل معنی دعربي ژبې په بنآء سره هغه ده، کمه چې په اُردو اونوروکې معلومه ده اوذلول معنی ده نرم، اوپه آساني سره تر واك لاندې راتلونکی، دجمهورو مفسرینو رحمهم الله په نزد دلته دامعنی مراد ده، یعني دا خلګ به دمسلمانانو په وړاندې نرم وي، که په کومه معامله کې اختلاف هم وي خوپه آساني سره به په واك کې راځي جګړه به پرېږدي، که څه هم چې دوی په خپله جګړه کې حق په جانب هم وي، لکه چې په صحیح حدیث کې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي، اَنَا زَعِیْمٌ بِبَیْتٍ فِیْ رَبْضِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْمِرَآءَ وَهُوَ مُحِقٌّ یعني زه هغه سړي ته دجنت په مینځ کې په کور ورکولو ذمه واریم څوك چې په حق باندې وي اوسره ددې جګړه پرېږدي.

نوحاصل ددې لفظ داسو چې دا خلګ دمسلمانانو سره په خپلو حقونو اومعاملوکې کومه جګړه نه کوي دوهم لفظ، اَعِزَّةٍ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ راغلي دی، په دې کې هم اَعِزَّة دعزیز جمع ده چې معنی یې غالب، قوي اوسخت دی، مراد دا دی چې دا خلګ دالله ﷻ او دهغه ددین دمخالفوپه مقابله کې سخت اوقوي دی او دغه خلګ په دوی واك نه سي پیدا کولی.

او د دواړو جملو دیو ځای کولو څخه حاصل دا راووتی چې دا به یو داسې قوم وي چې د دوی محبت او

Maktaba Tul Ishaat.com

دښمنی او دوستی او ورانی دخپل ذات اوخانی حقونو اومعاملو پرخای یوازی دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ او دهغه ددین په خاطروی، په دی وجه د دوی دجنگ طرف دالله ﷻ اودرسول ﷺ دفرمانبردارو طرف ته نه وی، بلکه د دوی ددښمنانو اونا فرمانو طرف ته وی، دا مضمون دی دسورة فتح ددی آیت، اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ.

داولنی صفت حاصل دحقوقو مکمل والی وو، او د دوهم صفت حاصل دحقوق العباد دمعاملو اعتدال دی، دریم صفت یی ددی ټولی دا بیان کی چی، يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللهِ یعنی دا خلگ دحق خپرولو اولوړولو دپاره جهاد کوی، ددی حاصل دا دی چی دکفر او ارتداد په مقابله کی یوازی معلوم قسم عبادتونه کول او نرم او سخت کیدل کافی نه دی، بلکه دا هم ضروری ده چی ددین دقآئم ساتلو جذبه به هم وی، ددی جذبی دپوره کولو یی څلورم صفت دا وښووی، وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ یعنی ددین دقآئم ساتلو او دحق دکلمی دلوړولو په کوشش کی دا خلگ دکمی ملامتی پروانه کوی.

چی فکر وکړل سی نو معلومه به سی چی دیوه تحریك چلوونکی په لاره کی دوه قسمه شیان حآئل کیږی یو دمخالفت قوّت اوزور، دوهم دخپلو طعن اوملامتیا، اوپه تجربه سره معلومه سویده چی کوم خلگ دتحریك چلولو دپاره قصدوکړی اوپورته سی، او په اکثرو حالاتو کی دمخالف قوّت څخه خو نه مغلوب کیږی، دقید، بند، زخم اووینی هرڅه برداشت کوی لیکن دخپلو دطعن، ملامتیا اوبدو ردو ویلو څخه دلویو لویو قصد لرونکو په قدمونوکی هم خطا راځی، نو شاید په دی وجه الله ﷻ په دی ځای کی ددی داهمیّت دزیاتولو په وجه په دی باندی بس والی وکی، چی دا خلگ دچا دملامت کولو پروا نه ساتی او خپل جهاد جاری ساتی.

په آخر آیت کی یی دا هم وښووله چی داصفتونه اوښه خویونه خاص دالله ﷻ انعام دی، هغه چی یی چاته چی وغواړی ورکوی یی، انسان محضی په خپل محنت اوکوشش سره بغیر دالله ﷻ دفضل څخه دا نه سی حاصلولی.

دآیت دالفاظو دتشریح څخه داواضحه سوه چی که په مسلمانانو کی څه خلگ مُرتدهم سی نودینِ اسلام ته هیڅ نقصان نه سی رسولی بلکه ددی دحفاظت اوکومك دپاره به الله ﷻ دیواعلی اخلاقو اوعملونو ټولی راپورته کړی.

جمهورو مفسرینو رحمهم الله فرمایلی دی چی دا آیت په حقیقت کی دراتلونکی فتنی پیش گویی او ددی په همّت سره دمقابله کوونکو اوکامیابیدونکو ټولی دپاره زیری دی، راتلونکی هغه فتنه دارتداد ده چی دهغی یوڅه زهر دنبوّت دزمانی په بالکل آخری وخت کی ښوریدل شروع سوی وه، او بیادنبی کریم ﷺ تروفات وروسته خپاره سول، دعربو په ټوله جزیره کی ددی طوفان راپورته سو اودغه زیری ورکړل سوی دصحابه وو ﷺ هغه ټولی وه، کومو چی دخلیفه اول حضرت ابوبکرِ صدیق اکبر ﷺ په ملگرتیا کی ددی فتنی دارتداد مقابله وکړه.

واقعات دا وه چی تر ټولو مخکی مسیلمه کذّاب دنبی کریم ﷺ دشریك نبوّت دعوه وکړه او دومره زړه ورتیا یی وکړه چی دده ﷺ قاصدانو ته یی داوویل اوواپس یی کړل چی که دتبلیغ او اصلاح په مصلحت سره داقانون عام نه وای چی قاصدان اوسفیران نه وژل کیږی، نو ما به تاسی قتل کړی وای، مسیلمه په

خپله دعوه کی کذّاب (یعني ډير درواغجن) وو، بیاده ﷺ ته دده په خلاف دجهاد موقع ونه رسیده تردی چی دی ﷺ وفات سو.

دغه ډول په یمن کی دمذجج دقبیلی سردار اسود عنسی دخپل نبوّت اعلان وکی، نبی کریم ﷺ دخپل طرف څخه دیمن مقرر کړی حاکم ته دده سره دمقابلی کولو حکم ورکی، مگرپه کمه شپه کی چی یی دی قتل کی، ددی په راتلونکی ورځ کی نبی کریم ﷺ وفات سو، صحابه کرامو ؓ ته ددی خبر دربیع الاول په آخر کی را ورسیدی، دغه ډول واقعه په بنو اسد قبیله کی پیښه سوه، چی د دوی سردار طلحه بن خویلد په خپله دخپل نبوّت دعوه کوونکی سو.

ددی دروسرو قبیلو داجماعتونه خودنبی کریم ﷺ دوفات په مرض کی مُرتدسوی وه، او دده ﷺ دوفات دخبر په اوریدو سره ددی مُرتد کیدو دی فتنی دطوفان شکل اختیار کی، دعربو اووه ۷ قبیلی په مختلفو ځایونو کی داسلام او داسلامی حکومت څخه واوښتلی، او دهمدغه وخت خلیفه حضرت صدیقِ اکبر ؓ ته یی دزکٰوة ورکولو څخه انکار وکی.

دسرورِ کائنات ﷺ تروفات وروسته دملك اوملت ذمه واری داولنی خلیفه حضرت صدیقِ اکبر ؓ پرغاړه سوه، یوی خواته پردی حضراتو داغمجنه عظیمه حادثه اوبل لوری ته دفتنو اوبغاوتونو سیلاب، حضرت عائشه صدیقه ؓ فرمایی چی دنبی کریم ﷺ تروفات وروسته چی کومه صدمه (غم اوتکلیف) زما په پلار حضرت صدیق اکبر ؓ باندی راغلی که دا په یوه محکمه غره باندی راغلی وای نو ذری ذری به سوی وای، مگر الله ﷻ ده ته دصبر اوثابت قدمی هغه لوړ مقام ورکړی ووچی دټولو آفتونو او مصیبتونو سره یی ښه په همّت اوثابت قدمی سره مقابله وکړه اوآخر داچی کامیاب سو.

دا ښکاره خبره ده چی دبغاوتونو مقابله په طاقت استعمالولوسره کول کیږی، لیکن حالات دومره نازك حدته رسیدلی وه، چی صدیق اکبر ؓ دصحابه کرامو ؓ سره مشوره وکړه، نو هیچا ورته دارایه ورنه کړه چی په دی وخت کی دی دبغاوتونو په مقابله کی سخت قدم پورته کړل سی، بیره داوه چی که په دی وخت کی صحابه کرام ؓ په کورنی جنگ کی مشغول سی، نودباندنی طاقتونه به پردی اسلامی ملك حمله وکړی، لیکن الله ﷻ دخپل صدیق ؓ زړه ددی جهاد دپاره محکم کی اوده ؓ دصحابه کرامو ؓ په وړاندی یوه داسی بلیغه خطبه ورکړه چی دی جهاد ته د دوی سینی هم خلاصی سوی، داخطبه ده په ډیرعزم اوثابت قدمی سره په دی الفاظو کی وفرمایله.

(کوم خلگ چی ترمسلمانیدو وروسته دنبی کریم ﷺ دورکړو احکامو او اسلامی قانون څخه انکار کوی نو زما فرض دی چی زه د دوی خلاف جهاد وکړم، که زما مقابلی ته ټول پیریان او انسانان او ددنیا درختی او ډبری ټول جمع کړل سی او هیڅوك زما ملگری نه وی، خو بیا به هم زه یوازی په خپل ځان د اجهاد سرته رسوم)

دا یی وفرمایل، په آس سپور سو او روان سو، دغه وخت صحابه کرام ؓ راوړاندی سول اوصدیقِ اکبر ؓ یی په خپل ځای کښینوی، په مختلفو محاذونو دمختلفو حضراتو دروانیدو نقشه تیاره سوه.

په دی وجه حضرت علی ؓ، حسن بصری، ضحاك، قتادة اونورو جمهورو مفسرينو رحمهم الله فرمايی چی دا آيت دحضرت ابوبکر صديق ؓ او دده دملګرو په باره کی راغلی دی ، هم دی ترټولو مخکی ددی قوم مصداق ثابت سو دکوم چی دالله ﷻ دطرفه څخه دعمل ميدان ته دراوستو په دی ذکرسوی آيت کی ارشاد دی مګر دا خبره ددی نفی نه کوی چی کوم بل جماعت دي هم ددی آيت شريف مصداق وی، په دی وجه کومو حضراتو چی ددی آيت مصداق ابوموسیٰ اشعری ؓ يانور صحابه کرام ؓ مقرر کړی دی ، هغه هم ددی څخه مخالفه نه ده، بلکه صحيح داده چی داټول حضرات بلکه ترقيامته پوری راتلونکی هغه مسلمانان چی دقرآن دهدایاتو مطابق دکفر اوارتداد مقابله کوی، ددی آيت په مصداق کی به داخل وی ، په هرحال دصحابه کرامو ؓ يوه ټولی دحضرت صديق اکبر ؓ ترهدايت لاندی ددی مُرتد کيدونکو دفتنی په مقابله کی راپورته سوه، حضرت خالدبن وليد ؓ ته يی يو لوی لښکر ورکی دمسيلمه کذاب دمقابلی دپاره يی يمامی ته روان کی، هلته دمسيلمه کذاب ټولی يوښه زيات طاقت نيولی وو ، سخت جنګ وسو او آخر مسيلمه کذّاب دحضرت وحشی ؓ دلاسه څخه مړ کړل سو او نوره ډله يی ټوله توبه ګاره سوه بيا دمسلمانانو سره يوځای سوه .

دغه ډول دطلحه بن خويلد مقابلی ته هم حضرت خالدبن وليد ؓ تشريف يووړی هغه وتښتيدی يو ځای دباندی ولاړی او بيا ورته الله ﷻ خود بخوده بيرته داسلام توفيق ورکی او مسلمان سو، بيرته راغی .

دحضرت صديق اکبر ؓ دخلافت په اولنی مياشت دربيع الاول په آخرکی دا سود عنسی دقتل اودهغه دقوم دفرمانبرداره کيدو خبر راورسيدی اوداخبر ترټولو اول دفتح خبرو کوم چی صديق اکبر ؓ ته په دی حالاتوکی رارسيدلی وو ، دغه ډول دنورو قبيلو کوموچی زکوتونه منع کړی وه، دهغوی په مقابله کی هم پرهر محاذ باندی الله ﷻ صحابه کرامو ؓ ته ښکاره فتح ورکړه .

دغه ډول دالله ﷻ دا ارشاد چی د دريم آيت په آخر کی ذکر دی ، ﴿فَإِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْغَالِبُونَ﴾ يعنی دالله ﷻ والا ټولی به غالبه وی ، ددی عملی تفسير دنياپه سترګو سره وليدی ، اوکله چی دتاريخی او واقعاتی رنګ په شکل کی داخبره په واضح ډول سره ثابته ده، چی دنبی کريم ﷺ تر وفات وروسته دعربو په قبيلو کی دارتداد فتنه خپره سوه اوالله ﷻ چی د دوی دمقابلی دپاره کوم قوم راپوته کی ، هغه صديق اکبر ؓ او دده ملګری صحابه کرام ؓ وه ، نو ددی آيت څخه دا هم ثابته سوه چی کوم صفتونه ددی ټولی الله ﷻ په قرآن کريم کی بيان کړی دی هغه ټول په صديق اکبر ؓ او دده په ملګرو صحابه کرامو ؓ کی موجود وه .

اول دا چی الله ﷻ د دوی سره محبت کوی ، دوهم دا چی دوی دالله ﷻ سره محبت کوی ، دريم دا چی دا ټول حضرات دمسلمانانو په معامله کی ډير نرم دی او دکفارو په مقابله کی ډير تيز، څلورم دا چی د دوی جهاد صحيح دالله ﷻ په لاره کی وو، په دی کی دوی ديوچا ملامتی اونورو پروانه ده کړی .

په آخر آيت کی يی دا حقيقت واضح کی چی دا ټول کمالی صفتونه اوبيا د دوی په خپل وخت استعمال ، بيادی په ذريعه په اسلامی مهم (مشن) کی کاميابی داټول شيان هسی دتدبير، طاقت ياټولی په بنياد سره نه سی حاصليدی بلکه دامحضی دالله ﷻ فضل دی هغه چی يی چا ته وغواړی دانعمت ورته ورکوی

Maktaba Tul Ishaat.com

په تیرو څلورو آیتونوکی یی مسلمانان دکافرانو سره دژوری دوستی ساتلو څخه منع کړی وه ، په پنځم آیت کی یی په مُثبت انداز کی دا وښوله چی دمسلمانانو ژوری دوستی اوملګرتیا چی دچاسره کیدی سی، هغه څوك دی؟ په دی کی ترټولو اول دالله ﷻ اوبیا دهغه درسول ﷺ ذکر دی ، چی په حقیقت کی دمؤمن دوست اوملګری هروخت اوپه هرحال کی الله ﷻ دی ، اوهم دی کیدی سی اودالله ﷻ دتعلق څخه ماسوا هرتعلق اودوستی فانی ده اودنبی کریم ﷺ سره تعلق هم په حقیقت کی دالله ﷻ سره تعلق دی ددی څخه جلا په دریم نمبرکی دمسلمانانو ملګری اومخلص دوستان هغه مسلمانان دی چی یوازی په نامه سره مسلمانان نه دی، بلکه ریښتینی مسلمانان دی، چی دهغوی دری صفتونه اونښانی یی دا وښوولی.

وَالَّذِيْنَ آمَنُوا الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ رَاكِعُوْنَ : اول دا چی دوی لمونځ دپوره آدابو اوشرطونو سره په پابندی کوی ، دوهم داچی دخپلو مالونو څخه زکوٰة اداکوی ، دریم داچی دغه خلګ تواضع اوعاجزی کوونکی دی ، په خپلو نیکیو باندی ناز اوتکبّر نه کوی.

ددی آیت دریمه جُمله : وَهُمْ رَاكِعُوْنَ ده ، دلفظ درکوع ډیر مطلبونه کیدی سی، په دی وجه دتفسیرپه امامانوکی ځینو فرمایلی دی چی درکوع څخه مراد دلته اصطلاحی رکوع ده، چی دلمانځه یورکن دی، اوتر : يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وروسته د وَهُمْ رَاكِعُوْنَ دجملی راوړلو دامطلب دی چی دمسلمانانو لمونځ دنورو ډلودلمونځ څخه جلاکړل سی، ځکه چی لمونځ خویهود اونصاراهم کوی، مګرپه هغه کی رکوع نه وی، رکوع یوازی داسلامی لمانځه یوامتیازی صفت دی (مظهری)

مګر جمهور مفسّرین رحمهم الله فرمایی چی دلفظ درکوع څخه اصطلاحی رکوع مرادنه ده بلکه ددی لغوی معنی مراده ده یعنی کښته کیدل، تواضع، عاجزی اوکمینه خویی کول، په تفسیر بحرمحیط کی ابوحیان رحمه الله اوپه تفسیر کشاف کی زمخشری رحمه الله دامعنی اختیار کړی ده اوپه تفسیر مظهری اوبیان القرآن اونوروکی هم دا اخیستل سوی ده ، نو معنی ددی جملی دا سوه چی داخلګ په خپلو نیکو عملونو باندی ناز نه کوی ، بلکه تواضع اوعاجزی د دوی خوی دی.

اوپه ځینو روایتونوکی دی چی داجمله دحضرت علی رضی الله عنه په باره کی دیوی واقعی په اړوند نازله سوی ده هغه دا چی یوه ورځ حضرت علی مرتضیٰ رضی الله عنه په لمانځه کی مشغول وو ، کله چی دی رکوع ته ولاړی نویو سوال کوونکی راغی سوال یی ورڅخه وکی، ده درکوع په دی حالت کی دخپلی یوی ګوتی څخه ګوتمی وایستله، هغه ته یی ور وغورځوله، دغریب اوفقیر په حاجت پوره کولوکی یی دومره وخت تیرول هم نه خوښول چی دلمانځه څخه فارغ سی دهغه ضرورت پوره کړی، داپه خیرات کی وړاندی کیدل دالله ﷻ په نزد ډیر بهتره راغله اوددی جملی په ذریعه یی دده عزت افزایی (زیاتونه) وکړه.

ددی روایت په سندکی دعالمانو اوحدیث بیانوونکو خبری سته، لیکن که روایت صحیح وګڼل سی نوحاصل به یی داوی چی دمسلمانانو دژوری دوستی لائق دلمانځه اوزکوٰة پابند عام مسلمانان دی، اوپه دی کی په خصوصیت سره حضرت علی رضی الله عنه ددی دوستی زیات لائق دی لکه چی په یوه بل حدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاددی ، مَنْ كُنْتُ مَوْلَاهُ فَعَلِيٌّ مَوْلَاهُ (رواه احمد ، ازمظهری)

Maktaba Tul Ishaat.com

يعني چي زه دچا دوست يم نوعلي ﷺ هم دهغه دوست دی .
اوپه يوه حديث کی دنبی کريم ﷺ ارشاد دی ، اَللّٰهُمَّ وَالِ مَنْ وَالَاهُ وَعَادِ مَنْ عَادَاهُ يعني يا الله ﷻ ته محبوب کړه هغه سړی چی محبت ساتی دعلی ﷺ سره اودښمن کړه هغه سړی چی دښمنی کوی دعلی مرتضٰی ﷺ سره حضرت علي ﷺ په دی خاص شرافت سره غالبًا ځکه لمانځل سوی دی چی نبی کريم ﷺ ته مخکی راتلونکی فتنه ښکاره سوی وه ، چی څه خلک به دحضرتِ علي ﷺ سره ورانی اودښمنی ساتی ، او دده ﷺ په مقابله کی به دبغاوت جنډه پورته کوی لکه چی دخوارجو په فتنه کی ددی ظهور وسو .
په هرحال دذکر سوی آيت نزول که ددی واقعی په اړوند سوی وی خوالفاظ دآيت عام دی چی ټولو صحابه کرامو ﷺ اوټولو مسلمانانو ته شامل دی ، دحکم په بناء سره په کښی ديوه نفر خصوصيت نسته ، په دی وجه کله چی چادحضرت امام باقر صاحب څخه پوښتنه وکړه چی په دی آيت کی د ، اَلَّذِينَ آمَنُوا څخه آيا حضرت علي ﷺ مراد دی؟ نو ده وفرمايل چی هغه هم په مؤمنانوکی دداخليدوپه وجه سره ددی آيت مصداق دی .
تردی وروسته په دوهم آيت کی ددغو خلګو دفتح اونصرت اوپردنيا باندی دغالبه راتلو زيری ورکړل سوی دی ، کم چی دذکرسوو آيتونوپه حکمونو عمل وکړی ، دغيرمسلموسره دژوری دوستی څخه ځان وساتی ، او يوازی الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ اوايمانداران خپل دوستان جوړکړی ، ارشاد فرمايی ، وَمَنْ يَتَوَلَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا فَاِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْغٰلِبُوْنَ په دی کی ارشاد فرمايی چی په دی خدايی حکمونو عمل کوونکی مسلمانان دالله ﷻ ډله ده اوبيا دا خوشخبری ورکوی چی دالله ﷻ ډله به آخرکار غالبه وی .
راتلونکو واقعاتو ددی تصديق وکی چی هر دسترګو خاوند وليدل چی صحابه کرام ﷺ په ټولو غالب راغلل ، کوم طاقت چی د دوی سره ټکر ووهی ، ذری ذری سو ، داولنی خليفه صديقِ اکبر ﷺ په مقابله دملك دننه فتنی اوبغاوتونه راپورته سول ، نوالله ﷻ دی په ټولو غالب کی ، دحضرت فاروقِ اعظم ﷺ په مقابله ددنيا ټول لوی لوی طاقتونه قيصر اوکسرٰی راغلل نوالله ﷻ دهغوی نوم اونښان ورك کی اوبياتردہ وروسته په خلفاوو او مسلمانانوکی ترڅو پوری چی ددی احکامو پابندی وه چی مسلمانانو دغيرو سره خلط ملط اوژوره دوستی اوتعلقات نه جوړول نو دوی هميشه کامياب اوفتح مندوه .
په شپږم آيت کی يی بياپه طور دتاکيد دا حکم دوباره فرمايلی دی کوم چی درکوع په شروع کی بيان سوی وو چی مطلب يی دا دی ، ای مؤمنانو! تاسی هغه خلک خپل ملګری يا ژور دوستان مه جوړوی کوم چی ستاسی په دين لوبی اوټوکی کوی اودادوی ډلی دی يواهلِ کتاب دوهم عام کافران اومشرکان .
امام ابوحيان ﷺ په بحرِمحيط کی فرمايی چی په لفظ دکفاروکی خواهلِ کتاب هم داخل وه ، بيايی په خصوصيّت سره داهلِ کتابوجلاذکر دلته ځکه وفرمايی ، چی اهلِ کتاب که څه هم چی په ښکاره په نسبت دنورو کفاروا سلام ته نژدی وه مګرپه تجربه سره معلومه سوه چی په دوی کی ډيروکمو خلګو اسلام قبول کی دغه وجه ده چی دزمانی درسالت اوتردی وروسته دايمان راوړونکو خلګو تعداد اوشميرته چی وکتل سی نوپه دی کی زيات شمير دعامو کفارو دی ، داهلِ کتابو څخه دمسلمانيدونکو شمير ډير کم دی .

او وجه ددی دا ده چی اهلِ کتاب په دی نازیږی چی مونږ ددینِ الهٰی اوآسمانی کتاب پابندیو، دی
فخراو نازدوی دحق دقبلولو څخه لیری وساتل، اوپه مسلمانانو پوری دخندا اوټوکو معامله هم زیاتره
دوی وکړه ددی شرارتونو یوه واقعه هغه ده چی په اووم ۷ آیت کی داسی بیان سوی ده ، وَاِذَا نَادَیۡتُمۡ اِلَی
الصَّلٰوۃِ اتَّخَذُوۡهَا هُزُوًا وَّلَعِبًا : یعنی کله چی مسلمانان دلمانځه دپاره آذان کوی نودا خلگ په دوی پوری ټوکی
کوی ، دا واقعه یی په حواله دابنِ ابی حاتم په تفسیر مظهری کی داسی نقل کړی ده چی په مدینه طیبه
کی یو نصرانی وو ، هغه چی به کله په آذان کی د ، اَشۡهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوۡلُ اللّٰہِ لفظ اوریدی نو دا به یی ویل ،
اَحۡرَقَ اللّٰہُ الۡکَاذِبَ یعنی درواغجن دی الله وسوځی .
آخر دده داکلمه دده دټول خاندان دسوځلو اوخاوری کیدلوسبب جوړه سوه ، واقعه داسی وسوه چی
دشپی کله چی دی بیده کیدی نودده نوکر دیوضرورت دپاره اورکورته راوړی، ددی څخه یوبخړی
والوتی پرټوکر ولگیدی اودټولو تربیده کیدو وروسته هغه بل سو اوټول په جمع وسوځیدل ، ایره سول .
ددی آیت په آخرکی فرمایی ، ذٰلِکَ بِاَنَّهُمۡ قَوۡمٌ لَّا یَعۡقِلُوۡنَ یعنی دحق دین سره دمسخرو اوټوکو کولودا وجه ده
چی دا خلگ بی عقله دی ، په تفسیر مظهری کی قاضی ثنآء الله پانی پتی فرمایی ، چی الله ﷻ دوی ته
بی عقله فرمایلی دی حال دادی چی ددنیا په کارونو کی ددوی عقل اوپوهه خومشهوره ده، ددی څخه
معلومه سوه چی داسی کیدی سی چی یو انسان په یوه قسم کارونوکی هوښیار اوعقل مندوی، مگرپه
بل قسم کی یادی دعقل څخه کارنه اخلی یادده عقل ودغه طرف ته نه ځی، په دی وجه په دی کی بی قوف
اوبی عقله ثابتیږی، قرآن کریم دامضمون په بل آیت کی داسی فرمایلی دی .
یَعۡلَمُوۡنَ ظَاهِرًا مِّنَ الۡحَیٰوۃِ الدُّنۡیَا وَهُمۡ عَنِ الۡاٰخِرَۃِ هُمۡ غٰفِلُوۡنَ .
یعنی دا خلگ ددنیا دژوند په سرسری کارونوکی ښه پوه دی لیکن دانجام او آخرت څخه غافله دی .

قُلۡ یٰۤاَهۡلَ الۡکِتٰبِ هَلۡ تَنۡقِمُوۡنَ مِنَّاۤ اِلَّاۤ اَنۡ اٰمَنَّا بِاللّٰہِ وَمَاۤ اُنۡزِلَ
ته ووایه ای اهل کتابو ! څه ضد دی ستاسی زمونږ سره مگر دا چی مونږ ایمان راوړی دی په الله اوپه هغه

اِلَیۡنَا وَمَاۤ اُنۡزِلَ مِنۡ قَبۡلُ ۙ وَاَنَّ اَکۡثَرَکُمۡ فٰسِقُوۡنَ ﴿۵۹﴾ قُلۡ هَلۡ
چی مونږته نازل سوی دی اوپه هغه چی مخکی نازل سوی دی او دا چی په تاسی کی ډیرفاسقان دی ، ووایه چی زه

اُنَبِّئُکُمۡ بِشَرٍّ مِّنۡ ذٰلِکَ مَثُوۡبَۃً عِنۡدَ اللّٰہِ ؕ مَنۡ لَّعَنَهُ اللّٰہُ وَغَضِبَ
تاسی ته وښییم چی په دوی کی دچا بده جزا ده د الله په نزد ، هم هغه په چاچی الله لعنت اوغضب کړی دی

عَلَیۡهِ وَجَعَلَ مِنۡهُمُ الۡقِرَدَۃَ وَالۡخَنَازِیۡرَ وَعَبَدَ الطَّاغُوۡتَ ؕ
او په دوی کی یی ځینی بیزوگیان کړل اوځینی خنزران ، او چا چی بندگی وکړه دشیطان

Maktaba Tul Ishaat.com

أُولَٰئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضَلُّ عَن سَوَاءِ السَّبِيلِ ﴿٦٠﴾ وَإِذَا جَاءُوكُمْ

دغه خلق بدتر دي په درجه کې او ډېر غلط سوي دي دسيده لارې څخه ، اوکله چې راسي تاسې ته

قَالُوا آمَنَّا وَقَد دَّخَلُوا بِالْكُفْرِ وَهُمْ قَدْ خَرَجُوا بِهِ ۚ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا يَكْتُمُونَ ﴿٦١﴾

نو وايي چې مونږ ايمان راوړی دی او حال دا دی چې کافر راغلي دي او کافران ولاړل ، او الله ته ښه معلوم دي هغه چې دوی پټ کړي وو.

تفسير: ته ووايه چې اې اهل کتابو تاسې په مونږ کې کوم عيب وينې بغير دَدي څخه چې مونږ ايمان راوړی دی په الله اودهغه په کتاب چې مونږته رالېږل سوی دی (يعنې قرآن) او په هغو کتابونو (هم) کم چې (ترمونږ) مخکې رالېږل سوي دي (يعنې ستاسې کتابونه تورات اوانجيل) سره ددې چې په تاسې کې اکثره خلگ دايمان څخه خارج دي (چې نه په قرآن ددوی ايمان دی چې په خپله يې دوی هم اقرار کوي اونه په تورات اوانجيل يې ايمان دی ځکه چې که په دوی يې ايمان واى نوپه دغوکې خوپه نبي کريم ﷺ اوقرآن دايمان راوړلو هدايت موجود دی نوپه دی به يې هم خامخا ايمان راوړی، دقرآن څخه انکار پردې شاهد دی چې په تورات اوانجيل هم ددوی ايمان نسته، داحال خوستاسې دخلگو سو اومونږ ددې په خلاف په ټولو کتابونو ايمان لرو، نوعيب په مونږکې نه دی، په خپله په تاسې کې دی، فکروکړی) اوته ﷺ دوی ته ووايه چې (که پردې سربيره بياهم تاسې زمونږطريقه بده ګڼئ نوراسئ) آيا زه (په ښه اوبدکې دموازنې کولودپاره) تاسې ته يوه داسې طريقه ونه ښيم چې (زمونږ) تردې (طريقې) هم (کمه چې تاسې بده ګڼئ) دخداى په نزدپه سزا رسيدوکې زياته بيکاره وي دغه دهغو خلگو طريقه ده کم چې (ددې طريقې په وجه) الله ﷻ دخپل رحمت څخه ليرې کړي اوپردوی يې غضب کړی وی اوددوی څخه يې بيزوګيان اوخنزيران جوړکړي وي اوددوی دشيطان عبادت کړی وی (اوس وګورئ چې په دوی کې کومه طريقه بيکاره ده آيا هغه طريقه په کومه کې چې دغيرالله عبادت اوپه هغه داګناه راغلې وي ياهغه طريقه کومه چې سراسر توحيد اودپيغمبرانو دنبوّت تصديق وي، يقيناً دموازنې نتيجه داده چې) داسې خلگ (دڅاطريقه چې اوس ذکرکړل سوه، په آخرت کې) دمکان په اعتبار سره هم (کم چې به دوی ته دسزاپه شکل سره ورکول کيږي) ډېر بيکاره دي (ځکه چې دامکان دوږخ دی) او (په دنياکې) دسيده لارې څخه هم ډېر ليرې دي (اشاره داده چې تاسې خلگ په مونږ پورې خاندی اوحال دادی چې دخندا قابله خو ستاسې طريقه ده، ځکه چې داټول خصلتونه په تاسې کې ليدل کيږي چې يهودو دګيلګی عبادت وکی، اونصاراوودحضرت مسيح ﷺ څخه خداى جوړکی بيايې خپلو عالمانو اوشيخانوته دخدايي اختيارات وسپارل، په دې وجه يهودوچې کله دشنبې دورځې داحکامو خلاف ورزی وکړه نودالله ﷻ عذاب ورباندې راغی او د دوی څخه يې بيزوګيان جوړکړل او دنصاراؤ په غوښتنه باندې دآسمان څخه مائدة (دوډی) نازليدل شروع سول نودوی بياهم ناشکری وکړه نوددوی څخه بيزوګيان اوخنزيران جوړسول،

مخ ته ددوی دیوی خاصی ټولی ذکر دی ، چی منافقان وه ، چی دمسلمانانو په مخکی به یی داسلام اظهار کوی او په زړه کی یهودیان وه) او کله چی دا (منافقان) خلګ ستاسی خواته راځی نووایی چی مونږ ایمان راوړی دی، حال دادی چی دوی دکفر سره (دمسلمانانو مجلس ته) راغلی وه او دکفر سره بیرته ولاړل او الله ﷻ ښه پیژنی هغه چی دوی یی (په خپل زړه کی) پټوی (په دی وجه ددوی نفاق دالله ﷻ په وړاندی کار نه سی کولی او دکفردا بد ترینه سزا به وینی)

معلومات اومسئلي: په اَكْثَرَكُمْ فٰسِقُوْنَ کی الله ﷻ یهودو اونصاراووته په خطاب کی دټولو پرځای اکثره دایمان څخه خارج فرمایلی دی، ددی وجه داده چی په دوی کی څه خلګ داسی هم وه چی په هرحال کی مؤمنان پاته سوی دی، ترڅو پوری چی دنبی کریم ﷺ بعثت نه ووسوی دوی دتورات اوانجیل داحکامو تابع وه او په دوی باندی یی ایمان وو ، کله چی نبی کریم ﷺ مبعوث سو او قرآن نازل سو ، نوپرده ﷺ یی هم ایمان راوړی او خپل عمل یی دقرآن تابع کی . ـــــــــــ

په تبلیغ او دعوت کي دمخاطب لحاظ : دلته په قُلْ هَلْ اُنَبِّئُكُم کی چی یی کوم حال دیوه مثال په اندازکی دداسی خلګوبیان کړی دی په کومو چی دالله ﷻ لعنت اوغضب دی ،ددی مصداق په حقیقت کی هم دغه مخاطب وو ، ددی ځای ووچی پردوی یی دا الزام لګولی وای چی تاسی داسی یاست، لیکن قرآن کریم دبیان طرزبدل کی دیوه مثال په صورت کی یی بیان کی چی په دی کی یی دپیغمبرانو ددعوت یوه خاصه طریقه وښوده، چی دبیان عنوان داسی اختیارول پکاردی، چی مخاطب ورباندی په غصه کیږی نه .

وَتَرٰى كَثِيْرًا مِّنْهُمْ يُسَارِعُوْنَ فِى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاَكْلِهِمُ السُّحْتَ ۭ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٦٢﴾ لَوْلَا

اوته به ووینی ډیرددوی څخه چی ځغلی په ګناه کی اوظلم باندی او په حرامو خوړو باندی ډیرناکاره کاردی کوم چی دوی کوی

يَنْهٰىهُمُ الرَّبّٰنِيُّوْنَ وَالْاَحْبَارُ عَنْ قَوْلِهِمُ الْاِثْمَ وَاَكْلِهِمُ السُّحْتَ ۭ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ﴿٦٣﴾

ولی نه منع کوی دوی د دوی شیخان اوعالمان دګناه دخبری ویلو اودحرامو خوړو څخه ډیر بدعمل دی کوم چی دوی کوی.

لنډتفسیر: اوتاسی به په دوی (یهودیانو) کی ډیر خلګ داسی وینئ چی ځغلی په ګناه (یعنی دروا غو) اوظلم اوحرام (مال) خوړلو باندی ورلوېږی واقعی داکار بیکاره دی (دا خو دعوامو حال دی مخ ته دخواصو حال دادی چی) دوی شیخان اوعالمان دګناه دخبرو دویلو څخه (سره ددی چی علم اومسئله اواطلاع دواقعی ورته سته) ولی نه منع کوی، واقعی د دوی داعادت بیکاره دی .

معلومات اومسئلي

(یهودو داخلاقو تباه حالي)

په ذکر سوو آیتونوکی په اول آیت کی اکثره دیهودو دغورځیدلو اخلاقو اودعمل دبربادی ذکردی، چی اوریدونکی ورڅخه نصیحت واخلی اوددی کارونو اوددی داسبابو څخه ځان وساتی .

که څه هم چی په عام ډول سره دیهودو داحال وو ، لیکن په دوی کی څه ښه خلګ هم وه، قرآن کریم ددوی دمستثنی کولو دپاره لفظ: دكَثِيْرًا استعمال کی اوظلم اوزیاتی اوحرام خوړی دواړه که څه هم چی په

Maktaba Tul Ishaat.com

لفظ داثمؔ یعنی دگناه په معنی کی داخل دی لیکن ددی دوارو قسمونو گناه تباه کاری اوددی په وجه سره دپوره امن او اطمینان دبربادی دښکاره کولو دپاره یی په خاص ډول سره ددوی ذکر جلاکی (بحرِ محیط) او په تفسیر روح المعانی اونورو کی دی چی ددی خلګو په اړوند په دی عنوان اختیارولو سره چی په منده پرګناهونو ورلویږی، قرآن کریم دی طرف ته اشاره وفرمایله چی داخلګ ددی بدو خویونو مجرمان دی اوددوی ددی بدو خویونو سره داسی عادت سوی دی، چی په رګونوکی یی داسی پیوست سوی دی، چی بی له کمی ارادی څخه هم داخلګ دغه طرف ته ځی .

ددی څخه معلومه سوه چی عمل نیك وی اوکه بد خوچی انسان یی ډیرکوی نوکرار کرار دادده یوه ملکه جوړه سی اوعادت یی سی، بیا ددی په کولوکې ده ته کم مشقت او تکلیف نه وی، په بدو خویونوکی یهودیان دی حدته رسیدلی وه، دی ته دښکاره کولو دپاره یی ارشاد وفرمایی ، يُسَارِعُوْنَ فِي الْاِثْمِ او دغه ډول په ښو خویونو کی دانبیاؤ او اولیاؤ حال دی ، د دوی په باره کی قرآن کریم د يُسَارِعُوْنَ فِي الْخَيْرَاتِ الفاظ استعمال کړی دی .

دعملونو داصلاح طریقه : ترټولو زیات دعملونو اصلاح کوونکی حضرات صوفیائی کرام ؒ او اولیآء الله دی ، دی حضراتو دقرآن ددی ارشاداتو څخه داهم اُصول را ایستلی دی چی څومره بدیاښه عملونه انسان کوی په اصل کی ددی اصلی سرچینه هغه پټ ملکات او اخلاق وی کم چی دانسان خوی اوعادت جوړ سی، په دی وجه دبدو عملونو اوجرمونو دبندولو دپاره ددوی نظر پردغو پټو ملکو باندی وی اوددی اصلاح کوی یعنی دخپل باطن اصلاح کوی چی باطن صحیح سی نورټول عملونه بیاپه خپله برابریږی، مثلاً دیوه سړی په زړه کی ددنیا دمال حرص زیات دی اوددی په وجه دی رشوت هم اخلی سودهم کوی اوکه موقع ورته پیداسی نوپرغلا اوډاکی باندی هم صبرنه کوی، صوفیاء کرام ؒ ددی جرمونو دجلا دجلا علاج کولو پرځای هغه نُسخه استعمالوی په کمی سره چی ددی ټولو جرمونو بنیاد ختمیږی، اوهغه ده ددنیا ناپائیداری اوددی ټولی خوشحالی په غم لړلی ځان ته مخامخ کول .

دغه ډول چی دچاپه زړه کی تکبّر اوغرور وی یادی دغُصی څخه مغلوبه وی اونور خلګ ورته سپك ښکاره کیږی، ددوستانو اوهمسایګانو سره په جنګ وی، داحضرات دآخرت فکر اودخدلی ﷻ په مخکی حاضریدل اوجواب ورکول ځان ته دمخامخ کولو نسخه استعمالوی چی په دی سره داکارونه خودبخوده ختمیږی .

لنډه دا چی دقرآن کریم ددی اشاری څخه معلومه سوه چی په انسان کی څه ملکی وی چی دغه دده خوی خصلت اوعادت جوړیږی، داملکی که دخیر اونیکی وی نونیك عمل په خپله دځانه کیږی دغه ډول که داملکی دبدی وی نوانسان دځانه دبدو عملونو طرف ته منډی وهی، دخپلی مکملی اصلاح دپاره اول ددی ملکو اصلاح ضروری ده .

(په عالمانو دعوامو دعملونو ذمه واری)

په دوهم آیت کی یی دیهودو شیخانو اوعالمانوته پر دی خبره سخت خبرداری ورکړی دی چی دوی دا

خلګ دبدو عملونو څخه ولې نه منع کوي، په قرآن کريم کې دلته دوه لفظونه استعمال سوي دي يو رَبَّانِيُّوْنَ چې ترجمه يې ده الله والا (يعنې خدايي) خلګ چې زمونږ په اصطلاح کې ورته شيخان اوپيران وايي، او دوهم لفظ دأحبَار دی، ديهودو عالمانوته احباروبل کيږي، ددې څخه معلومه سوه چې دامر بالمعروف اونهي عن المنکر (يعنې دنيکيو حکم کول اودبدو څخه منع کول) اصلي ذمه واري پردې دوو طبقو باندې ده يو شيخان اودوهم عالمان، اوځينې تفسير ليکونکي فرمايي چې د ربَّانيون څخه مراد هغه عالمان دي کوم چې دحکومت دطرفه څخه ماموره سوي دقدرت خاوندان وي، اوداحبار څخه مراد عام عالمان دي په دې صورت کې دجرمونو څخه دمنع کولو ذمه واري پرحاکمانو اوعالمانو دواړو باندې لوېږي، اوپه ځينو نورو آيتونوکې ددې وضاحت هم راغلی دی.

(دعالمانو او مشائخو دپاره خبرداری)

په آخر آيت کې فرمايي، لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَصْنَعُوْنَ يعنې ددې مشائخو اوعالمانو داسخت بيکاره عادت دی چې خپله اصلي وظيفه په نيکيو حکم او دبدو څخه منع نه کوي، قوم دهلاکت طرف ته تلونکي ويني اودوی يې نه منع کوي تفسير ليکونکي عالمان فرمايي: چې په اول آيت کې په کم کې چې دعوامو دغلطو کارونو ذکر وو، دهغه په آخرکې خويې، لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَعْمَلُوْنَ وفرمايل اوپه دوهم آيت کې په کم کې چې دشيخانو اوعالمانو پرغلطۍ باندې خبرداري ورکړل سوي دي ددې په آخر کې يې، لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَصْنَعُوْنَ وفرمايل، وجه دا ده چې دعربي ژبې په اعتبارسره لفظ دفعل خوهرکار ته شامل دی برابره خبره ده که په اراده سره وي اوکه بغير دارادې څخه وي، او لفظ دعمل يوازې هغه کارته ويل کيږي چې په قصد اواراده سره وسي اودلفظ دصُنع او صنعت اطلاق پرداسې کار باندې کيدی سي، چې په قصد اواختيار سره هم وي اووار واريي په ډول دعادت اومقصد برابروي اوکوي يې، په دې وجه دعوامو دبدعملۍ په نتيجه کې خويې يوازې لفظ دعمل اختيارکی لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَعْمَلُوْنَ اودخواصو شيخانو او عالمانو دغلط کارې په نتيجه کې يې لفظ دصُنع اختيار کی: لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَصْنَعُوْنَ په دې کې دې طرف ته اشاره کيدی سي چې دې عالمانو اوشيخانوته دامعلومه ده چې که مونږ دوی ددې غلطيو څخه منع کړو نودوی منع کيږي، او زمونږ خبره مني اوبياهم دوی دخلګو دشکرانوپه حرص کې ياپه دې وجه چې زمونږ څخه به بداعتقاده سي، ددوی په زړونوکې دحق دحمايت کولو جذبه نه پيدا کيده نو ددوی دا غلطه طريقه ددغو بدکارو تربدو عملونو هم زيات سخت دی.

ددې خلاصه دا سوه چې دکوم قوم خلګ په جُرمونو اوګناهونوکې اخته وي او د دوی عالمانو او شيخانو ته دا معلومه هم وي چې که مونږ دوی منع کوو نومنع کيدی سي، په داسې صورت کې که دوی دکوم حرص، لالچ يابيرې په وجه سره دوی دجرمونو اوګناهونو څخه نه منع کوي، نوددوی داجُرم داصلي مجرمانو ترجرم هم زيات سخت دی، په دې وجه حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ فرمايي چې دعلماؤ اوشيخانو دپاره په ټول قرآن کې تردې زياته سخته تنبيه (آګاهي اوخبرداري) هيڅ ځای نسته، اود تفسير امام ضحاك ﷺ فرمايلي دي چې زماپه نزد دعلماوو اوشيخانو دپاره دا آيت ترټولو زيات خوفناك دی

Maktaba Tul Ishaat.com

(ابن جرير اوابن كثير)
وجه دا ده چي ددې آيت په وجه سره ددوى جُرم دټولو غلاګانو اوډاكو اوهر قسم بدكاريو ترجرم هم زيات سختيږي (العياذ بالله) مګر داخبره دې ياده وي چي دا سخت والى اوزورنه په دې صورت كي ده كله چي دشيخانو اوعالمانو دايقين وي چي ددوى خبره منل كيږي اواوريدل كيږي اوكوم ځاى چي په تجربه سره داخبره معلومه وي چي څوك ددوى خبره نه اوري بلكه ده ته به آزاروررسيږي نوهلته داحكم دى چي ددوى ذمه واري اوس ساقطيږي، ليكن اعلى اوبهتره بياهم داده چي كه څوك يې مني اوكه يې نه مني خودوى دې خپل فرض ادا كوي اوپه دې كي دې دچادملامت كولو يا آزار رسولو څه فكردې نه كوي، بلكه چي يوڅو آيتونه مخكې دالله ﷺ دمقبولو مجاهدينو په صفتونو كي تيرسوي دي ، وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ يعني داخلګ دالله ﷺ په لاره اوپه حق ښكاره كولو كي ديوچا ملامتي كوونكي دملامتيا پروانه كوي.
لنډه دا چي كوم ځاى دخبرې اوريدلو اومنلو احتمال غالب وي، هلته پرشيخانو اوعالمانو بلكه پرهر يوه مسلمان چاته چي ددغه كارجُرم اوګناه والى معلوم وي، فرض دى چي دګناه بندولو اومنع كولو دخپل طاقت پرمطابق كوشش كوي برابره خبره ده كه په لاسونو وي اوكه په ژبه سره يالږ ترلږه دخپل زړه په نفرت كولو اوډډه كولوسره وي، اوكم ځاى چي غالب ګمان داوي چي دده خبره نه اوريدل كيږي يابه دده پرخلاف دښمني جوړه سي، نوپه داسي حالت كي منع كول اوبندول فرض نه دي، مګربهتره اواعلى پرهرحال دي، دنيكيو دحكم كولو اودبديو څخه دمنع كولو په اړوند داتفصيلات دصحيحو احاديثو څخه را اخيستل سوي دي، په خپله نيك عمل كول اودبدو څخه دځان ساتلوسره سره، نوروته هم دنيكي طرف ته هدايت اودبدى څخه دمنع كولو فرض په عامو مسلمانانو او خاص په علماؤ اوشيخانو باندي يې كښيښوى ، اسلام په دُنياكي دامن اواطمينان پيدا كولو يوداسي زرين اُصول جوړكړى دى چي كه په دې عمل شروع سي نوټول قوم به ډير په آساني سره دټولو بدو اوجُرمونو څخه پاك سي.

داُمّت داصلاح طريقه : داسلام په مخكنى دور اوپه وروسي دوركي ترڅو پوري چي په دې عمل كيدى، دمسلمانانو ټول قوم دعلم اوعمل اخلاقو اوكردارپه اعتبار سره په ټوله دنيا كي لوړ اوبهتره وو اودكومه راهيسي چي مسلمانانو دا فريضه پريښې ده ، اود جرمونو بندول يې يوازې دحكومت اودهغه دپوليسو فرض وګڼل، په خپله ددې څخه بې غوره سول نونتيجه يې داسوه چي نن هرځاى راپېښه ده چي مور اوپلار اوټول خاندان ديندار اودشريعت پابند دي، ليكن اولاد اونور اړوند كسان ددې برعكس دي ددوى دنظر اوفكر لارهم بدله ده اودعمل طريقي يې هم جلادي، په دې وجه په قرآن كريم كي اوپه احاديثوكي يې دملّت داجتماعي اصلاح دپاره پر امر بالمعروف اونهي عن المنكر (په نيكيو حكم كول اودبديو څخه منع كولو) باندي په خاص ډول سره زور وركړى دى، قرآن كريم داكار داُمّتِ محمّدي ﷺ په خصوصياتوكي شمار كړى دى اوددې خلاف ورزي كولوته يې سخته ګناه اودعذاب واجبونكي ويلي دي، په يوه حديث كي دنبي كريم ﷺ ارشاددى چي كله په يوه قوم كي دګناه كار كول كيږي اويو سړى په دې قوم كي اوسي اودغه ګناه نه منع كوي نونژدې ده چي الله ﷺ په دې ټولو خلګو

Maktaba Tul Ishaat.com

باندې عذاب راولیږي (بحر محیط)

(په ګناهونو باندې دنفرت په نه ښکاره کولو سره دعذاب وعده)

مالك بن دينار ﷫ فرمايي چې يو ځاى الله ﷻ خپلو ملايكوته حكم وكى چې فلانى كلى تباه كى، ملائكو عرض وكى چې په دې كلي كې خوستا فلانى عبادت ګذاره بنده هم دى، حكم ورته وسوچې ده ته هم عذاب وركى ځكه چې دى زما نافرمانى اوګناهونه ويني اوغصّه قدر لاهم نه ورته راځي اوده مخ پردې باندې په غصّه سره هم هيڅكله نه دى تريو سوى.

په حضرت يوشع بن نون ﷺ باندې الله ﷻ وحي وليږله چې ستادقوم يولك خلګ به په عذاب سره هلاك سي چې څلوېښت زره به پكښې نيكان وي اوشپيته زره بدعمله حضرت يوشع ﷺ عرض وكى چې ربّ العالمينه! دبد عملو دهلاكولو وجه خو ښكاره ده، ليكن نيكان خلګ ولې هلاك كړه كيږي؟ نو ارشاد وسوچې ددې نيكو خلګوهم ددې بدكردارو خلګوسره ددوستى تعلقات وه د دوى سره په خوراك، څيښاك اوګپو بنداروكى شريك وه، زما نافرمانى اوګناهونه به يي ليدل اوهيڅكله يي هم پرمخانو باندې دناخوښى تاثيرنه دى ښكاره سوى (داټول روايتونه دبحرِ محيط څخه نقل سوى دي)

وَقَالَتِ الْيَهُودُ يَدُ اللَّهِ مَغْلُولَةٌ غُلَّتْ أَيْدِيهِمْ وَلُعِنُوا بِمَا قَالُوا بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ

اوواييي يهوددالله لاسونه بندسول ددوى لاسونه دې بندسي اولعنت دې په دوى په دنياكې بلكه دهغه دواړه لاسونه خو خلاص

يُنفِقُ كَيْفَ يَشَاءُ وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم مَّا أُنزِلَ إِلَيْكَ

دې خرڅ كوي څنګه چې غواړي او په دوى كې ډيرو لره زياتيږي په دې كلام سره كوم چې په تا نازل سو ستا درب

مِن رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَكُفْرًا وَأَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ

دطرف څخه شرارت او انكار، او مونږ غورځولى ده په دوى كې دښمنى او بغض

إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ كُلَّمَا أَوْقَدُوا نَارًا لِّلْحَرْبِ أَطْفَأَهَا اللَّهُ

دقيامت ورځې پورې كله چې اوربل كړي دپاره دجنګ الله مړ كړي دا

وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ ﴿٦٤﴾

څغلي په ملك كې دپاره دفساد، او الله نه خوښوي فساد كوونكي.

وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْكِتَابِ آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ

او كه اهل كتابو ايمان راوړى او ېيره يي كولى نو مونږ به ليرې كړي واى د دوى څخه بدي ددوى

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَاَدۡخَلۡنٰهُمۡ جَنّٰتِ النَّعِيۡمِ ﴿٦٥﴾ وَلَوۡ اَنَّهُمۡ اَقَامُوا التَّوۡرٰىةَ

او داخل کړی به وای مونږ دوی باغونو دنعمت ته ، او که دوی قائم ساتلی تورات

وَالۡاِنۡجِيۡلَ وَمَاۤ اُنۡزِلَ اِلَيۡهِمۡ مِّنۡ رَّبِّهِمۡ لَاَكَلُوۡا مِنۡ فَوۡقِهِمۡ

او انجیل اوهغه چی نازل سو په دوی د دوی درب دطرف څخه خوړل به یی دخپل سربیره څخه

وَمِنۡ تَحۡتِ اَرۡجُلِهِمۡ ؕ مِنۡهُمۡ اُمَّةٌ مُّقۡتَصِدَةٌ ؕ وَكَثِيۡرٌ مِّنۡهُمۡ

او دخپلو پښو دلاندی څخه څه خلق دی په دوی کی په سیده لاره ، او ډیر په دوی کی

سَآءَ مَا يَعۡمَلُوۡنَ ﴿٦٦﴾ يٰۤاَيُّهَا الرَّسُوۡلُ بَلِّغۡ مَاۤ اُنۡزِلَ اِلَيۡكَ

خراب کارونه کوی ، ای رسوله ! رسوه څه چی په تا باندی نازل سو

مِنۡ رَّبِّكَ ؕ وَاِنۡ لَّمۡ تَفۡعَلۡ فَمَا بَلَّغۡتَ رِسَالَتَهٗ ؕ وَاللّٰهُ يَعۡصِمُكَ

درب ستا څخه ، او که داسی دی ونه کړل نو تا هیڅ ونه رسول دهغه پیغام او الله به ساتی تا

مِنَ النَّاسِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهۡدِى الۡقَوۡمَ الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿٦٧﴾

دخلقو څخه بیشکه لار نه ښیی قوم دکافرانو ته .

دآیتونوتړون: په تیرو آیتونو کی دیهودو دځینو حالاتو ذکروو مخکی په دی آیتونو کی نورهم ځینی خاص حالات بیان سوی دی، قصه داسی وسوه چی بناش بن قیس اوفخاص رئیس دقینقاع دیهودو دالله ﷻ په جناب کی بی باکه الفاظ دبُخل اونور وویل چی بیان یی مخ ته راځی، پردی باندی دا راتلونکی آیت نازل سو، دارنګه په لباب کی دی په روایت دطبرانی دابن عباس ؓ څخه اوپه روایت دابی الشیخ دده څخه.

لنډتفسیر: اویهودو وویل چی دالله ﷻ لاس بندسوی دی (یعنی نعوذ بالله بُخل یی شروع کړی دی، په حقیقت کی) ددوی لاس بندی دی (یعنی په واقع کې په خپله دبُخل په عیب کی اخته دی اوعیب پرخدای وراړوی) اودخپلی دی ویناپه وجه دوی د (دالله ﷻ د) رحمت څخه لیری کړل سول (چی ددی تاثیرپه دُنیاکی ذلت اوقید قتل اونور سول، اوپه آخرت کی ددوزخ عذاب اوداسی خوبالکل نه ده چی په الله ﷻ کی به ددی احتمال هم وی) بلکه دهغه خودواړه لاسونه خلاص دی (یعنی ډیرسخی اوکریم دی، لیکن حکیم هم دی، په دی وجه) څنګه چی غواړی خرڅ کوی (نوپر یهودوچی کمه تنګی راغلی ده ددی وجه حکمت دی چی مقصود ورڅخه په دوی باندی دکفر تاوان خوړل دی نه داچی وجه یی بُخل دی) او

Maktaba Tul Ishaat.com

(دیهودو دکفر اوسرکښی داحالت دی چی ددوی داتوفیق نسی کیدی، چی مثلاً دخپلی وینا باطلوالی یی په دلیل سره واوریدی نو اوس به ددی څخه توبه وکاړی داسی نه ده بلکه) کوم مضمون چی تاته ستا دپروردګار دطرفه څخه رالیږل کیږی دغه په دوی کی دډیرو دسرکښی اودکفر دترقی سبب جوړیږی (داسی چی دوی ددی څخه هم انکار کوی نوځه مخکښی کفر اوسرکښی وه بیانوره زیاته سوه) او (ددوی دکفر په وجه چی پردوی کم لعنت یعنی درحمت څخه لیری والی راغلی دی ددی دښبانو څخه یوه داده چی) مونږ ددوی په مینځ کی (ددین په باره کی) ترقیامته پوری دښمنی اوبُغض واچوی (نوپه دوی کی مختلفی فرقی دی، اوهره فرقه دبلی دښمنه، نودخپل مینځ ددښمنی اوبُغض په وجه سره) کله چی (دمسلمانانو سره) دجنګ اوربلول غواړی (یعنی دجنګ اراده کوی) نوالله ﷻ دغه مړ کوی (یعنی دجنګ اور وژنی یامرعوب سی یا وجنګیږی اومغلوب سی یادیوه بل داختلاف په وجه سره داتفاق نوبت نه راځی) او (کله چی دجنګ څخه پاته سی نوخپله دښمنی په بله طریقه سره وباسی چی) په ملك کی (په پټه) فساد کوی ګرځی (لکه نوی مسلمانان غولول، چغل خوری، اودتورات تحریف سوی مضمونونو عوامو ته اورول اوداسلام څخه یی منع کول) اوالله ﷻ فساد کوونکی خوښ نه ګڼی (یعنی غضب پرکوی په دی وجه ددی فسادبه دوی ته ډیره سزا ورکول کیږی، برابره خبره ده که په دنیاکی هم وی اوکه نه خوپه آخرت کی خوضرورده) اوکه دا اهلِ کتاب (یهود اونصارا چی دکومو حقو کارونو څخه منکردی لکه درسالتِ محمّدی ﷺ اوحق والی دقرآن څخه پردی ټولو) ایمان راوړی او (دنبی کریم ﷺ په واسطه چی دکومو کارونو کفر اوګناه والی ښوول سوی دی ددی ټولو څخه) تقوٰی (یعنی پرهیز) اختیارولای نومونږبه خامخا ددوی ټول (تیرسوی) بدعملونه (کفراو شرك اوګناهونه چی په دی کی ټولی خبری اوحالات راغلل) معاف کړی وای اوخامخابه مونږدوی دآرام په باغونوکی (یعنی جنت کی) داخل کړی وای (نودا خودآخرت برکتونه سول) اوکه دی خلګو (داذکر سوی ایمان اوتقوٰی اختیارولای چی په نورو لفظونوکی ورته داسی ویل کیږی چی) دتورات اوانجیل اوکم کتاب چی ددوی دربّ دطرفه څخه (اوس) دوی ته (په واسطه دنبی کریم ﷺ) لیږل سوی دی (یعنی قرآن) ددی یی پوره پابندی کولی (یعنی په دی کی چی یی دکومو کارونو دکولو لیکلی دی، په ټولو یی پوره عمل کولی، په دی کی درسالت تصدیق هم راغی او ددی څخه تحریف سوی اومنسوخ سوی احکام ووتل، ځکه چی ددی ټولو کتابونو مجموعه په دی عمل کول نه ښیی بلکه منع ورڅخه فرمایی) نو دی خلګوبه (په دی وجه چی) دلوړی خواڅخه (یعنی دآسمان څخه به اوبه اوریدی) او دلاندی څخه (یعنی دمځکی څخه به پیداوار کیدی) ښه په فراغت سره خوړله (استعمالوله، دادایمان ددُنیوی برکتونو ذکرسو، لیکن دوی په کفرپوری ومښتل، په دی وجه په تنګسا سره ونیول سول، چی په دی سره ځینو دالله ﷻ په شان کی دبُخل نسبت وکی بی باکی یی وکړه لیکن بیاهم ټول یهود اونصارا برابرنه دی) په دوی کی یوه ټولی پرسیده لاره تلونکی (هم) دهٔ (لکه په یهودوکی حضرت عبدالله ابن سلام اودده ملګری اوپه نصاراوکی نجاشی اودده ملګری لیکن داسی ډیرلږدی) او (باقی) زیات په دوی کی داسی دی چی ددوی کردار ډیر بیکاره دی (ځکه چی ترکفر

Maktaba Tul Ishaat.com

اوعنادبه زیات بیکاره کم کردار وی) ای رسوله (ﷺ) څه چی ستادرب دطرفه څخه پرتانازل سوی دی ته (خلگوته) ټول ورسوه اوکه (په فرض کولوسره دناممکنه) تا داسی ونه کړل نو (داسی به ګڼل کیږی لکه چی) تادالله ﷻ پیغام نه وی رسولی (څکه چی داټول مجموعه فرض دی نولکه څنګه چی دټولوپه پټولوسره دافرض فوتیږی دغه ډول دځینوپه پټولو سره هم دغه فرض فوت کیږی) او (دتبلیغ په باره کی دکفارو څخه هیڅ بیره مه کوه څکه چی) الله ﷻ تا دخلګو څخه (یعنی ددی څخه چی ستا مقابله وکړی ، قتل اوهلاك دي کی) محفوظ ساتی (او) یقیناً الله ﷻ کافرو خلګو ته (ستادقتل اوهلاکولو دپاره په دی ډول سره درارسیدو) لارنه ښیی .

معلومات اومسئلې: دیهودو دیوی سپین سترګې جواب: وَقَالَتِ الْيَهُودُ په دی آیت کی دیهودو دیوه سنګین جُرم اویو بدترینی کلمی ذکرسوی دی چی دوی کم بختو داسی وویل چی (معاذ الله) الله ﷻ تنګدسته سو .

واقعه دا وه چی الله ﷻ دمدینی یهود ډیر مالدار اوفراخی والا جوړ کړی وه ، مګرکله چی نبی کریم ﷺ مدینی منوری ته تشریف راوړی اودحضور ﷺ دعوت دوی ته ورسیدی، نودی ظالمانو دخپلی قومی سرداری اودخپلو جاهلی رواجونوپه وجه دحاصلیدونکو شکرانو په خاطر ددی حق دعوت څخه مخ واړوی اود نبی کریم ﷺ مخالفت یی وکی نو ددی په سزاکی الله ﷻ په دوی باندی دنیاهم تنګه کړه او دوی تنګ دسته سول ، نو په دی باندی ددی نالائقو دخُلو څخه داسی کلمات وتل شروع سول چی (معاذ الله) دخدای ﷻ په خزانه کی کمی راغلی یاالله ﷻ بخل اختیارکی ددی په جواب کی یی په دی آیت کی ارشاد وفرمایی چی لاسونه خوددی ویونکو بند دی اوپردوی لعنت دی، چی تاثیریی په آخرت کی عذاب اوپه دنیاکی دذلت اورسوایی په صورت کی به ښکاره سی، دالله ﷻ لاس خودهمیشه دپاره خلاص دی ، دده سخا اوکرم همیشه دی اوهمیشه به وی، مګرلکه څنګه چی هغه غنی اوفراخی والادی دغه ډول حکیم هم دی نوپه حکمت سره ددی مطابق خرڅ کوی، چاته چی مناسب ګڼی فراخی ورکوی اوپرچاچی مناسبه وګڼی تنګی اوتنګدستی پرراولی، بیافرمایی چی داسرکښه خلګ دی پرتاچی کم قرآنی واضح آیتونه نازلیږی ددی څخه دفائدی اخیستوپرځای ددوی کفراو انکار نورهم سختیږی اوالله ﷻ مسلمانانو لره ددوی دشر څخه دساتلو دپاره په خپله ددوی په ډلوکی سخت اختلاف غورځولی دی، چی ددی په وجه سره دوی نه دمسلمانانو سره په ډاګه جنګ کولی سی او نه د دوی کوم سازش چلیدی سی .

په كُلَّمَا اَوْقَدُوْا نَارًا لِّلْحَرْبِ اَطْفَاَهَا اللّٰهُ کی د ښکاره جنګ کولو ناکامی اوپه يَسْعَوْنَ فِی الْاَرْضِ فَسَادًا کی دپټو سازشونو دناکامی ذکردی .

(دالله ﷻ په حکمونو باندی پوره عمل کول په دُنیا کې هم دبرکتونو سبب دی)

په آیت نمبر۶۴ کی یهودوته هدایت وسوچی دتورات اوانجیل دهدایتونو اودانبیاؤ علیهم السلام دارشاداتو څخه دی خلګوکمه فائده وانه خیسته، ددُنیاپه حرص کی اخته سول هرڅه یی هیر کړل نوددی په نتیجه کی په دُنیاکی هم تنګدسته سول لیکن که اوس هم داخلګ ایمان اودخدای ﷻ څخه دبیری طریقی اختیارکړی نو مونږ به د دوی ټولی مخکنی خطاګانی معاف کړو او دوی ته به دنعمتونو څخه ډك باغونه ورکړو .

Maktaba Tul Ishaat.com

(دالله ﷻ په حکمونو باندی پوره عمل څنګه کیدی سي؟)

وَلَوْ اَنَّهُمْ اَقَامُوا التَّوْرٰىةَ په دی آیت کی ددی ایمان اودخدای ﷻ څخه دبیری څه تفصیل ذکر دی، په کوم چی یی ددُنیوی برکتونو آرام اوراحت وعده په تیر آیت کی کړیده اوتفصیل یی دادی چی تورات اوانجیل اوتردی وروسته کوم آخری کتاب قرآن چی رالیږل سوی دی، داقائم کړی، دلته دعمل کولو پرځای یی لفظ داقامت یعنی دقائم کولو راوړی، مراد دادی چی ددوی پرتعلیماتو باندی پوره پوره صحیح عمل به هلته وی چی نه پکښی کوتاهی اوکمی وی اونه زیاتی، لکه څنګه چی یوی ستنی ته ولاړه هغه وخت ویل کیږی کله چی هغه یوه طرف ته کږه نه وی، سیده ولاړه وی.

ددی خلاصهٔ دا سوه چی یهودکه نن هم دتورات اوانجیل او قرآن کریم په هدایاتو باندی ایمان راوړی اوپه دوی پوره پوره عمل دهدایاتو مطابق وکړی نه په عملی کوتاهی کی اخته وی اونه په غُلو او زیاتی کی، چی دځانه څخه جوړسوی شیان دین جوړکړی، نو دآخرت دوعده سوو نعمتونو مستحق به وی اوپه دُنیاکی به هم پردوی درزق دروازی داسی خلاصی کړل سی چی دلوړی خوا څخه بهورباندی رزق را اوریږی اودلاندی څخه به راخوټیږی، دلاندی او کښته څخه په ښکاره مراد دا دی چی په آسانی به ورته پرلپسی رزق رسیږي (تفسیر کبیر)

په لوړ آیت کی خو یوازی دآخرت دنعمتونو وعده وه، په دی آیت کی ددُنیوی آرام او راحت وعده هم په دیر تفصیل سره بیان سوی ده، ددی وجه به شاید داوی چی دیهودو دبد عملی اودتورات په حکمونوکی دادلون بدلون اوتاویلونو لویه وجه ددوی دنیا پرستی او دمال حرص وو، اودا هغه آفت وو چی دوی یی د قرآن کریم اونبی کریم ﷺ دښکاره آیتونو لیدلو سره سره دده ﷺ دحکم دمنلو څخه منع کړی وه، ددوی بیره داوه چی که مونږ مسلمانان سونو زمونږ دامشری به ختمه سی اوددینی پیشوایانوپه حیثیت سره چی کمی شکرانی اوتحفی مونږته راکول کیږی، ددی سلسله به بنده سی، الله ﷻ د دوی ددی وسوسی لیری کولودپاره داهم وعده وفرمایله چی که دوی په ریښتیاسره ایمان اونیك عمل اختیارکړی نوددوی ددنیا په دولت اوراحت کی به هم کوم کمی نه وی، بلکه زیات به لاوی.

دیوی شُبهي جواب: ددی تفصیل څخه دا هم معلومه سوه چی دا خاص وعده دهغو یهودیانو سره سوی وه کوم چی دنبی کریم ﷺ په وخت کی موجود او دده ﷺ مخاطب وه دوی که داحکمونه منلی وای، نوپه دنیا کی به هم دوی ته هرقسم راحت او نعمت ورکړل سوی وای، نوچی دغه وخت کومو حضراتو ایمان اونیك عمل اختیارکی، هغوی ته دانعمتونه پوره ورسیدل، لکه نجاشی دحبشو باچا اوعبدالله بن سلام ﷺ، ددی څخه دانه لازمیږی چی کله څوك دایمان اونیك عمل پابندسی نوپه دنیاکی به دده دپاره درزق فراخی ضروری وی اوکوم چی نه وی نو دهغه دپاره به درزق تنګی ضروری وی څکه چی دلته کومه عامه قاعده اوضابطه بیانول مقصودنه دی دیوی خاص ټولی سره په یوه خاص حالت کی وعده سوی ده.

البته په ایمان اونیك عمل باندی دعامی قاعدی اوضابطی په صورت کی دپاك ژوند رسیدو وعده عامه ده، مګر دا درزق دفراخی په صورت کی هم کیدی سی اود ښکاره تنګدستی په صورت کی هم، لکه

Maktaba Tul Ishaat.com

چې دانبیاوو علیهم السلام او اولیاوو علیهم السلام حالات پردې باندې شاهد دي، چې ټولو ته همیشه درزق فراخي
خورسیدلې نه ده، لیکن پاکیزه ژوند ټولو ته رسیدلی دی .
په آخر آیت کې یې دعدل او انصاف په تقاضاسره داهم وفرمایل چې کوم کوږوالي اوبدعملي دیهودو چې
بیان سوې ده ، دا حال دټولو یهودو نه دی ، بلکه ، مِنۡهُمۡ اُمَّةٌ مُّقۡتَصِدَةٌ په دوی کې یوه کوچنۍ ټولي په سیده
لاره باندې هم دي ، لیکنددوی اکثریت بدکاره بدعمله دي ، دسیده لارې کیدونکو څخه مراد هغه
خلګ دي چې مخکې یهودیان یانصرانیان وه ، بیایې په قرآن کریم او نبي کریم ﷺ باندې ایمان راوړی ،
په دې دوارو آیتونو کې اوتردې مخ ته په ورپسې دوو رکوعګانو کې دیهودو اونصاراؤ دکړیدو اوبې
لارې کیدو اوضد او داسلام په خلاف دسازشونو ذکر راروان وو .

(دتبلیغ تاکید او نبي کریم ﷺ ته تسلي)

دانساني طبیعت پرتقاضاکیدې سوای چې دنبي کریم ﷺ څخه دمایوسي یامجبورۍ په وجه سره په تبلیغ
یارسالت کې کمي راسي اودوهم اثرداهم کیدای سوای چې ده ﷺ دمخالفت اودښمنۍ دپروا کولو څخه
بغیرپه تبلیغ او رسالت کې اخته وي، اوددې په نتیجه کې ده ﷺ ته ددښمنانو دلاسه تکلیفونه او
مصیبتونه ورسیږي، په دې وجه په دریم آیت کې یې یوه طرف ته خو نبي کریم ﷺ ته دا تاکیدي حکم
ورکی چې څه تاته دالله ﷻ دطرفه څخه نازلول کیږي هغه ټولو خلګوته بغیر دکمي بیرې اوترهې څخه
ورسوه، که څوك یې بدګڼي اوکه ښه اوکه مخالفت کوي اوکه یې قبلوي اودوهم طرف ته یې نبي کریم ﷺ
ته داخوشخبري ورکړه اومطمئن یې هم کی چې دتبلیغ اورسالت په سلسله کې به دوی ستا هیڅ نه سي
خرابولی ، الله ﷻ به په خپله ستاحفاظت کوي .
په دې آیت کې یوه جمله خودادفکر قابله ده چې ، وَإِن لَّمۡ تَفۡعَلۡ فَمَا بَلَّغۡتَ رِسَالَتَهُ مراد ددې څخه دادی چې که
دخدای ﷻ یو حکم تا اُمّت ته ونه رسوی نوتابه دپیغمبرۍ فرض نه وي پوره کړی ، دا وجه ده چې نبي
کریم ﷺ ټول عُمرددې فرضوپه ادا کولو کې خپل ټول همّت اوقوت مصرف کی او دحجّة الوداع مشهوره
خطبه چې په یوه حیثیت سره داسلام یو دستور وو اوپه بل حیثیت سره دیوه مشفق اومهربانه اوترمور
اوپلار دزیات خوږمند پیغمبر ﷺ آخري وصیّت وو .

(دحجّة الوداع په موقع دنبي کریم ﷺ یو نصیحت)

په دې خطبه کې ده ﷺ دصحابه کرامو رضی الله عنهم دیوې لویې ټولي په وړاندې دیوه خاص هدایت فرمایلو څخه
وروسته ددې ټولي څخه سوال وکی ، اَلَا هَلۡ بَلَّغۡتُ وګورئ آیا ماتاسې ته دین ورسوی؟ صحابه کرامو رضی الله عنهم
اقرار وکی چې خامخادې راورسوی، نوحضور ﷺ ارشاد وفرمایي چې تاسې په دې باندې شاهدان سئ ،
ددې سره یې دا ارشاد هم وفرمایي چې ، فَلۡيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الۡغَائِبَ یعني کوم خلګ چې په دې مجمع کې حاضر
دي ، هغوی دې غائبوته زماخبره ورسوي ، په غائبو کې هغه خلګ هم دا خل دي کوم چې دغه وخت په
دنیا کې موجود وه ، لیکن په مجمع کې حاضر نه وه ، اوهغه خلګ په کښې هم دا خل دي ، چې لا پیدا
سوي نه وه ، دوی ته دپیغام رسولو طریقه ددین دعلم نشر اواشاعت وو ،کم چې صحابه رضی الله عنهم اوتابعینو

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷺ په پوره کوشش سره سرته ورسوی .

ددی داتاثیر وو چی په عامو حالاتو کی صحابه کرامو ﷺ دنبی کریم ﷺ ارشادات او کلمات دالله ﷻ د درنو امانتونو په شان وګڼل اوپه پوره طاقت سره یی داکوشش وکی چی دده دژبی څخه اوریدل کیدای سوای ، یوه جمله هم داسی پاته نه سی چی اُمّت ته ونه رسیږی که چیری یوچابه په یوه خاص سبب یامجبوری سره څه خاص حدیث خلګوته بیان نه کی نوترخپل مرګ مخکی به یی دوو یاځلورو کسانوته خامخا اوروی، ددی دپاره چی ددّی امانتونو څخه دده غاړه خلاصه سی، په صحیح بخاری کی دحضرت معاذ ﷺ دیوه حدیث په اړوند داسی واقعه نقل ده چی ، اَخْبَرَ بِهٖ مَعَاذُ عِنْدَ مَوْتِهٖ یعنی حضرت معاذ ﷺ داحدیث دخپل مرګ په وخت کی بیان کی، ددی دپاره چی دامانتونونه رسولو په وجه ګناهګار نه سی .

دآیت په دوهمه جمله ، وَاللّٰهُ یَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ کی زیری ورکړل سوی دی چی دزرګونو مخالفتونو سره سره هم دښمن تا (ﷺ) ته هیڅ نقصان نه سی رسولی .

په حدیث شریف کی دی چی ددی آیت دنازلیدو څخه مخکی به یوڅه صحابه کرام ﷺ دنبی کریم ﷺ دحفاظت دپاره په عام ډول سره ورسره وه اوپه کلی اوسفرکی به یی دده ﷺ حفاظت کوی ، ددی آیت ترنازلیدو وروسته ده ﷺ دوی ټول رخصت کړل، چی اوس دچا دپیری اوحفاظت کولو ضرورت پاته نه سو ، الله ﷻ دا کار په خپله ذمه اخیستی دی .

په یوه حدیث کی دحضرت حسن ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، چی کله ماته دتبلیغ اورسالت حکمونه ورسیدل نوزماپه زړه کی ددی لوی هیبت ووچی دهرطرفه څخه به خلق زما دروغجنوالی اومخالفت کوی، بیا چی کله دا آیت نازل سوه نو سکون اواطمینان راته حاصل سو (تفسیر کبیر)

نو ددی آیت ترنازلیدو وروسته دهیچا طاقت نه ووچی دتبلیغ اورسالت په مقابله کی نبی کریم ﷺ ته کوم آزار ورسوی ، په جنګ اوجهادکی په عارضی ډول سره یو تکلیف او سختی رسیدل ددی منافی نه دی .

قُلْ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ لَسْتُمْ عَلٰى شَیْءٍ حَتّٰى تُقِيْمُوا التَّوْرٰىةَ وَ الْاِنْجِيْلَ وَ

ووایه چی ای اهل کتابو ! تاسی په هیڅ لاری نه یاست ترڅوچی قائم نه کړی تورات او انجیل

مَاۤ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ ؕ وَ لَيَزِيْدَنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ مَّاۤ اُنْزِلَ اِلَيْكَ

او څه چی په تاسی نازل سو ستاسی درب دطرف څخه ، اوزیاتیږی دیرولره د دوی څخه په دی کلام سره کوم

مِنْ رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَّ كُفْرًا ۚ فَلَا تَاْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۶۸﴾ اِنَّ

چی په په تانازل سوی دی ستادرب دطرف څخه شرارت اوکفر نو ته ﷺ افسوس مه کوه په دی قوم کافرانوباندی

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ الَّذِيْنَ هَادُوْا وَ الصّٰبِـُٔوْنَ وَ النَّصٰرٰى مَنْ

بیشکه کوم چی مسلمانان دی او کوم چی یهودیان دی اوفرقه صابی او نصارا کوم

Maktaba Tul Ishaat.com

اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٦٩﴾

چې ایمان راوړی په الله او په ورځ دقیامت او عمل کوی نیك نه به په دوی بیره وی او نه به غمجن وی

دآیتونوتړون: لوړ اهلِ کتابو ته داسلام ترغیب وو، مخ ته د دوی په موجوده طریقه باندی دکمی چې دوی دحقوالی دعوه کوله دالله ﷻ په نزد دبیکاره والی او دنجات دپاره یی دنه پوره والی او پر اسلام باندی دنجات دموقوف والی ذکر دی او تر دی وروسته هم نبی کریم ﷺ ته ددوی پر کفر باندی دپاته کیدو په وجه دتسلی دمضمون ارشاد فرمایی او په مینځ کی په یوه خاص مناسبت او ضرورت سره دتبلیغ مضمون راغلی وو.

لنډتفسیر: ته (دی یهودو اونصاراؤ ته) ووایه چې ای اهل کتابو تاسی په هیڅ لاره باندی هم نه یاست (څکه چې پرنامقبوله لارکیدل په مثال دبی لاری کیدو دی) ترڅوچې دتورات او انجیل او کوم کتاب چې (اوس) تاسی ته (په واسطه درسول الله ﷺ ستاسی درب دطرفه څخه رالیږل سوی دی (یعنی قرآن) ددی هم پوره پابندی ونه کړی (چې دهغه معنی، ترغیب اوبرکتونه لوړ ذکرسوی دی) او (ای محمّد ﷺ چې کله په دوی کی اکثره خلگ په بیکاره دښمنی کی اخته دی په دی وجه دا) خامخا (ده چې) کوم مضمون تاته ستا درب دطرفه څخه رالیږل کیږی، هغه په دوی کی ډیرو دسرکښی او کفر دزیاتیدو سبب جوړیږی (او په دی کی ممکنه ده چې تاته تکلیف اوغم وی، لیکن کله چې دامعلومه سوه چې دا خلگ تعصّب کوونکی دی) نو ته ددی کافرو خلگو (پردی حالت) غم مه کوه دا تحقیقی خبره ده چې یهودیان اوفرقه دصآئبینو اونصاراوو (په دی ټولو کی) کم سړی چې یقین لری په الله (په ذات اوصفاتو) باندی او په قیامت باندی اونیک عمل کوی (یعنی دشرعی قانون موافق) په داسی خلگو باندی (په آخرت کی) به نه څه قسم بیره وی اونه به دوی غمجن وی.

معلومات اومسئلې (اهلِ کتابو ته دالله ﷻ دشریعت دتابعداری ښوونه)

په اول آیت کی یی اهل کتابو یهودو اونصاراؤ ته دالله ﷻ دشریعت دتابعداری هدایت (ښوونه) په دی عنوان سره وفرمایل سوه چې که تاسی دشریعت پابندی ونه کړه نو تاسی هیڅ نه یاست، مطلب دا دی چې داسلامی شریعت دپابندی څخه بغیر ستاسی ټول کمالونه اوعملونه عبث دی، تاسی ته الله ﷻ یو فطری کمال دا درکړی دی چې دانبیاء علیهم السلام اولاد یاست، دوهم دتورات او انجیل علمی کمالات هم تاسی ته حاصل دی، په تاسی کی ډیر خلگ درویش خویه هم دی، مجاهدی او ریاضتونه کوی، مگر ددی ټولو شیانو قدر اوقیمت دالله ﷻ په نزد صرف په دی باندی موقوف دی چې تاسی دخدای دشریعت تابعداری وکړی، ددی څخه بغیر نه څه نسبی ښه والی په کار درځی اونه علمی تحقیقونه ستاسی دنجات سامان تیارولی سی اونه ستاسی مجاهدی او ریاضتونه.

په دی ارشاد کی مسلمانانو ته هم دا هدایت حاصل سو چې څه درویشی او سلوك او طریقت، مجاهدی او ریاضتونه او کشف اوالهام ترهغه وخته پوری دالله ﷻ په نزد دښه والی او نجات شی نه دی، ترڅو چې دشریعت پوره پابندی نه وی، په دی آیت کی یی دالله ﷻ دشریعت دتابعداری کولو دپاره د درو شیانو

Maktaba Tul Ishaat.com

دتابعداری هدایت کړی دی ، اول دتورات، دوهم دانجیل چی دیهودو او نصاراوو دپاره اول نازل سوی وو ، دریم د ، مَا أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ یعنی څه چی دالله ﷻ دطرف څخه تاسی ته ولیږل سوه .

دجمهورو مفسرینو اصحابو﷢ اوتابعینو﷭ په دی باندی اتفاق دی چی ددی څخه مراد قرآن کریم دی چی دټول امت ددعوت (بلنی) دپاره چی یهود اونصارا په کی هم شامل دی دنبی کریم ﷺ په واسطی سره رالیږل سوی دی ، په دی وجه معنٰی دآیت دا سوه چی ترڅو پوری تاسی دتورات او انجیل اوقرآن کریم په راوړل سوو احکامو باندی صحیح صحیح اوپوره پوره عمل ونه کړی ، ستاسی هیڅ نسبی یاعلمی کمال دالله ﷻ په نزد مقبول اومعتبر به نه وی .

دلته یوه خبره دفکر قابله ده چی په دی آیت کی دتورات اوانجیل په شان دقرآن کریم دلنډ نوم پرځای یی یوه اوږده جمله ، وَمَا أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ استعمال کړه ، په دی کی څه حکمت دی؟ کیدی سی چی په دی کی دهغه حدیث مضمون طرف ته اشاره وی په کوم کی چی نبی کریم ﷺ ارشاد فرمایی چی لکه څنګه ماته دعلم اوحکمت خزانه قرآن کریم راکول سوی دی دغه شان نور علمونه اومعلومات راته هم راکول سوی دی کومو ته چی په یوحیثیت سره دقرآن کریم تشریح هم ویل کیږی ، دحدیث الفاظ دا دی .

أَلاَ إِنِّي أُوتِيتُ الْقُرْآنَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ ، أَلاَ يُوشِكُ رَجُلٌ شَبْعَانٌ عَلَى أَرِيكَتِهِ يَقُولُ: عَلَيْكُمْ بِهٰذَا الْقُرْآنِ فَمَا وَجَدْتُمْ فِيهِ مِنْ حَلاَلٍ فَأَحِلُّوهُ وَمَا وَجَدْتُمْ فِيهِ مِنْ حَرَامٍ فَحَرِّمُوهُ وَإِنَّمَا حَرَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا حَرَّمَ اللهُ (ابوداؤد ، ابن ماجه، دارمی وغیرها)

یاد ساتی چی مالره قرآن راکول سوی دی او ددی سره ددی په مثل نور هم علمونه راکول سوی دی ، په راتلونکی زمانه کی داسی کیدونکی ده چی موړ خیټی راحت خوښوونکی به ووایی چی تاسی لره صرف قرآن کافی دی کوم چی په دی کی حلال دی صرف دغه حلال ګڼی اوکوم چی په دی کی حرام دی صرف دغه حرام ګڼی اوحال دا دی چی تحقیق کوم شی چی دالله رسول حرام کړی دی دغه هم دغسی حرام دی لکه څنګه چی الله ﷻ دخپل کلام په ذریعه شیان حرام کړی دی .

داحکامو دری قسمونه : او په خپله قرآن کریم هم ددی مضمون شاهدی کوی ، وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ (٣) إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ ، یعنی نبی کریم ﷺ څه خبره دخپل طرف څخه نه کوی څه چی دوی فرمایی هغه ټول دالله ﷻ دطرف څخه وحی وی اوپه کومو حالاتو کی چی نبی کریم ﷺ څه خبره دخپل اجتهاد اوقیاس په ذریعه فرمایلی ده او دوحی په ذریعه بیا ده ﷺ ته دهغه خلاف څه هدایت نه دی ورکول سوی ، نو آخر دغه قیاس او اجتهاد هم په حکم کی دوحی سی .

ددی خلاصه دا سوه چی نبی کریم ﷺ کوم احکام امت ته ورکړی دی په دوی کی یوهغه دی چی په قرآن کریم کی په ډاګه ذکردی دوهم هغه دی چی په قرآن کریم کی په ډاګه ذکر نه دی ، بلکه په نبی کریم ﷺ دجلا وحی په ذریعه نازل سوی دی ، دریم هغه دی چی دوی دخپل اجتهاد قیاس په ذریعه څه حکم کړی وی او بیا الله ﷻ دهغه خلاف څه حکم نه وی نازل کړی ، دغه هم دوحی په حکم کی سو ، ددی دری قسمه حکمونو تابعداری واجب ده اوپه مَا أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ کی داخل دی .

... یه ذکر سوی آیت کی به دقرآن کریم لنډ نوم پرېښودی او دا اوږده جمله ، وَمَا أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ

Maktaba Tul Ishaat.com

یی اختیار کړه او دی طرف ته یی اشاره وکړه چی ددی ټولو حکمونو تابعداری لازم او واجب ده کوم چی په واضحه سره په قرآن شریف کی ذکر دی یانبی کریم ﷺ دغه حکمونه ښوولی وی.

دوهمه خبره په دی آیت کی دفکر قابله دا ده چی په دی کی یی یهودو اونصاراؤ ته په تورات، انجیل او قرآن د دری سره وو په حکمونو دعمل کولو ښوونه کړي ده، حال دا دی چی په دوی کی ځینی دځینو دپاره ناسخ دی، انجیل دتورات ځینی حکمونه منسوخ کړي دی اوقرآن دتورات اوانجیل ډیر حکمونه منسوخ کړل، نوبیاپه دری سره وو باندی عمل څنګه سو؟ جواب یی ښکاره دی چی هر راتلونکی کتاب دمخکی کتاب کم حکمونه چی بدل کړل. نوپه بدله سوی طریقه باندی عمل کول په دواړو کتابونو عمل کول دی، په منسوخ سوو حکمونو باندی عمل کول د دواړو کتابونو دمقتضٰی څخه خلاف دی.

نبي کريم ﷺ ته يوه تسلي: په آخرکی نبی کریم ﷺ ته دتسلی دپاره ارشادفرمایی چی اهل کتاب سره د دومره مهربانیو زمونږ، په دوی کی ډیرداسی خلق دی چی دالله ﷻ ددی مهربانیو څخه هیڅ فائده نه اخلی بلکه کفراوعنادبه یی نورزیاتیږی تاسی په دی مه غمجن کیږی اوپه داسی خلګو باندی ترس مه کوی.

(څلورو قومونو ته دایمان اونیک عمل ترغیب اوپه اٰخرت وعده)

په دوهم آیت کی الله ﷻ څلور قومونه مخاطب کړل دایمان اونیك عمل ترغیب اوپه دی باندی ورته داٰخرت دنجات وعده یی وفرمایله، اوپه دوی کی اول، اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا یعنی مسلمانان دی، دوهم، اَلَّذِيْنَ هَادُوْا یعنی یهودیان دی، دریم: صَابِئُوْنَ اوڅلورم: نَصَارٰی دی، په دوی کی دری قومونه مسلمانان یهودیان، نصارا معلوم اومشهور او ددنیا په اکثرو حصوکی موجود دی دصابئون یا صابه په نوم سره نن صبا یوقوم هم معلوم نه دی، په دی وجه ددی په تعین کی دعالمانو اوامامانو ویناګانی مختلفی دی، دتفسیر امام ابن کثیر رحمه الله په حواله دقتاده یوقول داهم نقل کړي دی چی صابئون هغه خلګ دی چی دفرښتو عبادت کوی اودقبلی څخه خلاف لمونځ کوی اوداسمانی کتاب زبور تلاوت کوی (کوم چی په حضرت داود علیه السلام نازل سوی وو) دقرآن کریم ددی بیان څخه په ظاهره ددی خبری تائید کیږی چی څلور اسمانی کتابونه دکومو چی په قرآن مجید کی ذکر دی، تورات، زبور، انجیل اوقرآن دلته په دی کی ددی څلورو کتابونو دمننونکو ذکر راغلی دی.

ددی مضمون یو آیت تقریبًا ددی الفاظوسره دسورة بقره په اوومه رکوع کی تیرسوی دی. إِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالنَّصٰرٰى وَالصَّابِئِيْنَ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ په دی کی دمقام په وجه سره دځینو الفاظو دمخکوالی او وروسته والی څخه ماسوا نور هیڅ فرق نسته.

(دالله ﷻ په نزد دښه والی دار اومدار په نیك عمل سره دی)

ددی دواړو اٰیتونو دمضمون خلاصه دا ده چی زمونږ په دربارکی دچانسبی، وطنی اوقومی ښه والی هیڅ نه دی، کوم سړی چی پوره فرمانبرداری، نیکه عقیده او نیك عمل اختیار کړی، برابره خبره ده که دی مخکی هرڅنګه چی وی، زمونږ په نزد مقبول او دده خدمت دقدرلائق دی، او دا ښکاره خبره دَه چی دقرآن دنزول څخه وروسته پوره فرمانبرداری په مسلمانانو کیدوکی ده، څکه چی په تیرو کتابونو

تورات اوانجیل کی هم ددی خبری ښوونه موجوده ده، اوقرآن کریم خو سراسر ددی دپاره نازل سو، په دی وجه دقرآن دنازلیدو اودنبی کریم ﷺ دراتلو څخه وروسته په قرآن اونبی کریم ﷺ باندی دایمان راوړو څخه بغیر نه دتورات او انجیل تابعداری صحیح کیدی سی ، نه دزبور ، نومطلب دا ایت به داسی چی په دی ټولو قومونو کی چی کوم مسلمانان سی ، په اخرت کی به دنجات اوثواب مستحق وی، په دی کی دهغه خیال جواب وسوچی داکفر اوګناه نافرمانی اوداسلام اومسلمانانو خلاف شرارتونه چی یی تراوسه کول دمسلمانیدو څخه وروسته به ددوی څه انجام وی، معلومه سوه چی مخکی ټول ګناهونه اوخطاګانی به یی معاف سی اوپه اخرت کی به نه ددی خلګوسره څه فکر وی اونه به ورته څه غم اوتکلیف رسیږی .

چی مضمون ته وکتل سی نو په ظاهره خو داسی معلومیږی چی دلته دمسلمانانو ذکر کول نه وو په کار ، څکه چی ددوی خو دایمان او فرمانبرداری په هغه مقام باندی دی ، کوم چی په دی آیت کی غواړی ، دلته ذکر صرف دهغه خلګو کول په کار دی کوم چی دی مقام ته رابلل کیږی ، مګر په دی خاص طرز کی چی دمسلمانانو ذکر یی هم د دوی سره یو ځای کی ، یو خاص بلاغت په کښی پیدا سو ددی داسی مثال دی چی یوحاکم یاباچا په یو داسی موقع باندی داسی ووایی چی زماقانون عام دی که څوك موافق وی اوکه مخالف خوکوم سړی چی فرمانبرداری کوی په هغه باندی به مهربانی او انعامونه وی ، اوس ښکاره خبره ده چی موافق خووی فرمانبردار، خوخبره په اصل کی هغوته اوری کوم چی مخالفت کوی ، لیکن دلته دموافقو په ذکر کولو کی چی کوم حکمت دی هغه دا دی چی دموافقو سره کومه مهربانی مونږ کوو، دادڅه نسب یاقومی خصوصیت پربنا باندی نه دی بلکه په دوی کی دفرمانبرداری چی کوم صفت دی ، داټولی مهربانی ورسره دهغه په وجه دی ، که مخالف هم فرمانبرداری اختیار کړی، نودی به هم ددی مهربانو مستحق سی .

دی ذکر سوو څلورو قومونوته چی یی دکوم کار کولو دپاره وینا وکړه ددی کار دری جزونه (حصی) دی ، په الله ﷻ ایمان ، په ورځ داخرت ایمان ، او نیك عمل کول .

(په رسول دایمان څخه بغیر نجات نسته)

ښکاره خبره ده چی په دی آیت کی دټولو ایمانونو اواسلامی عقیدو تفصیلونه بیانول منظورنه دی، اونه ددی څه موقع ده، داسلام دیوڅو بنیادی عقیدو ذکر کول ، او دټولو اسلامی عقیدو طرف ته اشاره کول یی مقصد دی او نه داڅه ضروری خبره ده چی په کم آیت کی یوځای دایمان ذکر راسی، دهغه ټول تفصیلونه دی هلته ذکر سی، په دی وجه ګرسره دلته په رسول یارسالت باندی دایمان څه ذکر نسته، نودا خو دلږ عقل اوپوهی لرونکی دپاره هم دڅه شبهی ځای نه لری څکه چی ټول قرآن اوپه سوونو آیتونه په ایمان بالرسول اوایمان بالرسالت باندی راغلی دی چی په هغوی کی دا وضاحتونه سوی دی چی په رسول او په ارشاداتو درسول دپوره اومکمل ایمان راوړلو څخه بغیر نجات نسته ، اوهیڅ ایمان اوعمل بغیر ددی څخه قبول اومعتبرنه دی، لیکن دبی دینانو یوی ډلی چی په څه ناڅه شان سره په قرآن کی

Maktaba Tul Ishaat.com

دخپل مکروه نظریاتو څخه ورننه ایستل غواړي او دوی په دي آیت کي چي په صراحت سره درسالت ذکر نه کي پیدا نوخپله یوه نوی نظر یه یي قائمه کړه ، چي دقرآن اوسنت دبي شمیره وضاحتونو څخه قطعاً خلاف ده، هغه داچي هرسړی په خپل مذهب یهودیت نصرانیت تر دي چي هندو اوبت پرست هم وی خو چي صرف په الله اوپه ورځ دقیامت ایمان لري او نیک کار کوي ، نو دآخرت دنجات مستحق کیدی سی ، دآخرت دنجات دپاره په اسلام کي دا خلیدل ضروري نه دي (نعوذ بالله منه)

کوموخلګوته چي الله ﷻ دقرآن دتلاوت توفیق اوپه دي صحیح ایمان ورکړی وی دده دپاره دقرآن په وضاحتونو سره ددي غلطي لیري کول څه ډیر علم اوپوهي ته محتاج نه دي، دقرآن کریم په اُردو او پښتو ترجمه پوهیدونکي حضرات هم په دي خیالي غلطي په آسانه پوهیدی سی ، یوڅو آیتونه په طور دمثال دا دي .

قرآن کریم چي په کوم ځای کي دمفصل ایمان بیان فرمایلي دي ددي الفاظ دسورت بقرة په آخرکي دادي .

كُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهٖ .

ټولو ایمان راوړی دی په الله او دهغه په فرښتو او دهغه په کتابونو او دهغه په رسولانو داسي چي دهغه په رسولانو کي مونږ هیڅ فرق نه کوو .

په دي آیت کي په واضح طور سره چي دایمان کوم تفصیلات بیان سوی دي په دي کي دا هم واضحه سوه چي په یوه یاڅو رسولانو باندي راوړل قطعاً دنجات دپاره کافي نه دي ، بلکه په ټولو رسولانو ایمان راوړل شرط دی ، که په یوه رسول باندي هم ایمان رانه وړی نو دده ایمان دالله ﷻ په نزد معتبر او مقبول نه دی ، بل ځای ارشاد دی .

اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّفَرِّقُوْا بَيْنَ اللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَيَقُوْلُوْنَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَّنَكْفُرُ بِبَعْضٍ وَّيُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّتَّخِذُوْا بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا .

کوم خلق چي دالله ﷻ او دهغه درسولانو انکار کوي او دا غواړي چي دالله ﷻ او دهغه درسولانو په مینځ کي جلاوالي را ولي (چي په الله خو ایمان راوړي خو دهغه په رسولانو یي ایمان نه وي) اوهغوی وایي چي مونږ منو ځیني او نه منو ځیني او دوی دا غواړي چي دکفر او داسلام په مینځ مینځ کي څه لار راوباسي نو پوه سه چي دغه اصل کافران دي . ...دنبي کریم ﷺ ارشاد دی .

لَوْ كَانَ مُوْسٰى حَيًّا لَمَا وَسِعَهٗ اِلَّا اتِّبَاعِيْ .

یعني که بالفرض نن حضرت موسیٰ ؑ هم ژوندی وی نوهغه ته به زما دتابعداري څخه ماسوا بله چاره نه وی نو اوس دچا داوینا چي هرمذهب والا په خپل خپل مذهب باندي عمل وکي نو بغیر ددي چي په نبي کریم ﷺ باندي ایمان راوړي اوبغیر دمسلمانیدو څخه هغه جنت او دآخرت نجات پیدا کوی سی دقرآن شریف ددي ذکر سوو آیتونو څخه ښکاره خلاف ورزی ده .

ددي څخه علاوه که هرمذهب اوملت داسي شی دی ، چي په هغه سره په هره زمانه کي عمل کول دآخرت دنجات دپاره کافي دي نوبیا خو دخاتم الانبیاء ﷺ رالیږل اودقرآن نازلیدل بي معنیٰ کیږي اودیوه شریعت څخه وروسته بل شریعت لیږل فضول کیږي ، دټولو څخه مخکي رسول چي کوم کتاب او شریعت راوړی

Maktaba Tul Ishaat.com

وو هغه به کافي وای ، نور ورسولانو اوکتابونو او شریعتونو لیږلو ته څه ضرورت وو؟ دزیات څخه
زیات دداسي خلکو وجود به پوره وای ، چی دغه شریعت اوکتاب یی باقي پاته کولی سوی او په خپله
یی پری عمل کولی او په خلکو یی کولی لکه چی په عام طور سره دهر امت دعالمانو دا فریضه پاته
سوي ده ، او په دی صورت کی به دقرآن کریم دا ارشاد چی ، لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا یعنی مونږ په
تاسی کی دهر امت دپاره یو خاص شریعت اوخاصه لار جوړه کړي ده ، دا ټول بی معنی سی.
اوبیا به ددی څه جوازپاته کیدی سی ، چی نبی کریم ﷺ په خپل ځان او په خپل کتاب قرآن باندی دایمان
نه لرونکو ټولو یهودیانو اونصاراوو اونورو قومونو سره نه صرف تبلیغی جهاد وکی، بلکه په توره یی
ورسره هم جنګونه کړی دی اوکه دانسان دمومن کیدو اودالله ﷻ په نزد دمقبول کیدو دپاره صرف په الله
ﷻ او په ورځ دآخرت ایمان راوړل کافی وای نوبیا ابلیس عاجز په کوم جرم کی مردود سو، دده په الله ﷻ
او په ورځ دآخرت ایمان نه وو، ده خو عین دغضب په حالت کی هم ، اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ وویل، په ایمان
بالآخرت یی اقرار کړی دی.
حقیقت دا دی چی دا مغالطه صرف ددغه نظر یی پیداوار دی چی مذهب دخپلولی دډالی (تُحفی) په شان
چاته په تحفه کی ورکول کیږی اوددی په ذریعه دنورو قومونو سره رشتی پیوند کول کیږی حال دا دی چی
قرآن په ښکاره واضحه کړي ده چی دغیر مسلمو سره روا داری ، همدردی ، احسان اوسلوك هرڅه کول
په کاردی ، لیکن دمذهب دحدونو دپوره حفاظت او دده دسرحدونو دپوره پوره نګرانی کولوسره.
دقرآن کریم په ذکرسوی آیت کی که فرض کړه په رسول دایمان راوړو ذکر بالکل هم نه وی نودقرآن نور
ایتونه چی ذکریی بره وسو چی په دوی کی یی سخت تاکید موجود دی، کافی وو، لیکن که فکر پر
وسی، نوپه خپله په دی آیت کی هم په رسول دایمان راوړلو طرف ته واضحه اشاره ده څکه چی دقرآن په
اصطلاح کی په الله ﷻ هغه ایمان معتبردی، په کوم کی چی دالله ﷻ په ښوول سوو ټولو شیانو باندی
ایمان وی ، قرآن کریم خپله دا اصطلاح په دی الفاظو کی ښکاره کړي ده ، فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ بِهِ فَقَدِ
اهْتَدَوا یعنی څنګه ایمان چی دصحابه کرامو ؓ وو، صرف هغه ایمان په الله دایمان ویلو مستحق دی،
اوښکاره خبره ده چی د دوی دایمان لوی رکن په رسول ایمان وو، په دی وجه د ، مَنْ آمَنَ بِاللّٰهِ په
لفظونو کی په خپله په رسول ایمان داخل دی.

لَقَدْ أَخَذْنَا مِيثَاقَ بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ وَأَرْسَلْنَآ

مونږ اخستی وو پوخ قول دبنی اسرائیلو څخه، اولیږلی وو مونږ

إِلَيْهِمْ رُسُلًا ۖ كُلَّمَا جَآءَهُمْ رَسُولٌۢ بِمَا لَا تَهْوَىٰٓ أَنفُسُهُمْ فَرِيقًا

دوی ته درسولان ، کله چی به راوړی دوی ته یو رسول هغه حکم چی نه به خوښوی د دوی زړونو نو ډیر

Maktaba Tul Ishaat.com

كَذَّبُوا وَفَرِيقًا يَقْتُلُونَ ﴿٧٠﴾ وَحَسِبُوا أَلَّا تَكُونَ فِتْنَةٌ فَعَمُوا

یې درواغجن کړل او ډیر یې قتلول ، او خیال یې وکی چې څه خرابی به نه وی نو ړانده سول

وَصَمُّوا ثُمَّ تَابَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ ثُمَّ عَمُوا وَصَمُّوا كَثِيرٌ مِّنْهُمْ ۚ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿٧١﴾

او کاڼه سول بیا توبه قبوله کړله د دوی بیا ړانده او کاڼه سول ، په دوی کی ډیر ، او الله وینی څه چې دوی کوی .

لنډتفسیر: مونږ دبنی اسرائیلو څخه (اول په تورات کی دتولو پیغمبرانو دفرمانبرداری او ربنتینی کولو) وعده واخیسته او (ددی وعدی دیادولو دپاره) مونږ دوی ته ډیرپیغمبران ولیږل (لیکن ددوی دا حالت وو چې) کله به چې دوی ته یو پیغمبر داسی حکم راوړی کوم چې به د دوی زړه نه غوښتی (نومخالفت به یې شروع کی) پس ځینو ته یې دروغ وویل او ځینی یې (بی دریغه) مړه کول او (همیشه په هر شرارت به ورته کله چې یوڅوورځی مهلت ورکول سو) داګمان به یې وکی چې هیڅ سزابه نه وی، په دی (ګمان) سره نور هم ړانده اوکاڼه سول (چې نه یې دپیغمبرانو دصداقت دلیلونه لیدل اونه یې د دوی کلام اوریدی) بیا (دیوی مودی څخه وروسته) الله ﷻ په دوی (په رحمت سره) نظر وفرمایی (چې بل پیغمبربه یې راولیږی چې اوس به پرسیده لارسی مګر) بیاهم (دغه شان) ړانده اوکاڼه جوړسول (یعنی ټول خو نه مګر) په دوی کی ډیر اوالله ﷻ د دوی (دا) عملونه ښه وینی (یعنی د دوی ګمان غلط وو نو دوی ته وخت په وخت سزا هم ورکول سوه ، مګر د دوی دغه طریقه وه ، تردی چې اوس ستاسی سره هم دغه شان د درواغو اوخلاف سلوك کوی .

معلومات اومسئلی: دبنی اسرائیلو وعده ماتول ، كُلَّمَا جَاءَهُمْ رَسُولٌۢ بِمَا لَا تَهْوَىٰ أَنفُسُهُمْ یعنی کله چې به بنی اسرائیلو ته د دوی رسول څه حکم راوړی چې د دوی دخواهش مطابق به نه وو ، نولوظ اوقول به یې مات کی ، دخدای سره به یې غداری شروع کړه ، دالله ﷻ په پیغمبرانو کی یې ځینی درواغ کړل ، ځینی یې قتل کړل، داخو د دوی ، په الله دایمان او نیك عمل ، حال وو ، په ورځ دآخرت دایمان، اندازه یې ددی څخه وکړی ، چې دومره سخت ظلمونه او دباغیانو کارونه یې کول اوبی فکره کیدل به چې ګواکی ددی کارونو به هیڅ وبال په دوی نه پریوزی ، او دظلم او بغاوت خراب انجام به هیڅکله دوی ځان ته نه مخکی کوی ، په دی خیال کولو سره دخدای ﷻ دنخښو اودخدای ﷻ دکلام څخه بالکل ړانده اوکاڼه سول ، او داسی ناشونی کارونه یې شروع کړل چې ځینی پیغمبران یې قتل کړل اوځینی یې قید کړل ، آخر په دوی باندی الله ﷻ بخت نصرمسلط کی ، بیا دیوی ډیری اوږدی مودی څخه وروسته دفارس باچهانو دوی دبخت نصر دقید څخه آزاد کړل اودبابل څخه یې بیت المقدس ته واپس کړل ، دغه وخت خلګو توبه وایستله ، او دخپل حال برابرولو طرف ته یې مخه سوه ، خدای پاك د دوی توبه قبوله کړه ، لیکن څه زمانه وروسته یې بیاهغه شرارتو نه شروع کړل اوبالکل ړانده اوکاڼه سول ، حضرت زکریا اوحضرت یحیٰی ﷺ یې قتل کړل او دحضرت عیسٰی ﷺ قتل ته تیار سول (فوائد عثمانی)

Maktaba Tul Ishaat.com

لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ ۖ وَقَالَ الْمَسِيحُ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اعْبُدُوا

بیشکه کافر سول چاچی وویل چی الله هغه مسیح دی زوی د مریم او مسیح ویلی دی ای بنی اسرائیلو بندگی کوی

اللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ ۖ إِنَّهُ مَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ

دالله چی رب دی زما او رب ستاسی ، بیشکه چاچی شریک جوړ کی دالله سره نو حرام کی الله په دی باندی

الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ ۖ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنْصَارٍ ﴿۷۲﴾ لَقَدْ

جنت ، او دده ځای دوږخ دی او هیڅوک نسته دگناهگارانو مدد کوونکی ، بیشکه

كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ ثَالِثُ ثَلَاثَةٍ ۘ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا

کافران سول چاچی وویل الله دی یو په دروکی حال دادی چی هیڅ معبود نسته بغیر

إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۚ وَإِنْ لَمْ يَنْتَهُوا عَمَّا يَقُولُونَ لَيَمَسَّنَّ الَّذِينَ

دیوه معبود څخه ، او که دوی ونه گرځیدل ددې خبری څخه چی وایی نو بیشکه وبه رسیږی په

كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿۷۳﴾ أَفَلَا يَتُوبُونَ إِلَى اللَّهِ وَيَسْتَغْفِرُونَهُ ۚ

دوی کی په کفر قائم پاته کیدونکو ته عذاب دردناک ، ولی توبه نه کوی الله ته او ولی بخښنه نه غواړی

وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿۷۴﴾ مَا الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ

دهغه څخه ، او الله دی بخښنی والا مهربانه ، نه دی مسیح دمریمی زوی مگر رسول دی ، تیر سوی دی

مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ وَأُمُّهُ صِدِّيقَةٌ ۖ كَانَا يَأْكُلَانِ الطَّعَامَ ۗ انْظُرْ

دده څخه مخکی ډیر رسولان ، او دده مور ولیّه ده ، دواړو خوړل خوراک وگوره

كَيْفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ الْآيَاتِ ثُمَّ انْظُرْ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿۷۵﴾ قُلْ

مونږ څنگه ښییو دوی ته دلیلونه بیا وگوره چی دوی کوم طرف ته چپه چلیږي ، ته ووایه

أَتَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا ۚ وَاللَّهُ

چی آیا تاسی دداسی شی عبادت کوی دالله څخه ماسوا کوم چی مالك نه دی ستاسی دبد او نه دښه ، او الله دی

Maktaba Tul Ishaat.com

هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿٧٦﴾

اوریدونکی پوهیدونکی

لنډتفسير: بیشکه هغه خلګ کافران سول چاچي دا وویل چي الله عین مسیح زوی دمریم دی (یعني دوارړه یودی) حال دا دی چي (حضرت) مسیح په خپله فرمایلي وه چي ای بني اسرائیلو تاسی دالله ﷻ عبادت کوی چي زماهم رب دی اوستاسی هم رب دی (او په دی قول کی دده دخپل ځان دبنده ښوولو وضاحت دی نو بیاده ته اله ویل داسی خبره ده چي مدعی سُست او شاهد چُست) بیشکه کوم سړی چي دالله سره (په خدایی یا دخدایی په خصوصیاتوکی) څوك شریك مقررکی نو په ده به الله ﷻ جنت حرام کی او دده ځای (دهمیشه دپاره) دوږخ دی اودداسی ظالمانوبه هیڅوك مددګار نه وی (چي ددوږخ څخه یی خلاص کی جنت ته یي داخل کي اولکه څنګه چي عقیده داتحاد کفردی، دغه شان عقیده دتثلیث هم کفردی پس) بیشکه هغه خلګ هم کافران دی کم چي وایی چي الله ﷻ په دریو (معبودانو) کی یودی حال دا دی چي بغیر دیو معبود (حق) څخه بل معبود (حق) نسته (نه دوه اونه دری ، کله چي دا عقیده هم کفر اوشرك دی نوپه ، اِنَّهٗ مَنْ يُّشْرِكْ الخ کی چي کومه سزا ذکر ده ، هغه به ددی دپاره هم وی) اوکه دا (ددی دواړو عقیدو) خلګ دخپلو خبرو (دکفر) څخه واپس نسوه نو (پوه دی سی چي) کوم خلګ چي په دوی کی کافران دی په دوی به (په آخرت کی) دردناك عذاب واقع سی آیا (دا دتوحید او دعذاب دوعدو مضامین اوری) بیاهم دخپلودی عقیدو اوخبرو څخه) دخدای ﷻ په مخکی توبه نه کوی او دده څخه معافي نه غواړی حال دا دی چي الله ﷻ (کله چي څوك توبه کوی نو) لوی مغفرت والا (او) لوی رحمت کوونکی دی (حضرت) مسیح زوی دمریم (عین خدای یا جزوی خدای) هیڅ نه دی یوازی یوپیغمبر دی چي دده څخه مخکی نورهم پیغمبران (دمعجزو خاوندان) تیر سوی دی (چي دوی عیسایان خدایان نه مني، پس که پیغمبری یا معجزی دلیل دالوهیت وی نوټول خدایان منل په کار دی ، اوکه دلیل دخدایی نه وی نو بیا حضرت مسیح ته ولی خدای ویل کیږی ، غرض دا دی چي هرکله دی نورو ته تاسی خدای نه دی ویلی نوحضرت عیسیٰ ؑ ته هم مه وایاست) او (دغه شان) د دوی مور (هم اله یاجز داله نه ده بلکه دا) یوه ولیه بی بی ده (لکه چي نوری ولیانی بیبیانی تیری سوی دی او ددی دواړو حضراتو داله نه کیدو په دلیلونوکی یو آسان دلیل دادی چي) دواړو (حضراتو) خوراك خوړی (اوکوم سړی چي خوراك خوری هغه هغی ته محتاج وی او خوراك خوړل دمادي خواصو څخه دی اواحتیاج اومادیت دممکن الوجود خاصه ده چي وجودیی ضروری نه وی اوکوم شی چي ممکن وی یعني وجودیی ضروری نه وی هغه خدای نه سی کیدی) وګوری چي مونږ څنګه صفا صفا دلیلونه دوی ته بیانوو ، بیاوګوری چي دوی چپه کوم طرف ته ځی تاسی (دوی ته) ووایاست چي آیا دخدای څخه ماسوا دداسی (مخلوق) عبادت کوی چي نه تاسی ته دځه ضرر رسولو اختیار لری اونه دنفعی رسولو (اختیار لری نوعاجزوالی دخدایی سره منافي دی) حال دادی چي الله ﷻ هر څه اوری پیژنی (بیاهم دخدای څخه بیره نه کوی اودخپل کفر اوشرك څخه نه واپس کیږی)

معلومات اومسئلي: دالله ﷻ دا قول، إِنَّ اللهَ ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ يعني حضرت مسيح، روح القدس او الله يامسيح، مريم او الله دري سره خدايان دي (العياذ بالله) په دي دري سره ووكي يو الله بيا دادري يواودغه يو دري دي دعيسايانو عامه عقيده دا ده، او دا دعقل اوهدايت څخه خلاف عقيده په ګول مول او ألول عبارتونو سره اداکوي، اوكله چي څوك په پوه نه سي نو وايي چي دا دعقل څخه لوړه خبره ده (فوائد عثماني)

(دمسيح ﷺ دخدايي ترديد)

(الله ﷻ فرمايي) قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ يعني لکه څنګه چي نور پيغمبران دنياته راغلل اوځو ورځې دلته واوسيدل بيا ولاړل، په دوی کي هميشه پاته کيدل اوبقاء نه وه، کومه چي دخدای شان دی، دغه شان حضرت مسيح ﷺ (چي د دوی په شان يو انسان دی) ده ته هم هميشه پاته کيدل اوبقاء حاصل نه وو، په دی وجه اله نه سی کيدی چي لږ فکر وکی نو معلومه به سی چي کوم سړی دخوراك اوڅښاك محتاج وی هغه تقريباً ددنيا هرشی ته محتاج دی، دمځکي، هوا، اوبو، لمر اوحيواناتو څخه دی بی حاجته نسی پاته کيدی، دغلی خيتی ته درسيدو اوهضم کيدو پوری خيال وکی چي په واسطه سره يا بی دواسطی څخه دڅومره شيانو ضرورت دی، بيا دغلی دخوراك څخه چي کوم اثر او نيتجي پيدا کيږی، دهغه سلسله کوم حدته رسيږی نو دحاجت اومحتاجی په دی لويه سلسله چي فکر وکو نو مونږ دمسيح اومريم دخدايي باطلوالی په دليل سره داسی بيانولی سو چي مسيح اومريم دخوراك اوڅښاك څخه بی حاجته نه وی هغه ددنيا دهيڅ شی څخه بی حاجته کيدی نه سی، نوبيا تاسی ووايا ست چي کوم ذات دټولو انسانانو په شان په خپله باقی پاته کيدوکی داسبابو څخه بی حاجته نه وی، اسبابوته بی حاجت وی، هغه څنګه خدای جوړيدی سی، داداسی قوی اوواضح دليل دی چي عالم اوجاهل پری يو دول پوهيدی سی، يعني خوړل څښل دخدای سره نه جوړيږی، که څه هم نه خوړل هم څه دخدای دليل نه دی، که نه وی نوټولی فرښتی به خدايان جوړ سی (فوائد عثماني)

(حضرت مريم بتول ﷺ نبيه وه يا وليه؟)

دحضرت مريم دولايت اونبوت په باره کی اختلاف دی، په ذکر سوی آيت کی ددی دصفت په مقام کی دلفظ د (صدّيقه) څخه په ظاهره اشاره دی طرف ته معلوميږی چي داوليه وه، نبيه نه وه، ځکه چي په مقام دصفت کی اعلی درجه ذکر کول کيږی که دی ته نبوت حاصل وای نو دلته به يی نبيه ويلی وه، حال دا دی چي دلته صديقه ويل سوی دی چي دا دولايت مقام دی (روح ملخصاً)

دجمهور امت تحقيق دادی چي په ښځوکی نبوت نه دی راغلی، دامرتبه خاص دسړو دپاره ده، وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُوحِيٓ إِلَيْهِمْ مِّنْ أَهْلِ الْقُرٰى (يوسف، آية ١٠٩، رکوع ١٢) (فوائد عثماني)

قُلْ يٰٓأَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ

ته وواېه چي ای اهل کتابو مبالغه مه کوی دخپل دين په خبره کی

غَيْرَ الْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعُوٓا أَهْوَآءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوا مِنْ قَبْلُ وَأَضَلُّوا

ناحق او مه ځی په خواهشاتو دهغو خلقو چي ګمراه سوی دی مخکي اوګمراه کړی

Maktaba Tul Ishaat.com

كَثِيرًا وَّضَلُّوا عَن سَوَآءِ السَّبِيلِ ﴿٧٧﴾ لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا

یې دي ډیر او ګمراه سوي دي د سیده لارې څخه ، لعنت سوي دي په کافرانو

مِن بَنِي إِسْرَآءِيلَ عَلَىٰ لِسَانِ دَاوُودَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَٰلِكَ

د بني اسرائيلو په ژبه د داود ﷺ او د عیسی ﷺ زوی د مریمې دا څکه

بِمَا عَصَوا وَّكَانُوا يَعْتَدُونَ ﴿٧٨﴾ كَانُوا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَن مُّنكَرٍ فَعَلُوهُ

چې دوی نافرمانه وو او د حد څخه تیر سوي وو ، دوی به په خپل مینځ کې یو بل د بد کار څخه نه منع کول چې

لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴿٧٩﴾ تَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِينَ كَفَرُوا

دوی به کوی خومره ناکاره کار دی چې دوی کوی ، ته وینې په دوی کې ډیر خلق چې دوستي کوي د کافرانو

لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ أَنفُسُهُمْ أَن سَخِطَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ وَفِي الْعَذَابِ

سره ، خومره ناکاره سامان ولیږی دوی د خپلو ځانونو دپاره هغه دا چې د الله ﷻ غضب وسو په دوی

هُمْ خَالِدُونَ ﴿٨٠﴾ وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالنَّبِيِّ وَمَا أُنزِلَ

باندې او دوی به همیشه په عذاب کې وي ، او که دوی یقین کولی په الله او په نبي باندې او په هغه چې په نبي

إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَآءَ وَلَٰكِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُمْ فَاسِقُونَ ﴿٨١﴾

باندې نازل سو نو کافرانو لره به یې دوستان نه جوړول لیکن په دوی کې ډیر خلق نافرمانه دي .

تفسیر: تاسي (دي نصاراوو ته) ووایاست چې ای اهل کتابو! تاسي د خپل دین په باره کې غلو (او افراط) مه کوی او په دې (افراط) کې د دې خلکو په خیالاتو (یعنی بې سنده خبرو) پسې مه ځئ (د دې وخت څخه) دوی په خپله په غلطۍ کې پریوتلي دي او (د خپل ځان سره یې) نور (هم ډوب کړل) په غلطۍ کې یې اچوي او (دا غلطي په دې وجه نه ده سوې چې حق ورک سوی دی یایې درک نه لګیږی بلکه) د غه خلګ د نیکې لارې څخه (په قصد سره) لیرې (او جلا سوي وه (یعنی کله چې د دوی غلطي په دلیلونو سره ثابته سوه نو بیا د دوی پیروي ولې نه پریږدی) په بنی اسرائیلو کې چې کوم خلګ کافران وه په دوی (د الله ﷻ د طرف څخه سخت) لعنت سوی وو (په زبور او انجیل کې چې ظهور یې) د (حضرت) داود (ﷺ) او (حضرت) عیسٰی زوی د مریم (ﷺ) په ژبه سره (یعنی په زبور او انجیل کې یې پر کافرانو لعنت لیکلی وو ، لکه چې په قرآن مجید کې هم دی ، فَلَعْنَةُ اللهِ عَلَى الْكَافِرِينَ چونکه دا کتابونه په حضرت داود او حضرت عیسٰی ﷺ باندې نازل سوي وه ، په دې وجه دا مضمون د دوی د ژبو څخه ظاهر سوی وو او) دا لعنت په دې

Maktaba Tul Ishaat.com

سبب سره سوی وو چی دوی دَ (عقیدی دَ) حکم مخالفت وکی (کم چی کفردی) او (په دی مخالفت کی) دحد څخه (ډیر لیری) ولاړل (یعنی کفریی هم سخت وو، بیا دسخت سره اوړدهم وو، یعنی همیشه والی یی پر وکی نو) کوم ناکاره کار (یعنی کفر) چی دوی (اختیار) کړی وو، ددی څخه (بیاهم) نه واپس کیدل (بلکه پردی ټینګ سوی وه، وروسته ددوی دسخت او اوږد کفرپه سبب په دوی سخت لعنت وسو) واقعی د دوی (دا) کار (ذکر سوی یعنی کفر اوهغه هم سخت او اوږد) بیشکه ناکاره وو (چی داسی سزا پر مرتبه سوه، ته په دوی (یهودو) کی ډیرخلګ وینی چی د (مشرکانو) کافرانو سره دوستی کوی (لکه چی دمدینی دیهودو او دمشرکانو دمکی دمسلمانانو ددښمنی په بناسره دیوبل سره دوستی وه چی منشاء یی په کفرکی یووالی وو) کم کارچی دوی مخکی لیږلی دی (یعنی کفرچی سبب وو ددوستی دکفارو اوددښمنانو) هغه بیشکه ناکاره دی چی (ددی په سبب) الله ﷻ دَدوی څخه (دهمیشه دپاره) خفه سو او (ددی همشه خفه کیدو ثمره به داوی چی) داخلګ به همیشه په عذاب کی وی اوکه دی (یهودو) خلګوپه الله ﷻ ایمان لرلی اوپه پیغمبر (یعنی موسیٰ ﷺ) باندی (یی ایمان لرلی کومه چی د دوی دعوه ده) او په هغه کتاب (یی ایمان لرلی) کوم چی دوی (پیغمبر) ته لیږل سوی وو (یعنی تورات) نودوی (مشرکان) به یی دوست نه جوړولی لیکن په دوی کی زیاتہ خلګ (ددائری) دایمان څخه خارج دی (په دی وجه دکافرانو سره د دوی یو کیدل او دوستی وسوه)

معلومات اومسئلی (دبنی اسرآئلو دګوروالی یو دوهم اړخ)

(دالله ﷻ قول چی) قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ په تیرو آیتونوکی دبنی اسرائیلو دسرکښی او د دوی دظلم اوزیاتی بیان سوی وو چی دالله ﷻ دراليږل سوی رسول چی د دوی دپاره یی دهمیشه ژوند پیغام او د دوی ددنیا او آخرت دبرابرولو دستور العمل یی راوړی وو د دوی دقدر او مرتبه پیژندو او دتعظیم اوتکریم کولو په ځای دوی د دوی سره بدسلوك کړی وو چی: فَرِيقًا كَذَّبُوا وَفَرِيقًا يَقْتُلُونَ یعنی ځینی پیغمبران یی دروا غجن کړل اوځینی یی قتل کړل.

په ذکر سوو آیتونوکی یی ددی بنی اسرائیلو دکږیدو دوهم اړخ ښوولی دی چی دا جاهلان یاخو دسر کښی اونافرمانی پرهغه غاړه باندی وه چی دالله رسولان یی دروا غجن کړل اوځینی یی قتل کړل اویا دګمراهی اوکږیدو هغه غاړی ته ورسیدل چی درسولانو په تعظیم کی یی غلو وکړه، دوی یی خدایان جوړ کړل، لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ یعنی دغه بنی اسرائیل کافران سوه چاچی دا وویل چی الله دعیسیٰ ابن مریم نوم دی، دلته دا خبره صرف دنصاراؤ ذکر ده، بل ځای دا غُلو اوګمراهی دیهودو هم بیان سوي ده، وَقَالَتِ الْيَهُودُ عُزَيْرٌ ابْنُ اللَّهِ وَقَالَتِ النَّصَارَى الْمَسِيحُ ابْنُ اللَّهِ یعنی یهودو دا وویل، چی حضرت عزیر ﷺ دالله زوی دی اونصاراؤ دا ویل چی عیسیٰ زوی دمریم ﷺ دالله زوی دی.

دغلو معنیٰ دحد څخه وتل دی، په دین کی دغلو مطلب دادی چی په عقیده اوعمل کی دین کوم حدونه مقررکړی دی دهغه څخه مخکی تیرسی، لکه دپیغمبرانو دتعظیم حد دا دی چی دوی دخدای په مخلوق کی تر ټولو ښه وګڼی ددی حد څخه مخکی کیدل دوی ته خدای یا دخدای زوی ویل دعقیدی غلو ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

(دبني اسرائيلو افراط او تفريط)

دانبياؤ اورسولانو په معامله کی دبنی اسرائيلو دادوه متضاد عملونه چی يادوی ته درواغجن وايی اوقتلوی يی اويا دازياتی چی په خپله دوی ته خدای يادخدای زوی وايی دا هغه افراط اوتفريط دی چی دجهالت سره لازم دی ، دعربو مشهوره مقوله ده ، اَلْجَاهِلُ اِمَّا مُفْرِطٌ اَوْ مُفَرِّطٌ يعنی جاهل سړی هيڅکله پرميانه روی باندی نه وی، بلکه ياپه افراط کی اخته وی ياپه تفريط کی ، دافراط معنٰی ده دحد څخه زياتيدل او دتفريط معنٰی ده دفرضو په ادا کولوکی کمی کول ، اودا افراط اوتفريط ممکنه ده چی دبنی اسرائيلو ددوو مختلفو ډلوپه عمل کی راغلی وی اوداهم ممکنه ده چی دیوی ډلی دا دوه مختلف عملونه دمختلفو انبياوو سره سوی وی، چی ځينی يی درواغجن کړی اوقتل کړی وی اوځينی يی دخدای سره برابر کړی وی ، په دی آيتونوکی يی اهل کتاب مخاطب کړی دی ، کوم هدايات چی يی دوی ته اوتر قيامته پوری راتلونکو نسلونوته ورکړی دی ، هغه په دين اومذهب اوددوی په پيروی کی ديو بنيادی اصولو حيثيت لری چی ددی څخه لږڅه هم اخوا ديخوا کيدل انسان دګمراهی په کنده کی ورغورځوی ، په دی وجه اوس ددی په تشريح ځان پوه کړی .

الله ﷻ ته درسيدو طريقه: حقيقت دا دی چی دټول جهان اوپه دی کی چی څومره موجودات دی ، ددی ټولو خالق اومالك صرف يوالله ﷻ دی ، دهغه ملکيت دی او دهغه حکم دی ، دده حکم منل په هر يوه انسان باندی لازم دی ، ليکن مجبوره دخاورو جوړ انسان په خپل مادی تيرو اوپستو کی ګيردی، دده ټوله رسايی دغه پاك ذات ته يادده احکامو اوهداياتو معلومولوته څنګه به وی؟ الله ﷻ په خپل فضل سره ددی دپاره دوی واسطی مقرری کړی، چی ددی په ذريعه سره انسان ته دالله ﷻ دخوښ اوناخوښ حکم او منع علم وسی ، يو خپل کتابونه چی دانسان دپاره دقانون اوهدايت نامی حيثيت لری ، دوهم خپل داسی خاص اومقبول بندګان کوم چی الله ﷻ په بنی آدمو کی خوښ کړل او دوی يی دخپل خوښ او ناخوښ عملی نمونه اودخپل کتاب عملی شرح جوړه کړه ، را ويی ليږل چی ددين په اصطلاح کی ورته رسول يانبی ويل کيږی، څکه چی په تجربه سره معلومه سوي ده چی يوکتاب برابره خبره ده که هرڅومره اومفصل هم وی خو ديوه انسان داصلاح اوتربيت دپاره کافی نه وی، بلکه په فطری طورسره دانسان تربيت کوونکی اواصلاح کوونکی صرف انسان کيدی سی، په دی وجه الله ﷻ دانسان داصلاح اوتربيت دپاره دوی سلسلی وساتلی يودالله ﷻ کتاب ، دوهم دالله ﷻ بندګان چی په دوی کی انبياء عليهم السلام اوبيا ددوی نائبين عالمان اومشائخ ټول داخل دی، دالله ﷻ ددی بندګانو ددی سلسلی متعلق دنيا دېخوا څخه دافراط اوتفريط په غلطيو کی اخته ده اوپه مذهبونوکی چی څومره مختلفی فرقی پيدا سوی دغه ټولی ددی غلطی پيداوار دی، چی يوځای يی ترحد زيات رجال پرستی ته نوبت ورسوی او يوځای يی بالکل ددی څخه قطع نظر وکی: حَسْبُنَا كِتَابُ اللهِ ته يی غلطه معنٰی ورواچوله اوپه دی يی ځان صبرکی، يو طرف ته يی رسول بلکی پيرانو لره هم دعالم الغيب اوخاص خدايی صفات ورکړل اوپير پرستی بلکه قبر پرستی ته ورسيدل ، بل طرف ته يی دالله رسول ته هم محض ديوه قاصد اوچټی رسان (بی فآئدی

رسسونکی) حیثیت ورکی، په ذکر سوو آیتونوکی یی درسولانو سپکاوی کوونکی هم کافر وګڼل او دحدڅخه زیاتونکی، دخدای سره یی برابرونکی هم کافر وګڼل، آیت، لاَ تَغۡلُوۡا فِیۡ دِیۡنِکُمۡ ددی مضمون ابتداء ده، چی په دی سره داواضحه سوه چی دین په اصل کی دیوڅو حدونو اوقیدونو نوم دی، ددی حدونو دننه چی څنګه کمی کول جرم دی، دغه شان په دی کی زیاتی کول هم جرم دی، څنګه چی درسولانو اوددوی دنائبانو خبره نه منل او سپکاوی یی کول لویه ګناه ده، دغه شان دوی لره دالله ﷻ خاص صفتونه ورکول یایی ورسره برابر ګڼل ددی څخه زیاته لویه ګناه ده.

(علمي تحقيق او باريكات لتول غُلو نه ده)

په ذکر سوی آیت کی یی د، لاَ تَغۡلُوۡا فِیۡ دِیۡنِکُمۡ سره لفظ د غَيۡرَ الۡحَقِّ راوړی دی، چی ددی معنٰی ده، چی په ناحقه کی غلومه کوی، دا لفظ دتفسیر دتحقیق کوونکوپه نزد دتاکید دپاره استعمال سوی دی، څکه چی په دین کی غلو همیشه ناحقه وی، په دی کی دحق والی دسره احتمال نسته، اوعلامه زمخشری رحمہ اللہ او نور دلته دغلو دوه قسمونه مقررکړی دی، یوناحق اوباطل چی ممانعت یی دلته سوی دی، دوهم حق اوجائزچی په مثال کی یی دوی علمی تحقیق اوباریکات پیش کړی دی، لکه چی دعقیدو په مسئلوکی دمتکلمینو صاحبانو اوپه فقهی مسئلوکی دفقهاوو طریقه ده، ددوی په نزد که څه هم داهم غلوده، مګرحقه اوجائزه غلوده، او دجمهورو تحقیق دادی چی دا دسره دغلو په تعریف کی نه ده داخله، دقرآن اوسنت په مسئلوکی ژور نظراوباریکاتو ته تلل تر څومره حده پوری چی دنبی کریم ﷺ اوصحابه رضی اللہ عنہم او تابعینو رحمہم اللہ څخه ثابت دی، هغه غلونه ده اوکم چی دغلو حدته ورسیږی هغه په دی کی هم بده ده.

(بني اسرائيلو ته ددرميانه لاری هدايت)

دذکر سوی آیت په آخرکی موجوده بنی اسرائیل مخاطب کوی، ارشاد فرمایی، قَدۡ ضَلُّوۡا مِنۡ قَبۡلُ وَاَضَلُّوۡا كَثِيۡرًا وَّضَلُّوۡا عَنۡ سَوَآءِ السَّبِيۡلِ: یعنی دهغه قوم دخیالاتو تابعداری مه کوی، کوم چی ستاسی څخه مخکی په خپله ګمراه سوی وه او نور یی هم ګمراه کړی وه، ددی څخه وروسته د دوی دګمراهی حقیقت او وجه په دی الفاظو سره بیانوی، وَّضَلُّوۡا عَنۡ سَوَآءِ السَّبِيۡلِ یعنی داخلګ دسیده لاری څخه اوړیدلی وه، کومه چی دافراط اوتفریط په مینځ کی درمیانه لاروه، دغه شان په دی آیت کی دغلو او افراط اوتفریط دهلاکوونکی غلطی بیان هم راغی اوپه درمیانه لاری صراط مستقیم دقائم پاته کیدو هم.

دبني اسرائيلو بد انجام: په دوهم آیت کی ددی بنی اسرائیلو دبد انجام ذکر دی کوم چی ددی افراط او تفریط په ګمراهی کی اخته وه، چی په دوی دالله ﷻ لعنت سوی دی، اول دحضرت داؤد علیہ السلام په ژبه سره چی ددوی شکلونه مسخ سول اوخنزیران ورڅخه جوړسول، بیا دحضرت عیسٰی علیہ السلام په ژبه سره دالعنت په دوی مسلط سو چی په دنیاکی بیزوګان سول، اوځینی تفسیر لیکونکی فرمایی چی دلته دمقام په مناسبت سره صرف ددوو پیغمبرانو په ژبو پردوی دلعنت ذکردی، لیکن حقیقت دادی چی پردوی دلعنت ابتداء دحضرت موسٰی علیہ السلام څخه سوي ده او انتهایی په حضرت خاتم الانبیاء ﷺ سوي ده، دغه شان پرلپسی دڅلورو پیغمبرانو په ژبو پردی خلګو باندی لعنت مسلط سویدی، چاچی دپیغمبرانو علیہم السلام

Maktaba Tul Ishaat.com

مخالفت کړی دی ، یایی دوی تر حد زیات کړل دخدای سره یی په صفاتو کی شریك کړل ، په آخری دواړو آیتونو کی دکفارو سره دجوړی دوستی او ورور ولی منع او ددی دتباه کوونکی نتیجو بیان دی ، چی په دی کی دی طرف ته هم اشاره کیدی سی چی دبنی اسرائیلو ددی ټولی گمراهی اوکړیدو نیتجه وه ، د دوی دغلط قسم ماحول او دکفارو سره دزړه د دوستی کولو چی دوی یی دتباهی کندی ته ورواچول .

لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَةً لِّلَّذِينَ آمَنُوا الْيَهُودَ وَالَّذِينَ أَشْرَكُوا ۖ وَلَتَجِدَنَّ

ته بیا پیدا کوی په ټولو خلقو کی زیات دښمنان دمسلمانانو یهودیان او مشرکان او ته به بیا پیدا کی

أَقْرَبَهُم مَّوَدَّةً لِّلَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ قَالُوا إِنَّا نَصَارَىٰ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنْهُمْ

په ټولو کی نژدی په محبت کی مسلمانانو ره هغه خلق چی وایی چی مونږ نصارا یو ، دا په دی وجه چی په

قِسِّيسِينَ وَرُهْبَانًا وَأَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٨٢﴾

نصاراؤ کی عالمان دی او درویشان دی او په دی وجه چی دوی تکبر نه کوی .

تفسیر: (په غیر مومنانو کی) دټولو خلگو څخه زیات دمسلمانانو سره دښمنی لرونکی به تاسی دغه یهود اومشرکان پیدا کی اوپه دوی (غیر مومنانو خلگو) کی دمسلمانانو سره دوستی لرونکی زیات نژدی (په نسبت دنورو) به تاسی هغه خلگ پیدا کی چی ځان ته نصارا وایی (دزیات نژدی مطلب دادی چی دوستان خودغه هم نه دی مگرپه نورو کفارو ذکر سوو کی دوی غنیمت دی) دا (په دوستی کی د دوی زیات نژدی کیدل اوپه دښمنی کی کمیدل) په دی سبب سره دی چی په دوی (نصاراوو) کی ډیرعلم دوسته عالمان دی اوډیر دنیا پریښوولو درویشان دی (اوکله چی په یوقوم کی داسی خلگ ډیر وی نو په عوامو کی هم دحق سره زیات عناد نه وی، که څه هم عام اوخاص حق قبول هم نه کړی) او په دی سبب سره دی چی دوی (نصارٰی) متکبره نه دی (دعالمانو اودرویشانو څخه ژر متاثره کیږی اودارنگه دتواضع خاصه ده دحق په مخکی نرم کیدل ، په دی وجه ددوی زیات عداوت (دښمنی) نسته، نو دعالمانو او درویشانو وجود اشاره ده سبب دکار (علّة فاعلة) ته او دتکبر نیستوالی اشاره ده قابلیت ته په خلاف دیهودو او مشرکانو چی پردنیا مین اومتکبره دی که څه هم چی په یهودو کی هم حقانی عالمان وه چی مسلمانان سوی وه، لیکن دلږوالی په وجه یی عوامو ته اثر نه رسیدی عناد پکښی وو او دغه یی سبب وو دسختی دښمنی، نویهود کم مسلمانان سول اودمشرکانو څخه چی عناد ووتی نومسلمانان کیدل په کښی شروع سول .

شپږمه پاره ختمه سوه

بحمدالله تعالی

Maktaba Tul Ishaat.com